تسہیلات

پښتو شرح

مشکوٰۃ

مؤلف مولانا شاہ فیصل

تسهیلات

پښتو شرح

مشکواة

تالیف:- مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

دریم جلد (۳)

د شلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دا دی

① پیښوری پښتو سره بین القوسین د قندهاری پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربي او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافی قیوداتو ترجمه
④ د حدیث هرې جملې ته اوده هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول
④ په فقهی اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑤ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
⑥ د هر حدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج
⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل
⑧ د قوله په عنوان سره د حدیث د هرې مشکلې جملې تشریح
⑨ د هر باب په اول کښې د هغې د احادیثو خلاصه
⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خورنکې
فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور
موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

دکتاب نوم : تسهیلات شرح مشکواة

شارح: مولانا پروفیسر شاه فیصل

فاضل وفاق المدارس، امدادالعلوم، جامعه اسلامیه چارسده

معاون مترجم:: عبدالکریم صدیقي

د ملاوید پته

- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- دیلی کتب خانه تیمرگره
- تاج کتب خانه صوابي
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- مکتبه دارالاخلاص کابل
- مکتبه رحمانیه قندهار
- مکتبه رحمانیه کوئټه
- الوري کتب خانه قندهار
- نعمت کتب خانه کابل
- مکتبه علمیه اکوړه خټک
- حقانیه کتب خانه گردیز
- وطن دوست کتب خانه گردیز
- إقرأ کتب خانه جلال آباد
- مکتبه معروفیه کوئټه
- مکتبه عمریه چمن
- مکتبه عباسیه تیمرگره
- مکتبه امیر حمزة قندهار

اجمالی فہرست

د احادیثو د عنوانانو فهرست

فهرست اختلاف مذاهب

[۹/۲۶]بَابُ السُّتْرَةِ

دَستره بیان

خلاصة الباب:

فیه ثمانیة عشر حدیثاً مشتملة علی ست مسائل:

① ما یصلح أن یکون سترة : ۱، ۲، ۳، ۴، ۷، ۱۰۔

② وبال المرور بین یدي المصلی: ۵، ۱۷۔

③ الأمر بدفع المار۶، ۱۴۔

④ حکم مرورالمرأة والکلب والحمار بین یدی المصلي : ۷، ۸، ۹، ۱۳، ۱۵، ۱۸۔

⑤ استحباب القرب إلی السترة : ۱۱،

⑥ عد الاستقبال إلی السترة محاذیاً: ۱۲۔

دسترې لغوی معنی: "سترة" په سین باندې ضمه اوتاساکنه ده په لغت کښې دَ پردې اوبندیز په معنی کښې دې

د سترې اصطلاحی تعریف: دَ ستره اصطلاحی مفهوم دادې چه ستره دَهرهغه څیز نوم دې چه دَ مونځ گذار مخې ته اودرولې شی دې دَپاره چه په دې دَ مونځ گذار دَ سجدې دَ ځائی پته اولگی او تیریدونکې گناهگارنه شی. په ستره کښې دیوال لرگې اوستن وغیره استعمالولې شی یعنی هر هغه څیزچه تیریدونکی ته دَ لرې نه په نظر راځی.

د سترې اوږدوالې او پلنوالې: دَ سترې دَپاره ضروری ده چه دَدې کم نه کم اوږدوالې دَ یوذراع وی اودَ زیات هیڅ اندازه نشته دغه شان دَ پلنوالی هم څه اندازه نشته که اودرول ممکن نه وی نوبیا په پلنوالی باندې کیخودل هم جائزدی په دې شرط چه ستره لویه وی. شوافع دوه ثلث ذراع په اوږدوالی کښې جائز گڼی.دَ سترې پیړوالې کم نه کم دَ یوې گوتې برابرکیدل پکاردی دې دَپاره چه ښکاری.

د صفونو په مینځ کښې په اوږدوالی دتیریدو حکم: که یوسړې په اوږدوالی کښې دَ صفونوپه مینځ کښې وړاندې راځی یا بهرځی هغه هم دَاحادیثودَ وعیدنه خالی دې اگرچه بغیردَ ضرورت نه داسې کول مناسب نه دی مگر اصل وعید په پلنوالی کښې تیریدودَپاره دې.

دامام ستره د مقتدیانو ستره: دَامام ستره دَمقتدیانودَپاره کافی ده دَ جدا جدا سترې ضرورت نشته. لهذا که یوسړې دَمقتدیانودَ صفونو په مینځ کښې تیریږی نوهغه به په دغه وعید کښې نه راځی کوم چه په احادیثوکښې ذکردې. ځکه چه دَامام ستره دَ مقتدیانودَپاره کافی ده.

د سترې دپاره دکوبنې رابنکل: که چرې د سترې دپاره لرګې وغیره نه وی نو بیا د یو محرابی شکل کربنه د سترې جوړول هم جائزدی. په حدیث کبنې د دې ذکرراغلې دې. اګرچه فقهاء د احنافو په مثل د هدایه د کربنې حیثیت به په ستره کبنې نه شی شمیرلې. د امام مالك رحمه الله یوقول داهم دې چه د امام ستره صرف د امام دپاره ده اود مقتدیانو دپاره د امام وجود پخپله ستره ده.

په لوئې جامع مسجد کبنې د سترې حکم: دغه شان که چرې یو جمات د شپیتوقدمونونه زیات ارت وی نوبه هغې کبنې د مصلي مخې ته په دې حد کبنې تیریدل جائزدی چرته چه د مونځ ګذار نظرنه پریوځی کله چه هغه خپل د سجدې خائی ته ګوری. که چرې جمات د دې نه کم وی نوبیا مخې ته مطلقاً تیریدل منع دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۷۷۲–په صحرا کبنې د سترې لګول

۷۷۲–(۱) [۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَغْدُو إِلَى الْمُصَلَّى [۳] وَالْعَنَزَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ تُحْمَلُ، [۴] وَتُنْصَبُ بِالْمُصَلَّى بَيْنَ يَدَيْهِ [۵] فَيُصَلِّي إِلَيْهَا» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضی الله عنهما فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ به د سحر په وخت کې د عیدګاه طرف ته تشریف وړو [۳] او د حضور ﷺ مخکې مخکې به یوه نیزه (هم) وړل کیده [۴] چې په عیدګاه کې به د حضور ﷺ مخې ته ودرول شوه [۵] او حضور ﷺ به هغه طرف ته مخ کولو سره مونځ کولو. (بخاري).

حل اللغات: ① يَغْدُو: سحر وختې تلو ته وائی. ② الْعَنَزَةُ: نیزه، وَهُوَ أَطْوَلُ مِنَ الْعَصَا وَأَقْصَرُ مِنَ الرُّمْحِ: عنزه داسې نیزې ته وائی چه د همسا نه اوږده وی مګر د اوږدې نیزې نه وړه وی. ③ تُحْمَلُ: پورته کولې به شوه یعنی اوړلې به شوه. ④ تُنْصَبُ: أَيْ تُغْرَزُ: بنخولې به شوه.

تسهیلات:

قوله: يَغْدُو إِلَى الْمُصَلَّى وَالْعَنَزَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ تُحْمَلُ:

د سترې تاریخی اهمیت: واقعه داسې ده چه په جنګ بدر کبنې حضرت زبیر رضی الله عنه په یو کافر باندې حمله اوکړه دکوم نوم چه عبیده بن سعید وو چه په وسله کبنې ډوب وو صرف سترګې بنکاریدې. حضرت زبیر په شیش کبنې په هغه باندې حمله اوکړه اوخپله نیزه ئې د هغه په سترګه کبنې ورخبنه کړه کافرراپریوتلو مردارشو. مګر حضرت زبیر رضی الله عنه له خپله نیزه راویستل مشکل شو هغوی په دې باندې پوره زور اولګولو راویستله په کوم سره چه

(۱) اخرجه البخاری کتاب الجمعة باب حمل العنزة أو الحربة بین یدی الإمام یوم العید (رقم-۹۷۳) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فی توطین المکان فی المسجد یصلی فیه (رقم-۱۴۳۲)

هغه کګه شوه. حضورپاك دغه تاريخ ژوندي ساتلو دپاره دغه نيزه په ستره کبني استعمال کړه بيا صديق اکبر رضي الله عنه بيا حضرت عمر رضي الله عنه او بيا حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه د دور خلافت پورې دغه تاريخي نيزه خلفاء راشدينو رضي الله عنهم استعمالوله. حضورپاك به د دې نيزې نه د ستري کار هم اخستلو او په دې سره زمکه نرمول يا د لوټو راويستلو دپاره هم استعمالولو او د جنګ بدر تاريخي فتح ياد ساتلو طرف ته به ئې اشاره هم فرمائيله.

٧٧٣-د ستري مخې ته د تيريدو حکم

٧٧٣-(٢)[٢] [١] وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] «رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِمَكَّةَ وَهُوَ بِالْأَبْطَحِ فِي قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ، [٣] وَرَأَيْتُ بِلَالًا أَخَذَ وَضُوءَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٤] وَرَأَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُونَ ذَلِكَ الْوَضُوءَ [٥] فَمَنْ أَصَابَ مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ، [٦] وَمَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ،

ترجمه: [١] او حضرت ابو جحيفه رضي الله عنه فرمايي [٢] چه ما په مکه کې د ابطح په مقام رسول الله ﷺ د سري څرمني په يوه خيمه کې وليدلو [٣] او حضرت بلال مې رضي الله عنه د حضور ﷺ د اودس څخه پاتې شوي اوبو اخستو باندې وليدلو [٤] او نور خلق مې هم وليدل چې هغوئ د اوبو په حاصلولو کبني ډيره تلوار کوله [٥] کوم سړي ته چې به د هغه اوبو څخه څه حاصلې شوې هغه به (د برکت حاصلولو د پاره) هغه په خپل بدن او مخ باندې منبلې [٦] او چا ته به چې هيڅ حاصل نه شو نو هغه به د ملګري د لاس تري (لوندوالي) اخستو سره منبله

حل اللغات: ① الْأَبْطَحِ: د مکې نه منیٰ ته تلو سره نيزدې واقع د يوې کولاؤ نالې نوم دې کوټه چه "المحصب" هم وائي. چونکه په دې ځائې کبني ډيرقوت کانړي (باجرې) دی په دې وجه دې نه ابطح او محصب وائي کوم چه د قوت کانړو په معنی کبني دې. ② قُبَّةٍ: خيمه، ③ أَدَمٍ: أَيْ: جِلْدٍ: أدم د اديم جمع ده، د څرمن په معنی کبني دې. ④ وَضُوءَ: أَيْ: بَقِيَّةَ الْمَاءِ: د اودس نه پاتې شوې اوبه، ⑤ يَبْتَدِرُونَ: أَيْ: يَتَسَابَقُونَ: ډيره جلتی ئې کوله او د يوبل نه مخکبنې کيدل. ⑥ أَصَابَ: أَيْ: أَخَذَ: حاصلې ئې کړې، واخلې، ⑦ بَلَلِ: لوندوالي. ⑧ عَنَزَةً: نيزه، وَهُوَ أَطْوَلُ مِنَ الْعَصَا وَأَقْصَرُ مِنَ الرُّمْحِ: عنزه داسې نيزې ته وائي چه د همسا نه اوږده وي مګر د اوږدې نيزې نه وړه وي.

[١] ثُمَّ رَأَيْتُ بِلَالًا أَخَذَ عَنَزَةً فَرَكَزَهَا [٢] وَخَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ. مُشَمِّرًا [٣] صَلَّى إِلَى الْعَنَزَةِ بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ، [٤] وَرَأَيْتُ النَّاسَ وَالدَّوَابَّ يَمُرُّونَ بَيْنَ يَدَيِ الْعَنَزَةِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بيا ما بلال رضي الله عنه وليدلو چې هغه نيزه ئې واخسته او هغه يې ښخه کړه [٢] حضور ﷺ سره کربنيزه جوړه اغوستې وه او لمن ئې رانغښتې اوچته کړې وه (يعنی په جلتئ سره د خيمې څخه) راووتلو [٣] او د نيزې طرف ته ودريدو سره نورو صحابؤ رضي الله عنهم ته يې دوه رکعاته مونځ ورکړو [٤] او ما کتل چې سړي او ځاروي به د نيزې مخې ته تلل راتلل. (بخاري، مسلم.)

[(١)] اخرجه البخاري كتاب الصلوة باب الصلاة في الثوب الأحمر (رقم-٣٧٦) ومسلم باب سترة المصلي (رقم-٢٥٠ - (٥٠٣))

حل اللغات: ⑨ فَرَكَزَهَا: أي: غَرَزَهَا: ښخه ئې کړه. ⑩ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ: یعنی داسې جوړه وه په کومه کښې چه سرې کرښې وې خالص سره نه وه ځکه چه دغه دَ سرو دَپاره جائز نه ده. ⑪ مُشَمِّرًا: أي: مُسْرِعًا: تشمیر کپړې راغونډولو سره په تادئی تلو ته وائی. ⑫ يَمُرُّونَ: مرور دَ تیریدو په معنی کښې دې

تسهیلات:

قوله: وَرَأَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُونَ ذَلِكَ الْوَضُوءَ:

د نبی کریم د اودس نه پاتې شوو اوبو باندې برکت حاصلول: دَ واؤ فتحه سره هغه اوبو ته وئیلې شی چه دَ اودس جوړولو نه پس باقی پاتې کیږی او هغه اوبو ته هم وائی چه اندامونه منفصل کیدو سره څاڅی. صحابه کرامو دغه اوبه دَ تبرك په توګه استعمال کړی دی اودا اوبه دَ تبرك قابلې هم وې. کومې چه دَنبی آخرزمان ﷺ دَ مبارکو اندامونو او عبادت کښې استعمالیدونکې مبارکې اوبه وې.

قوله: "يَمُرُّونَ"

د ذوالعقولو په غیرذوالعقولو تغلیب: په دې کښې "تغلیب العقلاء علی غیرالعقلاء" دې یعنی صیغه دَ مذکرعاقل ده مګر مراد صرف عاقلان نه دی بلکه ځناور هم مراد دی. ښکاره خبره داده چه خلق دَ سترې په مخکښې تیریدل او دَ بیانولونه مقصود هم دغه دې چه ستره کافی ده کله چه ستره وی نو په وړاندې تیریدو کښې ګناه نشته بلکه جائز دی.

۷۷۳- د سوارلی څخه ستره جوړول

۷۷۳-(۳) [۱] وَعَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَعْرِضُ رَاحِلَتَهُ فَيُصَلِّي إِلَيْهَا»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، [۳] وَزَادَ الْبُخَارِيُّ، قُلْتُ: «أَفَرَأَيْتَ إِذَا هَبَّتِ الرِّكَابُ [۴] قَالَ: كَانَ يَأْخُذُ الرَّحْلَ فَيُعَدِّلُهُ، فَيُصَلِّي إِلَى آخِرَتِهِ».

ترجمه: [۱] او نافع د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت کوي [۲] چې رسول الله ﷺ به د خپلې سورلۍ اوښ مخې ته کینولو او د هغې طرف ته به یې مونځ کولو ، (بخاري،مسلم) [۳] او بخاري دا مزید نقل کړي دي چې نافع وایې چې ما د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه پوښتنه وکړه چې کله به اوښان څریدلو او اوبو څښلو لره لاړل نو حضور ﷺ به څه کول (یعني په داسې صورت کې به ستره حضور ﷺ کوم شي ګرځوله)؟ [۴] ابن عمر رضی الله عنهما وفرمایل په داسې موقع به یې کجاوه برابرولو سره مخې ته ایښودله او د هغې د وروستنۍ لرګي طرف ته (چې د بلند کیدو په وجه به یې د ستره کار ورکولو) مونځ کولو.

⁽¹⁾ اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب الصلاة إلى الراحلة، والبعیر والشجر والرحل(رقم-۵۰۷) ومسلم باب الصلاة إلى الحربة والعنزة (رقم-۲۴۷ - (۵۰۲)

حل اللغات: ① يُعَرِّضُ: أَيْ يُبْنِيهَا بِالْعَرْضِ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ: صیغه دَ باب ضرب نه ده یوخناور په پلنوالی کښې کېنول مراد دی دې دَ پاره چه دَ مونځ گذار او قبلې په مینځ کښې ستره جوړشي. دَ باب تفعیل نه هم دغه مراد کیدې شي ②رَاحِلَتَهُ: سورلی، ③ هَبَّتْ: أَيْ: قَامَتْ لِلسَّيْرِ: چه سورلی به دتلو دپاره پاسیده، هبوب دَخوب نه بیداریدو یا دَ یوخناور دکیناستونه پس پاسیدو ته ونیلی شي. ④الرِّكَابُ: أَيْ: الْإِبِلُ يُسَيَّرُ عَلَيْهَا الرَّاكِبُ: هغه اوښ چه سورلی پرې کولې شي. ⑤ فَيُعَدِّلُهُ: دَتعدیل نه دې برابرول او نیغولو په معنی کښې دې.

تسهیلات:

قوله: أَفَرَأَيْتَ إِذَا هَبَّتِ الرِّكَابُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه توجیهات: شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائی چه هبوب لفظ دَتلو دَپاره په توگه دَ مجاز استعمال کړې شوې دې یعنی چه کله خناور موجود نه وی بلکه دَ خرن یا اوبو څکلو دَپاره تلې وی بیا به ستره په کوم څیزسره کیدله.

① که خناور دَ څرن دَپاره تلې وې اودَ سترې دَپاره یوخناور نه ملاویدلو نوحضورپاك به څه کول نو ابن عمر رضي الله عنه جواب ورکړو چه حضورپاك به بیا کجاوه دَسترې دَپاره استعمالوله. دا مطلب دَ سیاق او سباق نه ډیر لرې دې ځکه چه دَ سترې جوړولودَپاره خناور متعین نه وو ستره خودَ هرڅیز نه جوړولې شوه. بیا دَدې سوال اوجواب ضرورت څه وو؟ "الرکاب" دې نه مراد اوښ دې دَدې مفرد راحله دې اودَدې جمع رُکُبٌ دَ کُتُبٌ په شان هم راځی او رکابات اوکائب هم راځی. (کذا فی المعات)

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "اذاهبت" ايقامت للسير، دَدې کلام نه اندازه کیږی چه که خناور په مونځ کښې پاسی لاړشی نوبیابه څه کیږی. نوحضرت ابن عمر رضي الله عنه نافع ته جواب ورکړو بیا به حضورپاك کجاوه تیك کولوسره هغه ستره جوړوله.

قوله: "إِلَى آخِرَتِهِ"

د مذکوره جملې مفهوم: کجاوې سره دوو طرفوته لرگی لگیدلې وی یو دَدې په وړاندې حصه کښې کوم چه سور په لاس سره نیسی او یولرگې دَدې په آخری حصه کښې وی کوم سره چه سور ډډه اوتکیه لگوی. آخرة هم دَدغه آخری لرگی نوم دې. دې ته مؤخره الرحل هم وائی. په راتلونکی حدیث کښې دې په دې حدیث کښې دَ خناور ذکر دې. فقهاؤ لیکلی دی که یو انسان دَ یومونځ کونکی مخې ته ناست وی نودَ هغه شا ستره جوړولې شی او مخ ئی مخامخ کیدل نه دی پکار.

۷۷۵- د ستري مخې ته تيريدل

۷۷۵- (۱)[۳] [۱] وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - " [۲] «إِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ، [۳] وَلَا يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذَلِكَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه راوي دي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] هر كله چې په تاسو كې څوك د كجاوې د وروستني لرگي پشان (څه شي) ستره جوړولو سره كيږدي نو هغه ته پكار دي چې مونځ وكړي [۳] او د هغه ستري مخې ته كه څوك تيريږي نو د هغې پروا دې نه كوي. (مسلم)

حل اللغات: ① مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ: الْخَشَبَةُ الَّتِي يَسْتَنِدُ إِلَيْهَا الرَّاكِبُ: د كجاوې شاته لرگې كومې ته چه ډډه لگولې شي.

تسهيلات:

قوله: وَلَا يُبَالِ:

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه احتمالات: ① چې د لايبال تعلق تيريدونكي سره وى مطلب دا چه كله ستره موجود وى نو د مونځ گذار مخې ته تيريدونكې دې دا پرواه نه كوى چه زه د مونځ گذار مخې ته تيريږم بلكه بې خطرې او بې ويرې دې تيرشى ځكه چه د ستره په موجودگئى كښې تيريدل جائزدى د هيڅ قسم غم ضرورت نشته.

② يعنى د ستره نه پس مونځ گذاردې د دې پرواه نه كوى چه څوك د هغه مخې ته تيريږى ځكه چه د ستره په موجودگئى د چاپه تيريدو سره د مونځ گذار په خشوع اوخضوع باندې څه اثر نه پريوځى په تسلئى سره دې مونځ كوى. په دې صورت كښې به د لايبال تعلق مونځ گذارسره وى [اشعة المعات: ۳۷۶]

۷۷۶- د مونځ كونكي مخې ته د تيريدل گناه

۷۷۶- (۲)[۵] [۱] عَنْ أَبِي جُهَيْمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲]: " «لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ، [۳] لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ "، [۴] قَالَ أَبُو النَّضْرِ: لَا أَدْرِي قَالَ " أَرْبَعِينَ يَوْمًا، أَوْ شَهْرًا، أَوْ سَنَةً» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب سترة المصلى (رقم)-۲۴۱ - (۴۹۹) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يستر المصلى (رقم ۶۸۵) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى سترة المصلى (رقم-۳۳۵)

(۲) اخرجه البخارى باب سترة المصلى (رقم-۲۵۰ - (۵۰۳))باب إثم المار بين يدى المصلى (رقم-۵۱۰) ومسلم فى كتاب الصلوة باب منع المار بين يدى المصلى (رقم-۲۶۱ - (۵۰۷) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما ينهى عنه من المرور بين يدى المصلى (رقم-۷۰۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب المرور بين يدى المصلى (رقم-۹۴۵) كتاب قصر الصلاة فى السفر . باب التشديد فى أن يمر أحد بين يدى المصلى (رقم-۳۴) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية المرور بين يدى المصلى (رقم-۳۳۶)

ترجمه: ① او ابـوجهیم رضي الله عنه راوي دي چـې رسـول الله ﷺ وفرمایـل ② د لمانځـه کـونکي مخې ته تیریدونکي که په دي پوهه شي چې. د دې څه سزا ده ③ نو هغه به د لمانځه کونکي د مخې څخه د تیریدو په ځای تر څلویښتو پورې ولاړ ودریدل بهتـر وګڼي ④ (د دې حدیث یو راوي) ابو نضر وایي چې د دې ماته علم نشته چې څلویښت ورځې یا څلویښت میاشتې یا څلویښت کاله ویل شوې دي، (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① المَارُّ: تیریدونکي.

تسهیلات:

قوله: "مَـاذَا عَلَيْهِ" یعنی دَمونځ ګذار مخې ته تیریدونکی ته که چرته په عین القین سره معلومه شی چه دَدې تیریدو سزا څومره سخته ده نوهغه به څلویښته کاله انتظارکولو اودَ مونځ ګذار مخې ته به نه تیریدو. سړې په پنځه مینټه انتظارکولوسره څومره ستړې کیږی نودَ څلویښتوکالو په انتظارکول اودریدل به څومره مشکل وی. لیکن دَ مونځ ګذار مخې ته دَ تیریدو دَ سخت عذاب دَ وجې نه که چرته څلویښت کاله حصاریدل هم وی نوبیا هم کم دی څکه چه مخې ته دَ تیریدو عذاب ډیر زیات دې. [اشعة المعات: ۳۷۶]

قوله: أَرْبَعِيْنَ"

د اربعین په تمیز کښې سنة ته ترجیح ورکول: په دې لفظ کښې شك پیدا شو چه دَ اربعین تمیزڅه دې آیـا څلویښت ورځې یا څلویښت میاشتې او یـا څلویښت کالـه دی. دَحضرت ابوهریره رضي الله عنه یو روایت کوم چه امام طحاوی رحمه الله په مشکل الآثارکښې بیان کړې دې په کوم کښې چه دَ سلو کالوحصاریدو ذکردې. په دې سره امـام طحاوی رحمه الله دا ثابت کړی دی چه زیر نظرحدیث کښې څلویښتونه څلویښت کاله مراد دی. بعضې روایاتو کښې "اربعین خریفاً ای سَنَةً".

د مذکوره وعید محمل: علماؤ لیکلی دی دا وعید دَهغه تیریدونکی باره کښې دې چه دَ مونځ ګذار مخې ته په پلنوالی تیریږی. بل دا په هغه صورت کښې دی کله چه تیریدونکي مـونځ ګـذار دَ سـجدې دَ ځـائی مخې تـه تیریـږی. بعـضې فقهـاؤ دَ مـونځ ګـذار بـدن سـره دَ لګیدلو قید هم لګولې دې. بهرحال وعید سخت دې. علماؤ دَ مجبورئی دَ وجې نـه حرمین شریفین دَدې نـه مـستثنی ساتلی دی ګنی هلتـه بـه بیاتولـه ورځ څـوك یـوطرف تـه هـم لاړنـه شی. ابن حجر رحمه الله کعبه دَ خلقو دَپاره ستره ګرځولې ده. (کذافی المرقات).

۷۷۷-د ستره او مونځ کذار په مينځ کښې تيريدونکي لره دفع کول

۷۷۷-(١)[٢] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "«إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ، فَأَرَادَ أَحَدٌ أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَلْيَدْفَعْهُ، فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ»". هَذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ، وَلِمُسْلِمٍ مَعْنَاهُ.

ترجمه: او حضرت ابو سعيد رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل هر كله چې په تاسو كې يو سړي داسې شي (يعني د سترې) طرف ته مونځ كوي چې د هغه او د خلقو په مينځ كې حائل وي او يو سړي د هغه مخې ته (يعني د لمانځه كونكي او د ستره په مينځ كښې) ځخه د تيريدو اراده وكړي نو هغه منع كول پكار دي كه هغه ونه منې نو هغه قتلول پكار دي ځكه چې هغه (په داسې صورت كې) شيطان دي د حديث الفاظ د بخاري دي او مسلم دا روايت بالمعني نقل كړي دي.

حل اللغات: ① يَسْتُرُهُ: چه پټ كړي ده لره، يعنى ستره دې اولګوى. ② يَجْتَازُ: تيريږى، تجاوز كوى، ③ فَلْيَدْفَعْهُ: منع دې كړى، ④ أَبَى: انكارني اوكړو يعنى منع نه شو، ⑤ فَلْيُقَاتِلْهُ: أَيْ: فَلْيَدْفَعْهُ بِالْقَهْرِ: منع دې كړى په زورسره، ⑥ هُوَ شَيْطَانٌ: أَيْ مِنْ شَيَاطِينِ الْإِنْسِ أَوِ الْجِنِّ أَوْ فِعْلُهُ فِعْلُ شَيْطَانٍ: يعنى دا انسى شيطان دې يا جنى دې يا دا كار ئې د شيطانانو دې.

تسهيلات:

قوله: "فَلْيَدْفَعْهُ"

په مانځه كښې د تيريدونكي منع كولو حكم: په عمل كثيرسره دفع كول اجماعاً دَ مونځ دَپاره مفسد دى بل دَ دفاع دا حق دَ سترې ساتلونه پس دې. كه يومونځ كذار ستره نه ده كيخودې نوجرم پخپله دَمونځ كذاردې. باقى پاتې شوه دامسئله چه دفاع كول اولى او بهتر دى كه غيراولى دى. نو په دې كښې تفصيل دې چه نفس دفاع خو مباح ده مګر دفاع كول دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزاولى دې. دَ جمهور فقهاؤ په نيزهم دفاع كول څه وجوبى حكم نه دې. په كومو احاديثو كښې چه دَ دفاع حكم راغلې دې هغه دَ بيان رخصت دَپاره دې يا په شروع كښې وجوب وو بيا منسوخ شو. (كذافى الزيلعى)

قوله: "فَلْيُقَاتِلْهُ"

د قتال نه مراد: دادَ جنګيدو په معنى كښې دې دَقتل كولوپه معنى كښې نه دې. ځكه چه

(١) اخرجه البخارى كتاب الصلوة باب: يرد المصلى من مر بين يديه (رقم-٥٠٩) ومسلم فى كتاب الصلوة باب منع المار بين يدى المصلى (رقم-٢٥٩ - (٥٠٥) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يؤمر المصلى أن يدرأ عن الممر بين يديه (رقم-٧٠٠) وابن ما جة كتاب إقامة الصلاة، باب ادرأ ما استطعت (رقم -٩٥٤) ومالک فى الموطا كتاب قصر الصلاة فى السفر ، باب التشديد فى أن يمر احد بين يدى المصلى (رقم-٣٣) والنسائى كتاب القبلة/باب التشديد فى المرور بين يدى المصلى وبين سترته (رقم) ٧٥٧

دَ قتال مفهوم دَ قتل دَ مفهوم نه جدا دي مګر بعضي رواياتوكښي "فليقتله" الفاظ راغلي دي دكوم نه چه په ظاهره باندې قتل كول مراد دي.

د حديث په ظاهر عمل كونكي باندې عدم قصاص: اوس كه چا ظاهري حديث ته اوكتل اودفاع ئې اوكړه او په دې سره هغه سړې واقعي مړشو نوقاضي عياض رحمه الله فرماني چه دَ دفاع دَ حده پورې دفاع كولوسره كه څوك مړشي. نودَ علماؤ په دې باندې اتفاق دې چه په دې كښې قصاص نشته دې. البته په ديت كښې اختلاف دې. بعضو ديت واجب كړې دې بعضې نه دې واجب كړې. "فانه شيطان" يعنې اوس دا سړې دَ شيطان والا كاركوي. دَ شيطان په شان سركشئي باندې راغلي دې. نودې دَ شيطان په شان شو. اوكه څوك مونځ ګذار دَ لارې په مينځ كښې اودريدو نو ګناه به په هغه وي.

۷۷۸–په سترې سره د مونځ محافظت

۷۷۸ (۱)[۷] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] " «تَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْمَرْأَةُ وَالْحِمَارُ وَالْكَلْبُ، [۳] وَيَقِي ذَلِكَ مِثْلُ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل[۲] ښځه، خر او سپې (د لمانځه كونكي مخې ته د تيريدو په صورت كې) مونځ باطلوي[۳] او د كجاوي د وروستني لرګي په شان څه شي (د لمانځه كونكي مخې ته ستره جوړولو سره) اينبودل مونځ د باطل كولوڅخه محفوظه كوي. (مسلم)

حل اللغات: ① مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ: الْخَشَبَةُ الَّتِي يَسْتَنِدُ إِلَيْهَا الرَّاكِبُ: د كجاوې شاته لرګي كومې ته چه ډډه لګولې شي.

تسهیلات:

قوله: تَقْطَعُ الصَّلَاةَ:

د مونځګذار مخې ته د ښځې د تيريدو حكم: دَدې حديث ظاهري الفاظ په دې باندې دلالت كوي كه دَ يومونځ ګذار مخې ته خر، ښځه او سپې تيرشو نودَهغه مونځ باطل شو لكه چه دې دريوارو څيزونو دَدغه سرې مونځ باطل كړو. اوس سوال دادې چه داحديث هم دغه شان په ظاهرباندې دې يادَ نورو احاديثو دَ وجې نه دَ دې ظاهر مؤول بتاويل دې په دې كښې دَ فقهاء كرامو اختلاف دې.

د مونځګذار مخې ته د ښځې خراو سپي په تيريدو سره د مونځ په فساد كښې مذاهب:

① دَامام احمد بن حنبل رحمه الله او اهل ظواهر په نيز دَښځې خر اوسپي د مونځګذار مخې ته

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب قدر ما يستر المصلى (رقم-۲۶۶ - (۵۱۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب ما يقطع الصلاة (رقم-۹۵۰)

په تیریدو سره مونځ فاسد کیږی. امام احمد رحمه الله د نورو احادیثو د وجې نه د ښځې او خر د تیریدو باره کښې په شك کښې پریوتلو اودا فتوی ورکړه چه صرف د سپی په تیریدو سره مونځ ماتیږی. بیائی په سپی کښې هم بعض روایاتو کښې د تور قید لګولې وو نوهغوی تور سپې د مونځ ماتونکې اوګرځولو باقی هیڅ څیز نه.

② د ریواړه ائمه امام مالك، امام ابوحنیفه او امام شافعی رحمهم الله په نیزباندې ښځه، خر او سپې یا د دې نه علاوه څه بل څه انسان اوحیوان که د مونځ ګذار مخې ته تیرشی نو په دې سره مونځ نه باطل کیږی.

د اول فریق دلیل: زیربحث حدیث د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه په واضحه توګه درې څیزونه قاطع صلوة ګرځولې شوی دی. په ابوداؤد شریف کښې دا الفاظ راغلی دی "قال یقطع الصلوة المرأة الحائض والکلب" (ص ۱۰۳)

د اول فریق د دلیل جوابونه: ① د قطع الصلوة نه مراد خشوع اوخضوع اوتعلق د الله تعالی خاص رابطه ده اوهغه کټ کیږی ځکه چه د دغه څیزونونه سپې اوخر مضرالجسم دی او ښځه مضر بالمیل والحسن ده ځکه چه دا دریواړه انواع وسواس د شیطان مراکز دې د کوم په ذریعه چه شیطان د مونځ ګذار نورانیت اوالله تعالی سره رابطه او توجو اوتسلسل کټ کوی نو مونځ نه ماتیږی علاقه کټ کیږی دغه شان به په ټولو روایاتو کښې تطبیق راشی.

② د دې دریواړو څیزونو په فساد کښې د مبالغه طرف ته اشاره کړې شوې ده چه د دې فتنه ډیره سخته ده په مانځه کښې د دې نه بچ شئ لکه چه دا د احتیاط او احتراز طرف ته توجو راګرځول دی.

③ دا روایت په وړاندې روایتونو باندې منسوخ دې. پخپله حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دې څیزونوسره د مونځ ماتیدو اول قائل وو او د دې روایاتو راوی وو مګر روستو بیا هغوی د عدم قطع فتوی ورکوله دا د نسخ دلیل دې.

د دویم فریق دلائل: ① د حضرت عائشه حدیث نمبر (۷۷۸) کوم چه د مشکوة په صفحه ۷۴ باندې موجود دې د هغې نه هم

② د حضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې. حدیث نمبر (۷۸۵) چه مشکوة ص ۷۴ باندې موجود دې د کوم الفاظ چه دا دی: "لایقطع الصلوة شئ وادرؤا ما استطعتم. (رواه ابوداؤد)

عدم قطع الصلاة معلومیږی.

③ د حضرت فضل بن عباس رضی الله عنهما حدیث نمبر (۷۸۳) هم د دوی مستدل دې. چه د مشکوة ص ۷۴ باندې موجود دې.

⑥ دَحضرت ابن عباس حديث نمبر (۷۸۰) هم د دوی مستدل دي. کوم چه دَ مشکوة ص ۷۴ باندې هغې نه هم
عدم قطع الصلاة معلوميږي. غرض دا چې دَدې ټولو احاديثونه معلوميږي چه ښځه خر او سپې قاطع الصلوة نه دی. حضرت عائشه رضي الله عنها په زوردار انداز سره دَدې ترديد کړې او فرمائي: "شبهتمونا بالحمر والكلاب" (بخاري صفحه ۷۳)

۷۷۹–د مونځ کوونکي مخې ته د ښځې تيريدو سره د مونځ نه ماتيدل

۷۷۹–()[۸][۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲]«كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ وَأَنَا مُعْتَرِضَةٌ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ [۳] كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د شپې مونځ کولو او زه به د حضور ﷺ او قبلې په مينځ کې (يعني د حضور ﷺ مخې ته) داسې پرته وم [۳] ځنګه چې جنازه د مونځ کونکي مخې ته پرته وي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① مُعْتَرِضَةٌ: أي مُضْطَجِعَةٌ: اعتراض د دوه څيزونو په مينځ کښې حائل جوړيدو ته وائي خو دلته ترې څملاستل مراد دی.

تسهيلات:

قوله: كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ

د ښځې په مس کولو د عدم نقض وضوء دليل: ددې حديث پاك نه معلومه شوه که د مونځګزار مخې ته ښځه تيره شی نو دې سره مونځ نه ماتيږی. دا حديث زمونږ دليل دې چې مس امراة يعنی که سړې ښځه مس کړی نو دې سره اودس نه ماتيږی. او حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها چې څنګه ملاسته وه ، ددې وجه صرف دا وه چې حجره مبارکه وړه وه او نفلو دپاره جدا ځائې نه وو.

۷۸۰–د مونځ کوونکي مخې ته د خر وغيره تيريدو سره د مونځ نه ماتيدل

۷۸۰–()[۹][۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲]«أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى أَتَانٍ، [۳] وَأَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ الِاحْتِلَامَ، [۴] وَرَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي بِالنَّاسِ بِمِنًى إِلَى غَيْرِ جِدَارٍ، [۵] فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ، [۶] فَنَزَلْتُ وَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ، [۷] وَدَخَلْتُ فِي الصَّفِّ، فَلَمْ يُنْكِرْ ذَلِكَ أَحَدٌ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(۱) اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب الصلاة علی الفراش (رقم-۳۸۳) مسلم فی کتاب الصلوة باب الاعتراض بين يدی المصلی رقم-۲۶۸ - (۵۱۲) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، باب من صلی وبينه وبين القبلة شیء (رقم-۹۵۶)

(۲) اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب سترة الإمام سترة من خلفه (رقم-۴۹۳) مسلم فی کتاب الصلوة باب سترة المصلی (رقم) ۲۵۴ - (۵۰۴) وابوداو د کتاب الصلاة،باب من قال: الحمار لا يقطع الصلاة (رقم-۷۱۵) کتاب قصر الصلاة فی السفر . باب الرخصة فی المرور بين يدی المصلی (رقم-۳۸)

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايي ② چې زه يوه ورځ په خره سور راغلم ③ او زه بالغيدو ته نزدې وم ④ او حضور ﷺ په منى کې د خلقو سره مونځ کولو او د حضور ﷺ مخې ته څه ديوال نه وو (يعني څه ستره يې نه وه او درولي) ⑤ زه د بعضې صف مخکې تير شوم ⑥ بيا د خرې څخه ښکته کيدو سره هغه مې پريښودله هغه څريدله ⑦ او زه په صف کې داخل شوم او مانه چا هيڅ ونه ويل. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① أَتَانٍ: يَعْنِي الْحِمَارَ الْأُنْثَى: خره (مونث). ② نَاهَزْتُ: أَيْ: قَارَبْتُ: نزدې ووم. ③ الإِحْتِلَامَ: أَيِ الْبُلُوغَ: بالغ کيدو ته وائي. ④ أَرْسَلْتُ: پريمې خودله، پرانستې مې پريخوده. ⑤ تَرْتَعُ: أَيْ: تَأْكُلُ الْحَشِيشَ: چه وابنه وغيره اوخوري، اوڅريږي.

تسهيلات:

قوله: نَاهَزْتُ الإِحْتِلَامَ

د ناهزت قيد فائده: ددې حديث مبارك حاصل دادې چې ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چې زه په خرۀ باندې سور راغلم ، او بلوغ ته نزدې ووم. دا خبره ئې څکه اوکړه چې هسې نه څوك تپوس اوکړي چې تا ولې مونځ اوکړو ، ته لابالغ هم نه وې. او په هغه وخت نبي کريم ﷺ منى کښې خلقو ته مونځ ورکولو.

قوله: إِلَى غَيْرِ جِدَارٍ

په غير کښې دوه احتمالات

① که غير صفتيه وى نو په دې صورت کښې به معنى دا وى چې لاشئ مغاير للجدار، يعنى نبي کريم ﷺ جدار نه علاوه بل څيز ستره جوړه کړې وه. جدار ستره نه وه.

② که غير د ، ،دون، ، په معنى کښې وى ، نو ددې معنى به دا شى چې د جدار نه سوا بل طرفته ، يعنى ستره بالکل نه وه ، بغير سترې نه ئې مونځ ورکولو،

ځينې علماء کرامو په دې وجه په دې باندې يو مستقبل باب د باب صلوة بدون السترة په نوم سره قائم کړې دې،

د خرې په مرور د مونځ عدم فساد: دې خائې کښې اتان تير شو ، وائى چې د ځينو صفونو په مينځ کښې تير شو ، او زه د خرې نه راکوز شوم ، او هغه مې هغه شان پريښودله ، او صف کښې داخل شوم ، او په دې باندې چا بد اونه ګنړل، مخکښې به خره څريده او ګرزيده ، معلومه شوه چې د هغوئ مرور قاطع للصلوة نه وو.

الْفَصْلُ الثَّانِي

۷۸۱–همسا د سترې په خاي استعمالول

۷۸۱–()[۱۰] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ②" «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ شَيْئًا، ③ فَإِنْ لَمْ يَجِدْ، فَلْيَنْصِبْ عَصَاهُ ④ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ عَصًى فَلْيَخْطُطْ خَطًّا، ⑤ ثُمَّ لَا يَضُرُّهُ مَا مَرَّ أَمَامَهُ» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② هر كله چې په تاسو كې يو سړي مونځ كول غواړي نو خپل مخې ته دي څه شي (مَثَلًا ديوال، ستن وغيره) وګرځوي③ او كه څه موجود نه وي نو خپله لکړه (همسا) دي ودروي④ او كه د هغه سره همسا هم نه وي نو يوه كربنه دي وكاږي ⑤ بيا كه د هغه په مخكې څوك تير شي نو څه حرج نشته (يعني په خشوع اوخضوع كې خلل نه پريوځي) (ابوداؤد، ابن ماجه.)

حل اللغات: ① فَلْيَنْصِبْ: نيغه دې اودروي، نيغه دې بنخه كړي، ② عَصَى: امسا، كوتې، ③ فَلْيَخْطُطْ: خط يعنى كربنه دې راكاږي.

تسهيلات:

قوله: فَلْيَنْصِبْ عَصَاهُ:

مونځ ګزار دپاره د سترې په باره كښې څه سهوليات: په دې حديث كښې مونځ ته دَ ستره په معامله كښې څه آسانتې وركړې دي.

① كه چاسره دَ ستره دَ پاره هيڅ هم نه وي نوهغه دې همسا د ستره په توګه مخې ته خښولو سره استعمالولې شي

② كه زمكه سخته وي او دَ خښولو صورت نه شي جوړيدې نوبيا به په اوږدوالى باندې همسا مخې ته كيخودل هم كافى شي

همسا په اوږدو باندې كيخود سره د سترې حكم اختلاف كښې اختلاف: ① (شرح منية المصلى) كښې ليكلى دى كه څوك خپله همسا په ځائى دَ خښولوصرف په اوږدو مخې ته كيږدى نو دَ بعض علماء په نيز داسې كولوسره به دَ ستره عمل پوره شى.

② دَ بعض علماؤ په نيز دغه شان كيخودو سره دا ستره نه كافى كيږى. په كفايه كښې ليكلى دى كه يوسړې همسا په ځائى دَخښولو مخې ته كيخودل غواړى نودا په پلنوالى نه دى كيخودل پكار بلكه په اوږدوالى باندې كيخودل پكاردى.

③ كه چاسره دَ ستره دَ پاره يوڅيزهم نه وى په لاس كښې همسا هم نه وى نوهغه دې خپلې

[۱]) هاخرجه ابوداود فى كتاب الصلوٰة/ باب الخط اذا لم يجد عصا... رقم الحديث ۶۸۹

مخې ته كرښه راكاږي او مونځ دې اوكړي دَهغه دَ ستره دَپاره دا كافي دى. په دې سره دَ مونځ گذار دَ زړه شك شبه اودَ وسوسې نه تسلى حاصليدې شي.

دَ كرښې راښكله په كفايت كښې دوه مذاهب:

① دَ امام شافعي رحمه الله قول قديم اودَ امام احمد بن حنبل رحمه الله هم دغه مسلك دې چه كرښه راښكل دَ ستره دَپاره كافي كيږي. دَ احنافو متاخرينو علماؤ هم دا قول اختيار كړې دې.

② دَ احنافو اكثر علماء اودَ امام مالك په نيز كرښه راښكل دَستره دَپاره كافي نه دى په دې سره امتياز نه حاصليږي. دَا مام شافعي رحمه الله جديد قول هم دغه دې. صاحب دَهدايه هم دغه قول اخستې دې چه كرښې اعتبار نشته، بهرحال كه په حديث اضطراب هم وى مگر دَ كرښې ذكر اودې ثبوت په حديث كښې موجود دې.

دَ كرښې راښكلو په طريقه كښې څلور اقوال:

بيا علماؤ دَ كرښې راښكلو په طريقه كښې مختلف دى

① بعضو دَ محرابى شكل دَ كرښې خبره كړې ده

② بعضو دَ اوږدوالي اړخ باندې ترجيح وركړې ده

③ بعضو دَ پلنوالي كرښه خوښه كړې ده محرابى شكل ډير تسلئى سبب دې

④ دَ عامو احنافو په نيزد كرښې اعتبار دې دَ صاحب هدايه قول معتبر نه دې. محقق ابن همام رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله كرښه راښكل راجح گرځوى.

۷۸۲– دَستري نزدې اودرول

۷۸۲– ()[۱] [۱] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] "«إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى سُتْرَةٍ، فَلْيَدْنُ مِنْهَا، [۳] لَا يَقْطَعِ الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ صَلَاتَهُ»"، رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] سهل ابن ابي حثمه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر كله چې په تاسو كې يو سړي د ستري طرف ته مونځ كوي نو هغه ته پكار دي چې ستري ته نزدې وي [۳] چې شيطان د هغه مونځ مات نه كړي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① سُتْرَةٍ: په لغت كښې دَ پردې اوبنديز په معنى كښې دې دَ دې اصطلاحي مفهوم دادې چه ستره دَهرهغه څيز نوم دې چه دَ مونځ گذار مخې ته اودرولې شى دې دَپاره چه په دې دَ مونځ گذار دَ سجدې دَ ځائې پته اولگى او تيريدونكې گناهگار نه شى. ② فَلْيَدْنُ: أَيْ: فَلْيَقْرُبْ: نزدې دې اودريږى.

---

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب الدنو من السترة (رقم-۶۹۵)

تسهيلات:

قوله: فَلْيَدْنُ مِنْهَا

(ستره ته دنژدې كيدو مطلب دا دې چې ستره دومره نژدې ودرول شي چې سجده هغه سره نژدې وشي چې شيطان د هغه په لمانځه كې خلل وانه چوي ځكه چې كه مونځ كونكي د ستره څخه لرې ودريږي نو د هغه و مخ ته د چا د تيريدو احتمال به وي شيطان په داسې صورت كې د هغه په زړه كې د وسوسو او شبهاتو تخم كري چې په هغه سره حضوري قلب كې فرق راځي او په هر لمانځه كې د قلب د حضوري دولت نه حاصليږي نو لكه چې د هغه مونځ مات شو د دې وجهې چې د لمانځه كمال او ثواب بغير حضوري قلب نه حاصليږي نو ستره ته د نژدې د ودريدو په وجه به د دې آفت څخه ورته حفاظت حاصل وي.

سترې ته د نزديكت په فاصله كښې دوه اقوال:

① مونځگذار دې درې لاسه يعنى د يو نيم گز په فاصله كښې ولاړ وى.

② دسجدې د مقدار مطابق به ستره لرې ساتى.

۷۸۳-ستره بيخي د تندى مخې ته د اودرولو ممانعت

۷۸۳-()[۱۳][۱] وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲]«مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ يُصَلِّي إِلَى عُودٍ، وَلَا عَمُودٍ وَلَا شَجَرَةٍ[۳] إِلَّا جَعَلَهُ عَلَى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ[۴] وَلَا يَصْمُدُ لَهُ صَمْدًا»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: [۱] او حضرت مقداد بن اسود ﷺ فرمايي[۲] چې ما رسول الله ﷺ هيڅ كله نه دې ليدلي چې د لرگي، ستن يا ونې طرف ته (مخ كولو سره) مونځ كوي او دا څيزونه بالكل د حضور ﷺ مخې ته ولاړ وي[۳] بلكه هغه به د حضور ﷺ د ښي يا گس وروځو (ابرو) مخې ته وو[۴] او حضور ﷺ به د هغې د سيده (بالكل دنيغ) قصد نه كولو. (ابوداؤد.)

حل اللغات: ① عُودٍ: نيغ لرگي، امسا، ② عَمُودٍ: كَالْأُسْطُوَانَةِ: ستن، ③ حَاجِبِهِ: أَيْ: جَانِبِهِ: طرف، ④ لَا يَصْمُدُ: أَيْ: لَا يَقْصِدُ: قصد به ئې نه كولو. ⑤ صَمْدًا: بالكل مخامخ به ورته د اودريدو قصد نه كولو.

تسهيلات:

قوله: وَلَا يَصْمُدُ:

په جنازه كښې د ركوع او سجدې نه كولو حكمت: اى لا يقصد قصداً يعنى بالكل دَ تندى او ستركو په وړاندې به ئې اراده نه فرمائيله بلكه ستره به ښى اوگس طرف ستركې مخې ته كيخودله دې دَپاره چه بت پرستو سره مشابهت پيدا نه شى ځكه چه اسلام دَ توحيد علمبردار مذهب دې په دې كښې دَهغې لږ شك هم نه دې پكار چه څوك كتونكې دا خيال اوكړى چه دا سړې دَ دغه ستن وغيره عبادت كوى. په دې وجه به حضورپاك ستره بالكل

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب إذا صلى إلى سارية أو نحوها أين يجعلها منه (رقم-۶۹۳)

نيغه مخې ته دَ کیخودلو اراده نه کوله بلکه ښي طرف یا ګس طرف اوریخې مخې ته به نی ستره کیخودله. اسلام دَ جنازې مونځ کښې رکوع اوسجده هم په دې وجه جائزنه ده ګرځولې دې دَپاره چه څوك مشرك دَ شرك په شك کښې پرینوځي.

۷۸۳- د مونځ ګذار مخې ته د سپي تیریدو سره د مونځ نه ماتیدل

۷۸۳-()[۱۳][۱]وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲]«أَتَانَا رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَنَحْنُ فِي بَادِيَةٍ لَنَا، وَمَعَهُ عَبَّاسٌ، [۳]فَصَلَّى فِي صَحْرَاءَ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ، [۴]وَحِمَارَةٌ لَنَا وَكَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ، [۵]فَمَا بَالَى بِذَلِكَ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَلِلنَّسَائِيِّ نَحْوُهُ

ترجمه: [۱] او فضل ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ يو ورځ مونږ ته تشريف راوړو او مونږ په ځنګل کې (خيمه زن) وو حضرت عباس رضي الله عنه هم ورسره وو [۳] حضور ﷺ په ځنګل کې مونځ (درسي) وکړو چې هيڅ ستره يې مخې ته نه وه[۴] زمونږ خرې او سپې به د حضور ﷺ مخې ته لوبې کولې[۵] خو حضور ﷺ د دې څه پرواه ونه کړله. (ابوداؤد، نسايي)

حل اللغات: ①بَادِيَةٍ: بانډه، صحرا، ځنګل. ②تَعْبَثَانِ: أَيْ تَلْعَبَانِ: لوبې به ئې کولې. ③فَمَا بَالَى: أَيْ: مَا الْتَفَتَ إِلَيْهِ: يعنی هيڅ پرواه ئې پرې اونکړه. ④حمارة: دادَ حمار ښځې خرې ته وائی دا دَ اتان په نامه هم يادیږي.

تسهيلات:

قوله: وَنَحْنُ فِي بَادِيَةٍ لَنَا:

دَ باديه تعارف: دَ اهل عربو دستور وو چه هغوی به دَ موسم په اعتبارسره بعض ورځوکښې صحرا ته تلل اوخيمې به ئی لګولې. دَدې مقصد دَپاره دَهغوی خپلې خپلې علاقې خاص وې دغه علاقې به ئی دَ باديه په نوم سره يادولې. يعنی ځنګلی دَ څرن ځايونه، ځنګلی دَ څرن دَ ځايو تذکرې عربو په خپل اشعاروکښې هم کړی دی اوداً دَهغوی دَ ژوند تيرولو يوه طريقه وه. اکثر به جګړې هم په دغه دَ څرن په ځايونوکښې کيدلې. دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هم يوځنګلی صحرائی علاقه وه فضل بن عباس رضي الله عنه هم دَدې ذکر کوی چه اباجان سره نبی اکرم ﷺ زمونږ دَ څرن ځائی ته تشريف راوړو او په کولاؤ ميدان کښې ئی مونځ ورکړو مخې ته ستره نه وه. خرې او سپئی خپل مينځ کښې لوبې کولې په لوبوکښې مشغول وو او رسول الله ﷺ دَهغوی هيڅ پرواه اونه کړه.

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب من قال: الكلب لا يقطع الصلاة (رقم-۷۱۸) والنسائى كتاب القبلة/باب ذكر ما يقطع الصلاة وما لا يقطع إذا لم يكن بين يدى المصلى سترة رقم(۷۵۳)

قوله: وَكَلْبَةٌ:

د حمارة او كلبة په تيريدو سره د مونځ عدم فساد: دَ كلب مادي سپيې ته وائي. خره او سپي دواړه ځيزونه چونکه دَ شيطان دَ ناستي مراكز دي په دې وجه دَدوی په خپل مينځ كنبي ژورتعلق وی. دَدې حديث نه چه يوطرف ته داخبره معلوميږي چه دَ خرو او سپو مخې ته تيريدوسره مونځ نه باطل كيږي نوبل طرف ته داخبر هم معلوميږي چه په صحراء كنبي دَ سترې نه بغيرمونځ كرې شوې دې په دې وجه ستره واجب نه بلكه مستحب ده.

۷۸۵-د مونځ ګذار مخې ته د چا په تيريدو سره د مونځ نه ماتيدل

۷۸۵-()[۱۴]۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ " «لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ، ۳ وَادْرَءُوا مَا اسْتَطَعْتُمْ، فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ» " رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ

ترجمه: ۱ ابو سعيد رضي الله عنه راوي دي چه رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د لمانځه كونكي مخې ته تيريدونكي هيڅ شي هم مونځ نه ماتوي ۳ بيا هم [كه څوك د لمانځه كونكي مخې ته تير شي نو په لمانځه كې د خشوع او خضوع برقرار ساتلو په خاطر] تاسو حتى الامكان هغه منع كوي ځكه چې هغه تيريدونكي شيطان دي. (ابوداؤد.)

حل اللغات: ① وَادْرَءُوا: أَي: ادْفَعُوا الْمَارَّ: منع كړئ (تيريدونكي).

تسهيلات:

د دې حديث شرح په ۷۷۷ حديث كنبې تيره شوې ده

الْفَصْلُ الثَّالِثُ

۷۸۶-ښځې ته مخامخ د مونځ كولو جواز

۷۸۶-()[۱۵]۱ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَرِجْلَايَ فِي قِبْلَتِهِ، ۳ فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِي، فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ، ۴ وَإِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا ۵ قَالَتْ: وَالْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ۲ چه زه به د رسول الله ﷺ مخې ته (داسې اوده ووم چې) زما دواړې پښې به د حضور ﷺ د قبلې طرف ته (يعني د حضور ﷺ د سجدې په ځای) وې ۳ كله چې به حضور ﷺ سجده كوله نو زه به يې (يعني زما پښې به يې) كنبې ګاړلې نو ما به پښې راټولې كړلې ۴ او څه وخت چې به حضور ﷺ ودريدلو نو

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب من قال: لا يقطع الصلاة شيء (رقم-۷۱۹)

(۲) اخرجه البخاري كتاب الصلوة باب التطوع خلف المرأة (رقم-۵۱۳) ومسلم باب الاعتراض بين يدي المصلي (رقم)۲۷۲ - (۵۱۲) وابوداود كتاب الصلاة،باب من قال المرأة لا تقطع الصلاة (رقم -۷۱۲) وامالك في الموطا كتاب صلاة الليل باب ما جاء في صلاة الليل (رقم-۲) والنسائي كتاب الطهارة/ترک الوضوء من مس الرجل امرأته من غير شهوة (رقم)۱۶۸

ما به بيا ېنبي وغزولي ⑤ او په هغه ورځو کې به په کورونوکي چراغونه (ډيوې) نه وې. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: ① غَمَزَنِي: اوبه ئې سکونډلم. ② قَبَضْتُ: نو ما به راټولې کړې. ③ مَصَابِيحُ: د مصباح جمع ده، ډيوې ته وائي.

تسهيلات: قوله: "غَمَزَنِي"

د حديث نه معلومې شوې مسئلې: ① دَ ښځې مخامخ کيدو سره مونځ نه باطل کيږي.

② ښځې له لاس اوړلو سره اودس نه ماتيږي.

③ هغه وخت به کورونه ډير واړه وو او دَ رڼا انتظام نه وو. حضرت عائشه رضي الله عنها پخپله خپل عذر داسې بيانوي.

④ عمل قليل په مونځ کښې جائز دې.

⑤ که چرته يو سړې په تهجد کښې مشغول دې نوبل ته دَ سملاستو اجازت دې.

۷۸۴- د مونځ گذار مخې ته د تيريدو گناه

۷۸۴-(۱)[۱۶] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ② «لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُكُمْ مَا لَهُ فِي أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْ أَخِيهِ مُعْتَرِضًا فِي الصَّلَاةِ، ③ كَانَ لَأَنْ يُقِيمَ مِائَةَ عَامٍ خَيْرٌ لَهُ مِنَ الْخُطْوَةِ الَّتِي خَطَا» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② که په تاسو کې څوك په دې پوهه شي چې د خپل مسلمان ورور د مخې ته هر کله چې هغه مونځ کوي عرضاً تيريدل څومره لويه گناه ده ③ نو هغه ته به د سلو کلو پورې ودريدل د يو قدم مخکې تلو څخه بهتر معلوم شي. (ابن ماجه.)

حل اللغات: ① مُعْتَرِضًا: اعتراض د دوه څيزونو په مينځ کښې حائل جوړيدو ته وائي دلته ترې په پلنوالي مخې ته تيريدل مراد دی. ② الْخُطْوَةُ: يعني قدم اخستل.

تسهيلات:

قوله: لَأَنْ يُقِيمَ مِائَةَ عَامٍ

اشكال: ماقبل حديث کښې صرف داربعين د لفظ ذکر دې. دلته د مائة ذکر عام دې. دوارو احاديثو کښې تعارض دې.

د اشكال دوه جوابونه: ① اول به د مائة علم ورکړې شوې وی او بیا د اربعین،

② عدد اقل د عدد اكثر منافی نه دي.

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب المرور بين يدى المصلى (رقم-۹۴۶)

۴۸۸–د مونځ کوونکي مخې ته د تیریدو د سزا په مقابله کښې په زمکه ښخیدل خوښول

۴۸۸–(۱)[۱۷] ۱ وَعَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ، قَالَ: ۲ «لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ ۳ لَكَانَ أَنْ يُخْسَفَ بِهِ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ» ۴ وَفِي رِوَايَةٍ: أَهْوَنَ عَلَيْهِ)، رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ۱ کعب احبار رضی الله عنه فرمایي ۲ چه د لمانځه کونکي مخې ته تیریدونکي که په دې پوهه شي چې (د هغه د دې جرم) سزا څه ده؟ ۳ نو هغه ته به په زمکه کې خپل غرقیدل د لمانځه کونکي مخې ته د تیریدو څخه زیات بهتر معلوم شي ۴ او په یو روایت کې په ځای د بهتر زیات اسان لفظ دي، مالك.

حل اللغات: ① اَلْمَارُّ: تیریدونکي، ② يُخْسَفَ: چه زمکه کښې غرق او ښخ کړې شي.

تسهیلات: قوله: لَكَانَ أَنْ يُخْسَفَ بِهِ

د دواړو احادیثو مطلب: ① امام طیبي رحمة الله علیه د دواړو احادیثو دا مطلب بیانوي: لو یعلم المار ما علیهمن الاثم لا قام مائة عام وکانت الاقامة خیرا: یعنی که تیریدونکی ته ددې علم اوشي نو یوې صدۍ پورې به ولاړ وي، او هغه دپاره به دومره مقدار ولاړه بهتر وي.

② دې حدیث پاك کښې به د خیرا مطلب دا وي ((لو یعلم ماذا علیه من الاثم لتمنی الخسف وکان الخسف خیراله)) یعنی که ددې ګناه علم ورته اوشي نو هغه به دمخکښې تیریدو په ځاې په زمکه کښې د ښخیدو خواهش اوکړي، اوښخیدل ددې ګناه نه بهتر دي.

قوله: خَيْرًا

د خیرپه اعراب کښې دوه اقوال: ① ځیني حضراتو اول حدیث مبارك کښې ((خیرا)) نصب سره لوستې دې. او دې حدیث مبارك کښې ئې ((خیرا)) مرفوع لوستلې دې.

۴۸۹–د مونځ کوونکي مخې ته د تیریدل دپاره د مسافت ساتلو مقدار

۴۸۹–(۲)[۱۸] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ إِلَى غَيْرِ السُّتْرَةِ، ۳ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ، وَالْخِنْزِيرُ، وَالْيَهُودِيُّ، وَالْمَجُوسِيُّ، وَالْمَرْأَةُ، ۴ وَتُجْزِءُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلَى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ»"، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: ۱ ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ په تاسو کې چې کوم سړي بغیر د ستري مونځ کوي ۳ د هغه مونځ د هغه مخې ته خر، خنزیر، یهودي، مجوسي (اتش پرست) او د ښځي په تیریدو سره ماتیږي ۴ البته که د یو کاڼي ویشتو د مسافت په فاصله تیر شي نو څه حرج نشته. (ابوداؤد.)

حل اللغات: ① قَذْفَةٍ: أَيْ: رَمْيَةٍ: ویشتل، لرې غورځول.

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب قصر الصلاة فی السفر، باب التشدید فی أن یمر أحد بین یدی المصلی (رقم-۳۵)
(۲) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب ما یقطع الصلاة (رقم-۷۰٤)

تسهيلات:

قوله: وَالْيَهُودِيُّ،وَالْمَجُوسِيُّ:

د مذکوره کسانو په تیریدو سره په مونځ کښې د نقصان وجه: یهودیان مجوسیان اوخنزیر هم د خرو اوسپو په شان د شیطانانو مراکز دی لهذا د هغې مخې ته تیریدو سره هم د مونځ گذار د الله تعالی خاص رابطه خشوع اوخضوع خاص کیفیت متاثر کیدې شی. فصل اول کښې حدیث نمبر(۷۷۸) توضیح اوتشریح اودې حدیث توضیح یوشان ده هم هلته ئې اوگورئې.

اشکال: د دې حدیث روایت پخپله حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په کوم کښې چه د مونځ باطل کیدو حکم ذکر دې اوهم دغه حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په حدیث نمبر(۷۸۰) کښې بیان فرمائی چه خره د مونځ گذارو مخې ته څریدله او چا په دې باندې نکیر اونه کړو.

داشکال جواب: د دې نه معلومه شوه چه هم پخپله حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د خپل روایت نه رجوع اوکړه داد دې روایت منسوخ کیدو دلیل دې یا هم هغه توجیه اوتطبیق دې کوم چه د حدیث نمبر(۷۷۸)په تشریح کښې ذکر دې.

قوله: قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ:

د مذکوره جملې مطلب: حجر کانړی ته وائی اوقذفة د غورزولو په معنی کښې دې. ورو کی کانړی سرې په گوتو کښې نیولو سره غورزه وی دې ته قذف وائی. دلته شاید هغه فاصله مراد ده چه په منی کښې جمرات په کانړو باندې ویشتلې شی هغه فاصله درې لاسه پورې وی نود دې حدیث مطلب داشو چه کله دا څیزونه د مونځ گذار د مخې نه په درې لاسه فاصله باندې تیرشی نود مونځ گذار به هیڅ نقصان نه وی اود تیریدونکی د پاره هم څه حرج نشته.

د مونځگذار مخې ته د تیریدو د جواز د پاره د فاصلې په تعین کښې اقوال:

① بعض فقهاء د پنځو ذراع د ننه تیریدل منع کړی دی بعضو څلویښت ذراع فاصله کښې د ننه تیریدل منع کړی دی.

② بعض فقهاء درې ذراع یعنی درې لاسه قول کړې دې. لکه څنگه چه په دې حدیث کښې دې طرف ته اشاره کړې ده. لیکن دریو ذراع په فاصله کښې د ننه تیریدل منع دی دې نه پس جائز دی.

③ بعض فقهاؤ وئیلی دی چه د سجدې په حدود کښې تیریدل منع دی بعضو دوه یا دریو صفونو فاصله کښې د ننه تیریدل منع کړی دی.

④ شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکلی دی چه صحیح خبره داده چه کله د خشوع خضوع والا مونځ گذار مونځ کوی اود قیام په حالت کښې نظر بنکته کولو سره خپل د

سجدې ځائی ته ګوری نودکوم ځائی چه تیریدونکی په نظر نه راځی دَهغه ځائی پورې تیریدل جائزنه دی. اودَ کوم ځائی نه چه هغه په نظر نه راځی دَ هغه ځائی نه تیریدل جائزدی ځکه چه مونځ ګذار دَخپل قیام په حالت کښې خپل دَ سجدې ځائی ته ګوری. په رکوع کښې خپلو قدمونوته ګوری او په سجده کښې دَ خپلې پوزې سپیږموته ګوری په قعده کښې خپلې غیږ ته ګوری اودَ سلام په وخت خپلو اوګوته ګوری. [اشعة المعات: ۳۷۹]

د سجدې په ځائې کښې د تیریدو حکم: قاضی خان اوصاحب دَهدایه دَ سجدې ځائی کښې دننه تیریدل منع لیکلی دی چه دَ حدیث دا سخت وعید دَهغه سړی دَپاره دې ځوك چه دَ مونځ ګذار دَ سجدې په ځائی کښې تیریږی دا آسان اوواضح دې.

په ورکوټی جمات یا ځائې کښې د مونځګذار مخې ته د تیریدو حکم: بیا دامسئله هغه وخت ده کله چه په صحرا یا کولاؤ میدان کښې یا شپیته ګزه لوئی جمات کښې دَ سړی تیریدل وی. که جمات وړوکې وی نودَ مونځ ګذار مخې ته په یوځائی کښې هم نه شی تیریدلې ځکه چه پوره جمات واحد موضع وی. بهرحال مونځ ګذارله هم پکاردی چه هغه دې اخوا دیخوا نه ګوری بلکه الله تعالی طرف ته دې داسې متوجه شی چه دَ یوتیریدونکی هغه ته هډو احساس هم نه وی آخردَ خپل رب په وړاندې ولاړدې.

د مجنون واقعه: وائی چه یوځل مجنون یوځائی کښې دَ لیلی په غم کښې سروالې بروالې روان وو چه دَهغه تیریدل دَ یو مونځ ګذارمخې ته اوشو. مونځ ګذار هغه ډیر اورټلو چه زه مونځ کوم ته زما مخې ته تیریږې شرم اوکړه. مجنون تپوس اوکړو چه تادَ چا دَپاره مونځ کولو، مونځ ګذار اوونیل دَ خپل رب په وړاندې ولاړ ووم دَهغه دَپاره مې مونځ کولو. مجنون ورته اوونیل شرم اوکړه چرته په چونګ اوبوکښې ډوب شه مړه شه زه دَ لیلی په محبت کښې روان ووم ته مې اونه لیدلې ته دَ الله تعالی په وړاندې ولاړوې زه دې څنګه اولیدلم؟

[۲۷/۱۰]بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ

د مانځه ادا کولو طریقه

خلاصة الباب:

فيه اثنان وعشرون حديثاً تشتمل على اثنى عشر مسئلة:

① حكم تعديل الأركان في الصلوة: ۱، ۲، ۱۲، ۱۵، ۲۲۔
② كيفية صلوة النبي ﷺ إجمالاً وتفصيلاً: ۲، ۳، ۴، ۶، ۷، ۸، ۱۲۔
③ إثبات رفع اليدين في الخفض والرفع في الصلاة: ۴، ۵، ۶، ۸، ۱۲۔
④ حد رفع اليدين في الصلاة : ۳، ۴، ۶، ۱۲، ۱۳۔
⑤ كيفية القيام إلى الركعة الثالثة: ۱، ۷۔
⑥ كيفية وضع اليدين في القيام: ۹، ۱۴۔
⑦ حكم التكبيرات الانتقالية والجهرها: ۸، ۱۰، ۱۲، ۱۷، ۱۸، ۱۹،
⑧ فضيلة طول القيام بالقراءة: ۱۱۔
⑨ كيفية القعدة : ۲، ۳، ۱۲۔
⑩ الخضوع والتشهد في كل ركعتين:۲، ۱۶۔
⑪ عدم رفع اليدين : ۲۰۔
⑫ استقبال القبلة وقت رفع اليدين: ۲۱۔

ماقبل سره ربط: تراوسه پورې د مونځ د وسائلو او مقدماتو بيان وو.اوس ددے خائې نه د مقصود يعنى مونځ ذكر كوى.

د وصف او صفت په مينځ كښې فرق: داهل لغت په نيز وصف او صفت دواړه مترادف دى.او دواړه مصدر دى.لكه ،،وعد،، او ،،دعوة،، او په متكلمينو كښې زمونږ د عالمانو ﷺ په نيز وصف د واصف كلام دې.او صفت هغه معنى ده.كومه چه موصوف سره قائمه وى.نو،،زيد عالم،، د زيد وصف دې. صفت ئې نه دې.او دده علم كوم چه ده سره قائم دې.صفت دې. صف نه دې.

د صفت نه په مراد كښې درې اقوال: باقى پاتې شوه دا خبره چه دلته د ،،صفت،، نه څه مراد دى.نو په دے باره كښې اختلاف دې.

① دلته مضاف محذوف دې.تقديرى عبارت دا دې. ﴿باب صفة اجزاء الصلاة﴾په دے صورت كښې د صفت نه مراد كيفيت دې.يعنى دا باب د مونځ د اجزاؤ د كيفيت،وجوب ،اوفرضيت وغيره په بيان كښے دې.

③ د صفت نه مراد هغه امور دی.کوم چه په دے باب کښې مذکور دی.یعنی واجبات، فرائض، سنن او مندوبات نو په دے صورت کښې د صفت اضافت ،،صلاة،، ته د ،،اضافت جزء الی الکل،، د قبیلے څخه دی. ځکه چه په صفات مذکورو کښې هر یوصفت د مانځه جزء دی.

④صاحب د ،،عنایه،، فرمائی.چه ظاهره دا ده.چه د صفت نه مراد د مانځه هغه هیئت دی.کوم چه ددے د ارکانو او عوارضو نه حاصل وی

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۷۹۰]د مانځه کولو صحیح طریقه

۷۹۰–()[۱]۱«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ۲أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - جَالِسٌ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ، فَصَلَّى، ۳ ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " وَعَلَيْكَ السَّلَامُ، ۴ ارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ " ۵ فَرَجَعَ فَصَلَّى، ثُمَّ جَاءَ، فَسَلَّمَ، ۶ فَقَالَ: " وَعَلَيْكَ السَّلَامُ، ارْجِعْ فَصَلِّ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ "،

ترجمه: ۱ حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایی۲ چه رسول الله ﷺ د مسجد په یو کونج کې تشریف فرما وو چې یو سړی په مسجد کې داخل شو (رومبی) هغه مونځ وکړو [داسې چې د تعدیل ارکان او قومه او جلسه رعایت یې ونه اوکړو]۳ بیا د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او سلام یې عرض کړو حضور ﷺ د سلام جواب ورکړو [او ورته یې وفرمایل] ۴ لاړ شه بیا مونځ اوکړه ځکه چې تا مونځ نه دی کړی ۵ هغه پاځیدو او د مخکې په شان یې بیا مونځ وکړو او د حضور ﷺ په خدمت کې راغې سلام یې عرض کړو ۶ حضور ﷺ د سلام جواب ورکړو ورته وې فرمایل چې لاړ شه بیا مونځ اوکړه ځکه چې تا مونځ نه دی کړی (دا رنګه دری ځله وشو)

۱ فَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ - أَوْ فِي الَّتِي بَعْدَهَا -: عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ ۲ فَقَالَ: " إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ، ۳ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ، ۴ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ، ۵ ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا، ۶ ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا، ۷ ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ۸ ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا، ۹ ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا، ۱۰ ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ۱۱ وَفِي رِوَايَةٍ: " ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا، ۱۲ ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاری کتاب الاذان باب وجوب القراءة للإمام والمأموم فی الصلوات کلها. فی الحضر والسفر، وما یجهر فیها وما یخافت(رقم-۷۵۷) ومسلم کتاب الصلوة باب: اقرأ ما تیسر معک من القرآن(رقم) ٤٥ - (۳۹۷) وابوداود کتاب الصلاة،باب صلاة من لا یقیم صلبه فی الرکوع والسجود(رقم-۸۵۶) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، باب إتمام الصلاة (رقم-۱۰۶۰) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی وصف الصلاة (رقم-۳۰۳)

ترجمه: ۱ دريم يا څلورم خل هغه سړي عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ماته يې راوښايه (چې زه څنګه مونځ وکړم) ۲ حضور ﷺ ورته وفرمايل هر کله چې ته د لمانځه کولو اراده وکړې نو (مخکې) په ښه شان اودس اوکړه ۳ بيا قبلې طرف ته مخ کړه او ودرېږه او تکبير اووايه ۴ بيا د قرآن يوسورت وغيره کوم چې تا ته اسان معلوم وي هغه اووايه ۵ بيا په اطمينان سره رکوع وکړه ۶ بيا سر اوچت کړه تر دې چې نيغ ودرېږې ۷ او بيا په اطمينان سره سجده وکړه ۸ بيا سر اوچت کړه او په اطمينان سره کينه ۹ او بيا په اطمينان سره (دويمه) سجده وکړه ۱۰ بيا سر اوچت کړه او په اطمينان سره کينه ۱۱ په يو روايت کې دا الفاظ هم دي چې بيا سر اوچت کړه او سيده ودرېږه (په دې روايت کې د جلسهٔ استراحت ذکر نشته) ۱۲ بيا خپل ټول مونځ دغسې ادا کړه. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① نَاحِيَةِ: أَيْ: فِي جَانِبٍ: طرف او ګوټ ته وائې. ② فَأَسْبِغِ: أَيْ: أَتِمَّهُ يَعْنِي تَوَضَّأْ وُضُوءًا تَامًّا: کامل يعنې په صحيح طريقه اودس اوکړه.

قوله: "أَنَّ رَجُلًا"

د رجل مصداق: دَ دې سړى نوم خلاد بن رافع انصارى رضي الله عنه دې. دا بدرى صحابى دې او هم په بدر کښې شهيد شوې دې. لهذا دا قصه دَ جنګ بدر نه دَمخکښې وخت ده. دې حديث ته دَ "حديث المسئ للصلوة" نوم ورکړې شوې دې.

قوله: فَصَلّٰى،"

دصلاة نه مراد: دې مونځ نه تحية المسجد مونځ مراد دې او هغه وخت به صحابه کرام دَتحية المسجد مونځ کولو نه پس په ادب سره راتلل حضورپاك سره به ئې مصافحه کوله.

"فأنك لم تصل"

د مونځ راګرځولو حکم کولو وجه: حضورپاك خلاد بن رافع انصارى رضي الله عنه ته دَ مونځ راګرځولو حکم څکه ورکړو چه هغه رکوع سجده جلسه اوقومه کښې تعديل دَ ارکان نه وو کړې.

په حديث د تقرير على الخطا اشکال - دَ حضورپاك په وړاندې خلاد بن رافع رضي الله عنه مونځ کولو کښې غلطى کوله حضورپاك هغه ته دَهغه غلطى اونه خودله بلکه دغه شان ئې ورته دَمونځ بار بار کولو حکم ورکړو دا تقرير على الخطاء دې حالانکه دَ حضورپاك دَ طرف نه تقرير على الخطاء محال ده داسې ولې اوشو؟

دا اشکال جواب: حضوراکرم ﷺ بار بار هغه ته حکم ورکړو چه ستا مونځ ټيك ادا نه شو لاړشه بيا صحيح مونځ اوکړه. دَ مونځ دَ راګرځولو دا حکم تقرير على الخطاء نه دې بلکه تنبيه على الخطاء ده.

درې ځله د مونځ په راګرځولو کښې حکمت: ① کيدې شى حضورپاك دا کتل غوښتل چه

آيا داسې داغلطي دَ علم دَنشتوالي دَ وجې نه کوي يا دَغفلت دَ وجې نه داسې کوي. کله چه ښه معلومه شوه چه داغلطي دَعدم علم دَ وجې نه ده نوبيا حضورپاك هغه پوهه کړو اوصحيح طريقه ئې ورته اوخودله.

④ باربار دَمونځ راګرځولو حکم په دې وجه ورکړې شو چه بار بار غلطي کولونه پس چه کله صحيح طريقه باندې هغه پوهه کړې شي نوهغه به واقع في النفس وي اوهغه به ئې زده کړي اوبيابه داسې غلطي نه کوي. حضورپاك دَ خلاد بن رافع ﷺ په مطالبه باندې هغه ته نه صرف مونځ بلکه دَ اودس نه واخله تر دَ مونځ دَ ټولو ارکانو تفصيل اوخودلو اودَ امت مخې ته دَ صحيح مونځ کولو پوره طريقه راغله.

قوله: "ثُمَّ اقْرَأْ"

د قراءت فرضيت ته اشاره: يعني دَ تکبير تحريمه نه پس قرآن وايه کومه حصه دَ قرآن چه تاته آسانه ښکاري هم هغه وايه. دا دَ قرأت فرض کيدو طرف ته اشاره ده اودَ الفاظو انداز داسې دې چه مطلق قرأت فرض دې دَ فاتحه ذکرنشته دې. اګرچه مسند احمد ، سنن بيهقي او ابن حبان کښې "ثم اقراء بأم القرآن" لفاظ راغلي دي هغه اختلاف روستو راځي.

قوله: حَتّٰى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا"

د ارکانو په ادا کولو کښې د اطمينان مفهوم: دَ مانځه هريورکن دَ هغې په خپل ځائې اداکول او په هررکن کښې په دومره اندازه باندې حصاريدل چه دَ بدن هريوجوړ په خپل ځائې نيغ شي دې ته تعديل وائي.

د تعديل ارکان په حکم کښې مذاهب:

په دې دَ ټولو فقهاؤ کرام اتفاق دې چه رکوع او سجده، قومه او جلسه کښې تعديل کول پکاردي او په مزه مزه هريورکن اداکول پکاردي. خواختلاف په دې کښې پيدا شوې دې چه دَدې تعديل څه حيثيت دې. ① امام شافعي رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله په نيز تعديل دَ ارکانو فرض دې. امام شافعي رحمه الله او قاضي ابويوسف رحمه الله دَ يوځل سبحان الله په اندازه پورې حصاريدلوته فرض وائي. او امام احمد رحمه الله درې ځل سبحان الله په اندازه باندې حصاريدل فرض ګڼړي. دَ امام مالك رحمه الله مسلك دلته واضح نه دې.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نيز تعديل دَ ارکان فرض نه بلکه واجب دې.

داول فريق دلائل: دَ حضرت خلاد بن رافع انصاري ﷺ زير بحث حديث د دوی مستدل دې. په دې حديث کښې دَ مونځ دَ راګرځولوحکم دې کوم چه دَ فرضيت دليل دې بل په دې کښې "فانك لم تصل" کښې بالکل دَمونځ نفي اوکړه. داهم دَ فرضيت دليل دې. دغه شان په دې حديث کښې دَ طمانيت حکم اوامر کړې دې اومطلق امر دَ فرضيت دَپاره وي.

داول فریق د دلیل جواب: ① ترمذی کښې دَخلاد بن رافع ﷺ دَ روایت په آخره کښې د حضورپاك دا ارشاد هم موجود دې «اذا فعلت ذلك فقد تمت صلوتك وان انتقصت منه شيأ انتقصت من صلوتك» په دې عبارت باندې راوی داسې تبصره کوی "وكان هذا اهون عليهم من الاولى، انه من انتقض من ذلك شيئا انتقص من صلوته ولم تذهب كلها".

دَدې حاصل دا شو چه اول صحابه کرامو ته دَ حضورپاك په ارشاد "انك لم تصل" سره پریشانی پیدا شوه چه تعدیل نه کولوسره مونځ فوت کیږی لیکن چه کله حضورپاك په آخره کښې وضاحت اوکړو نوصحابه کرامو ته تسلی اوشوه چه ټول مونځ نه ختمیږی بلکه ناقص کیږی دې سره فرضیت نه ثابتیږی.

② دا نفی دکمال ده دَ اصل مونځ نفی مراد نه ده.

③ دا اختلاف په حقیقت کښې دَ اعتقاد اختلاف دې چه هغوی ورته فرض وائی اومونږ ورته واجب وایو ګنی دَ عمل په اعتبارسره هیڅ اختلاف نشته دې ځکه چه په ترك واجب سره دَ احنافو په نیز هم مونځ راګرځول لازم دی.

داول فریق دویم دلیل: ② دغه شان دَترمذی یو روایت دې دکوم الفاظ چه داسې دی «لاتجزئی صلوة لايقيم الرجل فيها يعنی صلبه فی الركوع والسجود» په دې سره جمهورو دَ تعدیل فرض کیدو باندې استدلال کړې دې

داول فریق د دویم دلیل جواب: دَ قرآن کریم دَ آیت ﴿وَارْكَعُوا وَاسْجُدُوا﴾ نه استدلال کړې دې. طرز دَ استدلال داسې دې چه "سجده وضع الجبهة على الارض" نوم دې اورکوع مطلق انحناء ته وائی اوس په دې باندې دَتعدیل ارکان اضافه خبر واحدسره په آیت باندې اضافه ده کوم چه مناسب نه ده. لهذا مطلق رکوع اوسجده فرض ده او تعدیل دَ ارکان په وجه دَ حدیث واجب دی.

د دویم فریق دلائل: ① د اول فریق د دلیل جواب کوم چې پورته ذکرشو هغه د دویم فریق دلیل هم دې. نوهغه په دلائلو کښې شمار کړه. بل دَ فرض دَ ثبوت دَپاره نص قطعی الثبوت والدلالة ضرورت دې اودلته حدیث قطعی الثبوت نشته اګرچه قطعی الدلالة دې نوظنی الثبوت قطعی الدلالة نص سره فرض نه بلکه واجب ثابتیږی.

② دَ مسند احمد اوطبرانی هغه د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه دَ مانځه نه دَ غلا کولو بیان دې الفاظ دادی: «ان اسوء السرقة من يسرق من صلوته قالوا كيف يسرق من صلوته قال لايتم ركوعها ولا سجودها»

په دې حدیث کښې تعدیل ارکان نه کونکې سرې ته دَ مونځ غل وئیلې شوې دې لیکن دَ هغه مونځ ته باطل نه دی وئیلی شوی دادَ وجوب دلیل دې ځکه چه چرې تعدیل فرض وې نودَ فرض پاتې کیدوسره به مونځ باطل کیدو حالانکه دَ بطلان حکم نه دې لګولې شوې.

۵ اختلاف بنیاد: دَاختلاف اصل بنیاد په دې باندې دې چه احناف دَ دلائلو دَ تفاوت دَ وجې نه په فرض او واجب کښې تفاوت کوی اودَ نورو ائمه حضراتو په نیز دَ واجب درجه زیاته واضحه نه ده. بهرحال دَ احتیاط په اعتبارسره دَ جمهورو مسلك بهتر دې احنافو تعدیل ته فرض نه دی وئیلی نودَ احنافو عوامو ګڼړلی چه تعدیل خوهډو څه څیز نه دې. بیا هغوی تعدیل بې اعتدالی شروع کړو. چنانچه دَ افغانستان بلوچستان او سرحد مونځ ګذار په تعدیل ارکان کښې ډیر زیات نقصان کوی.

د تعدیل ارکان درې درجات: حضرت شاه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی چه دَتعدیل ارکان په مسئله کښې کوم اختلاف مشهور دې دا اختلاف حقیقی نه دې بلکه لفظی دې په دې وجه دَتعدیل ارکان درې درجې دی:

① اول درجه دا چه په یورکن کښې دومره وقفه کول چه دَ بدنی اندامونو حرکت انتقالیه بندشی او هریو اندام په آرام شی. دَتعدیل ارکان اوتمانیت دا درجه په اتفاقی توګه باندې فرض ده.

② دویمه درجه دا چه په یورکن کښې دومره حصاریدل چه یو ځل سبحان الله اووئیلې شی دا درجه دَ ټولو په نیز واجب ده.

③ دریمه درجه دا چه سړې درې ځل سبحان الله وئیلو په اندازه باندې توقف اوکړی دادَ سنت درجه کیدل پکاردی. دَ دې دریو درجو نتیجه دا راؤوتله چه کومو حضراتو تعدیل ارکان ته فرض وئیلی دی هغوی اول درجه مراد اخستې ده اوکومو حضراتو چه تعدیل ته واجب وئیلی دی هغوی دویمه درجه مراد اخستې ده. او کومو حضراتو چه ورته سنت وئیلی دی هغوی دریمه درجه مراد اخستې ده. لهذا اوس هیڅ حقیقی اختلاف پاتې نه شو بلکه صرف لفظی او تعبیری اختلاف پاتې شو.

[۷۹۱] د نبی علیه السلام د مانځه طریقه

۷۹۱-(۱)[۲] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَسْتَفْتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيرِ ③ وَالْقِرَاءَةِ بِـ(الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) ④ وَكَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ ⑤ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ، وَلَكِنْ بَيْنَ ذَلِكَ ⑥ وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ يَسْجُدْ حَتَّى يَسْتَوِيَ قَائِمًا،

ترجمه: ① بی بی عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایې ② چې رسول الله ﷺ به مونځ شروع کولو په تکبیر سره ③ او قراءت په الحمد لله رب العلمین سره ④ او کله چې به یې رکوع کوله نو خپل سر مبارك به یې نه خو ډیر زیات پورته کولو ⑤ او نه ډیر زیات ښکته بلکه په مینځ

(۱) اخرجه مسلم باب ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح به ويختم به، وصفة الركوع والاعتدال منه، والسجود والاعتدال منه، والتشهد بعد كل ركعتين من الرباعية، وصفة الجلوس بين السجدتين، وفي التشهد الأول (رقم)۲٤۰ - (٤۹۸) وابوداو د كتاب الصلاة،باب من لم ير الجهر ب «بسم الله الرحمن الرحيم» (رقم-۷۸۳)

مینځ کې به یې ساتلې (یعني شا او څټ به یې برابر ساتلو)[٦] او کله چې به یې د رکوع څخه سر پورته کولو نو بغیر د سیده ودریدلو به سجدې ته نه تلو

حل اللغات: ① يَسْتَفْتِحُ: أَيْ يَبْتَدِئُهَا: شروع کولو به ئې (مونځ). ② لَمْ يُشْخِصْ: أَيْ لَمْ يَرْفَعْ رَأْسَهُ: سر به نې ويرنه اوچتولو (دلته دسر نه مراد څټ دې). ③ لَمْ يُصَوِّبْهُ: أَيْ: وَلَمْ يُنَزِّلْهُ: نه به ني ښکته کولو(سر)، (تصويب د پورته نه ښکته راتلو ته وائي).

[١] وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ يَسْجُدْ حَتَّى يَسْتَوِيَ جَالِسًا،[٢] وَكَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ،[٣] وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرَى، وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنَى[٤] وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ،[٥] وَيَنْهَى أَنْ يَفْتَرِشَ الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ،[٦] وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيمِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] او کله چې به یې د سجدې څخه سر اوچتولو نو بغیر د سیده ناستې څخه به دویمې سجدې ته نه تلو[٢] او د هر دوه رکعاته څخه وروسته به یې التحیات ویل[٣] او (د ناستې د پاره به یې) خپله کسه خپه غوړوله اوښې پښه به یې ولاړه ساتله[٤] او حضور ﷺ به د عقبه شیطان (یعنی د شیطان د ناستې څخه) منع فرمایله[٥] او سړي به یې ددواړه لاسونو په سجده کې داسې غوړولو څخه منع کولو څنګه چې درنده یې غوړوي[٦] او حضور ﷺ به مونځ په سلام ختمولو. (مسلم).

حل اللغات: ④ يَفْرِشُ: خورله (غوړوله) به ئې، ⑤ يَنْصِبُ: أَيْ: يَضَعُ أَصَابِعَهَا عَلَى الْأَرْضِ وَيَرْفَعُ عَقِبَهَا: نصب اودرولو ته وائي یعنی د ښې خپې ګوتې به ئې په زمکه کیخودې او پونده به نې پورته کړه. ⑥ عُقْبَةِ: چه سړې دَخپلو خپو په ګیټو باندې مقعد کیخودو سره کینې دې ته عقبه یا اقعاء وائي. ⑦ السَّبُعِ: درنده، شلونکی ځناور.

تسهيلات:

قوله: وَالْقِرَاءَةِ بِـ(الْحَمْدُ لِلّٰهِ): یعنی حضورپاك چه به کله په مانځه کښې قراءت شروع کولو نود الحمدلله نه به ئې شروع کولو.

د بسم الله په جهر او اخفاء کښې اختلاف: دَدې جملې نه داخبره واضحه شوه چه حضورپاك به په مانځه کښې بسم الله په مزه لوستله اوکله چه به ئې قراءت شروع کولو نو په جهرسره به ئې الحمدلله نه لوستل شروع کولو. دَبسم الله په مزه لوستل یا په جهرسره لوستلوکښې دَعلماء اختلاف دې لیکن دا اختلاف په حقیقت کښې په دې متفرع دې چه آیا بسم الله دَ قرآن جز دې که نه، که چرې دَ قرآن جز دې نو دَ هرسورت جز دې که نه په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې لهذا اول دا بیانولې شي.

د بسم الله په جزئیت کښې مذاهب:

جمهور امت په دې متفق دې چه بسم الله دَ قرآن جز دې اودا یوآیت دې. صرف دَ امام مالك

رحمه الله طرف ته دا منسوب کولې شی چه دَ سورت نمل نه علاوه بسم الله دَقرآن کریم جزنه دې. دا اختلاف دَ سورت نمل دَ بسم الله نه علاوه کښې دې. دَ سورت نمل جزکیدل او دَ قرآن جزکیدل اتفاقی امردې. اوس دَ جمهورو په خپل مینځ کښې اختلاف اوشو چه آیا بسم الله دَهرسورت جز دې یادا صرف دَ بین السورتین دَ فصل دَپاره ده.

① دَ فقهاؤ اختلاف. دَحضرت امام شافعی رحمه الله په نیز بسم الله دَ هر سورت هم دغه شان جزدې څنگه چه دَ سورت نمل جزدې.

② دَامام ابوحنیفه رحمه الله په نیز بسم الله دَ هرسورت جزنه دې بلکه دادَ سورت په شروع کښې صرف فصل بین السورتین دَپاره هوی لهذا داهم یوآیت دې چه دَدې مقصد دَپاره ډیرو ځایونو کښې سردوباره کړې شوې دې. اودَ شوافع په نیز دا ډیر آیاتونه دی یو آیت نه دې. دَ بسم الله سره متعلق دَ حنابله حضراتو اقوال مختلف دی په دې وجه دَهغې دَذکر کولو ضرورت نشته. دومره پوهه شئی چه هغوی په دې مسئله کښې احنافو سره نیزدې دی.

داول فریق اول دلیل: ① دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې. دَ کوم الفاظ چه دادی: عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه کان یقول الحمد لله رب العالمین سبع آیات احداهن بسم الله الرحمن الرحیم (تعلیق الفصیح)

دوه جوابونه: ① دَدې حدیث په سند کښې اضطراب دې ځکه چه بعض محدثینو په دې سند کښې دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه نوم ذکر کولو کښې شك کړې دې. بل دَدې حدیث په مرفوع کیدو او موقوف کیدو کښې هم دَمحدثینو اختلاف دې دَ دې دواړو وجوهاتو نه داحدیث په هرحال کښې ضعیف دې.

② دا حدیث خبرواحد دې اوخبرواحد نه قطعی علم نه شی حاصلیدلې او بسم الله دَ فاتحه یا بل سورت جز گرځولو دَپاره قطعی علم ضرورت دې کوم چه په عقل سره نه بلکه نقل نه ثابتول پکاردی حالانکه دَ دې روایت په مقابله کښې نور روایات ډیرقوی دی دَ کوم نه چه معلومیږی بسم الله دَ فاتحه جزنه دې لکه څنگه چه هم دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه حدیث قدسی روایت دې.

داول فریق دویم دلیل: دَحضرت ام سلمه رضی الله عنها یوروایت هم د دوی مستدل دې. دَ کوم الفاظ چه دادی: عن ام سلمة انه قرأ الفاتحة وعد بسم الله الرحمن الرحیم والحمد لله رب العالمین. (آیة)

جواب: دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه اوحضرت ام سلمه رضی الله عنها په روایتونو کښې تعارض دې. دَام سلمه رضی الله عنها په روایت کښې بسم الله الحمد لله رب العالمین سره ملاویدونکې یوآیت دې اودَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه په روایت کښې بسم الله مستقل آیت دې واذا تعارضا تساقطا.

داول فريق دريم دليل: ③ دَ ابوداؤد شريف روايت هم د دوی مستدل دي. دَ هغې الفاظ دا دی: عن انس بن مالك قال رسول الله ﷺ انزلت علی آنفا سورت فقراء بسم الله الرحمن الرحيم انا اعطينك الكوثر حتی ختمها.

د اول فريق څلورم دليل: ④ بسم الله دَ هرسورت په شروع کښې قلم وحی سره بالالتزام داسې ليکلې شوې ده چه دَ چاګمان هم نه شی کيدلې چه بسم الله دَ سورت جزنه دې. کله چه بسم الله دَهرسورت جزدې نودا دَ فاتحه هم جزدې اوچه کله فاتحه په مانځه کښې لوستلې شی نو بسم الله به هم په جهری مونځونو کښې په جهرسره لوستلې شی دې دَپاره چه دَ فاتحه څه جز پاتې نه شی.

جواب: دَدې دليل نه دا ثابتيږی چه بسم الله دَقرآن جز دې چه دَ دوو سورتونو په مينځ کښې فصل او جدايئی دَپاره دې دې نه دا نه ثابتيږی چه بسم الله دَهرسورت يا فاتحه جز دې. (تعليق الفصيح)

د دويم فريق دلائل: ① دَحضرت ابوهريره ؓ په روايت کښې دی کوم چه حديث قدسی دې دَ مشکوة شريف په صفحه ۷۸ باندې ذکردې الفاظ دادی: قال الله تعالی قسمت الصلوة بينی وبين عبدی نصفين ولعبدی ماسال فاذاقال العبد الحمدلله رب العالمين قال الله تعالی حمدنی عبدی. په دې حديث شريف کښې دَ فاتحه يويو آيت جداجدا بيان کړې شوې دې مګر په دې کښې دَ بسم الله ذکرنشته دې معلومه شوه چه بسم الله دَ يوسورت جزنه دې نودَ فاتحه جز هم نه دې.

② دَ حضرت ابوهريره ؓ هغه روايت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه حضورپاك دَ سورت الملك ديرش آياتونه ګرځولی دی الفاظ دادی: عن ابی هريرة انه عليه السلام قال سورت فی القرآن ثلاثون آية شفعت لصاحبه حتی غفرله، تبارك الذی بيده الملك. که چرې بسم الله دَ سورت جز اومنلې شی نو سورت ملك دَ ديرش په ځائی يوديرش آياتونو والا سورت جوړيږی حالانکه په حديث کښې دَ ديرش ذکردې.

③ دَحضرت ابن عباس ؓ دَ مشهور روايت د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه حضرت ابن عباس ؓ صفا خودلی دی چه بسم الله په دوو سورتونو کښې دَ جدايئی اوفصل دَپاره نازل کړې شوې ده الفاظ دادی: عن ابن عباس کان النبی ﷺ لايعرف السورت حتی ينزل عليه بسم الله الرحمن الرحيم. (ابوداؤد)

④ د ټولو قراء او ټولو فقهاء اوټولو علماؤ په نيز په دې خبره باندې اتفاق دې چه سورت کوثر په دريو آياتونوباندې مشتمل دې او سورت اخلاص پنځه آياتونو باندې مشتمل دې که بسم الله دَ هرسورت جز اومنلې شی نو سورت کوثر به څلور او سورت اخلاص پنځه

ایاتونـه جـوړیږي حالانکـه دادَ اجمـاع امـت خـلاف دي. دَ دغـه شـان دَ قـرآن کـریم پـه تولـو ایاتونو کښې به اختلاف راؤچت شي او فاتحه به هم دَ اووه په ځائې اته آیاتونه ونیلی شي.

په مانځه کښې د بسم الله په جهراً او سراً لوستلو کښې مذاهب:

دَ بسم الله دَ هر سورت جزکیدو اوه کیدو اختلاف باندې دَ فقهاء کرامو یوبل اختلاف متفرع دې هغه دا چه جهری مونځ کښې دَ فاتحه نه وړاندې به بسم الله په جهراً لوستلې شي که سراً؟

① دَامام مالك رحمه الله مسلك خودادې چه دَ فاتحه نه وړاندې بسم الله دې بالکل نه وائی نه سراً او نه جهراً یعنی دَ بسم الله لوستل مسنون نه دی.

② دَامام شافعي رحمه الله په نیز په جهری مونځ کښې بسم الله په اوچت آواز سره لوستل سنت دی.

③ دَ جمهور فقهاء په نیز بسم الله په مزه آواز سره لوستل سنت دی.

داول فریق دلائل: ① دَ حضرت انس رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې. دکوم الفاظ چې دا دی: عن انس قال صلیت خلف النبی صلی الله علیه وسلم وابی بکر وعمر وعثمان وعلی فلم اسمع احدا منهم یقرأ بسم الله الرحمن الرحیم. (رواه مسلم)

② دَ حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه روایت هم د دوی مستدل دې. کوم چه دَ احنافو دَ دلائلو په ضمن کښې راروان دې.

③ زیربحث حدیث هم د دوی مستدل دې. چه حضورپاك به دَ الحمدلله رب العالمین نه قرات شروع کولو لهذا دَ بسم الله لوستل مسنون نه دی.

داول فریق د دلائلو څخه مجموعی جواب: دوی چې دَ کومو احادیثونه استدلال کړې دې په هغې کښې "جهر بالبسملة" نفی ده یعنی دَ بسم الله په اوچت آواز سره لوستلو نفی ده دَ بسم الله دَ بالکل نه لوستلو نفی نه ده. هم دغه وجه ده چه احناف هم دَدې روایاتونه بسم الله په مزه آواز سره لوستلو باندې استدلال کړې دې.

د دویم فریق دلائل: ① دَحضرت نعیم بن مجمر رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې دَ کوم الفاظ چه دادی: صلیت وراء ابی هریرة فقرأ بسم الله الرحمن الرحیم ثم قرأ بأم القرآن الخ. (رواه ابن خزیمه وابن حبان والنسائی)

د دویم فریق د اول دلیل درې جوابونه: ① په دې سره دَ جهر بسلمه باندې استدلال یقینی نه دې ځکه چه بعض وخت لوستونکې کله په مزه لولی مگر هغه په دې انداز سره وی چه نیزدې سړی ئې اوری دلته هم دغه احتمال دې او کله چه احتمال راځی نو استدلال باطل کیږی.

② دویم جواب دادې ممکن دی چه حضرت ابوهریره رضي الله عنه دَ تعلیم دَپاره داسې کړې وی ځکه چه موقع دَ تعلیم وه او دَ تعلیم دَپاره په اوچت آواز سره رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ ماسپښین

په موئخ کښې قراءت هم لوستلې دې.

③ دَ جهر والا روايات معلل بالشذوذ دی ځکه چه داسې عام مسئله کښې دَ يو يا دوو راويانو بيانول دَ علت سبب دې يا جواب دا چه دَ جهروالا روايات دَدې رواياتو په مقابله کښې کمزورې دی کوم کښې چه په مزه لوستلو تذکره ده.

د دويم فريق دويم دليل: دحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت هم د دوی مستدل دې کوم چه دَ مشکوة شريف صفحه ۸۰ باندې فصل ثانی رومبې حديث دې. عن ابن عباس رضی الله عنهما قال كان رسول الله صلی الله علیه وسلم يفتتح صلوته ببسم الله الرحمن الرحيم.

د دويم فريق د دويم دليل جواب: صاحب ترمذی دَدې دَنقل کولو نه پس فرمائيلی "هذا حديث ليس اسناده بذالك" يعنی دَ دې حديث سند قوی نه دې.

د دويم فريق دريم دليل: دَ صحابه او تابعينو څه آثار هم د دوی مستدل دې کوم چه طحاوی نقل کړی دی.

د دويم فريق د دريم دليل جواب: دَدې ټولو آثارو په باره کښې پخپله دارقطنی داسې ليکلی دی: " وعن الدارقطنی انه قال لم يصح عن النبی صلی الله علیه وسلم فی الجهر حديث" (کذا فی اللمعات)

هم دَ دارقطنی متعلق راغلی دی چه هغه په مصر کښې "جهر بالبسملة" يو کتاب ليکلې دې دَ کتاب تياريدو نه پس يو مالکی عالم هغه ته قسم ورکړې دې چه ماته په دې کتاب کښې يو هم صحيح حديث اوښايه کوم چه "جهر بالبسملة" باندې دلالت کوی. هغوی په جواب کښې اوفرمائيل چه دَ جهرباره کښې يو حديث هم صحيح نه دې ملاؤ شوې. (کذا فی اللمعات) [اشعة المعات: ۳۸۱]

حازمی رحمه الله فرمائی چه "جهر بالبسملة" احاديث سره دَدې چه صحابه کرامو نه نقل دی ليکن دَ دې اکثر حصه دَ ضعف نه خالی نه ده. بهر حال خلاصه دا چه دَ جهر روايات يا ضعيف ناقابل استدلال دی اوی جهر دَتعليم امت دَپاره دَ يو وخت او عارضی وو.

د دريم فريق دلائل: ① زير بحث صحيح صريح حديث د دوی مستدل دې. کوم چه په ترک الجهر بالتسميه باندې دلالت کوی.

② دَ مشکوة شريف ص ۷۹ باندې دَ حضرت انس رضی الله عنه روايت هم د دوی مستدل دې. دَ کوم الفاظ چه اوس دَ مالکيه دَ دلائلو په ضمن کښې نقل کړې شو.

③ دَمشکوة ص ۷۸ باندې دَحضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه الفاظ راغلی دی: استفتح القراءة بالحمد لله رب العالمين. (رواه مسلم)

④ امام ترمذی رحمه الله دَ ترک الجهر بالبسملة دَپاره يو باب قائم کړې دې او په هغې کښې ئې هغه روايت نقل کړې دې چه دَ حضرت يزيد بن عبدالله رضی الله عنه دَخپل والد عبدالله بن مغفل نه

داشان روايت کړې دې. عن ابن عبدالله بن مغفل قال سمعنی ابی وانا فی الصلوة اقول بسم الله الرحمن الرحيم فقال لی ای بنی محدث اياك والحدث الخ. (ترمذی ص ۵۷)

دَدې روايت نه احنافو استدلال کړې دې اوونيلی دی چه دا صحابی جهری بسم الله بدعت ګرځوی لهذا دَدې په مقابله کښې دَ استحباب وغيره هيڅ يوروايت نه شی اخستې ځکه چه دا دَ مبيح او محرم مسئله ده.

⑤ دَمسنداحمد يوروايت دې کوم چه دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دې چه صحابه کرامو به بسم الله الرحمن الرحيم په اوچت آواز سره نه لوستله. هم دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما امام طحاوی رحمه الله نقل کړې دی چه هغوی فرمائيلی نبی کريم ﷺ تروفات پورې بسم الله په اوچت آواز سره نه ده لوستلې.

دَابن ماجه په روايت کښې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه ما بسم الله په اوچت آواز سره نه ده لوستلې. هم دَ ابن ماجه په روايت کښې ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی چه ما حضورپاك ﷺ حضرت ابوبکر رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه پسې مونځ کړې دې تولو حضراتو به بسم الله په مزه لوستله. امام طحاوی رحمه الله هم دَ ابن عباس رضي الله عنهما يوروايت نقل کړې دې چه عکرمه فرمائی دَ ابن عباس رضي الله عنهما نه چه کله دَ بسم الله په اوچت آواز سره لوستلو متعلق معلومه کړې شوه نوهغوی اوفرمائيل "ذلك فعل الاعراب" يعنی بسم الله په زوره آواز سره لوستل دَ بې علم او شاړو خلقو کاردې. دَدې ټولو رواياتونه ائمه احناف دَ بسم الله په رو آواز سره په لوستلواستدلال کړې دې.

قوله: وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرَى:

په قعده کښې د ناستې په طريقه کښې مذاهب:

په دې حديث کښې دَ رسول اکرم ﷺ په قعده کښې دَ کيناستو طريقه بيان کړې شوې ده يعنی حضورپاك چه به کله په قعده کښې کيناستو نوګسه خپه به ئی خوروله او ښې خپه به ئی اودروله. اوس په دې کښې دَ فقهاء اختلاف دې چه آيا افضل طريقه هم دغه ده کومه چه په دې حديث کښې ذکرده يا په کوناټو باندې کيناستوسره "تورك" طريقه ډيره غوره ده کومه چه په راتلونکی حديث کښې بيان شوې ده.

① دَامام شافعی رحمه الله مسلك دادې چه په ړومبې قعده کښې افتراش افضل دې او په دويمه قعده کښې تورك کول بهتردی. ځکه چه دويمه قعده کښې ډيرساعت کيناستل وی او دَ تورك په طريقه باندې کيناستو کښې سهولت او آسانی وی.

② دَحضرت امام مالك رحمه الله په نيز په دواړو قعدوکښې هم تورك افضل دې. امام احمدبن حنبل رحمه الله

④ مسلك دادې كه چرې مونځ دَ دووقعدووالا وى نو په آخرى قعده كښې تورك كول پكاردى خوكه مونځ صرف دَ يوقعدې او يوتشهدوالا وى نوپه هغې كښې دَتورك په ځائى افتراش كول پكاردى.

⑤ دَامام ابوحنيفه رحمه الله په نيز دواړو قعدوكښې افتراش كول پكاردى تورك صرف دَمجبورئى په صورت كښې دې.

د تورك د افضليت دلائل: ① دَحضرت ابوحميد ساعدى رضي الله عنه [اشعة المعات: ۳۸۱] روايت د دوى مستدل دې. تورك داسې وى چه سړې په قعده كښې كينى دواړه خپې ښى طرف ته اوباسى او په خپل "ورِك" يعنى كوناټوباندې كينى. ابوحميد ساعدى رضي الله عنه [اشعة المعات: ۳۸۱] په روايت كښې په دويمه قعده كښې دَتورك حكم بالكل صريح توګه باندې ذكردې.

د تورك د افضليت د دلائلو اجمالى جواب: د تورك احاديث په بوډاوالى او دَ كمزورئى په حالت حمل كړې دې.

د څلورم فريق دلائل: زيربحث د حضرت عائشه رضي الله عنها دَ مسلم شريف روايت د دوى مستدل دې. په كوم كښې چه دَ اولې يا دويمې قعدې څه قيدنشته دې بلكه دا مذكوردى چه دَ رسول الله ﷺ معمول په مانځه كښې دا وو چه ښې خپه به ئې اودروله او ګسه به ئې خوروله.

نوټ: يادساتئى چه دا اختلاف دَ افضل دې دَ جواز اوعدم جواز نه دې دواړه طريقې جائزدى. البته احنافو افتراش له په دې وجه ترجيح وركړې ده چه په دې كښې مشقت وى او عبادت هم هغه افضل وى په كوم كښې چه مشقت وى. "وكان افضل الاعمال احمزها اى اشدها" [اشعة المعات: ۳۸۱]

قوله:عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ:

په قاعده كښې د شيطان پشان د ناستې ممانعت: دويم حديث كښې "اقعاءالكلب" لفظ راغلې دې دَ دواړو مطلب هم يودې. دَ عقبة الشيطان او اقعاءالكلب يوصورت دادې چه سړې خپې او زنګونونه اودروى او په مقعدباندې كينى دواړه لاسونه په زمكه باندې كيږدى لكه چه سپې كينى په مانځه كښې داسې كيناستل دَ ټولو فقهاؤ په نيزمكروه دى اوكه سړې معذوره وى نو هغه جداخبره ده. علامه طيبى رحمه الله دَ اقعاء دا صورت بيان كړې دې چه سړې دَخپلو خپو په ګيټو باندې مقعد كيخودو سره كينى. دَ لغت په اعتبارسره دَ عقبه دا صورت ډير واضح دې ځكه چه "عقب" ګيټې ته وائى.

قوله:أَنْ يَفْتَرِشَ:

د څنګلو غزولو څخه ممانعت: يعنى سړى له دَ مانځه په حالت په سجده كښې دواړه څنګلې داسې خورول منع دى لكه ځناور دَ كيناستو په وخت مخې ته دواړه خپې په زمكه خورولوسره ايږدى په دې سره سړې سست شى او په مونځ كښې غفلت راځى.

قوله: الرِّجْلُ:

د سړي او ښځې په كيفيت كښې فرق: دَ سړي لفظ ونيلوسره دې طرف ته اشاره اوکړه چه ښځه به دَ سجدې په حالت كښې لاسونوسره ټول اندامونه راغونډه وي اوزمكې سره دې يوشان كړي ځكه چه دا دَهغې دَ ستردَپاره مناسب دی.

قوله: بِالتَّسْلِيمِ:

د سلام د الفاظو وضاحت: يعنی سلام اړولوسره مونځ دَ السلام عليكم په الفاظوسره به نی ختمولو. دا مسئله د تسهيلات كتاب الطهارة كښې شوې ده هلته اوګورئی.

[۷۹۲] د تكبير تحريمه په وخت د لاسونو پورته كول

۷۹۲-(۱)[۳] ۱ وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ «أَنَا أَحْفَظُكُمْ لِصَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: رَأَيْتُهُ ۳ إِذَا كَبَّرَ جَعَلَ يَدَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ، ۴ وَإِذَا رَكَعَ أَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ، ۵ ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهُ، ۶ فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ اسْتَوَى ۷ حَتَّى يَعُودَ كُلُّ فَقَارٍ مَكَانَهُ

ترجمه: ۱ د ابو حميد ساعدي ﷺ په باره كې روايت دې چې هغه د رسول الله ﷺ د صحابو ﷺ په يو جماعت كې وفرمايل ۲ چې زه د رسول الله ﷺ د لمانځه طريقه په تاسو ټولو كې ښه پيژنم ما رسول الله ﷺ ليدلي دې ۳ چې كله به يې تكبير كولو نو خپل دواړه لاسونه به يې تر اوږو پورې پورته كول ۴ او كله چې به ركوع ته تلو نو خپل دواړه زنګنونه به يې په لاسو سره مضبوط نيول ۵ او خپله شا به يې ښكته كوله (چې د څټ سره برابر شي) ۶ او كله چې به يې خپل سر د ركوع څخه پورته كولو نو سيده به ودريدلو ۷ تر دې چې ټول جوړونه به يې په خپل خپل ځاي شو.

حل اللغات: ① نَفَرٍ: أَيْ: جَمَاعَةٍ: جماعت، ډله. ② حِذَاءَ: أَيْ: مُقَابِلَهُمَا: مخامخ، برابر، ③ مَنْكِبَيْهِ: مَجْمَعُ عَظْمِ الْعَضُدِ وَالْكَتِفِ: د اوږې او مټ هډوكې چه كوم ځاى يوځائې شوې وى هغې ته منكب يعنى اوږه وائى. ④ أَمْكَنَ: مضبوط نيولو او موټى كښې اخستلو ته وائى، ⑤ هَصَرَ: أَيْ: خَفَضَهُ: ښكته به ئې كړه (ملا، شا). ⑥ فَقَارٍ: وَهِيَ مَفَاصِلُ الصُّلْبِ: فقار جمع ده ددې واحد فقارة راځى، د ملا جوړونو ته وائى.

۱ فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ ۲ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا، ۳ وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ، ۴ فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلَى رِجْلِهِ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْيُمْنَى ۵ فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْأُخْرَى، ۶ وَقَعَدَ عَلَى مَقْعَدَتِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او كله چې به سجدې ته تلو نو دواړه لاسونه به يې په زمكه ايښودل ۲ او هغه به

---

(۱) اخرجه البخاری كتاب الاذان باب سنة الجلوس فی التشهد (رقم-۸۲۸) وابوداود كتاب الصلاة باب افتتاح الصلاة (رقم-۷۳۰)

يي نه غورول او نه به يي سره مټ کول ③ او د پښو ګوتي به يي قبلي ته مخامخ ساتلي ④ او د دوو رکعتو وروسته چي به کيناستو نو په ګسه خپه به کيناستي او ښي پښه به يي ودروله ⑤ او هر کله چي به آخري رکعت کي کيناستلو نو ګسه خپه به يي مخکي راوښکله او دويمه (يعني ښي) پښه به ودروله ⑥ اوپه مقعد به کيناستلو. (بخاري)

دابوسعید مختصر تعارف: حضرت ابوسعيد خدری رضی الله عنه چونکه د اکابر صحابه کرامو نه وو پخواني مسلمان وو او احاديثو بيانولو کښي د مکثرين صحابه نه هم وو. د دي د پاره کم عمر او کم صحبت والاصحابه ته ئي اوفرمائيل چه زه د حضور پاك د مونځ د ټولونه زيات محفوظ ساتلو والايم. د هغوی تعلق د خدره قبيلي سره دي او هغوی د انصار مدينه نه دی. د اکثرو صحابه کرامو او تابعينو استاذ دي. په ۷۴ هجری کښي د ۸۴ کالو په عمر کښي هغوی وفات شوی او په جنت البقيع کښي دفن کړي شوي.

تسهیلات:

قوله: "حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ"

په تکبیر تحریمه کښي د لاسونو اوچتولو په مقدار کښي د روایاتو اختلاف: ① بعضي رواياتو کښي "الی شحمتي اذنيه" الفاظ راغلی دی په کوم کښي چه د غوږو پورته حصي پوري د لاسونو اوچتولو اشاره ملاويږي.

② بعضي نورو احاديثو کښي د غوږونو برابر پوري د لاسونو اوچتولو ذکر دي. مثلاً مسند احمد او دارقطني په روايت کښي "حتی تکون ابهاماه حذاء اذنيه" الفاظ راغلی دی.

③ په څو احاديثو کښي دغه شان الفاظ دی مثلاً "حذو منکبيه" "حيال منکبيه" په دي کښي د اوګو پوري برابر لاسونه اوچتولو ذکر دي.

په تکبیر تحریمه کښي د لاسونو اوچتولو په مقدار کښي مذاهب:

دا راروان اختلاف د جواز عدم جواز نه بلکه د افضل دي.

① د شوافع او مالکيه په نيز لاسونه د اوږو پوري اوچتول معمول دي او هم دغه د هغوی په نيز افضل دی.

② د امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز دري اقوال دی د اوګو پوري غوږونو پوري اود اوګو او غوږونو پوري اوچتولو کښي اختيار مګر مشهور هم اول قول دي.

③ ائمه احناف د غوږونو د نرمو پوري لاسونه اوچتول افضل ګڼري دا مسلك زيات ښه دي ځکه چه د غوږونو پوري لاسونه اورلوسره د سيني اواوګو پوري لاسونو اورلو مسلك باندي عمل کيږی. دي نه علاوه به په هرمسلك باندي محدود عمل کيږی.

په مختلفو احادیثو دعمل کولو طریقه: شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښي ليکلی دی چه دا

هم ممکن دی په مختلف وختونو کښې مختلف حالاتولاندې په دې ټولو طریقوباندې عمل اوکړې شی. امام شافعی رحمه الله په دې ټولو احادیثو باندې دعمل کولودپاره یوه بهترینه توجیه کړې ده هغوی فرمائی چه تکبیرتحریمه په وخت د لاسونو تلی د اوګو برابر وی غټې ګوتې د غوږونو برابر وی اود ګوتو سرونه د غوږونو پورتنئی حصې برابر وی. دې دپاره چه په دې طریقه سره به په ټولو احادیثو
باندې عمل اوشی او په احادیثو کښې به تطبیق هم اوشی.

قوله: "أَمْكَنَ يَدَيْهِ"

په مانځه کښې د ګوتو کیخودلو مختلف کیفیات: ① یعنی د رکوع په حالت کښې حضورپاك په مضبوطیاسره دواړو لاسونوسره به زنګونونه نیول په دې حالت کښې به د حضورپاك ګوتې مبارکې کولاؤ وې. علماء فرمائی چه د رکوع په حالت کښې ګوتې ارتې کیخودل پکاردی

② په سجدو کښې به حضورپاك ګوتې یوځائی په زمکه باندې په مضبوطیاسره کیخودلې. علماء فرمائی چه د سجدې په حالت په مضبوطیا زمکې سره ملاوول او ساتل پکاردی

③ د تکبیرتحریمه اوقعده په حالت کښې په خپل طبعی حالت باندې پریخودل پکاردی.

قوله: "غَيْرَمُفْتَرِشٍ"

په سجده کښې د لاسونو غزولو مسنون طریقه: یعنی دهغوی لاسونه په زمکه باندې کیخودلې شوی وو مګر څنګلې به ئی د زمکې نه جدا وې. "افتراش سبع" په شان به نه وې. "ولاقابضهما" یعنی څنګلې او متې د اړخونونه جدا ساتلې اوتلی اوګوتې په زمکه باندې مضبوطې ساتلې مګر متې او څنګلې د اړخونو او زمکې نه دومره جدا وې که چرې د چیلئی وړوکې بچې د حضورپاك د سینې لاندې تیریدل غوښتل نوتیریدلې شو. د قابض مطلب داهم کیدې شی چه حضورپاك په زمکه باندې ګوتې خورې کیخودلې موتې جوړولوسره ئی نه کیخودلې.

[۷۹۲] درکوع وغیره په وخت رفع یدین

۷۹۳-()[۳] ①«وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-، ②أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ

(۱) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب: رفع الیدین فی التکبیرة (رقم-۷۳۵) ومسلم کتاب الصلاة . باب استحباب رفع الیدین حذو المنکبین مع تکبیرة الإحرام. والرکوع. وفی الرفع من الرکوع. وأنه لا یفعله إذا رفع من السجود (رقم) ۲۲ - (۳۹۰) وابوداود کتاب الصلاة.باب رفع الیدین فی الصلاة (رقم-۷۲۲) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة. والسنة فیها .باب رفع الیدین إذا رکع. وإذا رفع رأسه من الرکوع (رقم-۸۵۸) ومالک فی الموطا کتاب الصلاة باب افتتاح الصلاة (رقم-۱۶) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/بباب رفع الیدین عند الرکوع (رقم-۲۵۵) والنسائی کتاب الافتتاح /رفع الیدین حذو المنکبین (رقم) ۸۷۸

حَذْوَمَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ، [۳] وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ، وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذٰلِكَ، [۴] وَقَالَ: "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ"، [۵] وَكَانَ لَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُودِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضی الله عنهما فرمايي [۲] چه رسول الله ﷺ چې به کله مونځ شروع کولو نو دواړه لاسونه به يې تر اوږو پورې پورته کول [۳] او کله چې به يې رکوع د پاره تکبير ونيلو او چې د رکوع څخه به يې سر اوچتولو نو بيا به يې هم د غسې دواړه لاسونه (تر اوږو پورې) پورته کول [۴] (او د رکوع څخه سر پورته کولو سره) به يې ويل سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ (الله د هغه سړي واوريدل يعنی د هغه تعريف يې قبول کړو چا چې د هغه حمد بيان کړو اې پروردګاره ټول تعريف تا لره دي) [۵] او حضور ﷺ به په سجدو کې داسې نه کول. (بخاري).

حل اللغات: ① حَذْوَ: أَيْ: مُقَابِلَهُمَا: مخامخ، برابر (اوږو ته).

تسهيلات:

قوله: "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ"

د سمع الله مفهوم: دلته د سمع معنی د قبلولو ده يعنی الله تعالی د دغه سړی حمد قبول کړو چا چه د هغه حمد اوکړو. "لمن" کښې لام د نفع د پاره دې يعنی الله تعالی د حمد کونکی د فائدې د پاره د هغه حمد قبول کړو. "حمده" کښې هاء ساکنه ده کوم چه د سکتې او استراحت د پاره دې.

قوله: "رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ"

په تحميد کښې مختلف الفاظ: دا الفاظ په احاديثو کښې درې قسمه باندې راغلي دې.

① "ربنالك الحمد" ② "ربناولك الحمد" ③ "اللهم ربناولك الحمد".

افضله جمله: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه د آخر والا دواړه جملې د اولې جملې نه بهتر دی. د صحابه کرامو د دور نه اود هغې نه پس د علماؤ معمول کښې دا دعا داسې ده. "ربناولك الحمد حمداكثيراًطيباًمباركاًفيه".

د تحميد او تسميع په تقسيم کښې مذاهب:

① امام شافعی رحمه الله فرمائی د امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله هم دغه مسلك دې. چه امام دې تحميد او تسميع دواړه وائی يعنی سمع الله لمن حمده سره ربناولك الحمد هم وائی

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه د تقسيم کار په توګه امام دې سمع الله لمن حمده وائی او مقتدی دې ربنا لك الحمد وائی.

د اول فريق دليل: زيربحث حديث د دوی مستدل دې. ځکه چه حديث نه هم دا طريقه معلوميږی.

د دويم فريق دليل: د دوی مستدل په ابن ماجه او د سنن په ټولو کتابونو کښې ذکر دې. الفاظ دا دی: ((عن ابی هريرة قال قال رسول الله ﷺ اذاقال الامام سمع الله لمن حمده فقولواربنالك الحمد))

طریقه داستدلال :دَ استدلال طرز داسې دې چه حضورپاك دَامام او ماموم په مینځ کښې دا کلمات تقسیم کړې دی اوتقسیم دَ شرکت منافی دې. امام ابوحنیفه رحمه الله دا حدیث په حالت دَامامت باندې نه محمول کوی بلکه هغوی فرمائی چه دادَ منفرد یعنی ځان له مونځ کونکی دَ مونځ کیفیت دې اومنفرد به دواړه جملې اداکوی.

قوله: وَكَانَ لَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُوْدِ:

سجدې ته د تلو او واپس کیدو په وخت کښې عدم رفع یدین :یعنی حضورپاك سجدې له دَتلو په وخت اودَ سجدې نه دَ واپس کیدو په وخت رفع یدین نه کول. حضرات شوافع سره دَدې چه دَ رفع یدین قائل دی لیکن هغوی صرف رکوع ته دَ تلو په وخت اودَ رکوع نه دَ پاسیدو په وخت رفع یدین کوی او دَ تکبیرتحریمه په وخت کوی. دې نه علاوه رفع یدین هغه قائل نه دې. دَ سجدې په وخت رفع یدین دَ احادیثونه ثابت دی مګر شوافع دا منسوخ منی. په احادیثوکښې دَدې نسخ واضح توګه باندې تذکره موجود ده. احناف دَ رکوع دَ وخت رفع یدین هم منسوخ ګنړی دَ رفع یدین مسئله هم راتلونکې ده.

[۷۹٤] د حضرت ابن عمر رضي الله عنه مونځ

۷٤۳-()[٥] ۱ وَعَنْ نَافِعٍ، «أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ، ۲ وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ، ۳ وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَفَعَ يَدَيْهِ، ٤ وَإِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ ٥ وَرَفَعَ ذٰلِكَ ابْنُ عُمَرَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» -، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ نافع (رحمه الله) فرمایي چې ابن عمر رضي الله عنه چې به مونځ شروع کولو نو تکبیر به یې وئیلو او خپل دواړه لاسونه به یې پورته کول ۲ او کله چې به رکوع ته تلو نو دواړه لاسونه به یې پورته کول ۳ او کله چې به یې سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه ویل نو دواړه لاسونه به یې پورته کول ٤ او کله چې به یې دوه رکعاته وکړل او ولاړ به شو نو بیا هم دواړه لاسونه به یې پورته کول، ٥ ابن عمر رضي الله عنه به دا حدیث حضور ﷺ ته په رسولو سره نقل کولو (یعني هغه به ویل چې حضور ﷺ هم دغسې کړي دي) بخاري.

تسهیلات:

قوله: "وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ"

رکوع ته په تلو کښې د رفع الیدین حکم :دې نه مخکښې حدیث نمبر(۷٤۳) اودا زیربحث حدیث نمبر(۷٤۳) او راتلونکې یوڅواحادیثو کښې دَرکوع په حالت کښې دَ رفع یدین کولو مسئله بیان کړې شوې ده. د اصل بحث شروع کولوڅخه وړاندې په درې تمهیدی مباحثو پیژندګلو ضروری ده.

[۱] بخاری کتاب الاذان باب رفع الیدین إذا قام من الرکعتین (رقم-۷۳۹)

درې مباحث

اول بحث دتكبير تحريمه څخه علاوه د رفع اليدين مقامات سته:

① رفع يدين عند الركوع.

② رفع اليدين عند الرجوع عن الركوع.

③ رفع اليدين عند الذهاب الى السجدة.

④ رفع اليدين عند الرجوع عن السجدة كما في النسائي.

⑤ رفع اليدين عند القيام الى الركعة الثالثة كما في ابي داؤد ص: ۱۰۴.

⑥ رفع اليدين في كل تكبيرة عند الرفع والخفض كما في مسند احمد.

مختلف فيها مقامات: په دې شپږو مقاماتو کښې اول الذکر صرف دوه مقامات داسې دی په کوم کښې چه رفع يدين او عدم رفع يدين کښې اختلاف دې اوهغه رکوع ته د تلو په وخت اود رکوع نه واپس کيدو په وخت دغه دوه مقامات دی دې نه علاوه په څلورو وارو مقاماتو کښې رفع يدين د ټولو ائمه حضراتو په نيز منسوخ شوی دی. لهذا د رفع يدين نوم چه کله هم راشی نود هغې نه به مراد هم دغه دوه مقامات وی.

دويم بحث د تکبير تحريمې په وخت په رفع اليدين کښې اختلاف

① د تکبير تحريمه په وخت لاسونه اوچتولوحکم دې. نود جمهورو په نيزدا سنت دی په دې کښې څه خاص اختلاف نشته دې

② بعض ظواهر او داؤد ظاهری دې طرف ته تلې دې چه تکبير تحريمه کښې لاسونه اوچتول فرض دی ③ په شيعه ګانو کښې فرقه زيديه هم په دې کښې اختلاف کړې دې.

نوټ: تکبير تحريمه نه علاوه په نورو مقاماتو کښې د رفع يدين حکم د افضل اوغيرافضل حيثيت لری. د اولی او غيراولی اختلاف دې يا د زيات نه زيات د سنت اختلاف دې د جواز او عدم جواز اختلاف نه دې.

دريم بحث: دابحث چه رفع اليدين کښې به لاس ترکومې پورې اوچتولې شی. نودا مسئله د دې حديث نه مخکښې د حديث نمبر ۷۹۲ په تشريح کښې تفصيل سره تيره شوې ده هلته دې اوکتلې شی.

په قرون اولی کښې په مسئله د رفع اليدين کښې عدم تشدد: بهرحال د رفع يدين دامعرکة الآراء مسئله د صحابه کرامو د دور نه مختلف فيها ده. د تابعينو په دورکښې هم په دې کښې اختلاف پاتې دې څوک د رفع کونکې دی اوڅوک د ترک رفع يدين قائل دی يو بنار داسې نه دې پاتې چرته چه د دواړو طرفو خلق موجودنه وی. او په دنيا کښې کوفه يوداسې ښاروو چه کوم کښې رفع يدين کونکې يو سړې نه وو ټول د ترک رفع يدين قائل وو.

ذدې وجه دا وه چه کوفه دَ اکابر صحابه کرامو دَتعلیم مرکز پاتې دې او هلته ابن مسعود رضي الله عنه معلم عام وو. نودَهغوی دَ تعلیم دا اثروو دَهغوی نه پس دَهغوی شاګردان اوبیا دَ امام ابوحنیفه رحمه الله دَتعلیم دا اثر وو. غرض دا چه دَ رفع یدین په مسئله کښې په شروع کښې په طرفین کښې سختی نه وه روستو سختی راغله. اهل مکه دَ حضرت عبدالله بن زبیر رضي الله عنه دَ تعلیم دَ وجې رفع یدین شروع کړه

درفع اليدين په مسئله ليکونکي عالمان: ① د امام بخاری کتاب جزء رفع اليدين. ② امام بیهقی رحمه الله، ③ علامه ابن عبدالبر رحمه الله ④ حافظ ابن قیم رحمه الله ⑤ محمد بن عمرو مروزی رحمه الله ⑥ علامه زاهد کوثری رحمه الله ⑦ علامه شاه انورشاه کشمیری رحمه الله کتاب نيل الفرقدين فی رفع اليدين او بسط اليدين لنيل الفرقدين دی.

درفع اليدين په باب کښې دروایاتو درې قسمونه: شاه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمائی دَ رفع اليدين په سلسله کښې درې قسمه روایات دی:

① اول هغه روایات دی کوم چه ناطق په رفع اليدين دی.

② دویم هغه روایات دی چه ناطق لعدم رفع اليدين دی.

③ دریم هغه روایات دی چه ساکت عنهما دی.

په مسئله د رفع اليدين کښې د امامانو د اختلاف سبب: ① دَامام مالك رحمه الله عام دستور دا وو چه هغوی به دَ اهل مدینه تعامل په ټولو مسئلو کښې مخې ته ساتلو. دَ مدینې والاهم دَ ترك رفع يدين قائل وو نوهغوی هم دا واخستل.

② امام شافعی رحمه الله چونکه په غزه کښې پیدا شوې اوبیا هجرت کولوسره په مکه مکرمه کښې ئې قیام کړې نوهغوی هلته دَ اهل مکه په طرز عمل باندې عمل اوکړو اوهلته دَ عبدالله بن زبیر رضي الله عنه دَ تعلیم دَ وجې نه رفع یدین کیدل.

③ دَامام احمدبن حنبل رحمه الله عادت اودَهغوی فقهي مزاج دا وو چه هغوی به دَ احادیثو په ظاهرباندې عمل کولو هم دغه وجه ده چه دکثرت روایاتو دَ وجې دَهغوی څواقوال کیدې شی.

④ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله فقهي مزاج داسې وو چه هغوی همیشه دَ شریعت مطهره دَ قواعدو کلیه لحاظ کړې دې. دکلیات په تحفظ کښې که په جزئیات کښې تاویل اوکړې شی نوهغوی په جزئیات کښې تاویل کړې مګر کلیات ئې په ځائې ساتلی. هم دغه وجه ده چه دَاحنافو مسلك څومره هم په سرسری نظرسره اوکتلې شی، نوجزئیات به دَدې منافی ښکاری لیکن چه څومره په ژوروالی سره اوګورې نودا مسلك په ټولو احادیثو باندې پوره منطبق ښکاری.

په رفع اليدين في الصلاة كښې مذاهب:

① امام شافعي رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله او په يوقول کښې امام مالك رحمه الله دې طرف ته تلي دي چه په رکوع کښې رفع يدين لکه څنګه چه په شروع کښې سنت عمل وو اوس هم هغه شان سنت عمل دي.

② امام ابوحنيفه رحمه الله سفيان ثوري رحمه الله ابراهيم نخعي رحمه الله او دَ مشهور اومختارقول مطابق دَ امام مالك رحمه الله په نيزپه رکوع کښې رفع يدين نشته دي. لکه څنګه چه په باقي مقاماتوکښې رفع يدين مخکښې وو بيا دَ ټولو په نيز منسوخ ګڼرلې شي. دغه شان په رکوع کښې هم يا منسوخ يا موقوف شوي دي. لهذا عدم رفع راجح ده. دا خبره هم ياد ساتل پکار دي چې دا اختلاف د افضل او غير افضل دې د جواز اوعدم جواز نه دي.نو په دې کښې غلو کول ټيک نه دي.

داول فريق دلائل: په دې ټولو احاديثوکښې عندالرکوع اوعندالرفع عندالرکوع په وخت دَ رفع يدين تصريح موجود ده اودا په خپل مطلوب باندې واضحه دلائل دي.

① د حضرت مالك بن حويرث رضي الله عنه حديث نمبر ۷۹۵ د دوی مستدل دې.

② دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما حديث نمبر ۷۹۳ د دوی مستدل دې

③ دَ حضرت ابوحميدساعدي رحمه الله اوږد حديث نمبر ۸۰۱ د دوی مستدل دې.

④ دَحضرت وائل بن حجر رحمه الله حديث نمبر۷۹۷ د دوی مستدل دې.

⑤ زير بحث حضرت نافع اوابن عمر رضي الله عنهما حديث نمبر ۷۹۴ د دوی مستدل دې.

درفع اليدين د مثبتينو په نيز د ابن عمر د روايت صحت: دا روايت د مثبتين رفع يدين په دلائلوکښې دَ ټولو نه زيات معتمد اومستند او مضبوط محفوظ روايت دې.په کوم باندې چې دوی اوچتې سترګې ګرځي.

د ابن عمرپه روايت باندې د وقف اعتراض: امام بخاري رحمه الله مرفوع کيدوته ترجيح ورکړې ده ليکن امام ابوداؤد رحمه الله دَخپل کتاب صفحه ۱۰۸ باندې دَدَې په مرفوع اوموقوف کيدو باندې کافي بحث کړې دې. اوس دَدې حديث بنيادي عمارت کمزورې شو چه کيدې شي دا موقوف وي اودَ موقوف حديث نه شوافع حضرات په نيزباندې استدلال کول جائز نه دي.

د ابن عمر په روايت د اضطراب اعتراض: دَدې حديث دَ صحت باوجود په دې کښې شپږ قسمه اضطراب دې.

① موطاکښې صرف عندالرکوع رفع يدين ثابت دی.

② امام مالك رحمه الله چه کله مُدَوَّنَهْ کښې دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما دا روايت نقل کوی نوهلته رفع يدين صرف په تکبير تحريمه کښې ثابتيږي.

③ دَامام بخاری رحمه الله کتاب صحیح بخاری کښې صرف عندالسجدتین رفع یدین ذکردې.
④ موطا کښې عندالرکوع او عندالرفع عن الرکوع رفع یدین ثابت دی.
⑤ اوطحاوی وغیره کښې هم دَدې روایت نه دَ رفع یدین "عندکل خفض ورفع" یعنی دَهرتکبیر په وخت رفع یدین ثابت دی. په دومره اضطراب اواختلاف سره روایت دَخپل مقام نه ډیر ښکته راځی.
⑥ اوهم دغه دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما روایت کله امام بخاری رحمه الله جزء رفع الیدین کښې ذکرکوی نوهلته دَ دریم رکعت دَپاره پاسیدو په وخت دَ رفع یدین ذکردې.

د دویم فریق دلائل:

① ((وعن ابن عمر مرفوعا ان النبی ﷺ کان یرفع یدیه اذا افتتح الصلوة ثم ثم لا یعود)) ([۱])
② ((وعن البراء ابن عازب ان کان النبی ﷺ اذا کبر لافتتاح الصلوة رفع یدیه حتی یکون ابهاماه قریبا عن شحمتی اذنیه ثم لا یعود)) ([۲])
③ ((وعن ابن مسعود عن النبی ﷺ انه کان یرفع یدیه فی اول تکبیرة ثم لا یعود)) ([۳])
④ ((وعن ابن عباس عن النبی ﷺ قال لا یرفع الایدي الا فی سبع مواطن. ۱ فی افتتاح الصلوة. ۲ واستقبال القبلة. ۳ وعلی الصفا. ۴ والمروة. ۵ وبعرفات. ۶ وبجمع. ۷ وعند الجمرة ([۴])
⑤ ((وعن مجاهد قال صلیت خلف ابن عمر فلم یکن یرفع یدیه الا فی التکبیرة الاولی من الصلوة)) ([۵])
⑥ ((وعن عباد بن الزبیر ان النبی ﷺ اذا افتتح الصلوة رفع یدین فی اول الصلوة ثم لم یرفعها فی شئ حتی یفرغ)) ([۶])
⑦ ((عن الاسود قال رأیت عمر بن الخطاب یرفع یدیه فی اول تکبیرة ثم لا یعود (مصنف ابن ابن ابی شیبه طحاوي) قال ورأیت ابراهیم النخعي والشعبی یفعلان کذالك)) ([۷])
⑧ ((روي عن ابن عباس قال کان النبی ﷺ یرفع یدیه کلما رکع وکلما رفع ثم صار الی افتتاح الصلوة وترك ماسوا ذلك))([۸])
⑨ ((ورأي عبدالله بن الزبیر رجلا یرفع یدیه من الرکوع فقال "مه" کان هذا شئ فعله النبی ﷺ ثم ترکه)) ([۹])
⑩ ((عن عاصم بن کلیب عن ابیه ان لیا رضي الله عنه کان یرفع یدیه فی اول تکبیرة من الصلوة ثم لا یرفع بعد)) ([۱۰])

---

[۱] (رواه البیهقی فی الخلافیات باسناد صحیح کذا فی معارف السنن)
[۲] (رواه الطحاوی ص: ۱۵۴)
[۳] (طحاوی ص: ۱۵۴ وکذا فی الترمذی والنسائی)
[۴] طبراني والبخاري فی جزء رفع الیدین بحواله تنظیم الاشتات))
[۵] مصنف ابن ابی شیبه بیهقی طحاوی ص: ۱۵۵)
[۶] رواه بیهقی فی الخلافیات کذا نقله الشیخ محمدهاشم السندهی
[۷] (مصنف ابن ابی شیبه وطحاوی ص: ۱۵۶)
[۸] کذا فی التعلیق الصبیح بحواله تنظیم الاشتات)
[۹] (کذا فی التعلیق الصبیح بحواله تنظیم الاشتات)
[۱۰] (رواه الحطاوی باسنادین جیدین ص: ۱۵۴)

⑪ ((وعن المغيرة بن شعبة قال قلت لابراهيم حديث وائل رضي الله عنه انه رأى النبي ﷺ رأي النبي ﷺ يرفع يديه اذا افتتح الصلوة واذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع فقال ان كان وائل رضي الله عنه رآه مرة يفعل فقد رآه عبدالله خمسين مرة لايفعل ذلك)) ([1])

⑫ ((وعن جابر بن سمرة قال خرج علينا رسول الله ﷺ فقال مالي اراكم رافعي ايديكم كانها اذناب خيل شمس اسكنوا في الصلوة)) ([2])

په دې روايت اعتراض: دَدې حديث تعلق دَسلام په وخت رفع يدين سره دې دا حضورپاك منع كړى دى.

دااعتراض جواب: په دې حديث كښې حضورپاك "اسكنوا في الصلوة" كوم الفاظ ارشاد فرمائيلى دى مونږ دَدې نه استدلال كوو چه په مونځ كښې سكون او كم نه كم حركتونه كول مطلوب دى دَ كوم طرف ته چه په قرآن پاك كښې هم اشاره ده :﴿ وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ ﴾ [سورت بقره: ۲۳۸] اي ساكنين ساكتين عابدين.

⑬ ((عن علقمة قال قال لنا ابن مسعود الا أصلي بكم صلوة رسول الله ﷺ فصلى ولم يرفع يديه الا مرة واحدة مع تكبيرة الافتتاح)) ([3])

دابن مسعود په ديارلسم نمبر حديث دامام ترمذى اعتراض : امام ترمذى رحمه الله دَحضرت عبدالله بن مبارك رحمه الله په حواله سره وئيلى دى چه هغوى فرمائى چه دَ ابن عمر رضي الله عنهما حديث ثابت دې كوم چه دَ رفع يدين متعلق دې ليكن دَ ابن مسعود رضي الله عنه روايت ثابت نه دې په كوم كښې چه دَ عدم رفع يدين ذكردې. (ترمذى ص: ۵۹)

دااعتراض دوه جوابونه : ① دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روايت چه په كومو واسطوسره امام ابوحنيفه رحمه الله ته رسيدلي دې هلته دَ سند دا دومره اوږده سلسله نه وه صرف يوه يا زيات نه زيات دوه واسطې به وې. اوس دَ امام ابوحنيفه رحمه الله مونږ ته رسيدو كښې دَ اوږد سند دَ وجې نه كه چرته روايت كښې ضعف راشى نو دې سره دَ امام ابوحنيفه رحمه الله مستدل ته هيڅ نقصان نه رسيږى. دا جواب دَ يو ضابطې او قاعدې درجه لرى چه هرځائى كښې جارى كيدې شى.

② عدم رفع يدين سره متعلق دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه دوه روايتونه نقل دى. يو مرفوع قولى دې او دويم مرفوع عملى دې يعنى ابن مسعود رضي الله عنه خپل فعل خودلوسره حديث ته مرفوع وئيلې دې يا خپل قول خودلوسره حديث ته مرفوع وئيلې دې؟ نوحضرت عبيدالله

[1] (طحاوى ص: ۱۵۴) ((وفي البدائع روى عن ابن عباس رضي الله عنهما انه قال العشرة الذين شهدلهم النبي ﷺ بالجنة ماكانوا يرفعون ايديهم الافي افتتاح الصلوة))(كما في العينى ج۲ص۷)

[2] ((رواه مسلم)

[3] ((رواه الترمذى وابوداؤد مشكوة ص: ۷۷)

بن مبارک رحمه الله په مرفوع قولی باندې رد کوی چه دا ثابت نه دې. مرفوع فعلی ته هغه څنګ غیرثابت وئیلی شی حالاتکه هغه پخپله دَ مرفوع فعلی راوی دی لکه نسائی ص:۱۶۸ باندې واضحه توګه باندې موجود دی لامحاله چه عبدالله بن مبارک رحمه الله دَ مرفوع قولی انکارکوی اودَې احناف هم قائل دی ځکه چه احناف مرفوع فعلی ثابت منی اوهم دَدې نه استدلال کوی. دَ مرفوع قولی نه احناف استدلال نه کوی دکوم الفاظ چه دا دی: "ان النبی ﷺ لم یرفع یدیه الافی اول مرة" (ترمذی)

دمرفوع فعلی ثبوت: دَحضرت ابن مسعود رضی الله عنه حدیث کوم چه مرفوع فعلی دې دَدې دَ ثبوت دَپاره ابن دقیق العید رحمه الله فرمائی چه دَ ابن مسعود رضی الله عنه دَ روایت مدار په عاصم بن کلیب رحمه الله باندې دې اوهغه دَ مسلم دَ راویانونه دې لهذا مرفوع فعلی ثابت دې.

د مرفوع فعلی روایت په صحت دمحدثینو اقوال: ① پخپله امام ترمذی رحمه الله دَهغه کتاب ترمذی کښې دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دَ فعلی روایت متعلق فرمائی چه دا روایت حسن دې اودَ بې شمیره خلقو په دې باندې عمل دې ② دغه شان ابن حزم اندلسی رحمه الله دا حدیث صحیح ګرځوی

③ دَ ائمه جرح اوتعدیل نه یحیی بن سعید القطان المغربی رحمه الله نه "الوهم والایهام" کښې دا الفاظ نقل دی "انه صحح حدیث ابن مسعود" ④ دغه شان ابن عبدالبر علی المدینی، ⑤ دارقطنی هم دې ته صحیح وئیلې دې [1]. ⑥ یحیی بن معین، ⑦ امام ذهبی ⑧ ابن منده رحمهم الله دا صحیح ګرځولې دې.

د ابن مسعود په روایت دابوداؤد اعتراض: صاحب مشکوة دَحضرت ابن مسعود رضی الله عنه دا روایت دَ اصل بحث نه لرې فصل ثالث ص: ۷۷ کښې ذکرکړې دې. او بیا په دې باندې دَ امام ابوداؤد رحمه الله په حواله سره اعتراض کړې دې چه "وقال ابوداؤد لیس هو بصحیح علی هذا المعنی".

د اعتراض درې جوابونه: ① دا دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په مرفوع قولی حدیث باندې اعتراض دې. ② دا جواب په حقیقت کښې دَ صاحب مشکوة غلطی پېژنولو دَپاره دې اودومره لونی سرې دَ غلطئی نه دَ بچ کولو دَپاره دې ګنی امام ابوداؤد رحمه الله دَ براء بن عازب رضی الله عنه روایت ته لیس بصحیح وئیلې دې. دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په روایت باندې ابوداؤد رحمه الله هیڅ اعتراض نه دې کړې لکه څنګه چه دَ ابوداؤد دَ سیاق اوسباق نه واضح دی.

تسلیمی جواب: ③ فرض کړه که امام ابوداؤد رحمه الله هم دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په روایت باندې اعتراض کړې دې نودَ هغې جواب دا ورکولې شی چه امام ابوداؤد رحمه الله دا ضعف علی المعنی سره مقید کړې دې یعنی روایت صحیح دې نورو راویانو نقل کړې دې سند

---

[1]) کذافی عرف الشذی

صحيح دي ليکن دَدي خاص معنې په اعتباسره ضعيف دي.

د ترک رفع اليدين په رواياتو باندې مجموعی اعتراض: په دغه پورتنوتولو روايتونوباندې مخالفينو څه نه څه اعتراض کړې دې تاسو دَدې قسم رواياتونه څنګه استدلال کوئی؟

د اعتراضاتو مجموعی جواب: دَمخالفينوټول اعتراضونوته که اوکتلې شی نو په اصولی توګه دَ دغه اعتراضونو خلاصه داده چه په دغه روايتونوکښې خويا ارسال دې يا غرابت اوتفرد دې او يا په دې کښې ادراج دې. واضح جواب دادې چه دا روايات په څو طرقوسره راغلی دی او تعدد دَطرق سره تفرد غرابت او ادراج ختميږی. باقی پاتې شو دَ بعضې روايتونو مرسل کيدل نوعرض دادې چه دَ جمهورو په نيز ارسال معتبر دې مونږ جمهورو سره يو اوهغوی مونږ سره دی.

په رفع اليدين او عدم رفع اليدين باندې د عمل کولو جواز: دَدې ټولو احاديثو مرفوعه او آثارمنقوله نه دا خبره دَ رڼرا ورځ په شان واضحه کيږی چه دَ رفع يدين په مسئله کښې دواړو طرفوته دَ احاديثو يوه ذخيره موجود ده. نواوس خو به يا دَ دواړو طرفو احاديثو او آثاروکښې دَتطبيق صورت پيدا کولې شی چه کوم عمل کوم ځائی رائج دې هلته دې په هغې باندې عمل اوکړې شی اوجائز دې دواړه اومنلې شی. ابن حزمؒ په خپل دَ فخر وړ تصنيف المحلی ج۲ص ۲۳۵باندې ليکلی دی چه کلهٔ دَ جانبينونه دَ احاديثو صحت ثابت شو نواوس دواړه عملونه مباح دی. يوعمل فرض نه دې نو مونږ له هم په دغه نيت هم داشان مونځ کول پکاردی که چرته مونږ په مونځ کښې رفع يدين اوکړل نومونږهم هغه شان مونځ اوکړو څنګه چه حضورپاك کړې وو او که چرې مونږ رفع يدين اونه کړل نوبيا هم مونږ هغه شان مونځ اوکړو څنګه به چه حضورپاك کولو.

د رفع اليدين د نسخې قول: که چرې دَچادَ تطبيق صورت خوښ نه شو نوبيابه دَ رفع يدين احاديث منسوخ ګڼرلې شی هغه داسې چې د رفع يدين مسئله دَ اسلام په شروع کښې وه بيا په مونځ کښې چه کوم باقی تغيرات اوتنسيخات ښکاره شوی دی نود رفع يدين مسئله هم موقوف اومنسوخ شوه اودا څه فرضی کلام يا مفروضه نه ده بلکه دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت په دې نسخ باندې دليل دې. دَ حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه روايت په دې نسخ باندې دليل دې. په دې وجه دَدې حديث دَ منسوخ کيدو قوی احتمال پيدا شوې دې.

په د رفع اليدين په نسخ باندې اشکال: دَ رفع يدين په منسوخ کيدو څه دليل دې؟

د اشکال دوه جوابونه: ① دَ دغه پورته احاديثو او آثارو دَتصريحاتو او توضيحاتو نه په دې خبره واضح دليل دې چه داحکم اول وو بيا موقوف او منسوخ شو.

② الزامی جواب دادې چه رفع يدين ټول شپږو مقاماتونه باقی څلورو مقاماتو کښې تاسو

حضراتو رفع یدین ترك كولوسره دغه ځلورو مقاماتو كښې دَ رفع یدین حكم پخپله منسوخ منلې دې. دَدې ځلورو مقاماتو دَپاره چه ستاسو كوم جواب وی هم هغه به زمونږ هم وی فرق صرف دومره دې چه تاسو په ځلورو مقاماتو كښې او مونږ په شپږو مقاماتو كښې داعمل منسوخ منو.

د ترك رفع الیدین ترجیح: یو طرف ته دَ رفع یدین سنت دې او بل طرف ته دَ نسخ قوی احتمال دې او په منسوخ باندې عمل كول حرام دی نو دَ سنت خپلولو او په حرام كښې دَ پریوتلو مقابله شوه لهذا دا سنت ترك كول اولی او افضل دی په كوم باندې چه عمل كولوسره په حرام كښې دَ پریوتلو احتمال وی. هم په دې وجه احناف ترك رفع یدین ته اولی وائی دې دَپاره چه په منسوخ عمل باندې دَعمل كولو خطره رانه شی.

دَ امام ابوحنیفه رحمه الله او امام اوزاعی رحمه الله مناظره

ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات كښې دَ رفع یدین په دې بحث كښې لیكلی دی چه صاحب دَ فتح القدیر ابن همام رحمه الله دَهدایه شرح كولوسره دَ رفع یدین په بحث كښې لیكلی دی چه یو ځل امام ابوحنیفه رحمه الله او امام اوزاعی رحمه الله مكه مكرمه دارالحناطین كښې یوځائی شو نودَ رفع یدین په مسئله كښې دَ دواړو داسې خبرې اترې اوشوې:

امام اوزاعی رحمه الله: اوزاعی شام دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه داسې سوال اوكړو تاسو خلق ركوع ته دَ تلو په وخت اودَ ركوع نه دَ واپس كیدو په وخت لاسونه ولې نه اوچتوئی؟

امام ابوحنیف رحمه الله: مونږ رفع یدین ځكه نه كوو چه په دې كښې دَ حضورپاك نه څه داسې صحیح حدیث نقل نه دې دكوم په مقابله كښې چه بل حدیث نه وی.

امام اوزاعی رحمه الله: صحیح حدیث ولې نشته حالانكه ماته زهری رحمه الله بیان كړې هغه دَ سالم رحمه الله او سالم رحمه الله دَخپل پلار ابن عمر رضی الله عنهما نه داسې نقل كړې دې چه «ان رسول الله صلی الله علیه وسلم كان یرفع یدیه اذا افتتح الصلوة وعند الركوع وعند الرفع منه»

امام ابوحنیفه رحمه الله: دَدې په جواب كښې امام ابوحنیفه رحمه الله دَ عدم رفع یدین دَپاره سندسره داسې حدیث بیان كړو. «حدثنا حماد عن ابراهیم عن علقمه والاسود عن عبدالله بن مسعود ان النبی صلی الله علیه وسلم كان لا یرفع یدیه الا عند الافتتاح ثم لا یعود»

امام اوزاعی رحمه الله: امام اوزاعی دَ عُلُوّ سند طرف ته اشاره كولوسره اوفرمائیل چه زه تاته دَ زهری رحمه الله سالم رحمه الله او ابن عمر رضی الله عنهما سندسره حدیث بیانوم اوتاسو دَحماد رحمه الله اوابراهیم رحمه الله په سندسره زما په مخكښې حدیث پیش كوې؟ (چرته دا سند اوچرته هغه سند)

امام ابوحنیفه رحمه الله: امام ابوحنیفه رحمه الله اوفرمائیل چه گوره شیخ حماد رحمه الله دَ شیخ زهری رحمه الله نه لوئی فقیهه وو. دغه شان ابراهیم نخعی رحمه الله دَ شیخ سالم رحمه الله نه فقه كښې اوچت وو اوشیخ علقمه رحمه الله دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه فقاهت كښې كم نه وو سره دَدې چه ابن

عمر رضی الله عنهما ته د شرف صحابیت د وجې نه لوئی مقام حاصل وو. شیخ اسود رحمه الله په توګه د پاسنګ مونږ سره بلامقابله پاتې شوي په کوم سره چه زمونږ وزن زیات شو.

اود عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به څه وي عبدالله خو عبدالله دي (دفقاهت امام او د فضیلت سپوږمئی وه) په دې بحث کښې حضرت امام اوزاعی رحمه الله د سند په اوچتوالی خپل روایت ته د ترجیح ورکولو کوشش اوکړو لیکن امام ابوحنیفه رحمه الله د رواة د فقاهت د وجې نه خپل روایت راجح اوګرځولو.

د اختلاف نوعیت: د رفع یدین مسئله اولی او غیراولی اود افضل اوغیر افضل مسئله ده د جائز یا ناجائز مسئله نه ده. بهرحال په مسئله کښې د طرفین د طرف نه وسعت اوګنجائش دي د تشدد ضرورت نشته دي. غیرمقلدین په دې کښې سختی کوی اود نیغې لارې نه تجاوز کوی اودا اختلاف د جائز اوناجائز اختلاف ګنړی اوعام خلق د یوطرف والا احادیثو سره په تشویش کښې راګیره وی اود فضیلت بحث د فرضیت په درجه کښې ساتی.

په حقیقت کښې د دې حضراتو یوه قاعده ده هغه دا چه په مونځ د سنت پاتې کیدو سره مونځ فاسد کیږی اورفع یدین سنت دی نو د دې په پریخودو سره به مونځ باطل کیږی. حالانکه دا ضابطه او دا قاعده د هغوی خپله ده. د امت فقهاء، علماء اومجتهدینو دې ضابطې سره هیڅ تعلق او واسطه نشته دي.

[۷۹۵] د غوږونو پورې د لاسونو پورته کول

۷۹۵ – ()[۲] [۱] وَعَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ [۳] وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ» [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] مالك ابن حويرث رضی الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به تكبير تحريمه ويل نو خپل دواړه لاسونه به يې دومره پورته كول چې هغه به يې د غوږونو سيده (مخامخ) پورې بوتلل [۳] او هر كله چې د ركوع څخه به يې سر پورته كولو نو د سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ويلو سره به يې دغسې كول (يعني دواړه لاسونه به يې د غوږونو سيده پورې رسول) [۴] او د يو روايت الفاظ دا دي چې دواړه لاسونه به يې د غوږونو د پورته پورې بوتلل. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: يُحَاذِيَ: أَيْ: مُقَابِلَهُمَا: مخامخ، برابر به ني ساتل (غوږونوته).

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب رفع اليدين إذا كبر وإذا ركع وإذا رفع (رقم-۷۳۷) ومسلم كتاب الصلاة ، باب استحباب رفع اليدين حذو المنكبين مع تكبيرة الإحرام، والركوع، وفي الرفع من الركوع، وأنه لا يفعله إذا رفع من السجود (رقم) ۲۵ - (۳۹۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ،باب رفع اليدين إذا ركع، وإذا رفع رأسه من الركوع (رقم-۸۵۸) والنسائي كتاب الافتتاح /باب رفع اليدين حيال الأذنين باب رفع اليدين حيال الأذنين (رقم-۸۸۰)

تسهيلات:

د لاسونو اوچتولو په حد کښې د احنافو دليل: دَدې حديث تشريح توضيح او دَتکبيرتحريمه په وخت لاسونه اوچتولو مسئله او اختلاف په مکمل توګه دَدې نه مخکښې حديث نمبر (۷۴۳) کښې ليکلې شوی دی هلته اوګورئی. دلته په دې حديث کښې دَ لاسونو اوچتولو حد دَ غوږونو دَ پورتنئی حصې پورې دَ اوږلوبيان دې داد احنافو مستدل دې اوکوم حضرات چه صرف دَ سينې پورې لاسونه اوچتوی هغوی له پکاردی چه داحديث دې نه هيروی اولږشان همت دې کوی او لاسونه دې لږ پورته پورې اوړی.

[۷۹۶] د جلسه استراحت حکم

۷۹۳ ـــ()[۷] [۱] وَعَنْهُ، «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي» [۲] فَإِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ لَمْ يَنْهَضْ [۳] حَتَّى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] د مالک ابن حويرث ﷛ په باره کې منقول دي چې هغه رسول الله ﷺ په لمانځه کولو ليدلي دي [۲] حضور ﷺ چې به د خپل لمانځه په طاق رکعت (يعني اولني يا دريم) رکعت کې وو [۳] نو تر څو پورې چې به سيده نه وو کيناستلو نه به اودريدلو. (بخاري.)

حل اللغات: ① لَمْ يَنْهَضْ: أَيْ: لَمْ يَقُمْ: نه به اودريدلو، نه به پاڅيدلو.

تسهيلات:

قوله: "فِي وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ"

دحديث مطلب: مطلب دادې چه کله به رسول الله ﷺ مونځ کولو اودَ ړومبی رکعت يا دريم رکعت دَ آخری سجدې نه به ئی سر اوچتولو نواول به لږشان کيناستو آرام به ئی کولو اوبيابه مخکی رکعت دپاره پاسيدو. دَ فقهاؤ په اصطلاح کښې دې عمل ته جسله دَ استراحت وائی.

په جلسه استراحت کښې مذاهب:

① امام شافعی ﷫ جلسې د استراحت ته مطلقًا سنت وئيلی که په وخت دَ عذر وی اوکه په غيرعذر کښې وی داد عبادت حصه ده اوسنت دی. هغوی فرمائی چه دغه شان دکيناستو نه پس دَ پاسيدو طريقه هم دغه ده چه دواړه لاسونه په زمکه باندې کيخودوسره پاسی دا مسنون دی.

(۱) اخرجه بخاری کتاب الاذان باب قول الله تعالى: {منيبين إليه واتقوه وأقيموا الصلاة ولا تكونوا من المشركين} [الروم: ۳۱](رقم-۵۲۳) کتاب الصلاة،باب النهوض فی الفرد (رقم- ۸۴۴) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب کيف النهوض من السجود (رقم-۲۸۷) والنسائی کتاب التطبيق/باب الاستواء للجلوس عند الرفع من السجدتين باب الاستواء للجلوس عند الرفع من السجدتين (رقم- ۱۱۵۲)

② حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله اودَ مختار قول مطابق حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله او امام مالك رحمه الله فرمائي چه دا جسله دَ استراحت دَ عبادت دَ قسم سنت يا مستحب نه ده بلكه دا دَعذرونوسره متعلق دَ مجبورئي په وخت يوعمل دې او په حالت دَ مجبورئي باندې محول دې.

داول فريق دليل: زيربحث حديث دَ حضرت مالك بن حويرث رضي الله عنه روايت د دوى مستدل دې كوم چه په خپل مقصد باندې واضحه دليل دې.

داول فريق د دليل دوه جوابونه: ① دَ مالك بن حويرث رضي الله عنه روايت په حالت دَ عذر اومجبورئي باندې محمول دې. حضورپاك دَ بوډاوالي اوكمزورئي په حالت كښې يا دَ بيمارئي دَ وجې نه داسې عمل كړې دې او په حالت دَ عذركښې داكول ښه هم ښكاري.

② دَحضرت مالك بن حويرث رضي الله عنه روايت دَ جواز په بيانولو باندې محمول دې چه حضورپاك دَ بيان جواز دَپاره داسې كړي دي.

د دويم فريق دليل: دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت د دوى مستدل دې چه په سنن ترمذى كښې په دې الفاظوسره نقل دې. «عن ابى هريرة قال كان النبى صلى الله عليه وسلم ينهض فى الصلوة على صدور قدميه» (ترمذى ص: ۶۴)

امام ترمذى رحمه الله دَمالك بن حويرث رضي الله عنه روايت نه پس متصل حديث نقل كړې دې او په دې باندې ئې دَ اهل علم عمل خودلې دې دكوم نه چه معلوميږى چه داحديث صحيح دې او په كثرت سره امت په دې باندې عمل كړې دې.

اعتراض: دَدې حديث د سند په يو طريقه كښې خالد بن اياس راوى ضعيف وئيلې شوې دې نودا حديث ضعيف شو. اوقابل استدلال پاتې نه شو.

داعتراض جواب: دَ يو طريق په وجه سره دَ اصل حديث صحت نه متاثركيږى. هم دغه روايت په مصنف ابن ابى شيبه كښې داسې نقل دې: «عن ابن مسعود انه كان ينهض فى الصلوة على صدور قدميه ولم يجلس»

هم دغه شان روايت دَ حضرت على رضي الله عنه، حضرت ابن عمر رضي الله عنهما اوحضرت زبير رضي الله عنه نه هم مصنف ابن ابى شيبه كښې ذكر دې بلكه دَ شعبى رحمه الله په حواله سره ابن ابى شيبه داسې فرمائي: "عن الشعبى قال كان عمرو على واصحاب النبى صلى الله عليه وسلم ينهضون فى الصلوة على صدور اقدامهم" (كذا فى المعات[اشعة المعات: ۳۸۳]

د دويم فريق دويم دليل: دَ باب التشهد فصل ثانى آخرى حديث نمبر(۸۹۸) هم د دوى مستدل دې. چه مشكوة ص: ۸۵ باندې ذكر دې الفاظ دادى: «وعن عبد الله ابن مسعود قال كان النبي صلى الله عليه وسلم في الركعتين الاوليين كانه علي الرضف حتي يقوم» (رواه ترمذى)

يادلرئى چه دَعلامه توربشتى رحمه الله دَ تشريح مطابق داحديث دَ جمهورو دليل دې ګنى نورو

شارحينو دَدې مطلب تشهد قعده اولى بيان كړې دې.

نوټ: دَ فقهاؤ داختلاف دَ جواز اوعدم جواز نه دې بلکه دَ اولى اوغير اولى اختلاف دې. باقي شوافع چه دَ مونځ گذار دَ اودريدو کومه طريقه خودلې ده چه دواړه لاسونه په زمکه باندې کيږده جمهورو دَدې باره کښې فرمائي دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما په روايت کښې دَدې قسم اودريدو ممانعت راغلې دې. باب تشهد کښې حديث نمبر(۸۹۸) لاندې به دَدې بحث ان شاء الله راځي.

[۷۹۷] د تکبير تحريمه څخه وروسته د لاسونو کيخودلو محل

۷۹۷ـ(¹) [۸] ۱ وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ: ۲ «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- رَفَعَ يَدَيْهِ حِينَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ ۳ ثُمَّ الْتَحَفَ بِثَوْبِهِ، ۴ ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى، ۵ فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ أَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنَ الثَّوْبِ، ۶ ثُمَّ رَفَعَهُمَا وَكَبَّرَ فَرَكَعَ، ۷ فَلَمَّا قَالَ: "سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" رَفَعَ يَدَيْهِ، ۸ فَلَمَّا سَجَدَ، سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ د وائل ابن حجر رضي الله عنه په باره کې منقول دي ۲ چې هغه حضور ﷺ وليدلو چې حضور ﷺ د مونځ شروع کولو په وخت کې دواړه لاسونه پورته کولو سره تکبير وويلو ۳ بيا لاسونه يې په کپړه کې دننه کړل ۴ او ښي لاس يې په ګس لاس کېښودلو ۵ بيا چې رکوع ته د تلو اراده يې وکړله نو دواړه لاسونه يې د کپړې څخه راوښکل ۶ هغه يې اوچت کړل او تکبير ويلو سره رکوع ته لاړلو ۷ او کله چې (د رکوع څخه د ودريدو په وخت يې) سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَہٗ اوويل نو (هغه وخت هم) لاسونه يې پورته کړل ۸ بيا چې يې سجده کوله نو د دواړو لاسونو په مينځ کې يې وکړله (يعني خپل سر مبارک يې د دواړو ورغوو په مينځ کې کېښودلې. (مسلم)

د راوي مختصر حالات: وائل بن حجر رضي الله عنه دَ شان والاصحابى دې چه دَحضورپاك په آخرى عمر کښې مسلمان شوې وو. دې دَ حضر موت اوسيدونکې وو اودَهغه ځائى دَ قبائلو سردرانونه وو اودَ هغه پلار دَ حضرموت وغيره بادشاه وو. وائل بن حجر رضي الله عنه غالبًا سنة الوفود کښې مدينې ته راغلو پخپله رضا اورغبت ئې اسلام قبول کړو. وئيلې شي چه دَهغه دَ راتلونه وړاندې رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته داسې زيرې اورولې وو تاسوله دَ ډير لرې علاقې حضرموت نه وائل بن حجر رضي الله عنه مسلمان کيدوسره راروان دې چاچه الله تعالى اودَهغه رسول ﷺ په رضا اورغبت سره دَ زړه نه منلې دى اوهغه دَخپلو علاقو دَ بادشاهانو دَ شهزادگانونه يو شهزاده دې.

کله چه حضرت وائل رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته راورسيدو نو حضورپاك دَهغوى په ډير گرمجوشئ سره استقبال اوکړو او هغه ئې خپل ځان ته نيزدې کړو اوبيائې خپل څادر

(¹) اخرجه مسلم كتاب الصلاة، باب وضع يده اليمنى على اليسرى بعد تكبيرة الإحرام تحت صدره فوق سرته، ووضعهما في السجود على الأرض حذو منكبيه (رقم- ٥٤ - (٤٠١)

خور کړو په هغې نی کینولو اودَهغه په حق کښې دا دعـا اوفرمائیلـه "اللهم بارك في وائل وولده وولدولده" رسول الله ﷺ حضرت وائـل رضی الله عنه دَخپلې علاقې سردارمقررکړو. حضرت وائـل رضی الله عنه زیـات تـر دَحضورپاك دَ مـونځ کیفیت بیـان کـړې دې. دَهغـه دَ پـلار نـوم حجر دې حاء وراندې جیم روستـو دې. دَحضرت معاویـه رضی الله عنه دَخلافت پـه زمانـه کښې دَهغـوی انتقـال شوې.

حل اللغات: ① اَلْتَحَفَ: أي: تَسَتَّرَ: پټ نې کړل، دننه نې کړل.

تسهیلات: **قوله:** ثُمَّ وَضَعَ یَدَهُ الْیُمْنٰی عَلَی الْیُسْرٰی:

په دې حدیث کښې د دریو مسائلوبحث کول دی.

اول بحث: د قیام په حالت کښې د لاسونو په تړلواو ارسال کښې مذاهب:

① دَ امـام مالـك رحمه الله مشـهورقول دَارسـال دې یعنـی پـه حالـت قیـام کـښې لاسـونه پـه نامـه وغیره باندې نه ایږدی بلکـه پریـخودې شـی. دَهغـوی دویـم قـول دَ جمهـورو پـه شـان دې چـه لاسونه تړل سنت دی.

② دَ جمهور سلف اوخلف مسلك دادې چـه دَ قیـام پـه حالـت کـښې وضـع یـدین سـنت دی یعنی مونځ ګذار چه کله په مانځه ولاړ وی نولاسونه تړل سنت دی ارسال نه دې.

د اول فریق دلیل: دوی دَ قیاس نه استدلال کړې دې چه کله یوسړې دَ بادشاه په مخکښې اودریږی نو مرعوب کیدوسره لاسونه پرېږدی تړی نه. لهذا چه کله سړې دَ احکم الحاکمین مخې تـه راځـی پـه مانځـه اودریـږی نـودَ رعـب اوهیبت تقاضـا ده چـه لاسـونه دې پریـږدی دَ تړلوکوشش دې نه کوی.

د اول فریق د دلیل جواب: دَدغه تړولو احادیثو پـه موجـودګئی کـښې حضرت امـام مالـك رحمه الله دَ قیـاس هیڅ مقام نشته دې ځکه چې د نقص په مقابله کښې قیاس باطل وی.

د دویم فریق دلائل:

① زیربحث حدیث د دوی مستدل دې چه په خپل مقصد کښې ښه واضحه دې.

② دَحضرت سعد بن سهل رضی الله عنه حدیث نمبر(۷۹۸) هم د دوی مستدل دې.

③ دَ فصل ثانی حدیث نمبر(۸۰۳) دَحضرت قبیصه رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې

دویم بحث: په قیام کښې د وضع یدینو په محل کښې مذاهب:

کله چه په دې حدیث کښې په مانځه کښې دَلاسونو تړلو صـراحت اوشـو نـو اوس دَ جمهـورو په خپل مینځ کښې اختلاف پیداشو چه لاسونه کوم ځائی اوتړلې شی.

① امام ابوحنیفه رحمه الله امام احمد بن حنبل رحمه الله اوسفیان ثوری رحمه الله دَ مشهور قول مطابق په مانځه کښې لاسونه دَ نامه لاندې تړل غوره دی.

② دَ امام شافعي رحمه الله په نيز او په يوغير مشهور قول کښې دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز په مانحه کښې لاسونه دَ سينې لاندې او نامه دَپاسه کيخودل غوره دي. (کذا في رحمة الامة في اختلاف الائمه ص: ۳۲)

د اول فريق دليل: دَ صحيح ابن حزيمه روايت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چې دا شان دي: "فوضع يده اليمنى على اليسرى على صدره" په دې روايت کښې په سينه باندې دَ لاسونو کيخودو ذکر دې.

ددويم فريق دلائل: ① دويم فريق دَحضرت علي رضي الله عنه دَ اثر نه استدلال کړې دې الفاظ ئې دا دي: "قال من السنة وضع الكف على الكف في الصلوة تحت السرة" (سنن بيهقي)

② دَ حضرت وائل بن حجر رضي الله عنه روايت هم د دوی مستدل دې. دکوم الفاظو چې دا دي. "عن وائل بن حجر قال رأيت النبي صلى الله عليه وسلم وضع يمينه على شماله تحت السرة". (مصنف ابن ابي شيبه ج۱ ص۳۹۸)

د اختلاف مذکور نوعيت: يادلرئی دَ لاسونوتړلو دَمقام دَتعيين باره کښې چه څومره روايتونه دي دَاصول جرح اوتعديل په رڼا کښې په هغه ټولو باندې کلام دې. احنافوچه دَ کوموروا ياتونه استدلال کړې دې په هغې باندې دَ شوافع دَ مستدلات نه نسبتًا کم کلام کړې شوې دې بهرحال دادَ افضل او غيرافضل مسئله ده. بيا دَ جوازدَبيان دَپاره داسې عمل کړې شوې دې لهذا دا څه دومره لويه جګړه نه ده. امام ترمذي رحمه الله داسې فيصله کړې ده. "والعمل على هذا عند اهل العلم من اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم ومن بعدهم يرون ان يضع الرجل يمينه على شماله في الصلوة ورأى بعضهم ان يضعهما فوق السرة ورأى بعضهم ان يضعهما تحت السرة وكل ذلك واسع عندهم". (ترمذي ج۱ ص۵۹)

دريم بحث د لاسونوتړلو په کيفيت کښې مختلف روايات

دَ لاسونو تړلوپه کيفيت کښې هم اختلاف دې بلکه دَ آئمه احنافو په خپل مينځ کښې هم اختلاف دې. ① دَدې وجه داده چه بعض روا ياتوکښې وضع الکف ذکرراغلې دې لکه چه پورته دَحضرت علي رضي الله عنه په روايت کښې دې.

② بعض روا ياتوکښې ښې لاس دَ ګس لاس په مرونډ باندې دَ کيخودو ذکر راغلې دې لکه دَ حضرت سعد بن سهل رضي الله عنه حديث نمبر (۷۹۸) کښې چه دي.

③ بعض روا ياتوکښې دَ رسغين ذکر هم راغلې دې.

د رواياتو په مينځ کښې تطبيق: علماء کرامو په دې کښې يوبهترين تطبيق کړې دې په کوم سره چه په ټولو روا ياتوباندې په آسانئ سره عمل کيږی مثلاً دَ ښي لاس تلې دَ ګس لاس په شا باندې کيخودې شي او غټې ګوتې اوکچې ګوتې دَ ګس لاس په مرونډ نه راتاؤکړی اودَ ښي لاس باقي درې ګوتې دَ ګس لاس مرونډ باندې کيږدی. دغه شان کف

رسغین او ذراع والا تول روایاتو باندې به عمل اوکړې شي. اوداخبره یادساتل پکاردي چه بعض خلق په پوره لاسونو او متې د اوږو پورې اوږلوسره یویه بل راتاو کړي په سینه باندې ایږدي دا مسنون شکل نه دې په دې وجه دا شکل ښه هم نه ښکاري.

قوله: مِنَ الثَّوْبِ:

یوه نکته: داسې معلومیږي چه حضرت وائل رضي الله عنه حضوراکرم ﷺ د یخنئی په موسم کښې کتلې په دې وجه رسول الله ﷺ لاسونه په کپړو کښې پټ کړي وو.

قوله: بَيْنَ كَفَّيْهِ:

په سجده کښې د مخ کیخودو مسنون طریقه: مسنون طریقه هم دغه ده چه د سجدې په حالت کښې دواړه لاسونه غوږونو سره داسې کیخودې شی که د غوږونونه څه پریوځي نوچه هغه د لاسونو په شاباندې پریوځی داسې نه وی چه لاسونه ئی شاته په زمکه باندې ایخودې وی او سر ئی وړاندې وی یا سرئی روستو وی او لاسونه ئی وړاندې وی اونه دې داسې وی چه لاسونه د سر او مخ نه ډیر لرې کیخودې وی.

[۷۹۸] په قیام کښې ښې لاس په ګس لاس کیخودل

۷۹۸ ــ (۱) [۹] ۱ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُونَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ الْيَدَ الْيُمْنَى عَلَى ذِرَاعِهِ الْيُسْرَى فِي الصَّلَاةِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ سهل ابن سعد رضي الله عنه فرمایي ۲ چې خلقو ته به حکم ورکول کیدو چې مونځ کونکي دې په لمانځه کې ښي لاس د ګس لاس دپاسه ایږدي. (بخاري)

تسهیلات: نوټ: د دې حدیث تشریح وړاندې تیره شوې ده.

[۷۹۹] په مانځه کښې د تکبیراتو ځایونه

۷۹۹ ــ (۲) [۱۰] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ، ۳ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ، ۴ ثُمَّ يَقُولُ: "سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ، ۵ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ "رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ" ۶ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِي، ۷ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ۸ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ، ۹ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ، ۱۰ ثُمَّ يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتَّى يَقْضِيَهَا، ۱۱ وَيُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوسِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ابوهریره رضي الله عنه فرمایي ۲ چې رسول الله ﷺ به کله د لمانځه اراده کوله نو د

(۱) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب وضع الیمنی علی الیسری فی الصلاة (رقم-۷۴۰) ومالک فی الموطا کتاب قصر الصلاة فی السفر . باب وضع الیدین إحداهما علی الأخری فی الصلاة (رقم-۴۷)

(۲) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب إقبال الإمام علی الناس، عند تسویة الصفوف (رقم-۷۱۹) ومسلم کتاب الصلاة ، باب إثبات التکبیر فی کل خفض، ورفع فی الصلاة إلا رفعه من الرکوع فیقول: فیه سمع الله لمن حمده (رقم-۲۸ - (۳۹۲) والنسائی کتاب التطبیق/باب التکبیر للسجود باب التکبیر للسجود (رقم-۱۱۵۰)

ودريدو په وخت به يې تكبير تحريمه ويله۞٣ بيا ركوع ته د تلو په وخت به يې تكبير ويلو۞٤ او هر كله چې د ركوع څخه خپله مّلا مباركه به يې پورته كوله نو سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ به يې ويل۞٥ بيا په ولاړه به يې رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ ويل۞٦ بيا چې (د سجدې د پاره) به ښكته كيدلو نو تكبير به يې ويلو۞٧ او د سجدې څخه چې سر به يې پورته كولو نو تكبير به يې ونيلو۞٨ بيا به يې تكبير ويلو كله چه به سجدې ته تلو۞٩ بيا به ئې تكبير ويلو كله چه به يې سر پورته كولو ۞١٠ بيا د لمانځه تر پوره كولو پورې په ټول لمانځه كې به يې داغسې كول۞١١ او كله چې به دوو ركعاتو كولو څخه وروسته ودريدلو نو تكبير به يې ويلو. (بخاري،مسلم.)

حل اللغات: ① يَهْوِي: أَيْ: يَهْبِطُ وَيَنْزِلُ إِلَى السُّجُودِ: ښكته كيدلو به سجدې ته.

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث د مختلفو اجزاؤ تشريح په مختلف احاديثو كښې تيره شوې ده.

[٨٠٠] د اوږد قيام افضليت

٨٠٠–()[١١]۞١ وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "۞٢ «أَفْضَلُ الصَّلَاةِ طُولُ الْقُنُوتِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۞١ حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل۞٢ د ټولو څخه بهتر مونځ هغه دي چې په هغه كې قيام اوږد وي. (مسلم)

حل اللغات: ① طُولُ الْقُنُوتِ: أَيْ طُولُ الْقِيَامِ: يعنى چه قيام پكښې اوږد وى، د قنوت ډيرې معانې دى دلته په معنى دقيام سره دې.

تسهيلات: **قوله:** طُولُ الْقُنُوتِ:

د قنوت مختلف معانى:

① لفظ قنوت معنى دَ سكوت هم دې
② دَدې معنى طاعت هم دې.
③ دَدې معنى قيام هم دې دعا هم ده.
④ په معنى دَ خشوع اوخضوع هم دې.
⑤ په قنوت نازله باندې هم يادېږى
⑥ په مانځه كښې قيام دې

دلته ترې دا شپږمه معنى مراد ده يعنى په مانځه كښې ترډير وخته پورې اودريدل او قرآن كريم لوستل افضل دى.

[١] اخرجه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب أفضل الصلاة طول القنوت (رقم-١٦٤ - (٧٥٦) وابن ماجة باب ما جاء في طول القيام في الصلوات (رقم-١٤٢١) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في طول القيام في الصلاة (رقم-٣٨٧)

د نفلي مونځ ادا کولو دوه طریقي: ① چه سړي قیام او قراءت اوږد نه کړي بلکه هم په دومره وخت کښي مختصر مختصر مګر دَ زیات نه زیات رکعتونه اوکړي دې ته کثرت سجود وائیلی شي.
② چه سړي په مانځه اودریږي او بیا اوږد قراءت اوکړي او اوږده رکعتونه اوکړي دې ته طول قیام وائي.
د دواړو طریقو په جواز اتفاق: په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې چه دا دواړه طریقې جائز او دَ اجراوثواب سبب دی لیکن په دې کښې بحث دې چه په دې کښې کومه یوه طریقه ډیره غوره ده.

په طول قیام او کثرت سجود په افضلیت کښي مذاهب:

① دَبعضي سلف په نیزباندې کثرت السجود بهتر دی دَامام شافعي رحمه الله یو قول هم دغه شان دې چه تکثیر سجود افضل دی
② بعض حضراتو دواړه برابر ګرځولی دی
③ بعض حضرات دَ شپې طول قیام اودَ ورځي کثرت سجود ته افضل وائیلي دي.
④ شوافع اواحناف بلکه جمهور په نیزطول قیام افضل دي
اصل جګړه د اول او څلورم فریق دې دویم او دریم د دې واړو په ضمن کښې راځی. د دې وجې صرف د اول او څلورم فریق دلائل ذکر کولی شي.
داول فریق دلیل: په حدیث کښې راغلی دی کله چه بنده په سجده کښې وی نوهغه دَ خپل رب سره دَ ټولو نه زیات نیزدې وی.
د څلورم فریق دلیل: په طول قیام کښې تلاوت قرآن دې او په مانځه کښې تلاوت دَ مانځه دَتسبیحاتونه غوره دی.
د څلورم فریق وجوه ترجیح: ① پخپله نبی کریم ﷺ طول قیام غوره ګرځولي دي
② قرآن په طول قیام کښي زیات لوستلي شی او تلاوت افضل دې دَ تسبیحات نه اودَ تسبیحات کثرت سجود دَدوو رکعتو په کثرت سره کیږی.
باقي سجده غوره ده یا قیام غوره دې دَدې بحث به ان شاء الله باب السجود کښي راځی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۸۰۱]د نبی علیه السلام د مانځه طریقه

۸۰۱ –()[۱۲][۱]عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-،[۲]قَالَ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: «أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-،[۳]قَالُوا: فَاعْرِضْ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ[۴]حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ ثُمَّ يُكَبِّرُ،[۵]ثُمَّ يَقْرَأُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ وَيَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ،

ترجمه:[۱] د ابو حمید ساعدي رضی الله عنه په باره کې منقول دي[۲]چې هغه د رسول الله ﷺ دلس صحابه کرامو رضی الله عنهم جماعت ته او ویل چې زه د رسول الله ﷺ د لمانځه طریقه ستاسو څخه زیاته ښه پیژنم[۳] د صحابه وو رضی الله عنهم جماعت ورته او ویل ښه بیان یې وکړه نو هغه او ویل چې حضور ﷺ چې به د لمانځه د پاره ودریدلو نو خپل دواړه لاسونه به یې پورته کړل او[۴] د اوږو برابر به یې وړل او تکبیر به یې ویلو[۵] بیا به یې قراءت کولو د دې څخه وروسته تکبیر ویلو سره خپل دواړه لاسونه به یې تر اوږو پورې پورته کول.

حل اللغات: ① اعْرِضْ: دا د امر حاضر صیغه ده د باب افعال نه، یعنی پیش کړه، أي: بَيِّنْ: بیان کړه.

تسهیلات:

نوټ: د دې حدیث تشریح وړاندې په مختلفو روایاتو کښې تیره شوې ده.

[۱]ثُمَّ يَرْكَعُ وَيَضَعُ رَاحَتَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ،[۲] ثُمَّ يَعْتَدِلُ فَلَا يُصَبِّي رَأْسَهُ وَلَا يُقْنِعُ،[۳] ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَيَقُولُ: "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ"[۴] ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ مُعْتَدِلًا، ثُمَّ يَقُولُ "اللّٰهُ أَكْبَرُ"،[۵] ثُمَّ يَهْوِي إِلَى الْأَرْضِ سَاجِدًا،[۶] فَيُجَافِي يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ،[۷] وَيَفْتَحُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ،[۸] ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا،[۹] ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتَّى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ فِي مَوْضِعِهِ مُعْتَدِلًا،

ترجمه:[۱]او رکوع ته تلو سره دواړه ورغوي به یې په خپلو ګونډو ایښودل[۲]او ملا (شا) به یې سیده کوله او سر به یې نه ښکته کولو او نه بلند کولو (یعني شا او سر به یې برابر ساتل)[۳] بیا د سر پورته کولو په وخت به یې سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ویل[۴]او دواړه لاسونه به یې تر اوږو پورې پورته کول او سیده به ودریدلو[۵] بیا به تکبیر ویلو سره زمکې ته ښکته کیدو او سجده به یې کوله[۶] او (په سجده کې) خپل دواړه لاسونه به یې د خپل دواړو اړخونو څخه جدا ساتل[۷] او بیا به ئې ګوتې د پښو خپلو (او د قبلې طرف ته به ئې ساتلې)[۸] بیا به یې د سجدې څخه سر پورته کولو او ګسه خپه (غوړولو سره) په هغې به سیده کیناستلو[۹] بیا به په قرار (مطمئن) شو تردې چې هر اندام به په خپل ځای ته برابر راتلو.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب افتتاح الصلاة (رقم-۷۳۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب إتمام الصلاة (رقم-۱۰۶۱) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في وصف الصلاة (رقم-۳۰۴)

تسهيلات:

نوټ: د دې حديث تشريح وړاندې په مختلفو رواياتو کښې تيره شوې ده.

[۱] ثُمَّ يَسْجُدُ، [۲] ثُمَّ يَقُولُ "اللهُ أَكْبَرُ"، وَيَرْفَعُ وَيَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا، [۳] ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتَّى يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ إِلَى مَوْضِعِهِ، [۴] ثُمَّ يَنْهَضُ، ثُمَّ يَصْنَعُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ، [۵] ثُمَّ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ كَبَّرَ [۶] وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ كَمَا كَبَّرَ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ، [۷] ثُمَّ يَصْنَعُ ذٰلِكَ فِي بَقِيَّةِ صَلَاتِهِ، [۸] حَتَّى إِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِي فِيهَا التَّسْلِيمُ أَخَّرَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى، [۹] وَقَعَدَ مُتَوَرِّكًا عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ، ثُمَّ سَلَّمَ، [۱۰] قَالُوا: صَدَقْتَ هٰكَذَا كَانَ يُصَلِّي». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ، وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ مَعْنَاهُ.

ترجمه: [۱] بيا تکبير وئيلو (دويمې) سجدې ته به تلو [۲] بيا الله اکبر ويلو سره (د سجدې څخه) به پورته کيدې او په ګسه خپه باندې به په اطمينان سره کيناستلو (يعني جلسۀ استراحت به يې کوله) [۳] بيا به په قرار (مطمئن) شو تر دې چې د بدن هر عضو (اندام) به په خپل ځاې راتلو [۴] بيا به ئې په دويم رکعت کې هم (ماسوا د سبحانك اللهم او اعوذ بالله ويلو سره) دغسې کول [۵] او هر کله چې به ددويم رکعت کولو (يعني د تشهد) څخه وروسته ودريدلو نو الله اکبر به يې ويلو [۶] او دواړه لاسونه به يې تر اوږو پورې پورته کول څنګه چې د لمانځه شروع کولو په وخت به يې تکبير ويلو [۷] بيا باقي مونځ به يې دغسې ادا کولو [۸] او هر کله چې هغه سجده (يعني د آخرې رکعت دويمه سجده) به يې وکړه چې د هغې څخه وروسته سلام ګرځول کيږي نو خپله ګسه خپه به يې بهر راوښکله [۹] او د ګس طرف په اړخ (کناتې) به کيناستلو او بيا (د تشهد وغيره ويلو وروسته) به يې سلام ګرځولو [۱۰] (دې اوريدو سره) هغه ټولو صحابه وؤ ﷺ اوويل بيشکه تا رښتيا اوويل رسول الله ﷺ به دغسې مونځ کولو (ابوداؤد، دارمي) ترمذي او ابن ماجه دا روايت بالمعنی نقل کړې دې

حل اللغات: ⓶ رَاحَتَيْهِ: أَيْ: كَفَّيْهِ: دواړه اوږې مراد دی. ⓷ لَايُصَبِّي: دَ باب تفعيل نه دې، أَيْ: لَايُنْزِلُ: نه به ئې ښکته کولو (سر)، (تصبية د پورته نه ښکته راتلو ته وائي). ⓸ لَايُقْنِعُ: دَ باب افعال نه دې. أَيْ: لَا يَرْفَعُهُ: په رکوع کښې سر زيات نه اوچتولو. ⓹ يَهْوِي: أَيْ: يَهْبِطُ وَيَنْزِلُ إِلَى السُّجُودِ: ښکته کيدلو به سجدې ته. ⓺ فَيُجَافِي: أَيْ: يُبَاعِدُ: جدا او لرې به ئې ساتل، ⓻ يُثْنِي: ثنی يثنی دَ تاوولو په معنی کښې دې په قعده کښې دکيناستلو دَپاره خپه تاولوسره په هغې باندې کيناستو کيفيت خودلې شوې دې. ⓼ يَنْهَضُ: أَيْ: يَقُومُ: اودريدلو به.

[۱] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [۲] وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ مِنْ حَدِيثِ أَبِي حُمَيْدٍ: [۳] «ثُمَّ رَكَعَ فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ كَأَنَّهُ قَابِضٌ عَلَيْهِمَا، [۴] وَوَتَّرَ يَدَيْهِ فَنَحَّاهُمَا عَنْ جَنْبَيْهِ، [۵] وَقَالَ: ثُمَّ سَجَدَ فَأَمْكَنَ أَنْفَهُ وَجَبْهَتَهُ الْأَرْضَ، [۶] وَنَحَّى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ، [۷] وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ، [۸] وَفَرَّجَ بَيْنَ فَخِذَيْهِ غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهُ عَلَى شَيْءٍ مِنْ فَخِذَيْهِ حَتَّى فَرَغَ،

ترجمه: [۱] او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دې، [۲] د ابوداؤد په يو روايت

کې چې د ابو حمید څخه روایت دي دا الفاظ دي[۳] بیا رکوع ته تلو سره دواړه لاسونه به یې په زنګونانو داسې ایښودل چې په مضبوطي سره به یې نیولي وو[۴] او خپل لاسونه به یې (د لیندې) د تار په شان ایښودل او څنګلې به یې د خپلو دواړو اړخونو څخه جدا ساتلې [لکه چې، څنګلې یې (د لیندې) د تار مشابه وي او اړخ یې د لیندې مشابه] [۵] او راوي وایي چه بیا به سجدې ته تلو نو خپله پوزه او تندې به یې په زمکه لګول[۶] او لاسونه به یې د اړخونو څخه جدا ساتل[۷] او دواړه لاسونه به یې د اوږو په برابرې کې[۸] او دواړه ورنونه به یې کشاده (کولاو) ساتل او خپل نس (خیټه) به یې دورنو څخه جدا ساتلو تر دې چې د سجدې څخه به فارغ شو.

حل اللغات: ⑨ مُتَوَرِّكًا: التَّوَرُّكُ أَنْ يَجْلِسَ الرَّجُلُ عَلَى وَرِكِهِ، أَيْ: جَانِبِ أَلْيَتِهِ وَيُخْرِجُ رِجْلَهُ مِنْ تَحْتِهِ: تورک داسې کیناستلوته وائې چه سړې په یو اړخ (کوناټې) باندې کینې او خپه ددې لاندې راوباسي. ⑩ قَابِضٌ: په موټې کښې نیونکې. ⑪ وَتَّرَ: وَهُوَ جَعْلُ الْوَتَرِ عَلَى الْقَوْسِ: توتیر دَ باب تفعیل نه دې په لنده باندې پټه خیژولوته وائې. ⑫ فَنَحَّاهُمَا: په دې الفاظوسره دَدې تفسیر مقصود دې یعنې څنګه چه په لنده باندې کله پټه اوخیژولې شي هغه وخت دَ لندې دواړه طرفونه جدا کیږي دغه شان دلته لاسونه دَ اړخونونه جدا کیدل.

[۱] ثُمَّ جَلَسَ، فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى[۲] وَأَقْبَلَ بِصَدْرِ الْيُمْنَى عَلَى قِبْلَتِهِ،[۳] وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى،[۴] وَكَفَّهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى،[۵] وَأَشَارَ بِأُصْبُعِهِ - يَعْنِي السَّبَّابَةَ» -[۶] وَفِي أُخْرَى لَهُ: «وَإِذَا قَعَدَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَعَدَ عَلَى بَطْنِ قَدَمِهِ الْيُسْرَى، وَنَصَبَ الْيُمْنَى،[۷] وَإِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ أَفْضَى بِوَرِكِهِ الْيُسْرَى إِلَى الْأَرْضِ[۸] وَأَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَاحِدَةٍ»

ترجمه: [۱] بیا به داسې ناست وو چې ګسه خپه به یې وغوړوله[۲] او د ښي پښې پشت (شا) به یې د قبلې طرف ته کړله[۳] او ښي لاس به ئې په ښي زنګون باندې کېښودلو [۴] او ګس لاس به یې په ګس زنګون باندې کېښودلو[۵] او [د اشهد ان لا اله الله ویلو په وخت به یې پخپله ګوته یعنې] په سبابه ګوتې سره ئې اشاره کوله[۶] او د ابوداؤد په یو بل روایت کې دا الفاظ دي چې کله به دوه رکعاته کولو نه پس کیناستلو نو د ګسې خپې په تلې به کیناستلو او ښي پښه به یې ودروله[۷] او چه د څلورم رکعت کولو نه پس به کیناستلو نو ګس اړخ (کوناټې) به یې د زمکې سره یو ځاې کولو [۸] او دواړه پښې به یې یو طرف ته وښکلې.

حل اللغات: ⑬ غَيْرَ حَامِلٍ: أَيْ: غَيْرَ وَاضِعٍ: بوج به ئې نه راوستلو، نه به ئې ایخودلو. ⑭ بِصَدْرِ: صدر سینې ته وائې دلته ترې د ښي خپې پنجه مراد ده. وَذَلِكَ بِوَضْعِ بَاطِنِ الْأَصَابِعِ عَلَى الْأَرْضِ مُقَابِلَ الْقِبْلَةِ: کله چه په مونځ کښې په تشهد کښې دښې خپې ګوتې اودرولې شي نو د خپې شا قبلې طرف ته شي.

تسهيلات:

قوله: "أَنَا أَعْلَمُكُمْ"

د اظهار حقيقت په توګه خپل ځان ته لوی عالم ويل:

ممکن دی چه حضرت ابوحميد الساعدی رضي الله عنه په دغه موجود صحابه کرامو کښې په عمر کښې مشروی په دې وجه ئې اوفرمائيل چه زه تاسو نه زيات پوهيږم.

شيخ عبدالحق رحمه الله اشعة المعات کښې په دې مقام باندې ليکلی دی چه که چرې يوسړې خپل ځان ته زيات عالم وائی او هغه دَفخر اوتکبر دَپاره نه وی بلکه دَ حقيقت دَ اظهار دَپاره داسې وائی نو دا جائز دی. اوکه يوسړې دکبر اولوئې دَپاره اودَ ځان خودلو دَپاره خپل ځان ته لوئی عالم وائی نو دا ناجائز دی.

قوله: "ثُمَّ يُكَبِّرُ" داجمله په دې باندې دلالت کوی چه په تکبير تحريمه کښې اول لاسونه اوچتولې شی اوکله چه لاسونه دَ غوږونو برابر شی نوبيا الله اکبر وئيل پکاردی. دَ احنافو دَ فقهاؤ نه صاحب دَ هدايه وغيره اکثرو فقهاؤ هم دغه رائې ده البته امام ابويوسف او امام طحاوی رحمه الله په نيز مقارنت بهتردې يعنی چه کوم وخت لاسونه اوچت کړی هم هغه وخت دې الله اکبر هم شروع کړی.

قوله: "فَأَمْكَنَ أَنْفَهُ وَجَبْهَتَهُ الْأَرْضَ"

په سجده کښې د پوزې اوتندی په زمکه لګولو فرضيت: معلومه شوه چه دَ سجدې دَ صحيح کيدو دَپاره ضروری دی چه پوزه اوتندې دواړه په زمکه باندې ښه کلك کيخودې شی دَ ټولو احاديثو نه هم دغه معلوميږی. که چرې دَ مجبورئی او عذر دَ وجې نه دې دواړو کښې يوسره سجده اوکړه نوبغير دَ کراهت نه جائز ده.

صرف په پوزه يا تندی سجدې کولو کښې دوه صورتونه: ① که بغير دَ څه عذر اومجبورئی په يو اندام باندې سجده اوکړه نو په دې کښې داتفصيل دې چه که چرې صرف تندې کيخودو سره ئې

سجده اوکړه پوزه ئې کينه خوده نو دامکروه دی البته سجده اوشوه مونځ اوشو

② که چرې تندې کينه خودو صرف پوزه کيخودو سره ئې سجده اوکړه

په دويم صورت کښې اختلاف: ① په دويم صورت کښې دَ امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز په دې صورت کښې هم سره د کراهت سجده اوشوه مونځ صحيح شو ② امام ابويوسف رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نيز په دې صورت کښې سجده صحيح نه ده په دې وجه مونځ فاسد شو.

مفتی به قول: دَ احنافو فتویٰ هم د صاحبينو په قول باندې ده.

[۸۰۲] د تکبیر تحریمې په وخت د لاسو نو پورته کولو اندازه

۸۰۲—( )[۱۳] ۱ «وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ۲ أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَرَفَعَ يَدَيْهِ ۳ حَتَّى كَانَتَا بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ، ۴ وَحَاذَى إِبْهَامَيْهِ أُذُنَيْهِ، ثُمَّ كَبَّرَ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، ۵ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: يَرْفَعُ إِبْهَامَيْهِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ.

ترجمه: ۱ وائل ابن حجر رضی الله عنه راوي دی ۲ چې هغه رسول الله ﷺ ولیدلو چې کله به لمانځه ته ودریدلو نو دواړه لاسونه به یې دومره پورته کول ۳ چې د اوږو برابر به رسیدل ۴ او دواړه بتې (غتې) ګوتې به یې تر غوږونو پورې یووړلې بیا به یې تکبیر وویلو. (ابوداؤد)
۵ او د ابوداؤد په یو روایت کې دا الفاظ دي چې رسول الله ﷺ به بتې ګوتې د غوږونو تر نرمې پورې، پورته کولې.

حل اللغات: ① بِحِيَالِ: أي: بِحِذَائِهِمَا: مخامخ، برابر. ② حَاذَى: برابر. ③ إِبْهَامَيْهِ: متې، غتې ګوتې.

تسهیلات: نوټ: د ترجمې څخه مطلب واضح دی.

[۸۰۳] په قیام کښې د لاسو نو د ترلو حکم

۸۰۳—( )[۱۴] ۱ «وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: ۲ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ يَؤُمُّنَا ۳ فَيَأْخُذُ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ قبیصه ابن هلب رحمه الله د خپل پلار بزرګ څخه نقل کوي ۲ چه حضور ﷺ چې به مونږ ته مونځ راکولو ۳ نو (په قیام کې به یې) په خپل ښي لاس سره ګس لاس نیولو. (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: ① يَؤُمُّنَا: أي: يَصِيرُ إِمَامًا لَنَا: زمونږ امام به جوړشو.

تسهیلات: د ترجمې څخه مطلب واضح دی.

[۸۰۴] د ارکانو تعدیل

۸۰۴—( )[۱۵] ۱ وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «جَاءَ رَجُلٌ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ، ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۳ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعِدْ صَلَاتَكَ، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ۴" فَقَالَ: عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ أُصَلِّي؟ ۵ قَالَ: "إِذَا تَوَجَّهْتَ إِلَى الْقِبْلَةِ فَكَبِّرْ، ۶ ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ، وَمَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَقْرَأَ، ۷ فَإِذَا رَكَعْتَ فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ، ۸ وَمَكِّنْ رُكُوعَكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ،

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب رفع الیدین فی الصلاة (رقم-۷۲٤) والنسائی کتاب الافتتاح/باب موضع الإبهامین عند الرفع باب موضع الإبهامین عند الرفع (رقم-۸۸۲)
(۲) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی وضع الیمین علی الشمال فی الصلاة (رقم - ۲۵۲) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها ،باب وضع الیمین علی الشمال فی الصلاة (رقم-۸۰۹)
(۳) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب صلاة من لا یقیم صلبه فی الرکوع والسجود (رقم-۸۵۹) و الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی وصف الصلاة (رقم-۳۰۲) والنسائی کتاب التطبیق/باب الرخصة فی ترک الذکر فی الرکوع باب الرخصة فی ترک الذکر فی الرکوع (رقم - ۱۰۵۳)

ترجمه: [۱] رفاعه ابن رافع رضی الله عنه فرمايي [۲] چې يو سړي مسجد ته راغې او مونځ يې وکړو بيا د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او سلام يې وکړو [۳] حضور ﷺ (د سلام جواب ورکړو) او ورته وي فرمايل چه خپل مونځ دوباره اوکړه ځکه چې تا مونځ نه دي کړي [۴] هغه سړي عرض وکړو يا رسول الله ﷺ ماته د لمانځه کولو طريقه راوښايه چې مونځ څنګه اوکړم [۵] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هر کله چې ته قبلې طرف ته متوجه شې نو الله اکبر (يعني تکبير تحريمه) اووايه [۶] بيا سورة فاتحه او څه چې الله جل جلاله غواړي هغه اووايه (يعني د سورة فاتحه سره چې کوم سورت غواړي اووايه) [۷] او هر کله چې ته رکوع ته څې نو خپل دواړه لاسونه په خپلو زنګونانو کيږده [۸] په رکوع کې (په اطمينان سره) قائم اوسه او خپله شا اواره (همواره) ساته.

حل اللغات: ① أَعِدْ: د امر صيغه ده، راوګرځوه (مونځ). ② رَاحَتَيْكَ: أَيْ: كَفَّيْكَ: تلى (د لاسونو). ③ مَكِّنْ: أَيِ ارْكَعْ رُكُوعًا تَامًّا مَعَ الطُّمَأْنِينَةِ: ښه په آرام او کامل طريقې سره رکوع کوه. ④ امْدُدْ: أَيْ: ابْسُطْ: ملا، شا خوره ساته، هواره ساته،

[۱] فَإِذَا رَفَعْتَ فَأَقِمْ صُلْبَكَ، [۲] وَارْفَعْ رَأْسَكَ حَتَّى تَرْجِعَ الْعِظَامُ إِلَى مَفَاصِلِهَا [۳] فَإِذَا سَجَدْتَ فَمَكِّنِ السُّجُودَ، [۴] فَإِذَا رَفَعْتَ فَاجْلِسْ عَلَى فَخِذِكَ الْيُسْرَى، [۵] ثُمَّ اصْنَعْ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ وَسَجْدَةٍ حَتَّى تَطْمَئِنَّ» [۶] هَذَا لَفْظُ الْمَصَابِيحِ، [۷] وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ مَعَ تَغْيِيرٍ يَسِيرٍ، [۸] وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ مَعْنَاهُ، [۹] وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ، قَالَ: («إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَتَوَضَّأْ كَمَا أَمَرَكَ اللَّهُ بِهِ، [۱۰] ثُمَّ تَشَهَّدْ، فَأَقِمْ، فَإِنْ كَانَ مَعَكَ قُرْآنٌ فَاقْرَأْ، [۱۱] وَإِلَّا فَاحْمَدِ اللَّهَ وَكَبِّرْهُ، وَهَلِّلْهُ، ثُمَّ ارْكَعْ».

ترجمه: [۱] او هر کله چې (د رکوع څخه) سر اوچت کړې نو خپله شا سيده کړه [۲] او سر اوچت کړه (يعني بالکل سيده ودريږه) تر دې چې ټول هډوکي خپل خپل ځاي ته راشي [۳] او هر کله چې سجده کوې نو په ښه شان سجده کوه [۴] او هر کله چې ته د سجدې څخه سر اوچت کړې نو په خپل ګس ورانه باندې کېنه [۵] بيا دغسې په هره رکوع او سجده کې کوه تر دې چې رکوع سجده (قومه او جلسه لکه چې د هر رکن په صحيح ادائيګۍ باندې تاته اطمينان وشي [۶] د حديث دا الفاظ د مصابيح دي [۷] او ابوداؤد رحمه الله دا د لږ تغير او تبديل سره نقل کړي دي، [۸] ترمذي او نسايي هم دا روايت بالمعنٰي نقل کړي دي، [۹] او د ترمذي په روايت کښې دا الفاظ هم دي چې کله ته د لمانځه کولو اراده وکړې نو دا رنګه اودس اوکړه څرنګه چې الله تعالى جل جلاله تاته حکم در کړي دي [۱۰] بيا کلمه د شهادت اووايه [څنګه چې نقل دي چه د اودس څخه وروسته کلمه شهادت ويل د لويې فضيلت خبره ده يا دا چې د کلمه شهادت څخه مراد اذان دي] بيا په ښه شان مونځ ادا کړه (يا د فاقم مطلب دا دي چې تکبير اووايه] او د قرآن څخه څه چې تاته ياد وي هغه اووايه [۱۱] که هيڅ دي ياد نه وي نو الحمد لله ، الله اکبر او لااله الاالله اووايه بيا رکوع وکړه.

حل اللغات: ⑤ صُلْبَكَ: شا، يعني شا نيغه ساته چه دشا تول جوړونه په خپل خپل ځای شی، ⑥ مَفَاصِلِهَا: جوړونه، ⑦ هَلِّلْهُ: أَيْ: قُلْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ: يعنى لا إله إلا الله وايه.

تسهيلات: دَدې وضاحت وړاندې تير شوې دې هغې ته رجوع اوكړئ.

[۸۰۵] د مالځه څخه وروسته دعا غوښتل

۸۰۵-() [۱۲] ① وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② («الصَّلَاةُ مَثْنٰى مَثْنٰى، ② تَشَهَّدُ فِي رَكْعَتَيْنِ، ③ وَتَخَشَّعُ وَتَضَرَّعُ وَتَمَسْكَنُ، ④ ثُمَّ تُقْنِعُ يَدَيْكَ ⑤ - يَقُولُ: تَرْفَعُهُمَا - إِلٰى رَبِّكَ ⑥ مُسْتَقْبِلًا بِبُطُونِهِمَا وَجْهَكَ، ⑦ وَتَقُولُ يَا رَبِّ! يَا رَبِّ! وَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَهُوَ كَذَا وَكَذَا») ⑧ وَفِي رِوَايَةٍ: "فَهُوَ خِدَاجٌ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① فضل ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② (نفل) مونځ دوه دوه ركعاته دي ② او په هر دوه ركعات كې التحيات ويل دي ③ او (د لمانځه روح) خشوع، عاجزي او د غريبي اظهار دي ④ (بيا د لمانځه كولو څخه وروسته) د خپل پروردګار طرف ته دواړه لاسونه پورته كړه ⑤ (حضرت فضل رضي الله عنه وايي چې د ثم تقنع يديك څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چې د لمانځه كولو څخه وروسته ته) د خپل پرودرګار طرف ته خپل لاسونه داسې پورته كړه ⑥ چې د لاسونو دواړه ورغوي دې د مخ طرف ته وي (كومه چې د دعا طريقه ده) ⑦ او دا وايه چې اې زما ربه اې زما ربه اوكوم سړي چې داسې ونه كړي (يعني په مذكوره بالا طريقه باندې عمل ونه كړي او دعا ونه غواړي) نو د هغه مونځ داسې داسې دي (يعني ناقص دي) ⑧ او د يو روايت الفاظ داسې دي چې د هغه مونځ ناقص دي. (ترمذي)

حل اللغات: ① تَخَشَّعُ: السُّكُونُ وَالتَّذَلُّلُ: اطمينان او عاجزى، ② تَضَرَّعُ: التَّذَلُّلُ وَالْمُبَالَغَةُ فِي السُّؤَالِ: عاجزى كول او دالله تعالى په زيات منت زارئ سره سوال كول. ③ تَمَسْكَنُ: عاجزى او غريبى ښكاره كول. ④ تُقْنِعُ: أَيْ: تَرْفَعُ: لاسونو پورته كولو ته وائى. ⑤ خِدَاجٌ: أَيْ: نَاقِصٌ فِي الْأَجْرِ وَالْفَضِيلَةِ: ناقص دې يعنى پوره اجر او ثواب به ورته نه ملاويږى.

تسهيلات:

قوله: "الصَّلَاةُ مَثْنٰى مَثْنٰى"

د نفلو د دوه ركعتيز او څلور ركعتيز مونځ په افضليت كښې مذاهب:

يعنى نفل مونځ دوه دوه ركعته دې په دې باندې دټولو اتفاق دې چه نفل مونځ دوه دوه ركعته په يو سلام سره هم جائز دى اوڅلور ركعته هم جائز دى. او په افضل اوغيرافضل كښې اختلاف شوې دې.

① امام شافعى رحمه الله فرمائى چه شپه وى اوكه ورځ وى خو نفل دوه دوه ركعته كول مطلقًا افضل دى.

---

(۱) اخرجه الترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التخشع فى الصلاة (رقم - ۳۸۵)

② دَ صاحبينو په نيزدَ ورځې څلور څلور اودَ شپې دوه دوه نفل كول افضل دي.

③ أمام ابوحنيفه رحمه الله په نيز مطلقًا څلورنفل كول افضل دي.

داول فريق دليل: دَ زيربحث فضل بن عباس رضي الله عنهما روايت د دوی مستدل دې. په كوم كښې چه دَمثنی مثنی ذكرراغلې دې.

داول فريق د دليل جواب: په دې حديث دې په هغې كښې حضورپاك دَ مونځ ګذار ادنئ ركعتونو ذكر فرمائيلې دې. دَ افضليت خبره نشته دې مطلب دا چه دَ دوو دوو ركعتونه كم مونځ جائز نه دې.

ددويم فريق دليل: په شپه كښې دَ دوو ركعتو كولو افضليت دَ تراويح په مونځ باندې قياس دې.

د دويم فريق د دليل جواب: د تراويحو تعداد چونكه زيات دی په دې وجه هلته آسانی وركړې شوې ده او په دوو دوو ركعتوباندې عمل كړې شوې دې.

د دريم فريق دليل: ① دَ څلورو ركعتو افضليت دپاره دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها روايت د دوی مستدل دې. هغه فرمائی چه حضورپاك دَ ماسخوتن دَ مانځه نه پس په څلورو ركعتو نفلو باندې مواظبت او دوام يعنی هميشه والې فرمائيلې دې. دَ عائشې رضي الله عنها نه روايت كړې شوې دَ بخاری شريف يوحديث داسې دې فرمائی: ((ماكان رسول الله ﷺ يزيدفی رمضان ولافی غيره علی احدی عشرة ركعة يصلی اربعا فلا تسأل عن حسنهن وطولهن ثم يصلی اربعا فلا تسأل عن حسنهن وطولهن ثم يصلی ثلاثا الخ)) (بخاری ۱۵۴/۱)

② يوعقلی دليل هم د دوی مستدل دې. هغه داسې چه هرهغه عبادت افضل دې په كوم كښې چه مشقت زيات وی اويو تحريمه دائمی ساتلو سره څلورركعته كولوكښې مشقت زيات دې په دې وجه افضل دی.

دحديث د بعضې جملو وضاحت

① "وَتَخَشُّعٌ" دَ باب تفعيل مصدردې دَعاجزئی په معنی كښې دې.

② "تَشَهُّدٌ" دا هم دَ باب تفعيل نه دَمصدرصيغه ده مرفوع دې اودَمثنی مثنی نه پس خبرثانی دې يعنی په هرو دوو ركعتوكښې يو تشهد ضروری دې.

③ "وَتَخَشُّعٌ" دا هم دَ باب تفعيل مصدردې مرفوع دې دَعاجزئی په معنی كښې مګر دَدې عاجزئی تعلق باطن سره دې چه په زړه كښې دَ څه قسم وسوسه رانه شی داكيفيت په مونځ او غيردَ مونځ ټولو ځايونوكښې مطلوب دې.

④ "وَتَضَرُّعٌ" دا هم دَباب تفعيل نه دَمصدرصيغه ده ډيره دعاغوښتل او سوال كول او په هغې كښې زاری او ژړا ته وائی. دَدې تعلق ظاهری بدن سره دې.

⑤ "وَتَمَسْكُنٌ" داهم دَ باب تفعيل نه دَمصدر صيغه ده ذلت خواری اودَ افتقاد او حتقار دَ ظاهرولوپه معنی کښې دې دا ټول الفاظ په ترکیب کښې مرفوع واقع دی.

⑥ "ثُمَّ تُقْنِعُ يَدَيْكَ" دَباب افعال نه دَمخاطب صیغه ده دَ اقناع اوچتولوپه معنی کښې راځی دلته په دعاکښې لاسونه اوچتول مقصود دی.

⑦ "يَقُولُ" داکلام دَ ابن عباس رضي الله عنهما دې دَحضورپاك دکلام تفسیربیانوی یعنی حضورپاك فرمائی چه تاسو په دعاکښې دواړه لاسونه اوچتوئی اودَ الله تعالی په وړاندې داسې کیفیت جوړوئی چه دَ لاسونو تلی ستاسودَمخ طرف ته وی اولاسونه مو اوچت وی.

⑧ "وَتَقُولُ يَارَبِّ! يَارَبِّ" دادَ مرفوع حدیث حصه ده یعنی حضورپاك فرمائی چه تاسو په دعاکښې داسې وایئی.

قوله: "كَذَا وَكَذَا"

د سورة فاتحه په عدم فرضیت باندې استدلال: یعنی چاچه دَ مونځ نه پس دعا اونه غوښتله نودَهغوی مونځ به ناقص وی هم دَدې مطلب دَپاره په بل روایت کښې دَ خداج لفظ راغلې دې کوم چه دَنقص اونقصان په معنی کښې دې دکوم نه چه معلومیږی دَ فاتحه نه وئیلوسره په مانځه کښې نقص راځی مونځ باطل کیږی نه. سوچ کونکوله سوچ کول پکاردی چه آیا دعا نه غوښتلو سره مونځ باطل شو؟ نه بلکه نقصان راغلو.

دَ فرضو څخه روسته دَ دعا ثبوت: شیخ عبدالحق رحمه الله فرمائی چه "دل الحدیث علی استحباب الدعا بعدالصلوة" دَ حدیث نه دَمونځ نه پس دَ دعا مستحب کیدل ثابتیږی.

د فرضوڅخه وروسته په اجتماعی دعا کښې دوه ډلې: ① جمهورعجم دَ فرضونه پس لاسونه اوچتول ضروری ګڼړی اوبخپله لاسونه اوچتولو سره دعاغواړی. ② دَجزیرهٔ عرب مسلمانان دَ فرضونه پس هم دَدعادَپاره لاسونه نه اوچتوی. اوس هغوی ته په کتلوسره دَعجم علماء هم خال خال دَهغوی په لاړ دَتلو کوشش کوی.

د فرضوڅخه وروسته د اجتماعی دعا په ثبوت کښې تحقیقی کلام: مفتی هند مفتی کفایت الله رحمه الله دَ فرضو او سنتو نه پس دعاغوښتل او دعانه غوښتلو سره متعلق "النفائس المرغوبة فی حکم الدعا بعدالمکتوبة" په نوم سره یوکتاب لیکلې دې چه په حقیقت کښې یوه فتوی ده په کوم باندې چه دَدنیا دَمختلفو ملکونو دَسلو علماؤ دستخطونه دی. په دې کتاب کښې مفتی صاحب دَ فرضونه پس دَ اجتماعی دعا ثبوت سره متعلق یو اوږد کلام کړې دې چه یو ډیر ژور تحقیق دې. دکتاب دَ فصل اول نه حضرت مفتی صاحب دلائلو سره دَ سنتونه پس اجتماعی دعا نفی کړې ده اوبیا دَ دویم فصل نه دَ فرضونه پس دعا غوښتلو ثبوت باندې دَ یوولسو احادیثو ذکرکړې دې اوبیائی دَ مختلف علماؤ نه دَجواز اوعدم جواز

فتوىٰ غوښتي ده دکوم په جواب کښې چه دَ دنيا مختلفو علماؤ جواب ورکړې دې دَ دغه ټولو جوابونو عبارت تقريباً داسې دې.
فرائضو پسې متصل دعا غوښتل دَسنتو موافق ده دَدې ثبوت په احاديثو کښې موجود دې. ليکن پس دَ سنتو او نفلو خاص التزام سره دعاغوښتل دَدې ثبوت په حديث شريف او فقه يوکتاب کښې نشته دې بلکه دا التزام بدعت دې دا ترک کول ضروري دی. (نفائس مرغوبه ص: ۴۱)

په اجتماعي دعا کښې د لاسونو په پورته کولو باندې اشکال: حضرت مفتي صاحب چه دکومو احاديثو نه استدلال کړې دې په هغې کښې بيشکه په واضحه توګه دَ فرضونه پس دَدعا غوښتلو ذکر دې ليکن تپوس کونکي دا سوال کوی چه لاسونه اوچتولوسره اجتماعي دعا غوښتلو ذکر او ثبوت په يوحديث کښې نشته دې اوهم په دې وجه اهل حديث اودَ حرمينو علماء کرام اودَجزيرهٔ عرب علماء او دَ عجمو ډير کم بعضې علماء دَ فرضونه پس لاسونه اوچتول او په جمع دعا غوښتل صحيح نه ګنړی.

د اشکال جوابونه: دَ فرضونه پس دَ دعا قائلين حضرات هغوی ته يو څو جوابونه ورکوی:
① حضورپاك چه دَ نفلونونه پس دعاغوښتې ده نو په هغې کښې لاسونه اوچت کړی دی. فقهاؤ دا عمل فرضوسره يوځائې کړو او په دې باندې عمل شروع کړو. فيض الباری شرح بخاری کښې حضرت شاه انورشاه کشميری رحمه الله په دې باندې ژور تحقيق او اوږد کلام کړې دې.
② لاسونه اوچتول دَ دعا په ادابو کښې دی کله چه دَدعا ثبوت شته نودَ رفع يدين ثبوت خپل پخپله اوشو.
③ زير بحث حديث په واضحه توګه عاجزئ سره لاسونه اوچتولوسره په ژړا او زارئ سره دعا غوښتلو ترغيب ورکوی. په حديث کښې سره دَدې چه يوبل احتمال هم دې خودهغې واضحه مطلب هم دغه دې چه دامعامله دَمونځ کولونه پس دَدعا غوښتو ده. هم دَدې دَپاره شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې دَ فرضو نه پس په جمع باندې دعا غوښتل مستحب ليکلی دی.

قوله: "فَهُوَخِدَاجٌ"
دخداج معنی:- يعنی څوك چه داسې دعا نه غواړی نودَ هغه مونځ به ناقص وی دلته دَخداج په دې لفظ سره هم نقصان مراد دې. په يوحديث کښې فاتحه خلف الامام پريخودلودَپاره دَخداج لفظ استعمال کړې شوې دې دکوم نه چه معلوميږی چه دَ فاتحه لوستل فرض نه دی بلکه واجب دی ګنی دَ خداج لفظ به نه استعماليدو بلکه دَباطل لفظ

به راتلو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۸۰٦] دامام دپاره په تكبيراتو باندې جهر كول

۸۰٦-()[۱٤] ۱ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَلَّى، قَالَ ۲ «صَلَّى لَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ، فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيرِ حِينَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ، ۳ وَحِينَ سَجَدَ، وَحِينَ رَفَعَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ ۴ وَقَالَ هَكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ سعيد ابن حارث ابن معلى وايي ۲ چې ابو سعيد خدري رضي الله عنه مونږ ته مونځ راكړو نو په اوچت آواز سره يې الله اكبر وويلي كوم وخت چې هغه د سجدې څخه خپل سر پورته كړو ۳ او كوم وخت چې سجدې ته لاړلو او كوم وخت چې د دوه ركعاتـه كولو نه پس ودريدلو ۴، او وې فرمايل چې رسول الله ﷺ ما دغسې (په پورته آواز سره په تكبيراتو ويلو باندې) ليدلى دې. (بخاري)

تسهيلات: قوله: "حِينَ رَفَعَ رَأْسَهُ"

په دريو مقاماتو كښې د جهر بالتكبيراتو وجه: په دې دريو مقاماتو كښې په اوچت آواز سره د تكبيرات ذكر په دې وجه كړې دې چه بحث هم په دې كښې روان شوې وو يا د دې د پاره چه خلقو هم په دې مقاماتو كښې د سستئى د وجې نه تكبيرات وئيل پريخودې وو يا د دې د پاره د دې دريو ذكر د نمونې په توګه اوكړې شو او باقى تكبيرات په دې باندې قياس كړې شو.

شيخ عبدالحق رحمه الله لمعات كښې ليكلى دى چه د بنومروان په دور كښې به حضرت ابوهريره رضي الله عنه مونځ وركولو. يوځل هغه بيمارشو نومونځ حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه وركړو او په دې دريو مقاماتو كښې ئى په اوچت آواز سره تكبيرونه اووئيل. كله چه د مونځ نه فارغ شو نوچا ورته اووئيل دې خلقو ته ستاسو مونځ نوې ښكاره شو هغوى په منبر باندې اودريدو او وئى وئيل قسم په خدائى زما په دې باندې هيڅ پرواه نشته چه تاسو ما سره زما په مونځ كښې اختلاف اوكړئى يا اونه كړئى ما حضورپاك ليدلې دې اوهغوى به هم داسې مونځ وركولو. شيخ په لمعات كښې داهم ليكلى دى چه مروان او د هغه تابعدارو به په مونځ كښې د اوچت آواز په ځائى په مزه تكبيرونه وئيل. هم په دې وجه حضرت ابوسعيد خدرى رضي الله عنه د حضورپاك د مونځ حواله وركړه چه امام لـه پكاردى چه هغه دې خلقو تـه نـه ګورى بلكه مسنون طريقه دې خپله كړى او په اوچت آواز سره دې تكبيرونه وائى.

[۸۰۷] په مانځه كښې د تكبيراتو تعداد

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الاذان/ باب يكبر وهو ينهز من سجدتين... رقم الحديث ۸۲۵

۸۰۷–(۱)[۱۸] ① وَعَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: «صَلَّيْتُ خَلْفَ شَيْخٍ بِمَكَّةَ، ② فَكَبَّرَ ثِنْتَيْنِ وَعِشْرِينَ تَكْبِيرَةً، ③ فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ: إِنَّهُ أَحْمَقُ، ④ فَقَالَ: ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ، سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① عکرمه فرمايي چه ما په مکه کې په يو بوډا سړي (يعني حضرت ابوهريره رضي الله عنه) پسې مونځ وکړو ② هغه په لمانځه کې دوه ويشت (واره) تکبيرات اوويل ③ ما ابن عباس رضي الله عنهما ته اوويل چې (داسې معلوميږي چې) دا سړي احمق دي (چې دومره زيات تکبيرات کوي) ④ ابن عباس رضي الله عنهما وفرمايل ستا مور دې درباندې بوره شي دا طريقه خو د حضرت ابو القاسم محمد رسول الله ﷺ ده. (بخاري)

حل اللغات: ① شَيْخٍ: بوډا سړي، ② أَحْمَقُ: أَيْ: جَاهِلٌ: ناپوهه، ③ ثَكِلَتْكَ: أَيْ: فَقَدَتْكَ: ورک دې کړی تا لره.(دا کلمه د تعجب ده، مراد ترې دعا کول دی دا په مدح او ذم دواړو کښې استعماليږی دلته د سائل د احمق وئيلو په مقابله کښې د ذم دپاره استعمال شوي ده).

تسهيلات: قوله: "سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"

دعکرمه د تکبيراتو په تعداد کښې شک پيدا کيدل: شارحين ليکی چه دَ مروان په دور حکومت کښې هغه په مونځ کښې تکبيرات په مزه وئيل شروع کړی وو. حضرت عکرمه رحمه الله هم دَ دغه غلطئ ښکار شوي وو. لهذا چه کله هغه حضرت ابوهريره رضي الله عنه په اوچت آواز سره تکبيرات وئيل واوريده نو په ډيره حيراتيا کښې پريوتلو او اعتراض ئې اوکړو. دَهغه استاذ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هغه ښه اورټلو او ورته ئې اوفرمائيل تکبيرات دَ حضور پاك سنت دی. دَدې حديث پس منظر اودَدې نه مخکښې حديث پس منظر يوشان دې چه په هغه وخت تکبيراتو کښې حکومت طرف نه څه فرق راغلې وو په دې وجه عامو خلقو ته شك شوي وو.

[۸۰۸] په هر ټيټيدو او پورته کيدو کښې تکبير

۸۰۸–(۲)[۱۹] ① وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ، مُرْسَلًا، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الصَّلَاةِ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ، ③ فَلَمْ تَزَلْ تِلْكَ صَلَاتُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ④ حَتَّى لَقِيَ اللهَ تَعَالَى». رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① علي بن حسين بطريق مرسل روايت فرمايي ② چې رسول الله ﷺ چې به په لمانځه کې کله ښکته کيدلو (يعني رکوع او سجدي ته به تلو) او کله چې به (د قومه، جلسه او قيام په وخت) ودريدلو نو تکبير به يي ويلو ③ او حضور ﷺ به هميشه دغسې مونځ کولو ④ تر دې چې الله تبارك وتعالى سره يي ملاقات وشو (يعني وفات شولو) (مالك)

(۱) بخاري كتاب الاذان باب التكبير إذا قام من السجود (رقم-۷۸۸)
(۲) اخرجه ابن مالك في الموطا كتاب الصلاة باب افتتاح الصلاة (رقم-۱۷)

حل اللغات: ① خَفَضَ: ښکته کيدلو به (رکوع يا سجدې ته). ② لَقِيَ اللّٰهَ تَعَالٰی: د ملاقات نه مراد وفات کيدل دي.

تسهيلات: **نوټ:** د ترجمه څخه د حديث مطلب واضح دي.

[۸۰۹] صرف د تکبير تحريمې په وخت رفع يدين

۸۰۹—(¹)[۲۰] ① وَعَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قَالَ لَنَا ابْنُ مَسْعُودٍ: ② «أَلَا أُصَلِّي بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ ③ فَصَلَّى وَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً مَعَ تَكْبِيرَةِ الِافْتِتَاحِ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، ④ وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: لَيْسَ هُوَ بِصَحِيحٍ عَلَى هَذَا الْمَعْنَى.

ترجمه: ① علقمه رَحِمَهُ اللّٰهُ راوي دي چې ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مونږ ته وفرمايل ② آيا زه تاسو ته د رسول الله ﷺ په شان مونځ در نه کړم؟ ③ نو ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مونږ ته (د رسول الله ﷺ د طريقې مطابق) مونځ راکړو او يوازې د تکبير تحريمه په وخت يې دواړه لاسونه پورته کړل، ترمذي ابوداؤد نسايي، ④ ابوداؤد ويلي دي چې دا حديث داسې صحيح نه دي.

حل اللغات: ① تَكْبِيرَةِ الِافْتِتَاحِ: تکبير تحريمه.

تسهيلات: **نوټ:** د ترجمه څخه د حديث مطلب واضح دي.

[۸۱۰] د تکبير تحريمې په وخت د لاسونو پورته کول

۸۱۰—(²)[۲۱] ① وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، ③ وَرَفَعَ يَدَيْهِ، وَقَالَ: "اللّٰهُ أَكْبَرُ"»، رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابو حميد الساعدي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي ② چې رسول الله ﷺ چې به د لمانځه د پاره اودريدلو نو مخکې به د قبلې طرف ته متوجه کيدلو ③ بيا به يې دواړه لاسونه پورته کول او د هغې څخه وروسته به يې الله اکبر وئيلو. (ابن ماجه)

تسهيلات: **نوټ:** د ترجمه څخه د حديث مطلب واضح دي.

[۸۱۱] په مانځه کښې د نبی عليه السلام شاته څيزونه ليدل

۸۱۱—(³)[۲۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ، ③ وَفِي مُؤَخَّرِ الصُّفُوفِ رَجُلٌ، فَأَسَاءَ الصَّلَاةَ، ③ فَلَمَّا سَلَّمَ نَادَاهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ④ "يَا فُلَانُ أَلَا تَتَّقِي اللّٰهَ؟ أَلَا تَرَى كَيْفَ تُصَلِّي؟ ⑤ إِنَّكُمْ تُرَوْنَ أَنَّهُ يَخْفَى عَلَيَّ شَيْءٌ مِمَّا تَصْنَعُونَ، ⑥ وَاللّٰهِ إِنِّي لَأَرَى مِنْ خَلْفِي كَمَا أَرَى مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ»، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

(¹) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب من ذكر أنه يرفع يديه إذا قام من الثنتين (رقم-۷٤۷) و الترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی وضع اليدين على الركبتين فی الركوع ۲۵۷ والنسائی كتاب التطبيق/الرخصة فی ترك ذلك قال البخاری رقم(۱۰۵۸)

(²) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ، باب افتتاح الصلاة (رقم-۸۰۳)

(³) اخرجه احمد فی المسند ۲/٤٤۹

ترجمه: [١] ابوهريره رضي الله عنه فرمايي[٢] چې رسول الله ﷺ (يو ځل) مونږ ته د ماسپخين مونځ راکوي[٣] په آخر صف کې يو سړي ولاړ وو هغه په صحيح طور سره مونځ ونه کې[٣] کوم وخت چې هغه سړي سلام وګرځوي (نو حضور ﷺ هغه ته آواز وركولو سره وفرمايل[۴] اي فلانيه آيا ته د الله بزرګ وبرتر څخه نه ويرېږې؟ آيا تاته معلومه نه ده چې تا څنګه مونځ وکړي؟[۵] ته خو دا ګڼې چې ته څه کوي ما ته نه دي معلوم[٦] حالانکه قسم په الله څنګه چې زه مخې ته ګيزونه وينم دغسې خپل وروسته هم ګيزونه وينم، احمد.

حل اللغات: ① فَأَسَاءَ: أَيْ: أَتَى فِيهَا بِمَا يُبْطِلُهَا: مونځ ماتونکې عمل نې کولو. ② تُرَوْنَ: أَيْ: تَظُنُّونَ: ستاسو خيال او ګمان دي. ③ يَخْفَى: پټ دی، معلوم نه دی. ④ تَصْنَعُونَ: چه څه عمل کوئ تاسو (په خپل مونځ کښې).

تسهيلات: قوله: مِنْ خَلْفِي:

نبی عليه السلام ته د شا مونځګذارپه نظرراتلل: يعنی په الله تعالى قسم زه په مانځه کښې شاته ولاړ خلق وينم په دې وجه تاسو په مانځه کښې څه خلاف سنت حرکت مه کوئ. دَدې حديث نه معلومه شوه چه حضورپاك ته وړاندې روستو يوشان ښکاريدل.

سوال: په دې ځائی کښې دا سوال پيدا کيږی چه الله تعالى علم غيب خپله خاصه ګرځولې ده. په قرآن کريم کښې ډير آياتونه اودَ انبياء کرامو اولياء عظامو ډيرې قصې او واقعات په دې باندې دلالت کوی چه علم غيب دَالله تعالى خاصه ده. حالانکه

اشکال: دلته دَدې حديث نه داخيال پيدا کيږی چه حضورپاك عالم الغيب وو اوهغوی په وړاندې روستو حاضر اوپټوګيزونوباندې خبريدلو دَدې تعارض څه جواب دې؟

د اشکال درې جوابونه: ① دَحضورپاك په مانځه کښې وړاندې روستو يوشان ليدل دَ معجزې په توګه وو نوهغوی به په حقيقی سترګو وړاندې روستو کتل. [قاله عبدالحق رحمه الله في اشعة المعات: ۳۹۲]

② حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائی چه په حضورپاك باندې به په مانځه کښې انکشاف تام کيدلو اودَ انکشاف تام دَدغه حالت دَ وجې نه په حضورپاك باندې به دَ تجليات پوره نزول کيدلو. دَ څه په وجه چه به خرق عادت هغوی ته وړاندې روستو هرڅه ښکاريدل. داکيفيت به دَمانځه نه بهر نه وو په دې وجه دَ مانځه نه بهرچه دَحضورپاك نه دَعلم غيب نفی کړې شوې دَهغې دې حديث سره تعارض نشته.

③ دَ وحی يا الهام په توګه حضورپاك ته معلوميدله بهرحال څنګه هم چه وی مګر داحالت مستمره نه وو بلکه دَ مانځه دَحالت پورې محدودوو.

[۲۹/۱۲]بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلَاةِ

په مونځ کښې د قراءت بيان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة واربعون حديثاً مشتملة على إحدى عشر مسئلة:

① قراءة الفاتحة: ۱، ۲، ۶-
② افتتاح القرآءة : ۳، ۲۲-
③ التامين: ۴، ۵، ۲۳، ۲۴-
④ قراءة الفاتحة خلف الإمام: ۲، ۳۰-
⑤ السكوت خلف الإمام: ۵، ۳۱، ۳۲، ۳۳-
⑥ تفاوت الركعات في القراءة:۶، ۷، ۲۹-
⑦التخفيف في القراءة: ۱۱-
⑧ ما ينوب عن القراءة للأمي: ۳۴-
⑨ جواب بعض الكلمات: ۳۵، ۳۶، ۳۷،
⑩ قراءة المفصلات: ۲۹، ۴۲-
⑪ تسمية بعض السور المقرؤة في الصلوة: ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۳۸، ۳۹، ۴۰، ۴۱، ۴۳-

د فقهاء کرامو په مینځ کښې د اختلاف وجوهات:

① دَ فقهاء کرامو په مینځ کښې کله دَدې وجې نه اختلاف پیدا کیږی چه په یوحکم کښې دَاستنباط اواستخراج اسباب اوعلل مختلف وی
② اوکله په دې وجه اختلاف کیږی چه دَ شرعی حکم ناسخ اومنسوخ په صحیح توګه پیژندګلونه کیږی
③ اوکله فهم ادراک معانی کښې فرق راځی.
④ اوکله دَمجتهدینو په اجتهاد کښې تخلف وی
⑤ کله هم دیوحکم متعلق کثرت نصوص اوپه دې کښې تفاوت دَ اختلاف ذریعه جوړیږی.
⑥ کله په صحابه کرامو کښې په یوحکم باندې اختلاف عمل سبب اختلاف وی. چونکه په هغه زمانه کښې دَ ذرائع ابلاغ کمې وو اودَ لرې لرې علاقونه به خلق راتلل مدینه منوره کښې به نې دَ حضورپاک ﷺ نه یوحکم زده کولو اوواپس به تلل او په هغه حکم باندې به تول عمر روان وو. حالانکه شاته به په هغه حکم کښې بدلون راغلې وو لیکن هغوی به پخپله دَ نبی کریم ﷺ نه یوحکم زده کړې وو په دې وجه به هم په هغې باندې قایم وو نودَ راتلونکوخلقو دَپاره به هغه دَ اختلاف سبب جوړیدو.

دَ فقهاء کرامو چه په کوم کوم ځائی کښې اختلاف پیدا شوې په دغه اختلافي مسائلو کښې یوه معرکة الآراء مسئله د قراءت خلف الامام ده. یعنې په امام پسې د اقتداء په دوران کښې مقتدی لره سورة فاتحه وئیل څه حکم لري. نو په دې کښې د جواز اوعدم جواز اختلاف دې. هم دَدې وجې نه دَ قراءت خلف الامام مسئله دَهمیشه نه دَ بحث موضوع ده. لهذا دلته هم دَدې متعلق یوڅو بحثونه حاضر خدمت دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۸۲۲] په مانځه کښې د سورة فاتحه وئیلو حکم

۸۲۲ – ( ) [۱] [۱] عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۳] وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: " «لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَصَاعِدًا» ".

ترجمه: [۱] عباده بن صامت رضی الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې (په لمانځه کې) سورة فاتحه ونه ویله د هغه مونځ پوره نه شو. بخاري مسلم، [۳] او د مسلم په یو روایت کې دا الفاظ دي چه د هغه سړي مونځ نه کیږي چې سورة فاتحه او د هغې څخه وروسته د قرآن څخه څه ونه وایي.

حل اللغات:- ① لَا صَلَاةَ: أَيْ: كَامِلَةً: یعنې کامل مونځ نه دې. ② أُمِّ الْقُرْآنِ: یعنې سورة فاتحه، ③ فَصَاعِدًا: أَيْ: فَمَا زَادَ عَلَيْهَا: دا د صعود نه دې یعنې د ښکته نه پورته ختلو ته وائی. دلته ترې زیاتی قرأت لوستل مراد دی.

تسهیلات:-

قوله: لَا صَلَاةَ:

په قرأت فی الصلاة کښې درې مباحث:- په مانځه کښې دَ قرأت متعلق درې بحثونه اهم او مشهوردی په کوم کښې چه دَ فقهاؤ کرامو اختلاف دې. اول بحث دَ فاتحې په رکنیت او عدم رکنیت کښې دې. دویم بحث په دې کښې دې چه څو رکعتوکښې قرأت فرض دې. دریم بحث امام پسې شاته قرأت کښې دې. دا ذکرشوی دریواړه بحثونه په ترتیب سره بیانولې شی.

[۱] اخرجه بخاری کتاب الاذان باب وجوب القراءة للإمام والمأموم فی الصلوات کلها، فی الحضر والسفر، وما يجهر فيها وما يخافت(رقم-۷۵۶) ومسلم کتاب الصلاة ، باب وجوب قراءة الفاتحة فی کل رکعة، وإنه إذا لم يحسن الفاتحة، ولا أمكنه تعلمها قرأ ما تيسر له من غيرها (رقم-۳٤ - (۳۹٤) وابوداود كتاب الصلاة،باب من ترک القراءة فی صلاته بفاتحة الكتاب (رقم-۸۲۲) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ، باب القراءة خلف الإمام (رقم- ۸۳۷) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء أنه لا صلاة إلا بفاتحة الكتاب (رقم-۲٤۷) والنسائی كتاب الافتتاح/باب البداءة بفاتحة الكتاب قبل السورة (رقم-۹۱۰)

اول بحث:د سورة فاتحې په رکنیت کښې مذاهب:-

① امام شافعی رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله یعنی جمهور فرمائی په مونځ کښې فاتحه وئیل په متعین توګه باندې فرض ده اودا دَمونځ رکن دې. که فاتحه اونه وئیلې شی نومونځ نه کیږی باقی قرآن که هرڅومره وئیلې شوی وی.

② امام ابوحنیفه رحمه الله اوصاحبین فرمائی چه فاتحه په متعین توګه باندې وئیل دَ مونځ رکن نه دې بلکه دَمونځ رکن "قدرمانجوزبه الصلوة" دې که اوږد آیت وی اوکه مختصر وی یعنی دومره اندازه باندې دَ قرآن لوستل په مونځ کښې فرض دی په کوم سره چه مونځ کیږی که هغه درې واړه آیاتونه وی یا یو اوږد آیت وی. اودَ احادیث مبارکو دَ وجې نه بالخصوص په مونځ کښې فاتحه لوستل واجب دی. که یو مونځ ګذار باقی قرآن اووئیل لیکن فاتحه ئی پریخوده نو فرض قرأت خوادا شو لیکن دَ واجب پاتې کیدو دَ وجې نه مونځ ناقص پاتې شو لهذا سجده سهو به کول وی دې دَپاره چه جبیره نقصان اوشی یا به مونځ دوباره کولې شی.

د اول فریق دلیل:- ① دَحضرت عباده بن صامت رضی الله عنه دا زیربحث حدیث د دوی مستدل دې ځکه چه په دې کښې ذکردی چه دَ فاتحې نه وئیلوسره مونځ نه کیدل ګرځولې شوی دی معلومه شوه چه په خاص توګه باندې دَ فاتحې وئیل فرض دی. دَ دې پریخودوسره دَمونځ نفی کیږی اوکوم ته چه دامقام حاصل وی هغه رکن وی. لهذا فاتحه دَمونځ رکن دې. داخبره هم یادلرئی چه دَمالکیه حضراتو په نیز فاتحې سره دَ سورت یوځائی کول هم فرض دی یعنی دواړه دَمونځ رکن دی.

د دویم فریق دلیل:- د قرآن آیت ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ [سورت مزمل:۲۰] د دوی مستدل دې.دَ قرآن د آیت اطلاق چې دکوم څیز تقاضا کوی هغه په مانځه کښې مطلق قرآن لوستل دی. او دَمونځ رکن دې. دلته دَ فاتحې تخصیص او تعیین نشته دې لهذا دا رکن کیدې نه شی. اودَ فاتحې تخصیص دَ حدیث خبرواحدسره شوې دې اوکوم حکم چه په خبرواحدسره ثابت شی هغې ته فرض نه بلکه واجب وئیل پکاردی نو مطلق دَ قرآن لوستل رکن او فرض دی او خاص کر دَفاتحې وئیل واجب دی. داځکه چه دَ فرض اورکن مقام قطعی اویقینی وی اودَ قطعی حکم دَ اثبات دَپاره دلیل هم قطعی کیدل پکاردی.

د دلائلو څلور قسمونه:- ځکه چه دلائل څلورقسمه دی.

① قطعی الثبوت قطعی الدلالة په دې سره فرض ثابتیږی

② قطعی الثبوت ظنی الدلالة په دې سره واجب ثابتیږی

③ ظنی الثبوت قطعی الدلالة په دې سره سنن مؤکده وغیره ثابتیږی

④ ظنی الثبوت ظنی الدلالة په دې سره مستحبات ثابتیږی.

طريقه داستدلال:– مذكوره زيربحث حديث دَحضرت عباده رضی الله عنه حديث خبر واحد دي كوم چه ظني الثبوت قطعي الدلالة دي په كوم سره چه فرض يا ركن نه شي ثابتيدي بلكه صرف واجب ثابتيدي شي اودَ وجوب فاتحه احناف قائل دی لهذا دا حديث دَهغوی دَ مسلك مخالف نه دي اونه دَهغوی مسلك دَحديث مخالف دي.

د حديث په مفهوم كښې دوه اقوال:– بل دَ "لاصلوة"دوه مفهوم اخستې شي. ① يو مفهوم دا چه دَدې نه بالكل دَ اصل صلوة نفي مراد واخستې شي

② دويم مفهوم دادې چه دې نه دَ كمال صلوة نفي مراد واخستې شي يعنی دَ فاتحې نه وئيلو په صورت كښې مونځ نه كامل كيږی بلكه ناقص كيږی.

د دويم مفهوم تائيد:– دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت دا دويم مفهوم متعين كړي دې په كوم كښې چه "فصلوته خداج غيرتمام" الفاظ راغلي دی يعنی دَ مانځه وجود دې مګر دَ فاتحې نه وئيلوپه وجه سره ناقص دې اودا هم هغه وخت چه كله سړې امام يا منفرد وی مقتدی نه وی. الزامی جواب دادې چه په حديث كښې مازاد او فصاعدا الفاظ هم دی. نوآيا دَ فاتحې نه علاوه څه نور هم ركن صلوة دی؟

دويم بحث:د قراءت د فرضيت بياره د ركعتونو په تعين كښې مذاهب:-

په مونځ كښې د قراءت په فرضيت اتفاق دې.خود قرءت دپاره د ركعت په تعين كښې اختلاف دې. ①دَ امام زفر رحمه الله اوحضرت حسن بصری رحمه الله په نيزصرف په يوركعت كښې قرأت فرض دې ﴿فَاقْرَءُوْا﴾ حكم دې په كوم كښې چه تكرارنشته دې اوامر دَ تكرار تقاضاهم نه كوی په يوركعت كښې فرض قرأت كافی دې.

② امام مالك رحمه الله فرمائی چه په دريو ركعتو كښې قرأت فرض دې څكه چه دري ركعته اكثر دی او "للاكثرحكم الكل". مسلمه قاعده ده لكه چه دَمالكيه په نيزيه څلورو واړو ركعتوكښې قرأت فرض دې ليكن دريو ركعتوكښې وئيلوسره داحق اداكيږی.

③امام شافعي رحمه الله په نيزدَ فرضو په ټولو رَكعتونوكښې قرأت فرض دې او ضم سورت دَ فرضو په اول دوو ركعتوكښې نه واجب دې نه سنت دې بلكه مستحب دې. دَمشهور قول مطابق دَ حنابله هم دغه مسلك دې چه په ټولو ركعتونوكښې قرأت فرض دې. داحضرات دَ قرآن اوحديث مطلق حكم ته ګوری په كوم كښې چه دَ قرأت كولو حكم دې.

④ دَ ائمه احناف مشهور او مفتي به قول دادې چه كه چرته څلورو ركعتو والامونځ وی نو په اول دوو ركعتوكښې "بقدرثلاث ايات قصار" مطلق قرأت فرض دې اوخاص توګه باندې دَ فاتحې وئيل واجب دی. البته دَ دوو ركعتونه پس قرأت كول ضروری نه دی كه فاتحه وائی اوكه تسبيح وائي يا چپ پاتې شي.

دریم بحث: په قراءت خلف الامام کښې مذاهب:-

د قاری د قراءت درې صورتونه:- ① دَامام دَ پاره اودَ هغه منفرد دَپاره جهری او سری دواړو مونځونوکښې مطلق قرأت بالاجماع فرض دې.

② په مقتدی اوماموم باندې امام پسې شاته دَسورت لوستل بالاتفاق واجب نه دی.

③ اوس صرف یو صورت پاتې شو چه امام پسې شاته په مقتدی باندې فاتحه ونیل څنګه دی په دې کښې اختلاف دې.

د قراءت خلف الامام د اختلاف نوعیت:- امام پسې شاته قرأت کول یعنی فاتحه خلف الامام ونیلو یا نه ونیلوکښې دَ فقهاء کرام ډیر لونی اختلاف دې. دا یومعرکة الآراء او اختلافی مسئله ده. په اختلافی مسئلوکښې دا دَ ټولو نه زیاته سخته مسئله ده څکه چه یو فریق لوستلو ته فرض وائی او دونم فریق ناجائز اوحرام وائی. دا اختلاف بهرحال دَ صحابه کرامو دَ وخت نه راروان دې په هغه دور کښې په دې کښې دومره شور اوسختی نه وه. علامه بدرالدین عینی رحمه الله اتیا صحابه کرام شمیرلې دی چه دَ فاتحه خلف الامام دَترك کولو قائل وو. په دوی کښې حضرت عبدالله بن مسعو، حضرت ابن عباس، حضرت عمرفاروق، حضرت ابوموسٰی اشعری، حضرت ابودرداء، حضرت ابن عمر، حضرت علی، حضرت عائشه رضی الله عنهم ونونه شامل دی.

دَدې مسئلې نوم قرأت خلف الامام دې مګر دَدې نه فاتحه خلف الامام مراد اخستل متعین شوی دی. ① د امام شافعی اوداؤد ظاهری وغیره امامانوپه نیز قراءة خلف الامام مطلقاً فرض دې که جهری مونځ اوکه سری.اود جمهور فقهاء یعنی امام ابوحنیفه رحمه الله امام مالك رحمه الله امام احمدبن حنبل رحمه الله سفیان ثوری رحمه الله اوزاعی رحمه الله او عبدالله بن مبارك رحمه الله په نیز جهری مونځ کښې امام پسې شاته فاتحه ونیل جائز نه دی.

② بیا دَ ائمه ثلاثه نه امام مالك رحمه الله اوامام احمدبن حنبل رحمه الله په نیز په سری مونځ کښې قرأت خلف الامام مستحب دې خو په جهری مونځ کښې که چرې مقتدی دَامام قرأت نه اوری نوهغه وخت هم دَهغه دَپاره فاتحه ونیل مستحب دی.امام محمدرحمه الله ته هم داسې نسبت شوې دې چې د هغوی په نیزهم په سری مونځونوکښې قرآءت لوستل مستحب دې.

③ امام ابوحنیفه رحمه الله په سری مونځونوکښې فاتحه ونیل اونه ونیلو متعلق پنځه اقوال په معارف السنن کښې دَ حضرت سید یوسف بنوری رحمه الله نقل کړی دی.

۱- ونیل واجب دی. ۲- مستحب دی ۳- مباح دی

۴- مکروه تنزیهی دی ۵- مکروه تحریمی دی.

دَاحنافو په نیز مکروه تحریمی ته ترجیح حاصله ده.

امام محمد ته په سری مونځ کښې د قراءت خلف الامام د استحباب نسبت:-

① دَاحنافو دَعلماؤ نه امام محمد رحمه الله طرف ته دا خبره صاحب دَ هدايه منسوب کړې ده چه دَ امام محمد رحمه الله په نيز مستحب دی. خو

② ملاعلی قاری رحمه الله دَ مشکوة شريف په شرح کښې فرمائی: "والامام محمد من ائمتنا يوافق الشافعي في القراءة في السرية وهو الظهر في الجمع بين الروايات الحديثية" (مرقات ج۲ص:۳۰۱) يعنی زمونږ ائمه احناف نه امام محمد رحمه الله سری مونځونو کښې قرأت خلف الامام کښې دَ شوافع موافق دې اودَ احاديثو ټول روايات راجمع کولو دَ پاره دا مسلك زيات واضح دې اوهم دغه دَ امام مالك رحمه الله هم مسلك دې. ملاعلی قاری فصل ثانی دَ ابوهريره رضي الله عنه دَ حديث نمبر(۸۵۵) لاندې ليکی: "ومفهومه انهم كانوا يسرون بالقراءة فيما كان يخفى فيه رسول الله ﷺ وهو مذهب الاكثر وعليه الامام محمد من ائمتنا" (مرقات: ۳۰۲/۲)

③ غالبًا دَ شاه ولی الله رحمه الله هم دغه رائې ده چه سری مونځونو کښې قرأت خلف الامام بهتر دې.

امام محمد څخه په ټولو مونځونو کښې د قراءت خلف الامام د عدم جواز نقل:-

که دَ امام محمد رحمه الله دَ کتابونو طرف ته رجوع اوکړې شی نو په دې موجوده حالت کښې دَ هغوی دکتابونو نه هم دغه معلوميږی چه دَ هغوی په نيز په هيڅ يوصورت کښې فاتحه خلف الامام دَ وئيلو اجازت نشته دې.

① موطا امام محمد رحمه الله کښې هغوی فرمائی "لاقرأة خلف الامام فيما جهر فيه ولا فيما لم يجهر بذلك جاءت عامة الآثار وهو قول ابی حنيفة". (ص:۹۴)

② دغه شان هغه کتاب الآثار کښې ترك قرأت خلف الامام روايتونه جمع کولوسره فرمائی "وبه نأخذ لانری القراءة خلف الامام فی شئ من الصلوة يجهر فيه اولا يجهر" (ص:۶۵)

دَدې روايتونونه بيشکه معلوميږی چه دَامام محمد رحمه الله مسلك فاتحه خلف الامام کښې هم هغه دې کوم چه دَعامو احنافو دې

د مسلک حنفی مفتی به قول:- خود اَئمه احناف دَمسلك فتوىٰ داسې نه ده. افسوس که په سری مونځونو کښې احنافو دَ فاتحه خلف الامام وئيلو فتوىٰ ورکړې وې نو شوافع په جهری کښې دَنه وئيلو فتوىٰ ورکولې نو په دې سره به په دواړو مسلکونوکښې دَدې سخت اختلاف داخليج کم شوې وې او په ټولو نصوصوکښې به تطبيق کيدلو لکه چه دَ مالکيه اوحنابله مسلك دې.

نوټ: دلته مونږ دا اختلاف په دوو مذاهبوکښې تقسيمو. اول مذهب وجوب قراءة خلف الامام اودويم مذهب عدم جواز قراءت خلف الامام. تفصيل داسې دې.

داول فریق اول دلیل: - زیر بحث حدیث دَ حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه ددوی مستدل دي. کوم چه په صحیحین کښې ذکر دي.

د اول دلیل درې جوابونه: - ① داخبر واحد دي دَدې نه فرضیت نه شي ثابتیدي. دَ فرضیت دَ ثبوت دَپاره قطعي الثبوت او قطعي الدلالة نقص ضرورت دې کوم چه دلته نشته دي.

② حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه نه کوم روایت صحیحین کښې نقل دې چه "لاصلوة لمن لم یقرأبفاتحة الکتاب" په دې سره قرأت خلف الامام باندې استدلال نه شي کیدې ځکه چه په دې روایت کښې قطعاً دا تصریح موجود نه ده چه دادَ منفرد مونځ دې یا دَامام یا دَ مقتدی مونځ دې. ددې نه خوصرف دا معلومیږی چه چا فاتحه اونه وئیله دَهغه مونځ اونه شو. نودَدې متعلق مونږ هم دا وایو چه دَمنفرد اوامام مونځ دَ فاتحې نه بغیر صحیح نه دې.

د مذکوره توجیه قائلین - ① دَ قرأت خلف الامام دَدې قسم ټول روایاتو داسې توجیه امام احمدبن حنبل رحمه الله کړې دې. امام احمدبن حنبل رحمه الله قول ترمذی ص: ۵۰ باندې ذکر دې. دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله یوقول ابن قدامه رحمه الله المغنی کښې نقل کړی دی. عبارت مزیدار دې په دې وجه دَ ناظرینودَپاره پیش کولې شي.

"قال احمدماسمعنااحداًمن اهل الاسلام یقول ان الامام اذاجهربالقراءة لاتجزئ صلوة من خلفه اذالم یقرأ،وقال هذاالنبی صلی الله علیه وسلم واصحابه وهذامالک فی اهل الحجازوهذاالثوري في اهل العراق وهذاالاوزاعی فی الشام وهذااللیث فی اهل المصر،ماقالواالرّجل صلی وقرءامامه ولم یقرءهو،صلوته باطل".

② هم دغه توجیه حضرت سفیان ثوری رحمه الله هم په ابوداؤد صفحه ۱۱۹ باندې کړې ده چه دَدې قسم روایتونه دَامام یا منفرد یعنی ځان له مونځ کونکی دی.

يوه معقوله خبره: - دَعقل ځخه د ډك کلام مطلب دادې چه امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه مونږ دَ اهل اسلام نه دَ چاباره کښې دانه دی اوریدلی څوك چه دا وائی که چرې امام په جهرسره قرأت کوی اومقتدی قرأت نه کوی نودَ هغه مونځ نه کیږی بیا فرمائی چه لږ شان اوګورئی دا نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرام مدینه منوره کښې موجود دی اودا امام مالك رحمه الله په حجاز کښې موجود دې. دا سفیان ثوری رحمه الله په عراق کښې دې هغه اوګورئی اوزاعی رحمه الله په شام کښې دې اولیث بن سعد رحمه الله دَ علم مرکز مصر کښې دې. داټول حضرات دَ دغه سړی مونځ ته باطل نه وائی دَ کوم چه امام قرأت کوی اوهغه پخپله قرأت نه کوی.

③ امام ترمذی رحمه الله هم فاتحه خلف الامام نه ویونکی مونځ ته صحیح وئیلې دې اوفرمائیلی چه کوم خلق دَ مانځه فاسد کیدو خبره کوی هغوی دَ تشدد نه کاراخلی اوبیائی اوفرمائیل چه امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه دَ عباده بن صامت رضی الله عنه روایت دَمنفرد باره کښې دې.

د اول دلیل دریم جواب:- ③ دلته لاصلوة کښې دَ لا کلمه نفی دکمال دَپاره ده لکه څنګه چه په دې لاندې حدیث کښې نفی دکمال دَپاره ده. دَمثال په توګه:

د نفی کمال دپاره د.،لا،، د استعمال مواقع:-

① ((لایؤمن احدکم حتی اکون أحب الیه من والده وولده))

② ((لایؤمن من یشبع وجاره جائع))

③ ((لیس المسکین الذي ترده التمرة والتمرتان))

④ ((لا ایمان لمن لا عهد له))

⑤ ((لاصلوة لجار المسجد الافي المسجد))

بهرحال دَحضرت عباده بن صامت رضی الله عنه په حدیث کښې اصل صلوة نفی نه ده بلکه دکمال نفی ده او مونږ هم وایو او منوئی. خلاصه دا چه داحدیث ډیر مضبوط دې مګر په مدعاباندې نص نه دې.

د اول فریق دویم دلیل:-

وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنَّا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ، فَقَرَأَ فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: "«لَعَلَّكُمْ تَقْرَءُونَ خَلْفَ إِمَامِكُمْ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، يَارَسُولَ اللّٰهِ قَالَ: لَاتَفْعَلُوا إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، فَإِنَّهُ لَاصَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا» "، رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ،

دا حدیث په مشکاة کښې نمبر ۸۵۴ باندې دې.د دې څخه دوی استدلال کوی. دا حدیث په خپله مدعاباندې نص هم دې

د دویم دلیل څلور جوابونه:- ① دَسند په اعتبارسره دا حدیث مضطرب دې څکه چه مکحول کله محمود بن ربیع نه نقل کوی او کله په مینځ کښې دَ نافع واسطه ذکر کوی. کله دَمکحول او عباده بن صامت رضی الله عنه په مینځ کښې یوه واسطه راځی.

② دَ علماء اصول په نیزدا قاعده ده چه دَ نهی نه پس کومه استثنا راځی هغه دَ اباحت فائده ورکوی یعنی امر بع الحظر اباحت فائده ورکوی لهذا دَ فاتحې فرضیت دَدې نه نه ثابتیږی. (کذاقال الشیخ ګنګوهی)

③ حضرت عباده رضی الله عنه په کوم دورکښې دَ فاتحې ذکرفرمائی نودغه دویم دور وو. روستوچه کله بیا دریم دور راغلو نودا حکم موقوف شو لکه چه اول بیان کړې شوې دې چه په مونځ باندې دَ تغیراتو درې دورونه راغلی دی.

④ دَحضرت عباده رضی الله عنه زیر بحث روایت کښې بعضې طرق کښې "فصاعدا" او "مازاد" او "ماتیسر" الفاظ هم راغلی دی حالانکه اول فریق په مقتدی باندې ضم صورت نه واجب کوی صرف فاتحه پرې فرض کوی نو په دې صورت کښې په نیم حدیث باندې عمل شته او په نیم حدیث باندې عمل نشته.

داول فریق دریم دلیل: -دابوهریره رضی الله عنه هغه روایت د دوی مسدل دې په کوم کښې چه دَ فاتحې نه بغیر مونځ خداج گرځولې شوې دې اوحضرت ابوهریره رضی الله عنه وائی چه په زړه کښې دې وائی مگر فاتحه دې نه پریږدی.

د دریم دلیل دوه جوابونه: ① په حقیقت کښې خودا روایت دَ احنافو دلیل دې چه فاتحې نه واجب وائی شوافع خو فاتحه فرض گنړی. که فاتحه فرض وی نوبیا چرته مونځ ناقص شو بیاخو باطل شو. بیا هم احناف دَدې دا جواب ورکوی چه سفیان ثوری رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله داحدیث دَ خان له مونځ گذار دَپاره گرځوی. باقی "اقرأفي نفسك"مطلب دادې چه په زړه کښې دَ فاتحې تصور کوه اودَ هغې په معنی کښې غورکوه گنی په زړه سره خوقرأت نه کیږی.دَ چا په نیز هغه قرأت معتبر نه دې دَ کوم الفاظ چه په ژبه سره ادانه شی.
② مقتدی به فاتحه کوم وخت وائی چه تاسو وایئی دَ ثنا په وخت کښې دې وائی نوامام شافعی رحمه الله په کتاب الام کښې په واضحه توگه دا منع کړی دی. که چرې تاسو وایئی چه په سکتات کښې دې وائی یعنی کله چه امام دَ فاتحې ختمولو نه پس سکته کوی یا بل وخت کښې سکته اوکړی نودَدې جواب دادې چه په امام باندې هیڅ یو سکته واجب نه ده. که چرې امام په مینځ کښې سکته اونه کړی نو بیابه تاسو څه کوئی اوکه دَامین په وخت ئی په سکته کښې وایئی نوهلته دومره وخت نه وی چه فاتحه په کښې اوشی. که چرې امام دَ مقتدی په انتظار شو نوبیا خوهغه پیش امام نه پاتې کیږی بلکه مقتدی به جوړشی ځکه چه دا امام دَ مقتدی تابعداری کوی اودا قلب موضوع ده نوتاسو اوښایئی چه مقتدی په جهری مونځ کښې فاتحه په کوم وخت کښې اووائی؟

د دویم فریق اول دلیل:

دَ قرآن کریم آیت دې. ﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ [سورت اعراف ۲۰۴]د دوی مستدل دې.

د استدلال دوه طریقې: -① دلته دوه لفظونه دی (فَاسْتَمِعُوا) دې دَدې تقاضاده چه کله دَ قرآن دَ لوستلو په وخت هغه اورولې شی نو تاسو خاموش کیدوسره هغه واؤرئی. دلته دویم لفظ (وَأَنصِتُوا) دې. دَدې مطلب دادې چه کله قرآن لوستلې شی نوسره دَدې چه هغه نه شی اوریدې نوبیاهم خاموش پاتې شه. په دې صورت کښې دَ (فَاسْتَمِعُوا) او (وَأَنصِتُوا) کښې دَ لغت په اعتبارسره فرق وی اودا فرق مفسرینو منلې دې لهذا دا دلیل دَاحنافو په دواړو دعووباندې واضح دلیل دې چه امام پسې جهری او سری دواړو قسمو مونځونو کښې قرأت نشته دې.

② اوکه چرې (فَاسْتَمِعُوا) او (وَأَنصِتُوا) مفهوم جدا جدا نه وی بلکه هم یو وی چه کله قرآن لوستلې شی نو تاسو خاموش اوسیږئی نو په دې صورت کښې به دا آیت په جهری

مونځونو کښې امام پسې شاته نه وئيلو باندې دَ احناف او جمهور واضح دليل دې.
په مذکوره دليل اعتراض:- دا آيت دَ جمعې دَخطبې باره کښې نازل شوې دې لهذا په خطبه کښې خاموش پاتې کيدل پکاردی مونځ سره دَدې تعلق نشته دې؟
دااعتراض درې جوابونه:- ① دا دَ سورت اعراف مکی آيت دې اودَ جمعې خطبه يا دَ اخترونو خطبه مشروعيت او شروع په مدينه منوره کښې شوې وه نودَ آيت تعلق خطبې سره څنګه ممکن کيدې شی. (کذاقال شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله)
② دَمفسرينو اوجمهور علماؤ په نيز دا آيت دَمونځ متعلق نازل شوې دې. حافظ ابن تيميه رحمه الله فرمائی چه : "قال احمد اجمع الناس على انها نزلت في الصلوة" (فتاوىٰ ابن تيميه ج۲۲ ص۲۹۵)
محمدبن جرير طبری رحمه الله فرمائی چه دَدې آيت په شان نزول کښې درې قسم اقوال مشهوردی. اول دا چه مانځه سره متعلق دې دويم دا چه دَدې تعلق خطبې سره دې او دريم احتمال دادې چه دا آيت مونځ اوخطبې دواړو سره متعلق دې چه په دواړو کښې دَ قرآن دَ لوستلو په وخت چپ اوسيدل پکاردی. ابن جرير رحمه الله دريم قول ته ترجيح ورکړې ده.
③ تيک ده دا آيت دَ جمعې دَ خطبې باره کښې نازل شوې نوچه کله دَ خطبې دَ يو څو آياتونودَ وجې نه دَ اوريدو اوچپ کيدو حکم دې نو دَ مونځ په قرأت کښې خو په درجه اولی کيدل پکاردی ځکه چه په مونځ کښې خو ډير آياتونه لوستلې کيږی.
④ دَ قرآن په آياتونو کښې دَعموم الفاظو اعتبار کيږی دَ خصوصی موقع او واقعې اعتبارنه کيږی کمافی الاصول.نوکه دا آيت د خطبې په باره کښې هم نازل شوې وی نوحکم به ئې صرف په خطبه پورې خاص نه وی بلکه عامو حالاتو ته به هم شامل وی.
د دويم فريق دويم دليل:- دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دا دی. ((قال فانتهى الناس عن القراءة مع رسول الله ﷺ)) په مشکاة کښې دَ شمير په لحاظ سره دا حديث ۳۱ دې. داحديث په جهری مونځ کښې قراءة خلف الامام نه کولوباندې واضح ترين دليل دې بله دا چې ابوهريره رضي الله عنه متاخرفی الاسلام دې نوکيدې شی چه دا روايت دَ قرأت دَ باقی احاديثودَپاره ناسخ وی.
دااعتراض:- دَ فانتهى الناس جمله دَ زهری ده دَ صحابی نه ده نودا روايت مرسل دې اودا جمله مرفوع نه ده؟
د اعتراض دوه جوابونه:- ① تيک دا روايت مرسل دې نوڅه اوشو؟ جمهور خو مرسل په زړه او ځان سره قبلوی دا روايت هم زمونږ قبول دې. په دې روايت سره هم دَ احنافو يوه دعویٰ ثابتيږی چه په جهری مونځ کښې فاتحه خلف الامام وئيلونه خلق منع شی.
② حقيقت دادې دا جمله دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه نقل کړې شوې جمله ده اودَ زهری نه ده. او شوافع ته وهم شوې اودَ وهم قصه داسې پيښه شوې ده چه زهری دا روايت بيانولو کله

چه فانتهی الناس ته اورسیدو نو آواز ئې بنکته شو اوریدې نه شو. نوشاګردانو یویل ته اووئیل ماقال الزهري؟ یعنی زهری څه اووئیل. کوم وخت چه دَ هغه آواز بنکته شو نو خودونکی اووئیل چه قال الزهري فانتهی الناس نوراتلونکي نقل کونکوته شك پیدا شو چه دا قول دَ امام زهری رحمه الله دې دَ صحابی نه دې. حالانکه اخوا ابوداؤد شریف ص: ۱۴۰ باندې تصریح موجود ده چه ((قال قال ابوهريرة فانتهى الناس))

د دویم فریق دریم دلیل:- دَ حضرت ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې کوم چه دَ مشکوة شریف ص: ۷۹باندې موجود دې په کوم کښې چه دا الفاظ راغلی دی "واذاقرأ فانصتوا" یعنی چه کله امام قرآن لولی تو تاسو چپ اوسیږئی. داحدیث امام مسلم رحمه الله صحیح مسلم ج۱ص: ۱۷۴باندې نقل کړې دې او تاکید سره ئې داحدیث صحیح ګرځولې دې. سره ددې چه دَحدیث بعضې طرق کښې دا جمله مذکور نه ده وړاندې تفصیل راځی.

په مذکوره دلیل اول اعتراض:- دَدې روایت په سند کښې سلیمان تیمی رحمه الله دې او هغه مدلس دې اودلته قتاده رحمه الله نه عنعنه سره نقل کوی اودَمدلس عنعنه قبوله نه ده؟

داول اعتراض جواب:- دَ بعض مدلسین دَ ثقاهت دَ وجې نه دَ هغه عنعنه قبلولې شی لکه قتاده، اعمش او سلیمان تیمی لهذا دلته هم دَ هغه عنعنه قبوله ده. محدثینو تصریح کړې ده چه دَ صحیحین په روایاتو کښې که چرې دَمدلس عنعنه هم راشی نوهغه مقبول ده. ځکه چه دَ صحیحین دَ ټولو روایتونو په صحت باندې دَعلماؤ اتفاق دې هغه که چرې عنعنه سره هم دَمدلس روایت نقل کوی نو پوره تحقیق او پوره یقین سره ئې نقل کوی.

چنانچه امام نووی رحمه الله په یو مقام باندې فرمائی "فقد قدمنا في مواضع من هذا الشرح ان مارواه البخاري ومسلم عن المدلسين وعنعنوه فهو محمول على انه ثبت من طريق آخر سماع ذلك المدلس هذا الحديث فيمن عنعنه منه واكثر هذا اوكثير منه يذكر مسلم وغيره سماعه من طريق آخر متصلا به" (مسلم ۱/۲۰۹)

نودا اعتراض بې ځایه دې ځکه چه هم دغه روایت په ابوداؤد وغیره کښې ذکر دې هلته عنعنه نشته دې.

په مذکوره دلیل دویم اعتراض:- "واذاقرأفانصتوا" چه کومه جمله ده هغه دَ قتاده رحمه الله نه صرف دَهغه یو شاګرد سلیمان تیمی رحمه الله نقل کوی. دَقتاده رحمه الله نور شاګردان دا جمله نه نقل کوی نو سلیمان تیمی رحمه الله دَدې جملې په نقل کولو کښې منفرد دې لهذا داجمله معتبر نه ده؟

د اعتراض جواب:- دَ قتاده رحمه الله نه "واذاقرأفانصتوا" جمله صرف سلیمان تیمی رحمه الله نه نقل کوی بلکه دَهغه متابع موجود دی. چنانچه دَ ابوعوانه په روایت کښې قتاده رحمه الله نه ابوعبیده نقل کوی اودَ بیهقی دارقطنی او بزاز په روایت کښې دَ حضرت قتاده رحمه الله نه عمر بن عامر اوسعیدبن ابی عروبه رحمه الله نقل کوی نودَ قتاده رحمه الله نه که دا جمله سلیمان

تیمي نقل کړې ده نوعمر بن عامر، سعیدبن ابی عروبة او ابوعبیده رحمه الله هم نقل کړې ده. لهذا سلیمان تیمی رحمه الله دَ حضرت قتاده رحمه الله دَ نورو شاګردانو مخالفت نه دې کړې بلکه هغوی یو زیاتی مستند جمله ذکرکړې ده کومه چه نورو شاګردانو نه ده نقل کړې نودا مخالفت نه دې.

امام مسلم او ده زیاتی جملې توثیق:-امام مسلم رحمه الله دا جمله صحیح ګرخولې ده خکه چه دَهغوی نه دَهغوی شاګرد ابوبکر رحمه الله تپوس اوکړو چه دَحضرت ابوهریره رضي الله عنه په حدیث کښې کوم "واذاقرأفانصتوا" جمله ده هغه څنګه ده؟ امام مسلم رحمه الله اوفرمائیل "هوصحیح عندي" یعنی زما په نیزصحیح ده. "فقال لم لم تضعه ههنا؟فقال لیس کل شئ عندي صحیح وضعته ههنا" (مسلم ۱۷۴/۱)یعنی شاګردتپوس اوکړو چه که چرې داجمله صحیح وه نوبیا تاسو په کتاب کښې دَ ابوموسٰی اشعری رضي الله عنه والاروایت په دې حدیث کښې ولې نه دې درج کړې؟ امام مسلم رحمه الله په جواب کښې اوفرمائیل دا ضروری نه دی چه زه دې هریوصحیح حدیث دلته راجمع کړم. ډیر زیات صحیح احادیث دی مګر مادلته نه دی جمع کړی لکه چه دا حدیث دې په کوم کښې چه دا جمله ده البته چه کوم حدیث زه جمع کوم هغه ضرور صحیح وی.

خلاصه د دلیل:-دَ ابوموسٰی اشعری رضي الله عنه دَ روایت نه دَ احنافوصرف یوه دعویٰ ثابتیږی چه په جهری مونځ کښې قرأت خلف الامام نشته دې.

د دویم فریق څلورم دلیل:- دَ حضرت جابر رضي الله عنه روایت د دوی مستدل دې دَکوم الفاظ چه دادی: ((عن جابر رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من کان له امام فقراءة الامام له قراءة)) طحاوی دا روایت په مختلف طرق سره نقل کړې دې. دغه شان امام محمد رحمه الله مؤطا کښې دا ذکرکړې دې. بله دا چه په مسندابی حنیفه کښې هم موجود دې او بیهقی او دارقطنی هم دا نقل کړې دې. دَدې په اکثرطرق کښې سره دَدې چه ضعف دې لیکن بعض طرق بالکل صحیح دی.

په مذکوره دلیل اعتراض:- دارقطنی دَدې روایت په مرفوع کیدو باندې اعتراض کولوسره لیکلی دی "لم یسنده عن موسی بن ابی عائشه غیرابی حنیفه والحسن بن عمارة وهما ضعیفان" یعنی دا روایت مرفوع روایت کونکی صرف دوه راوی دی یو ابوحنیفه رحمه الله او دویم حسن بن عماره رحمه الله دې اودا دواړه ضعیف دی؟

دااعتراض جواب:علامه بدرالدین عینی رحمه الله فرمائی که چرته دارقطنی کښې لږشان هم شرم اوحیاء وې نوهغه به داسې خبره چرې هم نه کوله. بیا هم دَ هغه خپلو دَ شوافع علماؤ په دارقطنی باندې داسې قلم اوچت کړې دې چه هغه ئې ذره ذره کړې دې او بیا دَ اصحاب الجرح والتعدیل علماؤ وئیلی دی چه په ائمه اربعه باندې تفصیلی جرح هم معتبرنه ده نوځه به اجمالی جرح وی.

امام ابوحنیفه د محدثینوپه نظر کښې:- علماء جرح والتعدیل دَ امام ابوحنیفه رحمه الله

زبردست توثیق کړې دې.

① یحیی بن معین رحمه الله فرمائی "ابوحنیفة ثقة مأمون ماسمعت احدا ضعفه وشعبة بن الحجاج یکتب الیه ان یحدث" بل شعبه بن حجاج رحمه الله هغوی ته "صدوق فی الحدیث" په شاندار الفاظو سره یاد کړې دې هغوی لیکلی دی "قال شعبة ابوحنیفة ثقة من اهل الدین والصدق ولم یتهم بالکذب، وکان مأمونا فی دین الله صدوقا فی الحدیث" یاد لرئی شعبه بن حجاج رحمه الله دَ امام ابوحنیفه رحمه الله دَ لویو استاذانو نه دې. بهرحال دَ امام ابوحنیفه رحمه الله ډیر اوچت شان دې.

② دَ امام بخاری رحمه الله او مسلم استاذ فی الحدیث الشیخ عبدالرازق صاحب رحمه الله المصنف دَ امام ابوحنیفه رحمه الله شاګرد دې. هغه چه کله په خپل کتاب کښې دَ امام ابوحنیفه رحمه الله حدیث نقل کوی نو فرمائی چه "اخبرنا ابوحنیفة الخ" شیخ عبدالرزاق رحمه الله په خپل کتاب مصنف کښې تقریبًا اویا روایتونه دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه اخستی دی.

③ امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله خود دَ امام ابوحنیفه دَ شاګردانو شاګردان دی. هم په دې وجه امام شافعی رحمه الله فرمائیلی "الناس عیال فی الفقه علی ابی حنیفه رحمه الله" بهرحال دَ دارقطنی دَپاره مناسب نه وو چه هم دَ خپلې سلسلې دومره لوئی فقیه او امام باندې داسې سختې حملې اوکړی. ګورئی مونږ یو داسې سند راوړو په کوم کښې چه امام ابوحنیفه رحمه الله ذکر نشته دې.

((عن اسحاق الازاق عن سفیان وشریك عن موسی بن ابی عائشة عن ابراهیم عن جابر قال قال رسول الله ﷺ من کان له امام فقراءة الامام له قراءة)) دریم سند هم واخلئی چه تسلی اوشی.

((عن اسحاق الازاق عن سفیان الثوری وشریك عن موسی بن ابی عائشة عن شداد بن الهاد عن جابر قال قال رسول الله ﷺ من کان له امام فقراءة الامام له قراءة))

دا ټول روایات مرفوع دی اودا آخری سند خو علی شرط مسلم دې. اوکه چرې دارقطنی په ضد کښې وی چه حدیث مرسل دې نو مونږ هغه ته بنایو چه زمونږ په نیز اود جمهور علماؤ په نیز مرسل روایت حجت دې. اوکه چرې دَ دارقطنی په نیز حجت نه دې نو مونږ دَ هغه دا درد کمولې نه شو.

دا روایت دَ ائمه احناف دَ دواړو دعوو دَپاره بهترین دلیل دې دَ کوم مطلب چه دادې په سری او جهری دواړو مونځونو کښې دَ امام قرأت دَمقتدیانو دَپاره کافی دې.

د دویم فریق پنځم دلیل: - دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دا دی: ((عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ انما جعل الامام لیؤتم به فاذا کبر فکبروا واذا قرأ فانصتوا)) (رواه ابوداؤد)

په مذکوره دلیل اعتراض: - په دې کښې یو راوی ابوخالد دې هغه ضعیف دې لهذا استدلال صحیح نه دې؟

د اعتراض جواب:- علامه ابن حجر رحمه الله ابو خالد په ثقات کښې شميرې دې. دغه شان نواب صديق حسن خان هغه ته ثقه وئيلی دی بل دَ ابو خالد متابع محمد بن سعد انصاری هم دې. علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله فتح الملهم کښې فرمائی چه په دې حديث کښې "واذاقرأفانصتوا" الفاظ که نه هم وی بيا هم دا حديث په عدم قرأت خلف الامام باندې واضح دليل دې. ځکه چه بخاری او مسلم کښې اونورو ټول کتب حديث کښې "واذاقرأفانصتوا" جملې څخه علاوه حديث په کثرت سره موجود دی په کوم کښې چه مقتدی ته دَامام دَ اتباع حکم ورکړې شوې دې او دَ امام اتباع په تکبير کښې داده چه تاسو هم تکبيروايئی په رکوع کښې اتباع داده چه ته هم رکوع ته لاړشه او په سجده کښې اتباع داده چه تاسو هم سجده اوکړئی. په قيام کښې اتباع دا چه تاسو هم قيام اوکړئی. اوس سوچ کول پکار دی چه قرآن لوستلو کښې دَامام دَ اتباع کولو طريقه څه ده آيا لوستل دی که چپ پاتې کيدل دی. نودَ بخاری په روايت کښې دی چه کله به جبرائيل امين وحی راوړله اوقرآن به ئی وئيلو نو حضورپاک ﷺ به هم ورسره وئيلو نودَ قرآن آيت راغلو ﴿فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ﴾ دَ دې فاتبع قرآنه په تفسير کښې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائی "اي استمع له وانصت" دَدې نه په واضحه توګه باندې معلومه شوه قرآن وئيلووخت کښې دَ امام اتباع داده چه مقتدی دې چپ پاتې شی که قرآن اوری اوکه نه اوری ځکه چه دا ذمه والی امام پخپله پوره کوی. دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه دا حديث هم دَ احنافو دَدوارو دعوو دَپاره دليل جوړيدې شی.

د دويم فريق شپږم دليل:-

((عن ابن عباس رضي الله عنهما ان النبی ﷺ قال تكفيك قراءة الامام خافت وجهر)) (رواه دارقطنی).

په مذکوره دليل اعتراض:- دَا روايت منکردې نوقابل استدلال نه دې؟

د اعتراض جواب:- ليکن ابن قدامه رحمه الله فرمائی چه په دې روايت باندې دَ فقهاؤ دَمذهب بنياد قائم دې اودَ فقهاؤ مسلك چه په کومو روايتونو باندې قائم وی هغه رواياتو ته منکرنه شی وئيلې کيدې. دا روايت دَ ائمه احناف دَمسلك دَپاره دَ واضح ترين دلائلونه دې دَ احنافو دواړه دعوې دَدې څخه ثابتې دی.

د دويم فريق اتم دليل:- دَحضرت جابر رضي الله عنه هم روايت د دوی مستدل دې چه کوم سړې مونځ کوی او په هغې کښې فاتحه اونه وائی نوهغه هلو مونځ نه دې کړې. ((الاان يكون وراء الامام)) يعنی او که امام پسې وی نو دَ فاتحې وئيلو نه بغير مونځ کيږی. (ترمذی طحاوی اومؤطامالك دا روايت نقل کړې دې). دا روايت دَ احنافو دَپاره سری او جهری دواړو مونځونودَپاره بالکل واضحه دليل دې.

د دويم فريق نهم دليل:- دَحضرت ابوبکر رضي الله عنه روايت هم د دوی مستدل دې. اودَا هغه واقعه ده چاچه په مسجد نبوی کښې دَ داخليدو په وخت حضورپاک ﷺ په رکوع کښې

اولیدلو اوهم هلته دَ دروازې نه ئې نیت اوتړلو اودَ رکوع په حالت کښې دَ صف طرف ته په منډه اورسیدو. دَ مونځ دَ فارغیدو نه پس ئې دَ حضورپاك ﷺ نه دَمسئلې تپوس اوکړو حضورپاك ﷺ اوفرمائیل ((زادك الله حرصاولاتعد)) (مشکوة ص: ۹۹) حضورپاك ﷺ هغه ته دَ مونځ راواپس کولودَپاره اونه فرمائیل بلکه دَ شوق زیاتیدو دعائی ورله اوغوښتله چه الله تعالی دې دَ نیکوطرف ته ستا شوق نور هم زیات کړی بیا داسې مه کوه بلکه صف کښې شاملیدوسره تکبیرتحریمه اداکوه کوم مونځ چه ملاؤ شی هغه اوکړه اوکوم چه قضا شی هغه اداکړه.

استدلال: -دَ حدیث په دې واقعه کښې شوافع هیڅ تاویل نه شی کولې اودا یومضبوط دلیل دې چه دَ امام قرأت دَ مقتدی قرأت دې جدا وئیلو ضرورت نشته دې ګنی فرض پریخودوسره مونځ څنګه صحیح کیدې شی.

یوه اختلافی قاعده: -په حقیقت کښې دلته یو ضابطه ده کوم چه شوافع په داسې مسلك خپلولوباندې مجبورکړی دی اوهغه دا چه دَ شوافع په نیز دَامام اومقتدیانو په مینځ کښې په مونځ کښې اتحاد نشته دې بلکه صرف اشتراك عمل دې اودَ هریوخپل خپل عمل دې په دې وجه هریوله فاتحه وئیل پکاردی. دَ امام وئیل صرف دَ هغه دَ ځان دَپاره دی او مقتدی له پخپله وئیل پکاردی. لیکن دَ احنافو په نیز دَدواړو مونځ کښې صرف اشتراك عمل نه بلکه اتحاد عمل هم دې. لهذا دَ امام قرأت دَ مقتدیانو هم قرأت دې. بهرحال دا روایت هم دَ احنافو دَ دواړو دعوو دَپاره دلیل دې.

د دویم فریق لسم دلیل: -دَ حضرت ابوهریره ﷺ هم د دوی مستدل هغه مشهورحدیث دې کوم چه اول فریق په خپل دلیل کښې پیش کوی لیکن په حقیقت کښې هغه دَ احنافو دلیل دې. دَهغې یو څو الفاظ دادی: ((وعن ابوهریرة قال قال رسول الله ﷺ من صلی صلوة لم یقرأ فیها بأم القرآن فهی خداج ثلاثا غیرتمام)) (مسلم شریف)

طریقه د استدلال: -طرز دَ استدلال داسې دې چه امام پسې شاته فاتحه نه وئیلودَ وجې حضورپاك ﷺ دَ مونځ ګذار مونځ ناقص ګرځولې دې باطل نې ورته نه دی فرمائیلی. که چرې فاتحه فرض وې نودَهغې نه بغیربه مونځ باطل کیدو.

په احنافو اعتراض: - احنافو تاسو پخپله منئی چه دَ فاتحې نه بغیرمونځ ناقص دې نو تاسو ناقص مونځونه ولې کوئی؟ او په دې نقصان اوچتولو باندې دا دومره زور ولې ورکوئی؟د دې اعتراض جواب په دې لاندې عنوان کښې ورکړې شوې دې؟

د مونځ تاریخی مراحل: - په مونځونو باندې څو دورونه راغلی دی.

① یو وخت داسې وو چه په مونځ کښې دَ خبرو کولو اجازت وو

② بیا هغه حکم موقوف شو او امام سره سره په جهری مونځونو کښې قرآن لوستل باقی پاتې شو.

③ بیا داحکم موقوف شو او په سری مونځونو کښې ونیل باقي پاتې شو
④ بیا داهم موقوف شو او صرف دَ فاتحې ونیلو حکم باقي پاتې شو کوم چه پورته په حدیث کښې ذکر دی
⑤ بیا داحکم موقوف شو اوږ امام قرأت دَ مقتدیانو دَپاره کافي اوګرځولې شو باقي نه منع کړې شو. نوچه کله دَامام لوستل په حکمي توګه باندې دَمقتدیانو ونیل دی نواوس دا نقصان ختم شو لهذا دَ مقتدي فاتحه ونیلو نه بغیر مونځ ناقص نه دې.

د دویم فریق یولسم دلیل: - د دویم فریق یو دلیل دَعلقمه رحمه الله د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت کړې دې چه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل چه افسوس چه دَ دغه سړی خله دَ خاورونه ډکه شی څوك چه امام پسې لوستل کوی. (رواه طحاوی باسناد حسن)

د دویم فریق دولسم دلیل: - ابوحمزه رحمه الله وائی چه ماد حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه تپوس اوکړو چه کله امام مخامخ وی نوآیا زه هغه پسې شاته لوستل کوم؟ ابن عباس رضي الله عنه په جواب کښې اوفرمائیل چه نه مه وایه. (طحاوی ص: ۱۵۱)

د دویم فریق دیارلسم دلیل: - د دویم فریق یو دلیل د عطاء بن یسار رحمه الله دَ حضرت زیدبن ثابت رضي الله عنه نه روایت کړې دې چه حضرت زیدبن ثابت رضي الله عنه اوفرمائیل چه امام پسې په یومونځ کښې هیڅ مه وایئی. (طحاوی ص: ۱۵۱)

د دویم فریق څوارلسم دلیل: - دَ الله تعالی په وړاندې په صف کښې اودریدو سره ټول مونځ ګذار ثنا وائی بیا ټول خاموش کیدوسره یوامام دَ درخواست پیش کولودَپاره فاتحه وائی. په آخره کښې ټول مقتدیان په دغه درخواست باندې آمین ونیلوسره دستخط کوی او دَدغه مضمون تائید کوی. داسې نه ده پکارچې هریوکس خپل خپل درخواست وړاندې کوی.

دمثال په رڼرا کښې وضاحت: - دَدې مثال تاسو داسې اوګنړئی چه مثلاً یوه جرګه او معزز وفد بادشاه له څی. نوقاعده داده چه اول دَ ټولو نه مخکښې ټول دَ بادشاه په مخکښې دَحاضرئی په وخت سلام وغیره آداب اوکړی بیا ټول ملاویدوسره یومګړې دَ خبرې دَ وړاندې کولو دَپاره وکیل جوړوی اودَ وکیل خبره دَ ټولو خبره وی دَ بادشاه په مخکښې دَټولو خبرې کول دَ ادب خلاف ګنړلې شی. بیاچه کله وکیل درخواست پیش کوی نودَ وفد نور ارکان دَ هغې تائید کوی.
بالکل هم دغه شان دلته دَ ټولو په لوستلوسره دَ اصول وکالت او اصول اقتداء دَخرابیدو خطره ده. هلته په درخواست کښې چونکه دَ هدایت سوال کړې شوې دې په دې وجه حکم کیږی چه قرآن واینی هم دغه هدایت دې. په دې وجه امام سورت یوځائی کولوسره قرآن وائی اوکله چه درخواست قبلیږی نو ټول کیناستوسره دَ شکریې په توګه التحیات وائی او بیا دَ رخصتی سلام کولوسره واپس څی.

خلاصه د دلائلو: - د دې ټولو روايتونو نه دا خبره ثابته شوه چه د امام او ومقتدي دواړو په مونځ کښې وحدت او اتحاد راغلې دې ځکه چه امام د دې د پاره مقرر کړې شوې دې چه د هغه اقتداء او اتباع اوکړې شي. د امام مونځ ضامن دې او د مقتدي مونځ متضمن دې. اوس که چرته مقتدي هم لوستل شروع کړي نو دا اصول اقتداء او اصول اتباع خلاف دي مګر يادلرئي چه دا قاعده صرف د قرآن لوستلو متعلق ده ځکه د قرآن متعلق د ﴿فَاسْتَمِعُوْا﴾ او ﴿وَأَنْصِتُوْا﴾ حکم راغلې دې. د قرآن نه علاوه نور ذکرونه امام پسې شاته وئيل منع نه دي.

په فاتحه خلف الامام باندې د امام اعظم مناظره: - نقل دي چه امام ابوحنيفه رحمه الله سره قرأت خلف الامام باندې بعضې علماؤ بحث اوکړو. هغوی اوفرمائيل چه د بحث او مناظرې د پاره يو جماعت تشکيل کړئي. هغوی يو جماعت جوړ کړو. امام صاحب اوفرمائيل چه ماسره به په بحث کښې ټول خبرې کوئي که يو کس به کوي؟ هغوی وئيل خبره به يو کس کوي. هغوی اوفرمائيل چه د خبرې کولو د پاره چه څوك خوښوئي د هغه خبره به د ټولو خبره وي يا د هغوی به خپله خبره وي؟ وفد وئيل چه نه هغه به زمونږ وکيل او نمائنده وي د هغه خبره به د ټولو خبره وي. امام صاحب اوفرمائيل چه بس مناظره اوشوه. په هغوی کښې چه کوم کم فهم وو هغوی شور شروع کړو چه نه اوس مناظره کول دي. مګر د هغوی پوهانو اووئيل بس کړئي لاړشئي تاسو ماتې خوړلې ده او د شکست تاسو اقرار اوکړو. لکه چه امام ابوحنيفه رحمه الله هغوی ته په عملي توګه اوخودل چه کله زما په مخکښې هم يو وکيل خبرې کوي او د هغه خبره د ټولو د طرف نه اوګڼلې شي او ټول په ټول خبرې نه کوي نو هم دغه ضابطه او قاعده د مانځه متعلق هم ده په مونځ کښې د دې نه ولې انحراف کولې شي.

[۸۲۲] د سورة فاتحه نه وئيلو سره په مانځه کښې نقص راتلل

۸۲۲—(۱)[۲] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ ۳» ثَلَاثًا - غَيْرُ تَمَامٍ"، ۴ فَقِيلَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ: إِنَّا نَكُونُ وَرَاءَ الْإِمَامِ، ۵ قَالَ: اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ۶ " قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي نِصْفَيْنِ، ۷ وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ: ﴿الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [الفاتحة: ۲]، ۸ قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: حَمِدَنِي عَبْدِي،

ترجمه: ۱ او ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۲ کوم سړي چې په لمانځه کې سورة فاتحه ونه وايي نو د هغه مونځ ناقص دي ۳ (حضور صلى الله عليه وسلم دا) درې ځله (وفرمايل چې د هغه مونځ ناقص دي) ۴ د ابوهريره رضي الله عنه څخه (دا اوريدو سره) پوښتنه وشوه هر کله چې مونږ امام په پسې يو (نو هغه وخت يې هم اووايو)؟ ۵ هغه اوويل چې (هو مګر)

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلاة . باب وجوب قراءة الفاتحة فى كل ركعة. وإنه إذا لم يحسن الفاتحة. ولا أمكنه تعلمها قرا ما تيسر له من غيرها (رقم۳۸ - (۳۹۵)

خو په خپل زړه کې يې په رو وايه چې بس ته يې اوريدي شي څکه چې ما د حضور ﷺ څخه اوريدلي دي [۶] چې الله بزرګ وبرتر فرمايي ما مونځ (يعني سورة فاتحه) خپل او د خپل بنده ګانو په مينځ کې نيم په نيم تقسيم کړي دي (دا رنګه چې حمد او ثنا خو زما د پاره ده او دعا د بنده د پاره) [۷] او بنده چې څه غواړي هغه ته به ورکول شي هر کله چې بنده دا وايي الحمد لله رب العلمين (يعني ټول تعريفونه د الله د پاره دي چې د ټولو جهانو پروردګار دي) [۸] نو الله تعالى جل جلاله فرمايي چه زما بنده زما تعريف بيان کړو.

[۱] وَإِذَا قَالَ: ﴿الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ﴾ [الفاتحة: ۳] [۲] قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي، [۳] وَإِذَا قَالَ: ﴿مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ﴾ [الفاتحة: ۴] [۴] قَالَ: مَجَّدَنِي عَبْدِي، [۵] وَإِذَا قَالَ: ﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ [الفاتحة: ۵] [۶] قَالَ: هَذَا بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي، وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ، [۷] فَإِذَا قَالَ: ﴿اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ - صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ۶-۷] [۸] قَالَ: هَذَا لِعَبْدِي وَلِعَبْدِي مَا سَأَلَ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او هر کله چې بنده دا وايي چه الرحمٰن الرحيم (يعني الله ډير مهربان او ډير رحم کونکي دي) [۲] نو الله تعالى فرمايي زما بنده زما ثناء بيان کړه [۳] هر کله چې بنده وايي چه مالك يوم الدين (يعني الله د انصاف (قيامت) د ورځې حاکم دي) [۴] نو پروردګار فرمايي چه زما بنده زما د تعظيم اظهار وکړو [۵] هر کله چې بنده وايي اياك نعبد واياك نستعين (يعني اې پروردګاره مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا څخه مدد غواړو) [۶] نو الله تعالى جل جلاله فرمايي دا زما او زما د بنده په مينځ کښې دي (يعني عبادت د الله د پاره دي او مدد غوښتل د بنده دپاره دي) او زما بنده چې څه غواړي هغه به ورته ملاوشي [۷] هر کله چې بنده وايي اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين (يعني اې پروردګاره) مونږ په سيده لاره روان کړې د هغه خلقو په لاره چې تا پرې فضل او کرم کړي دي نه د هغه خلقو په لاره چې تا پرې غضب کړي دي او نه د ګمراهانو په لاره) [۸] نو الله تعالى جل جلاله فرمايي چه دا زما د بنده د پاره دي او بنده چې څه غواړي هغه به ورته ملاوشي، (مسلم.)

حل اللغات: - ① خِدَاجٌ: أَيْ نَاقِصَةٌ: ناقص، نقصان والا. ② حَمِدَنِي: زما تعريف ئې اوکړو، ③ أَثْنَى: زما ثنا ئې اوکړه. ④ مَجَّدَنِي: أَيْ: عَظَّمَنِي: زما لوئی ئې بيان کړه. ⑤ الْمَغْضُوبِ: چه غضب پرې شوي دي يعني يهود. ⑥ الضَّالِّينَ: چه ګمراهان دی يعنی نصارٰی.

تسهيلات: - قوله: بِأُمِّ الْقُرْآنِ:

د ام الکتاب وجه تسميه: دې ته ام الکتاب هم وائی. وجه داده چه سورت فاتحه دَ قرآن پاك دَټولو مضامينو اصل اوبنياد دې. دَ قرآن پاك ټول مضامين هم دې نه چاپيره ګرځي.

قوله: غَيْرُ تَمَامٍ:

د خداج تفسير: -دا دَخداج تفسير دې اودې نه واضحه کيږي چه فاتحه رکن صلوة نه دې دَ شوافع خيال دې چه دا رکن صلوة دې اودَاحنافو په نيز مطلق قرآن رکن صلوة دې. حضور پاك ﷺ چه کله اعرابي ته مونځ خودلو نوونې فرمائيل "اقرأما تيسر معك من القرآن" خداج په معنی ذات خداج دې.

قوله: فَقِيلَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ:

د فاتحه خلف الامام عدم تداول: -د مذکوره جملې څخه معلوميږي چه دَ سلف صالحين په نيز امام پسې فاتحه وئيل متعارف نه وو بلکه نه لوستل متعارف وو. نوځکه خودَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه سوال کيږي "في نفسك" يعني په مزه وايه، احناف دا قلبي تصور او فاتحه کښې په غور اوفکر باندې حمل کوي اودا قراءت دَ چا په نيز معتبر معلوم نه شوامام پسې فاتحه وئيل منع دی. "قسمت" دَمتکلم صيغه دَ تقسيم نه ده او اوس داحديث قدسی جوړ شو.

قوله: الصَّلَاةَ:

دابوهريره استنباط اودهغې تضعيف: -فاتحه باندې دَ اصلوة اطلاق شوې دې اودا اطلاق الكل على الجزء دَ قبيلې نه دې کيدې شی هم دَدې نه حضرت ابوهريره رضي الله عنه په توګه دَ استنباط او اجتهاد دَ فاتحه فرضيت ثابتول غواړی. دَاحنافو علماء فرمائی چه دا اجتهاد دَ مرفوع حديث په مقابله کښې فائده مندنه دې. حضرت شيخ عبدالحق رحمه الله فرمائی په دې استنباط کښې خفا او پټوالي دې.

قوله: نِصْفَيْنِ:

دتنصيف اعتبار: -دا تنصيف دَ اياتونو په اعتبارسره دې څکه چه فاتحه په مجموعی اعتبارسره اووه آياتونو باندې مشتمل ده او "صراط الذين انعمت عليهم" يو ايت شميرلوسره په دې وقف اوکړې شی نو په دريو اياتونو کښې دَ الله تعالى تعريف دې او په دريو آياتونو کښې دَ بنده دَ طرف نه سوال دې او يو آيت "اياك نعبدواياك نستعين" مشترك دې. اول نيمه حصه دَالله تعالى تعريف دې اودويمه نيمه حصه دَ بنده سوال دې. "ولعبدي ماسأل" يعنی دَ بنده سوال زه قبلوم. "مجدني عبدي" اوچت کرم او شرف واسع ته مجدوائی علماؤ ليکلی دی چه کله ذاتی شرافت خوافعالوسره ملاؤشی نو هغې ته مجد اومجيدوائی.

دتسميه په عدم جزئيت من الفاتحه دليل: -دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه داحديث په دې باندې واضح دلالت کوی چه بسم الله الرحمن الرحيم دَ سورت فاتحه جزء نه دې که چرې دا جزء شی نو دَ فاتحه اووه آياتونو په ځائی به اته شی کوم چه دَدې حديث منافی دې بل دَتقسيم په

دوران کښې بسم الله نه شاملول هم دَدې خبرې دلیل دې چه داد فاتحه جزء نه دې او هم دغه دَ امام ابوحنیفه رحمه الله مسلك دې.

[۸۲٤] بسم الله په اوچت آواز سره ونیل پکاردي؟

۸۲۴—(۱)[۳] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، [۲] كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الصَّلَاةَ بِـ﴿الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ [الفاتحة: ۲]»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه به [۲] مونځ د الحمد لله رب العلمین څخه شروع کولو. (مسلم)

تسهیلات:-

قوله: كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الصَّلَاةَ:

په تسمیه دعدم جهر دلیل: —په جهري مونځونو کښې دَ الحمد لله شروع کولو نه وړاندې بسم الله په مزه ونیل پکاردي دَ احنافو هم دغه مسلك دې. په یو روایت کښې دي په امام باندې دَ دریو څیزونو اخفاء لازم ده یو اعوذبالله دویم بسم الله او دریم آمین، دلته دَدې روایت نه بالکل په واضحه توګه ثابتیږي چه بسم الله په مزه ونیل پکاردی. دَ دې مسئلې مکمل تفصیل باب صفة الصلوة حدیث نمبر ۲ کښې لیکلې شوي دي.

[۸۲۵] دَ آمین ونیلو حکم

۸۲۵—(۲)[۴] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوا، [۳] فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ، [۴] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۵] وَفِي رِوَايَةٍ، قَالَ: [٦] "«إِذَا قَالَ الْإِمَامُ: ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ۷]

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] (هر کله چې امام د سورة فاتحه د قراءت څخه وروسته) آمین اووائي (نو هغه وخت چونکه فرښتې آمین وایي) [۳] نو تاسو هم آمین وایئ ځکه چه د کوم سړي آمین چې د فرښتو د آمین سره یو ځاي شي [۴] نو الله تعالی جل جلاله د هغه ټول مخکښې ګناهونه بخښي، بخاري مسلم، [۵] د یو روایت الفاظ دا

(۱) اخرجه البخاری کتاب الصلاة باب ما یقول بعد التکبیر (رقم-۷٤۳) ومسلم کتاب الصلاة ، باب حجة من قال لا یجهر بالبسملة (رقم) ۵۰ - (۳۹۹) وابوداود کتاب الصلاة، باب من لم یر الجهر ب «بسم الله الرحمن الرحیم» (رقم-۷۸۲) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، باب افتتاح القراءة (رقم-۸۱۳) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب في افتتاح القراءة ب {الحمد لله رب العالمین} [الفاتحة: ۲] (رقم-۲٤٦) والنسائی کتاب الافتتاح/ (رقم-۹۰۷)

(۲) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب جهر الإمام بالتأمین (رقم-۷۸۰) ومسلم کتاب الصلاة ، باب التسمیع، والتحمید، والتأمین (رقم-۷۲ - (٤۱۰) وابوداود کتاب الصلاة،باب التأمین وراء الإمام (رقم-۹۳٦) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها ،باب الجهر بآمین (رقم-۸۵۱) ومالک فی الموطا کتاب الصلاة باب ما جاء بالتأمین خلف الإمام (رقم-٤۵) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل التأمین (رقم-۲۵۰) والنسائی کتاب الافتتاح/باب ترک الجهر ببسم الله الرحمن الرحیم رقم (۹۰۷)

دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٦] هر كله چې امام غير المغضوب عيهم ولا الضالين اووائي

[١] فَقُولُوا: آمِينَ، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ، [٢] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»» [٣] هَذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ، وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهُ. [٤] وَفِي أُخْرَى لِلْبُخَارِيِّ، قَالَ: "[٥] «إِذَا أَمَّنَ الْقَارِئُ فَأَمِّنُوا، [٦] فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تُؤَمِّنُ، [٧] فَمَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ، [٨] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»".

ترجمه: [١] نو تاسو آمين اووايئ ځکه چې د کوم سړي (آمين) ويل د فرشتو د آمين ويلو سره يو ځاي شي[٢] نو د هغه ټول مخکنې ګناهونه به وبخښل شي، [٣] دا الفاظ د بخاري دي د مسلم د حديث الفاظ د دې په مثل دي[٤] او د بخاري د يو روايت الفاظ دا دي چه رسول الله ﷺ وفرمايل[٥] هر كله چې د قرآن ويونکي (يعني امام يا څوك مطلق ويونکي آمين وائي نو تاسو هم آمين اووايئ[٦] ځکه چې (هغه وخت) فرشتي آمين وايي[٧] او د کوم سړي آمين چې د فرشتو آمين سره يو ځاي شي[٨] نو د هغه مخکني ټول ګناهونه به وبخښل شي.

حل اللغات:- ① أَمَّنَ: أي: قَالَ: آمِينَ: يعنى آمين به ئې اووئيلو. ② وَافَقَ: أي: مَنْ طَابَقَ: چه مطابق او برابر شو.

تسهيلات:--

قوله: فَأَمِّنُوا:

د مقارنت آمين د حكم مصداق: -يعنى تاسو هم آمين وايئى ځکه چه فرښتي هم آمين وائى او هغه معصوم مخلوق دي دَهغوى دعا قبليږي. كه چرې دَهغوى دَدعا الفاظو سره ستاسو دَ دعا الفاظ ملاؤ شو نو ستاسو ټول واړه ګناهونه به معاف شى كوم چه دې نه مخكښې شوى دى. مقتدى دغه شان آمين صرف په جهرى مونځونو كښې وئيلى شى په سرى مونځونو كښې دَدې مقارنت امكان نشته دې.

باقى دا مسئله چه آمين په مزه وئيل دى كه په اوچت آواز سره وئيل پكاردى. دا مسئله په حديث نمبر ۳۲ كښې ان شاء الله په تفصيل سره راځى.

[٨٢٦] دمقتدى د مانځه طريقه

٨٢٦-()[٥] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «إِذَا صَلَّيْتُمْ فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ، [٣] فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، [٤] وَإِذَا قَالَ: ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ٧] [٥] فَقُولُوا: آمِينَ، يُجِبْكُمُ اللَّهُ، [٦] فَإِذَا كَبَّرَ وَرَكَعَ، فَكَبِّرُوا وَارْكَعُوا [٧] فَإِنَّ الْإِمَامَ يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ"،

(1) اخرجه مسلم كتاب الصلاة . باب التشهد فى الصلاة (رقم) ٦٢ - (٤٠٤) وابوداود كتاب الصلاة، باب التشهد(رقم-٩٧٢) والنسائى كتاب التطبيق /باب قوله ربنا ولک الحمد (رقم-١٠٦٤)

ترجمه:① ابو موسی اشعري ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② هر كله چې تاسو (با جماعت) مونځ کوي نو (مخکې) خپل صفونه سیده کړي بیا په تاسو کې دي یو سړي ستاسو امام جوړ شي③ هر كله چې هغه امام تکبیر تحریمه یعنی الله اکبر اووائي نو تاسو هم الله اکبر اووایئ④ هر كله چې امام غیرالمغضوب علیهم ولا الضالین اووائي⑤ نو تاسو آمین اووایئ الله تعالی به ستاسو دعا قبوله کړي⑥ او هر كله چې امام (رکوع ته د تلو د پاره) الله اکبر اووائي او رکوع ته لاړ شي نو تاسو هم الله اکبر ووایو سره رکوع ته لاړ شئ⑦ او امام ستاسو څخه مخکې رکوع کوي او ستاسو څخه مخکې سر پورته کوي

①قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَتِلْكَ بِتِلْكَ "②قَالَ: وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، ③يَسْمَعِ اللّٰهُ لَكُمْ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:① نو رسول الله ﷺ وفرمايل چه د امام مخکې سر پورته کول د مخکې رکوع کولو بدله ده② او حضور ﷺ وفرمايل هر كله چې امام سمع الله لمن حمده اووائي نو تاسو اووایئ: اللهم ربنا لك الحمد③ الله ستاسو تعریف اوري،

حل اللغات:- ① فَتِلْكَ بِتِلْكَ: فَتِلْكَ اللَّحْظَةُ بِتِلْكَ اللَّحْظَةِ: یعنی دا وخت دهغې و خت په بدل کښې شو.

② يَسْمَع: أَيْ يَقْبَلُهُ: یعنی الله تعالی به ستاسو دعا قبوله کړي.

تسهیلات:- **قوله:** فَتِلْكَ بِتِلْكَ:

د مذکوره جملې مفهوم:- یعنی امام په رکوع کښې تاسو نه وړاندې ځی تاسو روستو ځئی لیکن امام تاسو نه دَ رکوع نه وړاندې راپاسی او تاسو تردغه وخته پورې په رکوع کښې یئې. لهذا په رکوع کښې حصاربدل ستاسو اوستاسو دَ امام برابر شو. "یسمع الله لکم" یعنی الله تعالی به ستاسو دعا واوری اوقبوله به ئی کړی. دَ تحمید او تسمیع مکمل تفصیل اودَ فقهاء اختلاف باب صفة الصلوة حدیث نمبر۴۳ په شرح کښې تیر شوې دي.

تحمید او تسمیع کښې د تقسیم دلیل:- خلاصه دا چه ځان له مونځ گذار "سمع الله لمن حمده" او "ربنا لك الحمد" دواړه وائی که په یوباندې اکتفاء اوکړه نو جائز دی. داحدیث دَامام ابوحنیفه رحمه الله دلیل دي چه امام کله دَ رکوع نه پاسی نو هغه به سمع الله لمن حمده وائی نو تاسو ربنا لك الحمد وایئ یعنی دا تقسیم کاردې. لیکن امام شافعی رحمه الله فرمائی امام مقتدی اوځان له مونځ کونکې ټول به دا دواړه کلمات وائی. صاحبین فرمائی چه امام دې دواړه کلمات وائی.

۸۲۷-()[۰]①وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَتَادَةَ: "«وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا»".

(۱) اخرجه مسلم کتاب الصلاة ، باب التشهد فی الصلاة (رقم) ۶۳ - (۴۰۴) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها باب إذا قرأ الإمام فانصتوا (رقم-۸۴۶)

ترجمه: ① او د مسلم په يو بل روايت کې دا الفاظ هم دي چې (رسول الله ﷺ وفرمايل هر کله چې امام قراءت کوي نو تاسو چپ اوسئ، (مسلم.)

[۸۲۸] په مانځه کښې د قراءت طريقه

۸۲۸-(۱) [۱] ① وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الْأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ، ③ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ، وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ أَحْيَانًا، ④ وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَا لَا يُطِيلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ، ⑤ وَهٰكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهٰكَذَا فِي الصُّبْحِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابو قتاده رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د ماسخوتن په لمانځه کې په اولني دوؤ رکعاتو کې سورة فاتحه او دوه سورتونه (يعني په هر رکعت کې سورة فاتحه او يو سورت) لوستلو ③ او په وروسته دوه رکعاتو کې به يې صرف سورة فاتحه لوستله او کله کله به يې مونږ ته هم څه آيت اورولو ④ او د دويم رکعت په نسبت به ئې اولني رکعت زيات اوږدولو ⑤ دغسې به يې د مازيګر او د سحر په لمانځه کې هم کول. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات:- ① أُمِّ الْكِتَابِ: يعنى سورة فاتحه. ② أَحْيَانًا: يَعْنِي نَادِرًا: کله کله، بعضې وخت.

تسهيلات:--

قوله: يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ:

په سرى مونځ کښې د جهراً قراءت کولو وجه:- يعنى د ماسپخين په مونځ کښې د حضورپاك ﷺ عام معمول په مزه قرأت کولوو مګر کله کله به ئې د ماسپخين په مونځ کښې يو سورت يا يو آيت په اوچت آواز سره اورولو دا عمل به د امت د تعليم د پاره وو چه دا معلومه شي چه فاتحې سره يو سورت هم ملاوولې شي اود ملاوولو طريقه څه وى د ماسپخين قيد اتفاقى دې احترازى نه دې ځکه چه حضورپاك ﷺ به مازيګر کښې هم داسې کول دا ټول د امت د تعليم د پاره وو.

قوله: وَيُطَوِّلُ:

داول رکعت په دويم رکعت باندې اوږدولو کښې مذاهب:-

«وَيُطَوِّلُ» د باب تفعيل څخه د اوږدولو په معنى کښې دې. د دې حديث نه معلوميږي چه رومبې رکعت د نورو نه زيات اوږدول پکار دى. په دې مسئله کښې اختلاف دې.

① د امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله امام احمد بن حنبل رحمه الله او امام محمد رحمه الله مسلك دا دې چه په ټولو مونځونو کښې اول رکعت د نورو رکعتونو په نسبت زيات اوږدول پکار دى.

② د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله په نيز صرف د سحر د مونځ دا خصوصيت دې

[۱] اخرجه البخارى كتاب الاذان باب: يقرأ فى الأخريين بفاتحة الكتاب (رقم-۷۷۶) ومسلم كتاب الصلاة باب القراءة فى الظهر والعصر (رقم-۱۵٤-(٤٥۱) والنسائى كتاب الافتتاح/باب القراءة فى الركعتين الأوليين من صلاة العصر رقم(۹۷۸)

چه اولنۍ رکعت اوږد کړې شي باقي په ټولو مونځونو کښې د ټولو رکعتونو حيثيت برابر دې. البته چه په کومو رکعتونو کښې ضم صورت نشته دې د هغې حيثيت جدا دې.

د اول فريق دليل: - زير بحث د حضرت ابوقتاده رضي الله عنه روايت د دوى مستدل دې په کوم کښې چه د سحر ماسپخين او مازيګر د ړومبی رکعت اوږدولو ذکر ملاويږی او ماښام او ماسخوتن دې حضراتو په دې دريواړو مونځونو باندې قياس کړې دی. عبدالرزاق رحمه الله د معمر رحمه الله نه نقل کړی دی چه زمونږ خيال د ړومبي رکعت به حضورپاک ﷺ ځکه اوږدولو دې دپاره چه خلق ړومبي رکعت حاصل کړی. امام ابوداؤد رحمه الله هم دغه شان ليکلی دی.

د دويم فريق دليل: - ① راتلونکی متصل روايت کښې "في كل ركعة قدر ثلاثين آية" د دوى مستدل دې. ځکه چه هلته د دواړو رکعتو قرأت برابر خودلې شوې دې.

② امام صاحب رحمه الله دا هم فرمائی چه ړومبي رکعت دعا استفتاح تعوذ او تسميه باندې مشتمل دې په دې وجه اوږد وی د قرأت د وجې نه اوږدول صرف د سحر د مونځ خصوصيت دې.

راجح قول: - خلاصة الفتاوىٰ کښې ليکلی دی چه امام محمد رحمه الله او جمهورو مسلك راجح اوخوښ کړې شوې دې يعنی اول رکعت ته اوږدوالي ورکول بهتر دی.

[۸۲۹] په مانځه کښې د نبی عليه السلام د قيام مقدار

۸۲۹-(۷) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] كُنَّا نَحْزُرُ قِيَامَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، [۳] فَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ قَدْرَ قِرَاءَةِ: الٓمٓ تَنْزِيلُ السَّجْدَةِ - [۴] وَفِي رِوَايَةٍ -: فِي كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِينَ آيَةً، [۵] وَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ قَدْرَ النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ، [۶] وَحَزَرْنَا فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى قَدْرِ قِيَامِهِ فِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ، [۷] وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي [۲] چې مونږ به د ماسخوتن او مازيګر په لمانځه کې د رسول الله ﷺ د قيام (د مقدار) اندازه کوله [۳] نو مونږ اندازه وکړه چې رسول الله ﷺ به د ماسپخين په اولني دوه رکعتونو کې د الٓمٓ تنزيل السجدة ويلو په قدر قيام کولو [۴] د يو بل روايت الفاظ دا دي چې په هر رکعت کې به ئې د ديرشو ايتونو ويلو په اندازه قيام کولو [۵] او د ماسپخين په اخري دوه رکعاتونو کې مونږ د هغې نه د نصف اندازه وکړله [۶] او د مازيګر په اولني دوه رکعاتو کې د ماسپخين د آخري دوه رکعاتو په قدر قيام [۷] او د مازيګر په آخري دوه رکعاتو کې د هغې نه د نصف په قدر د قيام مونږ اندازه وکړله. (مسلم)

حل اللغات: - ① نَحْزُرُ: أَيْ: نَقِيسُ وَنُخَمِّنُ: د نصر ينصر نه، قياس کولو او تخمينه لګولو ته وائی يعنی اندازه کول.

---

[1] اخرجه مسلم كتاب الصلاة. باب القراءة في الظهر والعصر (رقم-۱۵۶ - (۴۵۲) وابوداود كتاب الصلاة،باب تخفيف الأخريين (رقم-۸۰۴)

تسهیلات:--

قوله: وَحَزَرْنَا:

د ماسپخین په مانځه کښې د قراءت مقدار:-چونکه دَماسپخین اومازیګر په مونځ کښې قراءت پټ وی په دې وجه دَقیام مقدار هم په اندازه سره معلومولې شو کوم وخت چه خلق نیکان وونودَ قرآن پاك دَ سورتونو اندازه په ئی په مسافت سره اندازه کول. په دویم روایت کښې دی چه حضورپاك ﷺ به په هررکعت کښې دَ دیرشو آیاتونو لوستلو په اندازه قیام کولو مطلب دا چه حضورپاك ﷺ به په هرو دوو رکعتوکښې دَ الم تنزیل السجده په اندازه تلاوت کولو.

قوله: قَدْرَ النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ:

د ماسپخین په آخری دوؤ رکعتونو کښې د قراءت مقدار:-دَ پوره حدیث پوهیدلو په اعتبار داسې ګنړل پکاردی چه دَ حضوراکرم دَماسپخین په ړومبو دوو رکعتو کښې دَ قیام اندازه کله مونږ دَماسپخین دَ روستنو دوو رکعتو په قیام سره کوله نوداسې به معلومیدل چه دَ آخری رکعتونو قیام دَ ړومبو رکعتونو په قیام سره دَ نصف مقدار دی یعنی په ړومبو رکعتونوکښې به قراءت اوږد وو او په آخری رکعتونوکښې به دَدې نصف وو. اوچه کله به مونږ دَ مازیګر په مونځ کښې اندازه کوله نودَمازیګر دَ ړومبو دوو رکعتونوقیام مقدار به دَماسپخین دَ آخری دوو رکعتو دَ قیام په مقدار وو اودَمازیګر په آخری دوو رکعتونو کښې دَ قیام اندازه دَ مازیګر دَ ړومبورکعتونو دَ قیام په مقدار نصف وو.

دماسپخین د دوو آخری رکعتونو په قراءت کښې دامام شافعی دوه اقوال:-

① تولوشارحینو حضراتو لیکلی دی چه دَدې حدیث نه معلومیږی چه حضوراکرم به دَ مونځ په آخری دوو رکعتونوکښې قراءت کولوبیافرمائی چه هم دغه دَ امام شافعی رحمه الله مسلك دې چه په آخری دوو رکعتوکښې قراءت کول پکاردی بیا فرمائی چه دادَ امام شافعی رحمه الله قول جدید دې

② په قول قدیم کښې دادی چه په آخری دوو رکعتونوکښې دَ سورت قراءت ضروری نه دې او فتوی هم په دې باندې ده

د ماسپخین په دوو آخری رکعتونو کښې عدم قراءت:-اوهم دغه دَ احنافو مسلك دې چه په آخری دوو رکعتونوکښې سورت نه دی ملاوول که چرې حضورپاك ﷺ لوستلې وی نو دَبیان جوازدَپاره به ئی لوستلې وی.

دغه شان دَ احنافو فقهاؤ لیکلی دی په آخری دوو رکعتونوکښې مسنون هم دغه دی چه فاتحه اولوستلې شی کنی تسبیحات دې اولولی یادې خاموشی اختیارکړی. زه وایم که امام پسې په آخری رکعتونوکښې دَ فاتحه دَ لوستلو اهتمام اوکړی نو په اولنورکعتونو

کښې دَ فاتحه نه لوستلو به دا لوستل قائمقام شي اودَ اختلاف نه به بچ شو.
اشکال:- علامه شمس الدین رحمه الله صاحب التعلیق الفصیح ص ۱۲۵ کښې لیکي چه په دې حدیث کښې یو واضح اشکال دې اوهغه دا چه دَمازیګر رومبو دوو رکعتوکښې سورت شامل وی او دَماسپخین آخری دوو رکعتوکښې سورت شاملول نه دی نودَدې دواړو په مقدارکښې څنګه یوشان والي کیدې شي؟
داشکال جواب:- دَدې جواب شیخ شمس الدین رحمه الله داورکړې دې چه دلته په دغه مونځونو او دَهغې په رکعتونوکښې په قرآءت کښې مساوات او برابروالي مراد نه دې اونه په دې حدیث کښې دَ قراءت دَ مساوات ذکردې بلکه دلته خو صرف دَ قیام ذکردې. دَ حضورپاک ﷺ قیام په رومبی رکعت کښې څومره وو او په آخری رکعت کښې څومره وو نوکیدې شي چه حضورپاک ﷺ په آخری دوو رکعتوکښې فاتحه په داسې ترتیل سره لوستلې وی چه دَرومبی رکعت دَ وخت نه دَهغې وخت نیم کیدلو.
خلاصه دا چه دلته دَ قیام دَ مقدار خبره ده دَ قرآءت خبره نشته نو په اول دوو رکعتونو کښې دَ فاتحه نه پس سورت شاملول وو او په آخری دوو رکعتونوکښې نه وو. نوهغه دَ اول رکعتونو دَنصف په مقدار کښې وو. دَ ډیر ژوروالی نه پس واضح کیږی چه دَحدیث دا مطلب واضح او مناسب دې.

[۸۳۰] دماسپخین په مانځه کښې مسنون قراءت

٨٣٠-()[٨] [١] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ [٢] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ بِـ ﴿وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى﴾ [الليل:١] [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: بِـ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ [الأعلى:١] [٤] وَفِي الْعَصْرِ نَحْوَ ذَلِكَ، وَفِي الصُّبْحِ أَطْوَلَ مِنْ ذَلِكَ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١] جابر بن سمره رضی الله عنه فرمایي [٢] چې رسول الله ﷺ به دماسپخین په لمانځه کې سورة والليل اذا يغشٰي لوستلو [٣] او په یو روایت کې دي چې سورة سبح اسم ربك الاعلٰی به يې لوستلو [٤] او د مازیګر په لمانځه کې د دې په قدر (څه آیت یا سورت) به يې لوستلو او د سحر په لمانځه کې به يې دي څخه اوږد قراءت کولو. (مسلم.)

تسهیلات:- قوله: يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ

په پنځو مونځونو کښې د مسنون قراءت مقدار:- ددې حدیث پاك نه معلومه شوه چې د سحر او ماسپخين مونځ کښې به طوال مفصل وائی ، د مازیګر او ماسختن مونځ کښې به اوساط مفصل وائی اود ماښام مونځ کښې به قصار مفصل وائی. نبی کریم ﷺ به د مقتدیانو حالاتو ته کتل او هغه شان قرآءة به يې کولو. کله به يې قرآءة اوږد کړو او کله به

(١) اخرجه مسلم كتاب الصلاة ،باب القراءة في الصبح (رقم-١٧٠ - (٤٥٩) ابوداود كتاب الصلاة،باب قدر القراءة في صلاة الظهر والعصر (رقم-٨٠٦) والنسائي كتاب الافتتاح/باب القراءة في الركعتين الأوليين من صلاة العصر رقم (٩٨٠)

یئ قرآءة مختصر کولو. کله به حضور ﷺ د سحر په مونځ کښې سورة مؤمنون ، سورة روم ، سورة یس ، سورة واقعه ، سورة اذا زلزلت او کله معوذتین مختصر وئیل. او د ماسپخین مونځ کښې به یئ سورة لقمان ، سورة تنزیل السجدة ، سورة الذاریات ، والسماء ذات البروج ، والسماء والطارق ، والاعلی ، وهل تاك ، والشمس وضحها ، واللیل اذا یغشها وئیل. او د مازیگر مونځ کښې به یئ هغه سورتونه وئیل چې کوم چې د والسماء نه شروع کیږی. او کله به یئ سورة الاعلی وئیلو او کله سورة غاشیة.

[۸۳۱] د ماښام د مانځه مسنون قراءت

۸۳۱—()[۹] [۱] وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] جبیر ابن معطم رضی الله عنه فرمایي [۲] چې ما د ماښام په لمانځه کې د رسول الله ﷺ خخه سورة مرسلات ویل اوریدلي دي. (بخاري، مسلم)

تسهیلات: - **توله:** فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ:

د ماښام د وخت دامتداد دپاره غلط استدلال: -ددې حدیث پاك نه دا استدلال کول چې د شفق نه تر غروب کیدو پورې د ماښام وخت ختمیږی، دا صحیح نه دی. څکه دویم فصل کښې چې کوم روایات دی هغې کښې راځی چې نبی کریم ﷺ به د ماښام په مونځ کښې سورة اعراف، سورة دخان، سورة اعلی، سورة کافرون، سورة التین، والقارعة، لوستل او د ماسختن په مونځ کښې اذالسماءانشقت لوستل. لهذا دیوسورة ذکر کولو سره دا نه لازمیږی چې نبی کریم ﷺ به ګنی نور سورتونه نه وئیل. او ددې نه ترد غروب شفق پورې د ماښام وخت متعین کول هم نه ثابتیږی څکه چې دسورة اعراف په وئیلو کښې کافی وخت لګی.

[۸۳۲] د ماښام په مانځه کښې د سورة مرسلات قراءت

۸۳۲—()[۱۰] [۱] «وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِـ﴿وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا﴾ [المرسلات:۱]»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب المغازی باب الجهر فی المغرب (رقم-۷۶۵) ومسلم کتاب الصلاة . باب القراءة فی الصبح (رقم-۱۷٤ - (٤٦۳) وابوداود کتاب الصلاة،باب قدر القراءة فی المغرب (رقم-۸۱۰) ومالک فی الموطا کتاب الصلاة باب القراءة فی المغرب والعشاء (رقم-۲۳) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها . باب القراءة فی صلاة المغرب (رقم-۸۳۲) والنسائی کتاب الافتتاح/باب القراءة فی المغرب بالطور (رقم) ۹۸۷

(۲) اخرجه البخاری کتاب المغازی باب القراءة فی المغرب (رقم-۷۶۳) ومسلم کتاب الصلاة . باب القراءة فی الصبح (رقم) ۱۷۳ - (٤٦۲) وابوداود کتاب الصلاة،باب قدر القراءة فی المغرب (رقم-۸۱۰) ومالک فی الموطا کتاب الصلاة باب القراءة فی المغرب والعشاء (رقم-۲٤) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی القراءة فی المغرب (رقم-۳۰۸) والنسائی کتاب الافتتاح/باب القراءة فی المغرب بالمرسلات (رقم)۹۸۵ وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها . باب القراءة فی صلاة المغرب (رقم-۸۳۱) (رقم-۸۳۱۰)

ترجمه: [۱] بي بي ام فضل بنت حارث رضي الله عنها فرمايي [۲] چه ما د رسول الله ﷺ څخه د ماښام په لمانځه کې سورة مرسلات ويل اوريدلي دي، (بخاري، مسلم.)

تسهيلات:-

قوله: يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ وَالْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا:

يو سورة ه يو ركعت سره د خاص كولو حكم:- بعض روايتونو كښې راغلي دي چه حضورپاك ﷺ به د ماښام په مونځ كښې سورت اعراف وئيلو اوسورت انفال اوسورت دخان به ئې وئيلو. دلته دغه احاديثوسره د نورو احاديثوذكرهم ملاويږي. د دې ټولو احاديثونه دا خبره واضحه كيږي چه په مونځ كښې يو ركعت سره څه خاص سورت متعلق نه دي اونه يو مونځ سره څه خاص سورت يا آيات تړلي شوي دي.

داوږدو سورتونو په لوستلو كښې دوه توجيهات:-

(۱) اوږده سورتونه وئيل په دې باندې محمول دى چه حضورپاك ﷺ به په مونځ كښې د دې يو حصه وئيلې پوره سورت مراد نه دې سره د دې چه نوم د پوره سورت دې يا حضورپاك ﷺ به ډيرو ركعتونو كښې يو سورت تقسيم كولوسره وئيلې دي.

(۲) د حضورپاك ﷺ معجزه وه.

[۸۳۳] د مفترض په متنفل پسې اقتداء

۸۳۳-()[۱] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ، [۳] ثُمَّ يَأْتِي فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ، [۴] فَصَلَّى لَيْلَةً مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ، [۵] ثُمَّ أَتَى قَوْمَهُ فَأَمَّهُمْ، فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ، [۶] فَانْحَرَفَ رَجُلٌ فَسَلَّمَ، ثُمَّ صَلَّى وَحْدَهُ وَانْصَرَفَ، [۷] فَقَالُوا لَهُ: أَنَافَقْتَ يَا فُلَانُ؟ [۸] قَالَ: لَا وَاللَّهِ، وَلَآتِيَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَأُخْبِرَنَّهُ،

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي [۲] چې معاذ ابن جبل رضي الله عنه به د رسول الله ﷺ سره مونځ وكړو [۳] بيا به راغې خپل قوم ته به يې مونځ وركولو [۴] يو ځل هغه د رسول الله ﷺ سره د ماسخوتن مونځ وكړو [۵] بيا راغې د خپل قوم امامت يې وكړو او (په مونځ كښې يې) سورة بقره شروع كړه [۶] (هر كله چې قراءت اوږد شو) نو يو سړي سلام وګرځولو او د جماعت څخه ووتلو او ځان ته يې مونځ وكړو او لاړو [۷] خلقو (چې كله دا وليدل نو) هغه ته يې اوويل فلانيه آيا ته منافق شوي يې؟ (ځكه چې د جماعت څخه ځان بېچ كولو سره وتل خو د منافقانو كار دي) [۸] هغه اوويل نه قسم په الله (زه منافق شوي نه يم) زه به د حضور ﷺ په خدمت كې خامخاحاضر شم اوحقيقت حال به ورته بيان كړم

[۱] اخرجه البخاري كتاب المغازي باب من لم ير إكفار من قال ذلك متأولا أو جاهلا(رقم-۶۱۰۶) ومسلم كتاب الصلاة باب القراءة في العشاء (رقم-۱۷۸ - (۴۶۵) وابو داود باب في تخفيف الصلاة (رقم-۷۹۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب من أم قوما فليخفف(رقم-۹۸۶)والنسائي كتاب الافتتاح/باب القراءة في العشاء الآخرة بالشمس وضحاها (رقم)۹۹۸

حل اللغات:- ① انْحَرَفَ: أَيْ: مَالَ: راوګرځيدو، راديخوا شو. ② انْصَرَفَ: أَيْ: خَرَجَ مِنَ الْمَسْجِدِ: يعنى دجمات نه اووتلو. ③ أَنَافَقْتَ: أَيْ: أَفَعَلْتَ مَا يَفْعَلُهُ الْمُنَافِقُ: يعنى تاهم داسې كار اوكړو څنګه چه منافق ني كوى چه دجماعت نه دې مخ واړولو او مونځ دې خانله اوكړو.

① فَأَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا أَصْحَابُ نَوَاضِحَ، ② نَعْمَلُ بِالنَّهَارِ، وَإِنَّ مُعَاذًا صَلَّى مَعَكَ الْعِشَاءَ، ③ ثُمَّ أَتَى قَوْمَهُ، فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ. ④ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مُعَاذٍ، فَقَالَ: "يَا مُعَاذُ! أَفَتَّانٌ أَنْتَ؟ ⑤ اقْرَأْ: (وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا)_ و((وَالضُّحَى))و((وَاللَّيْلِ إِذَا يَغْشَى))، وَ((سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى_))، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① نو هغه سړي په بارګاه رسالت كې حاضر شو او عرض يې وكړو يا رسول الله ﷺ مونږ اوښانو واله (ساربانان) يو② د ورځې كار كوو [يعني] د اوښانو په ذريعه اوبه راښكلو سره د رختي (فصلونه) اوبه كوو او ټوله ورځ په محنت ومشقت كې لګيا يو[معاذ رضي الله عنه د شپې ستا (ﷺ) سره د شپې مونځ وكړو③ بيا راغې او مونږ ته مونځ راكولو نو سورة بقره شروع كړه (د اوږد قراءت كيدو او د خپلې ستړيااو ستوماني په وجه زه بد دل شوم)④ دي اوريدوسره حضور ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه طرف ته متوجه شو او وي فرمايل اي معاذه آيا ته فتنه پيدا كونكي يي (يعني ته د خلقو نه جماعت ترك كولو سره هغوي د دين څخه بيزاره كول او په فتنه كې مبتلا كول غواړې؟⑤ بهتره دا ده) چې ته سورة والشمس وضحها، سورة والضحي، سورة والليل، اذا يغشي او سورة سبح اسم ربك الاعلى اولولي. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات:- ④ نَوَاضِحَ: د نَاضِحَةٍ جمع ده، ددې مذكر نَاضِحٌ راځي. هغې اوښ ته وائي په كوم باندې چه د وونو بوټو د اوبه كولو دپاره اوبه راوړلې شي. ⑤ أَفَتَّانٌ: أَيْ: أَمُنَفِّرٌ: آيا ته خلق په فتنه كښې اچوې، خلقو كښې نفرت پيدا كوې.

تسهيلات:--

قوله: كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ:

د معاذ بن جبل د واقعې پس منظر:- دَدې حديث عمومي مفهوم دادې چه حضرت معاذ رضي الله عنه دَ مدنيې منورې په يوه محله كښې اوسيدو اوهلته به ئې دَ خپلې محلې والو په جمات كښې هغوى ته مونځ هم وركولو. اوكله به مسجد نبوى ته هم دَ مانځه دپاره تګ راتګ كيدلو. كله كله به ئې دَ ماسخوتن مونځ دَ حضورپاك ﷺ په اقتداء كښې په مسجدنبوى كښې كولو. حضورپاك ﷺ به دَماسخوتن مونځ په لږتاخيرسره اداكولو. قرأت به هم اوږد وو نودَ مونځ نه فارغيدو نه پس به ماسخوتن كښې ناوخته كيدو. حضرت معاذ رضي الله عنه به دَ مسجدنبوى نه فارغيدو سره دَ خپلې محلې طرف ته تللو په دې كښې به هم وخت لګيدلو. دَمحلې والو به انتظاركولو. بياچه به ئې كله مونځ وركولو نودَ سورت بقره

وغیره اوږدو سورتونه به ئی اوږد قرأت کولو. یوځل داسې اوشو چه په محله کښې سلیم یا حزام نوې یو صحابی مونځ مات کړو اوځان له ئی اوکړو. خلقو هغه ملامته کړو چه ته منافق شوې. هغه وئیل دَمنافقت څه خبره نشته دې زه به صباله ضرور ورځم اودَ نبی کریم ﷺ په مخکښې به دَمعاذ رضي الله عنه شکایت کوم. هغه شکایت اوکړو او وئی وئیل چه مونږ مزدورئی کونکی خلق یو ستړې ستومانه راځو اول دَمعاذ انتظار کول وی بیا دَ هغه اوږد مونځ برداشت کول وی په دې وجه ما هغه بله شپه مونځ ځان له اوکړو. حضورپاك ﷺ دَحضرت معاذ رضي الله عنه نه ډیر خفه شو اووئی فرمائیل چه آیا ته خلق په فتنه کښې اچول غواړې؟ داسې مه کوه یا ماپسې مونځ کوه خپل قوم ته مونځ مه ورکوه یا ماپسې مه کوه هغوی ته مونځ ورکوه. لیکن په دې کښې هم داخیال ساته چه فلانکې فلانکې مختصر سورت وایه.

دَ مفترض په متنفل پسې دَ اقتداء په حکم کښې مذاهب:-

اوس دَدې واقعې دَوجې په فقهاؤ کښې اختلاف راغلې چه آیا دَمتنفل امام شاته دَ فرض کونکو مونځ جائز دې که نه ځکه چه حضرت معاذ رضي الله عنه نفل کونکې وو اودَمحلې خلقو فرض کول. حضرت معاذ رضي الله عنه به فرض مونځ حضورپاك ﷺ سره کړې وو.

① دَ امام شافعی رحمه الله په نیز متنفل پسې شاته دَمفترض مونځ جائز دې. دَامام احمدبن حنبل رحمه الله یو قول هم داشان دې. دَ شوافع په نیز دَ نابالغ هلك امامت هم دَدې اصولو لاندې جائز دې.

② ائمه احناف امام ابوحنیفه رحمه الله، امام مالك رحمه الله او دَ یو قول مطابق امام احمد رحمه الله ټولو مسلك دادې چه دَ مفترض مونځ متنفل پسې جائزنه دې.

داول فریق اول دلیل :- ① دَ حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه زیر بحث حدیث او دَدې واقعه دوی مستدل دې او داخبره ښکاره ده چه معاذ رضي الله عنه فرض اول کړې او دَ محلې دَ خلقو چه کوم امامت کوی په هغې کښې دې متنفل دې لهذا متنفل پسې دَ مفترض مونځ جائز دې.

داول فریق دَ اول دلیل ځنګه جوابونه :- ① دَحضرت معاذ رضي الله عنه واقعه په هغه وخت باندې محمول ده کوم وخت چه فرض مونځ دوه ځل کیدلو بیا دا طریقه منسوخ شوه. په دې باندې دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنه روایت دلالت کوی.

شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې دا حدیث داسې نقل کړې دې «نهي ان نصلي فريضة في يوم مرتين»(لمعات: ۱۳۸/۳) اشعة المعات: ۴۰۵.

② دَمعاذ بن جبل رضي الله عنه داعمل دَهغه خپله رائی اودَ هغه خپل اجتهاد وو. په کوم چه دَ حضور پاك ﷺ تقریر او توثیق نه وو خوچه کله حضورپاك ﷺ ته معلومه شوه نوهغوی خفه شو.

③ دَ چا دَنیت علم چاته نه کیږی. دَ حضرت معاذ رضي الله عنه په عمل کښې دا احتمال دې چه هغوی دَ فضیلت دَ حاصلولو په غرض دَ حضورپاك ﷺ په اقتداء کښې دَ نفل نیت کړې

وی او بیا خپل قوم سره فرض ادا کړي وی چه دَ جمع فضیلت هم حاصل کړی بلکه احراز فضیلتین حاصل شی.

④ دغه خلقو ته دوه شکایتونه وو. اول دا چه په ماسخوتن کښې تاخیر کیږی دویم دا چه قرأت اوږد کوی. حضور پاك ﷺ دوه جوابونه ورکړل اول دا چه دوه خایه دَماسخوتن مونځ مه کوه اوکه قوم ته مونځ ورکول وی نو مختصر قرأت کوه. نو دَ یومنهی عنه دَ فعل نه څنګه استدلال کولې شی.

⑤ دَ عشاء اطلاق په مغرب هم کیږی کوم ته چې عشاء اولی وائی او په عشاء یعنی ماسخوتن باندې هم دَدې اطلاق عام دې کوم ته چه عشاء آخرة وائی. نودا قوی احتمال دې چه دلته دَ ماښام مونځ مراد وی اودَ دې تذکره دَترمذی ص:۷۵ باندې هم ملاویږی.

داول فریق دویم دلیل :-

② عمرو بن سلمه ﷛ یونابالغ هلك به خپل قوم ته مونځ ورکولو هغه هم متنفل وو اودَ قوم مونځ فرض وو لکه چه باب الامامة کښې حدیث نمبر ۱۰ لاندې دا قصه راغې.

د اول فریق د دویم دلیل دوه جوابونه :- پاتې شوه دا چه د حدیث عمرو بن سلمه ﷛ نه د نابالغ د امامت جواز ثابتیږی لکه چه امام بخاری او امام شافعی ﷭ فرمائیلې دی، علماء کرامو د دې ډیر جوابونه کړی دی.

① امام خطابی ﷫ فرمائی چه حسن بصری ﷫ دې حدیث ته ضعیف وئیلې دې.

② عمرو بن سلمة ﷛ چه کوم امام جوړ کړې شوې وو هغه د صحابه کرامو اجتهاد وو د رسول الله ﷺ قول یا فعل یا تقریر نه دې.

د دویم فریق دلائل :- ① "الامام ضامن والمؤذن مؤتمن" (ترمذي ،ابوداود) په دې حدیث کښې دَامام مونځ متضمن اسم فاعل اوګرځولې شو یعنی یوڅیز په ترخ کښې اخستونکې اودَمقتدی مونځ متضمن اسم مفعول اوګرځولې شو اوداخبره ښکاره ده چه دَ متنفل مونځ دَ قوت او کیفیت په اعتبار سره ډیر کمزورې دې هغه دَمفترض مونځ چه دَقوت او کیفیت په اعتبار سره ډیر قوی دې په خپله غیږ کښې نه شی اخستې.

② "انما جعل الامام ليؤتم به" حدیث هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چې دا تعلیم ورکړې شوې دې چه امام اعلی حالاً کیدل پکاردی خو متنفل امام ادنی حالاً وی. لهذا دا اقتداء جائز نه ده.

دلته یوه بنیادی ضابطه ده دکوم په وجه چه دا اختلاف اودَ قرأت خلف الامام اختلاف راغلې دې هغه دا چه دَ شوافع په نیز دَ امام اومقتدی په مونځ کښې اتحاد نشته دې. زمونږ په نیز دَ امام اومقتدی په مونځ کښې اتحاددې هغوی کښې اتحادنشته دې صرف په افعال کښې اشتراك دې لهذا جدا جدا مونځ دې نو په هرشان سره جائز دې.

قوله:- اقْرَأْ: وَالشَّمْسِ وَضُحَاهَا:

د مذکوره قول په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① یعنی دا سورت وایه هغه سورت وایه دَدې مختصرو سورتونو لوستل کوه نودَدې مقصد دانه دې چه په اول رکعت کښې سورت شمس وایه اودویم رکعت کښې سورت اعلی وایه ځکه چه دا داسې وئیل دَمصحف دَترتیب خلاف دی ځکه چه سورت اعلی مخکښې دې بلکه په حدیث کښې واؤ دَ مطلق جمع دَپاره دې چه دَدې سورتونه دَتخفیف په غرض سره څه وایه.

② او که چرې مطلب ئې دا وی چه په اول رکعت کښې والشمس وایه او دویم رکعت کښې سورت اعلی وایه نودا به دَ بیان دَ جواز دَپاره وی. ځکه چه مسنون طریقه دَمصحف د ترتیب مطابق وئیل دی. اودَدې خلاف وئیل خلاف اولی دی.

په سورت کښې د تقدیم او تاخیر کراهت:- لیکن که یوسرې دَ یوسورت په آیات کښې تقدیم اوتاخیر سره لولی نودا ناجائز دی وجه دَ فرق داده چه دَآیات ترتیب قطعی اوتوقیفی دې اودَ سورتونو ترتیب دَ نزول نه پس دَ صحابه کرامو په اجتهاد باندې دې. بل په آیاتونو کښې وړاندیوالې او روستووالې کولوسره په مضمون اومعانی کښې فرق راځی او په سورتونوکښې داسې نه وی. دَدې حدیث نه امت ته دا تعلیم حاصل شو چه امام له پکاردی چه هغه دې دَ خپلو مقتدیانو په مانځه کښې هرلحاظ سره خیال ساتی دې دَ پاره چه خلق متنفر او ګډوډ نه شی.

[۸۲٤] د ماسختن د مونځ مسنون قراءت

۸۳۳-()[۱۲][۱] «وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ: ﴿وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ﴾ [التين:۱]، [۳] وَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت براء رضی الله عنه فرمایي [۲] چې ما د رسول الله ﷺ څخه د ماسخوتن په لمانځه کې سورة والتین والزیتون ویل اوریدلي دي [۳] او ما د رسول الله ﷺ د آواز څخه زیات ښکلي آواز د بل چا ندي اوریدلي، (بخاري،مسلم)

تسهیلات:-

قوله: أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ:

د نبی علیه السلام ذات د کمالات باطنی اوظاهری مجسمه:- څنګه چه حضورپاک ﷺ په باطنی کمالاتو کښې دَټولو نه زیات کامل اواکمل انسان وو هم هغه شان الله تعالی رسول الله ﷺ ته ظاهری اوبدنی ښائست او کمالات ورعطاکړې وو. بیا چه څنګه الله تعالی

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الاذان باب القراءة فی العشاء (رقم-۷٦۹) ومسلم کتاب الصلاة باب القراءة فی العشاء (رقم ۱۷۷-(٤٦٤)) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها ،باب القراءة فی صلاة العشاء (رقم-۸۳۵)

حضورپاك ﷺ په ښکلې صورت کښې دَ ټولو نه اوچت جوړکړې وو دغه شان الله تعالی حضورپاك ﷺ ته دَ آواز په خوږوالی کښې هم يو امتيازی شان ورعطاکړې وو. هم دَدې تذکره حضرت براء بن عازب رضي الله عنه په دې روايت کښې کړې ده. دا څه جذباتی او په مبالغه باندې دَ جذباتو اظهارنه بلکه حقيقت دادې چه دا دَ يوصحابی دَ قوت بيانی آخری حد خو کيدې شی ليکن دَ پيغمبرئی دَ حد دَ شان ابتدابه وی.

ښه آواز د پيغمبرئ لازمی صفت: -ملاعلی قاری رحمه الله دَدې حديث لاندې ليکلی دی چه ابن عساکر رحمه الله يو حديث نقل کړې دې چه حضورپاك ﷺ فرمائيلی چه الله تعالی کله هم يو نبی راليږلې نوهغه ته ئی يوخوږ آواز او يوه ښکلې دَمخ څهره ورکولوسره راليږلې. تردې چه الله تعالی ستاسو نبی (محمد ﷺ) راليږلې نوهغه له ئی هم خوږ آواز او ښائسته مخ ورکولو سره راليږلې دې.

د نبی عليه السلام د آواز اوچتوالې: -په احاديثو کښې راغلی دی چه آواز به ئی هغه ځائی ته رسيدو چرته چه به دَ چا آواز نه رسيدو. دَبيهقی په يو روايت کښې دی چه يوځل حضورپاك ﷺ خطبه ورکوله نو په کورنو کښې په پرده کښې ناستو ښځود حضورپاك ﷺ آواز واوريدو. ابونعيم رحمه الله دَ عبدالله بن رواحه رضي الله عنه يو حديث نقل کړې دې هغه فرمائی چه زه په بنوتميم کښې ووم چه دَجمعې په ورځ دَحضورپاك په منبرباندې ما آواز واوريدو فرمائيلې کينه. دَ ابن ماجه په يوروايت کښې دی چه ام هانی رضي الله عنها به دَ حضورپاك ﷺ تلاوت هغه وخت اوريدو کوم وخت چه به حضورپاك ﷺ دَ شپې کعبې سره تلاوت کولو او ام هانی رضي الله عنها به په خپل کور کښې وه.

[۸۳۵] دسحر په مانځه کښې مسنون قراءت

٨٣٥-()[١٣] ① «وَعَنْ جَابِرِبْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِبِـ ﴿قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ﴾ [ق:١] وَنَحْوِهَا، ③ وَكَانَتْ صَلَاتُهُ بَعْدُ تَخْفِيفًا»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① جابر ابن سمره رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د سحر په لمانځه کې سورة قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ يا دغسې (اوږد) څه بل سورت لوستلو ③ او حضور ﷺ به د سحر د لمانځه څخه وروسته په بل لمانځه کې مختصر سورتونه ويل. (مسلم.)

حل اللغات: - ① بَعْدُ: أي: بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ: يعنی پس د دغه سحر دمونځ نه، يا دا چه روستو د دغه وخت نه. ② تَخْفِيفًا: لنډ يعنی مختصر مونځ به ئې کولو.

تسهيلات: -

قوله: وكانت صلوته بعد تخفيفا:

(1) اخرجه مسلم كتاب الصلاة، باب القراءة فى الصبح (رقم) ١٦٨ - (٤٥٨)

د مذکوره جملې په مفهوم کښې څلور اقوال:- ① علامه ابن حجر رحمه الله د دې جملې مطلب دا بيان کړې دې چه "بعد" تعلق زماني سره دې يعنى د هجرت په شروع کښې د حضورپاك ﷺ مونځ په مسجدنبوی کښې اوږد وو ځکه چه خلق به کم وو. خو چه کله خلق زيات شو نويا به د حضورپاك ﷺ مونځ مختصر وو دا مطلب د حديث الفاظو سره څه نيزدې دې.

② يعنى په صبا کښې سورت "ق" وغيره د طويل قراءت باوجود بيا هم د حضورپاك ﷺ مونځ مختصر معلوميدلو ځکه چه د حضورپاك ﷺ قراءت او د قراءت خوند به د مزې نه ډك وو. د دې جملې څلورمفهوم ليکلې شوى دى.

③ صاحب سفرسعاده ليکلى دى چه د نورو امامانو په نسبت به د حضورپاك ﷺ اوږد مونځ هم مختصر معلوميدلو. د ټولو نه وړاندې چه کوم مطلب ليکلې شوې دې هغه د شيخ عبدالحق رحمه الله دې زما په خيال کښې هم هغه مطلب راجح دې. دا ټول په اشعة المعات کښې ذکردی (ج۱ص۴۰۶)

④ علامه طيبى رحمه الله دا مطلب ليکلې دې چه د فجرد مانځه نه علاوه نور څلور واړه مونځونه به مختصر وو د سحر مونځ به اوږد وو. عام شارحينو هم دغه مطلب اخستې دې مګر دا زړه پورې نه دې ځکه چه د حديث الفاظ او د عربيت ذوق دا نه قبلوى.

[۸۳۶] د سحر په مانځه د سورة الليل قراءت

۸۳۶-(۱۴)[۱] «وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ»[۲] أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ: «وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ_» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] د عمرو ابن حريث رضي الله عنه باره کې منقول دي[۲] چې هغه د رسول الله ﷺ څخه د سحر په لمانځه کې والليل اذاعسعس (يعني سورة اذاالشمس کورت) ويل اوريدلي دي. (مسلم)

تسهيلات:-

قوله: وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ:

د حديث په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① دسحرپه مونځ کښې به نبى کريم ﷺ صرف يوآيت ونيلو او که نه ټول سورة به ئې ونيلو. ځينې حضرات وائى چې صرف يو آيت مبارك به ئې تلاوت کولو ځکه چې مونځ کښې تخفيف هم په دې طريقه وى.

② صحيح خبره داده چې ددې آيت نه اذا الشمس پورا سورت مراد دې. دا ذکر الجزء اراد لکل د قبيل څخه دې. دا سورة په طوال کښې راځى.

(۱) اخرجه مسلم کتاب الصلاة ، باب القراءة فى الصبح (رقم) ۱۶۴ - (۴۵۶) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ، باب القراءة فى صلاة الفجر(رقم-۸۱۷)

[۸۳۷] د صبا په مانځه کښې د سورة مؤمنون لوستل

۸۳۷-()[۱۵][۱]«وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ السَّائِبِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ[۲] صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ بِمَكَّةَ، [۳] فَاسْتَفْتَحَ سُورَةَ الْمُؤْمِنِينَ، حَتَّى جَاءَ ذِكْرُ مُوسَى وَهَارُونَ أَوْ ذِكْرُ عِيسَى[۴] أَخَذَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْلَةٌ فَرَكَعَ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] عبدالله ابن السائب رضي الله عنه فرمايي[۲] چې (د مکي د فتح څخه وروسته يو ځل) رسول الله ﷺ مونږ ته په مکه کې د سحر مونځ راکړو[۳] او سورة مؤمنون يې شروع کړو کوم وخت چې حضور ﷺ د موسي وهرون ياعيسي ذکر ته ورسيدو[۴] نو حضور ﷺ ته ټوخي راغي (چې د هغې په وجه د سورة پوره کولو نه بغير) حضور ﷺ رکوع ته لاړلو. (مسلم.)

حل اللغات:- ① سَعْلَةٌ: أَيْ: سُعَالٌ: وَهُوَ صَوْتٌ يَكُونُ مِنْ وَجَعِ الْحَلْقِ وَالْيُبُوسَةِ فِيهِ: د حلق يعنی د مرئ د درد اود اوچ والی په وجه چه کوم ټوخې راځی هغې ته وآئی.

تسهيلات:-

قوله: حَتّٰى جَاءَ ذِكْرُ مُوسَى:

د عذر په وجه په مينځ کښې د قراءت پريخودو جواز: -يعنی دَ سورت مؤمنون آيت ﴿ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسٰى وَأَخَاهُ هٰرُونَ﴾ ته چه کله حضورپاک ﷺ اورسيدلو نوزړه ئی ډک شو اوپه ژړا شودَ دغه ژړا په وجه دَ نبی کريم ﷺ مرئی مبارکه اوچه شوه او ټوخې راغلو نو حضورپاک ﷺ دَ سورت ختمولونه بغير هغه پريخودو اورکوع ئی اوکړه. "اوذکرعيسی" اودَ شک دپاره دې دَ راوی شك شوې چه دَ حضرت عيسیٰ عليه السلام ذکر داسې دې ﴿وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً﴾.

[۸۳۸] د جمعې په ورځ د سحر د مانځه مسنون قراءت

۸۳۸-()[۱۶][۱]«وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ: الم تَنْزِيلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى، [۳] وَفِي الثَّانِيَةِ: ﴿هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ﴾ [الإنسان: ۱]»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ به د جمعې په ورځ د سحر د مونځ په اولني رکعت کې الٓمّٓ تَنْزِيلُ[۳] اوپه دويم رکعت کې هَلْ أَتٰى عَلَى الْإِنْسَانِ لوستلو (بخاري مسلم.)

[۱] اخرجه مسلم كتاب الصلاة . باب القراءة فى الصبح (رقم) ۱۶۳ - (۴۵۵) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ، باب القراءة فى صلاة الفجر(رقم-۸۲۰) والنسائى كتاب الافتتاح/باب قراءة بعض السورة (رقم) ۱۰۰۷)

[۲] اخرجه البخارى كتاب الجمعة باب ما يقرأ فى صلاة الفجر يوم الجمعة (رقم-۸۹۱) ومسلم كتاب الجمعة باب ما يقرأ فى يوم الجمعة (رقم) ۶۵ - (۸۸۰) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقرأ فى صلاة الصبح يوم الجمعة (رقم-۱۰۷۴) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ، باب القراءة فى صلاة الفجر يوم الجمعة (رقم-۸۲۳) والنسائى كتاب الافتتاح/باب القراءة فى الصبح يوم الجمعة (رقم) ۹۵۵

تسهیلات:-

قوله: يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ:

د جمعې په ورځ د صبا په مانځه کښې مسنون قراءت:- دَ جمعې په ورځ دَ سحر په مونځ کښې "الم تنزیل" یعنی سورت سجده کوم چه په سیپاره اتل ما اوحی کښې دې دکوم نوم چه سورت سجده دې او په دریو رکوع باندې مشتمل دې. دا به نبی په اول رکعت کښې وئیلو او سورت دهر به نبی په دویم رکعت کښې وئیلو. په قرآن کښې یوحم السجده دې هغه سورت مراد نه دې هغه په شپږو رکوع باندې مشتمل دې. شوافع حضرات فرمائی په دې حدیث باندې عمل کولوسره دَ جمعې دَ سحر په مونځ کښې هم دغه دوه سورتونه وئیل پکاردی. احناف فرمائی چه په متعین توګه باندې نه دی لازم کول پکار ځکه چه په دې سره دَعقیدې نقصان کیدې شی.

مسنون عمل لره عقیدهٔ د فرض کنړلو عدم جواز:- او په دې ظاهری حدیث باندې عمل کول مستحب او اولی دی په دې شرط چه دَ دې سنت پوره کولو په اراده سره وی او دَ لزوم عقیده ئی نه وی ځکه چه حضورپاك ﷺ خو دَدې دوو سورتونونه علاوه هم دَجمعې دَ سحر په مونځ کښې څه سورتونه وئیلی دی نو همیشه والې ثابت نه دې او دَ غیردوام په لوستلو باندې احناف منکرنه دی.

[۸۲۹] د جمعې د مانځه مسنون قراءت

٨٢٩-()[١٧] ① وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَلَى الْمَدِينَةِ، وَخَرَجَ إِلَى مَكَّةَ، ③ «فَصَلَّى لَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ الْجُمُعَةَ، فَقَرَأَ سُورَةَ (الْجُمُعَةِ) فِي السَّجْدَةِ الْأُولَى، ④ وَفِي الْآخِرَةِ: ﴿إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ﴾ [المنافقون: ١] ⑤ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.(١)

ترجمه: ① عبیدالله بن رافع فرمایي ② چې مروان حضرت ابوهریره رضی الله عنه په مدینه کې خلیفه (یعني خپل قائم مقام ګورنر) مقرر کړي او خپله مکې ته لاړلو ③ (نو د هغه په عدم موجودګي کې) ابوهریره رضی الله عنه مونږ ته د جمعې مونځ راکړو هغه په اولني رکعت کې سوره جمعه ④ او په دویم رکعت کې یې سوره إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ وویل ⑤ او وي فرمایل چه ما د رسول الله ﷺ څخه د جمعې په ورځ (یعني د جمعې په لمانځه کې) دا دواړه سورتونه ویل اوریدلي دي. (مسلم)

حل اللغات:- ① اسْتَخْلَفَ: أَيْ: جَعَلَهُ خَلِيفَتَهُ وَنَائِبَهُ: یعنی خپل خلیفه او نائب ئې جوړ کړو.

(١) اخرجه مسلم كتاب الجمعة باب ما يقرأ في صلاة الجمعة (رقم) ٦١ -(٨٧٧) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة باب ما جاء في القراءة في الصلاة يوم الجمعة (رقم-١١١٨) والترمذي كتاب الجمعة /باب ما جاء في القراءة في صلاة الجمعة (رقم-٥١٩)

تسهیلات:-

قوله: فَقَرَأَ سُورَةَ (الْجُمُعَةِ) فِي السَّجْدَةِ الْأُولَى:

د جمعې په مونځ کښې مسنون قراءت:-یعنی کله چې مروان د مدینې منورې حاکم وو نو د جمعې مونځ به ئې پخپله ورکولو. یوځل څه دور حکومت کښې مکې مکرمې ته حج دپاره لاړو، پخپل ځائې ئې حضرت ابوهریره ﷛ مقرر کړو. کله چې ابو هریره ﷛ د جمعې مونځ ورکړو نو په مونځ کښې ئې داسورتونه اولوستل. او نبی کریم ﷺ به هم کله کله د جمعې په مونځ کښې دا سورتونه وئیل. لوستل حدیث پاك د همیشوالی ذکر نشته دې. او دا حدیث د نورو احادیثو خلاف هم نه دې.

[۸۴۰] د اخترونو او د جمعې په مونځونو کښې مسنون قراءت

٨٣٠-()[١٨] ① «وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: ② كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِيدَيْنِ، وَفِي الْجُمُعَةِ: بِـ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ [الأعلى: ١] وَ﴿هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ﴾ [الغاشية: ١] ③ قَالَ: وَإِذَا اجْتَمَعَ الْعِيدُ وَالْجُمُعَةُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ ④ قَرَأَ بِهِمَا فِي الصَّلَاتَيْنِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① نعمان ابن بشیر ﷛ فرمایي ② چې رسول الله ﷺ به د اخترونو (وړوکی اختر او لوي اختر) او د جمعې په لمانځه کې سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى او هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ سورتونه ویل ③ او حضرت نعمان ﷛ وایي هر کله چې اختر او جمعه به په یوه ورځ جمع شو ④ نو رسول الله ﷺ به د اختر او جمعې په دواړو لمونځونو کې دا دواړه سورتونه ویل، (مسلم)

تسهیلات:-

د اخترونو په مونځونو کښې مسنون قراءت:-نبی کریم ﷺ به په مختلفو مونځونو کښې مختلف سورتونه لوستل اوبه دې مذکوره مونځونو کښې به ئې اکثر دا سورتونه لوستل همیشه دپاره به ئې نه لوستل.

فوائد مستنبطه:- ① که د جمعې ورځ او اختر په یو ورځ راشي نو د جمعې مونځ نه معاف کیږي. ② په دوو رکعتونو کښې یو سورت لوستل جائز دی. ③ د جمعې او د اختر جمع کیدل د برکت سبب دې. نه چې د نحوست لکه څنګه چې د بعضې ناپوهه خلقو عقیده ده.

[۸۴۱] د اخترونو په مونځونو کښې د سورة ق او سورة قمر لوستل

٨٣١-()[١٩] ① وَعَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، «أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ: ② مَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

---

(١) اخرجه مسلم كتاب الجمعة باب ما يقرأ فی صلاة الجمعة (رقم-٦٢ - (٨٧٨) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقرأ به فی الجمعة (رقم-١١٢٢) والترمذی كتاب العيدين/باب القراءة فی العيدين (رقم-٥٣٣) والنسائی ذكر الاختلاف علی النعمان بن بشير فی القراءة فی صلاة الجمعة (رقم) ١٤٢٤

(٢) اخرجه مسلم كتاب صلاة العيدين باب ما يقرأ به فی صلاة العيدين (رقم-١٤ - (٨٩١) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقرأ فی الأضحى والفطر (رقم-١١٥٤) وابن ماجة باب ما جاء فی القراءة فی صلاة العيدين (رقم-١٢٨٢) والترمذی كتاب العيدين/باب القراءة فی العيدين (رقم-٥٣٤) والنسائی كتاب صلاة العيدين/باب القراءة فی العيدين بقاف واقتربت باب القراءة فی العيدين بقاف واقتربت (رقم-١٥٦٧)

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَضْحٰى وَالْفِطْرِ؟ ۳ فَقَالَ: كَانَ يَقْرَأُ فِيهِمَا: بِـ﴿ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ﴾ [ق:۱] وَ﴿اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ﴾ [القمر:۱]». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ عبيد الله فرمايي چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د ابو واقد ليثي رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه ۲ چې حضور ﷺ به د وړوکي او لوي اختر په لمونځو کې څه ويل ۳ هغه ورته وفرمايل حضور ﷺ به په دې دواړو لمونځونو کې سورة قٓ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ او سورة وَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ ويل، (مسلم)

تسهيلات:-

قوله: عَنْ عُبَيْدِ اللهِ:

د روايت ارسال:- د مسلم په شرح کښې دې روايت ته مرسل ليکلې شوی دی. ځکه چې عبيد الله د عمر بن الخطاب رضي الله عنه په زمانه کښې نه وو. او نه ورسره ددوی ملاقات شوی دی. خو دا روايت صحيح دې ځکه چې د مسلم بل روايت کښې دا الفاظ موجود دی. عن عبيد الله عن ابي واقد قال سألني عمر بن الخطاب رضي الله عنه.

قوله: أَبَا وَاقِدِ اللَّيْثِيَّ:

د ابو واقد ليثی په نوم کښې مختلف اقوال:-

① خيني وائی چې نه خو دده نوم معلوم او نه دده د پلار.
② ابن الملک رحمة الله عليه فرمائی چې دده نوم حارث بن مالک دی.
③ خيني وائی چې دده نوم ابن عون دې.
④ خيني وائی چې عون بن الحارث دی.

[۸۴۲] د سحر د مونځ په سنتو کښې مسنون قراءت

۸۴۲-()[۲۰] ۱ «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ [الكافرون:۱] وَ﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص:۱]». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابو هريره رضي الله عنه فرمايي ۲ چې رسول الله ﷺ به د سحر سنتو په دوؤ رکعتونو کې سورة قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ او قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ ويل. (مسلم)

تسهيلات:- **نوټ:-** د ترجمې څخه مطلب واضح دی.

(۱) اخرجه مسلم كتاب صلاة المسافرين باب استحباب ركعتى سنة الفجر. والحث عليهما وتخفيفهما. والمحافظة عليهما. وبيان ما يستحب أن يقرأ فيهما (رقم-۹۸ - (۷۲۶) وابن ماجة باب ما جاء فيما يقرأ فى الركعتين قبل الفجر (رقم-۱۱۴۸) والنسائى كتاب الافتتاح/باب القراءة فى ركعتى الفجر بقل يا أيها الكافرون وقل هو الله أحد باب القراءة فى ركعتى الفجر بقل يا أيها الكافرون وقل هو الله أحد (رقم-۹۴۵)

[۸٤۳] د صبا په سنتو کښې مسنون قراءت

۸۴۳ –()[۲۱]① «وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ:② كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ: ﴿قُولُوا آمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا﴾ [البقرة: ۱۳۶]③ وَالَّتِي فِي (آلِ عِمْرَانَ) : ﴿قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ﴾ [آل عمران: ٦٤]» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:① ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د سحر د سنتو دوه رکعاتو کې د سورة بقره دا آيت قُوْلُوْا اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَا اُنْزِلَ اِلَيْنَا ③ اود سوره آل عمران دا آيت قُلْ يٰاَهْلَ الْكِتٰبِ تَعَالَوْا اِلٰى كَلِمَةٍ سَوَاءٍۢ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ ويل. (مسلم)

تسهيلات:-

توله: يَقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ:

په مختلفو مونځونو کښې مختلف قرأت:- نبي کريم ﷺ به مختلف مونځونو کښې مختلف سورتونه وئيل. په دې مذکوره مونځونو کښې به ئې هم دا سورتونه اکثر وئيل خو دا هميشه دپاره نه وو

د جمعې په ورځ د اختر راتلو په وجه د جمعې عدم سقوط:- که چرته اختر د جمعې په ورځ راشي نو د اختر مونځ به د جمعې په وجه معاف نه وي. بلکه هم هغه شان به کول وي. لکه څنګه چې غير مقلدين د اختر په وجه د جمعې مونځ معاف ګڼړي.

د غير مقليدنو غلط فهمي:- شايد چې غير مقليدينو د حضرت عثمان رضی الله عنه په هغه عمل کښې د غلط فهمۍ ښکارشوي وي چې يو ځل حضرت عثمان رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښې کلي والو ته وئيلي وو که تاسو د جمعې مونځ دپاره پاتې کيږئ نو پاتې شئ او که تلل غواړئ نو لاړ شئ او په هغوئ باندې دجمعې مونځ فرض نه وو بلکه صرف د برکت حاصلول دپاره به هغوئ د جمعې مونځ کولو دپاره ښار ته راتلل. حالانکه غير مقلدين دصحابۀ کرامو اتباع او تقليد نه کوي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۸٤٤] د مانځه په اول کښې د بسم الله وئيل

۸۴۴ –(')[۲۲]① «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ:② كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ بِـ﴿بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ﴾ [الفاتحة: ۱]»③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ.

[۱] اخرجه مسلم كتاب صلاة المسافرين باب استحباب ركعتي سنة الفجر، والحث عليهما وتخفيفهما، والمحافظة عليهما، وبيان ما يستحب ان يقرا فيهما (رقم) ۱۰۰ - (۷۲۷)

[۲] اخرجه الترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب من رأى الجهر ب {بسم الله الرحمن الرحيم} [الفاتحة: ۱](رقم-۲٤۵)

ترجمه:[۱] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به خپل مونځ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سره شروع کولو [۳] دا حديث ترمذي روايت کړي دي او ويلي يې دی چه د دې اسناد قوي نه دي.

تسهيلات:-

په تسميه دعدم جهر دليل:- دَدې حديث پوره توضيح اوتفصيل اودَ فقهاؤ اختلاف دَ باب صفت الصلوة حديث نمبر ۲ لاندې ليکلې شوې دي. داحديث دَ احنافو دَليل دې چه بسم الله په مزه وئيل پکاردی او امام ترمذی رحمه الله دې روايت ته بغيرد څه وجې اووئيل چه "ليس اسناده بذاك" ځکه چه داحديث حسن دې او صحيح الاسناد دې.

[۸۴۵] آمين بالجهر وئيل

۸۴۵–()[۲۳][۱] «وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ: ﴿غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ۷]، [۳] فَقَالَ: آمِينَ، مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:[۱] وائل ابن حجر رضي الله عنه فرمايي[۲] چې ما واوريدل چې حضور ﷺ به لمانځه کې غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ اوويل[۳] بيا به اوږد آواز سره يې آمين وويلو، (ابوداؤدو، دارمي، ترمذي).

حل اللغات:- ① مَدَّ: د آواز او ساه اوږدولو په معنی کښې دي.

تسهيلات:-

قوله: فَقَالَ: آمِينَ:

د امين د لفظ په ماخذ کښې اقوال:- په لفظ آمين کښې دَ ټولو نه اول بحث دادې چه دادَ کوم لغت اوکومې ژبې لفظ دې.

① بعضې علماؤ دادَ فارسئ لفظ منلې دې چه دا لفظ "همين" وودکوم معنی چه کذالك ده دې نه عربی جوړه کړې شوه نو آمين شو. مطلب دا چه امام لولی او بيا آمين وائی نو مقتدی هم په دغه درخواست باندې دَتصديق مهرلګولوسره وائی چه "په ځائی دې اوفرمائيل هم دغه شان ده".

② بعضې نور علماء فرمائی چه دا لفظ عجمی نه دې بلکه داعربی لفظ دې اوعربودا استعمال کړې دې. مجنون ليلی وائی:

(۱) اخرجه الترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في التأمين (رقم-۲۴۸) وابوداود كتاب الصلاة،باب التأمين وراء الإمام (رقم-۹۳۲) والنسائی كتاب الافتتاح/باب رفع اليدين حيال الأذنين باب رفع اليدين حيال الأذنين (رقم-۸۷۹)

امین امین لا ارضی بواحدة حتی اضم الیها الفین امینا

بیاواٸی:

اللهم لا تسلبنی حبها ابدا ویرحم الله عبدا قال امینا

③ بعضې علماؤ دَ عبرانئی یا سریانئی ژبې لفظ منلې دې. په دې ژبو کښې داسې وزنونه زیات راځی لکه هابیل، قابیل، میکائیل او اسرافیل وغیره نو دا لفظ په دې ژبو کښې دَ "اِسْتَجِبْ" یعنی قبلولو معنی کښې دې.

د امین د لفظ په تلفظ کښې اقوال:- ① دا لفظ دوه شان سره لوستلې شوې دې یعنی بالقصر امین او بالمد آمین دواړه صحیح دی او آمینا الف اشباعی سره هم صحیح دې.

② دَدې لفظ دوه شان سره وئیل غلط دی یو په الف باندې زبر سره وئیل غلط دی لکه اَمین دویم په الف باندې مد او میم باندې شد سره وئیل غلط دی لکه آمّین کوم چه دَ قصد په معنی کښې دې.

امین د چا وظیفه ده په دې کښې مذاهب:-

دَ آمین په مسئله کښې په دوو مقاماتو کښې اختلاف دې. اول اختلاف خو په دې کښې دې چه آیا آمین وئیل صرف دَمقتدی کار دې یا دَ امام او مقتدی دواړو کار دې.

① دَامام مالک رحمه الله په نیز دا صرف دَ مقتدی کار دې

② جمهور فقهاؤ او ائمه ثلاثه فرمائی چه آمین دَ امام او مقتدی دواړو کار دې.

داول فریق دلیل:- د دوی مستدل دا حدیث دې.((اذا قال الامام ولا الضالین فقولوا امین)) طریقه د استدلال دا ده چې یعنی دلته کار تقسیم دې دَ امام کار فاتحه وئیل دی او دَ مقتدی کار آمین وئیل دی.

د اول فریق د دلیل جواب:- دغه دلیل په خپله دعویٰ باندې صریح نص نه دې بلکه صرف دَ اشارة النص نه ئی استدلال کړې دې خو پخپله جمهورو دَ عبارة النص نه استدلال کړې دې کوم چه اولی او راجح دې. په سری مونځ کښې دا صرف د امام کار دې.

د دویم فریق دلیل:- دَدوی دلیل دَ صحیحینو دا روایت دې: ((قال رسول الله ﷺ اذا امن الامام فامنوا)) یعنی چه کله امام آمین اووائی نو تاسو هم وایئی.

په امین بالجهر کښې مذاهب:-

آمین جهراً اوسراً وئیلو کښې دَ څلورو واړو امامانو اتفاق دې چه دواړه شان وئیل جائز دی په هیڅ طرف نه څه کراهت نشته دې. خبره صرف دومره ده چه احناف ئی جهراً وئیلو باندې دَسنت کیدو اطلاق نه کوی بلکه دَجائز په درجه کښې ئی منی او شوافع حضرات سراً وئیلو ته جائز وائی جهراً وئیل ئی افضل ګنړی. نو دا اختلاف افضل اوغیر افضل، اودَ اولی او غیراولی دې دَ جائز او ناجائز نه دې.

① امام شافعي رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په جهري مونځونو کښې آمين بالجهر ته افضل وائی
② احناف اومالکيه آمين بالسر افضل ګرځوی.

داول فريق دلائل:- ① زير بحث د وائل بن حجر رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "مدبهاصوته" الفاظ راغلی دی دَ کوم مطلب چه دَ دغه حضراتو په نيز "رفع بهاصوته" دې.

داول فريق د اول دليل جوابونه:-

① په زوره باندې وئيلو کښې د ((مدبهاصوته)) جمله نص صريح نه دې بلکه دَمدها مطلب داهم کيدې شی چه په اوږد آوازسره آمين اووئيل مګر دا جواب کمزورې دې.

② اصل جواب دادې چه حضورپاک ﷺ بيشکه په اوچت آواز سره آمين وئيلې دې ليکن دادَ امت په تعليم باندې محمول دې لکه دَماسپخين په مونځ کښې حضورپاک ﷺ په زوره قرأت وئيلې دې دَ رفع بهاصوته هم دغه جواب دې.

داول فريق دويم دليل:- دَ بشربن رافع رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "رفع بهاصوته" الفاظ راغلی دی چه په خپله مدعاباندې صريح دليل دې. دَ ابن ماجه په روايت کښې دی ((حتی يسمعها الصف الاول فيرتج بها المسجد)) اشعة المعات: ۴۰۹.

داول فريق دريم دليل:- دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دې کوم چه ابوداؤد نقل کړې دې اوپه هغې کښې دا الفاظ راغلی دی: ((کان رسول الله ﷺ اذاتلاغيرالمغضوب عليه ولاالضآلين قال آمين حتی يسمع من يليه من الصف الاول)) (لمعات ۱۴۴/۳)اشعة المعات: ۴۰۹.

امام ترمذی رحمه الله په خپل کتاب ترمذی کښې دواړه روايتونه نقل کړی دی په يو کښې دَجهر ذکر دې او په بل کښې دَعدم جهرذکردې. بيا امام ترمذی رحمه الله جهری روايت ته ترجيح ورکړې ده اودَ امام بخاری رحمه الله په حواله سره دَ عدم جهرپه روايت باندې اعتراضات راغلی دی.

د دويم فريق دلائل:- ① دَ قرآن کريم دَا آيت د دوی مستدل دې ﴿ اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝﴾ (سورت اعراف آيت: ۵۵) طرز دَ استدلال داسې دې آمين دعاده اودَدعا باره کښې دَ قرآن اعلان دې چه په مزه باندې غوارئی لهذا آمين هم په مزه وئيل پکاردی.

② دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې کوم صاحب دَ هدايه هم نقل کولوسره دَدې نه استدلال کړې دې. اصل روايت دَحضرت عمر فاروق رضي الله عنه نه نقل دې دکوم الفاظ چه دادی: ((عن عمربن الخطاب رضي الله عنه انه قال يخفی الامام اربعة اشياء التعوذ والبسملة وامين وسبحانك اللهم وبحمدك وعن ابن مسعود مثله)) (لمعات: ۱۴۴/۳)اشعة المعات: ۴۰۹. هم دا روايت صاحب هدايه روايت بالمعنی کولوسره فرمائيلی چه ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی ((اربع يخفيهن الامام وذکرمن جملتها التعوذ والتسمية وامين)) (هدايه ص ۱۰۳)

③ دَ سمرة بن جندب رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دي چه دَمشكوة شريف ص ۷۸ باندې داسې نقل دي: ((عن سمرة بن جندب انه حفظ عن رسول الله ﷺ سكتتين سكتة اذا كبر وسكتة اذا فرغ من قراءة غير المغضوب عليهم ولا الضالين فصدقه ابي بن كعب))(رواه ابو داؤد) په دې روايت كښې چه دَ ولا الضالين په وخت دَ سكتې كوم ذكر دې دا صرف دَ امين بالسّر دَونيلو دَپاره وو.

④ ((عن ابي وائل قال كان عمر وعلي لايجهران بالبسملة ولا بالتعوذ والا آمين)) (رواه جرير والطحاوي كذا في المعات) [اشعة المعات: ۴۰۹]

⑤ د ابووائل روايت د دوی مستدل دې. الفاظ ئې دا دي: ((وعن ابي وائل قال لم يكن عمر وعلي يجهر ان بسم الله الرحمن الرحيم ولا امين)) (تهذيب الآثار په حواله دَ طبراني)

⑥ هم دَدغه وائل بن حجر رضي الله عنه روايت دې كوم چه داسې دې: ((عن وائل بن حجر ان النبي ﷺ قرء غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقال امين وخفض بها صوته)) (ترمذي ص ۳۴)

خلاصه د بحث: – روايتونه او آثار دَ دواړو طرفونو ته دي مګر مدار دَ اختلاف هم په دغه روايت دَ وائل بن حجر رضي الله عنه باندې دې. شوافع مدبها صوته دَ راويانو دَ وجې نه دَ قوت سند په اعتبار سره راجح ګرځولې دې او دَ احناف ټول مستدلات ئې په څه نه څه وجه باندې معلول ګرځولي دي. دَ شوافع دا مستدل سفيان ثوري رحمه الله نقل كوی او شوافع دَحضرت سفيان ثوري رحمه الله دَ سند طريق ښكلې ګرځوی دَ احنافو دَ سند طريق شعبه نقل كوی احناف هغه ته په ثوري رحمه الله باندې ترجيح وركوی اته اته ترجيحات بيانولې شی مګر فيصله نه كيږی.

نوټ: – دا خبره وړاندې تيره شوې وه چې دا اختلاف د جواز او عدم جواز نه دې بلكه د افضل او غير افضل دې. نو په دې كښې تشديد او سختوالې نه دې پكار بلكه په كوم جمات كښې چې آمين بالسر وئيلی شی هلته امين بالجهر نه دی وئيل پكار او په كوم جمات كښې چې امين بالجهر وئيلی شی نو هلته امين بالجهر هم كول پكار دی چې په سنت باندې هم عمل راشی. انتشار جوړول او تفريق پيدا كول ګناه او د نقصان خبره ده. الله پاک دې مونږ مسلمانانو ته توفيق راكړی چې په فروعی اختلافاتو كښې شدت نه اختيار روو.

[۸٤٦] دآمين په وجه د دعا قبليدل

۸۴۶–(۱)[۳۴] ① ((وَعَنْ أَبِي زُهَيْرٍ النُّمَيْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ③ فَأَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَلَحَّ فِي الْمَسْأَلَةِ ④ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَوْجَبَ إِنْ خَتَمَ" ⑤ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: بِأَيِّ شَيْءٍ يَخْتِمُ؟ قَالَ: "بِآمِينَ")) رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① ابو زبير نميري رضي الله عنه فرمايي ② چې يوه شپه مونږ د رسول الله ﷺ سره

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب التأمين وراء الإمام (رقم-۹۳۸)

راووتلو۳ او په یو داسې سړي راغلو چې په دعا کولو کې بې حده زاري کوله ۴ رسول الله ﷺ وفرمایل واجب یې کړه که ختم یې کړه ۵ یو سړي پوښتنه وکړه (یا رسول الله ﷺ) څه شي سره یې ختم کړي؟ وې فرمایل په آمین سره. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① ذَاتَ يَوْمٍ: أَيْ: سَاعَةً مِنْ سَاعَاتِ يَوْمٍ: په ورځو کښې یو وخت. ② أَلَحَّ: أَيْ: بَالَغَ فِي السُّؤَالِ: دَباب افعال نه الحاح عاجزئ او زاریٔ سره اصرار کول. دلته دَالله تعالی نه دعا کولو کښې بنه مبالغه او اصرار کول مراد دی. ③ أَوْجَبَ: واجب ئې کړو، ④ إِنْ خَتَمَ: ختم په معنی د مهر لګولو سره دې یا په معنی د اختتام سره دې.

تسهیلات:- قوله: أَوْجَبَ:

په الله تعالی باندې د وجوب مطلب:- یعنی دغه سړي دَخپل ځان دَپاره جنت واجب کړو. په الله تعالی باندې دَ بندګانو دَطرف نه هیڅ خیز واجب کیدې نه شي دلته مراد دادې چه الله تعالی په خپل فضل او کرم او احسان سره په خپل ځان واجب او لازم کړې دې. لکه چه داسې وعده ئې فرمائیلې ده دکوم نه چه به وعده خلافي نه کوي.

قوله: إِنْ خَتَمَ:

د ختم په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① په دې صورت کښې به دا لفظ خاتم نه به دَ مهر په معنی کښې وي. په یو حدیث کښې دي "امين خاتم رب العالمين" مطلب دا لکه څنګه چه دَ بادشاه مهر په یو خط باندې لګولې شي هغه دَهرقسم نقصان نه محفوظ کیږي او دَاعتماد قابل کیږي دغه شان لفظ آمین دې چه دا دکومې دعا شاته هم اوونیلې شي هغه محفوظ مقبول او دَ اعتماد قابل جوړیږي. په دې صورت کښې به دا لفظ خاتم نه به دَ مهر په معنی کښې وي. په یو حدیث کښې دي "امين خاتم رب العالمين" مطلب دا لکه څنګه چه دَ بادشاه مهر په یو خط باندې لګولې شي هغه دَهرقسم نقصان نه محفوظ کیږي او دَاعتماد قابل کیږي دغه شان لفظ آمین دې چه دا دکومې دعا شاته هم اوونیلې شي هغه محفوظ مقبول او دَ اعتماد قابل جوړیږي.

② دویم مطلب دادې په دې شرط چه دا دعا په یو خیز باندې ختمه کړي.

دامین وئیلو په محل کښې دوه اقوال:-

① د دې آمین نه په مانځه کښې امین هم مراد اخستې شي

② دَ مانځه نه بهر امین هم مراد کیدې شي.

د دعا په آخر کښې د آمین وئیلو تعلیم:-

په دې حدیث سره امت ته دا تعلیم ملاؤشو که دعا اجتماعی وي او که انفرادی وي په آخره کښې امين يا رب العالمين وئیل پکاردی دې دَپاره چه دَ الله تعالی دَ طرف نه په دې عمل او دې دعا باندې دَ قبلیدو مهر او دَ حفاظت او برکت مهر اولګي.

[٨٤٧] د ماښام په مانځه کښې د اوږد قراءت جواز

٨٤٧-(١)[٢٥] ① «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② إِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْمَغْرِبَ بِسُوْرَةِ (الْأَعْرَافِ)، ③ فَرَّقَهَا فِي رَكْعَتَيْنِ»، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چي رسول الله ﷺ د ماښام په لمانځه کې سورة اعراف (داسي) ويلو ③ چي هغه يي په دوه رکعتونو کې تقسيم کړو. (نسايي.)

حل اللغات:- ① فَرَّقَهَا: تقسيم ئې کړلو.

تسهيلات:-

دحديث نه اشارةً داحنافو دمسلک تائيد: دَظاهر د حديث نه هم دغه معلوميږي چه نبی کريم ﷺ دَ ماښام په دوو رکعتوکښې پوره سورت اعراف لوستلي وو اودَماښام وخت سره دَدې چه مختصروی او حضورپاك ﷺ به عمومًا په دې کښې مختصر قراءت لوستلو مګر کله کله به ئې دَ جوازدَبيان دَپاره اوږدقراءت هم فرمائيلو دَ کوم نه چه دَ اشارې په توګه دا ثابتيږي چه دَ ماښام وخت دومره تنګ نه دې لکه څنګه چه ئې شوافع حضرات ګڼړي. دَهغوی په نيزدَ نمر دَ ډوبيدونه پس چه کومه سرخي وی هم هغه شفق دې دَدې په ختميدوباندې دَ ماښام وخت ختميږي مګر دَ احنافو په نيزشفق دَ نمردَ ډوبيدو نه پس دَ سرخئ نه پس سپينوالی نوم دې اودا وخت کافي اوږد دې په دې کښې سورت اعراف په دوو رکعتوکښې لوستلې کيدې شي. په دې شرط چه قراءت حدر سره وی په مصری طرز باندې نه وی. دَ رسول الله ﷺ په قراءت کښې تيزی وه اومعجزه هم شامل حال وه. يعنی په کم وخت کښې به زيات قراءت کيدلو کوم ته چه "طي" وائی. شيخ عبدالحق رحمه الله وائی چه داسې وينا کول ډيره لرې خبره ده چه حضورپاك ﷺ دَ سورت اعراف بعض حصه اولوستله پوره سورت ئې نه دې لوستلې.

[٨٤٨] د سورة فلق او سورة الناس فضيلت

٨٤٨-(٢)[٢٦] ① «وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كُنْتُ أَقُوْدُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَتَهُ فِي السَّفَرِ، ③ فَقَالَ لِي: "يَا عُقْبَةُ أَلَا أُعَلِّمُكَ خَيْرَ سُوْرَتَيْنِ قُرِئَتَا؟ ④"، فَعَلَّمَنِي ﴿قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ [الفلق: ١] وَ﴿قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾ [الناس: ١]، ⑤ قَالَ: فَلَمْ يَرَنِي سُرِرْتُ بِهِمَا جِدًّا، ⑥ فَلَمَّا نَزَلَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ صَلَّى بِهِمَا صَلَاةَ الصُّبْحِ لِلنَّاسِ، ⑦ فَلَمَّا فَرَغَ، الْتَفَتَ إِلَيَّ، ⑧ فَقَالَ: "يَا عُقْبَةُ! كَيْفَ رَأَيْتَ؟» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُوْ دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

---

(١) اخرجه النسائی کتاب الافتتاح/باب القراءة فی المغرب بالمص (رقم-٩٩١)

(٢) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/باب فی المعوذتين (رقم-١٤٦٢) والنسائی کتاب الافتتاح/باب الفضل فی قراءة المعوذتين (رقم-٩٥٣)

ترجمه: [۱] عقبه ابن عامر رضي الله عنه فرمايي [۲] چه زه په يو سفركي د رسول الله ﷺ د اوښي مهار نيولي تلم [۳] چې حضور ﷺ ماته وفرمايل اي عقبه آيا زه تاته دوه ډير بهترين سورتونه چې ويل شوي دي (يعني چې په ما نازل شوي دي) ونه ښايم؟ [۴] نو حضور ﷺ ماته معوذتين يعنی قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس وښودل [۵] عقبه رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ زه په دي دوه سورتونو سره ډير خوشحاله ونه ليدم [۶] بيا په سحر كې چې رسول الله ﷺ د سحر د لمانځه د پاره تشريف راوړو نو خلقو ته يې په مونځ كې دا دواړه سورتونه اوويل [۷] كله چې رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغه شو نو زما طرف ته متوجه شو [۸] وي فرمايل اي عقبه تا (د دي دوه سورتونو فضيلت) وليدلو؟ (احمد، ابوداؤد، نسايي.)

حل اللغات:- ① أَقُودُ: د واحد متكلم صيغه ده، أي: أَجُرُّهَا مِنْ قُدَّامِهَا: د مخې نه مې راښكله. ② سُرِرْتُ: أي جُعِلْتُ مَسْرُورًا وَفَرِحًا: خوشحاله، ③ جِدًّا: أي: كَثِيرًا: ډير، ④ اِلْتَفَتَ: متوجه شو، مخ ئې راواړولو.

تسهيلات:-

قوله: فَلَمْ يَرَنِي سُرِرْتُ بِهِمَا جِدًّا:

يعنی چه حضور اكرم ﷺ كله اوكتل ما معوذتين اوريدو سره زياته خوشحالي اونه شوه لكه څنګه چه به په نورو سورتونو باندې كيدله په كوم كښې چه د توحيد اوږده او اعلى مضامين وی. نو حضور پاك ﷺ دا محسوس كړه او غوښتل ئی چه ماته په عملی توګه باندې د دې سورتونو عظمت اوخودلې شی نو د سحر مونځ ئی هم په دې مختصر سورتونو سره اوكړو

قوله: كَيْفَ رَأَيْتَ؟

د معوذتين د خير سورة كيدو وجه:- بيانی اوفرمائيل "كيف رأيت" يعنی اودې كتل" چه څنګه د تپولونه غوره مونځ په كوم كښې چه اوږده سورتونه وی په دې دوو مختصر سورتونو سره ما اوكړل دا د دې سورتونو شان دې اودا ښكلې سورتونه دی. رسول الله ﷺ چه معوذتين ته "خير سورتين" اوفرمائيل دا په دې اعتبار سره دی چه په دې كښې د شيطان مكر او فريب او د هغه د وسوسو او دسيسه كارونه تحفظ او بچ كيدلو مكمل سامان دې په دې اعتبار سره دا د تپولونه ښه سورتونه دی.

[۸۴۹] د جمعې په ورځ د ماښام په مانځه كښې مسنون قراءت

۸۴۹ –(١)[٢٧] [١] «وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ: ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ [الكافرون: ١] وَ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ١]» رَوَاهُ فِي

(١) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم الحديث ٣/ ٨١

"شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] جابر ابن سمره رضی الله عنه فرمايي[۲] چي رسول الله ﷺ به د جمعي په ورځ د ماښام په لمانځه کي قُلْ يَاأَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ او قُلْ هُوَاللهُ أَحَدٌ ويلي دا حديث په شرح السنة کي منقول دي

۸۵۰-()[۰] [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ "لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ".

ترجمه: [۱] او ابن ماجه دا حديث د ابن عمر رضی الله عنه څخه نقل کړي دي ليکن په هغې کې د ليلة الجمعة الفاظ نشته.

تسهيلات: - قوله: يَقْرَأُ:

د سحر او ماښام په سنتو کښې د سورة الکافرون او سورة اخلاص ويلو حکمت: يعنی د ماښام په مانځه کښې به کله حضورپاك ﷺ دا دواړه سورتونه لوستل څکه چه دَدې دواړو سورتونونه ړومبې سورت دَ کافرانودَ مکمل ويزارئی اعلان او دويم سورت کښې دَ توحيد خالص اعلان دې. هم دغه وجه ده چه حضورپاك ﷺ به دَماښام او سحر سنتو کښې اکثرهم دا سورتونه لوستل دي دَپاره چه دَ شپې اوورځې په شروع کښې حضورپاك ﷺ دغه اعلان راؤګرځوی لکه چه دې سره والاحديث کښې راځي. بهرحال حضورپاك ﷺ په دې دواړو سورتونوباندې هميشه والي او التزام نه دې فرمائيلي. دې سره امت ته داتعليم ملاؤ شو دَ قرآن هرسورت په مانځه کښې لوستل جائزدی اويوسورت نه دی خاص کول پکار.

۸۵۱- په مانځه کښې د سورهٔ کافرون او سورهٔ اخلاص په کثرت سره لوستل

۸۵۱-()[۲۸] [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] مَا أُحْصِي مَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، [۳] وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ قبل صَلَاةِ الْفَجْرِ: بِـ﴿قُلْ يَاأَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ﴾ [الكافرون:۱] وَ﴿قُلْ هُوَاللهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص:۱]» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي[۲] چه زه نشم شميرلي چي ما څومره ځله رسول الله ﷺ څخه د ماښام د لمانځه څخه وروسته[۳] او د سحر د لمانځه څخه مخکي په دواړو سنتو کي قل ياايها الكافرون او قل هو الله احد ويل اوريدلي دي، (ترمذي)

۸۵۲-()[۰] [۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: "بَعْدَ الْمَغْرِبِ".

ترجمه: [۱] دا حديث ابن ماجه د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه نقل کړي ي خو هغه روايت کي د بعد المغرب الفاظ نشته.

---

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها، باب القراءة فى صلاة المغرب (رقم-۸۳۳)

(۲) اخرجه الترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى الركعتين بعد المغرب والقراءة فيهما (رقم-۴۳۱)

(۳) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة،باب ما جاء فيما يقرأ فى الركعتين قبل الفجر (رقم-۱۱۴۸)

تسهیلات: -قوله: مَا أُحْصِي:

د ،،ما،، کلمې نوعیت:- ما نافیه دې ،او((احصی)) په معنی د ((اطیق)) ، لا اطیق دې ،یعنی په ما کښې د شمیرلو طاقت نشته دې.

قوله: مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ

د دویمې ما کلمې نوعیت:-ما موصوله ، او ځینې وائی چې ما مصدریه دې. او دا په کثرت باندې محمول دې چې نبی کریم ﷺ به اکثر دا سورتونه وئیل.

۸۵۳- په مونځونو کښې د قراءت مسنون مقدار

۸۵۳-()[۲۹][۱] وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ،[۲] قَالَ "مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحَدٍ أَشْبَهَ صَلَاةً بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ مِنْ فُلَانٍ[۳] قَالَ سُلَيْمَانُ صَلَّيْتُ خَلْفَهُ فَكَانَ يُطِيلُ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ،[۴] وَيُخَفِّفُ الْأُخْرَيَيْنِ، وَيُخَفِّفُ الْعَصْرَ[۵] وَيَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ،[۶] وَيَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ بِوَسَطِ الْمُفَصَّلِ،[۷] وَيَقْرَأُ فِي الصُّبْحِ بِطِوَالِ الْمُفَصَّلِ، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ،[۸] وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ إِلَى وَيُخَفِّفُ الْعَصْرَ.

ترجمه:[۱] سلیمان ابن یسار (تابعي) رحمه الله دابوهریره رضی الله عنه څخه نقل کوی [۲] چې ابوهریره رضی الله عنه به فرمایل [چې ما په هیڅ سړي پسې د رسول الله ﷺ د لمانځه مشابه مونځ نه دی کړی څنګه چې مې په په فلاني سړي پسې کړي دي [۳] سلیمان رحمه الله وایي چې ما هم په هغه سړي پسې مونځ کړي دي هغه به دماسپښین اولنې دوه رکعاته اوږده کول[۴] او آخري دوه رکعاته به یې مختصر کول د مازیګر په لمانځه کې به یې تخفیف کولو[۵] د ماښام په لمانځه کې قصار مفصّل[۶] او په ماسخوتن کې اوساط مفصّل[۷] او د فجر (سحر) په لمانځه کې به یې طوال مفصّل وېل، نسايي،[۸] او ابن ماجه دا روایت نقل کړي دي خو د هغه روایت صرف تر ویخفف العصر پورې دي.

حل اللغات:- ① الْمُفَصَّلِ: سُمِّيَ مُفَصَّلًا؛ لِأَنَّ سُوَرَهَا قِصَارٌ، كُلُّ سُورَةٍ كَفَصْلٍ مِنَ الْكَلَامِ: په مفصلات کښې تول واړه لنډې سورتونه دی څکه د یوبل نه زر زر جدا کیږي. سورت حجرات نه دَ والناس پورې ټولو سورتونوته مفصلات وائی. ② قِصَارِ الْمُفَصَّلِ: دَ سورت بینة نه تر والناس پورې سورتونو ته قصار مفصل وائی. ③ وَسَطِ الْمُفَصَّلِ: دَ سورت بروج نه دَ سورت بینة پورې سورتونو ته اوساط مفصل وائی. ④ طِوَالِ الْمُفَصَّلِ: دَ سورت حجرات نه دَ سورت بروج پورې سورتونو ته طوال مفصل وائی.

تسهیلات:- قوله: بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ:

د قرآن کریم د سورتونو یو څو اصطلاحی نومونه: ① سورت بقره سورت آل عمران سورت مائده سورت انعام سورت اعراف اوسورت انفال وبراءت دا اووه سورتونه "السبع الطول" په نوم مشهوردی په دې شرط چه انفال اوتوبه یوه دې نه پس هغه سورتونه دی چه سل یا

(۱) اخرجه النسائی کتاب الافتتاح/باب القراءة فی المغرب بقصار المفصل باب القراءة فی المغرب بقصار المفصل (رقم-۹۸۳)

دَدي نه په زياتو آياتونو مشتمل دی دا سورتونه دَ "مئين" په نوم سره مشهوردی.
② دې نه پس هغه سورتونه دی کوم ته چه مثاني وئيلې شي اودا سلسله دَسورت حجرات پورې ځی ③ دَ سورت حجرات نه دَ والناس پورې ټولو سورتونوته مفصلات وائی ځکه چه دا دَ يوبل نه زر زر جدا کيږی.

دمفصلاتو په درې حصو کښې تقسيم: - په دَې مفصلات کښې ټول واړه سورتونه چه په دريو درجو کښې تقسيم کړې شوی دی.

① طوال مفصل:- دَا د سورت حجرات نه دَ سورت بروج پورې دی
② اوساط مفصل:- دا دَ سورت بروج نه دَ سورت بينة پورې دی
③ قصار مفصل:- دا د سورت بينة څخه ترسورة الناس پورې دی.

٨٥٤-د فاتحه خلف الامام حکم

٨٥٣-()[٣٠]① وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كُنَّا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ، ③ فَقَرَأَ فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: ④ "«لَعَلَّكُمْ تَقْرَءُونَ خَلْفَ إِمَامِكُمْ؟ قُلْنَا: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللهِ ⑤ قَالَ: لَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ، ⑥ فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَلِلنَّسَائِيِّ مَعْنَاهُ.

ترجمه: ① عباده بن صامت رضي الله عنه فرمايي ② چې (يوه ورځ) مونږ خلق د سحر په لمانځه کې په رسول الله ﷺ پسي وو ③ حضور ﷺ چې قراءت شروع کړو نو قراءت ورته دروند معلوم شو بيا چې د لمانځه څخه فارغ شو نو وي فرمايل ④ شايد تاسو خلق امام پسي قراءت کوئ؟ مونږ عرض وکړو چې هو يا رسول الله ﷺ، ⑤ ده ﷺ وفرمايل سوا د سورة فاتحي څخه هيڅ مه وايئ ⑥ ځکه چې کوم سړي دا سورت نه وايي د هغه مونځ نه کيږي، (ابوداؤد ترمذي) او نسايي دا روايت بالمعني نقل کړي دي

حل اللغات: - ① فَثَقُلَتْ: أي: عَسُرَتْ: دروند ورته معلوم شو.

① وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ، قَالَ: ② «وَأَنَا أَقُولُ: مَا لِي يُنَازِعُنِي الْقُرْآنُ ③ فَلَا تَقْرَءُوا بِشَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ إِذَا جَهَرْتُ إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآنِ»".

ترجمه: ① او د ابوداؤد په روايت کې دالفاظ هم دي ② چې حضور ﷺ (د صحابو رضي الله عنهم جواب اوريدو سره) وفرمايل ځکه خو ما (په خپل زړه کي) اوويل چې دا څه وشو چې قراءت په ما باندې دروند کيږي ③ هر کله چې زه په اوچت آواز سره وايم نو تاسو خلق بغير د سورة فاتحه څخه نور څه مه وايئ.

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب من ترک القراءة فی صلاته بفاتحة الكتاب (رقم-٨٢٣) وابوداود كتاب الصلاة،باب من ترک القراءة فی صلاته بفاتحة الكتاب (رقم-٨٢٤) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی القراءة خلف الإمام(رقم-٣١١) والنسائی كتاب الافتتاح/باب قراءة أم القرآن خلف الإمام فيما جهر به الإمام (رقم)-٩٢٠

حل اللغات:- ②يُنَازِعُنِي: جګړه کوی ماسره یعنی دا قرآن په ما باندې ولې دروند شو.

تسهيلات:-

قوله: لَعَلَّكُمْ تَقْرَءُونَ:

دمونځ په تغیراتو کښې یو تغیر:- دَدې نه معلومیږی چه مقتدیانو په مزه اوئیل اوډ مقتدیانو په حضورپاك ﷺ باندې په روحانی توګه بوج پریوتلو په دې وجه حضورپاك ﷺ تپوس اوکړو چه کیدې شی تاسو خلق ماپسې شاته لوستل کوئی؟ که چرې هغه خلقو په زوره باندې وئیلې نو حضورپاك ﷺ به داسې سوال نه کولو. په دې کښې دَمانځه دَتغیراتو نه دَ یوتغیرخبره ده چه دَ فاتحې نه سوا هیڅ مه واینې بیا روستو دَ فاتحې وئیل هم منع کړې شو لکه څنګه چه وړاندې لیکلی شوی دی.

٨٥٥- په جهری مونځونو کښې د فاتحه خلف الامام لوستلو حکم

٨٥٥-()[٣١] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ②«أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ فِيهَا بِالْقِرَاءَةِ، ③فَقَالَ: "هَلْ قَرَأَ مَعِي أَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفًا؟ ④" فَقَالَ رَجُلٌ: نَعَمْ، يَا رَسُولَ اللَّهِ! ⑤قَالَ: "إِنِّي أَقُولُ: مَالِي أُنَازَعُ الْقُرْآنَ؟» ⑥قَالَ: فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⑦فِيمَا جَهَرَ فِيهِ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَوَاتِ ⑧حِينَ سَمِعُوا ذَلِكَ، مِنْ رَسُولِ اللَّهِ، رَوَاهُ أَحْمَدُ وَمَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ. وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه فرمایي ② چې (یو ځل) رسول الله ﷺ د جهري لمانځه څخه چې په هغې کې قراءت په اوچت آوز سره ویل کیږي فارغ شولو ③ او (د لمانځه کونکو طرف ته متوجه کیدو سره یې) او فرمایل آیا په تاسو کې چا زما سره اوس قراءت کړي دي؟ ④ یو سړي عرض وکړو چې هو یا رسول الله ﷺ، ⑤ حضور ﷺ ورته وفرمایل (څکه خو ما په زړه کې) ویل چې څه چل وشو چې زه په قرآن ویلو کې انخلم ⑥ ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې خلق د رسول الله ﷺ سره قراءت کولو څخه منع شو ⑦ په هغه لمونځونو کې چې په هغې کې به حضور ﷺ په اوچت آواز سره قراءت کولو، ⑧ خلقو چې دا د رسول الله ﷺ څخه واوریدل (نو منع شول). (مالك، احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسايي).

حل اللغات:- ① انْصَرَفَ: أَيْ: فَرَغَ: راوګرځیدو یعنی فارغ شو (دمونځ نه). ② آنِفًا: يَعْنِي الْآنَ: اوس، نزدې، ③ أُنَازَعُ: أَيْ: أُدَاخَلُ فِي الْقِرَاءَةِ وَأُشَارَكُ: جګړه کوی ماسره یعنی دې قراءت کښې ماسره بل څوک ولې شریکیږی یعنی دا قراءت په ما باندې ولې دروند شو.

(۱) اخرجه مالک کتاب الصلاة باب ترک القراءة خلف الإمام فیما جهر فیه (رقم-٤٤) وابوداود کتاب الصلاة،باب من کره القراءة بفاتحة الکتاب إذا جهر الإمام (رقم-٨٢٦) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها ،باب إذا قرأ الإمام فأنصتوا (رقم-٨٤٨) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی ترک القراءة خلف الإمام إذا جهر الإمام بالقراءة (رقم- ٣١٢) والنسائی کتاب الطهارة/باب الأمر بإسباغ الوضوء رقم (١٤١)

تسهیلات:-

قوله: مَالِي أُنَازَعُ القُرْآنَ؟:

د قراءت خلف الامام په عدم باندې دلیل:- منازعه کړه وړه والی ته وائی یعنی چه امام هم لوستل کوی اومقتدی هم لوستل کوی دامنازعه ده. حضورپاك ﷺ په زړه کښې اوفرمائیل او په ژبه مبارکه نی هم اظهار اوفرمائیلو چه داسې نه دی کول پکار. نوخلق په جهری مونځونو کښې دَ عام قرأت او فاتحې وغیره ونیلو نه منع شو. داحدیث دَاحنافو مضبوط دلیل دې چه امام پسې دَ قرأت لوستلونه حضورپاك ﷺ په سختئی سره منع اوفرمائیل اوفاتحه هم قرآن دې نو دَدې نه هم منع راغله.

د قراءت خلف الامام د نسخې دلیل:- دَ احنافو په نیز دا روایت امام پسې لوستلو دَپاره ناسخ دې ځکه چه ابوهریره رضی الله عنه متاخرفی الاسلام دې نودا دَ آخری دور نقشه ده. اودَ "فانتهی الناس" الفاظو کښې دَ صحابه کرامو دَعملی فیصلې اندازه کیږی اوداجمله دَ زهری نه ده بلکه دَحضرت ابوهریره رضی الله عنه ده لکه څنګه چه مخکښې تفصیل شوې دې.

۸۵۶—په مانځه کښې د خپل رب سره مناجات

۸۵۶—(۱)[۳۲] ⟨۱⟩ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَالبَيَاضِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ⟨۲⟩ «إِنَّ الْمُصَلِّي يُنَاجِي رَبَّهُ فَلْيَنْظُرْ مَا يُنَاجِيهِ بِهِ، ⟨۳⟩ وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ بِالْقُرْآنِ» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ⟨۱⟩ ابن عمر او بیاضي رضی الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⟨۲⟩ مونځ کونکي د خپل پروردګار سره (د لمانځه په حالت کې) مناجات کوي لهٰذا هغه ته پکار دي چې کوم مناجات هغه کوي په هغې کې دې غور کوي (یعني ذکر او قراءت دې په حضورقلب او خشوع او خضوع سره دي کوي) ⟨۳⟩ او په قرآن شریف ویلو کې تاسو کې دي هیڅوك په یو بل باندې آواز نه اوچتوی. (احمد)

حل اللغات:- ① يُنَاجِي: أي: يُحَادِثُهُ وَيُكَالِمُهُ: یعنی خبرې ورسره کوی (دا کنایه ده د کمال قربت معنوی نه ځکه چه مونځ دمؤمن معراج دې).

تسهیلات:- قوله: وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ بِالْقُرْآنِ:

د قرآن په تلاوت کښې په یوبل باندې د جهر کولو ممانعت:- یعنی بعض لوستونکی په زوره زوره لوستلو سره په نورو غالب رانه شی نه دې بل په تشویش کښې اخته کړی که هغه اوریدونکې په مانځه کښې وی اوکه اوده وی یاپخپله قرآن لولی په دې تولو صورتونو کښې مسلمان ته تکلیف رسول جائزنه دی. لهٰذا قرآن پاك په زوره نه دی لوستل پکار او دَ قرآن نه علاوه په بل څیزسره تکلیف رسول خو په طریقه اولی دیرخراب عمل دې. دَدې

(۱) اخرجه احمد فی المسند ۴/ ۳۴۴ ومالک کتاب الصلاة باب العمل فی القراءة (رقم-۲۹)

حديث نه معلومه شوه چه امام پسې فاتحه لوستل په جهري مونځونو کښې مناسب نه دي.

۸۵۷- د امام د تابعدارۍ وجوب

۸۵۷-()[۳۳] ۞ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۞«إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ ۞ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۞ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۞ امام د دې د پاره مقرر شوې دي چې د هغه پيروي وشي ۞ کله چې امام الله اکبر اووائي نو تاسو هم الله اکبر اووايئ او کله چې امام قراءت کوي نو تاسو چپ اوسيږئ. (ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① لِيُؤْتَمَّ: د مجهول صيغه ده. أي: لِيُقْتَدَي بِهٖ: چه اقتداء ئې اوکړې شي.

تسهيلات:- قوله: فَأَنْصِتُوا:

د عدم قراءت خلف الامام دليل:- يعنې کله چه امام قرآن لولی نو تاسو چپ چاپ خاموش اوسيږئ که چرې د هغه قراءت اورئي نو په غوږ کيخودوسره ئې اورئي. هلته د "فاستمعوا" حکم دې او که مونځ سرى يعنى پټ وى نو هغې کښې هم داسې خاموش اوسيږئ "وانصتوا" ئې فرمائيلي. دا حديث د احنافو دليل دې بلکه د جمهورو هم دغه مسلك دې. او د امام قراءت د پوره قوم قراءت دې نو قوم بغير د قراءت نه پاتې نه شو.

۸۵۸- د امي د قراءت حکم

۸۵۸-()[۳۴] ۞ «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۞ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ۞ إِنِّي لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ آخُذَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْئًا، فَعَلِّمْنِي مَا يُجْزِئُنِي ۞ قَالَ: "قُلْ سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، ۞ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ".

ترجمه: ۞ عبدالله بن ابي اوفي رضي الله عنه فرمايي ۞ چې يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو چې يا رسول الله ﷺ ۞ زه (سم دستي) د قرآن څخه په څه يادولو قادر کيدي نشم نو ماته څه داسې شي وښايي چې زما د پاره کافي وي ۞ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ته دا کلمات وايه سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ. يعنى الله پاك دي او ټول تعريفونه الله لره دي او د الله څخه سوا بل معبود نشته او الله ډير لوي دي ۞ او د ګناهونو څخه د بچ کيدو توفيق او د عبادت کولو طاقت صرف د الله د طرف څخه دي.

(۱) اخرجه ابو داو د كتاب الصلاة، باب الإمام يصلي من قعود (رقم-٦٠٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها، باب إذا قرأ الإمام فأنصتوا (رقم-٨٤٦) والنسائي كتاب الافتتاح/باب تأويل قوله عز وجل: {وإذا قرئ القرآن فاستمعوا له وأنصتوا لعلكم ترحمون} [الأعراف: ٢٠٤] (رقم) ٩٢٢

(۲) اخرجه ابوداودكتاب الصلاة، باب ما يجزئ الأمي والأعجمي من القراءة (رقم -٨٣٢) والنسائي كتاب الافتتاح/باب ما يجزئ من القراءة لمن لا يحسن القرآن (رقم-٩٢٤)

حل اللغات ① لَا أَسْتَطِيعُ: د نفی متکلم صیغه ده. طاقت یعنی وس نه لرم ② آخُذَ: أي: أتعلم وأحفظ: چه څه زده کړم، یاد کړم ③ یُجْزِئُنِي: چه کافی شي زما دپاره

[۱] قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! هَذَا لِلَّهِ؟ فَمَا ذَا لِي؟ [۲] قَالَ: "قُلْ: اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي، وَعَافِنِي، [۳] وَاهْدِنِي، وَارْزُقْنِي" [۴] فَقَالَ هَكَذَا بِيَدَيْهِ وَقَبَضَهُمَا، [۵] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَّا هَذَا فَقَدْ مَلَأَ يَدَيْهِ مِنَ الْخَيْرِ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، [۶] وَانْتَهَتْ رِوَايَةُ النَّسَائِيِّ عِنْدَ قَوْلِهِ: "إِلَّا بِاللَّهِ".

ترجمه: [۱] هغه سړي عرض وکړو یا رسول الله ﷺ دا خو د الله د پاره دي زما د پاره څه دي؟ [۲] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل (د خان د پاره) ته دا وایه اللّٰهُمَّ ارْحَمْنِي وَعَافِنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي، یعنی اي پروردګاره په ما رحم وکړه ما ته عافیت راکړه [۳] او ماته هدایت وکړه او ما ته رزق راکړي، [۴] بیا هغه سړي په خپلو دواړو لاسونو سره دا رنګه اشاره وکړله او هغه یې بند کړل [۵] رسول الله ﷺ وفرمایل دې سړي خپل دواړه لاسونه د نیکئ څخه ډك کړل، ابوداؤد، [۶] او د نسایي روایت تر الا بالله پورې ختم شوې دي.

حل اللغات: - ③ عَافِنِي: عافیت راکړې ماته، بچ کړې ما (د دواړو جهانونو د آفاتونه).

تسهیلات: -

قوله: إِنِّي لَا أَسْتَطِيعُ:

اشکال: - دا دې چه یو اهل زبان اوبیا عربی او دَ عربو دَ ذهانت نه دا خبره لرې معلومیږی چه هغه دې دَقرآن دومره حصه زده نه کړی په کوم سره چه مونځ جائزنه شي.

د اشکال دوه جوابونه: - ① دَ اسلام په شروع کښې دَدې خبرې اساني وه چه دَ قرآن په ځانی دَ څه ذکر الله اوتسبیحات سره مونځ کولو. کوم یو کس ته چه ډیر سورتونه یاد وی نو په یو سورت باندې همیشه والې کول مکروه دی اوکه چرې یاد نه وی نو یادول پکاردی ګنې مکروه دی دَمکروه نه مراد خلافت سنت دی.

② که یو طرف ته په عربو کښې ذهین خلق وونو بل طرف ته شاړ خلق هم وو. دَ زیات عمر خلقو دَپاره زده کول ګران وی او ډیره قرین قیاس خبره داده چه دا سړې به هم دغه وخت کښې مسلمان شوې وی او دَ مانځه معامله وربیښه شوه نودا سوال ئې اوکړو.

قوله: هَذَا لِلَّهِ؟

د رجل هوښیار تیا: - دا سړې خومره هوښیاروو چه دا تسبیحات تمجیدات تحمیدات او تعریفات ټول دَالله تعالی دَپاره دی آخر زما دَپاره دَ دعا په درجه کښې کوم یو څیزدې؟ په دې باندې حضورپاك ﷺ هغه ته دَ رحمت عافیت او رزق اوهدایت دعا اوخودله.

قوله: فَقَالَ هَكَذَا:

قاعده لغویه: - دَ قال لفظ په عربی لغت کښې دَ اشاره دَپاره هغه وخت استعمالیږی کله

چه دَدې په صله کښې "باء" راشي دلته "بيديه" کښې باء کلمه دَ وجې نه په دې جمله کښې دَاشاره معنى پيدا شوه.

قوله: وَقَبْضُهُمَا:

دَ قبض په کيفيت کښې دوه اقوال:-

① يعنى دې سرى په دواړو لاسونو باندې اشاره کولو سره دواړه موټى بند کړل لکه چه ده ته يو بنه نعمت ملاؤ شو او هغه خوشحال شو اودائى محفوظ کړو

② په يوه يوه ګوته باندې نى دا کلمات شميرلو سره موټې بند کړو. په دې باندې حضور اکرم اوفرمائيل چه دې سرى دواړه لاسونه دَ ښيګړې نه ډک کړل.

۸۵۹- دَ سبح اسم ربك الاعلى جواب

۸۵۹-()[۳۵][۱]«وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، [۲] أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَرَأَ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ [الأعلى:۱] [۳] قَالَ: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى"» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ابن عباس ﷠ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به کله (په يو لمانځه کې) سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وېل [۳] نو سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى به يې ويلي، (احمد، ابوداؤد).

تسهيلات:- دَ قرآن کريم آيت ﴿ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى ﴾ سورت اعلى.

په دې کښې دَ تسبيحات حکم دې په دې حکم باندې عمل کولو سره رسول الله ﷺ پخپله هم په دې عمل اوکړو او امت ته ئې هم اوفرمائيل چه دا په سجده کښې ساتلو سره سبحان ربى الاعلى وايئې دغه شان کله چه ﴿ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴾ آيت نازل شو نو حضور پاك ﷺ اوفرمائيل چه دا په رکوع کښې اوساتئى او سبحان ربى العظيم وايئې.

په مونځ کښې د تکبيراتو او تسبيحاتو په مينځ کښې يو عجيبه ترتيب:- دا عجيبه ترتيب دې ځکه چه دَ انسان چه خپل وجود څومره باقى پاتې کيږى. دَ الله تعالى دَ شان پوره اعتراف انسان نه شى کولې ليکن کله چه انسان خپل وجود ختم کړى نودَ الله تعالى دَ شان مکمل اعتراف شروع کيږى. کله چه انسان خپل وجود ختمه وى نودَ الله تعالى دَ شان مکمل اعتراف شروع کيږى. کله چه انسان اودريږى نو هغه الله اکبر وائى ليکن کله چه خپل ځان يوه درجه کموى نو سبحان ربى العظيم وائى خوچه کله په سجده کښې خپل ځان بالکل فانى کوى نو هغه وخت دَالله تعالى شان په مکمل توګه اوچتولوسره وائى "سبحان ربى الاعلى" يعنى چه زه څومره ادنى يم الله تعالى هم هغه هومره اعلى دې.

دې دَدې جواب په قرأت کښې مخل او مضر نه دې.

---

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب الدعاء فى الصلاة (رقم-۸۸۳)

۸۶۰-د بعضې آياتونو جواب ورکول

۸۶۰-()[۳٦] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «مَنْ قَرَأَ مِنْكُمْ بِـ ﴿وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ﴾ [التين: ١] ٣ فَانْتَهَى إِلَى: ﴿أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ﴾ [التين: ٨] ٤ فَلْيَقُلْ: بَلَى، وَأَنَا عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ، ٥ وَمَنْ قَرَأَ: ﴿لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾ [القيامة: ١] فَانْتَهَى إِلَى: ﴿أَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى﴾ [القيامة: ٤٠] ، فَلْيَقُلْ: بَلَى، ٦ وَمَنْ قَرَأَ (وَالْمُرْسَلَاتِ)، فَبَلَغَ: ﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ﴾ [الأعراف: ١٨٥] فَلْيَقُلْ: " آمَنَّا بِاللّٰهِ» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: «وَأَنَا عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ»".

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په تاسو کې کوم سړي چې سورة والتين والزيتون اووائي ٣ او (دي ايت) أَلَيْسَ اللّٰهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ، يعنى آيا الله د ټولو څخه لوي حاکم نه دي؟ پورې راورسي ٤ نو داالفاظ دي اووائي بَلَى وَأَنَا عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ، يعنى هو، او زه په دي د شهادت ورکونکو څخه يم ٥ او کوم سړي چې سورة لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ اووائي او دي ايت أَلَيْسَ ذٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يُحْيِيَ الْمَوْتَى، (يعني آيا هغه الله) په دي خبره قدرت نه لري چې مړي راژوندي کړي) ته چې ورسي نو اودي وايي بَلَى (يعني هغه په دي خبره قدرت لري) ٥ او کوم سړي چې سورة والمرسلات اووائي او (دي آيت) فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ، (يعنى اوس دي څخه وروسته به دوي په کومه خبره ايمان راوړي) ورسيږي نو او دي وايي أَمَنَّا بِاللّٰهِ (يعني مونږ په الله ايمان راوړي دي) ابوداؤد او ترمذي دا روايت والتين تر آيت وَأَنَا عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ پورې نقل کړي دي.

تسهيلات:-

قوله:: "فَلْيَقُلْ: بَلَى "

د مخصوصو سورتونوپه اختتام کښې د مخصوصو کلماتو ويلوکښې مذاهب:-

① امام شافعي رحمه الله فرمائي دَدي سورتونو په اختتـاط باندي دا کلمات ويـل پکاردي که هغه فرض مونځ وي اوکه نفل وي اودَمونځ نه بهرهم دغه شان جواب ورکول پکاردي.

② امام مالك رحمه الله فرمائي چه دَ مانځه نه بهرخو په هرحال کښې داجواب ورکول پکاردي خو که چرې په مانځه کښې وي نو بيا په نفل مونځ کښې جواب ورکول پکاردي په فرضو کښې نه.

③ امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله فرمائي دَمونځ نه بهرخو جواب ورکول پکاردي ليکن په مانځه

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب مقدار الركوع والسجود (رقم-٨٨٧) والترمذى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ومن سورة التين (رقم-٣٣٤٧)

کښي دننه نه دي ورکول پکار که فرض مونځ وي اوکه نفل وي ځکه چه په دې سره وهم پيدا کيږي چه دا کلمات هم قرآن دي. اوکه يوسړي په دې ظاهري حديث باندې عمل کول غواړي نوبيا دې په نوافل کښې وائي ځکه چه بعضې رواياتو کښې نوافل (تهجد) تصريح موجود ده. بل په نوافل کښې وسعت وي.

۸۶۱- په سورة رحمن کښې د يو آيت جواب ورکول

۸۶۱-()[۳۷] [۱] «وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَصْحَابِهِ، فَقَرَأَ سُورَةَ (الرَّحْمٰنِ)، مِنْ أَوَّلِهَا إِلَى آخِرِهَا، فَسَكَتُوا، [۳] فَقَالَ: "لَقَدْ قَرَأْتُهَا عَلَى الْجِنِّ لَيْلَةَ الْجِنِّ، فَكَانُوا أَحْسَنَ مَرْدُودًا مِنْكُمْ، [۴] كُنْتُ كُلَّمَا أَتَيْتُ عَلَى قَوْلِهِ: ﴿فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ [الرحمن: ۱۳] [۵] قَالُوا: لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ، فَلَكَ الْحَمْدُ» "، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضی الله عنه فرمايي [۲] چې (يو ورځ) رسول الله ﷺ د خپل اصحابو رضی الله عنهم يو جماعت ته تشريف راوړو او د هغوئ په مخکې يې سورة رحمٰن د اوله څخه تر آخره پورې ووېلو صحابو رضی الله عنهم خاموشي اختيار کړي وه [۳] حضور ﷺ (چې سورت ختم کړو نو) وي فرمايل دا سورت ما د جنات (پيريانو) په مخکې په هغه شپه ويلي وو چې هغوئ د اسلام قبلولو او د قرآن اوريدو د پاره راجمع شوي وو او هغوئ په جواب راکولو کې ستاسو څخه بهتر وو [۴] هر کله چې زه دې آيت فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ (يعني د الله کوم کوم نعمتونه به تاسو دروغ ګڼئ) ته ورسيدم [۵] نو هغوئ به جواب راکولو لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ فَلَكَ الْحَمْدُ (يعني اې پروردګار زمونږ ستا هيڅ نعمت دروغ نه ګڼو او ټول تعريفونه تا لره دي) دا روايت امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ويلي يې دی چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات:- ① فَسَكَتُوا: چپ وو، خاموش وو (اوريدونکی صحابه کرام).
② مَرْدُودًا: أَيْ: جَوَابًا وَرَدًّا: يعنی جواب به ئې ورکولو.

تسهيلات:-

قوله: "أَحْسَنَ مَرْدُودًا" يعنی پيريانوچه دَ سورت رحمن دَ نعمتونو والا آيت واورېدو نوهغوی تاسونه ښه جواب ورکړو اودَهرنعمت په بدله کښې ئی اووئيل چه مونږ ناشکری نه کوو.

دبنه تلاوت په دوران کښې په سبحان الله سره د داد ور کولو حکم:- څه خلق دَ ښه تلاوت په جواب کښې سبحان الله وغيره الفاظ دَ قرأت دوران کښې وائی. بعضې محتاط علماء وائی چه دا صحيح نه دی بلکه دا ﴿فَاسْتَمِعُوا﴾ او ﴿وَأَنْصِتُوا﴾ خلاف دی چپ اوسيدل پکار دی. پاتې شو دَ سورت رحمن آيت نو په هغې کښې خو باقاعده استفهام سره سوال کړې شوې

(۱) اخرجه الترمذي کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الرحمن (رقم-۳۲۹۱)

د تلاوت په آخر کښي د صدق الله العظيم ونيلو حکم: -زمونږ په ملک کښي د تلاوت په آخر کښي((صدق الله العظيم)) ونيلی شي اود دې داسې التزام کولی شي چې تاسو به په تقريباتو وغيره کښي داسې نه وی ليدلي چې د قرآن پاک د تلاوت په اختتام کښي ((صدق الله العظيم)) اونه وائی د دې شدت التزام په وجه عوام عملی طور دا ضروری گنړی. ماته د دې په باره کښي معلومه نه ده چې په احاديثو کښي چرته دا کلمه ونيل منقول هم ده که نه؟ د دې کلمې د التزام په ځائې که مختلف الفاظ اونيلی شي يا کله ونيلی شي او کله نه نو دا به ښه وی والله اعلم بالصواب (شاه فيصل)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۸٦۲-په دوو رکعتو کښي د يوسورت لوستل

۸۶۲-()[۳۸] [۱]«عَنْ مُعَاذِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲]إِنَّ رَجُلًا مِنْ جُهَيْنَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳]قَرَأَ فِي الصُّبْحِ ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ﴾ [الزلزلة: ۱] فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا» [۴]فَلَا أَدْرِي أَنَسِيَ أَمْ قَرَأَ ذَلِكَ عَمْدًا، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] معاذ ابن عبدالله جهني (تابعي) رحمه الله فرمايي [۲] چه د قبيله جهينه يو سړي ماته بيان وکړو چې هغه د حضور ﷺ څخه اوريدلي دي [۳] چي د سحر په دوه رکعاته کې يې سورة اذا زلزلت الارض ويل [۴] او زه نه پوهيږم چې حضور ﷺ قصداً داسې کړي وو يا په هيره تري شوي وو. (ابوداؤد.)

تسهيلات: -

قوله: فِي الرَّكْعَتَيْنِ:

په فرائضو کښي يو سورت لره د مکرر ونيلو حکم: يعنی چه هم يوسورت زلزال ئی په دوو رکعتو کښي اولوستلو، که چرې نيم نيم ئی لوستلي وې نو هم جائزوو مگر په هر رکعت کښي ئی پوره سورت اولوستلو په ظاهره داسې معلوميږی چه حضورپاك ﷺ دَ بيان جواز دَپاره داسې کړی دی او حضورپاك ﷺ په هيره سره نه دي بلکه په اراده سره ئی داسې کړی دی سره ددې چه افضل اواولی هم دغه دی چه يوسورت مکرر اونه لوستلې شي خاص کر په فرائضو کښي داسې نه دی کول پکار.

دعوامو غفلت: -عوام الناس له غور کول پکاردی په کوم کښي چه اکثر داسې کوی چه (قُلْ هُوَاللهُ أَحَدٌ) يا يوخاص سورت په ټولو رکعتونو کښي سردوباره کولوسره لولي. هغوی له کم نه کم دومره سورتونه خويادول پکاردی په کوم سره چه په مانځه کښي کراهت پاتې نه شي. چاته چه مختلف سورتونه ياد وی اوهغه صرف هم يوسورت لولي دا مکروه دی اوچاته

(۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب الرجل يعيد سورة واحدة في الركعتين (رقم-۸۱۶)

چه یاد نه وي نوهغوی له یادول پکاردي ګني مونځ به نی مکروه شی او دَ مکروه مطلب خلاف سنت دي.

۸۱۳-دَ صبا په دوو رکعتونو کښې سورة بقره لوستل

۸۱۳-(۳۹)[۱] وَعَنْ عُرْوَةَ، قَالَ: [۲] إِنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، صَلَّى الصُّبْحَ، [۳] فَقَرَأَ فِيهِمَا بِـ(سُورَةِ الْبَقَرَةِ)، فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا، رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] حضرت عروه ابن زبیر (تابعي) رحمه الله فرمایي [۲] چې (یو خل) حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه د سحر مونځ ورکړو [۳] او په دواړو رکعاتو کښې یې سورة بقره وویله. (مالک)

تسهیلات:-

قوله: فَقَرَأَ فِيهِمَا بِـ(سُورَةِ الْبَقَرَةِ):

دَ صبا په مانځه کښې دَ سورة بقره اوله حصه لوستل:- حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه دَ سورت بقره څه حصه په اول رکعت کښې او څه حصه په دویم رکعت کښې اولوستله دا جائز دی مګر پوره سورت بقره دَ سحر دَ مونځ په دوو رکعتو کښې لوستل دکرامت نه خالي نه دی لکه چه حضورپاک ﷺ دَ ماښام په مونځ کښې سورت اعراف اولوستلې کوم چه دَ معجزه نه خالي نه دي.

۸۱۴-دَ صبا په مانځه کښې دَ سورة یوسف لوستل

۸۱۴-(۴۰)[۱] وَعَنِ الْفُرَافِصَةِ بْنِ عُمَيْرٍ الْحَنَفِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، [۲] قَالَ مَا أَخَذْتُ سُورَةَ (يُوسُفَ) إِلَّا مِنْ قِرَاءَةِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ إِيَّاهَا فِي الصُّبْحِ، [۳] مِنْ كَثْرَةِ مَا كَانَ يُرَدِّدُهَا، رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] فرافصه ابن عمیر (تابعي) رحمه الله فرمایي [۲] چې ما سورة یوسف د عثمان رضی الله عنه څخه (په آوریدلو آوریدلو سره) یاد کړي دي [۳] ځکه چې هغه به دا سورت د سحر په لمانځه کښې په کثرت سره ویلو. (مالک)

حل اللغات:- ① إِيَّاهَا: أَيْ: تِلْكَ السُّورَةَ: یعني دغه سورت. ② يُرَدِّدُهَا: أَيْ: يُكَرِّرُهَا: یعني اکثر به نې دا سورت په مونځ کښې وئیلو.

تسهیلات:- قوله: مَا أَخَذْتُ سُورَةَ (يُوسُفَ):

اشکال:- یوسورت دَ مانځه دَ پاره متعین کول خو مکروه دی بیا حضرت عثمان رضی الله عنه داسې ولې اوکړه؟

داشکال دوه جوابونه:- ① هغوی به صرف سورت یوسف نه لوستلو بلکه په کثرت سره به نې دا لوستلو اونور سورتونه به نې هم لوستل مګر ډیرکم، نودا صورت دَ کراهت نه خالي دي.

(۱) اخرجه مالک کتاب الصلاة باب القراءة فی الصبح (رقم-۳۳)
(۲) اخرجه مالک کتاب الصلاة باب القراءة فی الصبح (رقم-۳۵)

④ یوسورت د تولو مونځونو د پاره متعین کول د علماء په نیز مکروه دي مګر صرف د سحر په مونځ کښې د سورت یوسف لوستل د دې منافی نه دي ځکه چه د ټولو مونځونو سره د خاص کولو معامله نه وه.

په کثرت سره د سورة یوسف لوستلو فائده:- علماؤ لیکلی دی چه په کثرت سره د سورت یوسف لوستلو سره الله تعالی لوستونکی ته د شهادت مرګ ورکوی او حضرت عثمان رضي الله عنه د دې ښکاره نمونه دي.

۸۶۵-د صبا په مانځه کښې د سورة یوسف او سورة حج لوستل

۸۶۵-()[۳۱] ① وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② صَلَّيْنَا وَرَاءَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ الصُّبْحَ، فَقَرَأَ فِيهَا بِسُورَةِ (يُوسُفَ)، وَسُورَةِ (الْحَجِّ)، قِرَاءَةً بَطِيئَةً، ③ قِيلَ لَهُ: إِذًا لَقَدْ كَانَ يَقُومُ حِينَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ، ④ قَالَ: أَجَلْ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① عامر ابن ربیعه رضي الله عنه فرمایي ② چې (یو ځل) مونږ په امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضي الله عنه پسي مونځ وکړو هغه دوه رکعاته کې سورة یوسف او سورة حج په قلار قلار وویلو ③ د عامر رضي الله عنه ځخه چا پوښتنه وکړه چې بیا خو به حضرت عمر رضي الله عنه په اول وخت کې د لمانځه د پاره ودریدلو؟ (یعني په اول وخت کې به یي مونځ شروع کولو ځکه چې دومره اوږد قراءت خو هله ممکن کیدي شی چې د صبا د ختلو په وخت ودریږي، ④ هغه وفرمایل هو، (مالك.)

حل اللغات:- ① بَطِيئَةً: أَيْ: قِرَاءَةً مُجَوَّدَةً مُرَتَّلَةً مُبَيَّنَةً: یعنی په تجوید او ترتیل سره ئې په آرام او قلار قلار وئیلو.

تسهیلات:- قوله: فَقَرَأَ فِيهَا بِسُورَةِ (يُوسُفَ):

د صبا په مانځه کښې اوږده سورتونه لوستل:- دصبا په مانځه کښې دومره اوږده سورتونه وئیل په جواز باندې محمول دی. او داسې کله کله شوی دی ځکه چې په داسې اوږد قراءت باندې هیڅ مداومت نه وو کړې.

۸۶۶-په مانځه کښې د هر سورت د لوستلو جواز

۸۶۶-()[۳۲] ① «وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: ② مَا مِنَ الْمُفَصَّلِ سُورَةٌ صَغِيرَةٌ وَلَا كَبِيرَةٌ إِلَّا قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ③ يَؤُمُّ بِهَا النَّاسَ فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ»، رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① عمرو ابن شعیب د خپل پلار ځخه او هغه د خپل نیکه (عبدالله رضي الله عنه) ځخه نقل کوي ② چې د مفصل هیڅ لوي او وړوکی سورت داسې نشته چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځخه نه دي آوریدلي ③ چې خلقو ته به یې په هغې سره مونځ ورکولو. (مالك.)

(۱) اخرجه مالک کتاب الصلاة باب القراءة فی الصبح (رقم-۳٤)
(۲) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب من رأی التخفیف فیها (رقم- ۸۱٤)

حل اللغات:- ① اَلْمُفَصَّلِ: مفصلات (د سورة حُجرات نه تر د قرآن آخره پورې سورتونه مراد دي.او دې ته مفصلات ځکه وائي چه په دې کښې د قرآن د ټولو مضامينو اجمال سره ذکرشوي دي).

تسهيلات:-

قوله: يَؤُمُّهَا النَّاسَ فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ:

په مونځ کښې د هرسورت د لوستلو جواز:- نبي کريم ﷺ دبيان جواز په طور مفصل سورتونه په مختلفو وختونو کښې او مختلفو مونځونو کښې لوستلي دي او خلقو ته ئې خودلي دي چې په مونځ کښې د هر سورة وئيل درست دي.

۸۶۷– دماښام په مانځه کښې دحم دخان لوستل

۸۶۷–()[۴۳] ① «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② قَرَأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ بِحٰمٓ الدُّخَانِ»، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① عبدالله ابن عتبه ابن مسعود (تابعي) رحمه الله فرمايي ② چې رسول الله ﷺ د ماښام په لمانځه کې سورة حٰم الدخان اولوستلو دا روايت نسايي مرسلاً نقل کړې دي (ځکه چې عبدالله ابن عتبه تابعي دي)

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث وضاحت په باب صفة الصلاة کښې حديث نمبر ۲۲ کښې تيرشوي دي.

[۳۰/۱۳]بَابُ الرُّكُوعِ

د رکوع بيان

خلاصة الباب:-

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① اتمام الركوع: ۱، ۱۱.
② مقدار الركوع: ۲، ۱۶.
③ مقدار القومة: ۳.
④ التسبيحات في الركوع: ۴، ۵، ۶، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵.
⑤ النهي عن القراءة في الركوع: ۶.
⑥ التحميد والتسميع في القومة: ۷، ۸، ۹، ۱۰.
⑦ الوعيد بعدم اتمام الركوع: ۱۷، ۱۸، ۱۹.

(۱) اخرجه النسائي كتاب الافتتاح/باب القراءة في المغرب بحم الدخان (رقم-۹۸۸)

د ركوع لغوى او شرعى حيثيت:په لغت کښې رکوع انحاء اوښکته کيدو په معنی کښې ده. په مانځه کښې رکوع دَ ارکان صلوة نه يورکن دې دَدې منکر کافر دې اوپه مانځه کښې دَدې پريخودلو سره مونځ باطل کيږي.

ركوع د امت محمدى صلى الله عليه وسلم خصوصيت:رکوع دَدې امت دَ خصوصيات نه ده. دَ پخوانو امتونو په مونځونو کښې رکوع نه وه. حضرت مريم عليها السلام ته چه کوم حکم اوشو "ارکعي" نوهغه دَ "صلي" په معنی کښې دې.

د ركوع د عدم تكرار فى الصلاة دوه وجوهات:-

① ملاعلی قاری رحمه الله ليکلی دی اوله سجده کښې دَ سجدې آيت ﴿ مِنْهَا خَلَقْنٰكُمْ ﴾ طه:۵۵. طرف ته اشاره ده. او دويمه سجده کښې ﴿وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ ﴾ طه:۵۵. طرف ته اشاره ده اوپيا دَ قيام طرف ته تللو کښې﴿ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى ﴾طه:۵۵. طرف ته اشاره ده.

② په مانځه کښې رکوع چونکه دَ سجدې دَپاره تمهيد اووسيله ده په دې وجه په دې کښې تکرار نشته دې او سجده چونکه يولوئی مقصد دې اودَ الله تعالی دَعبادت يوه اوچته نمونه ده په دې وجه په دې کښې تکرار دې.

③ حضرت آدم عليه السلام ته کله فرښتو سجده اوکړه اودَ سجدې نه پاسيدلې نوهغوی ابليس اوليدلو چه دَ سجدې کولونه محروم ولاړدې نو فرښتو دَ شکر په توګه دويمه سجده اوکړه لهذا سجدې دوه دی. ملاعلی قاری رحمه الله ليکلی دی چه دَ حکمت دَ لټولو څه قيمت نشته دې اصل خبره خودَ الله تعالی حکم دې چه دوه سجدې کوئی نومونږ ئی کوو.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۸٦۸-د رکوع او سجدې په صحيح طريقه د کولو حکم

۸٦۸-()[۱] ۱ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «أَقِيمُوا الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ ۳ فَوَاللّٰهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ بَعْدِي» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۲ (مسلمانانو) رکوع او سجده په صحيح طور سره کوئ ۳ په الله مې دې قسم وي زه تاسو د شا څخه هم وينم، (بخاري. مسلم.)

حل اللغات:- ① لَأَرَاكُمْ: أَيْ: أَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ خَلْفَ ظَهْرِي: يعنی تاسو چه څه کوئ زه پرې خبريږم.

تسهيلات:-

نوټ:- ددې حديث تشريح په حديث نمبر ۷۹۱ په تشريح کښې تيره شوې ده.

---

(۱) اخرجه البخاری كتاب الاذان باب إيجاب التكبير، وافتتاح الصلاة (رقم-۷۳۲) ومسلم كتاب الصلاة ، باب الأمر بتحسين الصلاة وإتمامها والخشوع فيها (رقم-۱۱۰ - ۴۲۵)

۸۶۹- د رکوع او سجدې وغیره مقدار

۸۶۹-(۱)[۲] ① «وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كَانَ رُكُوعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسُجُودُهُ وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ، وَإِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ -③ مَا خَلَا الْقِيَامَ وَالْقُعُودَ- قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① براء ابن عازب رضی الله عنه فرمايي ② چه د رسول الله ﷺ رکوع، سجده، د دواړو سجدو په مينځ کې ناسته او د رکوع څخه سر پورته کول ③ د قيام او قعود څخه علاوه دا [خلور واړه څيزونه په مقدار کې] تقريبًا برابر وو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① مَا خَلَا: ماسوا، علاوه، ② قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ: يعني تقريبًا برابر به وو (نه به اوږد وو نه به لنډ وو).

تسهيلات:-

قوله: قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ:

د مذکوره جملې مفهوم:- يعنی نيزدې نيزدې وو بالکل يوشان نه وو. په دې حديث کښې دا بيان کړې شوی دی چه دَ حضورپاک ﷺ په مونځ کښې څلور لوئی ارکان مثلاً رکوع، سجدې، جلسه او قومه ټول به برابر وو.

قوله: مَا خَلَا الْقِيَامَ وَالْقُعُودَ:

د مذکوره جملې مطلب:- دَدې جملې مطلب دا دې چه دَ قيام رکن اودَ قعدې رکن دَ رکوع او سجدې په شان نه وو بلکه په قيام کښې قرأت وی اودَ قعدې او التحيات وئيل وی په دې وجه دا دواړه ارکان دَ باقی ارکان نه اوږده وو.

۸۷۰- د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د قومې او جلسې اوږدوالې

۸۷۰-(۱)[۳] ① «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ: "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" قَامَ ③ حَتَّى نَقُولَ: قَدْ أَوْهَمَ، ④ ثُمَّ يَسْجُدُ وَيَقْعُدُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ ⑤ حَتَّى نَقُولَ: قَدْ أَوْهَمَ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ چې به سمع الله لمن حمده ويلو سره (د رکوع څخه) ودريدلو ③ نو تر دومره وخته پورې به ولاړ وو چې مونږ به (په خپل زړه کې) اوويل چې شايد حضور ﷺ ته وهم وشو ④ او رکعت يې پريښودلو بيا چې به حضور ﷺ سجدې ته لاړلو او د دواړو سجدو په مينځ کې به کيناستلو ⑤ نو دومره به ناست وو چې

(۱) اخرجه البخاری كتاب الاذان باب حد إتمام الركوع والاعتدال فيه والطمأنينة (رقم-۷۹۲) ومسلم كتاب الصلاة باب اعتدال أركان الصلاة وتخفيفها فی تمام (رقم- ۱۹۳ - (۴۷۱) وابوداود كتاب الصلاة،باب طول القيام من الركوع وبين السجدتين (رقم -۸۵۴) والنسائی كتاب التطبيق/بقدر القيام بين الرفع من الركوع والسجود(رقم-۱۰۶۵) (رقم) ۱۰۶۵

(۲) اخرجه البخاری كتاب الاذان باب حد إتمام الركوع والاعتدال فيه والطمأنينة (رقم-۷۹۲) ومسلم كتاب الصلاة باب اعتدال أركان الصلاة وتخفيفها فی تمام (رقم- ۱۹۳ - (۴۷۱) وابوداود كتاب الصلاة،باب طول القيام من الركوع وبين السجدتين (رقم -۸۵۴) والنسائی كتاب التطبيق/بقدر القيام بين الرفع من الركوع والسجود(رقم-۱۰۶۵) (رقم) ۱۰۶۵

مونږ به (په خپل زړه کي) ويل چې شايد حضور ﷺ دا سجده پريښوده. (مسلم.)

حل اللغات: - ① قَدْأَوْهَمَ: أَيْ: وَقَعَ فِي وَهْمِ النَّاسِ: خلقوبه دا خيال کولوچه حضورپاك ﷺ ته په مانځه کښې وهم شوی يا ئې څه حصه پريخودې ده.

تسهيلات: - **قوله:** قَدْأَوْهَمَ:

د قد اوهم په مطلب کښې دوه اقوال: - ① "اوهم" دَترك په معنى کښې راځی يعنی زمونږ به خيال تيريدلو چه حضورپاك ﷺ دَ مانځه څه حصه پريخودې ده.

② حضورپاك ﷺ به په قومه اوجلسه کښې دومره وخت لګولو چه کتونکی به داخيال کولوچه کيدې شی حضورپاك ﷺ ته په مانځه کښې وهم شوې چه آيا اوس به څه کول وی.

په قومه اوجلسه کښې د طوالت مقدار: -علماء ليکلی چه راجح دادی چه حضورپاك ﷺ به دا اوږدوالې په نفلی مونځونوکښې کولو اوکه په فرائض کښې کله اوږدوالې کړې نوهغه په کله کله باندې محمول دې.

۸۷-په رکوع او سجده کښې دعا کول

۸۷-()[۳] [١]«وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [٢]كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: [٣]"سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي[٢] چې رسول الله ﷺ د قرآن په حکم عمل کولو سره په خپلې رکوع او سجود کې به يې دا دعا ډيره په کثرت سره ويله[٣] سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ، اي الله ته پاك يې اي زمونږ پروردګاره زه ستا تعريف بيانوم، اي الله ته زما ګناه معاف کړې. (مسلم.)

حل اللغات: - ① يُكْثِرُ: د اکثر او زيات تر په معنى کښې دې. ② يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ: أَيْ يَعْمَلُ مَا أُمِرَبِهِ فِيهِ: عمل به ئې کولو په قرآن باندې (يعنی په فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ باندې).

تسهيلات: - **قوله:** يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ:

په مانځه کښې د استغفار ويلو دپاره استنباط: - يعنی دَ قرآن کريم دَ آيت نه به ئی استدلال کولو ځکه چه په قرآن کريم کښې دَ سورت نصر آيت داسې دې ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ﴾ نو حضورپاك ﷺ به هم دَدې نه استدلال فرمائيلو لکه څنګه چه په کثرت سره به مونځ کښې ئی دَ الله تعالی حمد فرمائيلو هم دغه شان به ئی ورسره استغفار ملاوولو اوبنه استغفار به ئی غوښتلو.

---

(١) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب التسبيح والدعاء فی السجود (رقم-٨١٧) ومسلم کتاب الصلاة . باب ما يقال فی الرکوع والسجود(رقم) ٢١٧ - (٤٨٤)

۸۷۲- د سجدي او ركوع تسبيح

۸۷۲-()[٥] ⓵ وَعَنْهَا «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: ⓶ "سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ، رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⓵ بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ به په خپلي ركوع او په سجده كې دا ويل ⓶ سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ، ډېرپاك دي اونهايتي پاك دي د فرشتو او روح (يعني جبرائيل عليه السلام) پروردګار دي (مسلم).

حل اللغات:- ① سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ: وَهُوَمِنْ أَبْنِيَةِ الْمُبَالَغَةِ، وَالْمُرَادُ التَّنْزِيهُ: دا دواړه دَمبالغه صيغي دی، په دي دواړو لفظونوسره دَالله تعالى پاكى بيانول مقصوددى. تكرار د تاكيد دَپاره دي يا په يو كښي دَالله تعالى دَ ذات پاكى مقصود ده او دويم لفظ كښي دَ صفات پاكى مقصود ده.

② الرُّوحِ: فَالْمُرَادُ جِبْرِيلُ خُصَّ بِالذِّكْرِ تَفْضِيلًا: دَ روح نه مراد حضرت جبرائيل عليه السلام دي ده ته روح خكه وئيلي شوي دي چه دَ كائنات ساه هم ده سره تړلي ده.

تسهيلات:- قوله: سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ:

دسبوح او قدوس ضبط: ملاعلى قارى رحمه الله دَ نهايه ابن اثير په حواله سره فرمائى چه سبوح او قدوس دواړه دَمبالغه صيغي دى اودَ دواړو لفظونو اول حرف مفتوح هم دي اومضموم هم دي اوالبته دَ ضمه او پيش استعمال زيات مشهور دي.

په سبوح او قدوس كښي د فرق وجوه:- ① په يو كښي دَالله تعالى دَ ذات پاكى مقصود ده او دويم لفظ كښي دَ صفات پاكى مقصود ده. "سبوح" اى انت سبوح انت قدوس، يعني ته د هرعيب څخه پاك ئي او د هرهغه څيز څخه منزه ئي چي قبيح اوبد ګڼرلى شي.

② په يولفظ كښي دَماضى مفهوم وى او دويم كښي دَمستقبل وى. مطلب دا چه الله تعالى په هره زمانه كښي دَهرقسم عيب نه پاك دي. "اى طاهر من كل عيب ومنزه عن كل مايستقبح" [المرقات: ۲/٥۹۳.

قوله: رَبُّ الْمَلَائِكَةِ:

په كائنات كښي فرمانبردار مخلوق: علامه ابن حجر رحمه الله فرمائى په كائنات كښي دَټولونه لوئى مخلوق فرښتي دى اودَټولونه زيات حكم منونكي هم فرښتي دى اودَ الله تعالى په عبادت كښي دَټولونه زيات مشغول هم فرښتي دى. په يواثركښي نقل دى چه هري هري پاڼري او وابنوسره يوه يوه فرښته وى. په يويل اثركښي دى چه دَ باران هريو څاڅكى سره يوه يوه فرښته دَ آسمان نه راكوزيږى هريو څاڅكي شميرى اودا هم ياد ساتى چه دا څاڅكي چرته پريوځي.

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلاة باب ما يقال فى الركوع والسجود(رقم) ۲۲۲۳ - (٤۸۷)وابوداود كتاب الصلاة باب ما يقول الرجل فى ركوعه وسجوده(رقم-۸۷۲) والنسائى كتاب التطبيق/باب نوع آخر منه (رقم) ۱۰٤۸

دفرشتو د عبادت مختلف کیفیات: -په یو حدیث کښې دی چه بعض داسې فرښتې دی چه دکله نه الله تعالی زمکه اوآسمان جوړ کړی دی هغوی په سجده کښې پرتې دی اود قیامته پورې به د سجدې نه سرنه اوچتوی دغه شان بعض فرښتې په رکوع کښې دی چه دقیامت پورې به په رکوع کښې وی. دغه شان بعض په صف کښې ولاړې دی اود قیامته پورې به هم دغه شان وی. کله چه په قیامت کښې دالله تجلی پریوځی نودا فرښتې به خپل رب ګوری "سبحانك ماعبدناك کماینبغی لك"

قوله: وَالرُّوحِ:

د روح په مصداق کښې اقوال: -① د روح نه مراد د فرښتو یوخان له قسم دې.

② د روح نه مراد دالله تعالی په دربارکښې یودربان فرښته ده چه دټولو فرښتونه لویه ده که چرې هغه خله کولاؤکړی نوټولې فرښتې به دهغې په خله کښې راشي.

۸۷۳-په رکوع اوسجده کښې د قرآن د لوستلو ممانعت

۸۷۳-()[٦] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢«أَلَا إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَقْرَأَ الْقُرْآنَ رَاكِعًا أَوْسَاجِدًا، ٣ فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ ٤ وَأَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ، ٥ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ خلقو خبردار شی زه د دې خبرې څخه منع کړې شوې یم چې د رکوع یا سجدې په حالت کې قرآن اووایم ٣ نو تاسو په رکوع کې دخپل پروردګار لويي بیانوي ٤ او په سجده کې د دعا پوره پوره کوشش کوي ٥ مناسب دي چې ستاسو د پاره دا دعا قبوله شي. (مسلم.)

حل اللغات: - ① فَعَظِّمُوا: أَيْ: فَقُولُوا سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ: د رب تعظیم پکې کوئ یعنی سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ پکښې وایئ. ② فَاجْتَهِدُوا: أَيْ: بَالِغُوا: ښه کوشش او مبالغه کوئ (په دعا غوښتلو کښې).

③ فَقَمِنٌ: أَيْ جَدِيرٌ وَخَلِيقٌ وَلَائِقٌ وَحَقِيقٌ: په قاف فتح اومیم باندې کسره ده. دا د لائق او مناسب په معنی کښې دې قمن د واحد تثنیه او جمع ټولو دپاره استعمالیږی لائق نیزدې، لازمی، مناسب او مستحق په معنی کښې راځی.

تسهیلات: - **قوله:** إِنِّي نُهِيتُ:

په نهی کښې دوه احتمالات: -① دا نهی تنزیهی ده

② دا نهی تحریمی ده. د قیاس تقاضاهم دغه ده چه دا نهی دې تحریمی وی ځکه چه الله تعالی د مانځه د ټولو حالتونودپاره جدا جدا وظیفه مقرر کړې ده. په مانځه کښې قیام د

---

(١) اخرجه مسلم کتاب الصلاة باب النهی عن قراءة القرآن فی الرکوع والسجود (رقم) ۲۰۷ - (٤٧٩) وابوداود کتاب الصلاة،باب فی الدعاء فی الرکوع والسجود (رقم-٨٧٦)

تړلونه ښه حالت دې په دې وجه په دې کښې دَ قرآن پاك لوستلو حکم ورکړې شوې دې خکه چه قرآن پاك په تړلو ذکرونو کښې دَتړلونه اوچت ذکر دې. لهذا دَ الله تعالى دَ دغه منشاء خلاف کول یاحرام دی یا مکروه تحریمی دی.

په رکوع او سجده کښې د تلاوت د ممانعت وجه:- الله تعالى دَ رکوع اوسجدې دَپاره اذکار مقرر کړې دی نو حضور پاك ﷺ اوفرمائیل چه زه په رکوع اوسجدو کښې دَ قرآن لوستلونه منع کړې شوې یم لهذا په رکوع کښې دَالله تعالى تعظیم بیانوئی او په سجده کښې دعا غوارئی تعظیم سبحان ربی العظیم دې

د دعا دوه قسمونه:- ① دَالله تعالى نه دَ الفاظو په ذریعه دَ خپل مطلب دعا اوغوښتلې شي.

② دَ دعا دویم قسم دادې چه دَالله تعالى حمد اوثنا او عظمت بیان کړې شي داهم په حقیقت کښې دعا ده خکه چه دَ سخي او عظمت والاسړي تعریف هغه ورکړه کوی. دغه شان الله تعالى په خپل تعریف خوشحالیږی او بیا دَ خیر زیاتوالي کوی نودَدې حمد په ضمن کښې دَ حصول مقصود دَپاره بهترین انداز دعا ده. په یوحدیث کښې دَ دې تشریح تائید کولې شی فرمائی "افضل الذکر لااله الا الله وافضل الدعا الحمدلله" سجده په دواړه قسم دعاگانو باندې مشتمل ده.

په سجده کښې د دعا غوښتلو مطلب: او په سجده کښې چه دَ کومې دعا غوښتلو حکم ورکړې شوې دې دَهغې خخه دواړو قسم دعا مراد ده.

حدیث په نوافلو باندې حمل کول:- بعض احناف فرمائی چه په نوافل کښې په سجده کښې ښه دعاغوښتل پکاردی لیکن فرائضو کښې صرف په تسبیحاتو باندې اکتفاء کول پکاردی. (لمعات مختصراً)

۸۷۳- د تسمیع خخه روسته د تحمید ویل

۸۷۳-( )[۷](1) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا قَالَ الْإِمَامُ سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، [۳] فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ [۴] غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] امام کله چې (د رکوع خخه ودریدو سره) سمع الله لمن حمده اووائي نو تاسو رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وایئ [۳] خکه چې د کوم

(1) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب فضل اللهم ربنا لک الحمد(رقم-۷۹۶) ومسلم کتاب الصلاة ، باب التسمیع، والتحمید، والتأمین (رقم) ۷۱ - (۴۰۹) وابوداود کتاب الصلاة،باب ما یقول إذا رفع رأسه من الرکوع (رقم- ۸۴۸) ومالک فی الموطا کتاب الصلاة باب ما جاء بالتأمین خلف الإمام (رقم-۴۷) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه آخر (رقم-۲۶۷) والنسائی کتاب التطبیق/باب قوله ربنا ولک الحمد باب قوله ربنا ولک الحمد (رقم-۱۰۶۳)

سري دا ویل د فرشتو د ویلو سره هم آهنگ (موافق) شي۴ نو د هغه مخکې گناه بخښل کیږي. (بخاري، مسلم.)

تسهیلات:-

قوله: غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ:

یعنی صغائر به په نیکو سره معاف شي او کبائر به په توبې سره یا دالله تعالی په فضل وکرم سره . معاف کیږي د دې مسئلې پوره تفصیل په اول جلد کښې تیر شوي دي.

نوټ:–د دې حدیث د نورو اجزاء تشریح په حدیث نمبر ۸۲۵ کښې تیره شوې ده.

۸۷۵–د لاندینی دعا په نفلو کښې لوستل

۸۷۵–()[۸]۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲«كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ: " سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ،۳ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ، ۴وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:۱ عبدالله ابن ابي اوفی رضي الله عنه فرمایي۲ چې رسول الله ﷺ چې به د رکوع څخه پښت مبارك (شا) پورته کوله نو دا به یې ویل سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْأَ السَّمٰوَاتِ وَمِلْأَ الْأَرْضِ وَمِلْأَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدَ، (یعني الله تعالی جل جلاله اوري څوک چې د هغه حمد وثناء وکړي،۳ اې الله اې زمونږ پروردگاره ټول تعریفونه تالره دي د ټولو آسمانونو او زمکې۴ او د هغه شي د ډکوالي برابر چې ته یې د آسمانونو او زمکې څخه وروسته پیدا کول غواړې. (مسلم.)

تسهیلات:-

قوله: قَالَ: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ:

د تسمیع او تحمید ویونکې:–د دې حدیث پاك نه معلومه شوه چې تسمیع او تحمید دواړه د امام وظیفه ده.

د دعا په مطلب کښې دوه اقوال:–① اې الله تعالی! ستا دومره تعریفونه دي چې که هغه مجسم وی نو دا به په زمکه او آسمان او د دې نه ماسوا کښې رانشي .

② مطلب دا دې چې ستا د حمد کوؤنکو نه زمکه او آسمان ډك دي.

(۱) اخرجه مسلم کتاب الصلاة باب ما یقول إذا رفع رأسه من الرکوع (رقم- ۲۰۲ - (۴۷۶) وابوداود کتاب الصلاة باب ما یقول إذا رفع رأسه من الرکوع (رقم- ۸۴۶) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها ،باب ما یقول إذا رفع رأسه من الرکوع (رقم-۸۷۸)' اخرجه مسلم کتاب الصلاة باب ما یقول إذا رفع رأسه من الرکوع (رقم- ۲۰۲ - (۴۷۶) وابوداود کتاب الصلاة،باب ما یقول إذا رفع رأسه من الرکوع (رقم- ۸۴۶) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها ،باب ما یقول إذا رفع رأسه من الرکوع (رقم-۸۷۸)

۸۷۶-د رکوع څخه روسته د الله تعالی حمد لوستل

۸۷۶-()[۹]۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَالَ: ۳" اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ، ۴وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، ۵أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالْمَجْدِ، ۶أَحَقُّ مَا قَالَ الْعَبْدُ وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ: ۷اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، ۸وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، ۹وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي ۲ چې رسول الله ﷺ چې به کله د رکوع څخه سر مبارک اوچتولو نو دا کلمات به يې ويل ۳ اللَّهُمَّ رَبَّنَا....مِنْكَ الْجَدُّ (اي الله او اي زمونږ پروردګاره ټول تعريفونه ستا د پاره دي په اندازه دډکولي دآسمانونو او زمکې ۴ او د هغه شي برابر چې ته يې بيا (د آسمانونو او زمکې څخه وروسته پيدا کول غواړې ۵ اي د هر قسم تعريف او بزرګۍ لائقه ۶ (ستا ذات) د هغه تعريف څخه بالاتر دي چې بنده يې کوي مونږ ټول ستا بندګان يو ۷ اي الله تعالی جل جلاله تا چې کوم شي عطا کړي دي هغه څوک بندولي نشي ۸ او کوم شي چې تا د ورکولو څخه بند کړي دي هغه څوک ورکولي نشي ۹ او دولتمند ته دولتمندي ستا د عذاب څخه هيڅ نفع نشي ورکولي (يعني د عذاب څخه يې نشي بچ کولي). (مسلم).

حل اللغات:- ① أَهْلَ الثَّنَاءِ: اي د هر قسم تعريف لائقه. ② الْمَجْدِ: أَيِ: الْعَظَمَةِ أَوِ الْكَرَمِ: لوئی او بزرګی.

تسهيلات:-

قوله: أَهْلَ الثَّنَاءِ:

دمذکوره جملې نحوی ترکيب:- دا منصوب على المدح دي. "اي امدح اهل الثناء" يا مرفوع دي. "اى انت اهل الثناء؟" "احق ماقال العبد" دا منصوب دي مفعول به دي. د "ولاينفع" دپاره فاعل.

قوله: "الْجَدُّ"

د جد په معنی کښې څلور اقوال:-

① جد قسمت او بخت ته هم وائی. ② جد نيکه ته هم وائی

③ محنت اومشقت ته هم وائی. ④ جد رزق اودولت ته هم وائی. دامعنی دلته ډيره مناسب ده.

نوټ:- دَدې حديث تشريح په حديث نمبر ۸۷۵ او ۸۷۶ کښې تيره شوي ده.

[1] اخرجه مسلم كتاب الصلاة باب ما يقول إذا رفع رأسه من الركوع (رقم) ۲۰۵ - (۴۷۷) وابوداود كتاب الصلاة باب ما يقول إذا رفع رأسه من الركوع (رقم- ۸۴۷) والنسائى كتاب التطبيق /بقدر القيام بين الرفع من الركوع والسجود (رقم) ۱۰۶۸

۸۷۷-د رکوع څخه وروسته تسبیح ویل

۸۷۷-()[۱۰] ① وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كُنَّا نُصَلِّي وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ، قَالَ: "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ": ③ فَقَالَ رَجُلٌ وَرَاءَهُ: رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، ④ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ ⑤ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: "مَنِ الْمُتَكَلِّمُ آنِفًا"، قَالَ: أَنَا ⑥ قَالَ: "رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلَاثِينَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا، ⑦ أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلُ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① رفاعه ابن رافع رضی الله عنه فرمایي ② چې مونږ به رسول الله ﷺ پسې مونځ کولو کله چې به حضور ﷺ د رکوع څخه سر مبارك پورته کولو نو سمع الله لمن حمده (یعني الله تعالی د هغه سړي حمد او ثنا قبوله کړه چا چې د هغه حمد او ثنا وکړه) به یې ویله ③ یوه ورځ چې حضور ﷺ د رکوع څخه سر مبارك پورته کولو سره دا کلمات اوویل نو یو سړي چې په حضور ﷺ پسې وروسته مونځ کولو وي ویل ربنا ولك الحمد حمدًا كثيرًا طيبًا مباركًا فيه (یعني اې زمونږ پروردګاره تالره تعریف ④ او ډیر تعریف دي داسې تعریف چې د شرك او ریا د ملاوټ څخه پاك او (د کثرت اخلاص او حضور قلب په وجه) بابرکت دي) ⑤ حضور ﷺ چې د لمانځه څخه فارغه شو نو وي فرمایل چې اوس (دا کلمات) چا وویل؟ هغه سړي عرض وکړو دالله رسوله زه ووم ⑥ حضور ﷺ ورته وفرمایل ما څه دپاسه دیرش فرښتې ولیدلې چې په خپلو کې یې په دې خبره کې تلوار کولو ⑦ چې د دې کلماتو ثواب مخکې څوك ولیکي. (بخاري)

حل اللغات:- ① طَيِّبًا: أَيْ: خَالِصًا مُنَزَّهًا عَنِ النُّقْصَانِ: دهر قسم عیب اونقص نه پاك، ② آنِفًا: يَعْنِي الْآنَ: اوس، نزدې، ③ بِضْعَةً: وَهِيَ مِنَ الثَّلَاثَةِ إِلَى التِّسْعَةِ: د دریو نه نهو پورې شمیر ته وائي. ④ بِضْعَةً وَثَلَاثِينَ: یعنی څه دپاسه دیرش، ⑤ يَبْتَدِرُونَهَا: أَيْ: يُسَارِعُونَ يَعْنِي يَسْبِقُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا: جلتی نې کوله د یوبل نه مخکښې کیدل (چه دا کلمات اولیکی).

تسهیلات:-

قوله: مَنِ الْمُتَكَلِّمُ آنِفًا:

اشکال:-ددې حدیث پاك نه معلوم شو چې په مونځ کښې داسې دعاګانې په اوچت آواز سره کول جائز دی؟

داشکال جوابونه:- ① د نبی کریم ﷺ په یوه موقع یوکار ته حسن وئیل بله خبره ده اودا همیشه په اوچت آواز سره لوستل بله خبره ده. نبی کریم ﷺ به د یو امر د تحسین حکم کولو او بیا به یې روستو ددې نه منع کوله. د نبی کریم ﷺ یو صحابی رضی الله عنه لیدل چې په

(۱) بخاری کتاب الاذان باب فضل اللهم ربنا لک الحمد (رقم-۷۹۹) وابوداود کتاب الصلاة باب ما يستفتح به الصلاة من الدعاء (رقم-۷۷۰) والنسائی کتاب التطبيق/باب ما يقول المأموم (رقم- ۱۰۶۲)

رکوع کښې مونځ کښې شامل شو هغه ته نبی کریم ارشاد اوفرمائیل : زادك الله حرصاً ولا تعد، دې کښې يې تعريف هم اوکړو او منع يې هم اوفرمائيله.

③ دا په بتداء اسلام باندې محمول دی،کله چې په مونځ کښې ددې امورو ګنجائش وو. باقی اوږدې دعاګانې وئيل په نوافلو کښې مشروع دی، فرائضو کښې خکه نه دی چې فرائضو کښې اختصار او آسانی مطلوب وی.

قوله: رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلَاثِينَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا:

تعارض:- ماقبل روايت کښې د دولسو فرښتو ذکر دې او دلته د ديرشو فرښتو ذکر دې؟

د تعارض درې جوابونه:- ① دا په مختلفو اوقاتو محمول دی.

② د هغه صحابی ﷺ مقام ډير اوچت وو نو ډيرې فرښتې راغلې.

③ عدد اقل دعدد ا کثر نفی نه کوی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۸۷۸- د تعديل ارکان حکم

۸۷۸-()[۱][١]عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[٢]"«لَا تُجْزِءُ صَلَاةُ الرَّجُلِ حَتَّى يُقِيمَ ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ،[٣]وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه:[١] ابو مسعود انصاري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[٢] د يو سړي مونځ تر هغه پورې نه قبليږي تر څو پورې چې هغه په رکوع او سجده کې خپله ملا (شا) سيده نه کړي، (ابوداود،ترمذي،نسايي،ابن ماجه ،دارمي)[٣] او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چه دا حديث حسن صحيح دي.

تسهيلات:-

قوله: يُقِيمَ ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوعِ:

د قومې او جلسې حکم: کله چه دَ رکوع نه واپس قومه کښې دَمونځ ګذار ملا نيغه شوې نه وی دَهغه مونځ جائزنه دې. دغه شان کله چه دَ سجدې نه پاسی جلسه کښې ملانيغه نه شی اواطمينان اوتسلی رانه شی مونځ به نه صحيح کيږی. په دې حديث کښې دَ تعديل ارکان طرف ته اشاره ده. دا مسئله اول ليکلې شوې ده.

دتعديل ارکان په حکم کښې اختلاف:-① جمهوردَدې د فرض کيدو قائل دی.

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب صلاة من لا يقيم صلبه فى الركوع والسجود(رقم-۸۵۵) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها باب الركوع فى الصلاة (رقم- ۸۷۰) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن لا يقيم صلبه فى الركوع والسجود (رقم-۲۶۵) والنسائى كتاب الافتتاح/باب إقامة الصلب فى الركوع (رقم) ۱۰۲۷

② امام ابوحنيفه رحمه الله دا واجب منی. ځکه چه دَ فرض دَپاره دَ دليل قطعي ضرورت وی کوم چه دلته موجودنه دې. اودَ وجوب دَپاره دا حديث دليل دې دکوم چه احناف قائل دی.

۸۷۹- د رکوع او سجدې تسبيحات

۸۷۹-(۱)[۱۳] ① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «لَمَّا نَزَلَتْ ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾ [الواقعة: ۷۴]، قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اجْعَلُوهَا فِي رُكُوعِكُمْ"، ③ فَلَمَّا نَزَلَتْ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ [الأعلى: ۱] ④ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اجْعَلُوهَا فِي سُجُودِكُمْ"» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① عقبه ابن عامر رضي الله عنه فرمايي ② چې کوم وخت چې دا آيت فسبح باسم ربك العظيم نازل شو نو رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو خلق دا (د سبحان ربي العظيم په صورت کې) په خپلو رکوع کې شامل کړئ ③ او کله چې دا آيت سبح اسم ربك الاعلیٰ نازل شو ④ نو حضور ﷺ وفرمايل چې دا (د سبحان ربي الاعلیٰ په صورت کې) په خپلو سجدو کې داخل کړي، (ابوداؤد، ابن ماجه، دارمي.)

تسهيلات:- قوله: لَمَّا نَزَلَتْ:

د سجدې او رکوع د تسبيحاتو تعيين:- حاصل دحديث دادی چې ((کله فسبح باسم ربك العظيم)) نازل شو نو ددې د نزول نه پس ((سبحان ربي العظيم)) درکوع تسبيح متعين کړې شو. او د سبح اسم ربك الاعلی د نزول نه پس د سجدې تسبيح سبحان ربي الاعلیٰ متعين کړې شو.

قوله: اجْعَلُوهَا:

د رکوع و سجدې د تسبيحاتو تعيين:- يعنی ددې آيت مبارك نه چې کوم تسبيح معلوم شو هغه په خپله رکوع او سجده کښې وائې.

د رکوع او سجدې په تسبيحاتو کښې حکمت:- باقی په دې کښې څه حکمت دې چې د رکوع په تسبيح کښې سبحان ربي العظيم او د سجدې په تسبيح کښې ((سبحان ربي الاعلیٰ)) دی. دا حکمت غالبا په احياء العلوم کښې ليکلې شوې دې. هغه دا چې د قيام په دوران کښې زړه کښې عجز وی ليکن حسی طور چې کله رکوع ته بنده لاړ شی نو ددې حسی تنصيب اوشو او عجز راغلو، په دې وجه رکوع کښې يې دا اووئيل چې ((سبحان ربي العظيم)) يعنی دالله تعالی د عظمت اقرار يې اوکړو. او کله چې سجدې ته لاړو نو ډيره عاجزی او انکساری راغله او حسی طور سره هم عجز راغلو. په دې وجه سجده کښې يې اووئيل چې سبحان ربي الاعلیٰ،

---

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب ما يقول الرجل فى ركوعه وسجوده، (رقم-۸۶۹) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها، باب التسبيح فى الركوع والسجود (رقم- ۸۸۷)

۸۸۰–په رکوع او سجده کښې د تسبیحاتو کم تعداد

۸۸۰–(۱)[۱۳] ① وَعَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "إِذَا رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَقَالَ فِي رُكُوعِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ③ فَقَدْ تَمَّ رُكُوعُهُ، وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ، ④ وَإِذَا سَجَدَ، فَقَالَ فِي سُجُودِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ⑤ فَقَدْ تَمَّ سُجُودُهُ، وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ» "، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، ⑥ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ، ⑦ لِأَنَّ عَوْنًا لَمْ يَلْقَ ابْنَ مَسْعُودٍ.

ترجمه: ① عون ابن عبدالله د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې په تاسو کې څوك رکوع کوي نو هغه لره په رکوع کې سبحان ربي العظيم درې ځله ویل پکار دي ③ د هغه رکوع به پوره شی او دا ادنی درجه ده ④ او هر کله چې په تاسو کې څوك سجده کوي نو هغه لره په سجده کې درې ځله سبحان ربي الاعلى ويل پکار دي ⑤ د هغه سجده به پوره شی او دا ادنی درجه ده، (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه) ⑥ او ترمذي ويلي دي چه د دې روايت سند متصل نه دي ⑦ ځکه چې د عون ملاقات د ابن مسعود رضی الله عنه سره ثابت نه دي.

حل اللغات:- ① تَمَّ رُكُوعُهُ: أَيْ: كَمُلَ: کامله او پوره به شی.

② أَدْنَاهُ: أَيْ: أَدْنَى تَمَامِ رُكُوعِهِ: دا د رکوع د کامل کیدو او پوره والی ادنی درجه ده.

تسهيلات:-

قوله: وَذٰلِكَ أَدْنَاهُ:

دادنی مصداق:- په رکوع او سجده کښې تسبیحات سنت دی مګر ددې تعداد څومره دې په دې حدیث کښې تعیین کړې شوې دې. درې ځل تسبیحات ویل ادنی خودلې شوی دی. علماؤ لیکلی دی چه د ادنی نه مراد دسنت ادنی درجه کمال دې یعنی دردیو نه کم ناقص دی درې کمال دې. ادنی درجه دکمال ورته ځکه اوویلې شو چه نفس سنت خو په یو ځل ویلو سره ادا کیږی اوسط درجه سنت پنځه ځل ویل دی او اعلی درجه اووه ځل ویل دی اود زیاتو ویلو څه حد نشته دې. طاق عدد بهتر دې یولسو پورې تلل پکار دی لیکن د امام دمقتدیانو خیال ساتل ضروری دی اوخان له مونځ ګذار آزاد دې.

۸۸۱–د رحمت او عذاب د آیتونو لوستلو په وخت مسنون عمل

۸۸۱–(۲)[۱۴] ① وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ② فَكَانَ يَقُولُ فِي

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب مقدار الركوع والسجود (رقم-۸۸۶) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى التسبيح فى الركوع والسجود (رقم- ۲۶۱)

(۲) اخرجه الترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء فى التسبيح فى الركوع والسجود (رقم-۲۶۲) وابوداود كتاب الصلاة، باب ما يقول الرجل فى ركوعه وسجوده، (رقم-۸۷۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها باب التسبيح فى الركوع والسجود (رقم- ۸۸۸) والنسائى كتاب التطبيق/باب الذكر فى الركوع (رقم- ۱۰۴۶)

رُكُوعِهِ: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ "۳ وَفِي سُجُودِهِ: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى "۴ وَمَا أَتَى عَلَى آيَةِ رَحْمَةٍ إِلَّا وَقَفَ وَسَأَلَ، ۵ وَمَا أَتَى عَلَى آيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ وَتَعَوَّذَ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ، ۶ وَرَوَى النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ إِلَى قَوْلِهِ "الْأَعْلَى" ۷ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ۱ حضرن حذيفه ﷺ راوي دي چې ما د رسول الله ﷺ سره مونځ وكړو ۲ حضور ﷺ په ركوع كې سبحان ربي العظيم ۳ او په سجده كښې سبحان ربي الاعلى ويل ۴ او كله چې به حضور ﷺ (په قراءت كې) يو آيت د رحمت ته ورسيدي نو هلته به ودريدلو او د طلب رحمت دعا به يې كوله ۵ او كله چې به د يو عذاب ايت ته ورسيدو نو هلته به ودريدلو د عذاب څخه به يې پناه غوښتله، (ترمذي، ابوداؤد، دارمي) ۶ د نسايي او ابن ماجه دا روايت تر سبحان ربي الاعلى پورې نقل كړي دي ۷ او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دي.

حل اللغات:- ① وَقَفَ: اودريدلو به، ② سَأَلَ: أَيْ رَحْمَتَهُ: د رحمت دعا به ئې غوښتله. ③ تَعَوَّذَ: أَيْ: بِاللّٰهِ مِنْ عَذَابِهِ: دالله تعالى نه به ئې دهغه دعذاب سخه پناه غوښتله.

تسهيلات:-

د اضافي دعاګانو كولو جوازمحل:- دَ رحمت او عذاب په آيت باندې اودريدل اوتوجو كول او دعااواستغفاركول په نوافل كښې پكاردى يعني دَ احنافو اومالكيه په نيز دغه شان اودريدل او دعاغوښتل نفلونو كښې جائز دى فرضوكښې جائز نه دى. اوكه حضورپاك ﷺ دَ جوازدَبيان دَپاره كړې وى نوهغه جدا خبره ده چه په محتاط اندازكښې په فرضوكښې جائزدى.

په صاحب مشكاة باندې تعريض:-شيخ جزرى رحمة الله عليه ليكلى دى چې دا حديث مسلم رحمة الله عليه هم نقل كړى دي، لهذا مؤلف د مشكوة ته پكار وو چې دا حديث مبارك يې د دويم فصل په ځاى په اول فصل كښې نقل كړې وې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۸۸۲-د نبى كريم ﷺ اوږده ركوع كول

۸۸۲-( )[۱۵] ۱ عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «قُمْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا رَكَعَ مَكَثَ قَدْرَ سُورَةِ (الْبَقَرَةِ): ۳ وَيَقُولُ فِي رُكُوعِهِ: "سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَالْمَلَكُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ» "، (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ).

ترجمه: ۱ حضرت عوف ابن مالك ﷺ فرمايي ۲ چې ما د رسول الله ﷺ سره مونځ وكړو نو كوم وخت چې حضور ﷺ ركوع ته لاړلو نو د سورة بقره (ويلو) په قدر ودريدلو ۳

[1] اخرجه النسائى كتاب التطبيق/باب نوع آخر من الذكر فى الركوع (رقم-۱۰٤۹) والنسائى كتاب التطبيق/باب عدد التسبيح فى السجود (رقم-۱۱۳۵)

او (په رکوع کې) دا يې ويل، سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ، د قهر او بادشاهت او لويي او بزرګي مالك (الله تعالیٰ جَلَّ جَلَالُهٗ) پاک دي. (نسايي)

حل اللغات:- ① مَكَثَ: أَيْ لَبِثَ: ايساريدلو به، ② الْجَبَرُوْتِ: بِمَعْنَى الْقَهْرِ وَالْغَلَبَةِ: د قهر او غلبې والا، يعنی زور آور. ③ الْمَلَكُوْتِ: د بادشاهئ مالک، ④ الْكِبْرِيَاءِ: د لويئ او بزرګئ والا، ⑤ الْعَظَمَةِ: لوئی شان والا.

تسهيلات:-

قوله: مَكَثَ قَدْرَ سُوْرَةٍ:

د مذکوره مونځ په مصداق کښې اقوال:- ① خينو وئيلی دی چې د نفلو مونځ وو.

② خينو وئيلی دی چې د تهجدو مونځ وو.

③ خينو وئيلی دی چې صلوة خسوف وو، او په هغې کښې نبی کريم ﷺ ته جنت او جهنم اوخودلې شو،

قوله: فَلَمَّا رَكَعَ مَكَثَ:

د رکوع ګانو په تعداد کښې داختلاف وجه:- د اوږدې رکوع په وجه خينې خلق په شك کښې شو، ځکه چې خينې خلق د رکوع نه پورته شو او وې کتل نو نبی کريم ﷺ هم په رکوع کښې وو، نو هغوئ دوباره رکوع ته لاړل. د رومبی صف والو دوئ اوکتل او وې وئيل چې نبی کريم ﷺ دوه رکوع ګانې اوکړې. حالانکه هم يوه رکوع وه. ددې تفصيل به انشاء الله په باب الکسوف والخسوف کښې راشی.

د رکوع څخه مراد:- ابن حجر رحمة الله عليه فرمائی چې رکوع ئې اووئيله خو ددې نه مونځ يا قيام مراد دې. لکه څنګه چې په خينو مقاماتو کښې د رکوع يا سجدې ذکر کولو نه مراد مونځ وی. داشان دلته هم دی چې رکوع ئې وئيلې ده خو ددې نه مراد ئې قيام اخستې دې. يعنی جزء ئې اووئيلو او کل ئې ترې مراد واخستو.

قوله: ذِي الْجَبَرُوْتِ وَالْمَلَكُوْتِ:

په جبروت اوملکوت کښې فرق:- داشان دې حديث پاك کښې جبروت اوملکوت دواړه د مبالغې صيغې دی. جبروت د جبر نه په معنی هر غالب باندې غالب، ملکوت، ملك نه په معنی دقبضه، ظاهری قبضې ته ملك او باطنی قبضې ته ملکوت وائی. الله تعالیٰ زمونږ د بدن هم مالك دې او زمونږ د روح هم. ددې وجې مخلوق دپاره عطاء ملك ثابت دی ملکوت نه.

۸۸۳—په رکوع او سجده کښې تسبيحات وئيل

۸۸۳—(۱) [۱۲] ① وَعَنِ ابْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ: ② مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحَدٍ بَعْدَ

[1] وابوداود کتاب الصلاة، باب ما يقول الرجل فی رکوعه وسجوده، (رقم-۸۷۳)

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشْبَهَ صَلَاةً بِصَلَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ هٰذَا الْفَتَى - يَعْنِي عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ - ٣ قَالَ: فَحَزَرْنَا رُكُوعَهُ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ، وَسُجُودَهُ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ، رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ ابن جبير رضی الله عنه وایي چې ما د انس بن مالك رضی الله عنه څخه واوریدل ٢ چې ما د حضور ﷺ د وفات څخه وروسته د دې زلمي یعنی عمر بن عبدالعزیز څخه علاوه په چا پسې داسې مونځ نه دی کړی چې د حضور ﷺ د لمانځه سره زیات مشابه وي ٣ راوي وایي چه انس رضی الله عنه وفرمایل مونږ د دوي (یعنې د حضور ﷺ یا عمر بن عبدالعزیز رحمه الله رکوع ئې د لسو تسبیحاتو په قدر او سجده د لسو تسبیحاتو په قدر اندازه کړه، (ابوداؤد، نسایي)

حـل اللغـات:- ① أَشْبَهَ: زیات مشابه یعنی یوشان، ② الْفَتَى: ځوان، ځلمی یعنی عمربن عبدالعزیز، ③ فَحَزَرْنَا: أَيْ: قَدَرْنَا: د نصر ینصر نه، قیاس کولو او اندازه لګولو ته وائي.

تسهيلات:-

قوله: بَعْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د عمر بن عبد العزیز د مونځ د نبي علیه السلام مونځ سره مشابهت: -دنبی اکرم ﷺ د وفات نه پس عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه مونځ د تابعینو په نسبت درسول اکرم ﷺ مونځ سره زیات مشابه وو. ددې مطلب دا بالکل نه دې چې ګنی د عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه مونځ د صحابه کرامو او خلفاء راشدینو نه زیات بهتر وو. دا ځنګه کیدیشی چې پخپله د حضرت انس ﷺ مونځ د نبی کریم ﷺ سره مشابه نه وی. په دې وجه د قال فاعل ځوك بل ځوك راوی دې او د دویم قال فاعل حضرت سعید دې یعنی حضرت انس ﷺ دهغه د مونځ تعریف اوکړو. نو حضرت سعید فرمائی چې مونږ دهغه د مونځ اندازه اولګوله

اشکال:- مستحب خو طاق تسبیحات دی دلته خو لس (جفت) ذکر شوی دی؟

داشکال جواب:- دا د دوی خپله اندازه ده، ګنی د هغوی تسبیح نهه یا یوولس نوافل وو.

۸۸٤- رکوع او سجده په ښه طریقه ادا کول

۸۸۰-()[۱۷] ١ وَعَنْ شَقِيقٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ إِنَّ حُذَيْفَةَ رَأَى رَجُلًا لَا يُتِمُّ رُكُوعَهُ وَلَا سُجُودَهُ، ٣ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ دَعَاهُ، ٤ فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: مَا صَلَّيْتَ، ٥ قَالَ: وَأَحْسَبُهُ قَالَ: وَلَوْ مِتَّ مِتَّ عَلَى غَيْرِ الْفِطْرَةِ ٦ الَّتِي فَطَرَ اللّٰهُ مُحَمَّدًا، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ شقیق فرمایي ٢ چې حضرت حذیفه رضی الله عنه یو سړي ولیدلو چې هغه په لمانځه کې رکوع او سجده پوره نه ادا کوله ٣ کوم وخت چې هغه مونځ وکړو نو حذیفه رضی الله عنه

(۱) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب: متی یحل المعتمر (رقم-۷۹۱)

راوغوښتلو ۴ او ورته يې اوويل تا په پوره طور سره مونځ ونه اوکړو ۵ شقيق وايي چه زما ګمان دا دې چې حذيفه رضي الله عنه هغه سړي ته دا هم اوويل که ته (د داسې لمانځه ځخه د توبې کولو نه بغير) مړ شې نو ته به په غير اسلامي فطرت باندې (يعني د طريقهٔ اسلام خلاف) مړ شې ۶ په کوم چې الله تعالى جل جلاله حضرت محمد ﷺ پيدا کړي دي. (بخاري)

حل اللغات:- ① الْفِطْرَةِ: أَيْ: الطَّرِيقَةِ أَوِ السُّنَّةِ أَوِ الْمِلَّةِ: يعنى طريقه، سنت او دين.

تسهيلات:-

توله: فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: مَا صَلَّيْتَ:

د امام شافعی مستدل:- دا حديث د تعديل ارکان په مسئله کښې د امام شافعی دليل دې. ځکه چې په دې کښې خومره سخت وعيد ذکر شوې دې که تعديل د ارکانو فرض نه وې نو ولې به ئې دومره سخت وعيد بيانولو. د دې جواب دا دې چې دا حضرت حذيفه رضی الله عنه اجتهاد دې د نبی کريم ﷺ تقرير په دې باندې نشته.

نوټ:- د تعديل ارکان تفصيلی بحث په بل ځائې کښې تيرشوې دې.

۸۸۵- د مانځه غلا کول

۸۸۵-()[۱۸] ۱ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ أَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِي يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ" ۳ قَالُوا: يَا رَسُولَ؟ وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ؟ ۴ قَالَ: لَا يُتِمُّ رُكُوعَهَا وَلَا سُجُودَهَا»، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ ابو قتاده رضي الله عنه راوي دې چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ د غلا کولو په اعتبار سره د ټولو ځخه لوی غل هغه دې چې په خپل لمانځه کې غلا کوي ۳ صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض وکړو چې يا رسول الله (ﷺ) د لمانځه غلا څنګه وي؟ ۴ حضور ﷺ ورته وفرمايل رکوع او سجده پوره نه ادا کول. (احمد)

حل اللغات:- ① أَسْوَأُ: أَيْ: أَقْبَحُهُمْ: ډير بد، ډير ناخوښه. ② سَرِقَةً: أَخْذُ مَا لَيْسَ لَهُ أَخْذُهُ فِي خَفَاءٍ: د يو داسې ځيز په پټه باندې اخستل چه دهغې ده ته دا خستلو حق نه وی دې ته سرقه وائی. يعنی غلا کول.

تسهيلات:-

توله: أَسْوَأُ النَّاسِ:

د مانځه غل:- يعنی بدترين غل هغه انسان دې چه دَ مانځه دَارکان نه غلا کوی او تعديل دَ ارکان په ځائی نه ساتی. دې سړی ته ځکه بدترين غل اووئيلې شو چه دا خساره دآخرت دَ هميشه خساره ده. دَدنيا خساره پوره کيدې شی چه دَمالك نه معافي اوغواړی يا دَشرعی قانون مطابق په ده باندې شرعی حد اولګی لاس ترې پرې کړی اودَ آخرت دَ سزا نه بچ شی

(۱) اخرجه احمد فی المسند رقم (۵/۳۱۰) والدارمی کتاب الصلاة/باب فی الذی لا يتم الرکوع والسجود (رقم-۸۳۶۷)

ليکن دَمانځه غل داسې غل دې دَ چا دَغلا ازاله کول چه ممکن نه دی. دا سړې خپل حق پخپله وهی اودَ دې په بدله کښې دَ آخرت عذاب اخلی دا ښکاره خساره ده.

٨٨٦- دمانځه څخه غلا کول

٨٨٦-()[١٩] [١] وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُرَّةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] "مَا تَرَوْنَ فِي الشَّارِبِ وَالزَّانِي وَالسَّارِقِ؟ [٣]" - وَذٰلِكَ قَبْلَ أَنْ تنزلَ فِيهِمُ الْحُدُودُ - [۴] قَالُوا: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، [۵] قَالَ: " هُنَّ فَوَاحِشُ وَفِيهِنَّ عُقُوبَةٌ، [٦] وَأَسْوَأُ السَّرِقَةِ الَّذِي يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ "، [٧] قَالُوا: وَكَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ [٨] قَالَ: "لَا يُتِمُّ رُكُوعَهَا وَلَا سُجُودَهَا»". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَرَوَى الدَّارِمِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: [١] نعمان ابن مره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ (صحابه رضی الله عنهم مخاطب کولو سره) وفرمایل [٢] د شرابیانو، زناکارو او غلا کونکو په باره کې ستاسو څه خیال دي (چې هغوې څومره قدر ګنهګاره دي؟) [٣] حضور ﷺ دا پوښتنه د حدود دنازلیدو څخه مخکې کړي وه [۴] صحابه و رضی الله عنهم عرض وکړو یا رسول الله ﷺ الله تعالی جل جلاله او رسول ښه پوهیږي، [۵] رسول الله ﷺ وفرمایل دا ګناه کبیره دي چې د هغې سزا هم شته [٦] او بدترینه غلا هغه غلا ده چې انسان یې په خپل لمانځه کې کوي [٧] صحابه و رضی الله عنهم عرض وکړو یا رسول الله ﷺ انسان په خپل لمانځه کې غلا څنګه کوي؟ [٨] وي فرمایل چې رکوع او سجده په پوره طور سره نه ادا کوي. (مالك، دارمي)

حل اللغات: - ① الشَّارِبِ: أَيْ: لِلْخَمْرِ: څکونکې د شرابو، ② الْحُدُودُ: شرعی سزا ګانې،) فَوَاحِشُ: أَيْ: ذُنُوبٌ كَبَائِرُ: غټې ګناهونه، ③ عُقُوبَةٌ: سزاګانې او عذابونه.

تسهیلات: - **نوټ:** – دې حدیث سره متعلق تسهیل د باب په اول کښې ذکرشوې دي.

[۳۱/۱۴] بَابُ السُّجُودِ وَفَضْلِهِ

د سجدې کیفیت او فضیلت

خلاصة الباب: –

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① أعضاء السجود السبعة: ١-
② تعديل السجود: ٢، ٣، ۴، ۵، ١٦، ١٨-
③ التسبيحات في السجود: ٦، ٧-
④ فضيلة السجود: ٨، ٩، ١٠، ١١-
⑤ كيفية السجود: ١٢، ١٣، ١٩-
⑥ الذكر بين السجدتين: ١۴، ١۵-
⑦ كيفية الجلسة بين السجدتين: ١٧-

[1] اخرجه مالک فی الموطا کتاب قصر الصلاة فی السفر، باب العمل فی جامع الصلاة (رقم- ٧٢)

د سجدې لغوي او شرعي معنى: په لغت کښې سجده دَ عاجزئ ‌: ښکاره کولو او سرټيټولو ته وائي. په شرعي اصطلاح کښې سجده "وضع الوجه على الارض على طريق مخصوص" نوم دې.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

۸۸۷- په اووه اندامونو سجده کول

۸۸۷-()[۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] "«أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ:[۳] الْجَبْهَةِ، وَالْيَدَيْنِ، وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَأَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ،[۴] وَلَا نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَلَا الشَّعْرَ»"، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رحمت عالم ﷺ وفرمايل[۲] ماته د (جسم) په اووه هډوکو د سجدې کولو حکم راکړل شوې دې[۳] يعنې په تندي دواړو لاسونو، ګونډو او د دواړو پښو په پنجو[۴] او مونږ منع کړې شوي يو چې په لمانځه کې زمونږ کپړې او ويښتان راغونډ کړو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① سَبْعَةِ أَعْظُمٍ: سبعة اووه ته وائي، او أَعْظُم جمع د عَظْم دی، هډوکي ته وائي، اووه هډوکي(ووه اندامونه مراد دي). ② الْجَبْهَة: تندي، ③ أَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ: د دواړو خپو ارخونه (پنجې يعنې ګوتې). ④ نَكْفِتَ: أي الضَّمِّ: راټولول.

تسهيلات:-

قوله: أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ:

په اووه اندامونو د سجدې حکم:- په دې حديث کښې خودلې شي چه په سجده کښې په زمکه باندې کوم کوم اندام کيخودل ضروري دی. ددې تفصيل دادې چه دَ فقهاؤ په دې اتفاق دې چه په سجده کښې دواړه لاسونه او دواړه زنګونونه په زمکه باندې کيخودل سنت دی. قرآن کريم کښې الله تعالى دَ سجدې کولو حکم ورکړې دې او سجده "وضع الوجه على الارض" نوم دې.

صرف په زنه د سجدې کولو حکم:- په مخ کښې دويم اندام زنه ده مګر دَدې په زمکه کيخودو سره به دَ سجدې حکم پوره نه شي. يوخو په دې وجه چه دَ حضورپاک ﷺ نه ثابت نه دی او بل په دې وجه چه زنه په زمکه کيخودو سره تعظيم نه کيږي او سجده دَالله تعالى دَ تعظيم دَپاره مقرر کړې شوې ده.

---

(۱) اخرجه البخاري كتاب الاذان باب السجود على الأنف (رقم-۸۱۲) ومسلم كتاب الصلوة باب أعضاء السجود، والنهى عن كف الشعر والثوب وعقص الرأس فى الصلاة (رقم- ۲۳۰ - (۴۹۰))

صرف په اننکی د سجدې کولو حکم:- اوس په مخ کښې څواعضاء دی په قرآن کښې د یوتعین موجودنه دې. نو که په دې حکم باندې دَعمل کولو دَپاره صرف اننګې په زمکه باندې کیخودې شی نو حکم به نه پوره کیږی ځکه دَ اننګی په کیخودسره دَقبلې نه مخ هم اوړی اودَ حضورپاک ﷺ نه داسې کول ثابت هم نه دی.

صرف په تندی او پوزه د سجدې کولو حکم:- صرف تندې او پوزه پاتې شوه دا په زمکه کیخودسره تعظیم هم دې اودَ حضوراکرم ﷺ نه ثابت هم دی دَ جمهور فقهاؤ په دې باندې اتفاق دې چه په سجده کښې پوزه اوتندې دواړه کیخودل افضل دی.

په تندی او پوزه کښې په یو باندې سجده کولو کښې مذاهب:-

البته په دې کښې اختلاف دې چه په یوباندې اکتفاکول جائز دی که نه؟

① دَ جمهور فقهاؤ په نیزسجده کښې تندې اوپوزه دواړه کیخودل ضروری دی که چرته چا په یو باندې اکتفاء اوکړه نوموڼځ نی جائز نه دې.

② امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه "لاعلی التعیین"په دې کښې یواندام کیخودل فرض دی. اوس که چاصرف تندې په زمکه باندې په سجده کښې کیخودو نوسجده بغیرد کراهت نه جائز ده ځکه چه بعضې روایاتو کښې صرف تندې مستقل کیخودل ثابت دی. (کمافی لمعات)په یوروایت کښې جائزمع الکراهت دې.

صرف په پوزه باندې سجده کولو کښې مذاهب:-

که چرې چاصرف پوزه کیخودسره سجده اوکړه.

① نودَ جمهور اوصاحبینو ټولو په نیزسجده جائز نه ده

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه دې باره کښې دوه روایتونه دی یودا چه سجده به کراهت سره جائز وی بل روایت دادې چه ځان له پوزې سره سجده جائز نه ده او هم په دې باندې فتویٰ ده.

نوټ:- دا ټول اختلافات هغه وخت دی کله چه څه عذر نه وی. که چرې دَچا څه عذر وی نوبیا به دَ عذر مطابق جواز وی.

په سجده کښې د لاسونواو زنګونو په زمکه د کیخودو حکم:- په حدیث کښې اووه اندامونوباندې سجده کولوذکردې لیکن باقی د اندامونوحیثیت داسې نه دې بلکه لاسونه او زنګونونه په زمکه باندې کیخودل مسنون دی. په دې خبره باندې بیا پوهه شئی چه دا بحث هغه وخت دې کله چه څه عذر نه وی دَعذر په وخت ټول جائز دی.

په سجده کښې د قدمونو اوخپو کیخودلو حکم:- اوس په سجده کښې دَ قدمونواو خپو کیخودو متعلق مسئله داده چه دَ سجدې په حالت کښې دواړه خپې په زمکه باندې کلکې کیخودل ضروری دی که په پوره سجده کښې دواړه خپې دَ زمکې نه اوچتې پاتې شی نوسجده به نه کیږی مونځ به فاسدشی اوکه یوه خپه اوچته کړه اودویمه په زمکه باندې وه نودا صورت مکروه دې.

قوله: وَلَا نَكْفِتَ:

د جامو او ویښتو راغونډولو ممانعت: - کفت په وهلوسره راغونډولو په معنی کښې دي ویښته په یو ځیزسره ترلو ته کفت وئیلي شوي دي دا راغونډول منع دی. دې دپاره چه په سجده کښې کپړې او ویښته هم شریك شی او دا احتیاط اونه کړي چه زمکي او خاورې سره اولګی ویښته یا کپړې خرابې شی ځکه چه دَ خاورو طرف ته تولو له تلل دی.

۸۸۸-په سجدې کښې د اطمینان حکم

۸۸۸-(۱)[۲] ١ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ، ٣ وَلَا يَبْسُطْ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضی الله عنه راوي دي چې رحمت عالم ﷺ وفرمایل ٢ په سجده کې (په اطمینان سره) اوسیئ ٣ او په تاسو کې دي هیڅوك (په سجده کې) خپل دواړه لاسونه د سپي په شان نه غوړوي. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: - ① اعْتَدِلُوا: د امر صیغه ده، أي أَنْ يَسْتَوِيَ فِيهِ: یعنی سجده بنه په آرام او سکون سره اداکوئ. ② انْبِسَاطَ الْكَلْبِ: أي: كَافْتِرَاشِهٖ: څنګه چه سپي خپلي مخکني خپې په اوږدوالی خوره وی.

تسهیلات: -

قوله: اعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ:

په سجده کښې د اعتدال تعریف: - په سجده کښې اعتدال دادې چه دَ لاسونو ګوتې یوځائی کولو سره په زمکه باندې بنه مضبوط یا سره کیخودې شی څنګلي دَ زمکې نه جدا وی او خیټه دَ ؤتونونو نه جدا اوساتی او په سجده کښې بنه په تسلئی سره دتسبیحات اووائی لکه څنګه چه حدیث سره متصل په دویم حدیث کښې ذکر کړې شوی دی.

قوله: انْبِسَاطَ الْكَلْبِ:

دسپی پشان ناستې ځخه د ممانعت وجه: - سپي چه کله په کوناتو باندې کینی نودَ اقعاء په صورت کښې کینی دَدې هم ممانعت دې. دغه شان کله چه سپي په سینه باندې کینی نومخکښني خپې په زمکه باندې مخې ته په عجیبه انداز کښې خورې کړې ایږدی دَدې نه مونځ ګذار منع کړې شوې دې. داغفلت او سستئی ننبه هم ده اودغه شان کولوسره غفلت هم پیدا کیږي. انسباط ته په نورو روایتونو کښې افتراش السبع په نوم سره هم یاد کړې شوې

---

(۱) اخرجه البخاري فی کتاب الاذان/ باب لا یفترش الزراعه فی السجود.... رقم الحدیث ۳/ ۳۸۸ ومسلم فی کتاب الصلوة/ باب الاعتدال فی السجود.... رقم الحدیث ۱۱۳۰

دي دا ټول هم يوځيز دي.

٨٨٩-د سجدې طريقه

٨٨٩-()[٣] ١ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "إِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ، ٣ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ براء ابن عازب رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر كله چې ته سجده كوي نو خپل دواړه لاسونه په زمكه اږده ٣ او څنګلي د زمكې څخه اوچتې ساته، (مسلم.)

حل اللغات:- ① فَضَعْ: ايږده، ② مِرْفَقَيْكَ: څنګلې خپلې،

تسهيلات:-

قوله: وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ:

د څنګلو پورته كولو د حكم مخاطبين:- "وارفع" يعنى څنګلي دَ زمكې نه اوچتې ساته چه دَ انبساط او افتراش صورت رانه شى داحكم دَ سړودپاره دي.

د ښځو دپاره په مونځ كښې د پردې كيفيت اختيارول:- ښځو له پكاردى چه هغوى دې په سجده كښې ټول اندامونه راغونډ كړى زمكې سره دې اولګوى ځكه چه دَهغوى دَ پردې تقاضا هم دغه ده. په حديث شريف كښې دې ستر او پردې ته په توګه دَ قاعدې اوكليه اشاره فرمائيلې شوې ده چه هرهغه فعل ته شامل ده په كوم سره چه دَ پردې ضرورت وى

د ښځودپاره د مونځ د مختلفو اركانو اداكولو طريقه:- ① په تكبيرتحريمه كښې لاسونه دَ اوګو او سينې پورې پوشان اوړل دَ پردې سبب دې لهذا دَ ښځودپاره هم دغه ماموربه دى

② په ركوع او سجده كښې اندامونه راغونډول دَ پردې سبب دى لهذا داماموربه دى.

③ دَ خپو ګيتې پټول دَ پردې سبب دې لهذا داماموربه دى

④ دَ سر ويښته پټول دَ پردې سبب دې لهذا ماموربه دى.

⑤ په لاس باندې لاس وهلوسره امام ته فتحه وركول سبحان الله په ځائى دَ پردې سبب دې لهذا ماموربه دى

دښځو او سړو په مانځه كښې فرق:- حالانكه دا ټول كارونه دَ سړو دَ مونځ دَ افعالو برعكس دى. معلومه شوه چه دَ ښځو اوسړو مونځ يوشان ګرځول مناسب نه دى ځكه چه په دواړو كښې فرق دې. دَ ښځو په مانځه كښې هرهغه صورت خپلولې شى په كوم كښې چه ځان خودنه نه وى.

---

(١) اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب الاعتدال فى السجود، ووضع الكفين على الأرض ورفع المرفقين عن الجنبين، ورفع البطن عن الفخذين فى السجود(رقم-٢٣٤ - (٤٩٤))

۸۹۰–د نبي عليه السلام د سجدې طريقه

۸۹۰–()[۳] [۱] وَعَنْ مَيْمُونَةَ رضي الله عنها، قَالَتْ: "[۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ جَافَى بَيْنَ يَدَيْهِ، [۳] حَتَّى لَوْ أَنَّ بَهْمَةً أَرَادَتْ أَنْ تَمُرَّ تَحْتَ يَدَيْهِ مَرَّتْ» [۴]"، هَذَا لَفْظُ أَبِي دَاوُدَ، صَرَّحَ فِي: شَرْحِ السُّنَّةِ بِإِسْنَادِهِ. [۵] وَلِمُسْلِمٍ بِمَعْنَاهُ قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ [۶] لَوْ شَاءَتْ بَهْمَةٌ أَنْ تَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لَمَرَّتْ».

ترجمه: [۱] ام المؤمنين حضرت ميمونه ﷞ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به چې سجدې ته تلو نو د خپلو دواړو لاسونو په مينځ کې به يې دومره فرق ساتلو [۳] چې که د بزي (چيلۍ) بچي په مينځ کې تيريدل غوښتل نو د حضور ﷺ د دواړو لاسونو د لاندې څخه تيريدې شو، [۴] دا الفاظ د ابوداؤد دي څنګه چې خپله بغوي په شرح السنة کې په خپل سند سره بيان کړي دي [۵] او مسلم دا حديث بالمعنی نقل کړي دي د هغې الفاظ دا دي چې بي بي ميمونې ﷞ وفرمايل چه رسول الله ﷺ به داسې سجده کوله [۶] چه که د بزي (چيلۍ) بچي د رسول الله ﷺ د لاسونو په مينځ کښې تيريدلې نو تيريدلې به شو.

حل اللغات:- ① جَافَى: أَيْ: أَبْعَدَ وَفَرَّقَ: يعنی جدا والي او فرق به ئې ساتلو ② بَهْمَةٌ: أَيْ وَلَدُ الضَّأْنِ: دګډې يا چيلۍ بچي کله چه نوې پيداشي هغه ته سخلة وائی کله چه په خپلو خپو ياندې ځي هغه وخت هغه ته بهمة وائی.

تسهيلات:-

قوله: بَهْمَةٌ:

په سجده کښې خيټه د زنګونانو څخه جدا ساتل:– حضور پاک ﷺ به په سجده کښې خپله خيټه مبارکه دَ خپلو پنډو نه او څنګلې دَ زمکې نه په دومره فاصله باندې ساتلې که دَ لاندې نه دَ چليلۍ بچي تيريدل غواړی نو تيريدې شی.

قوله: هَذَا لَفْظُ أَبِي دَاوُدَ:

د مصابيح په مصنف اعتراض: په دې سره صاحب مشکوة په صاحب مصابيح باندې اعتراض کول غواړی چه هغه دا لازمی کړی دی چه په اول فصل کښې به دَ بخاری او مسلم روايت نقل کوی حالانکه په دې حديث کښې الفاظ دَ ابوداؤد دی او په فصل اول کښې درج کړې شوي دې سره دَدې چه په معنوی اعتبار سره دا حديث مسلم ذکر کړې دې.

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب الاعتدال فى السجود. ووضع الكفين على الأرض ورفع المرفقين عن الجنبين، ورفع البطن عن الفخذين فى السجود(رقم– – ۲۳۷ – (۴۹۶) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ،باب السجود(رقم– ۸۸۰) والنسائی كتاب التطبيق/باب التجافی فی السجود (رقم– ۱۱۰۹)

۸۹۱ـ په سجده کښې لاسونه جدا ساتل

۸۹۱ـ( )[۵]① وَعَنْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ:② "«كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ③ حَتّٰى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:① عبدالله ابن مالك ابن بحينه رضي الله عنه فرمايي② چې رسول الله ﷺ چې به سجده کوله نو خپل دواړه لاسونه به يې دومره کشاده ساتل③ چې د بغلونو سفيدي (سپينوالي) به يې ظاهريدلې، بخاري مسلم.

حل اللغات:- ① يَبْدُوَ: أَيْ: يَظْهَرَ: ښکاريدلو به. ② إِبْطَيْهِ: د ابط تثنيه ده، ترخونو ته وائي.

تسهيلات:-

قوله: وَعَنْ عَبْدُ اللّٰهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ:

دحديث په سند کښې يوه فني قاعده:-په دې سند کښې يو فنی خبره ده دکوم يادول چه ډير ضروری دی هغه خبره داده چه دَ عبدالله دَ پلار نوم مالك دې اودَ عبدالله دَ مور نوم بحينه دې. دلته عبدالله دَ مور او پلار دواړوطرف ته منسوب دې لکه څنګه چه عبدالله بن ابی ابن سلول دَ دواړو طرف ته منسوب دې. په دې سند کښې دا غلط فهمي پيدا کيږی چه کيدې شی مالك دَ بحينه ځوئی دې حالانکه داسې نه ده. بحينه دَمالك ښځه ده اودَ عبدالله مور ده. محدثينو داسې سند کښې الف زياتول ابن سره ليکی. چنانچه دلته هم په مالك باندې تنوين لوستل پکاردی اوبيا الف زياتولوسره ونيل پکاردی. دې دَپاره چه دا معلومه شی چه ابن بحينه دَ عبدالله صفت دې. دا قاعده وړاندې تفصيل سره ليکلې ده.

بهرحال معلومه شوه چه داسې کيږی چه عبدالله کوم وخت حضورپاك ﷺ ليدلې وو هغه وخت دَ حضورپاك ﷺ په بدن مبارك باندې دَ قميص په ځائی څه څادروو دکوم دَ غاړو نه چه ترخونه ښکاريدل ګنی په قميص کښې دَ ترخونو سپينوالي نه ښکاری.

د نبی کريم ﷺ حسن:-دَ ترخونودَ سپينوالی نه داخبره معلومه شوه چه حضورپاك ﷺ ډير ښائسته وو ځکه چه ترخونه اکثر تور وی. دکوم سړی ترخونه چه پرقيدونکی وی دَ هغوی باقی بدن به څومره ښائسته او خوړ وی.

۸۹۲ـ په سجده کښې دعا لوستل

۸۹۲ـ( )[۲]① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ:② "«كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ:

---

[1] اخرجه البخاری کتاب الصلوة باب يبدی ضبعيه ويجافی فی السجود(رقم-۳۹۰) ومسلم کتاب الصلوة ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح به ويختم به، وصفة الرکوع والاعتدال منه، والسجود والاعتدال منه، والتشهد بعد کل رکعتين من الرباعية، وصفة الجلوس بين السجدتين،وفی التشهد الأول(رقم-۲۳۵ -(۴۹۵)والنسائی کتاب التطبيق /باب صفة السجود (رقم-۱۱۰۶)

[2] اخرجه مسلم کتاب الصلوة باب ما يقال فی الرکوع والسجود(رقم-۲۱۶ - (۴۸۳) وابو داود کتاب الصلاة، باب فی الدعاء فی الرکوع والسجود (رقم-۸۷۸)

[۳] اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي ذَنْبِي كُلَّهُ، [۴] دِقَّهُ وَجِلَّهُ، [۵] وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به په خپلې سجده کې دا دعا کوله [۳] اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ، اې الله زما ټول ګناهونه وبخښې [۴] واړه ګناهونه او لوئې ګناهونه [۵] مخکنې او وروستنې ګناهونه [٦] ښکاره او پټ ګناهونه. (مسلم)

حل اللغات:- ① دِقَّهُ: أي دَقِيقَهُ وَصَغِيرَهُ: دادَ دقيق نه دې دَ قليل په معنى کښې دې يعنى لږ، وړه ګناه. ② جِلَّهُ: أي جَلِيلَهُ وَكَبِيرَهُ: دا دَ جليل نه دې دَ کثر په معنى کښې دې يعنى زياته يا لويه ګناه.

تسهيلات:-

قوله: وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ:

يعنى ښکاره او پټ ګناهونه. دې نه مراد دادې چه دَخلقودَ نظرنه کومه ګناه پټه وى هغه معاف کړې ګنى دَ الله تعالى نه خو څه څيزپټ نه دې.

ددعا په محل کښې پنځه احتمالات:-

① په سجده کښې ئې لوستې وه

② نوافل کښې ئې لوستلې وه.

③ دَ تسبيحات نه پس ئې لوستلې وه

④ په فرائضو کښې لوستلې وه

⑤ دَتسبيحاتو په ځائې به ئې دا دعا لوستلې وى

۸۳- دَ تهجد و دپاره دَ نبى کريم ﷺ دَ بسترې څخه پاسيدل

۸۳-(۱)[۷] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «فَقَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ الْفِرَاشِ، [۳] فَالْتَمَسْتُهُ، فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ، وَهُمَا مَنْصُوبَتَانِ، [۴] وَهُوَ يَقُولُ: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، [۵] وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، [٦] لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې يوه شپه ما رسول الله ﷺ په بستره موجود اونه موندلو [۳] ما رسول الله ﷺ تلاش کولو چې زما لاس د حضور ﷺ د پښو سره ولګيدو (نو ما وليدل) چې حضور ﷺ د الله په دربار کې په سجده پروت وو او دواړه پښې مبارکې يې ولاړې وې [۴] او حضور ﷺ دا دعا کوله اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ

(۱) اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب ما يقال فى الركوع والسجود(رقم-۲۲۲ - (۴۸۶) ومالک كتاب القرآن باب ما جاء فى الدعاء (رقم-۳۱) والترمذى كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۴۹۳) والنسائى كتاب التطبيق/باب نوع آخر (رقم-۱۱۳۰)

وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ، اي الله زه د پناه طلب ګاریم ستا د رضا په ذریعه ستا د غیظ وغضب څخه (یعني د هغه افعالو څخه چې په ما یا زما په امت ستا د غضب ذریعه جوړه شي)۵ او زه ستا څخه پناه غواړم ستا د معافي په ذریعه ستا د عذاب څخه ۶ او ستا څخه (یعني ستا د رحمت په ذریعه ستا د قهر څخه) زه ستا د تعریف شمیره او احاطه نشم کولي ته داسې یې څنګه چې تا خپل تعریف په پخپله کړي دي. (مسلم)

حل اللغات:- ① فَقَدْتُ: أَيْ: طَلَبْتُ فَمَا وَجَدْتُ: فقد په معنی د ورکیدو سره دې یعنی ما تلاش کړو خوبیا مې نه موندلو. ② الْفِرَاشِ: بستره، ③ فَالْتَمَسْتُهُ: أَيْ: طَلَبْتُهُ بِالْيَدِ: اومې لټولو په خپل لاس سره. ④ سَخَطِكَ: أَيْ: مِنْ فِعْلٍ يُوجِبُ سَخَطَكَ عَلَيَّ أَوْعَلَى أُمَّتِي: ستا د خفګان او غصې نه یعنی داسې کارنه چه هغه زما یا زما د امت دپاره ستا دغصې اوخفګان سبب جوړ شی، ⑤ بِمُعَافَاتِكَ: دا د مبالغې په طور ذکرشوي دي ،أَيْ: بِعَفْوِكَ الْكَثِيرِ: یعنی ستا د ډیرې زیاتې معافۍ په ذریعه، ⑥ عُقُوبَتِكَ: ستا د سزا او عذاب نه، ⑦ لَا أُحْصِي: أَيْ: لَا أُطِيقُ أَنْ أُثْنِيَ عَلَيْكَ كَمَا تَسْتَحِقُّهُ: شمیرلې نه شم یعنی زما دا طاقت نشته چه ستا دشان لائقه سره مناسب حمد اوثنا اوکړې شم.

تسهیلات:-

قوله: وهوفي الْمَسْجِدِ:

دمسجد په مصداق کښې دوه احتمالات:-

① دې نه مراد حجره کښې دَ سجدې ځائی هم کیدې شي

② په معنی دَ سجود یعنی سجده هم کیدې شي.

فائده:- په دې حدیث کښې واضح دلیل دې چه مس المرءة سره اودس نه ماتیږي.

۸۹۳-سجده کښې دبنده الله تعالی ته نزدیکت

۸۹۳-()[۸] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ۲ " أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ وَهُوَ سَاجِدٌ، ۳ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د بنده الله ته نزدې کیدل هغه وخت وي کله چې هغه په سجده کې وي ۳ نو تاسو په سجده کې زیاته دعا غواړئ. (مسلم.)

تسهیلات:-

نوټ:- د دې حدیث وضاحت په بل مقام کښې ذکرشوي دي.

(۱) اخرجه مسلم کتاب الصلوة باب ما یقال فی الرکوع والسجود(رقم-۲۱۵ - (۴۸۲) والنسائی کتاب التطبیق/اقرب ما یکون العبد من الله عز وجل (رقم-۱۱۳۷)

۸۹۵- د سجده تلاوت په وخت د شيطان ژړا کول

۸۹۵ – ()[۹]① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ ③ اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي، ④ يَقُولُ: يَا وَيْلَتَى أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ، فَسَجَدَ، فَلَهُ الْجَنَّةُ، ⑤ وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ، فَلِيَ النَّارُ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چي ابن آدم (يعني مؤمن بنده) د سجدي آيت وايي او (ويونکي يا اوريدونکي) سجده کوي ③ نو هغه وخت شيطان لعين په ژړا يو طرف ته اخوا شي ④ او وايي چي اي حسرته ابن آدم ته د سجدي کولو حکم ورکړل شو نو هغه سجده وکړه او (د دي په بدله کي) هغه د جنت حقدار دي ⑤ او ماته د سجدي کولو حکم وشو نو ما (سجده نه کولو سره د پروردګار) نافرماني وکړه (نو د هغي په نتيجه کي) زه د اور حقدار شوم. (مسلم)

حل اللغات:- ① اعْتَزَلَ: أي: انْصَرَفَ وَانْحَرَفَ: لري شو، جدا شو، ډډي ته شو.

تسهيلات:-

قوله: يَبْكِي:

د سجده تلاوت په وخت د شيطان ژړا:- يعني کله چه انسان دَ تلاوت وخت کښي دَ سجدي آيت لوستلوسره سجده کوی نو شيطان لرې تختي او په چغو ژاړي او خپيمانتيا کوی چه دَ آدم عليه السلام اولاد قرآن تلاوت کړو اوسجده ئی اوکړه اوماته چه کله دَ سجدي حکم اوکړې شو نوماانکاراوکړو.

د شيطان د ژړا په سبب کښي دوه احتمالات:- ① دَ ابليس دا ژړا اوچغي صوري وهل ياخود حقيقت دَ اعتراف په توګه باندي دَ افسوس اوغم دَ وجي نه دی

② دَ مکرمچ په شان دَ دهوکي اوښکي تويه وی خکه چه نقل دي چه حضرت موسیٰ عليه السلام ته ابليس اووئيل دَالله تعالی نه تپوس اوکړه چه زما توبه قبليدي شی که نه؟ وئيلی شی چه الله تعالی موسیٰ عليه السلام ته اوفرمائيل چه شرط هم هغه دي چه حضرت آدم عليه السلام ته به سجده کوی. که اوس آدم عليه السلام نشته نو دَهغه قبرته دي سجده اوکړي. وئيلی شی چه کله موسیٰ عليه السلام ابليس ته اووئيل نوهغه جواب ورکړو چه کله دَ ژوندی آدم مخي ته تيت نه شوم نواوس به ئی قبرته څه سجده اوکړم.

د مرګ په وخت کښي هم د ابليس دسجدي څخه انکار:- يوه ضعيف قصه ده چه دَ ابليس دَ روح قبض کولودَپاره فرښتي کله هغه پسي راځی نودي به دَمشرق مغرب او جنوب طرف

[۱] اخرجه مسلم كتاب الايمان باب بيان إطلاق اسم الكفر على من ترك الصلاة رقم ۱۳۳ - (۸۱) وابن ماجة، باب سجود القرآن (رقم-۱۰۵۲)

ته منډې وهی (دې څائی پورې دا قصه په احادیثو کښې ده) کله چه فرښتې هغه قابوکړې نودې به دَ حضرت آدم علیه السلام په قبر باندې راګذارکړی دې دَپاره چه په هغه باندې سجده اوکړې شی خودا خبیث به دَ مرګ په وخت هم سر پورته اوچته وی دې دَپاره چه غیراختیاری توګه باندې هم دَ سجدې صورت جوړنه شی دومره سخت دښمن دې. نو دلته به دَ ده ژړا خو یا دَ تازه تازه سزا په توګه سره وی اویا به هم هغه دَ دهوکې ژړا دی لکه چه دې بین الاقوامی بې غیرت اوبین الاقوامی بې حیا او دهوکه باز دَ بدر دَمیدان نه دَ تختیدو په وخت ابوجهل ته وئیلی وو "انی اخاف الله رب العالمین".

۸۹۲- نبی علیه السلام سره د ملګرتیا ذریعه

۸۹۲-()[۱۰] [۱] وَعَنْ رَبِيعَةَ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳] فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ، [۴] فَقَالَ لِي: "سَلْ"، فَقُلْتُ: أَسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ، [۵] قَالَ: "أَوَغَيْرَ ذٰلِكَ؟"، قُلْتُ: هُوَ ذَاكَ، [۶] قَالَ: فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ربیعه ابن کعب رضی الله عنه فرمایي [۲] چې زه به د شپي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې ووم [۳] او د اودس اوبه او نور ضروریات (مثلاً مسواك جاء نماز وغیره) به مي پیش کول [۴] یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې (د دین ودنیا په څیزونو کې چې څه غواړې) وغواړه ما عرض وکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما خواست خو صرف دا دي چې په جنت کې مي ستا ملګرتیا نصیب شي [۵] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل (کومي مرتبي ته چې رسیدل غواړې دا خو ډیره لویه ده د دې څخه سوا) نور څه وغواړه ما عرض وکړو زما خواست خو صرف دا دي چې په جنت کې مي ستا ملګرتیا نصیب شي [۶] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل (نو دې مرتبي حاصلولو د پاره) ته په کثرت دسجدو سره په خپل ذات سره زما مدد کوه. (مسلم)

حل اللغات:- ① أَبِيتُ: مِنَ الْبَيْتُوتَةِ: یعنی شپه مې تیره کړه. ② مُرَافَقَتَكَ: أَيْ: كَوْنِي رَفِيقًا لَكَ إِلَى الْجَنَّةِ: چه په جنت کښې ستا ملګرې شم.

تسهیلات:-

قوله: وَحَاجَتِهِ:

یعنی دَ اودس دَپاره اوبه لوټه اودَ مانځه دَ پاره جائې نماز یادَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم دَ استنجاء دَپاره لوټې راوړل یا نور خدمت کول دا ټول "حاجته" یعنی په ضرورت کښې داخل دی.

په جنت کښې د نبی علیه السلام د ملګرتیا سوال:- دَ شپې دَدې مشقت والاخدمت اودَتابعدارئی نه خوشحالیدوسره رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ صله په توګه اوفرمائیل چه اوغواړه څه غواړې. دې رښتونی خادم اوعقیدت مند غلام اووئیل په جنت کښې ستاسو رفاقت غواړم.

[1] اخرجه مسلم کتاب الصلوة باب فضل السجود والحث علیه (رقم) ۲۲۶ - (۴۸۹) والنسائی کتاب التطبیق/فضل السجود (رقم-۱۱۳۸)

حضورپاك ﷺ غوښتل چه داسړې دَدې په خانې بل څه دعا اوغواړي. يا حضورپاك ﷺ کيدې چه اندازه لګول اوغوښتل دَدې سړی دا مطالبه صرف يو جذباتی جذبې اظهارکول دی يادَ دې خبرې شاته يوه ربښتونی جذبه ده . ليکن دې ربښتونی عاشق چه کله جواب ورکړو چه هم دغه سوال دې نوبيا حضورپاك ﷺ اوفرمائيل چه دعابه زه کوم خو ته ماسره دومره تعاون اوکړه چه په کثرت سره مونځونه کوه.

د بزرګانو دعاګانو سره سره د عمل ضرورت: - معلومه شوه چه دَ بزرګانودعاګانوسره سره دَ عمل هم ضرورت دې دانه ده چه صرف دَ دعاپه بنياد خپل اعمال پريږدی اوصرف خواهشات او ارزوګانې کوی. هغه چاڅه ښه وئيلی دی چه چابی دَ تالې کولاوولودَپاره بيشکه ذريعه ده ليکن په لاس به ورله زور ورکولوسره چابی تاوول وی.

۸۹۷—د سجدو د کثرت فضيلت

۸۹۷ —()[۱] ① وَعَنْ مَعْدَانَ بْنِ طَلْحَةَ، قَالَ: ② «لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ③ قُلْتُ: أَخْبِرْنِي بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ، ④ فَسَكَتَ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ، فَسَكَتَ، ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ، ⑤ فَقَالَ: سَأَلْتُ عَنْ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ⑥ فَقَالَ: عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلَّهِ، ⑦ فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلَّهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللهُ بِهَا دَرَجَةً، ⑧ وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً، ⑨ قَالَ مَعْدَانُ: "ثُمَّ لَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ، فَسَأَلْتُهُ، ⑩ فَقَالَ لِي مِثْلَ مَا قَالَ لِي ثَوْبَانُ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① معدان بن طلحه (تابعي) رحمه الله فرمايي ② چې ما د حضور ﷺ آزاد شوي غلام حضرت ثوبان رضی الله عنه سره ملاقات وکړو ③ او هغه ته مي عرض وکړو چه ماته څه داسې عمل وښايه چې د هغې په وجه الله تعالی جل جلاله ما په جنت کې داخل کړي ④ ثوبان رضی الله عنه زما د سوال اوريدو سره چپ شو ما ورته دوباره عرض وکړو هغه بيا هم چپ وو په دريم ځل مې ورته بيا عرض وکړو ⑤ نو هغه وفرمايل دا سوال ما د رسول الله ﷺ نه هم کړي وو ⑥ نو زما د سوال په جواب کې يې فرمايلي وو چې ته په کثرت سره په بارګاه الهی کې سجده کوه ⑦ ته چې يوه سجده د الله تعالی جل جلاله په حضور کې وکړې نو د هغې په وجه به الله تعالی جل جلاله ستا يوه درجه اوچتوی ⑧ او يوه ګناه به دې کمه کوي ⑨ معدان رحمه الله وايي بيا ما د ابودرداء رضی الله عنه سره ملاقات وکړو هغه څخه مې هم دا سوال وکړو ⑩ کوم چې مې د ثوبان رضی الله عنه څخه کړي وو نو هغه هم هغه جواب راکړو کوم چې ثوبان رضی الله عنه راکړي وو. (مسلم)

حل اللغات: - ① حَطَّ: رجوی به يعنی معاف کوی.

[1] اخرجه مسلم كتاب الصلوة باب فضل السجود والحث عليه (رقم) ۲۲۵ - (۴۸۸) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كثرة الركوع والسجود(رقم-۳۸۸) والنسائی كتاب التطبيق/باب ثواب من سجد لله عز وجل سجدة(رقم-۱۱۳۹)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۸۹۸- د سجدې کولو کیفیت

۸۹۸-(۱)[۱۲] ① عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ② "«رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ ③ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ، ④ وَإِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: ① وائل ابن حجر رضي الله عنه فرمايي ② چې ما رسول الله ﷺ وليدلو چې كله به يې د سجدې كولو اراده كوله ③ نو مخكې به يې خپلې دواړه ګونډې په زمكه لګولې بيا به يې دواړه لاسونه ايښودل ④ او كله چې به د سجدې څخه پورته كيدو نو اول به يې دواړه لاسونه پورته كول بيا به يې ګونډې پورته كولې، (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه. دارمي)

حل اللغات:- ① نَهَضَ: وَهُوَ الْقِيَامُ: اودريدلو او پاڅيدلو ته وائي.

تسهيلات:- قوله: إِذَا سَجَدَ وَضَعَ:

سجدې ته دتلو او راتلو په وخت كښې يوه اصولي قاعده:- علماؤ د سجدې اندامونه د سجدې په وخت په زمكه باندې كيخودل او د سجدې نه د پاسيدو د وخت باره كښې يو اصول وضع كړې دی. هغه داسې چه كله سړې اودريږی نو د هغه چه كوم اندام د قيام په وخت زمكې سره څومره نيزدې وی هم هغه د ټولو نه مخكښې په زمكه باندې كيخودل پكاردی. او د سړی چه كوم اندام د قيام په حالت كښې د زمكې نه څومره لرې وی د سجدې نه د پاسيدو په وخت هغه د ټولونه مخكښې اوچتول پكاردی.

دتندی اوپوزې په كيخودو كښې دوه اقوال:- ① په دې اندامونو كښې بعضې علماؤ تندې او پوزه يو اندام ګرځولې دې لهذا په دې كښې د تقديم او تاخير ضرورت نشته دې. ..

② بعضې علماء فرمائی چه پوزه زمكې ته نيزدې ده لهذا د تلو په وخت دا اول اوچتول پكاردی. بهرحال د دې كيفيت لحاظ ساتل هغه وخت دی كله چه څه عذر نه وی كه چرې عذر وی نو عذر خو عذر دې.

۸۹۹- په سجدې ته د تلو په وخت كښې د اوښ پشان كيفيت اختيارولو ممانعت

۸۹۹-(۲)[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ ③ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، ④ قَالَ أَبُو

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب كيف يضع ركبتيه قبل يديه (رقم-۸۳۸) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها، باب السجود (رقم-۸۸۲) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فى وضع الركبتين قبل اليدين فى السجود (رقم-۲۶۸) والنسائى كتاب التطبيق /باب أول ما يصل إلى الأرض من الإنسان فى سجوده (رقم-۱۰۸۹)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب كيف يضع ركبتيه قبل يديه (رقم-۸۴۰) والنسائى كتاب التطبيق /باب أول ما يصل إلى الأرض من الإنسان فى سجوده (رقم-۱۰۹۱)

سُلَيْمَانَ الْخَطَّابِيُّ: "حَدِيثُ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ أَثْبَتُ مِنْ هَذَا". ⑤وَقِيلَ: هَذَا مَنْسُوخٌ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چې په تاسو کې څوك سجده کوي نو د اوښ په شان دې نه کيني ③ بلکه هغه ته پکار دي چې د خپلو دوارو گونډو څخه مخکښې دواړه لاسونه په زمکه کيږدي، ابوداؤد، نسايي، دارمي ④ او ابو سليمان خطابي ويلي دي د چه وائل ابن حجر حديث د دې حديث څخه زيات (صحيح) ثابت دي ⑤ او ويل شوي دي چې دا حديث منسوخ دي.

حل اللغات:- ① يَبْرُكُ: أي: لَا يَضَعْ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ: يعنی خپل زنگونان به نې د لاسونو نه مخکښې نه ايښودل. ② الْبَعِيرُ: اوښ.

تسهيلات:-

سجده کښې کوم اندام په زمکه اول او کوم آخر کښې کيخودو کښې مذاهب:-

سجدې ته د تلو په وخت کوم يو اندام مخکښې په زمکه کيخودل پکاردي او کوم يو په آخر کښې کيخودل پکاردی په دې باره کښې د علماؤ اختلاف دې. خو دا اختلاف د اولی اوغير اولی او افضليت کښې دې په جواز اوعدم جواز کښې نه دې.

① د دريواړو آئمه حضراتو په نيز سجدې ته د تلو په وخت هم هغه معروف ترتيب دې چه کوم اندام زمکې ته ډيرنيزدې دې هغه به اول کيخودې شی او واپسئی کښې به د دې خلاف کولې شی لکه په تيرحديث نمبر ۱۲ کښې چه ذکر دي.

② امام مالك رحمه الله او اوزاعی فرمائی چه سجدې ته د تلو په وخت ړومبې لاسونه په زمکه کيخودل بيا زنګونونه بيا لاسونه بيا پوزه بيا تندي

د دويم فريق دليل:- د وائل بن حجر رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې چه بغير د څه تاويل نه په خپل مقصد باندې واضح دليل دې.

داول فريق د دليل جوابونه:- ① دا روايت منسوخ دې او په صحيح ابن خزيمه کښې مصعب بن سعد رضي الله عنه روايت د دې د پاره ناسخ دې هغه فرمائی: "كنا نضع اليدين قبل الركبتين فأمرنا بوضع الركبتين قبل اليدين". (كما قال ابن خزيمه)

② د وائل بن حجر رضي الله عنه روايت قوی او ثابت دې او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت د محدثينو په نيز معلول دې لهذا د وائل رضي الله عنه روايت ته به په اصولی توګه ترجيح ورکولې شی.

دابوهريره د روايت علتونه:- ① د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په روايت کښې يوعلت خود دې چه امام ترمذی رحمه الله د دې غرابت خو بيان کړو اودا ئې معلوم اوګرځولو.

② د حضرت ابوهريره رضي الله عنه دا روايت هم د هغه د خپل يوروايت معارض دې. امام طحاوی رحمه الله په مضبوطوسندونو سره د دې روايت ذکر کړې دې اوهغه روايت بالکل د حضرت وائل

بن حجر رضي الله عنه دَ روایت په شان دي. اوګورئی شرح معانی الاثار ج۱ ص۱۷۵.

③ دَحضرت ابوهریره رضي الله عنه دَ روایت ړومبې حصه پخپله دَهغې دَ دویمې حصه سره معارض ده. ځکه چه په ړومبې حصه کښې "فلایبرك كما يبرك البعير" الفاظ دی حالانکه اوښ چه کله کینی نو اول زنګونه ایږدی بیاکینی. دَدې الفاظونه پس "وليضع يديه قبل ركبتيه" الفاظ دَدې مخالف اومعارض دی. په دې وجه محدثین فرمائی چه دلته یوراوی ته بیانولوکښې وهم شوې دې اوهغه "يديه" په رکبتیه باندې مقدم کړې دې. که چرې اصل عبارت واخستې شی او رکبتیه مقدم کړې شی نودَ ابوهریره رضي الله عنه دَ روایت تعارض به په خپل مینځ کښې هم ختم شی اودَ وائل بن حجر رضي الله عنه روایت سره به ئی هم تعارض ختم شی. بهرحال په کوم روایت کښې چه دومره علتونه پټ پراته وی هغه دَ حضرت وائل رضي الله عنه دَ روایت مقابله نشی کولې.

④ دَحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت دَ معذوردَپاره دې او په دې کښې دَچا اختلاف نشته او معذوره حضرات هم داسې عمل کوی او دَهغوی نه بنه هم ښکاری دَ غیرمعذورنه دا عمل بالکل بنه نه لګی او سنت طریقه هم هغه وی چه په کتلوکښې هم بنه لګی.

دَ مشکوة په نسخه کښې هم صاحب مشکوة دَ حضرت ابوهریره رضي الله عنه دَ روایت دوه جوابونه ورکړی دی چه دا یا منسوخ دې یا معلول غیرقوی دې اودَ وائل روای اثبت اوقوی دې.

د دویم فریق دلیل: – زیربحث دَحضرت ابوهریره رضي الله عنه حدیث د دوی مستدل دې. امام مالك رحمه الله فرمائی دَ ابوهریره رضي الله عنه دا حدیث قولی دې او وائل بن حجر رضي الله عنه حدیث فعلی دې او اوصول دادې چه کله دَ قول الرسول صلى الله عليه وسلم او فعل الرسول صلى الله عليه وسلم مقابل اوشی نو قول ته به ترجیح ورکولې شی.

۹۰۰– د دواړو سجدو په مینځ کښې مسنون دعا

۹۰۰– ( )[۱۴] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② "«كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: ③اللَّهُمَّ اغْفِرْلِي، وَارْحَمْنِي، ④وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي» رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنه فرمايي② چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دواړو سجدو په مینځ کې دا دعا کوله: ③ اللَّهُمَّ اغْفِرْلِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي، اي الله ما وبخښي په ما رحم وکړي ④ ماته هدایت وکړي د دواړو جهانو دبلاګانو او ظاهري او باطني امراضو څخه ما محفوظ اولري او ماته رزق عطا کړي. (ابوداؤد، ترمذي)

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب الدعاء بين السجدتين(رقم–۸۵۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها باب ما يقول بين السجدتين (رقم –۸۹۸) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول بين السجدتين (رقم–۲۸٤)

۹۰۱–د نبی علیه السلام د دوؤ سجدو په منځ کښې دعا

۹۰۱–()[۱۵] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ: [۳] "رَبِّ اغْفِرْلِي» ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت حذيفه رضی الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د دواړو سجدو په مينځ کې دا دعا کوله [۳] رَبِّ اغْفِرْلِيْ، يعنی اي زما پروردګاره ما وبخښې، (نسايي، دارمي)

تسهيلات:-

قوله: كَانَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ:

نوټ:–د ظاهر احاديثو څخه هم دا معلوميږي چې د نبی کريم ﷺ دا دعاګانې په فرضو او نوافلو دواړو کښې وې د احنافو په نيز په فرائضو کښې اوږدې دعا ګانې نه دی کول پکار خو که مختصرې دعاګانې وی نو په هغې کښې څه قباحت نشته چې د مقتديانو د تنګيدو سبب نه وی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۹۰۲–په سجده کښې د جلتی ممانعت

۹۰۲–()[۱۶] [۱] عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ، قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَقْرَةِ الْغُرَابِ [۳] وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ، [۴] وَأَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ [۵] كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] عبدالرحمن ابن شبل رضی الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ د کارغه پشان منبو که وهلو [۳] او د درندګانو په شان لاسونه غوړولو څخه منع فرمايلي ده [۴] (او د دې څخه يې هم منع فرمايلي ده چې) يو سړي په مسجد کې ځان لپاره ځاي مقرر کړي [۵] څنګه چې يې اوبن مقرر کوي، (ابوداؤد، نسايي، دارمي)

حل اللغات:- ① نَقْرَة: وَضَعَ الْغُرَابُ مِنْقَارَهُ فِيمَا يُرِيدُ أَكْلَهُ: د خوراک دپاره د کارغه ټونګې وهل. ② افْتِرَاشِ السَّبُعِ: وَهُوَ أَنْ يَضَعَ سَاعِدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ فِي السُّجُودِ: څنګه چه ځناور خپلې مخکښۍ خپې په اوږدوالی خوره وی. ③ يُوَطِّنَ: ځان دپاره ځاۍ مقرر کوی.

تسهيلات:-

قوله: عن نَقْرَةِ الْغُرَابِ:

---

(۱) اخرجه النسائي كتاب التطبيق /باب الدعاء بين السجدتين (رقم–١١٤٥) وابود اود كتاب الصلاة،باب ما يقول الرجل في ركوعه وسجوده(رقم–٨٧٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ،باب ما يقول بين السجدتين (رقم –٨٩٧)

(۲) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب صلاة من لا يقيم صلبه فى الركوع والسجود(رقم–٨٦٢) والنسائى كتاب التطبيق /باب النهى عن نقرة الغراب (رقم١١١٢) وابن ماجة باب ما جاء فى توطين المكان فى المسجد يصلى فيه (رقم–١٤٢٩)

په سجده کښې د عجلت ممانعت: -مرغنی چه کله دانه راټوله وی نو ټونګه وهی. دلته مراد دادې چه سجدې ته زر زر تلل او زر واپس راتلل منع دی دا دَ کارغه دَ دانې راغونډولو په شان دی. په آرام او تسلئی سره عمل کول پکاردی.

قوله: وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ: دَدې تشریح په حدیث نمبر ۸۸۸ کښې تیره شوې ده هغې ته رجوع اوکړئ.

په مانځه کښې د حیواناتو هیئت اختیارولو ممانعت: -

① افتراش السبع: د درنده پشان کیناستل.
② افتراش الکلب واقعاء الکلب د سپی پشان کیناستل
③ بروك البعير د اوښ په بشان کیناستل
④ التفات الثعلب د لومبړ پشان یوخوا بل خوا کتل.
⑤ نقرة الديك د چرګ پشان ټونګې وهل.
⑥ نقرة الغراب د کارغه پشان ټونګې وهل.
⑦ عقبة الشيطان د شیطان پشان په پوندو باندې ناسته کول
⑧ رفع الايدي كاذناب خيل شمس د اسونولکي اوچتول پشان کیفیت اختیارول
⑨ دبيح الحمار په رکوع کښې دَ خره شان سربنکته کول

قوله: وَأَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ:

دمانځه دپاره په جمات کښې د یوځائې خاص کولو ممانعت: -اوښ چه کوم ځائی کینی نوهم هغه ځائی دَخپل ځان دَپاره خاص کولوسره بل اوښ هلته په کیناستو نه پریږدی. داسې په جمات کښې نه دی کول پکار چه یومونځ ګذار په جمات کښې دَخپل ځان دَپاره یو ځائی خاص کړی چه بل څوك به هلته نه کینی دا مکروه اوممنوع دی. لکه چه په جماتونو کښې بعض نامور خلق داسې کوی یادَ نامور جوړیدودَپاره داسې کوی. جمات خویو وقف ځائی دې کوم مونځ ګذارچه وړاندې راغلو هم هغه ته حق حاصل دې چه چرته کیناستل غواړی کینی دې.

د مانځه دپاره د لباس خاص کولو حکم: ملا حلوانی رحمه الله فرمائی چه دغه شان دَ یومونځ ګذار دَپاره دا هم ممنوع اومکروه دی چه هغه دَ مانځه دَ پاره یوخاص لباس او خاص کپړه متعین کړی اودا خیال کوی چه دې نه علاوه به په بله کپړه کښې مونځ نه کیږی.

۹۰۳- د دواړو سجدو په منځ کښې د اقعاء څخه ممانعت

۹۰۳-(¹)[۱۷] ① وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② يَا عَلِيُّ إِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي، ③ وَأَكْرَهُ لَكَ مَا أَكْرَهُ لِنَفْسِي، ④ لَا تُقْعِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

(1) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة الإقعاء بین السجدتین (رقم-۲۸۲)

ترجمه: [۱] حضرت علي کرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] اې علي (رضي الله عنه) کوم شي چې زه د خان د پاره محبوب ګڼم هغه شي ستا د پاره هم محبوب ګڼم [۳] او کوم شي چې د خان د پاره نه خوښوم هغه شي ستا د پاره هم نه خوښوم [۴] د دوو سجدو په مینځ کې اقعاء مه کوه. (ترمذي)

حل اللغات:- ① لَاتُقْعِ: د اقعاء نه دي، الْإِقْعَاءُ أَنْ يُلْصِقَ أَلْيَتَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ، وَيَنْصِبَ سَاقَيْهِ، وَيَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى الْأَرْضِ كَالْكَلْبِ: اقعاء دې ته وائي چې دواړه کناتي په زمکه پورې پيوست کړي اودواړه پندۍ پورته کړي اودواړه لاسونولکه د سپي پشان په زمکه کيږدي.

تسهیلات:-

قوله: لَاتُقْعِ:

د دواړو سجدو په مینځ کښې د اقعاء ممانعت:- رسول الله ﷺ خود ټولو جهانونو د پاره ټول رحمت وو ليکن د خپل امت د پاره خو حضورپاك ﷺ "رؤف رحيم" وو. هم په دې رنړا کښې چه کوم څيز حضورپاك ﷺ د خپل خان د پاره خوښ کړي هم هغه څيز ئې د امت د پاره خوښ کړي دي. اوکوم څيز ئې چه پخپله ناخوښه کړي دي د امت د پاره ئې هم ناخوښه کړي دي. بيا د اهل بيت معامله د عام امت په نسبت څه زيات خاص وه. که امت ته ئې په رخصت باندې د عمل کولو اجازت ورکړې دې نو اهل بيت ته ئې د عزيمت حکم ورکړې. هم په دې سلسله کښې د حضرت علي رضي الله عنه سره دا مکالمه ده. د دې خلاصه دا ده چه د دوو سجدو په مينځ کښې د اقعاء نه بچ شه.

د اقعاء دوه صورتونه:- ① د اقعاء مشهور صورت دا دې چه د سجدو په مينځ کښې يا قعده کښې سرې په کوناټو باندې کينې او دواړه زنګونونه او پنډۍ ولاړې وي او لاسونه ئې په زمکه باندې کيخودې وي. لکه څنګه چه سپې په زمکه باندې کينی د اقعاء صحيح اومشهوره معنی هم دا ده.

② بعضي علماؤ دې ته هم اقعاء وئيلې ده چه يو مونځ ګذار د سجدو په مينځ کښې يا د قعدې په حالت کښې داسې کينی چه د خپو پنجې په زمکه باندې کيږدی او په ګيټو باندې کوناټې کيږدی کينی او لاسونه ئې زنګونوسره په فتونونو باندې وي. بهرحال د اقعاء هر يو صورت په مانځه کښې مکروه دې ځکه چه دا د سپو او ليوه ګانوسره مشابهت دې.

۹۰۳- په رکوع او سجده کښې د ملا ليغې ساتلو حکم

۹۰۳- ( )[۱۸] [۱] وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ الْحَنَفِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى صَلَاةِ عَبْدٍ [۳] لَا يُقِيمُ فِيهَا صُلْبَهُ بَيْنَ رُكُوعِهَا وَسُجُودِهَا» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

(۱) احمد فی المسند ۲۲/٤

ترجمه:[۱] طلق ابن علي حنفي رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] الله بزرگ او برتر د هغه بنده و لمانځه ته نه ګوري [۳] چې د خپل مونځ په سجده او رکوع کې خپله ملا نه سيده کوي. (احمد)

حل اللغات:- ① صُلْبَهُ: صلب ملا (شا) ته وائي.

تسهيلات:-

قوله: لَايَنْظُرُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ:

مونځ کښې د لاپرواهۍ سزا: دَ رحمت په نظربه ورته الله تعالى نه ګوری اوپه مانځه کښې دَ رحمت نازليدل به په داسې سړی باندې نه نازليږی چه په مانځه کښې داسې بې پروائی کوی اودَ مانځ دَ آدابوخيال نه ساتی داسې عبادت دَ قبوليت اوچت مقام ته نه شی رسيدلې. بلکه دَ قبوليت دَپاره به الله تعالى دَدې طرف ته نه ګوری. چونکه سجده او رکوع دَ مانځه په ارکانوکښې دَ ټولو نه زيات اهم ارکان دی که په دې کښې نقص راشی نو پوره مونځ ناقص کيږی په دې وجه دَ سخت وعيدحکم راغلو.

قوله: لَايُقِيمُ فِيهَا صُلْبَهُ بَيْنَ رُكُوعِهَا وَسُجُودِهَا:

د تعديل ارکان اهميت: دلته په قومه کښې ملانيغول اوتعديل ارکان په صحيح شان سره ادا کولوباندې تنبيه ده. "سجودها" يعنی په جلسه کښې په تسلئی سره کيناستل پکاردی هغه داسې چه ټول اندامونه په خپل ځائی راشی. [المرقات: ۲/۶۲۲].

۹۰۵–د دوارو لاسونو سجده کول

۹۰۵–()[۱۹] [۱] وَعَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ [۲] "مَنْ وَضَعَ جَبْهَتَهُ بِالْأَرْضِ [۳] فَلْيَضَعْ كَفَّيْهِ عَلَى الَّذِي وَضَعَ عَلَيْهِ جَبْهَتَهُ، [۴] ثُمَّ إِذَا رَفَعَ فَلْيَرْفَعْهُمَا، [۵] فَإِنَّ الْيَدَيْنِ تَسْجُدَانِ كَمَا يَسْجُدُ الْوَجْهُ"، رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه:[۱] نافع رحمه الله راوي دي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايي[۲] چې کوم سړي چې خپل تندي په زمکه کيږدي (يعني سجده کوي)[۳] نو هغه ته پکار دي چې خپل دواړه لاسونه هم په زمکه هلته کيږدي چرته چې تندي يي ايښي دي[۴] بيا چې د سجدي څخه پورته کيږي نو خپل دواړه لاسونه دي هم اوچت کړي[۵] ځکه څنګه چې مخ سجده کوي د غسي دواړه لاسونه هم سجده کوي. (مالك)

تسهيلات:-

قوله: فَلْيَضَعْ كَفَّيْهِ عَلَى الَّذِي وَضَعَ:

دسجدې کولو مسنون کيفيت:–په مانځه کښې کله مونځ ګذارسجدې ته ځی نودَهغه ټول

---

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب قصر الصلاة فی السفر ، باب وضع اليدين على ما يوضع عليه الوجه فی السجود(رقم-۶۰) وابوداود کتاب الصلاة،باب أعضاء السجود (رقم-۸۹۲)

اندامونه په سجده کښې شرکت کوی نود لاسونو هم سجده کیږی. هم دا بنائی چه کله لاسونه سجده کوی نودا د تندی په مخې کښې داسې نیغ کیخودل پکاردی که د غوږونو نه څه خیز پریوځی نوچه هغه د لاسونو په شاباندې پریوځی

په سجده کښې دلاسونوکیخودو په محل کښې مذاهب:-

①داحنافو په نیز نه دې لاسونه څیټې اواوګوسره وی اونه دې د سر نه وړاندې وی بلکه چه سریه مینځ کښې وی او لاسونه دې په کناروباندې وی. د احنافو مسلك هم دغه دې لکه څنګه چه په دې حدیث کښې دی دغه شان کیخودل پکاردی.

② شوافع حضرات اوګوسره د لاسونوکیخودل بهتر ګرځوی.

د اول فریق دلیل:- ظاهر د حدیث د احنافو دلیل دې،

په حدیث کښې تاویل:- د دویم فریق په حدیث تاویل کوی نورهغوی سره څه دلیل نشته هغه دا چه په دې حدیث کښې داخودلې شی چه څنګه ئی تندې په زمکه کیخودې دې هم دغه شان اوګوسره لاسونه هم د قبلې طرف ته ایږدئی دې د پاره چه د دې هم سجده اوشی.

[۳۲/۱۵]بَابُ التَّشَهُّدِ

د تشهد بیان

خلاصة الباب:-

فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① كيفية القعدة: ۱، ۵، ۸۔

② الإشارة بالسبابة: ۱، ۲، ۵، ۶، ۷، ۱۱۔

③ التشهد في القعدة: ۳، ۴، ۱۰۔

④ تعجيل القيام عن التشهد: ۹۔

⑤ إخفاء التشهد : ۱۲۔

د تشهد لغوی معنی:- تشهد په لغت کښې ګواهی ورکول ،ګواه جوړیدل او په عرف کښې کلمه شهادت وئیل دی.

دتشهد شرعی تعریف:- په شریعت کښې التحیات وئیلو ته تشهد وائی ځکه چې په دې کښې د الله تعالی د وحدانیت او د نبی کریم صلی الله علیه وسلم رسالت ګواهی ورکولې شی.

دتشهد پس منظر:- تشهد په حقیقت کښې د الله تعالی او رسول الله په مینځ کښې هغه مکالمه ده کومه چې په شب معراج کښې د اووه آسمانونوڅخه پورته شوې وه.نبی کریم ﷺ اول اوفرمائل ((التحيات لله والصلوات والطيبات)) نو د الله تعالی د طرفه جواب ملاؤ شو((

السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته)) نو رسول الله ﷺ په جواب كښې عرض اوكړو.((السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين)) نوحضرت جبريل عليه السلام اوفرمائيل ((اشهدان لااله الاالله واشهدان محمداعبده ورسوله)) د دې درې واړه مجموعې ته التحيات وائي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۹۰۶-په تشهد كښې د لاسونو كيخودلو مسنون طريقه

۹۰۶ – ()[۱]۱عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ:۲كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ،۳وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى،۴وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى،۵وَعَقَدَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ،وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ.

ترجمه:۱ ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي۲ چې رسول الله ﷺ چې به په تشهد (يعني په التحيات) كې كيناستلو ۳ نو خپل كس لاس به يې په كسه ګونډه ايښودو ۴ او خپل ښي لاس به يې په خپله ښي ګونډه ايښودو۵ او خپل ښي لاس په مثل د درې پنځوس بندولو سره د شهادت په ګوتې سره به يې اشاره كوله

حل اللغات:- ۱ عَقَدَ: عقد په معنى د شمير سره دې، دلته هم د يوخاص عدد علامت جوړول مراد دي.

۹۰۷–()[۲]۱وَفِي رِوَايَةٍ: «كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ،۲وَرَفَعَ أُصْبُعَهُ الْيُمْنَى الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ فَيَدْعُو بِهَا،۳وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ، بَاسِطَهَا عَلَيْهَا»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:۱ او د يو روايت الفاظ دا دي چې كله به حضور ﷺ (په قعده كې) كيناستل نو دواړه لاسونه به يې په خپلو ګونډو ايښودل۲ او د خپل ښي لاس هغه ګوته چې بټې ګوتې ته نزدې ده (يعني د شهادت ګوته به يې) پورته كوله او د هغې سره به يې دعا غوښتله (يعني د هغې په پورته كولو سره د وحدانيت اشاره به يې كوله)۳ او كس لاس به يې په خپل ورون ايښودلو خلاص. (مسلم)

حل اللغات:- ۱ الْإِبْهَامَ: مته ګوته، غټه ګوته. ۲ فَيَدْعُوبِهَا: أَيْ: يُهَلِّلُ: دعا به ئې غوښتله (يعنى لا اله الاالله وئيلو سره به ئې اشاره كوله). ۳ بَاسِطَهَا: باسط د اسم فاعل صيغه ده أَيْ: نَاشِرَهَا: خوري. پرانستې (به ئې ايښودلو كس لاس په زنګون باندې).

تسهيلات:- قوله: وَعَقَدَ ثَلَاثَةً وَخَمْسِينَ:

---

(۱) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة باب صفة الجلوس فى الصلاة، وكيفية وضع اليدين على الفخذين (رقم ۱۱۵ - (۵۷۹)

(۲) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة باب صفة الجلوس فى الصلاة، وكيفية وضع اليدين على الفخذين (رقم ۱۱٤ - (۵۷۹)

په تشهد کښې په زنګونانو ګوتو کېخودلو په کیفیت کښې مذاهب:-

① حضور پاك ﷺ دَ ۵۳ دَعدد نشان جوړکړو هغه داسې ده چه مثلاً تولې ګوتې ئې بندې کړې صرف دَ شهادت ګوته ئې کولاؤ پریخوده اودَ غټې ګوتې سر ئې دَ شهادت والادَ ګوتې په بیخ کښې کېخوده دادَ درې پنځوس عدد دې اوهم دغه طریقه شوافع حضراتوخپله کړې ده کوم چه دَامام شافعي رحمه الله جدید قول دې.

② دَامام مالك رحمه الله په نیزدَ لاس تولې ګوتې بندول اودَ شهادت په ګوته سره اشاره اوکړې شي

③ احنافو تعین یعنی لس کم سل عدداختیارکړې دې هغه داسې چه خنصر بنصر هغه یعنی کچه ګوته اودې سره نیزدې ګوته ئې بنده کړه اودَ غټې ګوتې او مینځمې ګوتې حلقه ئې جوړه اودَ شهادت په ګوته سره ئې اشاره اوکړه هم دغه طریقه دَامام احمد رحمه الله هم ده اودَ امام شافعي رحمه الله قدیم قول هم دغه شان دې

④ دَ بعض روایاتونه څلورمه طریقه هم معلومه شوې ده هغه داسې چه تولې ګوتې خورې کړې شی اودَ شهادت په وخت دَ شهادت ګوته سره اشاره اوکړې شی بعض احناف په دې طریقه هم عمل کوی.اووړاندې دَ مسلم شریف په روایت کښې هم دغه طریقه ذکرده.

داحنافوپه متونوکښې د اشاره بالسبابه عدم ذکر:- د احنافو په ظاهر الروایة او متونو معتبرو کښې داشاره بالسبابه ذکر نه ملاویږی نه اثباتا او نه نفیا ، ددې په بناء بعضې متاخرین اشاره بالسابه غیر مسنون ګرځولې ده.بلکه خلاصه کیدانی خو دا بدعت ګرځولې ده.او بعضې حضراتو خو ډیر زیات د تشدد او انتهاء نه کار اخستې دې.او دې مسئله کښې ئې د بحث کولو نه پس تردې وئیلې دی چه ((ماراقول ابوحنیفه رحمه الله باید قول رسول الله ﷺ کافی نیست)) العیاذ بالله

د اشاره بالسبابه مسنونیت:- حال دادې چه واقعه داد ه چه داشاره بالسبابة په مسنون کیدو کښې یو زره هم شك نشته دې ځکه چه ددې روایتونه حد د شهرت ته رسیدلې دې ترکومې چه داحنافو د ظاهرالروایة په کتابونو د اشاره بالسبابة د عدم ذکر تعلق دې نو ددې په وجې په احادیث صحیحو عمل ترك کول څنګه صحیح نه دی.ځکه چه زیات نه زیات دا عدم ذکر دې او عدم ذکر عدم الشئ لره مستلزم نه وی.داشان پخپله امام محمد په موطا کښې (1) داشاره بالسبابة حدیث ذکر کړې دې او فرمائیلی ئې دی چه((قال محمد و لصنیع رسول الله ﷺ نأخذ وهو قول ابی حنیفة)) ددې تصریح نه پس هیڅ قسم شبه نشی پاتې کیدې.

دخلاصه کیدانی عدم اعتبار:- پاتې شوه دخلاصه کیدانی خبره نو هغه د فقه حنفی څه

(1) ص،۱۰۸، ۱۰۹ باب العبث بالحصی فی الصلاة وما یکره من تسویته ۱۲ مرتب

معتبر کتاب نه دې بلکه ددې مصنف هم غیر معروف دې ، علامه شامی په ((شرح عقود رسم المفق)) کښې لیکی چه صرف ددې کتاب په کتلو فتوی ورکول جائز نه دی.

د خلاصه کیدانی د مصنف په باره کښې د علمائو اقوال: ①علامه ابن همام رحمه الله لیکی که دَ خلاصه کیدانی دَ مصنف په کلام کښې دَ تاویل گنجائش نه وي نوموړي به په دغه سړی دکفرفتوی لگولې. تاویل داکیدې شی چه هغه دَ کاهل الحدیث لفظ ا ستعمال کړې دې اواهل حدیث گونه تاووی.

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی که حسن ظن نه وې نودَ دغه سړی په کلام کښې دکفرخطره ښکاری. [المرقات.

په اشاره بالسبابه کښې د مجدد الف ثانی رائې:- په اصل کښې دمنکرین اشاره ته چه کوم شخصیت دفتوی د تولو نه زیات تقویت ملاؤ شوې دې هغه حضرت مجدد الف ثانی رحمه الله دې.هغوئ په خپل کتاب مکتوبات کښې د اشاره بالسبابة دسنت کیدو نه انکار کړې دې او په دې ئې طویل بحث کړې دې چه دهغې خلاصه دا ده چه اشاره بالسابة احادیث مضطرب المتن دی ځکه چه داشارې د هیئتونو په بیان کښې سخت اختلاق موندې شی. او که د اضطراب په بناء احناف دقلتین حدیث رد کولې شی نو داشاره بالسبابة احادیث هم په دې بناء رد کیدې شی.

د مجدد الف ثانی تفرد:-خو داحنافو خبره داده چه دحضرت مجددد الف ثانی رحمه الله دجلالت قدر او د علو شان سره ددوی په دې مسئله کښې تائید نشی کیدې.((لان الحق ان الحق لیس معه فی هذه المسئلة))

د مجدد الف ثانی د اضطراب د دعوې تردید:-شاه ولی الله لکه حضرت شاه صاحب رحمه الله دحضرت مجددالف ثانی رحمه الله د استدلال په جواب ورکولو کښې فرمائی چه دهیئت د اشارې باره کښې چه روایتونو کښې کوم اختلاف دې هغې ته اضطراب نشی وئیلې کیدې ځکه چه اضطراب هله وی چه کله حدیث مبارك یو وی او د هغې په الفاظو کښې څه ناقابل تطبیق اختلاف موندې شی.او دلته دا صورت نشته دې ځکه چه دا اختلاف دیو حدیث دالفاظو اختلاف نه دې بلکه دمتعدد صحابه کرام رضی الله عنهم د روایتونو اختلاف دې.اوددې اختلاف په بناء د ټولو روایتونو دا قدرمشترك رد کیدې نشی چه اشاره فی التشهدمسنون ده.اوددې قدر مشترك ثبوت په شهرت سره هم دې.ددې نه سوا ددې په سنت کیدو اجماع هم ده.

د مختلفو هیئتونوجه:بیا ترڅو چه ددې د مختلفو هیئتونو تعلق دې په حقیقت کښې دواقعاتو او دزمانې اختلاف دې.چه کله دوی په یو هیئت سره اشاره کړېده او کله په بل هیئت سره.دې اصطلاح ته د محدثینو د اصطلاح مطابق اضطراب نه وئیلې کیږی.

د اشاره بالسبابه د تولو طريقو جواز:- اوداشاري چه کوم هينتونه په احاديث مبارکاو کښې ثابت دی په هغې کښې په هر يو عمل کول جائز دی.خو خمونږ په نزد ترجيح دې ته حاصله ده چه د متې اومينځنۍ گوتې نه يو حلقه جوړه شی او په سبابه به اشاره اوکړې شی.

داشاره بالسبابة مختلف کيفيتونه: ①چه کله مونځ گذار دکلمه شهادت مقام ته راورسی نو "لااله" نفی باندې دې گوته اوچته کړی دې دپاره چه نفی قولی سره نفی عملی شامل شی.

② شوافع اوحنابله فرمائی چه "الاالله" اثبات باندې گوته اوچتول بهتر دی

③ دا هم جائزدی چه په قاعده باندې کيناستوسره سرې دښی لاس گوتې د شهادت دپاره بنداوساتی

④ دا هم جائزدی چه په شهادت باندې رسيدوسره گوتې بند کړی اوبيا اشاره اوکړی

⑤ د اشاره نه پس گوته لاندې کيخودل هم جائز دی

⑥ د سلام پورې اوچته ساتل هم جائزدی. اوحلقه ماتول صحيح نه دی.

۹۰۸—په مانځه کښې د ناستې طريقه

۹۰۸—()[۲][۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]«كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ يَدْعُو[۳] وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى،[۴] وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى،[۵] وَأَشَارَ بِأُصْبُعِهِ السَّبَّابَةِ،[۶] وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلَى أُصْبُعِهِ الْوُسْطَى،[۷] وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرَى رُكْبَتَهُ»، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] عبدالله ابن زبير رضي الله عنه فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ چې به په لمانځه کې التحيات ويلو د پاره کيناستو[۳] نو خپل ښي لاس به يي په خپل ښي ورون[۴] او خپل گس لاس به يي په خپل گس ورون اينبودلو[۵] او د شهادت په گوتې سره به يي اشاره کوله[۶] او خپله بټه گوته به يي په مينځني گوتې اينبودله (يعني دغسې به يي حلقه جوړوله) او کله کله به خپل گس لاس سره به ئې گسه گونډه نيوله. (مسلم)

حل اللغات:- ② يُلقِمُ: أي: يُدْخِلُ رُكْبَتَهُ فِي رَاحَةِ كَفِّهِ الْيُسْرَى: يعنی په خپل گس لاس سره به ئې گسه گونډه نيوله.

تسهيلات: - قوله: إِذَا قَعَدَ يَدْعُو:

يعنی هغوئ به تشهد وئيلو. امام طيبی رحمة الله عليه فرمائی چې دلته ئې د تشهدنه په دعا سره تعبير اوکړو ځکه چې په دې کښې دعائيه کلمات دی: السلام عليك ،او السلام علينا.

د تعارض اشکال: دې حديث پاك کښې راغلی دی چې نبی کريم ﷺ خپل ځنگونونه خپلو لاسونو سره مضبوط نيول. او ماقبل حديث پاك نه معلوميږی چې نبی کريم ﷺ به د ځنگونونو دپاسه لاسونه مبارك اينبودل؟

(۱) مسلم : كتاب المساجد ، باب صفة الجلوس فى الصلاة ۱۴/ ۹۰ حديث : ۱۳۳۶)

د اشکال درې جوابونه :-

① اوّل حدیث د سند لحاظ سره د دویم حدیث د سند نه راجح دې.

② ګوتې به ئې د زنګونونو په محاذاتو کښې وې. خو راوی د قرب په وجه داشان ذکر کړی دی. ③ دا په احیانًا باندې محمودل دی چې کله کله به ئې زنګونو دپاسه لاس مبارك اینبوذلو او کله کله به ئې زنګونونه نیول. لهذا افضل دادې چې د زنګونونو دپاسه لاس کیخودلې شی ،حالت به د ګوتو داشان وی چې په خپل حالت سره خورې وی.

۹۰۹-د تشهد (التحیات) ولیلو طریقه

۹۰۹-(۱)[۳] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ «كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا: ٣ السَّلَامُ عَلَى اللّٰهِ قَبْلَ عِبَادِهِ، ٤ السَّلَامُ عَلَى جِبْرَائِيلَ، ٥ السَّلَامُ عَلَى مِيكَائِيلَ، ٦ السَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ، ٧ فَلَمَّا انْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ، ٨ قَالَ: "لَا تَقُولُوا: السَّلَامُ عَلَى اللّٰهِ، فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ السَّلَامُ،

ترجمه : ١ عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي ٢ کله چې به مونږ د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو نو په قعده کې د التحیات په ځاي به مونږ دا کلمات ويل ٣ اَلسَّلَامُ عَلَى اللّٰهِ قَبْلَ عِبَادِهِ اَلسَّلَامُ عَلٰى جِبْرِیْلَ اَلسَّلَامُ عَلٰى مِیْکَائِیْلَ اَلسَّلَامُ عَلٰى فُلَانٍ، په الله باندې سلام دې د هغه د بنده ګانو باندې د سلام نه مخکې ٤ په جبرائیل علیه السلام باندې سلام دې ٥ په میکائیل علیه السلام باندې سلام دې ٦ او په فلان (یعني په فرشتو کې په یوې فرشتې باندې یا په انبیاء وکې په یو نبي باندې) سلام دې ٧ (یوه ورځ) چې رسول الله ﷺ د لمانځه ځخه فارغ شو نو مونږ ته متوجه کیدو سره یې وفرمایل ٨ په الله باندې سلام مه وایئ ځکه چې الله (خو په پخپله) سلام دې (یعني د پروردګار ذات د ټول آفاتو او نقصاناتو ځخه محفوظ او سالم دې هغه بنده ګانو ته د ټولو ظاهري او باطني آفاتو او نقصاناتو ځخه سلامتي ورکوي نو د هغه د پاره او د هغه د طرف ځخه سلامتي ثابت ده ځکه د سلامتي دعا د هغه چا د پاره کول پکار دي چې هغه ته د نقصاناتو او آفاتو ویره وي او هغه د سلامتي محتاج وي)

١ فَإِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ، فَلْيَقُلْ: ٢ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ، وَالصَّلَوَاتُ، وَالطَّيِّبَاتُ، ٣ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، ٤ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ - ٥ فَإِنَّهُ إِذَا قَالَ ذٰلِكَ أَصَابَ كُلَّ عَبْدٍ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ - ٦ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ٧ ثُمَّ لِيَتَخَيَّرْ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ، ٨ فَيَدْعُوهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(۱) اخرجه البخاری کتاب الاستذان باب التشهد فی الآخرة (رقم ۸۳۱) ومسلم کتاب الصلاة - کتاب الصلاة ، باب التشهد فی الصلاة (رقم) ۵۵ - (۴۰۲) وابوداود کتاب الصلاة،باب التشهد(رقم-۹۶۸) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها ،باب ما جاء فی التشهد (رقم-۸۹۹) والنسائی کتاب التطبیق /باب کیف التشهد الأول (رقم-۱۱۶۸)

ترجمه: [۱] نو كله چې په تاسو كښې څوک د لمانځه په قعده كښې كينې نو دا كلمات دې وايي [۲] التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ، ټول تعريفونه او بدني عبادتونه (يعني مونځ وغيره) او مالي عبادتونه (يعني زكوٰة وغيره) د الله تعالىٰ جَلَّ جَلَالُهُ د پاره دي [۳] اې نبي ﷺ په تا دې سلام وي او د الله تعالىٰ جَلَّ جَلَالُهُ رحمتونه او بركتونه وي [۴] او په مونږ دې هم سلام وي او د الله تعالىٰ جَلَّ جَلَالُهُ په ټولو نيكانو بنده ګانو دې سلام (يعني سلامتي) وي [۵] رسول الله ﷺ وفرمايل چې كوم سړي چې دا كلمات وايي نو د دې بركت به د زمكې او آسمان هر نيک بنده ته رسي [۶] د دې وروسته رسول الله ﷺ دا كلمات په شهادتين ختم كړل (چې د ټولو اعمالو اصل او خلاصه ده چنانچې وي فرمايل) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ، زه د دې خبرې ګواهي وركوم چې د الله تعالىٰ جَلَّ جَلَالُهُ څخه سيوا بل معبود نشته او ګواهي وركوم چې محمد (ﷺ) د هغه بنده او رسول دې [۷] (بيا يې دا وفرمايل چې) د دې څخه وروسته چې كومه دعا بنده ته ښه لګيږي هغه دې اختيار كړي [۸] او د الله نه دې سوال اوكړي.
(بخاري، مسلم)

حل اللغات:- (۲) التَّحِيَّاتُ: جمع د تحية ده، ټول تعريفونه (دلته ترې لساني عبادتونه مراد دي). (۳) الصَّلَوَاتُ: جمع د صلوة ده، ددې نه بدني عبادتونه (مونځ وغيره) مراد دي. (۴) الطَّيِّبَاتُ: جمع د طيبة ده، ددې نه مالي عبادتونه (زكوة وغيره) مراد دي. (۵) أَصَابَ: أَيْ: أَصَابَ ثَوَابَ هٰذَا الدُّعَاءِ أَوْبَرَكَاتِهِ: يعني رسيږي ثواب او بركات ددې دعا. (۶) لِيَتَخَيَّرْ: د باب تفعل نه دې، معنىٰ ئې ده: اختيار دې كړي.

تسهيلات:- قوله: التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ:

درې الفاظ او درې توجيهات:-

(۱) "اَلتَّحِيَّاتُ" نه مراد عبادتونه قولي چه دي.

(۲) "وَالصَّلَوَاتُ" نه عبادتونه بدني مراد دي.

(۳) دَ "وَالطَّيِّبَاتُ" نه او عبادتونه مالي مراد دي.

دتشهد مفهوم:- مطلب داچه زما قولي عبادتونه خاص دَ الله تعالىٰ دَپاره دي او زما بدني عبادتونه هم دَ الله تعالىٰ دَپاره دي او زما مالي عبادتونه هم دَ الله دَپاره دي يعنې دَهر قسم عبادتونه هم دَ هغه دَپاره دي.

قوله: اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ:

د نبي عليه السلام په شپ معراج كښې د الله تعالىٰ سره مكالمه:- حقيقت دادې چه خطاب په اصل كښې دَ الله تعالىٰ دَ طرفه دې چه په شپه دَ معراج كښې حضورپاك ﷺ ته شوي دې. قصه داسې پيښه شوه چه په شپه دَمعراج كښې كله حضورپاك ﷺ ته دَ الله تعالىٰ سره

دکلام کولو شرف حاصل شو نو الله تعالی اوفرمائیل چه کله یوحبیب بل حبیب له خپل نوهغه څه تحفه اخلی ورځی تازما دپاره څه تحفه راوړلي ده. حضورپاك ﷺ په جواب کښې اوفرمائیل "التحیات لله الخ" دا جواب خودېر عظیم وو دَدې په بدله کښې الله تعالی اوفرمائیل "السلام علیك ایها النبی ورحمة الله وبرکاته" دا خودېر لوئی اعزاز او اکرام او انعام وو په دې وجه حضورپاك ﷺ خپل امت په دې کښې شامل کولوسره اوفرمائیل "السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین" دادَ امت لو په همدردی وه اودا پوره مکالمه ډېره مناسب وه په دې باندې جبرائیل امین دَ نبی دَ شان اعتراف کولوسره اوفرمائیل "اشهدان لااله الاالله واشهدان محمدعبده ورسوله" دې پوره مکالمې ته کتلوسره څوك دا وئیلی شی چه دا خطاب زمونږ دَ طرف نه دې په حقیقت کښې مونږ دامکالمه نقل کوو کومه چه په شپه دَمعراج کښې دَالله تعالی په حضور کښې شوې.

په سلام کښې د خطاب صیغې استعمالولو وجه: – عمدة القاری کښې علامه بدرالدین عینی رحمه الله فرمائی په اصل کښې حضورپاك ﷺ داکلام هغه صحابه کرامو ته اوخودلو کوم چه دَ حضورپاك ﷺ مخې ته وو. بیا دا کلام هغه صحابه کرامو واخستلو کوم چه غائب وو اودغه شان دا سلسله په غائبینو کښې روانه شوه. دَدې کلام مطلب هم دادې چه دا صیغه دَ حاضر اوناظر دَعقیدې لاندې نه ده بلکه دا په توګه دَ نقل او حکایت ده. علامه سیوطی رحمه الله او نور محدثین لکه کرمانی رحمه الله وغیره نقل کړی دی چه کله دَ حضورپاك ﷺ وصال اوشو نوصحابه کرامو به دې ځائی کښې "السلام علی النبی" وئیلو په کوم چه دَ حاضر سره خطاب په ځائی دَ غائب خطاب دې.

قوله: الصّالحین:

د صالحین مصداق: – دَدې قید لګولوسره هغه ټول خلق خارج شو کوم چه صالح نه وی بلکه غیرصالح وی. علماء فرمائی چه صالح سړې هغه دې چه دَ خالق اومخلوق حقوق په ځائی راوړی اودَ دواړو خیال ساتی.

څومره لویه خوش قسمتی ده دَ هغه خلقو چه صالحان دی ځکه چه دَ دنیا اولیاء الله اودَ حرمین شریفین دَ ائمه او فضلاء دعاګانې هغوی ته په مفتوکښې ملاویږی صرف چه دوی صالحان جوړشی.

۹۱۰–د رسول الله خپل امت ته د تشهد تعلیم ورکول

۹۱۰–(۲)[۳][۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

[۱] اخرجه مسلم كتاب الصلاة ، باب التشهد في الصلاة (رقم) ٦٠ - (٤٠٣) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء في التشهد(رقم-٢٩٠)

يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ[۳] كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ،[۴] فَكَانَ يَقُولُ: اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ[۵] الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ،[۶] اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ،[۷] اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ،[۸] أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ[۹] وَلَمْ أَجِدْ فِي "الصَّحِيحَيْنِ"، وَلَا فِي الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّحِيحَيْنِ: "سَلَامٌ عَلَيْكُمْ" وَ"سَلَامٌ عَلَيْنَا" بِغَيْرِ أَلِفٍ وَلَامٍ،[۱۰] وَلٰكِنْ رَوَاهُ صَاحِبُ "الْجَامِعِ" عَنِ التِّرْمِذِيِّ.

ترجمه: [۱] عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ به مونږ ته تشهد داسې ښودلو [۳] څنګه چې به يې راته د قرآن يو سورت ښودلو [۴] دغسې به يې ويل: اَلتَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلّٰهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ، ټول بركتناك تعريفونه[۵] او ټول مالي او بدني عبادتونه د الله د پاره دي[۶] اې نبي ﷺ په تا سلام او د الله رحمتونه او بركتونه دي وي[۷] په زمونږ دي هم سلام وي او د الله په نيكو بنده ګانو دي هم سلام وي[۸] زه د دې خبرې ګواهي وركوم چې د الله څخه سوا بل معبود نشته او ګواهي وركوم چې محمد ﷺ د الله رسول دي، مسلم،[۹] او د مشكوٰة مؤلف فرمايي چې ما نه خو په صحيحين (په بخاري مسلم كې) او نه په جمع بين صحيحين كې لفظ سَلَامٌ عَلَيْكَ او سَلَامٌ عَلَيْنَا بغير الف لام موندلي دي[۱۰] البته داسې صاحبِ جامع الاصول د ترمذي په حواله نقل كړي دي.

تسهيلات:-

قوله: يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ:

درې مشهور تشهدات:- قعده اولى واجب ده او قعده آخيره په مونځ كښې فرض ده. په دې دواړو قعدو كښې تشهد وئيلى كيږي. اوس سوال دادې چه د تشهد باره كښې لس روايتونه موجود دي په كوم كښې چه د مختلف تشهداتو ذكر دې. ليكن په مشهورو روايتونو كښې درې تشهد مشهور دي.

① تشهد بن مسعود رضي الله عنه　② تشهد ابن عباس رضي الله عنهما

③ تشهد عمر فاروق رضي الله عنه. چونكه په تشهد كښې د الله تعالى وحدانيت د ښه نه په ښه طريقه او انداز كښې ثابتول مقصود وى نو صحابه كرامو په مختلفو الفاظو كښې دا پيش كړي دي. هم دغه وجه ده چه د ټولو علماؤ په دې باندې اتفاق دې چه د صحابه كرامو په دور كښې به مختلف تشهدات لوستلې كيدل او مختلفو صحابه كرامو مختلف تشهدات وو دغه ټول جائز دى. په جواز او عدم جواز كښې اختلاف نه دې البته افضل غير افضل او اولى او غير اولى كښې اختلاف راغلي دې خبره صرف د ترجيحاتو ده. (الكاشف: ۴۲۲/۲).

دافضل تشهد په تعيين كښې مذاهب:-

① امام شافعي رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما تشهد ته افضل وئيلي دي او هغې ته ئې ترجيح

ورکړې ده.

④ حضرت امام مالک رحمه الله دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه تشهدته ترجیح ورکړې ده کوم چه په موطاکښې دې. دَدې تشهد صیغې دَ تشهدابن عباس رضي الله عنهما په شان دې.

③ امام ابوحنیفه رحمه الله دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تشهدته ترجیح ورکړې ده. اوحنابله هم احنافوسره دی.[المرقات: ۶۳۰/۲الکاشف: ۴۲۲/۲]

د تشهد ابن مسعود د ترجیح وجوهات:- ائمه احناف اوحنابله دَ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه تشهدته دَ یوڅو وجوهاتو دَ وجې ترجیح ورکړې ده:

① اول وجه امام ترمذی رحمه الله اعتراف کړې دې چه دَتشهدباره کښې دَ جمهور صحابه تابعین عمل دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَتشهدمطابق دې اودا حدیث په خپل مطلب بنې دَ ټولونه زیات اصح او واضح دې.

② دَخلقو دَ تعلیم دَپاره حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په منبر نبوی باندې هم دغه تشهدوئیلوسره اوروليې دې.

③ دَتشهد ابن مسعود رضي الله عنه دَ الفاظوپه نقل کولوباندې دَ ټول ائمه حدیث توافق اواتفاق دې.

④ حضورپاک صلی الله علیه وسلم پخپله خله مبارک باندې حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته حکم ورکړو چه دَدې تشهد تعلیم وړاندې امت ته ورکړه. بلکه حضورپاک صلی الله علیه وسلم په ډیر اهتمام سره دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه لاس نیولوسره په دې تشهد باندې پوهه کړو. چنانچه دا حدیث "مسلسل بأخذالید" په نوم سره مشهوردې. حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَ خپل شاګردلاس نیولوسره اوخودلو. تردې چه دَ امام ابوحنیفه رحمه الله استاذ حماد رحمه الله دَ امام صاحب رحمه الله لاس نیولوسره دَدې تشهدتعلیم ورکړو.

⑤ دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په تشهد کښې تجددعمل دې ځکه چه په دې کښې دوه ځل واؤ سره دکلام ذکرکړې شوې دې یعنی "التحیات لله والصلوة والطیبات لله" دَدې برعکس په نور تشهد کښې عطف نشته بلکه هم یوه جمله ده کومه چه صفاتوسره ذکرده.

⑥ دَ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دَ تشهد دَټولو نه لویه وجه دَ ترجیح دَمعراج حدیث دې. چرته چه حضورپاک صلی الله علیه وسلم دَ الله تعالی په وړاندې پخپله داکلمات ادا کړی دی کوم چه دَ عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روایت کښې دی.

عقل حیرانوکې واقعه:- دلته علماؤ یو زړه راښکونکې قصه لیکلې ده چه یوکلی وال حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله له راغلو او سوال ئې اوکړو "بِوَاوٍ اَوْبِوَاوَیْنِ" امام صاحب رحمه الله جواب اوفرمائیل چه "بِوَاوَیْنِ" "فقال بارك الله فيك كما بارك في لا ولا ثم ولى" دَ مجلس حاضرین په دې خبرو اترو باندې پوهه نه شو اودَ امام صاحب نه تپوس اوکړو چه دې کلی وال دَ څه تپوس اوکړو

او تاسو څه جواب ورکړو نو هيڅ پوهه نه شو. امام صاحب ورته اوفرمائيل چه دې سړي نيوس اوکړو چه زه کوم يوتشهد وايم آيا هغه اووايم په کوم کښې چه يو واؤ دې يا هغه اووايم کوم کښې چه دوه واؤونه دي. ما هغه ته جواب ورکړو چه دَ ابن مسعود رضي الله عنه والا تشهد وايه په کوم کښې چه دوه واؤونه دي. په دې باندې هغه دعااوکړه چه الله تعالى دې تادَ زيتون دَ ونې په شان مبارك کړي چه نه شرقي ده اونه غربي ده. په دې کښې دې طرف ته اشاره ده ﴿مِنْ شَجَرَةٍ مُّبٰرَكَةٍ زَيْتُوْنَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَّلَا غَرْبِيَّةٍ﴾ [سورت النور: ۳۴]

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

۹۱۱- داشارې په وخت مسبحې ګوتې ته حرکت ورکول

۹۱۱-(۱)[۵] ١ عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ «ثُمَّ جَلَسَ، فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى، ٣ وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى، ٤ وَحَدَّ مِرْفَقَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، ٥ وَقَبَضَ ثِنْتَيْنِ، وَحَلَّقَ حَلْقَةً، ٦ ثُمَّ رَفَعَ أُصْبُعَهُ، ٧ فَرَأَيْتُهُ يُحَرِّكُهَا يَدْعُوْ بِهَا». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ

ترجمه: ١ وائل بن حجر رضي الله عنه فرمايي ٢ چې بيا [رسول الله ﷺ د سجدې څخه سر پورته کولو سره] داسې کيناستلو چې خپله ګسه خپه يې وغوړوله ٣ او ګس لاس يې په ګس ورون کينودلو او ښي لاس په ښي ورون باندې، ٤ او څنګلې يې جدا وساتلې (يعني څنګلې يې په ورنونو داينبودلو په وخت د اړخ سره يو ځاى نه کړې) ٥ او دواړه ګوتې (يعني خچې ګوته او هغې ته نزدې ګوته بندولو سره (د حنفي مذهب مطابق د مينځ ګوتې او د ښتې ګوتې حلقه) جوړه کړه ٦ بيا رسول الله ﷺ د شهادت ګوته اوچته کړه ٧ او ما وليدل چې رسول الله ﷺ به هغه ګوتې لره حرکت ورکولو او په هغې سره به يې اشاره (د توحيد) کوله. (ابوداؤد، دارمي)

حل اللغات: - ① فَافْتَرَشَ: خوره ئې کړه، اوئې غوړوله. ② حَدَّ: أي المَنْعُ وَالْفَصْلُ بَيْنَ الشَّيْئَيْنِ: جدا ئې اوساتله. ③ مِرْفَقَهُ: مرفق څنګل ته وائي. ④ قَبَضَ: بندې ئې کړې (يعنى کچه ګوته او ورسره خواکښې ګوته). ⑤ حَلَّقَ: حلقه يعنى ګول دائره ئې جوړه کړه (يعنى مينځنئ او دَ غټې ګوتې سرونه ئې يو ځائ کړل).

تسهيلات: - قوله: وَحَلَّقَ حَلْقَةً:

د حلقې په کيفيت کښې مذاهب: -

① د احنافو په نيز به په تشهد کښې د اشارې کولو په وخت د ستين په شکل حلقه جوړوي.

② د شوافعو په نيز به حلقه په شکل د خمسين کښې جوړوي.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب كيف الجلوس فى التشهد(رقم-۹۵۷) والنسائى كتاب السهو/باب قبض الثنتين من أصابع اليد اليمنى وعقد الوسطى والإبهام منها(رقم-۱۲۶۸)

د اول فریق دلیل:- دوی وړاندې دَحضرت ابن عمر رضی اللہ عنہما حدیث نمبر ۱ نه استدلال کړې دې په کوم کښې چه دَ درې پنځوس عدد خودلې شوې دې.
د دویم فریق دلیل:- په زیر بحث حدیث کښې چې د حلقې کوم صورت ښودلې شوې دې. هم دغه طریقه دَ احنافو په نیز راجح ده او هم دغه عدد تسعین دې
د علم الاعداد اهمیت:- داخبره یاد ساتل پکاردی چه دَ اهل حساب په نیزدَ ګوتو اشارو او کیخودوسره دَ خاص عدد طرف ته اشاره کیږی. دَ اکائی دَپاره ځان له اشاره او دهائی دَپاره ځان له اشاره وی. دَ سینکړې دَپاره جدا اودَ هزار دَ پاره جدا اشاره وی. یا دا فن دَ تولو نه په ښه طریقه سره "تقریرات رافعی" کښې بیان کړې شوې دې دکوم چه اوږده تفصیلات دی بهرحال دَ ګوتې اوچتولونه پس دَدې په تاوولو کښې اختلاف شته دې.

د ګوتې په تاوولو کښې مذاهب:-

① امام مالک رحمه الله فرمائی کله چې سړې په تشهد کښې دَ شهادت ګوته اوچته وی نوبیا دا په حرکت کښې ساتل پکاردی ترهغه وخته پورې چه سلام اوګرځوی.
② جمهور فقهاء فرمائی چه دَ ګوتې اوچتولونه پس دا تاوول نه دی پکار یادې اوچته اوساتی یادې ښکته کولو سره په پتون باندې کیږدی تاوول نه دی پکار.
د اول فریق دلیل:- زیربحث حدیث حضرت وائل بن حجر رضی اللہ عنہ د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه دَ "یحرکها" الفاظ دی.
د دویم فریق دلیل:- دَحضرت عبدالله بن زبیر رضی اللہ عنہ روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَ "لایحرکها" الفاظ راغلی دی.
د اول فریق د دلیل جواب او تطبیق بین الروایات:- دَ وائل بن حجر رضی اللہ عنہ په روایت کښې "یحرکها" مطلب دانه دې چه ګوته اوچتولوسره به تاووله او حرکت به ئی ورکولو بلکه مطلب دادې چه دَ اشاره کولودَپاره چه به ئی کله ګوته اوچتوله نوهم دا اوچتول ئی "یحرکها" سره تعبیر کړې دی. امام بیهقی رحمہ اللہ دَ وائل بن حجر رضی اللہ عنہ دا روایت کله چه په سنن بیهقی کښې روایت کړو نودَې نه پس ئی دَ وائل بن حجر رضی اللہ عنہ اوعبدالله بن زبیر رضی اللہ عنہ دواړو روایتونو کښې تطبیق ورکولودَپاره ارشاد اوفرمائیلو "فیحتمل ان یکون المراد بالتحریک" الاشارة بها" لاتحریر تحریکها فیکون موافقا لروایة ابن الزبیر" یعنی په دې کښې دا احتمال دې چه دَ ګوتې تاوولو نه مراد اشاره کول وی تاوول نه وی نودَ وائل بن حجر رضی اللہ عنہ او ابن زبیر رضی اللہ عنہ په خپل مینځ کښې موافق کیږی. (بیهقی ج۲ص۱۳۲)

۹۱۲—د اشارې په وخت د ګوتې د حرکت نفی

۹۱۲—()[٦] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُشِيرُ بِأُصْبُعِهِ إِذَا دَعَا، [۳] وَلَا يُحَرِّكُهَا»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، [۴] وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: وَلَا يُجَاوِزُ بَصَرُهُ إِشَارَتَهُ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن زبير رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به (په قعده کې) دعا کوله (يعني کلمه شهادت به يې ويله) نو په خپلې ګوتې سره به يې اشاره کوله [۳] ليکن هغه به يې ښوروله نه، ابوداؤد، نسايي، [۴] او ابوداؤد دا الفاظ هم نقل کړي چې د حضور ﷺ نظر به د اشارې د ګوتې ځخه تجاوز نه کولو.

تسهيلات:-

قوله: وَلَا يُحَرِّكُهَا:

دعدم تحرک سبابه دليل:- دا حديث واضح دليل دې چه دتحريک سبابه ذکر چه دَدې نه په وړاندې حديث کښې راغلي دې هغه يا مؤل دې يا موقوف دې او عدم تحريک صراحت سره ثابت دې او دا حديث په امام مالک رحمه الله باندې حجت دې.

قوله: وَلَا يُجَاوِزُهُ إِشَارَتَهُ.

د مذکوره عبارت په مطلب کښې درې اقوال:- ① دَ حضورپاک ﷺ نظر به دَ هغوی دَ اشاره بالسبابه نه وړاندې تجاوز نه کولو بلکه دَ قعده په وخت به دَ حضورپاک ﷺ نظر هم مخې ته وو.

② دَ حضورپاک ﷺ نظر مبارک اشاره بالسبابه باندې لګيدلې وودې دَپاره چه دَ توحيد مضمون ښه په زړه او دماغو باندې ورجذب کړي. عام شارحينوهم دغه دويمه معنی اخستې ده.

③ دَ حضورپاک ﷺ نظر مبارک هغه وخت به دَ آسمان طرف ته نه تلو په کوم سره چه دا تاسر ملاويدلو چه حضورپاک ﷺ په ګوته سره اشاره فرمائي چه الله تعالی په اسمانونو کښې دې په کوم سره چه دَ جهت احتمال پيدا کيږی کوم چه تجسم ته مستلزم دې او دې سره حدوث لازم دی دکوم نه چه الله تعالی پاک دې.

۹۱۳—په يوې ګوتې سره اشاره کول

۹۱۳—()[۷] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «إِنَّ رَجُلًا كَانَ يَدْعُو بِأُصْبُعَيْهِ، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَحِّدْ أَحِّدْ"»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ"

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب الإشارة فى التشهد (رقم-۹۹۰)
(۲) اخرجه الترمذى باب (رقم-۳۵۵۷) والنسائى كتاب المواقيت/تعجيل المغرب (رقم-۵۲۰)

ترجمه: [۱] ابوهریره رضي الله عنه فرمايي [۲] چې يو سړي په تشهد کې (د شهادت) په دواړو ګوتو سره اشاره کوله [۳] رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل چې په یوه ګوته سره اشاره کوه په یوه ګوته سره اشاره کوه. (ترمذي، نسايي، بيهقي.)

حل اللغات:- ① أَحِّدْ أَحِّدْ: أَيْ: أَشِرْ بِأُصْبُعٍ وَاحِدَةٍ: یعنی په یوه ګوته سره اشاره کوه (ځکه ته چه دچا نه دعا کوې هغه يو دې.

تسهیلات:-

قوله: أَحِّدْ أَحِّدْ:

د رجلاً مصداق: دَ ابوداؤد او نسائی په روایت کښې داوضاحت موجود دې چه حضرت سعدبن ابی وقاص رضي الله عنه په کلمه شهادت کښې دَدواړو لاسونو دَ شهادت ګوتې سره اشاره فرمائیله. کیدې شی چه داخیال ئی وی چه دَدې په اثبات کښې اضافه اوشی. حضوریاك ﷺ چه کله اوکتلو نودَدې عمل نه ئی منع کړو اوحکم ئی ورکړو چه دَیو وحدانیت دَ اثبات دَپاره دَیوې ګوتې اشاره کوه.

۹۱۳- په قعده کښې په لاسونو تکیه لګولو ممانعت

۹۱۳-(۱)[۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «نَهَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَجْلِسَ الرَّجُلُ فِي الصَّلَاةِ [۳] وَهُوَ مُعْتَمِدٌ عَلَى يَدِهِ»، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، [۴] فِي رِوَايَةٍ لَهُ: «نَهَى أَنْ يَعْتَمِدَ الرَّجُلُ عَلَى يَدَيْهِ إِذَا نَهَضَ فِي الصَّلَاةِ».

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ د دې څخه منع فرمايلي ده چې يو سړي دې په لمانځه کې داسې کيني [۳] چې په خپل لاس تکيه لګولو (يعنې لاسونو لګولو سره) کيني، احمد ابوداؤد، [۴] او په بل روات کې دا الفاظ دي چه رسول الله ﷺ د دې څخه هم منع کړي ده چې انسان (په لمانځه کې دي) د خپلو لاسونو په سهارا ودريږي.

حل اللغات:- ① مُعْتَمِدٌ: أَيْ: مُتَّكِئٌ عَلَى يَدِهِ: چه په لاس ئې زور راوړلې وی او ناست وی. ② نَهَضَ: أَيْ: قَامَ: اودریدلو به.

تسهیلات:-

قوله: وَهُوَ مُعْتَمِدٌ:

په تشهد کښې د لاسونو د ګوتو کیښودو محل:- دَدې مطلب دادې چه کله سړې په قعده کینی نو هغه له خپل لاسونه په زمکه نه دی کیخودل پکار، بلکه دواړه لاسونه دې په پتونانو باندې کیږدی چه دَ ګوتوسرونه په زنګونوباندې راشی په زمکه باندې کیخودل حضوریاك ﷺ منع کړی دی.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب كراهية الاعتماد على اليد في الصلاة (رقم-۹۹۲)

قوله: إِذَا نَهَضَ فِي الصَّلَاةِ

قيام ته د اودريدو په وخت زمكه باندې لاسونولګولوکښې مذاهب:-

دويمه خبره په دې حديث کښې دابيان کړې شوه چه کله سرې دَ سجدې وغيره نه پاسى نوهغه له پکاردى چه په زمکه باندې اډه اونه لګوى دې نه هم حضورپاك ﷺ منع فرمائيلې ده.

① شوافع حضراتو دَ جلسه اوقعده نه په زمکه د لاس لګول سنت ګڼرى.

② امام احمد رحمه الله فرمائى چه بغيردَ عذرنه که يوسړې لاس لګولوسره پاسيدل غواړى نو پاسيدې شى. يعنى څه ګناه يا کراهت په کښې نشته.

③ دَ امام ابوحنيفه رحمه الله مسلك دا دې چه دَ قيام طرف ته دَ پاسيدو په وخت په زمکه باندې لاس کيخودل نه دى پکار اوکه چاته څه عذر وى نو شرعًا صاحب عذر معذور دې هغه چه څه کوى نومجبوردې.

د اول فريق (شوافع) دليل:- د دوى مستدل ۷۹۴ نمبر حديث دې.په کوم کښې چې د لاس لګولو ذکر دې.

د دريم فريق دلائل:- ① زيربحث حديث د دوى مستدل دې.

② حديث نمبر ۹۱۵ راروان حديث هم د دوى مستدل دې.

نوټ:- دَدې مسئله پوره تفصيل هم په دې حديث نمبر ۷۹۶ کښې تير شوې دې.

۹۱۵-په اوله قعده کښې قيام ته تلوارکول

۹۱۵-()[۹][۱]وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]«كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ [۳] كَأَنَّهُ عَلَى الرَّضْفِ حَتَّى يَقُومَ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به په اولني دوه ركعاتو (يعني په اولني قعده) كې (د تشهد د پاره) دومره كيناستلو [۳] لكه چې حضور ﷺ په ګرم كاڼي باندې ناست دي او (زر به) پاڅيدلو ، (ترمذي،ابوداؤد ،نسايي)

حل اللغات:- ① الرَّضْفِ: د رَضْفَة جمع ده،وَهِيَ حِجَارَةٌ مُحْمَاةٌ عَلَى النَّارِ: ګرم كاڼرى ته وائى.

تسهيلات:- قوله: كَأَنَّهُ عَلَى الرَّضْفِ:

دتشبيه مطلب:- مطلب دادې چې اول التحيات لنډ وواو بغيرددعاګانو نه به وو.نو د التحيات نه پس به زر تر زره اودريدل وو. لکه چې ګرم کاڼرى باندې ولاړ وى. څکه چې په ګرم کاڼرى باندې څوك زيات نشى کيناستې زر اودريږى.

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب فى تخفيف القعود (رقم - ۹۹۵) والنسائى كتاب الحيض والاستحاضة/ باب ما جاء فى مقدار القعود فى الركعتين الأولىين (رقم-۳۶۶)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۹۱۶- د التحیات مختلف الفاظ

۹۱۶-()[۱۰] ۱ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ ۳ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ: ۴ "بِسْمِ اللّٰهِ، وَبِاللّٰهِ، ۵ التَّحِيَّاتُ لله وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، ۶ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، ۷ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ، ۸ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ۹ أَسْأَلُ اللّٰهَ الْجَنَّةَ، ۱۰ وَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ» "رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي ۲ چې رسول الله ﷺ به مونږ ته تشهد داسې ښودلو ۳ څنګه چه به يې راته د قرآن يو سورت ښودلو [يعني څنګه چې په اعتبار د قراءت سره د قرآن الفاظ مختلف دي دغه رنګه د تشهد الفاظ هم مختلف دي چنانچې په دې روايت کې د تشهد الفاظ داسې دي]: ۴ بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَسْأَلُ اللّٰهَ الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ النَّارِ، د الله په نوم او د الله په توفيق سره شروع کوم ۵ او ټول تعريفونه او مالي او بدني عبادتونه الله لره دي ۶ اې نبي ﷺ په تا دې سلام وي او د الله رحمتونه او برکتونه دې وي ۷ او په مونږ او د الله په نيکانو بنده ګانو دې هم سلام وي ۸ او زه د دې خبرې ګواهي ورکوم چې د الله څخه سوا بل معبود نشته او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی ۹ زه د الله څخه د جنت خواست کوم ۱۰ او د دوزخ څخه د الله پناه غواړم. (نسايي)

تسهيلات: -

قوله: بِسْمِ اللّٰهِ، وَبِاللّٰهِ، التَّحِيَّاتُ لَهُ:

دحضرت جابر رضی الله عنه تشهد: -ددې حديث مبارك حاصل دادې چې دا دعا ده او په دې کښې د تشهد بيان دې. کوم چې تشهد دجابر رضی الله عنه دې. په دې کښې د امر صيغه نشته دې، دا به تاسو په دامر صيغې سره کله هم ملاؤ نشي کوم چې تشهد د ابن مسعود کښې دی.

۹۱۷- د شيطان په تکليف کښې د شهادت په ګوته د اشارې کردار

۹۱۷-()[۱۱] ۱ وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: ۲ «كَانَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ، إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ ۳ وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ وَأَتْبَعَهَا بَصَرَهُ، ۴ ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَهِيَ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيدِ " يَعْنِي السَّبَّابَةَ»، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

---

(۱) اخرجه النسائی کتاب التطبيق /باب نوع آخر من التشهد (رقم-۱۱۷۵)

(۲) اخرجه احمد فی المسند رقم (۱۱۹/۲)

ترجمه: [۱] نافع رحمه الله فرمايي چې ابن عمر رضي الله عنه چې به کله په لمانځه (يعني په قعده) کې کيناستلو نو خپل دواړه لاسونه به يې په خپلو ګونډو ايښودل او (د شهادت) په ګوتې سره به يې (د وحدانيت) اشاره کوله او نظر به يې په ګوته ساتلو او ويل به يې چه رحمت عالم نبي مکرم ﷺ فرمايلي دي چه (دا د شهادت ګوته) په شيطان باندې د اوسپنې ځخه زياته سخته ده يعنى د شهادت په ګوتې سره د وحدانيت اشاره کول په شيطان باندې د نيزې وغيره ويشتلو ځخه زياته سخته ده. (احمد)

حل اللغات:- ① أَتْبَعَهَا بَصَرَهُ: خپل نظر به ئې په ګوتو يا په اشاره باندې ساتلو. ② الْحَدِيدِ: اوسپنه

تسهيلات:-

قوله: هِيَ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيدِ:

د اشارې بالسبابه فائده:- يعنى دا اشاره د شيطان دپاره د اوسپنې د حملې نه زياته سخت ده، ځکه دې اشارې سبابه سره ئې دالله تعالى توحيد بيان کړو او دهغه د شرک نې نفى اوکړه

۹۱۸- تشهد په پټ آواز سره د لوستلو مسنونيت

۹۱۸-()[۱۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، [۲] كَانَ يَقُولُ مِنَ السُّنَّةِ إِخْفَاءُ التَّشَهُّدِ، رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، [۳] وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي [۲] چې تشهد (يعني التحيات) په قلار آواز سره ويل سنت دي، ابوداؤد ترمذي، او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات:- ① إِخْفَاءُ التَّشَهُّدِ: تشهد (يعنى التحيات) په رو آواز سره ونيل

تسهيلات:-

قوله: مِنَ السُّنَّةِ:

دسنت ځخه مراد:- دلته د سنت ځخه اصطلاحى معنى مراد نه ده بلکه سنت په معنى دطريقې د نبى کريم ﷺ. دي.اود نبى کريم ﷺ، طريقه عامه وى اصطلاحى واجب ، سنت اومستحب ټولوته شامليږى دانه دى ګنړل پکار چې تشهد په پټه ونيل سنت دى بلکه دا واجب دى.

قوله: إِخْفَاءُ التَّشَهُّدِ:

په تشهد باندې عدم جهر کول:- دا دنبى کريم ﷺ طريقه وه چې تشهد په پټ ونيل. ددې مطلب دا نه دې چې تشهد په رو رو ونيل سنت دى. بلکه تشهد په رو رو ونيل واجب دى.

....

(۱) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب إخفاء التشهد (رقم-۹۸۶)

[۳۳/۱۶] بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفَضْلِهَا]

په حضور پاک ﷺ باندې د درود وئیلو فضیلت

خلاصة الباب: -

فيه عشرون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① كيفية الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم: ۱، ۲، ۱۴، ۱۸.

② فضيلة الصلاة على النبي: ۳، ۴، ۵، ۱۰، ۱۱، ۱۷، ۱۸، ۱۹.

③ إبلاغ السلام إلى النبي ﷺ: ۶، ۷.

④ إبلاغ الصلوة إلى النبي ﷺ: ۸، ۱۶.

⑤ الوعيد لمن لا يصلي على النبي ﷺ: ۹، ۱۵.

⑥ الصلوة على النبي سبب إجابة الدعاء: ۱۲، ۱۳، ۲۰.

قال الله تعالى ﴿إِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ؕ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا﴾ [احزاب: ۵۶]

قوله: الصَّلَاةِ:

د صلوة لغوی او شرعی معنی: په لغت کښې دعا، استغفار، رحمت او حسن الثناء ته وئیلې شی. دَ صلوة نسبت که دَالله تعالی طرف ته اوکړې شی نودې نه دَ رحمت کامله نزول مراددې. که دَدې نسبت دَ فرښتو طرف ته اوکړې شی نواستغفار مراد اخستې شی اوکه دَدې نسبت انسانانو اوجناتو طرف اوکړې شی نودې نه بیا دعا مراد وی. اوکه دَدې نسبت وُحوش اوطیور طرف ته اوکړې شی نودې نه به تسبیح اوتهلیل مراد اخستې شی.

د درود شریف حکم: - پوره عمر کښې یوځل درود لوستل په هرمسلمان باندې فرض دی دَ قرآن پاک پورتنې آیت په دې باندې دال دې. په هرمجلس کښې چه دَ رسول الله ﷺ نوم په اول ځل باندې واخستې شی نو یوځل درود لوستل واجب دی که دوباره واخستې شی نو درود لوستل مستحب او سنت دی. په رسول الله ﷺ باندې درود شریف لوستل مقصود بالذات دی اوبالتبع په نورو انبیاء کرامو او آل او صحابه باندې لوستل جائزدی. په مستقل توګه باندې په بل سړی باندې صلوة اوسلام وئیل جائزنه دی. بلکه بعض محققینو صلوة دَ حضورپاک ﷺ دَ پاره خصوصیات کښې شمیرلې دې اوسلام نې دَ ټولو انبیاء کرامو دَپاره عام ګرځولې دې اوبالتبع صلوة په نورو انبیاء کرامو باندې هم لوستلې شی.

د غیرالنبی دپاره د صلاة او سلام د استعمال حکم: - لمعات شرح مشکوة ج۳ص ۱۸۸ باندې شیخ عبدالحق رحمه الله دَ کلام نه معلومیږی چه صلوة اوسلام نه که چرې صرف دعا

مراد واخستې شي يعنى دَدې لغوى معنى مراد واخستې شي نوبياد انبياء نه علاوه دَ نورو دَ پاره هم وئيلى شى لكه چه حضورپاك ﷺ "اللهم صل على آل ابى اوفى" او "اللهم صل على عمرو بن العاص" لوستلې دې دا ټول دَ دعا او رحمت په توګه وو دَ درود په توګه نه وو. هم دغه صورت حال دَ لفظ رضي الله عنه هم دې.

په مانځه کښې د درود شريف وئيلو په حکم کښې مذاهب:-

① امام شافعى رحمه الله فرمائى چه التحيات کښې هم درود وئيل فرض دى اوتشهدنه پس پس دَسلام نه وئيل هم فرض دى البته دَامام احمد رحمه الله يوقول امام شافعى رحمه الله سره هم دې.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله معتمد قول او دَ جمهورو مسلك دا دې كه يوسړې په يومجلس كښې دَ رسول الله ﷺ نوم مبارك واؤرى نو يوځل درود وئيل واجب دى دې نه پس درود وئيل مستحب دى اودَ التحيات اوتشهد نه پس درود لوستل سنت دى.

داول فريق اول دليل:- ① دَ قرآن كريم دَ درود والاآيت د دوى مستدل دې.

داول فريق د اول دليل دوه جوابونه:- ① دَهغې نه ئى هم استدلال کړې دې. ليكن دا استدلال واضح نه دې په آيت کښې دَمطلق درود ذكر دې مانځه سره خاص نه دې نه دَ هرځل وئيلوخبره ده.

② د دې آيت څخه دويم فريق هم فرضيت د درود ثابتوى خو په عمر كښې يوځل وئيل فرض ګڼرى.او په خصوصى توګه دَ تشهدنه پس وړاندې دَ سلام نه سنت مؤكده دې.

داول فريق دويم دليل:- ② په احاديثوكښې دَ درود چه كوم فضائل ذكر دى هغه ټول د دوى مستدلات دى.

داول فريق د دويم دليل جواب:- په احاديثوكښې دَ درود دَ فضيلت بيان دې دَ درود لوستلو ترغيب دې دادَفرضيت دليل نه دې.

د دويم فريق دليل:- نبى كريم ﷺ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته صرف دَ تشهد په لوستلو اوفرمائيل "اذاقلت هذا اوفعلت هذافقد تمت صلوته" دلته دَ درود لوستلونه بغير صرف دَ تشهد پورې لوستل يا په دغه اندازه باندې كيناستوباندې مونځ مكمل او جائزګرځولې شوې دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۹۱۹- په آخرى قعده كښې د درود وئيلو طريقه

۹۱۹-()[۱]① «عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ:② لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ، فَقَالَ:③ أَلَا أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ④ فَقُلْتُ: بَلَى، فَأَهْدِهَا لِي، فَقَالَ:⑤ سَأَلْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

[1]) اخرجه البخارى احاديث الانبياء باب قول الله تعالى: ﴿واتخذ الله إبراهيم خليلا﴾ [النساء: ۱۲۵](رقم-۳۳۷۰) ومسلم كتاب الصلاة . باب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم بعد التشهد (رقم- ۶۶ - (۴۰۶)

وَسَلَّمَ فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ؟ ۶ فَإِنَّ اللهَ قَدْ عَلَّمَنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ، ۷ قَالَ: " قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، ۸ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، ۹ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ». ۱۰ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ [۱۱] كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ ۱۲ إِلَّا أَنَّ مُسْلِمًا لَمْ يَذْكُرْ عَلَى إِبْرَاهِيمَ فِي الْمَوْضِعَيْنِ.

ترجمه: ۱ عبد الرحمن بن ابي ليلى رحمه الله (تابعي) فرمايي ۲ چې د حضرت كعب ابن عجره (صحابي) رضي الله عنه سره زما ملاقات وشو نو هغه وفرمايل ۳ چې زه تا ته هغه شي د هديه په طور پيش نه كړم چې ما د رحمت عالم ﷺ څخه اوريدلي دي ۴ ما عرض وكړو چې ماته هغه هديه ضرور را كړه نو هغه وفرمايل ۵ مونږ څو صحابو رضي الله عنهم د حضور ﷺ څخه سوال وكړو چې يا رسول الله ﷺ په اهل بيتِ نبوت باندې مونږ درود څنګه وليږو ؟ ۶ الله تعالى جل جلاله خو دا مونږ ته ښودلي دي چې په تا باندې سلام څنګه وليږو ؟ ۷ رسول الله ﷺ وفرمايل داسې وايئ: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ الخ (اي الله په محمد ﷺ او په آل د محمد ﷺ باندې رحمت نازل كړې ۸ څنګه چې تا په ابراهيم عليه السلام او په آل ابراهيم عليه السلام باندې رحمت نازل كړې وو ۹ بيشكه ته بزرګ او برتر يې ۱۰ اي الله په محمد ﷺ او په آل د محمد ﷺ باندې بركت نازل كړې ۱۱ څنګه چې تا په ابراهيم عليه السلام او په آل د ابراهيم عليه السلام باندې بركت نازل كړې وو بيشكه ته بزرګ او برتر يې. [بخاري مسلم، ۱۲ خو د مسلم په روايت كې دوه ځايه د على ابراهيم الفاظ نشته.

حل اللغات: - ① هَدِيَّةٌ: تحفه، عطيه.

تسهيلات: - **قوله:** كَيْفَ نُسَلِّمُ:

افضل درود: يعنى په التحيات كښې "السلام عليك ايها النبى ورحمة الله وبركاته" الفاظو سره الله تعالى دَ سلام ونيلو طريقه اوخودله يعنى په معراج كښې الله تعالى پخپله په رسول الله ﷺ باندې سلام اووئيل اودَ صلوة طريقه نى ورته پخپله اوخودله ځكه چه په قرآن پاك كښې دَ صلوة اوسلام دواړو ونيلو حكم دې. په دې باندې حضورپاك ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه درود ابراهيمى وايئى. علماؤ ليكلى دى چه په ټولو درودونو كښې هم دغه درود افضل دې كوم چه په مانځه كښې درود ابراهيمى ونيلې شى دكوم دَ ونيلونه چه بريليان تقريباً محروم دى.

قوله: كَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ:

د اهل دوه معانى: - ① آل اهل اوعيال يعنى بال بچ ته وائى ② ال تابعدار ته هم وائى.

د آل په تعيين كښې اقوال: -

① آل محمد ﷺ نه هغه اهل بيت مراد دى دَ چادَپاره چه صدقه اخستل حرام دى.

② دَ آل محمد ﷺ نه تابعدار او حكم منونكى خلق مراد دى اوهرمؤمن متقى دَ حضورپاك

ﷺ آل دي.

③ دَ آل محمد ﷺ نه صرف دَ نبی کریم ﷺ اهل وعیال مراد دی.

④ فخرالدین رازی رحمه الله فرمائی دَ حضورپاك ﷺ ازواج مطهرات اودَ هغوی اولاد په اهل بیت کښې شامل دی. مطلب دا چه ازواج مطهرات دَ اهل بیت په اول مفهوم کښې شامل دی دې نه پس نور خلق په دې کښې شامل کړې شوی دی. ازواج مطهرات خو خپل پخپله اهل بیت دی.

قوله: عَلَى إِبْرَاهِيمَ:

د ابراهیم علیه السلام د تخصیص وجوهات: په حدیث کښې درود سره دَ حضرت ابراهیم تخصیص کړې دې

① حضرت ابراهیم علیه السلام دَ حضورپاك ﷺ بالخصوص جدامجد دې او

② حضرت ابراهیم علیه السلام علی الاطلاق جدالانبیاء دې.

③ دَ حضورپاك ﷺ شریعت محمدی په اصولی توګه دَدین ابراهیمي تابع دې. نودَ مکې خلقو به خان ته ابراهیمی وئیل او په څه قابل غور عبادتونو کښې به ئې دَدې تابعداری کوله.

د تشبیه یوه قاعده:-

دَتشبیه قاعده داده چه دَ ادنٰی تشبیه اعلی سره ورکولې شی دې دَپاره چه ادنٰی مشبه دَ کامل مشبه سره ملاؤ کړې شی.

اشکال:- که مذکوره قاعده دلته په درود کښې اومنلې شی نو په دې سره دَ اسلام هغه عقیده متاثر کیږی په کوم کښې چه دافیصله شوې چه محمد رسول الله ﷺ دَټولو انبیاء نه افضل او بزرګ دې؟

داشکال څلورجوابونه:- ① دلته په کماصلیت کښې دکاف لفظ مقحم یعنی زیاتی دې نوبیاخودَ تشبیه خبره ختمه شوه.

② تشبیه کښې اعلی سره دَ ادنٰی تشبیه قاعده اکثریه ده. قاعده کلیه نه ده لهذا مذکوره صورت دَدې قاعدې لاندې نه دې.

③ دلته تشبیه په نفس صلوة کښې ده کیفیت اوکمیت دَ صلوة کښې نه ده. په نورو الفاظوکښې دلته اشتراك فی النوع دې چه په حضوراکرم ﷺ باندې دې نوع صلوة وی په دې کښې بحث نشته چه کوم یونوع اتم دې اوکوم نوع غیراتم دې.

④ مشبه به اقویٰ اعلی او افضل کیدل ضروری نه دی بلکه اوضح، اظهر او اعرف کیدل ضروری دی هم په دې وجه الله تعالی دَ خپل نور الهی تشبیه طاقچې اوقندیل کښې کیخودې شوې چراغ او ډیوې سره داسې ورکړې. ﴿مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الخ﴾ [سورت نور: ۳۴]

۹۳۰ــ په آخری قعده کښې د درود شریف لوستل

۹۳۰ــ(١)[٢] ١ وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ؟ ٣ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قُولُوا: ٤ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ ٥ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، ٦ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، ٧ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، ٨ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ ابو حمید ساعدي ﷛ فرمايي ٢ چې صحابه و ﷡ عرض وکړو یا رسول الله (ﷺ) مونږ په تا باندې درود څنګه لیږو؟ ٣ حضور ﷺ ورته وفرمایل چه داسې وایئ ٤ اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اي الله په محمد ﷺ او د هغه په پاکو بیبیانو باندې او د هغه په اولاد باندې رحمت نازل کړې ٥ څنګه چې تا په ابراهیم ﵇ باندې رحمت نازل کړې وو ٦ او په محمد ﷺ اود هغه ﷺ په پاکو بیبیانو باندې او د هغه په اولاد باندې برکت نازل کړې ٧ څنګه چې تا په براهیم ﵇ باندې برکت نازل کړي وو ٨ بیشکه ته بزرګ اوبرتر يې.(بخاري، مسلم)

تسهیلات: -

قوله: وَأَزْوَاجِهِ:

د درود الفاظ او مختلفې صیغې: -دَ درود الفاظ اودَ دې صیغې په مختلف اندازکښې راغلی دی لکه څنګه چه دمشکوة په احادیثو کښې هم مختلف صیغې راغلی دی. علماؤ دَدې متعلق کتابونه لیکلی دی. څه صیغې دَ احادیثونه ثابتې دی اوڅه دَ بزرګانوډ معمولاتونه نقل دی. بهرحال کومې صیغې چه دَ شان نبوی منافی نه وی دَهغې اختیارول دَزیات برکت سبب دې. علماء لیکی چه درود ابراهیمی دَ ټولو نه افضل دې.

۹۳۱ــد درود شریف لوستلو فضیلت

۹۳۱ــ(١)[٣] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً؛ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ ابوهریره ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې په ما یو

[1] اخرجه البخاری احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی: ﴿واتخذ الله إبراهیم خلیلا﴾ [النساء: ١٢٥](رقم-٣٣٦٩) ومسلم كتاب الصلاة . باب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم بعد التشهد (رقم- ٦٦ - (٤٠٧)

[2] اخرجه مسلم كتاب الصلاة . باب الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم بعد التشهد (رقم- ٧٠ - (٤٠٨) والترمذى كتاب الوتر /باب ما جاء فى فضل الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم (رقم- ٤٨٥) والنسائى كتاب السهو /باب الفضل فى الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم (رقم- ١٢٩٦) والدارمى كتاب الصلاة /باب: فى فضل الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-٢٨١٤)

خل درود ولیږي الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په هغه لس خله رحمت نازلوي. (مسلم)

تسهيلات:- قوله: صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا:

د اشكال:- درود لوستونکی د الله تعالی نه د رسول الله ﷺ د پاره یو درود لیګلو دعا اوغوښتله نود حضورپاک ﷺ دپاره خو یو درود شو او د درود لوستونکی دپاره لس درود شو. په دې کښې خو په نبی علیه السلام باندې یور رحمت او په امتی باندې لس رحمتونه شو.

د اشكال دوه جوابونه:- ① دې امت ته په یوه نیکئی باندې د لسو نیکو ثواب ملاویږی نو دې اصولو مطابق دلته هم په یو درود وئیلو باندې هم په بني علیه السلام باندې لس رحمتونه نارلیږی.

② شیخ عبدالحق رحمه الله دا جواب هم ورکړې دې چه ممکن دی د الله تعالی د طرف نه د حضورپاک ﷺ دپاره یو خصوصی درود زمونږ د زرګونو درودونو نه زیات غوره وی لکه چه یوه مرغلره د زرګونو دراهم نه افضل وی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۹۲۲- د یو درود لوستلو کمال

۹۲۲-()[۳][۱] عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ: "[۲]«مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً; صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ،[۳] وَحُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيئَاتٍ،[۴] وَرُفِعَتْ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ»"، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې په ما یو خل درود لیږي الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په هغه لس رحمتونه نازلوي [۳] او د هغه لس ګناهونه معاف کوي [۴] او (د تقرب الي الله په سلسله کي) د هغه لس درجي اوچتوی. (نسايي)

حل اللغات:- ① حُطَّتْ: د مجهول صیغه ده، بِمَعْنَى كُفِرَتْ: رجیږی، معاف کیږی. ② خَطِيئَاتٍ: ګناهونه.

تسهيلات:-

قوله: صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ:

د صلاة په معنی کښې دوه اقوال:- ① دلته د صلوة څخه مراد بخشش دي

② صلاة په معنی د تعظیم دي.

قوله: عَشْرَ صلوات:

د لس د عدد څخه مراد:- حديث پاك كښې د لس عدد د كثرت خودلو دپاره دي تحديد تري مراد نه دي.

[۱] اخرج النسائی کتاب السهو/باب الفضل في الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم (رقم - ۱۲۹۷)

۹۲۳– د قیامت په ورځ نبی علیه السلام ته د نزدیکت ذریعه

۹۲۳ –(¹) [۵] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ: ٢ " «أَوْلَى النَّاسِ بِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً» "، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د قيامت په ورځ به په خلقو کې ماته د ټولو څخه زيات نزدې هغه خلق وي چې په ما باندې زيات درود ليږي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① أَوْلَى النَّاسِ: أَيْ: أَقْرَبُهُمْ: ډير نزدې، ډير غوره په خلقو کښې.

تسهيلات: -

قوله: أَوْلَى النَّاسِ بِي:

په کثرت درود د معيت د حاصليدو وجه: –اي اقرب الناس يعنی يو ځائی اوسيدلو او معيت په حواله سره ماته دټولو نه زيات نيزدې به هغه خلق وی چه دزيات نه زيات درود وائی ځکه چه کثرت درود د کثرت ياد دليل دې او کثرت ياد دَ محبت دليل دې اودَ محبت صله معيت دې په دې وجه به په جنت کښې ورسره وی.

په حديث کښې د بشارت مصداق: ابن حبان رحمه الله دَ دې حديث وضاحت کښې ليکلی دی چه دَ حضورپاک ﷺ دَ دې اوچت بشارت مصداق محدثين دی ځکه چه دَمحدثينو جماعت حديث خودلوسره دَ ټولو نه زيات درود وائی.

۹۲۴– د فرشتو په ذريعه نبی عليه السلام ته د امت سلام رسول

۹۲۴ –(²) [۶] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ فِي الْأَرْضِ ٣ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِيَ السَّلَامَ» "، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د الله تعالى جل جلاله ډيري فرشتي په زمکه کې سياحت کوي (ګرځي) ٣ چه زما د امت سلام ماته رسوي. (نسايي، دارمي)

حل اللغات: - ① سَيَّاحِينَ: أَيْ: سَيَّارِينَ بِكَثْرَةٍ: ډيري ګرځيدونکې.

تسهيلات: -

قوله: مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ:

د فرښتو يو ګشت کونکې جماعت: – يعنی دَ فرښتو يوګشتی جماعت دې چه صرف په دې

(¹) اخرج الترمذی کتاب الوتر/باب ما جاء فی فضل الصلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم (رقم- ٤٨٤)

(²) اخرج النسائی کتاب السهو/باب السلام علی النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-١٢٨٢) والدارمی کتاب الصلاة/باب: فی فضل الصلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-٢٨١٦)

باندې مقرردي چه د دنياپه کوم يوکوټ کښې څوك سرې په رسول الله ﷺ باندې درود وائي هغه فرښتې دا درود حضورپاك ﷺ ته رسوي. اوس ددې ترتيب څنګه دې دا هم الله تعالی بهتر پيژني د ټګ راټګ سلسله هم کيدې شي. اود برقي نظام په شان هم کيدې شي. د ټيلي فون په طرزباندې هم څه سلسله کيدې شي داهيڅ ګران نه دی. ددې حديث تعلق هغه اشخاص سره دې چه لرې لرې علاقوکښې درود وائي ليکن کوم خلق چه د حضورپاك ﷺ روضه مبارکه سره څواکې درود وائي هغه پخپله نبی کريم ﷺ اوری د هغې د رسولوضرورت نه وی لکه چه په راتلونکی حديث کښې راروان دی.

د حديث نه مستنبط شوی فوائد: ① نبی کريم ﷺ هرځائی حاضر اوناظرنه دې ګنی د فرښتو د دې نظام قائم کولوڅه ضرورت نه وو

② حضورپاك ﷺ ته په قبرمبارك کښې حيات جاوداني حاصل دې.

③ اوهم ددې ځائی نه داخبره هم ثابته شوه چه حضورپاك ﷺ غيب دان نه وو ګنی په مينځ کښې ددې واسطوڅه ضرورت وو.

نبی عليه السلام ته د درود ليګونکی نوم اخستل:-بعض رواياتوکښې راځی فرښتې د درود لوستونکی د حضورپاك ﷺ په وړاندې دهغه نوم هم اخلی چه دا درود د فلانکی ځوئی د فلانکی د طرف نه دې.

۹۲۵-د نبی عليه السلام سلام ليږونکی ته جواب ورکول

۹۲۵-()[۷] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَا مِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ ③ إِلَّا رَدَّ اللهُ عَلَيَّ رُوحِي، حَتَّى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامُ» "رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي: "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر کله چي يو سړي په ما سلام ليږي ③ نو الله تعالی جل جلاله زما روح ماته واپس کوي تر دي چي زه د هغه د سلام جواب ورکوم، (ابوداؤد ،بيهقي)

تسهيلات: - **قوله:** رَدَّ اللهُ عَلَيَّ رُوحِي:

په حيات النبی باندې اشكال:-د اهل سنت والجماعت دا يومسلمه عقيده ده چه حضورپاك ﷺ په خپل قبرکښې حيات دې اود مرګ د تحقق نه پس الله تعالی حضورپاك ﷺ ته حيات جاوداني ورکړې دې. مسئله هم دغه ده چه حياة الانبياء کرام کښې د چا څه قابل ذکر اختلاف نشته دې. ليکن ددې حديث نه معلوميږی چه د حضورپاك ﷺ حيات مستمره او دائمی نه دې بلکه بعض وخت د سلام د جواب دپاره په جسداطهرکښې روح راواپس کولې شی نوبيا حضورپاك ﷺ جواب ورکوی؟

[1]) اخرجه ابوداودکتاب المناسک ،باب زيارة القبور (رقم- ۲۰۴۱)

۵ اشکال جوابونه:-

دَدې سوال علماء کرامو او شارحين حديث مختلف جوابونه ورکړی دی.
علامه سيوطی رحمه الله تقريبًا پنځلس جوابونه ورکړی دی مګر په اصل کښې دوه يا درې جوابونه داسې دی کوم چه کافی هم دی او زړه ته هم لګی.

① دَ روحی چه کوم لفظ دې دَدې نه مراد نطق دې يعنی ردالله علی نطقی. (كذا قال ابن حجر رحمه الله فی فتح الباري)

② الا ردالله علی روحی چه کومه جمله ده دا په حقيقت کښې حال واقع دې او دَقاعده مطابق دلته قد محذوف دې اصل عبارت داسې دې "الاوقدردالله علی روحی" يعنی څوك هم چه سلام وړاندې کوی نو حالت داوی چه الله تعالی زما روح واپس کړې وی. (كذا قال البيهقی وابن حجر والسيوطی)

③ دَ حضورپاك ﷺ روح مبارك هروخت دَ تجليات الهيه مشاهده کښې په ملاءِ اعلی کښې مشغول وی او حضورپاك ﷺ په مکمل توګه باندې دې طرف ته متوجه وی خوچه قبرسره څوك سلام پيش کوی نو دَ جواب دَپاره روح راواپس کولې شی نو بيا حضورپاك ﷺ جواب ورکوی.

په دريم جواب باندې اشکال:-په دې جواب باندې دا اشکال دې چه په حضورپاك ﷺ باندې هروخت دَ اطراف عالم نه سلام پيش کولې شی نو بيا دَ انفصال روح څه تصور کيدې شی؟

د بحث خلاصه:-بهرحال دادَ عالم برزخ معامله ده بهترهم دغه ده چه دَلټون نه بغيردا اومنلې شی چه حضورپاك ﷺ دَ سلام جواب ورکوی. نيزدې خلقوته په اوريدوسره ورکوی اودَ لرې نه سلام دَ فرښتو په ذريعه رسيږی او حضورپاك ﷺ جواب ورکوی لکه چه په راتلونکی حديث کښې راځی.

۹۲۶- نبی علیه السلام ته دامت سلام رسيدل

۹۲۶-(۱)[۸] [۱]وَعَنْهُ،قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:[۲] "«لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا،[۳]وَلَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا،[۴]وَصَلُّوا عَلَيَّ،فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ تَبْلُغُنِي حَيْثُ كُنْتُمْ» "،رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضی الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي[۲] چې خپل کورونه د قبرونو په شان مه ساتئ[۳] او زما په قبر د اختر (پشان ميله) مه جوړوئ[۴] او تاسو په ما درود ليږئ هر چېرته چې تاسو يئ ستاسو درود ماته رارسيږي. (نسايي)

حل اللغات:- ① تَبْلُغُنِي :أَيْ:يُوْصَلُونَ: رارسولي کيږی ماته.

[۱]) اخرجه ابوداود کتاب المناسک/باب زيارة القبور (رقم- ۲۰۴۲)

تسهيلات:- قوله: لَا تَجْعَلُوا بُيُوتَكُمْ قُبُورًا:

د كورونو څخه قبرونه نه جوړولو په مفهوم كښې درې اقوال:- ① خپل مړي په كورنو كښې مه خښنه وئى څكه چه دَ تدفين دَپاره عام قبرستان مقرر دي حضور اكرم ﷺ دَحضرت عائشه صديقه ﷺ په حجره مباركه كښې څكه دفن كړې شو چه دَانبياء په خصوصيات كښې يو دا هم دي چه چرته دَنبى انتقال اوشى هم هلته دې خښ كړې شى. دَ رسول الله ﷺ انتقال دَحضرت عائشه ﷺ په حجره مباركه كښې شوې وو په دې وجه هم هلته دَ حضورپاك ﷺ تدفين اوشو.

② په خپلو كورونو كښې داسې مه كيږئى چه نه په دې كښې مونځ وى نه عبادت وى نه ذكراذكاروى لكه چه په قبرونو كښې مړي وى چه صرف پراته وى بلكه تاسودَ كور ماحول دَ عبادت ماحول جوړكړئى دې دَپاره چه په كورونو كښې بركتونه راشى اوستاسو عبادت ته په كتلوسره ستاسو اولاد هم عادت شى. دَدې صورت به داوى چه دَ فرائض نه علاوه نوافل او ذكر اذكار په كورونو كښې كوئى.

③ قبرستان خپل كورمه جوړه وئى چه هلته لاړشئى اومنجاوران شئى اوهم هلته خائى جوړكړئى څكه چه په دې سره دَزيارة القبور مطلب فوت كيږى كوم چه رقت قلب دې بلكه كله كله زيارت كول پكاردى دې دَپاره چه عظمت او احترام ئى باقى پاتې شى. ملاعلى قارى ﷫ نور هم مطلبونه ليكلى دى مګر دَ حديث دَ ظاهرى كلام نه داسې معلوميږى چه رومبې معنى زياته واضح او راجح ده.

قوله: وَلَا تَجْعَلُوا قَبْرِي عِيدًا:

دقبر مبارك څخه د اختر جوړولو مفهوم:- مطلب دادې چه زمادَ قبرنه دَميلې خائى مه جوړه وئى په دې باندې دَاختر په شان منظر مه جوړه وئى چه هلته لهوولعب دَ زيب اوزينت مظاهره وى اودكيف اوسرور مظاهرې وى. دغه شان رايوخائى كيدل دَ غفلت سبب او دَ بې ادبئى سبب دې لكه چه يهوديان اونصارئ دغه شان كونكى راروان دى.

قوله: وَصَلُّوا عَلَيَّ:

اشكال: –شيخ عبدالحق ﷫ لمعات كښې ليكى چه كله حضورپاك ﷺ په روضه اطهرباندې دَداسې راجمع كيدو نه منع فرمائيلې نو يوقدرتى سوال پيدا كيږى چه قبرشريف سره يوخائى كيدو سره درود اوسلام پيش كول مقصود وى دَدې نه ئى څنګه منع كړل اوكه چرې منع شونوبيابه څه كوى درود اوسلام به څنګه پيش كوى؟

داشكال جواب:–دَدې جواب په دې جمله سره وركړې شو چه تاسوچرته هم وئى هم دَهغه خائى نه درود اوسلام وراندې كوئى ستاسو درود ماته رارسولې شى دَدې فكرمه كوئى يعنى حضورى بالاقوال والقلوب كافى دې حضوربالابدان په خائى دا قولى حاضرى كافى.

اوشافي اوګنړئي.

۹۳۷-په نبي عليه السلام د درود نه ليږلو وعيد

۹۳۷-()[۹]١ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢" «رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ ٣ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ٤ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ ٥ وَرَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ أَوْ أَحَدُهُمَا ٦ فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي ٢ چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چه د هغه سړي پوزه دي په خاورو ولړل شي چې د هغه مخکې زما ذکر وشي او هغه په ما درود ونه ليږي ٣ او د هغه سړي پوزه دي په خاورو ولړل شي چې په هغه باندې د رمضان (د روژي) مياشت راشي ٤ او د هغه د بخښني څخه مخکې تيره شوه ٥ او د هغه سړي پوزه دي په خاوري ککړ شي چې مور وپلار يا په هغوئ کې يو د هغه په مخکې بوډا شي ٦ او هغوئ هغه په جنت کې داخل نه کړي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① رَغِمَ: مَعْنَاهُ لُصِقَ بِالرَّغَامِ وَهُوَ التُّرَابُ، أَيْ: ذَلَّ وَهَانَ: يعنى دَ هغه سړى پوزه دې په خاورو ککړه شي دَ چا مخې ته چه زما نوم راشى اوهغه درود اونه وائى، يعنى هغې دې ذليله او سپک شى. ① انْسَلَخَ: أَيْ: انْقَضَى: ختمه شى، تيره شى.

تسهيلات:- قوله: وَرَغِمَ:

درې قسمه خلقو ته د حضور پاک صلى الله عليه وسلم بد دعا:-

① **درود شريف نه ويونکې:-**مطلب دا چه په اول ځل کله نوم راشى نو دورد وئيل واجب دى هغه دا اوونه وئيل يا بار بار راتلو باندې درود اونه وئيل دا سره دَدې چه مستحب دى ليکن دَ مطلق وعيد تعلق هم دنيا سره دې دآخرت دَ وعيد ذکرنشته دې ځکه چه پوزه په خاور ککړيدو سزا هم دَدنيا ده. دې نه معلومه شوه چه بار بار درود وئيل واجب نه دى بلکه مستحب دى.

② **په رمضان کښې د الله تعالى څخه غفلت کونکې:-**بل دَ هغه سړى پوزه دې په خاورو ککړه وى په چاباندې چه دَ رمضان په دَ رحمتونو والامياشت راشى اوتيره هم شى ليکن دا سړې دَ جنت تلو مستحق جوړنه شى ځکه چه هغه دَ رمضان حق ادا نه کړو.

③ **د مورپلار په خدمت کښې کوتاهى کونکې:-**دريم دَهغه سړى پوزه دې په خاورو ککړه شى چه دَ خپل مور پلار نه يو يا دواړه دَ بوډاوالى په حالت کښې اووينى اودې دَهغوى داسې خدمت او قدر اونه کړى دکوم په وجه چه دې جنت ته داخل شى يعنى چه دَهغوى دَ خدمت نه کولو په وجه دَ جنت مستحق جوړنه شى نوداسړې ډير لوئى بدبخته دې.

¹) اخرج الترمذي كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم - ٣٥٤٥)

٩٢٨-د درود وسلام فضيلت

٩٢٨-(١)[١٠] ١ وَعَنْ أَبِي طَلْحَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ ٢ وَالْبِشْرُ فِي وَجْهِهِ، فَقَالَ: ٣ "إِنَّهُ جَاءَنِي جِبْرِيلُ، فَقَالَ: ٤ إِنَّ رَبَّكَ يَقُولُ: أَمَا يُرْضِيكَ يَا مُحَمَّدُ ٥ أَنْ لَا يُصَلِّيَ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِكَ إِلَّا صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا، ٦ وَلَا يُسَلِّمُ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِكَ ٧ إِلَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا»؟" رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ ابو طلحه رضي الله عنه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ (صحابه و رضي الله عنهم ته) تشريف راوړو ٢ او هغه وخت د حضور ﷺ په مخ مبارک خوشحالي ظاهريده حضور ﷺ (د صحابو رضي الله عنهم د پوښتني څخه وروسته يا د پوښتني نه مخکې) وفرمايل ٣ ماته جبرائيل عليه السلام راغلي وو هغه ويل ٤ چې ستا پروردګار فرمايي اې محمد (ﷺ) آيا ته (ﷺ) په دې خبره راضي نه يې ٥ چې ستا (ﷺ) په امت کې څوک په تا درود ليږي زه به په هغه لس خله رحمت نازلوم ٦ او څوک چې ستا په امت کې په تا سلام ليږي ٧ زه به په هغه لس خله سلام وليږم، (نسايي، دارمي)

حل اللغات: - ① الْبِشْرُ: أَيْ: آثَارُ الْفَرَحِ وَالسُّرُورِ: د خوشحالۍ آثار.

تسهيلات: - **قوله:** وَالْبِشْرُ فِي وَجْهِهِ:

د نبي عليه السلام په امت باندې شفقت: -نبي کريم ﷺ په خپل امت باندې ډير زيات مشفق او مهربان وو. او اکثر به ئې دخپل امت دپاره فکر کولو او د امت په غم کښې به غمګين وو. خو هرکله چې د حضرت جبرائيل عليه السلام په ذريعه ورته دا زيرې ورکړې شو نو د حضرت نبي کريم ﷺ مخ مبارک د خوشحالۍ نه پرقيدو. بيا نبي اکرم ﷺ دا زيرې د خپلو صحابه کرامو په واسطه پورا امت ته اورسولو.

قوله: إِلَّا صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا:

د الله تعالى د طرفه د سلام په مطلب کښې دوه اقوال: -① د الله تعالى د سلام نه مراد د فرښتو په ذريعه سلام ليږل دي

② د دالله تعالى د طرفه د سلام مطلب د آفتونو نه سلامتيا ده.

٩٢٩-د درود او سلام په کثرت سره د ليږلو ترغيب

٩٢٩-(٢)[١١] ١ «وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ، ٣ فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ صَلَاتِي؟ ٤ فَقَالَ: "مَا شِئْتَ"، قُلْتُ: الرُّبُعَ؟ ٥ قَالَ: "مَا شِئْتَ، فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ، ٦ قُلْتُ:

(١) اخرج النسائى كتاب السهو/باب الفضل فى الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم (رقم- ١٢٩٥) والدارمى كتاب الصلاة/باب: فى فضل الصلاة على النبى صلى الله عليه وسلم (رقم-٢٨١٥)

(٢) اخرج الترمذى كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم- ٢٤٥٧)

النِّصْفَ، قَالَ: "مَا شِئْتَ، [۷] فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ"، قُلْتُ: فَالثُّلُثَيْنِ؟ [۸] قَالَ: "مَا شِئْتَ، فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ"، [۹] قُلْتُ: أَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِي كُلَّهَا؟ [۱۰] قَالَ: "إِذًا تُكْفَى هَمَّكَ، وَيُكَفَّرُ لَكَ ذَنْبُكَ»"، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] ابي ابن كعب رضي الله عنه فرمايي [۲] چې ما عرض وكړو يا رسول الله ﷺ زه په تا په كثرت سره درود ليږم [۳] (يعني په كثرت سره درود استول غواړم نو اوس راته ته ﷺ اووايه چې) خپلي دعا د پاره چې ما كوم وخت مقرر كړي دي په هغې كې څومره وخت به تا د درود ليږلو د پاره مخصوص كړم؟ [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل څومره چې ستا زړه غواړي ما عرض وكړو آيا څلورمه حصه (وخت مقرر كړم)؟ [۵] حضور ﷺ وفرمايل څومره چې ستا زړه غواړي كه زيات وخت مقرر كړي نو ستا د پاره بهتره ده [۶] ما عرض وكړو آيا نيم وخت مقرر كړم؟ وي فرمايل څومره چې ستا زړه غواړي [۷] كه زيات مقرر كړي نو ستا د پاره بهتره ده ما عرض وكړو د ورځي دوه حصي وخت مقرر كړم وي [۸] فرمايل څومره چې ستا زړه غواړي كه د دې څخه زيات مقرر كړي نو ستا د پاره بهتره ده [۹] ما عرض وكړو بنه ده زه د خپلي دعا ټول وخت ستا ﷺ د درود د پاره مقرروم [۱۰] حضور ﷺ وفرمايل بس اوس به داستا كفايت وكړي (ستا د دين ودنيا مقاصد به پوره كړي) او ستا ګناه به معاف شي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① هَمَّكَ: حاجات او ضروريات (يعنى د دين او دنيا ټول ضروريات او مقاصد مراد دى). ② يُكَفَّرُ: أَى يُغْفَرُ لَكَ: اوبه رژوى يعنى اوبه ئې بخښى.

تسهيلات: - **د امت دپاره خوشخبرى:**

قوله: أَكْثِرُ الصَّلَاةَ:

دحديث په مطلب كښې دوه اقوال: - ① مطلب دادې چه زه دَ زيات نه زيات درودليږلو اراده لرم تاسو دَهغې حدمتعين كړئى چه زه دومره څل وايم

② مطلب دادې چه يارسول الله! زه دَخپل ذات دَپاره ډيره دعاكوم اوس زه غواړم چه دَدعا په دغه وختونو كښې په تاسو باندې درود اووايم. لهذا هم تاسو راته مقرر كړئى چه څومره وايم.

درود شريف ته د وخت وركولو څلور درجې:

① دَدې په جواب كښې حضورپاك ﷺ اوفرمائيل چه څومره دې زړه غواړې وايه ته پخپله په خپلو وختونوباندې پوهيږې دَ خان دَپاره مقرر كړه.

② په دې باندې صحابى اوفرمائيل چه څلورمه حصه وخت مقرر كړم حضورپاك ﷺ تحديد اونه فرمائيلو بلكه وئى فرمائيل چه څومره غواړې اوكه زيات كولې شې نوزياته بهتره ده.

③ صحابى دَ نيم وخت تپوس اوكړو نو حضورپاك ﷺ هم هغه جواب وركړو بيا صحابى دَدريمې حصې تپوس اوكړو نو حضورپاك ﷺ بيا هم هغه جواب وركړو.

④ په دې باندې ابی بن کعب رضی الله عنه اوفرمائیل زه خپل ټول وخت په درود کښې صرف کول غواړم.

د کثرت درود فوائد: – ① په دې باندې نبی مکرم ﷺ اوفرمائیل چه که داسې دې اوکړل نوستاد دنیا ټول ضرورتونه به پوره کړې شی

② اوستا ټول ګناهونه به معاف کړې شی. د دې حدیث نه معلومه شوه چه د درود ویلو بیشمیره فائدې دی د دین او دنیا ټول ضرورتونه پوره کیږی. د شمیر اوتعداد هیڅ حد او څه شرط نشته دې.

د ابی بن کعب معمول: – حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه خپل اوراد او وظائف ټول وختونه د درود د پاره وقف کړل. په دې باندې د حضورپاك ﷺ د طرف نه د دغه انعام زیرې ملاؤ شو چه د پوره امت د پاره بشارت او زیرې دې.

۹۳۰– د درود څخه وروسته د غوښتلي دعا قبوليت

۹۳۰–()[۱۴] ① وَعَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى، ③ فَقَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي، ④ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَجِلْتَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي، ⑤ إِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَ، فَاحْمَدِ اللهَ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ، ⑥ وَصَلِّ عَلَيَّ، ثُمَّ ادْعُهُ".

ترجمه: ① فضاله بن عبید رضی الله عنه فرمايي ② چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ ناست وو ناڅاپه يو سړي راغې هغه مونځ وکړو ③ بيا يې دا دعا وغوښتله اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ (اې الله ما وبخښې او په ما رحم وکړې ④ (د دې په اوريدو) رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اې مونځ کونکيه تا (د دعا ترکيب ترك کولو سره) تلوار وکړو ⑤ [بيا يې ورته وفرمايل] هر کله چې ته مونځ وکړې نو (د لمانځه څخه وروسته د دعا د پاره) کېنه او د الله تعريف وکړه څنګه تعريف چې دهغه لائق دې ⑥ او په ما درود ووايه بيا چې ته څه غواړې د الله څخه يې وغواړه (لکه چې رسول الله ﷺ هغه ته د دعا آدب او طريقه وروښودل)

① قَالَ: ثُمَّ صَلَّى رَجُلٌ آخَرُ بَعْدَ ذَلِكَ، ② فَحَمِدَ اللهَ، وَصَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ③ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "④ أَيُّهَا الْمُصَلِّي، ادْعُ تُجَبْ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: ① حضرت فضاله رضی الله عنه وايي چه د هغه څخه وروسته يو بل سړي مونځ وکړو ② (په آخر کې) هغه د الله تعالیٰ جل جلاله تعريف هم بيان کړو او په حضور ﷺ يې درود هم ووېلو [او هغه دعا ونه غوښتله] ③ حضور ﷺ هغه ته وفرمايل ④ اې مونځ کونکيه دعا هم وغواړه قبوله به شي. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي)

[1] اخرج الترمذی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲٤۷٦)

تسهيلات: - قوله: عَجِلْتَ:

په عجلت او سرعت کښې فرق: - عَجِلْتَ: جلتی دې اوکړه (ددې په معنی کښې بل لفظ سرعت هم دې دواړو کښې فرق دادې چه سرعت اکثر د خير او د نيکئ په کارونو کښې استعماليږي او عجلت صرف د شر په ځای کښې استعماليږي).

۹۳۱- د دعا د قبليدو د پاره درود لوستل

۹۳۱-() [۱۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كُنْتُ أُصَلِّي وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ مَعَهُ، [۳] فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ تَعَالَى، [۴] ثُمَّ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۵] ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِي، [۶] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَلْ تُعْطَهُ، سَلْ تُعْطَهُ"»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) ما مونځ کولو او رسول الله ﷺ تشريف فرماوو حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه هم ورسره حاضر وو [۳] نو (د لمانځه ځخه وروسته) چې کله زه کيناستم او د الله جل شانه تعريف بيانول مې شروع کړل [۴] بيا مې په حضور ﷺ درود وليږلو [۵] د هغه ځخه وروسته (د خپل ديني او دنياوي مقاصدو د پاره مې) دعا وغوښتله [۶] (د دې ليدلو سره) رسول الله ﷺ راته وفرمايل غواړه يه دربه کړل شی غواړه دربه کړل شي (يعني دعا غواړه ضرور به قبليږي). (ترمذي)

تسهيلات: -

قوله: ثُمَّ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د دعا د قبوليت د پاره د درود شريف وئيل: - ځينې وائی چې شايد ددې نه مراد حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وی. لکه ځنګه چې راتلونکی حديث کښې راځی. حاصل د حديث دا دی چې حضور ﷺ د دعا آداب خودلی دی چې د مونځ نه پس اول د الله تعالی تعريف بيان کړئی، بيا درود اووائي، بيا دعا اوکړي نو الله تعالی به ستاسو دعا قبوله کړی.

د مونځ نه پس په جمات کښې لږه ناسته کول: - ابن مسعود رضي الله عنه فرمائی چې دې حضراتو مونځ کړې وو او مسجد کښې ناست وو. او ما مونځ کولو نه پس دعا اوکړه. نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چې حمد او درود نه پس کومه دعا اوغوښتلې شی نو الله تعالی به هغه قبلوی. دې نه معلومه شوه چې مونځ نه پس لږ ساعت په مسجد ناسته سنت ده.

[۱] اخرج الترمذی کتاب السفر/باب ما ذکر فی الثناء علی الله، والصلاة علی النبی صلی الله علیه وسلم قبل الدعاء (رقم-۵۹۳)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۹۳۲–د درود لوستلو ترغيب

۹۳۲–()[۱۴] ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَكْتَالَ بِالْمِكْيَالِ الْأَوْفَى ۳ إِذَا صَلَّى عَلَيْنَا أَهْلَ الْبَيْتِ ; فَلْيَقُلْ: ۴ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ، ۵ وَأَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ، وَذُرِّيَّتِهِ، وَأَهْلِ بَيْتِهِ، ۶ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، ۷ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي ته چې دا خوښ وي (يعني د هغه دا خواهش وي) چې هغه ته پوره (او د زيات څخه زيات) ثواب حاصل شي ۳ نو هغه ته پکار دي چې زمونږ په اهل بيت باندې دې داسې درود ولېږي ۴ اللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الامي وَأَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِيْنَ وَذُرِّيَّتِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، (اې الله تعالى جل جلاله په محمد ﷺ باندې چې نبي امي دې ۵ د حضور ﷺ په بيبيانو مبارکو چې د ټولو مؤمنانو ميندې دي او د حضور ﷺ په اولاد وأهل بيت باندې رحمت نازل کړې ۶ څنګه چې تا په ال د ابراهيم عليه السلام باندې رحمت نازل کړې وو ۷ بيشکه ته بزرګ او برتر يې. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① سَرَّهُ: أَيْ: أَعْجَبَهُ وَأَحَبَّ: يعنى دائي خواهش وى او خوښه ئې کړى.

② يَكْتَالَ بِالْمِكْيَالِ: عِبَارَةٌ عَنْ نَيْلِ الثَّوَابِ الْوَافِي، أَيْ: يُعْطَى الثَّوَابَ: يعنى زيات ثواب حاصل کړى.

تسهيلات:- **قوله:** الْأُمِّيِّ:

مخکنی کتابونو کښې د حضور پاک صلى الله عليه وسلم مشهور لقب:–دَ رسول الله ﷺ دير نومونه دى څه نومونه داسې هم دى چه دَ حضورپاك ﷺ په خصوصيات او صفات په بنياد باندې دى. پخوانو کتابونو کښې دَ حضورپاك ﷺ مشهور لقب او مشهور تعارف "النبى الامى" وو دَ کوم ذکرچه په تورات او انجيل کښې وو او دَيهوديانو اونصارىٰ په ژبو باندې عام وو. په قرآن کريم کښې دَ حضورپاك ﷺ دپاره دا لقب دوه ځل استعمال کړې شوې دې. سورت اعراف آيت نمبر ۱۵۴ او ۱۵۷ کښې "النبى الامى" مبارك لقب ذکر دې. دَ "أُمِّيِّيْنَ" لفظ په قرآن کريم کښې درې ځل راغلې دې دکوم نه چه اهل عرب او اهل مکه مراد اخستې دى.

د لفظ امى تحقيق:– "امى" دَ ام طرف ته منسوب دې دې نه مراد هغه سړې دې چه ليکل اولوستل نه پيژنى، حضورپاك ﷺ ته امى هم په دې اعتبارسره وائى چه هغوى دَ پيدائش نه پس نه دَ يو استاذ په وړاندې شاګردى کړې اونه چرته يومکتب ته تللې. ځلوينبت

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب الصلاة على النبي صلى الله عليه وسلم بعد التشهد (رقم- ۹۸۲)

کالوپوري حضورپاك ﷺ هم دغه شان پاتې دې څنګه چه هغوی ﷺ دَ پيدائش په وخت وو. بيا الله تعالی نيغ په نيغه الله تعالی هغوی ﷺ خپل شاګرد جوړ کړو او حضورپاك ﷺ ته ئې ټول علوم دَ شريعت ورعطا کړل. دَوحی په سلسله کښې جبرائيل آمين صرف واسطه وه هغه دَ حضورپاك ﷺ استاذ نه وو هم دغه تعليم اوتربيت طرف ته اشاره کولوسره حضورپاك ﷺ ارشاد فرمائيلې "ادبني ربي فاحسن تاديبي" رسول الله ﷺ الله تعالی دَ غيرِ دَ شاګردئی نه دَدې دَپاره محفوظ ساتلې دې دَپاره چه دَخراب باطن خلق په حضورپاك ﷺ باندې داا اعتراض اونه کړی چه ده دَ فلانکی نه زده کړه کړې او اوس دَ نبوت خبرې کوی. لکه چه حضورپاك ﷺ دَ شاګردئی دَپاره الله تعالی دَخپل ځان دَپاره خاص کړې دَ بل چا دَتربيت ئې په هغوی کښې ګډوډوالې نه دې پريخودې.

۹۳۳—په درود نه ليږونکی باندې د بخيل اطلاق

۹۳۳—(۱)[۱۵] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«الْبَخِيلُ الَّذِي مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ [۳] فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، [۴] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - [۵] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] حضرت علي کرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] بخيل هغه سړي دي چې د هغه په مخکې زما ذکر وشي (يعني زما نوم واخستل شي) [۳] او هغه په ما درود ونه ليږي، ترمذي، [۴] دا حديث امام احمد رحمه الله د حسين ابن علي رضی الله عنهما څخه نقل کړي دي [۵] او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح غريب دي.

تسهيلات:- قوله: "الْبَخِيلُ"

• **حقيقی او اصلی بخيل**:- يو خودَمال بخيل وی کوم چه عام انسانان پيژنی اوهغه بخيل منی. ليکن يو حقيقی بخيل وی کوم چه عام انسانان نه پيژنی. دَ هغه تعارف حضورپاك ﷺ په دې حديث مبارك کښې اوکړو چه اصل بخيل هغه دې دَ چا په مخکښې چه زما نوم واخستې شی او هغه درود اونه وائی. دا اصل بخيل څکه دې چه درود وئيلو باندې دَ هغه دَ جيب نه څه پيسه وغيره نه ځی اونه څه مشقت وی اوفائده ئې ډيره زياته ده خوبيا هم دغه سړې په دې کښې دَ بخل او کنجوسئی نه کار اخلی.

۹۳۴—د درود شريف نبی عليه السلام ته رسيدل

۹۳۴—(۲)[۱۶] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ صَلَّى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِي سَمِعْتُهُ، [۳] وَمَنْ صَلَّى عَلَيَّ نَائِيًا أُبْلِغْتُهُ» " رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي: "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

---

[۱] اخرج الترمذی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم /باب (رقم - ۳۵۴۶)

[۲] اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم (۱۵۵۳)

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې زما د قبر سره ودريږي او په ما درود اووائي نو زه هغه اورم [۳] او کوم سړي چې د لرې ځخه په ما درود راليږي نو هغه ماته رارسول کيږي (بيهقي)

حل اللغات: - ① نَائِيًا: أَيْ: مِنْ بَعِيدٍ: د لرې نه، ② أُبْلِغْتُهُ: أَيْ: أُعْلِمْتُهُ: رارسولې شي ماته،

تسهيلات: - **قوله:** عِنْدَ قَبْرِي:

د حيات النبى صلى الله عليه وسلم دليل: دَدي حديث پاك نه يوه داخبره واضحه شوه چه حضورپاك ﷺ په خپل قبر کښې حيات دې اودرود اوسلام پخپله اوري. دَدي تفصيل د حديث نمبر ۹۲۵ په شرح کښې تير شوې دې.

۹۳۵—په يو ځل درود شريف وئيلو اويا ځله د فرشتو بنده دپاره استغفار غوښتل

۹۳۵—()[۱۷] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] مَنْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاحِدَةً [۳] صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَمَلَائِكَتُهُ سَبْعِينَ صَلَاةً. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن عمر رضی الله عنه فرمايي کوم سړي [۲] چې په رسول الله ﷺ يو ځل درود ليږي [۳] په هغه الله تعالى جل جلاله او د هغه ملائکي ۷۰ (اويا) ځله رحمت ليږي. (احمد)

تسهيلات: -

قوله: سَبْعِينَ صَلَاةً:

اشکال: — د مخکنو احاديثو ځخه معلومه شوه چې د يو درود په ځائې الله تعالى لس رحمتونه نازلوى او په دې حديث کښې د اويا رحمتونو ذکر دې؟

داشکال جواب: — په ظاهره داسې ښکاريږى چه دا ثواب دَ جمعه مبارکې ورځ سره خاص دې ځکه چه دې نه وړاندې مرفوع احاديثو کښې دَ يودرود لس چنده زيات ثواب بيان کړې شوې دې. دَ جمعه باره کښې په رواياتو کښې راغلى دى چه دَجمعه په ورځ دَ اعمالو ثواب اويا چنده زياتيږى اودَ جمعه په ورځ يوحج دَ اوياؤ حجونو برابر وى.

حديث الباب د مرفوع په حکم کښې: —دَدې حديث دَ الفاظونه معلوميږى چه داموقوف دې اوداد حضرت ابن عمر رضی الله عنهما اثر دې مگر داسې نه دى ځکه چه دَ فضائلو په ابواب کښې يوحديث يوسړې خپل طرف نه بيانولې نه شى ځکه چه دَ علماء متفقه فيصله ده چه "والفضائل لاتوخذ بالقياس" (تحفة الاحوذى ج ۱۰ ص ۳۶۴) يعنى فضائل په قياس کولوسره نه شى بيانولې. لامحاله حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما داحديث دَ حضورپاك ﷺ نه اوريدو سره بيان کړې وى نودا روايت دَ مرفوع حديث په حکم کښې دې.

(۱) اخرجه احمد فى المسند ۱۸۷/۲

۹۳۶- په درود سره د نبی علیه السلام د شفاعت وجوب

۹۳۶-(١)[١٨] ۞ وَعَنْ رُوَيْفِعٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۞ "«مَنْ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَقَالَ: ۞ اللَّهُمَّ أَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۞ وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِي» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۞ حضرت رويفع ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۞ کوم سړي چې په محمد ﷺ درود وليږي او (د درود ليږلو څخه وروسته دا هم) اووائي ۞ اللَّهُمَّ أَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، (اي پروردګاره محمد ﷺ ته په هغه مقام ځاي ورکړي چه ستا په نيز مقرب دي د قيامت په ورځ) ۞ نو د هغه د پاره زما شفاعت واجبيږي. (احمد)

حل اللغات: - ① الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ: هُوَ الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ: د الله تعالى سره په جنت کښې نزدې مقام، ددې نه مراد مقام محمود دې په کوم کښې چه به حضورپاک ﷺ دَ محشر په ورځ دَ شفاعت کبرىٰ دَپاره په سجده کيږي

تسهيلات: -

قوله: وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِي:

د شفاعت دوجوب درود: -دا درود يوخاص درود دې کوم چه خواص لولي اودَ کوم چه عجيبه اثرات دي. "وجبت له شفاعتي" يعنى دې درود سره شفاعت واجب کيږي.

د شفاعت عظمت: -دَ شفاعت قدر بانديې تاسو داسې پوهيدلې شئی مثلاً چه په يوغيرملکی ائيرپورټ بانديې سړې حيران او پريشان ولاړوی ناڅاپی يوسرکاری سړې راشي او وائی چه دادَ سرکار سړې دې دې ويناکولوسره هغه دَلاس نه اونيسي او په اعزاز سره دَټولو قوانينونه بالادَ بادشاه خصوصي مهمان خانې ته بوځی او هلته حصار شي. دغه شان چه سړې په ميدان حشر کښې حيران اوپريشان ولاړوی دَحساب کتاب ټول مشکلات مخې ته وی اوناڅاپی دَرسول عربی ﷺ قاصد راشی اوقانونی افسرانوته اووائی چه دادَ محمدعربی سړې دې دا ويناکولوسره دې دَلاس نه اونيسي جنت ته ئې بوځی اوشاهی مهمان جوړولوسره په شاهی مهمان خانه کښې حصارکړی دادَ شفاعت پس منظردې الله تعالى دې مونږ ته نصيب کړی. آمين.

۹۳۷- د درود په صله کښې د الله تعالى رحمت

۹۳۷-(٢)[١٩] ۞ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ۞ «خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى دَخَلَ نَخْلًا ۞ فَسَجَدَ، فَأَطَالَ السُّجُودَ ۞ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ اللهُ تَعَالَى قَدْ تَوَفَّاهُ ۞ قَالَ: فَجِئْتُ أَنْظُرُ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ ۞ فَقَالَ: "مَالَكَ؟" فَذَكَرْتُ لَهُ ذٰلِكَ ۞ قَالَ: فَقَالَ: "إِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ لِي: أَلَا أُبَشِّرُكَ

(١) اخرجه احمد فى المسند ١٠٨/٤

(٢) اخرجه احمد فى المسند ١٩١/١

أَنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ يَقُولُ لَكَ: [٨] مَنْ صَلَّى عَلَيْكَ صَلَاةً، صَلَّيْتُ عَلَيْهِ، [٩] وَمَنْ سَلَّمَ عَلَيْكَ، سَلَّمْتُ عَلَيْهِ» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] عبدالرحمٰن بن عوف رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمايي [٢] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ (د مسجد يا مكان څخه) وتلو سره د خورماؤ په يو باغ كې داخل شو [٣] او هلته (په بارګاه الٰهي كې) په سجده شو او په سجده كې يې دومره اوږدوالي وكړو (يعني دومره يې سجده اوږده كړله) [۴] چې زما سره ويره پيدا شوه چې (الله دې نه كړي) الله تعالىٰ خو حضور ﷺ وفات كړي نه وي [٥] نو زه د حضور ﷺ ليدلو ته راغلم چې اوګورم چه آيا حضور ﷺ ژوندي دي يا وفات شوي دي [٦] حضور ﷺ زما (د پښو كښنهاري اوريدلو سره) خپل سر مبارك (د زمكې څخه) راپورته كړو [٧] و وي فرمايل څه وشو؟ (يعني داسې څه خبره پيښه شوه چې په تا باندې (د خوف او د غم علامت خور شوي دي) بيا ما ورته صورت حال ذكر كړو [٧] راوي وايي (د دې څخه وروسته) رسول الله ﷺ وفرمايل چې جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام ماته اوويل آيا زه تا ته دا زيرى درنه كړم چې الله بزرګ وبرتر فرمايي [٨] كوم سړي چې په تا درود ليږي زه به په هغه رحمت ليږم [٩] او كوم سړي چې په تا سلام ليږي زه به په هغه سلام ليږم. (احمد)

حل اللغات:- ① نَخْلًا: أَيْ: بُسْتَانَ نَخْلٍ: ددې نه د كهجورو باغ مراد دي.

تسهيلات:-

قوله: فَأَطَالَ السُّجُودَ:

دسجدې په مصداق كښې دوه اقوال:- ① د دې څخه د نفلو سجده مراد ده

② د دې څخه مستقله سجده مراد ده. او دا معنى زياته ظاهر ده.

قوله: حَتّٰى خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ اللّٰهُ تَعَالَى قَدْ تَوَفَّاهُ:

د عبدالرحمن بن عوف د ويرې وجه:- حديث كښې عبدالرحمن ابن عوف رضي الله عنه د خپل زړه ويره ظاهره كړه ،او دا د تعجب سبب نه دې خكه چې د انبياء كرامو عليهم السلام د مونځ په حالت كښې وفات كيدل ممكن دى. لكه څنګه چې حضرت سليمان عليه السلام مرګ ته نزدې وو ،دوارو لاسونو كښې ئې همسا نيولې وه ،او په هغه همسا باندې ئې زنه اينبودې وه او ناست وو. او په دې حالت كښې ئې روح پرواز اوكړو. او په دې حالت كښې يو كال پورې ناست وو.

٩٣٨- د دعا د قبوليت دپاره درود ويل

٩٣٨-(١)[٢٠] [١] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، [٣] لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ [۴] حَتّٰى تُصَلِّيَ عَلَى نَبِيِّكَ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

(١) اخرج الترمذی كتاب الوتر/باب ما جاء فی فضل الصلاة على النبی صلى الله عليه وسلم (رقم- ۴٨۶)

ترجمه: ① امیرالمؤمنین حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمایي② چې دعا تر هغه وخته پورې د آسمان او زمکې په مینځ کې معلقه وي③ او د هغې څخه هیڅ شي پورته نه خیږي ④ تر څو پورې چې ته په خپل نبي ﷺ باندې درود ونه لیږې. (ترمذي)

حل اللغات:- ① مَوْقُوفٌ: رازوړنده ایساره وی. ② لَايَصْعَدُ: پورته نه خیژی یعنی نه قبلیږی.

تسهیلات:-

قوله: إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوفٌ:

د درود په برکت د دعا قبلیدل:- یعنی ترکومې پورې چه په حضورپاك ﷺ باندې درود اونه وئیلې شی هیڅ دعا نه قبلیږی. کله چه درود اووئیلې شی نو نودعا په هغې باندې سوریدوسره په درګاه دَ الله رب العزت کښې دَ قبولیت درجه حاصلولوسره رسیږی.

د میږی واقعه:- وئیلی شی چه دَ یومیږی شوق پیدا شوچه دَبیت الله زیارت اوکړی دَهغه دَپاره دَ چا دَ ذریعې نه بغیردَ په سوونو میلونو لرې رسیدل محال وو. ناڅاپی یوکوتره راغله میږې دَهغې پنځو اوخپو پورې انختلو او فوری بیت الله ته اورسیدو.

ددعا په اول اوآخر کښې درود وئیل:- حصن حصین کښې لیکلی دی چه حضرت شیخ ابوسلمان دارانی رحمه الله اوفرمائیل چه کله تاسو دَ الله تعالی په مخکښې دَخپل څه حاجت دَ پوره کولودَپاره لاسونه دَدعا دَپاره خواره کړې نو شروع په حضورپاك ﷺ باندې دَ درود نه کوه اودَ دعا ختمول هم په درود سره کوه یعنی اول او آخر په حضورپاك ﷺ باندې درود وایه مینځ کښې دعا غواړه ځکه چه الله تعالی په خپل فضل اوکرم سره درود قبلوی. نودَ الله تعالی دَ شان کریمی تقاضا ده چه کله هغه دواړه درودونه قبول کړی نو مینځ کښې به دعا نه پریږدی بلکه هغه به هم قبوله کړه.

فائده: د درود شریف قبولیت:- بعضې علماؤ لیکلی دی چه دَ انسان په اعمالو کښې درود داسې عمل دې چه دَ الله تعالی په نیز قبول اوهم قبول دې درود کله نه رد کیږی په دې شرط چه صحیح درود وی اودَ ځان خودلودَپاره نه وی.

[۳۴/۱۷]بَابُ الدُّعَاءِ فِي التَّشَهُّدِ

د تشهد نه پس د دعا ولیلو بیان

خلاصة الباب:-

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① الدعاء في آخر الصلوة: ۱، ۲، ۳، ۴، ۱۱، ۱۶، ۱۷.
② كيفية السلام: ۵، ۱۲، ۱۸.
③ الإقبال على القوم بعد الصلوة: ۶، ۹.
④ الانصراف عن الصلوة: ۷، ۸، ۱۳،۹.
⑤ عدم قيام القوم قبل قيام الإمام: ۱۰، ۱۵.
⑥ الدعاء بعد الصلوة المكتوبة: ۹، ۱۱.
⑦ تحول الإمام عن موضع الإمامة: ۱۴.
⑧ من ينوي في التسليم: ۱۹.

د ترجمة الباب وضاحت:

د في په لفظ کښې دوه احتمالات:- ① په ترجمة الباب مطلب دا دې چې په قعده اخیره کښې کوم څه وئیلی شی په هغې کښې تشهد هم دې او د تشهد نه پس دعا هم ده.
② کښې د دې لفظ "في" استعمال به صحیح شی یا د "في" لفظ "بعد" په معنی کښې دې "اي باب الدعا بعد التشهد" دغه شان به مقصود صحیح شي.

په مانځه کښې د خلقو خبرو سره مشابه الفاظو سره د دعا کولو حکم:- د درود څخه روسته چې کومې دعاګانې غوښتلې شی دهغه داسې الفاظ دې داسې نه وی کوم چې د خلقو د خبرو سره مشابهت وی یعنی یوسړې دې دا دعانه غواړی "اللهم زوجني فلانة" دې سره به مونځ خراب شي. په احادیثو کښې چه کومې دعاګانې راغلی دی هغه د ټولونه بنه دی هم هغه وئیل پکاردی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۹۳۹- په تشهد کښې د نبی علیه السلام دعا

۹۳۹-(¹)[۱] عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲]«كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو فِي الصَّلَاةِ -

¹) اخرجه البخاری کتاب الاذان باب الدعاء قبل السلام (رقم- ۸۳۲) ومسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة باب ما يستعاذ منه في الصلاة)(رقم) ۱۲۹ - (۵۸۹) وابوداود کتاب الصلاة،باب الدعاء في الصلاة (رقم-۸۸۰) والنسائی کتاب السهو/باب التعوذ في الصلاة نوع آخر(رقم-۱۳۱۰)

يَقُولُ: [۳]" اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، [۴]وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ [۵]وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ، [٦] اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَمِنَ الْمَغْرَمِ "، [۷] فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ: مَا أَكْثَرَ تَسْتَعِيذُ مِنَ الْمَغْرَمِ! [۸]فَقَالَ: "إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَرِمَ: حَدَّثَ فَكَذَبَ، [۹]وَوَعَدَ فَأَخْلَفَ»"، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] د مؤمنانو مور بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ به په لمانځه کې د تشهد څخه وروسته دا دعا غوښتله: [۳] اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُبِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوْذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوْذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَعُوْذُبِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَالْمَغْرَمِ، اي الله زه د قبر د عذاب څخه ستا پناه غواړم[۴] او د مسيح دجال د فتني څخه ستا پناه غواړم [۵] او د ژوند د فتنو څخه او د مرگ د فتنو څخه ستا د پناه طلبگار يم[٦] اي پروردگاره زه په تا سره د گناهونو څخه او د قرض څخه پناه غواړم[۷] (د راوي بيان دي چې د حضور ﷺ دا دعا اوريدو سره) يو ويونکي اوويل چه ستا ﷺ د قرض څخه ډيره پناه غوښتل د لوي تعجب خبره ده[۸] حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې سړي قرضداره وي نو خبري جوړوي او دروغ وايي[۹] او چې وعده کوي نو وعده خلافي کوي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ: يعنى دَ ژوند او د مرگ دَ فتنې نه ستا پناه غوارم. ② اَلْمَأْثَمِ: دا لفظ خودَ ظرف مکان صيغه ده مطلب داچه دَداسې ځايونونه پناه غواړم کوم چه دګناهونو ذريعه جوړيږی يا دا لفظ مصدر ميمی دې کوم چه دګناه په معنی کښې دې. مطلب دا چه دګناهونونه ستا پناه غواړم اودَ ګناهونو دَ مواقع او اسباب نه ستا پناه غواړم. ③ اَلْمَغْرَمِ: مغرم اوغرامه تاوان او قرض ته وائی. ④ حَدَّثَ: خبرې کوی ⑤ فَأَخْلَفَ: مخالفت کوی په وعده کښې.

تسهيلات:- قوله: مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ:

عيسى عليه السلام ته د مسيح وئيلو وجوهات:- ① مسيح دَمسح نه دې دکوم معنی چه ده لاس راښکل اوحضرت عيسى عليه السلام به په بيمارانوباندې لاس راښکلو نوهغوی به جوړيدل. په دې وجه هغوی ته مسيح اووئيلې شو.

② حضرت عيسى عليه السلام ته خکه مسيح وائی چه هغه مبارك دې اوپه عبرانی ژبه کښې مسيحا دَ مبارك په معنی کښې دې.

③ هغوی ته مسيح په دې وجه هم وائی چې په آخره زمانه کښې چې هغه راشی نوهغه به ټوله دنيا باندې حکومت کوی اوګويا چې ټوله زمکه به مسح کوی.

دجال ته د مسيح وئيلو دوې وجهې:- ① دجال به ممسوح العين وی يَعنی سترګه به ئې کانړې وی خکه ورته مسيح وائی.

② دجال ته مسيح خکه وائی چه هغه به څلويښتو ورځو کښې ټولې دنيا ته لاس اوړی او په ټولو طرفونو کښې به ګرځی بغيردَ مکې مکرمې اومدينې منورې نه

فائده:- کله چې مسيح مطلق ذکر شی نو دهغې څخه به حضرت عيسى عليه اسلام مراد

وي او چه کله دجال دپاره د مسيح لفظ استعماليږي نو هغې سره د دجال لفظ لګول ضروري دی دې دپاره چه حضرت عيسیٰ علیہ السلام مسيح سره ئې التباس رانه شي.

•ومن الفتنة المحيا: دژوند فتنه دا ده چه سړې د نيغې لارې د هدايت نه بې لارې کيدوسره دګمراهئ په لار روان شي او راپريوځي او د برداشت نه بهرمصيبتونوکښې راګيرشي. په کوم کښې چه د آخرت هيڅ فائده نه وي.

قوله: وَفِتْنَةِ الْمَمَاتِ:

دمرګ د فتنې درې مصداقات ① د مرګ فتنه دا ده چه د زنکدن په حالت کښې شيطان العين د انسان په زړه کښې قسم قسم وسوسې اچوي اوکله انسان د ايمان د دولت نه محروم کوي او د هميشه عذاب کښې اخته کوي.

② د مرګ نه پس په قبرکښې د منکر نکير سوال جواب په کوم کښې چه سړې ګډوډشي او صحيح جواب ورنه کړې شي اودقبر په عذاب کښې راګيرشي دا هم د مرګ فتنه ده

③ حشر اونشر هم د مرګ فتنه ده.

قوله: وَمِنَ الْمَغْرَمِ:

د قرض په مصداق کښې دوه احتمالات: – ① هغه قرض مراد دې چه قرض ئې واخستو مګر د ادا کولوئې هيڅ نيت نه وي.

② دې نه هغه قرض مراد دې چه د عياشئ، نافرمانئ او بدمعاشئ دپاره اخستې شوې وي او د ورکولوخيال ئې نه وي

استثنائي صورت: – ليکن که يو سړې د نيک مقصد دپاره قرض اخلي اود اداکولوصورت ئې هم شته اواراده ئې هم ده نود داسې قرض دپاره دا وعيد نه دې.

د قرض اخستلو نقصانات: – ① د قرض د اخستلو وخت کښې سړې اکثر د درغو بهانې اوخبرې جوړولوسره قرض حاصلوي دا اخروي نقصان دې

② چه د اداکولووخت راځي نوهغه وعده کوي اوخلاف ورزی کوي.

دقرض اخستل د نفاق د دوؤ خصلتونوته دعوت ورکول: – ① د قرض اخستلو په وخت چه کله سړې د اداکولود وخت وعده خلافي کوي.نو په هغه کښې د منافق يو صفت راځي

② اوکله چه دروغ وائي نو د منافق دويم صفت په کښې راشي په دې وجه د قرض نه پناه غوښتلې شوې ده. ځکه چه په دې سره د آخرت ډير نقصان کيږي.

د شپږو مهلکاتو نه د پناه غوښتلو وجه: – په دې حديث شريف کښې رسول الله ﷺ د شپږو مهلکاتو نه پناه غوښتې ده ځکه چه دا ځيزونه ډير لوئې تباه کونکې دي. که چرې په دې کښې د يو په فتنه کښې سړې راګيرشي نودنيا اوآخرت به ئې برباد شي. نو حضورپاک ﷺ امت ته تعليم ورکړو چه تاسو داسې پناه غواړئ.

۹۳۰- د مونځ څخه روسته د بعضې څیزونو څخه پناه غوښتل

۹۳۰-(۱)[۲] ⑴ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⑵ " «إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ، ⑶ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ أَرْبَعٍ: ⑷ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، ⑸ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، ⑹ وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⑴ ابوهریره ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⑵ هر کله چې په تاسو کې یو سړي په لمانځه کې د آخري تشهد (یعني التحیات) څخه فارغ شی ⑶ نو هغه ته پکار دي چې هغه د څلورو څیزونو څخه د الله تعالی ﷻ د پناه طلبګار شی ⑷ ① د دوزخ عذاب نه ② د قبر عذاب نه ⑸ ③ د ژوند او د مرګ د فتنې نه ⑹ ④ د مسیح د جال د شر څخه. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ:

دسلام څخه روسته دعا غوښتل: -دَحدیث دَ ظاهری الفاظونه معلومیږی چه دا دعا هم په مانځه کښې ده البته دَ قعده اخیره دَ تشهد اوسلام په مینځ کښې ده. دَ سلام نه پس دا دعامنع نه ده لیکن دَحدیث مطلب دانه دي چه دا دعادَمانځه نه پس ده. دَدې حدیث نه داهم معلومه شوه چه دَ سلام نه وړاندې معروف دعاګانونه علاوه څه بل څه دعا هم غوښتلې شی.

۹۳۱- صحابو ته د مذکوره دعا تعلیم

۹۳۱-(۲)[۳] ⑴ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - ⑵ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ ⑶ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، ⑷ يَقُولُ: " قُولُوا: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، ⑸ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، ⑹ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، ⑺ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⑴ حضرت ابن عباس ﷠ راوي دي ⑵ چې رسول الله ﷺ به مونږ (صحابو او اهل بیت ﷡) ته دا دعا داسې ښودله ⑶ څنګه چې به رسول الله ﷺ مونږ ته د قرآن یو سورت ښودلو ⑷ رسول الله ﷺ به فرمایل چې (دا دعا داسې) وایئ اللّٰهُمَّ...الخ (اې الله زه د جهنم د عذاب څخه ستا پناه غواړم ⑸ د قبر د عذاب څخه ستا پناه غواړم ⑹ او د مسیح دجال د فتنې څخه ⑺ او د ژوند د فتنو څخه او د مرګ د فتنو څخه ستا پناه طلب کوم) (مسلم)

[1] اخرجه البخاری کتاب الاذان باب التعوذ من عذاب القبر (رقم- ۱۳۷۷) ومسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة باب ما يستعاذ منه فی الصلاة)(رقم) ۱۳۰ - (۵۸۸) وابوداود کتاب الصلاة باب ما يقول بعد التشهد (رقم- ۹۸۳) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ،باب ما يقال بعد التشهد والصلاة على النبی صلى الله عليه وسلم (رقم- ۹۰۹)

[2] اخرجه مسلم باب ما يستعاذ منه فی الصلاة)(رقم) ۱۳٤ - (۵۹۰) وابوداود کتاب الصلاة باب ما يقول بعد التشهد (رقم- ۹۸٤)

تسهيلات:-

نوټ:-د دې حديث تشريح ۹۰۳۹ نمبر حديث په شرح کښې تيره شوې ده.

۹۳۲-د تشهد او درود څخه وروسته دعا کول

۹۳۲-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي، [۳] قَالَ: "قُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، [۴] وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، [۵] فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، [۶] وَارْحَمْنِي، إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] امير المؤمنين حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي [۲] چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ما ته يوه داسې دعا وښايه چې زه يې په خپل لمانځه کې (د تشهد او درود څخه وروسته) اووايم [۳] حضور ﷺ راته وفرمايل دا دعا وايه اللّٰهُمَّ إِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ ظُلْمًا كَثِيْرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِيْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِيْ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ، (اې پروردګاره ما په خپل نفس ډير ظلم کړي دي [۴] او ستا څخه علاوه بل څوک ګناهونه نه شي بخښلي [۵] ته ما وبخښې په خپل خاص بخښنې سره [۶] او په ما رحم وکړې بيشکه ته بخښونکي او رحمت کونکي يې. (بخاري، مسلم)

تسهيلات: قوله: عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي:

د دعا تعليم ورکول:-د دې حديث نه معلومه شوه چې نبی کريم ﷺ به اهتمام سره د دعاګانو تعليم ورکولو.

قوله: اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا:

په مانځه کښې دظلم دوه قسمونه:-مونځ کښې کوم يو ظلم دې؟ جواب: دظلم دوقسمونه دی. ① ارتکاب معصيه سره ظلم

② عبادت لره کما ينبغی د نه کولو ظلم. دې ځائې کښې دويمه معنی مراد ده.

د حديث په باب الدعاء في التشهد کښې د راوړلو څخه مقصود:- ظاهر دادی چې څنګه دمونځ کولو حق دې هغه شان حق نشی ادا کيدې. که صاحب د مشکاة دا روايت باب الدعاء فی التشهد کښې نه وې بيان کړې وې نو مونږ دا وئيلې شو چې دا دعا د مونځ څخه روستـه وئيل پکاردی. ليکن چونکه صاحب مشکاة دا حديث په دې باب کښې راوړې دې او دې طرف ته ئې اشاره کړې ده چې يا ئې وئيلی دی چې دا په مونځ کښې وئيل افضل دی. نوبنه به وو.

[۱] اخرجه البخاري كتاب الاذان باب الدعاء قبل السلام (رقم- ۸۳۴) ومسلم كتاب الذكر والدعاء باب استحباب خفض الصوت بالذكر (رقم) ۴۸ - (۲۷۰۵) والترمذی کتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم- ۳۵۳۱) والنسائی کتاب السهو/باب نوع آخر من الدعاء (رقم-۱۳۰۲)

۹۳۳–د سلام ګرځولو طريقه

۹۳۳–()[۵] ① وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «كُنْتُ أَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ ③ حَتَّى أَرَى بَيَاضَ خَدِّهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ

ترجمه: ① عامر ابن سعد (تابعي) رحمة الله عليه د خپل پلار بزرګوار (حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه) څخه روايت کوي چې هغه (يعني سعد رضي الله عنه) وفرمايل ② چې ما به ليدل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به خپل ښي او ګس (طرف ته دا رنګه) سلام ګرځولو ③ چې ما به د حضور صلى الله عليه وسلم د بارخوګانو (رخسار) سپين والي ليدلو. (مسلم)

حل اللغات: - ① بَيَاضَ خَدِّهِ: أَيْ: صَفْحَةَ وَجْهِهِ: يعنى د مخ د رخسار سپينوالي اوښانست.

تسهيلات: - قوله: حَتَّى أَرَى بَيَاضَ خَدِّهِ:

په سلام کښې د مخ ګرځولو اندازه: -يعنى نبى كريم صلى الله عليه وسلم به په سلام کښې دومره مخ ګرځولو چې روستو صف کښې صحابه کرامو به د نبى كريم صلى الله عليه وسلم د مخ مبارك سپينوالي ليدلو. د ښى طرف والا صحابه كرامو به د ښى مخ مبارك او د ګس طرف والو صحابهٔ کرامو به د ګس مبارک سپينوالي ليدلو.

۹۳۴–د مونځ څخه روسته د امام مقتديانو ته مخ راګرځول

۹۳۴–()[۶] ① وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً، ③ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① سمره ابن جندب رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به د لمانځه څخه فارغ شو ③ نو زمونږ طرف ته به يې خپل مخ مبارك متوجه کړو او کيناستلو به. (بخاري)

حل اللغات: - ① أَقْبَلَ عَلَيْنَا: أَيْ يَصْرِفُ وَجْهَهُ: حضورپاك صلى الله عليه وسلم به د مونځ د فارغيدو نه پس د مقتديانو طرف ته مخ راګرځولو سره کيناستو.

تسهيلات: - قوله: أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ:

د تعارض اشکال: -

① وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً، أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

په دې حديث کښې د قوم طرف ته متوجې کيدو سره د کيناستو بيان دی

② وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

---

[۱] اخرجه مسلم فى صحيح رقم الحديث ۱۱۶/ ۵۸۲ والنسائى فى السنن رقم الحديث ۱۳۱۷ وابن ماجة رقم الحديث ۹۱۵

[۲] اخرجه البخارى كتاب الاذان باب يستقبل الإمام الناس إذا سلم (رقم- ۸۴۵) وابن ماجة باب اتباع سنة الخلفاء الراشدين المهديين (رقم-۴۴) والنسائى كتاب السهو/باب النهى عن مبادرة الإمام بالانصراف من الصلاة (رقم-۱۳۶۳)

په دې حدیث کښې ښي طرف ته د راګرځیدو ذکر دی.

④ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «لَا يَجْعَلْ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا مِنْ صَلَاتِهِ يَرَى أَنَّ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ لَا يَنْصَرِفَ إِلَّا عَنْ يَمِينِهِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيرًا يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

په دې حدیث کښې ګس طرف ته د مخ راګرځولو ذکر دی.

په دې درې وارو روایاتو کښې تعارض ښکاری؟

په درې طریقو سره د روایاتو په مینځ کښې تطبیق:- ① که صحابه کرامو ته به څه فرمائیل وو یا د هغوئ نه به څه تپوس کول وو نو نبی کریم ﷺ به هغوئ طرف ته مخ کولو او کیناستل به.

② که ښی طرف ته به تلل نو ښی طرف ته به ئې مخ کړو او ناسته به ئې اختیار کړه.

③ که حجرې مبارکې ته به تلل وو نو ګس طرفته به ئې مخ کړو او ناسته به ئې اختیار کړه.

۹۳۵– د امام په ښي طرف راګرځیدل

۹۳۵–(¹)[۷] ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه فرمایي ② چې رسول الله ﷺ به د لمانځه څخه د فارغیدو نه وروسته (کله کله به) خپل ښي طرف ته تاویدلو سره کیناستلو. (مسلم)

حل اللغات:- ① يَنْصَرِفُ: یعنی مقتدیانو طرف ته به ئې مخ راګرځولو.

تسهیلات:- د دې حدیث تشریح په حدیث نمبر ۹۴۴ کښې تیره شوې ده.

قوله: يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ:

د سلام څخه روسته په ښي طرف مقتدیانو ته د راګرځیدو حکم:- د مونځ څخه فارغیدو نه پس په ښی طرف کیناستل لازمی ګنړل او دا عقیده لرل چې دې سره ثواب ملاویږی، او که په ښی طرف ناسته اختیار نه کړې شی نو دې سره ثواب نه ملاویږی، دا د شیطان حصه ده. او که دا ضروری نه ګنړی او عقیده نه لری نو بیا جائز دی.

۹۳۶– د امام ښي اړخ طرف ته راګرځیدل

۹۳۶–(²)[۸] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «لَا يَجْعَلْ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا مِنْ

[1] اخرجه مسلم كتابصلاة المسافرين وقصرها باب جواز الانصراف من الصلاة عن اليمين، والشمال (رقم- ۶۰ - (۷۰۸) والنسائی كتاب السهو/باب الانصراف من الصلاة (رقم-۱۳۵۹) باب الانصراف من الصلاة (رقم- ۱۳۵۹)

[2] اخرجه البخاری كتاب الاذان باب الانفتال والانصراف عن اليمين والشمال (رقم- ۸۵۲) و مسلم كتابصلاة المسافرين وقصرها باب جواز الانصراف من الصلاة عن اليمين، والشمال (رقم- ۵۹ - (۷۰۷) وابوداود كتاب الصلاة، باب كيف الانصراف من الصلاة (رقم- ۱۰۴۲) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب الانصراف من الصلاة (رقم- ۹۳۰) والنسائی كتاب السهو/باب الانصراف من الصلاة (رقم-۱۳۶۰) باب الانصراف من الصلاة (رقم- ۱۳۶۰)

صَلَاتِهِ ۞يَرَى أَنَّ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ لَا يَنْصَرِفَ إِلَّا عَنْ يَمِينِهِ۞ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيرًا يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۞ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي۞ چې په تاسو کې دي هيڅوک په خپل لمانځه کې د شيطان حصه نه مقرروي۞ چه دا شي لازم ونيسي چې (د لمانځه څخه وروسته به هميشه ښي طرف ته را ګرځي۞ ځکه چې ما ليدلي دي چې رحمت عالم ﷺ به اکثر کس طرف ته هم ګرځيدلي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① يَرَى: أَيْ: يَظُنُّ أَحَدُكُمْ أَوْيَعْتَقِدُ: څوک دا ګمان او اعتقاد اوساتي. ② أَنَّ حَقًّا: أَيْ: وَاجِبًا: چه دا واجب او لازم اوګرځوي.

تسهيلات:- قوله: عَنْ يَسَارِهِ:

يو مستحب امر لازم ګرځولو حکم:- يعنې يو مستحب عمل لازم کول په خپل عمل کښې دَ شيطان دَپاره حصه جوړول دي. دَمقتديانو طرف ته يا دَ پاسيدو په وخت حضورپاک ﷺ په ښي اوګس دواړو طرفو باندې تاويدو سره عمل کړې دې. اوس که يو سړې داګنړي چه ښي طرف ته تاويدوسره عمل کولوکښې زيات فضيلت دې اوهم دائې په خپل ځان لازم کوي نودې سړې يو مباح اومستحب امر ته دَ واجب او لازم درجه ورکړه کوم چه ناجائز او بدعت دې اوهم دغه کار سره په خپل مونځ کښې دَ شيطان دَپاره حصه جوړول دي. افسوس چه اهل بدع په دې حديث باندې يونظر اچولي او په دې باندې عمل کولي او په غيرلازم بلکه نوي ايجاد کړې شوې څيزونو باندې عمل کولو باندې اصرار نه کولي.

٩٣٧- د مانځه څخه وروسته دعا کول

٩٣٧-()[٩]۞ وَعَنِ الْبَرَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ۞ «كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْبَبْنَا أَنْ نَكُونَ عَنْ يَمِينِهِ ;۞ يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ،۞ قَالَ: فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ۞-أَوْ تَجْمَعُ- عِبَادَكَ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۞ حضرت براء رضی الله عنه فرمايي۞ مونږ چې به په رسول الله ﷺ پسې مونځ کولو نو دا به مو خوښوله چې د حضور ﷺ ښي طرف ته يو۞ چې حضور ﷺ (د سلام په وخت د ټولو څخه مخکې) زمونږ طرف ته متوجه شي۞ براء رضی الله عنه وايي چه ما د حضور ﷺ څخه (د سلام څخه وروسته د دعا په طور) دا اوريدلي دي چې رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ أَوْ تَجْمَعُ عِبَادَكَ، (اي پروردګاره ما د خپل عذاب څخه په هغه ورځ وساتي چې ته خپل بندګان

[1]) اخرجه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها باب استحباب يمين الإمام (رقم- ٦٢ - (٧٠٩)) وابوداود كتاب الأدب/باب ما يقال عند النوم (رقم- ٥٠٤٥) وابن ماجة كتاب الدعاء /باب ما يدعو به إذا أوى إلى فراشه (رقم-٣٨٧٧) والترمذي كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم- ٣٣٩٨)

راوپورته کړي[۵] یا خپل بندګان جمع کړي، (مسلم)

حل اللغات: - ① قِنِي: أَيْ: احْفَظْنِي: بچ کړه ما، یعنی حفاظت مې اوکړه ② تَبْعَثُ: ته به راپورته کوي، ته به راجمع کوي

تسهیلات: -

قوله: يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ:

د نبی کریم ﷺ بنی طرف ته د راګرځیدو اکثریت: - ددې حدیث نه معلوم شو چې ښی طرف ته به انصراف زیات وو په دې وجه به صحابه کرام زیات ښی طرف ته کیناستل.

قوله: رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ:

د نبی کریم ﷺ د عذاب څخه په پناه غوښتو کښې دوه اقوال: -

① د نبی کریم ﷺ دا پورته دعا لوستل په تواضع او عاجزئ باندې محمول دی

② نبی کریم ﷺ مقصد امت ته تعلیم ورکول وو، چې خلق دې دمونځ څخه پس دا دعا لولي.

لطیفه: - داخبره دې واضحه وی چې د هرمسجد ښي طرف افضل وی خود مسجد نبوی کس طرف افضل دې ځکه چې دا نبی کریم ﷺ روضې ته زیات نزدې دې.

قوله: يَوْمَ تَبْعَثُ - أَوْ تَجْمَعُ - عِبَادَكَ:

د راوی شک: - دې دوارو الفاظونو کښې راوی ته شك دې چې یوم تبعث ئې فرمائیلی دی او که تجمع عبادك ئې فرمائیلی دی.

۹۳۸ - د مانځه د فراغت څخه روسته دامام د پاسیدو څخه روسته پاسیدل

۹۳۸ - (۱۰)[۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «إِنَّ النِّسَاءَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ إِذَا سَلَّمْنَ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ قُمْنَ، [۳] وَثَبَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ صَلَّى مِنَ الرِّجَالِ مَا شَاءَ اللَّهُ، [۴] فَإِذَا قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ الرِّجَالُ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ فِي بَابِ الضَّحِكِ، إِنْ شَاءَ اللَّهُ تَعَالَى.

ترجمه: [۱] بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمایي[۲] چې د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کې چې ښځو به (د سړو سره په جماعت سره مونځ وکړو نو) د فرض لمانځه د سلام ګرځولو سره به سمدستي زنانه پاڅیدلې او خپلو کورنو ته به تلې[۳] او حضور ﷺ به د نورو سړو سره چې په لمانځه کې به شامل وو تر څومره وخته پورې چې به الله تعالی ﷻ ته منظوره وه ناست به وو[۴] بیا چې حضور ﷺ به ودریدو نو ټول سړي به ودریدل (او خپلو خپلو کورنو ته به ولاړل). (بخاري) او د جابر رضي الله عنه حدیث به په بَابِ الضَّحِكِ کې ذکر کړو انشاء الله

حل اللغات: - ① عَهْدِ: أَيْ: زَمَانِهِ: دعهد نه مراد دلته زمانه او وخت دې. ② قُمْنَ: نو اودریدلې او

[۱] اخرجه البخاري کتاب الاذان باب خروج النساء إلی المساجد باللیل والغلس (رقم-۸۶۶)

پاځيدلې به (چه خپلو کوروتو ته لاړې شي). ③ تَبَتَ: په خپل حال به ناست وو.

تسهيلات:- قوله: قُمْنَ"

د مانځه څخه پس د ښځو او دريدل او تلل:- يعني چه ښځو به سلام ګرځولو نو فوری به اودريدې او سړی به ناست وو. دې دپاره چه په لاره کښې د ښځو او سړو ګډوډوالي اونه شي.

مسجدنبوي ته د ښځو د حاضريدو شرطونه:-

نبی عليه السلام چې زنانو ته په جمعې کښې د شرکت اجازت ورکړې وو نو د احاديثو څخه معلومېږي چې هغوی ته دا هدايات شوی وو.

① خواني ښځې دې نه راځی پخې ښځې هم صرف سحر، ماښام او ماسخوتن کښې په تياره کښې راځی

② دَ لباس خودنه دې نه کوی

③ عطردې نه لګوی

④ په ډيره پرده کښې دې راځی

⑤ دَ سړو دَ پاسيدونه مخکښې دې ځی.

د زنانو مسجد نبوی ته مونځونو دپاره د حاضريدو وجوهات:-

① د نبی آخرزمان په اقتداء کښې مونځ کول.

② د دين تعليمات زده کول.

③ په عباداتو کښې شريکيدو سره دَ عباداتو نقشه معلومول

په روستو زمانه کښې د ښځو جماتونوته د تلو ممانعت:- چونکه په هغه وخت کښې هر طرف ته خير وو. دَ قرآن دَ نزول وخت وو. نبی آخرزمان موجود وو. دَ صحابه کرامو په شان دَ فرښتو جماعت وو دَ خيرالقرون دور وو. په دې وجه هرقسم تحفظ حاصل وو. ليکن دَ نن صبا دَ فتنونه په دې ډك دور کښې دَدې اجازت نه شی ورکولې. پخپله دَ صحابه کرامو په دورکښې حضرت عائشه رضي الله عنها دَ ممانعت فتویٰ ورکړې وه لکه چه وړاندې راځی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۹۳۹- حضرت معاذ ته د هر مانځه څخه روسته د دعا حکم کول

۹۳۹- [۱] ① عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② أَخَذَ بِيَدِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «إِنِّي لَأُحِبُّكَ يَا مُعَاذُ» ③ فَقُلْتُ: وَأَنَا أُحِبُّكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ④ قَالَ: فَلَا تَدَعْ أَنْ تَقُولَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ: ⑤ رَبِّ

[1] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة باب فی الاستغفار (رقم- ۱۵۲۲) والنسائی کتاب السهو/باب بنوع آخر من الدعاء (رقم- ۱۳۰۴) و مالک فی الموطا کتاب الشعر باب ما جاء فی المتحابين فی الله (رقم-۱۶)

أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ» "،رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ ;[٦] إِلَّا أَنَّ ابَا دَاوُدَ لَمْ يَذْكُرْ: قَالَ مُعَاذٌ: وَأَنَا أُحِبُّكَ.

ترجمه: [١] معاذ ابن جبل رضي الله عنه فرمايي[٢] چي (يوه ورځ) رسول الله ﷺ زما لاس په خپل لاس مبارك کي اخستو سره وفرمايل اي معاذ زه تاسره مينه لرم[٣] ما عرض وکړو يا رسول الله (ﷺ) زه هم تاسو سره مينه لرم[٤] رسول الله ﷺ وفرمايل (چي هر کله ته زما سره مينه لري نو) د هيڅ لمانځه وروسته دا دعا مه پريږده: [٥] رَبِّ اعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ «اي پروردګاره ته په خپل ذکر، خپل شکر او خپل ښه عبادت کي زما مدد وکړې»، دا روايت احمد، ابوداؤد او نسايي نقل کړي دي،[٦] خو ابوداؤد د معاذ رضي الله عنه دا الفاظ وَآنَا أُحِبُّكَ نه دي نقل کړي.

حل اللغات:- ① فَلَاتَدَعْ: أَيْ فَلَاتَتْرُكْ: مه پريږده، ② دُبُرَ: أَيْ: عَقِبَهَا وَخَلْفَهَا: يعنى روستو. ③ أَعِنِّي: زما مدد اوکړه.

تسهيلات:- **قوله**: أَخَذَ بِيَدِي

دفعلى اوقولى حديث اجتماع:-دا حديث په يو وخت کښي هم فعلى او هم قولى دي.ځکه چي د معاذبن جبل لاس نيول دا فعلي شو. او«ان تقول في الخ» پوري قولي شو.

۹۵۰-د مانځه څخه د سلام ګرځولو مسنون طريقه

۹۵۰-()[۱۳][١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢]«إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ: " السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ "[٣] حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْمَنِ،[٤] وَعَنْ يَسَارِهِ " السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ "[٥] حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْسَرِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ،[٦] وَلَمْ يَذْكُرِ التِّرْمِذِيُّ: حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ.

ترجمه: [١] عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي[٢] چي رسول الله ﷺ به خپل ښي طرف ته السلام عليكم ورحمة الله (يعني په تاسو دي د الله سلامتي او رحمت وي) ويلو سره سلام ګرځولو[٣] تر دي چي د حضور ﷺ د ښي رخسار مبارك سپينوالي به په نظر راتلو[٤] او خپل ګس طرف ته به يي هم السلام عليكم ورحمة الله ويلو سره سلام ګرځولو[٥] تر دي چي د حضور ﷺ د ګس رخسار مبارك سپينوالي به په نظر راتلو، ابوداؤد، ترمذي، نسايي، [٦] ترمذي په خپل روايت کي حتي يُرِي بياض خده الفاظ نه دي ذکر کړي

حل اللغات:- ① بَيَاضُ خَدِّهِ: أَيْ: صَفْحَةَ وَجْهِهِ: يعنى د مخ د رخسار سپينوالي اوښائست.

[1]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب في السلام (رقم- ۹۹۶) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ باب ما جاء في التسليم في الصلاة (رقم- ۲۹۵) والنسائى كتاب السهو/كيف السلام على الشمال؟ (رقم-۱۳۲۳)كيف السلام على الشمال؟ (رقم- ۱۳۲۳)

۹۵۱-()[۰][١] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ.

ترجمه: [١١] او ابن ماجه دا روایت د عمار ابن یاسر رضی الله عنه څخه نقل کړي دي.

تسهیلات: -

قوله: حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْسَرِ:

په اعتدال سره مقتدیانوته مخ راګرځول: -نبی کریم ﷺ به سلام سره خپل مخ مبارك داسې ګرزولو چې د حضور مبارك د مخ سپین والي به ښکاريدو ،يعنی نه به ئې دومره مخ اړولو چې بالکل روستی مخ واوړی او نه به ئې دومره کم مخ مبارك ګرزولو چې ګنی هډو مخ ئې ګرزولې نه دي. بلکه درمیانه طریقه به ئې اختیارولـه. او دې کښې امت دپاره ډیره آسانتیا ده.

۹۵۲-د مانځه د فراغت څخه روسته کس طرف ته راګرځیدل

۹۵۲-()[۱۳][١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «كَانَ أَكْثَرُ انْصِرَافِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ إِلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ إِلَى حُجْرَتِهِ»، رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [١] عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي [٢] چې رسول الله ﷺ به د لمانځه څخه وروسته اکثر په کس طرف خپلې حجري طرف ته ګرځیدلو، (شرح السنة)

حل اللغات: - ① انْصِرَاف: راګرځیدل، راتاویدل، ② شِق: شق طرف ته وائی.

تسهیلات: - **قوله:** إِلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ:

نوټ: - د دې حدیث تشریح په حدیث نمبر ۹۴۴ کښې تیره شوې ده.

۹۵۳-د فرضو څخه وروسته د سنتو د پاره ځائي بدلول

۹۵۳-()[۱۴][١] وَعَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ، عَنِ الْمُغِيرَةِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "[٢] «لَا يُصَلِّي الْإِمَامُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ [٣] حَتَّى يَتَحَوَّلَ» "، [۴] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ: عَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ لَمْ يُدْرِكِ الْمُغِيرَةَ.

ترجمه: [١] عطاء خراساني رحمه الله د حضرت مغیره رضی الله عنه څخه روایت نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] امام دې هغه ځاي مونځ نه کوي کوم ځاي چې (اوس يې) مونځ کړي دي

[1]) اخرجه مسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة باب السلام للتحليل من الصلاة عند فراغها وكيفيته (رقم) ۱۱۹ - (۵۸۲) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ،باب التسليم (رقم-۹۱۶)

[2]) اخرجه البغوى فى شرح السنة رقم الحديث ۷۰۲

[3]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب الإمام يتطوع فى مكانه (رقم- ۶۱۶) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فى صلاة النافلة حيث تصلى المكتوبة (رقم- ۱۴۲۸)

[۳] بلکه د هغه خاي څخه دي اخوا ته شي، [۴] دا روايت ابوداؤد نقل کړي دي او ويلي يې دي چې د عطا خراساني رحمه الله ملاقات د حضرت مغيره رضي الله عنه سره (ثابت) نه دي (نو دا حديث منقطع دي).

حل اللغات:- ① يَتَحَوَّلَ: أَيْ: يَنْتَقِلَ إِلَى مَوْضِعٍ: يعني چه بل ځای ته اخوا شي.

تسهيلات:- **قوله:** حَتَّى يَتَحَوَّلَ:

دځايي بدلول د امام او مقتدي دواړو دپاره:- په دي حديث شريف کښي داخودلي شي چه کوم ځاى يوسړى فرض مونځ کړي دي هم هلته دي سنت نه کوى بلکه دَ دغه ځائى نه دي لږ شان اخواشي ځائى بدلولوسره بل ځائى سنت کول پکاردى. دلته داخبره په ذهن کښي ساتل پکاردى چه داحکم صرف دَ امام نه دي بلکه دَ امام اومقتدى ټولو فرائض کونکو دَ پاره هم دغه حکم دي.

د ځائي بدلولو دوه وجوهات:- ① په ځائى بدلولوسره به دَ صفونو نظام ګډوډشى نو نوى راتلونکى خلق په پوهيږى چه جمع شوې ده. که چرې داسې اونه کړې شي او دَ فرائضو په شان په صفونو کښې ټول ولاړوى نو نوى راتلونکى خلق به دا ګڼرى چه لا فرض مونځ په جمع نه دې شوې.

② چې دَ مونځ ګذار دَپاره دوه ځايونه جدا جدا دَ ده دَ عبادت ګواه جوړيږى

د ځائي بدلولو د مسئلي په متعلق کښي دوه اقوال:- ① ملاعلى قارى رحمه الله فرمائى دَ بعض علماؤ قول دې چه دَځائى بدلولو داحکم دَهغه مونځونودَپاره دې په کوم کښې چه دَ فرائضونه پس سنت وى اوکومومونځونوپسې چه سنت نه وى لکه سحر اومازيګر هلته داحکم نه دې.

② دَ بعض نورو علماؤ وينا ده دَ فرائضو دَ ټولو مونځونونه پس ځائى بدلول پکاردى اوکه رش وى اوتنګى وى نوځائى بدلول څه فرض يا واجب نه دى. اودَ سحر اومازيګر نه پس دَ ځائى بدلولو څه مقصد اومطلب هم نشته اوڅه فائده هم نشته.

۹۵۳- د نبى عليه السلام څخه وړاندې دا نصراف کولو ممانعت

۹۵۳-(۱)[۱۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَضَّهُمْ عَلَى الصَّلَاةِ، [۳] وَنَهَاهُمْ أَنْ يَنْصَرِفُوا قَبْلَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلَاةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به صحابه رضي الله عنهم ته د لمانځه کولو رغبت ورکولو [۳] او هغوي به يي ددې خبري څخه منع کول چې هغوي د لمانځه څخه وروسته د

(۱) اخرجه ابوداود باب فيمن ينصرف قبل الإمام (رقم- ۶۲۴)

حضور ﷺ څخه مخکې لاړ شي. (ابوداؤد)

تسهيلات:-

قوله: وَنَهَاهُمْ أَنْ يَنْصَرِفُوا قَبْلَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلَاةِ:

د مذکوره جملې په مطلب کښې څلور اقوال:-

① د نبی کريم دا طريقه اختيارول خکه وو چې په سړو او ښځو کښې اختلاط نه وی کمامر.

② د نبی کريم دا طريقه اختيارول خکه وو چې حضور ﷺ سره په ناسته کښې صحابه کرامو نور صحبت حاصل کړی.

③ د نبی کريم دا طريقه اختيارول خکه وو چې د نبی کريم ﷺ څخه مخکښې سلام نه ګرزوئی.

④ دپورته کيدو نه د مسبوق پورته کيدل مراد دی، چې مسبوق دې ترې هغه وخته پورې نه پورته کيږی تر کومې چې نبی کريم ﷺ دواړه سلامونه نه وی ګرزولی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۹۵۵-د تشهد څخه وروسته مسنون دعا

۹۵۵-(¹)[۱۲] ١ عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي صَلَاتِهِ: ٣ " اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، ٤ وَأَسْأَلُكَ الْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، ٥ وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، ٦ وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، ٧ وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا، وَلِسَانًا صَادِقًا، ٨ وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، ٩ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، ١٠ وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ» " رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَرَوَى أَحْمَدُ نَحْوَهُ.

ترجمه: ١ شداد بن اوس رضی الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ به په خپل مانځه کښې (تشهد څخه وروسته) دا دعا کوله: ٣ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا وَلِسَانًا صَادِقًا وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ، (اي الله زه ستا څخه په دين کې ثابت قدمي غواړم ٤ او د راه راست (سيده لاري) د قصد سوال کوم ٥ او زه ستا څخه ستا د نعمت د شکر سوال کوم ٦ او ستا د عبادت د حسن خواست کوم ٧ او ستا څخه قلب سليم او رښتيني ژبه غواړم ٨ او ستا څخه هغه خير غواړم چې ته يي پيژنې ٩ او د هغه بدي څخه پناه غواړم چې تا ته معلومه ده ١٠ او د هغه ګناهونو معافي غواړم چې تاته معلوم دي، (نسايي، احمد)

حل اللغات:- ① الثَّبَاتَ: مضبوط والې، ثابت قدمی، ② الْعَزِيمَةَ: د زړه قصد او مضبوطې ارادې ته وائی. ③ الرُّشْدِ: نيغه لار، د هدايت لار.

¹) اخرجه النسائی کتاب السهو /باب بنوع آخر من الدعاء (رقم-۱۳۰۴)

تسهیلات:-

قوله: وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ:

دعبادت د حسن څخه مراد:-د حسن عبادت څخه هغه احسان مراد دي کوم چې په حدیث جبریل کښې راغلی دی.چې ته د الله تعالی داسې عبادت کوه لکه چې ته الله تعالی وینې.اوکه داسې نشې کولې نو دا تصور کوه چې الله تعالی تا وینی.

قوله: وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ:

داستقامت عظمت:-ددې مطلب د صحیح لارې قصد کول دی. چې اې الله تعالی ! ماته ددې توفیق راکړې چې تا دهدایت کومه لاره خودلې ده ،په هغې باندې همیشه دپاره ثابت قدمی رانصیب شی ،او هدایت د خپل ژوند یو لازمی حصه اوګرزوم ،څکه چې استقامت ډیر لوې انعام دې.

قوله: وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا:

د قلب سلیم تعریف:-قلب سلیم هغه زړه ته وائی کوم چې د غلطو عقائدو ،کمزورو خیالاتو او خرابو اعتقاداتو او نظریاتو نه پاك وی. او په دې کښې د نفسانی خواهشونو څه میلان نه وی.

قوله: وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ:

د ناخبره ګناه حکم:- یعنی ډیر داسې خیر دی چې هغه مونږ شر ګنړو، یا دهغې نه مونږ خبر نه یو.او ډیر شرونه داسې دی دکوموڅخه چې مونږ خبر یویا دهغې نه بې خبره یو. ددې مذکوره دعا حاصل دادې چې اې الله تعالی! ستا عطاء دې زمونږ په طلب باندې نه وی ،ستا په کرم سره وی. او دغه شان اې الله تعالی! کومه ګناه چې زمونږ نه شوې ده او هغه ستاپه علم کښې ده نو مونږ دهغې هم معافی غواړو.

۹۵۶- دتشهد څخه روسته یوه بهترینه وینا

۹۵۶-(۱)[۱۷] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي صَلَاتِهِ بَعْدَ التَّشَهُّدِ: [۳] "أَحْسَنُ الْكَلَامِ كَلَامُ اللّٰهِ، [۴] وَأَحْسَنُ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ» ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] د جابر رضی الله عنه څخه روایت دې [۲] چې رسول الله ﷺ به په خپل لمانځه کې د التحیات څخه وروسته فرمایل [۳] چې بهترین کلام کلام د الله دې [۴] او بهترینه طریقه د رسول الله ﷺ طریقه ده. (دا نسایي روایت کړي دي)

حل اللغات:- ① أَحْسَنُ الْكَلَامِ: ښائسته او غوره خبرې،

② أَحْسَنُ الْهَدْيِ: أَيِ السِّيرَةُ وَالطَّرِيقَةُ: یعنی ښائسته سیرت او طریقه (کوم سره چه هدایت ملاویږي).

(۱) اخرجه النسائی کتاب السهو/باب نوع آخر من الذکر بعد التشهد (رقم- ۱۳۱۱)

تسهیلات:-

قوله: يَقُولُ فِي صَلَاتِهِ بَعْدَ التَّشَهُّدِ:

د تشهد څخه روسته یله مسنون دعا:- دې خاني د تشهد نه پس یعنی د درود شریف نه پس د یوې بلې دعـا ذکردې.دا دعـا پـه نوافلوباندې محمول ده څکـه چې فرائـضو کښې خو اختصـار مقصود وی

۷۵۵-ښي طرف ته لږ غوندې راګرځيدل

۷۵۵-(۱)[۱۸]۞وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ:۞«كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ تَسْلِيمَةً تِلْقَاءَ وَجْهِهِ،۞ثُمَّ يَمِيلُ إِلَى الشِّقِّ الْأَيْمَنِ شَيْئًا» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:۞ بي بي عائـشه صـديقه رضي الله عنها فرمـايي۞ چې رسـول الله ﷺ بـه پـه لمانځـه کې خپلې مخې طرف ته يو سلام ګرځولو۞ بيا به يې لږ شان ښي طرف ته ګرځولـو، دا رنګـه بـه رسول الله ﷺ سلام پوره کولو، (ترمذي)

حل اللغات:- ① تِلْقَاءَ وَجْهِهِ: أَيْ: يَبْدَأُ بِالتَّسْلِيمِ مُحَاذَاةَ وَجْهِهِ: يعنی مخ په قبله به ني د سلام ګرځول شروع کول ② يَمِيلُ: مائل کيدلو به، راګرځيدلو به، ③ الشِّقِّ الْأَيْمَنِ: شق طرف ته واني يعنی ښي طرف ته (به راګرځيدلو) ④شَيْئًا: أَيْ: يَسِيرًا: لږ شان.

تسهیلات:-

قوله: تِلْقَاءَ وَجْهِهِ:

په مونځ کښې د سلام متعلق دوه اهم مسئلې دی.

د خروج من الصلاة په حکم کښې مذاهب:-

① د جمهورو او ائمه ثلاثه په نيز لفظ سلام فرض دې

② د احنافو په نيزواجب دې. د دې مسئلې پوره بحث کتاب الطهارة کښې تيرشوې دې.

د سلام په طريقه او تعداد د سلام کښې مذاهب:-

① د مالکيه مسلك دادې چه د امام اومنفرد د پاره يو يوخل سلام ونيـل سنت دی چه نه ښی طرف ته دې اونه ګس طرف ته دې بلکه د مخ طرف ته سـلام کـول مسنون دی. د دې حضراتو په نيز د مقتدی د پاره درې سلامونه مسنون دی. يو مخې طرف تـه دويـم ښـی طـرف تـه او دريم ګس طرف ته.

② احناف، شوافع او حنابله يعنی د جمهورو پـه نيـز مونځ ګذار کـه امـام وی اوکـه مقتـدی وی د ټولو د پاره د مونځ نه وتل په وخت دوه سلامونه مسنون دی.

(۱) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه أيضا (رقم- ۲۹۶)

داول فريق دليل: - زير بحث د حديث عائشه صديقه رضي الله عنها د دوی مستدل دې چه په خپل مطلب باندې واضح دليل دې.

داول فريق د دليل جواب: - دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَ وينا مطلب دادې چه حضوراكرم ﷺ دَ سلام الفاظ هغه وخت شروع كول كوم وخت چه به ئې مخ مبارك دَ قبلې طرف ته وو. او بيا به ئې هم دغه آواز كښې مخ مبارك ښى اوګس طرف ته تاوولو نودوه سلامونه كيدل. دا مطلب نه دې چه دَ اول نه تر آخره پورې به هم سلام وو اومخې طرف ته به وو.

د دويم فريق دليل: - هغه ټول دلائل دَ دويم فريق دلائل دی په كوم كښې چه دَ دوو سلامونو تصريحات دی او "عن يمينه وعن يساره" الفاظ په واضحه توګه موجود دی.

۹۵۸-په امام باندې د سلام نيت كول

۹۵۸-()[۱۹] ١ وَعَنْ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَرُدَّ عَلَى الْإِمَامِ ٣ وَنَتَحَابَّ، ٤ وَأَنْ يُسَلِّمَ بَعْضُنَا عَلَى بَعْضٍ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.[1]

ترجمه: ١ حضرت سمره رضي الله عنه فرمايي ٢ چې رسول الله ﷺ مونږ ته حكم راكړې دې چې زمونږ د سلام ګرځولو په وخت د امام د سلام د جواب نيت وكړو ٣ مونږ په خپلو كې مخبت اوساتو ٤ او يو بل ته سلام كوو. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① وَنَتَحَابَّ: مونږ يوبل سره محبت اوساتو.

تسهيلات: -

په حديث كښې درې احكام:

قوله: ① أَنْ نَرُدَّ عَلَى الْإِمَامِ:

په سلام كښې دمقتدى دنيت درې صورتونه: - چه كله مقتدى سلام ګرځوى نوهغه دې دا نيت اوكړى چه زه دَامام دَ سلام جواب وركوم.

① كوم مقتديان دَامام ښى طرف ته ولاړوى هغه به په اول سلام كښې خپل ښى طرف ته مونځ ګذارو اوكرام الكاتبين فرښتو نيت كوى

② كله چه ګس طرف ته سلام اوګرځوى نودَامام صاحب دَ سلام دَ جواب نيت دې اوكړى اوكوم مقتديان چه دَ امام ګس طرف ته ولاړوى هغوى دې په ښى طرف سلام ګرځولو كښې دَ امام دَ سلام دَ جواب نيت اوكړى. او دَ ګس طرف دَ مونځ ګذارو نيت دې اوكړى.

③ كوم مقتدى چه بالكل امام پسې ولاړوى هغه دې په دواړو سلامونو كښې دَامام دَ سلام دَ جواب نيت اوكړى لكه څنګه چه امام صاحب هم دَ دغه شان نيت كولوپابند دې باقي په

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب الرد على الإمام (رقم - ۱۰۰۱) ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها ،باب رد السلام على الإمام (رقم - ۹۲۲)

ګس اوښي طرف کښې دَ فرښتو نيت په هرسلام کښې پکاردې دَ جنات دَ نيت ضرورت نشته اونه دَهغه انسانانو دَنيت ضرورت شته کوم چه په مانځه کښې شامل نه وي.

④ قوله: وَنَتَحَابَّ:

په خپل مينځ کښې د مينې محبت ساتل:-دا دويم حکم دې دَدې مطلب دادې چه مونږ ته حضورپاك ﷺ فرمائيلي دي چه مونږ په خپل مينځ کښې يوبل سره محبت اوکړو او بغض او دښمني اونه ساتو اوتولوسره په خو اخلاقوسره مخ شو.

④ قوله: وَأَنْ يُسَلِّمَ بَعْضُنَا:

په مانځه کې د سلام نيت کول:-په مانځه کښې دَ يوبل دَ سلام نيت اوکړو دَدې صورت وړاندې ليکلې شوې دې چه مقتدي دَ سلام ګرځولو په وخت دَ يوبل دَ سلام نيت به څنګه کوي.

په دې باب کښې هغه احاديث بيانولې شي دکومونه چه مانځه پسې دعا وردونو اووظائفو فضيلت اواهميت معلوميږي. دَ ذکر لفظ عام دې کوم چه وظائف او دعاګانوټولوته شامل دې. دا مسئله څه غورطلب غوندې ده چه کومو فرائضو نه پس چه سنت وي دَهغې نه پس مونځ ګذار د اورادو اودعاګانو کولودَپاره دَڅومره ساعت دَپاره کيناستې شي.

[۳۵/۱۸] بَابُ الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ

د مونځ نه پس د ذکر بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① الذکر بعد الصلوة المکتوبة: ۱، ۷، ۸، ۹،۱۱، ۱۲، ۱۳،۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸-

② الدعاء بعد المکتوبة: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶-

③ الترغیب فی الدعاء بعد الصلوة المکتوبة: ۱۰-

④ الأمر بالفصل بين المکتوبة والسنة: ۱۴-

دسنت بعديه څخه پس د وظائفو دپاره په کيناستو کښې اقوال:-① دَاحنافو دَعلماؤ نه صاحب درمختار ليکلي دي چه فرض مونځ کولونه پس په سنتو کښې تاخيرکول مکروه دي صرف "اللهم انت السلام" آخره پورې په اندازه کيناستل ثابت دي. فقهاء داخبره هم ليکلې ده چه دَ سنتو کولودَپاره دَ فرائضو په ختمولوباندې زر پاسيدل پکاردي.

② دَ علامه حلواني رحمه الله قول دادې چه دَ وردونو او وظائف لوستلودَپاره دَفرض اوسنتو په مينځ کښې وقفه کولو کښې هيڅ بدي نشته هم دا قول څه نورو فقهاؤ هم ليکلې دې.

دمفتي کفايت الله رحمه الله قول:-مفتي الهند مفتي کفايت الله رحمه الله خپل نفيس کتاب "النفائس المرغوبة في الادعية بعد المکتوبة" کښې ليکلي دي "الله انت السلام" روايت کښې حضرت

عائشه رضي الله عنها په وخت کښې حصرنه دي خودلې اونه حضرت عائشه رضي الله عنها څه وخت متعين کړي دي بلکه حضرت عائشه رضي الله عنها په دې روايت کښې "اللهم انت السلام" دَ مقدار اندازه خودلې ده نو په دې اندازه اومقدار کښې نورې دعاګانې هم راتلې شي دکومو ذکرچه په احاديثو کښې راغلې دې په دې کښې هيڅ منافات نشته دې اونه اختلاف شته.

په قولونو کښې تطبيق: - علامه حلبی رحمه الله دَ فقهاء په کلام کښې په دې معمولی شان اختلاف کښې تطبيق ورکړې دې په دې تطبيق سره هم په دواړو اقوالو کښې څه اختلاف باقي نه پاتې کيږي. هغوی فرمائی چه صاحب دَ درمختار تاخيرمکروه ليکلې دې که دا دَ مکره تحريمی په ځائی مکروه تنزيهی واخستې شی نومسئله به دَ اولی او غيراولی پاتې شی مطلب به دا شی چه په سنتو کښې تاخيرکول بهترنه دی. اودَ علامه حلوانی رحمه الله دَ قول مطلب به داشی چه دَ وظائفو لوستلو په غرض سره په سنتو کښې تاخيرکولو کښې هيڅ مضائقه نشته دې ليکن مناسب اوبهتر هم دغه دی چه تاخير اونه کړې شی. بهرحال دَفرائضو اوسنتو په مينځ کښې دَ وظائف لوستلو ګنجائش شته دې.

سنت بعديه څخه پس د دعا حکم: - فقهاء ليکلی دی چه دَ فرضو کولونه پس دَ سنتو دَپاره صفونه ماتول ډير بهتردی صفونه جوړولو سره سنت او نوافل نه دی کول پکار څه وړاندې روستوکيدل پکاردی. امام صاحب له هم پکاردی چه دَ خپلې مصلې نه لږ شان اخوا اودريږی دې دَپاره چه دَ چا دا شك اونه شی چه خلق فرضو کښې ولاړدی. "بعدالمکتوبة" دَ کومو دعاګانوذکر چه په احاديثو کښې پس دَ فرضونه په الفاظو سره راغلې دې نو دَ سنتو کولونه پس هم هغه وظائف کولې شی. ځکه چه بعدالسنن هم بعدالمکتوبة دې سنت کولو سره دَ فرض بعديت ختميږی نه. په دې توجيه سره به ډيرزيات اشکالات ختم شی ځکه چه دَ فرائضونه پس چه کوم اوږده وردونو ذکر په احاديثو کښې راغلې دې هغه په دې وخت کښې په آسانئی سره کولې شی اومزه دا چه هم بعدالفرض به وی نور تفصيلات به وړاندې دَاحاديثو په ضمن کښې راځی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۹۵۹- د مانځه په ختميدو الله اکبر وئيل

۹۵۹- (۱)[۱] «عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا -، قَالَ: [۲] كُنْتُ أَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْبِيرِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

۱) اخرجه البخاري كتاب الاذان باب الذكر بعد الصلاة (رقم- ۸۴۲) ومسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة باب الذكر بعد الصلاة (رقم) ۱۲۰ - (۵۸۳) وابوداود كتاب الصلاة،باب التكبير بعد الصلاة (رقم- ۱۰۰۲) والنسائي كتاب السهو/ باب التكبير بعد تسليم الإمام (رقم-۱۳۳۵)

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي[۲] چې ما به د رسول الله ﷺ د لمانځه ختميدل د حضور ﷺ د الله اکبر ويلو څخه پيژندل.

(بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① أعْرِفُ: مابه پيژندل، ② انْقِضَاءَ: أي: انْتِهَاءَهَا: يعنى ختميدل (د مونځ د نبى عليه السلام)

تسهيلات: -

قوله: أَعْرِفُ انْقِضَاءَ:

حد اعتدال په درجه کښې د ذکر بالجهر جواز: -

حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چونکه وړوکې وو په دې وجه به په کورکښې وو ليکن دَهغوی هوښيارتوب ته اوګوره چه څنګه به ئې صحيح اندازه لګوله. چونکه دهغوی کور جمات سره وو نوچه کله به جمع ختمه شوه اودَ تکبيرآواز به راوچت شو نوهغوی ته به معلوميدله چه جمع اوشوه. دغه شان معمولي آواز اوچتول چه دَ انساني دَ قدرتي نظام لاندې وی په هغې کښې هيڅ کلام نشته دې. اوهرځائی کښې دَ اهل حق په جماتونوکښې داسې کيږی اوکيدل هم پکاردی. دَ جمع نه فارغيدو وخت کښې خلق ډير وی نوکه چرې هغوی په مزه آوازونوسره هم دَ الله تعالى ذکر او يا استغفار کوی نوبيائی هم آواز اوچت اويدې شی او په جمات کښې راتبيری. خلاصه دا چه دَ اعتدال دَحده پورې په جهر سره ذکر ثابت دې

په ذکر بالجهر کښې د مبالغې ممانعت: - ليکن دَحد نه تجاوز ثابت نه دې بلکه په عامو وختونوکښې هم دَدې ممانعت راغلې دې. بعضې علماء وائي چه حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دکوم تکبير خبره کوی دادَ ايام منی خبره وه او ايام تشريق کښې تکبيرات په اوچت آواز سره ونيل دَ امت متفقه مسئله ده.

۹۲۰- د فرض مونځ څخه روسته نبی عليه السلام د ناستې مقدار

۹۲۰- ( )[۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ [۳] لَمْ يَقْعُدْ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُولُ: [۴] اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ [۵] تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ چې به کله (د فرض لمانځه) سلام وګرځولو[۳] نو صرف د دې دعا په قدر به کيناستلو: [۴] اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ (اې الله ته سالم يې (يعني د ټول عيوب څخه پاك يې) او ستا

---

[۱] اخرجه مسلم كتاب المساجدو مواضع الصلاة/باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته (رقم- ۱۳۶ - (۵۹۲) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقول الرجل إذا سلم (رقم- ۱۵۱۲) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب ما يقال بعد التسليم (رقم- ۹۲٤) والنسائى كتاب السهو/باب الذكر بعد الاستغفار (رقم-۱۳۳۸) كتاب السهو/باب الذكر بعد الاستغفار (رقم-۱۳۳۸) والدارمى كتاب الصلاة/باب القول بعد السلام (رقم-۱۳۸۷) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا سلم (رقم- ۲۹۸)

څخه (د بنده ګانو د ټولو آفاتو څخه) سلامتي ده ۵ ته برکت والايي اي بزرګي او بخشش والا. (مسلم)

حل اللغات:- ① أَنْتَ السَّلَامُ: ته سالم يې. أَيْ مِنَ الْمَعَايِبِ وَالْحَوَادِثِ وَالتَّغَيُّرِ وَالْآفَاتِ: يعني د ټولو عيبونو، حوادثو، اود تغير او آفتونونه پاک يې.

تسهيلات:- قوله: لَمْ يَقْعُدْ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُولُ:

د مانځه څخه وروسته د کيناستلو مقدار:- ددې حديث څخه حصر معلوميږي چې نبی کريم ﷺ به د سلام ګرزولو نه پس صرف دومره کيناستل څومره وخت کښې چې دا دعا لوستلې کيږي «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ»

۹۶۱- د مانځه څخه وروسته استغفار او دعا کول

۹۶۱-()[۳] ۱ وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ ۳ اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا، وَقَالَ: ۴ " اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ حضرت ثوبان رضي الله عنه فرمايي ۲ چې رسول الله ﷺ چې به د خپل لمانځه څخه فارغ شو ۳ نو (مخکې) به يې درې ځله استغفار کولو بيا به يې دا دعا ويله: ۴ اللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ (مسلم)

تسهيلات:-

قوله: يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ:

د ذی الجلال اوو الاکرام مفهوم:- دذی الجلال څخه د فاسقانو نه بدل اخستونکې، او د اکرام څخه مراد نيکانو ته انعام ورکوونکې دې.

په دې دعا کښې د بعضې کلماتو د زيادت ترديد:- ددې حديث پاك نه معلومه شوه چې ((واليك يرجع السلام فحينا ربنا بالسلام وادخلنا دار السلام)) دا الفاظ د حديث نه ثابت نه دی بلکه دا روسته چا اضافه کړی دی

په روايتونو کښې د تعارض اشکال:- دې په ماقبل روايت کښې صرف د اللهم انت السلام الخ ذکر وو چې نبی کريم ﷺ به صرف دا دعا کوله او دومره مقدار به کيناستلو اودلته ورسره د استغفار اضافه شوې ده. په دواړو راياتو کښې تعارض دې؟

دتعارض درې جوابونه:- ① ماقبل حديث کښې د راوی تصرف دې. ځکه چې نسائی شريف کښې دا الفاظ دی چې نبی کريم ﷺ به دا الفاظ ونيل.

---

[1] اخرجه مسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة/باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته (رقم- ۱۳۵ - (۵۹۱) والدارمی كتاب الصلاة/باب القول بعد السلام (رقم-۱۳۸۷)

② د رومی حدیث مطلب دادې چې د مونځ په حالت کښې ناسته به دومره مقدار پورې وه کومه کښې چې اول روایت کښې ده. اوکه زیاته ناسته به ئې کوله نو د مونځ والا حالت به ئې بدلولو.

③ د کومو مونځونو نه پس چې سنت نشته دې،نو هغه اعمالو سره نورعملونه به ئې هم کول ،خوچې دکوموفرائضو نه پس سنت مؤکده شته دې نوهغې کښې به ئې دفرائضو نه پس مختصر دعاګانې وئیلې.

۹۶۳- د فرض مانځه څخه ورسته کلمه توحید وئیل

۹۶۳-()[۳] ۱ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ: ۳ "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، ۴ لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، ۵ اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، ۶ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، ۷ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ مغیره ابن شعبه رضی الله عنه فرمایي ۲ چې رسول الله ﷺ به د فرض لمانځه څخه وروسته دا دعا کوله: ۳ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ،(د الله څخه سوا بل معبود نشته هغه ایکي يو دي هيڅوك د هغه شريك نشته ۴ د هغه د پاره بادشاهت دي د هغه د پاره هر قسم تعريف دي او هغه په هر شي قادر دي ۵ اي الله كوم شي چې تا وركړي وي د هغې څوك رد كولو والا نشته ۶ او كوم شي چې تا منع كړي وي څوك د هغې وركولو والا نشته ۷ او دولتمند د خپل دولت په وجه باندې ستا د عذاب څخه نشي بچ كيدي.(بخاري،مسلم)

حل اللغات:- ① دُبُرِ: أَيْ: عَقِبَ: روستو، ② مَكْتُوبَةٍ: أَيْ: فَرِيضَةٍ: فرض مونځ، ③ ذَا الْجَدِّ: أَيْ: صَاحِبَ الْحَظِّ فِي الْعِبَادَةِ: په عبادت کښې حصه دار یعنی عبادتګذار ④ الْجَدُّ: مال ،عهده،وغیره.

تسهيلات:-

قوله: وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ:

د الجد ترکیب اومفهوم:- "وَلَا يَنْفَعُ" دَدې صیغې فاعل دَ "الجد" لفظ دې اودادلته دَ دولت په معنی کښې دې او "ذَا الْجَدِّ" نه مالدار او دولت مند سړې مراد دې. دا لفظ دَلاینفع دَپاره مفعول به دې. "منك" اي من عذابك.

---

[1] اخرجه البخاری کتاب الاذان /باب الذکر بعد الصلاة (رقم- ٨٤٤) و مسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب ما يقول إذا رفع رأسه من الركوع (رقم) ٢٠٥ - (٤٧٧) وابوداود کتاب الصلاة،باب ما يقول الرجل إذا سلم (رقم- ١٥٠٥)وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة/باب ما جاء فی القراءة فی صلاة الليل (رقم- ١٣٤٩) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول إذا سلم (رقم- ٢٩٩) والنسائی کتاب السهو/باب عدد التهليل والذكر بعد التسليم (رقم- ١٣٤١) والدارمی کتاب الصلاة/باب القول بعد السلام (رقم-١٣٨٩)

قوله: دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ:

د دبر کل صلاة په مطلب کښې دوه اقوال:-

① دَ سنتونه پس به ئې دا دعا لوستله دا هم دَ فرض نه پس ده.

② دَ فرض سلام سره متصل به ئې وئیلو

۹۶۳- د سلام ګرځولو څخه روسته د الله تعالی تسبیح بیانول

۹۶۳-()[۵] ①وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الزُّبَيْرِ -رضي الله عنه- قَالَ: ②«كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ ③يَقُولُ بِصَوْتِهِ الْأَعْلَى: "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ ④لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، ⑤وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، ⑥لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ، ⑦لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، ⑧لَهُ النِّعْمَةُ، وَلَهُ الْفَضْلُ، ⑨وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ، ⑩لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ، ⑪وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: ① او حضرت عبدالله ابن زبیر رضی الله عنه فرمايي ② چې رحمت عالم ﷺ به چه کله د خپل لمانځه څخه سلام وګرځولو ③ نو (د سلام څخه بعد) په بلند آواز سره به يې دا کلمات ويل. لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰهِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ وَلَهُ الْفَضْلُ وَلَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ (د الله څخه بغير هيڅ معبود نشته هغه يوازي دي څوك د هغه شريك نشته ④ د هغه د پاره بادشاهي ده او هر قسم تعريف هغه لره دي ⑤ او په هر شي قادر دي ⑥ د ګناهونو څخه بچ کيدل او د عبادت کولو قوت يوازي د الله تعالى جل جلاله په مدد سر دي ⑦ د الله څخه سوا بل معبود نشته مونږ د هغه عبادت کوو ⑧ او د الله د طرفه (په بندګانو) نعمتونه او احسان دي ⑨ او دالله تعالى دپاره ښکلي ثنا ده ⑩ د الله څخه سوا بل معبود نشته مونږ د الله د پاره د هغه بندګي خالص کونکي يو ⑪ اګر که کافران دا بد ګڼي. (مسلم)

حل اللغات:- ① النِّعْمَةُ: هرقسم تعريف دالله دپاره دي. ② الْفَضْلُ: بزرګی، برتری، ③ الثَّنَاءُ: تعريفونه، صفتونه، ④ مُخْلِصِينَ: خالص کونکی یو (ریا کونکی نه یو).

تسهيلات:- قوله:-يَقُولُ بِصَوْتِهِ الْأَعْلَى:

دحديث څخه په ذکر بالجهر استدلال اودهغې تضعيف:- ددې نه معلوميږی چې کله به ئې سلام اوګرزولو نو په اوچت آواز سره به ئې دا کلمات وئيل. ددې نه هم د مونځ نه پس ذکر بالجهر معلوم شو. ددې دوارو حديثونو نه ددې زمانې بعضې حضرات استدلال کوی چې د مونځ د فارغيدو نه پس په اوچت آواز سره دې ذکر اوکړې شی. حالانکه ائمه اربعه کښې هيڅوك هم بعد الصلوة د ذکر بالجهر قائل نه دی.

[1] اخرجه مسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته (رقم- ۱۳۹ - (۵۹٤) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما يقول الرجل إذا سلم (رقم- ۱۵۰٦) والنسائى كتاب السهو/باب عدد التهليل والذكر بعد التسليم (رقم- ۱۳٤۰)

۹۶۳- د مانځه ځخه وروسته د بعضې څيزونو څخه تعوذ غوښتل

۹۶۳-()[٦] [١] وَعَنْ سَعْدٍ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [٢] أَنَّهُ كَانَ يُعَلِّمُ بَنِيهِ هٰؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ، [٣] وَيَقُولُ: «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ بِهِنَّ دُبُرَ الصَّلَاةِ: [٤] " اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ، [٥] وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ، [٦] وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ، [٧] وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَعَذَابِ الْقَبْرِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] د حضرت سعد رضي الله عنه په بلوه کې روايت دی [٢] چې هغه به خپل اولاد ته د دعا دا الفاظ ښودل [٣] او فرمايل به يې چې رسول الله ﷺ به د خپل لمنځونو څخه وروسته د دې الفاظو په ذريعه پناه غوښتله: اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ [٤] اې الله زه د بزدلۍ څخه ستا پناه غواړم [٥] د بخل څخه ستا د پناه طلب ګاريم [٦] د ناکاره عمر څخه ستا د پناه خواستګار يم [٧] او د دنيا د فتنې او د قبر د عذاب څخه (يعني د هغه څيزونو څخه چې د قبر د عذاب سبب دي) ستا پناه غواړم. (بخاري)

حل اللغات:- ① أَرْذَلِ الْعُمُرِ: أي الْهَرَمَ: بوډاتوب (داسې بوډاتوب چه انسان ډير کمزورې شي او عقل ئې کم شي چه دالله په نعمتونو کښې صحيح فکر نه شي کولې).

تسهيلات:-

قوله: مِنَ الْجُبْنِ:

د بزدلۍ څخه پناه غوښتل:- حضورپاك ﷺ بار بار دَ بزدلئې نه پناه اوغوښتله دَدې په وجه صرف هغه خلق پوهيږي دَچاچه دَ جهاد سره تعلق وی که هغه عوام وی اوکه علماء وی څکه چه کوم سړې بزدل وی هغه نه خپل عزت بچ کولې شي او نه دَخپل مذهب عظمت بچ کولې شي بلکه په مزه مزه دا بزدلي دومره زياتيږي چه هغه سړې جهادخو څه چه دَ جهاد دَ وجود نه انکارکوی. او په هغې کښې قسم قسم تاويلونه کوی څکه چه دَجهادپه ميدان کښې بهادرسړې ورکوزيدې شي دا دَبزدلانوکارنه دې.

د بخل څخه پناه غوښتل:-دغه شان معامله دَ بخل نه پناه غوښتلو ده څکه چه کوم سړې کنجوس شوم وی هغه دَخپلوانو حقوق دَخپو لاندې کوی نه پخپله خوراك کولې شي اونه غټې او ورې متيازې پخپله کولې شي نه کپړې پخپله اچولې شي اونه ئې کوزولې شي بلکه دَ کور غوررزيدلی څيزونه کوړا کبارې په شان پاتې کيږي.

---

[١] اخرجه البخاري كتاب الجهاد والسير باب التعوذ من عذاب القبر (رقم- ٦٣٦٤) ومسلم باب التعوذ من العجز والكسل وغيره (رقم- ٥١ - (٢٧٠٦) وابن ماجة كتاب الدعاء /باب ما تعوذ منه رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم- ٣٨٤٤) والترمذي باب في دعاء النبي صلى الله عليه وسلم وتعوذه في دبر كل صلاة (رقم- ٣٥٦٧) والنسائي كتاب الاستعاذة/باب الاستعاذة من أرذل العمر (رقم- ٥٤٩٦)

۹۶۵ــ د ماښام نه ښخه وروسته تسبيح او د هغې فضيلت

۹۶۵ــ (۷) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: [۳] قَدْ ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلَى، [۴] وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ، [۵] فَقَالَ: "وَمَا ذَاكَ؟" [۶] قَالُوا: يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي، وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ، [۷] وَيَتَصَدَّقُونَ وَلَا نَتَصَدَّقُ، [۸] وَيُعْتِقُونَ وَلَا نُعْتِقُ؛

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) فقراء مهاجرين د رسول الله ﷺ په خدمت كې حاضر شو او عرض يې وكړو [۳] چې [يا رسول الله ﷺ] دولتمند خلقو زمونږ نه ښخه مخكې والي يوړو په بلند درجاتو (يعني ثواب، قرب الهي او رضاى حق) سره [۴] او دائمي نعمت (يعني د جنت په نعمت حاصلولو) سره [يعني هغوي د خپل مال او دولت په وجه لوي ثواب حاصلوي او د جنت د نعمتونو مستحق كيږي او مونږ خو د غربت او افلاس په وجه د درجاتو په بلندي كې د هغوئ ښخه وروسته پاتې كيږو] [۵] حضور ﷺ ورته وفرمايل دا څنګه؟ [۶] هغوئ عرض وكړو چه هغوئ داسې مونځ كوي څنګه چې مونږ مونځ كوو او هغوئ داسې روژې نيسي څنګه چې مونږ روژې نيسو [۷] (په دې اعمالو كې خو مونږ او هغوئ برابر يو ليكن د مال او زرو په وجه) هغوي صدقه او خيرات كوي او (د غربت او افلاس په وجه) مونږ صدقه او خيرات نشو كولي [۸] هغوي غلامان آزادوي او مونږ غلامان نشو آزادولي (دغسې هغوئ د دې اعمالو د ثواب حقداره شي او مونږ محروم پاتې كيږو د دې اوريدو سره)

حل اللغات:- ① الدُّثُورِ: أي أَهْلُ الْأَمْوَالِ: دثور د دثر جمع ده، ډير مال ته وائي. ② النَّعِيمِ: أي: الْعَيْشِ: د نعمتونو نه عيش او عشرت مراد دي. ③ الْمُقِيمِ: أي: الدَّائِمِ: هميشه (د جنت هميشوالي او نعمتونه مراد دي).

[۱] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفَلَا أُعَلِّمُكُمْ شَيْئًا تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ [۲] وَتَسْبِقُونَ بِهِ مَنْ بَعْدَكُمْ، [۳] وَلَا يَكُونُ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ، [۴] إِلَّا مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ؟". [۵] قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ [۶] قَالَ: "تُسَبِّحُونَ، وَتُكَبِّرُونَ، وَتَحْمَدُونَ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ مَرَّةً"،

ترجمه: [۱] حضور ﷺ ورته وفرمايل آيا زه تاسو خلقو ته يوه داسې خبره نه درښايم چې په هغې عمل كولو سر تاسو د هغه خلقو درجاتو ته ورسيږي [۲] كوم چې ستاسو ښخه مخكې اسلام راوړي دي او د هغه خلقو د مرتبې ښخه زيات شى چې ستاسو ښخه وروسته دي (يعني ستاسو ښخه وروسته يې اسلام راوړي دي يا ستاسو ښخه وروسته پيدا كيږي) [۳] او (د مالدارو خلقو ښخه) هيڅ سړي به ستاسو ښخه بهتر نه وي [۴] بغير د هغه سړي ښخه چې ستاسو په شان عمل وكړي (يعني مالدار خلق كه زما په ښودل شوي خبره باندې ستاسو په

---

[1]) اخرجه البخارى كتاب الاذان باب الذكر بعد الصلاة (رقم- ۸۴۳)، و مسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، باب ما يقال بعد التسليم (رقم- ۹۲۷) والنسائى كتاب السهو/نوع آخر (رقم-۱۳۵۳)

شان عمل وکړي نو بیا د مرتبې په اعتبار سره به هغه ستاسو څخه بهتر وي) ۵ فقراؤ عرض وکړو یا رسول الله ﷺ بهتر ده وفرمایه (هغه څه خبره ده؟) ٦ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل تاسو د هر لمانځه وروسته سبحان الله، الله اکبر او الحمد لله ۳۳ ځله وایئ.

حل اللغات:- ④ تُدْرِكُونَ: رالاندې به کړئ، ورته به اورسیږئ، ⑤ تَسْبِقُونَ: ستاسونه مخکښې شوي دي (په اسلام راوړلو کښې).

١ قَالَ أَبُو صَالِحٍ: فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: ٢ سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الْأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا، فَفَعَلُوا مِثْلَهُ، ٣ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، ٤ وَلَيْسَ قَوْلُ أَبِي صَالِحٍ إِلَى آخِرِهِ إِلَّا عِنْدَ مُسْلِمٍ، ٥ وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: " «تُسَبِّحُونَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ، وَتَحْمَدُونَ عَشْرًا، وَتُكَبِّرُونَ عَشْرًا» ٦ " بَدَلَ: " ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ ".

ترجمه: ١ (د حدیث یو راوي) ابو صالح فرمایي چې (څو ورځې وروسته) فقراء مهاجرین (بیا) د حضور ﷺ په خدمت مبارك کې حاضر شو او عرض یې وکړو چې یا رسول الله ﷺ ٢ زمونږ دولت مندو ورونو زمونږ د عمل حال واوریدلو اوهغوئ هم هغسې کوي څنګه چې مونږ یې کوو (دغسې هغوئ بیا زمونږ څخه افضل شو) ٣ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل دا د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ فضل دي چاته چې یې غواړي ورکوي. (بخاري مسلم)

٤ د روایت آخري الفاظ چې د ابو صالح قول دي یوازي مسلم رحمه الله نقل کړي دي ٥ او د بخاري رحمه الله په یو روایت کې دا دي چې هر لمانځه وروسته لس لس ځله سبحان الله، الحمد الله او الله اکبر وایئ. ٦ د ۳۳ ځله ویلو په ځای.

تسهیلات:-

قوله: ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ:

د چا دمقابلې قدرت نه لرلو په صورت کښې حسد نه کول:- یعنی ترکومې پورې چه سړې په عبادت او نیکوکارونو کښې مقابله کولې شي نو کول پکاردي لیکن چرته چه دَ مقابلې ګنجائش نه وی بیا دَ ضد حسد او دښمنئ ضرورت نشته دي لکه هغه وړاندیوالي دَ الله تعالی دَ تقدیر حصه ګڼړلوسره دا وئیل پکاردی چه دادَ الله تعالی خصوصی مهربانی ده په دې کښې مونږ هیڅ نه شو وئیلې.

دَدې حدیث نه په ظاهره معلومیږی چه عبادت کونکي مالدار اوټول وظائف خپلونکي دولت مند دَ فقیر نه افضل دي. په دې باره کښې به دَمشکوة په آخری ابواب کښې ان شاء الله کلام کیږی.

د شاکر مالدار اوصابر غریب په افضلیت کښې اختلاف:- ① جنید بغدادی رحمه الله او نور اهل الله دَ فقر فاقې او فقیرئی دَ افضلیت قائل دی.

② شيخ سعدي باباﷺ دَ گلستان کتاب په آخره کښې دَ يوفقيرزاهد سره په دې مسئله کښې خپله مناظره نقل کړې ده. باباسعدي ﷺ دَ شاکرمالدار دَ فضيلت قائل دې. ابن عطاء ﷺ هم شاکرمالدار ته افضل وائي

داول قول ترجيح:- زير بحث حديث کښې سره دَدې چه ذلك فضل الله فرمائيلي شوي دي ليکن دَ فقير په نسبت دَ مالدار دپاره خطرې هم زياتې دی. علماء ليکی چه دَمالدارانودا فضيلت جزئی دې اوفقيرانوته کلی فضيلت حاصل دې.

۲۲۲- دَ مانځه څخه وروسته تسبيحات لوستل

۲۲۲- ( )[۸] ①وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ - أَوْ فَاعِلُهُنَّ - ③دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ: ④ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَسْبِيحَةً، ⑤وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَحْمِيدَةً، ⑥وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ تَكْبِيرَةً» [1]، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① کعب ابن عجره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② چه د ويلو د پاره څو کلمات دي چې (د حصول ثواب څخه) محروم نه پاتې کيږي د هغې ويونکي يا وي فرمايل چه کونکي دهغه کلماتو③ د هر فرض لمانځه وروسته (او هغه کلمات دا دي)④ سبحان الله ۳۳ ځله ⑤ الحمد لله ۳۳ ځله ⑥ او الله اکبر ۳۴ ځله ويل. (مسلم)

حل اللغات:- ① مُعَقِّبَاتٌ: أَيْ: كَلِمَاتٌ يَأْتِي بَعْضُهَا عَقِيبَ بَعْضٍ: دَعقب نه دي دَ يونه پس دَ بل راتلوته معقبات وائی. ② لَا يَخِيبُ: أَيْ: لَا يَخْسَرُ: نه نااُميده کيږی، نه تاوانی کيږی. ③ مَكْتُوبَةٍ: أَيْ: مَفْرُوضَةٍ: فرض مونځ، ④ تَسْبِيحَةً: سبحان الله وئيل، ⑤ تَحْمِيدَةً: الحمد لله وئيل. ⑥ تَكْبِيرَةً: الله اکبر وئيل.

تسهيلات:-

قوله: مُعَقِّبَاتٌ:

د معقبات په مصداق کښې مختلف اقوال:- ① هغه عمل چې د هغې په ليکلوهره فرښته پيش قدمی کوی او غواړی چې نورې فرښتې روستو پريږدی.

② مونځ پسې وظيفه.

③ هغه کلمات چې پرله پسې وئيلې کيږی.

④ هغه وظيفې چې د هغې د وئيلو انجام ښه وی.

قوله: لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ:

دعدم خيابت معنی:- ددې مطلب دادې چې څوک دا کلمات وائی نو هغه په لږ محنت سره ډيره منافع حاصلوی.

[1] اخرجه مسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب استحباب الذکر بعد الصلاة وبيان صفته (رقم) ۱۴۶ - (۵۹۷) والنسائی کتاب السهو/نوع آخر من عدد التسبيح (رقم-۱۳۴۹)

۹۶۷- د هر مانځه څخه روسته د تسبیحاتو وظیفه کول

۹۶۷-(¹)[۹]① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②«مَنْ سَبَّحَ اللّٰهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، ③ وَحَمِدَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، ④ وَكَبَّرَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، ⑤ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ، ⑥ وَقَالَ: تَمَامَ الْمِائَةِ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. ⑦ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ ⑧ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت ابوهریره ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② کوم سړي چې د هر لمانځه وروسته سبحان الله ۳۳ ځله اووائي ③ الحمد لله ۳۳ ځله ④ الله اکبر ۳۴ ځله اووائي ⑤ چې مجموعي عدد یې ۹۹ شو ⑥ او د سلو ۱۰۰ عدد پوره کولو د پاره یو ځل لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اووائي ⑦ نو د هغه ټول ګناهونه بخښل کیږي ⑧ اګر که د سمندر د ځګ برابر (یعني ډیر زیات) وي (مسلم)

حل اللغات:- ① تَمَامَ الْمِائَةِ: أَيْ: فِي وَقْتِ تَمَامِ الْمِائَةِ: کله چه سل پوره شي. ② زَبَدِ: زګ ته وائي (کوم چه د سمندر د چپو په وخت د ابو دپاسه جمع کیږي).

تسهیلات:- **قوله:** وَقَالَ: تَمَامَ الْمِائَةِ:

تعارض:-د کعب بن عجره رضی الله عنه په حدیث کښې د تسبیح او تحمید څخه روسته څلور دیرش ځله تکبیر ویلو ذکر دې. اوبه دې حدیث د ابوهریره کښې د تسبیح اوتحمید څخه پس د درې دیرش ځله تکبیر وئیلو ذکر دې

دتعارض جواب:- هیڅ تعارض نشته کله دې څلور دیرش ځل دې الله اکبر وائی. لکه څنګه چې ماقبل حدیث کښې تیر شوی دی. اوکله دې درې دیرش ځل الله اکبروائی وریسې دې دا دعا غواړی په دې طریقه په احادیثو کښې تطبیق راغلو. یعنی دا دواړه وظیفې په تعدد باندې حمل دی. چې کله به نبی ﷺ یو شان عمل کولواوکله به ئې بل شان عمل کولو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۹۶۸- د دعا د قبولیت وختونه

۹۶۸-(²)[۱۰]① عَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② قِيلَ: «يَا رَسُولُ! أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ؟ ③ قَالَ: جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرُ، ④ وَدُبُرُ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

¹) اخرجه مسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب استحباب الذکر بعد الصلاة وبیان صفته (رقم) ۱٤٦ - (۵۹۷) ومالک کتاب القرآن باب ما جاء فی ذکر الله تبارک وتعالی (رقم-۲۲) والنسائی کتاب السهو/باب نوع آخر (رقم-۱۳۵٤) والترمذی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم- ۳٤٦٦) ومالک فی الموطا کتاب القرآن باب ما جاء فی ذکر الله تبارک وتعالی (رقم-۲۲)

²) اخرجه الترمذی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب (رقم- ۳٤۹۹)

ترجمه: [۱] ابو امامه رضي الله عنه فرمايي [۲] چې عرض وشو يا رسول الله ﷺ كوم وخت دعا زياته قبليږي؟ [۳] حضور ﷺ وفرمايل د شپې په آخري حصه كې (يعني د سحر په وخت كې) [۴] او د فرض لمونځونو څخه وروسته. (ترمذي)

حل اللغات: - ① أَسْمَعُ: أَيْ: أَقْرَبُ إِلَى الْإِجَابَةِ: قبوليت ته زياته نژدې. ② جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرُ: هُوَ وَسْطُ النِّصْفِ الْآخِرِ مِنَ اللَّيْلِ: د شپې د آخرى نيمې حصې منځ.

تسهيلات: -

قوله: وَدُبُرُ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ:

فرض مونځ څخه پس د دعا اولاس اوچتولو ثبوت: -حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمائى چې ما نبى كريم ﷺ ته عرض اوكړو چې كومه يوه دعا اقرب الى الاجابت ده ،نو نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چې كومه د شپې په آخرى حصه كښې اوكړې شى اوكومه چې د فرض مونځونو څخه روسته اوكړې شى. نو د ابو امامه ددې حديث څخه د عبارت النص په طور دا خبره معلومه شوه چې د فرض مونځ نه پس دعا مباح نه بلكه مطلوب ده. ځكه چې دا اقرب الى الاجابت وى. او د اكثرو دعاګانو په آدابو كښې دى چې لاس اوچتول او دعاغوښتل .لهذا فرض مونځ نه پس لاس اوچتول او دعا غوښتل ثابت شو.

په دعا كښې د لاس پورته كولو دلائل: -

① په مشكاة كښې د حضرت عائشې رضى الله عنها څخه په حديث نمبر ۱۵۰۸ كښې دا الفاظ منقل دى ((ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ، فَلَمْ يَتْرُكِ الرَّفْعَ حَتَّى بَدَا بَيَاضُ إِبْطَيْهِ،))

② عن سهيل بن سعد عن النبى ﷺ قال..... يجعل اصبعيه حذاء منكبيه ويدعوا

③ وعن السائب اذا دعا رفع يديه مسح وجهه بيديه.

استدلال: -ددې نه معلوم شو چې دعا كښې لاس اوچتول دا د دعا آداب دى. ددې دليلونو باوجود فرض مونځ نه پس لاس اوچتول اودعا كول ،دې ته بدعت ونيل تيک نه دى.

۹۲۹-د مانځه وروسته د معوذاتو ويلو حكم

۹۲۹-()[۱][۱]وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ:[۲]«أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ»، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي: "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه: [۱] عقبه ابن عامر رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ ماته حكم راكړي وو چې زه د هر لمانځه وروسته معوذات وايم. (احمد ،ابوداؤد ،نسايي ،بيهقي)

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب في الاستغفار (رقم- ۱۵۲۳) والترمذى كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى المعوذتين (رقم- ۲۹۰۳) والنسائى كتاب السهو/باب الأمر بقراءة المعوذات بعد التسليم من الصلاة (رقم-۱۳۳٦)

حل اللغات:- ① الْمُعَوِّذَاتِ: جمع د معوذة ده دلته تري مراد سورة كافرون،سورة اخلاص او سورة فلق او سورة الناس دی.

تسهیلات:- : قوله: بِالْمُعَوِّذَاتِ:

دمعوذتين اومعوذات مصداق:- په روایاتو کښې دوه قسمه الفاظ راغلی دی.

① معوذتين: داد تثنيې صيغه ده مراد ترينه آخرى دوه سورتونه دى سورة فلق او سورة الناس.

② معوذات: څنګه چه په دې روايت کښې راغلی دی دلته تري مراد سورة كافرون، ورة اخلاص او سورة فلق او سورة الناس دی.

په سورة كافرون اواخلاص د معوذات د اطلاق وجه:- په معوذاتو کښې په سورة کافرون او اخلاص باندې تغليبا د معوذات اطلاق شوې دې اود اطلاق وجه ئې داده چه په دې دواړو سورتونو کښې د شرک نه د براءت اعلان دې اومعنًا په کښې تعوذ هم دې.

۹۷۰-د صبا بیګاه کښې د ذکر کولو فضیلت

۹۷۰-() [۱۲][۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللّٰهَ [۳] مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ - [۴] أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ، [۵] وَلَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللّٰهَ [٦] مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ - [۷] أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً»"، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] چه د يو داسې جماعت سره زما ناسته وي چې د الله په ذکر کې مشغول وي [۳] د سحر د لمانځه څخه تر نمر ختو پورې [۴] زما په نیز د حضرت اسماعيل عليه السلام اولاد څخه د څلورو غلامانو د آزادولو څخه بهتر دي [۵] او په داسې خلقو کې زما ناسته چې د الله جل جلاله په ذکر کې مشغول وي [٦] د مازيګر د لمانځه څخه تر نمر پريوتو پورې [۷] زما په نیز د دې څخه بهتر دي چې زه څلور غلامان آزاد کړم. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① صَلَاةِ الْغَدَاةِ: أي: الصُّبْحِ: د سحرمونځ، ② أُعْتِقَ: چه زه آزاد کړم.

تسهیلات:-

په عجمو د عربو فضیلت:- دعجم په نسبت عرب افضل دی په دې وجه د ولد اسماعيل تخصيص اوشو. د دې حديث نه د اوراد ذکرالله ثبوت ملاويږي دا د هغه مونځونو نه پس ذکر دې چرته چه سنت نه وي.

[۱] اخرجه ابوداود كتاب العلم باب في القصص(رقم-۳۶۶۷)

۹۷۱- د صبا د مانځه څخه روسته د حج او عمرې ثواب حاصل

۹۷۱-(۱) [۱۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ [۳] ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللّٰهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، [۴] ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ- [۵] كَانَتْ لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ". [٦] قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د سحر مونځ په جماعت سره وکړي [۳] او تر نمر ختو پورې د الله په ياد (ذکر) کې مشغول وي [۴] بيا دوه رکعاته مونځ وکړي [۵] نو هغه ته د حج او عمرې پشان ثواب حاصليږي [٦] د راوي بيان دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د پوره حج او عمرې د پوره حج او عمرې د پوره حج او عمرې ثواب به ورته حاصليږي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① تَامَّةٍ تَامَّةٍ تَامَّةٍ: تکرار د تاکيد دپاره دي، تامة د حَجَّةٍ دپاره صفت دي معنی ئې ده پوره حج.

تسهيلات:- قوله: حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ:

د ثواب دوه قسمونه:- ① يو اصل ثواب وى اصل ثواب خودّ نور چا په نيک عمل کولو سره ملاويدې شي

② يو زياتي او فضل ثواب وى. د ثواب دا قسم ثواب صرف هم هغه سړى ته ملاويږى چه په اصل عمل کښې محنت کولو سره عمل کوى

د مثال په رڼا کښې وضاحت:- مثلاً يو سړې ذکر کوى اودَ نمر دَ راختلو پورې دَ الله تعالى په ذکر کښې مشغول پاتې کيدو سره هغه دوه رکعته دَ اشراق مونځ اوکړو هغه ته دَ حج اوعمرې اصل ثواب ملاويږى کوم چه دَ الله تعالى په نيز مقرراو معين دي. يو سړې حج اوعمرې له پخپله خې محنت اومشقت برداشت کوى. خرچه کوى او په هغې کښې چه کوم زياتي ثواب دې نودا ثواب خو به هم هغه ته ملاويږى څوک چه پخپله دَحج اوعمرې سفراوکړى. هم دغه شان نوراعمال هم قياس کول پکاردى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۹۷۲- د فرض او سنت مونځ په مينځ کښې وقفه کول

۹۷۲-(۲) [۱۴] [۱] وَعَنِ الْأَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ: [۲] «صَلَّى بِنَا إِمَامٌ لَنَا يُكْنَى أَبَا رِمْثَةَ، [۳] قَالَ: صَلَّيْتُ هَذِهِ الصَّلَاةَ، أَوْ مِثْلَ هَذِهِ الصَّلَاةِ مَعَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۴] قَالَ: وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- يَقُومَانِ فِي

[۱] اخرجه الترمذى كتاب السفر/باب ذكر ما يستحب من الجلوس فى المسجد بعد صلاة الصبح حتى تطلع الشمس (رقم- ۵۸٦)

[۲] اخرجه ابوداود باب فى الرجل يتطوع فى مكانه الذى صلى فيه المكتوبة (رقم- ۱۰۰۷)

الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ عَنْ يَمِينِهِ، ⑤ وَكَانَ رَجُلٌ قَدْ شَهِدَ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى مِنَ الصَّلَاةِ، ⑥ فَصَلَّى نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ سَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ، ⑦ حَتَّى رَأَيْنَا بَيَاضَ خَدَّيْهِ، ⑧ ثُمَّ انْفَتَلَ كَانْفِتَالِ أَبِي رِمْثَةَ - يَعْنِي نَفْسَهُ.

ترجمه: ① او حضرت ازرق بن قيس فرمايي ② چې (يوه ورځ) زمونږ امام چې د هغه كنيت ابو رمثه رضي الله عنه وو مونږ ته مونځ راكړو ③ (د لمانځه څخه وروسته يې) بيا وفرمايل ما (يوه ورځ) دا مونځ يا د دې پشان مونځ د رسول الله ﷺ سره وكړو ④ ابو رمثه رضي الله عنه وايي چې (په هغې كې) ابوبكر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه (هم) د حضور ﷺ ښي طرف ته په اول صف كې ولاړ وو ⑤ يو سړي (د شا څخه راغې) د لمانځه په تكبير اولى كې شريك شو ⑥ رسول الله ﷺ مونځ وكړو او د سلام په وخت يې خپل مخ مبارك دومره وګرځوو ⑦ چې مونږ يې د رخسار مباركو سپينوالي وليدلو ⑧ بيا حضور ﷺ د ابورمثه رضي الله عنه (يعني زما په شان راوګرځيدو سره كيناستلو

حل اللغات: - ① انْفَتَلَ: أَيِ انْصَرَفَ: راوګرځيدو.

① فَقَامَ الرجل الَّذِي أَدْرَكَ مَعَهُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى مِنَ الصَّلَاةِ يَشْفَعُ، ② فَوَثَبَ إِلَيْهِ عُمَرُ، فَأَخَذَ بِمَنْكِبَيْهِ، ③ فَهَزَّهُ، ثُمَّ قَالَ: اجْلِسْ، ④ فَإِنَّهُ لَمْ يُهْلِكْ أَهْلَ الْكِتَابِ ⑤ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ صَلَاتِهِمْ فَصْلٌ، ⑥ فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ، ⑦ فَقَالَ: "أَصَابَ اللَّهُ بِكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ"، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① هغه سړي چې په تكبير اولى كې شريك شوې وو ودريدلو دوه ركعاته مونځ يې شروع كړو ② حضرت عمر رضي الله عنه (د دې ليدو سره) سمدستي راپاڅيدو او هغه سړي يې د دواړو اوږو څخه ونيولو ③ وني خوزولو ورته يې وفرمايل كينه ④ ځكه اهل كتاب (يعني يهود او نصارى) ځكه د هلاكت په كنده كې وغورځيدل ⑤ چې هغوئ به د خپلو لمونځونو په مينځ كې هيڅ فرق نه كولو ⑥ (د حضرت عمر رضي الله عنه د دې خبري اوريدو سره) رسول الله ﷺ نظر مبارك راپورته كړو ⑦ او دا يې اوفرمائيل اي د خطاب خويه الله حق ته ورسولې (يعني تا رشتيا اووئيل). (ابوداؤد)

حل اللغات: - ② فَوَثَبَ: أَيْ: قَامَ بِسُرْعَةٍ: په جلتئ سره ورپاڅيدو. ③ فَهَزَّهُ: أَيْ: حَرَّكَهُ: اوني خوزولو.
⑤ فَصْلٌ: أَيْ: فَرْقٌ: جدائي.

تسهيلات: -

قوله: قَدْ شَهِدَ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى:

د فرض مونځ څخه روسته د نفلو دپاره د اودريدو حكم: - يعنى دا سړي مسبوق نه وو چه فوت شوې باقي مونځ اداكولو دپاره زر پاسيدو بلكه دا مدرك وو اود مانځه نه فارغ شوې وو اوبغير د وقفه كولو نه زر د نوافل كولو دپاره اودريدو.

قوله: لَمْ يَكُنْ بَيْنَ صَلَاتِهِمْ:

د فرض او نفل په مينځ کښې د فصل درې طريقې:-

① په ذکر اذکار سره فصل راوستل

② د ځائی په بدلولو سره فصل راوستل

③ د جمات څخه بهر په وتلو سره فصل راوستل.

په عدم فصل بين الفرض والنفل کښې د هلاکت د وعيد وجه:- په عدم فصل سره د نوافلو او فرائضو به مينځ کښې د اختلاط خطره وه. يعنی چې کله خلق په داسې اهتمام او تادئی سره دغه شان عمل کوی نو د څه وخت نه پس به عام خلق ګنړی چه دا نوافل هم په فرائضو کښې داخل دی دا هم فرض دی. دا عقيده خطرناك او د هلاکت موجب ده.

۹۷۳- د مانځه څخه وروسته تسبيح وليل

۹۷۳-()[۱۵] ۱ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲«أُمِرْنَا أَنْ نُسَبِّحَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، ۳ وَنَحْمَدَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، ۴ وَنُكَبِّرَ أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ، ۵ فَأُتِيَ رَجُلٌ فِي الْمَنَامِ مِنَ الْأَنْصَارِ، ۶ فَقِيلَ لَهُ: أَمَرَكُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُسَبِّحُوا فِي كُلِّ صَلَاةٍ كَذَا وَكَذَا؟ ۷ قَالَ الْأَنْصَارِيُّ فِي مَنَامِهِ: نَعَمْ، ۸ قَالَ: فَاجْعَلُوهَا خَمْسًا وَعِشْرِينَ، خَمْسًا وَعِشْرِينَ، ۹ وَاجْعَلُوا فِيهَا التَّهْلِيلَ، ۱۰ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ، ۱۱ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ فَافْعَلُوا» "رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ زيد ابن ثابت رضی الله عنه فرمايي ۲ چې مونږ ته حکم شوي دي چې مونږ دي د هر لمانځه وروسته وايو سبحان الله ۳۳ څله ۳ الحمد لله ۳۳ څله ۴ او الله اکبر ۳۴ څله ۵ حضرت زيد رضی الله عنه فرمايي چې يو ورځ يو انصاري يوه فرشته په خوب کښې وليده ۶ فرشتې هغه انصاري ته اوويل چې رسول الله ﷺ تاسو ته حکم درکړي دي چې تاسو د هر لمانځه څخه وروسته دومره څله تسبيح وايئ؟ ۷ هغه انصاري په خوب کې اوويل چې هو ۸ فرشتې اوويل د دې درې وارو کلماتو (د ويلو) تعداد ۲۵، ۲۵ مقرر کړئ ۹ او د دې سره لا اله الا الله هم ۲۵ څله مقرر کړئ (چې د سلو عدد پوره شي) ۱۰ هر کله چې سحر شو نو هغه انصاري د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو او د خپل خوب څخه يې حضور ﷺ خبر کړو ۱۱ حضور ﷺ وفرمايل په دې عمل کوئ. (احمد، نسايي، دارمي)

حل اللغات:- ① اَلْمَنَامِ: خوب. ② اَلتَّهْلِيلَ: لا اله الا الله، ③ غَدَا: أَيْ: أَوَّلَ النَّهَارِ: د ورځ اول وخت.

تسهيلات:- **قوله:** فَافْعَلُوا:

د فافعلوا څخه مراد:- يعنی ماچه څه خودلی دی هغه شان تسبيحات هم لولئی او تاسو په خوب کښې چه څه اوليدل او فرښتې دراوخودل هغه هم لوله دا دا الله تعالى ذکردې هيڅ

(¹) اخرجه النسائی کتاب السهو/باب نوع آخر من عدد التسبيح (رقم- ۱۳۵۰)

پابندی نشته دي.

د تسبیحاتو په تعداد کښې د کمی او اضافې حکم:-علامه شمس الدین رحمه الله التعليق الفصیح شرح مشکوة المصابیح کښې ج۲ ص۷ باندې د تسبیحات ۳۳ د تعداد متعلق لیکلی دی چه په شریعت کښې کوم عدد واقع دې د هغې نه په کم باندې مطلوب فضیلت او مطلوب ثواب حاصلیږی خوکه یوسړې مطلوبه شمیر سره لوستل کوی او په دې باندې اضافه کوی اودکم په ځائی زیات لوستل کوی نوهغه ته به هم هغه ثواب حاصلیږی کوم چه په فضیلت کښې معین اومقرردې.

۹۷۳-دآیة الکرسی فضیلت

۹۷۳-()[۱٦] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَعْوَادِ هَذَا الْمِنْبَرِ يَقُولُ: [۳] «مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ [۴] لَمْ يَمْنَعْهُ من دُخُولَ الْجَنَّةِ إِلَّا الْمَوْتُ، [۵] وَمَنْ قَرَأَهَا حِينَ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ [٦] آمَنَهُ اللَّهُ عَلَى دَارِهِ وَدَارِ جَارِهِ، [۷] وَأَهْلِ دُوَيْرَاتٍ حَوْلَهُ»"، رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ"، وَقَالَ: إِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.

ترجمه: [۱] امیر المؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي [۲] چې ما د رسول الله ﷺ نه د لرګي په دې منبر دا اوریدلي دي [۳] چې کوم سړي د هر لمانځه وروسته آیت الکرسي اووائي [۴] هغه جنت ته د تلو څخه د مرګ څخه علاوه بل هیڅ شي نشي منع کولي [۵] او کوم سړي چې (آیت الکرسي) د خپل خواب ګاه (د خوب ځاي) ته د تلو په وخت (یعني د اوده کیدو په) وخت اووائي [٦] نو الله تعالٰی جَلَّ جَلَالُهٗ هغه ته د هغه په مکان کې او د هغه د ګاونډی په مکان کې (یعني کوم مکانات چې د هغه د مکان سره څنګ په څنګ وي) [۷] او د هغه په شاوخوا مکاناتو کښې (اګر که د هغه مکان سره متصل نه وي) امن ورکوي دا روایت بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړي دي او ویلي يې دی چې د دې اسناد ضعیف دي.

حل اللغات:- ① أَعْوَادِ: د عود جمع ده لرګی ته وائی. ② مَضْجَعَهُ: أَيْ: مَكَانَهُ لِلنَّوْمِ: دخوب ځائي (دلته تري د خوب نه مخکښې وخت مراد دې). ③ آمَنَهُ اللَّهُ: أَيْ: جَعَلَهُ آمِنًا: محفوظ به ئې کړی (دهر شرنه). ④ دُوَيْرَاتٍ: جمع د دُوَيْرَةٌ ده، دا تصغیر دې د دَارٌ.

تسهیلات:-

قوله: لَمْ يَمْنَعْهُ دُخُولَ الْجَنَّةِ إِلَّا الْمَوْتُ:

په مرګ د پردې د اطلاق وجه:-دحدیث څخه به ظاهره معلومیږی چې د جنت اوبنده په مینځ کښې مرګ پرده ده.حالانکه پرده ژوند دي. خو په اصل کښې دَدې کلام مقصد دادې چه د بنده او جنت په مینځ کښې یوه پرده ده. یوطرف ته جنت دې اوبل طرف ته حیات یعنی

[۱] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۲۳۹۵

ژوند دي په مينځ كښې دَ مرګ پرده زوړند ده ځنګه چه دغه پرده اخوا شوه سړې به جنت ته لاړشي. هم دغه وجه ده چه دَ مرګ باره كښې ونيلې شوى دى چه "الموت تحفة المؤمن" اودا هم ونيلى شوى دى "الموت جسر يوصل الحبيب الى الحبيب"

٩٧٥– د سحر او ماښام د مانځه ځخه روسته د کلمه توحيد لوستل

٩٧٥–()[١٧] [١] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنْمٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [٢] "«مَنْ قَالَ قَبْلَ أَنْ يَنْصَرِفَ وَيَثْنِيَ رِجْلَيْهِ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ وَالصُّبْحِ: [٣] لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، [٤] لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، [٦] بِيَدِهِ الْخَيْرُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، [٧] وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، [٨] عَشْرَ مَرَّاتٍ، [٩] كُتِبَ لَهُ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ، [١٠] وَمُحِيَتْ عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ، [١١] وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ، [١٢] وَكَانَتْ لَهُ حِرْزًا مِنْ كُلِّ مَكْرُوهٍ، [١٣] وَحِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ، [١٤] وَلَمْ يَحِلَّ لِذَنْبٍ أَنْ يُدْرِكَهُ إِلَّا الشِّرْكُ [١٥] وَكَانَ مِنْ أَفْضَلِ النَّاسِ عَمَلًا، [١٦] إِلَّا رَجُلًا يَفْضُلُهُ، يَقُولُ أَفْضَلَ مِمَّا قَالَ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] عبدالرحمن ابن غنم راوي دي چې رسول الله ﷺ به فرمايل [٢] كوم سړي چې د سحر او ماښام د لمانځه ځخه وروسته (د لمانځه) د ځاي ځخه د ودريدو ځخه مخكې او پښي راتاؤ ولو ځخه مخكې (يعني ځنګه چې د التحيات د پاره كيني په دې هيئت سره) دا . كلمات اووائي: [٣] لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، دالله ځخه سوا بل معبود نشته هغه ايكي يو دي د هغه څوك شريك نشته [٤] د هغه د پاره بادشاهت دي او د هغه د پاره ټول تعريفونه دي [٦] د هغه په لاس كې خير دي هغه چې چا ته غواړي ژوندي كوي او چا ته چې غواړي مرګ ورته وركوي [٧] او هغه په هر شي قادر دي، [٨] لس ځله (يعني دا كلمات لس ځله اووائي) [٩] نو هغه د پاره د هر ځل په بدله كې لس نيكي ليكل كيږي [١٠] او د هغه لس ګناهونه معاف كيږي [١١] او د هغه (په مرتبه كې) لس درجي اوچتيږي [١٢] او دا كلمات د هغه د پاره د هر خراب شي نه دحفاظت سبب ګرځي [١٣] او د شيطان مردود (رټلي شوي) ځخه د امان باعث جوړيږي [يعنى نه خو په هغه د څه ديني او دنيوي آفت او بلا اثرغورځيږي او نه مردود شيطان په هغه حاوي كيدي شي] [١٤] او د شرك ځخه علاوه هيڅ ګناه (د توفيق استغفار او پروردګاره د رحمت په وجه) هغه په هلاكت كې نه اچوي (يعني كه په شرك كې مبتلا شي نو بيا د دې عظيم عمل په وجه يې بخښش هم نه كيږي) [١٥] او هغه سړي به د عمل په اعتبارسره په خلقو كې د ټولو ځخه بهتر وي [١٦] سوا د هغه سړي ځخه چې د هغه ځخه زيات افضل عمل كوي (يعني د هغه سړي ځخه افضل نشي كيدي چا چې دا كلمات) د هغه ځخه زياتي ويلي وي. (احمد)

حل اللغات:- ① وَيَثْنِيَ: أَيْ: يَعْطِفُهُمَا وَيُغَيِّرُهُمَا عَنْ هَيْئَةِ التَّشَهُّدِ: خپې راتاؤ كړي اودهغې هيئت ته تغير

() اخرجه احمد في المسند ٤/٢٢٧

وركړي چې د تشهد د ناستې كيفيت ئې ختم شي. ② مُحِيَتْ: ورانولې شي (يعنى معاف كولې شي).
③ حِرْزًا: أَيْ: حِفْظًا: امن، حفاظت.

۹۷۶–()[۰]① وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ عَنْ أَبِي ذَرٍّ إِلَى قوله: "إِلَّا الشِّرْكَ" ② وَلَمْ يَذْكُرْ: "صَلَاةَ الْمَغْرِبِ"، "وَلَا" "بِيَدِهِ الْخَيْرُ"، ③ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① دا روايت امام ترمذي رحمه الله هم د ابوذر رضي الله عنه څخه يوازي الا الشرك پورې نقل كړي دي دغسې د هغه په روايت كښې د صلواة المغرب او د بيده الخير الفاظ منقول نه دي او هغه ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح غريب دي.

تسهيلات:-

نوټ:- د ترجمې اوپه هغې كښې د اضافي قيوداتو په وجه د حديث مطلب واضح دې د مزيد تشريح ضرورت به نه وي.

۹۷۷–د سحر د مانځه څخه روسته د ذكر فضيلت

۹۷۷–(۱)[۱۸]① وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ② «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا قِبَلَ نَجْدٍ، ③ فَغَنِمُوا غَنَائِمَ كَثِيرَةً، ④ وَأَسْرَعُوا الرَّجْعَةَ، ⑤ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَّا لَمْ يَخْرُجْ: ⑥ مَا رَأَيْنَا بَعْثًا أَسْرَعَ رَجْعَةً، ⑦ وَلَا أَفْضَلَ غَنِيمَةً مِنْ هَذَا الْبَعْثِ، ⑧ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى قَوْمٍ أَفْضَلَ غَنِيمَةً، وَأَفْضَلَ رَجْعَةً؟ ⑨ قَوْمًا شَهِدُوا صَلَاةَ الصُّبْحِ، ⑩ ثُمَّ جَلَسُوا يَذْكُرُونَ اللَّهَ حَتَّى طَلَعَتِ الشَّمْسُ، ⑪ فَأُولَئِكَ أَسْرَعُ رَجْعَةً، وَأَفْضَلُ غَنِيمَةً» "، ⑫ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَحَمَّادُ بْنُ أَبِي حُمَيْدٍ الرَّاوِي ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ.

ترجمه: ① امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمايي ② چې (په يوه موقعه) رسول الله صلى الله عليه وسلم يو لښكر د نجد طرف ته وليږلو ③ هغه لښكر (د فتح او كاميابي څخه وروسته) ډير زيات مال غنيمت حاصل كړو ④ او ډير ژر (مدينې ته) واپس راغې ⑤ په مونږ كې يو سړي چې د لښكر سره نه وو تللي هغه اوويل ⑥ مونږ هيڅ داسې لښكر نه دي ليدلي چې د دې لښكر پشان دومره زر واپس راغلي وي ⑦ او خپل ځان سره يې دومره مال غنيمت هم راوړي وي ⑧ (د دې په اوريدو) رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل آيا زه تاسو ته د يو داسې جماعت په باره كې ونه ښايم چې په مال غنيمت كې او په ژر واپس راتلو كې د دې لښكر څخه هم زيات وي ⑨ (نو واوري) هغه جماعت هغه دي چې د سحر د لمانځه (په جماعت) كې حاضر شوي وي ⑩ او بيا تر نمر ختو پورې ناست وي د الله جل جلاله ذكر كوي ⑪ دا هغه خلق دي چې په زر واپس راتلو او مالِ غنيمت راوړلو كې د هغوئ څخه زيات دي، ⑫ دا روايت ترمذي رحمه الله

(۱) اخرجه الترمذي كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم-۳٤۷٤)
(۲) اخرجه الترمذي كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم-۳٤۷٤)

نقل کړي دي او ویلي یي دي چې دا حدیث غریب دي او د دې یو راوي حماد ابن ابي حمید ضعیف دي

حل اللغات: ① بَعَثَ: أَيْ: أَرْسَلَ: اوئې لیږلو. ② نَعْشًا: أَيْ: جَمَاعَةً: لښکر، جماعت، ③ أَسْرَعُوا الرَّجْعَةَ: أَيْ: الرُّجُوعَ إِلَى الْمَدِينَةِ: ډیر زر واپس راغلل (مدیني ته).

تسهیلات:-

قوله: يَذْكُرُونَ اللّٰهَ:

صرف په اسم ذات ,,الله،، سره د ذکر کولو په حکم کښې اختلاف:- ① بعضې لونی علماء مثلاً شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله طرف ته منسوب دی چه هغه مفرد اسم ذات ذکرکول ثابت نه منی او فرمائی چه دَدې مفهوم مبتداء یا خبر ملاوولو نه بغیر مکمل نه دې لهٰذا لفظ الله سره څه نور یوځائی کولو سره ذکرکول پکاردی. لیکن نور علماء جمهور سلفاً خلفاً مفرد اسم ذات ذکر سبب دَ برکت او ثواب ګنړي.

② علامه شمس الدین رحمه الله لیکلی دی چې دَ قرآن کریم دَ ډیرو زیاتو آیاتونو نه دَمفرد اسم ذات دَ ذکرثبوت ملاویږی مثلاً ﴿اذْكُرُوا اللّٰهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ [سورة الاحزاب: ۴۱] وغیره په دې آیاتونو کښې دَ اسم مفرد دَ ذکربیان او ثبوت دې.

علامه فرمائی چه دَ قرآن نه دا مسئله ثابته وه په دې وجه صحابه کرامو په احادیثو کښې دَدې دَ ذکرکولو اهتمام اونه کړو. بلکه په حدیث کښې هم صرف الله وئیلو ته ذکر وئیلي شوي دي. په یو حدیث کښې دی چه ترکومې پورې په دنیا کښې څو الله الله کونکي موجود وی قیامت به نه راځي.

[۳۶/۱۹]بَابُ مَالَایَجُوزُمِنَ الْعَمَلِ فِي الصَّلَاةِ وَمَایُبَاحُ مِنْهُ

په مونځ کښې د جائز او ناجائز څیزونو بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة وثلاثون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① الأمور المنهية في الصلوة وهى تسعة:

, جواب السلام: ۲، ۱۲، ۲۳.

- تسوية التراب عند السجود: ۳، ۳۲.

. الخصر: ۴، ۲۴.

/ الالتفات: ۵، ۱۶، ۱۸.۰ رفع البصر إلى السمآء: ۶. قول ها: ۲

عدم التشبيك: ۱۵. ۳ عدم النفخ: ۲۳. ۳ عدم الكلام: ۱.

② الأمور الجائزة في الصلوة وهي ثمانية:

,تسوية الحصى في السجود مرة: ۳.

- حمل الصبي: ۷.

. الأخذ بيد واحد: ۲۸.

/ النظر إلى المكتوب . البكاء من خشية الله ، قتل الأسودين ۲

مشي بعض الخطوات ۳ تبريد الحصى

③ بعض آداب الصلاة: ۸، ۱۳، ۱۴، ۱۰ ،۱۷.

④ بعض الأمور الشيطانية في الصلاة: ۸، ۱۳، ۲۰ ـ

⑤ حكم بعض الأحداث في الصلوة: ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰.

ترجمة الباب كښې د لايجوز مفهوم: په دې خبره باندې ښه خان پوهه کول پکار دی چه بعض اعمال او افعال داسې دی په کوم سره چه مونځ فاسد کيږي او بعض اعمال داسې دی چه په هغې سره مونځ مکروه کيږي او بعض اعمال هغه دی چه دَ مونځ په حالت کښې مباح دی دَدې ټولو تفصيلات دَفقه کتابونو کښې ذکر دی دلته په عنوان کښې "لايجوز" لفظ عام دې که هغه دَ اعمال مفسدات دَ قبيل نه وی يا دَ مکروهات دَ قبيلې نه وی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

۹۷۸–په مانځه کښې اتنوشې کولکی ته د يرحمك الله ويلو حکم

۹۷۸–( )[۱] ① عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ، قَالَ: ② «بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ③ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، ④ فَقُلْتُ: يَرْحَمُكَ اللهُ، فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ، ⑤ فَقُلْتُ: وَاثُكْلَ أُمِّيَاهُ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ؟ ⑥ فَجَعَلُوا يَضْرِبُونَ بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ، ⑦ فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُونَنِي، لَكِنِّي سَكَتُّ،

ترجمه: ① معاويه بن حکم رضي الله عنه فرمايي ② چې (يوه ورځ) ما د رسول الله ﷺ سره مونځ کولو ③ چې (د لمانځه په مينځ کې) ناڅاپه په جماعت کې يو سړي ته نوږي (اتنوشې) ورغلې ④ ما (په جواب کی) يرحمك الله اوويل (د دي په اوريدو سره) خلقو ماته سيده سيده کتل شروع کړل (چي په لمانځه کې د نوږي (اتنوشی) جواب ورکوي) ⑤ ما اوويل مور دي درباندې وژاړي تاسو خلق ماته سيده سيده ولې ګوري ⑥ خلقو (زما دا خبره اوريدو سره زما د چپ کولو او د تعجب د اظهار د پاره) په خپلو ورنو خپل لاسونه وهل شروع کړل ⑦ (هر

[۱] اخرجه مسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب تحريم الكلام فى الصلاة، ونسخ ما كان من إباحته (رقم- ۵۳۷) وابوداود كتاب الصلاة/باب تشميت العاطس فى الصلاة (رقم-۹۳۰) والنسائى كتاب السهو/الكلام فى الصلاة (رقم-۱۲۱۸)

کله چې) ما وليدل چې خلق ما چپ کول غواړي (نو ماته ډيره غصه راغله ځکه چې ماته ددې خپل فعل د خرابۍ علم نه وو) ليکن زه چپ شوم.

حل اللغات:- ① عَطَسَ: انتوشی، پرنجې اوکړو. ② وَاثُكْلَ أُمِّيَاهُ: اَی فِقْدَانُ الْمَرْأَةِ وَلَدَهَا: ښځه چه خپل بچې ورک کړی. ثکل دَ ثاء په ضمه سره هلاکت، مرګ او دَ خوئي يا محبوب څيز ورکيدو دَپاره استعمالولې شي. اصل کښې چه ښځې نه کله خپل بچې ورك شي په هغه موقع باندې ونيلې شي.

۱ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ فَبِأَبِي هُوَ وَأُمِّي مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ، ۳ فَوَاللهِ مَا كَهَرَنِي وَلَا ضَرَبَنِي، ۴ وَلَا شَتَمَنِي، قَالَ: ۵ " إِنَّ هَذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ، ۶ إِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيحُ، وَالتَّكْبِيرُ، وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ "، ۷ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

ترجمه: ۱ کوم وخت چې رسول الله ﷺ مونځ وکړلو ۲ (نو زه څه اووايم) زما مور پلار دې په ده (ﷺ) قربان شي ما خو داسې ښه تعليم ورکونکې نه د حضور ﷺ څخه مخکې څوك ليدلې او نه مې وروسته وليدلو ۳ قسم په الله نه خو حضور ﷺ زه ورټلم نه يې ووهلم ۴ او نه يې راته بد رد اوويل (هو دومره يې) وفرمايل ۵ چې په لمانځه کې د انسان خبرې کول مناسب نه دي ۶ مونځ خو تسبيح او تکبير او د قرآن ويلو نوم دې ۷ يا د دې په شان الفاظ يې وفرمايل (يعني راوي ته شك دې چې حضور ﷺ داالفاظ فرمايلي وو يا د دې پشان نور الفاظ وو)

حل اللغات:- ③ مَا كَهَرَنِي: أَيْ: مَا قَهَرَنِي وَزَجَرَنِي: څه قهر او غصه نې راباندې اونه کړه. کهر فتح يفتح نه دې ځنډل او تريو تندې کيدل چاسره په سپکه طريقه پيش کيدلو ته وائي.

۱ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ، ۲ وَقَدْ جَاءَنَا اللهُ بِالْإِسْلَامِ، ۳ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالًا يَأْتُونَ الْكُهَّانَ، ۴ قَالَ: " فَلَا تَأْتِهِمْ "، ۵ قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ، ۶ قَالَ: " ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ "، ۷ قَالَ: قُلْتُ: وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ، ۸ قَالَ: " كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ، ۹ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ »، رَوَاهُ مُسْلِمٌ، ۱۰ قوله لَكِنِّي سَكَتُّ، هَكَذَا وجدت فِي " صَحِيحِ مُسْلِمٍ "، وَكِتَابِ " الْحُمَيْدِيِّ "، ۱۱ وَصُحِّحَ فِي " جَامِعِ الْأُصُولِ " بِلَفْظَةِ: كَذَا، فَوْقَ: لَكِنِّي.

ترجمه: ۱ ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زه يو نوې مسلمان شوې يم (تر اوسه پورې د دين ټول احکام ماته معلوم نه وو) ۲ خو مونږ الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د اسلام په دولت مشرف کړو (نو د دين ټول احکام به زده کړم بيا ما عرض وکړو چې) ۳ په مونږ کې ډير خلق کاهنانو (نجوميانو) لره ورځي (په دې باره کې څه حکم دې؟) ۴ حضور ﷺ وفرمايل تاسو هغوئ ته هيڅ کله مه ورځئ ۵ ما عرض وکړو په مونږ کښې ډير خلق بدفالي (هم) کوي ۶ حضور ﷺ وفرمايل دا يو داسې شي دې چې هغوي يې په خپلو زړونو کې بيامومي (يعني دا د هغوئ وهم او د ذهن اختراع يعنې پيدا کړده شي دې چې د کارونو په نفع او نقصان کې هيڅ اثر نه لري) هغوي لره د خپل کار څخه منع کيدل نه دي پکار ۷ معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما

بيا عرض وکړو چې په زمونږ کې بعضې خلق خطونه (کربنې) راکاږي [او د هغې په ذريعه هغوی د غيب خبري ښايي][۸] رسول الله ﷺ وفرمايل په انبياؤ کې يو نبي وو چې خط به يي راکښلو[۹] نو د کوم سړي خط راکښل چې د هغه نبي د خط راکښلو موافق شي نو هغه ته هغه خبره حاصليږي، مسلم،[۱۰] د مشکوة مؤلف فرمايي چې د حديث الفاظ لكِنِّي سَكَتُّ مي په صحيح مسلم او کتاب حميدي کښې داسې ليدلي دي[۱۱] البته صاحب د جامع الاصول لفظ د لكِنِّي دپاسه کذا ليکلو سره د دې د صحت طرف ته اشاره کړې ده.

حل اللغات:- ③حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ: أَيْ: جَدِيدَةٌ: يعنى زه دَجاهليت زمانې سره بالکل نيزدې يم، اوس مې اسلام قبول کړې دې نوې مسلمان شوې يم. ⑤ الْكُهَّانَ: د كَاهِنٍ جمع ده، کاهن هغه سړې دې دَ چاچه ارواح خبيثه او جنات اوشياطين سره تعلق وی. ⑥ يَتَطَيَّرُونَ: أي التَّفَاؤُلُ بِالطَّيْرِ: دا لفظ الطيرة نه دې يعنی بدفالی نيول ⑦ يَخُطُّونَ: دا دَ خط راخکلو په معنی کښې دې.

تسهيلات:-

قوله: مِنْ كَلَامِ النَّاسِ:

دکلام الناس تعريف:-

دلته دې دا نشی وئيلې چې تسبيحات خو هم په ژبه ادا کيږی اوبه دې باندې هم تکلم کيږی نوبيا په دې باندې ولې مونځ نه ماتيږی ځکه چې تسبيحات سره دَدې چه کلام دې ليکن په دې کښې دَ خلقوسره مخامخ کيدلواراده نه وی نوځکه په دې باندې د کلام الناس اطلاق نشی کيدې البته که تسبيحات هم د تخاطب په اراده سره اووئيلې شی نو بيا به پرې مونځ ماتيږی.

قوله: حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ:

د مونځ راګرځولو حکم نه ورکولو وجه:- هم دغه وجه وه چه حضورپاك ﷺ هغه ته دَمونځ راګرځولو حکم ورنه کړو ګنی دَ چا په انتروشی او الحمدلله اويرحمك الله سره جواب ورکولو کښې خطاب دې او په مونځ کښې خطاب کولوسره مونځ فاسديږی. (كذا قال النووی ابن الهمام)

قوله: الْكُهَّانَ:

د کاهن د غيبو په خبرود دعوی کولو وجه:- جنات اوشيطانان دَ دروغو خبرې راوړی هغوی ته ئی ښائی اوکله چه په سلو خبروکښې يوه خبره رښتياشی نوداکاهنان په هغې باندې خپله کهاته چلوی او دَعلم غيب دعوی کوی. په جاهليت کښې دَدوی ډير زور وو اوس هم څه ناڅه شته. تفصيل به دَ تسهيلات په آخره که ژوند وفا وکړه راشی

قوله: يَجِدُونَهُ:

په شک کښې د پريوتو ممانعت:- يعنی يوشك اووهم دې په دغه وهم پرستنی کښې

پریوتلوسره سرې شکی کیږی او په هرکارکښې ترددوالې کوی اوډ منحوس اوغیرمنحوس په چکروکښې پریوتلوسره خپل کار بندولوسره دکارنه پاتې شی.اودا وهم اودا شك اودا وهم پرستی هغه سرې په تردد کښې اچولوسره هغه دخپل کارنه منع کړی بلکه دا عقیده اولری چه هرڅه دالله تعالی دحکم لاندې دی هم په هغه توکل کولوسره خپل کاراوکړی.

قوله: يَخُطُّونَ:

درمل په ذریعه د غیبو خبرورکول: -لکه څنګه چه دکهانت اوعلم نجوم په ذریعه بعض خلق دغیب خبرې ته د رسیدو کوشش کوی. دغه شان "رمل" په ذریعه سره داکوشش وی چه یوپتې اوغیب خبرې ته د دغه عمل په ذریعه اورسی. چنانچه عمل رمل دهغه عمل نوم دې په کوم کښې چه کرښې راخکلو سره بیا حساب لګولو د یوې پټې خبرې پورې د رسیدلو کوشش کولې شی.

قوله: نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ:

دنبی په مصداق کښې دوه اقوال: -① دا حضرت ادریس علیه السلام وو.② داحضرت دانیال علیه السلام وو.

قوله: يَخُطُّ خَطًّا

صراحتاً د علم رمل د حرمت حکم نه لګولو درې وجوهات: -دنورو نصوصو څخه معلومیږی چې د رمل په ذریعه د غیبو خبر ورکول ټیک نه دی خو په دې حدیث کښې نبی کریم ﷺ صراحتاً د دې څخه ممانعت نه دې کړې خود صراحت ممانعت خبرنه ورکول د درې خبرو په وجه کیدې شی.

① حضورپاك ﷺ په صراحت سره په علم رمل باندې رد نه دې فرمائیلې څکه چه دَدې تردید په زړکښې هغه نبی راتلې شو چه داعمل به ئی د معجزې په توګه کولو بلکه حضورپاك ﷺ په حکیمانه اندازسره یوه قاعده بیانولوسره دَدې عمل ممانعت هم په ذهن کښې راغلو اود هغه نبی په حق کښې څه بې ادبی هم اونه شوه.

② علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه حضورپاك ﷺ دلته د تعلیق بالمحال په ذریعه داکار منع کړې دې یعنی د کوم سړی خط چه دهغه نبی دخط سره موافق شو نوهم هغه به صحیح وی اوبنکاره خبره ده چه څوك وئیلې شی چه زما راخکلې کرښې هغه شان دی څنګه چه دهغه نبی وو. اول خودا موافقت حاصلول محال دی څوك ددې دعوی نه شی کولې.

③ د خط په ذریعه کوم څه کیدل هغه د هغه نبی معجزه وه اود یوبل سړی کرښه راخکل معجزه نه ده لهذا د یوسړی په دې عمل کښې لګیدل بالکل بې فائدې لغو اوباطل دی.

قوله: بِلَفْظَةِ: كَذَا:

د محدثینو په نیز یو قاعده: -دمحدثینو په نیزقاعده داده چه چرته په یوه کلمه کښې شك واقع شی اومحدثین ددې د صحت طرف ته اشاره کول غواړی نوهغه لفظ کذا په دغه کلمه

باندې دَ صحت دَعلامت په توګه لیکی. په دې حدیث کښې دَ لکنی لفظ دَمسلم او حمیدی په کتابونو کښې وو مګر په مصابیح کښې دا لفظ نه وو نو صاحب دَ جامع الاصول په لکنی باندې کذا اولیکلو یعنی دا لفظ هم دغه شان دې. (قربان شم دَ محدثینو دَ احتیاط نه)

۹۷۱—په مانځه کښې د سلام جواب ورکولو ممانعت

۹۷۱—()[۲][۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ، [۳] فَيَرُدُّ عَلَيْنَا، [۴] فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ، [۵] فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا، [۶] فَقُلْنَا: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلَاةِ، فَتَرُدُّ عَلَيْنَا، [۷] فَقَالَ: "إِنَّ فِي الصَّلَاةِ لَشُغْلًا"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود ﷛ فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ به په لمانځه کې وو او مونږ به ورته سلام کولو [۳] نو حضور ﷺ به زمونږ د سلام جواب راکولو [۴] بیا څه ورځې وروسته چې مونږ د نجاشي دخوا نه راغلو او د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شونو هغه وخت حضور ﷺ مونځ کولو (د معمول مطابق) زمونږ حضور ﷺ ته سلام وکړو [۵] لیکن حضور ﷺ زمونږ د سلام جواب رانه کړو [۶] حضور ﷺ چې کوم وخت مونځ ختم کړو نو مونږ عرض وکړو یا رسول الله ﷺ مونږ به تاته ﷺ په لمانځه کې سلام کولو نو تا ﷺ به جواب راکولو نن تا ﷺ جواب ولي رانه کړو؟ [۷] حضور ﷺ وفرمایل مونځ خو خپله یو لوي شغل دي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① لَشُغْلًا: أَيْ: مَانِعًا مِنَ السَّلَامِ: یعنی دَمونځ خپل اعمال دی کوم چه په دې کښې دننه وی دَ دغه اعمالونه علاوه په مانځه کښې نور ګنجائش نشته دې. (لهذا سلام کلام کول منع دی)

تسهیلات:-

قوله: فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا"

په مانځه کښې د خبرو وغیره مختلف مراحل: — ① دَاسلام په شروع کښې په مانځه کښې خبرې کول جائز وې بیا هغه موقوف شوې نو سلام اوکلام دواړه منع کړې شو.

② مګر امام پسې دَ قرأت کولو اجازت وو بیاهغه موقوف شو

③ مګر دَ فاتحې وئیلو اجازت وو بیا دَ احنافو په نیز هغه هم موقوف شو او ﴿ وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ﴾ ای ساکتین باندې عمل پاتې شو. راتلونکی باب السهو کښې به په دې باندې کلام کیږی.

قوله: النَّجَاشِيِّ"

د بادشاهانو القاب: — دادَ حبشې یو عادل بادشاه وو روستومسلمان شو.

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الجمعة /باب هجرة الحبشة (رقم- ۳۸۷۵) ومسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب تحریم الکلام فی الصلاة، ونسخ ما کان من إباحته (رقم- ۳٤ - (۵۳۸) وابوداود کتاب الصلاة/باب رد السلام فی الصلاة (رقم-۹۲۳)وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب المصلی یسلم علیه کیف یرد (رقم-۱۰۱۹)

① دَ حبشي دَ هرپادشاه به هم دا لقب وو
② دَ مصر دَ بادشاه لقب به فرعون وو
③ دَ ترکو دَ بادشاه لقب خاقان وو
④ دَ یمن دَ بادشاه لقب تبع وو
⑤ دَ روم دَ بادشاه لقب قیصر
⑥ دَ فارس دَ بادشاه لقب کسریٰ وو
⑦ دَ هندوستان دَ بادشاه لقب راجه وو.

۹۸۰- په مانځه کښې د سجدې د پاره د ځائې برابرولو حکم

۹۸۰-()[۳] [۱] «وَعَنْ مُعَيْقِيبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّجُلِ [۲] يُسَوِّي التُّرَابَ حَيْثُ يَسْجُدُ؟ [۳] قَالَ: إِنْ كُنْتَ فَاعِلًا فَوَاحِدَةً» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت معيقيب د رسول الله ﷺ څخه د هغه سړي په باره کې روايت کوي چې هغه دخان باره کې د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کړي وه [۲] چې زه (په مونځ کې) د سجدې د ځاي څخه خاوره برابروم د دې څه حکم دي؟ [۳] رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که ته برابرول ضروري وګڼې نو صرف يو ځل داسې کوه. (بخاري، مسلم)

د حضرت معيقيت مختصر تعارف

حضرت معيقيب رضي الله عنه دَ حضرت سعيدبن ابی العاص رضي الله عنه آزاد کړې شوې غلام وو هغوی دَ حضورپاک ﷺ په شاه مبارکه باندې مهرنبوت بشکل کړې وو. دَ بيت المال په خدمت باندې مامور وو او دَهغوی وفات ۴۰ هجری کښې شوې.

حل اللغات:- ① يُسَوِّي: برابروله به ئې. ② التُّرَابَ: خاوره.

تسهيلات:- **قوله: فَوَاحِدَةً"**

په مانځه کښې د سجدې د ځائې څخه د کانړی اخوا کولو حکم:- فقهاء احناف ليکی که په حالت دَمانځه کښې دَسجدې ځائی هوارنه وی يا په دغه ځائی کښې کانړی وی په کوم سره چه سجده کول ګران وی نوکانړی اخواکول جائز دی ليکن يو ځل يا دوه ځل جائز دی دې نه زيات نه. په دې حديث سره دَهغه حضراتودَپاره لويه تنبيه ده چاچه مونځ لويه ګنړلې ده او په دې کښې دَ يوبل په جيبونو کښې لاس اچولو سره تښو پيپر راؤباسی او پوزه پاکوی. دَعربستان او جزيرهٔ عرب دَمسلمانانونه دَمونځ ادب تقريبًا وتلې دې چه لوبوتوقوسره ئی کوی. ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ﴾

() اخرجه البخاری کتاب الجمعة/ باب مسح الحصا فی الصلاة (رقم- ۱۲۰۷) ومسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب کراهة مسح الحصی وتسوية التراب فی الصلاة (رقم) ۴۹ - (۵۴۶)

۹۸۱–په مانځه کښې د تخصر (په تشو لاس کېښودلو) ممانعت

۹۸۱–(¹)[۳][۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي اللهِ عَنْهُ- قَالَ: [۲]«نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْخَصْرِ فِي الصَّلَاةِ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] ابوهریره رضی الله عنه فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ په لمانځه کې د خصر (په تشو لاس ایښودلو) څخه منع فرمایلي ده. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① الْخَصْرُ: وَضْعُ الْيَدِ عَلَى الْخَاصِرَةِ: اختصار اوخصر په ډوډی او ارخ باندې لاس کیخودو په معنی کښې دې.

تسهیلات:-

په مانځه کښې په تشو د لاس کیخودلو د ممانعت وجوه:- ① په میدان محشر کښې هغه خلق کوم چه به دوزخیان وی هغوی به هم په دغه شکل باندې ولاړ وی په دې وجه دَهغوی دَ مشابهت نه منع کړې شو. او په یوحدیث کښې راغلی دی چه لاسونه په ډوډی باندې کیخودو سره به دوزخیال دَ آرام حاصلولو کوشش کوی. لکه څنګه چه یوسړې ډیر ستړې شی نوهغه دواړه لاسونه په ډوډو باندې کیخودو سره یوه اوږده ساه واخلی.

② چه کله نبی مکرم ﷺ ممانعت اوفرمائیل نودَ تپوس کولو اودَ سوال کولو ضرورت پاتې نه شو هم دغه دَ تپولو نه لویه وجه ده چه حضورپاك ﷺ منع کړی دی.

③ داسې حالت دَ ډیرزیات کبر دې په دې وجه مونږ ګذار دَدې نه منع کړې شو. بل دَ مونږ نه بهرهم په داسې کبرژن انداز سره دَمسلمانانو دَپاره اودریدل دکراهت نه خالی نه دی.

④ دَ اهل النار نه مراد یهود دی هغه خلق په دنیاکښې هم دغه شان په ډوډی باندې لاسونه کیخودو سره اودریږی. مونږ ګذار دَهغوی دَ مشابهت نه منع کړې شو.

۹۸۲–په مانځه کښې داخوا دیخوا کتلو ممانعت

۹۸۲–(²)[۵][۱]وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲]«سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ، [۳]فَقَالَ: "هُوَ اخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ» "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] د مؤمنانو مور بي بي عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي[۲] چې د رسول الله ﷺ څخه په لمانځه کې اخوا دیخوا د کتلو په باره کې پوښتنه وشوه (چې آیا د دې سره مونځ ماتیږي

¹) اخرجه البخاری کتاب الجمعة/ باب الخصر فی الصلاة (رقم- ۱۲۲۰) ومسلم کتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب کراهة الاختصار فی الصلاة (رقم- ۴۶ - (۵۴۵) وابوداو کتاب الصلاة،باب الرجل یصلی مختصرا (رقم-۹۴۷) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی النهی عن الاختصار فی الصلاة(رقم-۳۸۳) والنسائی کتاب الافتتاح/باب النهی عن التخصر فی الصلاة (رقم-۸۹۰) والدارمی باب: النهی عن الاختصار فی الصلاة (رقم-۱۴۶۸)

²) اخرجه البخاری کتاب الاذان/ باب الالتفات فی الصلاة (رقم- ۷۵۱) وابوداود کتاب الصلاة،باب الالتفات فی الصلاة (رقم-۹۱۰) والنسائی کتاب السهو/باب التشدید فی الالتفات فی الصلاة (رقم-۱۱۹۶)

کہ نہ؟[۲] حضور ﷺ وفرمايل دا غافله كولو سره تبنتول دي چې شيطان يې د بنده د لمانځه څخه تبنتوي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① الْإِلْتِفَاتُ: يو خوا بل خوا كتل ② اخْتِلَاسٌ: أي: اسْتِلَابٌ وَأَخْذٌ بِسُرْعَةٍ: دباب افتعال نه اختلاس اوچتول او يوځيز ډير زر اوچتولو په معنى كښې دي.

تسهيلات:-

قوله: هُوَ اخْتِلَاسٌ"

د اختلاس مفهوم:- مطلب دا چه كله سړې په مانځه اودريږي اواخوا ديخوا ګوري اودَ مونځ دَ آداب خيال نه ساتي نوشيطان مردود دَ سړي مونځ اوچت كړي. اوس دَ ده مونځ كامل نه پاتې كيږي.

د التفات درې صورتونه اودهريو حكم:- ① كه دَ ستې تاوولوسره دې سينه اوبدن هم دَ قبيلې نه تاؤ شو نو په دې صورت كښې مونځ فاسد يږي.

② چه مونځ ګذار ستې تاوولوسره اخواديخوا ګوري. چه دَ قبلې نه دې كله مخ واوړي نودا صورت مكروه اوممنوع دي.

③ صرف دَ ستركو په ګوټونو كښې اخوا ديخوا اوګوري اوستې يا سر تاؤ نه كړي نودا صورت خلاف اولى دي. ځكه چه دَمونځ دَ آدابونه دادې چه نظر دې دَ سجدې په ځائى باندې وى.

۹۸۳–په مانځه كښې د دعا په وخت آسمان طرف ته د كتلو ممانعت

۹۸۳–()[۲][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]" «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ رَفْعِهِمْ أَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِي الصَّلَاةِ إِلَى السَّمَاءِ،[۳] أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] خلق دي په لمانځه كې د دعا په وخت خپل نظر د آسمان طرف ته پورته كولو څخه منع شي[۳] ګينې د هغوئ نظر به وتښتول شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① لَتُخْطَفَنَّ: أي: لَتُسْلَبَنَّ: اختطاف په زوردَاخستلو په معنى كښې دي.

تسهيلات:- قوله: لَتُخْطَفَنَّ:

په مانځه كښې آسمان طرف ته د كتلو كراهت:- په دې سره په دې حديث كښې رسول الله

[1] اخرجه البخارى كتاب الاذان/ باب رفع البصر إلى السماء فى الصلاة (رقم-۷۵۰) ومسلم كتاب الصلاة . باب النهى عن رفع البصر إلى السماء فى الصلاة (رقم- ۱۱۸ - (۴۲۹) والنسائى كتاب السهو/النهى عن رفع البصر إلى السماء فى الصلاة (رقم-۱۱۹۳) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب الخشوع فى الصلاة (رقم-۱۰۴۵)والدارمى كتاب الصلاة /باب: كراهية رفع البصر إلى السماء فى الصلاة (رقم-۱۳۳۹)

ﷺ دَ مانځه دَ آدابونه يوادب دا ارشاد اوفرمائيلو چه دَ مانځه په التحيات کښې دَدعا په وخت نظر آسمان طرف ته نه دی اوچتول پکار

د کراهت دوه وجوهات:-① دا دَ بې ادبئی موجب هم دی. ځکه چه دعا دَ عاجزئی حالت دې او آسمان ته کتل دَ عاجزئی خلاف دی. په يوروايت کښې راغلی دی چه حضورپاك ﷺ په مانځه کښې دَ دعا په وخت به داسې نظر اسمان طرف ته اوچتولو خو چه کله آيت ﴿الَّذِيْنَ هُمْ فِيْ صَلَاتِهِمْ خٰشِعُوْنَ﴾ نازل شونو حضورپاك ﷺ بيا نظر هم ښکته ساتلو. [مؤمنون الايه: ۲]

② په دې سره په ظاهره دا وهم پيدا کيږی چه دَ الله تعالى دَ پاره په آسمانونو کښې يومقررمکان دې په کوم سره چه به جسميت ثابت شی او جسميت سره حدوث لازم دی.

۹۸۳–د نبی علیه السلام خپله نمسی په مانځه کښې په اوږه کينول

۹۸۳–()[۷] ① وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ النَّاسَ وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عَاتِقِهِ، ③ فَإِذَا رَكَعَ وَضَعَهَا، ④ وَإِذَا رَفَعَ مِنَ السُّجُودِ أَعَادَهَا»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابو قتاده ﷛ فرمايي ② چې ما ليدلي دي چې رسول الله ﷺ (يوه ورځ خلقو ته مونځ وركولو او د حضور ﷺ لمسي امامه بنت ابي العاص د حضور ﷺ په اوږه مبارکه ناسته وه ③ حضور ﷺ چې به رکوع کوله نو امامه به يې کينوله ④ اودسجدي ځخه چې به پاځيدلو نو هغه به يې په خپله اوږه کينوله. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① يَؤُمُّ: امامتی ئې کوله، مونځ ئې ورکولو خلقوته. ② وَضَعَهَا: کوزوله به ئې (دخپلې اوږې نه). ③ أَعَادَهَا: يعنی دوباره به ئې پورته کوله اوپه اوږه به ئې کينوله.

تسهيلات:-

قوله: وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ:

د حضرت امامه مختصر تعارف:- امامه دَ حضورپاك ﷺ نمسئی ده چه دَ حضرت زينب بنت رسول ﷺ زوجه ابوالعاص لور ده.

اشکال: نبی عليه السلام حضورپاك ﷺ په فرض مونځ کښې وو ځکه چه دَ "يؤم الناس" الفاظ په دې باندې دليل دې. نو په فرض مونځ کښې داسې عمل څنګه جائز شو کوم چه په ظاهره عمل کثيردې او حضورپاك ﷺ پخپله دَدې نه منع فرمائيلې ده.

داشکال درې جوابونه: ① حضورپا ك دَ څه وقتی مجبورئی نه داسې کړی اودَ وقتی مجبورئی عارضی عمل چه يوخل نيم اوکړ ي شی هغه دَ امت دَپاره مستمره مسنون قاعده

---

[۱]) اخرجه مسلم كتاب المساجد و مواضع الصلاة/ باب جواز حمل الصبيان فى الصلاة (رقم-۴۲ - (۵۴۳) والنسائى كتاب السهو/حمل الصبايا فى الصلاة ووضعهن فى الصلاة (رقم-۱۲۰۵)

نه جوړيږي.

④ وړوکي ماشوم يا ماشومه اوچتول عمل کثير کښې داخل نه دی. علماء احناف ليکلي دي چه د ماشوم اوچتولوسره مونځ نه فاسد کيږي. اوکه ښځې بچی له پيني ورکړي نومونځ به ئي فاسد شي اصل مدار په عمل قليل اوکثير باندې دي.

⑤ دا د هغه وخت خبره وه کوم وخت چه په مونځ کښې د ډيرو کارونو کولو ګنجائش وو.

تنبيه: بعضې خلق دې حديث ته په کتو سره ماشومان جمات ته راولي او په اوږو باندې اوچتولوسره مونځ کوی. دا د هغه خلقو په حديث باندې د نه پوهيدو دليل دې سره د دې چه هغوی خپل ځان ته اهل حديث وائی.

۹۸۵–د آسويلی په وخت د خلې بندول

۹۸۵–()[۸]۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصلاة فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ؛ ۳ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر کله چې په تاسو کې چا ته په لمانځه کې آسويلي (اوږمي) راشي نو هغه ته پکار دي چې حتي الامکان (تر خپله وسه پوري) هغه بندي کړي ۳ ځکه چې (د آسويلي (اوږمي) په وخت) شيطان (په خله کې) ننوځي. (مسلم)

حل اللغات:- ① تَثَاءَبَ: آسويلي، اوږمي. ② فَلْيَكْظِمْ: أَيْ: يُمْسِكُ وَيَمْنَعُ: بند دې کړی، منع دې کړی (آسويلي چه خوله ئي کهلاؤ نه شي).

۹۸۶–()[۹]۱ وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: ۲ "«إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ ۳ وَلَا يَقُلْ: هَا، فَإِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ يَضْحَكُ مِنْهُ»".

ترجمه: ۱ او د بخاري په روايت کې دا الفاظ دي ۲ هر کله چې په تاسو کې چا ته په لمانځه کې آسويلي راشي نو حتي الامکان هغه منع کول پکار دي ۳ او ها دې نه کوي (ځنګه چې د آسويلي په وخت بې اختيار د خلې څخه دا لفظ ها وځي) ځکه چې دا د شيطان د طرف څخه دي او هغه په دې سره خاندي.

تسهيلات:- **قوله:** إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ:

شيطان ته د تثاءب د نسبت وجه:–ډير خوراک، ثقل بدن اوسستئی د وجې نه اسويلی

---

(۱) اخرجه مسلم كتاب الزهد والرقائق/ باب تشميت العاطس، وكراهة التثاؤب (رقم) ۵۷ - (۲۹۹۵) وابوداود كتاب الأدب/باب ما جاء في التثاؤب (رقم-۵۰۲۷) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية التثاؤب فى الصلاة (رقم-۳۷۰)

(۲) اخرجه مسلم كتاب الزهد والرقائق/- باب تشميت العاطس، وكراهة التثاؤب (رقم) ۵۶ - (۲۹۹٤) وابوداود كتاب الأدب/باب ما جاء فى التثاؤب (رقم-۵۰۲۸)

راځي او په عبادت کښې دَ سستئی او غفلت ذريعه جوړيږي. په دې سره شيطان خوشحاليږي په دې وجه دَ اسويلی په نسبت دَ شيطان طرف ته کړې شوې دې. دَ انتروشي او اسويلی په وخت شکل ورانيږي دَ کوم په کتو چه شيطان خاندي. چه ګوره دې مکروه انسان او مکروه شکل دَ وجې نه دَالله تعالی دَ دربارنه رټلې شوې يم.

د انتوشی دفع کولو علاج:- ① اسلام دَدې علاج دا خودلې دې چه مونځ ګذار له پکاردی چه خپله خله بنده کړی دې دَپاره چه دَ شيطان دَ وسوسو لار بنده شی.

② دَ انتروشي او اسويلی لرې کولودَپاره يوصورت داهم دې چه په زړه کښې داخيال راولی چه حضورپاك ﷺ ته کله هم انتهوشی (انتروسی)نه وو راغلې.

۱۸۷-د نبی علیه السلام په مالخه کښې د پیری را نیولو اراده کول

۹۸۷-()[۹] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِي، ③ فَأَمْكَنَنِي اللَّهُ مِنْهُ، فَأَخَذْتُهُ ④ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ عَلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ ⑤ حَتَّى تَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ، ⑥ فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِي سُلَيْمَانَ: ⑦ "رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي، ⑧ فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ وفرمايل ② نن شپه په جناتو (پيريانو) کې يو ديُو (يعني يو سرکش شيطان) ماته راغې چې زما په لمانځه کې خلل واچوي ③ خو الله تعالی جل جلاله زه په هغه حاوي (غالبه) کړم نو ما هغه ونيولو ④ او غوښتل مي چې په مسجد (نبوي) کې يوې ستنې سره يې وتړم ⑤ چې تاسو ټول خلق يې ووينې ⑥ بيا ما ته د خپل ورور سليمان عليه السلام دا دعا رايادہ شوه: ⑦ رَبِّ هَبْ لِيْ مُلْكًا لَا يَنْبَغِيْ لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِيْ، اي پروردګاره ماته داسې بادشاهي عطا کړي چې زما څخه وروسته د بل چا د پاره نه وي، ⑧ نو ما هغه ذليله پريښودلو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات - ① عِفْرِيتًا: أَيْ: خَبِيثًا: سرکش لوئی اوخبيث جن ته نی عفريت اوونيل. ② تَفَلَّتَ: أَيْ: تَخَلَّصَ فَجْأَةً: دَباب تفعل نه دَخلاصيدو په معنی کښې دې. چونکه حضرت سليمان عليه السلام لوئی لوئی پيريان په مختلفو جزيرو او غارونوکښې بند ساتلې دی هم دَ هغوی نه دا سرکش راتختيدلې دې اوخباثت سره نيغ حضورپاك ﷺ له دَمونځ خرابولودَپاره راغلو. ③ الْبَارِحَةَ: يَعْنِي: اللَّيْلَةَ الْمَاضِيَةَ: تيره شپه، ④ لِيَقْطَعَ: أَنْ يَشْغَلَنِي بِالْوَسْوَسَةِ فِيهَا: چه په وسوسه اچولو سره زما په مونځ کښې خلل پيدا کړی. ⑤ فَأَمْكَنَنِي: أَيْ: أَعْطَانِي مُكْنَةً مِنْ أَخْذِهِ: يعنی ماله ئې په هغه باندې قوت اوقدرت راکړو څه پرې غالب شوم. ⑥ أَرْبِطَهُ: أَيْ: أَشُدَّهُ: چه اونې ترم. ⑦ سَارِيَةٍ: أَيْ: أُسْطُوَانَةٍ: ستن، ⑧ خَاسِئًا: أَيْ: خَائِبًا خَاسِرًا: دَ ذليل اوخوار په معنی کښې دې سپې چه کله رټلې شی او شړلې شی دَهغې دَپاره لفظ اخساء استعماليږی.

---

¹) اخرجه البخاری فی صحيحه رقم الحديث ۴۶۱ ومسلم فی صحيحه رقم الحديث ۳۹/ ۵۴۱

تسهيلات: - قوله: "حَتَّى تَنْظُرُوا إِلَيْهِ"

د جناتو احوال: - دې نه معلومه شوه چه جنات نيولوسره ترلي كيدې شي. دا كثيف مخلوق دې لطيف نه دې. دويمه خبره دا معلومه شوه چه د جناتو وجود دې د هغوى وجود د قرآن او د حضورپاك ﷺ د څو واقعاتونه ثابت دې په دې باندې د امت اجماع ده

① د دوى خپل مينځ كښې ودونه كيږى اولاد ئې پيدا كيږى.

② د بعضې انسانانوسره ئې هم واده كيږى

③ پيريان خوراك څښاك كوى خوب كوى جماع كوى.

د جناتو متعلق دوه كتابونه: - ① امام سيوطى رحمه الله لفظ المرجان فى احكام الجان كښې د دې پيريانو د ابتدائى پيدائش د هغوى وجود او د هغوى ټول احوال ثابت كړى دى.

② د دوى ټول احوال آكام المرجان فى احكام الجان كښې ذكردى.

قوله: فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِي سُلَيْمَانَ:

د سليمان عليه السلام دعا: - حضرت سليمان عليه السلام ته په جناتو باندې پوره تصرف حاصل وو. حضورپاك ﷺ ته هم دا تصرف حاصل وو ليكن حضورپاك ﷺ د حضرت سليمان عليه السلام د دعا د وجې نه د غه تصرف استعمال نه كړو

۹۸۸ - د ضرورت په وخت په مانځه كښې د تسبيح يا تصفيق حكم

۹۸۸ - (۱)[۱۰] [۱] وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِهِ، فَلْيُسَبِّحْ، [۳] فَإِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ» ". [۴] وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ: " «التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ، وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړي ته چې په لمانځه كې څه خبره پيښه شي نو هغه ته پكار دي چې هغه سبحان الله اووايي [۳] او لاس وهل د ښځو د پاره مخصوص دي [۴] او د يو روايت الفاظ دا دي چې سبحان الله ويل د سړو د پاره مخصوص دي او لاس وهل د ښځو د پاره مخصوص دي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① مَنْ نَابَهُ: أَيْ: مَنْ أَصَابَهُ: ناب ينوب د باب نصر نه دې په مونځ كښې څه حادثه يا واقعه پيښيدو ته وئيلې شوى دى. ② التَّصْفِيقُ: وَهُوَ ضَرْبُ إِحْدَى الْيَدَيْنِ عَلَى الْأُخْرَى: يولاس بل لاس ته راچول، يعنى لاسونه پړقول.

[۱] اخرجه البخارى كتاب الجمعة/ باب التصفيق للنساء (رقم-۱۲۰٤) ومسلم كتاب الصلاة/باب تقديم الجماعة من يصلى بهم إذا تأخر الإمام ولم يخافوا مفسدة بالتقديم(رقم) ۱۰۲ - (٤۲۱) وابوداود كتاب الصلاة،باب التصفيق فى الصلاة (رقم-۹٤۰) والنسائى كتاب الإمامة/باب إذا تقدم الرجل من الرعية ثم جاء الوالى ، هل يتأخر؟ (رقم-۷۸٤) والدارمى كتاب الصلاة /باب التسبيح للرجال، والتصفيق للنساء(رقم-۱٤۰۳) ومالك فى الموطا كتاب قصر الصلاة فى السفر . باب الالتفات والتصفيق عند الحاجة فى الصلاة (رقم-٦۱)

تسهیلات: - **قوله:** مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ:

امام ته د فتحې ورکولو صورتونه: -مطلب دا چه په مونځ کښې څه خاص واقعه یا حادثه پیښه شی مثلاً په مونځ کښې امام صاحب سهو شی اوهغه له دَ فتحې ورکولوموقع راشی

① په دې صورت کښې که مونځ ګذار سړې وی نو سبحان الله دې وائی په کوم سره چه به اشاره اوشی چه سړې په مونځ کښې مشغول دې

② اوکه چرې ښځه په مونځ کښې مشغوله وی او امام ته د فتحې ورکولو ضرورت پیښ شی نو هغه دې سبحان الله نه وائی ځکه چه دَهغې دَ آواز هم پرده ده بلکه هغه دې دَ ګس لاس په شاه باندې دَ ښی لاس تلې په زوره باندې اووهی

د سړی اوښځې د فتحې ورکولو په طریقه کښې اختلاف: - ① دَجمهورو په نیز هم دغه شان ده. چې سړې به په فتح ورکولو کښې سبحان الله وائی اوښځه به دې دَ ګس لاس په شاه باندې دَ ښی لاس تلې په زوره باندې اووهی

② دَ امام مالك رحمه الله یو روایت دې چه په سړی اوښځه کښې هیڅ فرق نشته دې. دَ دواړو دَ پاره هم تسبیح مقرردی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۹۸۹- په مانځه کښې د سلام جواب ورکولو ممانعت

۹۸۹-()[۱۱] [۱] عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَفِي الصَّلَاةِ، قَبْلَ أَنْ نَأْتِيَ أَرْضَ الْحَبَشَةِ، [۳] فَيَرُدُّ عَلَيْنَا، [۴] فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ، [۵] أَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي، [۶] فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ، [۷] حَتَّى إِذَا قَضَى صَلَاتَهُ، قَالَ: [۸] إِنَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ مِنْ أَمْرِهِ مَا يَشَاءُ، [۹] وَإِنَّ مِمَّا أَحْدَثَ أَنْ لَا تَكَلَّمُوا فِي الصَّلَاةِ [۱۰] فَرَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ»

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمایي [۲] چې د مُلك حبشه څخه د واپسي څخه مخکې مونږ به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کوم وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم به مونځ کولو سلام کولو [۳] او حضور صلی الله علیه وسلم به زمونږ د سلام جواب راکولو [۴] بیا چې مونږ د ملك حبشه څخه واپس شو [۵] نو زه د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضر شوم هغه وخت ما رسول الله په لمانځه کولو ولیدلو [۶] ما ورته سلام وکړو خو حضور صلی الله علیه وسلم جواب رانه کړو [۷] کوم وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم د لمانځه څخه فارغ شو نو وي فرمایل [۸] الله تعالی جل جلاله چې خپل کوم حکم غواړي هغه ظاهروي [۹] الله تعالی اوس دا حکم ظاهر کړي دي چې په لمانځه کې خبري اترې مه کوي [۱۰] بیا حضور صلی الله علیه وسلم زما د سلام جواب راکړو

حل اللغات: - ① فَلَمْ يَرُدَّ: یعنی زما د سلام جواب ئې رانه کړو.

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة /باب رد السلام فی الصلاة (رقم-۹۲٤)

۹۰-()[۱۰] ۱ وَقَالَ: «إِنَّمَا الصَّلَاةُ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللهِ، ۲ فَإِذَا كُنْتَ فِيهَا. فَلْيَكُنْ ذٰلِكَ شَأْنَكَ» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ بيا يې وفرمايل مونځ يوازې د قرآن ويلو او د الله د ذكر د پاره دې ۲ هر كله چې ته د لمانځه حالت كې يې نو ستاسو هم دا حال كيدل پكار دي يعنى يوازې قرآن وايې او د الله ذكر كوه. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① شَأْنَكَ: أَيْ: حَالُكَ الْمُهِمُّ: شأن د شُئُونٌ جمع ده، حال ته وائى اوپه اهم او لوئې كارونو كښې ددې استعمال كيږي.

تسهيلات:-

قوله: فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ

د سلام جواب نه وركولو صورتونه:- ددې حديث نه دا معلومه شوه چې كه يو كس مونځ كوي يا د متيازو وغيره په حالت كښې وي ،او څوك په دې باندې سلام واچوى نو ددې جواب وركول واجب نه دى. ځكه چې په داسې حالت كښې د سلام جواب وركول ممنوع دى، مسنون نه دى. د مسنون سلام جواب وركول واجب دى. دممنوع سلام جواب وركول واجب نه دى . فراغت نه پس د سلام جواب وركول پكار دى. علامه شامى پنځويشت داسې مواقع بيان كړى دى چې په هغې كښې سلام كول مكرو دى.

۹۱-په مانځه كښې په اشارې سره د سلام جواب وركولو حكم

۹۱-()[۱۲] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: ۲ «قُلْتُ لِبِلَالٍ: كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِينَ كَانُوا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ؟ ۳ قَالَ: كَانَ يُشِيرُ بِيَدِهِ»، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، ۴ وَفِي رِوَايَةِ النَّسَائِيِّ نَحْوُهُ، وَعِوَضَ: بِلَالٍ صُهَيْبٌ.

ترجمه: ۱ ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي ۲ چې ما د حضرت بلال رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه چې رسول الله ﷺ به د لمانځه په حالت كې وو نو د سلام جواب به يې څنګه وركولو ۳ بلال رضي الله عنه اوويل رسول الله ﷺ به د خپل لاس په اشارې سره جواب وركولو، ترمذي، ۴ او د نسايي په يو روايت كې په ځاي د ابن عمر رضي الله عنهما د صُهيب څخه دغسې منقول دي [يعني د ترمذي په روايت كې خو دا دي چې ابن عمر رضي الله عنهما د بلال رضي الله عنه څخه دا پوښتنه وكړه او د نسايي په روايت كې دا دي چې ابن عمر د صُهيب رضي الله عنه څخه دا پوښتنه كړي وه].

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة/باب تشميت العاطس فى الصلاة (رقم-۹۳۱)
[2] اخرجه الترمذى فى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الإشارة فى الصلاة (رقم-۳۶۸)والنسائى كتاب السهو/باب رد السلام بالإشارة فى الصلاة (رقم-۱۱۸۷)

تسهيلات:-

قوله: يُشِيرُبِيَدِهِ:

په الفاظو سره په مونځ کښې د سلام جواب ورکولو حکم:-مونځ گذارته که څوك په مونځ کښې سلام اوکړی نو په لفظونو کښې دَ سلام جواب ورکول جائز نه دی. که چرې چا په لفظونو کښې دَ سلام جواب ورکړو نودَ ائمه اربعه په دې باندې اتفاق دې چه دَهغه مونځ به فاسد يږی

په مانځه کښې په اشارې سره د سلام د جواب ورکولو حکم کښې مذاهب:-

که چرې په اشاره سره ئې دَ سلام جواب ورکړو نو په دې کښې دَ ائمه اختلاف دې ① امام مالك رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز اشاره سره دَ سلام جواب ورکولو جائز دی.

② دَ احنافو په نيز په اشاره سره جواب ورکول مکروه دی ليکن مونځ ئې کيږی.

داول فريق دليل:- زير بحث حديث د دوی مستدل دې اوفرمائی چه په ژبه سره جواب ورکول منع دی مگر په اشاره سره جواب ورکول باقی پاتې دی. کوم چې د زير بحث حديث څخه ثابت دی.

داول فريق د دليل جواب:-په اشاره سره جواب ورکول هم منسوخ شوی دی. د کوم ثبوت چې د حضرت عبدالله بن مسعود په روايت سره شوې دې.

د دويم فريق دليل:-د دې باب په دويم حديث کښې ذکر شوی دی چه حضورپاك ﷺ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه ته دَ سر په اشاره سره هم جواب ورنه کړو په کوم سره چه هغه ډير پريشان شو که چرې جائز وې اوکراهت نه وې نودَ ابن مسعود رضی الله عنه دَ پريشانتيا هيڅ وجه نه وه. که دَ سر په اشاره ورته جواب ملاؤشوې وې. بهرحال که چرې کراهت په تنزيهی باندې حمل کړې شی نودَ غيراولی اختلاف به پاتې شی.

۹۹۲-په قومه کښې د تحميد فضيلت

۹۹۲-(۱)[۱۳] ① (وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ: «صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ② فَعَطَسْتُ فَقُلْتُ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ، مُبَارَكًا عَلَيْهِ، ③ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى، ④ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، انْصَرَفَ فَقَالَ: ⑤ "مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ؟"، فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ. ⑥ ثُمَّ قَالَهَا الثَّانِيَةَ، فَلَمْ يَتَكَلَّمْ

[1]) اخرجه البخاری کتاب الاذان/ باب فضل اللهم ربنا لک الحمد (رقم-۷۹۹) ومسلماالصلاة/باب ما يقال بين تكبيرة الإحرام والقراءة (رقم) ۱٤۹ - (٦۰۰) ابوداود کتاب الصلاة،باب ما يستفتح به الصلاة من الدعاء (رقم-۷۷۰) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرجل يعطس فى الصلاة (رقم-٤۰٤) والنسائی کتاب الافتتاح/باب قول المأموم إذا عطس خلف الإمام (رقم-۹۳۱) ومالک فى الموطا کتاب القرآن باب ما جاء فى ذکر الله تبارک وتعالى (رقم-۲٥) من کتاب القران

أَحَدٌ، [۷] ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ، فَقَالَ رِفَاعَةُ: أَنَا يَارَسُولَ اللهِ، [۸] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، [۹] لَقَدِ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَثَلَاثُونَ مَلَكًا، أَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] رفاعه ابن رافع ؓ فرمايي چې (يوه ورځ) ما په رسول الله ﷺ پسي مونځ وكړلو [۲] د لمانځه په دوران كې ماته اترونشي (نوږي) راغي ما د حمد دا كلمات اوويل **اَلْحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى** (ټول تعريف الله لره دي ډير زيات تعريف ډير پاكيزه يعنى خالص بابركت، او بركت كړل شوي [۳] څنګه (تعريف) چې زمونږ رب ېرې راضي كيږي او خوښوي يې، [۴] رسول الله ﷺ چې مونځ وكړو نو (زمونږ طرف ته متوجه شو او وې فرمايل [۵] په لمانځه كې خبري كونكي څوك دي؟ (يعني چا خبري وكړي، د حضور ﷺ د ناراضګي د وېرې څخه) چا جواب ورنه كړو [۶] بيا حضور ﷺ په دويم ځل پوښتنه وكړه بيا هم چا جواب ورنه كړو [۷] په دريم ځل چې رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه نو رفاعه ؓ اوويل يا رسول الله ﷺ زه يم [۸] رسول الله ﷺ وفرمايل په هغه ذات مې دې قسم وي د چا په قبضه كې چې زما ساه ده [۹] (ما وليدل) چې د ديرشو څخه زياتو فرشتو د دې كلماتو په پورته وړلو كښې تلوار كولو چې په هغوئ كې يې څوك مخكې يوسي. (ترمذي، ابوداود، نسايي).

حل اللغات:- ① فَعَطَسْتُ: نوما اتيوشي (پرنجي) اوكړو. ② ابْتَدَرَهَا: أي: اسْتَبَقَ إِلَيْهَا: ديويل نه وړاندې كيدلي (فرېښتي). ③ بِضْعَةٌ: وَهِيَ مِنَ الثَّلَاثَةِ إِلَى التِّسْعَةِ: د دريو نه نهو پورې شمير ته وائي. ④ يَصْعَدُ: چه پورته ئې يوسي.

تسهيلات:-

قوله: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ:

اشكال:- مونځ كښې دومره اوږد كلام دې، دا دومره تحمل څنګه اوشو؟

د اشكال جواب:-كلام كښې څه د خطاب صيغه نشته دې بلكه ټوله دالله تعالى حمد اوثناء ده په دې وجه ددې تحمل جائزدې باقى نبى كريم ﷺ ددې كلمات تحسين فرمائيلې دې دا بيان د هغوئ ذاتى خصوصيت دې

۱۱۳-شيطانى اثر او اسويلې

۱۱۳- ( )[۱۳] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] التَّثَاؤُبُ فِي الصَّلَاةِ مِنَ الشَّيْطَانِ، [۳] فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ" [۴] وَفِي أُخْرَى لَهُ وَلِابْنِ مَاجَةَ: فَلْيَضَعْ يَدَهُ عَلَى فِيهِ».

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره ؓ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په لمانځه كې

---

[۱] اخرجه الترمذى فى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية التثاؤب فى الصلاة (رقم-۳۷۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما يكره فى الصلاة (رقم-۹۶۸)

اسویلي کول د شیطان داثر څخه دي[۳] هر کله چې په تاسو کې چاته په لمانځه کې راشي نو تر خپله وسه هغه بندول پکار دي، ترمذي،[۴] د ترمذي په یو بل روایت او د ابن ماجه روایت کې دا الفاظ هم دي چې رسول الله ﷺ دا هم وفرمایل که په لمانځه کې چاته آسویلي راشي نو هغه ته خپل لاس په خله ایښودل پکار دي.

حل اللغات:- ① التَّثَاؤُبُ: آسویلي، ② فَلْيَكْظِمْ: أَيْ: يَدْفَعُهُ: بند دې کړي، منع دې کړي (آسویلي چه خوله ئې کهلاؤ نه شي).

تسهیلات:-

قوله: فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ:

د اسویلی قابو کولو دوه طریقې:- ① د اسویلی په راتلو سره دې شونډې بندې کړې چې اسویلی سره خوله وازه او کولاؤ نشی. دې څخه مونږ په کظم سره تعبیر کولی شو.

② که د فلیکظم یعنی که د شونډو راټولولو سره که هم اسویلي ختم نه شی نو دویمه طریقه دا ده چې خپل لاس دې په خپله خوله باندې کیږدي. دواړه صورتونه صحیح دي.

۹۹۳—په مانځه کښې د ګوتو په مینځ کښې د تشبیک ممانعت

۹۹۳—()[۱۵] [۱] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، [۳] ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إِلَى الْمَسْجِدِ [۴] فَلَا يُشَبِّكَنَّ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، فَإِنَّهُ فِي الصَّلَاةِ» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] کعب بن عجره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] هر کله چې په تاسو کې څوك ادس کوي نو په ښه شان دي اودس وکړي[۳] بیا د لمانځه په اراده مسجد ته روان شي[۴] (نو هغه ته پکار دي چې په لار کې) د ګوتو مینځ کې تشبیك نه کوي ځکه چې (د هغه وخت څخه لکه چې) هغه په لمانځه کې دي. (احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسایي، دارمي.)

حل اللغات:- ① فَلَا يُشَبِّكَنَّ: إِدْخَالُ بَعْضِهَا فِي بَعْضٍ: د یو لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کښې ورکولو ته تشبیک وائی (دا په مونځ کښې مکروه دی ځکه چه دا د خشوع خلاف دی).

تسهیلات:- قوله: فَلَا يُشَبِّكَنَّ:

د تشبیک ممانعت:- چونکه په مونځ کښې تشبیك منع دې په دې که څوك سرې جمات ته مانځه له راځی نو دَ کور څخه وتلو سره هغه دَمونځ په حکم کښې دې. لهذا په ده باندې دَ مونځ آداب خپلول واجب دی نو تشبیك دې نه کوی. دَدې نه دا خبره معلومه شوه چه بعضې ځیزونه کوم چه په مانځه کښې منع دی هغه مونځ له دَراتلو په وخت هم منع دی.

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب ما جاء فی الهدی فی المشی إلی الصلاة (رقم-۵۶۲) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة التشبیک بین الأصابع فی الصلاة (رقم-۳۸۶) والدارمی کتاب الصلاة /باب النهی عن الاشتباک إذا خرج إلی المسجد (رقم-۱٤٤۵)

۹۹۵- په مانځه کښې د التفات حکم

۹۹۵-(¹)[١٦] ١ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«لَا يَزَالُ اللَّهُ - عَزَّ وَجَلَّ - مُقْبِلًا عَلَى الْعَبْدِ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ، ٣ فَإِذَا الْتَفَتَ انْصَرَفَ عَنْهُ» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت ابوذر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ هر کله چې بنده په لمانځه کې وي نو الله عز وجل تر هغه وخته پورې د هغه بنده طرف ته متوجه وي تر څو پورې چې هغه اخوا ديخوا (غاړه کرخولو سره) نه ګوري ٣ هر کله چې بنده اخوا ديخوا ګوري نو الله تعالی جل جلاله د هغه څخه مخ اړوي (يعني د هغه په ثواب کښې کمي راځي).
(احمد، ابوداؤد، نسايي، دارمي).

حل اللغات:- ① مُقْبِلًا: أَيْ: نَاظِرًا إِلَيْهِ بِالرَّحْمَةِ: مخامخ وی مونځګذار ته يعني درحمت په نظر ورته متوجه وی او ثواب ورکوی. ② لَمْ يَلْتَفِتْ: چه اخوا ديخوا متوجه نه شی، اخوا ديخوا اونه ګوری. ③ انْصَرَفَ: أَيْ: أَعْرَضَ: مخ ترې اړوی.

تسهيلات:-

قوله: الْتَفَتَ:

په مانځه کښې بل طرف ته د متوجه کيدو ممانعت:- يعنی کوم بنده چه په مانځه کښې اخوا ديخوا ګوری نو الله تعالی فرمائی اې دَ آدم خويه ته چاته ګورې ستادَ پاره زمانه څوک بهترشته دَ چا طرف ته چه ته متوجه کيږې. کله چه بنده دَ الله تعالی دَ کلام نه پس بيا هم اخوا ديخوا ګوری او په دريم ځل داسې کيږی نو الله تعالی خپل مخ مبارک (مايليق بشانه) (يعنی څنګه چه شان سره مناسب دې) دَ دغه بنده دَ طرف نه اړه وی دَ "انصرف عنه" مطلب هم دغه دې.

۹۹۶- د سجدې په ځاې نظر ساتل

۹۹۶-(²)[١٧] ١ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ " «يَا أَنَسُ! اجْعَلْ بَصَرَكَ حَيْثُ تَسْجُدُ» ٣ " رَوَاهُ [الْبَيْهَقِيُّ فِي "سُنَنِهِ الْكَبِيرِ" مِنْ طَرِيقِ الْحَسَنِ عَنْ أَنَسٍ يَرْفَعُهُ]

ترجمه: ١ حضرت انس رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ اي انسه خپل نظر هلته لره چرته چې سجده کوې ٣ دا روايت بيهقي سنن کبير کې د انس رضی الله عنه څخه بطريق حسن نقل کړي دي چې جزري ورته مرفوع ويلي دي.

---

¹) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب الالتفات فی الصلاة (رقم-٩٠٩) والنسائی كتاب السهو/باب التشديد فی الالتفات فی الصلاة (رقم-١١٩٥) والدارمی فی كتاب الصلاة /باب كراهية الالتفات فی الصلاة (رقم-١٤٦٣)

²) اخرجه البيهقی فی باب لا يجاوز بصره موضع سجوده (رقم-٣٥٤٥)

تسهیلات: -

قوله: حَيْثُ تَسْجُدُ:

په مانځه کښې د نظر ساتلو ځایونه: - علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه مستحب دادی په مانځه کښې دې خایونه ته ګوری.

① په حالت دَ قیام کښې دَ سجدې خائی ته ګوری.

② په رکوع کښې دَ قدمونو شا ته ګوری.

③ په سجده کښې په پوزې ته ګوری.

④ په قعدې کښې زنګونواو جهولئی ته ګوری.

خانه کعبې ته مخامخ دکتلو په ځائې کښې دوه اقوال: -

① :- بعض علماؤ لیکلی دی په حرم شریف کښې نظر په کعبه شریفه باندې کیدل پکاردی

② متاخرین علماؤ دا رائې رد کړې دې. (کذافی المعات)

۹۹۷-په مانځه کښې دالتفات کولو وعید

۹۹۷ -(¹)[۱۸] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «يَا بُنَيَّ إِيَّاكَ وَالِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ، ③ فَإِنَّ الِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ هَلَكَةٌ، ④ فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَفِي التَّطَوُّعِ لَا فِي الْفَرِيضَةِ» "، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وفرمایل ② اې زویه په لمانځه کې د اخوا دیخوا کتلو څخه ځان ساته ③ ځکه چې په لمانځه کې (غاړه ګرځولو سره) اخوا دیخوا کتل (په آخرت کې) د هلاکت سبب دي ④ او که اخوا دیخوا کتل ضروري وي نو په نفلو کښې (خو خیر څه حرج نشته) خو په فرضوکي هیڅ کله کتل نه دي پکار. (ترمذي).

حل اللغات:- ① الِالْتِفَاتُ: اخوا دیخوا کتل، یو خوا بل خوا متوجه کیدل.

تسهیلات: -

قوله: فَفِي التَّطَوُّعِ لَا فِي الْفَرِيضَةِ:

په فرضو او نفلو کښې فرق: - فرضو اونفلوکښې فرق دې یعنی په نوافل کښې تخفیف دې اودَ خو ځیزونوګنجائش په نوافل کښې شته اوفرائضوکښې نشته دې. امام ابوحنیفه رحمه الله هم دا حدیث په توګه دَ ضابطې اخستې دې چه فرائضوسره دَ نوافلو په شان معامله نه دی کول پکار.

(¹) اخرجه الترمذی فی کتاب السفر/باب ما ذکر فی الالتفات فی الصلاة (رقم-۵۸۹)

۱۹۸-په مانځه کښې د سترګو په ګوټونو د کتلو حکم

۱۹۸-(¹)[۱۹][۱]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ:[۲]«إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْحَظُ فِي الصَّلَاةِ يَمِينًا وَشِمَالًا،[۳]وَلَا يَلْوِي عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ»،رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ،وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه:[۱] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ به د سترګو په ګوټونو کي ښي او ګس طرف ته کتل[۳] خو وروسته د شا طرف ته يې خپله غاړه (څټ) مبارك نه تاوولهٔ. (ترمذي.)

حل اللغات:- ① يَلْحَظُ: أَيْ: يَنْظُرُ بِمُؤَخَّرَةِ عَيْنَيْهِ: د سترګونو په ګوټونو کښې به ني کتـل. ② وَلَا يَلْوِي: أَيْ: لَا يَصْرِفُ وَلَا يُمِيلُ: نه به تاويدلو، مخ يا سينه به ني نه ګرځوله.

تسهيلات:- **نوټ:**-د دې حديث وضاحت په بل مقام کښې ذکر شوې دې.

۱۹۹-په مانځه کښې بعضې شيطانى اثرات

۱۹۹-(²)[۲۰][۱]وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رَفَعَهُ قَالَ:[۲] «الْعُطَاسُ وَالنُّعَاسُ، وَالتَّثَاؤُبُ فِي الصَّلَاةِ[۳]وَالْحَيْضُ وَالْقَيْءُ وَالرُّعَافُ مِنَ الشَّيْطَانِ»"،رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[۱] عدي ابن ثابت د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار يعنى د عدي د نيکه څخه نقل کوي چې هغه دا حديث رسول الله ﷺ ته رسولي دي[۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل په لمانځه کې انتروشي (نوري)، ترېچل) کول پرکالي (غنودګي) کيدل آسويلي راتلل[۴] د حيض راتلل، قي راتلل، او د پوزي څخه وينه راتلل د شيطان (د اثر) څخه دي. (ترمذي.)

حل اللغات:- ① الْعُطَاسُ: انتوشى، پرنجې، ② النُّعَاسُ: وَهُوَالنَّوْمُ الْخَفِيفُ: پرکالى، د خوب جوتې، ③ التَّثَاؤُبُ: أَيْ: التَّكَاسُلُ: آسويلى، ناراستى، ④ الْحَيْضُ: دښځو وينه راتلل، دښځو مياشتنۍ بيمارى. ⑤ الرُّعَافُ: د پوزې نه وينه راتلل.

تسهيلات:- **قوله:** مِنَ الشَّيْطَانِ:

اشكال:-په يوحديث کښې دى چه الله تعالى انتروشې ډيرخوښوى اودلته فرمائى چه دې سره شيطان خوشحاليږي. داخوښکاره تعارض دې؟

داشكال جواب:-دَدې تعارض جواب دادې چه دا په کثرت سره انتروشى دَ الله تعالى ناخوښه دى اوچه کله کله وى نو هغه خوښوى.

¹) اخرجه الترمذي في كتاب السفر/باب ما ذكر في الالتفات في الصلاة (رقم-۵۸۷)
²) اخرجه الترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن العطاس في الصلاة من الشيطان (رقم-۲۷٤۸) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما يكره في الصلاة (رقم-۹۶۹)

۱۰۰۰- په ژړا سره د مونځ نه باطلیدل

۱۰۰۰-()[۲۱] [۱] وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: [۲] «أَتَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يُصَلِّي [۳] وَلِجَوْفِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ»، يَعْنِي: يَبْكِي. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي وَفِي صَدْرِهِ أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الرَّحَا مِنَ الْبُكَاءِ»، رَوَاهُ أَحْمَدُ [۵] وَرَوَى النَّسَائِيُّ الرِّوَايَةَ الْأُولَى، وَأَبُو دَاوُدَ الثَّانِيَةَ.

ترجمه: [۱] مطرف ابن عبدالله ابن شخير د خپل پلار بزرګوار څخه نقل کوي چې هغه اوويل [۲] زه يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم هغه وخت رسول الله ﷺ مونځ کولو [۳] او د حضور ﷺ دننه (يعني د سيني) څخه د ديګ د جوشيدلو په شان آواز راتلو يعني حضور ﷺ ژړل [۴] او د يو روايت الفاظ دا دي چې هغه اوويل ما رسول الله ﷺ په لمانځه کولو وليدلو هغه وخت د حضور ﷺ د سيني مبارکي څخه د ژرندي (چکي) پشان د ژړا آواز راختلو. (احمد) [۵] او امام نسائی اولنې روايت نقل کړې دې او ابوداؤد دويم روايت نقل کړې دې.

حل اللغات: - ① لِجَوْفِهِ: دسينې د نبی عليه السلام نه، ② أَزِيزٌ: أَيْ: صَوْتُ غَلَيَانِهِ: د جوشيدلو آواز، ③ الْمِرْجَلِ: أَيِ الْقِدْرُ: کټوئ ته وائی (که د اوسپنې وی اوکه دخاورو يا دبل څه نه جوړه وی) ④ الرَّحَا: جرنده، چکی.

تسهيلات: - قوله: وَلِجَوْفِهِ أَزِيزٌ:

دالله تعالی د ويرې په ژړا د مونځ نه ماتيدل: - دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَالله تعالی نه دَ ويرې په ژړا سره مونځ نه باطل کيږي. هدايه کښې ليکلی دی چه که مونځ ګذار دَ دوزخ يا نور عذاب دَ وجې نه په ژړا شی نودَ ده مونځ به نه فاسد کيږی اوکه يوسړې دَ بدن په درد وغيره کښې اخته کيدو سره ژاړی اودَهغه په ژړا کښې دَ خلې نه الفاظ لګه آه، اوه اوځی نودَهغه مونځ به مات شی.

۱۰۰۱- په مانځه کښې د سجدې د ځائې څخه کيڼکی نه لرې کول

۱۰۰۱-()[۲۲] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] " «إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَا يَمْسَحِ الْحَصَى، [۳] فَإِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهُ» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوذر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کې يو سړي د لمانځه د پاره ودريږي نو هغه ته په لاس سره سنګ ريزي (شګي) لري کول نه دي

[1] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة،باب البكاء فی الصلاة (رقم-۹۰٤)والنسائی كتاب السهو/باب البكاء فی الصلاة (رقم-۱۲۱٤)

[2] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة/باب فی مسح الحصى فی الصلاة (رقم-۹٤۵) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية مسح الحصى فی الصلاة (رقم-۳۷۹)

پکار[۲] ځکه چي رحمت ورته مخامخ وي. (احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① فَلَا يَمْسَحِ: په لاس سره دي نه لرې کوی، ② الْحَصَى: وَهِيَ الْحِجَارَةُ الصَّغِيرَةُ: واړه واړه کاڼړی، ③ تُوَاجِهُهُ: أَيْ: تَنْزِلُ عَلَيْهِ وَتُقْبِلُ إِلَيْهِ: ورته مخامخ وی، یعنی رحمت پرې نازلیږی.

تسهیلات:-

قوله: فَإِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهُ:

مونځگذار ته د الله تعالی د رحمت متوجه کیدل:- ددې مطلب دادې چې کله یو کس ددنیا نه مخ واړوی او د مونځ په حالت کښې خپل پروردگار ته مخ کړی اودریږی نو په هغه کښې دهغه مخکې دالله تعالی درحمت نزول کیږی.په دې وجه مونځ گذار دپاره په داسې مقدس او مبارك موقعه باندې دا مناسب نه دی چې هغه کاڼړو سره لوبې اوکړی، یا داسې قسمه بل فعل اوکړی، چې دهغې په وجه دالله تعالی انواراتو او فضل وکرم ځنې محرومه پاتې شی.

۱۰۰۲- د سجدې ځاې صفا کولو دپاره د پوکولو ممانعت

۱۰۰۲-()[۲۳][۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «رَأَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - غُلَامًا لَنَا يُقَالُ لَهُ: أَفْلَحُ، [۳] إِذَا سَجَدَ نَفَخَ، [۴] فَقَالَ: "يَا أَفْلَحُ! تَرِّبْ وَجْهَكَ"» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] د مؤمنانو مور بي بي ام سلمه ﷺ فرمایې[۲] چې رسول الله ﷺ زمونږ یو غلام چې د هغه نوم افلح وو ولیدلو[۳] چې کله سجده کوي نو د سجدې ځاې صفا کولو د پاره پوکې [چې مخ یې په خاورو ککړ نشي] [۴] رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل اې افلح پریږده چې په مخ دې خاوره ولګیږي. (ترمذي)

حل اللغات:- ① نَفَخَ: پوکی به ئې وهل (چه دسجدې ځاې صفا شی)، ② تَرِّبْ: أَيْ: أَوْصِلْهُ إِلَى التُّرَابِ: پریږده چه مخ دې دخاورو شی (کنایه ده یعنی پوکی مه وهه).

تسهیلات:- قوله: يَا أَفْلَحُ! تَرِّبْ وَجْهَكَ:

ددې مطلب دا دې چې په سجده کښې خپل تندې په خاورو باندې ککړ کړه او د عاجزۍ ثبوت ورکوه. اود مانځه ځنې روسته ئې پاکوه چې په ریا کښې رانشی.

۱۰۰۳- په تشهد لاس کیخودلو د ممانعت وجه

۱۰۰۳-()[۲۴][۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "[۲] «الِاخْتِصَارُ فِي الصَّلَاةِ رَاحَةُ أَهْلِ النَّارِ»" رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

---

[۱] اخرجه الترمذی فی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة النفخ فی الصلاة (رقم-۳۸۱)
[۲] صحیح ابن خزیمة بَابُ ذِكْرِ الْعِلَّةِ الَّتِي لَهَا زُجِرَ عَنِ الِاخْتِصَارِ فِي الصَّلَاةِ إِذْ هِيَ رَاحَةُ أَهْلِ النَّارِ. بِاللَّهِ نَتَعَوَّذُ مِنَ النَّار رقم ۵۷

ترجمه:[۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] په لمانځه کې اختصار (يعني په تشو لاس ايښودل) د دوزخيانو د آرام کولو صورت دي، (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الإِخْتِصَارُ: أَيْ: وَضْعُ الْيَدِ عَلَى الْخَاصِرَةِ: په تشو (ډډو) باندې لاسونه ايښودل. ② رَاحَةُ. أَيْ: فَيَسْتَرِيحُونَ: راحت او آرام به حاصلوي.

تسهيلات:-

نوټ: دَ اختصار اوخصرپوره وضاحت دَدې باب په حديث نمبر ۹۸۱ کښې شوې دې هلته اوګورئى

۱۰۰۳- په مانځه کښې د مار او لړم وژلو حکم

۱۰۰۳-()[۲۵][۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -[۲]" «اقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ[۳]الْحَيَّةَ وَالْعَقْرَبَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَلِلنَّسَائِيِّ مَعْنَاهُ ".

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] په لمانځه کې دوه تور يعنى مار او لړم وژنئ. (احمد، ترمذي، نسايي بالمعني.)

حل اللغات:- ① الْأَسْوَدَيْنِ: دوه تور څيزونه يعنى مار او لړم، مارته تغليباً اسود وئيلې شوې دې ګنى دَ سرو او سپينو مارانوحکم هم دغه دې. په عربى کښې دَ اسود لفظ دَهرقسم ماردپاره استعماليږى. لړم خو عموماً تور وى. الله تعالى دې دې نور هم تورکړى. ② الْحَيَّةَ: مار، ③ الْعَقْرَبَ: لړم.

تسهيلات:-

قوله: "الْأَسْوَدَيْنِ"

نوټ: د مارلړم په قتلولوکښې به د مونځ د فساد دپاره عمل کثيرمعيارګرځولى شى.نو دعمل کثيرباره تفصيل دا دې.

د عمل کثير او قليل تعريف او د فقهاؤ اقوال: - دَ ټولو فقهاؤ په نيز په عمل کثيرسره مونځ فاسد کيږى خودَ عمل کثير اوعمل قليل په حداوتعيين کښې اختلاف دې.

① **د کتونکى خيال معيار ګرځول** - دَ عمل قليل اوعمل کثير فرق داسې دې مثلاً مونځ ګذار په مانځه کښې يوعمل کوى او چا کتونکې دې اوليدلو که چرې هغه يقين اوکړو چه داسې عمل په مانځ کښې نه کيږى داسړې په مانځه کښې نه دې نودا به عمل کثيرشميرلې شى. مونځ به فاسد يږى. اوکه چرې دې کتونکى يقين اوکړو چه دا سړې په مانځه کښې دې سره دَدې چه يوعمل کوى نودا عمل قليل دې.

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب العمل فى الصلاة (رقم-۹۲۱)والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى قتل الأسودين فى الصلاة (رقم-۳۹۰) والنسائى كتاب السهو/باب قتل الحية والعقرب فى الصلاة (رقم-۱۲۰۲) وابن ما جة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى قتل الحية والعقرب فى الصلاة (رقم-۱۲٤۵)

② **د یواو دوؤ لاسونواستعمال معیارګرځول:** - کوم عمل په یولاس سره اوشی هغه قلیل دی اوکوم چه په دواړه لاسونو سره اوشی هغه کثیردی. دَ یولاس اودوو لاسونو دَ عمل نه مراددادی چه عام عادت څنګه واقع وی هم دَ هغی اعتباربه کیږی مثلاً دَ خلقو عادت دی چه پټکی په دواړه لاسه باندی تړی اوس که چا په یولاس باندی په مانځه کښې تړل شروع کړه نو مونځ به فاسد شی ځکه چه عام عادت ئی دَ یولاس نه دی.

③ **دری ځله دعمل تسلسل معیارګرځول:** - که یوعمل مسلسل دری ځل اوکړی شو نوهغه کثیردی اوکه دَدی نه کم ئی اوکړو نودا عمل قلیل دی.

④ **رایی د مبتلی به معیار جوړول:** - علامه ابن همام فرمائیلی دی چی د قلیل او کثیر فیصله به هم په مونځ ګذار باندی پریخودی شی که هغه دا اوګنړل دا عمل کثیر دی نو مونځ به فاسد وی ګنی فاسد به نه وی.

د مذکوره اقوالو بنیاد: - دَ فقهاء دَ دی اقوالودَپاره دَ رسول الله ﷺ فرمان بنیادی قاعده او ضابطه ورکوی په کوم کښې چه حضورپاك ﷺ یوصحابی ته صرف دَ یوځل کانړی اخواکولو اجازت ورکړی وو.

د مار وغیره د قتلولو دپاره د ګذارونوپه تحدیدکښې مذاهب: -

① دَ احنافودَ اکثرو فقهاؤ وینا ده چه دَمونځ په حالت کښې دَ دریو قدموپوری مسلسل تلل اودری چوتی وهلوسره مونځ فاسدیږی. په دی وجه دَ دریوقدمونه کم تلوسره په دوو چوتیو وهلوسره مار قتل کول پکاردی که چری زیات شو نودا عمل به کثیرشی اومونځ به فاسد شی. البته که مونځ فاسدشی نو په دی عمل سره به دامونځ ګذار ګناهګار نه شی بلکه دَ ضرورت په وخت هغه مونځ ماتولی هم شی اوداعمل کولی شی.

② علامه سرخسی رحمه الله مبسوط کښې دامسئله لیکلی ده اوفرمائی چه تلل اومار وژلو هیڅ حد بندی کول مناسب نه دی لکه څنګه چه په حدیث کښې دَ مطلق تللو او وژلو اجازت دی نوهم داسی کول پکاردی. هغوی فرمائی چه کله مونځ ګذار بی اودسه شی نوهلته مونځ ماتولونه بغیردَ اوبو پوری تلی شی که هرڅومره قدمونه تلل وی نودلته داهم جائز دی.

مفتی به قول: - بهرحال احناف په دی آسانتی سره فتویٰ نه ورکوی اوفرمائی چه دا مباح دی چه سړی مونځ مات کړی اومار لړم اووژنی. لکه څنګه چه دَ چا دَ ضائع کیدو کوهی کښې دَ پریوتو یا په اور وغیره کښې دَ سوزیدو خطره وی نوورسره خواکی مونځ کونکی له مباح دی چه مونځ مات کړی اوهغه بچ کړی.

۱۰۰۵–د مانځه په دوران کښې د دروازې خلاصولو حکم

۱۰۰۵–()[۲٦] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُصَلِّي تَطَوُّعًا [۳] وَالْبَابُ عَلَيْهِ مُغْلَقٌ [۴] فَجِئْتُ فَاسْتَفْتَحْتُ [۵] فَمَشَى فَفَتَحَ لِي ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مُصَلَّاهُ [٦] وَذَكَرَتْ أَنَّ الْبَابَ كَانَ فِي الْقِبْلَةِ» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: [۱] ام المؤمنين بي بي عائشه صديقه ﷛ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به په كوركې په نفل لمانځه كې مشغول وو [۳] او دروازه به بنده وه [۴] چې زه به كور ته راتلم او د دروازې بيرته كولو (خلاصولو) اجازت به مې غوښتل [۵] نو حضور ﷺ به راغې او زما د پاره به يې دروازه خلاصوله بيا به مصلې ته واپس تلو (او په خپل لمانځه كې به مشغول شو) [٦] بي بي عائشه ﷛ فرمايي چه دروازه د قبلې طرف ته وه. (احمد، ابوداؤد، ترمذي، نسايي.)

حل اللغات: - ① مُغْلَقٌ: بنده به وه (دروازه).

تسهيلات: - **قوله: فَفَتَحَ لِي:**

د نبی کريم ﷺ په مانځه کښې دروازه خلاصول: – رسول الله ﷺ به په نفل مونځ كښې مشغول كيدو كله كله به دَ بهرنه حضرت عائشه ﷛ دروازه ټكوله نو حضورپاك ﷺ به دَ دروازې كولاوولودَپاره وړاندې شو اودروازه به ئې كولاوولونه پس واپس مصلې ته راتلو.

دنبی کريم ﷺ په مذکوره عمل کښې درې توجيهات: –

① په شروع كښې په مونځ كښې څه اعمال وو روستو بيا پابندي اولګيدله.

② دَ حضورپاك ﷺ كوټه وړه وه په دې وجه داعمل كثيرنه وو

③ په نوافل كښې ګنجائش زيات وى دا په نفل باندې محمول دى.

دروازه کولاوولو او بندولو په حکم کښې فرق: – فقهاؤ ليكلى دى چه بنده دروازهَ كولاوولوسره مونځ نه فاسد كيږى كه چرې عمل قليل وى. ليكن كولاؤ دروازه بندولو سره مونځ فاسديږى ځكه چه دلته عمل كثيركيږى.

۱۰۰٦–په مانځه کښې داودس ماتيدو حکم

۱۰۰٦–()[۲۷] [۱] وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ، فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ [۳] وَلْيُعِدِ الصَّلَاةَ» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ مَعَ زِيَادَةٍ وَنُقْصَانٍ.

---

[1] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة،باب العمل فی الصلاة (رقم-۹۲۲) و الترمذی كتاب السفر/باب ما يجوز من المشی والعمل فی صلاة التطوع (رقم-۶۰۱) والنسائی كتاب السهو/باب المشی أمام القبلة خطی يسيرة (رقم-۱۲۰۶)

[2] اخرجه ابوداود فی كتاب الطهارة/باب من يحدث فی الصلاة (رقم- ۲۰۵) والترمذی كتاب الرضاع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية إتيان النساء فی أدبارهن (رقم-۱۱۶۶) والدارمی كتاب الطهارة/باب من اتی امرأته فی دبرها (رقم-۱۱۸۱)

ترجمه: [۱] طلق ابن علي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي [۲] د لمانځه په حالت کې که تاسو کې د چا بغير د آواز څخه باد ووزي نو هغه ته پکار دي چې لاړشي اودس وکړي [۳] او مونځ دي دوباره وکړي، ابوداود، دا روايت ترمذي هم د څه کمي او زياتي سره نقل کړي.

حل اللغات:- ① فَسَا: أَيْ: خَرَجَ مِنْهُ رِيحٌ بِلَا صَوْتٍ: باد ترې لاړشي.

تسهيلات:-

قوله: إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ:

د مانځه په دوران کښې د هوا خارجيدو سره د مونځ د استيناف او بنا په حکم کښې مذاهب:-
يعني بغير دَ آواز يا آواز سره که چرته هوا خارج شي نو دَ مونځ په حالت کښې به مونځ گذار څه کوی په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَ ائمه جمهورو په نيز هرقسم صورت کښې دې داسې مونځ مات کړي اولاړ دې شي دَ نوي سر نه دې اودس اوکړي را دې شي اودَنوي سرنه دې مونځ اوکړي.

① ائمه احناف فرمائی چه بهتر او افضل هم دغه دی چه مونځ دې دَنوي سر نه اوکړي ليکن دَ فقهي شرائطو قواعدو او ضوابطو مطابق که يوسړې مونځ نه ماتوي اوځي اودس کوي او واپس راځي او مخکيني مونځ پوره کوي نوجائز دی.

داول فريق دليل:- زير بحث د حضرت طلق بن علی رضي الله عنه روايت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَمانځه دَ راګرځولو حکم دې.

د دويم فريق دلائل:- ① دَ حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها مرفوع حديث د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه داسې دی: ((من اصابه قيئ أو رعاف او قلس او مذي فلينصرف فليتوضأ ثم ليبن على صلوته وهو في ذلك لايتكلم)) (ابن ماجه ص: ۸۷)

② دَحضرت ابن عمر رضي الله عنه اثر هم د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی: ((ان عبدالله بن عمر كان اذا رعف انصرف فتوضأ ثم رجع فبنى ولم يتكلم)) (موطا مالك ص: ۲۷)

③ دَحضرت ابن عباس رضي الله عنهما اثر هم د دوی مستدل دې کوم چه موطا کښې دې الفاظ دادی: ((مالك بلغه ان عبدالله بن عباس كان يرعف فيخرج فيغسل الدم ثم يرجع فيبني على ما قد صلى)) (ص: ۲۷)

د اختلاف نوعيت:- بهرحال دا څه دومره لوئی اختلاف نه دې دَ احنافو په نيز واپس راګرځول افضل دی بغيرد دَ راګرځولو جائز دې. نو چه په کومو احاديثو کښې دَ راګرځولو حکم دې هغه احاديث په افضليت باندې محمول دی او په کومو احاديثو کښې چه دَ بناء ذکر دې هغه دَ بيان جواز دَپاره دی نو په ټولو احاديثو باندې عمل اوشو.

۱۰۰۷- په مانځه کښې بې اودسه کیدل

۱۰۰۷-(¹)[۲۸] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - أَنَّهَا قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِذَا أَحْدَثَ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ، [۳] فَلْيَأْخُذْ بِأَنْفِهِ، ثُمَّ لِيَنْصَرِفْ»"، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هر كله چې په تاسو كې د لمانځه په حالت كې د چا اودس مات شي[۳] نو هغه ته پكار دي چې خپله پوزه نيولو سره د لمانځه ځخه بهر ووځي. (ابوداؤد)

تسهيلات: - قوله: فَلْيَأْخُذْ بِأَنْفِهِ:

په مانځه كښې د هوا خارجيدو صورت: - يعنى كه په مانځه كښې دَ چا هوا خارج شي اوهغه دَ صفونو په مينځ كښې ولاړ دې اوس كه اوځى نو شرميږى چه خلق به وائى ده نه هوا وتلې ده اوس تختى اوكه نه ځى اومونځ جارى ساتى نو بغيردَ اودس په مانځه كښې مشغول كيدل ډيره لويه ګناه ده بلكه دَ كفرخطره ده.

په مانځه كښې د هوا خارجيدو دوه صورتونه: ① په صف كښې دې ولاړ وى مګر مونځ دې مات كړى اوصرف خلقو سره دې پاسيدل اوكيناستل جارى اوساتى مونځ دې نه وائى. دا دَهغه وخت خبره ده چه كوم وخت دَ صفونونه وتل ګران وى.

② دا سړې دې په پوزه باندې لاس كيخودوسره خلقو ته دا يقين وركړى چه دَ پوزې نه ئى وينه شروع شوې ځكه روان دې هوانه ده خارج شوې.

په دويم صورت باندې د احنافو استدلال: - دَ دې دويم صورت نه احنافو يوه عجيبه مسئله راويستلې ده هغه دا چه په وينه وتلوسره اودس ماتيږى كه چرې اودس ئى نه ماتيدو نو دې سړى به خلقو ته ځنګه خودل چه يار زما دَ پوزې نه وينه وتلې ده په كوم سره چه اودس مات شوې دې دَ اودس دَپاره ځم هوا نه ده خارج شوې. اوس كه دَ وينې په وتلوسره اودس نه ماتيږى لكه چه دَ شوافع مسلك دې نودې سړى دَ دې حيلې نه فائده نه شوه اوچتولې ځكه چه خلق به وائى چه په وينه تللوسره خو اودس نه ماتيږى ددې سړى هوا خارج شوې ده ځكه منډې وهى.

۱۰۰۸- په آخرى قعده كښې د هوا خارجيدل

۱۰۰۸-(²)[۲۹] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "«إِذَا أَحْدَثَ أَحَدُكُمْ وَقَدْ جَلَسَ فِي آخِرِ صَلَاتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ، [۳] فَقَدْ جَازَتْ صَلَاتُهُ»"، [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ، وَقَدِ اضْطَرَبُوا فِي إِسْنَادِهِ.

¹) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب استئذان المحدث الإمام (رقم-١١١٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فيمن أحدث فى الصلاة كيف ينصرف (رقم-١٢٢٢)
²) اخرجه الترمذى فى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرجل يحدث فى التشهد (رقم-٤٠٨)

ترجمه: [۱] عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] که په تاسو کې د چا اودس په داسې وخت کې مات شي چې هغه د لمانځه په آخري قعده کې وي (په مقدار د تشهد کيناستلي وي) او سلام يې نه وي ګرځولي [۳] نو د هغه مونځ پوره شو. [۴] ترمذي دا روايت کړي دي او ويلې يې دي چې دا داسې حديث دي چې اسناد يې مضبوط نه دي او محدثينو د دې په اسناد کې اضطراب (تردد) کړي دي

تسهيلات: - **قوله:** فَقَدْ جَازَتْ صَلَاتُهُ:

صورت د مسئلې: - يعني يو مونځ ګذار دَ تشهد په اندازه باندې په قعده آخيره کښې کيناستو اوبيا دَ هغه اودس مات شونوزير بحث حديث بنائي چه دَ ده مونځ اوشو

خروج بصنع المصلي په مسئله کښې مذاهب: -

① امام شافعي رحمه الله فرمائي دَ سلام په الفاظودَ مونځ نه وتل واجب دی ليکن که يوسړي په اختياري توګه يودَمونځ نه منافي عمل کولوسره اوځي نو دَدې سړي مونځ فاسدشو ځکه چه خاص دَ سلام په الفاظوسره وتل دَهغوی په نيز فرض دی اوهغه فرض پوره نه شو لهذا مونځ نه دې شوې.

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائی چه دَ هغه فرض پوره شو. سره دَدې چه دَ واجب پاتې کيدو دَ وجې نه مونځ واجب الاعاده دې.

په مذهبينو کښې فرق: - بهرحال دَمونځ راګرځول دَ دواړو په نيز ضروري دی. فرق دومره دې چه امام ابوحنيفه رحمه الله راګرځولوته واجب وائی او امام شافعي رحمه الله ورته فرض وائی.

د دويم فريق دليل: - زير بحث حديث د دوی فريق دليل دې سره دَدې چه په دې کښې بې اودسه کيدلو داعمل قصداً نه دې شوې ليکن دَ مونځ ګذار په فعل سره شوې دې اود سلام نه بغيرشوې دې. ترددې حده پورې داحديث دَ امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دی.

د دويم فريق په دليل اعتراض: - اول فريق دې حديث ته مضطرب وئيلې دې. مطلب دا چه داضعيف دې ځکه چه دَ اضطراب مطلب دادې چه راويانوته په صحيح توګه ياد نه دې.

داعتراض جواب: - ملاعلي قاري رحمه الله داحديث نه ضعيف منلې دې اونه ئې مضطرب منلې دې بلکه هغوی فرمائی چه داحديث په دومره متعدد طرقو سره راغلې دې چه دا حديث دَحسن په درجه کښې راغلې دې. امام طحاوي رحمه الله دا په څوطريق سره نقل کړې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۱۰۰۹ - د نبی عليه السلام څخه د هيرې يوه واقعه

۱۰۰۹ - (۱) [۳۰] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ، [۲] فَلَمَّا كَبَّرَ انْصَرَفَ، [۴] وَأَوْمَأَ إِلَيْهِمْ أَنْ كَمَا كُنْتُمْ، [۵] ثُمَّ خَرَجَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ جَاءَ وَرَأْسُهُ يَقْطُرُ، [۶] فَصَلَّى بِهِمْ، فَلَمَّا صَلَّى

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في البناء على الصلاة (رقم-۱۲۲۰)

قَالَ: ⑦ "إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا، فَنَسِيتُ أَنْ أَغْتَسِلَ". (رَوَاهُ أَحْمَدُ).

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د لمانځه د پاره (مسجد ته) تشريف راوړو ② کوم وخت چې د تکبير اراده يې وکړله نو حضور ﷺ وروسته شو ③ او صحابه وو ته يې دا اشاره وکړله چې تاسو په خپل خپل ځاي ولاړ اوسئ ⑤ د مسجد څخه بهر ووتلو نو حضور ﷺ غسل وکړو او په دې حال کې يې واپس تشريف راوړو چې د حضور ﷺ د سر مبارك څخه د اوبو قطري څڅيدلې ⑥ بيا يې صحابو رضي الله عنهم ته مونځ ورکړو کوم وخت چې حضور ﷺ د لمانځه څخه فارغ شو نو وې فرمايل ⑦ ما ته د غسل حاجت وو خو ما څخه غسل کول هير شوې وو. (احمد)

حل اللغات:- ① أَوْمَأَ: أَيْ: أَشَارَ: اشاره ئې ورته اوکړه. ② أَنْ كَمَا كُنْتُمْ: أَيْ كُونُوا كَمَا كُنْتُمْ: په خپل حال اوسئ (يعنى تاسو ولاړ يئ نوبس ولاړ اوسئ کينئ مه). ③ يَقْطُرُ: أَيْ: شَعْرُ رَأْسِهِ يَقْطُرُ مَاءً: يعنى د سر نه اوبه څسيدلې.

تسهيلات:- **قوله:** أَنْ كَمَا كُنْتُمْ

د مذکوره جملې په مطلب کښې دوه اقوال:- ① چې په کوم حالات کښې تاسو ئې نو هم په هغه حالت کښې اوسئ. يعنى مه متفرق کيږئ. بلکه په خپل خپل ځائې کينئ.

② علامه طيبى رحمة الله عليه فرمائى چې ان مفسره دې، دې صورت کښې به مطلب دا وي چې په کوم حالت کښې تاسو ئې نو هم په هغه حالت کښې اوسئ، خه اوس راځم.

ابن حجر رحمة الله عليه فرمائى چې ددې مطلب د ادې کله چې زه لاړشم نو تاسو بيا خپل مونځ جارى اوساتئ مونځ مه ماتوئ بلکه پوره ئې کړئ.

قوله: فَنَسِيتُ أَنْ أَغْتَسِلَ

د نسيان د نبوت سره عدم منافات:- دې سره د هغه خلقو د خبرې ترديد کيږى کوم چې دا وائى چې حضور ﷺ عالم الغيب دې. که نبى کريم ﷺ عالم الغيب وې نو بياترې هيره ولې کيده؟ ددې نه دا هم معلومه شوه چې نسيان د شان نبوت منافى نه دى. اوبه دې هيره کښې هم ډير حکمتونه وى. د دې وجې چا وئيلى دى چې زمونږ هيره شيطانى وى او د پيغمبرانو هيره رحمانى وى.

۱۰۱۰-()[۰] ① وَرَوَى مَالِكٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ مُرْسَلًا.

ترجمه: ① او امام مالك هم دا حديث د عطاء ابن يسار څخه بطريق ارسال نقل کړي دي.

[1]) اخرجه مالک فى الموطا کتاب الطهارة، باب إعادة الجنب الصلاة، وغسله إذا صلى ولم يذكر. وغسله ثوبه (رقم-۷۹)

۱۰۱۱—د سجدې ځائې د يخولو دپاره يوه طريقه

۱۰۱۱—(۱)[۳۱]«وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ:[۱]كُنْتُ أُصَلِّي الظُّهْرَ مَعَ رَسُولِ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[۲] فَآخُذُ قَبْضَةً مِنَ الْحَصَى لِتَبْرُدَ فِي كَفِّي،[۳] أَضَعُهَا لِجَبْهَتِي، أَسْجُدُ عَلَيْهَا لِشِدَّةِ الْحَرِّ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى النَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه:[۱] حضرت جابر ﷜ فرمايي[۲] چې ما به د ماسپخين مونځ د رسول الله ﷺ سره کولو[۳] او په يو موټي کې به مې سنګ ريزي اخستلې چې هغه زما په لاس کې يخې شي[۴] نو (د سجدې په ځاې) د ګرمۍ د شدت (د سختې ګرمۍ) څخه د ساتنې په خاطره هغه سنګ ريزې به مې د سجدې په وخت د خپل تندي لاندې ايښودلې. (ابوداؤد، نسايي.)

حل اللغات:- ① قَبْضَةً: موټي، ② الْحَصَى: وَهِيَ الْحِجَارَةُ الصَّغِيرَةُ: واړه واړه کانړي، ③ لِتَبْرُدَ فِي كَفِّي: چه يخ شي دا کانړي زما په تلي کښې. ④ الْحَرِّ: ګرمي.

تسهيلات:- قوله: فَآخُذُ قَبْضَةً مِنَ الْحَصَى

دزمکې د ګرمائش په وجه په مونځ کښې دعمل قليل جواز:- ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه که چرته يو کس د زمکې د ګرمائش په وجه عمل قليل اوکړي يعنې سجده په کپړا يا په بل څه باندې اوکړي نو د دې اجازت شته

دماسپخين مونځ په مثل اول کښې د ادا کولو غلط استدلال:- ځينې حضراتو ددې حديث نه استدلال کړې دې چې مثل اول کښې دماسپخين مونځ کول پکاردي .خودا مثل اول نه دې، بلکه دا مثل ثاني دې.ځکه چې مثل ثاني کښې ډيره ګرمي وي.او هر ځيز ګرمي کوي.

۱۰۱۲–په مانځه کښې د نبي عليه السلام سره د شيطان يوه عجيبه واقعه

۱۰۱۲—(۲)[۳۲][۱]وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: «قَامَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۲]فَسَمِعْنَاهُ يَقُولُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ[۳]ثُمَّ قَالَ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ ثَلَاثًا[۴]وَبَسَطَ يَدَهُ كَأَنَّهُ يَتَنَاوَلُ شَيْئًا[۵]فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الصَّلَاةِ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ![۶]قَدْ سَمِعْنَاكَ تَقُولُ فِي الصَّلَاةِ شَيْئًا لَمْ نَسْمَعْكَ[۷]تَقُولُهُ قَبْلَ ذَلِكَ وَرَأَيْنَاكَ بَسَطْتَ يَدَكَ،

ترجمه:[۱] ابو درداء ﷜ فرمايي چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ ولاړ وو مونځ يې کولو[۲] (د لمانځه په دوران کې) ما واوريدل چې حضور ﷺ فرمايل زه ستا څخه د الله پناه غواړم[۳] بيا حضور ﷺ درې ځله وفرمايل زه په تا لعنت کوم د الله لعنت[۴] او (دې فرمايلو سره) حضور ﷺ خپل دواړه لاسونه داسې خواره کړل لکه چې حضور ﷺ څه شي نيسي[۵]

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب فی وقت صلاة الظهر(رقم-۳۹۹) والنسائی کتاب التطبيق/باب تبريد الحصی للسجود عليه (رقم-۱۰۸۱)

(۲) اخرجه مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب جواز لعن الشيطان فی أثناء الصلاة، والتعوذ منه وجواز العمل القليل فی الصلاة (رقم) ۴۰ - (۵۴۲) والنسائی کتاب السهو/باب لعن إبليس والتعوذ بالله منه فی الصلاة (رقم-۱۲۱۵)

کوم وخت چې حضور ﷺ د لمانځه څخه فارغ شو نو مونږ عرض وکړو یا رسول الله ﷺ ٦ مونږ نن په لمانځه کې ستا څخه داسې خبره اوریدلې ده چې د دې څخه مخکې مو در څخه هیڅ کله نه ده اوریدلې ٧ او نن مونږ ته په لاس خورولو هم ولیدلې؟

حل اللغات:- ① يَتَنَاوَلُ: أَيْ: يَأْخُذُهُ مِنْ بَعِيدٍ: د لرې نه څه څيز نيول،

١ قَالَ: إِنَّ عَدُوَّ اللهِ إِبْلِيسَ جَاءَ بِشِهَابٍ مِنْ نَارٍ ٢ لِيَجْعَلَهُ فِي وَجْهِي ٣ فَقُلْتُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ٤ ثُمَّ قُلْتُ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ التَّامَّةِ ٥ فَلَمْ يَسْتَأْخِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ أَرَدْتُ ان أَخُذَهُ ٦ وَاللهِ لَوْلَا دَعْوَةُ أَخِينَا سُلَيْمَانَ لَأَصْبَحَ مُوثَقًا ٧ يَلْعَبُ بِهِ وِلْدَانُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ رسول الله ﷺ وفرمایل د الله دښمن ابلیس ملعون د اور شغله راوړلو سره راغلې وو ٢ چې هغه زما په مخکې واچوي ٣ نو ما درې ځله دا اوویل چې زه ستا څخه د الله پناه غوارم ٤ بیا ما اوویل زه په تا د الله پوره لعنت وایم ٥ هغه لرې نشو نو ما (دا الفاظ) درې ځله اوویل بیا هم چې هغه لرې نه شو نو ما (خپل لاس خورولو سره) هغه نیول وغوښتل ٦ لیکن قسم په الله که زمونږ د وررور سلیمان علیه السلام دعا نه وې نو هغه به مې (د مسجد د ستن سره) تر سحر پورې تړلې وو ٧ او د مدینې ماشومانو به ورسره لوبې کولې یعنې په هغه به یې لوبې کولې. (مسلم.)

حل اللغات:- ② شِهَابٍ: أَيْ: شُعْلَةٍ: شعلې او سکروټې ته وائي. ③ مُوثَقًا: أَيْ: مَرْبُوطًا: تړلې شوې.

تسهيلات:-

د حديث مذكور تائيد:- د دې پښان یو حدیث فصل اول نه وړاندې په آخر کښې تیر شوې دې چې د حضرت سلیمان علیه السلام دعا ما پرېښودې ده ،ګنې به ما به هغه د جمات ستنې سره تړلې وې ،او سحر به د مدینې ماشومانو ده سره لوبې کولې.

قوله: فَسَمِعْنَاهُ يَقُولُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ ثُمَّ قَالَ أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ اللهِ ثَلَاثًا:

اشكال:- احادیثو کښې تعارض: دې حدیث پاك کښې دی چې نبی کریم ﷺ دا درې ځل اوونیلې حالانکه که په مونځ کښې دخطاب دصیغې سره اوونیلې شی نو دې سره مونځ فاسدیږي.لکه څنګه ماقبل حدیث کښې د نبی کریم ﷺ ارشاد دې :ان الصلوة لايصلح فيها شئ من كلام الناس: دې حدیث سره تعارض دې؟

دا اشكال څو جوابونه:- ① دا واقعه په مونځ کښې د کلام نه وړاندې ده.

② ابن الملك رحمة الله علیه فرمائي چې دا واقعه په مکی حرم کښې اوشوه او واقعه د مدینې ده ،مدینې نه خاص ښار مراد نه دې بلکه عام دې.

③ دنبي علیه السلام دا عمل جواز دپاره وو.

④ حدیث قولی اقوی دې دحدیث عملی څخه ،لهذا دې حدیث ته به ترجیح حاصله وي.

⑤ د خطاب صيغه استعمالول عموما جائز نه دی خو د ابليس دپاره جائز دی ،چې هغه وسوسه پيدا نه کړی. ⑥ دا د حضور ﷺ خصوصيت وو.

قوله: لَوْلَا دَعْوَةُ أَخِينَا سُلَيْمَانَ:

دويم اشکال: د حضرت سليمان عليه السلام دعا د جناتو د تسلط دپاره وه د شيطان دپاره نه وه؟

د دويم اشکال جواب: – شيطان ئې وئيلی دی خو مراد جنات دی.ځکه چې دواړه د اوور نه پيدا کړې شوی دی.ديو جنس کيدو په وجه ئې يو نوم سره ذکر کړل.

قوله: وِلْدَانُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ:

دمديني نه مراد: – ابن الملك فرمائی چې په مونځ کښې خبرې کول حرامې دی او دا حکم په مکه مکرمه کښې راغلې وو، حالانکه حديث کښې دمديني منورې ذکر دې.نو د دې جوابدا دې چې دلته د مديني نه اصطلاحی معنی مراد نه ده بلکه لغوی معنی ښار مراددې.

۱۰۱۳ – په مانځه کښې په اشارې سره د سلام جواب ورکولو حکم

۱۰۱۳ – () [۳۳] ① وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ وَهُوَ يُصَلِّي، ② فَسَلَّمَ عَلَيْهِ، فَرَدَّ الرَّجُلُ كَلَامًا، ③ فَرَجَعَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، فَقَالَ لَهُ: ④ إِذَا سُلِّمَ عَلَى أَحَدِكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي، فَلَا يَتَكَلَّمْ، وَلْيُشِرْ بِيَدِهِ، رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① حضرت نافع فرمايي چې (يوه ورځ) عبدالله ابن عمر رضی الله عنه د يو داسې سړي سره تير شو چې هغه مونځ کولو ② حضرت عبدالله رضی الله عنه هغه سړي ته سلام وکړو نو هغه د سلام جواب په ژبې سره ورکړو ③ نو عبدالله رضی الله عنه هغه ته راواپس شو ورته يې وفرمايل ④ چې په تاسو کښې چا ته د لمانځه په حالت کې څوك سلام وکړي نو هغه ته په ژبې سره ويل نه دي پکار بلکه هغه ته پکار دي چې د سلام د جواب ورکولو د پاره په خپل لاس سره اشاره وکړي. (مالك)

تسهيلات: – **قوله:** وَلْيُشِرْ بِيَدِهِ:

دا مسئله دَدې نه وړاندې حديث نمبر ۹۱۹ په شرح کښې په تفصيل سره ليکلې شوې ده.

د مذکوره حديث نه جواب: – احناف وائی چه دا حکم په شروع کښې وو بيا موقوف شو.

د تطبيق صورت: – نورا امامان په لاس سره اشاره کولو اوس هم جائزمنې. دَ احنافو په نيزدا مکروه تنزيهی دی. يعنی خلاف اولی دی نو په دې صورت کښې اختلاف ختميږی.

[1] اخرجه مالک فی الموطا کتاب قصر الصلاة فی السفر ، باب العمل فی جامع الصلاة (رقم- ۷۶)

[٣٦/٢٠] بَابُ السَّهْوِ

د سجده سهو بيان

خلاصة الباب:-

فيه تسعة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① وجوب سجدة السهود وقت التباس عدد الركعات: ١، ٢، ٣، ۴، ۵۔

② السجدة قبل السلام: ٢، ۵، ۶۔

③ كون سجدة السهود بعد السلام: ٣، ۴، ٨۔

④ السجدة بسبب ترك القعدة الأولى: ۵، ٧۔

⑤ البناء على الأقل عند وجود الشك: ٢، ٩۔

دسهو لغوی معنی:- ① سَهَا يَسْهُو نصر ينصر نه دې دَ هيريدلو په معنی کښې دې.

② **د سهو في الشيء اوسهو عن الشيء په مينځ کښې فرق:-** ابن اثير رحمه الله نهايه کښې ليکی د سهوې دوه قسمونه دی.

① "السهو في الشئ تاركه من غير علم" دا قسم سهو د نبی عليه السلام څخه په مانځه کښې ډيرځل سهو شوې.

② السهو عن الشئ تركه مع العلم" دا قسم سهو دَ حضورپاک ﷺ نه نه ده شوې ځکه چه دَهغې مذمت په قرآن کښې راغلې دې. ﴿ اَلَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ﴾ [ماعون الايه:۵]

د نبی عليه السلام څخه په اول قسم سهو کيدو کښې مصلحت:- دَ رسول الله ﷺ نه رومبې سهو په تکوينی توګه اوشوه دې دَپاره چه دَ رسول الله ﷺ عمل دَامت دَپاره عملی نمونه جوړشي. شرعی اخبار اوشرعی احکام بيانولو کښې دَ حضورپاک ﷺ په اقوالو کښې هيڅ سهو نه ده شوې. اودَ حضورپاک ﷺ په افعالو کښې به سهو کيدله په هغې کښې حکمت وو دې دَپاره چه دَامت خلق دَ سهو مسائل زده کړی.

په مانځه کښې د فرض پاتې کيدو حکم:- دَ مانځه په فرائضو کښې يو څيز سهواً يا عمداً پاتې شی نومونځ فاسد کيږی دَ کوم چه هيڅ تدارک نشته بلکه مونځ واپس کول او راګرځول فرض کيږی. که دَ مانځه په واجباتو کښې مونځ ګذار يو واجب عمداً يا قصداً ترک کړو نو دَې هم څه علاج نشته دې مونځ به دوباره کول او راګرځول واجب کيږی.

په مانځه کښې د واجب پاتې کيدو حکم:- که چرې واجب سهواً پاتې شی يا فرض کښې وړاندې والي روستووالي اوشی نو په دغه صورت کښې سجده سهو دَدې علاج دې چه دَ قعده آخيرې دَ سلام نه پس دې دوه سجدې اوکړی اوبيا دې دَ سر نه تشهد اووائی او سلام

دي او گرځوي دې ته سجده سهو وائي.

په مانځه کښې د سنت يا مستحب پاتې کيدو حکم: - دَ مانځه سنن او مستحبات که چرته پاتې شي نو په دې سره مونځ نه فاسد کيږي بلکه مونځ صحيح پاتې کيږي البته دَ دغه سنت يا مستحب عمل ثواب نه ملاويږي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۱۰۱۳ - د رکعتونو د تعداد د هيريدو په صورت کښې د سجده سهو حکم

۱۰۱۳ - (۱) [۱] ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ ۲ إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي ۳ جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَلَبَسَ عَلَيْهِ ۴ حَتَّى لَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى؟ ۵ فَإِذَا وَجَدَ ذَلِكَ أَحَدُكُمْ ۶ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ "، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هر کله چې په تاسو کې څوك د لمانځه د پاره ودريږي ۳ نو هغه ته شيطان راځي او هغه په شك شبهه کې مبتلا کوي ۴ تر دې چې هغه مونځ کونکي ته دا هم ياد نه پاتې کيږي چې هغه څو رکعاتونه کړي دي ۵ که په تاسو کې چا ته دا صورت پيښ شي ۶ نو هغه ته پکار دي (چې هغه په آخري قعده کې) په ناسته دوه سجدي وکړي. (بخاري، مسلم.)

تسهيلات: - **قوله:** حَتَّى لَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى؟

په مانځه کښې د شك په مسئله کښې د احاديثو څلور قسمونه: - په مونځ کښې چه کوم سړی ته دَ رکعتونو په شمير کښې شك پيدا شي نو هغه به څه کوی؟ دې باره کښې په څلور قسمه احاديث په مختلف انداز راغلي دی. د کوم په وجه چې د فقهاؤ په مينځ کښې اختلاف پيدا شوي دي. هغه احاديث دا دی.

① **د بناء علی الاقل حکم:** - دَ اول قسم احاديث هغه دی په کوم کښې چه بناء علی الاقل حکم دي مثلاً که چرته شك په دوو رکعتو يا دريو رکعتو کښې اوشی نو دوه شمير کړئ او که په څلورو او دريو رکعتو کښې تردد وی نو دري شميرئ. دَ فصل اول په دويم حديث کښې هم دغه حکم ذکر دي او دَ دې باب آخری حديث نمبر ۹ کښې هم دغه حکم ذکر دي.

② **په غالب گمان د عمل کولو حکم:** - دويم قسم دَ هغه احاديثو دي په کوم کښې چه دا بيان کړې شوی دی چه دَ شك په صورت کښې "تَحَرِّيْ" سوچ او فکر کولو سره غالب گمان او

[۱] اخرجه البخاری کتاب الجمعة / باب السهو فی الفرض والتطوع (رقم - ۱۲۳۲) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب السهو فی الصلاة والسجود له (رقم) ۸۲ - (۳۸۹) وابوداود کتاب الصلاة،باب من قال: يتم علی أکبر ظنه (رقم- ۱۰۳۰) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فيمن يشک فی الزيادة والنقصان (رقم- ۳۹۶) والنسائی کتاب السهو/باب التحری (رقم-۱۲۵۲) ومالک فی الموطا کتاب السهو/باب العمل فی السهو (رقم-۱)

راجح طرف بانـدې عمـل اوكـړى لكـه څنګـه چـه دَدې بـاب فـصل اول د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه حديث نمبر ۳ كښې دى چه ((واذاشك احدكم في الصلوة فليتحر الصواب)).

③ **د سر څخه د مونځ شروع كولو حكم:** - دريـم قسم دَ هغـه احاديثودې په كوم كښې چه داحكم ذكردې چه دَ شك په صورت كښې دَ نوى سرنه مونځ كول پكاردى. دا قسم روايت طبراني كښې موجود دې. الفاظ دا دى: ((عن عبادة ابن الصامت ان رسول الله صلى الله عليه وسلم سئل عن رجل سها في صلوته فلم يدركم صلى فقال ليعد صلوته)) (بحواله اعلاء السنن)

④ **اجمالى احاديث:** - څلورم قسم هغه روايات دى كوم چه مجمـل دى پـه هغې كښې څه تفصيل نشته صرف دومره بيان دې چه دَ سهو په صورت كښې سجده سهو اوكړئ.

دشك په صورت كښې د مونځ په پوره كولو كښې مذاهب: -

دَدې مختلف رواياتو په رڼاكښې فقهاء كرامو په خپل فقهى نظر سره په يو نه يو حديث باندې دَ عمل كولوفتوىٰ وركړې ده.

① امام شعبي رحمه الله او اوزاعى شام رحمه الله فتوىٰ وركړې ده چه دَ شك په صورت كښې په هرحال كښې مونځ راګرځول ضروري دى. هغوى په دريم قسم رواياتوباندې عمل كړې دې.

② حضرت حسن بصرى رحمه الله او بعضې سلف په څلورم قسم مجمل اومبهم رواياتو باندې فتوىٰ وركړې ده چـه پـه هرحالت كښې دې سجده سـهو اوكړى هم دغـه كافى دى كه دَ ركعتونو په شمير كښې شك وى يانور هم څه وى صرف سجده سهودې اوكړى.

③ امام شافعى رحمه الله امام مالك رحمه الله امـام احمدبن حنبـل رحمه الله پـه اصولى توګـه باندې فتوىٰ وركړې ده چه بناء على الاقل دې اوكړى شـك دې پريـږدى او پـه يقـين دې عمل اوكړى. دې حضراتو پـه اول قـسم روايـاتو بانـدې عمـل كـړې دې. دغـه پورتنـو فقهـاؤ كرامـو دَ يوقسم احاديث اخستى دى او باقى ئې ترك كړى دى.

④ امام ابوحنيفه رحمه الله او ائمـه احنـاف پـه دغـه ټولو روايتونو باندې عمل كولو يوعجيبه صـورت خـودلې دې. هغـوى فرمـائى چـه دا روايـات دَ مختلفـو اشخاصـو پـه حـالاتو باندې محمول دى.

د رواياتو په مينځ كښې تطبيق: - ① مثلاً كه دَ يوسړى عـادت دا وى چـه هغـه نـه هروخت هيره كيږى اوهروخت ئې شك وى نوداسې سړې دې تحرى او سوچ اوفكر كوى اودَ صحيح صورت معلومولو كوشش دې كوى دَ تحرى والا روايات هم په داسې سړى باندې محمول دى. دې دې په غالب ګمان باندې عمل كوى

② كه يوسړى ته شك نه وى شوې او په اول ځل ورته شك راپيداشو نودا سړې دې استيناف اوكړى يعنى اولنې مـونځ دې مـات كړى پريـږدې دى اودَ نـوى سـر نـه دې مـونځ اوكړى دَ استيناف روايات هم په دې باندې محمول دى.

③ که دَ شك صورت داسې دې چه برابر دې دَ راجح طرف فيصله نه شي كيدې نو په داسې صورت كښې دې بناء على الاقل باندې عمل اوكړي او مجمل روايات دې هم په دې دريو صورتونو باندې حمل كړي. دغه شان به په رواياتو باندې عمل اوشي. فلله در ابى حنيفة ما ادق نظره والطف فكره.

۱۰۱۵- د ما لخه ختمولو څخه قبل سجده سهوه كول

۱۰۱۵-()[۲] ① وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ② "إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا؟ ③ فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ، وَلْيَبْنِ عَلَى مَا اسْتَيْقَنَ، ④ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ، ⑤ فَإِنْ كَانَ صَلَّى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهُ صَلَاتَهُ، ⑥ وَإِنْ كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ ⑦ كَانَتَا تَرْغِيمًا لِلشَّيْطَانِ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ، ⑧ وَرَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ عَطَاءٍ مُرْسَلًا، ⑨ وَفِي رِوَايَتِهِ: "شَفَعَهَا بِهَاتَيْنِ السَّجْدَتَيْنِ".

ترجمه: ① عطاء ابن يسار د حضرت ابو سعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② هر كله چې په تاسو كې څوك د لمانځه په مينځ كې په شك كې مبتلا شي او هغه ته ياد نوي چې هغه درې ركعاته كړي دي يا څلور ③ نو هغه ته پكار دي چې خپل شك لرې كړي وو په كوم عدد چې د هغه يقين وي نو په هغې دې بناء اوكړي (يعني په هغه كې دې د يو عدد تعين وكړي او خپل مونځ دې پوره كړي) ④ او د سلام ګرځولو څخه مخكې دې دوه سجدې وكړي ⑤ كه چرته مونځ كونكي پنځه ركعته كړي وي نو بيا به دغه پنځه ركعتونه د دې دوو سجدو په ذريعه جفت مونځ شي ⑥ او كه چرته هغه څلور ركعاته كړي وي ⑦ نو بيا به دوه سجدې د شيطان د ذلت وجه جوړه شي، مسلم، ⑧ او امام مالك دا روايت د عطاء څخه په طريق ارسال نقل كړي دي ⑨ هم د دغه امام مالك په يو روايت كښې دي چې مونځ كونكي به د دې دوو سجدو په ذريعه به پنځه ركعتونه جفت كړي.

حل اللغات:- ① فَلَمْ يَدْرِ: پته ورته نه وي، ياد ورته نه وي. ② فَلْيَطْرَحِ: لرې دې كړي، اودې غورځوي. ③ شَفَعْنَ: جوړه جوړه به شي، جفت به شي. ④ تَرْغِيمًا: أَيْ: إِذْلَالًا لِلشَّيْطَانِ: د شيطان د ذلت سبب به جوړشي (دا دوه سجدې).

تسهيلات:- قوله: فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ:

په اقل باندې بناء كول:- يعني په كوم كښې چه دَ هغه شك دي هغه دَ شك والا صورت دې كالعدم اوګڼري اودَ يقين والا صورت دې خپل كړي. مثلاً هم په دې حديث كښې درې اوڅلورو كښې شك شو نو مشكوك صورت دَ څلورو دې او يقيني صورت دَ دريو ركعتو دې نو مونځ ګذار له پكار دي چه څلور پريږدي

[١] اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب السهو فى الصلاة والسجود له (رقم) ٨٨ - (٥٧١) ومالك فى الموطا كتاب الصلاة/باب إتمام المصلى ما ذكر إذا شك فى صلاته (رقم-٦٢)

اودرې باندې فیصله اوکړي اوبیا دَ سلام ګرځولونه وړاندې دوه سجدې اوکړي.

قوله: فَإِنْ كَانَ صَلَّى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهُ صَلَاتَهُ:

دشفعن له جملې مطلب:-

دا فـاء دَ تفریـع او تفـصیل دَپـاره ده پـه دې سـره دَحـدیث دَسـابقه ضـابطه تفـصیل بیـانول مقصودی دی. دَتفصیل خلاصه داده که چرې مونځ ګذار په واقـع کښې څلور رکعتـه کړې وو او اوس دَ اضافه رکعت سره دَهغـه رکعتونـه پنځـه شـو نودَسجده سـهو دا دوه سـجدې دَ یورکعت قائمقام کیدوسره شپږ رکعته جوړشی. نو دَ" شفعن لـه صلوته" چـه کومـه جملـه ده دَهغې هم دغه مطلب دې چه دوو سجدودَدغه سړی طاق مـونځ جفـت جـوړ کړو یعنی پنځـه رکعتـه ئی شپږ کړل.

قوله: وَإِنْ كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ:

دوه اضافی سجدې د شیطان رسوائی:- یعنـی کـه فـی الواقـع درې رکعتـه ئـی کـړی وو او اوس دَ یو رکعت پـه اضـافه کولوسره څلوررکعتـه جوړشـو نـو اوس دوو سـجدې دَ یورکعت قائمقـام جوړولـو ضـرورت پـاتې نـه شـولهذا دوه سـجدې دَ شـیطان دَ ذلیـل اوخوارولودَپـاره شوې ځکه چه شیطان مونځ ګذار په شك کښې اچولې وو دې دَپاره چه دَهغه مونځ کـم کړې شـی لـیکن مـونځ ګـذار دَ دوو سجدو اضـافه کولوسـرد دَ شـیطان پـه غـوږونو او خلـه کښې مالوچ وراوټونبل. الحمد لله علی ذلك.

قوله: قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ:

د سجده قبل السلام مستدل:- دَدې روایت نه په واضحه توګه معلومیږی چه سجده سهو دَ سلام نه وړاندې ده. هم په دې وجه دَ فقهاؤ په دې مسئله کښې اخـتلاف پیـدا شـوې دې چې سجده سهودَ سلام نه وړاندې ده که روستو. خودا اختلاف دَجواز اوعدم جواز نـه دې بلکـه دَ افضل اوغیرافضل دې.

د سجده سهو په قبل السلام او بعد السلام کښې مذاهب:-

دې مسئله کښې اختلاف دې چه سجده سهوه دسلام نه مخکښې کول پکاردی اوکه روستو؟

① د امام شافعی رحمه الله په نزسجده سهوه مطلقا قبل السلام ده.

② د امام مالك رحمه الله په نزد دا تفصیل دې که سجده سهو په مونځ کښې د څه نقصان په وجې واجب شوې وی نو سجده سجده به قبل السلام وی او که د څه زیاتې دوجې نه واجب شوې وی نو بعد السلام به وی،ددوی مسلك یاد ساتلو دپاره داسې تعبیر کیږی چه ((القاف والدال بالدال)) یعنی القبل بالنقصان والبعد بالزیادة.

③ دامام احمد رحمه الله مسلك دادې چه د حضور نبی کریم ﷺ نه دسجد سهو کومو صورتونو کښې دسجود سهو قبل السلام ثابت دې،هلته به په قبل السلام عمل کیږی. او

چه کوم خائې د حضور نبی کریم ﷺ نه بعدالسلام ثابت دي په هغه صورتونو کښې به بعد السلام باندې عمل کیږی لکه دځلورو رکعتونو والا په مونځ کښې په دوه رکعتونو سلام ګرځولو په صورت کښې کما فی حدیث ذی الیدین.(۱) او چه په کومو صورتونو کښې د حضور نبی کریم ﷺ نه هیڅ ثابت نه دی.هلته دامام شافعی رحمه الله دمسلك مطابق قبل السلام به سجده وی.دامام اسحاق مسلك هم دغه دې.البته کومو صورتونو کښې چه د حضور نبی کریم ﷺ نه هیڅ ثابت نه وی هلته هغه دامام مالك دمسلك مطابق ((القاف بالقاف والدال باالدال)) باندې عمل کوی،بهر حال آئمه ثلاثه د څه نه څه صورت کښې د سجده سهو قبل السلام قائل دی.

④ د احنافو په نزد سجده مطلقا دسلام نه پس

او حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په هرصورت کښې بعد السلام باندې عمل کوی او دلته دې دا په ذهن کښې وی چه د نبی کریم ﷺ نه قبل السلام اوبعد السلام دواړه طریقې ثابتې دی او دا اختلاف صرف د افضلیت او عدم افضلیت دې.

داول فریق دلیل:- دآئمه ثلاثه استدلال دحضرت عبدالله ابن بحینه حدیث دباب دې چه دې کښې د حضور نبی کریم ﷺ دقعده اولی په پاتې کیدو په وجې قبل السلام سجده کړې وه.ددې په خلاف د احنافو دلائل لاندې لیك دی.

داول فریق د دلیل جواب:- داحدیث په بیان دجواز محمول دې اوداهم کیدې شی چه دې د قبل السلام نه مراد هغه سلام وی چه کوم دسجده سهو نه روستو دتشهد لوستلو په اخر کښې کیږی.

① په ترمذی ((باب ما جاء فی سجدة السهو بعد السلام والكلام)) کښې دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه دا حدیث مذکور دې ((أن النبی ﷺ صلی الظهر خمسا فقیل له أزید فی الصلوة أم نسیت فسجد سجدتین بعدما سلم،قال أبو موسی هذا حدیث حسن صحیح)).

② د ترمذی نه سوا په ټولو صحاح سته (۲) کښې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه مرفوع روایت دې چه ((وإذا شك أحدكم فی صلوته فلیتحر الصواب فلیتم علیه ثم یسلم یسجد سجدتین،اللفظ للبخاری))

③ په (۳) ابوداؤد اوبه (۴) ابن ماجه کښې دحضرت ثوبان رضی الله عنه نه مرفوع روایت دې چه ((

---

(۱) جامع ترمذی (ج/ ۱، ص/ ۷۸) باب ماجاء فی الرجل یسلم فی الركعتین من الظهر والعصر-

(۲) الظرصحیح البخاری (ج/ ۱ ، ص/ ۵۷، ۵۸) كتاب الصلوة باب التوجه نحو القبلة حیث كان والصحیح لمسلم (ج/ ۱ ، ص/ ۲۱۱، ۲۱۲) باب السهو فی الصلوة والسجود له والسنن للنسائی (ج/ ۱ ، ص/ ۱۸٤) كتاب السهو باب التحری والسنن لابی داود (ج/ ۱ ، ص/ ۱٤٦) باب اذا صلی خمسا والسنن ابن ماجد (ص/ ۸۵) باب ماجاء فیمن یسجد هما بعد السلام ، رشید اشرف عفی عنه)-

(۳) (ص/ ۱٤۸، ۱٤۹) باب من نسی ان یتشهد وهو جالس)-

(۴) (ص/ ۸۵) باب ماجاء فیمن سجد هما بعد السلام)-

لکل سهو سجدتان بعدمایسلم)) په دې دا اعتراض کیږی چه دحدیث مدار په اسماعیل بن عیاش دې چه ضعیف دې،ددې جواب دادې چه اسماعیل بن عیاش په حفاظو د شام کښې دې او ددوی باره کښې داقول فیصل دې چه ددوی روایات د اهل شام نه مقبول دې دغیر اهل شام نه.اودا حدیث مبارك ددوی دعبدالله بن عبیدالله الکلاعی نه روایت کړې دې چه اهل شام نه دې،په دې وجې دا حدیث مبارك مقبول دې..

④ په ([1]) سنن نسائی او په ([2]) ابوداود کښې دحضرت عبدالله بن جعفر رضی الله عنه دا روایت مروی دې چه ((قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من شك فی صلوته فلیسجد سجدتین بعد ما یسلم))

⑤ په ترمذی باب ماجاء فی الامام ینهض فی الرکعتین ناسیا کښې د حضرت شعبی رضی الله عنه روایت ذکرشوې دې چه ((قال صلی بنا المغیرة بن شعبة فنهض فی الرکعتین فسبح به القوم وسبح فلما قضی صلوته سلم ثم سجد سجدة السهو و هو جالس ثم حدثهم أن رسول الله فعل بهم مثل الذی فعل.....)) چه دې روایت کښې هم دسجد سهو بعد السلام تصریح ده.

⑥ دحضرت ذوالیدین رضی الله عنه ([3]) په واقعه کښې هم د حضور نبی کریم صلی الله علیه وسلم عمل د سجده سهو بعد السلام خودلې شوې دې.لکه دې واقعه کښې دا الفاظ مروی دی چه ((فصلی اثنتین اخریین ثم سلم ثم کبر فسجد الخ))

د ځلورم فریق د مذهب وجه ترجیح:- داحنافو په دې احادیثو کښې قولی احادیث هم شته دې.او فعلی احادیث هم.ددې په خلاف آئمه ثلاثه سره صرف فعلی احادیث دی چه کوم په جواز محمول دی.په دې وجې داحنافو دلائل به راجح وی.

۱۰۲۶—د ماسپخین په مانځه کښې د رسول الله سهوه کیدل

۱۰۲۶—([4]) [۳] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا، ② فَقِيلَ لَهُ: أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ؟ ③ فَقَالَ: " وَمَا ذَاكَ؟ " قَالُوا: صَلَّيْتَ خَمْسًا، ④ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَمَا سَلَّمَ، ⑤ وَفِي رِوَايَةٍ، قَالَ: " إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ، ⑥ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ، ⑦ فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي، ⑧ وَإِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ، ⑨ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ، ⑩ ثُمَّ لِيُسَلِّمْ، ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایې چې (یوه ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم دماسپخین مونځ پنځه رکعاته وکړو ② د حضور صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چه آیا په لمانځه کې څه

[1]) (ج/ ۱ ، ص/ ۱۸۵) باب التحری کتاب السهو)-

[2]) (ج/ ۱ ، ص/ ۱۴۸) باب من قال بعد التسلیم)-

[3]) ترمذی (ج/ ۱ ، ص/ ۷۸) باب ماجاء فی الرجل یسلم فی الرکعتین من الظهر والعصر)-

[4]) اخرجه البخاری کتاب الصلاة/ باب التوجه نحو القبلة حیث کان (رقم-۴۰۱) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب السهو فی الصلاة والسجود له (رقم) ۹۱ - (۵۷۲) وابوداود فی کتاب الصلاة/باب إذا صلی خمسا (رقم-۱۰۲۲)والنسائی کتاب السهو/باب ما یفعل من صلی خمسا (رقم-۱۲۵۴) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب السهو فی الصلاة (رقم-۱۲۰۳)

زياتي شوي دي؟ [۳] حضور ﷺ پوښتنه وکړه څه وشو؟ صحابه کرامو ﷺ عرض وکړو چې تا ﷺ پنځه رکعاته وکړل[۴] (دي اوريدو سره) رسول الله ﷺ د سلام ګرځولو څخه وروسته دوه سجدي وکړي[۵] او په يو بل روايت کې دا الفاظ هم دي چې حضور ﷺ وفرمايل زه هم انسان يم[۶] څنګه چې ستاسو څخه هيره کيږي دغسې زما څخه هم هيره کيږي[۷] هر کله چې زما څخه هيره وشي نو ماته يادوي[۸] او هر کله چې په تاسو کې چاته په لمانځه کې شك شي نو هغه ته پکار دي چې هغه صحيح رايه قائمه کړي[۹] او د هغه رايي په بنياد دي مونځ پوره کړي[۱۰] بيا دې د سلام اوګرځوي او دوه سجدي دي وکړي.(بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① بَشَرٌ: انسان، ② أَنْسَى: زمانه هيريږي. ③ فَلْيَتَحَرَّ: أَيْ: فَلْيَطْلُبْ بِغَلَبَةِ ظَنِّهِ وَاجْتِهَادِهِ: يعنى په خپل غالب ګمان او کوشش سره دې طلب اوکړي. ④ الصَّوَابَ: صحيح رائې.

تسهيلات:-

قوله: صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا:

پنځم رکعت ته د پورته کيدو دوه صورتونه:-

① چې څلورم رکعت باندي ئې ترتشهده پورې آخرى قعده کړې وى اوبيا پنځم رکعت ته اودريږى.

② چې څلورم رکعت باندي ئې آخرى قعده نه وى کړې اوبيا پنځم رکعت ته اودريږى.

په دويم صورت کښې مذاهب:-

① په دويم صورت کښې شوافع حضرات فرمائى چې سجده سهو کافى ده که قعده آخيره ئى کړې وى اوکه نه ئى وى کړې سجده سهوډ هرصورت دپاره کافى اوشافى ده.

② داحنافو په نيز په دويم صورت کښې ترکومې پورې چه هغه رکعت رکوع اوسجدې سره نه دې ملاؤ کړې هغه دې واپس راشى اوسجده سهودې اوکړى سلام دې اوګرځوى مونځ به ئى صحيح شى. ليکن که رکعت ئى سجدې سره ملاؤ کړو نواوس داسې کيناستو سره سلام نه شى ګرځولې بلکه يو رکعت دې ورسره بل يوځائى کړى اوشپږ رکعته دې پوره کړى اوس په فرضو کښې نفل داخلولو سره فرض باطل شو اودا شپږ رکعته نفل شو فرض مونځ دې بيا اوکړى. اوکه چرې دا صورت دمانښام په مونځ کښې پيښ شو نوهلته دې صرف يو رکعت نور اوکړى په څلورو نفلودې سلام اوګرځوى فرض دې بيا اوکړى.دغه شان صورت کښې دسحر يا مازيګرپه مونځ کښې پيښ شى نو په هغې کښې دې هم دوه رکعته نور زياتى ملاؤ کړى ټول رکعتونه به نفل جورشى.

اشکال:- دمازيګر اوسحر نه پس خونفل جائز نه دى دلته څنګه جائز شو؟

داشکال جواب:- تراوسه پورې خوئى لافرض مونځ پوره شوې نه دې لهذا دا نفل

بعد الفرض نه دی بلکه قبل الفرض دی.

داول فریق دلیل: – زیر بحث حدیث کښې دَ قعده آخیره پاتې کیدو اونه پاتې کیدو څه ذکرنشته دې لهذا دَدې تفصیل ضرورت نشته دې بلکه په هرصورت کښې دې سجده سهو اوکړی دَمونځ دَ صحیح کیدودَپاره کافی دی.

داول فریق د دلیل جواب: احناف فرمائی چه په دې حدیث کښې صلي الظهر الفاظ دی دَدې نه اندازه کیږی چه دا هغه صورت وو چه په قعده آخیره کښې حضورپاك ﷺ ناست وو اوبیا دَ پنځم رکعت دَپاره اودریدلې وو ځکه چه دَ صلي الظهر دَظاهری الفاظو مطلب هم دغه دې چه دَماسپښین مونځ نی مکمل کړې وو په داسې صورت کښې صرف سجده سهو کافی کیږی که چرته دَ قعده آخیرې پاتې کیدو صورت وې نوفرض مونځ به دوباره راګرځولې شو. دا د اول فریق د دلیل جواب هم دې او د دویم فریق دلیل هم شو.

قوله: بَعْدَمَا سَلَّمَ:

ددویم فریق دلیل: – یعنی دَ دوو سلامونوګرځولونه پس حضورپاك ﷺ دوه سجدې اوکړې دادَ احنافو دلیل دې چه سجده پس دَ سلام نه ده. هم په دې حدیث کښې دویم روایت بیانولوسره صاحب مشکوة "ثم سلم ثم سجد سجدتین" الفاظوسره هم سجده پس دَسلام نه ثابته کړې ده کوم چهَ احنافو مسلك دې.

نوټ: – د اختلاف اودلائلو تفصیل مخکښې تیرشوې دې اودَ کلام فی الصلوة مسئله هم راروانه ده.

دامام او مقتدی د سجده سهوپه طریقه کښې فرق: – ① که چرې امام وی نوصرف ښی طرف ته دې سلام اوګرځوی ځکه چه دواړوطرفوته سلام ګرځولوسره به په مسبوقین کښې انتشار پیداشی هغوی به پاسی باقی مونځ به شروع کړی

② که ځان له مونځ ګذار سجده سهوکوی نوراجح هم دادی چه دواړوطرفوته سلام ګرځولو سره دې بیا سجده اوکړی اوبیا دې التحیات اووائی سلام دې اوګرځوی.

۱۰۱۷– دذوالیدین واقعه

۱۰۱۷–(۱)[۳] ① وَعَنِ ابْنِ سِيرِينَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِحْدَى صَلَاتَيِ الْعَشِيِّ. ③ قَالَ ابْنُ سِيرِينَ: قَدْ سَمَّاهَا أَبُو هُرَيْرَةَ، وَلَكِنْ نَسِيتُ أَنَا- ④ قَالَ: فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، ⑤ فَقَامَ إِلَى خَشَبَةٍ مَعْرُوضَةٍ فِي الْمَسْجِدِ، ⑥ فَاتَّكَأَ عَلَيْهَا كَأَنَّهُ غَضْبَانُ، ⑦ وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى ⑧ وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ، ⑨ وَوَضَعَ خَدَّهُ الْأَيْمَنَ عَلَى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرَى،

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصلاة/ باب تشبیک الأصابع فی المسجد وغیره (رقم- ۴۸۲) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب السهو فی الصلاة والسجود له (رقم) ۹۷ - (۵۷۳) والنسائی کتاب السهو/باب ما یفعل من سلم من رکعتین ناسیا وتکلم (رقم-۱۲۲٤)

ترجمه: [۱] او ابن(¹) سيرين رحمه الله د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کوي[۲] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ د ماسپښين يا د مازيګر مونځ مونږ ته راکړو[۳] ابن سيرين رحمه الله وائي چې د هغې نوم ابوهريره رضي الله عنه ښودلي وو خو زما ځنې هير شو[۴] ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ زمونږ سره دوه رکعاته مونځ وکړلو او (د دريم رکعت د پاره دودريدو په ځاي) يې سلام وګرځولو[۵] بيا د هغه لرګي په سهاره (واد) چې په مسجد کې عرضًا ولاړ وو ودريدلو[۶] او (داسي محسوسيده) لکه چې حضور ﷺ د غصي په حالت کې دي[۷] حضور ﷺ خپل ښي لاس په خپل ګس لاس کيښودلو[۸] او په ګوتو کې ني ګوتي ورکړلي[۹] او خپل ګس رخسار مبارک يې د خپل ګس لاس په شا کيښودلو، تلواري کونکي خلق (چې د لمانځه د ادائيګي ځنې وروسته د ذکر او دعا د پاره نه پاتي کيدل)

حل اللغات:- ① اَلْعَشِيِّ: مِنْ حِيْنِ تَزُوْلُ الشَّمْسُ اِلٰى اَنْ تَغِيْبَ: دنمر د زوال نه تر نمر پريوتلو پوري وخت ته وائي. ② خَشَبَةٍ: اَلْعُوْدَ: لرګي، ③ مَعْرُوْضَةٍ: اَيْ: مَطْرُوْحَةٍ وَمَوْضُوْعَةٍ بِالْعَرْضِ: چه په پلنو پروت وو. ④ خَدَّهُ: رخسار مبارک،

> [۱] وَخَرَجَتْ سَرَعَانُ الْقَوْمِ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ، [۲] فَقَالُوْا: قَصُرَتِ الصَّلَاةُ؟ ! [۳] وَفِي الْقَوْمِ أَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، فَهَابَاهُ أَنْ يُكَلِّمَاهُ، [۴] وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ فِي يَدَيْهِ طُوْلٌ، يُقَالُ لَهُ: ذُوالْيَدَيْنِ، [۵] قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنَسِيْتَ أَمْ قَصُرَتِ الصَّلَاةُ؟ [۶] فَقَالَ: "لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ"، [۷] فَقَالَ: أَكَمَا يَقُوْلُ ذُوالْيَدَيْنِ؟"

ترجمه: [۱] د مسجد په دروازو ووتل [۲] صحابه ؤ رضي الله عنهم اوويل آيا په لمانځه کمي شوې ده؟ (چې رسول الله ﷺ د څلور رکعاته په ځاي دوه رکعاته وکړه؟) [۳] د صحابه ؤ رضي الله عنهم په مينځ کې (کوم چې په مسجد کې باقي پاتې شوي وو) حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه هم موجود وو خو د خوف د وجهي هغوئ ته د حضور ﷺ سره د کلام کولو جرات ونه شو[۴] په صحابه ؤ رضي الله عنهم کې يو بل سړي (هم) وو چې د هغه لاسونه اوږده وو او په دي وجه ذواليدين (يعني د اوږدو لاسونو په لقب سره) بللی کيدو[۵] هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ آيا ستا ﷺ ځنې هيره وشوه يا په لمانځه کې کمي شوې دي؟[۶] رسول الله ﷺ وفرمايل چې نه زما ځنې هيره شوې ده[۷] او نه په لمانځه کښې کمي راغلي دي بيا (صحابه رضي الله عنهم مخاطب کولو سره) يې وفرمايل آيا تاسو هم داسې وايئ څنګه چې ذواليدين وايي؟

حل اللغات:- ⑤ سَرَعَانُ: د سَرِيْع جمع ده، جلتى کونکى، ⑥ فَهَابَاهُ: اَيْ: عَظَّمَاهُ: يعنى دواړه د نبى کريم نه ويريدل.

(¹) نوم يې محمد او کنيت يې ابوبکر دي د انس بن مالك رضي الله عنه آزاد کرده غلام وو د ده ديرش بچيان وو چې د هغه په ژوند کې وفات شوي يواځي يو زوي عبدالله بن محمد بن سرين ژوندي وو د ۷۷ کالو عمر کې سنه ۱۱۰ هـ کې وفات شو.

۱ فَقَالُوا: نَعَمْ فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى مَا تَرَكَ، ۲ ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ، ۳ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ، ۴ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَكَبَّرَ، ۵ فَرُبَّمَا سَأَلُوهُ، ثُمَّ سَلَّمَ، ۶ فَيَقُولُ: نُبِّئْتُ أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ: ثُمَّ سَلَّمَ، ۷ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَلَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ، ۸ وَفِي أُخْرَى لَهُمَا: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَدَلَ "لَمْ أَنْسَ" وَلَمْ تُقْصَرْ: ۹ كُلُّ ذٰلِكَ لَمْ يَكُنْ، ۱۰ فَقَالَ: قَدْ كَانَ بَعْضُ ذٰلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ!.»

ترجمه: ۱ صحابه و ﷺ عرض وکړو چې هم دغسې ده ذواليدين صحيح خبره کوي (د دې اوريدو سره) رسول الله ﷺ مخکې شو او کوم مونځ (يعني دوه رکعاته) چې پاتې شوې وو هغه يې وکړل ۲ او سلام گرځولو سره يې تکبير اويلو او حسب معمول د سجدو په شان يا د هغه څخه هم څه طويل (اوږده) سجده يې وکړله ۳ بيا تکبير ويلو سره يې سر مبارك اوچت کړي ۴ اوبيا ئې تکبير اووئيل اوسجده ئې اوکړه د خپلې (مانځه د) سجدې پشان يا د هغې څخه اوږده ۵ خلقو ابن سيرين څخه پوښتنه وکړه چه بيا د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ په سلام گرځول وي؟ ۶ نو هغه اوويل ماته د عمران بن حصين ﷺ څخه دا خبر رارسيدلي دي چې هغه ويل بيا رسول الله ﷺ سلام وگرځولو ۷ دا روايت بخاري او مسلم نقل کړي دي خو الفاظ د بخاري دي، ۸ او د بخاري او مسلم په يو بل روايت کې دا دي چې رسول الله ﷺ د ذواليدين په جواب کې لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ (يعني نه زما څخه هيره شوې ده او نه په لمانځه کې کمي شوې ده) په ځاي يې دا وفرمايل ۹ چې څه تاسو وايئ په دې کې هيڅ هم نه دي شوي ۱۰ هغه عرض وکړو يا رسول الله ﷺ په دې کې څه خو ضرور شوي دي.

حل اللغات:-⑥ نُبِّئْتُ: خبر رارسيدلي دې ماته.

تسهيلات:-

قوله: فَقَالَ: "لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ:

په مانځه کښې خبرې کولوسره مونځ فاسديږي که نه او په مانځه کښې کلام په هيره سره يا په قصد سره جائز دې که نه؟
دا يو معرکة الآراء مسئله ده او په دې کښې دَ فقهاؤ زبردست اختلاف دې.

د کلام فى الصلاة په حکم کښې مذاهب:-

دَ فقهاؤ په دې خبره باندې اتفاق دې چه دَاسلام په شروع کښې تريوحده پورې په مونځ کښې خبرې کول جائز وو بيا منسوخ شو. اوس دَ فقهاؤ خپل مينځ کښې دَ دې نسخ په تفصيل کښې اختلاف دې چه آيا هرقسم کلام په مکمل توگه باندې منسوخ شوې دې يا دَ بعضې قسم کلام کولواوس هم اجازت دې. نودَ دې تفصيل داسې دې چه
① دَ شوافع په نيز دَ اصلاح صلوة دَپاره دَقليل کلام کولو اجازت دې په دې شرط چه

نسیاناً وی. دَ نسیاناً نه دَ دوی دا مراد دي چه مونځ گذار ته یاد نه وو چه زه په مانځه ولاړ یم او هغه دَ مونځ دَ اصلاح دَپاره او ونیل قعده اوکړه، او دریم وراندي کیږه مه، زه مونځ کوم، په مونځ کښې قعده پاتې شوه. دویم مونځ گذار وائی نه نه، یا لکه څنګه چه په زیربحث حدیث کښې دَ ذوالیدین کلام دي.

۞ امام مالك رحمه الله فرمائی چه دَ اصلاح صلوة دَپاره که قصداً عمداً هم کلام اوکړي شی نو جائز دي. په دې سره مونځ نه ماتیږي.

۞ دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله په کلام کښې سخت اضطراب دي هرطرف ته دَهغوی یو یو قول دي بلکه دي نه هم زیات اقوال دي. دَهغې دَ ذکرکولو ضرورت نشته دي. البته په مجموعی اعتبار سره جمهور څه فرق سره یو طرف ته ولاړ دي او ائمه احناف بل طرف ته ولاړ دي.

۞ دَ ائمه احناف په نیز په مانځه کښې هرقسم کلام منسوخ شوي دي. اوس هرقسم کلام مفسد صلوة دي که هغه عمداً وي، که نسیاناً وي، که خطاءً وي که قصداً وي قلیل وي او که کثیر وي دَ هیڅ قسم گنجائش نشته دي.

داول فریق دلائل: - دجمهورو مستدل زیر بحث د حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث دي په کوم کښې چه یو مونځ گذار ذوالیدین هم په مونځ کښې کلام اوکړو او صحابه هم کلام اوکړو. بل حضوریاك صلی الله علیه وسلم هم کلام اوکړو او بیا ئې تولو سجده سهو کولو سره مونځ اوکړو. مونځ ئې راؤنه گرځولو. معلومه شوه چه په خبرو کولو سره مونځ نه فاسدیږي. شوافع حضرات دا کلام په نسیاناً باندې حمل کوی او مالکیه حضرات دا دَ اصلاح صلوة دَپاره په قصداً عمداً باندې حمل کوی.

۞ دَ فصل الثالث عمران بن حصین رضی الله عنه حدیث نمبر ۸ هم د دوی مستدل دي په دې کښې هم دغه شان مضمون دي بلکه په هغې کښې دَ حضوریاك صلی الله علیه وسلم دَ مونځ کولو نه پس کورته د تللو او واپس راتللو او کلام کولو بیان دي.

۞ ددې باب حدیث نمبر ۳ دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه روایت هم د دوی مستدل دي په کوم کښې چه دَ صحابه کرامو او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دواړو دکلام کولو ذکر دي او بیا صرف سجده سهو کافی اوګنړلي شوه. معلومه شوه چه قلیل کلام کوم چه دَ اصلاح صلوة دَپاره وي مفسد صلوة نه دي.

د دویم فریق دلائل: - ① دَ حضرت معاویه بن الحکم السلمی رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دي کوم چه دَ مشکوة "باب مالایجوز من العمل فی الصلوة" دَ فصل اول رومبي حدیث دي په کوم کښې چه یوه قصه هم ده په هغې کښې دا الفاظ دي: ((ان هذه الصلوة لا یصلح فیها شئ من کلام الناس)) امام مسلم دا حدیث نقل کړي دي دا ډیر واضح دلیل دي چه په مانځه کښې اول خبرې وې بیا منسوخ شوې. اوس په مونځ کښې دَ ذکرالله، تسبیح او تلاوت قرآن نه سوا هیڅ هم جائز نه دي.

② په دې باب دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه حديث نمبر ۲ هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دا راغلی دی چه دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دَ سلام جواب حضورپاك ﷺ دَ مونځ دوران کښې نه دې ورکړې اوبیائی اوفرمائیل "ان فی الصلوٰة لشغلا" مطلب هم دغه دې چه کلام الناس کښې گنجائش نشته دې. دَ مونځ خپل ډیرمشاغل دی.

③ په دې باب فصل الثانی کښې دَحضرت ابن مسعود رضي الله عنه حديث نمبر ۱۱ هم د دوی مستدل دې دکوم تخريج چه ابواؤد کړې دې. په هغې کښې واضحه الفاظ دی چه الله تعالی کله هم غواړی دَخپل دين په احکام کښې بدلون کوی. دَ حديث الفاظ دادی:"وان مما احدث الاتتکلموافی الصلوٰة" يعني اوس چه الله تعالی کوم بدلون فرمائيلې دې هغه دادې چه تاسو په مونځ کښې خبرې مه کوئی.

④ دَ حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه روايت دې. امام مسلم رحمه الله په صحيح مسلم کښې دا ذکرې دې الفاظ ئې دادی: ((کنانتکلم فی الصلوٰة يکلم الرجل صاحبه وهوالی جنبه فی الصلوٰة حتی نزلت ﴿وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ۝﴾ فامرنا بالسکوت ونهينا عن الکلام)) [مسلم: ۲۰۴/۱]

د اول فریق د دلیل جواب: - دکلام کولو دا واقعه دَ اسلام په شروع کښې ده کوم وخت چه په مونځ کښې دکلام کولو اجازت وو بيا داحکم منسوخ شو. جمهور دَ ذواليدين دَ دې واقعې نه هغه وخت استدلال کولې شی چه هغوی داخبره ثابته کړی چه دا واقعه په منځ کښې دکلام منسوخ کيدو نه پس ده حالانکه هغوی دا ثابتول نه شی. بلکه معامله دَدې برعکس ده تحقيق اوتفصيل اوګورئی.

د ذواليدين د واقعې په تاريخ کښې مذاهب: -

په دې باندې دَ ټولو فقهاؤ کرامو اتفاق دې چه مونځ کښې خبرې کول په شروع کښې وو بيا منسوخ شو. ليکن اختلاف په دې کښې دې چه دَ ذواليدين دا واقعه نسخ الکلام نه مخکښې پيښه شوې ده. يا په مونځ کښې دکلام منسوخ کيدونه پس پيښه شوې ده.

① شوافع اومالکيه بلکه جمهور فرمائی چه دَ ذواليدين دا واقعه دَ نسخ الکلام نه پس ده. لهذا ترکوم حده پورې چه په مونځ کښې دَ کلام کولو گنجائش دَدې حديث نه معلوميږی هم دَ هغه حده پورې مونږ قائل يو دې نه علاوه منسوخ دی.

② دَ ائمه احناف تحقيق دادې چه دَ ذواليدين دا واقعه نسخ الکلام نه مخکښې پيښه شوې وه دَدې نه پس په مکمل توګه باندې په مونځ کښې په خبروکولوپابندی اولګولې شوه په کوم باندې چه څودلائل ورکړې شوی دی. اوس به دَ دواړو طرفو دَ قرائن نه معلومولې شی چه دا واقعه کله پيښه شوې وه.

داول فريق په مذهب قرينه: - دَ يو قرينې په توګه جمهور فرمائی چه دَ ذواليدين داحديث

اوواقعه چه کله حضرت ابوهریره رضی الله عنه نقل کوی نو داسې فرمائی "صلی بنا رسول الله ﷺ" دَ دې الفاظو نه معلومیږی چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ ذوالیدین په دې واقعه کښې پخپله موجود وو او حضرت ابوهریره په ۷هجری کښې اسلام راوړلې دې او دَ نسخ الکلام فی الصلوة حکم د یر مخکښې راغلې وو. معلومه شوه چه په مانځه کښې دَ یوحده پورې کلام کول اوس هم ثابت دی کوم چه دَ دغه عام نسخ نه پس هم باقی دی په کوم کښې چه په نسخ باندې دَ فقهاؤ اتفاق دې.

دَ فریق جواب: — حضرت ابوهریره رضی الله عنه په ۷هجری کښې اسلام راوړلې وو لیکن دَ "صلی بنا" دَا لفاظو نه دا یقین کول چه پخپله ابوهریره رضی الله عنه په دې واقعه کښې موجود وو دا صحیح نه دی ځکه چه داسې الفاظو سره دَ صحابه کرامو جماعت مراد اخستې شی. "ای صلی بالمسلمین" یعنی دَ مسلمانانو جمعې ته نبی اکرم ﷺ مونځ ورکړو. دغه شان تعبیر حضرت ابوهریره رضی الله عنه په نورومقاماتو کښې هم کړې دې او څو راویانو داسې تعبیر کړې دې.

حضرت بنوری رحمه الله معارف السنن ۵۱۲/۳ کښې داسې اوولس مثالونه ورکړی دی. مشهورتابعی حضرت طاؤس رحمه الله وئیلی "قدم علینا معاذ بن جبل الخ" حالانکه حضرت معاذ رضی الله عنه چه کله یمن ته راغلې وو نو هغه وخت طاؤس پیدا شوې هم نه وو. دَ دې تعبیر حقیقت داسې دې "ای قدم علی قومنا معاذ بن جبل". دغه شان دلته دَ ابوهریره رضی الله عنه "صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم" الفاظ دی. دغه شان نزال بن سعد تابعی رحمه الله وائی "قال لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم" دلته هم "قال لقومنا" دې ځکه چه نزال تابعی رحمه الله هلته چرته کیدې شو.

اودلته دَ زیر بحث حدیث معامله خو نوره هم سخته ده ځکه چه ذوالیدین په جنګ بدر کښې شهید شوې وو نو په ۷هجری کښې حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ هغه دَ مجلس واقعه ځنګه بیانولې شی؟ معلومه شوه چه داه هغه قصه ده چه "صلی بنا ای صلی بجماعة الصحابة" طحاوی کښې دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنه قصه ذکرده چه کله دَ هغوی په مخکښې دَ ذوالیدین دا حدیث پیش کړې شو نو هغوی اوفرمائیل "کان اسلام ابی هریرة رضی الله عنه بعد ما قتل ذوالیدین" (ج۱ص ۲۹۵)

د دویم فریق په مذهب قرائن: — زیر بحث حدیث کښې چه داکوم کلام فی الصلوة خبره ده. دکوم چه جمهورو استدلال کړې دې احناف فرمائی دا واقعه دَ جنګ بدر نه دَ مخکښې وخت ده. نسخ کلام فی الصلوة دَ هجرت نه لږشان پس مدینه منوره کښې شوې کومه چه دَ جنګ بدرنه دَ مخکښې واقعه ده. په دې باندې دَ احنافو دَ طرف نه یوڅو قرائن دی.

① په دې حدیث کښې دا الفاظ دی "ثم قام الی خشبة معروضة" دې نه مراد استن حنانه ده او استن حنانه دَ جنګ بدر نه مخکښې اخواکړې شوې وه ځکه چه په دې باندې دَ ټولو اتفاق

دي چه دَ حضورپاك ﷺ دَ پاره منبر ۲هجرۍ کښې تيار کړې شوې وو او دَ جنګ بدر واقعه ۲هجرۍ کښې پيښه شوې وه. معلومه شوه چه دَ حضورپاك ﷺ استن حنانه سره دده لګول او ذواليدين سره کلام کول دا دَ جنګ بدر نه مخکښې واقعه ده او هم هغه وخت دَ نسخ الکلام حکم راغلې وو.

③ په دې حديث کښې ډيرې زيات داسې افعال او عمال او اقوال صادر شوی دی چه دَجمهورو په نيزهم يقيناً مفسد الصلوة دی مثلاً دَمحراب نه اخواکيدل او لرګی سره ډډه لګول دَ قبلې نه مخ ګرځول حجره ته تلل بيا واپس راتلل او دَمباحثه اندازکښې قصداً عمداً اوږد کلام کول، دَدې ګنجائش صرف هغه وخت کيدې شو کوم وخت چه په مونځ کښې دَ کلام وغيره ډير وسعت وو. معلومه شوه چه دا دَ نسخ کلام نه دَمخکښې وخت واقعه ده روستونه ده.

④ زير بحث حديث کښې دَ ذواليدين ذکر دې او ذواليدين په جنګ بدر کښې شهيد شوې وو. معلومه شوه چه دا قصه دَجنګ بدر نه دَ مخکښې وخت ده او دَ ذواليدين په شهادت باندې نسخ الکلام فی الصلوة مکمل شوې.

په دريمه قرينه باندې اعتراض:- دا واقعه دَبدر نه دَمخکښې وخت ده او ذواليدين په جنګ بدر کښې شهيد شوې وو هغوی فرمائی چه تاسو خلقو ته غلط فهمی شوې ده چه په جنګ بدر کښې ذواليدين شهيد شوې وو داسې نه ده په جنګ بدر کښې چه کوم شهيد شوې وو هغه ذوالشمالين وو دَ ذواليدين نوم خرباق بن عمر وو او دَ قبيله خزاعه وو او دَ ذوالشمالين نوم عمير بن عمرو وو کوم چه دَ قبيله بنوسليم وو. ذواليدين خو دَ حضرت عثمان ﷺ دَزمانې پورې ژوندې وو او دَ کلام فی الصلوة دَ جواز بيان ئی کولو.

دَ اعتراض دريم جوابونه:- ① حضورپاك ﷺ امت ته تعليم ورکړې دې چه امام په مونځ کښې غلطی اوکړی هغه ته فتحه ورکوئی ليکن فتحه دَ سبحان الله په الفاظو سره ورکوئی او که چرته ښځه فتحه ورکوی نو تصفيق کولو سره دې فتحه ورکړی يعنی دَ ښی لاس تلې دې دَ ګس لاس په شا باندې اووهی. که چرې په مونځ کښې دَ اصلاح صلوة دَ پاره دَکلام کولو اجازت وې نو حضورپاك ﷺ به کله هم دغه نه پريخودو او په دې طريقه به ئی تعليم نه ورکولو. معلومه شوه چه دَ حديث ذواليدين حکم په مکمل توګه منسوخ شوې دې.

دَ صاحب مشکوة دَ طرزعمل نه هم اندازه کيږی چه دا حکم منسوخ شوې دې ځکه چه هغوی دا حديث دَ سهو باب کښې راوړلو سره اشاره اوکړه چه کلام فی الصلوة دَ سهو په توګه کيدې شی قصداً عمداً او اصلاحاً ممکن نه دې.

② ذواليدين او ذوالشمالين هم دَ يو سړی لقب وو. اوشوه داسې چه خلقو هغه ته ذوالشمالين ونيل په کوم کښې چه بدفالی او بدګمانی وه نو حضورپاك ﷺ هغه ته



ذواليدين اوفرمائيل. عمير دَ هغه نوم وو اوخرباق لقب ئې وو او خزاعه او سليم څه جدا جدا قبيلې نه وې بلكه بنوسليم دَ خزاعه بطن او ذيلى ښاخ وو نودا ټول نسبتونه صحيح دي. په طبقات ابن سعد كښې داسې ليكلى دى "ذواليدين ويقال به ذوالشمالين ايضاً" دغه شان مبرد په الكامل كښې ليكلى دى "ذواليدين وهو ذوالشمالين كان يسمى بهما جميعاً".

مسندبزار او طبرانى كښې يو حديث كښې دَ دواړو داسې ذكرراغلې دې. «صلى النبى صلى الله عليه وسلم ثلاثاً ثم سلم فقال له ذوالشمالين انقصت الصلوة؟ قال عليه السلام كذالك ياذاليدين؟ قال نعم» دَ دې روايتونو نه صفا معلومه شوه چه ذواليدين او ذوالشمالين هم دَ يو سړى دوه لقب وو اوجمهورو دَ دې اقراركوى چه بدر كښې ذوالشمالين شهيدشوې وو نونتيجه دا راووتله چه هم هغه ذوالشمالين خو هم دغه ذواليدين وو. اودَ ذواليدين په جنګ بدر كښې شهادت واقع شوې لهذا دَزير نظر حديث واقعه دَ جنګ بدر نه دَمخكښې وخت ده نودَ نسخ الكلام فى الصلوة واقعه هم دَ مخكښې وخت ده نودَدې منسوخ روايت نه استدلال كول جائز نه دى.

④ په حديث ذواليدين باندې تاسو كله عمل كولې شئ؟ په دې حديث كښې عمداً اوږد كلام شوې دې. دَ سوال اوجواب مباحثه شوې ده. دَ حضورپاك ﷺ مخ مبارك دَ قبلې نه ټاؤ شوې دې. حضورپاك ﷺ كافى حده پورې تلې دې. كورته تلې دې واپس راغلې دې. كه چرې تاسو په دې حديث سره كلام فى الصلوة ثابتول غواړئ نوبيا په مونځ كښې تګ راتګ ته هم جائز اووايئ دَ قبلې نه مخ اړولوته هم جائز اووايئ او په مونځ كښې مناظره كولوته هم جائز اووايئ دَ جمات نه بهر تلل او واپس راتللو ته هم جائز اووايئ. حالانكه ستاسو په نيز داخيزونه جائز نه دى بيا كلام ته ولې جائز وايئ؟ داسې اووايئ چه په شروع كښې داسې وه بيا منسوخ شوه اومكمل منسوخ شو هيڅ جزئى نسخ نشته دې.

قوله: فِي يَدَيْهِ طُولٌ:

دَ ذواليدين وجه تسميه او د اوږدو لاسونو پيژندګلو: – دا ذواليدين په دې لقب رابللو وجه ده څكه چه هرسړې دَ دوو لاسونو والاوى. مګر دَدې سړى لاسونه دَ نورو خلقودَ لاسونونه اوږده وو او اوږده لاسونه هغه وى چه كله سړې نيغ اودريږى اولاسونه لاندې زوړند كړى نوچه كوم لاسونه دَزنګونونو نه ښكته لاړشى هغه اوږده دى. اوكوم چه صرف دَ زنګونونو پورې وى هغه اوږده نه دى. دَ عامو انسانانو لاسونه دَ زنګونونو نه ښكته نه رسيږى.

قوله: فَرُبَّمَا سَأَلُوهُ، ثُمَّ سَلَّمَ:

د مذكوره جملې مطلب: – يعنى دَ ابن سيرين رحمه الله نه به اكثر خلقو تپوس كولو چه آيا ابوهريره رضي الله عنه "ثم سلم" فرمائيلې وو. دَ سوال مطلب دا وو چه آيا سجده سهودَ سلام نه مخكښې وه يا روستو وه. نوابن سيرين رحمه الله به جواب فرمائيلو چه دَ ابوهريره رضي الله عنه په روايت كښې ماته دا الفاظ ياد نه دى. البته عمران بن حصين رضي الله عنه چه كله ماته داحديث واورولو

نو په هغې کښې دَ "ثم سلم" الفاظ وو. مادلتــه دَ ابــوهريره رضي الله عنه پــه روايت کښې دا الفاظ دَ عمران بن حصين رضي الله عنه دَ روايت نه راوړلو سره نقل کړی دی.

۱۰۱۸—د سجده سهو دپاره د سلام ګرځولو حکم

۱۰۱۸—()[۵][۱]وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَلَّى بِهِمُ الظُّهْرَ، [۲] فَقَامَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ لَمْ يَجْلِسْ، [۳] فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، حَتَّى إِذَا قَضَى الصَّلَاةَ، [۴] وَانْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِيمَهُ، [۵] كَبَّرَ وَهُوَ جَالِسٌ، فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ، ثُمَّ سَلَّمَ»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت عبدالله ابـن بحينـة رضي الله عنه فرمـايي چې (يوه ورځ) رسـول الله ﷺ صحابو رضي الله عنهم ته د ماسپخين مونځ ورکړو[۲] او ړومبني دوه رکعاته کولو سره (په اولني قعده کې د ناستې نه بغير د دريم رکعت د پاره) ودريدلو[۳] نور خلق هم د رسول الله ﷺ سره ودريدل تر دې چې مونځ ئې اوکړو[۴] او (په آخري قعده کې) خلق د سلام ګرځولو منتظر وو [۵] چې رسـول الله ﷺ پـه ناسـته ناسـته تکبيـر وويـل او د سـلام ګرځولـو څخـه مخکـې يـې دوه سجدې وکړې او د هغه څخه وروسته يې سلام وګرځول. (بخاري، مسلم.)

تسهيلات:- نوټ:- ددې حديث وضاحت په بل مقام کښې ذکرشوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۱۰۱۹—په سهوه شوې مونځ کښې د درود شريف او دعاء محل

۱۰۱۹—()[۶][۱]عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- صَلَّى بِهِمْ فَسَهَا، [۲] فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ تَشَهَّدَ» [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] عمـران ابـن حصين رضي الله عنه فرمـايي چې رسول الله ﷺ (يوه ورځ) خلقو تـه مونځ ورکړو د لمانځه په مينځ کې د حضور ﷺ څخه سهوه وشوه[۲] نو د سلام ګرځولـو سـره يـې دوه سـجدې وکـړې د هغـه څخـه وروسـته حـضور ﷺ التحيـات وويلـه [او سـلام يـې وګرځولو]، [۳] امام ترمذي رحمه الله دا حديث نقـل کـړي او ويلـې يـې دی چـې دا حـديث حسن غريب دي.

حل اللغات:- ① فَسَهَا: هيره ترې اوشوه.

[1]) اخرجه البخاری کتاب الاذان/ باب من لم یر التشهد الأول واجبا لأن النبی صلی الله علیه وسلم: «قام من الرکعتین ولم یرجع» (رقم- ۸۲۹) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب السهو فی الصلاة والسجود له (رقم) ۸۵ - (۵۷۰) وابوداود کتاب الصلاة،باب من قام من ثنتین ولم یتشهد (رقم-۱۰۳٤) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سجدتی السهو قبل السلام (رقم-۳۹۱) والنسائی کتاب السهو/باب ما یفعل من قام من اثنتین ناسیا ولم یتشهد (رقم-۱۲۲۲) والدارمی کتاب الصلاة/باب إذا کان فی الصلاة نقصان (رقم-۱٥٤۰)

[2]) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التشهد فی سجدتی السهو(رقم-۳۹۵)

تسهیلات:- قوله: فَسَهَا:

د مذکوره جملې مطلب:- په دې حدیث کښې د مونځ هغه رکن بیان نه کړې شو په کوم کښې چه د حضورپاك ﷺ مبارکه نه هیره شوې وه. صرف د هیریدو ذکر دې "تشهد" د دې حدیث نه معلومه شوه چه د سجده سهو کولو نه پس د نوې سر نه التحیات وئیل پکار دی او د پوره التحیات نه پس سلام ګرځول پکار دی.

د تشهد څخه روسته د درود او سلام په محل کښې دوه اقوال:- ① امام کرخی رحمه الله او صاحب هدایه دا خوښ کړی دی چه د سجده سهو نه پس تشهد سره درود او دعا اوونیلې شی. د احنافو هم په دې باندې عمل دې.

② بعضې احنافو اول تشهد سره د لوستلو وئیلی دی بعضو دواړو کښې لوستلو ته بهتر او احوط وئیلی دی.

۱۰۲۰-په قعده کښې د سهو صورت

۱۰۲۰-()[۷] ① وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② «إِذَا قَامَ الْإِمَامُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ، ③ فَإِنْ ذَكَرَ قَبْلَ أَنْ يَسْتَوِيَ قَائِمًا فَلْيَجْلِسْ، ④ وَإِنِ اسْتَوَى قَائِمًا فَلَا يَجْلِسْ ⑤ وَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① مغیره ابن شعبة رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② هر کله چې امام دوه رکعاته کولو سره (په اولنې قعده کې د ناستې نه بغیر د دریم رکعت د پاره) ودریږي ③ نو که د سیده ودریدو څخه مخکې ورته را یاد شي نو هغه ته پکار دي چې هغه (د قعدې د پاره) کیني ④ او که سیده ودریدلی وي (او د دې څخه وروسته هغه ته را یاد شي) نو هغه دې (اوس) نه کیني ⑤ او (په آخري قعده کې) د سهو دوه سجدې دې وکړي. (ابوداؤد، ابن ماجه.)

تسهیلات:- قوله: فَلَا يَجْلِسْ:

د اولې قعدې څخه دریم رکعت ته د پورته کیدو دوه صورتونه:- ① که مونځ ګذار قعده اولی پریږدی پوره او دریږی نو اوس د هغه خائی نه د قعده طرف ته واپس راتلل منع دی بلکه بعض علماؤ وئیلی دی مونځ به ئې ماتیږی ځکه چه دا سرې د قیام د فرض نه د واجب طرف ته منتقل شو په کوم سره چه مونځ فاسد کیږی. لیکن د نورالایضاح او د دې په حواشی کښې لیکلی دی چه دا صورت خو ډیر خطرناك دې خو که چا د اسې اوکړه نو مونځ به ئې نه فاسدیږی ځکه چه دغه سرې د قیام فرض ترك نه کړل بلکه په دې کښې تاخیر او کړو او د قعدې نه پس بیا هم د دغه قیام طرف ته تللو سره ئې اداکړل

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب من نسی أن یتشهد وهو جالس (رقم-۱۰۳۶) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة والسنة فیها/باب ما جاء فیمن قام من اثنتین ساهیا(رقم-۱۲۰۸)

③ که دا سرې پوره ولاړنه وی او قیام ته نیزدې هم نه وی بلکه قعده ته نیزدې وی نو دوله واپس قعدې طرف ته راګرځیدل پکاردی.

د اقرب الی القیام والقعود اندازه: - دَ اقرب الی القیام والقعود څه معیار دې اودَ دې حد څه دې نوعلماء لیکلی دی چه مثلاً دَ پاسیدو په وخت که دَ دغه سړی خپې لا پوره نیغې شوی نه دی نودا اقرب الی القعود دې په دې صورت کښې هیڅ مضائقه نشته خپل مونځ دې مکمل کړی اوکه دَپاسیدو په وخت خپې نیغې کړې نو باقی بدن سره دَدې چه کوګ وی خودا سړې اقرب الی القیام دې اوس راګرځیدل جائزنه دی او سجده سهولازم ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۱۰۲۱ - د ماز یګر مونځ درې رکعته کولو صورت

۱۰۲۱ - ()[۸] ① عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - صَلَّى الْعَصْرَ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ، ② ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَهُ ③ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْخِرْبَاقُ وَكَانَ فِي يَدَيْهِ طُولٌ، ④ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! فَذَكَرَ لَهُ صَنِيعَهُ ⑤ وَخَرَجَ غَضْبَانَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَى النَّاسِ ⑥ فَقَالَ: أَصَدَقَ هٰذَا؟ قَالُوا نَعَمْ، ⑦ فَصَلَّى رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① عمران ابن حصین رضی الله عنه فرمایي چې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ د مازیګر مونځ ورکړو او درې رکعاته کولو سره یې سلام وګرځولو ② او کور ته یې تشریف یوړو ③ یو سړې چې د هغه نوم خرباق وو او د هغه لاسونه لږ اوږده وو (یعنې ذوالیدین) ودریدو ④ او عرض یې وکړو چې یا رسول الله ﷺ او هغه (یعنې ذوالیدین) واقعه بیان کړه (یعنې درې رکعاته کولو سره د سلام ګرځولو په باره کې یې ذکر وکړو) ⑤ د دې اوریدو سره حضور ﷺ په غصه کې خپل څادر مبارك راښکلو سره بهر ووتلو او خلقو ته (په مسجد کې) ورسیدو ⑥ او وې فرمایل آیا ذوالیدین رښتیا وایي؟ صحابو رضی الله عنهم عرض وکړو چې رښتیا وایي ⑦ نو حضور ﷺ یو رکعت وکړو بیا یې سلام وګرځولو او د سهوه دوه سجدې کولو سره یې سلام وګرځول، (مسلم)

حل اللغات: - ① مَنْزِلَهُ: أي حُجْرَتَهُ: کورخپل ته. ② صَنِيعَهُ: عمل د نبی کریم ﷺ (چې په مانځه کښې خطاکیدل وو.

تسهیلات: -

قوله: صَلَّى الْعَصْرَ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ:..

[1]) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب السهو فى الصلاة والسجود له (رقم) ۱۰۱ - (۵۷٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب فيمن سلم من ثنتين أو ثلاث ساهيا (رقم-۱۲۱۵)

دنبی کریم ﷺ څخه په مانځه کښې د سهوې مقامات:-

① اوله قعده کښې ،لکه څنګه چې د حضرت عبدالله بن بجینه ﷛ روایت کښې دی.
② آخری دوؤ رکعتونو کښې لکه څنګه چې د ذوالیدین په واقعه کښې دی.
③ آخری رکعات کښې لکه څنګه چې دحضرت خرباق ﷛ په مذکوره روایت کښې دی.
④ د پنځم رکعت زیاتوالی سره ،لکه څنګه چې د عبدالله بن مسعود ﷛ روایت کښې دی.

۱۰۲۲–په مانځه کښې د کمو رکعتونو شک واقع کیدو حکم

۱۰۲۲–()[۹] ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "② «مَنْ صَلَّى صَلَاةً يَشُكُّ فِي النُّقْصَانِ، ③ فَلْيُصَلِّ حَتَّى يَشُكَّ فِي الزِّيَادَةِ» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① عبدالرحمن ابن عوف ﷛ فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي ② چې کوم سړي ته چې په لمانځه کولو کې د کمي شك شي ③ نو هغه ته پکار دي چې هغه نور وکړي تر دې چې د زیاتي شك یې شي. (احمد)

تسهیلات:-

نوټ:- ددې حدیث تسهیل په تفصیل سره بل ځائې کښې ذکر دې.

[۳۷/۲۱] بَابُ سُجُودِ الْقُرْآنِ

د قرآن د سجدو بیان

خلاصة الباب:-

فیه خمسة عشر حدیثاً مشتملة علی خمس مسائل:

① مواضع سجود التلاوة في القرآن: ۱، ۲، ۵، ۷، ۸، ۱۴، ۱۵.
② وجوب سجدة التلاوة بالسماع: ۳، ۹، ۱۰.
③ ترك سجود السهو في بعض الصور: ۴، ۱۱.
④ عدد سجود التلاوة: ۶.
⑤ الذکر المسنون في سجدة التلاوة : ۱۲، ۱۳.

د تلاوت د سجدې د قرآن څخه ثبوت:-

① وقال الله تعالی ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ﴾ (سورت حج) [حج: ۷۷]
② قال الله تعالی ﴿وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ۩﴾ (سورت انشقاق) [انشقاق: ۲۱]

[1] اخرجه احمد فی المسند ۱/۱۹۵

د سجده تلاوت په حکم کښې مذاهب:-

① د درې واړه امامانو په نیز سجده دَ تلاوت سنت ده. ② د امام ابوحنیفه رحمه الله دا سجده واجب ده

د سجده تلاوت طریقه:- دَ تلاوت سجده کولو کښې صرف یوه سجده ده مګر دوو تکبیرونو سره ده. یو تکبیر دَتلو په وخت او دویم تکبیر دَ سجده نه پاسیدو په وخت ده. دَدې سجدې دَپاره غوړونو پورې دَ لاسونو اوچتولو ضرورت نشته دې. دغه شان تشهد او سلام هم ضرورت نشته دې. تکبیر لوستلو سره پاسیدل پخپله سلام دې. دَ تلاوت دَ سجدې دَپاره نیت وی مګر دآیت دَ تعین ضرورت نشته او کوم وخت چه آیت اولوستلو او فوراً ئې سجده اوکړه نو دَ نیت هم ضرورت نشته دې.

د سجده تلاوت د صحت شرطونه:- دَ سجده تلاوت دَپاره په اودس کښې کیدل قبله ته مخ کول دَ کپړو صفا کیدل او ستر اوپردې کیدل ضروری دی لکه چه په مانځه کښې ضروری دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۱۰۲۳—په سورة نجم کښې سجده

۱۰۲۳—(¹)[۱]① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَجَدَ (بِالنَّجْمِ)② وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ»، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:① ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي چې رسول الله ﷺ په سوره نجم کې سجده وکړه② نو د حضور ﷺ سره مسلمانانو، مشرکانو، جناتو او ټولو سړو (هم) سجده وکړه. (بخاري)

تسهیلات:-

قوله: وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ:

په تالی او سامع دواړو د سجدې وجوب:- یعنی حضورپاک ﷺ دَ سورت نجم دَ سجدې والا آیت اولوستلو نو حضورپاک ﷺ سجده اوکړه او ورسره مسلمانانو هم سجده اوکړه. دَ کوم نه چه ثابته شوه چه دَ تلاوت سجده لوستونکو او او اوریدونکو ټولو باندې یو شان سجده واجبیږی.

قوله: وَالْمُشْرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ:

د ټولو په سجده کولو کښې درې اقوال:- ① یعنی مشرکانو، پیریانو او انسانانو هم سجده اوکړه یعنی دَ تکوین په توګه ټول الله تعالی په سجده کښې راګذار کړل اودَ قرآن کریم اعجاز ښکاره شو.

---

¹) اخرجه البخاری کتاب الجمعة/ باب «فاسجدوا لله [ص:۱٤۲] واعبدوا» [النجم: ٦۲] (رقم-٤۸٦۲) والترمذی کتاب السفر/باب ما جاء فی السجدة فی النجم (رقم-۵۷۵)

③ حضورپاك ﷺ دَ الله تعالی په حکم سره سجده اوکړه، مسلمانانو دَ رسول الله ﷺ په اطاعت کښې سجده اوکړه. ټولو حاضرینو سجده اوکړه که هغه دَ جناتو نه وو اوکه دَ انسانانو نه وو څوك هم چه هلته حاضر وو ټولو سجده اوکړه.

③ چه مشرکانو کله دَ الله تعالی نعم باهره او قدرت کامله اوکتلو او وایوریدو نو په هغوی باندې سطوت الهی اودَ عظمت لایزال داسې اثر پریوتلو چه هغوی بغیر دَ اختیار نه په سجده کښې راپریوتل.

د مشرکانو د سجدې کولو په سبب کښې موضوعی قول:- ابلیس دَ حضورپاك ﷺ دَ لوستلو نه پس آواز ورکړو "تلك الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترجى" دې اوریدو سره کافران خوشحال شو او په سجدو کښې راپریوتل. مګر راجح دادی

د قول مذکور تردید:- دَ غرانیق دا دَ ځان نه جوړه شوې قصه دَ نبوت دَ شان خلاف ده. زنادقه دَ ځان نه جوړه کړې ده اوتقریبًا ټولو قابلِ اعتماد مفسرینو حضراتو دې ته غیر ثابت او غلط وئیلی دی.

۱۰۲۳- د سورة انشقاق او د سورة علق سجدې

۱۰۲۳-(۱)[۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «سَجَدْنَا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي: ﴿إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ﴾ [الانشقاق:١] وَ ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ [العلق:١]» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه فرمایي ② چې مونږ د رسول ﷺ سره (په سورة انشقاق یعني) اذَا السَّمَاءُ انشقّت او (په سورة علق یعني) اِقرأ بِاسم رَبِّكَ کې سجده وکړه. (مسلم)

تسهیلات:-

د قرآن پاک د سجدو سورتونه:- ① سورت اعراف ② سورت رعد ③ سورت نحل ④ سورت بنی اسرائیل ⑤ سورت مریم ⑥ سورت حج دویمه رکوع کښې ⑦ سورت فرقان ⑧ سورت نمل ⑨ الم تنزیل السجده ⑩ سورت ص ⑪ سورت حم الجسده ⑫ سورت نجم ⑬ سورت انشقاق سورت علق

قوله: فِي إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ:

د سجدو په تعداد او مقاماتو کښې د اختلاف سبب:- دَ احادیثونه مختلف سورتونو کښې سجدې ثابت شوی دی لیکن په بیان کښې تفاوت دې. بعض روایاتو کښې دَ سجدې تعین

[1] اخرجه مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب سجود التلاوة (رقم- ۱۰۷ - (۵۷۸) والترمذی باب فی السجدة في: ﴿اقرأ باسم ربک الذی خلق﴾ [العلق: ۱] ، و ﴿إذا السّماء انشقت﴾ [الانشقاق: ۱] (رقم-۵۷۳) والنسائی کتاب الافتتاح/باب السجود فی إذا السماء انشقت (رقم-۹۶۳) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب عدد سجود القرآن (رقم-۱۰۵۸)

يوشان دي اوبعض رواياتو كښې په بل انداز سره دي. په دې وجه دَ قرآن كريم دَسجدو تعداد كښې او دَ سجدو په مقاماتو كښې دَ فقهاء كرامو لږشان اختلاف دې.

د قرآنی سجدو په تعداد او مواضع كښې مذاهب:-

① دَامام مالك رحمه الله په نيز مفصلات يعنې سورت نجم، سورت انشقاق او سورت علق كښې سجده نشته دې لهذا دَهغوی په نيز دَ سجدوتعداد يولس دې.

② دَامام شافعي رحمه الله په نيزپه قرآن پاك كښې ټولې څوارلس سجدې دی ليكن دَ سورت په تعين كښې فرق دې هغوی فرمائی سورت "ص" كښې سجده نشته دې او په سورت حج كښې دَ يوې سجدې په ځائی دوه سجدې دی نو ټولې څوارلس سجدې شوې.

③ دَامام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز قرآن كښې ټولې پنځلس سجدې دی دوه په سورت حج كښې دَ شوافع په شان دوه سجدې منی او په سورت "ص" كښې هم دَ احنافو په شان سجده منی نو پنځلس سجدې شوې.

④ دَ احنافو په نيز په قرآن كښې ټولې څوارلس سجدې دی ليكن په سورت حج كښې يوه سجده ده او په سورت "ص" كښې هم سجده ده دغه شان ټولې څوارلس سجدې شوې.

د اول فريق اول دليل:- ① دَدوی مستدل د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت دې كوم چه دَ دويم فصل حديث نمبر ۱۱ دې الفاظ يې دا دی: "عن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی صلی الله عليه وسلم لم يسجد فی شئ من المفصل منذ تحول الی المدينة" (رواه ابوداؤد)

دَ سورت حجرات نه دَ قرآن دَ آخرې پورې ورو صورتونوته مفصلات وائی. لهذا دَ امام مالك رحمه الله په نيز درې سجدې كمې شوې نو يولس پاتې شوې.

داول فريق د اول دليل دوه جوابونه:- ① دَ ابن عباس رضی الله عنهما هغه روايت قابل استدلال نه دې. امام احمد بن حنبل رحمه الله او يحيی بن معين رحمه الله او ابوحاتم رحمه الله دا ضعيف ګرځولې دې دَدې په مقابله كښې دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت قوی دې په كوم كښې چه دَ مفصلات دَ سجدو ثبوت دې. ابن عبدالبر رحمه الله دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روايت ته منكروئيلې دې.

② دَ حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ روايت دَپاره ناسخ دې.

د اول فريق دويم دليل:- ② حضرت زيد بن ثابت رضی الله عنه روايت نمبر ۴ هم د دوی مستدل دې. چه حضور اكرم صلی الله عليه وسلم په سورت نجم كښې سجده اونه كړه.

داول فريق د دويم دليل جواب:- زر سجده نه كول دَعدم سجده دليل نه دې كيدې شی چه هغه وخت حضورپاك صلی الله عليه وسلم دَ څه عذر دَ وجې نه سجده نه وی كړې او روستوئی كړې وی ځكه چه په سجده تلاوت كښې تاخير كول نه ممنوع دی اونه مكروه.

د دويم فريق اول دليل:- ① دَ حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه روايت د دوی مستدل دې كوم

چې د دې باب حديث نمبر ۷ دې د کوم يوځو الفاظ چه دادي: "قلت يارسول الله فضلت سورت الحج بان فيها سجدتين قال نعم"

د دويم فريق داول دليل جواب:- ددې حديث مبارك ټول مدار په (۱) ابن لهيعة دې چه د هغه ضعف (۲) مشهور دې.

د دويم فريق دويم دليل:- د سورت "ص" د عدم سجده ې دپاره د دوى مستدل د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما حديث نمبر ۵ دې په کوم کښې چه دا الفاظ دى "سجدة ص ليس من عزائم السجود".

د دويم فريق د دويم دليل جواب:- پخپله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د روايت په آخره کښې د حضرت مجاهد رحمه الله په حواله سره د سورت "ص" د سجدې ثبوت او وجوب مذکوردې. لهذا د دې روايت د شروع د الفاظ مطلب دادې چه "ليس من عزائم السجود" يعنى فرض نه دې بلکه واجب دې يا سنت دى مگرثابت دى. لهذا د دې نه د شوافع استدلال صحيح نه دې. هم پخپله د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه په دې باب کښې د فصل ثالث آخرى حديث نمبر ۱۵ نه د سورت "ص" د سجده ثبوت منقول دې حضورپاك صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى "سجدها داؤد توبة ونسجدها شكرًا" د دې نه پس د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما "ليس من عزائم السجود" محتمل الفاظ نه يوثابت شوې سجده نه انکارکول ډير زيات بعيد معلوميږى حالانکه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه اوحضرت ابن عمر رضي الله عنهما به د دې سجدې اهتمام کولو.

د دريم فريق اول دليل:- د دوى مستدل د فصل ثانى د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه حديث دې په کوم کښې چه په واضحه توګه دا الفاظ موجود دى "خمس عشرة سجدة فى القرآن منها ثلاث فى المفصل وفى سورت الحج سجدتين" (ابوداؤد ابن ماجه)

د دريم فريق د اول دليل جواب:- دسورة حج دويمه سجده داسې ده چه دې کښې درکوع اود سجود دواړو په ځانې حکم ورکړې شوې دې (۳) اوقران کريم اسلوب دادې چه کوم ځانې سجده تلاوت وى هلته صرف د سجدې ياصرف درکوع ذکر (۴) وى.اوچه

---

(۱) والحديث رواه احمد وابوداود والدار قطنى والحاكم والبيهقى ايضا كلهم من طريق ابن لهيعة كذا فى المعارف (ج/ ۵ ص/ ۸۱) مرتب عفى عنه)-

(۲) د ابن لهيعه باره کښې درس ترمذى کښې په اول کښې تير شوى دى) مرتب عفي عنه-(

(۳) لکه ارشاد دې چه﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱرْكَعُوا۟ وَٱسْجُدُوا۟ وَٱعْبُدُوا۟ رَبَّكُمْ وَٱفْعَلُوا۟ ٱلْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۩ ﴿۷۷﴾ ﴾ ايت نمبر ۷۷ پاره نمبر ۱۷ مرتب عفى عنه)

(۴) لکه چه په ټولو روايتونو کښې صرف د سجدې ذکر دې البه په سورة صٓ کښې صرف د رکوع ذکر دې﴿. وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسْتَغْفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّ رَاكِعًا وَأَنَابَ ۩ ﴿۲۴﴾ ....

دواړو کوم ځائې جمع شوې وی نو هلته سجده تلاوت (۱) نه وی لکه (۲) يٰمَرْيَمُ اقْنُتِي لِرَبِّكِ وَاسْجُدِي وَارْكَعِي مَعَ الرّٰكِعِيْنَ

د دریم فریق دویم دلیل:- امام احمد رحمه الله دَ سورت "ص" سجده هم منی نو ټولې پنځلس شوې په دې باندې دَهغوی دلیل دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ مجاهد حدیث نمبر(۱۰۲۸) دې "قال مجاهد قلت لابن عباس اسجدة في ص فقرأ الخ" یعنی په سورت "ص" کښې سجده شته.

د دریم فریق دویم دلیل جواب:- د دې جواب هم په دې بحث کښې د دویم فریق د دویم دلیل جواب په عنوان سره هم نزدې تیر شوې دې.

د څلورم فریق دلائل:- ① ددوی دَ سورت "ص" دَ سجدې په ثبوت باندې هم دغه دَ ابن عباس رضی الله عنهما دَحدیث نمبر ۵ نه دَ مجاهد والا روایت نه استدلال کړې دې

② د سورت حج دَ یوې سجد په ثابتولو باندې د دوی نقلی دلیل دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت دې "عن ابن عباس قال في سجود الحج الاول عزيمة والآخر تعليم" (طحاوی ج۱ص ۲۴۹)

③ ابوحمزه هم دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت نقل کړې دې. "قال في الحج سجدة" یعنی په سورت حج کښې یوه سجده ده.

④ امام محمد رحمه الله په موطا محمد کښې دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما باره کښې داسې روایت نقل کړې دې. "كان ابن عباس لايري في سورة الحج الا سجدة واحدة الاولى"

⑤ دَ مجاهد رحمه الله اثر هم د دوی مستدل دې. الفاظ دادی "السجدة الاخرة في الحج انما هي موعظة ليست بسجدة"

⑥ عقلی دلیل دا دې. چه هلته دَ دووسجدوذکرېې شک موجود دې لیکن په دې کښې دویمه سجده صلوتیه ده تلاوتیه نه دې یعنی هغه دَمانځه والا سجده ده او په دې باندې قرینه هم دا ده څکه چه هغې سره دَ وارکعوا لفظ موجود دې.

د سجدتلاوت بعضې مسائل: فقهاؤ لیکلی دی چه دَ تلاوت په دوران کښې دَ سجدې نه بچ کیدلو دَپاره دَ سجدې والاآیت پریخودل مکروه دی. په مانځه کښې که دَ تلاوت سجده راشی نوسجده کول پکار دی. که په سجده باندې قراءت ختم کړې شی او رکوع ته لاړشی او هم په

← ...... فَغَفَرْنَا لَهُ ذٰلِكَ وَإِنَّ لَهُ عِنْدَنَا لَزُلْفَىٰ وَحُسْنَ مَآبٍ ﴿۲۵﴾ درکوع او دسجدې ذکر په یو آیت دسجدې کښې هم نشته دې س سوا د سورة حج نه او ددویمې متکلم فیه سجدې نه چه ددې سره متعلق ایت کښې د دواړو ذکردې ﴿ يٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿۷۷﴾ الایت نمبر ۷۷ پاره ۱۷ مرتب عفی عنه-(

۱) اوګورئی معارف القران (ج/ ۶ ، ص/ ۲۸۸) سورة الحج ایت نمبر ۷۷ مرتب عفی عنه-(

۲) ایت نمبر ۴۳ سورة ال عمران پاره فرمانی چه)-

رکوع دَ سجده تلاوت نیت هم اوکړی نو ادا به شی یا رکوع کښې نی نیت نه دې کړې بلکه دَ رکوع نه پاسیدو او سجدې ته لاړو نودې سجدې په ضمن کښې دَ تلاوت والا سجده هم اداکیږی. انورالایضاح ۱۱۵]

فائده:- دَ فقه کتاب نورالایضاح کښې لیکلی دی که یوسړې دَ قرآن کریم ټول دَسجدو والا آیاتونه په یوځائی کښې قبله ته مخ کړې کیناستو سره اولولی او په هرآیت باندې سجده دَ تلاوت اوکړی اوبیا دَ خپل هریوجائز حاجت دَپاره دعا اوغواړی نو الله تعالی دَغه حاجت پوره کوی مجرب ده.

۱۰۲۵- دسجده تلاوت حکم

۱۰۲۵-()[۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْرَأُ (السَّجْدَةَ) وَنَحْنُ عِنْدَهُ [۳] فَيَسْجُدُ، وَنَسْجُدُ مَعَهُ، [۴] فَنَزْدَحِمُ حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهِ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر ﷺ فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به د سجدي (یو آیت) ویلو او مونږ به حضور ﷺ ته نزدې وو [۳] کله چې به حضور ﷺ سجده کوله نو مونږ به هم د حضور ﷺ سره سجده کوله [۴] او (هغه وخت به) زمونږ د خلقو دومره اژدهام (ګڼه ګونه) وه چې په مونږ کې به بعضو د تندي لګولو د پاره د سجدي کولو ځاي هم نه موندلو. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ① فَنَزْدَحِمُ: أَيْ: نَجْتَمِعُ حَيْثُ ضَاقَ الْمَكَانُ عَلَيْنَا: مونږ دومره راجمع شو چه ګڼه جوړه شوه.

تسهیلات:-

قوله: وَنَسْجُدُ مَعَهُ، فَنَزْدَحِمُ:

د سجده تلاوت د وجوب دلیل:- یعنی دَ ګنړې دَ وجې نه به په زمکه دَ سر کیخودو ځائی نه ملاویدو (نومونږ به سجده نه پریخودله بلکه دَیوبل په شا به موسجده کوله) دَدې روایت نه دَ سجدهٔ تلاوت واجب کیدو ثبوت ملاویږی.

د سجده تلاوت په حکم کښې مذاهب:-

په دې مقام کښې د سجده تلاوت د حکم بحث کولې شی.

① دَ ائمه ثلاثه په نیز سجده دَ تلاوت سنت ده صاحبین هم جمهورو سره دی.

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز سجده دَ تلاوت واجب علی التراخی ده واجب فی الفور نه ده یعنی واجب ده لیکن تاخیر سره اداکیدې شی.

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الجمعة/ باب ازدحام الناس إذا قرأ الإمام السجدة (رقم-۱۰۷۶) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب سجود التلاوة (رقم- ۱۰۴ - (۵۷۵)

داول فریق دلائل:- ① هغه ټول روایات د دوی مستدلات دی دَ کومو نه چه معلومیږی چه بعضې وخت نبی کریم ﷺ دَ سجدې آیت تلاوت کړې او سجده ئی نه ده کړې. نو سجده نه کول دَ دې خبرې دلیل دې چه دا واجب نه ده. چنانچه دَ حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه روایت نمبر۴ کښې "فلم یسجدہ" الفاظ موجوددی.

د اول دلیل دوه جوابونه:- ① هم دَ دغه سورت نجم دَ سجدې باره کښې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائی چه حضورپاك ﷺ ، مسلمانانو، عامو انسانانو او پیریانو ټولو سجده اوکړه. نودَ حضرت زید رضی الله عنه دَ روایت مطلب به دا اخستې شی چه فوری توګه باندې حضورپاك ﷺ سجده اونه کړه روستو ئی اوکړه. احناف هم دَ واجب علی الفور قائل نه دی بلکه دَ واجب علی التراخی قائل دی.

② دَ جواز دَ بیانولو دَپاره تاخیر کړې.

داول فریق دویم دلیل:- ② دَ حضرت عمر رضی الله عنه اثرهم د دوی مستدل دې کوم چه ترمذی کښې ذکردې الفاظ ئی داسې دی: ((ان الله لم یکتب علینا السجود الاان نشاء)) دَدې روایت نه صفا معلومیږی چه حضرت عمر رضی الله عنه دَتلاوت سجده فرض یا واجب نه ګڼړله.

داول فریق د دویم دلیل جواب:- دَ مرفوع حدیث په موجودګئی کښې اثر نه شی پیش کولې. په اثر کښې دَ تاویل اوخصوصی احوالو څه وجه کیدې شی. اودَ مسلم دَ مرفوع حدیث په حکم کښې دَ هیڅ تاویل ګنجائش نشته دې.

د دویم فریق دلائل:- ① دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې دَ کوم الفاظ چه دادی: ((اذاقرءابن آدم السجدة اعتزل الشیطان یبکی یتول یاویله امر ابن آدم بالسجود فسجد فله الجنة وامرت بالسجود فابیت فلی النار)) (مسلم)

طریقه د استدلال:- په دې حدیث کښې دَ تلاوت دَ سجدې دَپاره "امر" لفظ راغلې دې یعنی بنیادم ته دَ سجدې حکم الله تعالی ورکړې دې. دا دَ وجوب دلیل دې. بل په دې روایت کښې دَ سجدې په ترك کولو باندې دَ اور وعید اوروِلې شوې دې کوم چه دَ واجب په ترك کولو باندې کیدې شی. دا قول که چرې دَ شیطان دې لیکن حضورپاك ﷺ چه کله نقل کړو او په دې باندې سکوت اوفرمائیلو نواوس دا یو مرفوع مستند حدیث دې دَ کوم نه چه احنافو استدلال کړې دې.

② زیر بحث روایت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دی دَ سختې ګنړې او سختې ډیروالی دَ خلقو صحابه کرامو به دَ تلاوت سجده کوله اودائی ضروری ګنړله کوم چه د وجوب دلیل دې.

③ دَ قرآن دَ سجدې والا هغه آیاتونه دی په کوم کښې چه دَ امر صیغې راغلی دی او سجده نه کولو باندې سخت وعید اوروِلې شوې دې. بل دَ کافرانو دَ سجدې نه په انکار کولو

باندي دَهغوی مذمت بیان کړې شوې دې او مسلمانانوته دَ هغه انبیاء کرامو اتباع اودَ هغوی په نقش قدم باندې دَ تللو دَ پاره ونیلی شوی دی. دا ټول داسې امور دی دَ کوم په نتیجه کښې چه سجده کول واجب کیدې شي.

⑤ دې خبرې ته هم کتل پکار دی چه مونځ څومره اهم عبادت دې بیا په دې کښې قیام اوقرأت فرض دې دَدې فرض دوران کښې که دَ سجدې والاآیت راخی نودَ شریعت حکم دې چه فرض موقوف کړه اول سجده اوکړه. دا اهتمام او انتظام دَدې خبرې ښکاره ثبوت دې چه دَ تلاوت سجده واجب ده.

۱۰۳۶—په سورة نجم کښې د سجدې نفی

۱۰۳۶—(۱)[۴] ①وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«قَرَأْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- (وَالنَّجْمِ)، فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:① زید بن ثابت ﷛ فرمایي② چې ما د رسول الله ﷺ په مخکې د سورة نجم تلاوت وکړو او حضور ﷺ په هغې کې سجده ونه کړه. (بخاري مسلم)

تسهیلات:-

قوله: فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا

دامام مالک د مذهب مستدل:—په دې مقام کښې نبی کریم ﷺ سجده نه ده کړې اودامام مالک مذهب دې چې په مفصلات کښې سجده نشته.

د مستدل ځخه دوه جوابونه:—د دې ځخه دا نه لازمیږی چې نبی کریم ﷺ به روسته هم سجده نه وی کړې کیدې شی روسته ئې کړې وی ځکه چې سجده علی الفور واجب نه ده.

② په حدیث نمبر ۱۰۳۷ کښې راغلی دی چې نبی کریم په سورة نجم کښې سجده کړې وه او دا قانون دی چې کله نفی او اثبات راشی نو ترجیح به اثبات لره وی.

۱۰۳۷—د سورة ص سجده

۱۰۳۷—(۲)[۵] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«سَجْدَةُ (ص) لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُودِ، ③وَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَسْجُدُ فِيهَا».

ترجمه:① د ابن عباس ﷛ په بارکې روایت دې چې هغه وفرمایل② چې د سورة ص سجده د ډیر تاکیدي سجدو ځخه نه ده③ او ما رسول الله ﷺ په دې سورة کې په سجده کولو

[1] اخرجه البخاری کتاب الجمعة / باب من قرأ السجدة ولم يسجد(رقم- ۱۰۷۲) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب سجود التلاوة (رقم) ۱۰۶ - (۵۷۷) وابوداود کتاب الصلاة،باب من لم یر السجود فی المفصل (رقم-۱۴۰۴) والترمذی فی کتاب السفر/باب ما جاء من لم یسجد فیه (رقم-۵۷۶)

[2] اخرجه البخاری کتاب الجمعة / باب سجدة ص (رقم- ۱۰۶۹) والترمذی فی کتاب السفر/باب ما جاء فی السجدة فی ص (رقم-۵۷۷) والدارمی فی کتاب الصلاة/باب السجود فی ص (رقم-۱۵۰۸)

ليدلي دي

حل اللغات:- ①عَزَائِم:دا دعزيمة جمع ده، د زړه قصد ته وائى،أى الْحُكْمُ الثَّابِتُ بِالْأَصَالَةِ: چه مستقل طور سره ثابت وى.

تسهيلات:-

قوله: لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُودِ

دعزائم السجود مطلب:-ددې مطلب دادې چې د سورة صاد سجده په مؤكدو سجدو كښې نه ده .مطلب دادې چې دا فرض نه ده بلكه واجب ده.علماء كرامو ليكلى دى چې دا سجده نبى كريم ﷺ د حضرت داؤد عليه السلام په موافقت كښې كړې وه، كله چې حضرت داؤد عليه السلام د توبې په قبليدو د شكرانې په طور سجده كړې وه.

۱۰۲۸—(¹)[۰]①وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ مُجَاهِدٌ: قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ:②أَأَسْجُدُ فِي (ص)؟③فَقَرَأَ: ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَسُلَيْمَانَ﴾ [الأنعام:۸۴] حَتَّى أَتَى ﴿فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾ [الأنعام:۹۰]،④فَقَالَ: نَبِيُّكُمْ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِمَّنْ أُمِرَ أَنْ يَقْتَدِيَ بِهِمْ، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:① او په يو روايت كې دي چې د مجاهد بيان دي چه ما د ابن عباس رضی الله عنهما څخه پوښتنه وكړه② چې آيا زه په سورة ص كې سجده وكړم؟③ نو ابن عباس رضی الله عنهما دا آيت وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَسُلَيْمَانَ حَتّٰى أَتٰى بِهُدٰهُمُ اقْتَدِهْ، ووېلو④ او وې فرمايل ستاسو نبي ﷺ هم د هغه خلقو څخه دي چې هغوئ ته د مخكښنيو نبيانو د اتباع حكم وو. (بخاري.)

تسهيلات:- قوله: أَنْ يَقْتَدِيَ بِهِمْ

د اقتداء څخه مراد:-دحديث پاك د آخرى جملې مطلب دادې چې كله نبى كريم ﷺ د ماقبل انبياء كرامو په موافقت كښې سجده كوى نو مونږ ته پكار دى چې مونږ په طريق اولى د نبى كريم ﷺ دحكم اتباع اوكړو .نبى كريم ﷺ د انبياء سابقه متبع نه دې بلكه د هغوئ مقتداء دى، اود ټولو انبياء كرامو د كمالاتو جامع دى.لهذا قل بل ملة ابراهيم حنيفا كښې د اطاعت څخه مراد موافقت دې.اقتداء او اتباع نه ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۱۰۲۹—په قرآن كښې د سجدو شمار

۱۰۲۹—(²)[۲]①عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ:②«أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-

¹) اخرجه البخارى كتاب تفسير القرآن/ باب **قوله**: «أولئک الذين هدى الله فبهداهم اقتده_[الأنعام: ۹۰](رقم- ۴۶۳۲)

²) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب تفريع أبواب السجود، وكم سجدة في القرآن (رقم-۱۴۰۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب عدد سجود القرآن (رقم-۱۰۵۷)

خَمْسَ عَشْرَةَ سَجْدَةً فِي الْقُرْآنِ ۲ مِنْهَا ثَلَاثٌ فِي الْمُفَصَّلِ، وَفِي سُورَةِ (الْحَجِّ)، سَجْدَتَيْنِ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ عمرو ابن العاص رضی الله عنه وايي ۲ چې رسول الله ﷺ هغه (يعني عمرو ابن العاص رضی الله عنه) ته په قرآن کې پنځلس سجدې اولوستلې ۳ په هغه کې درې خو په مفصل سورتونو کې دي او دوه سجدې په سورة حج کې دي، (ابوداود، ابن ماجه.)

حل اللغات:- ① الْمُفَصَّل: مفصلات (د سورة حُجرات نه تر د قرآن آخره پورې سورتونه مراد دی.او دې ته مفصلات ځکه وائی چه په دې کښې د قرآن د ټولو مضامينو اجمال تفصيل سره ذکرشوي دي).

تسهيلات:-

قوله: وَفِي سُورَةِ (الْحَجِّ)، سَجْدَتَيْنِ

په سورة حج کښې د دوؤ سجدو کولو استحباب:- داحديث دَامام احمد رحمه الله دليل دي اوواضح تردليل دي هغه دَ پنځلسو سجدو قائل دې. احنافودَ يوځو نورو روايتونو او آثارو دَ وجې نه په سورت حج کښې دَ يوې سجدې قول کړې دې. که چرې په دې کښې په دوو سجدو باندې عمل اوکړې شی نواختلاف به ختم شی اوځه بنه کار به اوشی. فتح الملهم کښې علامه شبير احمد عثمانی رحمه الله خيال هم دې طرف ته دې دَ سورت حج دويمه سجده دَ حديث نه ثابته ده. بنده عاجز راقم الحروف دَدې نه وړاندې په دې باندې عمل نه دې کړې. آينده به ان شاء الله په دې حديث باندې عمل کوم اودَ سورت حج په دواړو سجدو باندې به عمل کيږي.

دَ مشکوة په بعض نسخوکښې قرأة په ځائی اقرأنی دې يعنی حضورپاك ﷺ ماته دَ لوستلو حکم اوکړو. دَدې لفظ دا يومطلب دې. بعض شارحينودا مطلب اخستې دې چه اقرأنی دَ اعلمنی په معنی کښې دې حضورپاك ﷺ ماته پنځلس سجدې اوخودلې دا مطلب زيات واضح دې.

۱۰۳۰- د دوو سجدو په وجه د سورة حج فضيلت

۱۰۳۰-(۱)[۷] ۱ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ فُضِّلَتْ سُورَةُ (الْحَجِّ) بِأَنَّ فِيهَا سَجْدَتَيْنِ؟ ۳ قَالَ: "نَعَمْ، وَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلَا يَقْرَأْهُمَا"»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، ۴ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، ۵ وَفِي "الْمَصَابِيحِ": "فَلَا يَقْرَأْهَا"، كَمَا فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

ترجمه: ۱ عقبه ابن عامر رضی الله عنه فرمايي ۲ چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ سورة حج ته ځکه فضيلت حاصل دي چې په دي کې دوه سجدي دي؟ ۳

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب تفريع أبواب السجود، وکم سجدة فی القرآن (رقم-۱۴۰۲) والترمذی باب فی السجدة فی الحج (رقم-۵۷۸)

رسول الله ﷺ وفرمایل هو، کوم سړي چې دا دواړي سجدي نه کوي هغه دي د دې دواړو سجدو آیتونه نه وایي، ابوداؤد ترمذي،۴ امام ترمذي رحمه الله فرمایي چه د دې حدیث اسناد قوي نه دي۵ او په مصابیح کې په مثل د شرح السنة فَلاَ يَقرآهُا (نو هغه دې دا سورت نه وایي) الفاظ دي.

تسهیلات:-

قوله: وَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلَا يَقْرَأْهُمَا:

د دویمې نسخې په رڼا کښې د حدیث مطلب:- د مشکوة د یو بله صحیح نسخه کښې د ((فلایقراهما)) په ځائې د ((فلمیقراهما)) الفاظ دی. د هغې نسخې په رڼا کښې به د حضرت نبی کریم ﷺ د ارشاد مطلب دا وی چې چا هغه دواړه سجدې او نه کړې نو ګویا که هغه هډو کړې نه وی، یعنی کله چې هغه په آیت مبارك باندې عمل اونه کړو نو د هغه ادا کول او نه ادا کول برابر دی.

۱۰۳۱- د سورة الم تنزیل سجده

۱۰۳۱-()[۸] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَجَدَ فِي صَلَاةِ الظُّهْرِ، ۲ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ، فَرَأَوْا أَنَّهُ قَرَأَ (تَنْزِيلَ السَّجْدَةِ)». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ ابن عمر رضي الله عنهما فرمایي چې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ د ماسپخین په لمانځه کې سجده وکړه ۲ او ودریدلو بیا یي رکوع وکړه او د خلقو دا ګمان وو چې رسول الله ﷺ سورة الم تنزیل السجده ویلي دي. (ابوداؤد.)

تسهیلات:-

قوله: فَرَكَعَ:

په مانځه کښې د سجدې کولو دوه صورتونه:-

① یعنی حضورپاك ﷺ سجده دَ تلاوت اوکړه اوکله چه واپس شونوبیائی فوراً رکوع اوکړه دَ سورت باقی حصه ئی اونه لوستله دا صورت هم جائز دې

② دویم صورت دا دې چې دَ سورت باقی حصه اولوستلې شی. اودا صورت زیات افضل دې

د نبی کریم ﷺ د اول صورت اختیارولو وجه:- کیدې شی چه حضورپاك ﷺ دَ جواز دَبیان دَ پاره داسې اوکړه. بل دا صورت افضل او اولی وو چه حضورپاك ﷺ سجدې ته لاړو نوسجده دَتلاوت به اداشی مګرمستقل سجدې ته تلل افضل دی حضورپاك ﷺ په افضل باندې عمل اوکړو. نن صباد حرمین شریفین ائمه هم دغه شان کوی.

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب قدر القراءة فی صلاة الظهر والعصر (رقم-۸۰۷)

۱۰۳۲—د سجده تلاوت په قاري او سامع دواړو باندې وجوب

۱۰۳۲—(¹)[۹]① وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْرَأُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ،② فَإِذَا مَرَّ بِالسَّجْدَةِ، كَبَّرَ وَسَجَدَ وَسَجَدْنَا مَعَهُ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:① ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې رسول الله ﷺ به زمونږ په مخکې قرآن ويلې② او کله چې به د سجدې يو آيت ته ورسيدې نو تکبير به يې ويلې او سجده به يې کوله او مونږ به هم د حضور ﷺ سره سجده کوله. (ابوداؤد)

تسهيلات:- قوله: كَبَّرَ

د سجده د تلاوت دپاره په تکبيرتحريمي اورفع اليدين کښې مذاهب:-

① شوافع حضرات د سجده تلاوت دپاره تکبيرتحريمه اولاسونوپورته کولو قائل دی.

② د تلاوت د سجدې دپاره دَاحنافو په نيز د تکبيرتحريمې اولاسونوپورته کولو ضرورت نشته.د سجدې دَ تلاوت ته تللودپاره الله اکبروئيل کافی دی

داول فريق دليل:- دَحضرت عائشه رضي الله عنها دَ روايت نه معلوميږی چه دَ سجده تلاوت دَپاره اودريدل اوالله اکبر وئيل افضل اومستحب دی.

د دويم فريق دليل:- دويم فريق د زيربحث حديث څخه استدلال کوی.په کوم کښې چې د تکبيرتحريمي او لاسونو پورته کولو ذکر نشته.

۱۰۳۳—په عام الفتح د سجدې کولو يوه واقعه

۱۰۳۳—(²)[۱۰]① وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَرَأَ عَامَ الْفَتْحِ سَجْدَةً،② فَسَجَدَ النَّاسُ كُلُّهُمْ، مِنْهُمُ الرَّاكِبُ وَالسَّاجِدُ عَلَى الْأَرْضِ،③ حَتَّى إِنَّ الرَّاكِبَ لَيَسْجُدُ عَلَى يَدِهِ»، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:① ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې رسول الله ﷺ د مکي د فتح په کال د سجدي (يو آيت اووئيلو② نو ټولو خلقو (د حضور ﷺ سره) د تلاوت سجده وکړه په سجده کونکو کې بعضې خو په سورلو باندې وو او بعضې په زمکه وو③ سوارلو والا په خپل لاس باندې سجده کوله. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① عَامَ الْفَتْحِ: أَيْ: فَتْحِ مَكَّةَ: يعنى دفتح مکې په کال.

تسهيلات:-

قوله: مِنْهُمُ الرَّاكِبُ وَالسَّاجِدُ عَلَى الْأَرْضِ

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی الرجل يسمع السجدة وهو راکب، وفی غير الصلاة (رقم-۱۴۱۳) وللدارمی کتاب الصلاة/باب السجود فی ص (رقم-۱۵۰۷)

²) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی الرجل يسمع السجدة وهو راکب، وفی غير الصلاة (رقم-۱۴۱۱)

د سجده تلاوت دوجوب دلیل: -ددې دلیل نه واضح دی چې سجده د تلاوت واجب ده ځکه که چرې واجب نه وې نو د سجدې به دومره اهتمام نه کیدو، که څوک په سورلۍ وو او که پیدل وو ټولو سجده اوکړه.

قوله: حَتّٰى إِنَّ الرَّاكِبَ لَيَسْجُدُ عَلٰى يَدِهِ

په لاسونو سجدې کولوجواز: - دحدیث مطلب دادې چې دا سوارهٔ پخپلو آسونو وغیره سوارهٔ وو ،هغوئ به خپل لاسونه په زین باندې کیخودل او سجده به ئې کوله.او دې سره به هغوئ ته لکه د زمکې پشان سختی ملاویده.حضرت ابن ملك رحمة الله علیه فرمائی چې ددې نه دا خبره ثابته شوه که یو کس څټ تیټ کړی او په خپلو لاسونو باندې سجده اوکړی نو دهغه سجده به جائز وی.

۱۰۳۴-په مفصل سورتونو کښې سجدې

۱۰۳۴-()[۱] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، ۲ «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمْ يَسْجُدْ فِي شَيْءٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ ۳ مُنْذُ تَحَوَّلَ إِلَى الْمَدِينَةِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي ۲ چې رسول الله ﷺ د مفصل په سورتونو کې په هيڅ سورت کې سجده ونه کړه ۳ دکله نه يې چې مديني ته تشريف راوړلو. (ابوداؤد.)

حل اللغات: - ① مُنْذُ: د افعال مقاربه نه دې ② تَحَوَّلَ: چه راواپس شو، تشريف ئې راوړو.

تسهیلات: -

تعارض: -ددې روایت څخه په واضحه توګه ثابتیږی چه حضورپاك ﷺ په مفصلات کښې سجده د تلاوت نه ده کړې. اود حضرت ابوهریره رضي الله عنه حدیث نمبر ۱۰۲۴ ۲ څخه معلومه ده چې مفصلات کښې حضور پاك سجده کړې

د تعارض لرې کولو د ترجیح درې طریقې: -

① دحضرت ابوهریره رضي الله عنه د روایت نه د اثبات اړخ راوځی اود حضرت ابن عباس رضي الله عنهما د روایت نه دنفی اړخ او په وخت دتعارض اثبات په نفی باندې مقدم وی ځکه چه په اثبات کښې څه زیاتی علم وی.

② جمهورو دحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت راجح ګرځولې دې ځکه چه حضرت ابوهریره رضي الله عنه په کال ۷ هجری کښې ایمان راوړلې دې دهغه قول اوفعل متاخردې چه د سابقه حکم دپاره ناسخ جوړیدې شی.

③ دحضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت د صحت او قوت په اعتبارسره اعلی او اولی دې لهذا راجح دې.

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب من لم یر السجود فی المفصل (رقم-۱۴۰۳)

۱۰۳۵- د سجده تلاوت تسبيح

۱۰۳۵-(۱) [۱۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ: [۳] " سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ، [۴] وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ» "، رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، [۵] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د شپې د قرآن په سجدو كښې دا تسبيح ويلي [۳] سَجَدَ وَجْهِيْ لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ: زما مخ هغه ذات ته سجده وكړه چې هغه دا پيدا كړې دې [۴] او په خپل قوت او قدرت سره يې ورته غوږونه او ستركې جوړې كړي دي، ابوداؤد ترمذي نسايي، [۵] او امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي چې دا حديث حسن صحيح دي.

حل اللغات:- ① شَقَّ: أَيْ: فَتَحَهُمَا: شق خيرلو او شلولوته وائي دلته ترې مراد د اوريدلو او ليدلو قابل كيدل مراد دى. ② بِحَوْلِهِ: أَيْ: بِصَرْفِهِ: په خپل تصرف او قدرت سره،

تسهيلات:-

قوله: يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ

فائده:- كوم سړې چه دا دعا وئيلې شي خوتيك ده كنې دَ احنافو په نيز دَ تلاوت په سجده كښې "سبحان ربى الاعلى" كافى دي.

۱۰۳۶- د سجده تلاوت دعا

۱۰۳۶-(۲) [۱۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! [۳] رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ وَأَنَا نَائِمٌ كَأَنِّي أُصَلِّي خَلْفَ شَجَرَةٍ، [۴] فَسَجَدْتُ، فَسَجَدَتِ الشَّجَرَةُ لِسُجُودِي، فَسَمِعْتُهَا تَقُولُ: [۵] اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا، [۶] وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا، [۷] وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا، [۸] وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنه فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) يو سړي د حضور ﷺ په خدمت كې حاضر شو او عرض يې وكړو چې يا رسول الله ﷺ! [۳] ما نن شپه خپل ځان په خوب كې وليدلو لكه چې د يوې ونې لاندې مونځ كوم [۴] او دا مې هم وليدل چې كله ما سجده تلاوت وكړه نو هغه ونې هم زما سره د سجدې په وخت سجده وكړه نو ما دا واوريدل چې هغه ونې دا دعا كوله: [۵] اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ ذُخْرًا وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ، (اي الله زما د پاره د دې سجدې ثواب د ځان سره وساته

---

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب ما يقول إذا سجد (رقم-۱٤۱٤) والترمذى كتاب السفر/باب ما يقول فى سجود القرآن (رقم-۵۸۰)

[2] اخرجه الترمذى فى كتاب السفر/باب ما يقول فى سجود القرآن (رقم-۵۷۹)

[۶] او د دې په وجه زما ګناه معاف کړې[۷] او دا سجده زما د پاره د ځان سره ذخيره جوړه کړې[۸] او زما څخه دا سجده داسې قبوله کړې څنګه چې دې د خپل بنده داؤد عليه السلام څخه قبوله کړې ده.

حل اللغات:- ① رَأَيْتُنِي: أَيْ: أَبْصَرْتُ ذَاتِي الْبَارِحَةَ: تيره شپه مې خپل ځان په خوب کښې اوليدلو.
② أَجْرًا: أَيْ: عَظِيمًا: ډير ثواب. ③ وِزْرًا: أَيْ: ذَنْبًا ثَقِيلًا جَسِيمًا: بوج يعنى دګناه درروند پيتې، ④ ذُخْرًا: أَيْ: كَنْزًا ضَخِيمًا: لويه ذخيره او خزانه.

[۱] قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: فَقَرَأَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ،[۲] فَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَقُولُ مِثْلَ مَا أَخْبَرَهُ الرَّجُلُ عَنْ قَوْلِ الشَّجَرَةِ، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ،[۳] وَابْنُ مَاجَهْ، إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: وَتَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ»،[۴] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې رسول الله ﷺ دا دعا د ويلو په غرض سره هم په هغه مجلس کې يا وروسته د سجدې د آيت ويلو سره سجده تلاوت وکړه[۲] او ما د حضور ﷺ نه د دعا هغه کلمات واوريدل چې هغه سړي د اوني څخه نقل کړي وو يعنى حضور ﷺ هغه دعا وويله، ترمذي،[۳] دا روايت ابن ماجه هم نقل کړې دې خو د هغه په روايت کې وَتَقَبَّلْهَا كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ، الفاظ نشته[۴] او امام ترمذي فرمايلي دي چې دا حديث غريب دي.

تسهيلات:-

قوله: فَقَرَأَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ

دسجدې د آيت څخه مراد:- ددې حديث څخه معلوميږي چې هغه کس به د سورة صاد د سجدې والا آيت لوستې وى، اود نبى کريم ﷺ باره کښې دى چې نبى کريم ﷺ هم دسورة صاد آيت اولوستو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۱۰۳۷- د سورة نجم سجده

۱۰۳۷-(۱)[۱۴] [۱] عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَرَأَ: وَالنَّجْمِ،[۲] فَسَجَدَ فِيهَا، وَسَجَدَ مَنْ كَانَ مَعَهُ،[۳] غَيْرَ أَنَّ شَيْخًا مِنْ قُرَيْشٍ أَخَذَ كَفًّا مِنْ حَصًى - أَوْ تُرَابٍ - فَرَفَعَهُ إِلَى جَبْهَتِهِ،[۴] وَقَالَ: يَكْفِينِي هَذَا،[۵] قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا»، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ،[۶] وَزَادَ الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ: وَهُوَ أُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ.

[۱] اخرجه البخارى كتاب الجمعة / باب سجدة النجم (۱۰۷۰) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة / باب سجود التلاوة (رقم) ۱۰۵ - (۵۷۶) وابوداود كتاب الصلاة باب من رأى فيها السجود (رقم-۱۴۰۶)

ترجمه: [۱] عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ (يوه ورځ) سورة نجم تلاوت کړو[۲] او په هغه کې يې سجده وکړه کوم خلق چې ورسره وو هغوئ هم سجده وکړه[۳] خو د قريشو يو بوډا سنګريزي يا د خاورو يو موټې راخستو او په خپل تندي يې ومږل[۴] او وي ويل زما د پاره دا کافي ده[۵] ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي چې د دې واقعې څخه وروسته ما وليدل چې هغه سړي د کفر په حالت کې قتل کړې شو، بخاري مسلم،[۶] او بخاري رحمه الله په يو روايت کښې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې هغه بوډا اميه بن خلف وو.

حل اللغات:- ① شَيْخًا: أَيْ: كَبِيْرَالسِّنِّ: بوډا سړې، ② حَصًى: کانړي.

تسهيلات:-

قوله: غَيْرَأَنَّ شَيْخًا مِنْ قُرَيْشٍ

د شيخ څخه مراد:- د دې بوډا څخه مراد اميه بن خلف دې کوم چې د قريشو سردار وو. او دهغه د نبی کريم ﷺ خلاف په سازشونو کولو کښې ډير لوې لاس وو. نبی کريم ﷺ سره ټولو خلقو سجده ادا کړه خو دې مغرور کس دسر ښکته کولو په ځائې يو څو کانړي راواخستل اوهغه تندی پورې اومږل او وې چې ما لره دا کافی دی. همدا هغه بد بخت دې چې نبی کريم ﷺ معمولی شان زخمی کړې وو او بيا هلاک شوې وو

۱۰۳۸- د سورة ص سجده

۱۰۳۸- (۱)[۱۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «إِنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - سَجَدَ فِي (ص)، وَقَالَ: [۳] "سَجَدَهَا دَاوُدُ تَوْبَةً، وَنَسْجُدُهَا شُكْرًا» "، رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضی الله عنه فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ په سورة ص کې سجد وکړه [۳] او وي فرمايل چې داؤد علیه السلام د سورة ص دا سجده د توبې د قبوليت د پاره کړي وه (چې د هغې تفصيل په سورة ص کې مذکور دي) او مونږ دا سجده (د هغه د توبې په قبوليت) د شکر ګزارۍ د پاره کوو. (نسايي.)

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث وضاحت د سجده تلاوت د مذاهبو په بحث کښې ذکر شوې دې.

[1]) اخرجه النسائى كتاب الافتتاح/باب سجود القرآن السجود فى ص (رقم-۹۵۷)

[۳۸/۲۲]بَابُ أَوْقَاتِ النَّهْيِ] أي اوقات التي كره فيها الصلوة

د ممنوعه وختونو بیان یعنی هغه وختوله چه مونځ پکښې مکروه دې

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① النهي عن الصلوة في الأوقات الثلاثة المكروهة: ۱، ۲، ۴ ،۸، ۹، ۱۰۔

② النهي عن النوافل في بعض الأوقات: ۳، ۴، ۶، ۱۱، ۱۲، ۱۳۔

③ كون الركعتين بعد العصر خصوصية النبي ﷺ : ۵۔

④ سنة الفجر بعد الفرض: ۶۔

⑤ جواز الصلوة في مكة في جميع الأوقات: ۷، ۱۳۔

⑥ الصلوة في نصف النهار يوم الجمعة: ۸، ۹۔

داوقات ممنوعه فيها الصلاة دوه قسمونه:- په احاديثو مقدسه کښې په کومووختونوکښې دَمونځ نه منع شوې ده هغه ټول پنځه وختونه دی لیکن دَ دريو حيثيت يو قسم دې اودَ دوو حيثيت دَ جدا قسم دې.

داول قسم درې وختونه:-

① دَ نمردَ شروع دَ راختلودَ وخت نه دَ نمر زيرپاتې کيدو پورې وخت مکروه دې کله چه زيروالې ختم شی او په نمرکښې تيزی راشی نوبيامکروه وخت پاتې نه شی.

② دَ نصف النهاروخت مکروه دې.

③ دَ مازيګرپه وخت دَ نمرزيړيدو نه واخله دَ نمر ډوبيدوپورې وخت مکروه دې.

د دويم قسم دوه وختونه:- ① دَ سحر مونځ کولونه پس دَ نمر راختلوپورې. دَ دويم قسم درې وختونه دادی:

② دَمازيګردَ مونځ کولونه پس دَ نمر پريوتو پورې.

د دواړوه قسمه احاديثو حکم:- ① دَ اول قسم په وختونوکښې دَ نهی اوممانعت احاديث صحيح خودی ليکن متواترنه دی.

② دَ دويم قسم په دوو وختونوکښې دَ مونځ کولونه دَممانعت او بندولو احاديث متواتر دی. دَ جرح اوتعديل علماؤ اومحدثينو حضراتو دَدې دَمتواترکيدو تصريح کړې ده. (معارف السنن)

د ذوات الاسباب اوغير ذوات الاسباب تعريفونه:- د اختلاف ليکلو څخه وړاندې د تمهيد په طور د ذوات الاسباب اوغيرذوات الاسباب پيژندګلو ضروری ده.چې روسته بيا

مشکلات نه وي.

① نوافل ذوات السبب هغه دي دَ کوم دَ پاره چه جدید سبب پیدا شوې وي مثلاً تحیة المسجد، تحیة الوضوء، صلوة الکسوف او صلوة استسقاء دا ټول نوافل دَ جدید سبب پیدا کیدو دَ وجې نه کولې شي.

② دَ کومو نوافلو دَپاره چه څه جدید سبب یا جدید وجه او یا څه علت نه وي هغه غیرذوات السبب دي

په دواړه قسمه وختونو کښې د مطلق نوافلو په جواز او عدم جواز کښې مذاهب:-

① دَ شوافع او حنابله په نیز دَ اول قسم او دویم قسم دَ وختونو حکم یو شان دي هیڅ فرق نشته دې. هغه حکم دا دې چه دې اوقاتو کښې فرائض مطلقًا جائز دي او نوافل ذوات الاسباب هم جائز دي البته نوافل غیرذوات الاسباب جائز نه دي.

② دَ مالکیه حضراتو په نیز په دغه ممنوعه وختونو کښې فرائض کول جائز دي لیکن نوافل کول جائز نه دي. که ذوات الاسباب وي او که غیرذوات الاسباب وي.

③ احناف په دغه مکروه دواړو قسم وختونو کښې فرق کړې دې دَهغوی په نیز په اول قسم دریواړو وختونو کښې نه نوافل جائز دي او نه فرائض جائز دي. او هیڅ قسم مونځ جائز نه دې. که یو سړې په دغه وختونو کښې نفل کوي نو په کراهت تحریمه سره به اداشي بلکه په نفل کښې دَ شروع کولو نه پس بهتر دا دي چه دا مات کړي او بل وخت کښې دَ دې قضاء او کړي. او که یو سړې په دغه دریواړو وختونو کښې څه فرض یا واجب کوي نو هغه به باطل شي. او دویم قسم کښې فرائض جائز دي نوافل جائز نه دي.

په اوقات مکروهه کښې د دري قسمه مونځونو استثناء:- او یو څو څیزونه دَدې دَ حکم نه مستثنی دي.

① دَ نمر دَ ډوبیدو وخت کښې هم دَ دغه ورځې دَ مازیګر مونځ چرته پاتې شوی وي نو هغه کولې شي.

② که په دغه وختونو کښې جنازه په مخ راغله نو هغه کولې شي.

③ که په دغه وختونو کښې دَ تلاوت سجده لازم شي نو هغه ادا کولې شي.

په دواړه قسمه وختونو کښې د نوافلو په حکم کښې د فرق وجه:- احنافو چه په دویم قسم او اول قسم وختونو کښې کوم فرق کړې دې دَ دې فرق وجه داده چه دَ اول قسم په دریواړو وختونو کښې په مونځ کولو سره دَ نهی علت په دغه وختونو کښې دَنقص او خامئ وجود دې چه دا وختونه ناقص دي دَدې په ذات کښې خامي ده لهذا په دې کښې دَهر قسم مونځ کول جائز نه دي. لیکن دَ دویم قسم په دوو وختونو کښې ذاتي نقص او خامي نشته بلکه دَ څه خارجي وجې نه په دې کښې ممانعت راغلې دې. او هغه خارجي وجه داده چه دا دواړه

وختونه ډیر افضل اوغوره دی په دې وجه شریعت دا فرائضوسره مختص کړی دی دې
دپاره چه دا دواړه وختونه مشغول بحق الفرض پاتې شی اودَ نوافل په دې کښې دخل
اومداخلت نه وی په دې وجه نوافل جائز نه دی فرائض جائزدی. په دې تفصیل اوقواعدسره
به دَمکروه وختونو اکثرمسائل حل شی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۱۰۳۹ – د نمر ختو او ډوبیدو په وختونو کښې د مونځ کولو ممانعت

۱۰۳۹ – (')[۱] ۱ عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ «لَا يَتَحَرَّى أَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيَ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَلَا عِنْدَ غُرُوبِهَا ". ۳ وَفِي رِوَايَةٍ، قَالَ: " إِذَا طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوا الصَّلَاةَ حَتَّى تَبْرُزَ ۴ وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوا الصَّلَاةَ حَتَّى تَغِيبَ ۵ وَلَا تَحَيَّنُوا بِصَلَاتِكُمْ طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوبَهَا ۶ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ابن عمر ﷠ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ تاسو کې دي هيڅوک د نمر ختو او ډوبيدو په وخت د لمانځه کولو قصد نه کوي ۳ د بل روايت الفاظ دا دي چې حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې د نمر کناره ښکاره شی نو مونځ پريږدي تر دي چې نمر ښه ظاهر شي (يعني د يوي نيزي په قدر راپورته شي) ۴ دغه رنګه چې د نمر کناره ډوبه شي نو مطلقًا هيڅ مونځ که فرض وي که نفل پريږدي تر دي چې هغه بالکل ډوب شی ۵ او د نمر د طلوع او غروب کيدو په وخت د لمانځه کولو اراده مه کوئ ۶ ځکه چې نمر د شيطان د دوو ښکرونو په مينځ کې راخيژي. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات: - ① لَا يَتَحَرَّي: أَيْ: لَا يَقْصِدُ: قصد دې نه کوی. ② حَاجِبُ: أَيْ: طَرَفُهَا: دنمر کناره، غاړه، ③ تَبْرُزَ: أَيْ: تَخْرُجَ وَتَظْهَرَ كُلُّهَا: چه پوره راښکاره شی. ④ فَدَعُوا: نو پريږدئ، (يعنی مه شروع کوئ). ⑤ لَا تَحَيَّنُوا: أَيْ: لَا تَتَقَرَّبُوا: تحين دَ حين نه دې دَ وخت مقرر کولو په معنی کښې دې. دَ قصد په معنی کښې هم راځی اودَ دې لفظ معنی انتظارهم، او نزديکت هم، دې ټولې معانی دلته صحيح دی. ⑥ قَرْنَي : د قرن تثنيه ده، ښکر ته وائی.

تسهيلات: -

قوله: قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: -

① دَ شيطان عبادت خو څوك براه راست څوك نه کوی او شيطان خپل عبادت کول غواړی.

---

[۱]) اخرجه البخاری کتاب مواقيت الصلاة/ باب الصلاة بعد الفجر حتی ترتفع الشمس (رقم- ۵۸۵) ومسلم کتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الأوقات التی نهی عن الصلاة فيها (رقم) ۲۸۹ - (۸۲۸) والنسائی کتاب المواقيت/باب من أدرك ركعة من الصلاة (رقم-۵۷۰)

نود نمر دَ راختـو او ډوبيدو اوذ نمر پـه تندی باندي دَ اودريدو پـه وخت نمـر پرست دَ نمر عبادت کوی نو شيطان لاړشی اوذ راختو په وخت دَ نمر مخي ته شاه کړی اودريږی او دَ نمر عبادت کوی نو نمر دَ شيطان دَ اوږو او سټ دواړو طرفونو بانـدې راخيـژی کـوم وخت چـه نمرپرست دَ نمر عبادت کوی نوشيطان خوشحاليږی چه زما عبادت کيـږی. هـم دغـه کـار ابليس خبيث په غرمه کښې نمر دَ آسمان مينځ ته دَ راتلو په وخت کوی اوهم دغه کار هغـه دَ نمر دَ ډوبيدو په وخت کوی. په دې وجه شريعت په دغه وختونوکښې دَسجدې نه منع کړې ده، دې دپاره چه عُباد شيطان سره مشابهت رانه شی.

② نمـر پرسـت مـشرکانوته شـيطان ونيلـې شـوې دې چـه دا شـيطانان خلـق پـه دغـه دريـو وختونو کښې دَ نمر عبادت کوی په دې وجه تاسو په دغه وختونو کښـې سجده مه کونی چه دې مشرکانو سره مشابهت رانه شی.

۱۰۳۰- درې اوقات مکروهه

۱۰۳۰-()[۲] ① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ ③ أَوْ أَنْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا ④ حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ ⑤ وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى تَمِيلَ الشَّمْسُ ⑥ وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ» [۱]. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① عقبه ابن عـامر رضی الله عنه فرمـايې ② چې رسـول الله ﷺ بـه پـه درې وختونو کې منـع فرمايله د لمانځه کولو څخه ③ او د مړي د دفن کولو څخه ④ ① د نمر ختو په وخت تر دې چې بلند (اوچت) شی ⑤ ② د غرمې سايه (سورې) قائميدو يعنـی نـصف النهـار پـه وخـت تـر دې چې نمر پـه زوال شـی ⑥ ③ او دريـم کـوم وخـت چـې نمـر ډوبيـږي تـر دې چـې ډوب شـي (مسلم).

حل اللغات: - ① نَقْبُرَ: په وزن د ننصر باندي، أَيْ: نَدْفِنُ: چه مونږ دفـن کـړو (مړی). ② بَازِغَةً: أَيْ: طَالِعَةً ظَاهِرَةً: ښکاره اوچت راوخيجی. ③ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ: وَهِيَ شِدَّةُ الْحَرِّ نِصْفَ النَّهَارِ: يعنی د زوال پـه وخـت، د غرمې په وخت. ④ تَمِيلَ الشَّمْسُ: چه واوړی نمر (يعنـی د آسـمان د منـځ نـه د مـشرق نـه مغـرب طـرف تـه شـی، زوال اوشی). ⑤ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ: أَيْ: تَضَيَّفُ بِمَعْنَى تَمِيلُ: مائل شی نمر. يعنی ډوبيدل د نمر شروع شی.

تسهيلات: - قوله: نَقْبُرَ فِيهِنَّ:

په اوقات ثلاثه کښې د هر قسم مونځ کولو ممانعت: - يعنـی درې داسـې ممنوعـه مکروه وختونه دی چه حضورپاک ﷺ مونږ په دې کښې دَ مونځ کولونه منع کړې يـودَ نمـردَ راختـو

[۱] اخرجه مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الأوقات التي نهى عن الصلاة فيها (رقم) ۲۹۳ - (۸۳۱) والترمذی كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ ما جاء في كراهية الصلاة على الجنازة عند طلوع الشمس وعند غروبها (رقم-۱۰۳۰) والنسائي كتاب المواقيت/باب النهي عن الصلاة نصف النهار (رقم-۵۶۵) وابن ماجة باب ما جاء في الأوقات التي لا يصلى فيها على الميت ولا يدفن (رقم-۱۵۱۹)

وخت دویم دَ نصف النهار وخت دي اودریم دَ نمردَ ډوبیدو وخت دي.

قوله: أَنْ نَقْبُرَفِيهِنَّ مَوْتَانَا:

نقبر په معنی د نصلی :- په قبر کښې خښيدو ته وائي ليکن دلته نقبردَ "نصلي" په معنی کښې دي دَ کوم نه چه دَ جنازې مونځ مراد دي چه دا په مکروه وخت کښې مه کوئي. افضل او اولی هم دغه دی چه په مکروه وختونو کښې دې جنازه نه وی کـه هم په دغه مکروه وختونو کښې مړې راوړلي شو نو دَهغه جنازه کولي شی.

۱۰۳۱- د سحر او مازیګر څخه وروسته د نوافلو کراهت

۱۰۳۱-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ، [۳] وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغِيبَ الشَّمْسُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابـو سـعيد خـدري رضی الله عنه راوي دي چـي رسـول الله ﷺ وفرمايـل [۲] د سحر (د لمانځه) څخه وروسته تر هغه وخته پورې چې (بقدر نیزه) نمر اوچت نه شی هيڅ مونځ نشته [۳] او د مازیګر د لمانځه څخه وروسـته تـر هغـه وختـه پـورې چـې نمر پټ (ډوب) نشي هيڅ مونځ نشته. (بخاري، مسلم.)

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حدیث تشریح په اوقـات خمسه کښې د مونځ د کراهت بـه بحث کښې ذکر شوې دې.

۱۰۳۲- د مانځه وختونه

۱۰۳۲-()[۴] [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قَدِمَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمَدِينَةَ، فَقَدِمْتُ الْمَدِينَةَ، فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ، [۳] فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلَاةِ، فَقَالَ: " صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ، [۴] ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ حَتَّى تَرْتَفِعَ، [۵] فَإِنَّهَا تَطْلُعُ حِينَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ الشَّيْطَانِ، [۶] وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ، [۷] ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ [۸] حَتَّى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ، [۹] ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ؛

ترجمه: [۱] عمرو بن عبسه رضی الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې مـديني تـه تـشريف راوړو نو زه هم مديني ته راغلم او د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شوم [۳] عرض مې وکړو چې،

---

[1] اخرجه البخاری کتاب مواقیت الصلاة/ باب الصلاة بعد الفجر حتی ترتفع الشمس (رقم- ۵۸۱) ومسلم کتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الأوقات التى نهى عن الصلاة فيها (رقم) ۲۸۷ - (۸۲۶) وابوداود کتاب الصلاة،باب من رخص فيهما إذا كانت الشمس مرتفعة (رقم-۱۲۷۶) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية الصلاة بعد العصر وبعد الفجر(رقم-۱۸۳) والنسائی کتاب المواقيت/باب من أدرک رکعة من الصلاة (رقم-۵۶۲) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب النهى عن الصلاة بعد الفجر وبعد العصر (رقم-۱۲۵۰)

[2] اخرجه مسلم کتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب إسلام عمرو بن عبسة (رقم) ۲۹۴ - (۸۳۲) والنسائی کتاب المواقيت/باب النهى عن الصلاة بعد العصر (رقم-۵۷۲)

یا رسول الله ﷺ ماته د لمانځه وختونه وښايه حضور ﷺ راته وفرمايل د سحر مونځ اوکړه۴ بيا د لمانځه څخه منع شه تر څو پورې چې نمر راختو سره اوچت نشي۵ ځکه چې نمر راخيجي نو د شيطان د دوارو ښکرونو په مينځ کې راخيجي۶ او هغه وخت کافر (يعني د نمر عبادت کونکي) هغه ته سجده کوي۷ بيا (د اشراق) مونځ اوکړه ځکه چې د دې وخت مونځ مشهود دی (يعني فرشتې د لمانځه ګواهي ورکوي) او په دې کې فرشتې حاضريږي۸ تر دې چې (کله) سايه (سورې) نيزې ته وخيژي او په زمکه نه پريوځي (يعني ټکنه غرمه شي)۹ نو د لمانځه څخه منع شه

حل اللغات:- ① أَقْصِرْ: أَيْ: كُفَّ وَامْتَنِعْ: بند شه، منع شه، دا د إِقْصَار نه دي، وَهُوَ: الْكَفُّ عَنِ الشَّيْءِ مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَيْهِ: سره د قدرت نه د يوڅيز نه منع کيدو ته واني. ② مَشْهُودَةٌ: أَيْ: يَحْضُرُهَا الْمَلَائِكَةُ لِيَكْتُبُوا أَجْرَهَا: فرشتې ورته حاضريږی چه ددې ثواب اوليکی، يا شاهدی او ګواهی ورکړی. ③ مَحْضُورَةٌ: يا خو دا تاکيد دې دمخکښې لفظ مشهودة دپاره، يا دا معنی چه :أَيْ: يَحْضُرُهَا أَهْلُ الطَّاعَةِ مِنْ سُكَّانِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ: د زمکې او آسمان اطاعت ګذار ورته حاضريږی. ④ يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ: أَيْ: يَرْتَفِعَ الظِّلُّ: چه سورې (سايه) اوچته شي. ⑤ الرُّمْحِ: نيزه،

١ فَإِنَّ حِينَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ، ٢ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ; ٣ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ، ٤ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ; ٥ فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ وَحِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ" ٦ قَالَ: قُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ فَالْوُضُوءُ حَدِّثْنِي عَنْهُ ٧ قَالَ: " مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوءَهُ ٨ فَيُمَضْمِضُ وَيَسْتَنْشِقُ فَيَسْتَنْثِرُ، ٩ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ وَفِيهِ وَخَيَاشِيمِهِ، ١٠ ثُمَّ إِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ، ١١ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ مَعَ الْمَاءِ، ١٢ ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ;

ترجمه: ١ ځکه چې دا وخت دوزخ ګرمول کيږی ٢ بيا چې کله سايه (سورې) راشي نو (دماسپخين فرض او څه چې غواړي نفل) مونځ کوه ٣ ځکه چې دا وخت د فرشتو د شهادت ورکولو او د حاضري دي تر دې چې ته د مازيګر مونځ وکړې ٤ بيا د لمانځه څخه منع شه تر دې چې نمر ډوب شي ٥ ځکه چې نمر د شيطان د دوارو ښکرونو په مينځ کې ډوبيږي او کفار (يعني د نمر عبادت کونکي) د هغه طرف ته سجده کوي ٦ عمرو ابن عبسه ﷛ فرمايي چې ما بيا عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ د اوداسه (د فضيلت متعلق هم راته وښايه ٧ رسول الله ﷺ وفرمايل په تاسو کې چې کوم سړي د اودس اوبه واخلي ٨ او (نيت کولو بسم الله ويلو او دواړه لاسونه تر مړوندو پورې وينځلو څخه وروسته) خله ووينځي او په پوزه کې اوبه راچوي هغه سونړ کړي ٩ نو د هغه د مخ (د ننه) د خلي او د سپږمو (صغيره) ګناه رژيږي ١٠ بيا چې هغه خپل مخ د الله د حکم مطابق وينځي ١١ نو د هغه د مخ ګناه د هغه د ږيري د کنارو څخه د اوبو سره غورځيږي ١٢ او هر کله چې هغه خپل دواړه لاسونه تر څنګلو پورې ووينځي

حل اللغات: - ⑥ تُنْجِزُ: لمبه تازه کولی شی ⑦ أَقْبَلَ الْفَيْءُ: أَيْ: رَجَعَ بَعْدَ ذَهَابِهِ: سوري واپس راشي، ⑧ وَضُوءَهُ: أَيِ: الْمَاءَ الَّذِي يَتَوَضَّأُ بِهِ: د اودس اوبه مراد دي. ⑨ فَيَتَمَضْمَضُ: خوله اووينځي، ⑩ يَسْتَنْشِقُ: أَيْ: يُدْخِلُ الْمَاءَ فِي الْأَنْفِ: پوزه اووينځي، ⑪ فَيَسْتَنْثِرُ: أَيْ: يُخْرِجُ مَا فِي الْخَيْشُومِ مِنَ الْأَوْسَاخِ: پوزه سونړ کړي چه څه خيرې پکښې وي چه هغه راوځي، ⑫ خَرَّتْ: أَيْ: سَقَطَتْ: غورځيږي، ⑬ خَيَاشِيمِهِ: دا جمع د خَيْشُومِ ده، د پوزې دننه حصې ته وائي،

۱ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ، ۲ ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ، ۳ ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ إِلَى الْكَعْبَيْنِ، ۴ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ، ۵ فَإِنْ هُوَ قَامَ فَصَلَّى فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ۶ وَمَجَّدَهُ بِالَّذِي هُوَ لَهُ أَهْلٌ، ۷ وَفَرَّغَ قَلْبَهُ لِلَّهِ إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ ۸ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ نو د هغه د دواړو لاسونو ګناه د هغه د ګوتو د سرونو څخه د اوبو سره غورځيږي ۲ بيا چې هغه د خپل سر مسح کوي نو د هغه د سر ګناه د هغه د ويښتانو د کنارو څخه د اوبو سره غورځيږي ۳ او هر کله چې هغه خپلې دواړه پښې پړکو (ګيټو) پورېووينځي ۴ نو د هغه د دواړو پښو ګناه د هغه د ګوتو د سرونو څخه د اوبو سره غورځيږي ۵ بيا چې (د اوداسه څخه فارغ شي او) ودريږي او مونځ کوي (او د لمانځه څخه وروسته) د الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ تعريف کوي او ثناء بيانوي (يعني ذکر الله ډير زيات کوي) ۶ او هغه د هغه بزرګي سره چې د هغې هغه لايق دي يادوي ۷ او خپل زړه د الله د پاره فارغوي (يعني د هغه طرف ته يې متوجه کوي) نو (هغه د لمانځه څخه وروسته) د ګناهونو څخه داسې پاکيږي ۸ لکه چې د هغه مور هغه اوس راوړي دي. (مسلم)

حل اللغات: - ⑭ مَجَّدَهُ: أَيْ: عَظَّمَهُ: يعنى د الله لوئى بيان کړى (په زړه او ژبې سره).

تسهيلات: -

قوله: حَتَّى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ:

دحديث د الفاظو مصداق: -د حديث مبارك الفاظ دي چې کله سيورې يوه نيزه شي او په زمکه باندې نه ښکاری ددې الفاظو د مسئلې تعلق دمکې او مدينې چاپير چل سره دې خکه چې په دې خايونو باندې لويو ورځو کښې د عين نصف النهار په وخت کښې سيورې په زمکه نه وی.

قوله: إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ:

دګناهونو معاف کيدل: -دحديث د آخرى الفاظو څخه دا مفهوم ثابتيږى چې صغيره او کبيره دواړه ګناهونه بخښلې کيږى. خودې سلسله کښې تحقيقى خبره داده چې صغير ګناه خو ضرور بخښلې کيږى، البته دکبيره ګناهونو د بخښنې تعلق صرف او صرف د الله تعالى حکم او مرضى سره دې. که هغه ذات اوغواړى نو کبيره ګناهونه به هم په خپل فضل سره اوبخښى.



۱۰۴۳ - د مازیګر څخه وروسته دوه د ماسپښین د دوو رکعتونو قضا راوړل

۱۰۴۳ - ()[۵]۱ وَعَنْ كُرَيْبٍ «أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ، وَعَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ أَزْهَرَ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ، أَرْسَلُوهُ إِلَى عَائِشَةَ، ۲ فَقَالُوا اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ، وَسَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ، ۳ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ، فَبَلَّغْتُهَا مَا أَرْسَلُونِي، ۴ فَقَالَتْ سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ، فَخَرَجْتُ إِلَيْهِمْ، فَرَدُّونِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ، ۵ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْهَى عَنْهُمَا، ۶ ثُمَّ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيهِمَا، ثُمَّ دَخَلَ،

ترجمه: ۱ کریب رضي الله عنه (د ابن عباس رضي الله عنه خادم) راوي دي چې ابن عباس رضي الله عنه مسور ابن مخرمه او عبدالرحمن ابن ازهر رضي الله عنه هغه (یعني کریب رضي الله عنه) د بي بي عائشي صدیقي رضي الله عنها په خدمت کې ولیږلو ۲ او دري واړو هغه ته اوویل چې (زمونږ د طرف څخه) بي بي عائشي رضي الله عنها ته سلام پیش کړه او د هغي څخه د مازیګر څخه وروسته د دوو رکعاته مونځ په باره کې پوښتنه وکړه ۳ کریب رضي الله عنه وايي زه د بي بي عائشي رضي الله عنها په خدمت کې حاضر شوم او د هغه دري واړو چې کوم پیغام ماته راکړي وو هغه مي هغي ته ورسولو ۴ بي بي عائشي رضي الله عنها وفرمایل چې بي بي ام سلمه رضي الله عنها (له ورشه او د هغي څخه) پوښتنه وکړه زه (دا جواب اوریدلو سره) هغه دري واړو صحابو رضي الله عنهم ته واپس راغلم هغوئ زه بیا بي بي ام سلمه رضي الله عنها ته ولیږلم ۵ بي بي ام سلمه رضي الله عنها (زما د سوال اوریدو سره) وفرمایل ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې هغه صلی الله علیه وسلم به دي دوه رکعاته لمانځه (د کولو) څخه منع فرمایله ۶ بیا ما (یوه ورځ) ولیدل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا دواړه رکعاته کوي کوم وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم دا دواړه رکعاته په مسجد کې یا په کورکي یا بهر په صحن کې کولو سره د مکان په دننه حصه کې داخل شو.

۱ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ الْجَارِيَةَ، ۲ فَقُلْتُ: قُولِي لَهُ: تَقُولُ أُمُّ سَلَمَةَ: ۳ يَا رَسُولَ اللّٰهِ سَمِعْتُكَ تَنْهَى عَنْ هَاتَيْنِ [الرَّكْعَتَيْنِ] وَأَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا؟ ۴ قَالَ: "يَا ابْنَةَ أَبِي أُمَيَّةَ سَأَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ، ۵ وَإِنَّهُ أَتَانِي نَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ، ۶ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ، فَهُمَا هَاتَانِ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ نو ما خادمه د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کې ولیږله ۲ او هغې ته مي اوویل ته لاړشه اووایه چې ام سلمه رضي الله عنها وايي ۳ یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ستا څخه اوریدلي دي چې تا د دي دوه رکعاتو (د کولو) څخه منع کوله او اوس ما ته صلی الله علیه وسلم په دي دوه رکعاتو کولو ولیدلو (د دي څه وجه ده؟) ۴ حضور صلی الله علیه وسلم (هغه خادمي ته وفرمایل ام سلمه رضي الله عنها ته اووایه چې) د ابو امیه لوري تا د مازیګر څخه وروسته ددوه رکعاته (کولو) په باره کې پوښتنه کړي ده ۵

[1] اخرجه البخاري كتاب السهو/ باب إذا كلم وهو يصلي فأشار بيده، واستمع (رقم-١٢٣٣) ومسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب معرفة الركعتين اللتين كان يصليهما النبي صلى الله عليه وسلم بعد العصر(رقم) ٢٩٧ - (٨٣٤) وابوداود كتاب الصلاة،باب الصلاة بعد العصر (رقم-١٢٧٣) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب فيمن فاتته الركعتان بعد الظهر (رقم-١١٥٩)والدارمي كتاب الصلاة/باب في الركعتين بعد العصر (رقم-١٤٧٦)

قصه دا ده چې د قبيله عبدالقيس څه خلق (د اسلامي ښودنو او د ديني احکامو زده کولو په غرض) مالره راغلي وو[٦] (هغوئ ته د ديني احکامو ښودلو په مشغوليت کې دماسپخين څخه وروسته ما څخه دوه رکعاته پاتې شوې وو هغه ما د مازيګر څخه وروسته کړې دي. (بخاري، مسلم.)

تسهيلات: -

توله: سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ:

د ام سلمه څخه د تپوس کولو وجه: -چونکه دا واقعه ام سلمه ﷞ ته پيښه شوې وه اوبيا حضرت ام سلمه ﷞ دَ حضورپاك ﷺ نه دَ اشکال په توګه سوال هم کړې ووچه يا رسول الله ﷺ تاسو دَ مازيګر دَمونځ نه پس دَمونځ نه منع کړې ده بيازه تاسو ته ګورم چه تاسو دَ مازيګر نه پس دوه رکعته کوئی دا ولې؟ هم په دې وجه حضرت عائشه ﷞ هغه قاصد دَام سلمه ﷞
طرف ته روان کړو دې دَپاره چه حقيقت معلوم شي.

توله: فَخَرَجْتُ إِلَيْهِمْ:

د ام سلمې څخه د جدا اجازت غوښتلو وجه: -کريب چونکه صحابه کرامو دَ مسئلې معلومولو دَپاره دَ حضرت عائشې ﷞ طرف ته ليږلې وو مګر اوس دَ مسئلې معلومولو دَپاره ام سلمه ﷞ کره تلل وو دَ کومې چه دَ صحابه کرامو دَ طرف نه اجازت نه وو په دې وجه کريب واپس راغلو او دَ نوی سر نه ئې دَ صحابه کرامو نه اجازت اوغوښتلو اوبيا ام سلمه ﷞ له لاړو. دا دَ ژوند دَ آدابو نه يو لوئی ادب دې چه ساعت په ساعت په کار باندې دَ لګونکی سره خپله رابطه اوساتلې شي اودَ خپل طرف نه څه اقدام اونه کړې شي. سره دَدې چه دلته دَ مقصود دَ حصول دَپاره دَ يو نوی اجازت ضرورت نه وو. بهرحال کريب دَ دريواړو صحابه کرامو نه نوې حکم واخستلو او ام سلمه ﷞ له لاړو. حضرت ام سلمه ﷞ اول دَ دې مسئلې تحقيق کړې وو په دې وجه هغې په ډير ښه انداز کښې دَ حقيقت نه خبر کړو.

د سنتو په قضاء کښې دامام شافعی مذهب: -دَدې حديث نه داخبره معلومه شوه چه دَ سنت مؤکده قضاء شته ځکه چه حضورپاك ﷺ دَماسپخين دوه رکعته سنت دَ مازيګر دَمونځ نه پس راؤګرځول. فقهاؤکښې دَ امام شافعی ﷬ مسلك هم دادې چه دَ سنتو قضاء شته.

د سنتو په قضاء کښې د احنافو مذهب او د روايت الباب څخه جواب: -

⑦ احناف فرمائی چه دَ سنتو قضاء نشته دې. دلته دَ حضورپاك ﷺ معامله بل څه وه اوهغه دا چه رسول الله ﷺ به کله يو عمل يو ځل کولو نو بيابه حضورپاك ﷺ هغه عمل هميشه دَپاره جاری ساتلو دې دَپارد چه په هغې کښې دوام او استمرار قائم شي. هم دَدې قاعدې په رڼا کښې کله چه دَ حضورپاك ﷺ نه دَماسپخين دوه رکعته سنت په وجه دَ څه

مشغولتيا پاتې شو او حضورپاك ﷺ دَ مازيګرنه پس يوځل دَ هغې اعاده اوکړه نو بيا حضورپاك ﷺ هيڅ کله پرېنخوده. لهذا دا دَ حضور پاك دَ ذات سره متعلق يو خصوصي عمل دې. دَ امت کسانو له په دې کښې نه دی پريوتل پکار.

په دې مسئله کښې هغه وخت مشکل راغلو کله چه دَ بخاري شريف دَ حضرت عائشې صديقې رضي الله عنها يوحديث مخې ته راغلو هغه فرمائي: ((ماكان النبي ﷺ ياتيني يوما بعد العصر الا صلى ركعتين)) (بخاري ومسلم) دَدې روايت دَ وجې نه دَ فقهاؤ په مينځ کښې په دې مسئله کښې اختلاف دې.

د مازيګر د مانځه څخه روسته د دوو رکعتونو په حکم کښې مذاهب:-

① امام شافعي رحمه الله فرمائي چه پس دَ مازيګرنه دوه رکعته کول دَ امت دَپاره هم جائز دی.

② جمهور فرمائي چه دَ امت دَ کسانودَپاره جائز نه دی چه هغوی دې دَ مازيګرنه پس دوه نفل اوکړي.

د اول فريق دليل:- دَ حضرت عائشه رضي الله عنها روايت د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دوام سره دَ دوو رکعتو ذکردې.

د اول فريق د دليل جواب:- دَ دې روايت هم هغه جواب دې کوم چه ام سلمه رضي الله عنها جواب ورکړو چه حضورپاك ﷺ په يو معروضی صورت کښې دا دوه رکعته کړې وو کوم چه دَ حضورپاك ﷺ خصوصيت وو. طحاوی دَ ام سلمه رضي الله عنها په روايت کښې داسې الفاظ هم نقل کړی دی چه په پيغمبری خصوصيت باندې واضح دليل دې. ام سلمه رضي الله عنها تپوس اوکړو "افنقضيهما اذا فاتتا قال لا" راتلونکې دَ قيس بن عمرو رضي الله عنه حديث نمبر ۶ په شروع کښې کلام په ذهن کښې اوساتلې شی نو هغه جواب کافی دې.

د دويم فريق دلائل:- ① هغه متواتر احاديث د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَ مازيګر او سحر دَ فرائضو نه پس دَ مونځ کولو ممانعت راغلې دې.

② حديث نمبر ۱۲ د دوی مستدل دې کوم چه امام بخاری رحمه الله هم نقل کړې دې حضرت معاويه رضي الله عنه فرمائي ((انكم لتصلون صلوة لقد صحبنا رسول الله ﷺ فما رئينا يصليهما ولقد نهى عنهما يعني الركعتين بعد العصر)) (بخاری)

③ دَ امام دارمی رحمه الله هغه فيصله د دوی مستدل ده کومه چه په دارمی کښې ذکر ده. چاد امام دارمی رحمه الله نه دَ حديث عائشه رضي الله عنها باره کښې تپوس اوکړو نوهغوی په جواب کښې اوفرمائيل: "اما انا فاقول بحديث عمر عن النبي ﷺ لا صلوة بعد العصر حتى تغرب الشمس وعن الصلوة بعد الفجر حتى تطلع الشمس"

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۱۰۴۳ – د سحر د سنتو د قضا حکم

۱۰۴۳ – ()[۲] ۱ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «رَأَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - رَجُلًا يُصَلِّي بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ، ۳ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "صَلَاةُ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ"، ۴ فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي لَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، فَصَلَّيْتُهُمَا الْآنَ، ۵ فَسَكَتَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ محمد ابن ابراهیم د قیس ابن عمرو څخه نقل کوي چې هغه اوویل ۲ چه (یوه ورځ) رسول الله ﷺ یو سړي ولیدلو چې هغه د سحر د لمانځه څخه وروسته دوه رکعاته مونځ کوي ۳ حضور ﷺ هغه ته وفرمایل د سحر مونځ دوه رکعاته دي ۴ (بیا یې وفرمایل) دوه رکعاته دي هغه سړي عرض وکړو چې د سحر د فرض لمانځه څخه مخکې دوه رکعاته (سنت) ما نه وو کړي هغه ما دا وخت وکړل ۵ حضور ﷺ (دي اوریدو سره) چپ شو (ابوداؤد)

۱ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ، وَقَالَ: ۲ إِسْنَادُ هٰذَا الْحَدِيثِ لَيْسَ بِمُتَّصِلٍ؛ ۳ لِأَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ إِبْرَاهِيمَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو، ۴ وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" وَنُسَخِ الْمَصَابِيحِ "عَنْ قَيْسِ بْنِ قَهْدٍ نَحْوَهُ.

ترجمه: ۱ امام ترمذي هم دغسې نقل کړي دي او ویلي يې دی ۲ چه ددې روایت اسناد متصل نه دي ۳ ځکه چې د محمد بن ابراهیم د قیس ابن عمرو څخه اوریدل ثابت نه دي ۴ د شرح السنه او د مصابیح په بعضو نسخو کې د قیس ابن قهد څخه دغسې منقول دي.

تسهیلات: - **قوله:** رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ:

د رکعتین د تکرار مقصد: - دَدې جملې نه مخکښې فعل محذوف منل ضروری دی یعنی "اجعلوا صلوة الصبح رکعتین" دلته رکعتین مکرر راوړلو سره دَ تاکید مقصد دادې چه هم دوه رکعته دی دَ دوو نه زیات نه دی نودا تاکید دَ زیادت دَ نفی دَپاره دې چه دَ دوو رکعتونه پس هیڅ رکعت نشته صرف فرض کوئی دې نه پس هیڅ مه کوئی.

قوله: فَسَكَتَ:

دامام شافعی د قول تائید: - حضورپاک ﷺ دَ دغه صحابی په جواب کښې خاموشی اختیار کړه اوسکوت اوخاموشی دَ محدثینو په نیز دَ تقریر په حکم کښې ده. لکه چه حضورپاک ﷺ په دغه فعل باندې راضی شو لهذا دَدې حدیث نه معلومه شوه چه که چرې دَ سحر دَ فرض مونځ نه مخکښې دوه سنت پاتې شی نو دَ فرض کولونه پس دَ دوو سنتو

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب من فاته متی یقضیها (رقم-۱۲۶۷)

قضاء به وی. په دې مسئله کښې د فقهاؤ اختلاف دې.

د صبا د سنتو په قضاء کښې مذاهب:-

که د چانه د سحر سنت پاتې شي ① نوجمهور وائي چه نه شي کولې.

② د امام شافعي رحمه الله راجح قول دادې چه کول ئې جائز دی.

بيا د جمهورو په خپل مينځ کښې اختلاف دې

① امام احمد رحمه الله او امام محمد رحمه الله فرمائي چې د نمر د راختلو نه پس تر د نمر د زواله پورې به دا سنت کولې شي. داحنافو علماء د امام محمد رحمه الله په قول باندې فتوی ورکول خوښوی.

② امام مالك رحمه الله د مطلق نه کولو قائل دې.

③ امام ابوحنیفه رحمه الله او امام ابو یوسف رحمه الله فرمائي که چرې دا سنت د فرض مونځ سره پاتې شي نود نمر د زوال نه مخکښې مخکښې کولې شي اوکه د فرض مونځ نه بغير پاتې شي نو نه مخکښې د نمر د راختو نه کولې شي اونه روستو د نمر د راختونه.

داول فريق دليل:- زير بحث حديث د حضرت قيس بن عمرو رضي الله عنه د دوی مستدل دې په کوم کښې چه د سحر د مونځ نه پس سنتو کولو باندې حضورپاك ﷺ خاموشي اختيار کړې اودا خاموشي د جواز دليل دې.

داول فريق د دليل جواب:- دا روايت منقطع هم دې او ضعيف هم دې اودې په مقابله کښې متواتر احاديث ددې معارض هم دی. لهذا دا په معروضی جزئی حالت باندې حمل کول پکاردی داد استدلال دپاره مناسب نه دې.

د دويم فريق دلائل:-

① هغه متواتر احاديث د دوی مستدلات دی په کومو کښې چه د سحر او مازيگر د فرضو نه پس د هيڅ قسم مونځ کولو ممانعت راغلې دې.

② هغه مرفوع حديث هم د دوی مستدل دې د کوم تخريج چه امام ترمذی رحمه الله کړې دې الفاظ دا دی: (قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من لم يصل ركعتي الفجر فليصلهما بعد ما تطلع الشمس) (ترمذی ۹۶/۱)

③ حضرت شاه انور شاه کشميری رحمه الله د تبوك د واقعې يو حديث نه عجيبه استدلال کړې دې. قصه داسې اوشوه چه حضورپاك ﷺ د سحر په وخت د قضاء حاجت دپاره چرته لرې لاړو. د سحر په مونځ کښې ناوخته شو. حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه مونځ اوکړو. حضورپاك ﷺ ته يو رکعت ملاؤ شو حضورپاك ﷺ دويم رکعت خان له پوره کړو اودې نه پس ئې هيڅ هم اونه کړل معلومه شوه چه سنت کول جائز نه وو گنې حضورپاك ﷺ به کړې وې. د حديث الفاظ دادی: ((فلما سلم قام النبي صلى الله عليه وسلم فصلى الركعة التي سبق بها ولم يزد عليها شيئا)) (سنن ابوداؤد باب المسح على الخفين ص: ۲۱)

د صبا د سنتو څخه علاوه د نورو سنتو د قضاء راوړلو حکم: - دَ سحر دَ سنتونه علاوه دَ نورو سنتو حکم هم دغه شان دي چه دَ فرائضونه علاوه دې قضاء نه کوی او فرائض سره کولو کښې اختلاف دې. بهرحال که چرته یو کس بې وخته سنت کول غواړی نودَ نفلو په نیت سره دې کوی ثواب به ملاویږی دَ سنتو نیت دې نه کوی.

۱۰۳۵—په هر وخت کښې د خانه کعبې د طواف جواز

۱۰۳۵—()[۷] ① وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " «يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوا أَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ، ③ وَصَلَّى آيَةَ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ» "، رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① جبیر ابن معطم رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② اي د عبد مناف اولاده هیڅوك د دې كور (خانه كعبې) د طواف څخه مه منعه كوئ ③ او په شپه او ورځ كې چې څه وخت غواړي هغه پریږدئ چې مونځ كوي. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي.)

تسهیلات: - **قوله:** آيَةَ سَاعَةٍ شَاءَ:

په ټولو وختونو کښې د طواف جواز: - دَ خانه کعبې طواف کول دَ ورځې او شپې په ټولو وختونو کښې جائز دي. دَ طواف دَپاره هیڅ یو وخت مکروه نه دې په دې کښې دَ چا اختلاف نشته. البته دَ طواف نه پس دَ دوو رکعتو په مسئله کښې دَ فقهاؤ په مینځ کښې اختلاف دې.

په اوقات مکروهو کښې د رکعتی الطواف په حکم کښې مذاهب: -

① امام شافعی رحمه الله فرمائی چه خانه کعبه کښې په هر یو وخت کښې هر مونځ کیدې شی که هغه مکروه وخت وی او که دَ طواف نه پس دوه رکعته وی یا بل څه مونځ وی ټول جائز دی.

② حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی خانه کعبه کښې په مکروه وختونو کښې صرف دَ طواف دوه رکعته کولې شی دې نه علاوه جائز نه دی.

③ ائمه احناف او جمهور فرمائی په خانه کعبه کښې په مکروه وختونو کښې هیڅ یو مونځ هم نه شی کیدې. دَ مکروه وختونو حرمت مکه اوغیرمکه ټولو مقاماتو دَ پاره یو شان دې.

داول فریق اول دلیل: - ① زیر بحث د حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "اية ساعة شاء" الفاظ دی دَ کوم مطلب چه دادې چه کوم وخت هم څوك یو مونځ کول غواړی کولې شی.

---

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب المناسک . باب الطواف بعد العصر (رقم-۱۸۹٤) والترمذی فی کتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب ما جاء فی الصلاة بعد العصر، وبعد الصبح لمن يطوف (رقم-۸۶۸) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی الرخصة فی الصلاة بمكة فی كل وقت (رقم-۱۲۵٤) والدارمی باب الطواف فی غير وقت الصلاة (رقم-۱۹۶۷)

د اول فریق د اول دلیل درې جوابونه:-

①دا حدیث په خپله مدعا باندې صریح نه دې دَ کوم نه چه شوافعو حضراتو ته څه فائده اوشي ځکه چه په دې کښې دومره خبره ده چه اې بنو عبدمناف بیت الله بندولوسره تالي مه لګوه بلکه خلق پرېږده چه هغوی شپه ورځ دې ته راځی اومونځ کوی. اوس دا دَ کوم ځائی نه ثابته شوه چه په مکروه وختونوکښې دې هم مونځ کوی. دَدې حدیث عموم هغه احادیثو خاص کړې دې په کوم کښې چه په مکروه وختونوکښې دَ مونځ کولو ممانعت راغلې دې.

②دا حدیث دَ هغه کثیر متواتر روایاتو مقابله نه شی کولې په کوم کښې چه مطلقًا په مکروه وختونو کښې دَ مونځ کولو ممانعت راغلې دې.

③حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه وغیره صحابه رامو روایات په نفی باندې دال دی نو دلته معامله دَ مبیح او محرم راغله لهذا حرمت ته به ترجیح ورکولې شی.

داول فریق دویم دلیل:-

②دَحضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه حدیث هم د دوی مستدل دې.کوم چه دَ دې باب آخری حدیث نمبر ۱۳ دې په کوم کښې چه درې ځل استثناء کړې شوې ده."الابمکة الابمکة الا بمکة" یعنی په مکه مکرمه کښې مکروه وخت کښې مونځ کیدې شی لکه چه په مکه کښې دَ مکروه وخت هډو وجودنشته دې.

د اول فریق د دویم دلیل جواب:- دا روایت معلول دې په هغې کښې اضطراب هم دې او ضعیف رواة هم دی. ابن حجر رحمه الله پخپله دا ضعیف منلې دې. بل دا روایت منقطع هم دې لهذا کمزورې روایت دَ دغه قوی روایاتو مقابله نه شی کولې.

د دویم فریق دلائل:-

①په متواتر احادیثوکښې مطلقًا مکروه وختونو کښې دَمونځ کولو ممانعت راغلې دې.
نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مکروه وختونو کښې دَمونځ کولو چه کوم حکم ورکړې دې هغه وخت حضورپاک صلی الله علیه وسلم یا په مکه کښې وو یا په مدینه کښې وو. نو آیا چه حضورپاک صلی الله علیه وسلم چرته مقیم وو اودَ کراهت حکم ئې بیانولو هغه حکم دَ هغه ځائی دَپاره نه وو؟ دا خو به عجیبه وی چه بیان په مکه مکرمه کښې کیږی اوحکم دَ خراسان یا پاکستان دَ پاره دې.

②دَحضرت ام سلمه رضی الله عنها واقعه هم د دوی مستدل دې چه هغې دَ بیت الله طواف دَ سحر په وخت کښې اوکړو اودَ طواف دوه رکعته ئې دَ نمر دَ راختونه پس بهرتلو سره اوکړل. دَ بخاری شریف دَ حدیث الفاظ «لم تصل حتي خرجت»

③امام طحاوی رحمه الله دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنه یو اثر داسې نقل کړې دې. "ان ابن عمر قدم مکة صلوة الصبح فطاف ولم یصل الا بعد ما طلعت الشمس" .(ج ۱ ص ۴۲۲)

۱۰۳٦- د جمعې په ورځ د زوال په وخت کښې د مونځ حکم

۱۰۳٦-()[۸] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - ②«أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ ③حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ»، رَوَاهُ الشَّافِعِيُّ.

ترجمه: ① ابوهريره رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ تيك د تکنې غرمې په وخت کې د لمانځه کولو څخه منع فرمايلي ده ③ تر څو پورې چې نمر زوال نشي البته د جمعې په ورځ (جائز دي). (شافعي.)

حل اللغات:- ① نِصْفَ النَّهَارِ: غرمه يعنى د زوال وخت.

تسهيلات:-

د جمعې په ورځ د استواء الشمس په وخت کښې د مونځ په جواز کښې مذاهب:-

دَ جمعه په ورځ دَ غرمې په وخت عين استواء الشمس په دوران مونځ کول جائزدى که نه، په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دي.

① امام شافعي رحمه الله انو امام احمد رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله مسلك دادې چه دَ جمعه په ورځ نصف النهار کښې مونځ کول جائز دى. دا جواز دَعام ممانعت دَ احاديثونه مستثنى دي

② دامام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نيز سره دَ جمعه دَټولې هفتې ټولو ورځوپه مکروه وختونو کښې مونځ کول جائزنه دى.

داول فريق دلائل:-① زير بحث حديث دَ حضرت ابوهريره رضي الله عنه د دوى مستدل دې. په دې کښې دَ جمعه استثنى ده لهذا دَ جمعه په ورځ په نصف النهار کښې مونځ کول جائز دى.

داول فريق د اول دليل جواب:- ① معامله دَ حرمت اواباحت ده نوترجيح به حرمت ته وى.

داول فريق دويم دليل:- ① دغه شان دې پورتنى حديث سره متصل دَحضرت ابوقتاده رضي الله عنه هم د دوى مستدل دې.

داول فريق د دويم دليل جواب:- دَ ابوقتاده رضي الله عنه په روايت کښې انقطاع ده نو قابل استدلال نه دې.

د دويم فريق دليل:- حضورپاك ﷺ په خپل ټول ژوند مبارك کښې يوځل هم دَ جمعه په دغه مکروه وخت کښې مونځ نه دې کړې که چرې دا جائز وې نو دَ جواز دَ بيان دَپاره به رسول الله ﷺ مبارك يوځل داعمل کولو

مفتى به قول:- خوبياهم دَ علماء احناف نه بعضودَ امام ابويوسف رحمه الله په قول فتوىٰ ورکړې ده اوبعضو دَ طرفين په قول باندې فتوىٰ ورکړې ده معامله څه آسانه شوې غوندې ده.

[1]) اخرجه الشافعى فى المسند من كتاب الجمعة... رقم الحديث ۲٦۹

۱۰۳۷- د زوال په وخت کښې د مونځ کراهت

۱۰۳۷-(¹)[۹] [۱] وَعَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَرِهَ الصَّلَاةَ نِصْفَ النَّهَارِ [۳] حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ، [۴] وَقَالَ: "إِنَّ جَهَنَّمَ تُسَجَّرُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ» ". [۵] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ: أَبُو الْخَلِيلِ لَمْ يَلْقَ أَبَا قَتَادَةَ.

ترجمه: [۱] ابوالخليل رحمه الله د ابوقتاده رضي الله عنه څخه نقل کوي [۲] چې حضور ﷺ به تيك د غرمې په وخت (تکنه غرمه وخت) مونځ کول به يې مکروه ګڼل [۳] تر څو پورې چې نمر به زوال ونشو علاوه د جمعې د ورځې څخه [۴] او د حضور ﷺ ارشاد دې چې علاوه د جمعې د ورځې څخه روزانه (غرمه وخت) د دوزخ ګرموالي تيزول کيږي [۵] دا روايت امام ابوداؤد نقل کړي دي او ويلي يې دي چې د ابو قتاده رضي الله عنه سره د ابوالخليل رحمه الله ملاقات ثابت نه دي (نو د دې حديث اسناد متصل نه دي).

حل اللغات:- ① تُسَجَّرُ: أَيْ: تُوقَدُ: ګرمولې شي يعنې اور پکښې بلولې شي.

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث تشريح په اوقات ثلاثه کښې د مونځ د کراهت په بحث کښې ذکر شوې دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۱۰۳۸- اوقات مکروهه (مکروه وختونه)

۱۰۳۸-(²)[۱۰] [۱] عَنْ عَبْدِ اللَّهِ الصُّنَابِحِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ وَمَعَهَا قَرْنُ الشَّيْطَانِ، [۳] فَإِذَا ارْتَفَعَتْ فَارَقَهَا، [۴] ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ قَارَنَهَا، [۵] فَإِذَا دَنَتْ لِلْغُرُوبِ قَارَنَهَا، [۶] فَإِذَا غَرَبَتْ فَارَقَهَا» ". [۷] وَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي تِلْكَ السَّاعَاتِ. رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] عبدالله صنابحي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې نمر راخيجي نو د هغه سره د شيطان ښکر وي [۳] بيا چې نمر اوچتيږي نو هغه جدا شي [۴] بيا چې تکنه غرمه شي نو شيطان نمر ته نزدې شي [۵] او کوم وخت چې نمر په زوال شي نو هغه ځيني جدا شي بيا چې نمر ډوبيدو ته نزدې شي نو شيطان هغه ته نزدې راشي [۶] بيا چې نمر غائب (ډوب) شي نو شيطان د هغه څخه جدا شي [۷] او حضور ﷺ په دې وختونو کې (يعني د نمر راختو، ډوبيدو او تکنه غرمې په وخت کې) د لمانځه کولو څخه منع فرمايلې ده. (مالك، احمد، نسايي.)

¹) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب الصلاة يوم الجمعة قبل الزوال (رقم-۱۰۸۳)

²) اخرجه النسائی فی کتاب المواقيت/باب الساعات التی نهی عن الصلاة فيها (رقم-۵۵۹) ومالک فی الموطا کتاب القرآن باب النهی عن الصلاة بعد الصبح وبعد العصر (رقم-۴۴)

حل اللغات:- ① قَرْنُ: ښکر، ② فَارَقَهَا: جدا شي شیطان د نمر نه، ③ دَنَتْ: چه نږدې شي (یعنی زیړشي او لاندې غاړه ئې دوبیدل شروع شي).

تسهیلات:-

قوله: إِنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ وَمَعَهَا قَرْنُ الشَّيْطَانِ

په اوقات ثلاثه کښې د مونځ کولو د کراهت وجه:- دې وختونو کښې نبی کریم ﷺ د مونځ کولو نه منع فرمائیلې ده.چې شیطان سره په سجدې کولو مشابهت رانشي.یا هغه خلقو سره مشابهت رانشي کوم چې نمر ته په دې مخصوصه وختونو کښې سجده کوي.

۱۰۳۹-د مازیګر د مانځه څخه وروسته د نفلو عدم جواز

۱۰۳۹-(۱)[۱۱] ① وَعَنْ أَبِي بَصْرَةَ الْغِفَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ②«صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُخَمَّصِ صَلَاةَ الْعَصْرِ، ③ فَقَالَ: "إِنَّ هٰذِهِ صَلَاةٌ عُرِضَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَضَيَّعُوهَا، ④ فَمَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَ لَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ، ⑤ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَهَا حَتَّى يَطْلُعَ الشَّاهِدُ»". وَالشَّاهِدُ: النَّجْمُ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

: ① ابو بصره غفاري رضي الله عنه فرمايي② چې (یوه ورځ) رسول الله ﷺ په مقام مخمص کې مونږ ته د مازیګر مونځ راکړو③ بیا یې وفرمایل دا مونځ ستاسو څخه په مخکې خلقو باندې لازم شوې وو لیکن هغوئ ضائع کړو (یعني نه خو یې همیشه وکړو او نه یې د دې حقوق اداء کړل)④ نو کوم سړې چې د دې لمانځه حفاظت کوي (یعني همیشه یې کوي او حقوق یې اداء کوي) هغه ته به دوچنده ثواب حاصلیږي⑤ او حضور ﷺ دا هم وفرمایل چې د مازیګر څخه وروسته هیڅ مونځ نشته تر څو پورې چې شاهد راونه خیژي او شاهد ستوري دي. (مسلم.)

حل اللغات:- ① الْمُخَمَّصُ: د یو مقام نوم دې، ② الشَّاهِدُ: أي النَّجْمُ: یعنی ستورې مراد ترې د شپې داخلیدل دی.

تسهیلات:-

قوله: كَانَ لَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ

د دوو اجرونو ملاویدو دوه وجوهات: ① دا وخت د مصروفیت او مشغولتیا وخت وی خاص کر کاروباریان خلق کورونو ته ځان رسوی نو په هغې باندې بیړه وی چې زر کور ته لاړشود مانځه فرصت ورته نه ملاویږي.ځکه ورته دوچنده اجر ملاویږي.

② هرکله چې نورو امتونو د دې وخت د عظمت خیال اونه ساتلو بلکه په دې کښې ئې غفلت اوکړو په دې وجه دې امت ته دوچنده اجر ورکولې شي.

---

(۱) اخرجه مسلم کتاب صلاة المسافرین وقصرها/ باب الأوقات التی نهی عن الصلاة فیها (رقم) ۲۹۲ - (۸۳۰) والنسائی فی کتاب المواقیت/باب تأخیر المغرب (رقم-۵۲۱)

۱۰۵۰- د مازيګر څخه وروسته د دوو رکعتونو ممانعت

۱۰۵۰-()[۱۲] [۱] «وَعَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] إِنَّكُمْ لَتُصَلُّونَ صَلَاةً، لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيهِمَا، [۳] وَلَقَدْ نَهَى عَنْهُمَا. يَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] معاويه رضي الله عنه (خلق مخاطب کولو سره) وفرمايل [۲] تاسو خلق يوداسي مونځ کوئ چې مونږ د رسول الله ﷺ په صحبت کې پاتې شوي يو ليکن مونږ حضور ﷺ په دې دوه رکعاتو کولو نه دي ليدلي [۳] بلکه حضور ﷺ خو ددې نه يعني مازيګر څخه وروسته د دوه رکعاته کولو څخه منع فرمايلي ده. (بخاري.)

تسهيلات:-

قوله: فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيهِمَا

اشکال:- دلته د حضرت امير معاويه په روايت کښې دی چې مونږ د مازيګر نه پس نبی کريم ﷺ په دوه رکعته نفلو کولو نه وو ليدلي .خو د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها او حضرت ام سلمه رضی الله عنها روايت نه معلوميږی چې نبی کريم ﷺ به دوه رکعته مونځ کولو.

د اشکال جواب:- د حضرت امير معاويه فرمان مسجد کښې دننه سره تعلق ساتي چې نبی کريم ﷺ به په مسجد کښې مونځ نه کولو او د حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها او حضرت ام سلمه رضی الله عنها والا روايت د کور دې چې نبی کريم ﷺ به په کور کښې مونځ کولو.

۱۰۵۱- د سحر او د مازيګر څخه وروسته د مونځ عدم ثبوت

۱۰۵۱-()[۱۳] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: وَقَدْ صَعِدَ عَلَى دَرَجَةِ الْكَعْبَةِ: [۲] مَنْ عَرَفَنِي فَقَدْ عَرَفَنِي، [۳] وَمَنْ لَمْ يَعْرِفْنِي فَأَنَا جُنْدُبٌ، [۴] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۵] "«لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، [۶] وَلَا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ إِلَّا بِمَكَّةَ، إِلَّا بِمَكَّةَ، إِلَّا بِمَكَّةَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَرَزِينٌ.

ترجمه: [۱] د ابوذر رضي الله عنه په باره کې روايت دي چې هغه د کعبي په زينه ختلو سره وفرمايل [۲] کوم سړي چې زه وپيژندم (يعني زما نوم يې وپيژندو) هغه زه (يعني زما رښتيوالي يې) وپيژندلم [۳] او چا چې زه ونه پيژندلم نو زه هغه ته ښودل غواړم چې زه جندب رضي الله عنه يم [۴] ما د حضور ﷺ څخه اوريدلي دي [۵] چې د سحر د لمانځه څخه وروسته تر څو پورې چې نمر راونه خيژي هيڅ مونځ نشته [۶] او نه د مازيګر د لمانځه څخه وروسته يو مونځ شته تر څو پورې چې نمر ډوب نشي خو په مکه کې، خو په مکه کې، خو په مکه کې. (احمد، رزين.)

[1]) اخرجه البخاری کتاب مواقيت الصلاة/ باب: لا تتحری الصلاة قبل غروب الشمس (رقم-۵۸۸)
[2]) اخرجه احمد فی المسند ۱۶۵/۵

حل اللغات:- ① صَعِدَ: أيْ طَلَمَ: اوختلو.

تسهیلات:-

قوله: فَأَنَا جُنْدُبٌ:

د بیان څخه وړاندې د ابوذر غفاری ځپل تعارف کول:- یعنی که ماځوك پیژنی نوتیك د دهغه به په مابانديِ اعتماد وی چه زه څوك یم اوزما په خبره کښې څه وزن دې اوکه ما څوك نه پیژنی نوهغه دې ماوپیژنی زما نوم جندب دې ابوذر زما کنیت دې.

دَ بیان کولونه وړاندې حضرت ابوذر غفاری رضی الله عنه دَدې تعارف ضرورت څکه محسوس کړو دې دَ پاره چه دَخلقو اعتماد بحال شی اودا هم معلومه وی چه بیان کونکې عالم دې. دَ حضورپاك ﷺ صحابی دې څه عام سړې نه دې.

[۳۹/۲۳]بَابُ الْجَمَاعَةِ وَفَضْلِهَا]

په جماعت سره د مونځ کولو فضیلت

خلاصة الباب:-

فیه اثنان وثلاثون حدیثاً مشتملة علی ثمانی مسائل:

① فضیلة الجماعة: ۱، ۱۵.

② التهدید علی ترك الجماعة: ۲، ۱۶، ۱۷، ۲۱، ۲۲، ۲۸.

③ التاکید بحضور الجماعة: ۳، ۱۵، ۱۶، ۲۱، ۲۶، ۲۷، ۲۹.

④ ما یکون عذراً لترك الجماعة وما لایکون: ۳، ۴، ۵، ۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰.

⑤ ترك الصلاة منفرداً عند إدراك الجماعة: ۷.

⑥ حضور النساء للجماعات و آدابهن: ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۳۱، ۳۲.

⑦ عدم الخروج من المسجد بعد الأذان: ۲۳، ۲۴، ۲۵.

⑧ ما تنعقد به الجماعة من العدد: ۱۵، ۳۰.

د قرآن څخه د جمعې د مونځ ثبوت:- قال الله تعالی ﴿ وَارْكَعُوا مَعَ الرّٰكِعِيْنَ ﴾ [البقره: ۴۳]

په عملی طور د جمعې د مونځ ابتداء:- دَ معراج په شپه چه کله مونځ فرض شو نو په ورځ کښې حضرت جبرائیل علیه السلام راغلو اودَماسپخین مونځ ئې په جمع سره ورکړو.

د جمعې د مونځ د مشروعیت په تاریخ کښې دوه اقوال:-

① په جمع سره دَمونځ مشروعیت په مکه کښې شوې

② دَدې مشروعیت په مدینه منوره کښې شوې. اصل حقیقت ان شاء الله داسې دې چه دَ

جمع مشروعیت هم په مکه کښې شوې په کوم باندې چه حدیث امامت جبریل دلالت کوی لیکن دَ جمع ظهور او په دې باندې همیشه والې اومواظبت په مدینه منوره کښې شوې ځکه چه دَ کافرانو دَغلبه دَ وجې نه په مکه کښې په ښکاره باندې په جمع مونځ کول څه آسان کار نه وو.

د جماعت په حکم کښې مذاهب:-

په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې چه دَ سړو دَپاره په جمع سره مونځ کول دَ ځان له مونځ کولو نه ډیرزیات غوره دې او بغیردَ شرعی عذرنه جمع ترك کول خرابه خبره ده. په دې خبره باندې هم دَ امت اتفاق دې چه بعض داسې عذرونه دی دَ کوم دَ وجې نه چه جمع ترك کول جائزدی. ټولو فقهاؤکرامو په خپله خپله فقه کښې دا عذرونه لیکلی دی. خوکه څه شرعی عذر نه وی نودې وخت کښې دَ جمع څه حکم دې آیا فرض ده واجب ده که سنت ده په دې کښې دَ علماء کرامو اختلاف دې.

① دَشوافع مختار اواصح قول دادې چه دَ فرض مونځ دَپاره جمع فرض کفایه ده محققین شوافع هم دې ته ترجیح ورکوی.

② دَ شوافع مشهورقول دادې چه جمع سنت مؤکده ده. دَ امام مالك رحمه الله په نیزجمع سنت ده.

③ دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله په نیز جمع سره مونځ کول فرض عین دی لیکن دَ مانځه دَپاره شرط نشته دې لهذا دَ ځان له مونځ کونکی مونځ ګذار مونځ به اوشی مګر ګناهګاربه وی.

④ دَ اهل ظواهر په نیز دَ فرض مونځ دَپاره جمع کول دَ شرط په درجه کښې دی که چرته بغیردَعذر نه دَ جمع نه بغیر مونځ اداکړې شی نومونځ به نه کیږی.

⑤ دَ ائمه احنافو دَ کتابونو نه معلومیږی چه دَ جمع باره کښې دَهغوی دوه اقوال دی. یوقول خودادې چه جمع واجب ده دویم قول دادې چه سنت مؤکد ده. څوك چه واجب سره نیزدې دی دَ وجوب قول راجح دې. چنانچه مشهور حنفی محقق علامه ابن همام رحمه الله فتح القدیرکښې فرمائی چه زمونږ دَ اکثرو مشائخو مسلك هم دغه دې چه جمع واجب ده او په دې باندې دَ سنت اطلاق په دې وجه کړې شوې دې چه دا دَ سنت نه ثابت دی یعنی پخپله جمع سنت ده بلکه دَدې ثبوت دَ سنت نه یعنی حدیث نه شوې دې. بعض احنافو دَ سنت فتوی ورکړې ده متقدمین احناف دَ سنت قائل دی. [المرقات: ٣/١٤٥]

د اختلاف بنیاد او سبب:- محاکمه: دَدې اوږدو اختلافاتو او متفرق اقوال وجه څه ده په دې باره کښې حضرت علامه انورشاه کشمیری رحمه الله داسې محاکمه اوفیصله کوی چه دا اختلاف په اصل کښې دَ تعبیر اختلاف دې دَ مآل او نتیجې په اعتبارسره دومره لوئی اختلاف نشته دې. وجه داده چه په احادیثو کښې په جمع سره مونځ نه کولو باره کښې

سخت وعيد راغلې دې. بعض رواياتو کښې راغلي دي چه دَ اذان اوريدلونه پس په جمع کښې دَ نه حاضريدونکي منع نه کيږي. بعض رواياتو کښې دي چه دَ جمات په ګاونډ کښې بغير دَ جمع نه مونځ صحيح نه دې. بل دَ بعض رواياتونه معلوميږي چه په دې باره کښې کافي نرمي ده چه لږ شان باران اوشي مونځ په کورونو کښې کول پکاردي. که دَ خوراك زياته تقاضا وي نو جمع پريخودو سره دَ خوراك کولو اجازت دې. لهذا کومو حضراتو چه تشديد تغليظ او تهديد اووعيد کتلې نوهغوي جمع ته فرض اووئيل ياد مانځه دَ صحت دَپاره ئې شرط اوګرځولو اوکومو حضراتو چه نرم اړخ اوکتلو هغوي دَ سنت فيصله اوکړه او چاچه دواړه اړخونه اوکتل هغوي دَ واجب يا سنت مؤکده حکم اولګولو. دغه شان دا اختلاف راښکاره شو اود نبی کريم ﷺ تولو طريقې په امت کښې ژوندی پاتې شوې.

دَ جمعې د مونځ فائدې: – محقق اسلام حضرت شاه ولی الله دهلوی رحمه الله په حجة البالغه کښې دَ جمع فوائد ډير بيان کړي دي. دَتکميل فائده دَپاره دَهغې نه دَيوڅو ذکر حاضر خدمت دې ليکن بعينه الفاظ نه دي بلکه خلاصه ده.

① عوام الناس او خواص به دَ يويل په وړاندې مونځونه اداکوي. چه علماء وي هغه به دَ عوامو غلطياني کتلوسره اصلاح کوي اوکوم خلق چه دَ مونځ مسائلوباندې نه پوهيږي هغوي به ئې کتلو سره يا اوريدلو سره زده کړي.

② دَ جمع دَ وجې نه دَ مانځه غوندې عظيم عبادت دَ رسم تام په توګه او دَعام رواج په توګه دَ توقو حصه جوړه شوې ده دَ کوم پريخودل چه به آسان نه وي.

③ بې مونځه به ښکاره شی څکه چه څوك په جمات کښې په جمع کښې نه دی پوهه شه چه هغه مونځ ګذارنه دی.

④ په جمع کښې دَ يوعظيم الشان اتحاد مظاهره کيږي اودَ اسلام يولوئی عزت او شوکت دې.

⑤ اجتماعی دعا دَالله تعالی په حضور کښې ښه اثر لری او په جمع سره دا نعمت حاصليږي.

⑥ هرسړی ته به دَ بل مجبورمسلمان دَ حالت او درد اوغم پته اولګی نوامدادبه ئی اوکړي.

⑦ په جمع کښې عظيم الشان مساوات دې بادشاه اوفقير په يوصف کښې ولاړوي.

دجماعت د پريخودو عذرونه: – دين اسلام دَ رحمت دين دې په دې کښې زحمت نشته دې چرته چه څه عذر وي هلته رخصت هم شته. يوڅو عذرونه بيانول مناسب معلوميږي سره ددې چه ډيرزيات دي.

① دَ سخت باران په وخت.

② دَ يوبيمار تپوس پوښتنه کول.

③ په لاروکښې دَ ختو کيدودَ وجې نه.

د شپې د سختې تيارې كيدل.
④ په بدن باندې د ستر كپړه نه كيدل.
⑤ په لاركښې د ځان د دښمن خطره كيدل.
⑥ د يو مكان يا سامان څوكيدارى كول.
⑦ د سختو متيازو يا اودس ماتى تقاضا پيښيدل.
⑧ د سفردوران كښې د قافلې نه د پاتې كيدو خطره.
⑨ د سختې يخنئى د وجې نه چه بيمارى لګيدوخطره وى.
⑩ دومره ناجوړه كيدل چه د تللوقدرت نه وى يا نابيناكيدل.
⑪ جمات ته په تلوكښې شاته د مال اسباب د غلا خطره كيدل.
⑫ خوراك تياريدل اود هغې د خرابيدو خطره كيدل اود سختې اولګې احساس كيدل.
⑬ په درس اوتدريس كښې داسې مشغول كيدل چه لږ شان فرصت هم نه وى مګر چه دا عذر كله كله وى هميشه نه وى. [نورالايضاح: ۷۷، ۷۸]

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۱۰۵۲- د جماعت سره د مانځه ثواب

۱۰۵۲- ()[۱] ⦗۱⦘ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⦗۲⦘ "صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⦗۱⦘ د ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⦗۲⦘ چه د جماعت مونځ د تنها لمانځه څخه (په ثواب كې) اوويشت درجې زيات وي، (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① تَفْضُلُ: أَيْ: تَزِيْدُ فِي الثَّوَابِ: يعنى ثواب ئې زياتيږى.

تسهيلات:-

قوله: بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ دَرَجَةً:

د جماعت د ثواب په باره كښې متعارض روايات:-

① د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما په دې حديث كښې جمع سره د مونځ ثواب ۲۷ درجې نه زيات معلوميږى. د دې په ټولو روايتونو كښې جمع سره د مونځ ثواب ۲۵ درجې نه زيات خودلې شوې دې كوم چه په ظاهره تعارض دې؟

[1]) اخرجه البخارى كتاب الاذان/ باب فضل صلاة الجماعة وكان الأسود: (رقم-۶۴۵) ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب فضل صلاة الجماعة، وبيان التشديد فى التخلف عنها (رقم) ۲۴۹ - (۶۵۰) والنسائى كتاب الإمامة/ باب فضل الجماعة (رقم-۸۳۷) ومالك فى الموطا كتاب صلاة الجماعة، باب فضل صلاة الجماعة على صلاة الفذ (رقم-۱)

د تعارض پنځه جوابونه :- ① اولاً د الله تعالی د طرف نه ۲۵ درجې انعام وو بیا انعام زیات شو ۲۷ درجې ته اورسیدلو.

② په اعداد کښې تعارض نه وی ځکه چه عدد اکثر د اقل عدد نفی نه کوی بلکه عدد اقل د عدد اکثر ضمن کښې وی.

③ دا تفاوت د درجات امکنه د وجې نه دې یعنی چه د لرې لرې نه راجمع شی او جماعت اوکړی دا د هغه جماعت نه افضل دې چه د نیزدې نیزدې نه راجمع شی

④ د درجاتو دا فرق اوتفاوت د اشخاص او د هغوی د اخلاص د وجې نه دې. ښکاره خبره ده چه په یو جمات کښې صرف د طالبانو او صالحانو جمع وی هغه د یو بل شان والاوی اوکله چه د ګډو وډو خلق جمع وی هغه د بلې درجې وی. علماؤ لیکلی دی چه دا فضیلت د هرځائی د جماعت د پاره دې جمات سره خاص نه دې.

⑤ دا تفاوت د کثرت جماعت او قلت اشخاص د جماعت د وجې نه دې. ښکاره خبره ده چه د یو لاکھ انسانانو مجمع وی د هغوی د جمع شان به څه بل شان وی.

۱۰۵۳- د جماعت پر پریښودلو وعید

۱۰۵۳-()[۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، ③ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ، ④ ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا، ⑤ ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ، ⑥ ثُمَّ أُخَالِفَ إِلَى رِجَالٍ ⑦ وَفِي رِوَايَةٍ: لَا يَشْهَدُونَ الصَّلَاةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ، ⑧ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، ⑨ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ يَجِدُ عَرْقًا سَمِينًا، ⑩ أَوْ مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهُ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② قسم دي په هغه ذات چې دهغه قبضه کې زما ساه ده ③ ما اراده وکړه چې (یو خادم ته) د لرګو جمع کولو حکم وکړم او هر کله چې لرګي جمع شی ④ نو (د ماسخوتن) د لمانځه د پاره د آذان کولو حکم وکړم او هر کله چې آذان وشي ⑤ نو خلقو ته د مونځ ورکولو د پاره یو سړي مامور کړم ⑥ بیا زه د هغه خلقو طرف ته ولاړ سم (چې بغیر د عذر څخه د لمانځه د پاره جماعت ته نه راځي او هغه ناځاپه راونیسم) ⑦ د یو روایت دا الفاظ دي چې (حضور ﷺ وفرمایل) هغه خلقو طرف ته ورشم چې په لمانځه کې نه حاضریږي او د هغوئ کورونه وسوزوم ⑧ او قسم دي په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده ⑨ (کوم خلق چې د لمانځه د پاره په جماعت کې نه شریکیږي د هغوئ څخه) که چاته دا معلومه شی چې (په مسجد کې) د غوښې سرب

[1] اخرجه ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب فضل صلاة الجماعة. وبیان التشدید فی التخلف عنها(رقم) ۲۵۱ - (۶۵۱) وابوداود کتاب الصلاة/باب فی التشدید فی ترک الجماعة (رقم-۵۴۸) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فیمن سمع النداء فلا یجیب (رقم-۲۱۷) والنسائی کتاب الإمامة/باب التشدید فی التخلف عن الجماعة (رقم-۸۴۸) وابن ماجة کتاب المساجد والجماعات/باب التغلیظ فی التخلف عن الجماعة (رقم-۷۹۱)

راجع هدوكي⑩ بلكه د غوا يا د بزي (چيلۍ) دوه ښه نوكې به حاصل شي نو د ماسخوتن په لمانځه كې به خامخا حاضر شي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① هَمَمْتُ: أي: قَصَدْتُ وَأَرَدْتُ: قصد او اراده مې كړې ده. ② فَأُحَرِّقَ: اوسوزوم، ③ عَرْقًا: أي: عَظْمًا عَلَيْهِ لَحْمٌ: دغوښې والا هډوكي، ④ سَمِينًا: څرب. يعنى د غوښې نه ډک. ⑤ مِرْمَاتَيْنِ: أي: ظِلْفُ الشَّاةِ: د چيلۍ، بيزې دوه نوكي.

تسهيلات:-

قوله: فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ:

د احنافو په نيز د جماعت په حكم كښې اختلاف:- ① متأخرين احنافو دَ جماعت دَ واجب كېدو قول كړې

② دَ احنافو متقدمينو فقهاؤ دَ سنت مؤكده قول كړې دې.

د اول فريق دليل:- زيربحث حديث دَ دوی مستدل دې. ځكه چې دومره سخت وعيد سنتو په ترک باندې نشي اورولې.

د اول فريق د دليل ځخه جواب:- دَدې حديث دا وعيد دَ هغه سړی دَپاره دې چه مسلسل جمع پرېخودونكې وی او دَ دې دَ هغه عادت وی.

د حديث ځخه معلومې شوې مسئلې:- ① دَجمع پرېخودونكی دنياوی تعزير هم جائز دې او اخروی سزا ئې هم شته.

② حضورپاك ﷺ دَ سزا وركولو اراده كړې وه ليكن په هغې باندې عمل اونه كړو. دَدې وجه علماء دا بنائی چه تارك الجماعة سره دكوره سوزولو سره دَ بې ګناه كسانو دَ سوزيدو خطره وه كوم چه په كور كښې هغه سره اوسيدل لكه واړه ماشومان او زنانه وغيره.

③ امام دَ ضرورت په وخت خپل نائب مقررولې شی.

④ په آخره كښې دكم همت انسانانو ذهنی خرابوالی او كمزورئی طرف ته اشاره كړې شوې ده چه دغه كم همته خلقو ته چرته معلومه شی چه په جمات كښې به دَ دينا دَ كم ترنه كم تر څيز هم ملاوېږی نو هغوی به په منډه باندې مونځ له راشی.

د جماعت د عدم فرضيت دليل:- دَ دې حديث نمبر ۱۰۵۳ او حديث نمبر ۱۰۷۳ ځخه يوه عجيبه مخفی اشاره ملاوېږی چه جمع فرض نه ده هغه داسې چه حضورپاك ﷺ اوفرمائيل چه زه خپل ځان سره يو څو ځوانان واخلم او جمع بل چاته حواله كړم. دې نه معلومه شوه چه دَ جمع ترك كولو ګنجائش شته او دا فرض نه ده ګنې حضورپاك ﷺ به خپلو ملګرو سره څنګه تلو او جمع به ئې څنګه پرېخودله؟

۱۰۵۴- د نابينا دپاره جماعت کښې د شرکت حکم

۱۰۵۴-( )[۳] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمَى، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! [۲] إِنَّهُ لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ، [۳] فَسَأَلَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِي بَيْتِهِ، فَرَخَّصَ لَهُ، [۴] فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ، فَقَالَ: [۵] "هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ؟" قَالَ: نَعَمْ، [۶] قَالَ: "فَأَجِبْ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې يو نابينا سړي (عبدالله ابن ام مكتوم رضي الله عنه) د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو عرض يې وکړو چې يا رسول الله ﷺ [۲] زما د پاره داسې څوك رهبر نشته چې ما مسجد ته بوځي [۳] بيا هغه حضور ﷺ ته داخواست وکړو چې هغه ته په کور کې د لمانځه کولو اجازت ورکړي حضور ﷺ ورته اجازت وکړو [۴] (د هغه څخه وروسته) چې هغه (د مجلس نبوي ﷺ څخه) واپس شو نو حضور ﷺ هغه (بيا) راوغوښتل او ورته يې وفرمايل [۵] آيا ته د مونځ اذان اوري؟ هغه عرض وکړو چې هو [۶] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل ستا د پاره مسجد ته تلل ضروري دي. (مسلم)

حل اللغات: ① قَائِدٌ: أَيْ: عَبْدٌ أَوْ خَادِمٌ: راوستونکي زما يعني څوك غلام يا خادم مې نشته. ② وَلَّى: أَيْ: رَجَعَ وَأَدْبَرَ: شا ئې کړه او واپس شو. ③ فَأَجِبْ: أَيْ: فَأْتِ الْجَمَاعَةَ: يعنى د جماعت مونځ له حاضر يږه.

تسهيلات: - قوله: لَيْسَ لِي قَائِدٌ:

د رجل اعمى مصداق: - دا صحابى حضرت عبدالله ابن ام مکتوم رضي الله عنه وو.

نوټ: - د دې حديث مزيد تشريح په بل مقام کښې ذکرشوې ده.

۱۰۵۵- د سختې يخنى او باران په وجه د جماعت پرېښودلو جواز

۱۰۵۵-( )[۴] [۱] «وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، [۲] أَنَّهُ أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ، [۳] ثُمَّ قَالَ: أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ، [۴] ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ يَقُولُ: [۵] "أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱] اخرجه ومسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب يجب إتيان المسجد على من سمع النداء (رقم- ٢٥٥ - (٦٥٣) وابوداود كتاب الصلاة/باب فى التشديد فى ترک الجماعة (رقم-٥٥٢) والنسائى كتاب الإمامة/باب المحافظة على الصلوات حيث ينادى بهن (رقم-٨٥٠) وابن ماجة كتاب المساجد والجماعات/باب التغليظ فى التخلف عن الجماعة (رقم-٧٩٢)

[۲] اخرجه البخارى كتاب الاذان/ باب الرخصة فى المطر والعلة أن يصلى فى رحله(رقم- ٦٦٦)و مسلم كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الصلاة فى الرحال فى المطر (رقم- ٢٢ - (٦٩٧) وابوداود كتاب الصلاة/باب التخلف عن الجماعة فى الليلة الباردة أو الليلة المطيرة (رقم-١٠٦٣)والنسائى كتاب الأذان/باب الأذان فى التخلف عن شهود الجماعة فى الليلة المطيرة(رقم-٦٥٤) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة،والسنة فيها/باب الجماعة فى الليلة المطيرة(رقم-٩٣٦) كتاب الصلاة كتاب الطهارة . باب النداء فى السفر وعلى غير وضوء (رقم-١٠) والدارمى كتاب الصلاة/باب الرخصة فى ترک الجماعة إذا كان مطر فى السفر (رقم-١٣١١)

ترجمه:[۱] د ابن عمر رضي الله عنه په باره کې روايت دی[۲] چې هغه يوه شپه چې د شپې (سخته) يخني او هوا وه د لمانځه د پاره اذان وکړو[۳] او (د اذان نه د فارغيدو سره يې خلقو ته) اوويل خبردار په خپلو کورونوکې مونځ وکړې[۴] بيا يې وفرمايل رسول الله ﷺ به په داسې شپه چې (سخته) يخني او باران به وو مؤذن ته به حکم ورکولو چې هغه (د اذان څخه وروسته خلقو ته په اوچت آواز دا هم) اووائي[۵] خبردار په خپلو خپلو کورونو کې مونځ وکړې. (بخاري، مسلم.)

حل اللغات:- ① ذَاتِ بَرْدٍ: د يخنئ والا شپه، ② الرِّحَالِ: أَيْ فِي الْبُيُوتِ وَالْمَنَازِلِ: کورنه او د اوسيدو ځايونه.

تسهيلات:- **قوله:** أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ:

د باران او ختو په وجه د جماعت پريخودو حکم:- دَ ختو او باران دَ وجې نه سړي په کورکښې مونځ کولې شي. "الرحال" منزل او کور ته وئيلې شوې دي. "اذا ابتلت النعال فالصلوة في الرحال" النعال دَ ځپلئ په معنی کښې هم دې اوسختې زمکې ته هم وئيلې شي يعنی سخته زمکه چه کله په باران باندې لمده شی نو بيا په کورونوکښې مونځ کوئی.

۱۰۵٦- د خوراک په موجودګۍ کښې د مانځه حکم

۱۰۵٦- (¹)[۵] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، [۳] فَابْدَءُوا بِالْعَشَاءِ، [۴] وَلَا يَعْجَلْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ». [۵] وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ، وَتُقَامُ الصَّلَاةُ، فَلَا يَأْتِيهَا حِينَ يَفْرُغَ مِنْهُ، [٦] وَإِنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ترجمه:[۱] ابن عمر رضي الله عنه راوي دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هر کله چې په تاسو کې د چا مخې ته د شپې طعام کېښودل شي او (هغه وخت) د لمانځه تکبير وئيل کېږي[۳] نو هغه دې طعام شروع کړي[۴] او په طعام خوړلو کې دې تلواري نه کوي بلکه د هغه څخه دې په اطمينان سره فارغ شي[۵] او د ابن عمر رضي الله عنهما باره کې وئيل کيږي چې کله به د هغه مخې ته طعام کېښودل شو او مونځ به شروع شو نو د لمانځه د پاره به تر هغه وخته پورې نه راتلو تر څو پورې چې د طعام څخه به فارغ شوې نه وو[٦] او د امام قراءت به يې اوريدو. (بخاري، مسلم.)

¹) اخرجه البخاري کتاب الاذان/ باب: إذا حضر الطعام وأقيمت الصلاة (رقم- ٦٧٣) ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب کراهة الصلاة بحضرة الطعام الذي يريد أکله في الحال وکراهة الصلاة مع مدافعة الأخبثين (رقم) ٦٦ - (٥٥٩) والترمذي کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا حضر العشاء وأقيمت الصلاة فابدءوا بالعشاء (رقم-٣٥٣) والنسائي کتاب الإمامة/باب العذر في ترک الجماعة (رقم-٨٥٣) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب إذا حضرت الصلاة ووضع العشاء (رقم-٩٣٥) والدارمي کتاب الصلاة/باب إذا حضر العشاء وأقيمت الصلاة (رقم-١٣١٧)

حل اللغات:- ① عَشَاءُ: مَا يُؤْكَلُ بَعْدَ الزَّوَالِ: کوم خوراک چه د زوال نه پس خوړلې شی هغې ته عشاء وائی، د ماښام روټئ.

تسهیلات:-

قوله: فَابْدَأُوا بِالْعَشَاءِ:

په وخت کښې د وسعت په صورت کښې د خوراک وړاندې کولو حکم:- که چرته دَ مونځ په وخت کښې وسعت وی نودَ زړه په تسلئی سره اول هم دغه بهتر دی چه اول خوراك اوکړی دې دپاره چه په مانځه انتشار او فکرونه نه وی. دَ جمهورو په نیز دَ خوراك دَ شوق لرونکی دپاره هم دغه بهتر دی او احسن دی ځکه چه ممکن ده خوراك یخیدو سره خراب شی سپې اوپیشو ئی اوخور یا وې ختی یا په دې تاخیر سره پردو ته تکلیف اوشی.

د امام ابو حنیفه قیمتی خبره:- دَ امام ابوحنیفه رحمه الله نه په دې موقع یو حکیمانه کلام نقل دې فرمائی "لأن یکون طعامی کله صلوة احب الی من ان تکون صلوتی کلها طعاما" کله چه دَ مونځ فکر وی اوخوراك کوی نولکه چه هغه په مونځ کښې دې اوکله چه دَخوراك فکر وی او په مونځ کښې وی نولکه چه هغه دَ مانځه په ځائی په خوراك کښې مشغول دې.

۱۰۵۷- د قضاء حاجت د ضرورت په وخت د مونځ کولو کراهت

۱۰۵۷-()[۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] " «لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ [۳] وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي چې ما د حضور ﷺ څخه دا اوریدلي دي [۲] چې طعام مخې ته د راتلو په صورت کې مونځ کامل نه وي [۳] او نه په هغه حالت کې مونځ (پوره وي) هر کله چې دوه خبیث (یعني غټ اودس ماتې او متیازې) د هغه په لمانځه (کې توجه) ختمه کړي. (مسلم.)

حل اللغات:- ① يُدَافِعُهُ: أَيْ: يُطَالِبُهُ وَيَدْفَعُهُ حُضُورَ صَلَاتِهِ: دده نه د مونځ خشوع خضوع ختموی.
② الْأَخْبَثَانِ: د خبیث تثنیه ده، أَيْ: الْبَوْلُ وَالْغَائِطُ: دوه خبیث څیزونه یعنی ډک اودس ماتې او متیازې (ددې په حکم کښې باد، قئ او مذی هم داخل دی).

تسهیلات:-

په مانځه کښې د خشوع خضوع اهمیت:- مونځ دې سړې په داسې حالت اوداسې وخت کښې کوی کوم وخت چه سړی ته مکمل تسلی اوسکون حاصل وی دې دپاره چه دَ الله تعالی په حضور مکمل خشوع اوخضوع قائمه وی. خوچه کله په سړی باندې دَ اودس ماتی وغیره سخت

[۱]) اخرجه ومسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب كراهة الصلاة بحضرة الطعام الذی يريد أكله فی الحال وكراهة الصلاة مع مدافعة الأخبثين(رقم) ٦٧ - (٥٦٠)

بوج وي یا دَ خوراك سخت خواهش وي دغه شان دَ قی اوسرچکراویدو کیفیت وي یا دَ هوا شکایت وي په دې تولو صورتونو کښې مونځ روستو کولې شی او جمع پرې خودې شی

قوله: وَلَاهُوَيُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ:

داخبثان څخه مراد: - دَ بول وبراز په پریشانه کونکی حال کښې مونځ روستو کول جائزدی. بول وبراز که چرې موجب ثقل صلوة وي نو په داسې حالت کښې پخپله مونځ کول یا نوروته مونځ ورکول مکروه تحریمی دی. په داسې پریشانه کونکی حالت کښې په جمع سره مونځ پریخودل بهتردی دې دَپاره چه ښه په تسلئی اوسکون سره مونځ اوکړې شی مګر دامسائل هغه وخت دی کله چه په وخت کښې وسعت وی که چرې په وخت کښې تنګی وی نوبیابه په هرحال کښې اداکول وی.

۱۰۵۸ـ دفرض مونځ په دوران کښې دبل مونځ کولو ممانعت

۱۰۵۸ـ (٦)[٤] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② هر کله چې مونځ ودریږي (یعني د فرض لمانځه د پاره تکبیر وشي) نو د فرض لمانځه څخه علاوه بل مونځ نه دي کول پکار. (مسلم.)

تسهیلات: - قوله: إِلَّا الْمَكْتُوبَةُ:

د صبا د فرضو په وخت کښې د سنتو په ادا کولو کښې مذاهب:

دَ سحرنه علاوه دَ ځلورو وختونو په مونځونو کښې کله چه اقامت اوشی نواتفاقًا سنت کول مکروه تحریمی دی البته دَ سحرپه سنتو کښې چونکه شدید تاکید اوتاکد دې اوبعض علماؤ دې ته دَسنت په ځائی واجب وئیلی دی اوپه حدیث شریف کښې دی "صلوها وان طردتکم الخیل" یعنی که دَ دښمن اسونه مو چقنړی هم کړی نوبیا هم دا سنت مه پریږدئی دَدې تاکیداتودَ وجې نه دا مسئله دَ فقهاء په مینځ کښې مختلف فیها شوې ده.

① دَامام شافعی رحمه الله اودَ امام احمد رحمه الله په نیزدَ باقی مونځونودَ سنتوپه شان دَ سحرسنت هم دَ جمع دَقیام په وخت اداکول مکروه تحریمی دی.

② دَاهل ظواهر په نیزخودَدې قسم مونځونو انعقاد هم نه کیږی که څوك نیت اوکړی

[1]) اخرجه مسلم کتاب صلاة المسافرین وقصرها/ باب کراهة الشروع فی نافلة بعد شروع المؤذن (رقم-٦٣ - (٧١٠) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إذا أقیمت الصلاة فلا صلاة إلا المکتوبة (رقم-٤٢١) وابوداود کتاب الصلاة/باب إذا أدرک الإمام، ولم یصلی رکعتی الفجر (رقم-١٢٦٦) والنسائی کتاب الإمامة/باب ما یکره من الصلاة عند الإقامة(رقم-٨٦٥) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی إذا أقیمت الصلاة فلا صلاة إلا المکتوبة (رقم-١١٥١)والدارمی کتاب الصلاة/باب إذا أقیمت الصلاة، فلا صلاة إلا المکتوبة (رقم-١٤٨٨)

نونیت به ئی صحیح نه وی. دَامام مالك په نیز دَ سحر سنت دَ جمع دَ اودریدو په وخت په جمات کښې دننه ناجائزدی مگر دَ جمات نه بهرجائزدی په دې شرط چه جمع سره دَ دوارو رکعتونه ملاویدې شی

④ احناف فرمائی چه دَدې دوارو سنتو دَ تاکداوتاکید په رڼا کښې دَ جمع دَ اودریدو په وخت هم دا سنت کول جائزدی که جمات لوئی وی نودَدې په یوگوټ کښې دې اودریږی او که چرې جمات وړوکې وی نوسرې دې دَ جمات نه بهرلاړ شی اودې دریږی په دې شرط چه آخری رکعت مکمل ملاوشی دې دَ پاره چه احراز فضیلتونه په مکمل توگه باندې اوشی. لوئی جمات هغه وی چه شپیته قدمه پورې وی که چرې داسې نه وی نوبیا هغه وړوکې دې

۱۰۵۹- ښځوته د جمات د تلو اجازت

۱۰۵۹-()[۸] ①وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةُ أَحَدِكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يَمْنَعْهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عمر رضی الله عنهما راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل ② هر کله چي په تاسو کي د چا ښځه مسجد ته د تلو اجازت وغواړي نو هغه دي نه منع کوي. (بخاري، مسلم)

تسهیلات:-

قوله: إِذَا اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةُ:

په عهد نبوی کښې ښځو ته جماتونوته د حاضریدو اجازت:- دَ ډیرو زیاتو صحیح احادیثو نه ثابته ده چه دَ حضورپاك ﷺ په مبارکه زمانه کښې ښځوته دَ مونځ کولو دَپاره جمات ته دَ راتلو اجازت وو اوښځې به حاضریدلې هم. لیکن په دغه مبارکه زمانه کښې ئې هم په ښځو باندې یوڅو پابندئی او شرطونه لګولې وو او مطلق اجازت هغه وخت هم نه وو.

د ښځو دپاره په جماعت کښې د شرکت شرطونه:- ① ښځوته په واضحه توگه خودلې شوی وو چه دَهغوی هغه مونځونه کوم چه هغوی په کورکښې دننه کوی دَهغې ثواب دَ هغه مونځونونه زیات دې کوم چه جمات ته په تلوسره کوی.

② ښځو ته حکم وو چه هغوی دې دَ سړو نه بالکل په آخره کښې جمات ته راځی او په آخری صفونو کښې دې کینی اودَ سلام نه پس دې فوری کورونوته ځی.

③ ښځوته دا حکم وو چه هغوی دې خوشبوئی لګولو سره جمات ته نه راځی ګنی مونځ به ئی نه کیږی. دغه شان دَ ډول سینګار لباس اغوستو سره دې نه راځی.

[1]) اخرجه البخاری کتاب الاذان/ باب استئذان المرأة زوجها فی الخروج إلی المسجد وغیره،(رقم-۵۲۳۸)ومسلم کتاب الصلاة/باب خروج النساء إلی المساجد إذا لم یترتب علیه فتنة، وأنها لا تخرج مطیبة(رقم-۱۳۴ (۴۴۲))والدارمی باب تعجیل عقوبة من بلغه عن النبی صلی الله علیه وسلم حدیث فلم یعظمه ولم یوقره (رقم-۴۵۶)

④ زړو ښځوته اجازت وو اوهغه هم دَ تياري والا مونځونو کښې مثلاً دَ سحر، ماښام او ماسخوتن. خوانو ښځوته په دې کښې هم دَ شريکيدو اجازت نه وو.

⑤ سړو ته حکم وو چه هغوی دې ترهغه وخته پورې دَ جمات نه اوځی ترکومې پورې چه ښځې کورونوته اونه رسی.

په عهد نبوی کښې د زنانو مسجد نبوی ته د حاضريدو ضرورت: -دَ رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې دَ ښځو جمات ته دَ حاضريدو يو خاص ضرورت وو هغه دا چه په هغه وخت کښې به دَ نوی نوی احکاماتو نازليدل کيدل. اودَ حضورپاك ﷺ مواعظ حسنه به هم په جمات کښې کيدل اودَ هغې دَ حاصلولو واحد ذريعه هم دغه جمات کښې حاضريدل وو. ددې مجبورتي دَ وجې نه ښځوته جمات ته دَ تلو اجازت ورکړې شوې وو. بل دَ رسول الله ﷺ دَ مجالسو دَ برکاتو حصول هم ددې نه علاوه ممکن نه وو. بل ددين اسلام دَ زده کولو هم دغه يوه لار وه.

د عهد نبوی تقوی اوپرهيزگاری: -داخبره هم ذهن کښې ساتل پکار دی چه دَ هغه وخت ماحول څه وو په کوم کښې چه به ښځې جماتونو ته تللې. لږ شان خيال اوکړئی اوګورئی چه دَ صحابه کرامو دَ فرښتو په شان جماعت وو. سيدالاولين والآخرين به ذات خود تشريف فرما وو. دَ آسمان نه دَ قرآن عظيم دَ عظيم برکتونو نزول کيدلو. جبرائيل آمين به سحر ماښام په هغه مقدس زمکه باندې خپلو مبارکوتوجيهاتو سره خپل مبارك قدم کيخودلو. دَ خيرالقرون دور وو، زړونه پاك اوصفا وو، دَ الله تعالی دَ ويرې او تقویٰ ماحول وو. په داسې ماحول کښې دَ ښځو جماتونو ته راتلل دَ فتنې سبب نه وو بلکه دَ برکت سبب وو. په اصولی توګه په داسې ماحول باندې بل يو ماحول نه شی قياس کولې. نتيجه دا راؤوتله چه کله دَ رسول الله ﷺ دَ زمانې والا مجبوری باقی پاتې نه شوه اودَ هغې په شان ماحول پاتې نه شو بلکه دَ فتنې او فساد دور راغلو نو په داسې حالاتو کښې دَ ښځو جماتونو ته تلل به مناسب نه وی.

د زبير بن عوام ښځې لره جمات ته د تلو څخه منع کولو حکمت عملی: -دَ صحابه کرامو په زمانه کښې په دې مسئله بحث کيدلو او په دې باندې ښه ګرم مباحث اوشو. يو ځل حضرت زبير بن عوام رضی الله عنه خپله بی بی دَ جمات دَ تلونه منع کړه نوهغې خبره وانوريده ځکه چه دَ نبی کريم ﷺ اجازت هغې ته معلوم وو چه يو طاقتور دليل وو. حضرت زبير رضی الله عنه دا چل اوکړو چه په لاره کښې کيناستو اوکله چه دَ هغه بی بی جمات ته تلله نوحضرت زبير رضی الله عنه دَ هغې طرف ته کانړې اوويشتلو هغه هم په هغه ځائی باندې اودريده او وئی ﴿إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ﴾ دې وينا سره واپس راغله او حضرت زبير رضی الله عنه ته ئی اوفرمائيل چه اوس هغه دور پاتې نه شو په کوم کښې چه به ښځې جماتونو ته تلې.

د زنانوٓ جمات ته د تلو باره کښې د ابن عمر اود هغه د ځوئي واقعه: - په مشکوة شریف کښې هم دَدې باب آخری دوه احادیث ۳۱، ۳۲ راتلونکی دی په هغې کښې دَ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه اودَ هغه دَ ځوئی بلال خبرې اترې ذکر دی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه اوفرمائیل چه ښځوله دَ جمات دَ تلو باره کښې حضورپاك ﷺ اوفرمائیل چه دوی مه منع کوئی. دَحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه ځوئی بلال رضی الله عنه اووئیل چه زه خو به ئې منع کوم. په دې صورې معارضه باندې عبدالله بن عمر رضی الله عنه دومره خفه شو چه ټول عمر ئې هغه سره خبرې اونه کړې. حضرت بلال رضی الله عنه دَ حدیث معارضه او انکاراونه کړو صرف صورت دَ معارضه جوړشو.

د زنانوٓ جماتونو ته د ممانعت باره کښې د حضرت عائشې رضی الله عنها قول: - کله چه دا قصه حضرت عائشې رضی الله عنها ته معلومه شوه نو وئې فرمائیل چه الله تعالی دې په ابن عمر رضی الله عنه باندې رحم اوکړی که چرې په نن وخت کښې رسول الله ﷺ موجود وې نو ښځې به ئې دَ جمات دَ تلو نه منع کولې لکه څنګه چه دَ بنی اسرائیلو ښځې منع کړې شوې وې. بخاری شریف کښې دَ حضرت دَ عائشې رضی الله عنها روایت داسې دې: ((لوادرك رسول الله صلی الله علیه وسلم ما احدث النساء لمنعهن المسجد کما منعت نساء بنی اسرائیل)) (بخاری ۱/ ۱۲۰)

په عهد حاضر کښې د زنانوٓ جماتونو ته د حاضریدو فقهی حکم: - دَ ښځو جمات ته تل فقهاء احناف دَدې معروضی احوالو په رڼا کښې مکروه لیکلی دی. دَ حدیث جواز په خپل ځائی باندې صحیح دې مګر دَ حدیث دَ پاره هغه ماحول باقی پاتې نه شو به کوم ماحول کښې چه دا حدیث وئیلې شوې وو اودَ کومې مجبورئی دَ وجې نه چه وئیلې شوې وو هغه مجبورئی پاتې نه شوه. په دې وجه علماء وائی چه "فلایمنعنها" کښې چه کومه نهی راغلې ده هغه په مکروه تنزیهی باندې محمول ده یعنی منع کول خلاف اولی دی. مطلب دا چه که څوك ئې منع کړی نوهغه هم جائز دی.

۱۰۶۰-د زنانوٓ دپاره د خوشبو لګولو حالت کښې جمات ته د تلو ممانعت

۱۰۶۰-(۱)[۹] [۱] وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَتْ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ، فَلَا تَمَسَّ طِيبًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ښځه بي بي زینب رضی الله عنها وایي چې رسول الله ﷺ مونږته وفرمایل [۲] هر کله چې په تاسو کې یوه ښځه مسجد ته ځي نو خوشبو دي نه لګوي. (مسلم.)

حل اللغات: - ① لَاتَمَسّ: نه دي لګوی، ② طِيبًا: خوشبوئی (ځکه چه دا د فتنې سبب دې).

[۱] اخرجه مسلم کتاب الصلاة/ کتاب الصلاة/باب خروج النساء إلى المساجد إذا لم يترتب عليه فتنة، وأنها لا تخرج مطيبة(رقم-۱۴۳ - (۴۴۴) کتاب الزينة /باب النهى للمرأة أن تشهد الصلاة إذا أصابت من البخور(رقم-۵۱۲۹)

تسهيلات: - قوله: فَلَا تَمَسَّ طِيبًا

جمات ته د تلو په وخت كښې ښځو دپاره د خوشبو لګولو ممانعت: -حاصل د حديث دادى چې د ښځې خوشبو لګول او جمات ته تلل د فتنې نه خالي نه دى په دې وجه ددې نه منع كړې شوې ده.

ښځو دپاره بازارونو ته د تلو ممانعت: -دحديث څه دا هم معلومه شوه چې هركله خوشبو لګولو نه پس جمات ته تلل چې دالله تعالى كور دې دهغې څخه منع كړې شوې ده نو بازارنه بطريق اولى منع راغله، ځكه چې خوشبو لګول او بازار ته تلل او ښائسته برقعه كښې تلل ، ددې نه زيات دفتنې كارونه دى.ځكه دا بازارونه د شيطان د ښكار ځايونه دى.

۱۰۶۱-د خوشبو لګولو په حالت كښې زنانو دپاره جمات ته د تلو ممانعت

۱۰۶۱-(1)[۱۰] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُورًا; ٣ فَلَا تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كومه ښځه چې بخور (يعني خوشبو) لګوي ٣ هغه دې زمونږ سره د ماسخوتن په لمانځه كې نه شريكيږي. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَصَابَتْ: چه اولګوى، اورسيږى ② بَخُورًا: مَا يُتَبَخَّرُ بِهِ وَيُتَعَطَّرُ: څه چه دخوشبو دپاره استعماليږى. ③ الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ: د ماسخوتن مونځ،

تسهيلات: - قوله: أَصَابَتْ بَخُورًا:

د نبى كريم په زمانه كښې ښځو دپاره جمات ته د تلو اجازت: -دا حديث د تعميم بعد التخصيص د قبيلې څخه دې.اول د عامې خوشبو لګولو څخه منع شوې وه او اوس دخاص خوشبو لګولو منع اوشوه.ددې نه معلومه شوه چې په هغه زمانه كښې ښځو ته مسجد ته د راتلو اجازت وو خو دهغوئ دپاره مخصوص پابندياني وې.خو روستو هغه ختم شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۱۰۶۲-ښځو دپاره په كور كښې د مونځ كولو افضليت

۱۰۶۲ -(2)[۱۱] ١ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «لَا تَمْنَعُوا نِسَاءَكُمُ الْمَسَاجِدَ، ٣ وَبُيُوتُهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

[1]) اخرجه مسلم كتاب الصلاة/ كتاب الصلاة/باب خروج النساء إلى المساجد إذا لم يترتب عليه فتنة. وأنها لا تخرج مطيبة(رقم-۱۴۳ - (۴۴۴) ابوداود كتاب الترجل /باب ما جاء فى المرأة تتطيب للخروج (رقم-۴۱۷۵) والنسائى كتاب الزينة/باب النهى للمرأة أن تشهد الصلاة إذا أصابت من البخور(رقم-۵۱۲۸)

[2]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب ما جاء فى خروج النساء إلى المسجد (رقم-۵۶۷)

ترجمه:[۱] ابـن عمـر رضي الله عنه راوي دي چـې رسـول الله ﷺ وفرمايـل[۲] تاسـو خپلـې ښځې مسجدونوته (د راتلو) څخه مه منع کوي[۳] ليکن (د لمانځه کولو د پاره) د هغوئ کورونه د هغوئ د پاره بهتر دي. (ابوداؤد.)

تسهيلات:- نوټ - د دې حديث شرح اوتفصيل په حديث نمبر (۱۰۶۱) کښې تيرشوې دي

۱۰۶۳—ښځې دپاره په هر صورت کښې د پردې خيال ساتل

۱۰۶۳—( )[۱۲][۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا، [۳] وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[۱] ابـن مسـعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايـل[۲] د ښـځې په کور کې دننه (يعني په دالان کې) مونځ کول په انګړ (صحن) کې د لمانځه کولو څخه بهتـر دي[۳] او په کوټه کې مونځ کول په دالان کې د لمانځه کولو څخه بهتر دي. (ابوداؤد.)

حل اللغات:- ① حُجْرَتِهَا: أَيْ: صَحْنِ الدَّارِ: دَ کمرې مخې ته چه کوم صحن وى هغې تـه حجره ونيلى شى. ② مَخْدَعِهَا: وَهُوَ الْبَيْتُ الصَّغِيرُ الَّذِي يَكُونُ دَاخِلَ الْبَيْتِ الْكَبِيرِ: مخدع خدع نه دې، دَ دهوکې خاى او دهوکې ته وائى دلتـه دَ ښځې هغه کوټه مراد ده په کوم کښې چه دَهغې خپل پټ سامان پروت وى.

تسهيلات:-

قوله: مَخْدَعِهَا:

ښځې دپاره جماعت ته د تلو په نسبت په کور کښې د مونځ افضليت:- دَدې حديث نه يوعجيبه تعليم حاصل شو هغه دا چه اکثرښځې دَ جمات شوق کوى چه هغـه جمات تـه لاړه شـى او ثـواب اوګټـى. اوس کـه څوك دَهغـې نـه تپوس اوکړى چـه دا اوښـا يه سـتاجمات تـه دَتلوشوق ولې دې؟ که په دې وجه وى چه دَ جمـع اوجمـات ثـواب ملاؤشـى نوهغـه ثـواب خو په کورکښې هم ملاويږى بلکه دَهغې نه څه ښـه ملاويږى. اوکـه جمـات تـه دَ تللوشـوق دَبل څه وجې نه وى نوهغه شوق دې هم لږ شان اوښائى چه په هغې باندې هم غور اوکړې شى.

۱۰۶۴—د خوشبو لګولو ښځو د مونځ نه قبليدل

۱۰۶۴—( )[۱۳][۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] إِنِّي سَمِعْتُ حِبِّي أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "[۳] «لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ امْرَأَةٍ تَطَيَّبَتْ لِلْمَسْجِدِ [۴] حَتَّى تَغْتَسِلَ غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى أَحْمَدُ وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ

---

[1]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب التشديد في ذلك (رقم-۵۷۰)

[2]) اخرجه ابوداود كتاب الترجل /باب ما جاء فى المرأة تتطيب للخروج (رقم-٤١٧٤) والنسائى كتاب الزينة /باب اغتسال المرأة من الطيب (رقم-۵۱۲۷) وابن ماجة كتاب الفتن/باب فتنة النساء (رقم-٤٠٠٢)

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه فرمايي[۲] چې ما د خپل محبوب ابوالقاسم رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي[۳] چه د هغه ښځي مونځ نه قبليږي چې مسجد ته د تلو د پاره خوشبو لګوي[۴] نر دي چه که هغه خوشبو لګولي وي نو (په ښه شان) هغې غسل ونه کړي څنګه چې د نا پاکي غسل کوي. (ابوداؤد، احمد، نسايي.)

تسهيلات:-

قوله: حَتَّى تَغْتَسِلَ غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ:

جمات ته د حاضريدو په وخت زنانو د پاره د خوشبوئي لګولو حرمت:- يعني کومه ښځه چې خوشبو اولګوي نو هغه دې لکه د جنابت نه د غسل کوؤنکې ښځې پشان غسل اوکړي، که دې پورا بدن خوشبو سره معطر کړې وی. اوکه په يو اندام باندې ئې خوشبو لګولي وی نو بيا دې صرف هغه اووينځي. که په جامو ئې لګولي وی نو بيادې جامې بدلې کړي.

۱۰۶۵- د ښځو د پاره د خوشبو لګولو په حالت کښې د بهر وتلو ممانعت

١٠٦٥- ( ) [١٣] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ [٣] «وَإِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ، [٤] فَهِيَ كَذَا وَكَذَا " يَعْنِي زَانِيَةً». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَلِأَبِي دَاوُدَ وَالنَّسَائِيِّ نَحْوُهُ.

ترجمه: [۱] ابو موسي رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هره ستر ګه زنا کونکي ده [هر کله چې هغه يوې غيري ښځې طرف ته په بد نظره سره وګوري ځکه چې پردې ښځې ته په بد نظر کتل د ستر ګي زنا کول دي][۳] او کومه ښځه چې خوشبو لګولو سره (د سړو) په مجلس تيريږي (او غواړي چې خلق هغې ته وګوري)[۴] نو هغه داسې او داسې ده يعنې زنا کاره ده. (ترمذي، ابوداؤد، نسايي.)

حل اللغات:- ① زَانِيَةٌ: زنا کونکې، ② اسْتَعْطَرَتْ: أَيْ: تَطَيَّبَتْ أَوْتَبَخَّرَتْ: خوشبو او عطر اولګوي.

تسهيلات:-

قوله: فَهِيَ كَذَا وَكَذَا:

د سړو په مجلس د تيريدو په وخت ښځې د پاره د خوشبوئي لګولو حرمت:- کله چې يوه ښځه خوشبو اولګوی او په يو مجلس باندې تيريږی نو ددې مقصد خلق خپل طرف ته راغب کول وی چې هغه خلق دې طرف ته اوګوري. او هر کله چې هغوئ دې طرفته اوکتل نو هغوئ د ستر ګو په زنا کښې اخته شو، او دا ښځه چونکه ددې فعل سبب جوړه شوه نو ګويا داسې شوه چې دې د زنا ارتکاب کړې دي.

[۱] اخرجه أبوداود كتاب الترجل /باب ما جاء في المرأة تتطيب للخروج (رقم-٤١٧٣) والترمذى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية خروج المرأة متعطرة (رقم-٢٧٨٦)

۱۰۲۲- د سحر او ماسخوتن د مونځونو فضیلت

۱۰۲۲-(¹)[۱۵] ۞ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ۞ «صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا الصُّبْحَ، ۞ فَلَمَّا سَلَّمَ قَالَ: "أَشَاهِدٌ فُلَانٌ؟" قَالُوا: لَا، ۞ قَالَ: "أَشَاهِدٌ فُلَانٌ؟" قَالُوا: لَا، ۞ قَالَ: "إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِينَ، ۞ وَلَوْ تَعْلَمُونَ مَا فِيهِمَا لَأَتَيْتُمُوهُمَا وَلَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ،

ترجمه: ۞ ابي ابن کعب رضي الله عنه فرمايي ۞ چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ مونږ ته د سحر مونځ راکړو ۞ کوم وخت چې يې سلام وګرځولو نو (د يو سړي د نوم آخستو سره يې د هغه په باره کې) وفرمايل آيا فلاني سړي حاضر دي؟ صحابه و رضي الله عنهم عرض وکړو چې حاضر نه دي ۞ حضور ﷺ (د يو بل سړي نوم اخستلوسره د هغه په باره کې) وفرمايل آيا فلاني سړي حاضر دي؟ صحابه و رضي الله عنهم عرض وکړو چې نه دي حاضر ۞ (د دي ځخه وروسته) رسول الله ﷺ وفرمايل په ټولو لمونځونو کې دا دواړه لمونځونه (يعني د سحر او ماسخوتن لمونځونه) په منافقانو باندې ډير سخت تيريږي ۞ که تاسو خلقو ته معلومه شي چې د دې دواړو لمونځونو څومره ثواب دي نو تاسو به (په منډه او) په ګرنډو (يعني پريوتو او ودريدو سره) راتلې او

۞ وَإِنَّ الصَّفَّ الْأَوَّلَ عَلَى مِثْلِ صَفِّ الْمَلَائِكَةِ، ۞ وَلَوْ عَلِمْتُمْ مَا فَضِيلَتُهُ لَابْتَدَرْتُمُوهُ، ۞ وَإِنَّ صَلَاةَ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ وَحْدَهُ، ۞ وَصَلَاتَهُ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ مَعَ الرَّجُلِ، ۞ وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۞ د ثواب او فضيلت او د تقرب الي الله په سلسله کې) اولني صف د فرشتو د صف په شان دي ۞ که تاسو ته د اولني صف فضليت معلوم شي نو په هغې کې د شامليدو د پاره به په تلواري د رسيدلو کوشش کوئ ۞ او د سړي د يوازي مونځ کولو ځخه د بل سړي سره مونځ کول د زيات ثواب باعث دي ۞ او د دوو سره يو ځاي کيدو سره مونځ کول د يو سړي سره د لمانځه کولو ځخه د زيات ثواب باعث دي ۞ او څومره چې زيات (لمونځ کونکي يو ځاي يعني په جماعت سره مونځ کوي) د الله په نيز دا د ټولو ځخه محبوب دي، (ابوداؤد، نسايي.)

حل اللغات:- ① أَثْقَلُ: سخت مشکل، ګران، ② حَبْوًا: وَهُوَ أَنْ يَمْشِيَ عَلَى يَدَيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ أَوْ إِسْتِهِ: په زنګونونو په خړپوسو تلل يعني په پريوتو او اودريدو تللو ته وائي. ③ الرُّكَبِ: د رکبة جمع ده، ګونډو ته وائي. ④ لَابْتَدَرْتُمُوهُ: أَيْ: سَبَقْتُمْ إِلَيْهِ: په جلتئ سره به تاسو مخکښې والې کوئ هغې ته، ⑤ أَزْكَى: أَيْ: أَكْثَرُ ثَوَابًا: زيات ثواب والا.

(¹) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/باب في فضل صلاة الجماعة (٥٥٤) والنسائي کتاب الامامة/باب الجماعة إذا کانوا اثنين (رقم-٨٤٣)

تسهيلات:-

قوله: أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِينَ:

په منافق د سحر او ماسخوتن د مونځونو د ګرانوالي وجوهات:-

① دَ ماسخوتن او سحر په مونځ کښې محنت زيات وي په يوکښې دَ خوړ خوب نه پاسيدل وي او بل کښې دَ خوب نه منع کيدل وي

② منافق دَ اخلاص نه خالي او دَ سستئي نه ډك وي. لهذا دَ سحر او ماسخوتن مونځ په دوی باندې دروند وي.

③ په دې مونځونو کښې دَ رياکارئي موقع هم نه وي کومه چه دَ منافق محبوب سرمايه ده په دې وجه دا دواړه مونځونه په منافقانو باندې درانه وي.

۱۰۶۷- په جماعت سره مونځ کذار باندې د شيطان نه غالب کيدل

۱۰۶۷- ()[۱][۲] ۱ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ لَا تُقَامُ فِيهِمْ الصَّلَاةُ، ۳ إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ. ۴ فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ، ۵ فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ ابو درداء ﷜ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په کومه آبادي او کوم ځنګل کې چې دري سړي وي او په جماعت سره مونځ نه کوي ۳ نو په هغوئ شيطان غالب وي ۴ نو تاسو جماعت په ځان لازم کړي ۵ ځکه چې شرمښ هغه بيزه خوري کومه چې د رمي څخه جدا کيدو سره (ځان ته) وي، (احمد، ابوداؤد، نسايي.)

حل اللغات:- ① قَرْيَة: کلي، آبادي، ② بَدْو: أَيْ: بَادِيَة: ځنګل ③ اسْتَحْوَذَ: أَيْ: اسْتَوْلَى وَغَلَبَ: دا دَ غلبي او قابو کولو په معنى کښې دي. ④ الذِّئْبُ: شرمخ، ليوه، ⑤ الْقَاصِيَةَ: أَيْ: الشَّاةَ الْبَعِيدَةَ عَنِ الْأَغْنَامِ: دَ رمې نه ځان له او جدا چيلئي ته قاصيه وائي.

تسهيلات:- قوله: فِي قَرْيَةٍ:

د جماعت د مونځ اهتمام:- يعنى په کلي کښې که درې کسان هم وي نو هغوی له پکار دی چه يو امام شی او دوه مقتديان جوړيدو سره جمع او کړی دي دَپاره چه دَ جمع ثواب ورته ملاؤشی او دَ مسلمانانو دَ اجتماعيت شان هم په ځائی پاتې شی ځکه چه دَ مسلمانانو اجتماعيت ترکومې پورې قائم وی دَ ابليس طاقت په هغوی نه شی چليدې خو که دا اجتماعيت ختم شو نو دَ شيطان به په هغوی باندې غلبه اوشی

د مثال په رنړا کښې د مسئلې وضاحت:- لکه څنګه چه شرمخ دَ چيلو رمې نه شی

---

[1]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة/باب فى التشديد فى ترك الجماعة (رقم-٥٤٧) والنسائى كتاب الإمامة/باب التشديد فى ترك الجماعة (رقم-٨٤٧)

قابوکولې او په هغوی باندې حمله نه شي کولې لیکن ځان یوازې چیلئی فوری تو ګه باندې راقابوکوی. دغه شان د جمع نه ځان له مونځ کونکې یوورځ شیطان قابوکولې اوراتیینګولې شی.

۱۰۶۸—بغیر عذره د ځا لله مونځګذار مونځ نه قبلیدل

۱۰۶۸—(¹)[۱۷] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِي فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنِ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ". ۳ قَالُوا: وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: "خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ ۴ لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِي صَلَّى»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: ۱ ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړي چې د اذان کونکي (یعني مؤذن) اذان واوري او د مؤذن د تابعداري (یعني مسجد ته رسیدو سره په جماعت کې د شریکیدو) څخه هغه څه عذر منع نه کړي ۳ خلقو پوښتنه وکړه چه عذر څه دي؟ وي فرمایل (د دښمن څخه) ویره یا بیماري ۴ نو د هغه مونځ کوم چې بغیر د جماعت (اګر که په مسجد کې وي) وکړي نه قبلیږي، (ابوداؤد، دارقطني.)

حل اللغات:- ① الْمُنَادِي: أَيْ: نِدَاءَ الْمُؤَذِّنِ: د مؤذن اذان کول مراد دی.

تسهیلات: -**قوله:** "خَوْفٌ

د خوف څخه مراد: -که ځناور وی او که دښمن نه دهغوئ ویره په دې وجه چې هغه په کور مونځ کوی.

قوله: او أَمَرَضٌ:

د مرض څخه مراد: -یا داسې مرض ورته لاحق شوې وی چې جمات ته تړې نه شی تللې.

قوله: لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِي صَلَّى:

دعدم قبول څخه مراد: - عدم قبول څخه مراد قبولیت کامله نفی مقصود ده.یعنی اجروثواب کښې به ئې کمې راشی.فرض به ادا شی .دا مطلب نه دې چې مونځ ئې اونشو.

۱۰۶۹—د اقامت په دوران کښې د قضاء حاجت ضرورت پیښیدو په صورت کښې مونځ پریخودل

۱۰۶۹—(²)[۱۸] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَرْقَمَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ۲ "«إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، وَوَجَدَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ ۳ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَرَوَى مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ نَحْوَهُ.

¹) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/باب فی التشدید فی ترک الجماعة (رقم-۵۵۱)وابن ماجة کتاب المساجد والجماعات/باب التغلیظ فی التخلف عن الجماعة (رقم-۷۹۳)

²) اخرجه ابوداود کتاب الطهارة ، باب أیصلی الرجل وهو حاقن؟ (رقم-۸۸)والترمذی کتاب الطهارة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إذا أقیمت الصلاة ووجد أحدکم الخلاء فلیبدأ بالخلاء (رقم-۱٤۲) وابن ماجة باب ما جاء فی النهی للحاقن أن یصلی (رقم-۶۱۶) ومالک فی الموطا کتاب قصر الصلاة فی السفر ، باب النهی عن الصلاة والإنسان یرید حاجة (رقم-٤۹) والدارمی کتاب الصلاة/باب النهی عن دفع الأخبثین فی الصلاة (رقم-۱٤۶۷)

ترجمه: [۱] عبدالله ابن رقم رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي [۲] چه کله د لمانځه (د پاره) جماعت ودريږي او په تاسو کې چاته د اودس ماتي (لويو بولو) حاجت وي [۳] نو هغه ته پکار دي چې مخکې اودس ماتي ته لاړ شي (اګر که جماعت ترک شي). (ترمذي، مالك، ابوداود، نسايي)

حل اللغات: - ① الْخَلَاءَ: أي: احْتِيَاجُهُ: د اودس ماتي (يعنى د لويو بولو) حاجت نې وى.

تسهيلات: -

قوله: فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ:

داودس دضرورت په وخت کښې د مونځ د کراهت دوه وجوهات: -

① يعنى دچا ته چې بيت الخلاء حاجت شى نو هغه ته پکار دى چې اول هلته لاړشى چې په مونځ کښې خضوع اوخشوع برابره پاتې شى.څکه که مونځګذار د اودس ماتى په شدت سره ضرورت محسوسوى اوبيا هم مونځ کښې مشغوله کيږى.په داسې کيفيت کښې مونځ کښې خشوع باقى نه پاتې کيږى.

② هغه ته به خپله هم تکليف وى.اود قضاء حاجت د ضرورت په وخت کښې اودس ماتې اوېسارول د طبى اصولومطابق هم غلط اثر غورځوى.چې د نورو بيمارو سبب ګرځي. څکه اول ځان فارغول پکار دى.

۱۰۷۰- د درې څيزونو ممانعت

۱۰۷۰-()[۱۹] [۱] وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«ثَلَاثٌ لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يَفْعَلَهُنَّ: [۳] لَا يَؤُمَّنَّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصَّ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ دُونَهُمْ، [۴] فَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ، [۵] وَلَا يَنْظُرْ فِي قَعْرِ بَيْتٍ قَبْلَ أَنْ يَسْتَأْذِنَ، [۶] فَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ. [۷] وَلَا يُصَلِّ وَهُوَ حَقِنٌ حَتَّى يَتَخَفَّفَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوُهُ.

ترجمه: [۱] حضرت ثوبان رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] چه درې څيزونه داسې دي چې د هغې کول د هيچا د پاره حلال نه دي [۳] ① اول خو دا که يو سړي د يو جماعت امام جوړ شى او په دعا کې د جماعت د شريکولو نه بغير خپل ذات مخصوص کړي [۴] که چا داسې وکړل نو هغه د جماعت سره خيانت وکړو [۵] ② دويم دا چې هيڅ سړي دي د چا په کور کې د اجازت حاصلولو نه بغير نظر نه اچوي [۶] که چا داسې وکړل نو هغه د کور والؤ سره خيانت وکړو [۷] ③ دريم دا چې هيڅ سړي دي په داسې حالت کې مونځ نه کوي چې هغه

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الطهارة . باب أيصلي الرجل وهو حاقن؟ (رقم-۹۱) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية أن يخص الإمام نفسه بالدعاء)(رقم-۳۵۷)وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب لا يخص الإمام نفسه بالدعاء (رقم-۹۲۳)

متیازو یا لویـو بولـو تنـگ کړې وي تـر دي چـې هغـه (د استنجاء څخه فارغیـدو سره) سپک شي، (ابوداؤد ،ترمذي.)

حل اللغات:- ① لَمْ: أي: دَاخِلَ مَكَانٍ مُنْوِرٍ لِلْغَيْرِ: دکور دننه ځای ته وانی. ② حَقِنٌ: أي: وَهُوَ لَابِسُهُ الْبَوْلُ أَوِالْغَائِطُ: چاته چه تشې متیازو یا ډک اودس ماتی زور ورکړې وی. ③ يَتَخَفَّفَ: أي: يُزِيلَ مَا لَابُدَّ مِنْ ذَلِكَ: یعنی حاجت پوره کړی او ځان سپک کړی.

تسهیلات:-

قوله: فَيَخُصَّ نَفْسَهُ:

د امام ځپل ځان په دعا کښې د خاص کولو ممانعت:- یعنی چه قوم پریږدی اوپیش امام دَ خپل ځان دَپاره دعاغواړی اوخلق امین وائی دَ امام دا عمل غلط دې.

اشکال:- نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر رضی الله عنه ته کومې دعاګانې خودلې وې.هغه ځان له اودَ خپل نفس سره خاص وې او حضرت ابوبکر رضی الله عنه هغه غوښتل نو دلتـه څنګه حضورپاك ﷺ نفی اوفرمائیله؟

د اشکال جواب:- دَ تخصیص دا ممانعت دَ قنـوت نازلـه پـه دعـا کـښې دې دَ عـامو دعاګانومسئله نه ده. دویم جواب دادې چه دا نهی دَ هغه وخت دَ دعا دَپاره ده کله چه دَ دعا دَ اجابت وخت وی خلق صرف امین وائی او پیش امام دَ منفرد صیغه دَ خپل ځان دَ پاره استعمالولوسره دعا غواړی نودا قوم سره خیانت دې.

په تشهد کښې ځان په دعا کښې د خاص کولو جواز:- حضرت مولانا شیخ شمس الدین رحمه الله دَ مشکوة شرح التعلیق الفصیح کښې لیکی چه په کومو ماثوره دعاګانوکښې مقتدی په امام باندې اعتماد نه کوی بلکه پخپله هم غواړی لکه دَ تشهد نه پس دعاګانې چه دی. په داسې دعاګانوکښې امام دَ خپل ځان دَپاره دَ مفرد صیغه استعمالولې شی. لیکن چه مقتدی امین وائی نو په داسې صورت کښې امام باندې لازم دی چه هغوی دې عام صیغې استعمالوی او خپل ځان دې دعا سره نه خاص کوی.

۱۰۷۱- د طعام په وجه په مانځه کښې د تاخیر ممانعت

۱۰۷۱-()[۴۰] ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَا تُؤَخِّرُوا الصَّلَاةَ لِطَعَامٍ وَلَا لِغَيْرِهِ»". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ① حضرت جابر رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ (صحابه رضی الله عنهم مخاطب کولوسره) وفرمایل ② د طعام د پاره یا په یوي بلي وجي سره مونځ (د هغي دوخت څخه) مه مؤخر کوئ. (شرح السنة.)

[1] اخرجه ابوداود کتاب الأطعمة/باب إذا حضرت الصلاة والعشاء (رقم-۳۷۵۸)

تسهيلات:-

قوله: لَاتُؤَخِّرُوا الصَّلَاةَ لِطَعَامٍ

د تعارض اشكال:- دَدې حديث دَدې نه وړاندې حديث نمبر ۱۰۵۷ سره تعارض دې. په دې كښې دى چه دَ خوراك دَوجې نه په مانځه كښې تاخيركيدې شى ليكن په دې حديث كښې دى چه په هيڅ وجه په مانځه كښې تاخيرنه دى كول پكار.

د تعارض د اشكال جواب:- دَ زيربحث حديث تعلق په دې صورت سره دې كله چه دَ مانځه وخت ختميږى په داسې صورت كښې مونځ دَ څه وجې نه نه دى روستوكول پكار. اودَ حديث نمبر ۱۰۵۷ تعلق هغه صورت سره دې چه په وخت كښې وسعت دې لهذا مونځ مؤخركولې شى دې دَپاره چه خوراك اوكړې شى اوخراب نه شى يعنى دَ عذر او بې عذر په احوالوياندې دواړه احاديث محمول دى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۱۰۷۲- دجمعې د مونځ تاكيد

۱۰۷۲-()[۲۱] [۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنِ الصَّلَاةِ إِلَّا مُنَافِقٌ قَدْ عُلِمَ نِفَاقُهُ، [۳] أَوْمَرِيضٌ؛ إِنْ كَانَ الْمَرِيضُ لَيَمْشِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ. حَتّٰى يَأْتِيَ الصَّلَاةَ [۴] وَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدٰى، [۵] وَإِنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى الصَّلَاةُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي يُؤَذَّنُ فِيهِ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي [۲] چې مونږ ليدلي دي چې په جماعت سره د لمانځه څخه به يوازي هغه منافق كس وروسته پاتي كيدلو چې د هغه نفاق به معلوم اوښكاره وو (يعني د كومو خلقو نفاق چې پټ وو هغوي به هم په جماعت كې حاضريدل) [۳] يا به بيمار وو (يعني كوم مريض ته چې به مسجد ته د راتلو څه نه څه طاقت وو هغه به هم جماعت ته راتلو چنانچه) چې كوم مريض به د دوو سړو په مينځ كې (يعني د هغوئ په سهارا) تللي شو نو هغه به هم لمانځه ته راتلو [۴] (د دي څخه وروسته) عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل بيشكه رسول الله ﷺ مونږ ته د هدايت طريقي ښودلي دي [۵] او د هدايت په هغه طريقو كې (يوه طريقه) په هغه مسجد كې (په جماعت سره) مونځ كول دي چې په هغې كې اذان كيږي

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللّٰهَ تَعَالٰى غَدًا مُسْلِمًا؛ [۲] فَلْيُحَافِظْ عَلٰى هٰذِهِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ، [۳] حَيْثُ يُنَادٰى بِهِنَّ، [۴] فَإِنَّ اللّٰهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ سُنَنَ الْهُدٰى، [۵] وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدٰى، [۶] وَلَوْ أَنَّكُمْ صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ

[1]) اخرجه مسلم كتاب المساجد ومواضع الصلاة / باب صلاة الجماعة من سنن الهدى (رقم)۲۵۶ - (۶۵۴) وابوداود كتاب الصلاة/بباب فى التشديد فى ترك الجماعة (رقم-۵۵۰)والنسائى كتاب الإمامة /باب المحافظة على الصلوات حيث ينادى بهن (رقم-۸۴۹)

كَمَا يُصَلِّي هَذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ ۷ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ، ۸ وَلَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ، ۹ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ،

ترجمه: ۱ د یو بل روایت الفاظ دا دي چې عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه وفرمایل د کوم سړي چې دا خبره خوښه وي چې هغه صبا ورځ د الله جل جلاله سره د کامل مسلمان په حیثیت سره ملاقات وکړي ۲ نو هغه ته پکار دي چې د دې پنځه لمونځونو په هغه ځاي حفاظت وکړي ۳ چرته چې د دې پنځه لمونځونو د پاره اذان کیږي (یعني په مسجدونو کې دې دا پنځه واړه لمونځونه په جماعت سره او په پابندي سره اداء کوي) ۴ ځکه چې الله جل شانه ستاسو د نبي صلی الله علیه وسلم د پاره د هدایت (تولي) طریقي مقرر کړي دي ۵ او د دې پنځه واړو لمونځونو په جماعت سره کول هم د هدایت د طریقو څخه یوه طریقه ده ۶ که تاسو خپل لمونځونه په خپلو کورونو کې (اګر چې په جماعت سره) کوي څنګه چې دا وروسته پاتې کیدونکي (یعني منافق) مونځ کوي ۷ (نو پوهه شي چې) تاسو به د خپل نبي صلی الله علیه وسلم سنت پریښودونکي یئ ۸ او که د خپل نبي صلی الله علیه وسلم سنت پریږدي نو بیشکه ګمراه به شئ ۹ او کوم سړي چې پاك کیدو سره ښه اودس کوي (یعني د اودس د پوره حقوقو او ادابو لحاظ اوساتي او د هغې تول واجبات او سنن اداء کوي)

حل اللغات:- ① مَا يَتَخَلَّفُ: روسته نه پاتې کیږي (د جماعت د مونځ نه). ② سُنَنَ الْهُدَىٰ: أَيْ: طَرِيقُ الْهُدَىٰ: د هدایت نیغه لار مراد ده.

۱ ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هَذِهِ الْمَسَاجِدِ؛ ۲ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً، ۳ وَرَفَعَهُ بِهَا دَرَجَةً، ۴ وَحَطَّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً، ۴ وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ، ۵ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ يُهَادَى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ ۶ حَتَّى يُقَامَ فِي الصَّفِّ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او بیا هغه په مسجدونو کې یو مسجد ته ځي ۲ نو خداوند قدوس د هغه د هر قدم په بدله کې چې هغه (د مسجد په لار کې) اږدي یوه نیکي لیکي ۳ او د هغه یوه درجه اوچتوی ۴ او یوه بدي ځیني لرې کوي ۴ مونږ لیدلي دي چې د ښکاره منافق څخه علاوه هیڅ سړي به د جماعت څخه وروسته نه پاتې کیدلو (یعني جماعت یې نه ترک کولو) ۵ تر دې چې بیمار سړي به په دې حالت کې مونځ ته راوستل کیدو چې هغه به د انتهایي ضعف او کمزوري په وجه د دوو سړو (امداد) حاصلولو ۶ او هغه به صف کې ودرول شو.

حل اللغات:- ③ حَطَّ: أَيْ: وَضَعَ وَمَحَا: لرې کوی او ورانوی. ④ يُهَادَى: أَيْ: يَمْشِي وَيَتَمَايَلُ: یعنی د بل چا په سهاره او مدد سره به راوستلې شو.

تسهیلات:-

قوله: من سُنَنِ الْهُدَىٰ:

د مسنون اعمالو دوه قسمونه:-

① هغه افعال چه حضورپاك ﷺ به دَ عبادت په طریقه کول هغې ته سنن هدیٰ وائی اوهم دغه سنت مؤکده دی لکه دَ سحر ماسپخین ماښام اوماسخوتن دَ مونځونونه وړاندې روستو دولس رکعته سنت دی

② کوم اعمال چه حضورپاك ﷺ دَ عادت په توګه کول هغې ته سنن زواندوائی کوم چه دَ قبیل مستحبات نه دی. لکه دَ حضورپاك ﷺ لباس اوخوراك څښاك اودَ دې دپاره څه کیفیت خپلول وغیره وغیره.

په دویم قسم باندې د ثواب ملاویدو شرط :- په سنن زواندباندې عمل کولوثواب هله ملاویږی چه سړې دَ اتباع النبی ﷺ نیت اوکړی که دَ اتباع نیت نه وی نو ثواب به نه ملاویږی لکه دَ بعض قومونو پټکی چه دَ قومی روایاتو دَ وجې نه وی په هغې کښې ثواب نشته یا لکه چه بعض قومونه لنګ په قومی جذبه تړلې وی په دې کښې به ثواب هغه وخت ملاویږی چه سړې دَ حضورپاك ﷺ دَ اتباع نیت اوکړی.

۱۰۷۳- د جمعې پریخودنکی ګناهګار یدل

۱۰۷۳- () [۲۲] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ٢ "«لَوْلَا مَا فِي الْبُيُوتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ، ٣ أَقَمْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ، ٤ وَأَمَرْتُ فِتْيَانِي يُحْرِقُونَ مَا فِي الْبُيُوتِ بِالنَّارِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ که په کورونو کي ښځي او ماشومان نه وي ٣ نو ما به د ماسختن مونځ قائم کړي وي ٤ او خادمانو ته به مي حکم ورکړي وې چې (کوم خلق په لمانځه کې حاضر نشي) د هغوئ کورنوته اور ولګوي. (احمد)

حل اللغات:- ① فِتْيَانِي: أَيْ: غِلْمَانِي وَخَدَمِي: یعنی زکا غلامان او خادمان

تسهیلات:-

قوله: مِنَ النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ:

دماشومانواوزنانو د ذکر کولو وجه :- اګرچې خاروی او نور حشرات الارض هم په کور کښې بعضې وخت موجود وی. اودهغوی وزول هم حرام وو. خونبی کریم صرف د دې دواړو صفونو ذکر اوکړو. د دې وجوهات دا لاندې دی.

① یعنی ښځې اوماشومان صاحب الاعذار جماعت ته په حاضری باندې مکلف نه دی.

② په جماعت کښې ددوی شمولیت ضروری نه دې.

③ په کورکښې په عامه توګه هم دا دواړه قسمه خلق موجود وی. په دې وجه ئې ددې دواړو ذکر اوکړو.

[1]) اخرجه احمد في المسند ۲/۲۶۷

۱۰۷۴ — د اذان څخه روسته د جمات څخه د وتلو ممانعت

۱۰۷۴ — (¹) [۲۳] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ ۳ فَلَا يَخْرُجْ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُصَلِّيَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ مونږ ته حکم کړي وو ۲ چې هر کله تاسو په مسجد کې موجود يئ او د لمانځه د پاره اذان وشي ۳ نو په تاسو کې دي هيڅوک بغير د لمانځه کولو د مسجد څخه نه وځي. (احمد)

تسهيلات: - قوله: فَلَا يَخْرُجْ:

نوټ: - د خروج من المسجد د مسئلې وضاحت او شرح په راروان درې احاديثو کښې راځي هلته ئې مطالعه کړئ.

۱۰۷۵ — د اذان څخه وروسته د جمات څخه د وتلو حکم

۱۰۷۵ — (²) [۲۴] ۱ وَعَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ، قَالَ: ۲ خَرَجَ رَجُلٌ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَمَا أُذِّنَ فِيهِ. ۳ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: أَمَّا هَذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ابوشعثاء فرمايي ۲ چې (يوه ورځ) د اذان کيدو څخه وروسته يو سړي د مسجد څخه وتلو ۳ نو ابوهريره رضي الله عنه وفرمايل چې دې سړي د ابو القاسم (يعني د رسول الله ﷺ) نافرماني وکړه. (مسلم.)

حل اللغات: - ① عَصَى: نافرماني ئې اوکړه، ② أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د رسول الله ﷺ کنيت دې.

تسهيلات: -

قوله: فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په خارج من المسجد باندې د عاصي د اطلاق وجه: -حضرت ابوهريره رضي الله عنه ته به د قرائنو څخه معلومه شوې وي چې دا کس د واپسۍ اراده نه لري. او دا به ورته هم د قرائنو څخه معلومه شوې وي چې ددې جمات امام هم نشته دې. په دې وجه ئې دا الفاظ اوفرمائيل.

(¹) اخرجه احمد في المسند ۲/۵۳۷

(²) اخرجه مسلم کتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب النهي عن الخروج من المسجد إذا أذن المؤذن (رقم) ۲۵۸ - (۶۵۵) وابوداود کتاب الصلاة،باب الخروج من المسجد بعد الأذان (رقم ۵۳۶)والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في کراهية الخروج من المسجد بعد الأذان (رقم-۲۰۴) والنسائي کتاب الأذان/باب التشديد في الخروج من المسجد بعد الأذان (رقم-۶۸۳) وابن ماجة کتاب الأذان، والسنة فيه/باب إذا أذن وأنت في المسجد فلا تخرج (رقم-۷۳۳)والدارمي باب في النهي عن صيام يوم الشک (رقم-۱۷۲۴)

۱۰۷۶- بغير مونځ د جمات څخه وتونکی باندې د منافق اطلاق

۱۰۷۶-(۱)[۲۵] [۱] وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ أَدْرَكَهُ الْأَذَانُ فِي الْمَسْجِدِ، [۳] ثُمَّ خَرَجَ لَمْ يَخْرُجْ لِحَاجَةٍ، [۴] وَهُوَ لَا يُرِيدُ الرَّجْعَةَ، فَهُوَ مُنَافِقٌ» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت عثمان ابن عفان ﷠ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې په مسجد کې وي او اذان وشي [۳] بيا هغه بغير د څه ضرورته د مسجد څخه ووځي [۴] او (په جماعت کې د شريکيدو دپاره) د واپس راتلو اراده هم نه لري نو هغه منافق دي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① الرَّجْعَةَ: أَيِ: الرُّجُوعَ: واپس راتلل (چه په جماعت سره مونځ کښې شريک شي)

تسهيلات: -

قوله: وَهُوَ لَا يُرِيدُ الرَّجْعَةَ، فَهُوَ مُنَافِقٌ

دمنافق څخه مراد: -دلته د منافق نه مراد عاصي دې. هغه ته منافق په دې وجه اووئيلې شو خکه چې هغه جماعت ترک کړو.

اشکال: -منافق هغه کس ته وائي چې په هغه د منافق علامات اوليدلې شي ،او د منافق درې علامات دی کوم چې ماقبل حديث کښې تيرې شوې، نو دلته خو د منافق هيڅ يو علامت هم نشته دې؟

د اشکال جواب: - دلته د نفاق اطلاق شايد په دې وجه اوشو چې هغه کس اجابت قولي او فعلي اوکړو. بيا بهر راوتلو سره ئې هغه قولي او فعلي اجابت ترک کړو. يعنی هغه خلقو ته دروغ اووئيل. او دروغ وئيل د نفاق علاماتو څخه يوه علامه ده.

۱۰۷۷- په ژبه او عمل سره د اذان جواب ورکول

۱۰۷۷-(۲)[۲۶] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [۲] " «مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ، [۳] فَلَا صَلَاةَ لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ» ". رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن عباس ﷠ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې اذان واوريدو او د هغې جواب يې ورنه کړو [۳] نو د هغه مونځ نه کامل کيږي (يا نه قبليږي) خو د څه عذر په وجه سره (که داسې يې وکړل نو څه حرج نشته). (دارقطني)

تسهيلات: -

داذان د اجابت دوه طريقې: - ① په ژبه سره ده چه دَاذان دَ کلماتو جواب ورکړې شي ② دَ عملی طور د اذان اجابت کول يعنی چه مؤذن څنګه اووائی "حی علی الصلاة" نوچه

[۱] اخرجه ابن ماجة كتاب الأذان، والسنة فيه/باب إذا أذن وأنت في المسجد فلا تخرج (رقم-۷۳٤)
[۲] اخرجه ابن ماجة كتاب المساجد والجماعات/باب التغليظ في التخلف عن الجماعة (رقم-۷۹۳)

اوريدونکې روان شي.

د وعيد څخه مستثنی کسان:- ①علماء وائي چه کوم سړي په عمل سره اجابت کوی نو په ژبه سره اجابت نه کونکې به دَدغه وعيد مستحق نه وی.
② دغه شان هغه سړې چه په جمات کښې ناست وی اوتلاوت کوی که هغه دَاذان جواب ورنه کړی نو په دغه وعيد کښې به نه راځی ځکه چه هغه دَ اول نه موجود دې

تسهيلات:-

قوله: إِلَّامِنْ عُذْرٍ

دخروج من المسجد ده جواز صورتونه:- دپه کوم جمات کښې چې اذان اوشی نو دهغې څخه وتل جائز نه دی البته که لاندينی صورتونو کښې يوصورت وی نو بيا وتلی شي.
① په جمات کښې د استنجاء ځائې نه وی نود اودس په غرض بهرته اوځی.
② ورکوتی يا غټ اودس ماتی ضرورت محسوسوی.
③ دبل جمات متولی وی اوچابيانې ده سره وی يا امام يا نائب امام وی.

١٠٧٨-د نابينا د جماعت پريښودو حکم

١٠٧٨-()[٢٧] ١ «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ٢ قَالَ: يَارَسُوْلَ اللّٰهِ! إِنَّ الْمَدِينَةَ كَثِيرَةُ الْهَوَامِّ وَالسِّبَاعِ، ٣ وَأَنَا ضَرِيرُ الْبَصَرِ، ٤ فَهَلْ تَجِدُ لِي مِنْ رُخْصَةٍ؟ ٥ قَالَ: "هَلْ تَسْمَعُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ؟" قَالَ: نَعَمْ، ٦ قَالَ: "فَحَيَّهَلًا". وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ عبدالله ابن ام مکتوم رضي الله عنه فرمايي ٢ چې ما عرض وکړو يا رسول الله ﷺ په مدينه کې موذي ځناور او درندګان زيات دي ٣ او زه نابينا يم ٤ (د دي عذر په وجه) آيا تاسو ماته اجازت راکوئ چې زه جماعت ته نه راځم (او په کورکي به مونځ کوم)؟ ٥ رسول الله ﷺ (دا اوريدو سره) وفرمايل آيا ته حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ او حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اوري ما عرض وکړو چې هو ٦ نو وي فرمايل جماعت ته راځه او هغه ته يي د جماعت پريښودو اجازت ورنه کړو (ابوداؤد، نسايي.)

حل اللغات:- ① الْهَوَامِّ: أَيِ: الْمُؤْذِيَاتِ: ضرر رسونکی ځناور (مثلا لړمان او ماران وغيره). ② السِّبَاعِ: درنده او شلونکی ځناور (مثلا شرمخان، سپی وغيره). ③ ضَرِيرُ الْبَصَرِ: أَيْ أَعْمَى: د سترګو بيمار يعنی ړوند، نابينا. ④ فَحَيَّهَلًا: كَلِمَةُ حَثٍّ وَاسْتِعْجَالٍ وُضِعَتْ مَوْضِعَ أَجِبْ: دا د راشه په ځائې د ترغيب او تلوارې دپاره استعماليږي.

[1]) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/باب فی التشديد فی ترک الجماعة (رقم-٥٥٣) والنسائی کتاب الإمامة/باب المحافظة علی الصلوات حيث ينادی بهن (رقم-٨٥١) وابن ماجة کتاب المساجد والجماعات/باب التغليظ فی التخلف عن الجماعة (رقم-٧٩٢)

تسهيلات:- قوله: كَثِيرَةُ الْهَوَامِّ وَالسِّبَاعِ:

هوام اوسباع څخه مراد:- د كثيرالهوام ددې څخه مراد لړمانان او ماران وغيره دى.اود السباع څخه مراد خيرونكى ځناور او سپى دى، يا بالعموم موذى ځناور دى.

قوله: وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ:

د رواياتو د تعارض اشكال: دې حديث كښې نبى كريم ﷺ حضرت عبدالله ابن ام مكتوم ﷛ ته د موذى ځناورو د ويرې په وجه اجازت ورنكړو.اوپه ماقبل كښې دحضرت ابن عباس ﷛ حديث كښې دى:د عذر په وجه د جماعت پريخودو اجازت وركړې دې.اوعذر نبى كريم ويره او مرض خودلې وو.

② د ابن عباس ﷛ دحديث واقعه وړاندينى وه ،په هغه وخت كښې ابادى كمه وه نوخوف عذر اوګرځولې شو.اود عبدالله ابن ام مكتوم ﷛ واقعه روستنى ده آبادى زياته شوې وه.اوحشرات الارض ختم شوې وو.ځكه نبى كريم اجازت ورنكړو؟

داشكال جوابونه:-

① نبى كريم ﷺ دواړو ځايونو كښې د صحابه كرامو دمقام او مرتبې لحاظ سره جواب وركړو.كوم صحابى چې مرتبه كښې كم وو هغه ته ئې اجازت وركړو او كوم صحابى چې مرتبه كښې اوچت وو هغه ته ئې په عزيمت باندې دعمل كولو حكم وركړو.

② نبى كريم ﷺ ته معلومه وه چې خطرناكه لاره ده ،خو نبى كريم ﷺ د ابن ام مكتوم ﷛ جذبې ته اوكتل او اجازت ئې ورنه كړو.

۱۰۷۹-د امت محمدى امتيازى صفت

۱۰۷۹-()[۲۸][۱] وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] دَخَلَ عَلَيَّ أَبُو الدَّرْدَاءِ وَهُوَ مُغْضَبٌ، فَقُلْتُ: مَا أَغْضَبَكَ؟ [۳] قَالَ: وَاللّٰهِ مَا أَعْرِفُ مِنْ أَمْرِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا إِلَّا أَنَّهُمْ يُصَلُّونَ جَمِيعًا. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] بي بي ام درداء ﷞ فرمايي [۱] چې (يوه ورځ زما خاوند) ابو درداء ﷛ د غصې څخه ډك مالره راغي (د هغه د حالت ليدو سره) ما ځيني پوښتنه وكړه كوم شي ته غضبناك كړې يې؟ [۳] هغه اوويل قسم په الله د حضور ﷺ د امت په باره كې (د مخكې په شان)يوازې دا يوه خبره پيژنم چې هغوي په جماعت سره مونځ كوي (خو اوس هغه هم پريږدي) (بخاري).

حل اللغات:- ① مُغْضَبٌ:دا دَ اسم مفعول صيغه ده يعنى هغه دَ غصې نه ډك شوې وو لكه چه چا په غصه كښې اچولې وو.

[1] اخرجه البخاري كتاب الاذان/ باب فضل صلاة الفجر فى جماعة (رقم-۶۵۰)

تسهیلات:-

قوله: وَهُوَ مُغْضَبٌ:

د سوال او جواب د عدم مطابقت اشکال:- دَ ام الدرداء رضي الله عنها دَ سوال په جواب کښې ابودرداء رضي الله عنه هغه د سوال سره مطابقت نه خوری؟

دا شکال جواب:-

① ابودرداء رضي الله عنه هډو جواب نه دې ورکړې لکه چه په لمعات کښې دی.

② ملاعلی قاری رحمه الله یو توجیه دا کړې ده اودائی دَ تولو نه بنه ګرځولې ده فرمائی: "أي اغضبتنى الامور المنكر المحدثة فى امة محمد لانى والله ما اعرف من امرهم شيئا على الجادة الا انهم يصلون جميعا فيكون الجواب محذوفا والمذكور دليل الجواب". یعنی زه دې څیز په غصه کښې اخته کړم چه په امت محمدیه کښې قسم قسم منکرات اوبدعات پیدا شو. اوس خو هیڅ څیز هم په خپل اصلی حالت کښې باقی پاتې نه شو. او صرف په جمع سره مونځ کوی. هم دغه یو څیز باقی دې کوم چه په خپل اعتدال باندې دې اوس هغه هم رخصت کیږی.

۱۰۸۰- د سحر مونځ په جمعې سره کولو فضیلت

۱۰۸۰-(¹)[۲۹]① وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، قَالَ: ②إِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَدَ سُلَيْمَانَ بْنَ أَبِي حَثْمَةَ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ، ③وَإِنَّ عُمَرَ غَدَا إِلَى السُّوقِ، ④وَمَسْكَنُ سُلَيْمَانَ بَيْنَ الْمَسْجِدِ وَالسُّوقِ، ⑤فَمَرَّ عَلَى الشِّفَاءِ أُمِّ سُلَيْمَانَ، ⑥فَقَالَ لَهَا: لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ، ⑦فَقَالَتْ: إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّي فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ، ⑧فَقَالَ عُمَرُ: لَأَنْ أَشْهَدَ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي جَمَاعَةٍ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُومَ لَيْلَةً. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① ابوبکر بن سلیمان ابن ابي حثمه فرمایي② چي (یوه ورځ) حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د سحر په لمانځه کي (زما پلار) سلیمان ابن ابي حثمه ونه لیدلو③ حضرت عمر رضي الله عنه چي کله سحر بازار ته تلو④ نو د سلیمان کور د مسجد او بازار په مینځ کي وو⑤ ځکه هغه د سلیمان مور شفاء لره ورغلي⑥ او د هغه څخه یي پوښتنه وکړه (څه وجه ده) چي نن ما سلیمان د سحر په لمانځه کي ونه لیدلو؟ (هغه د سحر مونځ ته حاضر نه وو) ⑦ هغي ورته اوویل (چي خبره دا ده چي) سلیمان نن توله شپه په لمانځه کولو کي تیره کړي وه او (سحر کیدو ته نژدي) د هغه سترګي پټي شوي⑧ نو ځکه حاضر نه وو حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل زه د سحر مونځ په جماعت سره کول د تولي شپي (د عبادت د پاره) د ودریدلو څخه بهتره ګنړم. (مالك.)

حل اللغات:- ① فَقَدَ: أَيْ: مَا وَجَدَهُ: بیانې نه موندلو، ② غَدَا: أَيْ: ذَهَبَ: سحر وختی لاړو.

¹) اخرجه مالک فی الموطا کتاب صلاة الجماعة /باب ما جاء فی العتمة والصبح (رقم-۷) من کتاب صلاة الجماعة

تسهیلات:-

د تهجدو څخه د جماعت د مونځ افضلیت:- عمرفاروق رضي الله عنه دَوخت خلیفه او امیرالمؤمنین دي سلیمان رضي الله عنه یوصحابی دي دَ امیرالمؤمنین دینی فکرته ګورئی چه دَ مانځه باره کښي دَ خپلو ملګرو څومره لوئی فکرکوی. دَ صحابه کرامو په دومره لویه ډله کښي دَ یوصحابی غیرحاضری محسوس کوی. بیا په بازارکښي هم دَهغه دَ مور شفاء رضي الله عنها نه تپوس کوی چه مانن دَ سحر په مونځ کښي سلیمان رضي الله عنه اونه لیدلو خیرخودي. بل طرف ته دَ صحابه کرامو دَ عبادت اندازه اولګوئی چه مور ئی جواب ورکوی چه هغه ټوله شپه تهجد کړي سحرئی سترګي پټي شوي اوجمع تري لاړه. دَ حضرت عمرفاروق رضي الله عنه دَ جمع دَ لوئی اهمیت اندازه اولګوئی چه فرمائی زماخوجمع دَدي نه ډیره خوښه ده چه ټوله شپه تهجداوکړم او سحر په جمع کښي غیرحاضر پاتي شم. سبحان الله څه دینی ماحول وو.

۱۰۸۱—په دوؤ کسانو د جمعي د مونځ منعقد کیدل

۱۰۸۱—(۱)[۳۰] ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«اثْنَانِ فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ ابوموسي اشعري رضي الله عنه راوي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲ دوه سړي وي يا د دوو څخه زيات وي دوي څخه (جماعت کيدي) شي. (ابن ماجه.)

تسهیلات:-

قوله: اثْنَانِ فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ:

دجماعت دپاره د کثرت افرادو عدم ضرورت:- مطلب دادي چه دَ جمع دَ صحت دَپاره دا ضروری نه ده چه ډیر زیات شمیرکښي دي خلق راجمع شی یا دَ کم نه کم دري کسان ضروری وی داسي معامله نه ده بلکه دَدوو کسانوجمع هم صحیح ده چه یوامام شی دویم مقتدی وی اودَ مقتدی دَ امام ښی طرف ته کیدل ضروری دی.

۱۰۸۲—ښځوته د جمعي په مونځ کښي د شرکت اجازت

۱۰۸۲—(۲)[۳۱] ۱ وَعَنْ بِلَالِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«لَا تَمْنَعُوا النِّسَاءَ حُظُوظَهُنَّ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِذَا اسْتَأْذَنَّكُمْ»". ۳ فَقَالَ بِلَالٌ: وَاللّٰهِ لَنَمْنَعُهُنَّ. ۴ فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللّٰهِ: أَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَقُولُ أَنْتَ: لَنَمْنَعُهُنَّ.

---

(۱) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/بباب الاثنان جماعة (رقم-۹۷۲)

(۲) اخرجه مسلم في كتاب الصلاة/ كتاب الصلاة/باب خروج النساء إلى المساجد إذا لم يترتب عليه فتنة، وأنها لا تخرج مطيبة(رقم) ۱٤۰ - (٤٤۲) وابوداود كتاب الصلاة،باب ما جاء في خروج النساء إلى المسجد (رقم-۵۶۶) وابن ماجة باب تعظيم حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم، والتغليظ على من عارضه(رقم-۱۶)

ترجمه: [۱] بلال ابن عبدالله رحمه الله د خپل پلار بزرگوار (عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما) څخه روایت کوي چې هغه (یوه ورځ) اوویل چې رسول الله ﷺ وفرمایل[۲] هر کله چې ښځې ستاسو څخه مسجد ته د تلو اجازت وغواړي نو تاسو هغوي لره (منع کولو سره) هغوي د مسجدونو د حصې څخه مه محرومه کوي (یعنې مسجد ته د تلو ثواب هغوي ته حاصلیږي تاسو هغوي مسجدونو ته د تلو څخه منع کولو سره هغوي د ثواب حاصلولو څخه مه منع کوي)[۳] بلال اوویل قسم په الله مونږ خو به هغوي ضرور منع کوو[۴] عبدالله رضی الله عنه بلال ته وفرمایل زه خو وایم چې دا د رسول الله ﷺ ارشاد دي او ته وایې چې مونږ به ضرور هغوي منع کوو.

حل اللغات: - ① حُظُوظَهُنَّ: أَيْ: ثَوَابَهُنَّ: یعنی چه هغوی ته مسجد ته په تلوکښې په مونځ باندې کوم ثواب حاصلیږي.

تسهیلات: -

قوله: لَاتَمْنَعُوا النِّسَاءَ

جماتونو ته د زنانوحاضریدل: -یعنی کومې ښځې چې مونځ دپاره یا طواف دپاره مسجد حرام ته راځي نو هغوی مه منع کوئی .یا دبیت الله طواف کولو نه ئې مه منع کوئ .ځکه چې د حضور ﷺ په زمانه کښې منافقین هم ویریدل چې که مونږ څه حرکت اوکړو نو وحی به راشي او تر قیامته به رسوا شو.خو ددې څخه روسته کله چې د وحی زمانه منقطع شوه نو ښځې جماتونوته د تلو نه منع کړې شوې.دا په دې وجه چې د هر قسمه فتنو نه محفوظ پاتې شی .لکه څنګه چې حدیث الباب څخه معلومیږي.

ښځودپاره جمات ته دتلو استثنائی صورتونه: -ددې څخه د حج طواف یا عمرې فرض طواف یا مسجد حرام کښې مونځ کول مستثنی دی.

۱۰۸۳ -()[*] [۱] وَفِي رِوَايَةِ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: [۲] فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ فَسَبَّهُ سَبًّا مَا سَمِعْتُ سَبَّهُ مِثْلَهُ قَطُّ، [۳] وَقَالَ: أُخْبِرُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَقُولُ: وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ! رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] یو بل روایت کې سالم د خپل پلار څخه نقل کوي[۲] چې بیا (د دې څخه وروسته) حضرت عبدالله رضی الله عنه بلال طرف ته متوجه شو او دومره بد رد یي ورته اوویل چې ما هیڅ کله د حضرت عبدالله رضی الله عنه د ژبې څخه دومره بد رد ویل چېرته نه دي اوریدلي[۳] او بیا یي اوویل چې زه خو وایم چې دا خو رسول الله ﷺ فرمایلي دي او ته وایې چې مونږ به هغوي ضرور منع کوو. (مسلم.)

حل اللغات: - ① فَسَبَّهُ سَبًّا: بد رد ئې ورته اووئیل.

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الصلاة/ کتاب الصلاة/باب خروج النساء إلی المساجد إذا لم یترتب علیه فتنة، وأنها لا تخرج مطیبة(رقم) ۱۴۰ - (۴۴۲)

تسهيلات:- قوله: وَاللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ:

د ابن عمر رضی الله عنه په حديث نبوی باندې غيرت:- حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه ښځو متعلق جمات ته لاړو په جمع سره دَ مونځ کولو حديث ئی بيان کړو په کوم کښې چه دا ووچه ښځې دَ جمات دَتللونه مه منع کوئی. په دې باندې دَحضرت ابن عمر رضی الله عنه خوئی حضرت بلال رضی الله عنه اوفرمائيل چه زه خو به ئی يقينًا منع کوم، په خبرو اترو کښې دَدواړو دکلام تبادله داسې اوشوه چه په ظاهری توګه دَحضرت بلال رضی الله عنه په کلام کښې حديث نبوی سره دَمعارضه صورت پيداشو. دا صرف صورةً معارضه وه حقيقةً بالکل نه وه ځکه چه حقيقةً معارضه خو انکارحديث اودَ اسلام دَ يوحکم نه انکاردې دَ کوم چه دَ حضرت بلال رضی الله عنه نه تصور هم نه شی کيدې. بهرحال حضرت ابن عمر رضی الله عنه په دې صوری معارضه باندې سخه خفه شو او حضرت بلال رضی الله عنه ته ئی سخت سست اوونيل او قسم ئی اوخوړلو چه تاسره به تول عمر کلام نه کوم نو په تول ژوند کښې ئی خپل دَ زړه تکړې سره خبرې اونه کړې.

اشکال:- ددې حديث نه معلوميږی چې خفګان د دريو ورځو نه زيات جائز دې. حالانکه بل حديث کښې دی ((لا يحل لمسلم ان هجراخاه فوق ثلث)) او په دې درې ورځو نه په زياتو باندې وعيد دې؟

داشکال جواب:- هرکله چې د ترک کلام وجه دنياوی وی نو بيا د دريو ورځو نه زيات جائز نه دی.او که د ترک کلام وجه دينی وی نو بيا د دريو ورځو نه زيات جائز دی.تر کومې چې هغه کس خپله اصلاح اونه کړی .

۱۰۸۳-د حضرت عبدالله د خپل ځوی څخه خفګان

۱۰۸۳-(۱)[۳۲] [۱]وَعَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "[۲] «لَا يَمْنَعَنَّ رَجُلٌ أَهْلَهُ أَنْ يَأْتُوا الْمَسَاجِدَ» ".[۳] فَقَالَ ابْنٌ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: فَإِنَّا نَمْنَعُهُنَّ.[۴] فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَقُولُ هَذَا؟! [۵] قَالَ: فَمَا كَلَّمَهُ عَبْدُ اللهِ حَتَّى مَاتَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه:[۱] مجاهد رحمه الله دعبدالله ابن عمر رضی الله عنه څخه نقل کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي[۲] چې هيڅوك دي خپل اهل (يعني خپله ښځه) مسجدونو ته د تلو څخه نه منع کوي [۳] (دي اوريدو سره) د عبدالله رضی الله عنه يو زوي (بلال) اوويل چې مونږ خو به هغوي منع کوو [۴] عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ورته وفرمايل زه درته د رسول الله صلی الله علیه وسلم حديث بيانوم او ته دا وايې (چې مونږ خو به يې منع کوو)[۵] د راوي بيان دي چې د دې څخه وروسته حضرت عبدالله رضی الله عنه د خپل زوي (بلال) سره (تر آخر عمر پورې) خبرې ونه کړې تر دې چې وفات شو. (احمد.)

تسهيلات:- نوټ:- د دې حديث تشريح په بل ځائې کښې په تفصيل سره ذکرشوې ده.

[۱] اخرجه احمد في المسند ۳۶/۲

[۴۰/۲۴]بَابُ تَسْوِيَةِ الصَّفِّ]

د صفونو د برابرولو بیان

خلاصة الباب:-

فيه أحد وعشرون حديثاً تشتمل على تسع مسائل:

① تسوية الصفوف: ۱، ۲، ۳، ۴، ۶، ۹، ۱۰، ۱۳، ۱۴، ۱۶، ۱۸.

② الزجر على من لا يسوي الصف: ۱، ۴، ۶.

③ كون تسوية الصف من إقامة الصلوة: ۳.

④ ترتيب الصفوف: ۴، ۵.

⑤ اتمام الصف الأول وفضيلته: ۷، ۸، ۱۰، ۱۱، ۲۰.

⑥ فضيلة الأيمن من الصف : ۱۲.

⑦ فضيلة من يسوي الصف : ۱۵، ۱۷، ۱۸.

⑧ توسط الإمام في الصفوف: ۱۹.

⑨ الزجر على من يصلي خلف الصف: ۲۱ .

په مانځه کښې د صفونو نيغ ساتلو په حکم کښې اختلاف:- ① صفونه نيغ ساتل سنت مؤکده دی ② بعضو واجب وئيلی دی ځکه چه احاديثو کښې صف نيغ نه ساتلو باندې سخت وعيد راغلې دې کوم چه دَ وجوب دليل دې.

د صفونو په مينځ کښې داتصال او عدم اتصال مختلف صورتونه:- ① دَ فقهاؤ په دې باندې اتفاق دې که دَ صفونو په مينځ کښې څه سړك يا نهر نه وی نو دا صفوف متصله دی امامت او جماعت صحيح دې

② که دَامام او مقتديانو په مينځ کښې څه نهر يا سړك وی نو دَ امام مالك رحمه الله او امام شافعی رحمه الله په نيز دا اقتدا صحيح ده او د امام ابوحنيفه رحمه الله نيز دا اقتدا صحيح نه ده.

③ که چرې امام په جمات کښې وی او مقتدی نيز دې چرته کور کښې وی او په مينځ کښې داسې څه وی چه امام نه ښکاری او امام پسې صفونه هم نه ښکاری نو جمهور فرمائی چه دا اقتداء صحيح نه ده او دَامام ابوحنيفه رحمه الله مشهور قول دې چه دا اقتداء صحيح ده.

داختلاف بنياد:-

لکه په راروان درې صورتونو کښې چې کوم مسائل بيانيږی نو په دې کښې د امامانو په مينځ کښې داختلاف وجه په يوه قاعده کښې اختلاف دې او هغه اختلاف دا دې چې

① دَ جمهورو په نيز لرې والې او نيزديوالې څه حيثيت نه لری بلکه دَ حائل او حاجب

اعتبار دي

② امام ابو حنیفه دَ قرب او بعد اعتبار کوی دَ حائل اعتبار نه کوی.

صفونو څخه متعلق بعضې بنيادي مسائل :- ① اول صف دې مکمل کړی بیا دې دویم صف شروع کړی بیا دَ دویم په پوره کیدو باندې دریم شروع کړی الی اخره.

② اول صف دې مکمل کړی بیا دې دویم صف شروع کړی بیا دَ دویم په پوره کیدو باندې دریم شروع کړی الی اخره.

③ صفونه دې دَ یوبل نه په داسې فاصله باندې اوساتی چه په مینځ کښې صرف دَ سجدې په اندازه خائی وی په دې قاعده باندې دَعلماؤ یوڅو مسائل هم اوګورئی.

④ صف بالکل نیغ وی لکه چه دا په غشي سره نیغولې شی.

④ پیش امام دَ صفونو په مینځ کښې په داسې مقام باندې ولاړ وی چه دواړه طرف ته دَ نبی اوکس مقتدیان برابر برابر وی.

⑤ په صفونو کښې جخت والې وی یعنی داسې تړلې شوی وی چه په مینځ کښې دَ شیطان دَپاره څه خلی خائی نه وی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

۱۰۸۵- دصف برابر ساتلو حکم

۱۰۸۵-()[۱] [۱] عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا [۳] حَتّٰى كَأَنَّمَا يُسَوِّي بِهَا الْقِدَاحَ [۴] حَتّٰى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ، [۵] ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتّٰى كَادَ أَنْ يُكَبِّرَ [۶] فَرَأَى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ [۷] فَقَالَ: "عِبَادَ اللّٰهِ! لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ [۸] أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] نعمان بن بشير رضي الله عنه فرمايي [۲] چې نبي کريم ﷺ به زمونږ صفونه (داسي) برابر (سيده) کول [۳] لکه چې غشي هم د هغه صفونو سره سيده کولي شو [۴] تر دې چې د نبي عليه السلام ګمان راغي چه مونږ هم د حضور ﷺ څخه (د صفونو برابرولو په اهميت) پوه شو [۵] يوه ورځ رسول الله ﷺ (د مکان څخه راوتلو سره) تشريف راوړو او (د لمانځه د پاره) ودريدلو او تکبير (تحريمه) يي ويلو [۶] چې د يو سړي سينه يي د صف څخه لره

[۱] اخرجه البخاری کتاب الاذان/ باب تسوية الصفوف عند الإقامة وبعدها (رقم-۷۱۷) ومسلم فی کتاب الصلاة/ کتاب الصلاة/باب تسوية الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام على الصف الأول، والمسابقة إليها، وتقديم أولي الفضل، وتقريبهم من الإمام (رقم) ۱۲۸ - (۴۳۶) وابوداود کتاب الصلاة،باب تسوية الصفوف (رقم-۶۶۳) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی إقامة الصفوف (رقم-۲۲۷) والنسائی کتاب الإمامة/باب کيف يقوم الإمام الصفوف (رقم-۸۱۰) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب إقامة الصفوف (رقم-۹۹۴)

راوتلي وليده ⑦ نو وي فرمايل اي د الله بنده ګانو خپل صفونه سيده کړي⑧ ګيني الله تعالى ﷻ به ستاسو په مينځ کې اختلاف واچوي. (مسلم)

حل اللغات:- ①يُسَوِّي: برابرول او سيدها کول ني. ②الْقِدَاحَ: وَهُوَ السَّهْمُ: غشي. ③عَقَلْنَا: أَيْ: فَهِمْنَا التَّسْوِيَةَ: مونږ پوهه شو (په اهمت د سيدها کولو دصفونو لره). ④بَادِيًا: أَيْ: ظَاهِرًا خَارِجًا: ښکاره کړې وه، راويستلې وه. ⑤ صَدْرُهُ: سينه خپله.

تسهيلات:- قوله: كَأَنَّمَا يُسَوِّي بِهَا الْقِدَاحَ:

د صفونو په نيغولو کښې مبالغه کول:- عربوبه دَ غشو په نيغولو کښې ډيرکوشش کولو ځکه چه که په غشي کښې لږ شان کوګوالي پاتې شي نوهغه په نښه باندې صحيح نه لګي لهذا دهغوی په نيزدَ غشي نيغوالي دومره مشهور اومسلم وو چه هغوی په دَ نورو څيزونو نيغوالي اوهواری تشبيه هم غشي سره ورکوله دلته هم دغه مبالغه بيان کړې شوې ده چه صفونه به رسول الله ﷺ داسې نيغول لکه چه دَدې په ذرعه ئې غشي نيغول غوښتل.

قوله: أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ:

د مخالفت ظاهری په مخالفت باطنی باندې اثر:- علامه مظهری رحمه الله فرمائی چه ظاهری ادب او حکم منل چونکه دَ باطنی ادب اوحکم منلو علامت وی لهذا که چرې تاسو په صفونوکښې غلط ولاړوئی اوظاهری اطاعت اوفرمانبرداری نه کوئی نو ستاسودا ظاهری نافرمانی به تاسو باطنی نافرمانئی ته اورسوی. يعنی دَ زړونودَ اختلاف طرف ته به مو اورسوی دَ کوم انجام چه به دا شی چه وړاندې تلوسره به دا نافرمانی به په خپل مينځ کښې عداوت او رقابت ذريعه جوړه شی په کوم سره چه به په زړونو کښې ورانې اواختلاف پيداشي اودَ زړونودَ اختلاف نتيجه به داشی چه دَ يو بل نه به ډډه کول او انقباض شروع شی په کوم سره چه به ستاسو معاشرتی اوسماجی ژوندون تباه شی. په زيربحث حديث کښې هم دا پس منظربيان کړې شوې دې.

۱۰۸۶ــ صفونه په ترتيب سره برابرول

۱۰۸۶ــ()[۲] ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ، فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَجْهِهِ، ③ فَقَالَ: " أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا ; فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. ④ وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ قَالَ: " «أَتِمُّوا الصُّفُوفَ ; فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي» ".

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه راوي دې② چې (يوه ورځ کله چې) مونځ ودريدلو نو حضور

[۱] اخرجه البخارى كتاب الاذان/ باب إقبال الإمام على الناس، عند تسوية الصفوف (رقم-۷۱۹) ومسلم فى كتاب الصلاة/ كتاب الصلاة/باب تسوية الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام على الصف الأول، والمسابقة إليها، وتقديم أولى الفضل، وتقريبهم من الإمام (رقم) ۱۲۸ - (٤٣٤) والنسائى كتاب الإمامة/باب حث الإمام على رص الصفوف والمقاربة بينها (رقم-۸۱٤)

ﷺ خپل مخ مبارك زمونږ طرف ته متوجه كړو[۳] او وې وفرمايل خپل صفونه سيده كړي او يو ځاي نژدې سره ودريږي بيشكه زه د شا د طرف څخه هم تاسو وينم (يعني د لمانځه په حالت كې د مكاشفې په ذريعه د لمانځه كونكي په احوالو باندې خبريږم) دا روايت بخاري نقل كړي دي[۴] او د بخاري او د مسلم دواړو روايت دا دي چې (حضور ﷺ وفرمايل) صفونه پوره كړي زه تاسو د خپل شا د طرف څخه هم وينم.

حل اللغات:- ① وَتَرَاصُّوا: أَيْ: تَضَامُّوا وَتَلَاصَقُوا حَتَّى تَتَّصِلَ مَنَاكِبُكُمْ: يعنى نږدې نږدې جخت اودريږئ چه ستاسو اوږې خپلو كښې يوځاى شى.

نوټ:- په دې حديث باندې وړاندې بحث شوې دې.

۱۰۸۷- د صفونو برابرولو اهميت

۱۰۸۷- (۱)[۳] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] «سَوُّوا صُفُوفَكُمْ، فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوفِ مِنْ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. إِلَّا أَنَّ عِنْدَ مُسْلِمٍ مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو خپل صفونه برابر ساتي څكه چې د لمانځه صفونه برابر ساتل د لمانځه د تكميل څخه دي، بخاري، او د مسلم په يو بل روايت كې د من اقامة الصلوة په ځاي من تمام الصلوة الفاظ دي.

تسهيلات:- قوله: مِنْ إِقَامَةِ الصَّلَاةِ:

په اقامة الصلاة كښې مشار اليه:- قرآن كريم كښې ﴿أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ يعنى مونځ دَ ټولو آدابو سره قائمولو حكم دې. دَ مانځه په آدابو كښې دَ تعديل اركان لحاظ ساتل اودَ سنن، آدابو او مستحبات خيال ساتل داخل دى. دلته په حديث كښې هم دغه آدابو نه يو ادب طرف ته اشاره كړې شوې ده چه صفونه نيغ كړئى څكه چه صفونه نيغول دَ مانځه دَتكميل يوه حصه ده دكوم حكم ﴿ أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ كښې وركړې شوې دې.

۱۰۸۸- د صفونو كوږوالي د زړونو د كوږوالى سبب

۱۰۸۸- (۲)[۴] [۱] وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[۱] اخرجه البخارى كتاب الاذان/ باب: إقامة الصف من تمام الصلاة (رقم-۷۲۳) ومسلم فيكتاب الصلاة/باب تسوية الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام على الصف الأول، والمسابقة إليها، وتقديم أولى الفضل، وتقريبهم من الإمام (رقم) ۱۲۴ - (۴۳۳) وابوداود كتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف (رقم-۶۶۸) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب إقامة الصفوف (رقم-۹۹۳) والدارمى كتاب الصلاة/باب فى إقامة الصفوف (۱۲۹۸)

[۲] اخرجه مسلم فيكتاب الصلاة/باب تسوية الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام على الصف الأول، والمسابقة إليها، وتقديم أولى الفضل، وتقريبهم من الإمام (رقم) ۱۲۲ - (۴۳۲) وابوداود كتاب الصلاة، باب من يستحب أن يلي الإمام فى الصف وكراهية التأخر (رقم-۶۷۴) والنسائى كتاب الإمامة/باب موقف الإمام والمأموم صبى (رقم-۸۰۷) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب من يستحب أن يلى الإمام (رقم-۹۷۶)

يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ، وَيَقُولُ ③ "اسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ، ④ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى، ⑤ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ» "، ⑥ قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ: فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ أَشَدُّ اخْتِلَافًا. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو مسعود رضي الله عنه فرمايي ② چې نبي کريم ﷺ (چې به کله د لمانځه کولو اراده فرمايله) نو زمونږ په اوږو خپل لاس مبارك اينبودلو سره به يې فرمايل ③ برابر برابر اوسې مختلف (يعنې مخکې او شاته اودريږي) مه کيږئ ستاسو په زړونو کې به اختلاف پيدا شي ④ او په تاسو کې چې کوم خلق عاقل او بالغ دي هغه دي ماته نزدې اودريږي ⑤ بيا هغه خلق چې دهغوئ نزدې وي اوبيا هغه خلق چې دهغوئ نزدې وي ⑥ ابومسعود رضي الله عنه (د خلقوپه مخکې دا حديث بيانولو سره) وفرمايل چې نن په تاسو خلقو کې اختلاف ډير زيات دي. (مسلم)

حل اللغات:- ① لِيَلِنِي: دا د ولى نه دي بِمَعْنَى الْقُرْبِ: يعنى نزدې اودريدل. ② أُولُو الْأَحْلَامِ: احلام جمع د حِلم ده سکون او وقار ته وائى او دغصې په وخت ځان قابو کښې ساتلو ته هم وائى خو دلته ترې مراد عقل دې ځکه چه دا ټول کارونه د عقل مقتضيات دى، بلوغ ته هم وائى. ③ النُّهَى: د نُهْيَة جمع ده، وَهُوَ الْعَقْلُ النَّاهِي عَنِ الْقَبَائِحِ: عقل ته وائى چه بدو کارونونه منع کول کوى.

تسهيلات:-

قوله: يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا:

دصفونو نيغولو يوه طريقه:- دَ صف دَ نيغولو دَيو کيفيت بيان دې چه حضورپاك ﷺ به څنګه په ژبه مبارکه باندې دَدې بيان کولو دغه شان به ئې په عملى توګه باندې صفونه نيغول اوزمونږ په اوګو باندې به ئې لاس کيخودوسره صف نيغولو. دَدې وجه داده چه دَ صفونو دَنيغولو دَپاره دَ اوګاو ګيتو نيغول ضرورى دى دَدې ذکر راتلونکې دې.

قوله: وَلَا تَخْتَلِفُوا:

د اختلاف غلط اثر:- يعنى په صفت کښې برابر اودريږئ دَ چادَ بدن څه حصه دې وړاندې روستونه وى په دې ظاهرى افتراق سره به په تاسو کښې باطنى افتراق بغض حسد او عدات اونفرت پيداشي تفصيل وړاندې تيرشوې دې.

قوله: لِيَلِنِي:

داهل علم د امام سره د نزدې اودريدو حکمت:- يعنى کوم خلق چه دَعلم ودانش، فهم فراست والاکامل بالغ دى هغوى دې په وړاندې صف کښې ماسره نيزدې اودريږى دې دَپاره چه هغوى زما دَ مونځ پوره نقشه اوګورى اوامت ته ئې اورسوى. دَمانځه دَپوره احکامو په خپلو سترګو معائنه کولوسره زده کړه اوکړى اوکه چرته امام په مانځه کښې سهو شى چه په صحيح توګه فتح ورکړې شى يا که امام ته څه حادثه پيښه شى اوهغه خپل نائب مقررکول غواړى نو په صف کښې نيزدې داسې کسان موجود وى چه دَ دغه ذمه

وارثی قبلولو اهلیت لری.

د مفونو ترتیب:- ① په رومبی صفت کښې به عاقل بالغ خلق وی

② بیا به دَ هغوی نه پس قریب البلوغ مراهق خلق وی او ماشومان به هم وی

③ بیا به هغوی نه پس خنثی خلق وی یعنی په چاکښې چه دَ ښځو او سړو علامات په یو وخت وی

④ بیا به دَهغوی نه شاته په آخره کښې دَ ښځو صفونه وی.

قوله: اشد اختلافاً:

دابومسعود انصاری رضی الله عنه د کلام مفهوم:- دَحضرت ابومسعود انصاری رضی الله عنه دَ دې کلام مقصد دادې چه نن تاسو خلق دَ مانځه صفونه نیغولو کښې احتیاط نه کړئی. لهذا تاسو په خپل خارجی ژوند کښې دَافتراق وانتشار او اختلاف ښکار شوئی. څومره چه دَ مانځه په صفونو کښې افتراق دې هم هغه هومره به په تاسو کښې دَفتنو غویل وی. لهذا اول دَ مانځه داظاهری اختلاف ختم کړئی بیا دَ باطنی اختلاف دَ خاتمه فکر کوئی. بهرحال دَابومسعود رضی الله عنه صحابی داخطاب تابعین ته دې په کوموکښې چه دانقصان راغلې وو.

۱۰۸۹-د پوهانو خلقو امام سره نزدې اودریدل

۱۰۸۹-()[۵] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «لِيَلِيَنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى، ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ " ثَلَاثًا " [۳] وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه رازې دې چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [۲] کوم خلق چې صاحب د عقل او بالغ وي هغه دې (په لمانځه کې) ماته نزدې ودریږي بیا دې هغه خلق ودریږي چې هغوئ ته نزدې وي داالفاظ حضور ﷺ درې خله وفرمایل [۳] او تاسو په مسجدونو کې د بازارونو په شان د شور شرخخه بچ شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① هَيْشَاتِ: جمع د هَيْشَة ده، دَ باب نصر ینصرنه راځی، وَهِيَ رَفْعُ الْأَصْوَاتِ: آوازونه پورته کول، شور او غوغا جوړول. ② الْأَسْوَاقِ: د سوق جمع ده، بازار ته وائی.

تسهیلات:- قوله: وَإِيَّاكُمْ وَهَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ:

د هیشات الاسواق په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① دَدې یوه ترجمه ګډه وډه کیدل هم ده د دې ترجمې مطابق د دې حدیث مطلب به دا وی

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الصلاة/باب تسویة الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام علی الصف الأول، والمسابقة إلیها، وتقدیم أولی الفضل، وتقریبهم من الإمام (رقم) ۱۲۳ - (۴۳۲) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء لیلینی منکم أولو الأحلام والنهی (رقم-۲۲۸) والدارمی کتاب الصلاة/باب من یلی الإمام من الناس (رقم-۱۳۰۳)

چې په جماتونو کښې دَ بازارونو په شان شور اوغوغا مه کوئی بلکه په خاموشئی سره راشئی مونځ اوکړئی او په خاموشئی سره لاړشئی. دا مطلب زيات واضح دې اصل عبارت به داسې وی. "واياكم وهيشات كهيشات الاسواق"

④ دَدې ترجمه شوراوغوغا هم ده د دويمې ترجمې مطابق د دې حديث مطلب به دا وی چې تاسو په داسې مقاماتو کښې دَمونځ کولونه ځان اوساتئی چرته چه شوراوشر وی اوحضورقلبی حاصله نه وی لکه بازار وغیره دَ شور مقامات چه وی.

قوله: ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ "ثَلَاثًا":

دريم ځله د تکرار وجه: -په دې حدیث کښې دَ ښځودَ صف ذکر مخې ته وو په دې وجه حضورپاك ﷺ "ثم الذين" الفاظ درې ځل اوفرمائيل. دغه شان دَ صفونو دَ څلورو وارو درجو ذکر راغلو عاقل بالغ په اوله درجه کښې اومراهق اوهلکان دويمه درجه کښې او خناثي په دريمه درجه کښې او ښځې په څلورمه درجه کښې، دې نه وړاندې حدیث کښې دَ ښځودَ صف ذکر مخې ته نه وو په دې وجه هلته دوه ځل "ثم الذين يلونهم" اوفرمائيلې شو.

۱۰۹۰-په اول صف کښې د شامليدو کوشش

۱۰۹۰-()[۱] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَصْحَابِهِ تَأَخُّرًا، فَقَالَ لَهُمْ: ③ "تَقَدَّمُوا وَأْتَمُّوا بِي، ④ وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ، ⑤ لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللَّهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ (چې كله وليدل) چې صحابه (اولني صف ته په راتلو كښې) تاخير كوي نو هغوئ ته يي وفرمايل ③ رامخكې شی او زما اقتداء وكړي ④ او هغه خلق چې تاسو څخه وروسته ولاړ وي ستاسو اقتداء دې وكړي (د دې څخه وروسته حضور ﷺ وفرمايل) ⑤ يو قوم به هميشه (په اولني صف كې په ودريدو كښې) تاخير كوي تر دې چې الله تعالى جل جلاله به هم (په خپل فضل او رحمت كښې) هغوي وروسته وغورځوي. (مسلم)

حل اللغات: - ① تَأَخُّرًا: روسته كيدل، تاخيركول، ② تَقَدَّمُوا: رامخكښې شئ، ③ وَأْتَمُّوا بِي: أي: اصْنَعُوا كَمَا أَصْنَعُ: زما اقتداء اوكړئ يعنی زه چه څنګه كوم تاسوهم هغسې كوئ.

[۱] اخرجه مسلم فی كتاب الصلاة/باب تسوية الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام على الصف الأول، والمسابقة إليها، وتقديم أولي الفضل، وتقريبهم من الإمام (رقم) ۱۳۰ - (۴۳۸) وابوداود كتاب الصلاة........ ←

←........باب صف النساء وكراهية التأخر عن الصف الأول (رقم-۶۸۰) والنسائی كتاب الإمامة/باب الائتمام بمن يأتم بالإمام (رقم-۷۹۵) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب من يستحب أن يلي الإمام (رقم-۹۷۸)

تسهیلات: -

قوله: وَلْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ بَعْدَكُمْ:

د مذکوره جملې معنی او مفهوم: - دَدې مطلب دانه دې چه ړومبې صف دې زما اقتداء اوکړی او شاته خلق دې دَهغوی اقتداء اوکړی ځکه چه دَ یوصف خلق دَ بل صف دَ خلقو اقتداء نه کوی بلکه ټول خلق دَامام په اقتداء کښې وی. دَ حدیث مطلب دادې چه ړومبی صف والا به ماته ګوری مونځ به کوی او دَهغوی نه شاته به دَهغوی متابعت کوی دامتابعت فی الافعال دې متابعت فی الاقتدا نه دې.

۱۰۹۱- د صفونو پوره کول او برابرول

۱۰۹۱-(٢)[١] ١ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: ٢ «خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَآنَا حَلَقًا فَقَالَ: ٣ "مَالِي أَرَاكُمْ عِزِينَ؟!". ثُمَّ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ: ٤ "أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟" ٥ فَقُلْنَا: يَارَسُولَ اللّٰهِ! وَكَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا؟ ٦ قَالَ: "يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُولَى، وَيَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ» "رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ جابر ابن سمره رضي الله عنه فرمايي ٢ چې (يوه ورځ) نبي کريم ﷺ زمونږ مينځ ته تشريف راوړو او مونږ يې په مختلفو حلقو کې ناست ليدو سره وفرمايل ٣ څه وجه ده چې زه تاسو د جدا جدا جماعتونو په صورت کې (ناست) وينم (يعني داسې جدا جدا جماعت جوړولو سره مه کيني ځکه چې دا د نااتفاقي او انتشار علامت دي) بيا دغسې (يوه ورځ حضور ﷺ زمونږ مينځ ته تشريف راوړو او وې فرمايل ٤ چې تاسو خلق (په لمانځه کې داسې صف ولي نه ترې ځنګه چې فرشتي د الله جل جلاله په حضور کې (د بندګي د پاره دريږي او) صف ترې ٥ مونږ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ فرشتي د خپل پروردګار په حضور کې ځنګه صف ترې؟ ٦ وې فرمايل اولني صفونه پوره کوي او په صف کې يو خاي کيدو سره (برابر برابر) دريږي. (مسلم)

حل اللغات: - ① حَلَقًا: د حَلْقَة جمع ده، أَيْ جُلُوسًا حَلْقَةً حَلْقَةً: يعنى مختلفو ټولګو او حلقو کښې ناست وو. ② عِزِينَ: د عِزَة جمع ده، أَيْ: جَمَاعَاتٍ مُتَفَرِّقِينَ: يعنى مختلفو ټولګو کښې تقسيم شوى وو. ③ يَتَرَاصُّونَ: يوځاى يوځاى په صفونو کښې سيدها اودريدلو ته وائى.

تسهيلات: - **نوټ:** د ترجمې او حل اللغات څخه مطلب واضح دي.

[١] اخرجه مسلم فى كتاب الصلاة/باب الأمر بالسكون فى الصلاة، والنهى عن الإشارة باليد، ورفعها عند السلام، وإتمام الصفوف الأول والتراص فيها والأمر بالاجتماع (رقم-١١٩ - (٤٣٠) وابوداود كتاب الصلاة،باب تسوية الصفوف (رقم-٦٦١) والنسائى كتاب الإمامة/باب حث الإمام على رص الصفوف والمقاربة بينها (رقم-٨١٦) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب إقامة الصفوف (رقم-٩٩٢)

۱۰۹۲-بهترين او بد ترين صفونه

۱۰۹۲-()[۸][۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲]" «خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا، وَشَرُّهَا آخِرُهَا.[۳]وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا، وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل[۲] د سړو بهترين صف اولني صف دي[۱]. بدترين صف وروسته صف دي[۳]او د ښځو بهترين صف وروسته صف دي او بدترين صف مخكيني صف دي. (مسلم)

تسهيلات:-

قوله: خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ:

دسړو دپاره د اول صف د فضيلت دوه وجوهات:-

① اول صف فضيلت دَ دويم اودريم نه په مقابله كښې زيات دې نو په دې اعتبارسره فرمائيلې شوى دى چه دَ سړو ړومبې صف دَ نورو صفونو په مقابله كښې دَ ثواب په لحاظ بهتردې يعنى دَدې ثواب زيات دې.

② دَ سړو ړومبې صف هغه وخت بهترين صف دې چه كله شاته دَ ښځو صفونه هم وى نودَ ښځودَ صفونو نه دَ سړو دا صف ډير لرې دې او شيطانى وسوسې او نسوانى وسوسې دوى ته نه شى رسيدلې په دې وجه دا دَټولونه بهترين صف دې اودَ سړو آخرى صف ته خراب صف ځكه اووئيلې شو چه يوخو هغه دَامام او محراب نه ډير لرې دې بله وجه دا چه هغه ښځوته ډيرنيزدې دې په كوم كښې چه دَ شيطانى اونسوانى وسواس كلك احتمال دې.

قوله: وَخَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ:

د ښځو دپاره د آخرى صف د افضليت وجه:- دا صف دَ سړو نه ډير لرې وى او شيطانى او مردانى وسوسونه ډير محفوظ وى په دې وجه دَ ثواب په اعتبارسره دې كښې ثواب زيات ملاويږى

د ښځو د اولنى صف د خرابوالى وجه:- دَ ښځو ړومبې صف بدتر يعنى خراب ځكه دې چه دَ ښځوامام سره دَ نيزدې كيدو ثواب خوملاويږى نه لهذا دَدې فضيلت نه خو دَ وړاندې نه محروم پاتې شوې اوچونكه دَهغوى ړومبې صف دَ سړو سره نيزدې وى په كوم كښې چه

---

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب الصلاة/باب تسوية الصفوف، وإقامتها، وفضل الأول فالأول منها، والازدحام على الصف الأول، والمسابقة إليها، وتقديم أولي الفضل، وتقريبهم من الإمام (رقم) ۱۳۲ - (۴۴۰) وابوداود كتاب الصلاة،باب صف النساء وكراهية التأخر عن الصف الأول (رقم-۶۷۸) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل الصف الأول (رقم-۲۲۴) والنسائى كتاب الإمامة/باب ذكر خير صفوف النساء وشر صفوف الرجال (رقم-۸۲۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب صفوف النساء (رقم-۱۰۰۰) والدارمى كتاب الصلاة/باب أي صفوف النساء أفضل (رقم-۱۳۰۴)

شیطانی اومردانی وسوسو قوی احتمال دې په دې وجه دَ ثواب په لحاظ ئې دا خراب صف یادکړو چه په دې کښې ثواب کم ملاویږی اوخطره زیاته ده.

د ښځو آخری صف ته د شر په نسبت کولو کښې دوه وجوهات:-

① بدترین صف دَ مانځه دَ صف حیثیت سره نه دی فرمائیلی بلکه دَا صف دَخارجی بدو اثراتودَ وجې نه دې ته بدترین وئیلی شوی دی.

② دلته "شرها" "خیرها" په مقابله کښې راغلي دي دَدې ترجمه بدترین نه دې بلکه دَافضل په مقابله کښې غیرافضل دې اوافضلیت اوغیرافضلیت دَ ثواب دَ کمی زیاتی په اعتبارسره دې نود ښځودَپاره په رومبی صف کښې ثواب کم دې اودَ سړو دَپاره په آخری صفت کښې ثواب کم دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

۱۰۹۳- په صفونو کښې د خالی ځائي پريښودو ممانعت

۱۰۹۳-()[۹] ① عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«رُصُّوا صُفُوفَكُمْ، وَقَارِبُوا بَيْنَهَا، ③ وَحَاذُوا بِالْأَعْنَاقِ; ④ فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، ⑤ إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَأَنَّهَا الْحَذَفُ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ② خپل صفونه پيوست ساتي (يعني په خپلو کې ښه يو ځاي کيدو سره اودريږي) او د صفونو په مينځ کښې نزديکت ساتي (يعني د دوه صفونو په مينځ کې دي دومره فاصله نه وي چې يوصف بل پکښې راځي) ③ او خپل څټونه برابر ساتي (يعني په صف کې په تاسو کې دي څوك په اوچت ځاي باندې نه اودريږي بلکه په هوار ځاي دي اودريږي چې د تولو څټونه برابر وي) ④ قسم دي په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده ⑤ زه شيطان د بزي (چيلی) د تور بچي په شان ستاسو د صفونو په مينځ کې ننوتونکي وينم. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① رُصُّوا: أَيْ: سُوُّوهَا وَضُمُّوا بَعْضَكُمْ إِلَى بَعْضٍ: صفونه نيغ ساتئ او يوبل سره نزدې اودريږئ ② وَحَاذُوا: دادَ محاذات نه دې دَ برابرئی په معنی کښې دې یعنی ستونه او اوګې یوبل سره نيغې ساتئی دادَ وړاندې روستوکيدو ممانعت دې. ③ خَلَلِ الصَّفِّ: أَيْ: فُرْجَتِهِ: په صف کښې دَ مونځ ګذارو په مينځ کښې فاصلې ته وائی. ④ الْحَذَفُ: وَهُوَ الْغَنَمُ السُّودُ الصِّغَارُ: د ګډې تور بچې چه نه ئې غوږونه وی نه لکئ.

[1] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/باب تسوية الصفوف (رقم-۶۶۷) والنسائی کتاب الإمامة/باب حث الإمام على رص الصفوف والمقاربة بينها (رقم-۸۱۵)

تسهیلات: - قوله: وَقَارِبُوا بَيْنَهَا:

د قربت په مفهوم کښې دوه اقوال: -

① په خپل مینځ کښې نیزدې نیزدې اودرېږئی چه په مینځ کښې خالی ځائی نه وی.

② دَ دوو صفونو په مینځ کښې دومره فاصله مه ساتئی چه په هغې کښې یوبل صف هم اودریدې شی

قوله: وَحَاذُوا:

دحاذوا په مفهوم کښې دوه اقوال: - ① یعنی دا محاذات برابری په معنی کښې استعمال شوې دې یعنی څټونه اواوږې یو بل سره مخامخ ساتئ چې وړاندې روسته نه وی.

② ملاعلی قاری رحمه الله دا اوله توجیه نه خوښه وی هغه فرمائی چه ستونه برابراوساتئی مطلب دادې چه په صفونوکښې څوك په اوچت ځائی دې څوك ښکته یا امام پورته دې مقتدیان لاندې دی په کوم سره چه به دَ بعضو څټ اوچت اودَ بعضو څټ ښکته پاتې کیږی.

قوله: الْحَذَفُ:

دحذف په مصداق کښې دوه اقوال: -

① دَ ګډې هغه وړوکی بچی ته وائی چه بالکل تور وی دَ کوم چه نه غوږ وی اوه لکې داقسم بچی دَ حجاز او یمن دَ ګډو وی دادَ شیطان دَ اولاد پوره فوټوکاپی معلومیږی.

② په حدیث نمبر ۱۱۰۱ کښې دَ حذف تفسیر "اولادالضان الصغار" سره راوی کړې دې هغه یو مستند تفسیر دې.

قوله: كَأَنَّهَا:

د کانها په ضمیر کښې تعارض: - ① په دې روایت کښې ضمیر دَ تانیث دې

② په یوبل روایت کښې کانه ضمیر دَ مذکر دې؟

د تعارض دوه جوابونه: - ① قاعده ده چه "زیدهاهو" یعنی که دَ لفظ زید طرف ته ضمیر راګرځوې نودَ هو ضمیر به راځی خوکه هم دغه لفظ زید "کَلِمَةٌ" په معنی کښې راګرځولې نو دَ هَاء ضمیر به راځی داقاعده هرځائی جاری ده دلته به هم داسې کیږی "کانه ای لفظ شیطان" او "کانها ای کلمة الشیطان"

② دَمذکر ضمیر دَ شیطان طرف ته راجع دې اودَ مؤنث ضمیر به اعتبار دَ خبر دې ځکه چه حذف مؤنث دې. (مرقات)

۱۰۹۴ – نيمګړتيا په آخرى صفت كښې

۱۰۹۴ – ( ) [۱۰] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «أَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ، ثُمَّ الَّذِي يَلِيهِ. [۳] فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] اولني صف پوره كړي بيا چې هغې ته نژدې وي (يعني د هغې ښخه وروسته وي) هغه پوره كړي [۳] او په صف كې چې كمي پاتې شي نو هغه د ټولو ښخه وروسته صف كې كيدل پكار دي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يَلِيهِ: چه هغې ته نژدې وى. ② نَقْصٍ: نقصان، كمي

تسهيلات: -

نوټ: – د حديث د ترجمې ښخه مطلب واضح دي.

۱۰۹۵ – د اولونو صفونو ثواب

۱۰۹۵ – ( ) [۱۱] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] " «إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الَّذِينَ يَلُونَ الصُّفُوفَ الْأُولَى، [۳] وَمَا مِنْ خُطْوَةٍ أَحَبُّ إِلَى اللّٰهِ مِنْ خُطْوَةٍ يَمْشِيهَا يَصِلُ بِهَا صَفًّا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] براء ابن عازب رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] كوم خلق چې اولنو صفونو ته نژدې وي په هغوئ د الله تعالىٰ جل جلاله او د هغه فرښتي رحمت ليږي [۳] او د الله تعالىٰ جل جلاله په نيز د هغه قدم ښخه زيات محبوب هيڅ قدم نشته چې تلو سره په صف كې يو ځاي شي (يعني كه په صف كې ځاي خالي پاتې شوي وي نو هلته ورتلو سره ودريږي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يَلُونَ: چه نژدې وى، ② خُطْوَةٍ: أَيْ: يَمْشِيهَا الرَّجُلُ: قدم ته وائى ③ يَصِلُ: يوځاى شي

تسهيلات: -

قوله: يُصَلُّونَ عَلَى الَّذِينَ يَلُونَ الصُّفُوفَ الْأُولَى

اشكال: – د دې حديث نه معلوميږى چې خفګان د دريو ورځو نه زيات جائز دي. حالانكه بل حديث كښې دى «لا يحل لمسلم ان هجراخاه فوق ثلث» او په دې درې ورځو نه په زياتو باندې وعيد دي.

داشكال جواب: – هركله چې د ترك كلام وجه دنياوى وى نو بيا د دريو ورځو نه زيات جائز

---

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف (رقم-۶۷۱) والنسائى كتاب الإمامة/باب الصف المؤخر (رقم-۸۱۸)

[2] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف (رقم-۶۶۴) والنسائى كتاب الإمامة/باب كيف يقوم الإمام الصفوف (رقم-۸۱۱)

نه دی.او که د ترک کلام وجه دینې وی نو بیا د دریو ورځو نه زیات جائز دی تر کومې چې هغه کس خپله اصلاح اونه کړی.

۱۰۹۶–د صف ښې طرف ته د اودریدو فضیلت

۱۰۹۶–()[۱۲] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ: صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " «إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى مَيَامِنِ الصُّفُوفِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② د صفونو ښې طرف والا خلقو باندې الله تعالى ﷻ او د هغه فرشتې رحمت ليږي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① مَيَامِن: د مَيْمَنَة جمع ده، ښى طرف.

تسهیلات:-

قوله: يُصَلُّونَ عَلَى مَيَامِنِ الصُّفُوفِ:

دامام د ښی طرف فضليت:–ددې حديث په وجه علماء کرامو ليکلی دی چې دامام ښی طرفته اودريدل دګس طرف د اودريدو ښخه ډير بهتر او افضل دی.او که ګس طرف ته صف کنبې ځائې وی نو بيا ګس طرف ته اودريدل په دويم صف کنبې د اودريدلوښخه بهتردی.ددې وجه داده چې الله تعالی رحمت اول په رومبی صف اود امام په ښې طرف خلقو باندې نازلوی ،بيا دامام ګس طرفته ،هم په دې وجه د امام ښی طرفته اودريدل افضل دی.

۱۰۹۷–د صفونو برابرولو ښخه وروسته مونځ شروع کول

۱۰۹۷–()[۱۳] ① وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ ② كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا إِذَا قُمْنَا لِلصَّلَاةِ ③ فَإِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه: ① نعمان بن بشير رضي الله عنه فرمايي ② چې کله به مونږ خلق د لمانځه د پاره ودريدلو نو (مخکې) نبي کريم ﷺ به زمونږ صفونه (په ژبه يا لاس سره) برابرول ③ هر کله چې به صفونه برابر شو نو رسول الله ﷺ به تکبير تحريمه وئيلو (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يُسَوِّي: برابرول او سيدها کول ئې.

تسهیلات:-

قوله: فَإِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ:

دصفونو نيغولو درې مراد:–① ددې حديث نه معلوميږی چې اول به نبی کريم ﷺ خلق په

---

[1]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب من يستحب أن يلي الإمام في الصف وكراهية التأخر (رقم-۶۷۶)وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب فضل ميمنة الصف (رقم-۱۰۰۵)

۲) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب تسوية الصفوف (رقم-۶۶۵)

لاس د خلقو صفونه نیغول ،

② بیا روستو چې کله خلق پوهه شونو په خوله مبارکه به ئې ورته فرمائیل ،

③ بیا چې کله پورا واقف شو نوبیا به د فرمائیلو ضرورت نه وو بلکه خلق خپل ترخپله صفونو کښې نیغ اودریدل.

۱۰۹۸ــ د صفونو برابرولو دپاره امام لره ښي اوګس طرف ته متوجه کیدل

۱۰۹۸ـــ()[۱۴] ① وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَنْ يَمِينِهِ: "② اعْتَدِلُوا، سَوُّوا صُفُوفَكُمْ". ③ وَعَنْ يَسَارِهِ: "اعْتَدِلُوا، سَوُّوا صُفُوفَكُمْ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① انس رضی الله عنه فرمايي چې نبي کريم ﷺ (چې به کله مونځ شروع کولو نو مخکې به يې) خپل ښي طرف ته (متوجه کيدو سره) فرمايل ② سيده ودريږي او خپل صفونه برابر کړي ③ بيا به ګس طرف ته (هم متوجه کيدو سره يې دا) فرمايل سيده وديريږي او خپل صفونه برابر کړي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① اعْتَدِلُوا: أَيْ: اسْتَقِيمُوا: سيدها اودريږئ. ② سَوُّوا: برابر کړئ، نيغ کړئ.

تسهیلات:- **قوله:** سَوُّوا صُفُوفَكُمْ:

د صفونو برابرولو اهميت:-دې حديث کښې دتسويت الصفوف اهميت بيان کړې شوې دې، او په دې باندې ئې دامر تاکيد کړې دې.

۱۰۹۹ــ د صفونو په برابرولو کښې د نرمۍ افضليت

۱۰۹۹ـــ()[۱۵] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«خِيَارُكُمْ أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَاةِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت ابن عباس رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ② په تاسو کې بهترين خلق هغه دي چې د هغوئ اوږي په لمانځه کې ډيري نرمي وي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① خِيَارُكُمْ : أَيْ: فِي الْأَخْلَاقِ وَالْآدَابِ: په تاسو کښې چه د اخلاقو او ادابو په لحاظ سره ښوک غوره وی ② أَلْيَنُكُمْ: چې په تاسو کښې چې نرم خويه وی.

تسهیلات:-

قوله: أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال:-

① د صفونو نيغولو دپاره کله يوسړې راشی او په صف کښې ولاړ سړی په صفت کښې

---

۱) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف (رقم-۶۷۰)

۲) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف (رقم-۶۷۲)

برابرولود پاره ډهغوی اوګې په لاس کښې نیولوسره وړاندې روستو کول غواړي نو بهترین سرې هغه دي چه خپلې اوګې د دغه سرې په لاس کښې ورکړي اوضد اونه کړي اوتکبر اوه کړي دې دپاره چه هغه سرې په بهترطریقه باندې صف نیغ کړي دا مفهوم په تولوکښې غوره اوراجح معلومیږي.

۲ په مانځه کښې ښه خشوع اوخضوع سره اوګې نرمې او ټیټې ساتنی دامطلب څه لرې معلومیږي.

۳ که په مانځه کښې څانی تنګ وی نود نوی راتلونکی مونځ ګذاردپاره یا خواکې اودریدونکی ملګری دپاره خپلې اوګې نرمې کړنی او په اوګو او څنګلوباندې ملګروته دیکې مه ورکوئی دامطلب هم ډیرښه دي بعض نادانان دا نادانی کوی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

۱۱۰۰–دامام مقتدیانوته دصفونوبرابرولوتاکید کول

۱۱۰۰–(۱)[۱۶] ۱ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ۲ "اسْتَوُوا، اسْتَوُوا، فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، ۳ إِنِّي لَأَرَاكُمْ مِنْ خَلْفِي كَمَا أَرَاكُمْ مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ انس رضی الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ به فرمایل ۲ تاسو (په لمانځه کې) برابر اودریږي برابر اودریږي برابر اودریږي او قسم دي په هغه ذات چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده ۳ څنګه چې زه مخې ته تاسو وینم دغسې (د مشاهدي او مکاشفي په ذریعه) د خپل وروسته څخه هم تاسو وینم، (ابوداؤد)

حل اللغات: - ۱ اسْتَوُوا: نیغ اودریږئ، ۲ مِنْ خَلْفِي: د خپل خان نه روسته (په مشاهدې سره یا په مکاشفې سره).

تسهیلات: - **نوټ:** – ددې حدیث تسهیل بل ځائې کښې تفصیل سره ذکردي.

۱۱۰۱–داولنی صف په مقابله کښې د دویم صف د فضیلت کموالې

۱۱۰۱–(۲)[۱۷] ۱ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ "، ۳ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! وَعَلَى الثَّانِي؟ ۴ قَالَ: " إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ "، ۵ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! وَعَلَى الثَّانِي؟ ۶ قَالَ: إِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ "،

ترجمه: ۱ حضرت ابو امامه رضی الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمایل ۲ الله تعالی جل جلاله

---

[۱]) اخرجه النسائی کتاب الإمامة /باب کم مرة یقول استووا (رقم-۸۱۳)

[۲]) اخرجه احمد فی المسند ۹۶۲/۵

او د هغه فرښتي په اولني صف والا باندې رحمت ليږي۳ (د دې په اوريدو سره) صحابه وُ ﷺ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ په دويم صف والا هم (يعنې دا وفرمايه چې په اولني او دويم صف باندې هم رحمت ليږي خو)۴ حضور ﷺ (دا ځل هم د دويم صف ذکر ونه کړو بلکه) وې فرمايل چې الله تعالیٰ ﷻ او د هغه فرښتې په اولني صف باندې رحمت ليږي۵ صحابه وُ ﷺ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ او دويم صف باندې هم ۶ حضور ﷺ بيا دا وفرمايل چې الله تعالیٰ ﷻ او د هغه فرښتې په اولني صف رحمت ليږي

۱ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! وَعَلَى الثَّانِي؟ قَالَ: "وَعَلَى الثَّانِي ۲" وَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَوُّوا صُفُوفَكُمْ، وَحَاذُوا بَيْنَ مَنَاكِبِكُمْ، ۳ وَلِينُوا فِي أَيْدِي إِخْوَانِكُمْ، ۴ وَسُدُّوا الْخَلَلَ، ۵ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ فِيمَا بَيْنَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْحَذَفِ» "۶ يَعْنِي أَوْلَادَ الضَّأْنِ الصِّغَارِ. رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ صحابه وُ ﷺ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ او په دويم صف باندې هم (الله تعالیٰ ﷻ او د هغه فرښتې رحمت ليږي) رسول الله ﷺ وفرمايل اوپر دويم صف باندې هم، ۲ بيا رسول الله ﷺ دا وفرمايل چې خپل صفونه برابر کړئ او خپلې ووږې اوارې لرئ (يعنې په يوه سطح او په هموار ځای باندې ودريږئ ښکته او پورته کيدو سره مه اودريږئ) ۳ او د خپلو ورونو د لاسونو مخکې نرم اوسيږئ (يعنې که يو سړئ په اوږه لاس اېښودلو سره تا په صف کې برابر کړي نو دې څخه انکار مه کوه بلکه برابر شه) ۴ او په صفونو کې خلا مه پيدا کوئ ۵ ځکه چې شيطان د حذف پشان ستاسو په مينځ کې راننوځي ۶ يعنې د پسه د وړوکي بچي پشان، احمد.

حل اللغات: ① وَحَاذُوا: دا دَ محاذات نه دې دَ برابرئ په معنی کښې دې يعنې ستونه او اوګې يوبل سره نيغې ساتئی داد ودرانده روستوکيدو ممانعت دې. ② لِينُوا: نرم اوسيږئ، نرم شئ، ③ سُدُّوا: بند کړئ. ④ الْخَلَلَ: خالی والی، خلا. ⑤ الْحَذَفِ: يَعْنِي أَوْلَادَ الضَّأْنِ الصِّغَارِ: د ګډې وړوکي بچي. ⑥ الضَّأْنِ: ګډه.

تسهيلات:-

قوله: وَعَلَى الثَّانِي:

د دويم صف فضيلت:- دې ته عطف تلقين وائی يعنی صحابه کرام دَ حضورپاک ﷺ توجه دَ دويم صف دَ فضيلت طرف ته راګرځول غواړی چه يا رسول الله ﷺ دَ اول صف فضيلت خوتاسو بيان کړودې دويم صف فضيلت هم بيان کړئی چه الله تعالی په دويم صف باندې هم رحمت راليګی بيا حضوراکرم په دريم ځل باندې دَ دويم صف فضيلت هم بيان کړو.

قوله: مَنَاكِبِكُمْ:

د مناکب د تکرار وجه:- دلته داوګوذکر بار بار راغلې دې په بعض رواياتو کښې دَ قدمونوهم ذکر راغلې دې اصل خبره داده چه کهٔ دَ انسان دَ بدن هغه حصه معلومول وی

دکوم نیغولو او برابرولوسره چه ټول انسانان برابر اودريږي نو هغه دَ انسان اوګې اودَخپر ګيټي دی. دا هغه اندامونه دی چه که دا برابر شی نوپوره صف به نيغ شی. دَ انسان دَخپر وراندې او روستو حصوسره صف نه نیغیږی ځکه چه دَ چا خیټې اوږدې وی دَ چا ورې وی لیکن ګیټې داسې په مینځ کښې واقع دی چه دَ دې برابر کيدوسره ټول اندامونه برابريږی.

۱۱۰۲- په جماعت کښې اوږې برابرول

۱۱۰۲-()[۱۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «أَقِيمُوا الصُّفُوفَ، وَحَاذُوا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ، [۳] وَسُدُّوا الْخَلَلَ، [۴] وَلِينُوا بِأَيْدِي إِخْوَانِكُمْ، [۵] وَلَا تَذَرُوا فُرُجَاتِ الشَّيْطَانِ، [۶] وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللَّهُ، [۷] وَمَنْ قَطَعَهُ قَطَعَهُ اللَّهُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَرَوَى النَّسَائِيُّ مِنْهُ قوله ومن وصل صفا إلى آخره

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [۲] صفونه سیده کړي د خپلو ورو په مینځ کې هموارې (آوارتیا) وساتي [۳] د صفونو خلا ډکه کړي [۴] د خپلو وروڼو په لاسونو کې نرم اوسي (یعني که یو سړي تاسو لاس نیولو سره په صف کې مو برابر وي نو د هغه دا خبره مني) [۵] او په صفونو کي د شیطان د پاره خلا (خالي ځاي) مه پریږدي [۶] او وي فرمایل کوم سړي چې صف یو ځاي کړي (یعني په صف کې په خالي ځاي ودریدلو) نو الله تعالی جل جلاله به هغه (د خپل فضل او رحمت سره) یو ځاي کړي [۷] او (یاد ساتي) کوم سړي چې صف مات کړي نو الله تعالی جل جلاله به هغه مات کړي (یعني د مقام قرب ځخه به یي لرې کړي) ابوداؤد، او نسایي دا حدیث د مَنْ وَصَلَ صَفًّا ځخه تر آخره پورې نقل کړي دي (یعني د نسایي په روایت کې د مَنْ وَصَلَ صَفًا ځخه مخکې عبارت نشته).

حل اللغات:- ① أَقِيمُوا: أَيْ: عَدِّلُوهَا وَسَوُّوهَا: سيدها او برابر کړئ. ② وَحَاذُوا: دا دَ محاذات نه دې دَ برابرئ په معنی کښې دې یعنی ستونه او اوګې یوبل سره نیغې ساتئی دادَ وړاندې روستوکیدو ممانعت دې. ③ لَاتَذَرُوا: أَيْ: لَاتَتْرُكُوا: مه پریږدئ. ④ فُرُجَاتِ: د فُرْجَة جمع ده، خالی ځائ. ⑤ وَصَلَ: یو ځائ کړی (یعنی خالی ځائ بند کړی). ⑥ قَطَعَهُ: مات ئې کړی (یعنی صف کښې خالی ځائ پریږدی).

قوله: "وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا" إِلَى آخِرِهِ.

تسهیلات: -

قوله: وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللَّهُ

د مذکوره جملې وضاحت: - کوم چه صف یوځائې کړی الله پاک به هغه د خپل رحمت سره یوځائې کړی، د یوځائې کولو یو صورت دا دې چه په مینځ کښې که چرته خلل وی نو هغه دې ختم کړی یا وړاندې صف ناقص وی په هغې کښې د یو یا دوه سړو ګنجائش وی نو

[۱]) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة رقم الحديث ۶۶۶ والنسائی فی السنن رقم الحديث ۸۱۹

هغه دې پوره کړي.

توله: وَمَنْ قَطَعَهُ صَفًّا قَطَعَهُ اللهُ

دمذكوره جملې وضاحت:- د قطع صف يو صورت دا دې چه يو سړي کوم چه په مانځه کښې شريک نه دې هغه دې د صف په مينځ کښې ناست وی يا يو سړې په صف کښې د گنجائش كيدو باوجود په دې کښې د داخليدو والا منع كړي. (افاده السندی).

۱۱۰۳- د امام دپاره په مينځ کښې اودريدل

۱۱۰۳- (۱) [۱۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«تَوَسَّطُوا الْإِمَامَ وَسُدُّوا الْخَلَلَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ابو هريره رضي الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] امام په مينځ کې ساتي (يعني صف بندي داسې کوي چې د امام ښي او گس طرف ته سړي برابر وي) او (د صف) خلا بنده کړئ. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① تَوَسَّطُوا: أَيْ اجْعَلُوا إِمَامَكُمْ مُتَوَسِّطًا: يعنی امام د صف په مينځ کښې مخکښې ساتئ. ② سُدُّوا: بند کړئ. ③ الْخَلَلَ: خالي والې، خلا.

تسهيلات:-

توله: اسْتَوُوا، اسْتَوُوا:

دامام په مينځ کښې د ساتلو مطلب:- دامام په مينځ کښې د ساتلو مطلب مع تقدم الامام دې چې امام وړاندې وی او باقی مقتديان ښی او گس طرف ته برابر ولاړ وی.

۱۱۰۴- داولنی صف څخه د روسته کيدو وعيد

۱۱۰۴- (۲) [۲۰] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ [۳] حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها راوي ده چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] څه خلق هميشه د اولني صف څخه وروسته کيږي [۳] تر دې چې الله تعالى به هغوي په دوزخ کې وروسته وغورځوي. (ابوداؤد)

تسهيلات:- **توله:** يَتَأَخَّرُونَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ:

دحديث مطلب:- مراد دادې چه يوسړې مثلاً په هره نيکئی کښې سستی کوی تاخير کوی او ﴿ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ﴾ [بقره: ۱۴۸] پرواه نه کوی نو هغه ته دهغه ددې عمل عين مطابق سزا

---

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب مقام الإمام من الصف (رقم-۶۸۱)

[۲] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب صف النساء وكراهية التأخر عن الصف الأول (رقم-۶۷۹)

ملاویږی او هغه سزا دا ده چه داسې سړې په ټولو نیکو کښې شاته پاتې کیږی د کوم اثر چه دا وی چه دا سړې به آخر دوزخ ته ځی. یعنی آخرکار دا سړې به د دوزخ والوته اورسیږی هم دغه مطلب زیات واضحه دې.

دحدیث مصداق:-په ظاهره داسې معلومیږی چه دَدې حدیث وعید دَمنافقانو دَپاره وو دچا چه هم دغه عادت وو او دَ نفاق په وجه به ئی داسې کول. لکه چه په دویم حدیث کښې دی "لایأتون الی الصلوة الادبرا" او په قرآن پاك کښې دی ﴿ وَإِذَا قَامُوٓا۟ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُوا۟ كُسَالَىٰ ﴾ [نساء الایه: ۱۴۲] دَدې توجیه ځکه ضرورت دې چه ټول مسلمانان خو په رومبې صف کښې اودریدې نه شی آخر دَ صحابه کرامو په دور کښې به هم خلق په اتم او لسم صف کښې اودریدل.

۱۱۰۵- د صف څخه وروسته دیوازې اودریدو ممانعت

۱۱۰۵- ()[۲۱] [۱] وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «رَأَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُصَلِّي خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ، [۳] فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيدَ الصَّلَاةَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، [۴] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.

ترجمه: [۱] وابصه بن معبد رضی الله عنه فرمایي [۲] چې (یوه ورځ) نبي کریم ﷺ یو سړی ولیدلو چې هغه د صف څخه وروسته یوازې (ولاړوو) مونځ یي کولو [۳] حضور ﷺ هغه ته دوباره د لمانځه حکم ورکړو، ابوداؤد ترمذي، [۴] امام ترمذي رحمه الله وایي چې دا حدیث حسن دې.

تسهیلات: -

قوله: أَنْ يُعِيدَ الصَّلَاةَ:

د صف شا ته انفراداً د مونځ کولو په حکم کښې مذاهب:-

په مخکی صف کښې دَ ځائی کیدو سره یوسړې په پوره مونځ ځان له صف کښې شاته اودریدو سره مونځ کوی نو دَ هغه مونځ به کیږی که نه؟ په دې باره کښې دَ علماؤ اختلاف دې.

① امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه دَ دغه سړی مونځ اونه شو لهذا دَ مونځ فاسد کیدو دَ وجې نه دې دا سړې مونځ راؤګرځوی.

② ائمه ثلاثه یعنی جمهور فرمائی چه داسې کول مکروه تحریمي دی دَ دې سړې مونځ خو اوشو لیکن دَ کراهت تحریمی دَ وجې نه راګرځول دی که استحباباً وی او که لزوماً وی.

داول فریق دلیل:- زیر بحث حدیث د وابصه رضی الله عنه د دوی مستدل دې په کوم کښې چه واضحه الفاظ دی چه مونځ دې راؤګرځوی لهذا اعاده په وجه دَ بطلان صلوة ده.

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب الرجل یصلی وحده خلف الصف (رقم-۶۸۲) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الصلاة خلف الصف وحده (رقم-۲۳۱)

د اول فریق د دلیل جوابونه :-

①په دې حدیث کښې امام ترمذی رحمه الله د اضطراب ذکر کړې دې. علامه ابن رشد مالکی رحمه الله اوفرمائیل چه په دې حدیث کښې اضطراب دې لهذا قابل د استدلال نه دې.

② که چرې اعاده د امام احمد رحمه الله او اسحاق رحمه الله په نیز شته دې نو نور ائمه هم د اعادې خبره کوی لهذا داحدیث دهغوی په مخالفت کښې نه شی پیش کیدې. البته د اعادې نوعیت او حیثیت جدا جدا دې. امام احمد رحمه الله او اسحاق رحمه الله په نیز دا اعاده د بطلان صلوة د وجې نه ده او د جمهورو په نیز د کراهت تحریمیه د وجې نه ده. بهرحال اعاده خوده که هغه د هرې وجې نه وی.

صاحب د هدایه لیکلی دی چه د کراهت د وجې نه هم د مونځ اعاده کیږی.

③ دلته د اعادې حکم په توګه د زجر، تشدید او په توګه د توبیخ او تهدید دې. شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې فرمائی چه دا اختلاف هغه وخت دې کله چه یو سړې پوره مونځ صف پسې شاته اوکړی او په صف کښې چه کوم خالی ځائی دې هغې ته لاړ نه شی. لیکن که هغه نیت د صف نه بهر اوکړو او بیا په مزه مزه په صف کښې شامل شو نو د داسې سړی د پاره د اعادې حکم نه دې. [اشعة المعات: ۵،۸]

د دویم فریق دلیل :- د حضرت ابوبکر رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې چه په باب الموقف کښې فصل اول حدیث نمبر ۵ دې کوم چه بخاری شریف ذکر کړې دې. په دې کښې ذکر دی چه حضرت ابوبکر رضی الله عنه د صف نه بهر دروازې سره نیت اوکړو او د رکوع په حالت کښې راتیرشو په صف کښې شامل شو مګر حضورپاک صلی الله علیه وسلم ورته د اعادې حکم ورنه کړو.

د فتاوی ظهیریه فتوی :- فتاوی ظهیریه کښې د احنافو د علماؤ د مسلك مطابق داسې تفصیل دې چه مخکښې صف ډك شوې وی او یو سړې روستو راشی نو هغه له پکار دی چه د یو بل کس د راتلو انتظار دې اوکړی که چرې د رکوع پورې څوك رانغلو نو دا سړې دې د مخکینی صف نه څوك راکاږی او مونځ دې اوکړی البته که د فتنې خطره وی نو څوك دې نه راکاږی بلکه خان له دې اودریږی او مونځ دې اوکړی مونځ ئې اوشو. لیکن که د دې امورو خیال اونه ساتلې شی نو مونځ به ئې مکروه وی.

د محدث بنوری قول :- محدث العصر علامه محمد یوسف بنوری رحمه الله د علماؤ فتوی نقل کړې ده چه د نن صبا دور کښې د فساد د زمانې د وجې نه او د علم د کموالی او د جهل د غلبې د وجې نه دا بهتر ده چه سړې دې ځان له اودریږی څوك دې نه راکاږی ګنی په مونځ کښې به جګړه شروع شی.

[۴۱/۲۵]بَابُ الْمَوْقِفِ]

په مونځ کښې د اودریدو بیان

خلاصة الباب:-

فيه أحد عشر حديثاً مشتملة على تسع مسائل.

① مقام قيام الواحد خلف الإمام : ١، ٢، ۴.

② مقام قيام المراءة خلف الإمام : ٣، ۴.

③ مقام قيام الغلمان خلف الإمام : ١٠.

④ مقام قيام الاثنين خلف الإمام : ٢، ۶٢.

⑤ الشروع في الصلاة قبل الوصول إلى الصف : ۵.

⑥ عدم قيام الإمام في مكان أرفع من المأموم: ٧.

⑦ جواز القيام على المنبر للتعليم: ٨.

⑧ وقوف الإمام في الحجرة : ٩.

⑨ قرب أولى الأحلام إلى الإمام : ١١.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۱۰۶]دیومقتدي په صورت کښې د جمعې د مونځ طریقه

۱۱۰۶—()[۱][۱] «عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ، فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي، [۳] فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ، [۴] فَأَخَذَ بِيَدِي مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ فَعَدَلَنِي [۵] كَذٰلِكَ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ إِلَى الشِّقِّ الْأَيْمَنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] عبد الله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي [۲] چې ما د خپلې ترور (خاله، د مور خور) ام المؤمنين بي بي ميمونه رضي الله عنها سره شپه تيره کړه کوم وخت چې نبي کريم ﷺ د تهجد د پاره ودريدلو [۳] نو زه هم د حضور ﷺ کس طرف ته ودريدم [۴] حضور ﷺ د خپل د شاه طرفه زما لاس نيولو سره داسې وګرځولم [۵] چې زه يي د خپل د شا طرفه ښخه راوستو سره

[۱]) اخرجه البخارى كتاب الاذان/باب: يقوم عن يمين الإمام، بحذائه سواء إذا كانا اثنين (رقم-۶۹۷) ومسلم فى كتاب صلاة المسافرين/- باب الدعاء فى صلاة الليل وقيامه (رقم) ۱۹۲ - (۷۶۳) وابوداود كتاب الصلاة،باب الرجلين يؤم أحدهما صاحبه كيف يقومان (رقم-۶۱۰) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الرجل يصلى ومعه رجل (رقم-۲۳۲) والنسائى كتاب الإمامة/باب الجماعة إذا كانوا اثنين (رقم-۸٤۲) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/بباب الاثنان جماعة (رقم-۹۷۳) والدارمى كتاب الصلاة /بباب: مقام من يصلى مع الإمام إذا كان وحده (رقم-۱۲۹۰)

بني طرف ته ودرولم. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① نِمتُ: أي: رَقَدتُ: شپه مې تيره كړه. ② فَعَدَلَنِي: أي: أَمَالَنِي، وَصَرَفَنِي: راوئې ګرځولم، راتاؤ ئې كرم. ③ الشِّقِ الأَيْمَنِ: ښى طرف.

تسهيلات:- قوله: لأَعْدِلَ بَيْنِي:

اكثر رواياتو كښې راغلى دى چه دَ غوږونه نيولو سره ئې راتاؤ كړو.

دحديث څخه مستنبط مسئلې:-

① دَ مقتدى دَپاره دَ امام نه مخكښې كيدل منع دى سره دَدې چه دَ څه وخت دَپاره وى خكه چه حضورپاك ﷺ محبت كولو سره حضرت ابن عباس رضي الله عنهما شاته طرف ته تاوولو سره ښى طرف ته كړو.

② دَداسې سړى اقتدا كول جائز دى كوم چه په شروع كښې دَ جمع اراده نه وى كړې او اوس ئې اراده اوكړه.

③ بغيردَ تداعى په غيرارادى توګه باندې دَ نفلو جمع جائز ده.

④ په مونځ كښې عمل قليل كولې شى.

⑤ كه چرې امام سره په جمع كښې صرف يو مقتدى وى نوهغه له امام پسې شاته ګس طرف ته نه دى اودريدل پكار بلكه ښى طرف ته دې اودريږى.

[۱۱۰۷] د درې كسانو د جمعې كيفيت

۱۱۰۷-()[۲] ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّيَ، ③ فَجِئْتُ حَتَّى قُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ، ④ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَدَارَنِي حَتَّى أَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ، ⑤ ثُمَّ جَاءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ، فَقَامَ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ⑥ فَأَخَذَ بِيَدَيْنَا جَمِيعًا، فَدَفَعَنَا حَتَّى أَقَامَنَا خَلْفَهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي ② (يو خل) نبي كريم ﷺ د لمانځه كولو د پاره ودريدلو ③ نو زه هم راغلم او ګس طرف ته يې ودريدم ④ حضور ﷺ (خپل د شا څخه يې زما (ښي) لاس ونيولو او (د خپل د شا د طرف څخه يې زه راوستو سره) خپل ښي طرف ته ودرولم ⑤ بيا جبار ابن صخر رضي الله عنه راغي او د حضور ﷺ ګس طرف ته ودريدلو ⑥ حضور ﷺ زمونږ د دواړو لاسونه يو ځاي ونيول (يعني په خپل ښي لاس سره يې د يو ګس لاس ونيولو او خپل ګس لاس سره يې د دويم ښي لاس ونيولو) او مونږ يې (د خپل خپل ځاي څخه) اخوا كولو سره خپل شاته ودرولو. (مسلم)

حل اللغات:- ① فَأَدَارَنِي: أي: أَمَالَنِي، وَصَرَفَنِي: راوئې ګرځولم، راتاؤ ئې كرم (دګس طرف نه ښي طرف ته). ② فَدَفَعَنَا: أي: أَخَّرَنَا: مونږه ئې روسته كړو.

[1] اخرجه مسلم فى كتاب صلاة المسافرين/ باب الدعاء فى صلاة الليل وقيامه (رقم) ۱۸۱ - (۷۶۳)

تسهیلات: -

قوله: - فَدَفَعَنَا حَتَّى أَقَامَنَا خَلْفَهُ:

د دوؤ مقتدیانو داودریدومقام: - که چرې مقتدی صرف یووی نودَهغه خبره خو وړاندې معلومه شوه لیکن که مقتدیان دوه وی نودَ څه حضراتو خیال دې چه امام دې په مینځ کښې اودریږی اوبنی اوګس طرف ته دې دواړه مقتدیان اودریږی. خو په دې حدیث سره په واضحه توګه دامسئله معلومه شوه چه دا دواړه به امام پسې شاته اودریږی.

په نفلوکښې سهولت: -دَدې حدیث نه داهم معلومه شوه چه په یوځائی په مانځه کښې دواړو لاسونوته حرکت ورکول جائزدی خودا دَ نوافل خبره ده په کوم کښې چه سهولت دې. حضرت ابن مسعود رضی الله عنه دَ علقمه رضی الله عنه او اسود رضی الله عنه په مینځ کښې اودریدو مونځ ئی ورکړو کیدې شی چه ځائی تنګ وی یابه بل څه عذر وی دا یوه جزئی واقعه ده مسنون طریقه نه ده.

[۱۱۰۸] دسړی، ماشوم او ښځې د جمعې ترتیب

۱۱۰۸–()[۳] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] صَلَّيْتُ أَنَا وَيَتِيمٌ فِي بَيْتِنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳] وَأُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا.» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] انس رضی الله عنه فرمایي [۲] چې ما او یتیم په خپل مکان کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم شاته مونځ (د جماعت سره) وکړو [۳] او ام سلیم رضی الله عنها زمونږ وروسته وه. (مسلم)

حل اللغات: - ① يَتِيمٌ: اسْمُ عَلَمٍ لِأَخِي أَنَسٍ: دَحضرت انس رضی الله عنه دَ رور نوم یتیم وو بعض وئیلی نوم نی ضمیره وو په یتیم باندې مشهوروو

تسهیلات: - **قوله:** أُمُّ سُلَيْمٍ

دام سلیم تعارف: -دَ حضرت انس رضی الله عنه دَ مور نوم دې په یوروایت کښې "العجوزورائنا" الفاظ هم دی مراد هم اوم سلیم رضی الله عنها ده دا بی بی دَرسول الله صلی الله علیه وسلم رضاعی ترور یا ماسی وه.

دښځودسړوځخه روسته اودریدل: -دَدې حدیث نه معلومه شوه که مقتدیان ښځې اوسړی مشترك وی نودَ ښځو صف شاته ځان له پکاردې که هغه ښځې دَ محارم نه ولې نه وی.

دښځې د سړوپه مینځ کښې اودریدوسره د سړو دمونځ په فسادکښې اختلاف: -

① که ښځې دَ سړو په صف کښې اودریدې دَ ائمه ثلاثه په نیزبه مونځ نه باطل کیږی. امام که دَښځودَ امامت نیت اونه کړو نودَښځومونځ به فاسد شی.

② دَامام ابوحنیفه رحمه الله طرف ته منسوب دې چه په مذکوره صورت کښې دَهغوی په نیز دَ ښځې ښی اوګس اودَهغې شاته یعنی دَدریو کسانو مونځ به باطل شی مګر دَښځې خپل مونځ به صحیح شی.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/باب: المرأة وحدها تکون صفا (رقم-۷۲۷)

[۱۱۰۹] د جمعې په مونځ کښې د ماشوم او ښځې د اودريدو مقام

۱۱۰۹-(۱)[۴] (وَعَنْهُ) «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِ وَبِأُمِّهِ أَوْ خَالَتِهِ،[۲] قَالَ: فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ،[۳] وَأَقَامَ الْمَرْأَةَ خَلْفَنَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه څخه روايت دي چې (يو خل) نبي کريم ﷺ انس رضي الله عنه او د هغه مور (ام سليم رضي الله عنها) يا ترور (خاله، د مور خور) سره مونځ وکړو[۲] انس رضي الله عنه وايي (په دي موقع حضور ﷺ) زه خپل ښي طرف ته ودرولم[۳] او ښځه (يعني د هغه مور يا خاله) يې زمونږ وروسته ودروله. (مسلم)

حل اللغات:- ① خَالَتِهِ: ترور (د مور خورته خاله وائي).

تسهيلات:-

توله: فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ، وَأَقَامَ الْمَرْأَةَ خَلْفَنَا:

دسړي اوښځې په يو امام پسې د اقتداء کيفيت:-ددې حديث نه معلوم شو چې که يو سړي او يوه ښځه وي نو سړي به ښي طرف ته او ښځه به روستو اودريږي.

[۱۱۱۰] په روانه په رکوع کښې د امام سره د شرکت کولو ممانعت

۱۱۱۰-(۲)[۵] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ: «أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَاكِعٌ،[۲] فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ، ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّفِّ.[۳] فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،[۴] فَقَالَ: "زَادَكَ اللّٰهُ حِرْصًا، وَلَا تَعُدْ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] د ابوبکره رضي الله عنه په باره کې روايت دي هغه (يو خل په لمانځه کې شامليدو د پاره) حضور ﷺ ته په داسې وخت کې ورسيدو چې حضور ﷺ په رکوع کې وو[۲] هغه (د دي خبري په خاطر چې رکوع خيني لاړه نشي د نيت او تکبير تحريمه څخه وروسته) صف ته د رسيدو څخه مخکې رکوع ته لاړو بيا په آرام آرام تلو سره په صف کې شامل شو[۳] حضور ﷺ ته د دي واقعې ذکر وشو[۴] نو حضور ﷺ هغه ته وفرمايل الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دي (د اطاعت او نيک کار په باره کې) ستا حرص نور هم زيات کړي ليکن آئنده د پاره داسې مه کوه. (بخاري)

حل اللغات:- ① حِرْصًا: أي الْمُبَادَرَةِ إِلَى الْعِبَادَةِ: لالچ د عبادت او اطاعت. ② لَا تَعُدْ: د باب نصر ينصر نه، د عود نه دي واپس راګرځيدو ته وائي أي: لَا تَفْعَلْهُ مِثْلَ مَا فَعَلْتَهُ ثَانِيًا: يعنی بيا داسې کار مه کوه.

تسهيلات:-

توله: فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ:

---

[۱] اخرجه النسائي كتاب الإمامة/باب إذا كانوا رجلين وامرأتين (رقم-۸۰۳)

[۲] اخرجه البخاري في كتاب الاذان/ باب إذا ركع دون الصف (رقم-۷۸۳)

د ابوبکرة رضی الله عنه رکعت رالاندې کولو کښې جلتی کول:-یعنی دغه وخت په صف کښې شامل شوې نه وو مګر دَ جمع حاصلولو په غرض جماعت ته داخل شو اوهم دَ دغه ځائی رکوع ته لاړو او بیا دَ رکوع په حالت کښې په تلو تلو سره صف کښې شامل شو. دا کار حضرت ابوبکرة ﷺ حضور پاك سره دَ مونځ کولو دوران کښې اوکړو اوبیا ئی دَ حضورپاك ﷺ نه دَ مسئلې تپوس اوکړو. حضورپاك ﷺ مونځ خو صحیح اوګرځولو لیکن دَدې عمل کولو نه ئی دوباره منع کړو.

دحدیث څخه د دوؤ مسئلو استنباط:-

①امام پسې فاتحه لوستل فرض یا واجب نه دی که چرې داسې وې نو حضورپاك ﷺ به دغه صحابی ته حکم کولوچه ورشه مونځ راؤګرځوه حالانکه دغه صحابی فاتحه نه ده وئیلې او دَ وئیلو وخت ورسره چرته وو؟

بله دا چه شوافع حضرات هم وائی چه په رکوع کښې یومقتدی امام سره شریك شو نوهغه دا رکعت حاصل کړو مونږ وایو چه که هغه رکعت حاصل کړو نو فاتحه ئی کوم وخت اووئیله؟ اومونځ ئی څنګه صحیح شو؟ معلومه شوه چه په مقتدی باندې فاتحه وئیل فرض نه دی.

② خان له صف کښې شاته اودریدو سره مونځ فاسد کیږی نه لکه چه اول دَ جمهورو مسلك بیان کړې شوې دې.

قوله: وَلَا تَعُدْ:

د لاتعد په مفهوم کښې درې اقوال:-

① یعنی دوباره داسې مه کوه څکه چه په دې کښې دَ صف نه جدا اودریدل لازم راځی بیا دَ رکوع په حالت کښې تلل دی. دا مطلب زیات واضح اومناسب دې.

② دا لفظ دَ باب افعال نه هم کیدې شی کوم چه دَ اعادې په معنی کښې دې یعنی دَ مونځ راګرځولو ضرورت نشته دې مه ئی راګرځوه.

③ دا لفظ عدا یعدو نه هم دې چه دَمنډې په معنی کښې دې یعنی داسې منډې وهلوسره په صف کښې دَ شاملیدو کوشش مه کوه. بلکه په وقار او سکون سره راشه ثواب خو ملاویږی بیا دَ منډې وهلو فائده څه ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۱۱۱] د دریو کسانو د جمعې کیفیت

۱۱۱۱-()[۱][٦] عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]«أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنَّا

[۱]) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الرجل یصلی مع الرجلین (رقم-۲۳۳)

ثَلَاثَةٌ أَنْ يَتَقَدَّمَنَا أَحَدُنَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] سمرة ابن جندب رضي الله عنه فرمايي [٢] چې نبي كريم ﷺ مونږ ته دا حكم راكړى دي چې هر كله مونږ درې سرې (لمونځ كونكې) يو نو په مونږ كې دې يو سړې (چې په مونږ كې بهتر وي) زمونږ نه مخكې شى (يعني زمونږ امام دې جوړ شي). (ترمذي)

تسهيلات:-

نوټ: د ترجمې څخه مطلب واضح دي.

[١١١٢] د امام د پاره يواځې په اوچت ځاى د اودريدو كراهت

١٣ـ(١)[٧] [١] وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ أَنَّهُ أَمَّ النَّاسَ بِالْمَدَائِنِ، [٢] وَقَامَ عَلَى دُكَّانٍ يُصَلِّي وَالنَّاسُ أَسْفَلَ مِنْهُ، [٣] فَتَقَدَّمَ حُذَيْفَةُ فَأَخَذَ عَلَى يَدَيْهِ، [٤] فَاتَّبَعَهُ عَمَّارٌ حَتَّى أَنْزَلَهُ حُذَيْفَةُ، [٥] فَلَمَّا فَرَغَ عَمَّارٌ مِنْ صَلَاتِهِ، قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ: [٦] أَلَمْ تَسْمَعْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [٧] «إِذَا أَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ فَلَا يَقُمْ فِي مَقَامٍ أَرْفَعَ مِنْ مَقَامِهِمْ، أَوْ نَحْوَ ذٰلِكَ»؟

ترجمه: [١] د حضرت عمار رضي الله عنه په باره كې روايت دي چې هغه (يوه ورځ) په مداين كې (چې كوفې ته نزدې يو ښار دي) د خلقو امامت وكړو [٢] نو هغه مونځ وركولو د پاره په يوه دوكانچه (چبوتره) ودريدلو مقتديان د هغه څخه لاندې ولاړ وه [٣] (دې ليدو سره) حضرت حذيفه رضي الله عنه (د صف څخه وتلو سره) ورمخكې شو او عمار رضي الله عنه يې د دواړو لاسونو څخه ونيولو (او هغه يې لاندې طرف ته راښكلو چې هغه د لوړې (پورته) څخه ښكته شى د مقتديانو برابر ودريږي) [۴] عمار رضي الله عنه د حذيفه رضي الله عنه سره څه اختلاف ونه كړو نو حذيفه رضي الله عنه هغه د اوچت ځائې (لوړې) څخه راښكته كړو [٥] عمار چې لمانځه كولو څخه فارغ شو نو حذيفه رضي الله عنه هغه ته اوويل [٦] آيا تا دا نه دي اوريدلي چې نبي كريم ﷺ فرمايلي دي [٧] هر كله چې يو سړې د يو جماعت امام جوړ شى نو هغه دې په هغه ځاى نه دريږي چې د مقتديانو د ودريدو د ځاي څخه اوچت وي يا د دې په شان الفاظ يې وفرمايل.

حل اللغات:- ① دُكَّانٍ: هِيَ الْمَكَانُ الْأَعْلَى: اوچت ځائ ته وائى.

[١] فَقَالَ عَمَّارٌ: [٢] لِذٰلِكَ اتَّبَعْتُكَ حِينَ أَخَذْتَ عَلَى يَدِي. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] عمار جواب وركړو [٢] ځكه خو كله چې تا زما لاس ونيولو نو ما ستا اتباع (پيروي) وكړله (يعني څه مخالفت مې ونكړو ستا خبره مې ومنله او ښكته شوم). (ابوداؤد)

تسهيلات:-

قوله: أَمَّ النَّاسَ بِالْمَدَائِنِ:

دحديث پس منظر:—دا دَ حكومت ساسانى اوكسرىٰ دَفارس دارالخلافه وه كوم چه په

(١) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة، باب الإمام يقوم مكانا أرفع من مكان القوم (رقم-٥٩٨)

قصرابیض سره یادولې شوه. حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه دا فتح کړه اودکسریٰ په هغه سرکاری پارلیمنټ کښې ئی دَ جامع مسجد بنیاد کیخودو او په دغه علاقه کښې ئی رومبې جمعه اداکړه. تر نن پورې دا مسجد جامع مدائن په نوم باندې قائم دې. حضرت عماربن یاسر رضی الله عنه دَمدائن په یومقام کښې جمع کوله نوحضرت حذیفه بن الیمان رضی الله عنه چه دَ فارس ګورنروو هغه هم هلته وو.

قوله: وَقَامَ عَلَى دُكَّانٍ يُصَلِّي وَالنَّاسُ أَسْفَلَ مِنْهُ:

حضرت عمار بن یاسر رضی الله عنه چرته په اوچت ځائی باندې مونځ ورکول غوښتل پخپله پاس وو اومقتدیان لاندې وو. حضرت حذیفه رضی الله عنه وروړاندې شو اوهغه ئی دَ لاس نه اونیولو راښکته ئی کړو. ممکن ده چه هغه تردغه وخته پورې نیت نه وو تړلې البته اراده ئی کوله چه حضرت حذیفه رضی الله عنه هغه دَ لاس نه اونیولوراښکته ئی کړو. لیکن دَدې حدیث دَ الفاظو اندازه داسې ده چه حضرت عمار رضی الله عنه نیت کړې وو.

شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې فرمائی "فأخذعلی یدیه" ای جرحذیفة عمارامن خلف ظهره بنزله. شاته دَ ملانه نیول او دَ پوندو په مخ راښکل دَدې خبرې دلیل دې چه هغه مونځ قائم کړې وو او په اوچت ځائی اودریدل مکروه وو په دې وجه حذیفه رضی الله عنه لاندې راکوز کړو.

دَ کراهت وجه:- شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې په اوچت ځائی اودریدوسره دَامامت کولودَ کراهت دا وجه لیکلې ده چه په دې کښې اهل کتاب یهوداونصاریٰ سره مشابهت راځی ځکه چه هغوی به خپل امام په یوخاص اوچت ځائی باندې اودرولو. مسلمانان دَدې نه منع کړې شو خوکه په اوچت ځائی باندې امام سره څه خلق هم شریك وی نوبیا کراهت نشته دې

د امام په ښکته ځائې کښې د اودریدو په صورت کښې دوه اقوال:-

① که امام ښکته ولاړ وی اومقتدیان اوچت اودریږی دَامام طحاوی رحمه الله خیال دې چه دا صورت مکروه نه دې ځکه چه په دې کښې اهل کتاب سره مشابهت نشته لهذا جائزدی.

② جمهور احناف فرمائی چه داصورت هم مکروه دې خو په دې کښې دکراهت وجه جدا ده اوهغه داده چه په دې صورت کښې دَامام توهین اوتحقیر لازم راځی چه هغه دې لاندې په کوهی یا کنده کښې "اسوءحالاً" په توګه ولاړ وی او مقتدی پورته "احسن حالاً" ولاړوی که امام سره دَ سپکاوی سلوك چرته مکروه نه وی نوڅه دې؟

دَ اوچتوالی په حد کښې درې اقوال:- ① په کتلوکښې کله امام ښکاره اوممتاز په نظر راځی نودا حد مکروه دې.

② قول دا چه ذراع یعنی یولاس اوچتوالی باندې وی نومکروه دې ګنی نه دې هم دغه آسان او واضح دی.

⑨ شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښي لیکلی دی چه د اوچتوالی د کراهت په مقدار کښي یوقول دې چه درمیانه سړی د قدوقامت برابر که چرته اوچتوالی وی نومکروه دی ګڼی نه دی.

د نبی کریم ﷺ په اوچت ځائي د جماعت ورکولو وجه:- باقی که بعضي وخت رسول الله ﷺ په اوچت ځائی باندې مونځ ورکړی وی نو هغه دامت د تعلیم دپاره د حضورپاك ﷺ خصوصیت وو د بل چا د پاره جائزنه دی.

باقی حضرت عمار رضی الله عنه ته دامسئله معلومه وه چې په اوچت ځائي دامامت ورکولو څخه نبی علیه السلام منع کړې وه خوکیدې شی چې دهغوی څخه دا مسئله هیره شوې وه او په وریادولو سره وریاده شوی وی نو ځکه یې اقرار اوکړو. د هیرې توجیه ځکه کوو چې حضرات صحابه کرامو د خپل محبوب پیغمبر هریو حدیث باندې عمل کولو هغوی هیڅ کله د قصداً عمداً د سنت خلاف نه دې کړې.

قوله: أَوْنَحْوَذٰلِكَ:

د انحو ذلک وئیلو وجه:- دحضرت حذیفه رضی الله عنه دارو ایت شاید بالمعنی وو ځکه نی اوفرمائیل چه د حضورپاك ﷺ الفاظ داسې وو یا دَدې په شان وو.

[۱۱۱۳] د تعلیم دپاره د امام په اوچت ځائي داودریدو جواز

١١١٣-() [٨] ⑴ «وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّهُ سُئِلَ: ⑵ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ الْمِنْبَرُ؟ فَقَالَ: هُوَ مِنْ أَثْلِ الْغَابَةِ، ⑶ عَمِلَهُ فُلَانٌ مَوْلَى فُلَانَةَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ⑷ وَقَامَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ عُمِلَ وَوُضِعَ، ⑸ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَكَبَّرَ، وَقَامَ النَّاسُ خَلْفَهُ، ⑹ فَقَرَأَ وَرَكَعَ، وَرَكَعَ النَّاسُ خَلْفَهُ، ⑺ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرَى،

ترجمه: ⑴ د سهل ابن سعد ساعدي رضی الله عنه په باره کي منقول دي چه د هغه څخه (یوه ورځ) پوښتنه وشوه ⑵ چې د نبي کریم ﷺ منبر د څه شي (یعني د کوم لرګي وو؟) هغه وفرمایل هغه د ځنګلي جهاؤ (یوه وونه چې اکثر د سیندونو په غاړه وي او د نري ځانګو او د لښتو څخه یي ټوکري وغیره جوړیږي) لرګي وو ⑶ چې فلاني سړي کوم چې د فلاني ښځي آزاد کرده غلام وو د رسول الله ﷺ د پاره جوړ کړي وو ⑷ کوم وخت چې هغه تیار شو او (په مسجد کي) کیښودل شو نو حضور ﷺ (په هغې ودریدلو) ⑸ او مخ په قبله کیدو سره (د لمانځه د پاره یي) تکبیر تحریمه اووئیلو او ټول خلق حضور ﷺ پسي ودریدل ⑹ حضور ﷺ (په منبر) قراءت وکړو او رکوع یي وکړه نورو خلقو هم په حضور ﷺ پسي رکوع وکړه ⑺ بیا حضور ﷺ خپل سر مبارك د رکوع څخه اوچت کړو او پښي وروسته کولو سره (یعني د منبر څخه ښکته کیدو سره)

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الصلاة/ باب الخطبة علی المنبر (رقم-۹۱۷) ومسلم فی کتاب المساجدمواضع الصلاة/ باب جواز الخطوة والخطوتین فی الصلاة (رقم) ۴۴ - (۵۴۴)

[۱] فَسَجَدَ عَلَى الْأَرْضِ، ثُمَّ عَادَ إِلَى الْمِنْبَرِ، [۲] ثُمَّ قَرَأَ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، [۳] ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرَى، حَتَّى سَجَدَ بِالْأَرْضِ». [۴] هَذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ، وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ نَحْوُهُ، [۵] وَقَالَ فِي آخِرِهِ: «فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ! [۶] إِنَّمَا صَنَعْتُ هَذَا لِتَأْتَمُّوا بِي وَلِتَعْلَمُوا صَلَاتِي»".

ترجمه: [۱] په زمكه يې سجده وكړه او بيا منبرته اوختلو [۲] بيا ئې قراءت وكړو اوبيا ئې ركوع وكړه اوبيا ئې خپل سر پورته كړو [۳] اوبيا واپس راغلو تردې چې سجده ئې وكړه په زمكه باندې [۴] دا الفاظ د بخاري دي او د بخاري او مسلم متفقه روايت هم داسې دې [۵] د دې حديث راوي د حديث په آخر كې دا هم ويلي دي چې كوم وخت چې «د لمانځه ځخه» حضور ﷺ فارغ شو نو وي فرمايل اې خلقو! [۶] داسې ما ځكه كړي دي چې تاسو خلق زما پيروي وكړي او زما د لمانځه (كيفيات او د هغې احكام او مسائل) زده كړئ.

حل اللغات: ① أَثْل: أي الطَّرْفَاءِ: د نرى ځانگو او لښتو والاځنگلى وونه، جهاؤ ورته وائى، پښتو كښې ورته خر ووله يا ووله وائى، د اوبو په غاړه باندې كيږى. ② الْغَابَةِ: غَيْضَةٌ ذَاتُ شَجَرٍ كَثِيرٍ: ځنگل چرته چه ډيرې ونې وى، دمدينې منورې نه تقريباً په نهه ميله باندې يوځنگل دې كوم ته چه غابه وائى هلته ونې ډيرې زياتې وى. ③ عَمِلَهُ: جوړ كړې وو دا ممبر، ④ مَوْلَى: آزاد كړې شوې غلام، ⑤ رَجَعَ الْقَهْقَرَى: وَهُوَ الرُّجُوعُ إِلَى خَلْفٍ: په شا طرف تلل.

تسهيلات:- **قوله:** مِنْ أَثْلِ الْغَابَةِ:

داثل معنى:- په دويم روايت كښې "طرفاء" لفظ راغلې دې. دا دواړه هم دَ يوقسم ونې نوم دې. كوم ته چه جهاؤ وائى (دا يوقسم ونه ده چه دَ درياب په غاړه كيږى او دَدې نه تړكرئى جوړيږى)

قوله: فُلَانٌ:

د فلان مصداق:- دې نه مراد باقوم رومى دې دا يو هوښيار تركهان وو. دَحضرت سعيدبن العاص رضي الله عنه غلام وو هغه منبر نبوى ۲ هجرى كښې جوړ كړې وو.

قوله: مَوْلَى فُلَانَةَ:

د اعتراض حل:- په دې روايت كښې په واضحه توګه ذكر دى چه دا دَ يوې ښځې غلام وو نو په دې كښې هيڅ تعارض يا منافات نتشه دې ځكه چه غلام چرته هم چاسره وى هم غلام وى. اول حضرت سعيد رضي الله عنه سره وو بيا عائشه انصاريه سره راغلو. دَ فلانه نه عائشه انصاريه ښځه مراد ده.

د نبى ﷺ د منبر پاؤكى:- علماؤ ليكلى دى چه دَ نبى كريم ﷺ منبر په دريو ورو پاؤړو باندې مشتمل وو. نو يوه پاؤړئى ختل كوزيدل عمل كثير نه وو بلكه عمل قليل وو. كه چرې كثير هم وى نو دَ تعليم امت دَپاره جائز نه بلكه ضرورى وو.

[۱۱۱۴] په اعتكاف كښې خلقوته امامت كول

۱۱۱۴- (')[۹] [۱] «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حُجْرَتِهِ [۲] وَالنَّاسُ يَأْتَمُّونَ بِهِ مِنْ وَرَاءِ الْحُجْرَةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] ام المؤمنين بي بي عائشه صديقه ﷵ فرمايي چې نبي كريم ﷺ په خپلې حجره كې دننه مونځ وكړو [۲] او خلقو د حجري څخه بهر د حضور ﷺ اقتداء وكړه. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① حُجْرَتِهِ: حُجرة په حاء باندې پيش، كله د كوټې په معنى اوكله كوټې ته مخامخ د صحن په معنى كښې استعماليږى خو دلته: وَهِيَ مَوْضِعٌ صَنَعَهُ مِنَ الْحَصِيرِ فِي الْمَسْجِدِ لِلْإِعْتِكَافِ: د معتكف هغه مخصوص ځائې دپاره استعمال شوې كوم چه د پوزكى يا څادر نه جوړشوې وى.

تسهيلات: -

قوله: فِي حُجْرَتِهِ:

دحجرې مصداق: - دې نه دَ كور كمره مرادنه ده بلكه دَ اعتكاف دوران رمضان كښې په جمات كښې دننه دَ پوزكى يو چارديوارى وه هغې ته به ئې حجره وئيل. او چونكه په هغې كښې به دَ حضورپاك ﷺ آواز هم راتللو هغوى به ښكاريدل هم نو په دې كښې هيڅ اشكال نشته چه په مانځه كښې مكان يوپكاردې څكه چه مكان هم يووو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۱۱۵] د صفونو جوړولو طريقه

۱۱۱۵- (')[۱۰] [۱] «عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲] قَالَ: أَقَامَ الصَّلَاةَ، وَصَفَّ الرِّجَالَ، [۳] وَصَفَّ خَلْفَهُمُ الْغِلْمَانَ، [۴] ثُمَّ صَلَّى بِهِمْ، فَذَكَرَ صَلَاتَهُ [۵] ثُمَّ قَالَ "هَكَذَا صَلَاةُ" [۶] قَالَ عَبْدُ الْأَعْلَى: لَا أَحْسَبُهُ إِلَّا قَالَ: "أُمَّتِي». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] د ابو مالك اشعري ﷛ په باره كې روايت دې چې هغه (خلقو ته) اوويل چې آيا زه تاسو د نبي كريم ﷺ د لمانځه (د كيفيت څخه) خبر نه كړم؟ [۲] (نو واورئ چې) حضور ﷺ (د لمانځه د پاره خلق) ودرول (اول) يې د سړو صفونه قائم كړل [۳] بيا د هغوئ څخه وروسته د هلكانو صف يې وتړلو [۴] او هغوئ ته يې مونځ وركړو ابو مالك ﷛ د حضور ﷺ د لمانځه (كيفيت) بيان كړو [۵] او اوويل چې حضور ﷺ (لمونځ كولو نه پس) وفرمايل مونځ داسې كول پكار دي [۶] عبد الاعلي (چې هغه دا روايت د ابو مالك څخه نقل كړي دي) وايي چې زما خيال دې چې ابو مالك ﷛ اِلّا امتي زما د امت (هم) ويلي دي

(') اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ۱۱۱۶

(') اخرجه ابوداود كتاب الصلاة باب مقام الإمام من الصف (رقم-۶۷۷)

يعني ابو مالك ﷺ د حديث آخري الفاظ داسې نقل کړي دي چې حضور ﷺ وفرمايل هٰكَذَا صَلٰوةُ أُمَتِيْ (يعني زما) د امت مونځ داسي كيدل پكار دي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الغِلْمَانَ: أي: الصِبْيَانَ: ماشومان هلكان.

تسهيلات: -قوله: هَكَذَا صَلَاةُ:

د صفونو ترتيب:-دې مذکوره حديث کښې د صفونو ترتيب اوخودلې شو چې تر قيامته پورې به د مونځ صفونه داسې پکار دی. اول صف به د سړو وی ،دويم به د ماشومانو وی.

په الا کښې دوه ترکيبونه:- ① الاحرف تنبيه وی.

② همزه د استفهام وی. حافظ بن حجردې دې دويم قول ته ترجيح ورکړې ده.

[۱۱۱٦] د حاکمانو هلاکت

۱۱۱۳-(۱)[۱] «وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ، قَالَ: [۲] بَيْنَا أَنَا فِي الْمَسْجِدِ، فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ، [۳] فَجَبَذَنِي رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي جَبْذَةً، [۴] فَنَحَّانِي، وَقَامَ مَقَامِي، [۵] فَوَاللهِ مَا عَقَلْتُ صَلَاتِي، [٦] فَلَمَّا انْصَرَفَ، إِذَا هُوَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، [۷] فَقَالَ: يَا فَتَى لَا يَسُوءُكَ اللهُ، [۸] إِنَّ هَذَا عهد مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا أَنْ نَلِيَهُ، [۹] ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، [۱۰] فَقَالَ: هَلَكَ أَهْلُ الْعُقَدِ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ، ثَلَاثًا،

ترجمه: [۱] قيس ابن عباد (تابعي) رحمه الله فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) زه په مسجد کې په اولني صف کې په لمانځه کولو ولاړوم [۳] چې يو سړي د شا څخه زه راکش کړم [۴] او ما لره يو طرف ته کولو سره پخپله زما په ځاي ودريدلو [۵] قسم په الله (د دې غصي د وجهی چې هغه زه د اولني صف څخه چې افضل دي راکش کړم سره د دې چې زه هلته مخکې نه ولاړوم) ما ته د خپل لمانځه هم هوش پاتې نه شو (چې زه مونځ څنګه اداء کوم او څو رکعاته کوم) [٦] کوم وخت چې هغه سړي مونځ وکړو (او ما هم د لمانځه څخه وروسته وليدلو) نو معلومه شوه چې هغه حضرت ابي ابن کعب ﷺ وو [۷] (مالره د غصي په حالت کې ليدلو سره) هغه وفرمايل اي ځلميه دا وخت چې ما ستا سره څه وکړل د هغې په وجه دي الله تعالی جل جلاله تا غمجن نه کړي [۸] (ځکه چې) زمونږ د پاره د رسول الله ﷺ دا وصيت دي چې مونږ د حضور ﷺ سره نزدي ودريږو (په دې وجه د حضور ﷺ څخه وروسته اوس مونږ د امام نزدې د ودريدو کوشش کوو) [۹] بيا يې د قبلې طرف ته مخ کړو [۱۰] او درې خله يې دا وفرمايل د کعبې په رب مي دي قسم وي چه أهل عقد (يعني سرداران) هلاك شو

حل اللغات:- ① فَجَبَذَنِي: دا د جَذَبَنِي نه مقلوب دې، که دا کلمه جذبني اولوستلې شی نوبيائی هم معنی يوه ده، يعنی زه ئی رابنکلم. دامصدر دَ عدد دَپاره هم اخستې شي يعنی "مرة واحدة" اودا دَ تاکيد دَپاره هم استعمالولې شی "اى جَبْذَةً شديدة". ② فَنَحَّانِي: أي: بَعَّدَنِي وَأَخَّرَنِي: يعنی زه ئی

[۱]) اخرجه النسائی كتاب الإمامة/باب موقف الإمام والمأموم صبي (رقم-۸۰۸)

دَخپل خائی نه اخوا کرم یوطرف ته نی اودرولم او پخپله هم زما په خائی باندې اودریدو. ③لَا يَسُوْءُكَ اللّٰهُ: مَعْنَاهُ لَا يُحْزِنُكَ اللّٰهُ بِي وَبِسَبَبِ فِعْلِي: ما چه اوس تا سره څه وکړل د هغې په وجه دې الله تعالی جل جلاله تا غمجن نه کړی. ④تَلِيَهُ: چې مونږ د حضور ﷺ سره نزدې ودريږو (نونن صبا دامام سره نزدې اودريدل پکار دی). ⑤أَهْلُ الْعَقْدِ: أَيِ الْأُمَرَاءُ: دا یو اصطلاحی لفظ دې پوره لفظ "اهل الحل والعقد" دې، د دې نه مراد حکمران طبقه ده چه دَ خلقو دَ معاملاتو ترل پرانستل کوی.

①ثُمَّ قَالَ: وَاللّٰهِ مَا عَلَيْهِمْ آسَى ②وَلٰكِنْ آسَى عَلَى مَنْ أَضَلُّوا. ③قُلْتُ: يَا أَبَا يَعْقُوبَ مَا تَعْنِي بِأَهْلِ الْعَقْدِ؟ ④قَالَ: الْأُمَرَاءُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① او وې فرمایل قسم په الله زما سره د سردارانو هیڅ غم نشته ② غم خو د دې خلقو (یعنی د رعایا) دې چې سرداران یې گمراه کوی (په دې طور چې کوم کار سرداران کوي هغه کار د هغوئ رعایا کوي) ③ قیس ابن عباد رحمه الله وایي چې ما حضرت ابي ابن کعب رضي الله عنه ته عرض وکړو چې ابو یعقوب د اهل عقد څخه ستا څه مراد دې؟ ④ وې فرمایل امراء (یعنې سردار او حکام). (نسایي)

حل اللغات: -①آسَى: أَيْ: أَحْزَنُ: خفه کیږم، غمجن کیږم. ②أَضَلُّوا: چه گمراه کوی ئې (دا سرداران او حاکمان یعنی متبعینو باندې خفه کیږم).

تسهيلات: - **قوله:** مَا عَقَلْتُ صَلَاتِي:

دعقلت مفهوم: - یعنی داسې زما اخواکولواو مادَنبه خائی نه شاته کول او زما په خائی پخپله اودریدل ماته دومره غصه راغله اوزه دومره خفه شوم چه ماته هډو پته اونه لگیده چه مامونځ څنگه اوکړو څورکعته مې اوکړه او څنگه مې اوکړه.

قوله: إِنَّ هٰذَا عَهِدَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د مذکوره جملې مطلب: - یعنی دادَ حضورپاک ﷺ وصیت ووچه اولوالاحلام یعنی دَ عقل اودانش او زیات عمر فضلاء علماء به وړاندې وی او ماشومان به په آخره کښې وی، قیس بن عباد وړوکې وو دا صحابی نه بلکه تابعی وو.

قوله: هَلَكَ أَهْلُ الْعُقَدِ:

دابی بن کعب مقصد: - دَحضرت ابی بن کعب رضي الله عنه مقصد دادې چه په حکمرانانو دَ رعایا دَ اصلاح او لارخودنې او په خولارو باندې دَ اچولو ذمه واری ده هغوی دا نه کوی لهذا پخپله گمراه شو.

د حکمران مصداق: - حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه دَ لوئی شان والاصحابی دې هغه چه په حکمرانانو باندې کوم طعن کړې دې نو ممکن دی چه راتلونکی حکمرانان مراد وی یا دَهغوی دَ زمانې حکمرانان مراد وی. خوهغه پخپله دَحضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په زمانه کښې وولهذا دَ حضرت عثمان رضي الله عنه بعض گورنران دَ دغه طعن نشانه کیدې شو هغه پخپله بالکل نه وو.

[۴۲/۲۶]بَابُ الإِمَامَةِ

دا باب د امامت د احکامو په بيان کښې دې

خلاصة الباب:-

فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① الأحق بالإقامة : ۱، ۲، ۳، ۱۱.
② عدم إمامة أحد بغير إذن صاحب الإمامة: ۱، ۴.
③ حكم إمامة الأعمى: ۵.
④ الزجر على الإمامة مع كراهية القوم له: ۶، ۷، ۱۳.
⑤ عدم وجود الإمام من أشراط الساعة: ۸.
⑥ جواز الصلوة خلف كل مسلم: ۹.
⑦ حكم إمامة الصبي: ۱۰.

د امامت دوه قسمونه:-

① امامت کبریٰ ② امامت صغریٰ دې.

دامامت کبری تعريف:- امامت کبریٰ کوم ته چه خلافت او امارت هم وئيلی شی دَدې تعريف دادې چه دَ شريعت په رنړاکښې دَ انسانانو دَدين اودنيا ټول امورو قيادت اوسيادت اواصلاح نوم خلافت اوامامت دې.

دامامت صغری تعريف:- امامت صغری دې ته وائی چې يو مسلمان په مانځه کښې د نورو مسلمانانو قيادت اوکړی.دې وړاندې وی او نور مونځگذار وريسې ورستو ولاړ وی.

د امامت صغری شرطونه:- په اسلام کښې څنګه دَ امامت کبریٰ دَ ذمه وارئی اوچتونکی دَ پاره يومعيارمتعين دې اودَ هغه دَپاره يوڅو شرائط کيخودلې شوی دی دغه شان دَامامت صغریٰ دَ سنبالونکی دَپاره هم څه شرائط اوترجيحات دی څکه که لائق امام وی اوخلق هغه پريخودو سره نالائق امام جوړه وی نو ټول خلق به دَ سنت پريخودونکی جوړشی. دَ محلې دَ مونځ گذارو ذمه واری ده چه هغوی دې مستندعالم متقی پرهيزگار سړې امام جوړکړی او ذاتی ترجيحات دې يوطرف ته کړی اودَ دين اسلام دَ ترقئ فکردې اوکړی.

په امام باندې د اختلاف صورت:- اوکه په محله کښې دَامام په مقررولوباندې تنازعه پيداشی نودَ مخلص ديندار مونځ گذارو اکثريت چه کوم متفق شی هغه دې امام جوړکړی. کله چه مقتديانو په اتفاق سره يوامام مقررکړو نواوس هم هغه سړې باقاعده امام دې دَهغه په موجودګئی کښې دَ يو لوئی نه لوئی عالم دَهغه دَ اجازت نه بغير مونځ نه شی ورکولې ګنی انتظام به دَ ګړبړ ښکارشی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۱۱۱۷] د امامت مستحق څوک

۱۱۱۷ــ(')[۱]۱ «عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ; ۳ فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً، فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ; ۴ فَإِنْ كَانُوا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً، فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً; ۵ فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً، فَأَقْدَمُهُمْ سِنًّا، ۶ وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِي سُلْطَانِهِ. ۷ وَلَا يَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ عَلَى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ۸ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: " «وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِي أَهْلِهِ» ".

ترجمه: ۱ ابو مسعود رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ۲ د قوم امامت دي هغه سړي کوي چې د لمانځه په احکامو او مسائلو باندې پوهيدو سره قرآن مجيد د ټولو څخه اعلی وايي (يعني د تجويد څخه واقف وي او په حاضرينو کې د ټولو څخه ښه قاري وي) ۳ که د قرآن مجيد په ښه ويلو کې ټول برابر وي نو هغه سړي دي امامت وکړي چې (قرائت مسنونه په ښه شان ويلو سره) د سنت په علم د ټولو څخه زيات پوهيږي ۴ که (په قرآن ويلو او) د سنت په علم پوهيدو کښې ټول برابر وي نو هغه سړي دي امامت وکړي چې (مديني ته) د ټولو څخه مخکې هجرت کولو سره راغلي وي ۵ او که (په علم قراءت او) هجرت کې هم ټول برابر وي نو هغه سړي دي امامت وکړي چې په عمر کې د ټولو څخه زيات وي ۶ او هيڅ سړي دي د بل په علاقه کې امامت نه کوي (يعني د دويم مقرر امام په ځاي امامت نه کوي) ۷ او د چا په کورکي دې د هغه په مسند د هغه د اجازت څخه بغير دي نه کيني، مسلم. ۸ او د مسلم په يو بل روايت کې دا الفاظ دي (چې حضور ﷺ وفرمايل) هيڅ سړي دې د بل چا په کورکي (د هغه د اجازت څخه بغير اګر که هغه د صاحب خانه څخه افضل ولي نه وي) امامت نه کوي.

حل اللغات:- ① سِنًّا: زيات عمر والا (دلته ددې نه تقدم فی الاسلام مراد دې). ② سُلْطَانِهِ: أَيْ: فِي مَظْهَرِ سَلْطَنَتِهِ وَمَحَلِّ وِلَايَتِهِ: يعنی دهغه د سلطنت او ولايت په ځاي کښې. ③ تَكْرِمَتِهِ: كَسَجَّادَتِهِ أَوْسَرِيرِهِ: د عزت ځاي مثلاً ګدئ يا کټ يا کرسی وغيره کوم چه دهرچا په خپل ځائ کښې د ناستې پاستې يو خاص ځاي مقرروی).

تسهيلات:-

قوله: فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً:

دامامت د افضليت معيار او صورت:- لکه چه اول اشاره کړې شوې ده چه په جمات کښې مقرر امام موجود وی نو بيا دامامت هغه د ټولو زيات حق داردې. په دې حديث کښې د امام

(') اخرجه مسلم فی کتاب المساجدمواضع الصلاة/ باب من أحق بالإمامة (رقم) ۲۹۰ - (۶۷۳) وابوداود کتاب الصلاة،باب من أحق بالإمامة (رقم-۵۸۲) والنسائی کتاب الإمامة/باب من أحق بالإمامة (رقم-۷۸۰) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب من أحق بالإمامة (رقم-۹۸۰)

دَ اعلى ادنى افضل اوغير افضل اوصفات حسنه قلت اوكثرت اوترجيحات بيان كړې شوي دي. دادَهغه وخت خبره ده کله چه امام راتب اومعين نه وي مثلاً خلق په سفر کښې وي

د امامت د استحقاق ترتیب:- دَامامت دَاستحقاق دَپاره مذکوره حدیث کښې یوځو ترجيحات دي

① دَتولونه زيات دَ کتاب اوسنت عالم وي

② که په دې کښې برابروي نوبياچه دَ چا قراءت تجويدسره ښکلې وي.

③ که په دې دوارو صفتونوکښې برابر دي نوبيا هغه سړې کوم چه زيات متقي اوپرهيزگار وي.

④ که په دې کښې هم برابروي نوبياچه دَ چا اخلاق ښه وي

⑤ که چرې دې کښې هم برابري وي نو بيا په دوی کښې چه وجيه اوشکيل وي.

⑥ که په دې کښې هم يوشان وي نو بياچه په نسب کښې کوم يواوچت وي.

⑦ که په دې تولو صفاتوکښې دا علماء برابر وي نوبيابه خسنړې اچولې شي.

د بعضې نورو صفاتو ذکر:- په زيربحث حديث کښې دَ څلورو صفاتوذکرکړې شوې دې په کوم کښې چه اول قراءت دويم علم دريم هجرت او څلورم دَعمرزياتوالې دې. سره دَدې چه فقهاؤ دَ يوڅو نورو صفات دَآثار صحابه اقوال تابعين په رڼاکښې اضافه کړې ده.

د امامت دپاره د أقرأ او أعلم په تقدم کښې مذاهب

دَدې تولو صفاتو په ترتيب کښې دَفقهاء کرامو اتفاق دې صرف دوو صفاتوکښې اختلاف دې يعنی اقرأ مقدم دې يا اعلم مقدم دې.

دقاری او عالم تعریف:- دَ قاری نه مراد هغه چه دَ فن قراءت ماهر وي اوهغه ته قرآن زيات ياد وي اودَ عالم نه مرادهغه چه دَ احکام شريعت ماهروي.

مطلب دادې چه يوجيد قاری دې دويم جيد عالم دې په دوی کښې کوم يو مقدم کړې شي په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① امام احمدبن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهويه رحمه الله اوامام ابويوسف رحمه الله مسلك دادې چه دَ امامت دَپاره "اقرأ" زيات مستحق دې دَدې نه پس "اعلم" دې. دَ امام شافعي رحمه الله يوقول هم دغه دې.

② دَامام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله او امام شافعي رحمه الله مسلك دا دې چه "أعلم" دَ امامت زيات مستحق دې دامقدم دې بيا دَ "اقرأ" نمبردې.

داول فريق دلائل:-① زيربحث دَابومسعود رضي الله عنه حديث د دوی مستدل دې

د اول فريق د دليل جواب:-

① دَ زيربحث حديث يوجواب خودادې چه دَدې څه خاطرخوا جواب نشته دې. کومو

حضراتو چه داجواب ورکړې دې په هغه زمانه کښې به اقرأ هم هغه وو چه اعلم به وو نو په دې جواب سره خو یوډ زیربحث ټول ترتیب ماتیږی حالانکه دا ترتیب حضورپاك ﷺ قائم کړې دې. اودویم اشکال دا راځی چه په دې سره به حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه دَ ټولونه زیات عالِم منلې شی حالانکه دَ صدیق اکبر رضی الله عنه باره کښې دَ ټولو صحابه کرامو اتفاق دې چه «ابوبکر اعلمنا» دې نو خبره هم په هغه ځائې باندې راغله چه دَدې حدیث یوجواب دادې چه دَدې څه جواب نشته دې.

② دَ اسلام په شروع کښې رسول الله ﷺ دَ قرآن عظیم الشان اشاعت اودا دَ عام کولو دومره اهتمام کړې ووچه دَ قرآن په ذریعه سره نکاح کول دَ قرآن په وجه دَ مجاهدینو امیر جوړیدل دَ کثرت قرآن دَ وجې نه اجتماعی قبرونو کښې حافظ قرآن مقدم کیخودل او دَ کثرت قرآن دَوجې نه په جماتونو کښې امام ساتل دا ټول اهتمام دَدې دَپاره وو چه خلق دَ زیات نه زیات دَ قرآن کریم دَ الفاظو یادولو کوشش اوکړی. هم په دې سلسله کښې اوهم په دې زمانه کښې نی داحدیث ارشاد فرمائیلې وو اودَدې نه پس دَدې حکم موقوف شو اودَ علم په ترغیب باندې زور ورکړې شو. په دې وجه صدیق اکبر رضی الله عنه مقدم کړې شو دې دَپاره چه دَعلم اصلی حیثیت په ځائې راشی لهذا نن هم هغه حیثیت په ځائې دې اوعالِم عام خلق هم په قاریانو باندې په امامت کښې مقدم کوی. صرف قراءت اوریدل او خوشحالیدل او دَ دې محافل دَ حسن قراءت قائمول دا ځان له څیزدې. (یاالله! دَ نیغې اوحق لارې نه اخوا کیدو اولرې کیدو نه زمادَ سوچ اوزمادَ قلم حفاظت اوکړې آمین. راقم الحروف)

داول فریق دویم دلیل:-

② قراءت دَ مونځ دَ ارکان نه یواهم رکن دې لهذا دَدې زیات اهتمام دې.

ددویم فریق دلائل:-

① دَحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه امامت د دوی مستدل دې چه په حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه باندې حضورپاك ﷺ صدیق اکبر رضی الله عنه مقدم کړو چه اعلم بکتاب الله وو حالانکه ابی بن کعب رضی الله عنه خو اقرأ وو لکه چه دَ حدیث الفاظ دی «واقرأهم ابی بن کعب» معلومه شوه چه علم مقدم دې

② قراءت سره دَدې چې رکن صلوة دې لیکن دَدې ضرورت صرف په یو رکن کښې پیښیږی اودَعلم ضرورت دَ مانځه په ټولو ارکانو کښې پیښیږی. دَ تکبیرتحریمه نه واخله ترسلام پورې هم په علم باندې دَ مونځ دارومداردې.

قوله: وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلَ الرَّجُلُ فِي سُلْطَانِهِ

مرقاۃ شرح مشکوۃ کښې ملاعلی قاری رحمه الله دکلام نه داسې معلومیږی چه درې قسم خلق دی دَ چا په نیزجه دَهغوی دَ اجازت نه بغیر دَ امامت نه منع کړې شوی دی اودریواړو ته یوقسم سیادت اوقیادت حاصل دې.

د سلطان څخه په مراد کښې درې اقوال:-

① په مذکوره حدیث کښې دَ "سلطانه" لفظ دې دَدې نه بادشاه وخت مراد اخستې شی یعنی دَ حاکم وخت ځائی ته په تللوسره دَهغه په ځائی دې امامت نه کوی یادَهغه دَ طرف نه مقررکړې شوې امام اونائب په ځائی دې امامت نه کوی خاص کر دَ جمعه او اخترونو په موقع خو بالکل مناسب نه دی.

② دغه شان دَ سلطان اطلاق دَ جمات په امام باندې هم کیدې شی ځکه چه جمات اودَجمات امامت دَهغه په دائره اختیارکښې دې نودَهغه په ځائی دَهغه دَ اجازت نه بغیر جمع ورکول دَ یوغیرکس دَپاره منع دی.

③ دغه شان یوسړې دَخپل خاندان مشر دې اوهغه خپل قوم ته مونځ ورکوی دَهغه په ځائی هم مونځ ورکول دَهغه دَ اجازت نه بغیرناجائزدی.

په دویم روایت کښې "فی اهله" الفاظ راغلی دی دَ کوم نه مراد چه هم داقسم خلق کیدې شی.

④ دغه شان یوسړې دَخپل کور خلق راجمع کوی او مونځ ورکوی دَهغه په ځائی باندې هم دَ هغه دَ اجازت نه بغیردَ چادَپاره جائز نه دی چه مونځ ورکړی. نوکه دَامامت کبریٰ والاوی اوکه دَامامت صغریٰ والاوی دَ هریو یوقسم سلطنت قائم دې دَهغوی دَ اجازت نه بغیر مونځ ورکول دَ شریعت خلاف دی ځکه چه په اسلام کښې دَجمع او امامت دَ مشروعیت مقصد هم اتفاق اتحاد او محبت اورور ولی ده اوداحرکتونه بغض عناد او شرفساد پیداکوی. په دې وجه حضورپاك ﷺ دَدې ځیزونو مخ نیوې اوکړو. دَ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما غوندې جلیل القدر صحابی په حجاج بن یوسف غوندې ظالم پسې آخر دَ څه مقصد دَ پاره مونځ کولو.

قوله: عَلٰى تَكْرِمَتِهٖ:

تکرمة تفعلة په وزن باندې مصدردې دَ باب تفعیل نه دَتکریم عزت اواکرام په معنی کښې دې دلته په کور وغیره کښې هغه خاص ځائی ته تکرمه وئیلې شوې ده چرته چه دَ کور مشر کینی که په دغه ځائی بغیردَ اجازت نه څوك راشی کینی نوهغه ته تکلیف کیږی. نن صبا په عربوکښې هم په دې خبره باندې سخت خفګان پیداکیږی. او په عجم کښې دَ پیرانو صاحبانو په خاص ځایونو اوخانقاهونوکښې دننه دَهغوی دَپاره چه کوم خاص ځائی وی هغه هم مراد کیدې شی او په مدارسوکښې دَ بعض مهتمم حضراتودَپاره خاص تخت اودَ ناستې ځائی وی په هغې باندې هم بغیر اجازت نه کیناستل مناسب نه دی.

[١١١٨] د امامت زيات حقدار

١١١٨–(١) [٢] ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «إِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ أَحَدُهُمْ، ٣ وَأَحَقُّهُمْ بِالْإِمَامَةِ أَقْرَؤُهُمْ» ". ٤ رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَذُكِرَ حَدِيثُ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ فِي بَابٍ بَعْدَ بَابِ "فَضْلِ الْأَذَانِ".

ترجمه: ١ ابو سعيد خدري ﷛ راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ٢ هر كله چې د لمانځه كولو د پاره دري سړي جمع شي نو په هغوئ كې دي يو امام جوړ شي ٣ او په هغوئ كې د امامت زيات مستحق هغه دي چې زيات عالم وي، مسلم. ٤ امامسلم د دي روايت كړي دې اود مالک بن حويرث حديث ئې په باب فضل الاذان كښې ذكر كړي دي.

تسهيلات:-

قوله: وَأَحَقُّهُمْ بِالْإِمَامَةِ أَقْرَؤُهُمْ:

تشريح: كه قاري او عالم امامت اوكړي نو دا افضل دى ،خو كه ددوئ نه سوا بل چا امامت اوكړو نو مونځ ادا كيږي .ددې نه معلومه شوه كه افضل موجود وى او مفضول امام جوړ شي نو دا جائز دی.او ددې به د افضل په افضليت باندې هيڅ اثر نه پريوزی.لكه څنګه چې روايت كښې ذكر دى چې حضرت بلال ﷛ به جنت كښې دخادم په طور نبی كريم ﷺ نه وړاندې روان وی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١١١٩] د اذان او امامت د پاره د غوره خلقو انتخاب

١١١٩–(١) [٣] ١ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ " «لِيُؤَذِّنْ لَكُمْ خِيَارُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ قُرَّاؤُكُمْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ ابن عباس ﷛ راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ٢ په تاسو كې چې كوم خلق بهتر دي هغوئ ته اذان كول پكار دي او په تاسو كې چې كوم خلق ښه عالمان وي هغوئ له ستاسو امامت كول پكار دي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① خِيَارُكُمْ: أَيْ: مَنْ هُوَ أَكْثَرُ صَلَاحًا: غوره او بهتر يعنی كوم چه په تاسو كښې زيات صلاحيت او قابليت لری.

تسهيلات:- قوله: لِيُؤَذِّنْ لَكُمْ:

د غوره شخصيت موذن جوړولو حكمت:- يعنی مؤذن د ټولونه ښه سړې كيدل پكار دی ځكه

[١] اخرجه مسلم فی كتاب المساجد ومواضع الصلاة/ باب من أحق بالإمامة (رقم) ٢٨٩ - (٦٧٢) والنسائی كتاب الإمامة /باب اجتماع القوم فی موضع هم فيه سواء (رقم-٧٨٢)

[٢] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب من أحق بالإمامة (رقم-٥٩٠)

چه هغه دَ وختونو امانت گر وی دې دَپاره چه په وختونوکښې خیانت اونه کړی بل هغه دَ اذان دَپاره چت ته ځی په څه سره چه خاؤشا کورونوباندې نظر پرېوتې شی. دغه شان دَ تجربه نه ثابته ده چه دَ قوم اوامام په مینځ کښې اختلاف اودَ افتراق سبب مؤذن جوړېږی. کله چه مؤذن دیانت دار اواماندار وی نودَ څه خیانت خباثت خطره به نه وی اوامام عالم کیدل پکاردی دې دَپاره چه دَمانځه په مسائلوکښې غلطی رانه شی.

[۱۱۲۰] خپل کس لره امام جوړولو حکم

۱۱۲۰ –()[۴] ① وَعَنْ أَبِي عَطِيَّةَ الْعُقَيْلِيِّ، قَالَ: ② كَانَ مَالِكُ بْنُ الْحُوَيْرِثِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَأْتِينَا إِلَى مُصَلَّانَا يَتَحَدَّثُ، ③ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ يَوْمًا، ④ قَالَ أَبُو عَطِيَّةَ: فَقُلْنَا لَهُ: تَقَدَّمْ فَصَلِّهْ، ⑤ قَالَ لَنَا: قَدِّمُوا رَجُلًا مِنْكُمْ يُصَلِّي بِكُمْ، ⑥ وَسَأُحَدِّثُكُمْ لِمَ لَا أُصَلِّي بِكُمْ؟ ⑦ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ⑧ "«مَنْ زَارَ قَوْمًا فَلَا يَؤُمَّهُمْ وَلْيَؤُمَّهُمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، ⑨ وَالنَّسَائِيُّ إِلَّا أَنَّهُ اقْتَصَرَ عَلَى لَفْظِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: ① ابو عطیه عقیلي (تابعي) رحمه الله فرمايي② چې مالك ابن حویرث (صحابي) رضي الله عنه به زمونږ مسجد ته راتلو (او زمونږ په مخکې به یې د حضور ﷺ حديث بیانول (او خبري به یې کولي)③ یوه ورځ (چې هغه زمونږ په مینځ کې په مسجد کښې موجود وو) د لمانځه وخت شو④ ابو عطیه فرمايي چه مونږ مالك رضي الله عنه ته (د هغه د شان صحابیت د عظمت او فضیلت په خاطر) اوویل چې مخکې شه او مونږ ته مونځ راکړه⑤ حضرت مالك رضي الله عنه وفرمایل تاسو په خپلو کې څوك مخکې کړي چې هغه مونځ درکړي⑥ او زه تاسو ته وایم چې زه ولي مونځ نه درکوم ⑦(نو واورئ چې) ما د نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي⑧ کوم سړي چې د یو قوم سره ملاقات وکړي نو د هغوئ امامت دې نه کوي بلکه د هغوئ څخه یو سړي لره د هغوئ امامت پکار دي، ابواؤد ترمذي،⑨ نسايي هم دا روایت نقل کړي دي خو یوازي د حضور ﷺ په الفاظو یې اکتفا کړي ده [یعنی هغه په خپل روایت کې د حضرت مالك رضي الله عنه مسجد ته د راتلو واقعه او د هغه د امامت څخه انکار کول نه دي ذکر کړي بلکه یوازي د حضور ﷺ الفاظ د من زار څخه تر اخر پوري یې نقل کړي دي].

حل اللغات:- ① يَتَحَدَّثُ: أَيْ: مِنْ كَلَامِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: حدیث به ئې بیانول. ② تَقَدَّمْ: مخکښې شه، ③ فَصَلِّهْ: مونږ ته مونځ راکړه. ④ زَارَ: زیارت له لاړشی، ملاقات اوکړی.

تسهیلات:-

قوله: مَنْ زَارَ قَوْمًا فَلَا يَؤُمَّهُمْ:

اشکال:- دې حدیث کښې حضرت مالك بن حویرث رضي الله عنه فرمائی چې کوم کس د بهر نه

[1]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب إمامة الزائر (رقم-۵۹۶) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن زار قوما فلا يصل بهم (رقم-۳۵۶) والنسائی كتاب الإمامة/باب إمامة الزائر (رقم-۷۸۷)

راشي نو هغه امامت نشي کولي حالانکه ماقبل د فصل اول حدیث کوم چي د حضرت ابن مسعود ﷺ نه روایت دي هغي کښي د استثنی الفاظ دي: الاباذنه. نو دلته حضرت مالك بن حویرث ﷺ جماعت ولي اونه کړو. حالانکه خلقو اجازت ورکړي وو؟

داشکال درې جوابونه :-

① دا دهغوئ خپل اجتهاد دي. دحضرت مالك بن حویرث ﷺ خیال دا وو چي د استثنی تعلق څه بلي مسئلي سره دي.

② صحابه کرامو به د دريو کارونو نه ځان ساتلو ،په هغي کښي يو امامت هم وو.

③ خلقو ته ئي دا مسئله خودله چي کله افضل موجود وي نو بيا هم دمفضول امامت جائز دي. ځکه حضرت مالك بن حویرث ﷺ مفضول پسي مونځ اوکړو او ددي جواز طرف ته ئي اشاره اوکړه.

[۱۱۲۱] د نابینا د امامت جواز

۱۱۰-(۵)[۵] ①«وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② اسْتَخْلَفَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يَؤُمُّ النَّاسَ ③ وَهُوَ أَعْمَى». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① حضرت انس ﷺ فرمايي ② چي نبي كريم ﷺ حضرت عبدالله ابن ام مکتوم ﷺ خپل قائم مقام مقرر کړو چي هغه خلقو ته مونځ ورکوي ③ او هغه نابينا وو. (ابوداؤد)

دعبدالله بن ام مکتوم مختصر تعارف :-

عبدالله ابن ام مکتوم ﷺ یونابینا صحابي وو. په مکه مکرمه کښي یوځل دَ حضورپاك ﷺ په مجلس کښي داخل شو اودَ مسئلي تپوس ئي اوکړو. هغه وخت حضورپاك ﷺ دَ مکي سردرانو سره مشغول وو. دې صحابي ته په جواب ورکولو کښي لږه شان بې توجهي اوشوه الله تعالی سورت عبس نازل کړو او حضورپاك ﷺ ته محبت آميز عتاب اوکړي شو اودَ دغه صحابي شان ئي بيان کړو. حضورپاك ﷺ چه به کله هم ابن ام مکتوم ﷺ راتلونکي کتلو نوفرمائيل به ئي "مرحبا بمن عاتبني فيه ربي". هم دَدې وجه نه حضورپاك ﷺ دَدې صحابي دَ زړه ساتني دَپاره څوارلس ځل په مدينه منوره باندي خپل نائب مقرر کړو. حضورپاك ﷺ به جهادته تلو اوابن ام مکتوم ﷺ به ئي په مدينه کښي په خپل ځائي نائب لګولو. په زيربحث حديث دَحضرت انس ﷺ کښي هم دغه خبره ده چه حضورپاك ﷺ حضرت عبدالله بن ام مکتوم ﷺ خپل نائب اوقائمقام جوړکړو نوهغه امير هم وو اودَ خلقو امامت به ئي هم کولو سره دَدې چه هغه نابيناوو.

تسهيلات:- قوله: يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ أَعْمَى:

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب إمامة الأعمى (رقم-۵۹۵)

د روند د امامت صحت: - اوس دا مسئله محل بحث ده چه نابينا امام جوړيدې شي که نه؟ نو "رحمة الامة في اختلاف الائمة" د اتمې صدۍ مشهور شافعي عالم محمد بن عبدالرحمن دمشقي ليکلي دي چه "وامامة الاعمى صحيحة بالاتفاق غير مكروهة الاعند ابن سيرين. (ص ۵۰)

داحنافو په نيز د اعمى د امامت د کراهت وجه: - نابينا باره کښې دې چه خپل ځان د ګندګۍ نه بچ کولې نه شي چه ګنده وي يا پليت وي يا بالکل هغه سره علم اوتقوي نه وي اوددې په مقابل اعلى اوښکلې بينا عالم موجود وي نو هغه وخت د نابينا امامت مکروه دې.

[۱۱۲۲] د درې قسمه خلقو مونځ نه قبليدل

۱۱۲۲ - (۱)[۱۶] ۞ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۞ "«ثَلَاثَةٌ لَا تُجَاوِزُ صَلَاتُهُمْ آذَانَهُمْ: ۞ الْعَبْدُ الْآبِقُ حَتَّى يَرْجِعَ، ۞ وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ، ۞ وَإِمَامُ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ»". ۞ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۞ ابو امامه رضي الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ۞ درې سړي داسې دي چې د هغوئ مونځ د هغوئ دغوږونو څخه نه اوچتيږي (يعنې درجه قبوليت ته نه رسيږي) ۞ ① يو خو د خپل مالك څخه تښتيدلي غلام تر څو پورې چې هغه (خپل مالک ته) واپس رانشي ۞ ② دويم هغه ښځه چې په دې حالت کې شپه تيره کړي چې د هغې خاوند د هغې څخه ناراضه وي ۞ ③ دريم هغه امام چې قوم (مقتديان) يې نه خوښوي، ۞ امام ترمذي دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: - ① لَا تُجَاوِزُ: أي لَا تُرْفَعُ إِلَى اللّٰهِ: نه اوچتيږي يعنې نه قبليږي، ② الْآبِقُ: چه تختيدلې وي (دخپل مالک نه). ③ بَاتَتْ: چه شپه تيره کړي ښځه، ④ سَاخِطٌ: أي مَا أَرْضَتْهُ: چه خفه وي (يعنې خاوند پرې خوشحاله نه وي). ⑤ كَارِهُونَ: خوښ ئې نه ګڼړي هغوی (يعنې قوم، مقتديان).

تسهيلات: -

قوله: وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ:

د امراة مصداق: - دا هغه وخت ده چه کله ښځه بداخلاقه وي، نافرمانه اوبې ادبه وي، په دې وجه خاوند خفه وي. اوکه د ښځې په ځائې دا جرم د خاوند هغه بداخلاق، ظالم او د ښځې نه خفه اوسيږي نوپه دې صورت کښې ښځه ګناهګاره نه ده بلکه خاوندبه ګناهګاروي.

قوله: وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ

د امام مصداق: - يعنې يو شرعي عيب، بدعت، فسق اود بې علمئ د وجې نه چه قوم خفه وي نودا وعيد د امام دپاره دې. ليکن که په امام کښې څه شرعي عيب نه وي اومقتدي د دنياوي اغراضو او يا ذاتي مفاداتو د وجې نه امام سره عداوت اونفرت ساتي

(۱) اخرجه الترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فيمن أم قوما وهم له كارهون(رقم۳۵۸)

نو په دې صورت کښې امام نه بلکه مقتديان به ګناهګار وی. باقي څنګه چه امام الحی پيش امام کښې دا تفصيل دې. بالکل هم دغه تفصيل اوحکم دَ ملك دَ بادشاه او وطن دَ امام هم دې.

[۱۱۲۲] د ناخوښه امام د مونځ کراهت

۱۱۲۲-(۷) [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ مِنْهُمْ صَلَاتُهُمْ: [۳] مَنْ تَقَدَّمَ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُوْنَ، [۴] وَرَجُلٌ أَتَى الصَّلَاةَ دِبَارًا [۵] وَالدِّبَارُ: أَنْ يَأْتِيَهَا بَعْدَ أَنْ تَفُوْتَهُ [۶] وَرَجُلٌ اعْتَبَدَ مُحَرَّرَةً»" رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنه راوي دې چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] درې سړي داسې دي چې د هغوئ مونځ نه قبليږي (يعني هغوئ ته د لمانځه ثواب نه حاصليږي) [۳] ① يو هغه سړې چې د يو قوم امام وي او قوم د هغه څخه خوشحاله نه وي [۴] ② دويم هغه سړې چې لمانځه ته وروسته راځي [۵] او د وروسته مطلب دا دې چې د لمونځونو د (مستحب) وخت وتلو څخه وروسته راځي [۶] ③ او دريم هغه سړې چې آزاده ښځه وينځه جوړه کړي او يا آزاد سړې غلام جوړ کړي. (ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① تَقَدَّمَ: أَيْ لِلْإِمَامَةِ الصُّغْرٰي أَوِ الْكُبْرٰي: چه مخکښې شی امامت ته (که هغه د مونځ دپاره وی او که د سلطنت دپاره وی). ② دِبَارًا: دا جمع د دُبُر ده وَهُوَ آخِرُ أَوْقَاتِ الشَّيْءِ: د هر يو څيز آخرته وائی (دلته ترې مراد د مستحب وخت ختميدل دی). ③ مُحَرَّرَةً: آزاده (چه وينځه نه وی يعنی اصيله ښځه).

توضيح

قوله: بَعْدَ أَنْ تَفُوْتَهُ:

د مونځ د فوت کيدوپه مطلب کښې درې اقوال:- په لاندې درې وارو صورتونو طرف ته "لاتقبل" متوجه دې.

① چې دَ مونځ پوره وخت اوځی

② چې جمع لاړه شی.

③ چې مستحب وخت اوځی

قوله: لَا تُقْبَلُ:

د لا تقبل څخه مراد:- دلته په لاتقبل کښې نفی دَ کمال ده يعنی په کامل توګه باندې به ئې مونځ نه قبليږی يا دَ مکمل مونځ نفی ده. ليکن دا هغه وخت دی کله چه څوك سړې خپل عادت داسې جوړ کړی چه څوك هميشه هم داسې کوی.

قوله: وَرَجُلٌ اعْتَبَدَ مُحَرَّرَةً:

[1]) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة رقم الحديث ۵۹۳ وابن ماجة ۱/ ۳۱۱

د مذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال:-

① يو غلام ئې آزاد كړو ليكن هغه ته ئې اونه خودل او دَ آزادئې نه پس ئې هغه غلام جوړ كړو هغه ئې هلو خبر نه كړو چه ته آزاد كړې شوې ئې.

② چه آزاد سړې نيولو سره ئې غلام جوړ كړو او بيا ئې دَ خرڅولو سلسله شروع كړه.

[۱۱۲٤] د امامت دپاره نه وړاندې كيدل

۱۱۲۳-()[۸] ۱ وَعَنْ سَلَامَةَ بِنْتِ الْحُرِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يَتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ ۳ لَا يَجِدُونَ إِمَامًا يُصَلِّي بِهِمْ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ بي بي سلامه بنت حر رضي الله عنها راويه ده (روايت كوي) چې نبي ﷺ وفرمايل ۲ د قيامت د علامتونو څخه (يوه علامه دا ده) چې د مسجد خلق به امامت دفع كوي (يعنې د امام جوړيدو څخه به تيښته كوي) ۳ او څوك مونځ وركونكي به هغوئ ته نه ملاويږي. (احمد، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① أَشْرَاطِ: د شَرَطِ جمع ده، نښې او علامت ته وائي. ② السَّاعَةِ: قيامت، ③ يَتَدَافَعَ: اى يَدْفَعَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا إِلَى الْمَسْجِدِ، أَوِ الْمِحْرَابِ لِيَؤُمَّ الْجَمَاعَةَ: يو بل ته جمات ته يا محراب ته دامامت دپاره وړاندې كوي. (او خپل ځان روسته كوي)

تسهيلات:-

قوله: أَنْ يَتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ:

دامامت دپاره يو بل وړاندې كول:- داقيامت سره نيزدې دَزمانې نقشه پيش كړې شوې ده چه جهل اوفسق به دومره عام شي چه دې نه به محلې ډكې شي او خلق به دومره نااهل پيداشي چه څوك به دَ امامت اهل پاتې نه شي. خلق به يو بل ته ديكې وركولو سره دَ مانځه دَپاره وائي مگر هرسړې به دَ خپلې نااهلې دَوجې نه تختي او مونځ به نه وركوي [نن صبادا نقشه په مكمل توگه تياره ده ځكه چه محله په محله ويران پرتې دى په دې كښې به هيځ يو عالم نه وى دې دَپاره چه يو محلې ته لاړشي خلقوته مونځ وركړې شي.]

[۱۱۲۵] د فاسق د امامت جواز

۱۱۲۵-(۲)[۹] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«الْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ أَمِيرٍ، بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا، ۳ وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ، ٤ وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا، ٥ وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ، ٦ وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا، ۷ وَإِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه ابوداود باب فى كراهية التدافع على الإمامة (رقم-۵۸۱) واحمد فى المسند ۶/ ۳۸۱
[2] اخرجه ابوداود فى السنن رقم الحديث ۲۵۳۳

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل[۲] په تاسو باندې جهاد د هر امير سره كه هغه نيك وي اوكه بد واجب دي[۳] اګر كه هغه (سردار او امير) ګناه كبيره كوي[۴] او په تاسو باندې مونځ په هرمسلمان پسې واجب دي كه هغه (لمونځ وركونكي) نيك وي او كه بد واجب دي[۵] اګر كه هغه ګناه كبيره كوي[۶] او د جنازې مونځ په هر مسلمان باندې واجب دي كه نيك وي او كه بد [۷] اګر كه هغه ګناه كبيره كوي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① بَرًّا: نيک، ② فَاجِرًا: بدكاره.

تسهيلات: - **قوله:** اَلْجِهَادُ وَاجِبٌ:

د فاسق امام په قيادت كښې هم د جهاد حكم: - دلته واجب دَ فرض په معنى كښې دې اود جهاد دوه قسمونه دي. فرض كفايه وى اويا فرض عين وى. مطلب دا چه يوجهادى امير كه هغه بادشاه وى اويا دَ بادشاه نائب وى كله چه هغه دَ جهاد جهنډا اوچته كړى او مسلمانان دَ كافرانو په مقابله كښې جنګوى نودَ هغه په ماتحتئى كښې جهادكونى كه هغه اميرفاسق ولې نه وى يعنى هغه دكبيره ګناه ارتكاب كوى نودا دَهغه خپل عمل دې تاسوخونى په ښه كارلګولي يئې. تاسو خپل نيك عمل ته ګورئى اميرته مه ګورئى. ښكاره خبره دې معصوم فرښته خو راتلې نه شى كه داسې چينجى لټوئى نودَ جهادنه به پاتې شئى ځكه چه كوم سړې بې عيب يا لټوى هغه بې ياره پاتې كيږى.

قوله: خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ:

دفاسق امام په اقتداء كښې د مونځ كولو جواز: - يعنى هرامام پسې مونځ كوئى كه نيك امام وى اوكه فاسق وى دلته هم دغه پورتنې تقريردې البته دلته مطلب داسې دې چه مثلاً يو ظالم جابر حكمران په تاسو باندې مسلط شو اوهغه مونځ وركوى نوتاسو هغه پسې مونځ كوئى سره دَدې چه هغه پخپله فاسق دې ليكن دا يادساتئى دَدې فسق نه مراد په مانځه كښې دننه فسق نه دى بلكه دَمانځه نه بهردَ فسق ارتكاب دې لكه چه په حديث كښې دَ يوې مجبورئى ذكر دې چه جبراً امام جوړشوې دې يا دَ امام جوړيدونه پس فسق كوى.

دحديث په مفهوم كښې دوه غلطيانې: -

① دَ حديث مطلب دانه دې چه تاسو فاسق فاجر سړې امام جوړكړئى

② دَ حديث مطلب داهم نه دې چه په مانځه كښې دننه فسق كوى مثلاً بې اودسه مونځ وركوى يا قراءت غلط لولى بلكه دَمانځه نه بهر دَ فسق ارتكاب مراددې.

قوله: وَالصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ:

د صلاة مصداق: - د دې نه دَجنازې مونځ مراددې يعنى دَهرمسلمان دَ جنازې مونځ كوئى سره دَدې چه فاسق فاجر وى خوچه كافرنه وى چه نوم ئى دَ مسلمانانووى اوعقيده ئى دكفر وى مثلاً قاديانې دې رافضى دې يامنكرحديث دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۱۲٦] د نابالغ د امامت حکم

۱۱۲٦ —()[۱۰][۱] «عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ:[۲] كُنَّا بِمَاءٍ مَمَرَّ النَّاسِ،[۳] يَمُرُّ بِنَا الرُّكْبَانُ نَسْأَلُهُمْ:[۴] مَا لِلنَّاسِ؟ مَا لِلنَّاسِ؟[۵] مَا هٰذَا الرَّجُلُ؟[٦] فَيَقُولُونَ: يَزْعُمُ أَنَّ اللّٰهَ أَرْسَلَهُ أَوْحَى إِلَيْهِ، أَوْحَى إِلَيْهِ كَذَا.[۷] فَكُنْتُ أَحْفَظُ ذٰلِكَ الْكَلَامَ،[۸] فَكَأَنَّمَا يُغْرَى فِي صَدْرِي،

ترجمه:[۱] عمرو ابن سلمه رضي الله عنه فرمایي[۲] چې مونږ د اوبو په غاړه وسیدو [۳] چې د خلقو د تیریدو ځای وو کومې قافلې چې به زمونږ سره تیریدې مونږ به د هغوئ ځنې پوښتنه کوله[۴] چې د خلقو د پاره (یو سړي یعنی حضور ﷺ چې کوم دین رایستلي دي هغه) څه دي؟[۵] او د هغه سړي (یعني د حضور ﷺ) صفات څه دي؟[٦] هغه خلقو به مونږ ته بیان کولو چې هغه (رسول ﷺ) دعوٰی کوي چې الله جل جلاله هغه (خپل نبي بر حق جوړولو سره) رالیږلي دي او (د قافلې خلقو به د قرآن آیتونه اورول او ویل به یې چې دا) هغه ته وحي راځي (دغسې) هغه ته وحي راځي[۷] نو (ما به د حضور ﷺ اوصاف چې قافلې والا به بیانول او کلام) یعنی قافلې والا چې به کوم آیتونه اورول هغه به مې داسې یادول[۸] لکه چې زما په سینه کې به ټینګیدل (یعني د قرآن آیتونه به ماته ښه یادیدل)

حل اللغات:- ① مَمَرَّ النَّاسِ: دَخلقو دَ تیریدو ځائی مراد دې. ② الرُّكْبَانُ: د راکب جمع ده، د اوښ سورو (د اوښانو د قافلې) دپاره خاص طورسره استعمالیږی. ③ يَزْعُمُ: يَعْنِي: يَظُنُّ: ګمان کوی، ④ يُغْرَى: دا صیغه غرى يغرى، سمع يسمع نه دَ معروف صیغه ده دَدې معنی دَ اینختو ده یعنی ما به یادولو بلکه زما سینې او زړه سره به دا کلام انختلو.

[۱] وَكَانَتِ الْعَرَبُ تَلَوَّمُ بِإِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ.[۲] فَيَقُولُونَ: اتْرُكُوهُ وَقَوْمَهُ ; فَإِنَّهُ إِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ،[۳] فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ الْفَتْحِ،[۴] بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ،[۵] وَبَدَرَ أَبِي قَوْمِي بِإِسْلَامِهِمْ،[٦] فَلَمَّا قَدِمَ، قَالَ: جِئْتُكُمْ وَاللّٰهِ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ حَقًّا،[۷] فَقَالَ: "صَلُّوا صَلَاةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا،[۸] وَصَلَاةَ كَذَا فِي حِينِ كَذَا،

ترجمه:[۱] اهل عرب (د حضور ﷺ د جماعت ځنې علاوه) د اسلام راوړلو په سلسله کې د مکې د فتح کیدو انتظار کولي (یعني دا به یې ویل که مکه فتح شوه نو مونږ به اسلام راوړو) [۲] او دا به یې) ویل چې دا (رسول ﷺ) د هغه قوم ته پریږدي که هغه په دوي غالب شو (او مکه یې فتح کړه) نو پوه شې چې هغه رښتیني نبي دي (ځکه د هغه د دې ظاهري بې سرو سامانۍ او مادي کمزورۍ باوجود په اهل عرب باندې غالب راتلل او مکه فتح کول به د هغه معجزه وي او معجزه یوازې د ریښتیني نبي ځنې ظاهري دي شی) [۳] (نو کله چې الله تعالى جل جلاله د خپل دین کلمه اوچته کړه) او مکه فتح شوه[۴] نو خلق د اسلام قبلولو د

(۱) اخرجه البخاري في كتاب المغازي / باب: (رقم-۴۳۰۲)

پاره رامات شو۵ زما پلار د خپل قوم څخه مخکې شو او (د ټولو څخه مخکې) یې اسلام راوړي۶ کوم وخت چې زما پلار واپس راغي نو (خپل قوم ته یې) اوویل قسم په الله زه د رښتیني نبي ﷺ څخه راغلي یم۷ هغه ﷺ فرمایلي دي چې په فلاني وخت کې داسې (او دومره) لمونځونه کوي۸ او په فلاني وخت کې داسې (او دومره) لمنځونه کوي (یعني ده ﷺ د لمانځه کنبې فیات او اوقات بیان کړل)

حل اللغات:- ⑤تَلَوَّمُ: بِمَعْنَى تَنْتَظِرُ: دا صیغه دَ باب تفعل نه ده دَ انتظار په معنی کښې دې. اصل کښې "تتلوم" وو یعنی عرب په دې انتظار کښې وو چه دا سړې مکه مکرمه فتح کولې شی که نه؟ ځکه چه په مکه باندې غلط سړې نه شی راتلې که چرته ده مکه فتح کړه نودا به رښتونې نبی وی. ⑥ظَهَرَ: أَيْ: غَلَبَ: یعنی که غالب شونبی علیه السلام. ⑦بَادَرَ: أَيْ: سَارَعَ وَسَابَقَ: دَمبادره نه دَ تادئ کولو په معنی کښې دې.

[١] فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَلْيُؤَذِّنْ أَحَدُكُمْ، [٢] وَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْثَرُكُمْ قُرْآنًا". [٣] فَنَظَرُوا فَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَكْثَرَ قُرْآنًا مِنِّي، [٤] لِمَا كُنْتُ أَتَلَقَّى مِنَ الرُّكْبَانِ، [٥] فَقَدَّمُونِي بَيْنَ أَيْدِيهِمْ، [٦] وَأَنَا ابْنُ سِتِّ أَوْ سَبْعِ سِنِينَ، [٧] وَكَانَتْ عَلَيَّ بُرْدَةٌ كُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ تَقَلَّصَتْ عَنِّي. [٨] فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنَ الْحَيِّ: أَلَا تُغَطُّونَ عَنَّا اسْتَ قَارِئِكُمْ؟ [٩] ! فَاشْتَرَوْا، فَقَطَعُوا لِي قَمِيصًا. [١٠] فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ فَرَحِي بِذَلِكَ الْقَمِيصِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او کله چې د لمانځه وخت شی نو په تاسو کې دې یو سړي اذان وکړي [٢] او په تاسو کې چې چاته قرآن زیات یاد وي هغه دې ستاسو امامت وکړي [٣] کله چې د لمانځه وخت راغي او جماعت تیار شو نو خلقو په خپلو کي وکتل (چې امام څوك جوړ کړې شي؟) نو زما څخه زیات په قرآن پوهیدونکي څوك نه وو [۴] ځکه چې ما (خو.به د مخکې څخه) د قافلي والا څخه قرآن زده کولو [۵] نو خلقو زه مخکې کړم (او په لمانځه کې یې زما اقتداء وکړه) [۶] هغه وخت زما عمر د شپږو یا اوو کالو وو [۷] او زما په بدن صرف یو څادر وو ما چې به سجده کوله نو هغه څادر به زما د بدن څخه وښویدو (اوتشي به مې ښکاره شوه) [۸] په قوم کې یوې ښځي (د دې په لیدو سره) اوویل چې زمونږ د مخ څخه تاسو خلق د خپل امام شرمګاه ولي نه پټوي؟ [۹] نو بیا قوم جامه واخستله او زما د پاره یې قمیص جوړ کړو [۱۰] د هغه قمیص په وجه چې ماته کومه خوشحالي وشوه داسې خوشحالي راته هیچیرې نه وه شوې. (بخاري)

حل اللغات:- ⑧أَتَلَقَّى: أَيْ: أَتَلَقَّنُ وَآخُذُ وَأَتَعَلَّمُ: یعنی زه به هغوی سره ملاویدم او زده کړه به مې ترې کوله. ⑨فَقَدَّمُونِي: أَيْ: لِلْإِمَامَةِ: زه ئې مخکښې کړم امام جوړولو دپاره، ⑩بُرْدَةٌ: څادر، ⑪تَقَلَّصَتْ: أَيْ: اجْتَمَعَتْ وَانْضَمَّتْ وَارْتَفَعَتْ إِلَى أَعَالِي الْبَدَنِ: دَباب تفعل نه دَ راغونډیدو په معنی کښې دې څادر وړوکې وو نودَ سجدې په حالت کښې به راغونډیدو سره شرمګاه ښکاریده. ⑫الْحَيِّ: أَيْ: الْقَبِيلَةِ: قبیله، ⑬تُغَطُّونَ: یعنی دَ خپل امام کوناټې زمونږ نه پټولې نه شئ یعنی تاسو نه دومره هم نه شی

كيدې چه هغه له يو لوني څادر ورکړي. ⑬لَقَطَعُوا: أي: فَصَلُوا: هغوى جوړ کړو. ⑮فَرِحْتُ: ډير خوشحاله شوم.

تسهيلات:-

قوله: عَمْرِوبْنِ سَلِمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا:

دعمروبن سلمه اعراب:- چرته هم چه دَ سلمه نوم په احاديثو کښې راغلې دې په ټولو کښې په لام باندې فتحه ده صرف دَعمرو بن سلمه کښې په لام باندې کسره ده.

په دې حديث کښې يو څو الفاظ تشريح غواړى اول دَ هغې تشريح ضرورى ده.

قوله: فَقَدَّمُونِي بَيْنَ أَيْدِيهِمْ:

د عمروبن سلمه دامامت واقعه:- په دې واقعه کښې بنيادى خبره دا ده چه عمرو بن سلمه رضي الله عنه يو نابالغ وړوکې ماشوم دې چه دَ شپږو کالو وو دَ هغه امامت څنګه جائز شو؟ بل دا چه ده نفل کول نو ده پسې شاته دَ فرض ادا کونکو اقتدا څنګه صحيح شوه؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې کوم چه اول هم ليکلې شوې دې. ليکن دلته به بيا اشاره کوم دې دَپاره چه زير بحث حديث ته د دې څه حق ملاؤ شي.

د نابالغه په امامت کښې مذاهب:-

① دَامام شافعى رحمه الله او امام بخارى رحمه الله په نيز نابالغ ماشوم امام جوړيدې شى البته دَ جمعې په مونځ کښې دَ امام شافعى رحمه الله دوه اقوال دى يو دَ جواز دې او بل دَ عدم جواز دې.

② دَ امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالك رحمه الله اوامام احمد بن حنبل رحمه الله په نيز نابالغ هلك پسې مونځ جائز نه دې لهذا نابالغ هلك امام نه شى جوړيدې.

د اول فريق دليل:- دَ عمرو بن سلمه رضي الله عنه دَ زير بحث حديث د دوى مستدل دې چه په خپله مدعا باندې يو واضحه دليل دې.

داول فريق د دليل جواب:- دَ عمرو بن سلمه رضي الله عنه دَ امامت واقعه دَهغه خلقو اوهغه علاقې دَ پاره بالکل دَ شروع مسئله وه اودا يوه جزئى واقعه وه. دا دَ نبى کريم صلى الله عليه وسلم په اجازت سره هم نه وه. نه په دې باندې دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم تقرير شته. نه دَ حضورپاك صلى الله عليه وسلم مخکښې دا مسئله پيش کړې شوې ده. دَدې محتملې واقعې سره دَ يوې ضابطې دَپاره استدلال نه شى کيدې. ګورئى چه دَعمرو بن سلمه رضي الله عنه په مونځ ستر ښکاره کيدو ولې دا به هم دَ يو ضابطې په توګه اخستلې شى؟ چه په مونځ کښې ستر ښکاره کيدل جائز دى. خلاصه دا چه عمرو بن سلمه رضي الله عنه امام جوړول دَ هغه علاقې دَ خلقو خپله يو اجتهادى معامله وه.

د دويم فريق دلائل:-

① "الإمام ضامن والمؤذن مؤتمن" غوندې روايات د دوى مستدلات دى يعنى چې کله امام د

مقتدي د مونځ ضامن دې نو دَ مقتدي مونځ په هغې کښې ضم او دَ هغې په ضمن کښې به وي. لهذا دَ امام حالت دَ مقتدي دَ حالت نه اوچتيدل ضروري دي او متنفل امام اضعف حالاًوي لهذا هغه دا مضبوطه مورچه نه شي سنبالولې.

③ دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اثر هم د دوی مستدل دې ارشاد فرمائي "لايؤمن الغلام الذي لاتجب عليه الحدود" (رواه اثرم في سننه)

④ دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما اثر هم د دوی مستدل دې فرمائي "لايؤم الغلام حتى يحتلم" (مصنف عبدالرزاق ۲/۳۹۸)

د نابالغه د تراويح په امامت کښې اختلاف:- البته دَ ائمه احناف په خپل مينځ کښې دې باره کښې اختلاف دې چه نابالغ ماشوم په نفلو کښې امام جوړيدې شي که نه؟ مثلاً په تراويح يا نوافل کښې قرآن اوروي نو دا څنګه دي؟

① دَ احنافو دَ فقهاؤ نه دَ بلخ او بخارا علماء او دَمصر او شام دَ علماؤ دا موقف وو چه نوافل کښې نابالغ ماشوم امام جوړيدې شي. دې حضرات په دې فتوىٰ باندې هم عمل کولو.

② دَدوی نه علاوه دَ احنافو دَ ټولو فقهاؤ موقف دادې چه نابالغ هلك په نوافل کښې هم امام نه شي جوړيدې. بهرحال دا يو ضمني خبره وه دا پريږدئي.

د احقر شاه فيصل رائې:- په تراويحو کښې د ختم دپاره د ماشوم امامت جائز ګرځول پکار دي.ځکه چې د قرآن پاک هيرول په لوئې ګناهونو کښې نبي کريم ﷺ شمار کړې دې.او په تراويحو کښې د قرآن پاک ختم کولو سره قرآن ډير زيات پخيږي.او په پوره کال کښې د رمضان مياشت يوه موقع وي چې حافظان په کښې پوره قرآن اوروي.نو د قرآن پاک د هيرولو د لوئې ګناه څخه بچ کيدو په غرض د نابالغه هلک امامت پکار دې چې جائز شي.او په دې کښې د بلخ او بخارا د عالمانو په قول فتوىٰ ورکړې شي.

[۱۱۲۷] دآزاد شوی غلام امامت

۱۱۲۷-(¹)[۱۱] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ الْأَوَّلُونَ الْمَدِينَةَ، ③ كَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ، ④ وَفِيهِمْ عُمَرُ، وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنه فرمايي ② چې مديني ته چې مخکې راتلونکي مهاجرين راغلل ③ نو د ابي حذيفه آزاد کړده غلام حضرت سالم رضي الله عنه به هغوئ ته مونځ ورکولو ④ او په هغه (مقتديانو) کې حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت ابوسلمه ابن عبدالاسد (هم) وو. (بخاري)

¹) اخرجه البخاري في كتاب الاذان/باب إمامة العبد والمولي (رقم-۶۹۲)

تسهيلات:- قوله: كَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ:

دافضل په موجودګۍ کښې د مفضول دامامت حکم: -حضرت سالم رضي الله عنه دَ حضرت حذيفه رضي الله عنه آزاد کړې شوې غلام وو دَ قرآن کريم يو ډير ښه قاري وو. نودَ قرآن دَ برکته هغه دَ دومره لوئې جليل القدر صحابه امام جوړشو په کوم کښې چه حضرت عمر رضي الله عنه اوحضرت ابوسلمه بن الاسد رضي الله عنه غوندې نوموړي صحابه وو. ربنتيادي "دا قرآن بعضې خلق دَ ترقئ آسمان ته رسوي" دَدې حديث نه دَ افضل په موجودګئ کښې دَ مفضول دَ امام جوړيدو جواز ملاوېږي. په دې حديث سره دَ اسلام دَ هغه عادلانه نظام اندازه هم کيږي چا چه آقا اوغلام په يو صف کښې راوستل ويدرول اودَ هرصاحب کمال اکرام ئې اوکړو اودَ اسلامي مساوات علمبردار جوړشو.

[۱۱۲۸] د درې قسمه خلقو مونځ نه قبليدل

۱۱۲۸-(۱)[۱۲] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«ثَلَاثَةٌ لَا تُرْفَعُ لَهُمْ صَلَاتُهُمْ فَوْقَ رُءُوسِهِمْ شِبْرًا: ③ رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَهُمْ لَهُ كَارِهُونَ، ④ وَامْرَأَةٌ بَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ، ⑤ وَأَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې نبي کريم وفرمايل ② درې قسمه خلق داسې دي چې د هغوئ مونځ د هغوئ د سر څخه يو لويشت اندازه (هم) پورته نه ځي (يعني د قبوليت درجې ته نه رسيږي) ③ ① يو خو هغه سړي چې د قوم امام وي او قوم د هغه څخه (په ديني امورو کې) ناراضه وي ④ ② او دويم هغه ښځه چې په داسې حالت کې شپه تيره کړي چې د هغې خاوند (د هغې دنافرماني يا د هغې د طرف څخه د خپل حق د عدم ادائيګي په وجه) خفه وي ⑤ ③ او دريم داسې دوه ورونه چې په خپلو کې ناراضه وي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① لَا تُرْفَعُ: وَهُوَ كِنَايَةٌ عَنْ عَدَمِ الْقُبُوْلِ: د اوچتيدو نه مراد عدم قبوليت دي. ② شِبْرًا: لويشت، ③ بَاتَتْ: چه شپه تيره کړي ښځه، ④ سَاخِطٌ: أَيْ مَا أَرْضَتْهُ: چه خفه وي (يعنې خاوند پرې خوشحاله نه وي). ⑤ مُتَصَارِمَانِ: أَيْ: مُتَقَاطِعَانِ لِعَدَمِ قِيَامِهِمَا بِحَقِّ الْأُخُوَّةِ: دَ صرم نه دي پرې کولو ته وائي مراد هغه دوه مسلمانان رونړه دي چه بغيردَ څه شرعي عذر نه دَ دريوورځوپورې خبرې بندې کړې وي.

[1] اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب من أم قوما وهم له كارهون (رقم-۹۷۱)

[۴۳/۲۷]بَابُ مَا عَلَى الْإِمَامِ

دا باب دهغه څیزونو په بیان کښې دې کوم چې په مقتدی لازم دی

خلاصة الباب:-

فیه سبعة احادیث مشتملة علی ثلاث مسائل:

① تخفیف النبی ﷺ فی الصلوة لبعض اعذار المامومین: ۱، ۲.

② الأمر بتخفیف الصلاة لأجل بعض اعذار المامومین: ۳، ۴، ۶، ۷.

③ ما علی الإمام من الوزر: ۵.

د مقتدیانو ذمه واری:- دَمقتدیانو اهم ذمه واری دادې چه هغوی دې دَامام متابعت اوتابعداری اوکړی چه دَامام نه وړاندې په رکوع اوسجده کښې لاړنه شی امام پسې چه کوم اعمال دَهغوی دَ کولودی هغه په ښه شان سره پوره کړی. بهترین اودس سره اول صف ته اورسی اوبیا تکبیراولی سره په مانځه کښې شامل شی.

دامام ذمه واری:- دَامام اهم ذمه واری داده چه هغه په مانځه کښې دَ خپلو مقتدیانو خیال اوساتی او مونځ په داسې انداز سره اوکړی چه شاته دَ بوډاګانو بیمارانو اوحاجت مندو خلقو پوره پوره خیال اوساتلې شی. مونځ لنډ اومختصر ورکړی اودومره ئې دروند نه کړی چه شاته خلق تنګ شی اونفرت شروع کړی لیکن دَدې مطلب دانه دې چه رکوع سجده قومه جلسه کښې تعدیل دَارکانو خیال اونه ساتی اومسنون قراءت هم پریږدی بلکه دَمسنون قراءت ذکرچه کوم په احادیثواو فقه کښې راغلې دې دَهغې خیال اوساتی. دغه شان په تسبیحاتوکښې دَ اعتدال نه کاروانخلی درې تسبیحات په آرام آرام سره اولولی که زیاته وی نو ترپنځوخلوپورې دې اووائی زیات دې نه وائی الایه که دَ قوم دَ طرف نه دَ زیات مطالبه اوشوق وی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۱۲۹]په مونځ کښې آسانی کول

۱۱۲۹-(۱)[۱]«عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلَاةً وَلَا أَتَمَّ صَلَاةً مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳]وَإِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ [۴]فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/ باب من أخف الصلاة عند بکاء الصبی (رقم-۷۰۸) ومسلم فی کتاب الصلاة/ باب أمر الأئمة بتخفیف الصلاة فی تمام (رقم-۱۹۰ - (۴۶۹) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن النبی صلی الله علیه وسلم قال: «إنی لأسمع بکاء الصبی فی الصلاة، فأخفف»(رقم-۳۷۶) والنسائی کتاب الإمامة/باب ما علی الإمام من التخفیف (رقم-۸۲۵) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب الإمام یخفف الصلاة إذا حدث أمر (رقم-۹۹۰)

ترجمه:[۱] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي[۲] چې ما د رسول الله ﷺ څخه زيات مختصر او کامل مونځ په يو امام پسې نه دي کړي[۳] او د حضور ﷺ (عادت دا وو چې) کله به يې (په لمانځه کې) د يو ماشوم د ژړا آواز واوريدو[۴] نو دي انديښنې څخه چې د هغه مور څېرته فکر منده نشي، مونځ به يې مختصر کړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① أَخَفَّ: خِفَّةُ الصَّلَاةِ عِبَارَةٌ عَنْ عَدَمِ تَطْوِيلِ قِرَاءَتِهَا: دسپک او مختصر مونځ نه مراد قراءت کښې اختصارکول دی. ② أَتَمَّ: وَتَمَامُهَا عِبَارَةٌ عَنِ الإِتْيَانِ بِجَمِيعِ الأَرْكَانِ وَالسُّنَنِ: يعنى دَ حضورپاك ﷺ قرأت به مختصر وو خو تعديل ارکان به وو سجده، رکوع، قومه او جلسه ټول به مکمل وو.

تسهيلات:-

قوله: أَخَفَّ صَلَاةً وَلَا أَتَمَّ صَلَاةً:

په اخف او اتم کښې فرق:-دَ "اخف"تعلق په عام توګه دَ قرأت تخفيف سره وی او دَ "اتم" لفظ په عام توګه دَ تعديل ارکان دَپاره استعماليږی. مطلب دا چه دَ حضورپاك ﷺ قرأت به مختصر وو اوسجده، رکوع، قومه او جلسه ټول به مکمل وو.

قوله: مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ:

د راتلونکی کس دپاره دامام په انتظارکښې مذاهب:-

① علامه خطابی رحمه الله فرمائی چه په مانځه کښې که چرې امام ته معلومه شی چه څوك راتلونکې راځی نو امام دَ هغه انتظارکولې شی چه هغه سرې په رکوع کښې شريك شی. امام مالك رحمه الله هم دَدې انتظار قائل دې.

② احناف فرمائی که چرې يو امام دَ تقرب الی الله په غرض سره نه بلکه دَ يو سړی لحاظ ساتلو سره داسې کوی نودا مکروه تحريمی دې بلکه په دې کښې دَ شرك دَ ارتکاب احتمال دې.

③ بعضې علماء فرمائی چه که چرې امام په ذاتی توګه باندې راتلونکې سړې نه پيژنی نو بيا ګنجائش شته ليکن دَدې ترك کول هم اولی دی.

[۱۱۳۰] د نبی علیه السلام په خپل امت باندې شفقت

۱۱۳۰—(ا)[۲][۱] وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] "إِنِّي لَأَدْخُلُ فِي الصَّلَاةِ وَأَنَا أُرِيدُ إِطَالَتَهَا،[۳] فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلَاتِي،[۴] مِمَّا أَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ مِنْ بُكَائِهِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[۱] ابو قتاده رضي الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل[۲] زه چې په لمانځه کې

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب الاذان/ باب من أخف الصلاة عند بكاء الصبى (رقم-۷۰۹) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب الإمام يخفف الصلاة إذا حدث أمر (رقم-۹۸۹)

داخل شم نو د لمانځه د اوږدولو اراده کوم[۳] خو کله چې د يو ماشوم د ژړا آواز واورم نو په لمانځه کې تخفيف کوم[۴] په دې خيال کولو سره چې د ماشوم د ژړا په وجه د هغه مور سخته فکر منده شي.(بخاري)

حل اللغات:- ① إِطَالَتَهَا: اوږدول دمونځ، ② فَأَتَجَوَّزُ: أي: أختصر: مختصر کوم

تسهيلات:- قوله: فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلَاتِي:

په مونځ کښې د تخفيف حکم:- ددې روايت نه معلومه شوه چې مقتديانو سره رعايت پکار دې.ځکه چې په هغوئ کښې هرقسمه خلق وی.مريضان ،ضعيف ،فالج وهلی ،ضرورت مند او معذوره، په دې وجه مونځ کښې تخفيف پکار دې.

داوږدمونځ کولود جواز صورت:- د تخفيف صلوة حکم به هله وی چې کله مقتدی دهغه د قراءت نه خوشحاله نه وی.اوکه خوشحاله وی نو بيا اوږد قراءت جائز دې.لکه څنګه حضرات خلفاء راشدينو به اوږدۀ اوږده قراءتونه کول.هغوئ ته معلوم وو چې زمونږ مقتديان په دې باندې خوشحاله دی.

په حديث باندې اشکال:- حضرت تهانوی رحمة الله عليه په دې مقام باندې اشکال کړې دې چې د محمد ﷺ په امت کښې داسې خلق هم تير شوی دی چې هغوئ ته بهٔ دمونځ په حالت کښې ددنيا ومافيها هڅو علم نه وو.لکه څنګه چې د حضرت علی ﷺ متعلق راځی چې د مونځ په دوران کښې دهغوئ د بدن نه غشې اوويستلې شو او په دې باندې هغوئ هڅو پوهه نشو.او چې کله به يو ماشوم ژړل نو نبی کريم ﷺ به مونځ مختصر کولو.نبی کريم ﷺ داسې مونځ ولې کولو؟

داشکال جواب:- دحضور نبی کريم ﷺ شخصيت عوامو او خواصو دواړو دپاره يو نمونه وو.او په دې کښې دهر کس دپاره دهغه د حال مطابق آسانتيا موجوده ده .او هم د شفقت علی الخلق وجه وه چې نبی کريم ﷺ به د ماشوم د آواز په آوريدو خپل مونځ مختصر کولو.باقی دحضرت علی ﷺ واقعه دهغوئ په حال مبنی ده.

[۱۱۳۱] امام دپاره دکمزورو مقتديانو خيال ساتل

۱۱۳۱-(۳)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] "«إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ،[۳] فَإِنَّ فِيهِمُ السَّقِيمَ وَالضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ[۴] وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ»" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1] اخرجه البخاري في كتاب الاذان/ باب: إذا صلى لنفسه فليطول ما شاء (رقم-٧٠٣) ومسلم في كتاب الصلاة/ باب أمر الأئمة بتخفيف الصلاة في تمام (رقم) ١٨٣ - (٤٦٧) وابوداود كتاب الصلاة/باب في تخفيف الصلاة (رقم-٧٩٤) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا أم أحدكم الناس فليخفف (رقم-٢٣٦) والنسائي كتاب الإمامة/باب ما على الإمام من التخفيف (رقم-٨٢٣) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة. والسنة فيها/باب من أم قوما فليخفف (رقم-٩٨٧)

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل[۲] هر كله چي په تاسو كې يو كس خلقو ته مونځ وركوي نو هغه ته پكار دي چې مونځ مختصر كړي[۳] ځكه چې په مقتديانو كې بيمار، كمزوري او سپين ږيري هم وي (او د هغوئ رعايت ضروري دی)[۴] او هر كله چې په تاسو كې يو سړي ځان ته مونځ كوي نو هغه ته اختيار دي چې څومره غواړي مونځ دې اوږد كړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① فَلْيُخَفِّفْ: مختصر كوى دې مونځ يعنى قراءت دې نه اوږدوى. ② السَّقِيمَ: أَيِ الْمَرِيضَ: بيمار، ③ الضَّعِيفَ: كمزوري (يا په صحت كښې يا په عبادت كښې د سستئ په وجه). ④ الْكَبِيرَ: أَيْ فِي السِّنِّ: عمر ئې زيات وى، بوډا وى.

تسهيلات: - قوله: فَإِنَّ فِيهِمُ السَّقِيمَ وَالضَّعِيفَ:

دضعيف په مصداق كښې دوه اقوال:- ددې نه خو يا خلقتًا ضعيف مراد دې يا ترې بوډاګان خلق مراد دى. اوكبيرڅخه مراد عمر كښې زيات خلق دى. دې زمانه كښې اكثر حضرات ځانله مونځ مختصر كوى او د جمعې مونځ كښې اوږدوالى كوى. الله تعالى دې ورته هدايت اوكړى.

[۱۱۲۲] د متقديانو متنفره كولو ممانعت

۱۱۲۲ — ( )[۴] [۱] «وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [۲] أَنَّ رَجُلًا قَالَ: وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ [۳] مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا، [۴] فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ، [۵] ثُمَّ قَالَ: " إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ، [۶] فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيَتَجَوَّزْ، [۷] فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ، وَالْكَبِيرَ، وَذَا الْحَاجَةِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] قيس ابن ابي حازم وايي چې حضرت ابو مسعود رضي الله عنه ماته وفرمايل[۲] (يوه ورځ) يو سړي د نبي كريم ﷺ په خدمت كې عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ زه د سحر د لمانځه څخه ځكه پاتې كيږم[۳] چې فلاني سړي مونږ ته ډير اوږد مونځ راكوي[۴] ابو مسعود رضي الله عنه وايي چه ما حضور ﷺ د نصيحت كولو په باره كې د هغې ورځ په شان د غصي څخه ډك هيڅ كله نه وو ليدلي[۵] حضور ﷺ وفرمايل په تاسو كې بعضې خلق (طويل مونځ كولو سره د جماعت څخه) خلقو ته نفرت وركونكي دي[۶] (خبردار) په تاسو كې چې كوم سړي خلقو ته مونځ وركوي نو هغه ته پكار دي چې هغه مختصر مونځ وركړي[۷] ځكه چې په مقتديانوكي كمزوري بوډا او حاجتمند خلق هم وي. (بخاري، مسلم)

[۱] اخرجه البخاری فی كتاب الاذان/باب من شكا إمامه إذا طول (رقم-۷۰۴)) ومسلم فی كتاب الصلاة/ باب أمر الأئمة بتخفيف الصلاة فی تمام (رقم) ۱۸۲ - (۴۶۶) وابوداود كتاب الصلاة/باب فی تخفيف الصلاة (رقم-۷۹۵) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب من أم قوما فليخفف (رقم-۹۸۴)والدارمی كتاب الصلاة /باب ما أمر الإمام من التخفيف فی الصلاة (رقم-۱۲۹۴)

حل اللغات:- ① لَاتَأَخَّرُ: روسته کیږم، پاتې کیږم. ② صَلَاةِ الْغَدَاةِ: أَيْ: صَلَاةِ الصُّبْحِ: د سحر مونځ، ③ مُنَفِّرِينَ: نفرت پیدا کونکی، ④ فَلْيَتَجَوَّزْ: أَيْ: لِيَقْتَصِرْ: مختصر مونځ دې کوی (قراءت دې مختصر کوی). ⑤ ذَاالْحَاجَةِ: حاجت مند، ضرورت مند (یعنی تکړه به وی خو دغه وخت به ئې بل څه سخت ضرورت اوحاجت وی).

د راوي مختصر تعارف: بعضې وائی چه دَ ده نوم عبد بن عوف وو اودَ بعضو په نیز عوف الاحمسی وو. دَ بجلی قبیلې سره ئې تعلق وو ابوعبدالله ئې کنیت وو. وائی چه دې دَخپل کور نه دَ رسول الله ﷺ دَ بیعت کولو دَ پاره لاړو اوس لادې په لار وو چه دَحضور ﷺ انتقال اوشو. دَ هغه پلار دَ رسول الله ﷺ صحابی رضی الله عنه وو دا واحد تابعی دې چه دَ عشره مبشره نه روایت نقل کوی.(۲) خوامام ابوواسع فرمائی دَ عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه نه علاوه دَ ټولونه روایت نقل کوی. (۳)

وفات:- ۸۴ھ یا ۸۷ھ یا ۸۸ھ کښې وفات شوې وو. (۴)

تسهیلات:-

قوله: مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا:

د فلان مصداق:- دَدې حدیث نه دامعلومه نه شوه چه سوال کونکې سړې څوك وو او "من اجل فلان" کښې دَ فلان نه ابی بن کعب رضی الله عنه مراد دې.

[۱۱۳۲] دامام د مونځ صحت اوفساد

۱۱۳۲—()[۵] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«يُصَلُّونَ لَكُمْ فَإِنْ أَصَابُوا فَلَكُمْ، [۳] وَإِنْ أَخْطَئُوا فَلَكُمْ وَعَلَيْهِمْ»". [۴] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [۲] تاسو ته به امامان لمونځونه درکوي که هغوئ مونځ په ښه شان درکړي نو د ددې فائده ستاسو د پاره ده (او د هغوئ د پاره هم ده) [۳] او که هغوئ خطا وکړه (په ښه شان مونځ یې درنه کړو) نو تاسو ته (به بیا هم) ثواب ملاویږي او د هغوئ ګناه به په هغوئ وي، [۴] بخاري. او دا باب د فصل ثاني نه خالي دي.

حل اللغات:- ① أَصَابُوا: أَيْ: أَتَوا بِجَمِيعِ مَا عَلَيْهِمْ مِنَ الْأَرْكَانِ وَالشَّرَائِطِ: که په ښه شان ئې مونځ درکوو یعنی دمونځ دټولو ارکانو او شرائطو لحاظ ئې ساتلو. ② أَخْطَئُوا: بِأَنْ أَخَلُّوا بِبَعْضِ ذٰلِكَ عَمْدًا أَوْسَهْوًا: څه غلطي ئې اوکړه یعنی په قصد سره یا به هیره سره ئې په مونځ کښې څه پریخودل.

تسهیلات:- **قوله:** يُصَلُّونَ لَكُمْ

د زیربحث حدیث پس منظر:- دا پوره جمله خبر واقع دې اومبتدأ محذوف دې کوم چه

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/ باب إذا لم يتم الإمام وأتم من خلفه (رقم-۶۹۴)

"ائمتکم" دي. دَدې حدیث تعلق هغه امامانو سره دې کوم چه حکمران وی اوهم حکمرانان دَ دین ورانونکی وی. دَدې حدیث پوره پس منظر داسې دې چه حضورپاك ﷺ دَ راتلونکی حکمرانانو باره کښې فرمائیلی دی چه هغوی به مونځ خرابوی. نو صحابه کرامو عرض اوکړو چه بیا هغوی پسې مونځ نه دی کول پکار. حضورپاك ﷺ اوفرمائیل چه هغوی به مونځونه ورکوی تاسو هغوی سره مونځ کوئی که چرې هغوی په صحیح توګه باندې مونځ ورکړو نودَ هغوی اوستاسو دواړو فائده ده خو که هغوی په غلطه طریقه سره مونځ ورکړو نودَ غلطئی ذمه دار به هغوی پخپله وی اوپخپله به مجرمان جوړیږی. تاسو خو ښه کار اوکړو په تاسو به دَهغوی دَ غلطئی اثر نه پریوځی.

وهذاالباب خال عن الفصل الثانی

نوټ:یعنی دا باب د دریم فصل څخه خالي دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۱۳٤] امام دپاره د بوډاګانواو بیمارانو خیال ساتل

۱۱۳۴-()[۲] [۱]«عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] آخِرُ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۳] " إِذَا أَمَمْتَ قَوْمًا فَأَخِفَّ بِهِمُ الصَّلَاةَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [۴] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ: " «أُمَّ قَوْمَكَ "، [۵] قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنِّي أَجِدُ فِي نَفْسِي شَيْئًا. قَالَ: " ادْنُهْ "، [۶] فَأَجْلَسَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ، ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ فِي صَدْرِي بَيْنَ ثَدْيَيَّ،

ترجمه: [۱] عثمان ابن ابي العاص رضی الله عنه فرمايي [۲] چې نبي کريم ﷺ چې ماته آخري وصيت کړي وو [۳] هغه دا وو چې هر کله ته د خلقو امامت کوي نو هغوئ ته مختصر مونځ ورکوه، مسلم [۴] د مسلم د يو بل روايت الفاظ دا دي چې حضور ﷺ حضرت عثمان رضی الله عنه ته وفرمايل چې د خپل قوم امامت کوه [۵] حضرت عثمان رضی الله عنه وايي چې ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ زه په خپل زړه کې څه خدشه محسوسوم حضور ﷺ (دي اوريدو سره) وفرمايل ماته رانزدې شه [۶] (کوم وخت چې زه حضور ﷺ ته نزدې شوم نو) حضور ﷺ زه خپل مخې ته کينولم او زما په سينه يې د دواړو تيو په مينځ کې خپل لاس مبارک کيښودلو

حل اللغات:- ① فَأَخِفَّ: خِفَّةُ الصَّلَاةِ عِبَارَةٌ عَنْ عَدَمِ تَطْوِيلِ قِرَاءَتِهَا: دسپک او مختصر مونځ نه مراد قراءت کښې اختصارکول دی. ② اُدْنُهْ: دا د دُنُوّ نه د امر صيغه ده، أَيْ اُقْرُبْ مِنِّي: رانزدې شه ماته، ③ ثَدْيَيَّ: دواړه تيونه، د سينې دواړه طرفونه،

[۱] ثُمَّ قَالَ: " تَحَوَّلْ "، فَوَضَعَهَا فِي ظَهْرِي بَيْنَ كَتِفَيَّ، [۲] ثُمَّ قَالَ: أُمَّ قَوْمَكَ، فَمَنْ أَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ، [۳] فَإِنَّ فِيهِمُ الْكَبِيرَ، وَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيضَ، وَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ، وَإِنَّ فِيهِمْ ذَا الْحَاجَةِ، [۴] فَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ وَحْدَهُ فَلْيُصَلِّ كَيْفَ شَاءَ» ".

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الصلاة/ باب أمر الأئمة بتخفيف الصلاة فی تمام (رقم) ۱۸۶ - (۴۶۸)

ترجمه: ① بيا يي وفرمايل شا كړه (ما خپله شا د حضور ﷺ طرف ته كړه) نو حضور ﷺ زما په شا د دوارو اوږو په مينځ كې خپل لاس مبارك كيښودلو② او ويې وفرمايل چې (خه او د خپل قوم امامت كوه او (دا ياد ساته) چې هر كله يو سړي د يو قوم امام جوړ شي نو هغه ته پكار دي چې مختصر مونځ وركوي③ ځكه چې په هغوئ كې به سپين ږيري هم وي او بيماران هم او كمزوري خلق هم او حاجتمند هم④ او كله چې سړي خان له مونځ كوي نو هغه ته اختيار دي چې څنګه غواړي اوږد مونځ دي وكړي.

حل اللغات: - ④ تَحَوَّلْ: أي انقلِبْ: راتاو شه، شا كړه.

تسهيلات: -

قوله: ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ فِي صَدْرِي بَيْنَ ثَدْيَيَّ:

په سينه د لاس كيخودو حكمت: -ددې حكمت دا دې چې راوى د حديث د خيني وسوسو او قرآن اوحديث او فقه كښې د قلت علم په وجه يو قسم له ضعف محسوسولو،نو نبى كريم ﷺ خپل دست مبارك سره هغه ته تقويت وركړو.

[۱۱۲۵] په مانځه كښې د تخفيف حكم

۱۱۲۵ – ()[۷] ①«وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِالتَّخْفِيفِ، ③ وَيَؤُمُّنَا بِـ(الصَّافَّاتِ)». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① ابن عمر رضي الله عنه فرمايي ② چې نبي كريم ﷺ به مونږ ته د مختصر مونځ وركولو حكم كوي③ او پخپله چې به يي مونږ ته مونځ راكولو نو د سورة صافات قراءت به يي كولو. (نسايي)

تسهيلات: -

قوله: وَيَؤُمُّنَا بِالصَّافَّاتِ:

دحديث په دوؤ جملو كښې دتعارض اشكال: - دَدې حديث په دوارو ټكړوكښې په ظاهره تعارض دې اوهغه دادې چه حضورپاك ﷺ به صحابه كرامو ته دَتخفيف صلاة بنه تاكيد فرمائيلو ليكن پخپله به ئې په سورت صافات سره مونځ وركولو چه يواوږد سورت دې؟

دتعارض جواب: -

① دَ حضورپاك ﷺ دَ خوند والا دَ مونځ نه به خلقو مزه اوچتوله هلته دَ ستړيوالى تصورنه وو په دې وجه به ئى اوږد سورت لوستلو په نورو كښې داخصوصيت چرته وو

② دَ حضورپاك ﷺ دَ لوستلو انداز عجيبه وو چه په لږ وخت كښې به ئى اوږد سورت لوستلو اوپه نورو خلقوكښې داخيزنه وو په دې وجه به ئى هغوى منع كول.

[1]) اخرجه النسائي في السنن رقم الحديث ۸۲۶

[۲۸/۴۴]بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُومِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ وَحُكْمِ الْمَسْبُوقِ]

دا باب په مقتدی باندې د امام د تابعدارۍ او د مسبوق د مونځ بیان کښې دې

خلاصة الباب:-

فيه أربعة عشر حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① التخلف عن الإمام فى الأفعال: ۱.

②النهي عن السبق على الإمام: ۲، ۳، ۶، ۱۴.

③ معية المأموم مع افعال الإمام: ۳، ۴.

④ كيفية إقتداء القائمين باالإمام الجالس: ۴، ۵، ۱۲.

⑤ وقت شروع ا لمسبوق في الصلاة: ۷، ۹.

⑥ فضيلة الشركة فى تكبير الإفتتاح: ۹ .

⑦ نيل الثواب بنية الجماعة: ۱۰.

⑧ حكم الجماعة الثانية: ۱۱.

⑨ إدراك الركعة يادراك الركوع: ۸، ۱۳.

دامام د تابعدارۍ دوه حکمونه:- په دې باب کښې ددې بیان کیږی چه مقتدی له دامام تابعداری په کوموځیزونوکښې څنګه کول پکاردی.

① په مانځه کښې په مقتدیانوباندې دامام تابعداری صرف په فرضو او واجباتو کښې ضروری ده

② په سنتو کښې واجب نه ده تسبیح تسمیه رفع الیدین وغیره،

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۱۳٦]په مانځه کښې د صحابوؤ د نبی علیه السلام متابعت

۱۱۳٦-()[1]① «عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ②كُنَّا نُصَلِّي خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ③ فَإِذَا قَالَ: "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ" لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ ④ حَتَّى يَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: جَبْهَتَهُ عَلَى الْأَرْضِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:① براء ابن عازب رضی الله عنه فرمايي② چې مونږ به په نبي کريم ﷺ پسې مونځ کولو③

---

[1] اخرجه البخارى فى كتاب الاذان/ باب: متى يسجد من خلف الإمام؟ (رقم-۶۹۰) ومسلم فى كتاب الصلاة/باب متابعة الإمام والعمل بعده (رقم۱۹۷ - (٤٧٤) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية أن يبادر الإمام فى الركوع والسجود(رقم-۲۸۱)

کله چې به حضور ﷺ سمع الله لمن حمده ویل نو په مونږ کې به یو سړي خپله شا نه بنګته کوله ۲ تر څو پورې چې به حضور ﷺ د سجدې د پاره خپل تندي مبارك په زمکه نه وو اینبودلي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① لَمْ يَحْنِ: أَيْ: لَمْ يَعْوَجْ: يَحْنُ دَ باب ضرب اونصر دواړو نه راځي. حنا يحنو دَ ټيټيدو اوکږيدو په معنی کښې دې. ② جَبْهَتَهُ: جبهة تندی ته وائي.

تسهیلات:-

قوله: لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ:

دامام څخه د وړاندې والي څخه پرهيزکول:- مراد دادې چه کله به مونږ دَ رکوع نه واپس قومې ته تلو نوولاړ به وو اوترکومې پورې چه به رسول الله ﷺ په زمکه باندې سجده نه کوله مونږ به نه کږيدو دې دَپاره چه دَ حضورپاك ﷺ نه په سجده کښې وړانديوالي لازم رانه شي.

دامام د تابعدارۍ دوه صورتونه:- اوس دلته فقهي مسئله داسې ده چه دَ امام نه مخکښې کیدل دَ ټولو ائمؤ په نیز حرام دی بلکه متابعت کول پکار دی. بیا دَ متابعت دوه صورتونه دی

① مقارنت هغه وی چه دَ امام دَ افعالو سره متصلاً دَ مقتدی فعل شروع شي

② موافقت هغه وی چه دَامام دَ افعالو نه څه وخت بعد دَ مقتدی فعل شروع شي.

امام سره د مقارنت اوموافقت په افضلیت کښې مذاهب:-

① دَ شوافعو په نیز تأنّی او تأخر افضل دې چه دَ امام دَ فعل په آخره کښې دَ مقتدی دَ فعل شروع وی.

② دَ احنافو په نیز مقارنت افضل دې صرف په تکبیر تحریمه کښې موافقت افضل دې یعنی تکبیر تحریمه کښې دَ امام نه پس تکبیر وئیل.اوپه باقی اعمالو کښې د امام څخه روستو والي افضل دې.

داول فریق دلیل:- زیربحث حدیث د دوی مستدل دې.

داول فریق د دلیل جواب:- دَدې حدیث مطلب دانه دې چه ترکومې به حضورپاك ﷺ سجدې ته نه وو رسیدلي یو صحابی ته دَ حرکت کولو حق نه وو.لیکن اصل مقصد دا وو چه حضور پاك چونکه تیز حرکت نه شو کولې نوتاسو انتظار کوئی چرته داسې نه وی چه تاسو دَ حضورپاك ﷺ نه مخکښې نه شئی. په دې وجه ئی اوفرمائیل "لم یحن" یعنی څوك به کږیدلو نه.

د دویم فریق دلیل:- احناف فرمائی چه داحدیث دَ هغه اوړد حدیث ټکړه ده په کوم کښې چه مسابقت نه ممانعت راغلي دې. اصل مقصد دا دې چه مسابقت رانه شي. کله چه دَ

حضورپاك ﷺ بدن مبارك دروند شو اوعمر مبارك ئې زيات شو نوهغه وخت دَ مسابقت خطره زياته شوه. په دې باندې حضورپاك ﷺ اوفرمائيل چه مسابقت مه کوئی ترکومې چه زه سجدې ته لاړنه شم تاسو لړ شان هم مه ټيټيږئ نوصحابه کرام به نه ټيټيدل.

[۱۱۳۷] مقتدي دې د امام څخه مخکې هيڅ رکن نه اداء کوي

۱۱۳۷-(۱)[۲]① «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ ② فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ. ③ فَقَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ! إِنِّي إِمَامُكُمْ ④ فَلَا تَسْبِقُونِي بِالرُّكُوعِ، وَلَا بِالسُّجُودِ، وَلَا بِالْقِيَامِ، وَلَا بِالِانْصِرَافِ; ⑤ فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِي وَمِنْ خَلْفِي» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت انس رضي الله عنه فرمايي چې (يوه ورځ) نبي کريم ﷺ مونږ ته مونځ راکړو ② کوم وخت چې مونځ يې راکړو نو خپل مخ مبارك يې زمونږ طرف ته متوجه کړو ③ او وي فرمايل خلقو زه ستاسو امام يم ④ نو تاسو په رکوع کولو، سجده کولو، ودريدو او ګرځيدو (يعني د لمانځه څخه په فارغيدو کې) زما څخه مخکې کيږئ مه ⑤ زه تاسو خپل وړاندې او (په ذريعه د مکاشفې يا په طور د معجزې يا په ذريعه د مشاهدې) د خپل وروسته څخه هم وينم. (مسلم)

تسهيلات:- قوله: فَلَا تَسْبِقُونِي بِالرُّكُوعِ:

دامام څخه د وړاندې رکوع کولو حکم: -امام نه په يو رکن کښې سبقت کول جائز نه دی .که دامام نه وړاندې رکوع ته لاړو او رکوع کښې امام سره شريك شو نو دا رکوع صحيح ده، اګرچې دا مکروه دی.اوکه سره شريك نه شو نوبيا دا رکوع صحيح نه ده .اودغه رکعت اونشو. نوکه دغه رکعت ئې په مونځ کښې حساب کړو او سلام ئې اوګرځولو.مونځ ئې فاسد شو.

قوله: وَلَا بِالِانْصِرَافِ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① انصراف بمعنى کورونو ته تلل يعنى زما نه وړاندې کورونو ته مه ځئ دا حکم دې دپاره چې سړی اوښځې يو بل سره يو ځائې نه شی.

② تاسو په سلام ګرزولو کښې زما څخه وړاندې والې مه کوئ.

[۱۱۳۸] د امام پوره پيروي کول

۱۱۳۸-(۲)[۳]① «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "لَا تُبَادِرُوا

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الصلاة/باب النهی عن سبق الإمام برکوع أو سجود ونحوهما(رقم-۱۱۲ - (۴۲۶) والدارمی کتاب الصلاة /باب النهی عن مبادرة الأئمة بالرکوع والسجود (رقم-۱۳۵۴)

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب الصلاة/باب النهی عن مبادرة الإمام بالتکبیر وغیره(رقم-۸۷ - (۴۱۵) والنسائی کتاب الإمامة/باب مبادرة الإمام (رقم-۸۳۰) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب النهی أن یسبق الإمام بالرکوع والسجود (رقم-۹۶۰)

الْإِمَامَ: إِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، [۳] وَإِذَا قَالَ: ﴿وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ۷] فَقُولُوا: آمِينَ، [۴] وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا، [۵] وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ» " [٦] مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، إِلَّا أَنَّ الْبُخَارِيَّ لَمْ يَذْكُرْ: " وَإِذَا قَالَ: ﴿وَلَا الضَّالِّينَ﴾ [الفاتحة: ۷]

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل [۲] تاسو د خپل امام څخه مه مخكې كيږئ هر كله چې امام تكبير وكړي نو تاسو (هم د هغه سره) تكبير وكړئ [۳] هر كله چې امام ولاالضالين اووائي نو تاسو د هغه سره آمين اووايئ [۴] هر كله چې امام ركوع ته لاړ شي نو تاسو ركوع ته لاړ شئ [۵] او كله چې هغه سمع الله لمن حمده اووائي نو تاسو اللهم ربنا لك الحمد (اي الله زمونږ ربه ټول تعريفونه تاله دي) اووايئ. [٦] دا روايت بخاري او مسلم نقل كړي دي خو بخاري په خپل روايت كې د إِذَا قَالَ وَلَا الضَّالِّينَ الفاظ نه دي نقل كړي.

حل اللغات:- ① لَا تُبَادِرُوا: أَيْ: لَا تَسْبِقُوهُ: مه مخكښې كيږئ.

تسهيلات:-

قوله: وَإِذَا قَالَ: وَلَا الضَّالِّينَ فَقُولُوا: آمِينَ:

په مقارنت اوعدم قراءة فاتحه خلف الامام باندې دليل:- دا حديث هم د امام ابوحنيفه رحمه الله دليل دې چې دامام سره مقارنت د معاقبت څخه اولى او افضل دې.بله په دې حديث كښې د تقسيم څخه دا هم معلوميږي چې مقتدى به سورة فاتحه نه لولى.ځكه چې نبى كريم ﷺ فرمائى چې كله امام ولاالضالين اووائى نو تاسو آمين وائې دا ئې نه دى فرمائيلي چې كله تاسو ولاالضالين اووائې نو آمين وايې .

[۱۱۲۹] كه امام په ناسته مونځ وركوي نومقتديان دې په ناسته مونځ كوي كه په ولاړه؟

۱۱۳۹ -(۱)[۳] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهِ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ فَرَسًا، [۲] فَصُرِعَ عَنْهُ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ، [۳] فَصَلَّى صَلَاةً مِنَ الصَّلَوَاتِ وَهُوَ قَاعِدٌ [۴] فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُودًا، [۵] فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: " [٦] إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ، [۷] فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا فَصَلُّوا قِيَامًا، [۸] وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا، وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا، [۹] وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا: رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ، [۱۰] وَإِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا أَجْمَعُونَ» ".

ترجمه: [۱] انس رضي الله عنه فرمايي چې (يو ځل د يو سفر په دوران كې) نبي كريم ﷺ په اس سور وو [۲] چې (اتفاقًا) حضور ﷺ ښكته را ايله شو (راپريوتلو) چه د هغې په وجه د حضور ﷺ نبي اړخ (داسي) خوږ شو (چې په ولاړه سره په لمانځه كولو باندې حضور ﷺ قادر

---

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الاذان/ باب: إنما جعل الإمام ليؤتم به (رقم-٦٨٩) ومسلم فى كتاب الصلاة/باب ائتمام المأموم بالإمام(رقم-٧٩ - (٤١١) وابوداود كتاب الصلاة،باب الإمام يصلى من قعود (رقم-٦٠١) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إذا صلى الإمام قاعدا فصلوا قعودا (رقم-٣٦١) والنسائى كتاب الإمامة/باب الائتمام بالإمام يصلى قاعدا (رقم-٨٣٢) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى إنما جعل الإمام ليؤتم به (رقم-١٢٣٧)

نه وو،[۳] نو حضور ﷺ په (دي پنځو فرض) لمونځونو کې يو مونځ مونږ ته په ناسته راکړو[۴] مونږ هم په حضور ﷺ پسې په ناسته مونځ وکړو[۵] کوم وخت چې حضور ﷺ د لمانځه څخه فارغ شو نو (مونږ ته مخاطب کيدو سره) وي فرمايل[۶] امام د دې د پاره مقرر شوی دي چې د هغه اقتداء وشي[۷] نو هر کله چې امام په ولاړه مونځ کوي نو تاسو هم په ولاړه مونځ کوئ[۸] هر کله چې رکوع وکړي نو تاسو هم رکوع وکړي او کله چې هغه د رکوع څخه پاڅيږي نو تاسو هم د رکوع څخه پاڅيږئ[۹] کله چې هغه سمع الله لمن حمده اووائي نو تاسو ربنالك الحمد اووايئ[۱۰] او کله چې هغه په ناسته مونځ کوي نو تاسو ټول مقتديان هم په ناسته مونځ کوئ،

حل اللغات:- ① فَصُرِعَ: د مجهول صيغه ده، أَيْ:سَقَطَ: ښکته راوغورځيدو. ② فَجُحِشَ: أَيِ انْخَدَشَ: خوږ شو، زخمي شو. ③ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ: ښي طرف.

[۱] قَالَ الْحُمَيْدِيُّ: قَوْلُهُ: "«إِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا»[۲] " هُوَ فِي مَرَضِهِ الْقَدِيمِ،[۳] ثُمَّ صَلَّى بَعْدَ ذَلِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا[۴] وَالنَّاسُ خَلْفَهُ قِيَامٌ لَمْ يَأْمُرْهُمْ بِالْقُعُودِ،[۵] وَإِنَّمَا يُؤْخَذُ بِالْآخِرِ فَالْآخِرِ مِنْ فِعْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[۶] هَذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ. وَاتَّفَقَ مُسْلِمٌ إِلَى "أَجْمَعُونَ".[۷] وَزَادَ فِي رِوَايَةٍ. "«فَلَا تَخْتَلِفُوا عَلَيْهِ، وَإِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا»".

ترجمه:[۱] حميدي رحمه الله وايي چې د حضور ﷺ دا ارشاد چې کله امام په ناسته مونځ ورکړي نو تاسو هم په ناسته مونځ کوئ[۲] دا د حضور ﷺ په اولني بيمارئ کې وو[۳] او د هغې څخه وروسته (د مرګ په مرض کې وفات کيدو څخه يوه ورځ مخکې) حضور ﷺ په ناسته مونځ ورکړو[۴] نو خلقو په حضور ﷺ پسې په ولاړه مونځ وکړو او حضور ﷺ هغوئ ته په ناسته د لمانځه کولو حکم ونه فرمايلو[۵] او د حضور ﷺ په هغه حکم عمل کولی شی کوم چې آخري دي (يعني اولني فعل منسوخ او دويم فعل ناسخ وي)[۶] دا الفاظ د بخاري دي او مسلم هم تر لفظ اجمعون پورې د بخاري موافق دي (يعني روايت تر دې لفظ پورې بخاري او مسلم دواړو نقل کړي دي)[۷] او په دويم روايت کې مسلم دا الفاظ مزيد نقل کړي دي چې حضور ﷺ دا هم وفرمايل چې د امام خلاف مه کوئ او هر کله چې امام سجده کوي نو تاسو هم سجده کوئ.

تسهيلات:-

قوله: فَصَلُّوا جُلُوسًا:

دحديث پس منظر:-دَدي حديث پس منظر داسې دې چه يو ځل حضورپاك ﷺ دَ اس نه پريوتلو اودَ حضورپاك ﷺ دَ ښى اړخ يو طرف په پوره توګه زخمي شو. حضورپاك ﷺ يو مونځ په جمع سره کورکښې داسې اداکړو چه حضورپاك ﷺ ناست وو اوملګرو ئى هم په

ناسته مونځ اداکولو. دَ مونځ نه فارغیدوسره حضورپاك ﷺ دَمعذور امام متعلق دا مسئله بیان کړه چه کله امام کیني نو تاسو هم کیننی او په ناسته باندې مونځ اداکړئی

قوله: إِذَاصَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا:

د قائم په جالس پسې د اقتداء په صحت کښې مذاهب:-

دَدې حدیث په وجه یوه اختلافی مسئله پیدا شوه اوهغه دا چه په قیام باندې دَ قادر کس اقتداء په قیام باندې دَ نه قادر کیدونکی شاته مونځ کول جائز دی که نه؟ یعنی که چرې امام په قیام باندې قادر نه وی اومقتدیان قادر وی نو آیا دا اقتداء جائز ده که نه؟ اوکه چرې جائز وی نو مقتدی به په ولاړه باندې مونځ کوی او که په ناسته؟ په دې کښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.

① دَ امام مالك رحمه الله او امام محمد رحمه الله مذهب دادې چه قادر علی القیام مقتدی عاجز عن القیام امام پسې مونځ هډو کولې نه شی.

② دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله په نیزعاجز امام پسې د قادر مقتدیانو اقتداء صحیح ده لیکن مقتدی دې هم دَ امام په شان کیني مونځ دې کوی.

③ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله په نیز قادرعلی القیام مقتدی په عاجزعلی القیام امام پسې اقتداء کولې شی لیکن قادر مقتدی به په ولاړه باندې مونځ کوی.

د اول فریق دلیل:- دا قتداء هډو صحیح نه ده ځکه چه دَ روغو جوړو مقتدیانو مونځ قوی دې اوقاعد امام مونځ ضعیف دې اودَ امام مونځ ضامن وی او دَ مقتدی مونځ دَدې په ضمن کښې وی. نو ضعیف مونځ قوی مونځ په خپل ضمن کښې څنګه اخستې شی او که چرې مقتدی کیناستو نوبیاهم مونځ صحیح نه دې ځکه چه دَ اصحاء دَپاره دَ کیناستو اجازت چرته دې؟ لهذا دا اقتداء باطل ده. دَ امام مالك رحمه الله دَدې طرز عمل اختیارولو سره هغه دَدې اختلاف نه اووتلو. اوس صرف امام احمدبن حنبل رحمه الله اودَ جمهورو مقابله پاتې شوې ده.

د دویم فریق دلیل:- زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې چه په خپله مدعا باندې ډیر واضح دلیل دې یعنی دا چې امام کله په ناسته مونځ کوی نوتاسوهم په ناسته مونځ کوئ.

ددویم فریق د دلیل جواب:- حدیث نه مستنبط دا حکم روستو راتلونکی حکم سره منسوخ شوې دې ځکه چه دا واقعه دَ ۵هجری ده اومونږ چه دَ کوم دلیل نه استدلال نه کوو هغه دَ حضورپاك ﷺ دَ ژوند مبارك آخری واقعه ده او په شریعت کښې هر متأخر حکم خپلولې شی ځکه چه هغه دَ نسخ نه محفوظ وی.

د دریم فریق دلائل:-

① دَ حضورپاک ﷺ دَ مرض الوفات په وخت دَمونځ ورکولو واقعه د دوی مستدل دې.

«وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ، فَقَالَ: "مُرُوا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ"، فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ، ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ خِفَّةً، فَقَامَ يُهَادَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ، وَرِجْلَاهُ تَخُطَّانِ فِي الْأَرْضِ، حَتَّى دَخَلَ الْمَسْجِدَ، فَلَمَّا سَمِعَ أَبُو بَكْرٍ حِسَّهُ، ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ، فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا يَتَأَخَّرَ، فَجَاءَ حَتَّى جَلَسَ عَنْ يَسَارِ أَبِي بَكْرٍ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي قَائِمًا، وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَاعِدًا، يَقْتَدِي أَبُو بَكْرٍ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالنَّاسُ يَقْتَدُونَ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: يُسْمِعُ أَبُو بَكْرٍ النَّاسَ التَّكْبِيرَ.

په دې حدیث کښې په واضحه توګه راغلی دی چه حضورپاک ﷺ په ناسته باندې مونځ ورکولو او صحابه شاته ولاړ وو.

② دَ قرآن پاك آیت ﴿ قُومُوا لِلّٰهِ قٰنِتِيْنَ ﴾ د دوی مستدل دې. په دې کښې قیام دَ هرصحت مند مسلمان دپاره فرض کړې شوې دې اودَ قوموا امر نه دَمونځ قیام مراد دې ځکه چه بل هیڅ یو قیام داسې نه دې کوم ته چه دَ عبادت درجه حاصله وی اوهغه مامور به وی.

قوله: قَالَ الْحُمَيْدِيُّ:

دامام حمیدی تعارف:- داحمیدی رحمه الله دَ امام بخاری رحمه الله استاذ دې دَ جامع صحیحین والا حمیدی نه دې. دا حضرت هم دغه فرمائی چه دَ حضورپاک ﷺ هر هغه عمل کوم چه په آخره کښې کړې شوې وی هم هغه به اخستې شی ځکه چه په هغې کښې دَ نسخ احتمال نه وی.

[۱۱٤۰] د نبی علیه السلام علالت(بیماري) او د حضرت ابوبکر رضی الله عنه د امامت واقعه

۱۳۰-()[٥] ① «وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② لَمَّا ثَقُلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ، ③ فَقَالَ: "مُرُوا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ"، ④ فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ، ⑤ ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ خِفَّةً، ⑥ فَقَامَ يُهَادَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ، ⑦ وَرِجْلَاهُ تَخُطَّانِ فِي الْأَرْضِ، حَتَّى دَخَلَ الْمَسْجِدَ، ⑧ فَلَمَّا سَمِعَ أَبُو بَكْرٍ حِسَّهُ، ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ،

ترجمه: ① ام المؤمنین بي بي عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي ② کوم وخت چې نبي کریم ﷺ ډیر زیات ناروغه (بیمار) وو نو (یوه ورځ) بلال رضی الله عنه حضور ﷺ ته د لمانځه ورکولو د پاره

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/ باب: الرجل یأتم بالإمام ویأتم الناس بالمأموم (رقم-۷۱۳) ومسلم فی کتاب الصلاة/ کتاب الصلاة /باب استخلاف الإمام إذا عرض له عذر من مرض وسفر، وغیرهما من یصلي بالناس، وأن من صلی خلف إمام جالس لعجزه عن القیام لزمه القیام إذا قدر علیه، ونسخ القعود خلف القاعد فی حق من قدر علی القیام(رقم-۹٥ - (٤۱۸) والنسائی کتاب الإمامة /باب الائتمام بالإمام یصلی قاعدا (رقم-۸۳۳) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی صلاة رسول الله صلی الله علیه وسلم فی مرضه (رقم -۱۲۳۲) والدارمی باب فی وفاة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۸۳)

راغي۴ حضور ﷺ ورته وفرمايل ابو بكر رضي الله عنه ته اووايه چې هغه خلقو ته مونځ وركړي ۴نو ابو بكر خلقو ته اوولس لمونځونه وركړل ۵ (يوه ورځ چې) حضور ﷺ په خپل طبيعت كې لږ شان ښه والي محسوس كړو ٦نو حضور ﷺ (د لمانځه د پاره مسجد ته) د دوو سړو په سهاره داسې لاړلو چې خپل لاسونه مبارك يې د صحابه وُ په اوږو ايښي وه ۷او د ضعف او كمزوري په سبب) د حضور ﷺ پښې مباركې په زمكه رابنكلې كيدې كوم وخت چې حضور ﷺ په مسجد كې داخل شو۸نو حضرت ابوبكر رضي الله عنه د حضور ﷺ راتګ محسوس كړو او شاته كيدل يې شروع كړل (چې حضور ﷺ د هغه په ځاي ودريږي او امامت وكړي)

حل اللغات:- ① ثَقُلَ :أيْ: اشْتَدَّ مَرَضُهُ: دروند شو يعني بيمارشو او كمزوري شو. ② خِفَّةً: أيْ: قُوَّةً وَزَالَ بَعْضُ الْمَرَضِ: بيماري كښې ئې كمى راغله او څه قوت ئې محسوس كړو. ③ يُهَادَي بَيْنَ رَجُلَيْنِ: أيْ: يَمْشِي مُعْتَمِدًا عَلَيْهِمَا مِنْ ضَعْفِهِ: دَ دوو سړو په اوږو باندې لاسونه كيخودو سره دَ هغوى په واړو تللو ته تهادى وائي. ④ تَخُطَّانِ: أيْ: تُمَدَّانِ: رابنكلې ئې خپې، ⑤ حِسَّهُ: أيْ حَرَكَتَهُ أَوْصَوْتَهُ: د نبى عليه السلام حركت يا آواز،

١فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا يَتَأَخَّرَ، ٢فَجَاءَ حَتَّى جَلَسَ عَنْ يَسَارِ أَبِي بَكْرٍ، ٣وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي قَائِمًا، ٤وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَاعِدًا، ٥يَقْتَدِي أَبُو بَكْرٍ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ٦وَالنَّاسُ يَقْتَدُونَ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ٧وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: يُسْمِعُ أَبُو بَكْرٍ النَّاسَ التَّكْبِيرَ.

ترجمه: ١ حضور ﷺ (دې ليدو سره) حضرت ابوبكر رضي الله عنه طرف ته اشاره وكړه چې مه وروسته كيږه ٢ بيا حضور ﷺ (مخكې) شو او د حضرت ابوبكر رضي الله عنه كس طرف ته كيناستلو ٣ حضرت ابوبكر رضي الله عنه په ولاړه مونځ وكړو ٤ او حضور ﷺ (د ضعف او كمزوري په وجه) په ناسته مونځ كولو ٥ حضرت ابوبكر رضي الله عنه د حضور ﷺ د لمانځه اقتداء كوله ٦ او خلقو د حضرت ابوبكر رضي الله عنه د لمانځه اقتداء كوله. (بخاري، مسلم) ٧ او بخاري او مسلم په يو بل روايت كښې دې چه ابوبكر به خلقو ته تكبير اورولو.

حل اللغات:- ⑥ يُسْمِعُ: دا د اسماع نه دې، أيْ: يُبَلِّغُ: يعنى رسولو ئې آواز د نبى عليه السلام خلقوته.

تسهيلات:-

قوله: مُرُوا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ:

دحضرت ابوبكر رضى الله عنه خلافت ته اشاره:- په امامت صغرىٰ باندې حضرت ابوبكر رضي الله عنه مقررول دَ امامت كبرىٰ طرف ته اشاره وه. چنانچه حضرت على رضي الله عنه هم دَدې نه استدلال كړې دې چه نبى پاك ﷺ حضرت ابوبكر رضي الله عنه زمونږ دَ دين امام جوړكړو نوهغه زمونږ دَ دنيا هم امام دې. كه چرې دَ خلافت طرف ته اشاره نه وه نو حضورپاك ﷺ به دَ

ابوبکر رضي الله عنه دَ پاره دومره اصرار نه کولو. دَ عمر فاروق رضي الله عنه باره کښې دَ ازواج مطهرات سفارش هم وو لیکن حضورپاك ﷺ په سختئی سره منع کړې او هم حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه نی په امامت باندې اوساتلو.

قوله: وَالنَّاسُ يَقْتَدُونَ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ

نبی کریم ﷺ ته د امامت انتقال:- یعنی دَ حضورپاك ﷺ دَ خصوصیت وجه داوه چه بغیردَ استخلاف حضورپاك ﷺ پخپله خلیفه جوړ شو اودَ حضرت ابوبکر رضي الله عنه نه دَ امامت منصب پخپله دَ حضورپاك ﷺ طرف ته منتقل شو. لهذا اوس امام رسول الله ﷺ وو اوحضرت ابوبکر رضي الله عنه دَ حضورپاك ﷺ دَ طرفه مُكَبِّرْ (تکبیرویونکې)وو چه په ظاهره امام ښکاریدو.

[١١٤١] د امام څخه مخکې پر سر پورته کولو باندې وعید (سزا)

١١٤١-(٦)[١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ [٣] أَنْ يُحَوِّلَ اللّٰهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] هغه سړي چې د امام څخه مخکې (د رکوع او سجدي څخه) سر پورته کوي دي خبري څخه نه ویریږي [٣] چې الله تعالی جل جلاله د هغه سر د خره د سر په شان کړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① يُحَوِّلَ اللّٰهُ: أَيْ: أَنْ يُبَدِّلَ وَيُغَيِّرَ: بدل به کړی الله تعالی.

تسهیلات:-

قوله: رَأْسَ حِمَارٍ:

یعنی کوم سړې چه دَ امام نه مخکښې دَ سجدې او رکوع نه سر اوچتوی دَهغه باره کښې دا خطره موجود ده چه دَ هغه سر دَ خر سر جوړشی.علماؤ دَ دې حدیث څو مطلبونه بیان کړی دی.

دحدیث په مفهوم کښې درې اقوال:-

① علامه ابن حجر رحمه الله دا بیان کړې دې چه دا مسخ کیدل خاص دی چه دَ یو جزئی حالت سره متعلق دی. دَدې واقع کیدل منع نه دی او یو عام مسخ ده چه پوره امت مسخ شی هغه منع دې. لهذا په احادیثو کښې چه دَ کوم مسخ دَ ممانعت خبره راغلې ده هغه هم دغه عام مسخ ده. لهذا په دې احادیثو کښې هیڅ تعارض باقی نه پاتې کیږی.

---

[١] اخرجه البخاري فی کتاب الاذان/ باب إثم من رفع رأسه قبل الإمام (رقم-٦٩١) ومسلم فی کتاب الصلاة/باب النهی عن سبق الإمام برکوع أو سجود ونحوهما(رقم-١١٤ - (٤٢٧) وابوداود کتاب الصلاة،باب التشدید فیمن یرفع قبل الإمام او یضع قبله (رقم-٦٢٣) والترمذی کتاب السفر/باب ما جاء فی التشدید فی الذی یرفع رأسه قبل الإمام (رقم-٥٨٢) والنسائی کتاب الإمامة/باب مبادرة الإمام (رقم-٨٢٨) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب النهی أن یسبق الإمام بالرکوع والسجود (رقم-٩٦١)

⑤ دا كلام په حقيقت باندې مبنى نه دې بلكه په مجاز باندې محمول دې يعنى دَ هغه سر والعى دَ خر سر نه جوړيږی البته دا سرې دَ خر په شان ناپوهه او بې عقل دې لكه چه دا كلام په تشبيه باندې محمول دې.

⑥ دَ مسخ نه مراد حقيقى مسخ هم كيدې شى اودا امكان رد كولې نه شى لكه چه په اشراط الساعة كې دَ مسخ دَ واقعاتو ذكر موجود دې او په تيرو شوو زمانوكښې هم دَمسخ حقيقى واقعات كله كله واقع شوى دى.

ديو محدث مخ د خر مخ گرځيدل: – ملاعلى قارى رحمه الله دَدې حديث لاندې په مرقات ج۳ ص ۹۸ كښې يوه عبرتناكه قصه ليكلې ده چه يو جليل القدر محدث دَ علم حديث دَ حصول دَپاره يومشهور شيخ الحديث له دمشق ته اورسيدو دَ چا دَ علم اوحديث چه په هغه وخت كښې ډيره مشهورتيا وه. دَعلم حديث دې شوقين طالبعلم دَ هغه نه حديث اخستل شروع كړه او ټول احاديث ئى دَ دغه شيخ الحديث نه حاصل كړل. ليكن عجيبه صورتحال دا پيښ شو چه پوره موده كښې استاذ خپل عقيدت مند شاگرد ته كله مخ اونه خودلو بلكه په پرده كښې به ئى هغه ته سبق خودلو. كله چه اوستاذ ته اندازه اوشوه چه اوس شاگرد ته پوره دَ عقيدت اودَ خدمت پوره جذبه اودَ حديث پوره شوق حاصل شوې دې او اوس دې دَ اعتماد قابل دې نواستاذ دَمخې نه پرده لرې كړه. شاگرد چه كله اوكتل نو حيران پاتې شو څكه چه دَهغه دَ استاذ مخ دَ خر مخ وو. په دې حيرانتيا باندې استاذ اووئيل چه بچې دَ امام نه دَ مونځ په اركان كښې دَ وړاندې كيدو نه ځان ساته (اودَ حديث تعليم او فرمان كښې دَ شك كولو نه بچ اوسيږه) څكه چه ما كله دا حديث واوريدو نو زما يقين رانغلو چه واقعةً داسې كيدې شى. نوزه دَ امام نه مخكښې لاړم نوزما مخ دَ خر مخ جوړ شو كوم چه ته وينې. والعياذبالله.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۱٤۲] دامام د موافقت كولو حُكم

١١٤٢ –()[٧] [١] عَنْ عَلِيٍّ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِذَا أَتَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ وَالْإِمَامُ عَلَى حَالٍ، [٣] فَلْيَصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الْإِمَامُ»". [٤] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] حضرت علي رضي الله عنه او معاذ ابن جبل رضي الله عنه راويان دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٢] هر كله چې په تاسو كې يو سړي (په جماعت كې د شريكيدو د پاره) لمانځه ته راشي او ما م په يو حالت كې وي [٣] نو څه چې اما م كوي هغه ته هغسي كول پكار دي، [٤] دا حديث

[1]) اخرجه الترمذى فى السنن رقم الحديث ۵۹۱

امام ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات:- ① فَلْيَصْنَعْ: أَيْ: فَلْيَقْتَدِ بِهِ: هم په هغه حالت کښې دې اقتداء اوکړي (که هغه په قيام کښې وی، که په رکوع کښې وی او که په سجده کښې وی).

تسهيلات:-

قوله: فَلْيَصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الْإِمَامُ:

د حديث په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① د دې حديث مبارك په شرح کښې ابن الملك رحمة الله عليه فرمائی چې هر امام په مونځ ولاړ وی او يو کس ورسره شامليدل غواړی نو چې په کوم حالت کښې امام وی په هغه حالت کښې دې ورسره شامل شی، که په رکوع کښې وی او که په سجده کښې وی. کله چې امام په سجده کښې وی نو بعضې خلق په دې انتظار کښې وی چې کله به امام د سجدې راپورته شی چې زه ورسره شامل شم. دا صحيح نه دی. ځکه چاته څه معلوم دی چې د مونځ کومه يوه حصه د الله تعالی په نيز مقبوله ده او کومه نه ده.

② مسبوق دې خپل باقی مونځ نه کوی بلکه امام سره دې شريك شی. او کله چې امام سلام واړوی نو بيا دې خپل مونځ پورا کړی. البته لاحق دې خپل هغه مونځ اول پورا کړی کوم چې دده نه تير شوې وو. بيا دې امام سره شامل شی.

د امام ترمذی قول:- امام ترمذی رحمة الله عليه فرمائی چې دا حديث غريب دې. او د علماء کرامو په دې باندې عمل ثابت دې. امام نووی رحمة الله عليه خپله دا نظريه پيش کړې ده چې په کوم حديث باندې د علماء کرامو عمل وی نو امام ترمذی رحمة الله عليه هغې ته صحيح وائی. والله اعلم.

[۱۱۴۳] په رکوع کښې د شريکيدو نکې رکعت پوره کيږي

۱۱۴۳-(۸)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِذَا جِئْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ، وَنَحْنُ سُجُودٌ، فَاسْجُدُوا، [۳] وَلَا تَعُدُّوهُ شَيْئًا، [۴] وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې تاسو (په جماعت کې د شريکيدو د پاره) لمانځه ته راشئ او ما د سجدې په حالت کې ووينئ نو تاسو هم سجدې ته لاړ شئ [۳] او هغه سجده په څه حساب کې مه لګوئ [۴] هو کوم سړي چې (د امام سره) رکوع وموندله نو هغه پوره رکعت وموندلو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① لَا تَعُدُّوهُ: أَيْ لَا تَحْسَبُوا ذٰلِكَ: يعنی دغه سجده د مونځ په رکعت وغيره کښې مه شميرئ.

تسهيلات:- **قوله: فَاسْجُدُوا:**

[۱] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة/باب فی الرجل يدرک الإمام ساجدا كيف يصنع؟ (رقم-۸۹۳)

په سجده کښې د امام سره د شرکت حکم:- بعض خلق امام په سجده کښې ګورې نو پخپله اودریږی او انتظارکوی چه کله امام پاسی نوموني به هغه سره شریك شو. په دې حدیث کښې خودلې شي چه تاسو سجدې ته لاړشئ اوشریك شئ خودَ یوې سجدې حاصلولوسره دا یورکعت مه ګڼرئ اوکه چرې رکوع ملاؤشي نوبیا تاسو پوره رکعت حاصل کړو.

قوله: وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ:

د مذکوره جملې په مطلب کښې دوه اقوال:-

① کوم سړې په پوره مونځ کښې یورکعت هم امام سره اوکړو نوهغه پوره مونځ اوکړو لهذا هغه ته به دَجمعِ ثواب ملاؤ شي. په دې سره غیرمقلدینو ته سخت تکلیف رسی ځکه چه دَ فاتحه نه بغیرد مقتدی مونځ هم صحیح شو اوهغه ته رکعت هم ملاؤشو.

② چاچه رکوع کښې شرکت اوکړو دَهغه مونځ پوره شو یعنی هغه ته دا رکعت ملاؤ شو دلته دَ رکعةً نه مراد رکوع ده اودَ صلاة نه مراد رکعت دې.

[۱۱٤٤] څلویښت ورځې د تکبیر اولې سره د باجماعت مونځ کونکي د پاره زیري

> ۳۴-()[۹] ١ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«مَنْ صَلَّى لِلَّهِ أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ ٣ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى، ٤ كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ: ٥ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ، ٦ وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه راوي دې چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې تر څلویښت ورځو پورې د الله تعالی جل جلاله د پاره په جماعت سره داسې مونځ کوي ٣ چې هغه تکبیر اولی هم لاندې کړي ٤ نو د هغه د پاره دوه قسمه نجات لیکل کیږی ٥ ① یو خو د دوزخ څخه نجات (خلاصي) ٦ ② او دویم د نفاق څخه نجات. (ترمذي)

حل اللغات:- ① بَرَاءَتَانِ: دا د براءة تثنیه ده أَيْ: خَلَاصٌ وَنَجَاةٌ: خلاصي او نجات.

تسهیلات:-

قوله: أَرْبَعِينَ يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ:

د اربعین عدد خاص کولووجه:- دې ځائې کښې ئې د اربعین عدد ځکه خاص کړوچې انسانی تخلیق هم دې دوؤ ادوارو سره بدلیږی رابدلیږی.لکه اول نطفه ،بیا ټینګې اوبه ،بیا د غوښې ټکړا ، په دې ټولو کښې د څلویښتو ورځو فاصله وی.تر دې کله چې دې دنیا ته راشی نو دده مور ته څلویښت ورځې نفاس وی.او دده عقل څلویښت کاله پس کامل کیږی.باقی دڅلویښت عدد په باره کښې الله تعالی ته بنهٔ معلومات دی.

¹) اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی فضل التکبیرة الأولی (رقم-۲٤۱)

قوله: يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى:

دتکبیر اولی په تعریف کښې مختلف اقوال:-

① تکبیر اولی نه مراد تکبیر تحریمه دی.

② رکوع کښې امام سره شاملیدل مراد دی.

③ قرأت شروع کیدو نه وړاندې امام سره شاملیدل مراد دی.

④ تکبیر اولی د سبحانك اللهم د ختمیدو نه وړاندې وړاندې شاملیدل مراد دی.

د راجح قول تعیین:- راجح قول اولنې دې. دداسې کس دپاره دوه فضیلتونه دی. ① جهنم نه نجات. ② نفاق نه براءة.

نفاق څخه د براءت دوه مطلبونه:-

① نفاق څخه د براءة مطلب دا دې چې الله تعالی به دې د منافقانو دعمل نه په خپل حفظ وامان کښې لري. ده ته به اخلاص نصیب کړي. دحشرنشر عذاب نه به ورته نجات ورکړي. او د ایمان په حالت کښې به ورته مرګ راشي.

② دا کس به د منافقانو په شان نه شي حاضرولي. (إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ... إِذَا قَامُوْا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى) کله چې منافقان مونځ دپاره اودریږي نو سست پست اودریږي، ددې نه ده ته حفاظت ملاؤ شي.

[۱۱٤٥] د جماعت رالاندې کولو کوشش کولو د جماعت ثواب ملاویدل

١٠٣٥-()[١٠] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ٣ ثُمَّ رَاحَ، فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا؛ ٤ أَعْطَاهُ اللّٰهُ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا، وَحَضَرَهَا، ٥ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ١ ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل ٢ کوم سړي چې اودس وکړو او ښه (یعني پوره شرائط او آداب او د زړه د حضور سره) اودس ئې وکړو ٣ بیا (مسجد ته) لاړلو هلته یې ولیدل چې خلقو مونځ کړي دي ٤ نو الله تعالی جل جلاله هغه ته د هغه مونځ کونکو برابر ثواب عطا کوي چې هغوي هلته په جماعت کې حاضریدو سره مونځ کړي وو ٥ او هغه ته د نورو په شان ثواب ورکولو سره د نورو (یعني په جماعت کې د حاضریدونکو) په ثواب کې هیڅ کمي نه کیږي، ابوداؤد نسایي.

حل اللغات:- ① رَاحَ: أَيْ: ذَهَبَ إِلَى الْمَسْجِدِ: لاړلو مسجد ته. ② لَا يَنْقُصُ: نه کموی (یعنی کموالې نه راولی په ثواب دهغوی کښې).

¹) اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/باب فیمن خرج یرید الصلاة فسبق بها (رقم-٥٦٤) والنسائی کتاب الإمامة/باب حد إدراک الجماعة (رقم-٨٥٥)

تسهيلات:-

قوله: أَعْطَاهُ اللّٰهُ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا:

د جمعې په نيت جمات ته د تللو حکم:-دحديث پاک حاصل دادې چې کوم کس په دې نيت د کور نه اووتلو چې جمعې سره مونځ اداکړم .کله چې جمات ته اورسيدو ،وې کتل چې جمعه شوې ده.نوالله تعالى به هغه ته د جمعې ثواب ورکړی.دا صورت په هغه وخت کښې دې چې کله هغه د کور نه په وخت وتلې وی.او په قصد سره ئې ناوخته کړی نه وی بلکه اتفاقي طور سره داسې شوی وی.ياورته وخت کښې اندازه لګولو کښې غلطي شوې وی.

قوله: لَايَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئًا:

کوم مونځګذار روستو راشي او هغه ته کوم ثواب ملاويږي نو د نورو مونځګذارو ثواب کښې به څه کمي نه رازی.بلکه الله تعالى به په خپل فضل سره هغه ته هم ثواب ورکړی.

[۱۱۴۶] د جماعت فضيلت

۱۱۴۶-()[۱][۱]«وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ:[۲] جَاءَ رَجُلٌ وَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ:[۳] "أَلَا رَجُلٌ يَتَصَدَّقُ عَلَى هٰذَا فَيُصَلِّيَ مَعَهُ؟[۴]" فَقَامَ رَجُلٌ فَصَلَّى مَعَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه:[۱] ابو سعيد خدري رضي الله عنه فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) په مسجد کې يو سړي داسې وخت راورسيدو چې نبي کريم ﷺ مونځ کړي وو حضور ﷺ (هغه سړي ليدو سره) وفرمايل [۳] آيا داسې څوک نشته چې ده ته د الله په لار کې (صدقه) ورکړي [۴] نو يو سړي (د حضور ﷺ دا ارشاد اوريدو سره) ودريدلو او هغه د هغه سړي سره مونځ وکړو. (ترمذي،ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يَتَصَدَّقُ: أَيْ: يَتَفَضَّلُ عَلَيْهِ:دا د صدقه کولو په معنی کښې دی دلته احسان کول مراد دی.

تسهيلات:- قوله: وَقَدْ صَلَّى رسول الله:

د مونځ مصداق:- يعنی نبی کريم ﷺ مونځ ورکړې وو اوس دانه ده معلومه چه کوم يو مونځ وو. ائمه احناف فرمائی چه د مازيګر او ماښام نه علاوه بل يو مونځ وو ځکه چه د مازيګر نه پس نفل کول جائز نه دی او په ماښام کښې درې رکعته نفل کول په شريعت کښې معهود نه دی.

[۱] اخرجه الترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الجماعة فی مسجد قد صلی فيه مرة (رقم-۲۲۰)

قوله: أَلَارَجُلٌ يَتَصَدَّقُ عَلَى هٰذَا:

د جماعت موقع ورکولوته د صدقې نوم ورکولو وجه: -علامه مظهر رحمه الله فرمائی چه دې عمل ته صدقه ځکه وئیلې شوې ده چه که چرې دې سړی ځان له مونځ کولې نو ده ته به دَ جمع ثواب نه ملاویدلو. کله چه هغه جمع سره مونځ اوکړو نولکه دَ جمع موقع ورکونکی کس په ده باندې احسان اوکړو چه دَ یو په ځائی دَ ۲۶زیاتی مونځونو ثواب هغه ته ملاؤ شو.

د مفترض په متنفل پسې د اقتداء په حکم کښې مذاهب:

① دامام شافعی رحمه الله مسلک دا دې چې د مفترض په متنفل پسې اقتداء جائز ده.

② احناف فرمائی چې د مفترض په متنفل پسې اقتداء صحیح نه ده.

داول فریق دلیل: - زیربحث حدیث د دوی مستدل دې. ځکه چې دلته دغه سړی سره یو ځائی جمع کونکې ابو بکرصدیق رضی الله عنه او حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه خپل مونځ کړې وو نو معلومه شوه چې د مفترض په متنفل پسې اقتداء جائز ده.

داول فریق د دلیل دوه جوابونه: -

① دا دَ هغه وخت خبره ده کوم وخت چه دوه ځل فرض کول جائز وو.

② دلته امام ابوبکر رضی الله عنه نه وو بلکه هغه سړې پخپله امام وو چه دَ چا نه مونځ پاتې شوې وو. ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دَ اختلاف نه دَ وتلو صورت هم دغه دې په بل صورت کښې اختلاف دې نوبهتر هم دغه ده چه په دې صورت باندې داحدیث حمل کړې شی په کوم کښې چه اختلاف نه وی بلکه اتفاق وی.

د دویم فریق دلیل: - دویم فریق وائی چې مقتدی افضل دې او امام مفضول دې.او امام د مقتدی د مونځ ضامن دې.لکه حدیث کښې چې راغلی دی «الامام ضامن» نو متنفلی د مفترض د مونځ ضامن نشی جوړیدې.که چې په درجه کښې ترې متنفل ښکته ده.

قوله: فَقَامَ رَجُلٌ فَصَلَّى مَعَهُ:

دلته په اختصار سره د جماعت ثانیه حکم بیانولې شی.

د دویمې جمعې مختلف صورتونه: -

① علماء فرمائی چه که دَ لارې یا بازار جمات وی اودَ هغې دَپاره څوك امام مقرر نه وی نو دویمه جمع او ډیرې جمعې اتفاقًا جائز دی

② که چرې امام راتب اومتعین موجود وی اوهغه په جمع مونځ ورکړې وی. دې نه پس یو څو کسان راجمع شو او تداعی سره په شان دَ اول مونځ دَ ګنړې ئی دویمه جمع اوکړه نودا دَ ټولو فقهاؤ په نیز مکروه دی.

③ اوس که چرته تداعی هم نه وی په اول ځائی کښې هم جمع نه وی، ګنړه هم نه وی اوخلق ټول مقامی وی نو په دې صورت کښې اختلاف دې.

په دریم صورت کښې د جماعت ثانیه په حکم کښې مذاهب:-

① جمهور فقهاء فرمائي چه په دې آخرى صورت کښې هم دويمه جمع مکروه ده

② امام احمد بن حنبل رحمه الله او صاحبين فرمائي چه دا بغيرد کراهت نه جائز ده.

د اول فريق دليل:- داسې د دويمې جمع عادت جوړول د جماعت د غرض د پاره مُفوّت دى څکه چه په يوه جمع کښې د ټولو رايوځائي کيدلوسره د اسلام شان او شوکت، اتفاق اواتحاد مظاهره کيږى. بل حضورپاك ﷺ د فوت شوى مونځ قضاء په کور کښې کړې ده په جمات کښې په جمع سره نه ده کړې.

د اول فريق د دليل جواب:- د جواز او عدم جواز اصل بحث فرائض کښې دې اود زير بحث حديث تعلق فرائض سره نه بلکه دا متنفل جماعت وو څکه چه حضرت ابوبکر رضي الله عنه فرض اول کړې وو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۱۴۷] د نبي عليه السلام د وفات په مرض کښې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه د امامت واقعه

۱۱۴۷-(۱)[۱۲]«عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ، قَالَ: [۲] دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ، فَقُلْتُ: [۳] أَلَا تُحَدِّثِينِي عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ [۴] قَالَتْ: بَلَى، ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "أَصَلَّى النَّاسُ؟ [۵]" فَقُلْنَا: لَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ! وَهُمْ يَنْتَظِرُونَكَ. [۶] فَقَالَ: "ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ"،

ترجمه: [۱] عبيد الله ابن عبد الله فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) زه د مؤمنانو د مور بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها په خدمت کې حاضر شوم او هغې ته مې عرض وکړو [۳] چې ماته به د نبي کريم ﷺ د بيمارۍ حال بيان نه کړې؟ (چې په هغې کې حضور ﷺ په آخري ځل مونځ کولو د پاره مسجد ته تشريف وړي وو) [۴] بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها وفرمايل چې هو (ولې نه واوره چې کوم وخت) حضور ﷺ زيات بيمار شو نو (د لمانځه په وخت يې) پوښتنه وکړه چې آيا خلقو مونځ کړې دې؟ [۵] مونږ اوويل اوس پورې يې لاته دې کړې يا رسول الله ﷺ خلق ستاسو انتظار کوي [۶] (دې اوريدو سره) حضور ﷺ وفرمايل (ښه) دې زما د پاره په لګن کې اوبه کيږدې

حل اللغات:- ① أَلَا تُحَدِّثِينِي: آيا تاسو به بيان نه کړئ ماته يعنى بيان کړئ راته، ② ثَقُلَ: أَيْ: اشْتَدَّ مَرَضُهُ: بيمار شو او کمزورې شو. ③ ضَعُوا: دا د وضع نه د امر صيغه ده، کيږدئ راته، ④ الْمِخْضَبُ: أَيْ شِبْهُ الْمِرْكَنِ وَهِيَ إِجَّانَةٌ يُغْسَلُ فِيهَا الثِّيَابُ: خانک، لګن يعنى تب کوم کښې چه جامې وينځلې کيږى.

[1]) اخرجه البخاري فى كتاب الاذان/ باب: إنما جعل الإمام ليؤتم به (رقم-۶۸۷) ومسلم فى كتاب الصلاة/باب النهى عن مبادرة الإمام بالتكبير وغيره،(رقم-۹۵ - (۴۱۸) والنسائى كتاب الإمامة/باب الائتمام بالإمام يصلى قاعدا (رقم-۸۳۴)

[۱] قَالَتْ: فَفَعَلْنَا، فَاغْتَسَلَ، [۲] فَذَهَبَ لِيَنُوءَ، [۳] فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَفَاقَ، [۴] فَقَالَ: "أَصَلَّى النَّاسُ؟" فَقُلْنَا: لَا هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ! [۵] قَالَ: "ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ". [۶] قَالَتْ: فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ، [۷] ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ، فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ، [۸] ثُمَّ أَفَاقَ، فَقَالَ: "أَصَلَّى النَّاسُ؟" [۹] فَقُلْنَا: لَا هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ [۱۰] قَالَ: "ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ". [۱۱] فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ، ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ، [۱۲] فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَفَاقَ، فَقَالَ: "أَصَلَّى النَّاسُ؟" [۱۳] قُلْنَا: لَا، هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چه مونږ په لګن کې اوبه کیښودلي نو حضور ﷺ غسل وکړو [۲] او غوښتل يي چې اودریږی [۳] خو (د کمزوري په وجه) حضور ﷺ بې هوشه شو کوم وخت چې په هوش کې راغی [۴] بیا یي وفرمایل آیا خلقو مونځ کړي دي؟ مونږ اوویل اوس پورې یي لاته دې کړي خلق ستا منتظر دي یا رسول الله ﷺ، [۵] حضور ﷺ وفرمایل په لګن کې اوبه کیږدي [۶] بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چه مونږ په لګن کې اوبه کیښودلي نو حضور ﷺ غسل وکړو [۷] او غوښتل يي چې ودریږي خو بیهوشه شو [۸] چې هوش کې راغي نو بيا يي پوښتنه وکړه چې آیا خلقو مونځ کړي دي؟ [۹] مونږ عرض وکړو چه نه خلق ستا منتظر دي یا رسول الله ﷺ، [۱۰] حضور ﷺ وفرمایل په لګن کې اوبه کیږدي [۱۱] مونږ چې اوبه کیښودلي نو حضور ﷺ کیناستلو او غسل يي وکړو بیا چې پاڅیدل يي وغوښتل [۱۲] نو بیهوشه شو چې په هوش کې راغي نو وي فرمایل آیا خلقو مونځ کړي دي؟ [۱۳] مونږ عرض وکړو چه نه خلق ستا منتظر دي یا رسول الله ﷺ

حل اللغات: - ⑤ لِيَنُوءَ: أَيْ: يَقُومُ: چه اودریږی. ⑥ فَأُغْمِيَ: بې هوشي پرې راغله يعنې اندامونو ئې حرکت پریخودلو. ⑥ أَفَاقَ: په هوش کښې راغې.

[۱] وَالنَّاسُ عُكُوفٌ فِي الْمَسْجِدِ [۲] يَنْتَظِرُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ، [۳] فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ بِأَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، [۴] فَأَتَاهُ الرَّسُولُ، فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ، [۵] فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ - وَكَانَ رَجُلًا رَقِيقًا -: يَا عُمَرُ! صَلِّ بِالنَّاسِ، [۶] فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: أَنْتَ أَحَقُّ بِذٰلِكَ، فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ.

ترجمه: [۱] او خلق په مسجد کې ناست وه [۲] د ماسخوتن د لمانځه د پاره د حضور ﷺ انتظار یي کولو [۳] نو رسول الله ﷺ یو کس حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته ولیږلو چې هغه خلقو ته مونځ ورکړي [۴] نو هغه قاصد هغه ته راغي ورته یي اوویل ستا د پاره د حضور ﷺ دا ارشاد دي چې ته خلقو ته مونځ ورکړي [۵] حضرت ابوبکر رضي الله عنه یو نرم زړي سړي وو (دې اوریدو سره) حضرت عمر رضي الله عنه ته یي اوویل چې عمر رضي الله عنه ته خلقو ته مونځ ورکړه (ځکه چې زه خو د حضور ﷺ په ځای ودریدل برداشت کولي نشم) [۶] لیکن حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل چې د دې (عظیمي مرتبي) د ټولو څخه زیات اهل ته یي نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه په هغه ورځو کي (یعني د حضور ﷺ د مرض په ورځو کي) خلقو ته اوولس لمونځونه ورکړل.

حل اللغات:- ⑧ عُكُوفٌ: أَيْ: عَاكِفُونَ مُقِيمُونَ: ناست دي انتظار كوي. ⑨ الرَّسُولُ: يعني قاصد، استاذي، ⑩ رَقِيقًا: أَيْ: رَقِيقَ الْقَلْبِ: نرم زړه والا.

[١] ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ خِفَّةً، [٢] وَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ، [٣] وَأَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ، [۴] فَلَمَّا رَآهُ أَبُو بَكْرٍ ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ، [٥] فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْ لَا يَتَأَخَّرَ، [٦] قَالَ: "أَجْلِسَانِي إِلَى جَنْبِهِ"، فَأَجْلَسَاهُ إِلَى جَنْبِ أَبِي بَكْرٍ، [٧] وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ،

ترجمه: [١] بیا هر کله چې (یوه ورځ) حضور ﷺ په خپل مرض کې لږ شان تخفیف محسوس کړو [٢] نو د دوو سړو په مدد چې په هغې کې یو حضرت عباس رضي الله عنه وو دماسپخین د مانځه د پاره (مسجد ته) یې تشریف یوړو [٣] حضرت ابوبکر رضي الله عنه خلقو ته مونځ ورکولو [۴] په دې کښې یې د حضور ﷺ د تشریف راوړلو کښهاري (کشاري) محسوس کړو نو د وروسته کیدو اراده یې وکړه [٥] حضور ﷺ د اشاري په ذریعه د وروسته کیدو څخه منع کړو [٦] او هغه دواړو ته یې (چې د هغوی په سهاره حضور ﷺ مسجد ته راغلي وو) وفرمایل چې ما د ابوبکر رضي الله عنه په خوا کې کینوئ نو هغوی حضور د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په خوا کې کینولو [٧] حضور ﷺ کیناستلو (لمونځ یې ورکړو)

حل اللغات:- ⑪ خِفَّةً: أَيْ: قُوَّةً وَزَالَ بَعْضُ الْمَرَضِ: بیماری کښې ئې کمی راغله او څه قوت ئې محسوس کړو. ⑫ فَأَوْمَأَ: أَيْ: أَشَارَ: اشاره ئې اوکړه،

[١] وَقَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ: فَدَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ، [٢] فَقُلْتُ لَهُ: أَلَا أَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ مِنْ مَرَضِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ [٣] قَالَ: هَاتِ، فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَدِيثَهَا فَمَا أَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا، [۴] غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ: أَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِي كَانَ مَعَ الْعَبَّاسِ؟ [٥] قُلْتُ: لَا، قَالَ: هُوَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت عبیدالله (د دې حدیث راوي) وایي چې ما (د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه دا حدیث اوریدو سره) حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه ته ورغلم [٢] او هغه ته مې اوویل چې آیا زه تاسو ته هغه حدیث بیان نه کړم چې ما د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه د حضور ﷺ د بیماري په باره کې اوریدلي دي؟ [٣] حضرت ابن عباس رضي الله عنه وفرمایل چې هو بیان یې کړه نو ما د هغه په مخکې د بي بي عائشي رضي الله عنها حدیث بیان کړو ابن عباس رضي الله عنه په هغې کې د هیڅ خبري څخه انکار ونه کړي [۴] البته دا یې وفرمایل چې بي بي عائشي رضي الله عنها تا ته د هغه بل سړي نوم بیان کړي دي چې د حضرت عباس رضي الله عنه سره وو؟ [٥] ما اوویل نه، نو ابن عباس رضي الله عنه اوویل چې هغه حضرت علي رضي الله عنه وو، (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ⑬ أَعْرِضُ: وړاندې کړم، بیان کړم، ⑭ هَاتِ: بِمَعْنَى أَخْبِرْ: راوړاندې کړه، بیان کړه، ⑮ أَسَمَّتْ: آیا نوم ئې درته بیان کړي دي؟ (د هغه بل سړي).

تسهیلات:- قوله: فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ:

۵ **اغماء څخه مراد:-** ددې څخه مراد بې هوشي ده.ليونتوب نه دې.او دابې هوشي يو قسم بيماري ده.اودا په انبياء كرامو باندې هم راتلې شي .قرآن كريم كښې دي: ﴿وَخَرَّ مُوسَىٰ صَعِقًا﴾.او جنون د عقل د خرابۍ په وجه رازي.ددې نه انبياء كرام محفوظ وي.

[۱۱٤۸] سورة فاتحه نه ويلو سره د مانځه نيم ثواب حاصليږي

۳۸ــ()[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: ② مَنْ أَدْرَكَ الرَّكْعَةَ فَقَدْ أَدْرَكَ السَّجْدَةَ، ③ وَمَنْ فَاتَتْهُ قِرَاءَةُ أُمِّ الْقُرْآنِ فَقَدْ فَاتَهُ خَيْرٌ كَثِيرٌ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① د ابوهريره رضي الله عنه په باره كې منقول دي چې هغه فرمايل ② چا چې ركوع اوموندله هغه پوره ركعت وموندلو ③ او د كوم سړي نه چې سورة فاتحه د ويلو څخه پاتې شوه نو هغه د ډير ثواب څخه (هم محروم) پاتې شو. (مالك)

تسهيلات:-

قوله: فَاتَتْهُ قِرَاءَةُ أُمِّ الْقُرْآنِ:

په حديث كښې داحنافو توجيه:- ائمه احناف فرمائي چه ددې حديث مطلب هم هغه دې كوم چه د "فصلاته خداج" مطلب دې يعنى مونځ ناقص دې ثواب كم ملاويږي. دې نه معلومه شوه چه امام پسې شاته فاتحه لوستل فرض نه دى فرض مطلق قرآن لوستل دى. فاتحه د ځان له مونځ كونكي دپاره واجب ده اوامام پسې دا ذمه واري هم نه پاتې كيږي.

[۱۱٤۹] د امام څخه د مخكې كيدو عذاب(سزا)

۳۹ــ()[۱۴] ① وَعَنْهُ أَنَّهُ قَالَ: الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَخْفِضُهُ قَبْلَ الْإِمَامِ ② فَإِنَّمَا نَاصِيَتُهُ بِيَدِ الشَّيْطَانِ. رَوَاهُ مَالِكٌ).

ترجمه: ① د ابوهريره رضي الله عنه په باره كې منقول دي چې هغه (دا هم) فرمايل چې كوم سړي (په ركوع او سجده كې) خپل سر د امام څخه مخكې پورته كړي يا ښكته كړي ② (نو پوهه شي) چې د هغه تندي د شيطان په لاس كې دي. (مالك)

حل اللغات:- ① يَخْفِضُهُ: ښكته كوي (سر خپل). ② نَاصِيَتُهُ: تندي دهغه (مونځګذار).

تسهيلات:- قوله: فَإِنَّمَا نَاصِيَتُهُ بِيَدِ الشَّيْطَانِ:

د شيطان په تسلط كښې دوه احتمالات:-

① يعنى دهغه تندي د شيطان په لاس كښې دې هغه چه څنګه غواړي هغه تاووي. دا تسلط يا حقيقتاً دې چه واقعى د شيطان پټ لاس دهغه د تندى په ويښتو كښې پروت دې
② يادامجازاً دى يعنى شيطان هغه په خپله مرضئ سره تاووى اوچلوى.

---

[1] اخرجه مالک فى الموطا كتاب وقوت الصلاة ،باب من أدرک ركعة من الصلاة (رقم-۱۸) من كتاب قوت الصلاة
[2] اخرجه مالک فى الموطا رقم الحديث ۵۷

[۲۹/۴۵] بَابُ مَنْ صَلّٰى صَلَاةً مَرَّتَيْنِ

دوه ځله د مونځ کولو بیان

خلاصة الباب:-

فيه تسعة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① ثبوت الصلوة مرتين: ۱، ۲.

② الحكم بالشركة في الجماعة بعد الصلوة منفرداً وفضلها: ۳، ۴، ۵، ۶، ۷.

③ النه عن الصلوة مرتين: ۸.

④ النهي عن الشركة في الجماعة في بعض الأوقات بعد أداء الصلاة منفرداً: ۹.

په باب کښې د درې مسئلو بیان:-

① چه سړی په کورکښې کوم مونځ کړې دې هغه مونځ به په فرض کښې شمیرلې شي که په فرض کښې به نه شي شمیرلې کوم چه دې سړی په جمات کښې جمع سره کړې دې. دَدې خبروبیان په دې باب کښې راتلونکو احادیثو کښې راتلونکې دې

② چه یوسړی په کورکښې فرض اوکړل جمات ته راغلو نوونی کتل چه جمع ولاړه ده. داسې سړې په دې جمع کښې شریکیدوسره مونځ کولې شي که نه؟ یوه دامسئله شوه

③ چه مونځ گذار به کوم یومونځ فرض گرځوی اوکوم به نفل گرځوی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۱۵۰] حضرت معاذ رضی الله دوه ځله مونځ ولې اوکړو؟

۱۱۵۰-(۱)[۱] ⟦۱⟧ «عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ⟦۲⟧ ثُمَّ يَأْتِي قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⟦۱⟧ جابر رضی الله عنه فرمايي چې معاذ ابن جبل رضی الله عنه به (مخکې خو) د نبي کريم ﷺ سره مونځ وکړلو ⟦۲⟧ بیا به خپل قوم ته راغي هغوئ ته به يي مونځ ورکولو. (بخاري، مسلم)

تسهیلات:-

قوله: ثُمَّ يَأْتِي قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ:

د مفترض په متنفل پسې د اقتداء د جواز دلیل:- حضرت معاذ رضی الله عنه یقیناً دوه ځل مونځ

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/ باب إذا صلی ثم أم قوما (رقم-۷۱۱) و باب إذا طول الإمام. وكان للرجل حاجة. فخرج فصلی (رقم-۷۰۰) ومسلم کتاب الصلاة/بباب القراءة فی العشاء (رقم) ۱۸۰ - (۴۶۵) وابوداود کتاب الصلاة/باب فی تخفیف الصلاة (رقم-۷۹۰) والنسائی کتاب الافتتاح/باب القراءة فی العشاء الآخرة بسبح اسم ربک الأعلی (رقم-۹۹۷) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة. والسنة فیها/باب القراءة فی صلاة العشاء (رقم-۸۳۶)

کړې دي. دَ ماسخوتن مونځ ئی حضورپاك ﷺ سره کړې دي اوبيا راغلو خپل قوم ته ئی دَ ماسخوتن مونځ ورکړو. دې حديث سره بل حديث کښې تصريح ده چه دويم مونځ دَ هغه دپاره نفل جوړ شو. دې نه معلومه شوه چه حضرت معاذ رضي الله عنه متنفل وو اوقوم مفترض وو او متنفل پسې مونځ اداکړې شوې دې. دَدې مسئلې په جواز اوعدم جواز کښې دَ فقهاو سخت اختلاف دې ليکن دې نه مخکښې باب القرأة فی الصلوة دَدې تفصيل تيرشوې دې

[۱۱۵۱] د جماعت ثانيه حکم

۱۱۵۱-(۱)[۲][۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ[۲] ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى قَوْمِهِ فَيُصَلِّي بِهِمُ الْعِشَاءَ[۳] وَهِيَ لَهُ نَافِلَةٌ.» رَوَاهُ.

ترجمه:[۱] جابر رضي الله عنه فرمايي چې معاذ ابن جبل رضي الله عنه به د ماسخوتن مونځ (مخکې خو) د نبي کريم ﷺ سره کولو بيا به خپل قوم ته راغي او هغوئ ته به يې د ماسخوتن مونځ ورکولو او هغه به د هغه د پاره نفل وو. (بيهقي، دارقطني)

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث سره متعلقه چې کومه مسئله ده هغه اقتداء د مفترض په متنفل پسې، د دې تفصيل وړاندې په باب القراءة في الصلاة کښې تيرشوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۱۵۲] دفرض څخه روسته د نفلو په حيثيث سره په جماعت کښې شرکت کول

۱۱۵۲-(۲)[۳][۱] «عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْأَسْوَدِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ:[۲] شَهِدْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّتَهُ، [۳] فَصَلَّيْتُ مَعَهُ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي مَسْجِدِ الْخَيْفِ،[۴] فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ وَانْحَرَفَ.[۵] فَإِذَا هُوَ بِرَجُلَيْنِ فِي آخِرِ الْقَوْمِ لَمْ يُصَلِّيَا مَعَهُ،[۶] قَالَ: "عَلَيَّ بِهِمَا"،[۷] فَجِيءَ بِهِمَا تَرْعَدُ فَرَائِصُهُمَا.[۸] فَقَالَ: "مَا مَنَعَكُمَا أَنْ تُصَلِّيَا مَعَنَا؟"

ترجمه:[۱] يزيد ابن اسود رضي الله عنه فرمايي[۲] چې زه د نبي کريم ﷺ سره په حج (حجة الوداع) کې شريك وم[۳] (په هغه موقع يوه ورځ) ما د حضور ﷺ سره په مسجد خيف کې د سحر مونځ وکړو[۴] کوم وخت چې حضور ﷺ د لمانځه څخه فارغ شو[۵] نو څه ګوري چې دوه سړي د جماعت په آخر کې ناست دي چې هغوئ د حضور ﷺ سره مونځ نه وو کړي[۶] حضور ﷺ (د هغوئ په ليدو سره) خلقو ته وفرمايل دا دواړه ماته راولئ[۷] هغه دواړه د

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/ باب إذا طول الإمام، وکان للرجل حاجة، فخرج فصلی (رقم-۷۰۱) و باب إذا طول الإمام، وکان للرجل حاجة، فخرج فصلی (رقم-۷۰۰)ومسلم فی کتاب الصلاة/باب أمر الأئمة بتخفيف الصلاة فی تمام (رقم) ۱۸۶ - (۴۶۸)

[۲] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/باب فيمن صلی فی منزله ثم أدرک الجماعة يصلی معهم (رقم-۵۷۵)والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الرجل يصلی وحده ثم يدرک الجماعة (رقم-۲۱۹) والنسائی کتاب الإمامة/باب إعادة الفجر مع الجماعة لمن صلی وحده (رقم-۸۵۸)

حضور ﷺ په خدمت کې په داسې حال کې حاضر کړي شو چې (د حضور ﷺ د هيبت په وجه) د هغوئ د اوږو غوښه ريپدله [۸] حضور ﷺ د هغوئ څخه پوښتنه وکړه چې تاسو زمونږ سره د لمانځه کولو څخه کوم شي منع کړي وئ؟

حل اللغات:- ① الحَرَفَ: أي: الصَّرَفَ: راوګرځيدو. ② عَلَيَّ بِهِمَا: دا اسم فعل دې، أي: ائْتُونِي بِهِمَا وَأَحْضِرُوهُمَا: دواړه ماته راولئ، حاضرئې کړئ ماته. ③ تُرْعَدُ: أي تُحَرَّكُ: ريپدلې (دا کنايه ده د ويرې او اضطراب نه). ④ فَرَائِصُهُمَا: د فريصة جمع ده، وَهِيَ اللَّحْمَةُ الَّتِي بَيْنَ جَنْبِ الدَّابَّةِ وَكَتِفِهَا: د اوږو او اړخ په مينځ کښې غوښې ته وائي.

[۱] فَقَالَا: يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّا كُنَّا قَدْ صَلَّيْنَا فِي رِحَالِنَا، [۲] قَالَ: " فَلَا تَفْعَلَا، إِذَا صَلَّيْتُمَا فِي رِحَالِكُمَا، [۳] ثُمَّ أَتَيْتُمَا مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَصَلِّيَا مَعَهُمْ، [۴] فَإِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] هغوئ عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ مونږ په خپل مکان کې مونځ کړي وو [۲] حضور ﷺ ورته وفرمايل بيا داسې مه کوئ که تاسو په خپل مکان کې مونځ کړي وي [۳] او هغه مسجد ته راشئ چرته چې جماعت کيږي نو د خلقو سره هم مونځ وکړئ [۴] دا مونځ به ستاسو د پاره نفل شي. (ابوداؤد، نسايي)

حل اللغات:- ⑤ رِحَالِنَا: أي: مَنَازِلِنَا: په خپلو کورونو کښې.

تسهيلات:-

قوله: فَإِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ:

د انفراداً مونځ کولو څخه روسته په جماعت کښې د شريکيدو په حکم کښې مذاهب:-

لکه څنګه چه مخکښې ليکلې شوی دی چه په دې مقام باندې هوه مسئلې دی. اول مسئله دا چه يو سړی مثلاً په کور کښې مونځ اوکړو او جمات ته په راتلوسره هغه جمع اوليدله اوس هغه په جمع کښې بغيرد څه تأمل شامل شی که څه اوکړی؟ په دې کښې د فقهاؤ اختلاف دې.

① د امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز دا سړې په پنځوواړو مونځونو کښې شامليدې شی دا د هغه نفل مونځ دې. د سحر، ماسپښين، مازيګر، ماښام او ماسخوتن هرمونځ کښې دا سړې د نفل کولو په غرض سره شامليدې شی.

② امام مالک رحمه الله فرمائی چه داسې سړې د ماښام په مونځ کښې د نفل کولو په غرض سره نه شی شامليدې باقی څلورو مونځونو کښې شامليدې شی. بعضې علماء د امام مالک رحمه الله مسلک هم دا بنائی چې سحر اوماښام دواړو کښې شامليدل صحيح نه دی.

③ ائمه احناف فرمائی چه داسې سړې د نفل کولو په غرض سره صرف د ماسپخين او ماسخوتن په مونځ کښې شامليدې شی باقی سحر، مازيګر او ماښام کښې شامليدې نه شی.

د اول فریق دلیل:-

زیر بحث دَ یزید بن الاسود رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دي. په دې کښې تصریح دې چه دَ منیٰ مسجدخیف کښې حضورپاك ﷺ دَ سحر مونځ کښې دوو کسانوته په جمع کښې دَ شرکت تعلیم ورکړو او وئې فرمائیل چه دا دویم مونځ کوم چه په جمع سره کړې دې دا ستاسو دپاره نفل دی. دا حدیث په خپله مدعا باندې ډیر واضح دلیل دې.

د اول فریق د دلیل جوابونه:-

① ډیره ممکنه ده چه دا دَ هغه وخت خبره وی کله چه په یو وخت کښې دوه ځل دَ فرض مونځ کولو اجازت وو.

② دا هم ډیره ممکنه ده چه دا جواز دَ هغه زمانې سره متعلق وی کله چه دَ سحر او مازیګر دَ مونځ نه پس دَ نفل کولو ممانعت حکم نه وو راغلې.

③ دلته دَ مبیح او محرم مسئله ده اودَ مبیح اومحرم چه کله مقابله راشی نو ترجیح محرم ته ورکولې شی لهذا احنافو محرم ته ترجیح ورکړې ده.

د دویم فریق دلیل:- بعضې روایاتو کښې "الاالمغرب" الفاظ دی کوم چه موطا مالك کښې موجود دی. دې نه علاوه په نورو مونځونو کښې دَ عام اجازت دَ روایاتو نه هغه استدلال کوی. د ماښام په وخت کښې دویم فریق هسې هم د دریم فریق یعنی احنافو سره دې نو جواب ته څه ضرورت نشته. البته په نورو مونځونو کښې داول فریق دلیل په جواز کښې د دوی دلیل هم دې د دې وجې د اول فریق د مستدل نه چې کوم درې جوابونه ذکر شوی دی بعینها هم هغه جوابونه د دویم فریق د دلیل نه هم ده.

د دریم فریق دلائل:-

① دَ سحر او مازیګر دَ مونځونونه پس نفل کول دَ متواتر احادیثو په رڼا کښې ممنوع دی او په دغه ممانعت کښې هیڅ شبه یا ابهام نشته او ممانعت عام دې. لهذا په کور کښې دمونځ کولونه پس سحر اومازیګر کښې دَ نفل کولو نه عام متواتر احادیثو مخالفت لازم راځی. او په ماښام کښې خو هم یو "الاالمغرب" استثناء ده دَ کوم نه چه ممانعت ثابت دې.

② چه کوم سرې دَ ماښام نفل کوی نو یا به امام سره سلام ګرځوی نو درې رکعته نفل به جوړشی او درې نفل په اسلام کښې معهود اومعروف نه دی. او که دا سړې پاسی او نور یو رکعت ورسره ملاؤ کړی څلور رکعته نفل جوړ کړی لکه څنګه چه شوافع فرمائی نو په دې سره دَ امام مخالفت لازم راځی کوم چه منع دې.

③ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما اثر پخپله په مشکوة کښې دَدې باب آخره کښې حدیث نمبر۹ کښې راتلونکې دې دَ کوم الفاظ چه داسې دی: ((من صلى المغرب والصبح ثم ادركهما مع الامام فلا يعد لهما)) (رواه مالك)

انفراداً او جماعة مونځ کښې کوم فرض حسابيږي په دې کښې مذاهب:-

دلته دويمه مسئله داده چه کله چرې فرض کونکی سړې راشي جمع سره مونځ اوکړي نو آيا اولني مونځ به په فرض کښې شميرلې کيږي که دويم مونځ به فرض شميرلې کيږي؟ کوم يو مونځ هم چه فرض اوشميرلې شي نو دويم به نفل شميرلې کيږي.

① په دې کښې دَ شوافعو حضراتو يو قول دادې چه دَ تعين نه بغير يو فرض دې او دويم به نفل جوړشي. دويم قول دادې چه دواړه به فرض شميرلې کيږي. دريم قول دادې چه اول مونځ به فرض وی او دويم به نفل جوړيږي. هم دا دَ شوافعو په نيز مختار هم دی.

② ائمه احناف فرمائي چه ړومبې مونځ به فرض شميرلې کيږي او دويم مونځ به نفل جوړيږي لکه څنګه چه دَ شوافع مختار قول دې.

دَ احنافو په دليل او تائيد کښې هغه ټول روايات دی په کوم کښې چه دويم مونځ ته صراحت سره نفل وئيلې شوې دې. "فأنهالك نافلة" دې سړی ته به دَ جمع ثواب ملاويږی او نفل به ملاؤ شی. باقی فرض مخکښې شوی دی

د مسئلة الباب حکم په الله تعالى باندې پريخودل:- هسې دا مسئله مغيباتو سره تعلق لري چه په آخرت کښې به څه کيږي. په دې وجه دا دَ الله تعالى په رضا باندې پريخودل پکار دی. لهذا دا بحث په دنياکښې هډو چيړل نه دی پکار لکه چه دَ ابن عمر رضي الله عنه حديث نمبر۷ کښې راغلی دی هغوی دَ چا نه تپوس اوکړو چه زه کوم يو مونځ فرض جوړ کړم. نو هغوی ورته په جواب کښې اوفرمائيل چه دا ستا کار نه دې بلکه دادَ الله تعالى په رضا باندې دې هغه چه کوم نه فرض جوړول غواړی جوړ به کړی.

قوله: تُرْعَدُ: دا دَ رعد نه دَ ړچيدو په معنی کښې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۱۵۲] دحضرت محجن رضی الله عنه څا لله مونځ کول

۱۱۵۳—()[۴] [۱] «عَنْ بُسْرِ بْنِ مِحْجَنٍ عَنْ أَبِيهِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ» [۲] أَنَّهُ كَانَ فِي مَجْلِسٍ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُذِّنَ بِالصَّلَاةِ، [۳] فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى، [۴] وَرَجَعَ، وَمِحْجَنٌ فِي مَجْلِسِهِ، [۵] فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ؟ [٦] أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ؟ [۷] فَقَالَ: بَلَى، يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَلَكِنِّي كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِي أَهْلِي.

ترجمه: [۱] بسر ابن محجن د خپل پلار بزرګوار څخه روايت کوي [۲] چې د هغه پلار (محجن) په يو مجلس کې د نبي کريم ﷺ ملګري وو چې د لمانځه د پاره اذان وشو [۳]

[۱] اخرجه النسائی کتاب الإمامة/باب إعادة الصلاة مع الجماعة بعد صلاة الرجل لنفسه (رقم-۸۵۷) ومالک فی الموطا کتاب صلاة الجماعة، باب إعادة الصلاة مع الإمام (رقم-۸)

حضور ﷺ د لمانځه د پاره ودريدلو ④ د لمانځه څخه چې فارغ شو نو وي ليدل چې محجن په خپل ځاي ناست دي⑤ حضور ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه چې د خلقو سره د لمانځه کولو څخه ته څه شي منع کړي وي ⑥ آيا ته مسلمان نه يې؟ چې مونځ دي ونه کړو⑦ ما عرض وکړو چې بيشکه زه مسلمان يم ليکن (خبره دا ده چې) ما په خپل کور کې مونځ کړي وو

① فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " إِذَا جِئْتَ الْمَسْجِدَ، وَكُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ، فَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ ; ③ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① حضور ﷺ هغه ته وفرمايل هر کله چې ته مسجد ته راشي او مونځ (دي په خپل کورکي کړي وي) او په مسجد کې جماعت ولاړ وي نو د خلقو سره (دوباره) مونځ وکړه اگر که تا مونځ کړي وي. (مالك، نسايي)

تسهيلات:-

قوله: أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ:

په جماعت کښې په عدم شرکت باندې سخته زورنه:- يعنى ټول خلق په جمات کښې په جمع سره مونځ کوی او ته شاته ناست ئې او په مونځ کښې نه شامليږې ولې ته مسلمان نه ئې؟ ځکه چه دا طرزعمل خودَ مسلمانانونه دې.

دبې لمانځه مسلمان دپاره تنبيه:- په دې جمله سره هرمسلمان له سوچ پکاردې چه مونځ نه کول دکافرانوطريقه ده مسلمان هم هغه وی چه مونځ کوی. صحابه کرامو به هم هغه سړې مسلمان نه گڼړلو چه مونځ به ئې پريخودو.

[١١٥٤] په دوباره مونځ کولو ثواب ملاويدل

١١٥٤-(١)[٥] ① «وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ، أَنَّهُ سَأَلَ أَبَا أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيَّ، ② قَالَ: يُصَلِّي أَحَدُنَا فِي مَنْزِلِهِ الصَّلَاةَ، ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ، ③ وَتُقَامُ الصَّلَاةُ، فَأُصَلِّي مَعَهُمْ، ④ فَأَجِدُ فِي نَفْسِي شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ، ⑤ قَالَ أَبُو أَيُّوبَ: سَأَلْنَا عَنْ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ⑥ فَقَالَ: " فَذَلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① د قبيله اسد ابن خزيمه د يو سړي په باره کې روايت دي چې هغه د حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه② چې په مونږ کې يو سړي (په خپل کور کې) مونځ کوي بيا هغه مسجد ته راشي③ او (ويني چې) هلته مونځ کيږي نو آيا زه د هغوئ سره (دوباره) مونځ وکړم ؟④ زه په خپل زړه کې يوه خدشه محسوسوم (يعني زما په زړه کې دا شبه پيدا کيږي چې آيا دوباره مونځ کول زما د پاره بهتر دي که نه؟)⑤ ابو ايوب انصاري رضي الله عنه ورته وفرمايل مونږ (هم دا سوال) د نبي کريم ﷺ څخه کړي وو⑥ نو رسول الله ﷺ

[1] اخرجه ابوداود كتاب الصلاة/باب فيمن صلى فى منزله ثم أدرک الجماعة يصلى معهم (رقم-٥٧٨)ومالک فى الموطا كتاب صلاة الجماعة . باب إعادة الصلاة مع الإمام (رقم-١١)

وفرمايل چې دا (دوباره مونځ كول) د هغه د پاره د جماعت نصيبه ده، (مالك، ابوداؤد)

حل اللغات:- ① فَأَجِدُ فِي نَفْسِي شَيْئًا: أَيْ: شُبْهَةً: زما په زړه كښې يوه شبهه ده، ويره ده. ② سَهْمُ: أَيْ: نَصِيبٌ مِنْ ثَوَابٍ: حصه، (يعنى برخه د ثواب). ③ جَمْعٍ: اى الْجَمَاعَةِ: جماعت سره مونځ كول.

تسهيلات:-

قوله: فَذٰلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ:

په جماعت كښې د نفلو په نيت شركت كول:- مطلب دا چه يوسړى په كوركښې مونځ اوكړو اوبيا جمات ته راغلو اوجمع ئې ولاړه اوليدله نودې سړى له په دې كښې شامل كيدل پكاردى. دَ فرض ثواب هغه ته په اول ځل مونځ كولوسره ملاؤشو او په دې مونځ سره دده ته دَجمع فضيلت او سعادت ملاؤ شو.

د حديث مصداق:- يادلرئى دا دَماسپښين اوماسخوتن په مونځونوكښې كيدې شى لكه چه دَاحنافو اومالكيه مسلك دې. خودَشوافع او حنابله په نيزدا حديث مطلق دې په ټولو مونځونوكښې شامل كيدې شى لكه چه دَدې حديث تقاضاده، تفصيل اول شوې دې.

[۱۱۵۵] دجماعت ثانيه حكم

۱۱۵۵-()[٢] [١] «وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢] جِئْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ، [٣] فَجَلَسْتُ وَلَمْ أَدْخُلْ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ. [۴] فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآنِي جَالِسًا، فَقَالَ: [۵] "أَلَمْ تُسْلِمْ يَا يَزِيدُ؟" [٦] قُلْتُ: بَلَى، يَا رَسُولَ اللّٰهِ! قَدْ أَسْلَمْتُ،

ترجمه: [١] يزيد ابن عامر رضي الله عنه فرمايي [٢] چې (يوه ورځ) زه د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شوم او حضور ﷺ هغه وخت د خلقو سره مونځ كولو [٣] زه يو طرف ته كيناستم او د هغه خلقو سره په جماعت كې شريك نه شوم [۴] حضور ﷺ چې د لمانځه څخه فارغ شو او زه يي (يو طرف ته) ناست وليدم نو وي وفرمايل [۵] يزيده آيا ته مسلمان نه يي؟ [٦] (چې مونځ دې ونه كړو) ماعرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ بيشكه زه مسلمان يم

[١] قَالَ: "وَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَدْخُلَ مَعَ النَّاسِ فِي صَلَاتِهِمْ؟" [٢] قَالَ: إِنِّي كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِي مَنْزِلِي، أَحْسَبُ أَنْ قَدْ صَلَّيْتُمْ. [٣] فَقَالَ: "إِذَا جِئْتَ الصَّلَاةَ فَوَجَدْتَ النَّاسَ، فَصَلِّ مَعَهُمْ [۴] وَإِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ، [۵] تَكُنْ لَكَ نَافِلَةً، وَهٰذِهِ مَكْتُوبَةٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] حضور ﷺ وفرمايل بيا د خلقو سره په لمانځه كې د شريكيدو څخه ته څه شي منع كړي؟ [٢] ما عرض وكړو چې ما په خپل مكان كې مونځ كړي وو (اوس د راتلو په وخت مي) دا خيال وو چې تاسو به هم د لمانځه څخه فارغ شوي يئ [٣] حضور ﷺ وفرمايل هر كله چې ته مونځ ته راشي او خلق په لمانځه كولو ووينې نو ته هم د هغوئ سره په لمانځه

() اخرجه ابوداود كتاب الصلاة/باب فيمن صلى فى منزله ثم أدرك الجماعة يصلى معهم (رقم-۵۷۷)

کې شامل شه۴ اگر که تا (مخکې هغه) مونځ کړي وي۵ او دا په دويم ځل مونځ به ستا د پاره نفل شي او هغه (اولني لمونځ) به فرض اداشي. (ابوداؤد)

حل اللغات: ① أَحْسَبُ: أَيْ: ظَانًّا: زما ګمان دې (چه تاسو به مونځ نه فارغ شوی يې).

تسهیلات: - قوله: تَكُنْ لَكَ نَافِلَةً:

د تکن ضمير مرجع: - د تکن ضمير مرجع هغه مونځ دې کوم چې جمعې سره ادا کړې شوې وی. او د هذا مشار اليه هغه مونځ دې کوم چې ځانله ادا کړې شوې وی.

[۱۱۵٦] په کور کښې ادا کړې مونځ بيا په جماعت سره د ملاويدلو صورت

۱۱۵٦-(۱)[۷] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَهُ فَقَالَ: ۲ إِنِّي أُصَلِّي فِي بَيْتِي، ثُمَّ أُدْرِكُ الصَّلَاةَ فِي الْمَسْجِدِ مَعَ الْإِمَامِ، أَفَأُصَلِّي مَعَهُ؟ ۳ قَالَ لَهُ: نَعَمْ، ۴ قَالَ الرَّجُلُ، أَيَّتَهُمَا أَجْعَلُ صَلَاتِي؟ ۵ قَالَ ابْنُ عُمَرَ: وَذَلِكَ إِلَيْكَ؟ ٦ إِنَّمَا ذَلِكَ إِلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، يَجْعَلُ أَيَّتَهُمَا شَاءَ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ۱ د ابن عمر رضی الله عنهما په باره کې منقول دي چې د هغه څخه يو سړي پوښتنه وکړه ۲ چې زه په خپل کورکي مونځ کوم بيا مسجد ته (په داسې وخت رارسم) چې خلق امام پسې مونځ کوي نو آيا زه هم په هغه امام پسې مونځ وکړم؟ ۳ ابن عمر رضی الله عنهما وفرمايل هو، بيا ۴ هغه سړي پوښتنه وکړه چې (په دې کې) زه خپل (فرض لمونځ) کوم يو وګرځوم؟ (اولني يا دويم) ۵ ابن عمر رضی الله عنهما ورته وفرمايل آيا دا ستا کاردي؟ (يعني په دې کې يو فرض مونځ ګرځول ستا کار نه دي) ٦ دا خو د الله بزرګ وبرتر په اختيار کې دي چې هغه کوم غواړي ستا (فرض) مونځ وګرځوي. (مالك)

تسهیلات: -

قوله: يَجْعَلُ أَيَّتَهُمَا شَاءَ:

د دواړو مونځو په ګرځولو کښې اختيار: - په دې بناء ځيني علماء کرامو ليکلی دی چې کله دويمه جمعه کيږی نو هيڅوك دې په دې د نفلو نيت نه کوی بس صرف دومره دې اووائی چې زه مونځ کوم.

[۱۱۵۷] په يوه ورځ کښې يو مونځ دوباره کولو څخه ممانعت

۱۱۵۷-(۲)[۸] ۱ «وَعَنْ سُلَيْمَانَ مَوْلَى مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ أَتَيْنَا ابْنَ عُمَرَ عَلَى الْبَلَاطِ، وَهُمْ يُصَلُّونَ. ۳ فَقُلْتُ: أَلَا تُصَلِّي مَعَهُمْ؟ ۴ فَقَالَ: قَدْ صَلَّيْتُ، وَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ۵ "لَا تُصَلُّوا صَلَاةً فِي يَوْمٍ مَرَّتَيْنِ»" رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ د ام المؤمنين بي بي ميمونه رضی الله عنها آزاد کرده غلام سليمان رضی الله عنه فرمايي ۲ چې

---

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب صلاة الجماعة. باب إعادة الصلاة مع الإمام (رقم-۹)
(۲) اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحديث ۵۷۹ والنسائی رقم الحديث ۸٦ واحمد فی المسند ۲/۱۹

(یو ورځ) مونږ حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته په مقام بلاط کې راغلو خلقو هغه وخت (په مسجد کې) مونځ کولو۳ ما ابن عمر رضی الله عنه ته عرض وکړو آیا تاسو د خلقو سره مونځ نه کوی؟۴ ابن عمر رضی الله عنه وفرمایل چې ما مونځ کړي دي او ما د نبي کریم ﷺ څخه دا اوریدلي دي۵ چې تاسو یوه ورځ (یعني په یو وخت کې یو مونځ دوه ځله مه کوئ. (ابوداؤد، نسایي، احمد)

حل اللغات:- ① اَلْبَلَاطُ: ضَرْبٌ مِنَ الْحِجَارَةِ تُفْرَشُ بِهِ الْأَرْضُ، یو قسم کاڼې دی چه په زمکه خورولي شی، وَهُوَ مَوْضِعٌ مَعْرُوفٌ بِالْمَدِیْنَةِ: مدیني منورې سره نژدې د یو خاص ځاې نوم دې هغې ته بلاط وائي.

تسهیلات:- قوله: أَتَیْنَا ابْنَ عُمَرَ عَلَی الْبَلَاطِ:

په جمات کښې د دنیاوی خبرو څخه ځان ساتلو د عمر رضی الله عنه طریقه:- په مدینه منوره کښې دَ مسجد نبوی نه بهر حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یو ځائی جوړ کړې وو دې دپاره چه خلق دنیاوی خبرې دَ جمات په ځائې په دغه ځائې کښې کیناستو سره کوی هم دَ دغه ځائی نوم بلاط دې.

قوله: لَا تُصَلُّوا صَلَاةً فِي یَوْمٍ مَرَّتَیْنِ:

دَ دې جملې مطلب دا دې چه یو سړی اول فرض کړی وی او اوس په جمع سره بیا هم دغه فرض دوباره کوی او دا ممنوع او منسوخ دی. دَ اسلام په شروع کښې به داسې کیدل لیکن بیا ممانعت راغلو.

[۱۱۵۸] د منفرد دپاره د صبا او ماښام په مونځ کښې امام سره عدم شرکت کول

۱۱۵۸-(۹)[۱] ۱ وَعَنْ نَافِعٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ: ۲ مَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ أَوِ الصُّبْحَ، ۳ ثُمَّ أَدْرَكَهُمَا مَعَ الْإِمَامِ، ۴ فَلَا يَعُدْ لَهُمَا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ۱ نافع رحمه الله راوي دي چې حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه به فرمایل ۲ کوم سړي چې د ماښام یا د سحر مونځ (تنها) وکړو ۳ بیا دا لمونځونه یې د امام سره بیا مونده (یعني چېرته چې جماعت کیدو هلته ورسیدو) ۴ نو هغه دي دوباره نه کوي (مالک)

حل اللغات:- ① فَلَا يَعُدْ: دا د عود نه دې واپس کول او دوباره کولو ته وائي. یعنی بیا دې دوباره نه کوی.

تسهیلات:-

دصحر او ماښام څخه روسته دامام سره عدم شرکت:- دا حدیث دَ مالکیه او حنفیه دواړو دپاره دلیل دې چه څه وختونه داسې دی چه په هغې کښې دَ فرضو کولونه پس نفل کول جائز نه دی. احنافو دَ مازیګر دَ مونځ نه پس وخت په دې کښې شمیر کړې دې ځکه چه په احادیثو کښې په دغه وخت کښې دَ مونځ کولونه ممانعت ذکر هم دې.

[1] اخرجه مالک فی الموطا کتاب صلاة الجماعة، باب إعادة الصلاة مع الإمام (رقم-۱۲)

[۳۰/۴۶] بَابُ السُّنَنِ وَفَضَائِلِهَا

د سنتو د فضيلت بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية وعشرون حديثاً مشتملة على ثلاث عشرة مسائل:

① عدد السنن المؤكدة في اليوم والليلة: ۱، ۲، ۴.

② عدد السنن يوم الجمعة: ۳، ۸، ۲۸.

③ تاكيد سنة الفجر: ۵، ۶.

④ حكم الصلوة قبل المغرب: ۷، ۲۱، ۲۲، ۲۳.

⑤ فضيلة سنة الظهر: ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۹.

⑥ النفل قبل العصر: ۱۲، ۱۳، ۱۴.

⑦ النفل بعد المغرب: ۱۵، ۱۶.

⑧ السنة بعد العشاء: ۱۷.

⑨ إثبات بعض السنن بنص القرآن: ۱۸، ۱۹.

⑩ حكم الصلوة بعد العصر: ۲۰، ۲۱.

⑪ الترغيب على أداء السنن في البيوت: ۲، ۳، ۴، ۲۴.

⑫ حكم أداء السنة في المسجد: ۲۵.

⑬ الفصل بين الفرض والسنة: ۲۷.

د سنت لغوی معنی:- سنت په لغت کښې لارې او طريقې ته وائی.

د سنت اصطلاحی تعريف:- د سنت تعريف دا دې. ((ماواظب عليه النبی صلی الله عليه وسلم وترکه مرة اومرتين)).

يعنی چې نبی کريم په کوم يوعمل باندې هميشوالې او مواظبت کړې وی او يو ځل دوه ځله ئې پريخودې وی. بلـه دا چې سنت تطوع، نفل، مستحب مترادف الفاظ دی دَ يويل په ځائی باندې وئيلې شی. دلته په دې باب کښې د مانځه د سنتو بيان کيږی.

د سنت دوه قسمونه:-

① **سنت مؤکده:** د ته سنن رواتب هم وئيلی شی دا هغه سنت دی په کوم باندې چه حضورپاک ﷺ هميشه والې کړې دې سنن مؤکده تبول دولس دی

② **سنن زوائد:** دې ته غير رواتب هم وائی دا هغه دی چه په کوم باندې حضورپاک ﷺ

همیشه والې نه دې اختیار کړې. دَ سنن غیرمؤکده تحدید نشته دې البته دَدې دومره بیان دې چه دَ ماز یګرنه وړاندې څلور کعته دی. دغه شان دَ ماسخوتن نه وړاندې څلور کعته دی.
دسنتو د مشروعیت دوه فائدې:-

① په فرائضو کښې چرته نقص پاتې شی دَدې نقص لرې کولو دَپاره سنت مشروع شوی دی.
② چې بدن په فرائضو ادا کولو اموخته شی د دې دپاره نفل او سنت مشروع شوی دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١١٥٩] په شپه او ورځ کښې د دولس رکعته سنتو کولو فضیلت

١١٥٩-()[١] ① عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً ; ③ بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ: ④ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ" ⑤ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ، ⑥ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① بي بي ام حبيبه رضي الله عنها راويه ده چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې په ورځ او شپه کې دولس رکعاته مونځ وکړي ③ نو هغه د پاره جنت کې کور جوړول کيږي ④ (او هغه دولس رکعاته دا دي) څلور رکعاته دماسپخين (د فرض لمانځه) څخه مخکې او دوه رکعاته د هغې څخه وروسته او دوه رکعاته د ماښام (د فرضو) څخه وروسته ⑤ او دوه رکعاته د ماسخوتن (د فرضو) څخه وروسته ⑥ او دوه د سحر (د فرضو) څخه مخکې. (ترمذي)

① وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② "«مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلَّهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ ; ③ إِلَّا بَنَى اللَّهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ④ أَوْ إِلَّا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ»".

ترجمه: ① او د مسلم د يو روايت الفاظ دا دي چې بي بي ام حبيبه رضي الله عنها وفرمايل چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ② چې کوم مسلمان بنده په هره ورځ کې د الله جل شانه دپاره د فرض لمونځونو څخه علاوه دولس رکعاته (سنت) کوي ③ نو الله تعالى جل جلاله د هغه دپاره په جنت کې کور جوړوي ④ يا وي فرمايل چې د هغه د پاره په جنت کې کور جوړولي شي.

حل اللغات:- ① تَطَوُّعًا: نفلو ته وائی دلته ترې سنت مونځونه مراد دی.

تسهيلات:-

قوله: مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً:

د دولسو رکعتونو په کولو په جنت کښې محل جوړيدل:- يعنی په خليريش ګهنتو کښې چه کوم سړې دولس رکعته سنت اوکړی دَ هغه دَپاره به په جنت کښې يو محل تيارېږی. هغه دولس رکعته داسې دی چه دَماسپخين نه مخکښې څلور او روستو دوه دی. دَماښام نه

١) اخرجه مسلم فی صحيحه رقم الحديث ١٠٣/ ٧٢٨ وابوداود كتاب الصلاة، باب تسوية الصفوف (رقم-٦٧٠)

پس دوه دی دَ ماسخوتن نه پس دوه دی او دَ سحر دَ مونځ نه مخکښې دوه رکعته دی. زیر بحث حدیث کښې هم دغه شان ترتیب دې. لیکن په څه نورو روایتونوکښې په دې ترتیب کښې دَماسپښین نه مخکښې سنتو کښې معمولی شان فرق دې دَ کوم په وجه چه په فقهاؤ کښې اختلاف راغلې دې.

په دوؤ مسئلو کښې اختلاف: - دَ فرض مونځونو نه مخکښې او روستو چه کوم سنت دی په هغې کښې دَ فقهاؤ په نیز دوو مسئلو کښې اختلاف دې. یو خو په دې کښې اختلاف دې چه آیا په دې سنتوکښې څه تحدید او تعین شته که نه؟ یعنی چه دَدې رکعتونه محدود دی که محدود نه دی.

د سنتو په تحدید کښې مذاهب:-

① حضرت امام مالک رحمه الله فرمائی چه په دې کښې دَ دوو یا څلورو هیڅ تحدید نشته دې څومره چه یو سړې کول غواړی کولې شی. او هغه تعداد بهرحال افضل دې دَ کوم ذکر چه په احادیثو کښې راغلې دې اولکه څنګه چه په زیر بحث حدیث کښې دې.

② جمهور فرمائی چه ددې سنتو تعداد محدود اومتعین دې.

د ماسپښین سنت قبلیؤ په تعداد کښې مذاهب:-

دویمه اختلافی مسئله داده چه دَدې سنتو تعداد څومره دې؟

① نو امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی چه په شپه ورځ کښې دَدې سنتو تعداد لس دې. دَماسپخین دَ مونځ نه مخکښې څلور نه بلکه دوه رکعته دی.

② ائمه احناف فرمائی چه شپه ورځ کښې دَ دې سنتو شمیر دولس دې. دَماسپخین نه مخکښې دوه نه بلکه څلور سنت دی.

داول فریق دلیل: - دَحضرت ابن عمر رضی الله عنهما روایت د دوی مستدل دې چه دې سره دویم نمبر حدیث دې دکوم الفاظ چه دادی: ((صلی النبی صلی الله علیه وسلم رکعتین قبل الظهر))

داول فریق د دلیل جواب: - په دې روایت کښې دَ تحیة المسجد دَ دوو رکعتو ذکر دې دَماسپخین دَ څلورو رکعتو بیان نه دې دې دپاره چه ټولو احادیثو سره دا روایت موافق او مطابق شی.

د دویم فریق دلائل: - ①زیر بحث د حضرت ام حبیبه رضی الله عنها روایت د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه "اربعاقبل الظهر" صریح الفاظ راغلی دی.

② دغه شان حدیث نمبر ۴ کښې هم دَ څلورو رکعتونو لفظ موجود دې.

③ په حدیث نمبر ۹ کښې هم دَ څلورورکعتونو ذکر دې.

④ بیا حدیث نمبر ۱۰ کښې دَ څلورو رکعتونوذکر دې.

⑤ دغه شان حدیث نمبر ۱۱ دَ څلورو رکعتونوذکر دې.

⑥ حدیث نمبر ۱۹ کښې هم دَدې ثبوت ملاویږی.

[۱۱۶۰] د ماسپخین، ماښام او ماسخوتن سنت

---()[۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا، [۳] وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ، [۴] وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ فِي بَيْتِهِ» [۵] قَالَ: وَحَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ حِينَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضی الله عنه فرمايي [۲] چې ما د نبي كريم ﷺ سره د ماسپخين (د فرض لمانځه) څخه مخكې دوه ركعاته د هغې څخه وروسته دوه ركعاته [۳] او د حضور ﷺ په كور (يعني د بي بي حفصې رضی الله عنها په حجره كې چې د ابن عمر رضی الله عنه خور وه) د ماښام (د فرض لمانځه څخه وروسته) دوه ركعاته [۴] او د حضور ﷺ په كوركې د ماسخوتن (د فرض لمانځه) څخه وروسته دوه ركعاته كړي دي [۵] او ابن عمر رضی الله عنه وفرمايل چه بي بي حفصه رضی الله عنها ماته بيان وكړو چې حضور ﷺ به دوه مختصر ركعاتونه هغه وخت كول چې سحر به طلوع شوې. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① خَفِيفَتَيْنِ: د خفيفة تثنيه ده، مختصر مونځ كول مراد دى.

تسهيلات:-

قوله: وَحَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ:

دسحر دوه ركعته سنتو دپاره د حفصې رضى الله عنها د حوالې وركولو وجه:- حضرت ابن عمر رضی الله عنه دَ سحر دَ مونځ نه مخكښې دوه ركعتو ذكر دَحضرت حفصه رضی الله عنها په حواله سره اوكړو. دَدې وجه داده چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه پخپله حضورپاك ﷺ په جمات كښې دوه ركعته سنت كولوسره نه وو ليدلې. په دې وجه ئې دَ حضرت حفصه رضی الله عنها په حواله سره تذكره اوكړه اوحضرت حفصه رضی الله عنها دَ رسول الله ﷺ دوه ركعته سنت په كوركښې كولو سره ليدلې وو په دې وجه هغې بيان اوكړو.

[۱۱۶۱] د جمعې سنت

---()[۳] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ [۲] حَتَّى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخارى فى باب الصلاة بعد الجمعة وقبلها (رقم-۹۳۷)و فى كتاب الجمعة/ باب التطوع بعد المكتوبة (رقم-۱۱۷۳) مسلم فى كتاب الصلاة/ باب فضل السنن الراتبة قبل الفرائض وبعدهن. وبيان عددهن (رقم)-۱۰٤ (۷۲۹) ابوداود كتاب الصلاة.باب تفريع أبواب التطوع وركعات السنة (رقم-۱۲۵۰) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن أول ما يحاسب به العبد يوم القيامة الصلاة (رقم-٤١٤) والنسائى كتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب ثواب من صلى فى اليوم والليلة ثنتى عشرة ركعة سوى المكتوبة وذكر اختلاف الناقلين فيه لخبر أم حبيبة فى ذلك والاختلاف على عطاء (رقم-۱۷۹٤) والدارمى

[۲] اخرجه البخارى فى كتاب الجمعة/ باب الصلاة بعد الجمعة وقبلها (رقم-۹۳۷) ومسلم فى كتاب الجمعة/ باب الصلاة بعد الجمعة (رقم-۷۱ - (۸۸۲) والدارمى كتاب الصلاة/باب فى صلاة السنة والنسائى كتاب الجمعة/باب صلاة الإمام بعد الجمعة (رقم-۱٤۲۷) ومالك فى الموطا كتاب قصر الصلاة فى السفر . باب العمل فى جامع الصلاة (رقم- ۶۹)

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې نبي كريم ﷺ به د جمعې څخه وروسته هيڅ مونځ نه كولو [۲] تر دې چې حضور ﷺ به (كورته) واپس تشريف راوړو نو (په كور كښې) به يې دوه ركعاته كولو. (بخاري)

تسهيلات: -

قوله: فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ:

د جمعې د مانځه څخه پس په كور كښې دوه ركعته نفل كول: - په دې حديث كښې دا ذكر دي چه دَ حضورپاك ﷺ معمول دا وو چه حضورپاك ﷺ به دَ جمعې دَ مونځ نه پس كور ته راتلو اودوه ركعته به ئې كول. په دې حديث كښې دَدې مسئلې سره هيڅ بحث نه دې كړې شوې چه دَ جمعې نه مخكښې څومره ركعته وو. په دې وجه دَدې اجمالي روايت نه دَ چا مسلك نه شي ثابتيدې لكه څنګه چه ئې شوافع ثابتول غواړي. دَ جمعې دَ سنتو بحث دَدې باب حديث نمبر ۸ كښې راتلونكې دې لږ شان انتظار اوكړئې.

[۱۱۶۲] د نبی علیه السلام د نفلو تعداد

۱۱۶۲ - (۴) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ شَقِيقٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ تَطَوُّعِهِ، [۳] فَقَالَتْ: كَانَ يُصَلِّي فِي بَيْتِي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا، [۴] ثم يخرج فيصلي بالناس ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، [۵] وَكَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ، [۶] ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ [۷] ثُمَّ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْعِشَاءَ، [۸] وَيَدْخُلُ بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ،

ترجمه: [۱] عبدالله ابن شقيق رحمه الله فرمايي [۲] چې ما د مؤمنانو د مور بي بي عائشې رضي الله عنها څخه د حضور ﷺ د نفل لمونځونو په باره کې پوښتنه وکړه [۳] نو هغې وفرمايل چې حضور ﷺ به زما په كوركي د ماسپخين څلور ركعاته كول [۴] بيا به يې (مسجد ته) تشريف وړو او (هلته به يې) د خلقو سره (د ماسپخين فرض لمونځ) كولو بيا به يې كور ته تشريف راوړو او دوه ركعاته مونځ به يې كولو [۵] د غسې به حضور ﷺ د ماښام مونځ د خلقو سره (په مسجد كې) اداء كولو [۶] بيا به يې كور ته تشريف راوړلو سره دوه ركعاته مونځ كولو [۷] او حضور ﷺ به د ماسخوتن مونځ د خلقو سره (په مسجد كې) كولو [۸] بيا به يې زما كورته تشريف راوړلو سره دوه ركعاته مونځ كولو

[۱] وَكَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ فِيهِنَّ الْوِتْرُ، [۲] وَكَانَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا، [۳] وَلَيْلًا طَوِيلًا قَاعِدًا، وكان إذا قرأ وهو قائم ركع وسجد وهو قائم، [۴] وَكَانَ إِذَا قَرَأَ قَاعِدًا رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ، [۵] وَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. [۶] وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ: ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ صَلَاةَ الْفَجْرِ.

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الصلاة المسافرين/ باب جواز النافلة قائما وقاعدا، وفعل بعض الركعة قائما وبعضها قاعدا (رقم-۱۰۵ - (۷۳۰) وابوداود كتاب الصلاة،باب تفريع أبواب التطوع وركعات السنة (رقم-۱۲۵۱)

ترجمه: [۱] او حضور ﷺ په شپه کې (د تهجد) مونځ کله نهه رکعاته کولو په هغې کې به وتر (لمونځ) هم شامل وو [۲] او د شپې به يې تر ډيره وخته پورې په ولاړه مونځ کولو [۳] او تر ډير وخته پورې په ناسته مونځ کولو او کله چې به يې په ولاړه مونځ کوي نو په ولاړه به رکوع او سجدې ته تلو [۴] او کله چې به يې په ناسته مونځ کولو نو په ناسته به رکوع او سجدې ته تلو [۵] او کله چې به صبح صادق شو نو دوه رکعاته د سحر سنت به يې کول، مسلم، [۶] او ابوداؤد دا الفاظ مزيد نقل کړي دي چې (د سحر دوه سنت کولو سره) بيا به حضور ﷺ (مسجد ته) تشريف ورو او هلته به يې دخلقو سره دسحرفرض مونځ اداء کولو.

تسهيلات: - **قوله:** ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ:

دنفلو په کور کښې د کولو افضليت: - په دې حديث کښې په واضحه توګه بيان کړې شوی دی چه حضورپاک ﷺ به دَ سنتودکولودَپاره په اهتمام سره بار بار کورته تشريف اوړلو. دې سره دا مسئله واضحه شوه چه غوره هم دغه دی چه سنت هم په کور کښې اوکړې شی سره دَدې چه نوافل په جمات کښې کول جائزدی

په کور کښې د نفلو کولو فائدې: -

① دَ حضورپاک ﷺ په سنتو عمل کيږی.
② په کورکښې به په دې عبادت کولو سره برکت راځی.
③ د ماشومانو اوښځو په دې کتلوسره په هغوی کښې دَمانځه رغبت اوعادت پيدا کيږی.
④ په کورکښې دَ مانځه ماحول پيدا کيږی.

قوله: وَكَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ:

دتهجدو دمانځه د رکعتونوپه تعداد کښې مختلف روايات: - دلته دَ نهه رکعتوتذکره ده. دَ احنافو په نيزيه دې کښې شپږ رکعته دَ تهجد دی اودرې رکعته دَوتردی. دَ حضورپاک ﷺ دَ شپې دَتهجد په مونځ کښې دَ رکعتونو په تعدادکښې مختلف روايات دی په يوکښې دَ شپږو ذکر دې دغه شان دَ نهه اولسو تذکره هم ده اودَ يوولسو او ديارلسوذکر هم شته. نو په دې کښې هيڅ منافات نشته دې ځکه چه حضورپاک ﷺ په مختلف اوقاتوکښې په مختلف انداز سره تهجدکړی دی.

قوله: رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ:

د نبی عليه السلام د تهجدو څلور طريقې: - په دې جمله باندې دَ پوهيدلودَپاره اول په دې خان پوهه کړئی چه دَ حضورپاک ﷺ دَ تهجد کولو درې طريقې دی

① پوره مونځ به ئی په ولاړه کولو
② پوره مونځ به ئی په ناسته کولو
③ قراءت به ئی په ناسته کولو اوبيابه اودريدو رکوع ته به لاړو اوبيابه سجدې ته تللو.

④ په دې زير بحث حديث كښې دَ دې دريم صورت دَ عكس نفى ده چه په حقيقت كښې څلورم صورت دې يعنى حضورپاك ﷺ به داسې مونځ نه كولو چه قراءت ئې په ولاړه كړې وى او بيا په ناسته باندې سجده كړې وى او څه تېتيدو سره دَ ناستې په حالت كښې ركوع كړې وى هم دَدې صورت نفى په دې حديث كښې مقصود ده.

[۱۱٦۳] دسحر د سنتو تاكيد

۱۲۶۳-()[۵] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ۲ «لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ ۳ أَشَدَّ تَعَاهُدًا مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ۲ چې نبي كريم ﷺ به په نوافلو كولو كې داسې هميشگي نه كوله ۳ څنگه چې د سحر (سنت) دوه ركعاته كولو كې به يې هميشگي او پابندي كوله. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① أَشَدَّ تَعَاهُدًا: أَيْ: أَكْثَرَ مُحَافَظَةً وَمُدَاوَمَةً: ډير زيات حفاظت او هميشوالي كونكې.

تسهيلات:-

قوله: أَشَدَّ تَعَاهُدًا مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ:

دسحر د سنتو اهميت:- په دې وجه وائي چې د سحر دوه سنت مستثنى دى.د سحر سنتو د اهميت او عظمت اندازه ددې نه لگولې شي چې فقهاء كرامو ليكلى دى چې بغير دڅه عذر نه دسحرسنت په ناسته كول صحيح نه دى.

[۱۱٦٤] دسحر د سنتو فضيلت

۱۲۶۴-()[٦] ۱ وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ ام المؤمنين بي بي عائشه رضي الله عنها روايت كوي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل ۲ د سحر د سنتو دوه ركعاته د دنيا او د دنيا د ټولو څيزونو څخه زيات بهتر دي. (مسلم)

تسهيلات:-

قوله: خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا:

د دنيا وما فيها څخه د بهترۍ مفهوم:- د نورو سنتوپه مقابله كښې د سحر دوه ركعته سنت د دنياومافيها څخه بهتر دى.وباقى پاتې شو د يو سبحان الله وئيل د دنياومافيها څخه بهتر كيدل هغه د نورو اذكارو په مقابله كښې د دنيا وما فيها څخه بهتر دى.

---

[1] اخرجه مسلم فى كتاب الجمعة/ باب استحباب ركعتى سنة الفجر، والحث عليهما وتخفيفهما، والمحافظة عليهما، وبيان ما يستحب أن يقرأ فيهما (رقم) ۹۵ - (۷۲٤)

[2] اخرجه الترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى ركعتى الفجر من الفضل (رقم-۴۱۶)

[۱۱٦٥] د ماښام د فرضو څخه مخکې د دوه رکعته نفلو کولو حکم

(۲۱۵-) [۷] (۱) وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (۲) «صَلُّوا قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ»، «صَلُّوا قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ» (۳) قَالَ فِي الثَّالِثَةِ: "لِمَنْ شَاءَ" (۴) كَرَاهِيَةَ أَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: (۱) عبدالله ابن مغفل رضي الله عنه راوي دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل (۲) د ماښام د فرض لمانځه څخه مخكې (دوه ركعاته) مونځ كوي، د ماښام د فرض لمانځه څخه مخكې (دوه ركعاته) مونځ كوي (۳) حضور ﷺ په دريم ځل يې دا وفرمايل چې څوك غواړي ودي كړي (۴) په وجه د دې خبرې د مكروه ګڼلو چې خلق يې سنت ونه ګرځوي. (بخاري، مسلم)

تسهيلات:-

قوله: صَلُّوا قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ:

يعني دَ ماښام دَ اذان نه پس دَ فرض مونځ كولو نه مخكښې دوه ركعته كوني ليكن ضروري نه دی چه هر سړې دې داسې كوی.

د ماښام څخه وړاندې د دوؤ ركعتونو په باره كښې درې قسمه روايات:- دَ ماښام دَ مونځ نه مخكښې دوه ركعته كول اونه كولو باره كښې درې قسمه روايات موجود دی.

① اول هغه روايات دی په كوم كښې چه دَ كولو بيان دې.

② دويم هغه روايات دی په كوم كښې چه دَ نه كولو بيان ددې.

③ دريم هغه روايات دی په كوم كښې چه دَ دواړو اختيار وركړې شوې دې. هم په دې وجه دَ فقهاؤ كرامو په مينځ كښې څه اختلاف راغلي دي. [المرتقات ۲۴۵/۳]

د ماښام څخه وړاندې د دوؤ ركعتونو په حكم كښې مذاهب:-

① دَ امام احمدبن حنبل رحمه الله په نيز دا دوه ركعته مستحب دی حالانكه موجوده عرب دا دَ فرضو په شان ضروری ګڼړی.

② دَ جمهورو په نيز دَدې دوو ركعتو درجه دَ استحباب نه ده بلكه صرف دَ اباحت ده او په دې شرط سره چه دَدې كول مباح دی چه دَ ماښام دَ مونځ دَ فوت كيدو خطره هم نه وی او په دې سره تاخير هم نه راځي. حضورپاك ﷺ نه ددې نه صحابه منع كړی دی او نه ئی حكم وركړې دې بلكه صحابه كرام ئی په خپل اختيار باندې پريخودې دی. لهذا دلته دَ استحباب دليل هم موجود نه دې. دَدې مسئلې تفصيل باب فضل الاذان حديث نمبر ۹

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأذان/باب: بين كل أذانين صلاة لمن شاء (رقم-۶۲۷) وكتاب الجمعة/ باب الصلاة قبل المغرب (رقم-۱۱۸۳) ومسلم في صلاة المسافرين/ باب بين كل أذانين صلاة (رقم) ۳۰٤ - (۸۳۸) وابوداود كتاب الصلاة، باب الصلاة قبل المغرب (رقم-۱۲۸۱) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصلاة قبل المغرب (رقم-۱۸۵) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في الركعتين قبل المغرب (رقم-۱۱۶۲)

لاندې تیرشوي دي.

د ملا علي قاري رائې:- ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه ډیر احادیث دَدې دوو رکعتو کولوسره متعلق راغلي دي لهذا دا دوه رکعته مستحب دي لکه چه امام احمدبن حنبل رحمه الله او اسحاق بن راهویه رحمه الله مسلك دې فرمائي "والاصح مستحب". (مرقات: ۳/۱۱۲)

بهتره دغه ده چه چرته دَکولو موقع ملاوېږي نو کول ئې پکار دي دَنفل ثواب به کیږي او چرته چه موقع نه وي نو دَموقع جوړولو ضرورت نشته دې نه دې کوی لکه چه په هندوستان او پاکستان کښې نه کیږي.

[۱۱۶۶] د جمعې څخه وروسته څلور رکعته سنت

۱۱۶۶-()[۸] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا» ". [۳] رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي أُخْرَى لَهُ، قَالَ: " «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبَعًا» ".

ترجمه: [۱] ابوهریره رضي الله عنه راوي دي چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [۲] په تاسو کې چې کوم سړي د جمعي (د فرض لمانځه) څخه وروسته مونځ کونکي وي نو هغه ته پکار دي چې هغه څلور رکعاته وکړي، مسلم [۳] او د مسلم د یو دویم روایت الفاظ دا دي چې حضور ﷺ وفرمایل هر کله چې په تاسو کې یو سړي د جمعې مونځ وکړي نو هغه ته پکار دي چې د هغې څخه وروسته څلور رکعاته (سنت) هم وکړي.

تسهیلات:-

قوله: مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ:

دوه اختلافي مسئلې:- دلته دوه لوئې مسئلې دي اوپه دواړوکښې دَ فقهاؤ اختلاف دې.
یومسئله داده چه دَ جمعه دَ مونځ نه وړاندې څوسنت دي اودویمه مسئله دا چه دَدې نه پس دَ سنتو تعداد څومره دې.

د جمعې د مانځه څخه وړاندې د دوؤ رکعتونو په حکم کښې مذاهب:-

① دَ علامه ابن قیم او اهل ظواهر په نیزدَ جمعه نه وړاندې څلوررکعته کول بدعت دې ابن تیمیه رحمه الله دَدې مسئلې په حمایت کښې ښه قلم استعمال کړې دې.

② څلورواړه ائمه او فقهاء کرام فرمائي چه څنګه سنن بعدالجمعه څلور رکعته ثابت دي دغه شان قبل الجمعه هم څلوررکعته ثابت دي.

داول فریق دلیل:-

① دَ رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې دَ جمعه دَ پاره یواذان کیدلو اوهغه اذان په هغه

[۱]) اخرجه مسلم في كتاب الجمعة/ باب الصلاة بعد الجمعة (رقم) ۶۷ - (۸۸۱) وابوداود كتاب الصلاة،باب الصلاة بعد الجمعة (رقم-۱۱۳۱)والترمذي كتاب الجمعة/باب ما جاء في الصلاة قبل الجمعة وبعدها (رقم-۵۲۳)

وخت کښې شوې ووچه کله به د حضورپاك ﷺ خطبه شروع کوله اود خطبه نه وړاندې څلورركعته سنت کولودپاره وخت نه وی څنګه به نی کوې؟ بیاچه به کله خطبه ختمیدله نوهغه وخت به هم د سنتوکولوموقع نه ملاویدله. چه کله د څلورو رکعتو د کولودپاره وخت نشته نوکول ثابت نه دی اوچه ثابت نه دی نو بدعت دې.

داول فریق د دلیل جواب:- حضورپاك ﷺ به د خپل کور نه د جمات دپاره پس د زوال نه تشریف راوړلو او بیا به په منبرباندې کیناستوسره د خطبې دپاره اذان کیدلو نوپس د زوال د کورنه دوتلو اوپه منبر باندې د کیناستلو په مینځ کښې به دومره وقفه ضرور وی په کوم کښې چه څلوررکعته اداکړې شی خاص کر صحابه کرام به وختی وختی د جمعه دپاره په جمات کښې جمع کیدلوسره تیار ناست وو. روستو چه کله بیا مشاغل زیات شو نود حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه په زمانه کښې د جمعه دپاره یویل اذان شروع شوچه نن صبا ورته اول اذان وائی فقهاء هم ددې اذان نه پس د جمعه په ورځ اخستل اوخرڅول ناجائزګرځولی دی نن صبا غیرمقلدین دې اذان ته هم بدعت وائی الله تعالی دې دوی ته هدایت اوکړی.

د دویم فریق دلائل:-

① د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما حدیث د دوی مستدل دې کوم چه ابن ماجه نقل کړې دې الفاظ دادی. "قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يركع قبل الجمعة اربع ركعات لايفصل بينهن بشيئ" دا دواړه روایتونه سنن قبل الجمعه باندې صریح دلالت کوی.

② د حضرت ابوهریره رضی الله عنه حدیث د دوی مستدل دې کوم چه امام طحاوی رحمه الله په مشکل الآثار کښې نقل کړې دې د کوم الفاظ چه دادی "من كان منكم مصليا فليصل قبلها اربعا وبعدها اربعا".

③ په کومو روایاتوکښې چه قبل الزوال د څلور رکعتو کولوذکر دې هغه هم د جمهورو دپاره دلیل دې ځکه چه هغه هم سنن قبل الجمعه ته شامل دی.

④ د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه اوعمران بن حصین رضی الله عنه نه آثار نقل دی په کوم کښې چه د څلورو رکعتو ثبوت دې او په ترمذی شریف کښې دا نقل کړې شوی دی.

⑤ په کوموروایاتوکښې چه د ماسپښین د مانځه نه وړاندې د څلورو رکعتوسنتوذکر دې دې نه هم جمهور استدلال کوی ځکه چه د جمعه مونځ د ماسپخین د مونځ بدل او د دې قائمقام دې. کله چه د ماسپخین د مونځ نه وړاندې د څلورو رکعتو سنتو په واضح توګه ثبوت دې نود جمعه نه وړاندې به هم د څلورو رکعتو ثبوت ملاؤ شی ځکه چه د دواړو وخت هم یو دې

انصافی خبره:- په دې مسئله کښې څه اختلافات راغلل د څه عموماتونه استدلال کړې شوې دې په دې وجه په دې مسئله کښې څه نرمی راغله اودغه سنتو په تاکید کښې څه

فرق راغلولهذا که دَ یوسړی نه دَ جمعه وړاندینی څلور رکعته پاتې شی نودَ جمعه دَ مانځه نه پس دا کول اودَدې راګرځول نشته دې.

د سنت بعد الجمعه په تعداد کښې مذاهب:-

① دَامام ابوحنیفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله په نیزدَ جمعه نه پس څلوررکعته سنت دی اودَامام شافعی رحمه الله یوقول هم دغه شان دې.

② دَامام ابویوسف رحمه الله په نیزدَ جمعه دَ مونځ نه پس شپږ رکعته سنت دی دوه په یوسلام او څلور په جدا سلام سره دی.

داول فریق دلیل:- زیر بحث حدیث د دوی مستدل دې چه په خپله مدعابانديې واضح تردلیل دې په کوم کښې چه "فلیصل اربعا" الفاظ ښکاره دی هم دَدې حدیث په یوبل روایت کښې داسې الفاظ ذکر دی.

"اذاصلی احدکم الجمعة فلیصل بعدها اربعا" (مصنف ابن ابی شیبه ج۲ص۱۳۲)

د دویم فریق دلائل:- دَ صحابه کرامو هغه ټول آثارد دوی مستدلات دی په کومو کښې چه دَ شپږو رکعتو ذکرراغلې دې اودَ دغه صحابه کرامو په دې بانديې عمل وو ابن ابی شیبه خپل سندونوسره بیان کړې دې او وئیلی دی چه حضرت علی رضی الله عنه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما په روایت کښې دَ دوو ذکردې. دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په روایت کښې دَ څلورو ذکر دې دَحضرت علی رضی الله عنه په روایت کښې دَ شپږو ذکر دې حضرت عبدالرحمن سلمی دَ سنن بعدالجمعه باره کښې فرمائی "علمنا ابن مسعود ان نصلی بعد الجمعة اربعا فلما قدم علی بن ابی طالب علمنا ستا".

د دواړه قسمه روایاتو په منځ کښې تطبیق:- په کومواحادیثوکښې چه بعدالجمعه دَ دوو سنتوذکردې هغه په ادنی سنت باندې محمول دی او په کومو احادیثو کښې چه دَ څلورو سنتوذکردې هغه کمال سنت باندې محمول دی یعنی اول دوه اوبیا څلور نوکمال شپږو ته اورسیدو. مثلاً یوسړی په یوسلام سره دووه سنت اوکړل نوهغه دَ دوو سنتو والا په حدیث باندې عمل اوکړو او بیا هغه څلور اوکړل نو دَ څلورو سنت والا په حدیث ئې عمل اوشو اوچاچه دَ شپږو قول کړې دې نودا مجموعه دَ شپږو هم ده لهذا په احادیثوکښې هم تعارض نشته او دَ احادیثو دَ آثارو سره هم تعارض نشته . دا اعداد دی دا دې هم وی اوهغه دې هم وی په یوکښې دَ بل نفی موجودنه ده.

معمول به قول:- بهرحال امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله څلوروته ترجیح ورکړې ده اوامام ابویوسف رحمه الله شپږوته ترجیح ورکړې ده. عام مشائخ احناف دَ شپږو رکعتو قول ته ترجیح ورکړې ده او هم دغه دَ احنافو په نیزمعمول به دی لیکن دَ څلورو نه پس دوه سنت زوائددی.

په سنت بعد الجمعه کښې د رکعتینو او شپږ رکعتونو په تقدیم او تاخیر کښې مذاهب:-

① دَاحنافو محققین علماؤ داخیال دې چه دوه دې مقدم کړی
② دَمتقدمینوخیال دې چه څلور دې مقدم کړی. دادَ اولی او غیراولی مسئله ده جائز دواړه دی. امام ابویوسف رحمه الله دَ څلورو مقدم کولو قول راجح ګرځولې دې ځکه چه په یو حدیث کښې راغلی دی چه دَ یوفرض مونځ نه پس دَهغې هم شکل مونځ مناسب نه دې دَ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه باره کښې دی: "ان عمرکان یکره ان یصلی بعدصلوة الجمعة مثلها". (کذا فی الطحاوی)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۱۶۷] د ماپښین دسنتو فضیلت

۱۱۶۷-()[۹] ① عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② "«مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا ;③ حَرَّمَهُ اللَّهُ عَلَى النَّارِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① بي بي ام حبیبه رضي الله عنها فرمايي چې ما د نبي کريم صلی الله علیه وسلم څخه دا اوريدلي دي② چې کوم سړي دماسپخين (د فرض لمانځه) څخه مخکې څلور رکعاته او د هغې څخه وروسته څلور رکعاته په هميشګي سره کوي (يعني په پابندي سره، ناغه يې نکوي)③ نو الله تعالی جل جلاله په هغه د دوزخ اور حراموي (په دې طور سره چې هغه به مطلقًا په دوزخ کې نه اچوي يا دا چې هغه به په ابدي طور سره د دوزخ څخه ساتي). (احمد، ترمذي، ابوداؤد، نسايي)

د راوي مختصر تعارف: نوم رمله کنیت ام حبیبه دَ پلار نوم ابوسفیان دَ مور نوم صفیه بنت العاص وو چه دَحضرت عثمان رضي الله عنه سکه ترور وه. حضرت ام حبیبه رضي الله عنها دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ بعثت نه ۱۷ کاله وړاندې پیدا شوې. (اصابة ۸۴/۸). رومبئی نکاح ئی عبدالله بن جحش سره شوې وه (۲) خپل خاوندسره مسلمانه شوه حبشه طرف ته ئی هجرت اوکړوخاوندئی حبشه ته لاړوعیسائی شو او هم په دې کښې هغه مړ شو.

دويمه نکاح ئی رسول الله صلی الله علیه وسلم سره اوشوه نجاشی پخپله نکاح اوکړه اومهر ئی هم پخپله اداکړو هغه وخت دَ دوی عمر ۳۶ یا ۳۷ کاله وو. په حدیث باندې به ئی ډیر په اهتمام سره عمل کولو اونوروته به ئی هم تاکید کولو.

وفات:- دَخپل رور حضرت امیرمعاویه رضي الله عنه په دور خلافت ۴۴ھ کښې وفات شوه او په مدینه کښې خښنه شوه. هغه وخت دَ هغې عمر ۷۳ کاله وو. دَ وفات په وخت کښې هغې

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الأربع قبل الظهر وبعدها (رقم-۱۲۶۹)والترمذی والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/الاختلاف علی إسمعیل بن أبی خالد (رقم-۱۸۱۵)

([2]) اصابه. (۲)البخاری فی التهجد باب ماجاءً فی التطوع مثنی مثنی ومسلم فی المسافرین باب السنن الراتبة قبل الفرائض وبعدهن).

حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها اوحضرت ام سلمه رضي الله عنها راوغوښتې اوونی فرمائيل چه ما معاف کړئ. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه ما اووئيل چه معاف ئی نو وئيل تازه ډیره خوشحاله کړم الله تعالی دې تاخوشحاله کړی. (اصابه)

مرويات:- دَ هغې نه ۶۵ احاديث روايت دی.

تسهيلات:- قوله: وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا

دَماسپخين دَ مونځ نه پس عام روايتو کښې دَ دوو رکعتو ذکر دې ليکن دلته په دې روايت کښې دَ څلورو بيان دې. اوس په دې کښې دوه احتمال دی. يو دا چه دا څلور رکعته دَ دې دوو سنتو نه علاوه دی. په ظاهرى توګه دَ حديث نه ثابتيږی چه دا څلور رکعاته دَ دوو سنت مؤکده نه علاوه دی او دا دَ مستحب او نفلو په درجه کښې دی. دويم احتمال دادې چه دَماسپخين نه پس دوه سنت په دغه څلورو رکعتو کښې شامل دی. دَملا على قاري رحمه الله دَ کلام نه معلوميږی چه په دغه څلورو رکعتوکښې دَماسپښين دوه سنت هم شامل دی دوه نفل او دوه سنت دی.

بهرحال بهتر دادی چه دا څلور رکعته په دوو سلامو سره اداکړې شی.

[۱۱۶۸] دماسپخين څخه مخکې د څلوررکعته نفلو فضيلت

۱۱۶۸-()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ لَيْسَ فِيهِنَّ تَسْلِيمٌ، [۳] تُفْتَحُ لَهُنَّ أَبْوَابُ السَّمَاءِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] ابو ايوب انصاري رضي الله عنه راوي دې چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] دماسپخين څخه مخکې هغه څلور رکعاته چې د هغې په مينځ کې سلام نشي ګرځولي (يعني د دې څلور رکعاتو کولو په سلسله کې افضل دا دي چې څلور واړه رکعاتونه پوره کولو سره سلام وګرځول شي) [۳] د هغې د پاره د آسمان دروازي خلاصول کيږی، (ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① تَسْلِيمٌ: سلام ګرځول. ② تُفْتَحُ: پرانستلې شی.

تسهيلات:- قوله: لَيْسَ فِيهِنَّ تَسْلِيمٌ:

دماسپخين د مانځه وړاندې په څلور رکعتونوکښې دوه احتمالات:-

① يعنی دَماسپخين دَ مونځ نه وړاندې څلوررکعته په يوسلام سره دَ کولودومره لوئی فضيلت دې چه دَ آسمانونو دروازې اودَ قبوليت اودَرحمت دروازې کولاوهلې شی دلته هم دا احتمال دې چه دې نه سنت مؤکده څلوررکعته مراد وی

② دَ زوال دَ وخت څلوررکعته نوافل مراد وی.

راجح قول:- مختارهم دغه دی چه دې نه دَ زوال الشمس دَ وخت څلوررکعته نفل مراد

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب الأربع قبل الظهر وبعدها (رقم-۱۲۷۰)

دی. زوال الشمس په وخت څلورو رکعتوفضيلت دَ راتلونکی روایاتونه هم ثابت دی لهذا زیر بحث روایت هم په دې باندې حمل کول به زیات مناسب وی.

[۱۱۶۹] د زوال څخه وروسته د نفلو فضيلت

۱۱۶۹ـ(۱)[۱۱] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ، ۳ وَقَالَ: "إِنَّهَا سَاعَةٌ تُفْتَحُ فِيهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ، ۴ فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ عبدالله ابن سائب رضی الله عنه فرمايي ۲ چې نبي كريم ﷺ به د نمر د زوال كيدو څخه وروسته او د ماسپخين څخه مخكې (د فيء الزوال ل) څلور ركعاته مونځ كولو ۳ او فرمايل به يې چه دا داسې وخت دې چې په دې كې (د نيك اعمالو د پورته ختلو د پاره) د آسمان دروازې خلاصيږي ۴ نو زه دامحبوب ګڼم چې داوخت زما نيك اعمال پورته لاړشي (ترمذي)

حل اللغات:- ① تَزُولَ الشَّمْسُ: چه د نمر زوال اوشی (يعنی د آسمان د منځ نه د مشرق نه مغرب طرف ته واوړی).

تسهيلات:-

قوله: يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ:

دڅلورو رکعتونو په مصداق کښې دوه اقوال:-

① دا څلور ركعته وو چې د زوال په كيدو به مستقل طوركولي شول.

② ددې څخه هم ماسپخين څلور ركعته مراد دی.

[۱۱۷۰] د مازیګر سنت

۱۱۷۰ـ(۲)[۱۲] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«رَحِمَ اللهُ امْرَءًا صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا»". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ أَبُودَاوُدَ

ترجمه: ۱ ابن عمر رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ الله تعالى جل جلاله دي په هغه سړي رحمت نازل کړي چې د مازيګر (د فرض لمانځه) څخه مخکې څلور رکعاته مونځ کوي، (احمد، ترمذي، ابوداؤد)

تسهيلات:-

قوله: صلى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا:

د څلورو رکعتونو مصداق:- د مازيګر مونځ څخه وړاندې چې کوم څلور رکعته سنت غيرمؤکده کيږی ددې څلورو رکعتو نه هغه مراد دي.

[1] اخرج الترمذی کتاب الوتر/باب ما جاء فی الصلاة عند الزوال (رقم-۴۷۸)
[2] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الصلاة قبل العصر (رقم-۱۲۷۱)

[۱۱۷۱] د مازیګر څخه وړاندې څلور رکعته نفل

۱۱۷۱-()[۱۳] ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، ۳ يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ، ۴ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُؤْمِنِينَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ امیر المؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي ۲ چې نبي ﷺ به د مازیګر څخه مخکې څلور رکعاته مونځ کولو ۳ او د هغې په مینځ کې به یې جداوالي کولو په سلام لیږلوسره په مقربو فرشتو باندې ۴ او چې کوم مسلمانان او مؤمنان ددوي تابع دي په ټولو باندې [به یې په سلام لیږلوسره جداوالي کولو]. (ترمذي)

حل اللغات: - ① الْمُقَرَّبِينَ: بزرګاني او عزتمندي

تسهيلات: -

قوله: يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ:

د تسليم على الملائكة څخه مراد: - ددې سلام نه مراد دَ التحيات او تشهد لوستل دی. مطلب دا چه څلور رکعته به ئی په یو سلام سره کول په مینځ کښې به ئی قعده اولی وه.

دمازیګر څخه وړاندې په سنن زوائدو کښې دوه قسمه روایات: -

① دَ مازیګر دَ مونځ نه مخکښې په دغه سنن زوائد کښې دوه قسمه روایات دی. بعضې کښې دَ څلورو رکعتو ذکر دې

② بعضې کښې دَ دوو رکعتو ذکر دې. دواړه جائز دی دَ مونځ خپل سهولت سره ددې تعلق دې.

[۱۱۷۲] دمازیګر څخه وړاندې دوه رکعته نفل

۱۱۷۲-()[۱۴] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: ۱ «كَانَ رَسُولُ اللهِ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ امیر المؤمنین حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي ۱ چې نبي کریم ﷺ به د مازیګر څخه مخکې دوه رکعاته مونځ کولو. (ابوداؤد)

تسهيلات: -

قوله: يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ:

په روایاتو کښې تطبيق: - مازیګر نه وړاندې د رکعتونو باره کښې مختلف روایات دی. خینې روایاتو کښې دوه رکعته ذکر دی او خینو کښې څلور ذکر دی. ددې روایت تعلق

---

[۱] اخرجه الترمذی کتاب السفر/باب کیف کان تطوع النبی صلی الله علیه وسلم بالنهار (رقم-۵۹۸) والنسائی کتاب الإمامة/باب الصلاة قبل العصر وذکر اختلاف الناقلین عن أبی إسحاق فی ذلک (رقم-۸۷٤) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فیما یستحب من التطوع بالنهار (رقم-۱۱۶۱)

[۲] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب الصلاة قبل العصر (رقم-۱۲۷۲)

د مونځ آسانتیا سره دې. که څوک غواړي څلور رکعته دې کوي او که غواړي نو دوه رکعته دې کوي.

[۱۱۷۳] د صلوٰة الاوابين فضيلت

-(۱۵)[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "[۲] «مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ سِتَّ رَكَعَاتٍ [۳] لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيمَا بَيْنَهُنَّ بِسُوءٍ [۴] عُدِلْنَ لَهُ بِعِبَادَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً» ". [۵] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عُمَرَ ابْنِ أَبِي خَثْعَمٍ، [۶] وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ: هُوَ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ، وَضَعَّفَهُ جِدًّا.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د ماښام د لمانځه کولو څخه وروسته شپږ رکعاته نفل (داسي) وکړي [۳] چې د هغې په مينځ کې څه فحش خبري ونه کړي [۴] نو د هغه رکعتونو ثواب د هغه د پاره د دولس کالو د عبادت برابر کيږي، [۵] امام ترمذي دا حديث نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دي ځکه چې مونږ دا حديث د عمر ابن خثعم د سند څخه علاوه دبل څه سند سره نه پيژنو [۶] او ما د محمد ابن اسماعيل بخاري رحمه الله څخه واوريدل چې هغه ويل چې دا (عمر ابن خثعم) منکر الحديث دي او هغه دي حديث ته ډير ضعيف ويلي دي.

حل اللغات:- ① عُدِلْنَ: مجهول او معلوم دواړه ونيلي شي، أي إِذَا سُوِّينَ: برابرولي شي.

تسهيلات:-

قوله: عُدِلْنَ لَهُ بِعِبَادَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً:

د صلاة اوابين فضيلت:- يعنی کوم سړی چه دَ ماښام مونځ اوکړو اوبيا دې نه پس ئې شپږ رکعته مونځ اوکړو په دې سره به دغه سړی ته دَ دولسو کالو دَعبادت ثواب ملاويږی. مګر دَدې شرط دادې چه دَ فرضو اودې نفلو په مينځ کښې څه فضول خبره اونه کړی. په دې شپږو رکعتو کښې دَ فرض نه پس دوه رکعته سنت مؤکده هم شامل دی.

د صلاة اوابين درې صورتونه:-

① اول دې دوه رکعته سنت اوکړی. دې نه پس دې څلور رکعته په دوو سلامو سره يا په يو سلام سره اوکړې شی نودا ثواب به حاصل شی. دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ روايت نه معلوميږی چه دَدې مونځ نوم صلوٰة اوابين دې. دا صورت دَ ټولو نه آسان دې.

② دَ دوو سنتو نه پس شپږ رکعته سنت صلوٰة اوابين اوکړې شی

③ شل رکعته صلوٰة اوابين اوکړې شی.

---

[1] اخرجه الترمذي في كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل التطوع وست ركعات بعد المغرب (رقم-۴۳۵) وابن ماجة باب ما جاء في الصلاة بين المغرب والعشاء (رقم-۱۳۷۳)

په حدیث کښې کلام او دهغې جواب:- بهرحال په زیر بحث حدیث کښې چه دَ کوم ثواب ذکرکړې شوې دې داهم دَدغه شپږو رکعتو فضیلت دې. دا حدیث امام ترمذی رحمه الله دیر زیات ضعیف گرخولې دې. لیکن علماء لیکی چه فضائل اعمال کښې ضعیف روایت هم قابل قبول دې په دې شرط چه دَ دې په مقابله کښې څه صحیح حدیث نه وی یا دَ شریعت دَ یو قاعدې سره دَ دې تعارض نه وی.

هسې داحدیث ابن خزیمه په خپل صحیح قوی سند سره نقل کړې دې او ابن ماجه هم دا نقل کړې دې اودَ بعضې صحابه کرامو په دې باندې عمل پاتې دې.

[۱۱۷۴] د صلوٰة اوابین زیات تعداد

۱۱۷۴-(۱)[۱۶] ⓵ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⓶ "مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً ⓷ بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ⓵ ام المؤمنین بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶ کوم سړي چې د ماښام څخه وروسته شل رکعاته (صلٰوة اوابین) کوي ⓷ الله تعالی جل جلاله د هغه د پاره په جنت کې کور جوړوي. (ترمذي)

تسهیلات:-

دحدیث ضعف اودهغې جواب:- دا حدیث هم سره دَدې چه ضعیف دې مگر په فضائل اعمال کښې مقبول دې. بل دَ سلف صالحین په دې باندې عمل پاتې دې. دَ صلوة اوابین په تعداد کښې مختلف قسم روایات راغلی دی دَ کوم نه چه اندازه کیږی چه دَ اوابین دَ کم نه کم تعداد دوه رکعته دې او اوسطًا شپږ رکعته او آخری تعداد شل رکعته دې. چا چه څومره اوکړه هم هغه هومره ثواب به ملاویږی.

[۱۱۷۵] د ماسخوتن سنت

۱۱۷۵-(۲)[۱۷] ⓵ وَعَنْهَا، قَالَتْ: ⓶ «مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ ⓷ إِلَّا صَلَّى أَرْبَعَ أَوْ سِتَّ رَكَعَاتٍ». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي ⓶ چې نبي کریم ﷺ چې کله به په مسجد کې د ماسخوتن (فرض لمونځ) کولو څخه پس ماته راتلو ⓷ نو (د سنتو) څلور یا شپږ رکعاته به یې ضرور کول. (ابوداؤد)

[1] اخرج الترمذی فی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل التطوع وست رکعات بعد المغرب (رقم-۴۳۵)وابن ماجة باب ما جاء فی الصلاة بین المغرب والعشاء (رقم-۱۳۷۳)

[2] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب الصلاة بعد العشاء (رقم-۱۳۰۳)

تسهيلات:-

قوله: أَلا صَلّى أَرْبَعَ أَوْسِتَّ رَكَعَاتٍ:

① دَ ماسخوتن دَ مانخه نه پس دوه رکعته سنت مؤکده دی دَ کوم ذکرچه په مشهورو رواياتو کښې راغلې دې.

② په څه رواياتوکښې دَ څلورو رکعتوذکر دې

③ په زيربحث روايت کښې دَ شپږو رکعتو ذکر دې.

په رواياتو کښې تطبيق:- کوم ځائې چه دَ څلورو ذکر دې نوپه هغې کښې دوه سنت مؤکده دی اودوه نفل دی اوچرته چه دَ شپږو ذکر دې نوهلته دوه سنت مؤکده دی او څلور نفل دی. چا چه څومره اوکړه دومره ثواب به ورته ملاويږي. په زيربحث حديث کښې "او" لفظ يادَ شك دَپاره دې اويادَتنويع دَپاره دې.

[۱۱۷۶] دصبا او ماښام څخه وړاندې دوه دوه رکعته

۱۱۷۶ـ(۱۸) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] ﴿وَإِدْبَارَ النُّجُومِ﴾ [الطور: ۴۹] الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ، [۳] وَ ﴿وَأَدْبَارَ السُّجُودِ﴾ [ق: ۴۰] الرَّكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د (تسبيح) ادبار النجوم څخه د سحر څخه مخکې دوه رکعاته (يعني د سحر سنت) مراد دي [۳] او د (تسبيح) ادبار السجود څخه د ماښام څخه وروسته دوه رکعاته (يعني د ماښام سنت) مراد دي. (ترمذي)

تسهيلات:-

قوله: وَإِدْبَارَ النُّجُومِ:

دادبار النجوم څخه مراد:- روستو کيدو ته او تلو ته ادبار وائې. قرآن کريم کښې په سورة طور کښې يو آيت دې [طور: ۴۹] دلته دَ ستورو تلو ذکر دې دا دَ سحر دَ راختو په وخت کښې وی. لهذا (وَإِدْبَارَ النُّجُومِ) دَ ستورو دَ تلو نه پس مونځ نه دَ سحر دوه رکعته سنت مراد دی. دغه شان قرآن کريم کښې سورة "ق" کښې يو آيت دې (وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ) [سورة ق: ۴۰] دې کښې دَ سجود نه مراد فرض مونځ دې. دَدې فرض دَ کولو او دَدې دَ تلو او دې نه پس پاکی بيانولو نه مراد دَماښام دوه رکعته سنت مؤکده دی.

[1] اخرجه الترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الطور (رقم-۳۲۷۵)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۱۷۷] د ماپښين څخه مخکي د څلور رکعاته مونځ کولو ثواب

۱۱۷۷-()[۱۹] ① عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② "أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ بَعْدَ الزَّوَالِ، ③ تُحْسَبُ بِمِثْلِهِنَّ فِي صَلَاةِ السَّحَرِ، ④ وَمَا مِنْ شَيْءٍ إِلَّا وَهُوَ يُسَبِّحُ اللهَ تِلْكَ السَّاعَةَ" ⑤ ثُمَّ قَرَأَ: ﴿يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ﴾ [النحل:۴۸]» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ① امیر المؤمنین حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمايي چې ما د نبي کريم ﷺ څخه اوريدلي دي ② چې د ماسپخين څخه مخکې او د نمر د زوال کيدو څخه وروسته (د ماسپخين سنت يا فئ الزوال) څلور رکعاته مونځ ③ (په ثواب او فضيلت کې) د تهجد د وخت د څلور رکعاته مونځ کولو برابر دي ④ او دا وخت (يعني د ماسپخين څخه مخکې او د نمر د زوال څخه وروسته) ټول څيزونه د الله رب العزت پاکي بيانوي ⑤ بيا حضور ﷺ دا آيت تلاوت کړو يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَائِلِ سُجَّدًا لِلَّهِ وَهُمْ دَاخِرُونَ، د ټولو څيزونو سايه (سورې) د ښي طرف څخه او د ګس طرف څخه د الله جل شانه د پاره سجده کولو سره ښکته کيږي او هغه ټول عاجز وي. (ترمذي، بيهقي)

حل اللغات: - ① تُحْسَبُ: حسابولې شی، برابرولې شی، ② يَتَفَيَّأُ: أَيْ: يَتَمَيَّلُ: مائل کيږی، ښکته کيږی ③ دَاخِرُونَ: أَيْ: صَاغِرُونَ: عاجزی کونکی.

تسهيلات: -

قوله: تُحْسَبُ بِمِثْلِهِنَّ فِي صَلَاةِ السَّحَرِ:

د صلاة السحر په مصداق کښې دري ۲ اقوال: -

① ددې څخه د تهجدو څلور رکعته مراد دی، يعنی د ماسپخين د څلور رکعتو سنتو ثواب د تهجدو د څلورو رکعتو برابر دي. ځکه چې د تهجدو په وخت کښې دالله تعالی د رحمت دروازې بيرته وی او ټول مخلوق دالله تعالی عبادت کوی.

② علامه طيبی رحمة الله عليه فرمانی چې ددې څخه مراد د سحردوه سنت او دوه فرض دی. يعنی زوال څخه پس چې کوم څلور رکعته دی، هغه د سحر د دوؤ فرضواو دوؤ سنتو برابر دی. ددې وجه داده چې دزوال څخه پس نمر بصورت هبوط وانحطاط الله تعالی ته په سجده پريوزی. په دې وجه که انسان هم په دې وخت کښې سجده کوی نو هغه ته هم عظيم اجر ملاويږی.

[1] اخرج الترمذی فی کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب: ومن سورة النحل (رقم-۳۱۲۸)

④ خيني واني چې نصف النهار څخه پس او نصف الليل څخه پس تر دسحر وخت پورې دې دوارو وختونو کښې دالله تعالی خاص رحمت نازليږي په دې وجه داسې وخت کښې مونځ کول پکاردی.

[۱۱۷۸] د مازيګر څخه وروسته دوه رکعته

۱۱۷۸ـ(۱)[۲۰] ①«وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ②مَا تَرَكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِي قَطُّ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ③وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ، قَالَتْ: ④وَالَّذِي ذَهَبَ بِهِ مَا تَرَكَهُمَا حَتَّى لَقِيَ اللّٰهَ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چې نبی کريم ﷺ هيڅ کله زما په کورکې د مازيګر څخه وروسته دوه رکعاته مونځ کول نه دي پريښې، بخاري مسلم، ③ او د بخاري د يو روايت الفاظ دا دي چې بي بي عائشي رضي الله عنها وفرمايل ④ چې قسم دې په هغه پاك ذات چې هغه د رسول الله ﷺ روح مبارك قبض کړې دې حضور ﷺ دا دوه رکعاته هيڅ کله نه دي پريښي تر دې چې وفات شو.

تسهيلات:-

قوله: بَعْدَ الْعَصْرِ:

د مازيګر څخه روسته دوو رکعتونو کښې د نبی کريم ﷺ خصوصيت:-

دَ مازيګر نه پس حضورپاك ﷺ دوه رکعته مونځ کړې دې په دې کښې هيڅ شك نشته البته داد حضورپاك ﷺ خصوصيت وو د دې کول صرف د حضورپاك ﷺ د پاره جائز وو دَ بل چا دَ پاره نه دَ دې حکم دې اونه دَ چا دَپاره جائز دی.

دخصوصيت دليل:- څکه چه دَ مازيګرنه پس دَ نفل مونځ کولو په احاديثو کښې ممانعت راغلي دې. حضرات صحابه کرامو ته په دې عمل کښې تردد اوشو چه دَ ممانعت باوجود حضورپاك ﷺ دا دوه رکعته پخپله ولې کول.

چنانچه حضرت ام سلمه رضي الله عنها دَ حضورپاك ﷺ نه هم په دغه انداز کښې سوال اوکړو يا رسول الله ! تاسو په دې وخت کښې دَ نفل مونځ کولو نه منع فرمائيلې ده بيا تاسو ئې ولې کوئی؟

حضورپاك ﷺ په جواب کښې اوفرمائيل يو خل دَماسپخين دَ مونځ نه پس دوه رکعته په وجه دَ څه مشغولتيا پاتې شوې وو نوما دَ مازيګر نه پس اوکړه. چونکه حضورپاك ﷺ چه

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب مواقيت الصلاة/ باب: ما يصلی بعد العصر من الفوائت ونحوها (رقم-۵۹۱) ومسلم فی صلاة المسافرين/ باب معرفة الركعتين اللتين كان يصليهما النبی صلی الله عليه وسلم بعد العصر(رقم) ۲۹۹ - (۸۳۵)وابوداود فی کتاب الصلاة،باب من رخص فيهما إذا كانت الشمس مرتفعة (رقم-۱۲۷۹) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الصلاة بعد العصر(رقم-۱۸٤) والنسائی كتاب المواقيت/باب الرخصة فی الصلاة بعد العصر (رقم-۵۷٤)

به کله يو عمل په کوم وخت کښې کولو نو حضورپاك ﷺ بـه پـه هغې باندې هميشه والې کولو په دې وجه به الله تعالى ته هغه عمل خوښيدلو. هم دغه معامله دَ مازيګر نه پس دَ دوو نفلو سره اوشوه چه په شروع کښې مې دَ يو ضرورت دَ وجې نه اکړه بيا پـه اختيار سره کول شروع کړه. دا دَ امت کار نه دې دَ حضورپاك ﷺ خصوصيت وو.

[۱۱۷۹] دغروب آفتاب څخه روسته اود ماښام څخه وړاندې د نفلو حکم

۱۱۷۹–()[۲۱] [۱] وَعَنِ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ، قَالَ: [۲] سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ الْعَصْرِ، [۳] فَقَالَ: «كَانَ عُمَرُ يَضْرِبُ الْأَيْدِيَ عَلَى صَلَاةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ. [۴] وَكُنَّا نُصَلِّي عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ. [۵] فَقُلْتُ لَهُ: أَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهِمَا؟ [۶] قَالَ: كَانَ يَرَانَا نُصَلِّيهِمَا فَلَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: [۱] مختار ابن فلفل فرمايي [۲] چې ما (يوه ورځ) د حضرت انس رضي الله عنه څخه د مازيګر څخه وروسته د نفل لمانځه کولو په باره کښې پوښتنه وکړه [۳] نو هغه وفرمايل (په دې معامله کې) د امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه (خو دومره سخته رويه وه چې هغه) به د مازيګرڅخه وروسته د نفل مونځ نيت ترونکي په لاس وهلو (يعني په انتهايي سختي او شدت سره به يې هغه وخت د لمانځه کولو څخه منع کوله) [۴] او مونږ به د نبي کريم ﷺ په مبارکه زمانه کې د نمر ډوبيدو څخه وروسته او د ماښام د لمانځه څخه مخکې دوه رکعاته (نفل لمونځ) کولو [۵] (دې اوريدو سره) ما د حضرت انس رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چه آيا حضور ﷺ به هم دا دوه رکعاته کول؟ [۶] وې فرمايل حضور ﷺ به مونږ په لمانځه کولو ليدلو ليکن نه به يې مونږ ته د کولو حکم کولو او نه بـه يـې مونږ د دې د کولو څخه منع کولو. (مسلم)

حل اللغات: - ① التَّطَوُّعِ: أَيْ: نَافِلَةٍ: نفل مونځ، ② يَضْرِبُ الْأَيْدِيَ: أَيْ: يَمْنَعُهُمْ مِنْهَا: چاچه بـه دمازيګر دمونځ نه پس د نفل مونځ نيت ترلې وو هغوی بـه ئې پـه لاس سره منـع کـول. ③ يَرَانَا: مـونږ بـه ئې اوليدلو (چه مونږ به مونځ کولو خونه به ئې منع کولو اونه به ئې راته حکم کولو. دې نه تقريري طور سره اجازت او اختيار معلوم شو).

تسهيلات: -

قوله: رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ:

دماښام د مانځه څخه وړاندې د تاخير په صورت کښې د نفلو حکم: - که دَماښام په مونځ کښې تاخيرراغی نودا دوه رکعته کول مناسب نه دی اودَ خلفاء راشدين رضي الله عنهم معمول دَ نه کولو وو اوکه چرته تاخيرنه راځی اودَ علاقې دَ خلقو دَپاره دَ تشويش او التباس سبب نه وی او وخت موجود وی نوبيا کول پکاردی او په احاديثوکښې اختيارډې او په

[1] اخرجه مسلم في صلاة المسافرين وقصرها/ باب استحباب رکعتين قبل صلاة المغرب (رقم-۳۰۲ - (۸۳۶)

اختيار كښي جبر نشته دي. څوك ئې چه اوكړي ثواب به مومي او څوك چه نه كوي مجرم به نه وي دا مسئله اول په تفصيل سره بيان كړي شوي ده.

[۱۱۸۰] د ماښام فرض څخه مخكښي دوه ركعته نفل

۱۱۸۰-(۱)[۲۲] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «كُنَّا بِالْمَدِينَةِ، ۲ فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ، ۳ ابْتَدَرُوا السَّوَارِيَ، فَرَكَعُوا رَكْعَتَيْنِ، ۴ حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ الْغَرِيبَ لَيَدْخُلُ الْمَسْجِدَ، ۵ فَيَحْسَبُ أَنَّ الصَّلَاةَ قَدْ صُلِّيَتْ مِنْ كَثْرَةِ مَنْ يُصَلِّيهِمَا.» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ حضرت انس رضي الله عنه وايي چې مونږ په مدينه کې وو ۲ (هغه وخت دا حال وو) چې مؤذن به د ماښام اذان وکړو ۳ نو (بعضي صحابه به) د مسجد د ستنو طرف ته زغليدل او دوه رکعاته نفل مونځ به يې کول ۴ تر دي چه که څوك مسافر سړي به مسجد ته راغي ۵ نو اکثر خلق (تنها تنها) دوه رکعاته مونځ کولو باندي ليدو سره دا گمان به يې کولو چې مونځ شوي دي او (اوس خلق سنت کوي). (مسلم)

حل اللغات:- ① ابْتَدَرُوا: أَيْ: تَسَابَقُوا: يو بل نه به مخکښي کيدل (بعضي صحابه). ② السَّوَارِيَ: د سَارِيَةٌ جمع ده، ستنو ته وائي (ستنو ته به ځکه اودريدل چه ستره جوړه شي). ③ الْغَرِيبَ: مسافر.

تسهيلات:-

نوټ:- د ركعتين قبل صلاة المغرب تفصيل په بل ځائي کښي ذکر شوي دي.

[۱۱۸۱] د ماښام څخه وړاندي د دوو رکعتونو حکم

۱۱۸۱-(۲)[۲۳] ۱ «وَعَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ أَتَيْتُ عُقْبَةَ الْجُهَنِيَّ، فَقُلْتُ: أَلَا أُعَجِّبُكَ مِنْ أَبِي تَمِيمٍ؟ ۳ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ. ۴ فَقَالَ عُقْبَةُ: إِنَّا كُنَّا نَفْعَلُهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ۵ قُلْتُ: فَمَا يَمْنَعُكَ الْآنَ؟ قَالَ: الشُّغْلُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ مرثد ابن عبدالله وايي ۲ چې زه د حضرت عقبه جهني رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شوم ورته مې عرض وکړو چې زه تا ته د ابو تميم (تابعي) يو تعجب ورفعل ونه ښايم؟ ۳ (هغه دا چې) ابو تميم د ماښام د لمانځه څخه مخکې دوه رکعاته (نفل) مونځ کوي ۴ حضرت عقبه رضي الله عنه وفرمايل چې دا مونځ خو به (په مونږ کې بعضو صحابه و رضي الله عنهم هم کله کله) د حضور ﷺ په زمانه کې کولو ۵ هر کله چې ما پوښتنه وکړه چې بيا د دي لمانځه څخه تاسو کوم شي منع کړي يې؟ وي فرمايل د دنيا مشغوليت، (که مشغوليت زيات شي نو نوافل بل وخت ته پريښودل کيږي). (بخاري)

حل اللغات:- ① أَلَا أُعَجِّبُكَ: أَيْ: أَلَا أُوقِعُكَ فِي التَّعَجُّبِ: تعجب کښي اچونکي کار درته اونه ښائم؟ ② الشُّغْلُ: أَيْ: شُغْلُ الدُّنْيَا: مشغوليت د دنيا.

---

[1] اخرجه مسلم في صلاة المسافرين وقصرها/ باب استحباب ركعتين قبل صلاة المغرب (رقم-۳۰۳ - (۸۳۶)

[2] اخرجه البخاري في كتاب الجمعة/ باب الصلاة قبل المغرب (رقم-۱۱۸۴)

د راوي مختصر تعارف: نوم مرثد دَ پلار نوم عبدالله، كنيت ابوالخير يزني او مصري ورته وائی. په لويو تابعينو كښې دَهغوی شمير كيږی. په عام توګه دې دَعقبه بن عامر رضي الله عنه ابو ايوب انصاری رضي الله عنه عبدالله بن عمر رضي الله عنه او عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايتونه نقل كوی.

وفات او مرويات:- ۹۰ھ كښې وفات شوې دَهغه نه صحاح سته ټولو هم يو روايت نقل كړې دې. (تقريب)

تسهيلات:- قوله: قَالَ: الشُّغُلُ:

د ركعتين قبل المغرب عدم وجوب:- ددې نه معلوميږی چې صحابه كرامو د ماښام نه وړاندې نوافل كول پريښودی وو. كه چا بهٔ كول نو هغه پسې به خبرې كيدلې. كه دا واجب يا ضروری وې نو د حضور ﷺ صحابهٔ كرامو به هيڅكله نه وې پريښودې. ددې نه معلومه شوه چې هغه صحابه كرامو دا مباح ګڼړل. ګنی صحابه كرامو به د دنيا دمشغوليت په وجه هيڅ يو سنت نه پريښودو.

[۱۱۸۲] د نفلو په كورونو كښې د ادا كولو فضيلت

۱۱۸۲—()[۲۴] [۱] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مَسْجِدَ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ، فَصَلَّى فِيهِ الْمَغْرِبَ، [۳] فَلَمَّا قَضَوْا صَلَاتَهُمْ رَآهُمْ يُسَبِّحُونَ بَعْدَهَا، [۴] فَقَالَ: "هَذِهِ صَلَاةُ الْبُيُوتِ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. [۵] وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ وَالنَّسَائِيِّ: قَامَ نَاسٌ يَتَنَفَّلُونَ، [۶] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " «عَلَيْكُمْ بِهَذِهِ الصَّلَاةِ فِي الْبُيُوتِ» ".

ترجمه: [۱] كعب ابن عجزه رضي الله عنه فرمايي [۲] چې (يوه ورځ) رسول الله ﷺ (د انصارو د يوې قبيلې) بني عبد الاشهل مسجد ته تشريف راوړو او هلته يي د ماښام (فرض او سنت) مونځ وكړو [۳] هر كله چې (بعضو) خلقو خپل فرض مونځ وكړو نو حضور ﷺ وليدل چې هغوی د فرض لمانځه د اداء كولو ځخه وروسته نفل مونځ (يعني د ماښام سنت هم هلته) كوي [۴] (د دي په ليدو سره) حضور ﷺ ورته وفرمايل دا (يعني د ماښام سنت يا مطلقًا نفل لمونځ) په كوركي د كولو دي. ابوداؤد، [۵] او د ترمذي او نسايي د يو روايت الفاظ دا دي چې كله خلق (د فرض لمانځه ځخه وروسته) نفل كولو ته ودريدل [۶] نو حضور ﷺ هغوی ته وفرمايل په تاسو لازم دي چې دا مونځ (په خپلو خپلو) كورونو كې كوئ.

حل اللغات:- ① صَلَاةُ الْبُيُوتِ: أَيِ الْأَفْضَلُ كَوْنُهَا فِيهَا: يعنی نوافل او سنت داسې مونځونه دی چه كورونو ته تلو سره كول افضل او اولی دی سره دَدې چه په جمات كښې كول جائز دی.

[1] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة،باب ركعتی المغرب أين تصليان؟ (رقم-۱۳۰۰) والترمذی كتاب السفر /باب ما ذكر فی الصلاة بعد المغرب أنه فی البيت أفضل (رقم-۶۰۴)

تسهيلات:-

قوله: هٰذِهِ صَلَاةُ الْبُيُوتِ:

په کور کښې د سنتو پاتې کيدو په صورت کښې په جمات کښې د کولو حکم:- رسول الله ﷺ په جمات کښې دَمابښام مونځ اوکړو اوبيائې سنت هم په جمات کښې اداکړه لکه چه راتلونکې حديث نمبر ۲۵ کښې راځي. بعضې علماؤ ليکلی دی که چرته کورته تلوسره دَ څه مشغوليت دَ وجې نه دَ سنت پاتې کيدو يا هيريدو خطره وی نو بيا هم په جمات کښې کول پکار دی.

[۱۱۸۳] د ماښام په سنتوکښې اوږد قراءت

۱۱۸۳ -( )[۲۵] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيلُ الْقِرَاءَةَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، ③ حَتَّى يَتَفَرَّقَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.[1]

ترجمه: ① ابن عباس ﷛ فرمايي ② چې نبي کريم ﷺ به د ماښام د فرض لمانځه څخه وروسته په دوه رکعاته (سنت کې کله کله) دومره اوږد قراءت کولو ③ چې د مسجد خلق به (د خپل خپل لمونځونو څخه فارغيدو سره) لاړل. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يَتَفَرَّقَ: جدا به شو، خواره واره به شو. ② أَهْلُ الْمَسْجِدِ: دې نه مراد جماعت سره مونځ کونکی دی.

تسهيلات:-

قوله: حَتَّى يَتَفَرَّقَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ:

دحديث څخه معلومې شوې مسئلې:-

① دَ حضورپاک ﷺ نه په جمات کښې سنت ادا کيدل ثابت ددی اودا جائزدی. بيا دغه علت لپاره هيڅ ضرورت نشته دې چه حضورپاک ﷺ دَ کومې مجبورئې نه سنت په جمات کښې کړی وو.

② حضورپاک ﷺ به کله کله دَماښام سنتوکښې طويل قراءت کولو او قراءت به دومره اوږدشو چه دَ محلې خلق به دَ جمات نه کورونوته لاړل

دسنتو څخه روسته په التزام سره په اجتماعي طوره دعا حکم:- دې نه صفاواضحه کيږی چه دَ سنتونه پس هيئت اجتماعيه سره بالالتزام دعا غوښتل بدعت دې ځکه چه دا ناممکن اونامعقول خبره ده چه خلق به دَ اجتماعی دعاغوښتلودَپاره دَ کورونونه بياجمات ته راتلل اودَ سنتونه پس به ئې دعا غوښتله. زيربحث حديث دَ يوحق ويونکې او حق پرست سړی دَپاره کافی هدايت دې.

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب رکعتی المغرب أين تصليان؟ (رقم-۱۳۰۱)

[۱۱۸٤] د ماښام څخه وروسته د نفل کولو فضیلت

۱۱۸۴-(١)[٣٦] [١] وَعَنْ مَكْحُولٍ، يَبْلُغُ بِهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [٢] "«مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ قَبْلَ أَنْ يَتَكَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، [٤] رُفِعَتْ صَلَاتُهُ فِي عِلِّيِّينَ»". مُرْسَلًا.

ترجمه: [١] مکحول (تابعي) رحمه الله دا روایت رسول الله ﷺ ته رسوي (یعني د حضور ﷺ څخه بطریق ارسال روایت کوي) چې نبي کریم ﷺ وفرمایل [٢] کوم سړي چې د ماښام (فرض یا سنت مؤکده) مونځ کولو نه پس (د نیاوي) خبرو کولو څخه مخکې دوه رکعاته مونځ اوکړی [٣] او په یو روایت کې دي چې څلور رکعاته مونځ وکړي [٤] نو د هغه دا مونځ علیین ته رسولې شي.

حل اللغات:- ① رُفِعَتْ: كِنَايَةٌ عَنْ غَايَةِ قَبُولِهَا وَعَظِيمِ ثَوَابِهَا: پورته رسولې شي (دا کنایه ده د قبولیت ددې مونځ او اشاره ده دې ته چه په دې کښې ډیر زیات ثواب د ی). ② عِلِّيِّينَ: دا د عِلِّيّ جمع ده، په اووم آسمان کښې یو خاص د عزت ځای دې هلته د مؤمنانو ارواح او نیک عملونه اوړلې شي.

تسهیلات:-

قوله: مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ قَبْلَ أَنْ يَتَكَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ:

د صلاة اوابین فضیلت:- یعنی کوم کس چې د خبرو کولوڅخه وړاندې د ماښام مونځ څخه روسته دوه رکعته ادا کړل، یا څلور رکعته ئې ادا کړل، یعنی صلاة اوابین ئې ادا کړل نو دده نفلی مونځ او فرائض دواړه علیین ته اوچت کړې شی. دې دا کنایه ده د دې څخه چې دا د قبولیت درجې ته اورسی او دې کښې ډیر ثواب دې.

قوله: رُفِعَتْ صَلَاتُهُ فِي عِلِّيِّينَ:

دعلیین په مصداق کښې درې اقوال:-

① علیین هغه مقام دې کوم چې د اوؤ آسمانونوڅخه پورته دې، اوهلته د مؤمنانو روحونه ځي.

② دا د فرشتو د دفتر او رجسټر نوم دې. کوم کښې چې مقبول ترین اعمال لیکلې کیږي.

③ ددې څخه مراد الله تعالی قرب دې. ددې مطلب دادې چې ددنیاوی کلام کولونه وړاندې وړاندې دا نوافل ادا کول افضل دی. ددې په برکت سره پورا مونځ علیین ته رسولې شي.

[۱۱۸۵] دماښام دوه رکعته سنتوپاندې دتعجیل حکم

۱۱۸۵-(٢)[٣٧] [١] وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، نَحْوَهُ، [٢] وَزَادَ: فَكَانَ يَقُولُ: "«عَجِّلُوا الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ، [٣] فَإِنَّهُمَا تُرْفَعَانِ مَعَ الْمَكْتُوبَةِ»". [٤] رَوَاهُمَا رَزِينٌ، [٥] وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ الزِّيَادَةَ عَنْهُ نَحْوَهَا فِي: "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١] دحذیفه رضی الله عنه څخه (هم) دغسې (یعني پورته حدیث) روایت دې [٢] لیکن د هغه

---

(١) مصنف ابن أبي شيبة في ثواب الركعتين بعد المغرب (٣/ ١۴).

(٢) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٣٠٦٨

په روایت کې دا الفاظ هم دي چې حضور ﷺ به فرمایل تاسو خلق د ماښام ځخه وروسته دوه رکعاته (سنت) زر کوئ ۳ ځکه چې هغه دوه رکعاته د فرضو سره پورته (علیین ته) رسولي شي ۴ دا دواړه روایتونه رزین نقل کړي دي ۵ او بیهقي د حذیفه رضی الله عنه زائد الفاظ دغسې په شعب الایمان کې نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① عَجِّلُوا: جلتی کوئ، زر کوئ، ② تُرْفَعَانِ: پورته رسولي شي.

تسهیلات:-

د فرضو ځخه روسته د سنتو په کولو کښې د تادي، دوه وجوهات:-

① دَ زیر بحث حدیث مطلب هم دغه دې چه کله فرښتې فرائض اوچته وی نو هغې سره سنن اونوافل هم اوچته وی اوری لهذا تاسو دَ فرضونه پس زر سنت کوئی وخت مه لګوئی دې دَپاره چه فرښتې دواړه قسم اعمال اوچت کړي یوسی

② دَ فرائضو دَ تکمیل دَپاره سنت کولې شی لهذا دا هغې سره کیدل بهتر دی.

د فرضواوسنتو په مینځ کښې په اذکارو سره فاصله راوستل:- احنافو هم دَدې قسم روایاتونه استدلال کولوسره دَ سنتو زر کولو ویناکړې ده . خودې سره عوام الناس دومره تادئی سره کول شروع کړه چه سلام ګرځولوسره اودریږی حالانکه دا ناجائز اومنع دی. دَ حضورپاك ﷺ په وراندې حضرت عمر رضی الله عنه یوکس کینولو اوونی فرمائیل دادَ اهل کتابو طریقه ده لهذا مسلمانانوله پکاردی چه دَ فرائضونه پس ضروری اذکار لوستلوسره لږشان تاخیرسره سنت اداکړی.

[۱۱۸۶] د فرضواو نفلو کښې فاصله ساتل

۱۱۸۶ –(۱)[۲۸] ۱ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ عَطَاءٍ، قَالَ: ۲ إِنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ ۳ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَآهُ مِنْهُ مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلَاةِ، ۴ فَقَالَ: نَعَمْ، صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي الْمَقْصُورَةِ، ۵ فَلَمَّا سَلَّمَ الْإِمَامُ قُمْتُ فِي مَقَامِي، فَصَلَّيْتُ، ۶ فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ إِلَيَّ، فَقَالَ: لَا تَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ، ۷ إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ فَلَا تَصِلْهَا بِصَلَاةٍ حَتَّى تَكَلَّمَ أَوْ تَخْرُجَ، ۸ «فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِذَلِكَ أَنْ لَا نُوصِلَ بِصَلَاةٍ ۹ حَتَّى نَتَكَلَّمَ أَوْ نَخْرُجَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ د عمرو ابن عطاء (تابعي) رحمه الله په باره کې منقول دي ۲ چې هغه (یعني عمرو) لره نافع ابن جبیر (تابعي) رحمه الله حضرت سائب (صحابي) رضی الله عنه ته ولیږلو ۳ چې د هغه ځخه هغه څیزو وپوښتي چې امیر معاویه رضی الله عنه هغه په لمانځه کې کولو باندې لیدلي وو او د هغه ځخه یې هغه منع کړي وو نو عمرو رحمه الله حضرت سائب رضی الله عنه ته ورغي د هغه ځخه یې

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الجمعة / باب الصلاة بعد الجمعة (رقم) ۷۳ - (۸۸۳) وابوداود فی کتاب الصلاة، باب الصلاة بعد الجمعة (رقم-۱۱۲۹)

د هغه ځيز تفصيل معلوم کړو ۴ نو هغه ورته وفرمايل هو (يو ځل) ما د امير معاويه رضي الله عنه سره په مقصوره کې د جمعي مونځ وکړو ۵ امام چې سلام وګرځولو نو زه په هغه ځاي (چېرته چې د جمعي فرض مونځ مي کړي وو) ودريدم او (د فرض او سنت هيڅ تميز کولو ځخه بغير د جمعي سنت) مونځ مي کولو ۶ کوم وخت چې معاويه رضي الله عنه (د لمانځه د فارغيدو ځخه وروسته) خپل مکان ته لاړو نو په ما پسي يي يو سړي راوليږلو چې هغه وخت تا ځه کړي دي بيا داسې مه کوه (يعني په کوم ځاي کې چې دي فرض مونځ وکړي په هغه ځاي کې د امتياز پيداکولو ځخه بغير نفل مونځ مه کوه) ۷ هر کله چې ته د جمعي مونځ وکړي نو هغه د جمعي (فرض لمونځ) د يو (بل نفل يا قضاء لمانځه) سره مه يو ځاي کوه تر ځو پورې چې ته ځه خبري ونه کړي يا (د مسجد ځخه) بهر ونه وځي ۸ ځکه چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم مونږ ته د دې خبري حکم راکړي دي چې مونږ دي يو مونځ د بل لمانځه سره نه يو ځاي کوو ۹ تر ځو پورې چې (په مينځ کې) خبري ونه کړو يا د مسجد ځخه بهر لاړ نه شو. (مسلم)

حل اللغات:- ① اَلْمَقْصُورَةَ: مَوْضِعٌ مُعَيَّنٌ فِي الْجَامِعِ مَقْصُورٌ لِلسَّلَاطِيْنِ: په جامع مسجد کښې د بادشاهانو حاکمانو دپاره د مونځ مخصوص ځاي ته وائی. ② لَاتَعُدْ: دَ باب نصر ينصر نه، د عود نه دې واپس راګرځيدو ته وائی أَيْ: لَاتَفْعَلْهُ مِثْلَ مَافَعَلْتَهُ ثَانِيًا: يعنی بيا داسې کار مه کوه.

تسهيلات:-

قوله: صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي الْمَقْصُورَةِ:

د حديث پس منظر:- حضرت علي او حضرت عثمان رضي الله عنهما چه کله شهيدان کړې شو او په حضرت معاويه رضي الله عنه باندې دَ قاتلانه حملې خطره زياته شوه نو حضرت معاويه رضي الله عنه په جمات کښې دَ مونځ کولو په دوران کښې لږ شان احتياط کولو دَهغوی نه پس خلفاء هم احتياط شروع کړو دَدې احتياط صورت به دا وو چه دَ خليفه دَپاره به په جمات کښې يو مخصوص ځائی متعين کولې شو په کوم کښې چه به عام خلق نه شو راتلې. دَدغه مخصوص ځائی نوم به مقصوره وو لکه چه نن صبا په حرمين شريفين کښې دَ اذان خانه ځائی دې.

قوله: إِذَاصَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ

په فرضواوسنتو کښې فاصله ساتل:- دلته دَ جمعه قيد اتفاقی دې داحکم صرف دَجمعه پورې خاص نه دې بلکه دَهرهغه مونځ دَپاره خاص دې دَ کوم نه پس چه سنت وی. دَ دې حديث نه معلومه شوه چه دَ فرض مونځ او سنت په مينځ کښې مناسب فاصله کول دی بالکل اتصال مناسب نه دې خو چه په انفصال کښې اعتدال وی بالکل متصل هم نه وی بيا دا حکم دَ سنن مؤکده او غيرمؤکده ټولودَپاره دې.

د فاصلې مختلف صورتونه:-

① اذکار اوادعيه هم دی ② ځائی بدلول هم دی ③ کورته تلل هم دی

④ خبري کول هم دی ⑤ په صفت کنبي وړاندې روستو کیدل هم دی

دي تولو صورتونوته اشاره "حتی تکلم او تخرج" سره کړې شوې ده.

وبعض العلماء قول: - دَ بعض علماؤ وینا ده چه اذکار اوادعیه سره فاصله نه راځی بلکه کلام کول پکار دی یا ځائی بدلول پکار دی.

[۱۱۸۷] د جمعې په سنتو کښې د حضرت ابن عمر معمول

۱۱۸۷-(۱)[۲۹] ۱ وَعَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: «كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ بِمَكَّةَ تَقَدَّمَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ۲ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ فَيُصَلِّي أَرْبَعًا. ۳ وَإِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ صَلَّى الْجُمُعَةَ، ۴ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ۵ وَلَمْ يُصَلِّ فِي الْمَسْجِدِ، فَقِيلَ لَهُ، ۶ فَقَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. ۷ وفي رواية الترمذی قال رايت ابن عمر صلى بعد الجمعة ركعتين ثم صلى بعد ذلك اربعا.

ترجمه: ۱ عطاء فرمایي چې ابن عمر رضی الله عنه چې به په مکه کې د جمعې مونځ وکړو نو کوم ځاي چې به یې فرض مونځ کړي وو د هغه ځاي څخه به مخکې کیدو او دوه رکعاته به یې کول ۲ د هغې څخه وروسته به بیا وړاندې کیدو او څلور رکعاته به یې کول ۳ او کله چې به په مدینه کې وو نو (دا یې معمول وو چې) د جمعې فرض مونځ به یې اوکړو ۴ نو خپل مکان ته به یې تشریف راوړو او په کور کې به یې دوه رکعاته مونځ کولو ۵ په مسجد کې (به یې د فرضو څخه علاوه بل مونځ) نه کولو د هغه څخه (چې په کور کې د کولو او په مسجد کې د نه کولو) د سبب پوښتنه وشوه ۶ نو وي فرمایل (ځکه چې) نبي کریم ﷺ به داسې کول، ابوداؤد، ۷ او د ترمذي د روایت الفاظ دا دي چې حضرت عطاء اوویل ما حضرت ابن عمر رضی الله عنه لیدلي دي چې هغه به د جمعې څخه وروسته دوه رکعاته کولو نه پس به یې څلور رکعاته کول.

تسهیلات: -

قوله: فَيُصَلِّي أَرْبَعًا:

د جمعې د فرضو څخه روسته په سنتو کښې د ابن عمر رضی الله عنهما عمل: - یعنی حضرت ابن عمر رضی الله عنه چه به کله په مدینه منوره کښې دَ جمعې مونځ کولو نو دَ هغې نه پس به کور ته تلو او صرف دوه رکعته سنت به ئې کول. لیکن چه کله به په مکه کښې وو نو دَ جمعې دَ فرض نه پس دَ صف نه به وړاندې شو او دوه رکعته سنت به ئې کول. اوبیا به خپلې خیمې ته لاړو نو څلور رکعته به ئې نور کول. چا دَ هغوی نه تپوس اوکړو نو هغوی په جواب کښې اوفرمائیل چه دَ حضورپاك ﷺ هم دغه معمول وو.

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/کتاب الصلاة، باب الحث علی قیام اللیل رقم الحدیث ۱۱۲۹ والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۵۲۲

د جمعې څخه روسته په شپږو سنتو کښې د امام ابو یوسف د قول تائید :- علماو دَ حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہما دَ دې عمل باره کښې لیکلی دی چونکه په مدینه منوره کښې دَ هغوی کور جمات سره نیزدې وو نو هغوی به کور ته تلل او سنت به ئې کول او په مکه کښې به هغوی مسافر وو نو هم په جمات کښې به ئې نفل کول او چونکه په مکه مکرمه کښې دَ عبادت ډیر زیات فضیلت دې په دې وجه به ئې دوو سره څلور نور ملاوول. دې سره دَ جمعې دَ مونځ نه پس شپږ رکعته ثابتیږی او هم دا دَ امام ابو یوسف رحمہ اللہ مسلك دې او هم په دې باندې دَ احنافو فتویٰ ده.

[۳۱/۴۷]بَابُ صَلَاةِ اللَّيْلِ

د شپې د مونځ یعنی د تهجد و بیان

خلاصة الباب :-

فيه ثلاثة وعشرون حديثاً مشتملة على احد عشر مسئلة:

① عدد ركعات صلوة الليل: ۱، ۴، ۵، ۸، ۹، ۱۰ ۔
② الإضطجاع بعد ركعتي الفجر: ۱، ۲، ۳، ۱۹۔
③ عدد ركعات الوتر: ۱، ۹، ۱۰۔
④ الإبتداء بركعتين خفيفتين في صلاة الليل: ۶، ۷۔
⑤ الذكر بعد الاستيقاظ من النوم : ۸، ۹، ۲۲۔
⑥ حكم الصلوة جالسا: ۱۱۔
⑦ مقدار القراءة فى صلوة الليل: ۱۲، ۱۳، ۱۸۔
⑧ التاكيد على قيام الليل: ۱۴۔
⑨ كيفية القراءة فى صلوة الليل: ۱۵، ۱۶، ۱۷۔
⑩ وقت قيام النبي ﷺ من الليل: ۹، ۲۰، ۲۲، ۲۳۔
⑪ أحوال النبي ﷺ فى صلوة الليل: ۹، ۲۱، ۲۲، ۲۳۔

د نبی کریم په صلاة اللیل کښې مختلف معمولات :-

① کله حضورپاك ﷺ زیات رکعتونه کړی دی
② کله ئې په کمو رکعتونو باندې اکتفاء کړې ده.
③ کله حضورپاك ﷺ ډیر اوږد مونځ کړې دې
④ کله ئې مختصر کړې دې

لهذا په دې کښې وسعت دې کوم سړی چه کومه یوه طریقه خپله کړه دَ نبی کریم ﷺ متابعت او ثواب به ورته ملاویږی.

د رکعاتونو په تعداد کښې مختلف روایات:-

① حضورپاك ﷺ نهه رکعته کړې دی په دې کښې درې وتر دوه تحیه او څلور تهجد وو.
② حضورپاك ﷺ یوولس رکعته کړې دی په دې کښې درې وتر او اته رکعته تهجد وو.اوکه چرې دوه تحية الوضوء اومنلې شي نوشپږ رکعته به تهجد شي
③ حضورپاك ﷺ دیارلس رکعته کړې دی په دې کښې دوه رکعته صلوة تحیه وو. درې وتروو. او اته تهجد دی
اودا دیارلس رکعته د ټولوڅخه زیات تعداد دې

د رکعتونوپه تعداد کښې د کمی زیاتی وجوهات:-

① د ضعف اوقوت د وجې نه هم شوی دی.
② د شپو د اوږدیدو یاکمیدو د وجې نه کیدې شي
③ د ستومانتیا او آرام د وجې هم کیدې شي

د صلاة اللیل اطلاقات:-

① په اصل کښې د تهجد دپاره دا لفظ استعمالیږی
② په وترو باندې هم د صلاة اللیل اطلاق کیږی.
③ د سحر په دوو سنتو باندې هم د صلاة اللیل اطلاق شوې دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۱۸۸] د ماسخوتن او سحر په مینځ کښې یوولس رکعته کول

۱۱۸۸-()[۱] ① عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى الْفَجْرِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، ③ يُسَلِّمُ مِنْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ، وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ، ④ فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ مِنْ ذٰلِكَ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ أَحَدُكُمْ خَمْسِينَ آيَةً ⑤ قَبْلَ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ.

ترجمه: ① ام المؤمنین بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي ② چې حضور ﷺ به د ماسخوتن د لمانځه د فارغیدو سره د سحر تر لمانځه پورې (اکثر) یوولس رکعاته مونځ کولو ③ او د هر دوه رکعاته وروسته به یې سلام ګرځولو بیا (په آخر کې) د یو رکعت سره به یې وتر کول ④ او په دې رکعت کې به یې دومره اوږده سجده کوله په څومره وخت کې چې یو سړي پنځوس آیاتونه وایي ⑤ د سر پورته کولو څخه مخکې.

① فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ، ② وَتَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ، ③ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ④ ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ ⑤ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ، فَيَخْرُجُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/ باب ما جاء فی الوتر (رقم-۹۹۴) و کتاب الأذان/باب من انتظر الإقامة(رقم-۶۲۶) ومسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها/ باب صلاة اللیل، وعدد رکعات النبی صلی الله علیه وسلم فی اللیل، وأن الوتر رکعة، وأن الرکعة صلاة صحیحة(رقم-۱۲۲ - (۷۳۶)

ترجمه: [۱] بيا چې مؤذن به د سحر آذان کولو سره چپ شو [۲] او فجر به طلوع شو [يعنې د سحر رڼا به خوره شوه] [۳] نو حضور ﷺ به اودريدلو او د سحر دوه مختصر رکعاته (يعني د فجر سنتونه) به يې وکړل [۴] (او د هغه څخه وروسته به د لږ ساعت د پاره) په خپل ښي اړخ به يې څنګ (دده) واچولو [۵] تر دې چې مؤذن به د تکبير (يعنې د تکبيرويلو اجازت حاصلولو د پاره) حضور ﷺ ته راغي نو حضور ﷺ به (مسجد ته) تشريف يوړو، (بخاري، مسلم)

تسهيلات:-

قوله: وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ:

داحنافو په نيزد يوتر بواحدة مفهوم:- ايتار دَ طاق جوړولو په معنی کښې دې يعنې جفت شفعه به حضورپاك ﷺ يو رکعت سره طاق جوړولو. دَوترو په رکعتونو کښې اختلاف مخکښې راتلونکې دې. دلته يو رکعت وترمراد نه دی بلکه دَ طاق جوړولو په معنی کښې دې.

قوله: فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ:

د سجدو د اوږدوالی په مصداق کښې دوه احتمالات:-

① يعنی په وترو کښې چه به کله حضورپاك ﷺ سجدې له تلو نودَ دومره وخته پورې به ئې سجده کوله لکه څومره ساعت چه يو سړې په پنځوسو آياتونو ونيلو کښې لګوی. دَ ظاهری حديث نه هم دغه معلوميږی چه حضورپاك ﷺ به دَ تهجدو په رکعتونو کښې ټولې سجدې هم دغه شان اوږدې کولې.

② دلته دا احتمال هم دې چه دَ سجدو دا اوږدوالې صرف وتر سره خاص وی.

قوله: ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ:

د اضطجاع معنی اوپس منظر:- اضطجاع په اړخ باندې سملاستو ته وائی يعنی حضورپاك ﷺ به دَ عائشې بی بی ﷞ په کمره کښې ټوله شپه تهجد کول نو دَ سحر په وخت کښې به ئې مختصر شان دوه رکعته دَ سحر سنت کولونه پس دَ آرام ستوماتيا لرې کولو اوملا نيغولو دَپاره په اړخ باندې سملاستو.

د اضطجاع په حکم کښې اقوال:-

① حضرت عبدالله بن عمر ﷠ دې اضطجاع ته بدعت ونيلې دې اوداسې کونکی به ئې په قوت کانړو باندې ويشتلوسره منع کول. (مصنف عبدالرزاق)

حضرت ابن عمر ﷠ دا اضطجاع بدعت ګرځولې ده چه مثلاً يو سړی ټوله شپه دَ تهجدو مونځ هم نه وی کړې ستوماتيا هم نشته بيا دَ سحر سنت هم په کور کښې اونه کړی جمات ته راشی ونی کړی او په کور کښې دَ استراحت په څائی جمات کښې راتلو سره استراحت کوی نودا په جمات کښې صرف نوم بلا تعب دې حالانکه په دې کښې دا سړې دَ ثواب نيت

هم کوی نودَدې په بدعت کیدو کښې څه شك دې.

۲ غیرمقلدینو حضراتو دې اضطجاع ته سنت ونیلی دی بلکه بعضو واجب ونیلی دی.
غیرمقلدین حضرات په جمات کښې دَ سحر سنت کولو نه پس سملی اودَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ حدیث نمبر (۳۰۶) نه استدلال کوی. په کوم کښې چه دَ امر صیغه ده حالانکه علامه ابن تیمیه رحمه الله دا روایت باطل گرځولې دې. (کمافی زادالمعاد ۸۲/۱)

۳ بعضې علماؤ دې اضطجاع ته مباح ونیلی دی

۴ دا اضطجاع دَ هغه سړی دَپاره ده چه ټوله شپه تهجد کولوسره ستړې شوې وی که هغه چرته دَ آرام دَپاره داسې کوی نو جائز دی.

۵ صحیح او راجح خبره دا ده چه اضطجاع دَ هغه سړی دَپاره مباح ده چا چه دَ شپې په زیاته حصه کښې دَتهجدو مونځ کړې وی ستړې ستومانه وی او په کور کښې سملی آرام حاصلوی نو دا مباح او جائز دی اوکه چرې دَ حضواکرم دَ متابعت اراده ئې کړې وی نوبیا به ثواب هم ملاویږی.

۶ دَ احنافو نه حضرت شیخ عبدالحق رحمه الله دې استراحت ته مستحب ونیلې دې لیکن دَ پورتنو شرائطو په رڼا کښې وئیلی دی. [اشعة المعات: ۵۴۳/۱]

[۱۱۸۹] دَ سحر دَ فرضواو سنتو په مینځ کښې دَ خبرو کول

۱۱۸۹-(۱)[۲] [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، [۲] فَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً حَدَّثَنِي، [۳] وَإِلَّا اضْطَجَعَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمایي چې حضور ﷺ چې به د سحر سنت وکړل نو [۲] که زه به ویښه ووم نو زما سره به په خبرو اترو کې مشغول شو [۳] او که زه به اوده ووم نو حضور ﷺ به هم پریوتلو (یعني ډډه به اولګولو). (مسلم)

حل اللغات:- ۱ مُسْتَيْقِظَةً: ویښه، بیداره.

تسهیلات:-

قوله: وَإِلَّا اضْطَجَعَ:
یعنی که چرته عائشه صدیقه رضی الله عنها به اوده وه نو حضورپاك ﷺ به په خپله دَ آرام دَ پاره ارخ لګولو اوکه چرې عائشه رضی الله عنها به ویښه وه نو حضورپاك ﷺ به دَ ارخ لګولوپه ځائی هغې سره خبرې کولې.

د سحر سنتو څخه روسته د خبرو د جواز دوه شرطونه:- دَدې حدیث څخه دا خبره معلومه

---

[1] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها/ باب صلاة اللیل، وعدد رکعات النبی صلی الله علیه وسلم فی اللیل، وأن الوتر رکعة، وأن الرکعة صلاة صحیحة(رقم) ۱۳۳ - (۷۴۳) وابوداود کتاب الصلاة،باب الاضطجاع بعدها (رقم-۱۲۶۳)

شوه چه دَ سحر دَ سنتونه پس خبرې کول جائزدی مګردَدې دَپاره دوه شرطونه دی
① چه صرف دنیاوی خبرې نه وی ځکه چه صرف په دنیاوی خبروسره دَ سنتو ثواب ختمیږی
② چه دَ خبرې کولوضرورت وی یعنی که څه دنیاوی جائزخبره وی دَ کوموضرورت وی نوهغه جائزدی بغیر ضرورته دنیاوی خبرې کولوسره دَ سنت ثواب ختمیږی

[۱۱۹۰] د سحر د سنتو څخه وروسته استراحت

۱۱۹۰-(۱)[۳] ① وَعَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ ② اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي چې رسول الله ﷺ به چه کله د سحر دوه رکعاته سنت مونځ وکړو ② نو په خپل ښي اړخ (یعني مخ په قبله به) پریوتلو. (بخاري)

تسهیلات:-

قوله: اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ:

په ښي اړخ ملاسته کښې حکمت:-په ښي اړخ ملاسته کښې حکمت دادې چې زړه کس اړخ ته وی. که په ښی اړخ څملی د غفلت په خوب به اوده شی. او په دې کښې دسحر دمونځ د قضا کیدو ویره ده. او په ښی اړخ ملاسته کښې قلب معلق وی. او ددې په وجه به د غفلت خوب نه ورځي. او فرضو دپاره بیداریدل به آسان شی. امت دپاره داشان ملاسته سنت ده.

ددوؤ خبرو د قیاس عدم صحت:-

① پاتې شوه دا خبره چې نبی کریم ﷺ به خبرې کولې نو د نبی کریم ﷺ خبرې زمونږ د خبرو په شان نه وې. بلکه ددین خبرې به وې. خپلې خبرې دنبی کریم ﷺ په خبرو باندې قیاس کول نه دی پکار.

② دغه شان د نبی کریم ﷺ دده وهل (اضطجاع) ناقض للوضوء نه وه، بل چا دپاره په دې باندې عمل کول جائز نه دی.

[۱۱۹۱] د شپې دیارلس رکعته تهجد

۱۱۹۱-(۲)[۴] ① وَعَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، ② مِنْهَا الْوِتْرُ، وَرَكْعَتَا الْفَجْرِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمایي چې رسول الله ﷺ د شپې د یارلس رکعاته کول ② په هغې کې به (د وتر دري رکعاته) او د سحر دوه رکعاته (سنت) هم شامل وو. (مسلم)

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/ باب الضجعة علی الشق الأیمن بعد رکعتی الفجر(رقم) ۱۱۶۰ والنسائی فی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/باب الاضطجاع بعد رکعتی الفجر علی الشق الأیمن (رقم-۱۷۶۲)
(۲) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/ باب: کیف کان صلاة النبی صلی الله علیه وسلم؟ وکم کان النبی صلی الله علیه وسلم یصلی من اللیل؟(رقم-۱۱۴۰) ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۱۲۷/ ۷۳۸

تسهيلات:- قوله: يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنْهَا الْوَتْرُ:

د ديارلسو رکعتونو وضاحت:- دلته د ديارلسو رکعتو ذکر دي په کوم کښې چه دوه د سحر سنت دي او دري وتر دي وتروسره دلته د دريو لفظ موجودنه دي مګر نورو رواياتو کښې د ثلاث لفظ موجود دي. د مسلم شريف په روايت کښې دی "ثم اوتر بثلاث" شمائل ترمذی کښې دی "ثم يصلي ثلاثا" لهذا دا حديث د دريو رکعتو وترو د ثبوت دپاره کافي دي. هسې هم د ټولو علماؤ په نيزدري وتر افضل دی.

دلته اته رکعته تهجد دی دوه د سحر سنت دی او دري رکعته وتر دی نو ټول يوولس رکعته شو.

[۱۱۹۲] د شپې د تهجد د رکعتونو په تعداد کښې مختلف روايات

١٢-()[٥] [١] وَعَنْ مَسْرُوقٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [٢]«سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ، [٣] فَقَالَتْ: سَبْعٌ، وَتِسْعٌ، وَإِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، [٤] سِوَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] مسروق رحمه الله وايي [٢] چې ما د ام المؤمنين بي بي عائشي صديقي رضي الله عنها څخه د حضور ﷺ د شپې د لمانځه په باره کې پوښتنه وکړه (چې څومره رکعاته به يې کول؟) [٣] وي فرمايل کله خو به يې اوه رکعاته کول کله نهه او کله به يې يولس کول [٤] علاوه د سحر د سنتو څخه. (بخاري)

تسهيلات:-

قوله: سَبْعٌ، وَتِسْعٌ، وَإِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً:

د نبی کريم ﷺ د تهجدو د رکعتونو تعداد:-

① رسول کريم ﷺ به کله دشپې اووهٔ رکعته کول ،څلور رکعته د تهجدو او دري رکعته د وترو.

② کله کله به ئې نهه رکعته کول،شپږ رکعته د تهجدواو دري د وترو.

③ کله به ئې يوولس رکعته کول ،او اکثر د يوولسو رکعتو وو،اته تهجد او دري وتر.

په رواياتو کښې دري تطبيقات:-

① که نبی کريم ﷺ به په سفر کښې وو نو د څلور رکعته تهجد به ئې کول اويا به ئې شپږ رکعته تهجد کول.او کله چې بهٔ نبی کريم ﷺ مقيم وو نو اته رکعته تهجد بهٔ ئې کول.

② چې کوم ځائي کښې به ئې په مونځ کښې تلاوت زيات کولو نو رکعتونو به ئې کم کول او که تلاوت به ئې کم کولو نو رکعتونه به ئې زيات کړل.

③ که طبيعت مبارک به ئې صحيح وو نو زيات رکعتونه به ئې کول او که طبيعت کښې به ئې کمزوری وه نو کم رکعتونه به ئې کول.

[١] اخرجه البخاري في كتاب الجمعة/ باب: كيف كان صلاة النبي صلى الله عليه وسلم؟ وكم كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي من الليل؟(رقم-١١٣٩)

[۱۱۹۳] د تهجد د ابتدائی دوو رکعتو کیفیت

۱۱۹۳ - (۱)[۶] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ لِيُصَلِّيَ [۳] افْتَتَحَ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به د شپې د تهجد دلمانځه دپاره پاڅيدلو [۳] نو دخپل لمانځه ابتداء به يې په مختصر دوه رکعاته سره کوله (مسلم)

حل اللغات: - ① اَفْتَتَحَ: شروع به ئې کوله، ② خَفِيفَتَيْنِ: دوه رکعته مختصر.

تسهيلات: - **قوله:** افْتَتَحَ صَلَاتَهُ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ:

دتهجدو څخه وړاندې دوه مختصر رکعتونه کول: - يعنی دَ تهجدنه وړاندې حضورپاك ﷺ به دوه مختصر رکعتونه کول. په دې کښې دافائده وی چه سړې دَ خوب دَ اثراتونه پاك شی او چست کيدوسره تهجدکوی. دويمه فائده داده چه دَتحية الوضوء اوتحية المسجدحق اداکيږی.

[۱۱۹۴] د تهجد د اولني دوو رکعتونو کښې اختصار

۱۱۹۴ - (۲)[۷] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ [۳] فَلْيَفْتَتِحِ الصَّلَاةَ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کې يو سړي په شپه کې (د لمانځه د پاره د خوب څخه) پاڅی [۳] نو هغه ته پکار دي چې د خپل لمانځه ابتدا په دوو مختصرو رکعاتو سره وکړي. (مسلم)

تسهيلات: - **نوټ:** - د دې حديث شرح په حديث نمبر ۱۱۹۳ کښې تيره شوه.

[۱۱۹۵] دتهجدو دپاره پاسيدو په وخت کښې د ال عمران آخری رکوع لوستل

۱۱۹۵ - (۳)[۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ لَيْلَةً، وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا، [۳] فَتَحَدَّثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَهْلِهِ سَاعَةً، ثُمَّ رَقَدَ، [۴] فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ أَوْ بَعْضُهُ قَعَدَ، [۵] فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ، فَقَرَأَ: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ [آل عمران: ۱۹۰] حَتَّى خَتَمَ السُّورَةَ،

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الدعاء فی صلاة الليل وقيامه (رقم) ۱۹۷ - (۷۶۷)

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الدعاء فی صلاة الليل وقيامه (رقم) ۱۹۸ - (۷۶۸)

[۳] اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات/ باب الدعاء إذا انتبه بالليل (رقم-۶۳۱۶) و مسلم فی کتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الدعاء فی صلاة الليل وقيامه (رقم) ۱۸۱ - (۷۶۳) والترمذی کتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۳۴۱۹) والنسائی کتاب التطبيق/باب الدعاء فی السجود (رقم-۱۱۲۱)

ترجمه: [۱] ابن عباس رضي الله عنه فرمايي [۲] چې يو خل ما خپلي خاله (د مور خور، ترور) ام المؤمنين بي بي ميمونه رضي الله عنها كره شپه تيره كړه حضور ﷺ (هم په هغه شپه) د هغي سره وو (يعني په هغه شپه د بي بي ميموني رضي الله عنها نمبر وو) [۳] د شپي تر څه وخته پوري حضور ﷺ د خپلي بي بي ميموني رضي الله عنها سره خبري كولي بيا اوده شو [۴] هر كله چې دريمه حصه يا د دې څخه هم كمه شپه باقي پاتې شوه نو حضور ﷺ راپاڅيدو [۵] او د آسمان طرف ته كتلو سره دا آيت يي اووئيلو إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ «د آسمانونو او زمكې په پيدا كولو او د شپي او ورځي په اختلاف (يعني كله تياره، كله رڼا، كله ګرمي، كله يخني، كله درازي، كله كمي) كې بيشكه د عقلمندو د پاره نښاني دي» حضور ﷺ ټول سورت اووئيلو

حل اللغات: - ① بِتُّ: أَيْ: رَقَدْتُ: د بيتوتت نه دې شپې تيرولو ته وائي. ② رَقَدَ: أَيْ: نَامَ: څملاسته اوده شو.

[۱] ثُمَّ قَامَ إِلَى الْقِرْبَةِ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا، [۲] ثُمَّ صَبَّ فِي الْجَفْنَةِ، [۳] ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءًا حَسَنًا بَيْنَ الْوُضُوءَيْنِ، [۴] لَمْ يُكْثِرْ وَقَدْ أَبْلَغَ، فَقَامَ فَصَلَّى، [۵] فَقُمْتُ وَتَوَضَّأْتُ، فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ، [۶] فَأَخَذَ بِأُذُنِي فَأَدَارَنِي عَنْ يَمِينِهِ، [۷] فَتَتَامَّتْ صَلَاتُهُ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، [۸] ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ، [۱۰] وَكَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ، فَآذَنَهُ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ.

ترجمه: [۱] بيا پاڅيدو او مَشك لره ورغلي د هغي خله يې خلاصه كړه [۲] او په پياله كې يې اوبه واچولي [۳] بيا يې ښه درميانه اودس وكړو [يعني نه خو يې دومره زياتي اوبه وبهيولي چې د اسراف حد ته ورسيږي او نه يې دومره كمي چې اعضاء هم لامده نه شي بلكه د درميانه درجي ښه اودس يې وكړو د حديث راوي وايي د درميانه اودس مطلب دا دی] [۴] چې ډيري زياتي اوبه يې ونه بهيولي [بلكه د كوم اعضاء وينځل چې فرض دي] اوبه يې هغه اعضاء ته ورسولي بيا حضور ﷺ ودريدلو مونځ يې شروع كړو [۵] (دي ليدو سره) زه هم پاڅيدم او څنګه چې حضور ﷺ اودس كړي وو ما هم هغسي اودس وكړو او د حضور ﷺ كس طرف ته ودريدم [۶] حضور ﷺ زما غوږ نيولو سره د كس طرف څخه زه راتاؤ كړم او خپل ښي طرف ته ودرولم [۷] كوم وخت چې د حضور ﷺ ديارلس ركعاته مونځ پوره شو [۸] نو پريوتلي (سملاستو) حضور ﷺ به د اوده كيدو په وخت خرهار كولو [۱۰] څكه اوده كيدو سره يې خر هاري شروع كړو په دې كې حضرت بلال رضي الله عنه راغې او د لمانځه د وخت شروع كيدو او د جماعت تياريدو اطلاع يې وركړله

حل اللغات: - ③ الْقِرْبَةِ: مشك، ④ فَأَطْلَقَ: أَيْ: حَلَّ: پرانې نستلو، ⑤ شِنَاقَهَا: خَيْطَهَا الَّذِي يُشَدُّ بِهِ فَمُهَا: هغې تار ته وائي كوم سره چه د مشك خوله ترلي شي. ⑥ صَبَّ: أَيْ: أَرَاقَ الْمَاءَ مِنْهَا: يعنى دمشك نه ئي اوبه راوارلي، ⑦ الْجَفْنَةِ: أَيْ: الْقَصْعَةِ وَهِيَ قَدَحٌ كَبِيرٌ: كاسه يا غټه پيالئ، ⑧ لَمْ يُكْثِرْ: وَهُوَ إِيْمَاءٌ إِلَى عَدَمِ الْإِفْرَاطِ: په اودس كښې ئي زياتوالي يعنى افراط اونه كړو. ⑨ قَدْ أَبْلَغَ: أَيْ: أَسْبَغَ الْمَاءَ:

اوبه ئې بنه اورسولې هر اندام ته یعنی څه نقص او تفریط ئې هم پکښې اونه کړو. ⑩ فَأَدَارَنِي: أَيْ: أَمَالَنِي، وَصَرَفَنِي: راوئې ګرځولم، راتاو ئې کړم (د ګس طرف نه ښي طرف ته). ⑪ فَتَتَامَّتْ: أَيْ: تَمَّتْ وَتَكَامَلَتْ: یعنی پوره اوکامل ئې کړو. ⑫ اضْطَجَعَ: څملاستلو، ⑬ نَفَخَ: أَيْ: تَنَفَّسَ بِصَوْتٍ: ساه به ئې اخستله چه ورسره به ئې دخولې نه آواز وتلو، خرهار ئې کولو.

۱ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ، وَكَانَ فِي دُعَائِهِ: ۲ " اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا، ۳ وَفِي بَصَرِي نُورًا، وَفِي سَمْعِي نُورًا، ۴ وَعَنْ يَمِينِي نُورًا، وَعَنْ يَسَارِي نُورًا، ۵ وَفَوْقِي نُورًا، وَتَحْتِي نُورًا، ۶ وَأَمَامِي نُورًا وخلفي نورا، وَاجْعَلْ لِي نُورًا» " ۷ - وَزَادَ بَعْضُهُمْ - " «وَفِي لِسَانِي نُورًا» " ۸ وَذَكَرَ: " «وَعَصَبِي وَلَحْمِي وَدَمِي وَشَعْرِي وَبَشَرِي» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ۹ وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: «وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُورًا، ۱۰ وَأَعْظِمْ لِي نُورًا» ". ۱۱ وَفِي أُخْرَى لِمُسْلِمٍ: " «اللَّهُمَّ أَعْطِنِي نُورًا» ".

ترجمه: ۱ حضور ﷺ د اودس کولو نه بغیر سنت مونځ وکړو او (د فرض او سنت په مینځ کې یې) دا دعا وکړله: ۲ اللّٰهُمَّ اجْعَلْ فِيْ قَلْبِيْ نُوْرًا وَفِيْ بَصَرِيْ نُوْرًا وَفِيْ سَمْعِيْ نُوْرًا وَعَنْ يَمِيْنِيْ نُوْرًا وَعَنْ يَسَارِيْ نُوْرًا وَفَوْقِيْ نُوْرًا وَتَحْتِيْ نُوْرًا وَأَمَامِيْ نُوْرًا وَخَلْفِيْ نُوْرًا وَاجْعَلْ لِيْ نُوْرًا، (ترجمه اې الله زما په زړه کې نور پیدا کړې ۳ زما په سترګو کې او زما په غوږونو کې نور پیدا کړې ۴ زما په ښي او زما په ګس طرف کې نور پیدا کړې ۵ زما پورته او زما لاندې کې نور پیدا کړې ۶ زما مخکې او زما وروسته نور پیدا کړې او زما دپاره نور پیدا کړې. ۷ او بعضې راویانو دا الفاظ هم نقل کړي دي وَفِيْ لِسَانِيْ نُوْرًا (یعني زما په ژبه کې نورپیدا کړې) ۸ بعضو راویانو دا الفاظ ذکر کړي دي وَعَصَبِيْ وَلَحْمِيْ وَدَمِيْ وَشَعْرِيْ وَبَشَرِيْ (یعني زما په په اعصابو (پلو) کښې زما په غوښه کې زما په وینه کې زما په ویښتانو کې او زما په پوست (څرمن) کې نور پیدا کړې) بخاري مسلم، ۹ او د بخاري او د مسلم په یو بل روایت کې دا الفاظ هم دي وَاجْعَلْ فِيْ نَفْسِيْ نُوْرًا وَأَعْظِمْ لِيْ نُوْرًا (یعني اې الله زما په ځان کې نور پیدا کړې ۱۰ او زما د پاره په نور کې لویې راکړې) ۱۱ د مسلم په یو بل روایت کې دا دي اللّٰهُمَّ أَعْطِنِيْ نُوْرًا (یعني اې الله ماته نور عطا کړې).

تسهیلات:-

دحضرت ابن عباس ذهانت اوزکاوت:- حضرت میمونه رضي الله عنها دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ترور ده. دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما کمال ته اوګورئ چه نابالغ وړوکې هلك دې لیکن دَ حضور پاك حرکات اوسکنات اودَ عبادات داسې نقشه راښکلې ده چه لوئی لوئی عالمان او عاقلان ئی په حیرانتیا کښې اچولی دی. دَ اودس نقشه ئی داسې راښکله چه عقلونه ئی حیران کړل. نه په دغه اودس کښې اسراف وو نه کمې وو نه څه نقص وو او اودس مکمل هم وو چه ټولو اندامونو ته ئی اوبه اورسولې.

قوله: حَتَّى نَفَخَ:

د نبي كريم ﷺ د خوارو كيفيت:- طاقتور سړي چه كله اوده كيږي نو مضبوطه ساه اخلي هم دغې ته نفخه وئيلې شوې ده. حضورپاك ﷺ به داسې خريراې نه كولو لكه نن صبا چه خلق كوى په كوم سره چه په كمره كښې څوك حصاريدې نه شي. دَدې نقشې نه پس بيا حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دَ حضورپاك ﷺ د دعاګانو مكمل نقشه الفاظو سره وړاندې كړې ده.

[١١٩٦] د وتر د ركعتونو تعداد

١١٩٦-(١)[٩] ① وَعَنْهُ أَنَّهُ «رَقَدَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ② فَاسْتَيْقَظَ، فَتَسَوَّكَ، وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يَقُولُ: ③ ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ [آل عمران: ١٩٠] حَتَّى خَتَمَ السُّورَةَ، ④ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ أَطَالَ فِيهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ، ⑤ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ، ⑥ ثُمَّ فَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سِتَّ رَكَعَاتٍ، ⑦ كُلَّ ذَلِكَ يَسْتَاكُ وَيَتَوَضَّأُ وَيَقْرَأُ هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ، ⑧ ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.[1]

ترجمه: ① د ابن عباس رضي الله عنهما په باره كې منقول دي چې هغه يوه شپه د رسول الله ﷺ كره اوده شو ② (د هغه بيان دي چې) حضور ﷺ د شپې بيدار شو نو مسواك او اودس يې وكړو بيا يې دا آيت اووئيلو: ③ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ تر آخر سورت پورې ④ بيا ودريدلو او دوه ركعاته مونځ يې وكړو چې د هغې قيام ركوع او سجود يې طويل وكړې ⑤ بيا (د دوه ركعاته لمانځه څخه) فارغيدو سره اوده شو او (په خوب كښې) يې خرهاري شروع كړلو ⑥ درې خله حضور ﷺ دغسې وكړل (يعني دوه ركعاته په مذكوره طريقه باندې كولو سره به پريوتلې بيا به پاڅيدلو دوه ركعاته به يې كول بيا به پريوتلې) دغسې حضور ﷺ په درې خله كې شپږ ركعاته وكړل ⑦ او په دې هر خل كې مسواك به يې هم كولې اودس به يې هم كولې او آياتونه به يې هم ويل ⑧ بيا په آخر كې حضور ﷺ د وتر درې ركعاته وكړل، مسلم.

تسهيلات:-

قوله: أَنَّهُ «رَقَدَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»

دتعارض اشكال:- ددې حديث څخه معلوميږي چې اودس څخه پس ئې تلاوت اوكړو او ماقبل حديث څخه معلوميږي چې اودس څخه وړاندې ئې تلاوت اوكړو.

دتعارض د اشكال دوه جوابونه:-

① دا اختلاف په مختلفو واقعاتو باندې محمول دې.دې حديث مبارك كښې د رسول كريم ﷺ د اودس ذكر دې.دا د اودس دپاسه اودس وو.څكه چې دنبى كريم ﷺ خوب اودس دپاره ناقض نه دې.

② يا ئې اودس څه دبل سبب په وجه مات شوې وو.څكه ئې اودس اوكړو او مسواك ئې اوكړو،

[1] اخرجه مسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الدعاء فى صلاة الليل وقيامه (رقم) ١٩١ - (٧٦٣)

قوله: ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ

د درې رکعته وترو واضح دليل :- داحديث ډير واضح دليل دې چه دَ وتر درې رکعته دي. غيرمقلدين حضراتو له سوچ کول پکاردي چه هغوی دَ احاديثونه څومره لرې دی دادَمسلم روايت دې په کوم کښې چه تصريح موجود ده چه "ثم اوتر بثلاث" يعنی حضورپاك ﷺ بيا درې رکعته وتراوکړل. دَ حديث ظاهری الفاظ ښائی چه په مينځ کښې هيڅ سلام نه وو.

[۱۱۹۷] د نبی علیه السلام د تهجدو کیفیت

۱۱۹۷–()[۱۰] ⑴ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: ⑵ «لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَةَ، ⑶ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ، ⑷ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ⑸ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ⑹ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ⑺ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ⑻ ثُمَّ أَوْتَرَ، فَذَلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⑴ زيد بن خالد جهني رضی الله عنه وايي ⑵ چې (يو ځل ما اراده وکړه چې) نن شپه د حضور ﷺ مونځ ووينم ⑶ نو (ما وليدل چې) حضور ﷺ دوه مختصر رکعاته وکړل بيا دوه رکعاته يې اوږده اوږده وکړل ⑷ بيا حضور ﷺ دوه رکعاته وکړل چې د هغه دواړو رکعاتونو څخه کم طويل وو کوم چې حضور ﷺ مخکې کړي وو ⑸ بيا حضور ﷺ دوه رکعاته وکړل چې د مخکې کړي دوه رکعاتو څخه کم طويل وو ⑹ بيا حضور ﷺ دوه رکعاته وکړل چې د مخکې دوه رکعاته څخه کم طويل وو ⑺ بيا حضور ﷺ دوه رکعاته وکړل چې مخکې دوه رکعاته څخه کم وو ⑻ بيا حضور ﷺ وتر وکړل او دا ټول ديارلس رکعاته شو (مسلم)

⑴ قوله ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ، ⑵ هَكَذَا فِي "صَحِيحِ مُسْلِمٍ" وَأَفْرَادِهِ مِنْ كِتَابِ "الْحُمَيْدِيِّ" ⑶ وَ"مُوَطَّأِ مَالِكٍ" وَ"سُنَنِ أَبِي دَاوُدَ" وَ"جَامِعِ الْأُصُولِ".

ترجمه: ⑴ او د زيد دا قول چې بيا دوه رکعاته يي وکړل چې د مخکې دوه رکعاته څخه کم طويل وو ⑵ په صحيح مسلم کې او د حميدي په کتاب کې چې په هغې کې هغه فقط د مسلم روايتونه نقل کړي دي ⑶ او موطا امام، مالك، سنن ابي داؤد او جامع الاصول په ټولو کې منقول دي.

حل اللغات:- ① لَأَرْمُقَنَّ: أَيْ: لَأَنْظُرَنَّ: د نصر ينصر نه انتظار اودَ نګرانۍ په معنی کښې دې چه زه به خامخا ګورم، په غور سره کتلو ته وائی. په دې معنی کښې يولفظ لَأَرْقُبَنَّ دې په حديث (۱۲۰۹) کښې راروان دې.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الدعاء فی صلاة الليل وقيامه (رقم) ۱۹۵ - (۷۶۵) وابوداود کتاب الصلاة/باب فی صلاة الليل (رقم-۱۳۶۶) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی کم يصلی بالليل (رقم-۱۳۶۲)

تسهیلات:- قوله: ثُمَّ أَوْتَرَ:

د وترو د رکعتونو په تثلیث باندې واضح دلیل:- دا حدیث هم په دې باندې دلالت کوی چه دَ وترو درې رکعته دی ځکه چه په دې حدیث کښې دَ دوو دوو رکعتو پنځه ځل ذکر راغلې دې کوم چه دَ مشکوة په اصل نسخه کښې دې. دا لس رکعته جوړیږی اوبیا دَ وتر ذکر دې په دې کښې سره ددې چه دَ دریو رکعتو الفاظ نشته دې لیکن په نتیجه کښې چه دَ دیارلسو رکعتو کومه مجموعه جوړیږی دَ هغې نه په واضحه توګه سره ثابتیږی چه وتر درې رکعته دی اوهم دغه دَ ټولو فقهاؤ په نیز افضل هم دی او په کومو نسخو کښې چه دَ رکعتین ذکر شپږ ځل راغلې دې دې سره به دوولس رکعته ثابت شی او یو رکعت به دَ وتر وی لیکن احناف په دې صورت کښې "رکعتین خفیفتین" په اصل شمیر کښې نه شمیری لهذا وتر به هم درې رکعته ثابتیږی.

قوله: طَوِيلَتَيْنِ:

د تکرار وجه:- په دې کښې درې ځل تکرار دَ مبالغه دَپاره دې چه دَ خفیف رکعت نه پس حضورپاک ﷺ دیر اوږده رکعتونه اوکړل.

[۱۱۹۸] د نبی علیه السلام په آخری عمر کښې په ناسته نفل کول

۱۱۹۸-(۱)[۱۱] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «لَمَّا بَدَّنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَثَقُلَ ③ كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ جَالِسًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ام المؤمنین بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمايي ② چې حضور ﷺ کله چې آخري عمرته ورسیدو او (د بوډاتوب په وجه) بدن مبارك يي درونډ شو ③ نو نفل مونځ به يي اکثر په ناسته کولو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① بَدَّنَ: دا د تَبْدِين نه دې، وَهُوَ الْكِبَرُ وَالضُّعْفُ: زیات عمر، بوډاتوب. ② ثَقُلَ: أَيْ: اشْتَدَّ مَرَضُهُ: درونډ شو یعنی بیمار شو او کمزوري شو.

تسهیلات:-

نوټ:- د ترجمې ځخه مطلب واضح دې. د اضافی تسهیل ضرورت نشته.

[۱۱۹۹] په تهجدو کښې د سورتونو لوستل

۱۱۹۹-(۲)[۱۲] ① وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «لَقَدْ عَرَفْتُ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى

[1] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة المسافرین وقصرها/ باب جواز النافلة قائما وقاعدا، وفعل بعض الرکعة قائما وبعضها قاعدا (رقم) ۱۱۷ - (۷۳۲)

[2] اخرجه البخاری فی کتاب الاذان/ باب الجمع بین السورتین فی الرکعة (رقم-۷۷۵) ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث ۲۷۹/ ۸۱۲ والنسائی کتاب الافتتاح/باب قراءة سورتین فی رکعة (رقم-۱۰۰۴)

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرِنُ بَيْنَهُنَّ،[٣] فَذَكَرَ عِشْرِينَ سُورَةً مِنْ أَوَّلِ الْمُفَصَّلِ، عَلَى تَأْلِيفِ ابْنِ مَسْعُودٍ[۴] سُورَتَيْنِ فِي رَكْعَةٍ آخِرُهُنَّ (حم الدُّخَانُ) وَ(عَمَّ يَتَسَاءَلُونَ)». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[١] عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمايي[٢] چې كوم سورتونه چې په خپلو كې هم مثل دي او حضور ﷺ به هغه جمع كول زه هغه پيژنم[٣] عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه د خپل ترتيب مطابق شل سورتونه چې د مفصل په اول كې دي په شميرلو سره وښودل[۴] حضور ﷺ به دا سورتونه داسې جمع كول چې په يو يو ركعت كې به يې دوه دوه سورتونه ويل (او په دې شل سورتونو كې) د آخر دوه سورتونه حٰم الدخان او عم يتساءلون دي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① النَّظَائِرَ: دا د نَظِيرَة جمع ده، وَهِيَ الْمِثْلُ وَالشِّبْهُ: مثل او مشابه ته وائی يعنی هغه سورتونه چه هغه ديوبل سره په اوږدوالی او اختصار كښې يو شان وی. ② يَقْرِنُ: أَيْ: يَجْمَعُ: چه جمع كول به ئې (په يو ركعت كښې).

تسهيلات: -

قوله: عَلَى تَأْلِيفِ ابْنِ مَسْعُودٍ:

دمصحف مسعودی تعارف: - حضرت ابن مسعود رضی الله عنه چه دَ مصحف كوم ترتيب كيخودې وو دادَ هغې طرف ته اشاره ده كوم چه دَ مصحف عثمانی دَترتيب نه لږ شان مختلف وو مګر علماؤ ليكلی دی چه قرآن كريم هم په دې ترتيب باندې وئيل لازم دی كوم ترتيب چه حضرت عثمان رضی الله عنه قائم كړې دې.

په مصحف مسعودی كښې د سورتونوترتيب: - دَحضرت ابن مسعود رضی الله عنه په ترتيب كښې دَ شلو سورتونو ترتيب داسې وو كوم چه په ابوداؤد كښې ذكردې. حضورپاك ﷺ به په يو يو ركعت كښې دوه دوه سورتونه داسې يوځائی كولوسره لوستل. مثلاً سورت رحمٰن او سورت نجم په يو ركعت كښې، سورت قمر او سورت الحاقه په يو ركعت كښې، سورت معارج او سورت نازعات په يو ركعت كښې، سورت مطففين او سورت عبس په يو ركعت كښې، سورت نبأ او سورت مرسلات په يو ركعت كښې او سورت دخان او سورت تكوير يو ركعت كښې. په دې مذكوره حديث كښې هم دې ترتيب طرف ته اجمالی اشاره ده.

مفتی به قول: - خودَ علماؤ اجماعی فيصله ده چه نن صبا قرآن به په دې ترتيب سره وئيلې شی لكه څنګه چه موجود دې. په ترتيب نزولی او ترتيب مصحفی كښې فرق دې ليكن دا فرق دَ ترتيب، تقديم او تاخير فرق دې. قرآن كښې دكمی زياتی فرق نه دې. قرآن كريم دَ الله تعالی په حفاظت سره محفوظ دې. شيعه شنيعه دا محفوظ نه ګڼړی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٢٠٠] د نبی علیه السلام د تهجدو كيفيت

۱۲۰۰-(¹)[۱۳] [۱] عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، [۲] «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ، [۳] وَكَانَ يَقُولُ: "اللَّهُ أَكْبَرُ" ثَلَاثًا "ذُو الْمَلَكُوتِ وَالْجَبَرُوتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ"، [۴] ثُمَّ اسْتَفْتَحَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ. [۵] ثُمَّ رَكَعَ، فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ، [۶] فَكَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ"، [۷] ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، [۸] فَكَانَ قِيَامُهُ نَحْوًا مِنْ رُكُوعِهِ،

ترجمه: [۱] د حذيفه رضی الله عنه په باره كې منقول دي [۲] چې هغه حضور ﷺ په شپه كې په (تهجد) لمانځه كولو ليدلى دي [۳] (د هغه بيان دى) چې حضور ﷺ دري ځله الله اكبر ويلو سره دا اوويل ذُوالْمَلَكُوْتِ وَالْجَبَرُوْتِ وَالْكِبْرِيَاءِ وَالْعَظَمَةِ (الله تعالى جل جلاله د ملك، غلبې، لويي او بزرګي مالك دي) [۴] د دې ځخه وروسته حضور ﷺ سبحانك اللهم ويلو سره د سورة بقره قراءت وفرمايلو [۵] او د هغې ځخه وروسته يې ركوع وكړله، د حضور ﷺ ركوع (تقريبًا) د قيام برابره وه [۶] په ركوع كښې حضور ﷺ سبحان ربي العظيم ووئيل [۷] بيا يې د ركوع ځخه سر مبارك پورته كړو [۷] او د حضور ﷺ ودريدل يعنى قومه (تقريبًا) د حضور ﷺ د ركوع برابره وه.

حل اللغات:- ① ذُوالْمَلَكُوتِ: أَيْ: صَاحِبُ الْمُلْكِ: بادشاهت والا ② الْجَبَرُوتِ: هُوَالْعَالِي فَوْقَ خَلْقِهِ: په خپل مخلوق باندې لوئي شان والا ③ الْكِبْرِيَاءِ: مَعْنَاهُ التَّرَفُّعُ عَنْ جَمِيعِ الْخَلْقِ: په ټول مخلوق باندې ځان اوچتول ④ الْعَظَمَةِ: أَيْ نِهَايَةِ الْعَظَمَةِ: ډير لوئي شان والا، ⑤ اسْتَفْتَحَ: أَيْ: قَرَأَ الثَّنَاءَ: ثناء يعنى سبحنك اللهم سره ئې مونځ شروع كړو.

[۱] يَقُولُ: "لِرَبِّيَ الْحَمْدُ". ثُمَّ سَجَدَ، [۲] فَكَانَ سُجُودُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ، [۳] فَكَانَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ: "سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى". [۴] ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ، [۵] وَكَانَ يَقْعُدُ فِيمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِنْ سُجُودِهِ، [۶] وَكَانَ يَقُولُ: "رَبِّ اغْفِرْ لِي، رَبِّ اغْفِرْ لِي". [۷] فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ قَرَأَ فِيهِنَّ (الْبَقَرَةَ) وَ(آلَ عِمْرَانَ) وَ(النِّسَاءَ) وَ(الْمَائِدَةَ) أَوِ (الْأَنْعَامَ)» شَكَّ شُعْبَةُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او (د ركوع ځخه د ودريدو سره د سمع الله لمن حمده ويلو ځخه وروسته) حضور ﷺ به ويل لِرَبِّيَ الْحَمْدُ (ټول تعريف زما پروردګار لره دي) بيا يې سجده وكړه [۲] او د حضور ﷺ د سجدي مقدار د حضور ﷺ د قومي برابر وو [۳] او په سجده كې حضور ﷺ ويل سبحان ربي الاعلى [۴] بيا حضور ﷺ د سجدي ځخه سر مبارك پورته كړي [۵] او حضور ﷺ د دواړو سجدو په مينځ كې (يعني په جلسه كې) د خپلي سجدي برابر كيناستو [۶] او دا به يې ويل رب اغفرلي رب اغفرلي (اې زما ربه ما وبخښې، اې زما ربه ما وبخښې) [۷] دغسې حضور ﷺ ځلور ركعته وكړل او په دې ځلور ركعاتونو كې يې سورة بقره، سورة آل

¹) اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة، باب ما يقول الرجل فى ركوعه وسجوده، (رقم-۸۷٤)

عمران، سورة نساء او سورة مائده يا سورة انعام اوويل (د حديث راوي) شعبه ته شك واقع شوې دي (چي په حديث کې د آخري سورة مائده ذکر شوې وو يا د انعام).

تسهيلات: -

قوله: فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ:

د رکوع د اوږدوالی مطلب: -درکوع د اوږدوالی مطلب دادې چې حضور ﷺ به څومره په عام مونځونو کښې اوږد قيام کولو دومره به ئې د عام رکوع اوږده رکوع کوله.دې طويل رکوع کښې مبالغه مقصود ده.

[۱۲۰۱] په تهجدو کښې د زيات قيام فضيلت

۱۲۰۱-()[۱۴]۞ وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۞ "«مَنْ قَامَ بِعَشْرِ آيَاتٍ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِينَ، ۞ وَمَنْ قَامَ بِمِائَةِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِينَ، ۞ وَمَنْ قَامَ بِأَلْفِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْمُقَنْطِرِينَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۞ عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۞ کوم سړي چې لس ايتونو ويلو سره قيام وکړي نو هغه په غافلين کې نشي شميرلي (يعني د هغه نوم د غافلينو په صحيفه کې نه ليکل کيږي) ۞ او کوم سړي چې سل آيتونو ويلو سره قيام وکړي نو د هغه نوم په فرمانبردارو کې ليکل کيږی ۞ او کوم سړي چې زر آيتونو ويلو سره قيام وکړي نو د هغه نوم په ډير زيات ثواب موندونکو کې ليکل کيږی.(ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْغَافِلِينَ: جمع دغافل ده. ② الْقَانِتِينَ: أَيِ الْمُوَاظِبِينَ عَلَى الطَّاعَةِ: چه هميشه فرمانبردار او اطاعت گذار اوسيږی. ③ الْمُقَنْطِرِينَ: دا د قَنَاطِير نه ماخوذ دې، أي مِنَ الْمُكْثِرِينَ مِنَ الْأَجْرِ: ډير زيات ثواب موندونکی.

تسهيلات: -

قوله: كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِينَ:

د قانتين په مصداق کښې دوه اقوال: -

① قانتين څخه مراد هميشه اطاعت اختيارونکی دی،

② دالله تعالى په اطاعت کښې طويل قيام کوونکی ترې مراد دی.

قوله: كُتِبَ مِنَ الْمُقَنْطِرِينَ:

دمقنطرين تعريف: -او چا چې زر آيتونه تلاوت کړل نو دهغه نوم به په مقنطرينو کښې ليکلې کيږی.يعنی هغه خلق کوم چې ډير زيات عبادت کوی.مقنطرين اصل کښې د قنطار نه دې،

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب تحزيب القرآن (رقم-۱۳۹۸) والدارمی فی باب: فضل من قرأ عشر آيات

د منتظرين په مقدار کښې پنځه اقوال :-

① څلور زره دينار
② د غونې څرمن چې د سرو زرو نه ډکه کړې
③ ددې تعين نشته
④ قنطار کښې دولس اوقيې وی او يو اوقيه د زمکې او آسمانه بهتر ده.
⑤ دولس زره ديناره.

بهرحال مقنطرين نې ورته په دې وجه اووئيل چې ددې ثواب د حصول لحاظ سره ډير زيات دې

[۱۲۰۲] په تهجد وکښې د نبی عليه السلام د قراءت طريقه

۱۲۰۲-(۱)[۱۵] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ ③يَرْفَعُ طَوْرًا وَيَخْفِضُ طَوْرًا. رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① ابوهريره رضی الله عنه فرمايي ② چې د شپې په لمانځه کې به د حضور ﷺ قراءت مختلف وو ③ کله به يې په پورته آواز سره قراءت کولو او کله به يې ښکته آواز سره. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يَرْفَعُ: أَيْ صَوْتَهُ رَفْعًا مُتَوَسِّطًا: اوچت درميانه آواز، ② طَوْرًا: أَيْ مَرَّةً أَوْ حَالَةً: يعنې کله کله، ③ يَخْفِضُ: په ښکته او رو آواز.

تسهيلات:-

نوټ: د دې تشريح په بل مقام کښې ذکرشوې ده.

[۱۲۰۳] په تهجد وکښې د تيز او پست په اعتبار سره د قراءت کيفيت

۱۲۰۳-(۲)[۱۶] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَدْرِ مَا يَسْمَعُهُ مَنْ فِي الْحُجْرَةِ ③وَهُوَ فِي الْبَيْتِ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ① ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به په دومره آواز سره قراءت کولو چې بهر په صحن کې موجود کس به اوريدو ③ چه حضور عليه السلام به په کور کې دننه قراءت کولو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الْحُجْرَةِ: د کوټې او صحن دوارو دپاره استعماليږی دلته ترې صحن مراد دې يعنی کوټې ته مخامخ ځای کوم طرف ته چه دکوټې دروازه وی.

تسهيلات:-

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی رفع الصوت بالقراءة فی صلاة الليل (رقم-۱۳۲۸)
[2] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی رفع الصوت بالقراءة فی صلاة الليل (رقم-۱۳۲۷)

قوله: فِي الْحُجْرَةِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ:

دحجرې اوبیت مصداق: - مرقات کښې دی چې دلته د حجرې څخه مراد د کور صحن دې ،او بیت څخه مراد کور دې یعنی ددوی دتلاوت آواز به درمیانه وو. دا دعمومی حالت ذکر دې کنی کله به کم وو او کله به زیات وو. ددې حدیث پاك نه معلومه شوه چې نبی کریم ﷺ به کله په دومره اوچت آواز تلاوت کولو چې په صحن کښې به ناستو خلقو ته معلومیده.

[۱۲۰۴] دتهجد په قراءت کښې د اواز معتدل ساتل

۱۲۰۳-()[۱۷]① وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ يُصَلِّي ③ يَخْفِضُ مِنْ صَوْتِهِ، ④ وَمَرَّ بِعُمَرَ وَهُوَ يُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَهُ، ⑤ قَالَ: فَلَمَّا اجْتَمَعَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ⑥ قَالَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّي تَخْفِضُ صَوْتَكَ"، ⑦ قَالَ: قَدْ أَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ.

ترجمه: ① ابو قتاده رضی الله عنه راوي دي ② چې (یو ځل) حضور ﷺ په شپه کې بهر راووتلو او ناڅاپه د حضرت ابوبکر رضی الله عنه سره تیر شو چې مونځ یې کولو ③ په ښکته آواز سره قرآن کریم ویلو ④ بیا د حضرت عمر رضی الله عنه سره تیر شو چې په لمانځه کې یې په پورته آواز سره قرآن شریف ویلو ⑤ ابو قتاده رضی الله عنه وایي سحر چې حضرت ابوبکر رضی الله عنه او حضرت عمر رضی الله عنه دواړه یو ځاي حاضر شو ⑥ نو حضور ﷺ وفرمایل اي ابوبکر رضی الله عنه (نن شپه) زه تا سره تیر شوم نو تا په ښکته آواز سره (قران کریم) ویلو ⑦ حضرت ابوبکر رضی الله عنه عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ ما چې د چا سره مناجات کول هغه ته مي اورول [یعني زه د خپل پروردګار په مناجات کې مشغولووم او هغه اوریدو د پاره د پورته آواز محتاج نه دي هغه هر رنګه اوري].

حل اللغات: - ① يَخْفِضُ: په ښکته او رو آواز.

① وَقَالَ لِعُمَرَ: "مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَكَ". ② فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أُوقِظُ الْوَسْنَانَ، ③ وَأَطْرُدُ الشَّيْطَانَ. ④ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا"، ⑤ وَقَالَ لِعُمَرَ: "اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: ① بیا حضور ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه ته وفرمایل اي عمر رضی الله عنه (نن شپه) زه تا سره (هم) تیر شوم نو تا په لمانځه کې په پورته آواز سره (قرآن کریم) ویلې ② حضرت عمر رضی الله عنه عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ ما (په اوچت آواز قران کریم ویلو سره دا) اوده خلق بیدارول (کوم چې د عبادت الهی یعنی د تهجد په وخت پاڅیدل خو غواړي خو د خوب په وجه سترګې نه کولاویږي) ③ او شیطان مي تښتولو ④ حضور ﷺ (د دواړو خبرې اوریدو

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی رفع الصوت بالقراءة فی صلاة اللیل (رقم-۱۳۲۹) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی القراءة باللیل (رقم-۴۴۷)

سره حضرت ابوبکر ﷺ ته) وفرمایل ابوبکره ته خپل آواز لږ نور پورته کړه⑤ او (حضرت عمر ﷺ ته یې وفرمایل چې) عمره ته خپل آواز لږ ښکته کړه یعنې دغسې حضور ﷺ د حد اعتدال طرف ته د دواړو رهنمايي وکړله. (ابوداؤد، ترمذي)

حل اللغات:- ② أُوقِظُ: أَيْ أُنَبِّهُ: رابیداروم، راپاڅوم. ③ الْوَسْنَانَ: أَيِ النَّائِمَ الَّذِي لَيْسَ بِمُسْتَغْرِقٍ فِي نَوْمِهِ: چه اوده وي خو دخوب په وجه صرف سترګې نه شي غړولې. ④ أَطْرُدُ: أَيْ أُبْعِدُ: شړم، تختوم.

تسهیلات:-

قوله: يَخْفِضُ مِنْ صَوْتِهِ، وَمَرَّ بِعُمَرَ وَهُوَ يُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَهُ:

دشیخینو تلاوت طریقه:-دې حدیث مبارك کښې دی چې حضرتا ابوبکر صدیق ﷺ فرمائی چې کوم ذات آورول مقصود وو هغه په که څوك په رو رو تلاوت کوی نو هم ئې آوری. ﴿فَإِنَّهُ يَعْلَمُ السِّرَّ وَأَخْفَى﴾ په دې وجه ما په زوره د تلاوت کولو ضرورت محسوس نه کړو. او حضرت عمر فاروق ﷺ به فرمائیل چې الله تعالی د آورولو نه علاوه اوده خلق رابیدارول غواړم، چې اوده خلق زما آواز واؤری او رابیدار شی. او هغوئ هم تهجد ادا کړی. او شیطان زغلول غواړم چې دهغه دسوسې نه بچ شم. ددې نه معلومه شوه چې شیطان د اذان د قرآن کریم د آواز څخه هم تښتی.

قوله: يَا أَبَا بَكْرٍ ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا:

شیخینوته په تعلیم ورکولو کښې حکمت:- نبی کریم ﷺ حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ته اوفرمائیل چې تاسو خپل آواز اوچت کړئی. او حضرت عمر فاروق ﷺ ته ئې اووئیل چې تاسو خپل آواز رو کړئی. دې دواړو ته فرمائیلو کښې حکمت دادې د حضرت ابوبکر صدیق مزاج د توحید ګرم وو چې ماسوی دالله نه هر څۀ لره سوزونکې وو، په دې وجه ئې اوفرمائیل چې ستا د آواز نه سامعین او مقتدیان نصیحت حاصل کړی، چې تا ته مقام الشهودی حاصل کړې.

اوحضرت عمر ﷺ په رو وئیلو کښې دالله تعالی حکمت دا وو چې په دوئ باندې دبرودة الخلق وکافوریة الشیطان والامزاج غالب راشی.

قوله: أُوقِظُ الْوَسْنَانَ:

اشکال:- که یو خائې کښې یو کس ملاست وی نو په اوچت آواز سره ذکر نه دی کول پکاراونه قران کریم لوستل پکار دی. حضرت عمر فاروق ﷺ دا څنګه اوفرمائیل چې زه اوده خلق رابیداروم؟

د اشکال درې جوابونه:-

① نائم څخه مراد هغه نائم دې چې د عبادت په وخت کښې د غفلت په خوب اوده وی.

② نائم نه مراد هغه نائم دې چې د څه مرض او بیمارئی وغیره په وجه معذور وی. نو اوچت

سره د تلاوت كولو مقصد به داوی چې هغه عبادت ته راغب كړی.

③ شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمة الله عليه فرمائی چې ځينې مشائخو نه مې واورېدل چې كوم كس هميشه تهجد گذار وی كه هغه يوه شپه رابيدار نشی نو هغه راپورته كول پكار دی.لهذا حضرت عمر فار وق رضی الله عنه چې په اوچت آوازسره تلاوت اوكړو نو دهغه زمانې خلق تهجد گزار وو.دهغوی رابيدارول ئې مقصود وو.

[۱۲۰۵] په يوآيت باندې تولـه شپه تيرول

۱۳۰۵-()[۱۸]① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: «قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② حَتَّى أَصْبَحَ بِآيَةٍ وَالْآيَةُ: " ﴿إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ③ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ [المائدة:۱۱۸] » رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① ابو ذر رضی الله عنه فرمايي چې حضور ﷺ (يوه شپه د تهجد په لمانځه كې) ولاړ وو تر دې چې سحر شو او دا آيت يې وئيلو: ② إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (كه ته دوی ته عذاب وركړې نو ستا بندگان دي ③ او كه يې وبخښې نو ته ډير غالب، د حكمت خاوند يې). (نسايي،ابن ماجه)

تسهيلات:- **قوله:** حَتَّى أَصْبَحَ بِآيَةٍ:

د تعارض اشكال:-ددې حديث څخه معلوميږی چې نبی كريم ﷺ به ټوله شپه هم يو آيت لوستلو.حالانكه حافظ ابن حجر په شمائل كښې يو روايت نقل كړې دې انه عليه السلام ماقام ليلة كلها قط: حضور ﷺ ټوله شپه كله هم ويخ نه وو پاتې شوی.نو دې دواړو كښې تعارض دې؟

داشكال دوه جوابونه:-

① سحره پورې قيام څخه قيام فی الصلوة مراد نه دې كما قال ابن الملك.بلكه دغه شان عبادت ترې مراد دې.

② د ټولې دذكر كولو نه مراد دادی چې نبی كريم ﷺ رابيدار شو خو بيا تر سحره پورې اوده شوې نه وو.نو په دواړو روايتونو كښې هيڅ تعارض نشته دې.

[۱۲۰۶] دسحر سنتو څخه روسته په ښی اړخ ډده وهل

۱۳۰۶-()[۱۹]① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② " إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ ③ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِينِهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

[۱] اخرجه النسائی فی كتاب الافتتاح/باب ترديد الآية (رقم-۱۰۱۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی القراءة فی صلاة الليل (رقم-۱۳۵۰)

[۲] اخرجه ابوداود فی كتاب الصلاة،باب الاضطجاع بعدها (رقم-۱۲۶۱) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الاضطجاع بعد ركعتی الفجر(رقم-۴۲۰)



ترجمه: [۱] او ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې په تاسو کې څوك د سحر دوه رکعاته سنت وکړي [۳] نو هغه ته پکار دي چې د جماعت د شروع کيدو پورې په خپل ښي اړخ باندې پريوځي (يعني دده ولګوي). (ترمذي، ابوداؤد)

حل اللغات: - ① فَلْيَضْطَجِعْ: نو څملېلی (دې دپاره چه لږ دمه شي نو فرض مونځ به په توجو سره اوکړی).

تسهيلات: -

نوټ: - د دې حديث تشريح د حديث نمبر ۱۱۸۱ په شرح کښې تيره شوې ده.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۲۰۷] رسول الله صلى الله عليه ته د تهجد د مونځ خوښوالي

۱۲۰۷ - (۱) [۲۰] [۱] عَنْ مَسْرُوقٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ، [۲] «أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ [۳] قَالَتْ: الدَّائِمُ، [۴] قُلْتُ: فَأَيَّ حِينٍ كَانَ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ؟ [۵] قَالَتْ: كَانَ يَقُومُ إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] مسروق فرمايي چې ما د ام المؤمنين بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه [۲] چې د حضور ﷺ په نيز د ټولو څخه زيات محبوب کوم عمل وو؟ [۳] وې فرمايل مداومت عمل (په عمل هميشګي) [۴] ما بيا (دا) پوښتنه وکړه چې د شپې به د تهجد د لمانځه د پاره حضور ﷺ کوم وخت پاڅيدلو؟ [۵] وې فرمايل حضور ﷺ به هغه وخت پاڅيدلو چې د چرګ اذان به يې واوريدي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① الدَّائِمُ: أَيِ الْعَمَلُ الَّذِي يَدُومُ عَلَيْهِ صَاحِبُهُ: يعنى هغه عمل چه هغه هميشه کيږی. ② الصَّارِخَ: أَيْ: صَوْتَ الدِّيكِ: دې نه مراد دَ سحر دَ چرګ بانګ دې.

تسهيلات: -

قوله: إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ:

د سحر په وخت د چرګ د اذان درې مرحلې: -

① دَ شپې په مينځ کښې دَ ده اذان وی

② دَ هغې نه څه ساعت پس وی

③ دَ شپې آخرى حصه کښې وی.

د چرګ په خپل وخت باندې اذان کول: - دَ چرګ معمول هم يو وی، ګهړئی وراندې

---

(۱) اخرجه البخاري فى كتاب الجمعة/ باب من نام عند السحر (رقم-۱۱۳۲) ومسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب صلاة الليل، وعدد ركعات النبى صلى الله عليه وسلم فى الليل، وأن الوتر ركعة، وأن الركعة صلاة صحيحة (رقم) ۱۳۱ - (۷۴۱) و ابوداود فى كتاب الصلاة، باب وقت قيام النبى صلى الله عليه وسلم من الليل (رقم-۱۳۱۷) كتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب وقت القيام (رقم-۱۶۱۶)

روستو کیدې شی لیکن دَ سحر دَ چرګ وخت هم یو وی. مګر شرط دادې چه چرګ فارمی نه وی. دَ فارمی چرګ ته هډو معلومه نه ده چه دَ اذان وخت څه وی. نه دَ فارم چرګې له دَ هګئی نه بچې ویستل ورځی. دَدې وجه داده چه مخلوق دَ دې تخلیق کړې دې دَدې په تخلیق کښې بې ځایه مداخلت کړې شوې دې نودا چرګ څکه داسې پاګل او جاهل راؤوتلو.

[۱۲۰۸] د نبی علیه السلام دشپې معمول

۱۲۰۸—(¹)[۲۱] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «مَا كُنَّا نَشَاءُ أَنْ نَرَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلَّا رَأَيْنَاهُ، ۳ وَلَا نَشَاءُ أَنْ نَرَاهُ نَائِمًا إِلَّا رَأَيْنَاهُ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: ۱ انس رضی الله عنه فرمایي ۲ که مونږ به غوښتل چې حضور ﷺ د شپې په لمانځه کولو ووینو نو حضور ﷺ به مو په لمانځه کولو لیدلو ۳ او که دا به مو غوښتل چې حضور ﷺ اوده ووینو نو اوده به مولیدلو. (نسايي)

تسهیلات:-

توله: وَلَا نَشَاءُ أَنْ نَرَاهُ نَائِمًا إِلَّا رَأَيْنَاهُ

دنبی کریم په عبادت کښې اعتدال: -نبی کریم ﷺ به دشپې عبادت هم کولو او آرام به ئې هم کولو. معلومه شوه چې د شپې په عبادت کښې اعتدال وو. حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چې ما داسې کله هم نه وو لیدلی چې ټوله شپه به نبی کریم ﷺ اوده وواو داسې مې هم نه وو لیدلی چې ټوله شپه به نبی کریم ﷺ په عبادت کښې تیروله. دواړه امور په کښې شامل وو. آرام هم وو او عبادت هم وو.

[۱۲۰۹] په سفر کښې د نبی علیه السلام د تهجد و کیفیت

۱۲۰۹—(²)[۲۲] ۱ وَعَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «إِنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ۲ قُلْتُ وَأَنَا فِي سَفَرٍ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۳ وَاللَّهِ لَأَرْقُبَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِلصَّلَاةِ حَتَّى أَرَى فِعْلَهُ، ۴ فَلَمَّا صَلَّى صَلَاةَ الْعِشَاءِ، وَهِيَ الْعَتَمَةُ، ۵ اضْطَجَعَ هَوِيًّا مِنَ اللَّيْلِ، ۶ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَنَظَرَ فِي الْأُفُقِ، فَقَالَ: ۷ ﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلًا﴾ [آل عمران: ۱۹۱] حَتَّى بَلَغَ إِلَى: ﴿إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾ [آل عمران: ۱۹۴]،

ترجمه: ۱ حمید بن عبدالرحمٰن بن عوف رضی الله عنه فرمایي ۲ چې د رسول الله ﷺ یو صحابي بیان وکړو ۲ چې (یو ځل) زه د حضور ﷺ سره په سفر کې ملګري ووم نو (په خپل زړه کې یا بعضې دوستانو ته مې وویل) ۳ قسم په الله چې حضور ﷺ د تهجد د پاره پاڅي نو زه

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/ باب قیام النبی صلی الله علیه وسلم باللیل من نومه، وما نسخ من قیام اللیل(رقم-۱۱۴۱)والترمذی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سرد الصوم (رقم-۷۶۹)

²) اخرجه النسائی فی السنن رقم الحدیث ۱۶۲۶

به يې د لمانځه په وخت وينم چې د حضور ﷺ افعال ووينم ‹او بيا د هغې مطابق عمل اوکړم› [۴] کوم وخت چې حضور ﷺ د ماسخوتن مونځ چې هغې ته عتمه وايي وکړو [۵] نو پريوتلي ‹او تر څه وخت پورې يې آرام وکړو› [۶] بيا چې بيدار شو نو د آسمان طرف ته يې نظر پورته کولو سره دآيت اووئيلو: [۷] رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ‹اې ربه تا دا بې فائدې نه دي پيدا کړي› تر دې چې حضور ﷺ دې آيت ته ورسيدو إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ‹بيشکه ته وعده خلافي نه کوې›.

حل اللغات:- ① لَأَرْمُقَنَّ: أَيْ: لَأَنْظُرَنَّ وَأَحْفَظَنَّ: د نصر ينصر نه انتظار اودَ نګرانۍ په معنی کښې دې چه زه به خامخا ګورم، په غور سره کتلو ته وائي. په دې معنی کښې يولفظ لَأَرْمُقَنَّ دې په حديث ‹۱۱۹۷› کښې تير شوي دې. ② الْعَتَمَةُ: ماسخوتن ته عتمه وائي دَ اسلام نه مخکښې دَ ماسخوتن نوم عتمه وو خو اسلام دَدې نوم ماسخوتن کيخودو اودَ عتمه په لفظ باندې پابندي اولګوله. کيدې شي چه دا دلته کوم استعمال شوي دې دادَ حرمت او ممانعت نه مخکښې وي.
③ هَوِيًّا: أَيْ: حِينًا طَوِيلًا: ډير ساعت، يعنی ناوخته پورې، ④ الْأُفُق: أَيْ: نَوَاحِي السَّمَاءِ: دآسمان اطراف او غاړو ته وائي.

[۱] ثُمَّ أَهْوَى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى فِرَاشِهِ، [۲] فَاسْتَلَّ مِنْهُ سِوَاكًا، [۳] ثُمَّ أَفْرَغَ فِي قَدَحٍ مِنْ إِدَاوَةٍ عِنْدَهُ مَاءً، [۴] فَاسْتَنَّ، ثُمَّ قَامَ، فَصَلَّى، [۵] حَتَّى قُلْتُ: قَدْ صَلَّى قَدْرَ مَا نَامَ، [۶] ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى قُلْتُ قَدْ نَامَ قَدْرَ مَا صَلَّى، [۷] ثُمَّ اسْتَيْقَظَ، فَفَعَلَ كَمَا فَعَلَ أَوَّلَ مَرَّةٍ، [۸] وَقَالَ مِثْلَ مَا قَالَ، [۹] فَفَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَبْلَ الْفَجْرِ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] بيا حضور ﷺ د خپلې بسترې طرف ته متوجه شو [۲] او د هغې څخه يې مسواك راؤښکلو [۳] د هغې څخه وروسته د يو بتکې ‹چهاګلې› څخه يې چې د حضور ﷺ سره پروت وو ‹د اودس کولو يا د مسواك لوندولو د پاره› په پيالې کې اوبه راوښکلې [۴] بيا د مسواك کولو څخه وروسته يې ‹اودس وکړو يا د مخکې کړې اودس سره› د لمانځه د پاره ودريدلو کوم وخت چې حضور ﷺ مونځ وکړو [۵] نو ما په زړه کې اوويل چې څومره وخت حضور ﷺ اوده شوې وو هغومره وخت يې مونځ وکړو [۶] بيا حضور ﷺ پريوتلو او ما ‹په خپل زړه کې› اوويل چې څومره وخت حضور ﷺ اوده شوې وو هغومره وخت يې آرام وکړو [۷] بيا حضور ﷺ بيدار شو او څه چې يې مخکې کړې وو هغه يې اوس وکړل يعنی مسواك وغيره يې وکړل [۸] او څه چې ‹يعنې آيت مذکوره› يې مخکې ويلې وو هغومره يې اوس وويلو [۹] حضور ﷺ د سحر د لمانځه څخه مخکې دغسې درې ځله وکړل. ‹نسايي›

حل اللغات:- ⑤ أَهْوَى: أَيْ: قَصَدَ وَمَالَ: مائل کيدل متوجې کيدل لاس وړاندې کولوسره يوڅيز اخستل. ⑥ فَاسْتَلَّ: أَيْ: اسْتَخْرَجَ: استلال دَ يوڅيز راويستلو ته وائي دلته مسواك راويستل مراد

دی. ⑦ قَدَح: پیالی، ⑧ إِدَاوَة: دَ څرمن لوښی ته وائی کوم ته چه چهاګل وائی. ⑨ فَاسْتَنَّ: استنان دَ سن نه دې اوسن غاښ ته وائی او استنان هم په دغه غاښونو باندې مسواك كولو ته وائی.

تسهیلات: -

نوټ: د اضافی قیوداتو ترجمې څخه د حدیث مطلب واضح دې.

[۱۲۱۰] د نبی علیه السلام د تهجد و د قراءت کیفیت

۱۲۱۰-(۱)[۲۳] ① وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ② «أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَاتِهِ؟ ③ فَقَالَتْ: وَمَا لَكُمْ وَصَلَاتُهُ؟ ④ كَانَ يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى، ⑤ ثُمَّ يُصَلِّي قَدْرَ مَا نَامَ، ⑥ ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى، حَتَّى يُصْبِحَ، ⑦ ثُمَّ نَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ، فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً حَرْفًا حَرْفًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① د یعلي بن مملك په باره کې منقول دي ② چې هغه (یو ځل) د ام سلمه یعنی د حضور ﷺ د بي بي څخه د حضور ﷺ د قراءت او لمانځه په باره کې پوښتنه وکړه (چې حضور ﷺ به د شپې کول) ③ هغې ورته وفرمایل چه د حضور ﷺ د لمانځه (او د قراءت د بیان کولو څخه به) تاسو ته څه حاصل شی [په تاسو کې دومره قوت چرته دي چې د حضور ﷺ په شان مونځ وکړي شی او که اوریدل غواړي نو واوره چې] ④ حضور ﷺ به مونځ کولو بیا څومره چې به یي مونځ کړي وو هغومره به اوده کیدو ⑤ بیا به (پاڅیدلو) تر دومره وخته پورې به یي مونځ کولو څومره چې به اوده شوې وو ⑥ بیا چې به څومره وخته پورې یې مونځ کړي وو هغومره به اوده کیدو تر دي چې (دا سلسله به جاري وه او) سحر به شو ⑦ د دې څخه وروسته ام سلمه ﷺ د حضور ﷺ قراءت بیان کړو تردې چې هغې ښه واضح او د یو یو حرف د حضور ﷺ د قراءت یې بیان وکړو. (ابوداؤد، ترمذي، نسايي)

حل اللغات: - ① نَعَتَتْ: أَيْ: وَصَفَتْ: بیان ئې کړو، ② مُفَسَّرَةً: أَيْ مُبَيَّنَةً: یعنی په تفصیل او وضاحت سره، ③ حَرْفًا حَرْفًا: أَيْ: مُرَتَّلَةً وَمُجَوَّدَةً وَمُمَيَّزَةً غَيْرَ مُخْتَلِطَةٍ: چه په ترتیل او تجوید سره به ئې جدا جدا یو یو لفظ لوستلو.

تسهیلات: - **قوله:** ثُمَّ نَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ:

دنبی کریم د قراءت کیفیت: - نبی کریم ﷺ به کله ویخ وو او کله اوده. او په آخر کښې ام سلمه رضی الله عنها یو یو لفظ واضح کړو او وې فرمائیل چې نبی کریم ﷺ به ډیر په رو رو تلاوت کولو. د قرات طریقه هم داده چې د زباتو وئیلو په ځائې صحیح اووئیلې شی.

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب استحباب الترتیل فی القراءة (رقم-۱۴۶۶) والترمذی کتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء کیف کانت قراءة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۹۲۳)

[۴۸/۳۲]بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ]

پہ تہجد و کښې د دعاګانو ویلو بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثمانية احاديث مشتملة على ثلاثة مسائل:

① التشهد في القعدة: ۱، ۲، ۷، ۸.

② الذكر وقت الإستيقاظ من النوم: ۳، ۴، ۶، ۸.

③ وقت الانتباه وقت الإجابة : ۳، ۵.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۱۲۱۱]په تهجدو کښې د نبی علیه السلام دعا

۱۲۱۱-()[۱]① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ قَالَ: ③" اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، ④وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، ⑤وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، ⑥وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ، وَوَعْدُكَ الْحَقُّ، ⑦وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَقَوْلُكَ حَقٌّ، ⑧وَالْجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، ⑨ وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، ⑩ اللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، ⑪وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، ⑫فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، ⑬وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، ⑭وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، ⑮أَنْتَ الْمُقَدِّمُ، وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، ⑯لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① ابن عباس رضی الله عنهما فرمايي ② چې رسول الله ﷺ چې به د شپې تهجد د لمانځه د پاره ودریدلو نو دا دعا به یې کوله: ③ اللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ وَلَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ وَوَعْدُكَ الْحَقُّ وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ وَقَوْلُكَ حَقٌّ وَالْجَنَّةُ حَقٌّ وَالنَّارُ حَقٌّ وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ وَالسَّاعَةُ حَقٌّ اللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ وَبِكَ آمَنْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ وَبِكَ خَاصَمْتُ وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ (اې زما ربه ستا د پاره ټول تعریفونه دي ته د آسمانونو او زمکې قائم ساتونکي یې او د هغه شي چې د دې په مینځ کې دي ④ او ټول تعریفونه تا لره دي ته د زمکې او آسمانونو او څه چې د دې په مینځ کې دي د ټولو روښانه کونکي یې ⑤ او ټول تعریفونه تا لره دي او ته د زمکې او آسمانونو او څه چې د دې په مینځ کې دي د ټولو بادشاه یې ⑥ او ټول تعریفونه تا

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/ باب التهجد بالليل وقوله عز وجل: «ومن الليل فتهجد به نافلة لک_ [الإسراء: ۷۹]»(رقم-۱۱۲۰) ومسلم فی صحیحه رقم الحدیث.

لره دي ته حق يې ستا وعده حقه ده[۷] ستا ملاقات حق دي ستا كلام حق دي [۸] جنت حق دي دوزخ حق دي ټول نبيان حق دي [۹] محمد ﷺ حق دي او قيامت حق دي [۱۰] اې پروردگاره زه ستا تابعدار يم ما ستا ټول احكامات قبول كړل په تا مې ايمان راوړي دي او په تا مې بهروسه (توكل) وكړو[۱۱] ستا طرف ته مې رجوع وكړه ستا د مدد سره زه د دين د دښمنانو سره جنګيږم او تا ته مې خپل فرياد راوړي دي [۱۲] نو ته زما هغه ګناهونه وبخښې چې ما مخكې كړي دي او هغه ګناهونه هم چې زما څخه وروسته و شي [۱۳] او هغه ګناهونه مې وبخښې چې ما په پټ طريقې سره او په ظاهري طريقې سره كړي دي [۱۴] او څه چې زما خطاګانې دي چې هغه ته بهتر پيژنې (ټولي راته معاف كړې)[۱۵] او ته چې څوك غواړې مخكې كونكې او وروسته كونكې يې [۱۶] ته معبود يې ستا څخه سوا بل معبود نشته (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① قَيِّمُ: أَيْ: الْقَائِمُ بِأُمُورِهِمَا: ساتونكې او انتظام چلونكې، ② أَنَبْتُ: أَيْ: رَجَعْتُ: رجوع كوم، ③ خَاصَمْتُ: أَيْ: أَعْدَاءَكَ: جنګ كوم ستا ددشمنانو سره، ④ قَدَّمْتُ: أَيْ: مِنَ الذُّنُوبِ: چه مخكښې مې كړي دى كوم ګناهونه. ⑤ أَخَّرْتُ: أَيْ: مِنَ التَّقْصِيرِ فِي الْعِبَادَةِ: يعنى ما په عبادت كښې سستى اوكړه. ⑥ أَسْرَرْتُ: أَيْ: أَخْفَيْتُ: چه پټ مې كړى دى (كوم ګناهونه). ⑦ أَعْلَنْتُ: چه ښكاره مې كړى دى (كوم ګناهونه كه قولى وى اوكه فعلى وى). ⑧ الْمُقَدِّمُ: وړاندې كونكې (ئې بعضې بندګانو لره چه توفيق د عباداتو دې وركړې دې). ⑨ الْمُؤَخِّرُ: وروسته پاتې كونكې ئې (بعضې بندګانو لره د لويو مرتبونه).

تسهيلات:- قوله: إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ:

د دعاګانو په محل كښې دوه احتمالات:-

① دَ حديث ظاهرى الفاظو نه اودَ صاحب مشكوة داسې عنوان ساتلو نه معلوميږى چه دَ راتلونكى احاديث دعاګانې دَ مانځه دننه دعاګانې نه دى بلكه دَ تهجد شروع كولو دَ وخت دعاګانې دى

② دا هم احتمال دې چه په تهجدو كښې حضورپاك ﷺ دا دعاګانې وئيلې وى.

[۱۲۱۲] په تهجدو كښې د نبى عليه السلام دويمه دعا

۱۲۱۳–(¹)[۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ فَقَالَ: [۳] " اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ، [۴] فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، [۵] عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، [٦] أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، [۷] اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ، [۸] إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ام المؤمنين بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي[۲] چې رسول الله ﷺ چې به د

---

¹) اخرجه مسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب الدعاء فى صلاة الليل وقيامه (رقم) ۲۰۱ – (۷۷۱)

شپې پاځيدلو او (د تهجد) مونځ به يې شروع کړو نو دا دعا به يې کوله: [۳] اللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ (اي الله اي پروردګاره د جبرائيل عليه السلام، د ميکائيل عليه السلام او اسرافيل عليه السلام [۴] اي پيدا کونکيه د آسمانونو او د زمکې [۵] او اي پټ او ظاهر باندې پوهيدونکيه [۶] ته به د خپلو بنده ګانو په مينځ کې په هغه شي کې چې په هغې کې هغوي اختلاف کوي فيصله وکړې [۷] اي الله په حق امر کې چې کوم اختلاف شوي دې په هغوي کې زما رهنمايي وکړې [۸] ځکه چې ته چاته غواړې سيده لار ورته ښايې). (مسلم)

حل اللغات:- ① فَاطِرَ: أَيْ: مُبْدِعُهُمَا وَمُخْتَرِعُهُمَا: په رومبي خل پيدا کونکې، ② الْغَيْبِ: أَيْ: بِمَا غَابَ عِنْدَ غَيْرِهِ: پټ څيزونه (کوم چه د مخلوق نه پټ دي). ③ الشَّهَادَةِ: أَيْ: بِمَا ظَهَرَ عِنْدَ غَيْرِهِ: ښکاره څيزونه (کوم چه مخلوق ته ښکاره دي). ④ تَحْكُمُ: فيصله به کوې.

تسهيلات:-

قوله: اللّٰهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ:

د فرشتو د ذکر په ترتيب کښې حکمت:-

① جبريل عليه السلام د آسمانى کتابونو آمين دې. د نبيانو عليهم السلام خادم دې. او دټولو فرشتو څخه افضل دې. يعنى ټولو امور دينى طرف ته ددوئ امانت راجع دې.

② ددې نه پس ئې اسرافيل عليه السلام ځکه ذکرکړو چې دې د لوح محفوظ آمين دې او د صور آمين دې. دا امور امور معاش او امور معاد طرف ته راجع دى.

③ په مينځ کښې ئې د ميائيل عليه السلام ذکر اوکړو، ځکه چې ده به دواړو طرفونو نه مدد کولو. په دې وجه ئې دده ذکر په مينځ کښې اوکړو. لکه د باران او نباتاتو آمين دې. (قاله ابن حجر رحمه الله)

قوله: فَاطِرَ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ:

د آسمان د تقديم وجه:- د خالق معنى ده پيدا کونکې، او د فاطر معنى ايجاد کوونکى. چونکه آسمان فيض ورکوى او زمکه فيض اخلى، داشان آسمان د کفر، شرك او ګناه نه محفوظ دې. او دا ټول هر څه په زمکه کښې موجود دى. په دې وجه ئې د آسمان د زمکې نه وړاندې اوکړو.

قوله: اهْدِنِي:

اي ثبتني وزادني في الهداية: يعنى ماته په دې کښې ثابت قدمى راکړه، او زما رهنمائى اوکړه.

[۱۲۱۳] د خوب څخه بیداریدو څخه روسته تسبیحات

۱۲۱۳-() [۳] [۱] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَ: [۳] لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، [۴] لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ [۵] وَسُبْحَانَ اللهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، [۶] وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ [۷] وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ، [۸] ثُمَّ قَالَ: رَبِّ اغْفِرْلِي"، أَوْقَالَ: "ثُمَّ دَعَا، اسْتُجِيبَ لَهُ، [۹] فَإِنْ تَوَضَّأَ وَصَلَّى قُبِلَتْ صَلَاتُهُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[1]

ترجمه: [۱] عباده بن صامت رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د شپې بیدار شی او دا دعا اووائي: [۳] لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَسُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ «د الله څخه سوا بل معبود نشته هغه ایکي یو دي هیڅوك د هغه شریك نشته [۴] د هغه د پاره بادشاهت دي او د هغه د پاره ټول تعریفونه دي او هغه په هر شي قادر دي [۵] او پاك دي الله ټول تعریفونه الله لره دي [۶] او د هغه څخه سوا بل معبود نشته او الله ډیر لوي دي [۷] او ګناهونو څخه بچ کیدل او د عبادت قوت د الله په مدد سره دي» [۸] او دي څخه وروسته دا اووائي رَبِّ اغْفِرْلِي «اي زما ربه ما وبخښې» یا وي فرمایل بیا دعا وکړي «یعني راوي ته شك واقع شوې دي چې حضور ﷺ خاص طور سره رَبِّ اغْفِرْلِي وفرمایل یا دا یې وفرمایل چې کومه دعا غواړي ودي کړي» د هغه دعا به قبوله شي [۹] بیا که اودس وکړي او مونځ وکړي نو دهغه مونځ به قبول شي. «بخاري»

حل اللغات:- ① تَعَارَّ: أي: اِنْتَبَهَ مِنَ النَّوْمِ: چه رابیدار شی د خوب نه.

تسهیلات: - **قوله**: مِن تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ:

د تعار په معنی کښې درې اقوال: -

① د خوب نه پاسیدو او بیداریدو ته تعار وائی.

② بعضو لیکلی دی چه اړخ بدلولو ته تعار وائی.

③ ابن ملك لیکلی دی چه دخوب نه کله سړې بیدار شی نو د هغه د خلې نه بې اختیاره یو آواز اوخی هم هغې ته تعار وئیلې شوې دې.

د دعاګانو محل: - حضورپاك ﷺ دا خبره خوښه کړه چه کله آواز راؤخی نو بهتر داده چه د الله تعالی ذکر سره اوخی او سړې مذکوره دعا اووائی. دا دعا پخپله نیکی، مطلوب او مقصود دې. لیکن که چا د دې دعانه پس اودس اوکړو اومونځ نې اوکړو نو د هغه مونځ بـه قبلیږی. د دې خائی نه معلومه شوه چه دا ټولې دعاګانې د تهجد د مونځ نه وړاندې وړاندې وئیل پکار دی.

[1] اخرجه البخاري في كتاب الجمعة/ باب فضل من تعار من الليل فصلى (رقم-١١٥٤) وابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقول الرجل إذا تعار من الليل (رقم-٥٠٦٠)والترمذي كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الدعاء إذا انتبه من الليل (رقم-٣٤١٤) وابن ماجة كتاب الدعاء/باب ما يدعو به إذا انتبه من الليل (رقم-٣٨٧٨)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۲۱۴] د بيداريدو په وخت مسنون دعا

۱۲۱۴-()[۳][۱]عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ:[۲]«كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ:[۳]"لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ،[۴]أَسْتَغْفِرُكَ لِذَنْبِي، وَأَسْأَلُكَ رَحْمَتَكَ،[۵]اللّٰهُمَّ زِدْنِي عِلْمًا،[۶]وَلَا تُزِغْ قَلْبِي بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنِي،[۷]وَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[۱] ام المؤمنين بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي[۲] چي رسول الله ﷺ چي به د شپي (د خوب څخه) بيدار شو نو دا دعا به يي كوله:[۳] لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ لِذَنْبِي وَأَسْأَلُكَ رَحْمَتَكَ اللّٰهُمَّ زِدْنِي عِلْمًا وَلَا تُزِغْ قَلْبِي بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنِي وَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ، (اي الله ستا څخه سوا بل معبود نشته ته پاك يي اي الله زه ستا د تعريف سره ستا تسبيح كوم[۴] د خپلو ګناهونو بخښنه غواړم او ستا څخه ستا د رحمت طلبګار يم[۵] اي الله زما علم زيات كړي[۶] او ما د هدايت يافته جوړولو څخه وروسته (د حق څخه باطل طرف ته) زما په زړه كي كجروي پيدا مه كړي[۷] او د خپل طرف څخه زما د پاره (په ايمان او هدايت باندي ثابت قدمي او د دين توفيق) رحمت عطا كړي بيشكه ته بخښونكي يي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① وَلَا تُزِغْ: دا د أَزَاغَ نه دي. أَيْ: لَا تَجْعَلْ قَلْبِي مَائِلًا عَنِ الْحَقِّ إِلَى الْبَاطِلِ: يعني زما زړه د حق نه باطل ته مه ګرځوي.

تسهيلات:- **قوله:** اَللّٰهُمَّ زِدْنِي عِلْمًا، وَلَا تُزِغْ قَلْبِي:

دعلم اهميت:-اګر چي دا دواړه څيزونه هم په رحمت كښي شامل وو خو ددي د اهميت په وجه ئي دا جدا جدا ذكر كړل. ددي نه معلومه شوه چي د علم انتها نشته دي. په دي وجه دي يو كس په خپل عمل باندي قناعت نه كوي. او هم داشان دي هو كس خپل ځان دشيطان نه محفوظ نه ګڼړي. د زړه په بدليدو كښي هيڅ وخت نه لګي.

د رحمت څخه مراد:-داشان د رحمت نه مراد ايمان او هدايت باندي ثابت قدمي او د نيكو اعمالو توفيق مراد دي.

[۱۲۱۵] په شپه كښي د بيداريدو څخه وروسته د ذكر الله فضيلت

۱۲۱۵-()[۵][۱]وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲]"«مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَبِيتُ عَلَى ذِكْرٍ طَاهِرًا[۳]فَيَتَعَارُّ مِنَ اللَّيْلِ، يَسْأَلُ اللّٰهَ خَيْرًا[۴]إِلَّا أَعْطَاهُ اللّٰهُ إِيَّاهُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه ابوداود في السنن رقم الحديث ۵۰۶۱

[2] اخرجه ابوداود في كتاب الأدب/باب في النوم على طهارة (رقم-۵۰۴۲) وابن ماجة كتاب الدعاء/باب ما يدعو به إذا انتبه من الليل (رقم-۳۸۸۱)

ترجمه: [۱] معاذ بن جبل ﷛ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم مسلمان چې د شپې د پاکۍ په حالت کې (يعني اودس يا تيمم کولو سره) ذکر الله کولو سره اوده شي [۳] بيا د شپې د بيداريدو څخه وروسته د الله څخه د خير دعا غواړي [۴] نو الله تعالى ﷻ هغه ته (په دنيا يا آخرت کې ضرور) خير ورکوي. (احمد، ابوداؤد)

حل اللغات: - ① يَبِيتُ: أَيْ: يَرْقُدُ فِي اللَّيْلِ: چه د شپې اوده شي. ② طَاهِرًا: أَيْ: مُتَوَضِّئًا أَوْمُتَيَمِّمًا: چه پاک وي (اودس ئې کړې وي يا ئې تيمم وهلې وي). ③ فَيَتَعَارُّ: أَيْ: يَنْتَبِهُ وَيَتَحَرَّكُ: چه رابيدار شي د خوب نه.

تسهيلات: - **قوله: يَبِيتُ عَلَى ذِكْرٍ طَاهِرًا:**

د طاهر په مصداق کښې دوه اقوال: -

① د ددې څخه ظاهري پاکوالې مراد دې چې په اودس کښې اوده کيدل پکار دي.

② ددې څخه د زړه پاکوالې مراد دې يعنی د دهوکې، ملاوټ، شيطانی وسوسو، بنودنې او د غيرو دبادشاهۍ وغيره نه زړه پاک وی.

څوک چې په اودس کښې څملی نو هغه به د ټولې شپې په عابدانو کښې شميرلې کيږي.

[۱۲۱٦] د تهجد څخه مخکې تسبيحات او دعا

۱۲۱٦ —()[٦] [۱] وَعَنْ شَرِيقٍ الْهَوْزَنِيِّ، قَالَ: [۲] «دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَسَأَلْتُهَا: [۳] بِمَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ؟ [۴] فَقَالَتْ: سَأَلْتَنِي عَنْ شَيْءٍ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَحَدٌ قَبْلَكَ، [۵] كَانَ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ؟ كَبَّرَ عَشْرًا، [٦] وَحَمِدَ اللَّهَ عَشْرًا، [۷] وَقَالَ: " سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَشْرًا "، [۸] وَقَالَ: " سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ " عَشْرًا، [۹] وَاسْتَغْفَرَ اللَّهَ عَشْرًا، [۱۰] وَهَلَّلَ اللَّهَ عَشْرًا، [۱۱] ثُمَّ قَالَ: " اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا وَضِيقِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ " عَشْرًا، [۱۲] ثُمَّ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] شريق الهوزني فرمايي [۲] چې د بي بي عائشي صديقي ﵂ په خدمت کې زه حاضر شوم او پوښتنه مې ځيني وکړه [۳] چې حضور ﷺ به د شپې بيداريدو څخه وروسته عبادت په کوم شي سره شروع کولو [۴] بي بي عائشي ﵂ وفرمايل نن تا زما څخه هغه پوښتنه وکړه چې ستا څخه مخکې دا پوښتنه راڅخه هيچا نه وه کړي [۵] (نو واوره چې) حضور ﷺ به د شپې بيداره شو نو مخکې به يې الله اکبر لس ځله ويل [٦] الحمد لله لس ځله [۷] سبحان الله وبحمده لس ځله [۸] سبحان الملك القدوس لس ځله ويل [۹] لس ځله به يې استغفار کولو [۱۰] لا اله الا الله به يې لس ځله ويل [۱۱] او لس ځله به يې دا کلمات ويل اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا وَضِيقِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، (اي پروردګاره زه د تا څخه د دنيا د تنګيو (يعني سختيو) او د آخرت د تنګۍ څخه پناه غواړم) [۱۲] بيا د دې څخه وروسته به يې د تهجد مونځ شروع کولو. (ابوداؤد)

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الأدب/باب ما يقول إذا أصبح (رقم-۵۰۸۵) والنسائی کتاب الاستعاذة/باب الاستعاذة من ضيق المقام يوم القيامة (رقم-۵۵۳۵)

حل اللغات:- ① هَبَّ: أَيْ: اسْتَيْقَظَ: چه رابيدرا به شو (دخوب نه). ② الْقُدُّوسِ: أَيْ: الْمُنَزَّهُ عَنْ كُلِّ عَيْبٍ وَآفَةٍ: چه پاک دي دهر عيب او آفت نه، ③ ضِيقِ الدُّنْيَا: أَيْ: شَدَائِدِهَا: ددنيا د تنګۍ نه مراد سختۍ او تکاليف دي.

تسهيلات:-

قوله: إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ ؟ كَبَّرَ عَشْرًا:

معشرات سبعه:- دې کلماتو ته د محدثينو په اصطلاح کښې معشرات سبعه وئيلې کيږي. يعنى اووه داسې تسبيحات دى چې په هغې هره يوه تسبيح لس لس خله وئيلې کيږي.

قوله: مِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا وَضِيقِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ:

د دنيا او آخرت د تنګستيا څخه مراد:-

① ددنيا په تنګدستيا کښې د دې مصيبتونه ،بيمارۍ قرضونه وغيره ، شامل دي.
② دقيامت په تنګدستيا کښې ،د قيامت د ورځې ګرمي ،حساب کتاب وغيره شامل دى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۲۱۷] په تهجدو کښې مسنون اذکار

۱۲۱۷ –()[۷] ① عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ ③ ثُمَّ يَقُولُ: "سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، ④ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ"، ⑤ ثُمَّ يَقُولُ: "اللَّهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا"، ⑥ ثُمَّ يَقُولُ: "أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ" ⑦ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: ① ابو سعيد رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ چې به د شپې لمانځه ته ودريدلو نو الله اكبر به يې ويلو ③ بيا به يې دا كلمات ويل سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ (اې الله ته پاک يې مونږ ستا حمد كوو ④ ستا نوم بركتناک دي ستا بزرګي لويه ده او ستا څخه سوا بل معبود نشته) ⑤ بيا به يې اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا (الله ډير لوي دي) ⑥ ويل او دا دعا به يې كوله: أَعُوذُ بِاللَّهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ (زه په الله اوريدونكي، پوهيدونكي پناه غوارم ، د شيطان مردود څخه ⑦ د هغه د وسوسو څخه د هغه د تكبر څخه او د هغه د خراب اشعار ښودلو څخه (پناه غوارم) (ترمذي،ابوداؤد،نسايي).

حل اللغات:- ① تَعَالَى جَدُّكَ: أَيْ: ارْتَفَعَ عَظَمَتُكَ: لويې دي شان ستا. ② هَمْزِهِ: أَيْ: نَخْزِهِ يَعْنِي وَسْوَسَتُهُ

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب من رأى الاستفتاح بسبحانک اللهم وبحمدک(رقم-۷۷۵) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول عند افتتاح الصلاة (رقم-۲۴۲)وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب افتتاح الصلاة (رقم-۸۰۴) والدارمى كتاب الصلاة/باب: ما يقال بعد افتتاح الصلاة

وَإِغْوَاءَهُ: د شیطان ټونګې او وسوسې وغیره مراد دی. ⑨ نَفْخِهِ: أَيْ: كِبْرِهِ وَعُجْبِهِ: د نفخ نه مراد د شیطان کبر اوغرور دې، ⑩ نَفْثِهِ: سِحْرِهِ أَوْشِعْرِهِ: د نفث نه مراد یا خو جادو او ټوټکې وغیره دی یا غلط اشعر او لوبې، سندرې وغیره دی.

[۱] وَزَادَ أَبُودَاوُدَ بَعْدَ قَوْلِهِ: "غَيْرُكَ" ، [۲] ثُمَّ يَقُولُ: "لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ" ثَلَاثًا. وَفِي آخِرِ الْحَدِيثِ: ثُمَّ يَقْرَأُ.

ترجمه: [۱] ابوداؤد په خپل روایت کې د حدیث الفاظ د ولااله غیرك څخه وروسته دا الفاظ هم نقل کړي دي [۲] چې بیا به حضور ﷺ لااله الاالله درې خله ویل او د آخري حدیث الفاظ دا دي چې بیا یې ویل یعنی د اعوذ بالله السمیع العلیم الخ ویلو څخه وروسته به یې قراءت کولو.

تسهیلات:- قوله: ثُمَّ يَقُولُ:

ددعا فائده:-مطلب دادې چې په دې ټولو څیزونو باندې دشیطان د طرفه ده ته قدرت حاصل دې بنده ته پکار دی چې ددې تصرفاتو نه خان اوساتی او دالله تعالی پناه اوغواړی.

[۱۲۱۸] په صلاة اللیل کښې ذکرونه

۱۲۱۸—(۱)[۸] [۱] وَعَنْ رَبِيعَةَ بْنِ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كُنْتُ أَبِيتُ عِنْدَ حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۳] فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ [۴] يَقُولُ: "سُبْحَانَ رَبِّ الْعَالَمِينَ" الْهَوِيَّ، [۵] ثُمَّ يَقُولُ: "سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ" الْهَوِيَّ». رَوَاهُ النَّسَائِيُّ. [۶] وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوُهُ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] ربیعه بن کعب اسلمي رضی الله عنه فرمايي [۲] چې ما به د رسول الله ﷺ د حجرې مبارکي نږدې شپه تیرولـه [۳] ما بـه د حضور ﷺ آواز اوریدو چې کلـه بـه حضور ﷺ د تهجد د لمانځه د پاره پاځیدلو [۴] نو تر ډیر وخته پورې به یې سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ (د ټول عالم پروردګار پاك دي) ویل [۵] بیا به یې تر ډیر وخته پورې سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ (زه د هغه د تعریف سره د هغه پاکي بیانوم) ویل، نسايي، [۶] ترمذي هم دغسې روایت نقل کړي دي او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن صحیح دي.

حل اللغات:- ① أَبِيتُ: مِنَ الْمَبِيْتُوتَةِ: یعنی شپه مې تیره کړه. ② حُجْرَةِ: د کوټې اوصحن دواړو دپاره استعمالیږی دلته ترې صحن مراد دې یعنی کوټې ته مخامخ خای کوم طرف ته چه دکوټې دروازه وی. ③ الْهَوِيَّ: الْحِيْنُ الطَّوِيْلُ مِنَ الزَّمَانِ: د ډیر وخته پورې لوستلو او وئیلو په معنی کښې دې.

تسهیلات:- قوله: كُنْتُ أَبِيتُ عِنْدَ حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ربیعه بن کعب د شپې تیرولو مقصد:-ددې نه معلومیږی چې ربیعـه بـن کعـب اسلمی رضی الله عنه بـه نبی کـریم ﷺ سره شپه ولې تیرولـه ،صرف ددې وجې چې د نبی کـریم ﷺ د شپې عبادت معلوم کړی.

[۱]) اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۳۴۱۶)

[۴۹/۳۳]بَابُ التَّحْرِيضِ عَلَى قِيَامِ اللَّيْلِ]

تهجدو دپاره د ترغيب وركولو بيان

خلاصة الباب:-

فيه أحد وعشرون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① فضيلة القيام لصلاة الليل: ۱، ۲، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۴، ۱۷، ۱۸، ۲۰۔

② الزجر لمن لا يقوم من الليل: ۳، ۱۵۔

③ إيقاظ الأهل لصلاة الليل : ۴، ۱۲، ۱۶، ۱۹، ۲۱۔

④ إجابة الدعاء في آخر الليل: ۵، ۶، ۱۱، ۱۳، ۱۶۔

⑤ وقت القيام من الليل: ۸،۷، ۱۷، ۲۱۔

د باب مقصود:

د تحريض معنى ده ترغيب او تيزول او دلچسپي پيدا كول، د باب مطلب دا دې چه په دې باب كښې هغه احاديث ذكركولې شي كوم چه لوستونكى د شپې دتهجدو اوقيام الليل طرف ته راغب كوى.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۲۱۹] د صلاة الليل څخه منع كولو دپاره د شيطان چالونه

۱۲۱۹ –(۱)[۱][۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] " «يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ،[۳] يَضْرِبُ عَلَى كُلِّ عُقْدَةٍ: عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ،[۴] فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللّٰهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ،[۵] فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ،[۶] فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ،[۷] فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ،[۸] وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ، كَسْلَانَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] هر كله چې په تاسو كې څوك (د شپې) اوده كيږي نو شيطان رتړل شوې د هغه د سر د شا په حصه(يعني څټ) باندې درې غوټې لګوي[۳] په هره غوټه باندې دا وايي (يعني د هغه په زړه كې دا خبره اچوي) چې اوس لاشپه ډيره باقي ده اوده شه[۴] كه يو سړي [د شيطان په دې مكركي رانشي او] د عبادت الهي د پاره بيدار شي او (په زړه يا په ژبې سره) الله ياد كړي نو (د غفلت او د

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الجمعه/ باب عقد الشيطان على قافية الرأس إذا لم يصل بالليل (رقم-۱۱۴۲)ومسلم في كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب ما روى فيمن نام الليل أجمع حتى أصبح (رقم)۲۰۷ - (۷۷۶) وابوداود في كتاب الصلاة،باب قيام الليل (رقم-۱۳۰۶) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في قيام الليل (رقم-۱۳۲۹) ومالك في الموطا كتاب قصر الصلاة في السفر ، باب جامع الترغيب في الصلاة (رقم-۹۵)

سستئ) يوه غوټه خلاصه شي ⑤ بيا چې هغه اودس وکړي نو (د نجاست) دويمه غوټه خلاصه شي ⑥ او د هغې څخه وروسته چې مونځ شروع کړي نو (د سستئ) دريمه غوټه هم خلاصه شي ⑦ نو داسې سړي خوشحاله او پاك نفس سره صبا کوي ⑧ ګيني (کوم سړي چې نه بيداريږي او نه اودس کولو سره مونځ کوي نو هغه) سست او پليت نفس سره صباکوي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① يَعْقِدُ: أَيْ: يَشُدُّ: غوټې لګوی شيطان، ② قَافِيَةِ: أَيْ: قَفَاهُ وَمُؤَخَّرِهِ: دَ سرکپرئی او شاته حصې ته قافيه وائی. ③ فَارْقُدْ: اوده شه، ④ انْحَلَّتْ: خلاصه شی، اوسپړدې شی غوټه، ⑤ نَشِيطًا: أَيْ: لِلْعِبَادَةِ: يعنی دَ عبادت دَپاره چست شی لکه چه طيب النفس دَدې تفسر دې. ⑥ طَيِّبَ النَّفْسِ: أَيْ: ذَاتَ فَرَحٍ: نفس يعنی روح ئې خوشحاله وی. ⑦ خَبِيثَ النَّفْسِ: أَی مَحْزُونَ الْقَلْبِ: زړه ئې خفه او غمجن وی. ⑧ كَسْلَانَ: سست او ناراسته وی.

تسهيلات: - **قوله:** يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ:

په او ده کيدونکی باندې شيطانی منتر: - شيطان په په ځټ کښې درې غوټې لګوی دې دَپاره چه دا سړې غافل کيدوسره دَ سحره پورې اوده پاتې شی اودَ شپې مونځ اونه کړې شی. نه دَ سحر دَ مونځ دَپاره پاسيدې شی، په هره يوه غوټه باندې شيطان يو منتر وائی دکوم الفاظ چه دادی: "عليك ليل طويل فارقد" يعنی اوس لااوږده شپه باقی ده ته ښه کلك اوده شه.

قوله: عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ:

د مذكوره جملې تركيب: - دَدې جملې په ترکيب کښې ملاعلی قاری رحمه الله مختلف اقوال ذکر کړی دی. آسان ترکيب داسې دې چه "عليك" خبر مقدم دې او "ليل طويل" مبتدا مؤخر ده عبارت داسې دې: "ليل طويل باق عليك فارقد"

قوله: خَبِيثَ النَّفْسِ:

دشيطان انسان لره په لولو کولو کښې دوه احتمالات: -

① داکلام په حقيقت باندې محمول دې او شيطان خبيث واقعةً انسان سره دا لوبې کوی. په دې وجه هرمسلمان له پکار دی چه هغه دې دَ شيطان دَ پنجې نه بچ کيدو دَپاره دَ پنځو وارو مونځونو پابندی اوکړی دې دَ پاره چه هغه دَ الله تعالی په لاس کښې محفوظ پاتې شی.

② دَ شيطان انسان سره دا لوبې کول په حقيقت باندې محمول نه دی بلکه دا يو تشبيهی کلام دې مراد سست کول او دَ عبادت نه غافل کول دی.

[۱۲۲۰] د نبی علیه السلام د کثرت عبادت غرض

۱۲۲۰-()[۲]① وَعَنِ الْمُغِيرَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ، ③ فَقِيلَ لَهُ: لِمَ تَصْنَعُ هَذَا وَقَدْ غُفِرَ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ؟ ④ قَالَ: "أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① مغيره رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ د شپې د لمانځه د پاره دومره قيام وکړو (يعني تر دومره وخت پورې ولاړ وو) چې پښې مبارکې يې وپړسيدې ③ (دې حال لره ليدوسره) حضور ﷺ ته عرض وشو چې ته دومره زيات عبادت ولې کوې ستا خو ټول مخکيني روستني ګناهونه بخښلي شوي دي؟ ④ حضور ﷺ وفرمايل آيا زه د الله تعالى جل جلاله شکر اداء کونکي بنده جوړنشم. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① تَوَرَّمَتْ: أي: انْتَفَخَتْ: اوبه پړسيدلې، ② شَكُورًا: شکر ادا کونکې، شکر ګذار.

تسهيلات:- قوله: تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ:

د نبی کریم ﷺ په عبادت کښې کوشش:- يعنی په کثرت سره دَ قيام الليل دَ وجې نه به ئې خپې پړسيدلې. حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها رسول الله ﷺ ته تذکره اوکړه چه تاسو دومره محنت ولې کوئی حالانکه ستاسو واړه او لوئی ګناهونه دَمخکښې نه معاف دی. حضورپا ارشاد اوفرمائيلو چه آيا زه دَ الله تعالى شکريه اداکولو سره دَ هغه شکر کونکي بنده جوړ نه شم؟

دعابدانو درې قسمونه:-

حضرت علی رضي الله عنه دَ عبادتګذارو درې قسمونه بيان کړی دی:

① کومو خلقو چه دَ جنت دَ نعمتونو خواهش او طلب کښې عبادت اوکړو دا دَ سوداګرو عبادت دې.

② کومو خلقو چه دَ دوزخ دَ ويرې نه عبادت اوکړو دا دَ غلامانو والاعبادت دې.

③ اوکومو خلقو چه دَ الله تعالى دَ ورکړې شوی نعمتونو دَ شکر اداکولو دَپاره عبادت اوکړو دا دَ آزادو خلقو عبادت دې اوهم دغه عبادت دَ ټولو نه اعلى او افضل دې.

قوله: وَقَدْ غُفِرَ لَكَ:

اشکال:- حضورپاك ﷺ طرف ته دَ "ذنب" نسبت څنګه اوکړې شو حضورپاك ﷺ خو معصوم دې؟

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب التفسير القرآن/ باب «ليغفر لک الله ما تقدم من ذنبک وما تأخر، ويتم نعمته عليک ويهديک صراطا مستقيما_ [الفتح: ۲](رقم-۴۸۳۶) والنسائی کتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب الاختلاف علی عائشة فی إحياء الليل (رقم-۱۶۴۴)

داشكال جوابونه :-

① دَ حضورپاك ﷺ نه كوم امور خلاف اولى كيږى هغه مراد دى. هغه سره دَدې چه څه گناه نه وى ليكن دَ حضورپاك ﷺ دَ اوچت شان دَ وجې نه هغې ته گناه اوونيلې شوه ځكه چه "حسنات الابرار سيئات المقربين" يوه معروف ضابطه ده.

② دَ دې ذنب نه مراد زلات او لغزشونه دى كوم چه دَ صغائر په درجه كښې وى.

③ دا فرضى كلام دې چه فرض كړه كه چرته گناه هم اوشى نوهغه هم الله تعالى معاف كړې ده.

[۱۲۲۱] دصلاة الليل دپاره دنه پاسيدلو نقصان

۳۳-()[۳] ⓵ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ⓶ «ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ، ⓷ فَقِيلَ لَهُ: مَا زَالَ نَائِمًا حَتَّى أَصْبَحَ، مَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ، ⓸ قَالَ: " ذَلِكَ رَجُلٌ بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنِهِ " أَوْ قَالَ: " فِي أُذُنَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي ⓶ چې (يو خل) د رسول الله ﷺ په مخكې د يو سړي ذكر راغې ⓷ حضور ﷺ ته اوويل شو چې هغه سړي تر سَحر پورې اوده وي د لمانځه د پاره نه پاڅيږي ⓸ حضور ﷺ وفرمايل هغه داسې سړي دي چې د هغه په غوږ كې يا حضور ﷺ وفرمايل چې د هغه په دواړو غوږونو كې شيطان متيازي كوي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① بَالَ: متيازې كوى شيطان.

تسهيلات:-

قوله: مَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ:

د صلاة په مصداق كښې دوه اقوال :-

①دَ شپې دَ دې عبادت نه مراد دَ تهجد مونځ هم كيدې شى

② دَ سحرمونځ هم كيدې شى يعنى تهجدخو لرې خبره ده دا سړې دَسحردَ مونځ دَپاره هم پانه سيدو. حضورپاك ﷺ اوفرمائيل چه دَدغه سړى په غوږونو كښې ابليس متيازې اوكړې.

قوله: بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنِهِ:

د متيازو كولو په مفهوم كښې دوه اقوال :-

① اوس دا متيازې په حقيقت كښې هم كيدې شى چه واقعى شيطان راځى او په غوږ كښې ورته متيازې كوى

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الجمعة/ باب إذا نام ولم يصل بال الشيطان فى أذنه (رقم-۱۱۴۴) ومسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها/ باب ما روى فيمن نام الليل أجمع حتى أصبح (رقم) ۲۰۵ - (۷۷۴)

② دا یو تشبیهي کلام دې دکوم نه چه مراد دادې چه شیطان دا سړې ذلیل او خوارولو سره پریږدی هم دغه دَ شیطان متیازې دی رومبي معنی واضحه ده.

[۱۲۲۲] دښځو دپاره د تهجد حکم

۱۲۲۲-(۱)[۳] ① وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً فَزِعًا، يَقُولُ: ③ "سُبْحَانَ اللّٰهِ! مَاذَا أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْخَزَائِنِ؟ ④ وَمَاذَا أُنْزِلَ مِنَ الْفِتَنِ؟ ⑤ مَنْ يُوقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ" - ⑥ يُرِيدُ أَزْوَاجَهُ - "لِكَيْ يُصَلِّينَ؟ ⑦ رُبَّ كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٍ فِي الْآخِرَةِ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① ام المؤمنين بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي ② چې (يو ځل) د شپې رسول الله ﷺ په بيړه (ويرې) سره دې ويلو سره بيدار شو ③ چې سبحان الله نن شپه څومره خزانې راښکته شوې دي ④ او څومره فتنې نازلې شوې ⑤ شته څوک چې د دې حجرو والا راپورته کړي ⑥ د حضور ﷺ مراد بيبيانې مباركې وې چې هغوی راپاڅي او مونځ دې وکړي (چې رحمت الهي حاصل کړي او د عذاب او فتنو څخه بچ شي ځکه) ⑦ چې اکثر ښځې په دنيا کې خوکېږې اغستونکې وي ليکن په آخرت کې به برېنډې (لڅې) وي. (بخاري)

حل اللغات:- ① فَزِعًا: أَيْ: خَائِفًا مُضْطَرِبًا: ويريدونكي، پريشان، ② الْخَزَائِنِ: د خزانة جمع ده، خزانې ته وائي. ③ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ: أَيْ أَزْوَاجَهُ الطَّاهِرَاتِ: يعنى د رسول الله ﷺ بيبيانې مبارک، ④ كَاسِيَةٍ: أَيْ نَفْسٍ لَابِسَةٍ: جامې اغوستونكې، ⑤ عَارِيَةٍ: برېنډې به وي (يعنى محرومه به وي د لباس نه).

تسهيلات:- قوله: عَارِيَةٍ فِي الْآخِرَةِ:

دعارية په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① ډيرې زياتې ښځې په دنيا کښې به لباس اغوستونکې يا ديرى ليکن هغوی دَ آخرت په اعتبارسره برېنډې دی ځکه چه دَهغوی لباس دومره باريك دې چه هغه دَ لباس په حکم کښې نه دې. بهرحال ښځو له پکار دی چه هغوی دَ دنيا دَ فانی ښکلا ګانو پسې لګيدو سره خپل آخرت خراب نه کړی.

② ډيرې زياتې فيشن کونکې ښځې دَ دنيا په عيش اوعشرت کښې قسم قسم لباسونه اغوستونکی وی ليکن په قيامت کښې به دَهغوی حالت داسې وی چه دَ الله تعالى دَ نافرمانۍ دَ وجې نه به هغوی په آخرت کښې دَ نيکو اعمالو او دَ ښه کردار نه خالی وی. دَ برېنډيدو يومطلب خو هم دغه دې چه دَ نيکو اعمالو نه به خالی لاسونه وی.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب التهجد/ باب تحريض النبي صلى الله عليه وسلم على صلاة الليل والنوافل من غير إيجاب (رقم-۱۱۲۶)والترمذي كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ستكون فتن كقطع الليل المظلم (رقم-۲۱۹۶) ومالک في الموطا كتاب اللباس/باب ما يكره للنساء لبسه من الثياب (رقم-۸)

[۱۲۲۳] د رحمت الهی د نزول او د قبولیت دعا وخت

۱۲۲۳-(۱)[۵] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا ۳ حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ، يَقُولُ: ۴ مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ؟ ۵ مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ؟ ۶ مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ زمونږ بزرگ او برتر پروردگار هره شپه د دنیا آسمان (یعني لاندي آسمان) ته رانښکته کیږي (څنګه چې دهغه دشان سره مناسب دي) د شپې د آخري دریمي حصي په وخت کې او فرمايي ۴ څوک شته چې زما څخه دعا وغواړي او زه هغه قبوله کړم؟ ۵ څوک شته چې زما څخه سوال وکړي او زه د هغه سوال (حاجت) پوره کړم ۶ څوک شته چې زما څخه د مغفرت طلبګارشی او زه هغه وبخښم (بخاري، مسلم)

۱ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: ۲ "«ثُمَّ يَبْسُطُ يَدَيْهِ وَيَقُولُ ۳ مَنْ يُقْرِضُ غَيْرَ عَدُومٍ وَلَا ظَلُومٍ؟ ۴ حَتَّى يَنْفَجِرَ الْفَجْرُ»".

ترجمه: ۱ او د مسلم په یو روایت کې دا الفاظ هم دي ۲ چې بیا الله جل شانه (بلاکیف) خپل دواړه لاسونه وغوړوي او فرمايي ۳ چې څوک شته چې داسې چا ته قرض ورکړي چې نه فقیر دي او نه ظلم کونکي دي ۴ او تر سحر پورې دغسې فرمايي.

حل اللغات:- ۱ يَبْسُطُ: أَيْ: لُطْفَهُ وَرَحْمَتَهُ: خوروی (د لاسونو خورولو نه مراد لطف او رحمت دالله تعالى دي). ۲ غَيْرَ عَدُومٍ: یعنی داسې رب ته قرض ورکړئی چه نه فقیر دي اونه عاجز دي ۳ لَا ظَلُومٍ: نه دَ چا په حق باندې ظلم کونکي دي. او نه دَ چا حق کمونکي دي. ۴ يَنْفَجِرَ الْفَجْرُ: أَيْ: يَظْهَرُ الصُّبْحُ: چه صبا راوخیجی.

تسهیلات:-

قوله: يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى:

د نزول الرب په مفهوم کښې دري اقوال:-

۱ داالفاظ دَ متشابهات دَ قبیل نه دی دَدې آسان مفهوم دادي چه "مايليق بشانه" یعنی دَ الله تعالی دَ شان لائق اومناسب چه څنګه راکوزیږی هم په هغه شان سره الله تعالی راکوزیږی. یعنی دَمتقدمینو په نیز دَ دنیا په آسمان دا نزول یوصفت بلاکیف دي. څنګه هم چه وی زمونږ په دې باندې ایمان دي.

۲ دا تاویل هم شوې دي چه دَ الله تعالی رحمت راکوزیږی. بهر حال دا تاویل دي او تاویل

[1] اخرجه مسلم كتاب صلاة/باب الترغيب في الدعاء والذكر في آخر الليل، والإجابة فيه (رقم) ۱۶۸ - (۷۵۸) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في نزول الرب تبارك وتعالى إلى السماء الدنيا كل ليلة (رقم-۴۴۶) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في أي ساعات الليل أفضل (رقم-۱۳۶۶) والدارمي كتاب الصلاة/باب ينزل الله إلى السماء الدنيا

هم تاویل وی. یعنی متأخرینو مضاف مقدر منلې دې او داسې تاویل ئې کړې دې چه "ینزل رحمة ربنا ویقول بواسطة الملك"

③ متحققین علماء دا نزول دَ "تدلی" په معنی کښې اخلی یعنی چه په مخلوق کښې یو خیز دَ الله تعالی دَ رحمت مظهر جوړشي.

قوله: غَيْرَ عَدُوم:

د غیر عدوم مطلب:- مطلب دا شو چه کوم سړې په دنیا کښې څه نیك عمل او ښیګړه کوی نو الله تعالی عادل او غنی دې هغه به په آخرت کښې دغه بنده ته کامل او مکمل اجر او ثواب ورکوی.

[۱۲۲٤] په هره شپه کښې د قبولیت ساعت

۱۲۲۴-(۱)[۶] ⓵ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ⓶ "«إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً، لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ ⓷ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا خَيْرًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ، ⓸ وَذَلِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⓵ حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي ⓶ چې په هره شپه کې یو ساعت داسې راځي چې کوم مسلمان هغه ومومي ⓷ او په هغې کې د الله جل شانه څخه د دنیا یا آخرت د خیر سوال وکړي نو الله تعالی جل جلاله هغه (ضرور) پوره کوي ⓸ او (د قبولیت) دا ساعت په هره شپه کې راځي. (مسلم)

تسهیلات:-

قوله: إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً:

دقبولیت د وخت جهالت:- دا ګهړئی غیر معین ده دې دَپاره چه هرمسلمان دَ پوره شپې قدر اوکړي. "ہر شب شب قدر است اگر قدر دانی" بعض علماؤ دَ نیمې شپې وخت دَ دعا دَ قبلیدو وخت خودلې دې رومبې وجه زیاته بهتر ده چه ساعة الجمعة او لیلة القدر په شان دا ګهړئی او ساعت هم پټ ساتلې شوې دې.

[۱۲۲۵] د حضرت داؤد علیه السلام مونځ او روژې

۱۲۲۵-(۲)[۷] ⓵ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ⓶ «أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ صَلَاةُ دَاوُدَ، ⓷ وَأَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ: ⓸ كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَيَقُومُ ثُلُثَهُ، ⓹ وَيَنَامُ سُدُسَهُ، ⓺ وَيَصُومُ يَوْمًا، وَيُفْطِرُ يَوْمًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه مسلم کتاب صلاة/باب فی اللیل ساعة مستجاب فیها الدعاء(رقم) ۱۶۶ - (۷۵۷)

[۲] اخرجه البخاری کتاب الجمعة/باب من نام عند السحر (رقم-۱۱۳۱) والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/باب ذکر صلاة نبی الله داود علیه السلام باللیل (رقم-۱۶۳۰)وابن ماجة کتاب الصیام/باب ما جاء فی صیام داود علیه السلام (رقم-۱۷۱۲)

ترجمه:۱ عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل۲ الله تعالى ته په ټولو لمونځونو کې د حضرت داؤد عليه السلام مونځ زيات خوښ دي ۳ او په ټولو روژو کې د حضرت داؤد عليه السلام روژه زياته خوښه وه۴ (د هغه د لمانځه به دا کيفيت وو چې) هغه به نيمه شپه اوده کيدلو او دريمه برخه د شپې به يې قيام کولو (يعني مونځ به يې کولو) ۵ بيا به د شپې په شپږمه حصه کې اوده کيدو ۶ او هغه به (روژه داسې نيوله چې) يوه ورځ به يې روژه کوله او يوه ورځ به يې افطار کولو. (بخاري،مسلم)

تسهيلات:-

قوله: أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللّٰهِ:

د حضرت داؤد عليه السلام د روژې او مونځ معمول:- يعنى دَ حضرت داؤد عليه السلام مونځ او روژې دَالله تعالى په نيز دَمحبوب ترين اعمالو نه وې. په دې وجه هر مسلمان دې هم دغه طريقه خپله کړی هغه آسانه طريقه دا وه چه هغوی به يوه ورځ روژه ساتله او يوه ورځ به ئې کوژه کوله. او په مونځ کښې دا طريقه وه چه دَ نيمې شپې پورې به اوده کيدلو او بيا به ئې دَ دريمې حصې پور مونځ کولو او بيا به په آخرى شپږمه حصه کښې اوده کيدلو. دغه شان به بدنى تکليف کم وو او عبادت به زيات وو.

[۱۲۲٦] د شپې په عبادت کښې د نبی عليه السلام معمول (طريقه)

١٢٢٦-()[٨]١ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ٢«كَانَ - تَعْنِي رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ، وَيُحْيِي آخِرَهُ، ٣ثُمَّ إِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى أَهْلِهِ قَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ يَنَامُ، ٤فَإِنْ كَانَ عِنْدَ النِّدَاءِ الْأَوَّلِ جُنُبًا، ٥وَثَبَ فَأَفَاضَ عَلَيْهِ الْمَاءَ، ٦وَإِنْ لَمْ يَكُنْ جُنُبًا تَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:۱ ام المؤمنين بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي۲ چې حضور ﷺ به شپه داسې تيروله چې د شپې په ابتدايي حصه کې به اوده وو او د شپې په آخري حصه کې به يې شوګيره کوله (يعني بيدار به وو او عبادت به يې کولو)۳ بيا که حضور ﷺ ته به د خپلې بي بي سره (د هم بسترې) ضرورت وو، نو خپل ضرورت به يې پوره کړو او اوده به شو۴ بيا که حضور ﷺ به د سحر (د اولنې) اذان په وخت د ناپاکې په حالت کې وو۵ نو ولاړ به شو غسل به يې کړو ۶ او که د ناپاکې په حالت کې به نه وو نو د لمانځه د پاره به يې اودس کړو بيا به يې د سحر دوه رکعاته سنت کول. (بخاري،مسلم)

حل اللغات:- ① يُحْيِي آخِرَهُ: شپې رونړولو ته شپه ژوندی کول ونيلی شوی دی. ② حَاجَةٌ: دې نه

[١] اخرجه البخاری کتاب الجمعة/باب من نام أول الليل وأحيا آخره (رقم-١١٤٦) ومسلم کتاب صلاة/باب صلاة الليل، وعدد رکعات النبی صلى الله عليه وسلم فی الليل، وأن الوتر رکعة، وأن الرکعة صلاة صحيحة(رقم) ١٢٩ - (٧٣٩) والنسائی کتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب الاختلاف على عائشة فی إحياء الليل (رقم-١٦٤٠) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی أي ساعات الليل أفضل (رقم-١٣٦٥)

جماع مراد ده. ③ النِّدَاءِ الْأَوَّلِ: د نداء اول نه مراد اذان دې او د نداء ثاني نه مراد اقامت دې. ④ وَثَبَ: أي: قَامَ بِسُرْعَةٍ: وثب اصل کښې توپ وهلو ته وائي دلته د غسل د پاره په تادئي سره پاسيدل مراد دی. ⑤ فَأَفَاضَ: أي: اغْتَسَلَ: اوبه رارولو نه مراد غسل کول دی.

تسهیلات:-

نوټ: د ترجمې ښخه مطلب واضح دې.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۲۲۷] د تهجدو د مانځه کولو تاکید او فضیلت

۱۲۲۷-(۱)[۹] [۱] عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ، [۳] فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ، [۴] وَهُوَ قُرْبَةٌ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ، [۵] وَمَكْفَرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ، [۶] وَمَنْهَاةٌ عَنِ الْإِثْمِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ

ترجمه: [۱] ابو امامه رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] قيام ليل (يعني د تهجد مونځ کول) ضروري وګڼئ [۳] ځکه چې (اول خو) دا طريقه ستاسو ښخه د مخکې نيکانو خلقو ده [۴] بيا دا چې قيام ليل ستاسو د پاره د پروردګار د نزديکت ذريعه ده [۵] او د ګناهونو د لرې کيدو سبب دې [۶] او دا تاسو لره د ګناهونو ښخه منع کونکې دې. (ترمذي)

حل اللغات:- ① دَأْبُ الصَّالِحِينَ: أي: عَادَتُهُمْ: دأب طريقې او عادت ته وائي يعنې د نيکانو خلقو طريقه ده. ② مَكْفَرَةٌ: أي: سَاتِرَةٌ لِلذُّنُوبِ وَمَاحِيَةٌ لِلْعُيُوبِ: د ګناهونو ختمونکې او لرې کونکې، ③ مَنْهَاةٌ: منع کونکې.

تسهیلات:-

قوله: فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ:

د نيکو خلقو نښه:- د دې نه مراد د سابقه نبيانو او اولياء کرامو طريقه چې هغوی به د شپې تهجد کولو. نوځکه نبی عليه السلام خپل امت ته ئې ترغيب ورکوی چې تاسولره پکار دی چې په طريق اولی داسې عادت خپل کړئ.

[۱۲۲۸] د تهجد د مانځه کونکو خوش بختي

۱۲۲۸-(۲)[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «ثَلَاثَةٌ يَضْحَكُ اللهُ إِلَيْهِمْ: [۳] الرَّجُلُ إِذَا قَامَ بِاللَّيْلِ يُصَلِّي، [۴] وَالْقَوْمُ إِذَا صَفُّوا فِي الصَّلَاةِ، [۵] وَالْقَوْمُ إِذَا صَفُّوا فِي قِتَالِ الْعَدُوِّ» ". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

[1] اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۵٤۹)
[2] اخرجه ابن ماجة فی باب فیما أنكرت الجهمية (رقم-۲۰۰)

ترجمه:۱ ابو سعيد خدري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل۲ دري قسمه خلق داسې دي چې د هغوئ طرف ته (کتلو سره) الله تعالى جل جلاله خاندي (يعني د هغوئ څخه بې حده خوشحاله ليږي او د هغوئ طرف ته د خپل رحمت او عنايت نظر کوي)۳ ① يو هغه سړي چې د شپې د تهجد د لمانځه د پاره ودريږي۴ ② دويم هغه خلق چې د لمانځه کولو د پاره خپل صفونه درست کوي۵ ③ دريم هغه خلق چې د دښمنانو سره د جنګ کولو د پاره (يعني د جهاد په وخت) صف بندي کوي. (شرح السنه)

حل اللغات:- ① يَضْحَكُ اللهُ: أَيْ: يَرْضَى عَنْهُمْ: الله تعالى جل جلاله خاندي (يعني د هغوئ څخه بې حده خوشحاليږي او د هغوئ طرف ته د خپل رحمت او عنايت نظر لري).

تسهيلات:-

قوله: ثَلَاثَةٌ يَضْحَكُ اللهُ إِلَيْهِمْ:

د ثلاثة مصداق:- امام طيبي رحمة الله عليه فرمائي چې ددې نه درې کسان مراد دي.

① هغه کس کوم چې د شپې قيام کوي، ددې څخه معلومه شوه چې تهجد خانله او فرائض په جمعي سره کول پکار دي.

② هغه کس کوم چې په مونځ کښې صفونه جوړوي او ددې اهتمام کوي.

③ هغه قوم کوم چې جهاد او قتال دپاره صف بندي کوي.

[۱۲۲۹] په آخري شپې کښې د ذکر فضيلت

۱۲۲۹-(۱)[۱۱]۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:۲ "«أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ الْعَبْدِ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الْآخِرِ،۳ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ، فَكُنْ» ".۴ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه:۱ عمرو بن عبسه رضي الله عنه راوي دي چې حضور ﷺ وفرمايل۲ پروردګار خپل بنده ته د ټولو څخه زيات نزدې د شپې په آخري حصه کې وي۳ که تاسو هم په دې وخت کې د الله تعالى جل جلاله په ذکر کونکو کې کيدې شئ نو ضرور شئ [يعني د دې خبرې کوشش کوئ چې تاسو هم په هغه خوش نصيبه مسلمانانو کې شمير شئ چې په دې وخت کې د خپل پروردګار په ذکر کې مشغول وي او د سعادت او خوش بختي خزانې په خپله لمن کې راغونډولو سره د پروردګار رضا حاصلوي]۴ امام ترمذي دا روايت نقل کړي دي او وېلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دي او د سند د وجهې غريب دي.

حل اللغات:- ① جَوْفِ اللَّيْلِ الْآخِرِ: دشپې آخرى حصه، ② اسْتَطَعْتَ: أَيْ: قَدَرْتَ وَوُفِّقْتَ: چه ستا وس او طاقت وى. ③ فَكُنْ: أَيْ: اجْتَهِدْ: يعنى کوشش اوکړه چه ته هم دهغوى نه شې.

[1] اخرجه الترمذي في كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۵۷۹)

تسهیلات:-

قوله: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ:

دعمروبن عبسه د اسلام قبلولو واقعه:- حضرت عمرو بن عبسه رضی الله عنه هغه شخصیت دي چا چې په څلورم نمبر اسلام قبول کړي وو.دهغوئ د اسلام قبلولو واقعه مشهوره ده.هرکله چې دي په شرك او كفر كښې تنگ شو نو دوئ ته معلومه شوه چې په په مکه معظمه کښې یو کس د نبوت دعوی کړي ده .حضرت عبسه رضی الله عنه کور نه رااوتلو او مکې ته راغلو.هلته ئې خلقو نه تپوسونه اوکړل چې نبی کریم ﷺ په کوم ځائې کښې وی.خلقو ورته اووئیل چې نبی کریم ﷺ په حرم کښې وی.عمرو بن عبسه رضی الله عنه د شپې حرم ته راغلو او تیاره کښې ئې نبی کریم ﷺ اولیدو، د نبی کریم ﷺ نورانی مخ مبارك ئې اولیدو ،كله چې دوئ تیارې نه رابهر شو نو نبی کریم ﷺ نه ئې تپوس اوکړو چې ته څوك ئې او دین څه څیز دي؟ نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چې زه د الله تعالی نبی یم او زما دین اسلام دي.دي ډیر خوشحاله شو او اسلام کښې داخل شو.

قوله: أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ الْعَبْدِ:

د تعارض اشکال:- ددې ماقبل حدیث نه معلومیږی چې سجدې سره دالله تعالی قرب حاصلیږی.او دې حدیث پاك نه معلومیږی چې د شپې په آخری حصه کښې دالله تعالی قرب حاصلیږی؟

د اشکال جواب:- دې حدیث کښې قربت اوقات مراددی اود سجدې څخه قربت احوال مراد دی.لهذا کله چې یو کس د شپې په آخری حصه کښې سجده کوی نو هغه ته به د وخت تقرب هم حاصل شی او د حال تقرب هم.نو په دې کښې هیڅ تعارض نشته

[۱۲۳۰] ښځه او خاوند دواړه دې په عبادت کښې د یو بل مدد کوي

۱۲۳۰-()[۱۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى، [۳] وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّتْ، [۴] فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ. [۵] رَحِمَ اللّٰهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ [۶] وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَصَلَّى، [۷] فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] الله تعالی جل جلاله دې په هغه سړي خپل رحمت نازل کړي چې د شپې خپله هم (د تهجد) مونځ وکړي [۳] او خپله بي بي هم بیداره کړي چې هغه هم مونځ وکړي [۴] او که بي بي (د خوب د غلبې او سستې په

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة/کتاب الصلاة،باب الحث على قيام الليل (رقم-۱۴۵۰) والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/باب الترغيب فى قيام الليل (رقم-۱۶۱۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فيمن أيقظ أهله من الليل (رقم-۱۳۳۶)

وجه) بيداره نشي (نو د هغې د خوب د ختمولو د پاره) د هغې په مخ د اوبو څاڅکي وکړي ⑤او الله تعالی ﷻ دي په هغه ښځه خپل رحمت نازل کړي چې د شپې پاڅي خپله هم د تهجد مونځ وکړي ⑥او خپل خاوند هم پاڅوي چې هغه هم مونځ وکړي ⑦او که خاوند (د خوب د غلبې او سستي په وجه) بيدار نشي نو د هغه په مخ د اوبو څاڅکي وکړي (چې راپاڅي او د تهجد مونځ وکړي). (ابوداؤد،نسايي)

حل اللغات:- ① أَيْقَظَ: بيداره کړي، ② أَبَتْ: أَي: امْتَنَعَتْ: انکار اوکړی (دخوب د غلبې په وجه يا د سستۍ په وجه). ③نَضَحَ: أَيْ:رَشَّ: اودې شيندي، چړکاؤ دې کړی.

تسهيلات:-

قوله: نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ:

يوبل ته د عبادت عملی دعوت ورکول:- دَ څاڅکو اچولو په معنی کښې دې يعنی څنګه چه ښځه اوخاوند دَ ژوند په نورو شعبو کښې دَ يوبل وفادار او خيرخوا جوړيدوسره امدادکوی هغوی له پکاردی چه هغوی دې دَالله تعالی په عباداتوکښې هم دَ يوبل امداداوکړی اودَ خوب نه دَ پاسولوهرممکن کوشش اوکړی. دا تعليم دَ مدارسو دَ طلباء دَپاره هم فائده مند او کارآمددې بل په مختلفو سفرونوکښې چه کوم ملګری وی دَهغوی دَپاره هم ډير مفيدتعليم دې.

[۱۲۳۱] د دعا د قبليدو وخت

۱۲۳۱—()[۱۳] ①وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ؟ ③قَالَ: " جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرِ، ④وَدُبُرُ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:① ابو امامه رضی الله عنه فرمايي② چې (يو ځل) د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه چې يا رسول الله ﷺ کوم وخت دعا ډيره زياته قبليږي؟③ حضور ﷺ ورته وفرمايل د شپې د آخري حصې په مينځ کې④ او د فرض لمونځونو څخه وروسته. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَسْمَعُ: أَيْ: أَقْرَبُ إِلَى أَنْ يَسْمَعَهُ اللَّهُ: ډيره زياته اوريدونکې (يعنی چه دقبوليت اميد ئې زيات وی)، ② دُبُرَ: أَيْ: عَقِبَهَا وَخَلْفَهَا: يعنی روستو (دمونځونو نه).

تسهيلات:-

قوله: قَالَ: " جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرِ:

ددعا د قبليدو دوه وختونه:- ددعا د قبليدو ئې دوه وختونه ذکر کړل.د شپې په آخری شپه کښې دعا قبليږی.او فرض مونځ نه پس دعا قبليږی.ليکن دشرائطو خيال ساتل پکار دی او دعا بدعت جوړل نه دی پکار.بلکه دعا مسنون طريقې سره کول پکار دی.

() اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم- ۳۴۹۹)

[۱۲۳۲] داعمال صالحه كونكو د پاره زيرى

۱۲۳۲—(١)[۱۴] ١ وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ رضى الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا ٣ يُرَى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا ٤ وَبَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا ٥ أَعَدَّهَا اللَّهُ لِمَنْ أَلَانَ الْكَلَامَ، ٦ وَأَطْعَمَ الطَّعَامَ، ٧ وَتَابَعَ الصِّيَامَ، ٨ وَصَلَّى بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ١ ابو مالك اشعري رضي الله عنه روايت كوي چه حضور ﷺ وفرمايل ٢ په جنت كې داسې بالاخاني دي ٣ چې د هغې د بهر ځيزونه دننه ښكاري ٤ او د دننه ځيزونه د بهر څخه ښكاره كيږي ٥ او دا بالاخاني الله تعالى جل جلاله د هغه خلقو د پاره تياري كړي دي چې د خلقو سره په نرمي سره خبري كوي ٦ (په غريبو) خلقو باندې طعام خوروي ٧ پرله پسې نفل روژې نيسي ٨ او د شپې په داسې وخت (د تهجد) مونځ كوي چې اكثر خلق اوده وي، دا روايت بيهقي په شعب الايمان كې نقل كړي دي

حل اللغات:- ① غُرَفًا: أَيْ عَلَالِيّ: بالاخاني، ② أَلَانَ: أَيْ: أَطَابَ: دَنرمولو په معنى كښې دې مراد ترې په ښه اخلاقو سره پيش كيدل دي، او خوږې پستې پستې خبرې كول دي. ③ تَابَعَ الصِّيَامَ: أَيْ: أَكْثَرَمِنْهُ: پرله پسې يعنى ډيرې روژې نيسي.

تسهيلات:- قوله: لِمَنْ أَلَانَ الْكَلَامَ:

دڅلورو اعمالو سره په جنت كښې محل جوړيدل:-

① يعنى نرمې خبرې اترې دې كوى،
② غريبانانو باندې دې خوراك كوى،
③ مسلسل دې روژې ساتى
④ دَخلقو دَ اوده كيدو په وخت دې دَ شپې تهجد كوى

يعنى داسې اخلاق ساتونكو ته به داسې قسم جنت ملاويږى. په دې حديث كښې دَ نيكو اعمالو په ښه كول شوى دى.

[۱۲۳۳] په بل روايت كې د الفاظو اختلاف

۱۲۳۳—(٢)[٥] ١ وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهُ، ٢ وَفِي رِوَايَتِهِ: "«لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ»".

ترجمه: ١ او ترمذي هم دغسې روايت د حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل كړي دي ٢ خو د هغه په روايت كې د (لمن الان الكلام) په ځاي د (لمن اطاب الكلام) الفاظ دي (او د دوارو معنى يوه ده).

حل اللغات:- ① أَطَابَ الْكَلَامَ: دَ اطاب او الان يو معنى ده، دا هم د نرمولو په معنى كښې دې مراد ترې په ښه اخلاقو سره پيش كيدل دي، او خوږې پستې پستې خبرې كول دي.

نوټ:- د ترجمې څخه د حديث مطلب واضح دي.

(١) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٣٨٩٢ واحمد فى المسند رقم الحديث ٥/ ٣٤٢

(٢) اخرجه الترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى قول المعروف (رقم-١٩٨٤)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۲۲٤] د تهجد د مانځه د پرېښودلو ممانعت

۱۲۲۴—(۱)[۱۵][۱] عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] «قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَبْدَ اللّٰهِ لَا تَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ، [۳] كَانَ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنهما فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ (يو ورځ) ماته وفرمايل (چې ګوره) عبدالله د فلاني سړي په شان مه جوړېږه [۳] چې د شپې به يې قيام کولو (يعني د تهجد مونځ به يې کولو) بيا وروسته يې د شپې قيام پرېښودو. (بخاري، مسلم)

تسهيلات:-

دنفلي عبادت شروع کولو څخه روسته د هغې د پرېښودلو حکم:- دَصحابه کرامو په دورکښې به څوك سړې وی چه اول تهجد ګذاروو بيا هغه تهجد پرېخودل. په دې باندې حضورپاك ﷺ حضرت عمر بن العاص رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه ته دَ دغه سړی په شان مه جوړېږه چه اول به ئی تهجد کول په جنت کښې اوچتې درجې ګټلې ليکن بيا هغه تهجد پرېخودل او دَ اوچتوالی نه راغلو راپرېوتلو ته داسې مه کوه.

[۱۲۲۵] د حضرت داؤد عليه السلام خپل اهل د تهجد دپاره راپېدارول

۱۲۲۵—(۲)[۱۶][۱] وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] "«كَانَ لِدَاوُدَ -عَلَيْهِ السَّلَامُ- مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ يُوقِظُ فِيهَا أَهْلَهُ [۳] يَقُولُ: يَا آلَ دَاوُدَ قُومُوا فَصَلُّوا، [۴] فَإِنَّ هَذِهِ سَاعَةٌ يَسْتَجِيبُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيهَا الدُّعَاءَ [۵] إِلَّا لِسَاحِرٍ أَوْ عَشَّارٍ»": رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [۲] چې د حضرت داؤد عليه السلام د پاره د شپې په آخري حصه کې يو وخت مقرر وو چې په هغې کې به يې خپل کور والا ويښول [۳] او فرمايل به يې اي ال داؤد پاڅئ او مونځ وکړئ [۴] څکه چې دا داسې وخت دي چې په دې کې الله بزرګ وبرتر دعا قبلوي [۵] سوا د جادوګر او عشار د دعا څخه (يعني د دې دواړو دعا دا وخت هم نه قبليږي). (احمد)

حل اللغات:- ① سَاحِرٍ: جادوګر (چه دا د الله تعالی مخالفت کوی). ② عَشَّارٍ: أَيْ: آخِذِ الْعُشْرِ وَهُوَ الْمَكَّاسُ: عُشر او محصول (ټيکس، چونګی) وصولونکې.

تسهيلات:- قوله: إِلَّا لِسَاحِرٍ:

---

(۱) اخرجه البخاری کتاب الجمعة/باب ما يكره من ترک قيام الليل لمن كان يقومه (رقم-۱۱۵۲) والنسائی کتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب ذم من ترک قيام الليل (رقم-۱۷۶۳) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی قيام الليل (رقم-۱۳۳۱)

(۲) اخرجه احمد فی المسند ۲۲/٤

د جادوګر د دعا نه قبلیدل:-

ساحر جادوګر ته وائي داهم ډیر بدبخت دې لهذا دې هم دَدې قابل نه دې چه دَ ده مغفرت اوشي بلکه په دغه میاشت دَ رمضان او دَ دعا دَ قبلیدو په مبارك ساعت کښې هغه دَخپل ځان دَپاره ښه دعاګانې اوغوښتلې مګر هغه قبولې نه دی بلکه مردود شوې.

قوله: عَشَّارٍ:

دعشار څخه مراد:-دوی په ناجائز طریقه سره خلق تنګه وی اوتکلیفوررسوی او په ظلم سره دَهغوی نه مال اخلی. "عشار" چونکه په عمومی توګه باندې دَ عشر په حصول باندې مقرر وی چه دَ مال لسمه حصه وی په دې وجه هغه ته عشار اووئیلې شو. سره دَدې چه هغه عشر نه اخلی بلکه که دَ دې نه کم یا زیات هم اخلی.

[۱۲۳۶] د تهجد د مانځه فضیلت

۱۲۳۶-()[۱۷]① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② "«أَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَفْرُوضَةِ صَلَاةٌ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه:① ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې ما د نبي کریم ﷺ څخه اوریدلي دي② چې د فرض لمونځونو څخه وروسته د ټولو څخه افضل مونځ د شپې (یعني د تهجد) مونځ دي. (احمد)

تسهیلات:-

قوله: أَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَفْرُوضَةِ:

د سنن رواتب اوتهجدو په افضیلت کښې دوه اقوال:-

① دَ بعض علماؤ خیال دې چه سنن رواتب نه تهجد غوره دی

② دبعضو خیال دې چه سنن رواتب غوره دی.

شیخ جنید بغدادی او د تهجدو فضیلت:-دَ حضرت جنید بغدادی رحمه الله نه چا دَ هغه دَ وفات نه پس په خوب کښې پوښتنه اوکړه چه پروردګار درسره څه معامله اوکړه؟ هغه جواب ورکړو "طاحت العبادات وفنیت الاشارات ومانفعنا الا رکعات صلیتها فی جوب اللیل" یعنی ټول عبادات بې ځایه لاړل اودَ تصوف ټولې اشارې بې فائدې شوې ماته صرف هغه یوڅو رکعاتو فائده راؤرسوله چه ما دَ شپې په مینځ کښې کړې وو.

[۱۲۳۷] تهجد دګناهونو څخه منع کونکي

۱۲۳۷-()[۱۸]① وَعَنْهُ، قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ② إِنَّ فُلَانًا يُصَلِّي اللَّيْلَ، فَإِذَا أَصْبَحَ سَرَقَ، ③ فَقَالَ: "إِنَّهُ سَيَنْهَاهُ مَا تَقُولُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ. وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

[1]) اخرجه مسلم کتاب الصیام/باب فضل صوم المحرم (رقم-۲۰۲ - (۱۱۶۳) وابوداود کتاب الصوم/باب فی صوم المحرم (رقم-۲۴۲۹)

[2]) اخرجه احمد فی المسند ۴۴۷/۲ والبیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۳۲۶۱

ترجمه:[۱] ابوهریره رضی الله عنه فرمایي چې یو سړي د حضور ﷺ په خدمت کې حاضرشو او عرض یې وکړو[۲] چې (یا رسول الله ﷺ) فلاني سړي د شپې مونځ کوي خو سحر چې راپاځي نو غلا کوي [۳] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ډیر نزدې به د هغه مونځ هغه د دې شي څخه منع کړي کوم چې ته وایې. (احمد ،بیهقي)

حل اللغات:- ① سَرَقَ: غلا کوی، ② سَيَنْهَاهُ: زر ده چه منع به ئې کړی دا مونځ ددغه غلا نه.

تسهیلات:-

د فواحشو څخه منع کول:- دَ مانځه خاصیت دادې چه انسان دَ بې حیایئی او بدئی نه منع کوی. هسې هم چه ترکومې انسان په مانځه کښې ولاړوی اوغلط حرکتونه نه کوی نودَ مونځ په حالت کښې چه داسړې ترکومې په مانځه کښې دې دَهرقسم بدئی نه په امن او محفوظ دې.

[۱۲۳۸] دخپل کور والا دتهجدو دپاره راپیدارول

۱۲۳۸—()[۱۹][۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲]«إِذَا أَيْقَظَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ مِنَ اللَّيْلِ، [۳] فَصَلَّيَا أَوْ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ جَمِيعًا، [۴] كُتِبَا فِي الذَّاكِرِينَ وَالذَّاكِرَاتِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:[۱] ابو سعید خدري او ابوهریره رضی الله عنهما (دواړه) روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل[۲] که یو سړي د شپې خپله بي بي ویښه کړي [۳] او هغه دواړه مونځ وکړي یا دا یې وفرمایل چې که په هغوئ کې هر یو دوه رکعاته وکړي [۴] نو هغه دواړه د ذکر کونکو سړو او ذکر کونکو ښځو په ډله کې لیکل کیږي. (ابوداؤد ،ابن ماجه)

تسهیلات:- قوله: إِذَا أَيْقَظَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ:

داهل په مصداق کښې دوه اقوال:-

① د اهل لفظ څخه مراد صرف بی بی یعنی ښځه اخستې شی.

② ددې نه ښځه، اولاد ،غلام او وینځې هم اخستې شی.

دحدیث مقصد:- مطلب دادې چې کوم کس دشپې پخپله هم تهجدو دپاره پاسی او د الله تعالی ذکر کښې مشغول وی او خپله بی بی او د کور نور خلق هم راپیداروی او دالله تعالی په عبادت کښې مشغول وی ،نو ددې ټولو شمیر به هغه نیکو او نیك بختور سړو او ښځو کښې کیږی د کومو فضیلت چې د قرآن پاک دې آیت ((وَالذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّالذّٰكِرٰتِ ۙ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّاَجْرًا عَظِيْمًا ۝)) کښې بیان شوې دې.

[۱] اخرجه ابوداود کتاب الصلاة،باب قیام اللیل (رقم-۱۳۰۹) وابن ماجه کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فیمن أیقظ أهله من اللیل (رقم-۱۳۳۵)

[۱۲۳۹] د حاملین قرآن او تهجد ګذارو فضیلت

۱۲۳۹–(۱)[۲۰] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «أَشْرَافُ أُمَّتِي حَمَلَةُ الْقُرْآنِ، ۳ وَأَصْحَابُ اللَّيْلِ» " رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ۱ ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ زما د امت اشراف یعنی د اوچتې مرتبې والا خلق قرآن اوچتونکي (یعني د قرآن حافظان دي ۳ او په شپه کې ودریدونکي (تهجد کونکي) دسي. (بیهقي)

حل اللغات:- ① أَشْرَافُ: عزت او شرافت والا خلق. ② حَمَلَةُ الْقُرْآنِ: أي مَنْ حَفِظَهُ وَعَمِلَ بِمُقْتَضَاهُ: چه قرآن یاد کړی او عمل پرې اوکړی. ③ أَصْحَابُ اللَّيْلِ: أي: أَصْحَابُ الْعِبَادَةِ: څوک چه دشپې عبادت کوی.

تسهیلات:- قوله: حَمَلَةُ الْقُرْآنِ:

د حملة القرآن مصداق:- یعنی قرآن پاك په یادو باندې لوستونکی یا په ناظره سره لوستونکی او حفظ تجوید تفسیر او ترتیب قائم کونکی ټول دَ حملة القرآن په مصداق کښې داخل دی. علماء چه په خپل علم باندې عمل کونکی وی هغوی دَدې حدیث واضح مصداق دی.

[۱۲۴۰] د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د شپې د عبادت معمول

۱۲۴۰–(۲)[۲۱] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا: ۲ أَنَّ أَبَاهُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللّٰهُ، ۳ حَتَّى إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ أَيْقَظَ أَهْلَهُ لِلصَّلَاةِ، ۴ يَقُولُ لَهُمْ: الصَّلَاةَ، ثُمَّ يَتْلُو هَذِهِ الْآيَةَ: ۵ ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۶ لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَى﴾ [طه: ۱۳۲] رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ۱ د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا څخه روایت دي ۲ چې د هغه پلار بزرګوار حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د شپې چې به څومره الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ غوښتل مونځ به یې کولو ۳ او شپه چې به آخره شوه نو خپله بي بي محترمه به یې د لمانځه کولو د پاره پاخوله ۴ او فرمایل به یې چې مونځ وکړئ بیا به یې دا آیت وئیلو: ۵ وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَى (او اي محمد ﷺ خپلو متعلقینو ته هم د لمانځه کولو حکم ورکوه او خپله هم (د دې په مشقتونو) صبر کوه ۶ مونږ تا څخه رزق نه غواړو رزق خو مونږ تا ته درکوو او د آخرت خیر خو د پرهیزګارو د پاره دي. (مالك)

حل اللغات:- ① وَاصْطَبِرْ: اوصبر کوه (په مشقتونو د مونځ باندې). ② الْعَاقِبَةُ: ښه انجام او نتیجه (په دنیا او آخرت کښې). ③ لِلتَّقْوَى: أي: لِأَرْبَابِ التُّقَى: پرهیزګاره خلق (علم او عمل لرونکی او اخلاص کونکی خلق).

تسهیلات:-

نوټ:- ددې حدیث تسهیل په بل ځائې کښې تفصیل سره ذکر دي.

---

(۱) البیهقی فی شعب الإیمان باب تحسین الصلاة والإکثار منها (۴/ ۵۴۰)-

(۲) اخرجه مالک فی الموطا کتاب صلاة اللیل باب ما جاء فی صلاة اللیل (رقم-۵)

[۳۴/۵۰]بَابُ الْقَصْدِ فِي الْعَمَلِ

په اعمالو کښې د میانه روئ بیان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على تسع مسائل:

① اقتصاد عمل النبي ﷺ: ۱۔
② كون أحب الأعمال إلى الله القليل الدائم: ۲۔
③ العمل حسب الطاقة : ۳، ۴، ۶، ۸۔
④ كراهيم الصلاة وقت النعاس: ۵۔
⑤ قضاء ورد الليل: ۷۔
⑥التفاوت في الأجر بحسب تفاوت العمل: ۹، ۱۲۔
⑦ فضيلة النوم على الوضوء: ۱۰۔
⑧ فضيلة العمل عند الخوف والرجاء: ۱۱۔
⑨ كون الصلوة راحة للنبي صلى الله عليه وسلم : ۱۳۔

د قصد لغوی معنی:- شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکلی دی چه "القصد" په اصل کښې په لار نیغ تللوته وائی لکه چه [اشعة المعات: ۲/۵۶۳] ﴿وَعَلَى اللهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ﴾ [نحل: الایه: ۹]

د قصد استعمال:- بیا دا لفظ په ټولو امورو کښې دَ میانه روئی اختیارولو په معنی کښې استعمال کړې شو. هم په دې معنی کښې دا حدیث دې "القصد" یعنی په ټولو امورو کښې میانه روی اختیارکړئی که هغه قول وی که فعل وی او په هره معامله کښې دَافراط اوتفریط نه بچ شئ.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۲٤۱] د نبی علیه السلام په ټولو کارونو کښې میانه روی

۱۲٤۱-(۱)[۱] ① عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ②«كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُفْطِرُ مِنَ الشَّهْرِ③ حَتَّى يُظَنَّ أَنْ لَا يَصُومَ مِنْهُ،④ وَيَصُومُ حَتَّى يُظَنَّ أَنْ لَا يُفْطِرَ مِنْهُ شَيْئًا،⑤ وَكَانَ لَا تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلَّا رَأَيْتَهُ،⑥ وَلَا نَائِمًا إِلَّا رَأَيْتَهُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

۱) اخرجه البخاري كتاب الجمعة/باب قيام النبي صلى الله عليه وسلم بالليل من نومه، وما نسخ من قيام الليل(رقم-۱۱٤۱)

ترجمه: [۱] حضرت انس رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د مياشتې په اكثرو ورځو كې (نفل) روژې نه نيولې [۳] تر دې چې مونږ به گمان كولو چې حضور ﷺ به دې مياشته كښې روژې نه نيسي [۴] او حضور ﷺ به (هم ددې يا د دويمې مياشتې په اكثر ورځو كې) روژه نيوله تر دې چې مونږ به گمان كولو چې اوس به (ددې مياشتې) هيڅ ورځ هم بغير روژه حضور ﷺ نه پريږدي [۵] او كه تا د حضور ﷺ د شپې په لمانځه كولو ليدل غوښتې نو په لمانځه كولو به دې هم ليدې [۶] او كه حضور ﷺ دې د شپې په خوب كولو باندې ليدل غوښتې نو په خوب كولو به دې هم ليدلې. (بخاري)

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث تشريح په بل ځائې كښې تيره شوې ده.

[۱۲۴۲] په عمل د مداومت فضيلت

۱۲۴۲-()[۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهَا وَإِنْ قَلَّ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] (د بنده گانو په نيك اعمالو كې) د الله جل جلاله په نيز د ټولو نه محبوب عمل هغه دې چې هميشه كول كيږي اگر كه لږ وي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① أَدْوَمُهَا: چه هميشه وي دغه عمل، ② إِنْ قَلَّ: اگركه دا عمل لږ وي.

تسهيلات:- **قوله:** أَدْوَمُهَا:

په عمل د مدوامت فوائد:-

① دَاعمالو په دفاترو كښې دَ دې سړي دَ دغه عمل دَ وجې نه حاضرى لگى.

② عبادت دَ انسان داسې عادت جوړيږى دكوم پريخودل چه په طبعى توگه ناخوښه وى.

③ دَ فرښتو مجلس كښې چه كله دا عمل ځى هغه مقامات په دې عمل باندې گواه جوړيږى.

قوله: وَإِنْ قَلَّ:

د مداومت علي العمل مثال:- مطلب دا چه سړه دَدې چه هغه عمل لږ شان وى مگر په دوام سره دَهغې مقام اوچت شو اودَ هغې اثرات تر لرې پورې شى. دَدې مثال تاسو په سيلاب او يو څاڅكى سره اوكنړئ. مثلاً يو مضبوط كاڼړې پروت دې په هغې باندې زور دار سيلاب

---

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب القصد والمداومة على العمل (رقم-۶۴۶۲) كتاب صلاة/باب فضيلة العمل الدائم من قيام الليل وغيره (رقم-۲۱۸ - (۷۸۳) والترمذي كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۸۵۶) والنسائي كتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب صلاة القاعد في النافلة، وذكر الاختلاف على أبي إسحق في ذلك (رقم-۱۶۵۵) ومالك في الموطا كتاب قصر الصلاة في السفر، باب جامع الصلاة (رقم-۹۰)

راغلو او لاړو. کله چه او کتلې شو نو هغه کانړ هم هغه شان صحیح سالم پروت وو. خو که هم په دغه مضبوط کانړی باندې په دوام سره د پورته نه یو یو څاڅکي اوبه راڅاڅي نو څه موده پس به په کانړی کښې سورې اوشی. دا د دوام عمل نتیجه ده چه یو څاڅکی هغه څه او کړه چه لوئی سیلاب اونه کړې شو. معلومه شوه چه دائمی عمل ښه اثر او محبوب تر وی.

[۱۲٤۲] د خپل طاقت مطابق عبادت کول

۳۳۳-()[۳] [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«خُذُوا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ، [۳] فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضی الله عنها راویه ده چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] تاسو دومره عمل کوئ څومره چې (همیشه یې) د کولو طاقت لرئ [۳] ځکه چې الله تعالی جل جلاله په ثواب ورکولو کې نه تنګیږي تر څو پورې چې تاسو خپله تنګ نه شئ (یعني په تنګیدو سره عبادت پرې نه ږدئ). (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① خُذُوا: واخلئ یعنی عمل پرې شروع کړئ، ② تُطِيقُونَ: أَيْ: الْمُدَاوَمَةُ عَلَيْهِ: چه تاسو ئې وس او طاقت لرلې شئ یعنی همیشه ئې کولې شئ ③ لَا يَمَلُّ: مَعْنَى الْمَلَالِ مِنَ اللّٰهِ تَرْكُ إِعْطَاءِ الثَّوَابِ: مل یمل دسمع یسمع نه ستومانه کیدو، ستړې کیدو او زړه تنګیدو په معنی کښې دې، د الله تعالی د ستړی کیدو او تنګیدلو مطلب دا دې چه هغه په ثواب ورکولو نه تنګیږی. ④ تَمَلُّوا: أَيْ: تَتْرُكُوا عِبَادَتَهُ: د بندګانو ستړی کیدل او تنګیدل دادی چه په دغه شروع کړی عبادت ستړی شی او پرې ئې ږدی.

تسهیلات:- قوله: لَا يَمَلُّ:

د حدیث مطلب:- د حدیث مطلب دادې چه تاسو د خپل ځان د پاره په نفلی عبادت کښې داسې اندازه سره عمل مقرر کړه څومره چه تاسو پوره کولې شئی. داسې نه وی چه نن خو دې سل رکعته نفل او کړه او صبا دې دوه رکعته هم اونه کړه. کله چه ستړې شې او ستومانه شې او عمل پریږدې نو الله تعالی هم ثواب ورکول بندوی ځکه چه کله عمل نه وی نو ثواب به د کوم ځائی نه راځی.

د حدیث مصداق:- حاصل دا چه الله تعالی ثواب ورکولو کښې تنګی نه کوی، نه الله تعالی ستړې کیږی تاسو به پخپله ستړې شئی لهذا په اندازه د طاقت دومره عمل خپلوئی کوم چه تاسو همیشه سر ته رسولې شئی. یاد لرئی چه دې نه فرائض او واجبات مراد نه دی هغه خو به په هرحال کښې کول وی. دلته د نوافل، مستحبات، وردونه او وظائف مراد دی لکه تهجد، تلاوت، نفلی روژې وغیره وغیره دی.

---

[۱] اخرجه البخاری کتاب الصوم/باب صوم شعبان(رقم-۱۹۷۰) ومسلم کتاب صلاة/باب فضیلة العمل الدائم من قیام اللیل وغیره (رقم-۲۱۵ - (۷۸۲) والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/باب الاختلاف علی عائشة فی إحیاء اللیل (رقم-۱٦٤۲) وابن ماجة کتاب الزهد/باب المداومة علی العمل (رقم-٤۲۳۸)

[۱۲۴۴] بغیر ستوماني د عبادت کول

۱۲۲۴—(۱)[۴] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ، [۳] وَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه راوي چې دي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو ته پكار دي چې تر هغه وخته پورې مونځ كوئ تر څو پورې چې خوش دلي وي [۳] او هر كله چې طبيعت سست شي نو كينئ. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: ① نَشَاطَهُ: أَيْ: وَقْتَ نَشَاطِهِ: چه په تسلئ او د زړه په چستئ سره ني كوئ. ② فَتَرَ: د نصر ينصر نه فتور، سست كيدل او ستړي كيدلو معنى كنبې دې. "نشاط" تيزني، تسلئي او سكون په معنى كنبې دې. ③ فَلْيَقْعُدْ: كيديني، (د كيناستلو نه يا دا مطلب چه نور مونځ دې دغه وخت نه كوي چه لږ دمه شي، يا دا مطلب چه باقي مونځ دې په ناسته اوكړي).

تسهيلات: - **قوله:** وإذا فَتَرَ:

بدن باندې د بوج په وخت كښې د عبادت نه كول: - مطلب دا چه تر كومې پورې نفلي عباداتو كښې زړه لګى، فرحت او تازګى به حاصله وى. تسلي او سكون به ځائې وى نو په عبادت كښې لګيا كيدل پكاردى. خو چه كله په طبيعت كښې ملال او دروندوالې راشي په بدن كښې اضمحال راشي نو نفل عبادت پريخودو سره آرام حاصلول پكاردى دې دپاره چه بل وخت كښې د دغه عبادت دپاره نور تازه او چست شي.

په غير موافق حالت كښې د عبادت نقصانات: -

① په طبيعت باندې به عبادت بوج جوړشي او عبادت بوج ګڼړل جدا ګناه ده.

② كه چرې داسې اونه كړې شو او په سستئ كښې په عبادت كښې لګيا شي نو يو نقصان خو به دا شي چه هغه عبادت به ناقص اداكيږى.

③ راتلونكې وخت كښې به مكمل توګه داسې عبادت پريږدى. لهذا بهتره داده چه دځه وخت دپاره پريخودو سره بيا شروع كړى نه دا چه بالكل ئې پريږدى.

[۱۲۴۵] د پركالې په حالت كښې د مونځ كولو ممانعت

۱۲۲۵—(۲)[۵] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا نَعَسَ

---

(۱) اخرجه البخاري كتاب الجمعة/باب ما يكره من التشديد في العبادة(رقم-۱۱۵۰) ومسلم كتاب صلاة/باب أمر من نعس في صلاته، أو استعجم عليه القرآن، أو الذكر بأن يرقد، أو يقعد حتى يذهب عنه ذلك (رقم) ۲۱۹ - (۷۸۴) وابوداود في كتاب الصلاة،باب النعاس في الصلاة (رقم-۱۳۱۲) والنسائي كتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب الاختلاف على عائشة في إحياء الليل (رقم-۱۶۴۳) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في المصلى إذا نعس (رقم-۱۳۷۱)

(۲) اخرجه مسلم كتاب صلاة/باب أمر من نعس في صلاته، أو استعجم عليه القرآن، أو الذكر بأن يرقد، أو يقعد حتى يذهب عنه ذلك (رقم) ۲۲۲ - (۷۸۶) وابوداود كتاب الصلاة،باب النعاس في الصلاة (رقم-۱۳۱۰) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الصلاة عند النعاس (رقم-۳۵۵)

أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَرْقُدْ ۳ حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ. ۴ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَهُوَ نَاعِسٌ لَا يَدْرِي ۵ لَعَلَّهُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها راويه ده (روايت كوي) چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هركله چې په تاسو كې څوك د لمانځه كولو په حالت كې نيم خوابه شي (يعني د خوب جوته ورته راشي) نو هغه ته پكار دي چې اوده شي ۳ تر دې چې خوب خيني لاړ شي ۴ څكه چې تاسو كې څوك په نيم خوابي كې مونځ كوي نو د خوب په وجه هغه ته دا پته نه لګيږي چې هغه څه وايي ۵ كيدي شي چې هغه د مغفرت طالب وي خو (په نيم خوابي كې) د خپل د نفس د پاره (د هغه د ژبې څخه) بد ده دعا وځي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① نَعَسَ: أَوَّلُ النَّوْمِ وَمُقَدِّمَتُهُ: دخوب جوتې، پركالى، د نصر ينصر او فتح يفتح نه دَ خوب ورتلو يه معنې كښې راځي. اسم فاعل "ناعس" راځي. ② فَلْيَرْقُدْ: نو څمديلې، اوده دې شي. ③ فَيَسُبَّ: كنځلې كولو نه مراد خپل ځان ته بدې ردې وئيل يا خيرې كول مراد دي.

تسهيلات: -

قوله: فَيَسُبَّ نَفْسَهُ:

دخوب په حالت كښې د مونځ كولو د ممانعت وجه: - "فيسب نفسه" مطلب دادې چه دَ خوب او پركالى په حالت كښې زړه او دماغ حاضر نه وى، ژبه هم په قابو كښې نه وى. لهذا نشه كښې مستغرق سړى دَ ژبې نه هم څه وتلې شى هغه كنځلې هم كيدې شى او هغه بددعا هم كيدې شى مثلاً دَ خوب په حالت كښې يو سړې "اللهم اغفرلى" وئيل پكار دى ليكن دَ هغه دَ ژبې نه بې اختياره "اللهم اعفرلى" اوځى. دَ اول جملې ترجمه داده چه اې الله ما اوبخښې. دَ دويمې جملې ترجمه دا ده چه اې الله ما خاورې كړې.

[۱۲۴۶] د دين اسلام آسانى

۱۲۴۶-()[۱] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ۲ «إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ ۳ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ ۴ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا، وَأَبْشِرُوا، ۵ وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ

ترجمه: ۱ ابوهريره رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ چې بيشكه دين آسان دي ۳ ليكن كوم سړي چې په دين كې سختي كوي دين په هغه غالب راځي ۴ نو (په ديني امورو كې) ميانه روي او د خپل طاقت مطابق عمل اختياروئ او (د جنت وسلامتي او د الله رب العزت د انعاماتو او اكراماتو) سره خوشحاله اوسئ [څكه چې الله رب العزت په لږ عمل

[۱] اخرجه البخاري باب: الدين يسر وقول النبي صلى الله عليه وسلم: «أحب الدين إلى الله الحنيفية السمحة» (رقم-۳۹) والنسائي كتاب الإيمان وشرائعه/باب الدين يسر (رقم-۵۰۳۴)

چې د همیشګۍ او د نیت د خلوص سره وي ډیر زیات ثواب ورکوي[۵] او سحر وخت او ماښام وخت او د شپې په آخري حصه کې هم د الله رب العزت څخه مدد غواړئ. (بخاري)

حل اللغات:- ① يُسْرٌ: یعنی دین آسان مذهب دی. ② لَنْ يُشَادَّ: یشاد په یاء باندې ضمه ده او دال باندې شد دی. مشادده د باب مفاعله نه یو بل باندې د غالب راتلو په معنی کښې دی. ③ فَسَدِّدُوا: أي الزَمُوا طَرِيقَ الاقْتِصَادِ: یعنی په نیغه لار باندې د زیاتی او کمی نه پاکیدو سره قائم اوسیږه.
④ الْغَدْوَةُ: د ورځې شروع، ⑤ الرَّوْحَةُ: د ورځې آخره، ⑥ الدُّلْجَةُ: أي آخِرُ اللَّيْلِ: دشپې آخری حصه. (د غدوة، روحة او دلجة حاصل معنی داده چه ټول وختونه تاسو د عمل د پاره مه ګیروئ بلکه د خپلې تازګۍ او چستئ په حالت او وختونو کښې د الله تعالی نزدیکت حاصلوئ.)

تسهیلات:- قوله: وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ:

د حدیث د جملې مفهوم:- دا د یشاد فاعل دی او "الدین" د دې د پاره مفعول به دی اصل عبارت داسې دی "ولن يشاد احد الدين" یعنی دین د عمل په ذریعه څوك مغلوب کولې نه شی بلکه دین به په ده باندې په دې مقابله کښې غالب راځی او هغه سړی به مغلوب کیدو سره د دین اعمال پریږدی. لهذا دا خواهش مه کوئی چه سل فیصد به د دین په اعمالو باندې عمل کونکې شم. په دې کښې هم په دغه تشدد د خوښونکو عناصرو باندې رد دی چه وائی ترکومې پورې چه سل فیصد اعمال در کښې نه وی راغلې جهاد نه شی کیدې.

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:-

① "وقاربوا" یعنی په صحیح لار باندې قائم پاتې کیدو سره د الله تعالی طرف ته د وړاندې کیدو او نیزدې کیدو کوشش کوئی.

② "وابشروا" یعنی دا زیرې واورئی او خوشحال شئی چه الله تعالی ستاسو په لږ عمل باندې تاسو ته ډیر ثواب درکړو.

[۱۲۴۷] دشپې پاتې شوې وظائف په ورځ کښې پوره کول

۱۲۴۷—(۷)[۱] وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[۲] «مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ،[۳] فَقَرَأَهُ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ،[۴] كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] حضرت عمر ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] کوم سړي چې (په شپه کي) د خپلي وظيفي پوره کولو نه بغير اوده شو يا د وظيفي څه حصه څيني پاتې شوه[۳] بيا هغه د سحر د لمانځه او دماسپخين د لمانځه په مينځ کي اولوستل[۴] نو د هغه د

[1] اخرجه مسلم كتاب صلاة/باب جامع صلاة الليل، ومن نام عنه او مرض (رقم) ۱۴۲ - (۷۴۷) وابوداود كتاب الصلاة/باب من نام عن حزبه (رقم-۱۳۱۳) والترمذی كتاب السفر/باب ما ذكر فيمن فاته حزبه من الليل فقضاه بالنهار (رقم-۵۸۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فيمن نام عن حزبه من الليل (رقم-۱۳۴۳) ومالك في الموطا كتاب القرآن باب ما جاء في تحزيب القرآن (رقم-۳)

پاره داسې ليکل کيږي لکه چې د شپې يې اولوستل. (مسلم)

حل اللغات:- ① حِزْبِهِ: أَيْ: عَنْ وِرْدِهِ: يعنى د خپلې وظيفې پوره کولونه بغير اوده شي.

تسهيلات:-

د پاتې شوې نفلي عبادت تدارک کول:- مطلب داچه که د يوسړي نه د هغه څه معمول د شپې پاتې شي نوهغه د ورځې د سحرد مونځ نه واخله د زوال پورې اداکولې شي. که په دغه وخت کښې دې سړي خپل د شپې وظيفه اولوستله نودا به هم داسې وي لکه چه ده هم د شپې اداکړې ده.

دلته د شپې ذکرځکه اوکړې شوچه اکثروردونه او وظائف هم د شپې کيږي که چانه د ورځې وظيفه مثلاً تلاوت يامونځ يا ذکر اذکار پاتې شي نوهغه ئې د شپې اداکولې شي ځکه چه شپه او ورځ د يوبل قائمقام دي.

[۱۲٤۸] د معذوردپاره په ناسته اوپه ملاسته د مونځ جواز

۱۲۴۸-()[۸] ① وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، ③ فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① عمران ابن حصين رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② مونځ په ولاړه کوه او که (د څه عذر په وجه په ولاړه په لمانځه کولو باندې) قادر نه شې نو په ناسته يې کوه ③ او که (په ناسته لمانځه کولو باندې) قادر نه شې نو بيا په اړخ يې کوه. (بخاري)

حل اللغات:- ① فَعَلَى جَنْبٍ: أَيْ: فَصَلِّ مُضْطَجِعًا: په اړخ باندې يعنى په ملاسته باندې.

تسهيلات:- قوله: فَعَلَى جَنْبٍ:

د مونځ په ادا کولو کښې د مونځګذار څلور حالتونه:-

① اول خو به سړې په ولاړه مونځ کوي ځکه چې په فرض مونځ کښې قيام فرض دې.

② که يوسړې په ولاړه باندې فرض مونځ نه شي اداکولې نو په ناسته مونځ کولې شي

③ که په ناسته هم ورته ګران وي نو په ملاسته مونځ کولې شي.

④ فقهاؤ ليکلي دي چه که په سر سره بيمار اشاره نه شي کولې نوبيا دې مونځ روستو کړي الله تعالى کريم ذات دې معاف به ئې کړي. د سترګو په اشاره سره مونځ نه کيږي.

په ملاسته د مونځ کولو په کيفيت کښې مذاهب:-

① شوافع حضرات فرمائي چه بيمار دې په اړخ سملې مخ دې قبلې طرف ته کړي او په

[۱] اخرجه البخارى كتاب الجمعة/باب إذا لم يطق قاعدا صلى على جنب (رقم-۱۱۱۷) والترمذى كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن صلاة القاعد على النصف من صلاة القائم (رقم-۳۷۲) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها/باب ما جاء فى صلاة المريض (رقم-۱۲۲۳)

اشاره دې مونځ اوکړي.

۲ دَ احنافو په نيز دَ سملاستو طريقه داده چه بيمار دې نيغ سملی خپې دې قبلې طرف ته خورې کړي او دَ اوږو لاندې دې تکيه کيږدی دَ قبلې طرف ته دې په اشاره سره مونځ اوکړي.

د اول فريق دليل:- زيربحث حديث د دوی مستدل دې ځکه چې په دې کښې دَ اړخ لفظ راغلې دې.

د دويم فريق اول دليل :-

۱ دَدوی مستدل د دارقطنی روايت دې. په کوم کښې چه دَ نيغ سملاستو ثبوت ملاويږي.

د دويم فريق دويم دليل :-

۲ عقلی دليل دا دې چه نيغ سملاستو سره مخامخ قبله وی ځکه چه قبله دَ آسمان پورې وی او په اړخ باندې سملاستو سره چه کومه اشاره کيږی هغه دَ قبلې په ځائی دَ خپلو خپو طرف ته وی.

د اول فريق د دليل دوه جوابونه :-

۱ کيدې شی چه دلته څه بل څه مجبوری وی

۲ دَ جواز دَ بيان دَپاره وی.

[۱۲٤۹] دقاعد د مونځ دقائم د مونځ په نيمه ثواب

۱۲۴۹-()[۹] ۱ وَعَنْهُ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ قَاعِدًا، ۲ قَالَ: "إِنْ صَلَّى قَائِمًا فَهُوَ أَفْضَلُ، ۳ وَمَنْ صَلَّى قَاعِدًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ، ۴ وَمَنْ صَلَّى نَائِمًا فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ د عمران ابن حصين رضی الله عنه په باره کې روايت دې چې هغه د حضور ﷺ څخه د هغه سړي په باره کې پوښتنه وکړه چې (په ولاړه د طاقت لرلو باوجود) نفل مونځ په ناسته کوي ۲ حضور ﷺ ورته وفرمايل بهتره خو دا ده چې په ولاړه مونځ وکړي ۳ ليکن کوم سړي چې (نفل) مونځ (بغير د عذر) څخه په ناسته کوي نو هغه ته په ولاړه د لمانځه کونکي په نسبت نيم ثواب حاصليږي ۴ او څوك چې په ملاسته مونځ کوي هغه ته د ناستې کوونکي په نسبت نيم ثواب حاصليږي. (بخاري)

حل اللغات:- ۱ الْقَائِمِ: ولاړ، يعنی په ولاړه باندې مونځ کونکې. ۲ الْقَاعِدِ: ناست، يعنی په ناسته باندې مونځ کونکې.

تسهيلات:-

---

[1] اخرجه البخاری کتاب الجمعة/باب صلاة القاعد بالإيماء (رقم-۱۱۱۶) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن صلاة القاعد على النصف من صلاة القائم (رقم-۳۷۱)

قوله: فَلَهُ نِصْفُ أَجْرِ الْقَاعِدِ:

د ناستې او ملاستې په مونځ کښې د اجر کميدل: – يعنی که يو سړی په ولاړه باندې مونځ اوکړی نو هغه افضل او اعلی دې. ليکن که يو سړې بيمار دې او هغه دَ اودريدو په ځائی په ناسته مونځ اوکړو نو هغه ته به دَ ولاړ سړی په مقابله کښې نيم ثواب ملاويږی او که هغه په ملاسته باندې مونځ اوکړو نو هغه ته به دَ کيناستونکی په مقابله کښې نيم ثواب ملاويږی.

مشهور اشکال: – دلته يو مشهور اعتراض دې هغه داسې که مونځ ګذار سړې فرض مونځ کونکې او منلې شی نو هغه له دَ بيمارئی دَ عذر دَ وجې نه د کيناستو په حالت کښې پوره ثواب ملاويږی ځکه چه قيام دَ هغه نه ساقط شوې دې. دلته ده ته نيم ثواب ولې ورکولې کيږی؟ او که چرې دا سړې صحت مند او منلې شی نو په ناست دَ هغه مونځ جائز نه دې نو څه چه لا هغه ته به نيم ثواب ملاؤشی؟

او که چرې مونځ کونکې دا سړې صحت مند متنفل او منلې شی نو دَ حديث دَ شروع حصه خو به صحيح شی ليکن دَدې آخری حصه به معارض جوړه شی ځکه چه دَمتنفل مونځ خو په ناسته جائز دې ليکن دَ سملاستو په حالت کښ دَ حسن بصری رحمه الله نه بغير دَ چا په نيز جائز نه دې او دلته دې سملاستونکی سړی ته نيم ثواب ورکولې شی او دَ فقهاء کرامو په نيز دَهغه مونځ جائز نه دې؟

د اشکال جواب: – شارحين حديث دَدې اعتراض مختلف جوابونه ورکوی ليکن دَ ټولو نه ښه او آسان جواب هغه دې کوم چه علامه خطابی رحمه الله او ابن حجر رحمه الله فرمائی. کوم چه حضرت شاه انور شاه کشميری رحمه الله ډير خوښ کړې دې. هغه حضرات فرمائی چه دَدې حديث مصداق داسې مفترض او معذور سړې دې چاته چه شريعت په ناسته يا ملاسته دَ مونځ کولو اجازت ورکړې دې. ليکن هغه محنت او مشقت زغملو سره په ولاړه مونځ کوی نو هغه دَ خپل مونځ په اعتبارسره به دَ اعلی ثواب مستحق وی ليکن که هم دغه سړې په ناسته مونځ اوکړی نو هغه ته به دَ خپل قيام والا مونځ په اعتبار نيم ثواب ملاويږی سره دَدې چه دَ نورو خلقو په اعتبارسره به هغه ته پوره ثواب ملاويږی ځکه چه هغه معذور دې او که چرې هم دغه سړې دومره معذوره وی چه شريعت هغه ته په سملاستو سره دَ مونځ کولو اجازت ورکړې دې مګر هغه محنت او مشقت زغملو سره په ناسته مونځ کوی نو هغه ته به اعلی او ښه ثواب ملاويږی. ليکن که هغه په ملاسته مونځ اوکړی نو هغه ته به دَ ناستې دَ حالت دَ مونځ نيم ثواب ملاويږی سره دَدې چه دَ نورو خلقو په اعتبار سره به هغه ته پوره ثواب ملاويږی.

د زير بحث حديث مصداق: – زير بحث حديث دَ حضرت عمران بن حصين رضی الله عنه معامله دَ سختې مجبورئی او بيمارئی وه او هغه دَ فرض باره کښې تپوس کولو. لهذا دا حديث دَدې

قسم مفترض باره کښي دی دَمتنفل باره کښې نه دي. البته دَ سملاستو دَ صورت نه علاوه احناف او جمهورو فقهاء متنفل باره کښې هم دغه شان فتویٰ ورکوی. لکه څنګه چه حدیث کښې دی چه نیم ثواب به ملاویږی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۲۵۰] تر خوب راتلو پورې د الله په ذکر کښې مشغول اوسيدل

۱۲۵۰—(۱)[۱۰] ①عَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ② "«مَنْ أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ طَاهِرًا، ③وَذَكَرَ اللّٰهَ حَتَّى يُدْرِكَهُ النُّعَاسُ، ④لَمْ يَتَقَلَّبْ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ يَسْأَلُ اللّٰهَ فِيهَا خَيْرًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، ⑤إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ» ". ⑥ذَكَرَهُ النَّوَوِيُّ فِي "كِتَابِ الْأَذْكَارِ" بِرِوَايَةِ ابْنِ السُّنِّيِّ.

ترجمه: ① ابو امامه رضی الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي ② چې کوم سړي (د اوداسه يا د تيمم په ذريعه د نجاستونو څخه يا دا چې د ګناهونو څخه) پاکيدو سره په خپله بستره پريوځي ③ او د خوب راتلو پورې (په ژبه يا په زړه سره) په ذکر الله کې مشغول وي ④ نو هغه چې د شپې کله هم په دې حال کې اړخ بدل کړي چې د الله جل شانه څخه د دنيا او آخرت د څه خير سوال وکړي ⑤ نو الله تعالی جل جلاله هغه خير ضرور ورکوي ⑥ دا حديث نووي رحمه الله په کتاب الاذکار کې د ابن السني په روايت نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① أَوَى: أَيْ: أَتَاهُ: چه راشی (خپلې بسترې يا دځملاستلو ځای ته). ② فِرَاشِهِ: بستره، ③ النُّعَاسُ: د خوب جوتې، پرکالی، ④ لَمْ يَتَقَلَّبْ: أَيْ: لَمْ يَتَرَدَّدْ: په بستره باندې اړخ بدلول او ريدل راوړيدل مراد دی.

تسهیلات:-

په اودس کښې د اوده کيدو فضيلت:- مطلب دادې چه يوسړې دَ شپې په اودس کښې اوده کيږی او هغه دَ شپې په يوه حصه کښې بيدارشی يا اړخ بدلوی او دَ الله تعالی نه څه دعا غواړی نو الله تعالی دَهغه سوال قبلوی که هغه سوال دَدنياسره متعلق وی او که دَ آخرت سره متعلق وی.

[۱۲۵۱] د دوه قسمه خلقو څخه د الله تعالی خوشحال کيدل

۱۲۵۱—(۲)[۱۱] ①وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ رَجُلَيْنِ: ③رَجُلٌ ثَارَ عَنْ وِطَائِهِ وَلِحَافِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ، ④فَيَقُولُ اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي، ⑤ثَارَ عَنْ فِرَاشِهِ وَوِطَائِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ، ⑥رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِي، ⑦وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِي،

[۱] اخرجه ابن السنی فی اليوم والليلة رقم الحديث ۷۲۲
[۲] اخرجه احمد فی المسند ۱/۴۱۶ والبغوی فی شرح السنة رقم الحديث ۹۳۰

ترجمه: ۱ عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ زمونږ رب د دوو سړو څخه ډير خوشحاليږي ۳ ① يو خو هغه سړي چې د شپې د خپلې نرمې بسترې او لحاف څخه او د خپلې محبوبې او ښځې څخه (د تهجد) لمانځه د پاره پاڅي ۴ نو الله تعالی جل جلاله خپلو ملائکو ته فرمايي چې زما د بنده طرف ته وګورئ ۵ چې خپل فرش او نرمه بستره او خپله محبوبه او ښځه پريښودلو سره خپل لمانځه کولو د پاره پاڅيدو ۶ زما سره د ځيزونو (يعني د جنت او ثواب) د شوق په وجه ۷ او زما سره د ځيزونو (يعني د دوزخ او عذاب) د ويرې په وجه.

۱ وَرَجُلٌ غَزَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ فَانْهَزَمَ مَعَ أَصْحَابِهِ، ۲ فَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ فِي الْإِنْهِزَامِ وَمَا لَهُ فِي الرُّجُوعِ، ۳ فَرَجَعَ حَتّٰى هُرِيقَ دَمُهُ، ۴ فَيَقُولُ اللّٰهُ لِمَلَائِكَتِهِ: انْظُرُوا إِلٰى عَبْدِي رَجَعَ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِي، ۵ وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِي ۶ حَتّٰى هُرِيقَ دَمُهُ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ۱ ② او دويم هغه سړي چې هغه د الله جل جلاله په لار کې جهاد وکړي او (بغير د څه شديد عذر) د خپلو ملګرو سره (ميدان جنګ پريښودلو سره) وتښتيدو ۲ خو کله چې هغه ته (بلا عذر د جهاد د ميدان څخه) د تښتيدو سزا او بيا جهاد ته د واپس کيدو ثواب وریاد شو ۳ نو (د جنګ ميدان ته) واپس راغي او (د الله جل جلاله د دښمنانو سره) دومره وجنګيدو چې د شهادت جام يې نوش کړو ۴ نو الله تعالی جل جلاله خپلو ملائکو ته فرمايي چې زما د دې بنده طرف ته (د تعجب په نظر) وګورئ چې زما سره د ځيزونو (يعني د جنت او ثواب) په شوق کې واپس راغي ۵ او زما سره د ځيزونو (يعني د دوزخ او عذاب) د خوف څخه (ميدان جنګ ته) واپس راغي ۶ (او د الله جل جلاله په لار کې) دومره (وجنګيدو) چې خپل سر يې هم ورکړو. (شرح السنة)

حل اللغات:- ① ثَارَ: أَيْ: قَامَ بِهِمَّةٍ: په خوشحالئ او تسلئ سره پاڅي، ② وِطَائِهِ: أَيْ: فِرَاشِهِ اللَّيِّنِ: دخپلې نرمې بسترې نه، ③ لِحَافِهِ: أَيْ: ثَوْبِهِ الَّذِي فَوْقَهُ: دخپلې ګرمې بړستنې نه، ④ حِبِّهِ: أَيْ: مَحْبُوبِهِ: دخپلې محبوبې ښځې نه، ⑤ رَغْبَةً: أَيْ: مَيْلًا: دمحبت او شوق په وجه (کوم چه دده دالله تعالی سره دي)، ⑥ شَفَقًا: أَيْ: خَوْفًا: ويره (کومه چه ددې بنده په زړه کښې ده دخپل الله نه)، ⑦ غَزَا: أَيْ: حَارَبَ: جنګ يعنې جهاد اوکړی (دالله ددشمنانو سره)، ⑧ فَانْهَزَمَ: أَيْ: غُلِبَ وَهَرَبَ: مغلوبه شو او اوتختيدو (بغير د عذرنه)، ⑨ هُرِيقَ: أَيْ: صُبَّ: توئې کړې شوه (وينه دده يعنې قتل کړې شو).

تسهيلات:-

دالله تعالی په دوه قسمه خلقو باندې فخر کول:- دَدې حديث خلاصه او مطلب دادې چه الله تعالی دَدوو کسانونه ډيرزيات خوشحاليږی او الله تعالی ته دا خلق په عجيبه توګه باندې خوښيږی

① هغه تهجد ګذار سړې دې چه دَ شپې دَخپلې نرمې ګرمې بسترې نه توپ کړی پاسی او

محبوب بال بچ پرېږدی مونځ کول شروع کړی. الله تعالی فرښتوته فرمائی ګورئی تاسو وئیلی وو چه انسان ولې پیدا کولې شی نن دې څنګه زما د خوشحالئی اوجنت په طلب کښې اودوزخ د وېرې نه پاسی.

② هغه غازی اومجاهد دې چه خپلو ملګرو سره ئی جهاد اوکړو بیا اوجنګیدو مګر ماتې اوخوړله ټول ملګری اوتختیدل مګر دې سړی د څه منډې وهلونه پس بیا میدان ته راغلو هغه ته احساس اوشو چه په تیختېه کښې څومره ګناه ده او په کلك اودرېدو کښې او جنګیدو کښې څومره ثواب دې. چه دا سړې واپس شو نوشهید شو. الله تعالی فرښتو ته فرمائی ګورئی زما بنده زما د خوشحالئی او جنت په طلب کښې اودوزخ د وېرې نه څنګه قربانی ورکړه. (تاسو وئیلی وو چه انسان مه پیدا کوه)

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۲۵۲] د نبی علیه السلام په ناسته مونځ کول

۱۲۵۲—() [۱۲] ① عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ② «حُدِّثْتُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ③ "صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلَاةِ"، ④ قَالَ: فَأَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي جَالِسًا، ⑤ فَوَضَعْتُ يَدِي عَلَى رَأْسِهِ. ⑥ فَقَالَ: "مَا لَكَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عَمْرٍو؟" ⑦. قُلْتُ: حُدِّثْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَنَّكَ قُلْتَ: ⑧ "صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا عَلَى نِصْفِ الصَّلَاةِ". وَأَنْتَ تُصَلِّي قَاعِدًا، ⑨ قَالَ: "أَجَلْ، وَلَكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما فرمايي ② چې ماته دا حديث بيان شو چې حضور ﷺ وفرمايل ③ چې (بغير د څه عذر څخه) په ناسته د (نفل) مونځ کونکي مونځ په ولاړه د لمانځه کونکي په مقابله کښې نيم وي ④ عبدالله فرمايي چې زه (يو ورځ) د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم (اتفاقًا) حضور ﷺ هغه وخت په ناسته مونځ کولو ⑤ (کوم وخت چې د لمانځه څخه فارغ شو) نو ما د حضور ﷺ په سر مبارک لاس کېښودلو ⑥ نو حضور ﷺ وفرمايل چې عبد الله بن عمرو څه خبره ده ⑦ ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ماته دا وئيل شوي دي چې تا (ﷺ) فرمايلي دي ⑧ چې په ناسته د لمانځه کونکي مونځ نيم وي او اوس ته (ﷺ) پخپله په ناسته مونځ کوي ⑨ حضور ﷺ وفرمايل هو دغسې ده (يعني تا چې څه اوريدلي دي صحيح دي) ليکن زه خو ستاسو په شان نه يم (بلکه دا خو زما خصوصيت دي). (مسلم)

حل اللغات:- ① فَوَجَدْتُهُ: ما بيامونده لو هغه (يعنی حضور ﷺ). ② فَوَضَعْتُ: نو ما کيخودلو (خپل لاس) ③ حُدِّثْتُ: أَيْ: حَدَّثَنِي النَّاسُ: ماته بيان کړې شوی دی.

[1] اخرجه البخاری کتاب الجمعة/باب إذا لم يطق قاعدا صلى على جنب (رقم-۱۱۱۷) ومسلم کتاب صلاة/باب جواز النافلة قائما وقاعدا، وفعل بعض الرکعة قائما وبعضها قاعدا (رقم) ۱۲۰ - (۷۳۵) والنسائی کتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب فضل صلاة القائم على صلاة القاعد (رقم-۱۶۵۹)

تسهیلات:-

قوله: فَوَضَعْتُ يَدِي عَلَى رَأْسِهِ:

د بل په سر باندې د لاس کیښودو فرض:- دا اهل عربو عادت دې چه د تعجب او محبت د وجې نه د بل په سر هغه وخت لاس ایږدی کله چه د هغه نه د حیرانیدو څه خبره اووینی. د هغوی په نیزدا یوبې تکلفی او محبت وی کوم چه د ادب نه بالکل منافی نه دې.

د عبدالله بن عمرو تعجب وجه:- حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ سره هم داسې معامله اوکړه د هغه حضورپاك ﷺ سره محبت هم وو او په صحابه کرامو کښې بې ځایه تکلف هم نه وو چونکه حضورپاك ﷺ ته په دې باندې تعجب پیدا شو چه حضورپاك ﷺ په ناسته باندې مونځ اداکول ناقص ګرځولې وو او په دې باندې ئې د نیم ثواب حکم لګولې وو نوبیا پخپله حضورپاك ﷺ په دغه ناقص عمل باندې څنګه عمل کوی.

قوله: وَلَكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ:

په ناسته مونځ پوره ثواب ملاویدل خصوصیت نبوی:- یعنی زه ستاسو په شان نه یم ماته په هرحالت کښې پوره ثواب ملاویږی که په ناسته ئې اوکړم که په ولاړه ئې اوکړم. د دې حدیث نه واضحه شوه چه دا تقسیم د نفل مونځ سره متعلق دې که بغیر د عذر نه په ناسته اوکړې شی نو نیم ثواب به ملاویږی.

[۱۲۵۲] په مانځه سره د سکون حاصلول

۱۲۵۳-()[۱۳]⑴ وَعَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ:⑵ «قَالَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ: لَيْتَنِي صَلَّيْتُ فَاسْتَرَحْتُ،⑶ فَكَأَنَّهُمْ عَابُوا ذَلِكَ عَلَيْهِ،⑷ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "أَقِمِ الصَّلَاةَ يَا بِلَالُ، أَرِحْنَا بِهَا"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:⑴ سالم بن ابي الجعد فرمايي⑵ چې (یوه ورځ) د قبیله خزاعه یوسړي اوویل آرمان چې ما مونځ کړي وې او آرام مې موندلي وې⑶ خلقو د هغه دا خبره بده وګڼله⑷ نو هغه اوویل چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي چې وي فرمایل (حضرت بلال ﷺ ته چې) اې بلاله (ﷺ) د لمانځه د پاره تکبیر اووایه چې مونږ د هغې په ذریعه راحت حاصل کړو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① فَاسْتَرَحْتُ: آرام او راحت مې حاصل کړې وې (په عبادت او دعا سره). ② عَابُوا: عیب ئې اوګڼړلو، بده ئې اوګڼړله (د راحت حاصلولو دا خبره). ③ أَرِحْنَا: چه مونږ راحت حاصل کړو (یعنی چه زړه مو په عبادت کښې مشغوله وی نو خوشحاله به وی).

۱) اخرجه ابوداود کتاب الأدب/باب فی صلاة العتمة (رقم-۴۹۸۵)

تسهیلات: -

قوله: لَيْتَنِي صَلَّيْتُ فَاسْتَرَحْتُ:

د حدیث پس منظر: - مطلب دا چه یوخزاعی سړي چه پخپله هم صحابی دي دَ صحابه کرامو په وړاندې اووئیل چه افسوس ما مونځ کولې او راحت مې حاصلولې. صحابه کرامو تابعینو اوحاضرینودَدغه سړی داخبره ناخوښه کړه ځکه چه دَدې مفهوم داهم اخستې شو چه مونځ یوبوج دې او یوه لویه ذمه واری ده زه ئی زر زر کوم چه ماته دَدې نه راحت ملاؤشی. دا سړې پوهه شو چه دې خلقو دَ دغه مفهوم غلط مطلب واخستو نوهغه دَ حضورپاک ﷺ فرمان دَ سند اودلیل په توګه باندې پیش کړو حضورپاک ﷺ حضرت بلال ﷺ ته اوفرمائیل اې بلال دَ اقامت صلوٰة دَپاره تکبیر اووایه مونږ ته په دې باندې راحت راؤرسوه.

د استراحت په مفهوم کښې دوه احتمالات: -

① مونځ کوو دَ دې مانځه په ذریعه حاصلیږی الله تعالی سره دَ خبروکولواو مناجات شرف حاصلیږی او اطمینان او سکون حاصلیږی دَدې نه بغیرغم اوپریشانی وی. دَدې معنی په اعتبارسره حضوراکرم حضرت بلال ته اوفرمائیل چه تکبیراولوله "ارحنابها" یعنی دَ مونځ په ذریعه مونږ ته راحت راؤرسوه. دَ دغه صحابی خزاعی سړی مطلب هم دغه وه په دې وجه هغه دَ حضورپاک ﷺ دکلام نه استدلال کړې دې. دَ حضورپاک ﷺ دَ دویم حدیث نه داسې تصریح هم ده فرمائی "وجعلت قرة عینی فی الصلوة" زما دَسترګو یخوالې په مونځ کښې کیخودې شوې دې.

② مونځ یوذمه واری اوبوج دې کله چه مونږ اداکړو نودَ سرنه به مو بوج اوذمه واری کوزه شی. په دې مفهوم کښې بې ادبی او دَ مانځه نه دَ بې تعلق کیدو شك دې هم په دې وجه حاضرینو دَدغه سړی دا وینا ناخوښه کړه. نن صبا هم څه لاپرواه خلق په ناخیالئی کښې داقسم خبرې دَ مانځه متعلق کوی.

[٥١/٣٥] بَابُ الْوَتْرِ

د وتر مونځ بیان

خلاصة الباب:-

فيه تسعة وثلاثون حديثاً مشتملة على عشر مسائل:

① عدد ركعات الوتر: ١، ٢، ١٢، ٢٠، ٢٥، ٢٨، ٣، ١١، ٢٣.
② استحباب ادار الوتر فى آخر الليل: ٢، ٥، ٦، ٧، ٨، ٩، ١٠.
③ أداء صلاة الوتر فى أول الليل: ٧، ٨، ٩، ١٠.
④ أداء صلاة الوتر فى وسط الليل: ٨.
⑤ التاكيد فى الإيتار: ١٣، ١٤، ٢١، ٢٣.
⑥ قضاء صلاة الوتر: ١٥، ٢٢.
⑦ القراءة المسنونة فى صلاة الوتر: ١٦، ٢٤.
⑧ قنوت الوتر: ١٧.
⑨ الذكر المسنون بعد الوتر: ١٨، ١٩.
⑩ صلوة الشفع بعد الوتر : ٢٦، ٢٧، ٢٨، ٢٩، ٣٠.

د وتر لغوی معنی:- وتربتروتراباًلفتح والکسر، جفت دَ طاق کولوپه معنی کښې دې دغـه شـان دَ باب افعال نه ایتار یوڅیزدَ طاق جوړولو په معنی کښې دې.

د وتر اصطلاحی تعریف:- وترهغه خاص مونځ تـه وئیلی شی چـه دَ ماسـخوتن دَ مانځـه نـه پس کولې شی په دې باب کښې هم دَ دغه وتر بیان دې او هم دَدې متعلق احادیث دی.

په تهجدو او مطلق صلاة اللیل باندې د وترو اطلاق:- هسې دَ وتر اطلاق دَ تهجد پـه مونځ باندې هم کیږی او مطلق صلاةالليل باندې هم دَدې اطلاق کیږی مګردلته هم دَهغـه معـروف اصطلاحی وتربیـان دې کوم چه وترالليل يعنی دَ شپې دَ وتر په نوم سره مشـهور دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[١٢٥٤] د شپې دوه دوه رکعته

١٢٥٤-()[١] ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، ③ فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ؛ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً، ④ تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

١) اخرجه البخاری كتاب الوتر/باب ما جاء فى الوتر (رقم-٩٩٠) ومسلم كتاب صلاة/باب صلاة الليل مثنى مثنى، والوتر ركعة من آخر الليل (رقم-١٤٥ - (٧٤٩) والترمذی كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن صلاة الليل مثنى مثنى (رقم-٤٣٧) ومالک فى الموطا كتاب صلاة الليل . باب الأمر بالوتر(رقم-١٣)

ترجمه: [۱] ابن عمر رضی الله عنهما راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل [۲] د شپې مونځ دوه دوه رکعاته دي [۳] او هر کله چې د چا سره د سحر کيدو ويره شي نو يو رکعت دي وکړي [۴] دا (يو رکعت) به مخکې کړل شوې مونځ طاق کړي، بخاري مسلم.

حل اللغات: - ① مَثْنَی مَثْنَی: دوه دوه رکعته، ② خَشِيَ: أي: خَافَ: ويريږي (چه صبا راختونکې دې). ③ تُوتِرُ: طاق به کړي، ناتکئ او بې جوړې به کړي.

تسهيلات: -

قوله: تُوتِرُلَهُ مَاقَدْصَلّٰی:

د وترو په حکم کښې مذاهب: -

① امام مالك رحمه الله امام شافعي رحمه الله امام احمد بن حنبل رحمه الله او صاحبين فرمائي چه وتر سنت دی واجب نه دی.

② امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائي چې وتر واجب دی او دَ فرض او سنت په مينځ کښې يوه درجه ده کوم ته چه واجب وائي چه عملاً دَ فرضو په شان دی او اعتقاداً واجب دی.

داول فريق اول دليل: -

① دَحضرت علی رضی الله عنه فرمان د دوی مستدل دې. دَهغوی نه چا دَ وترو دَ حيثيت باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی په جواب کښې اوفرمائيل "الوتر ليس بحتم کصلوتکم المکتوبة ولکن سن رسول الله صلی الله عليه وسلم" (رواه الترمذی: ۱/۱۰۳)

داول فريق د دليل جواب: - مونږ هم وايو وتر فرض نه دی اودَدې روايت مطلب هم دغه دې چه وتر فرض نه دی بلکه واجب دی. "حتم" لفظ دَ فرض دَ پاره استعماليږی.

داول فريق دويم دليل: -

② دَ حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما روايت د دوی مستدل دې کوم چه دَ دې باب حديث نمبر ۲۳ دې دکوم الفاظ چه دا دی: ((عن مالك بلغه ان رجلا سأل ابن عمر عن الوتر اواجب هو فقال عبدالله قد اوتر رسول الله صلی الله عليه وسلم واوتر المسلمون)) دلته بار بار دَ سوال په جواب کښې حضرت ابن عمر رضی الله عنهما دَ واجب لفظ نه دې استعمال کړې.

د اول فريق د دويم دليل جواب: - دَ انصاف تقاضا خودا ده چه دا روايت دَ جمهورو دليل نشی جوړيدې څکه چه سائل بار بار سوال کړې دې چه آيا وتر فرض دی يا واجب دی؟ په جواب کښې حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه دَ سنت لفظ وئيلو سره جواب ورکړې دې نه ئې فرض وئيلی دی نه ئې واجب وئيلی دی هغه دَ سنت دَ اطلاق نه دَ بچ کيدو کوشش کوی اودَ فرضو اطلاق هم نه کوی اودغه وخته پورې چونکه دَ واجب درجه نه وه ظاهره شوې او هغه وخت څه دليل ظنی الثبوت قطعی الدلالة يا قطعی الثبوت ظنی الدلالة نه وو نودَ واجب درجه نه وه دا درجه روستو ظاهره شوې ده.

داول فریق دریم دلیل:-

③ دَحضرت طحلـه بـن عبیـدالله رضی الله عنه حـدیث هـم د دوی مـستدل دي پـه کـوم کـښې چـه یـو اعرابی دَ حضورپاك ﷺ نه دَ پنځو مونځونونه علاوه دَ بل مونځ تپوس اوکړو چه "هل علی غیرهن؟" دَدې پـه جـواب کـښې رسـول الله ﷺ اوفرمائیـل "لاالاان تطـوع" (رواه مـسلم) دې نـه معلومه شوه چه دَ پنځو فرضو مونځونو نه علاوه مونځ ضروری او واجب نه دي بلکه ټول تطوع او نفل دی.

د اول فریق د دریم دلیل جواب:- دَ اعرابی دا واقعه دَ شروع ده کوم وخت چه دَوترو حکم نـه وو راغلې پـه دې کـښې خـودَ اختـرونـو دَ مونځـونـو ذکـر هـم نشته دي حالانکـه جمهـور دَ عیدین وجوب منی. باقي دَ هغوی دا استدلال چه دَ وتر دَ وخت نشته، اذان او اقامت نشته نودَدې جواب دادې چه دَماسخوتن وخت دَ وتـرو وخت دې او وتـر دَ ماسخوتن دَ مونځ تـابع دی لهذا دَ جدا اذان او اقامت هم ضرورت نشته دې اودا هـم څـه ضـروری نـه دی چـه دکـوم مونځ دَاره اذان او اقامت نه وی هغه به سنت وی. دَ اخترونودَپاره چرتـه اذان او اقامت وی؟ حالانکه هغه واجب دی.

④ عقلی دلیل هم د دوی مستدل دې او ثابته کړې ده چه یو څو علامات داسې دی دکوم نه چه معلومیږی چه وتر سنت دی واجب نه دی مثلاً دَدې دَپاره څه مستقل وخت نشته دې بلکه دَماسخوتن تابع دی. دویم علامت دا چه دَدې دَپاره څه اذان اواقامت نشته دې. دریم علامت دا چه دَدې دَ پاره څه جمع نشته او پـه رمـضان کـښې دَ تـراویح متابعت کـښې جمع کیږی گنی نه کیږی. دا ټول علامات پـه دې بـاندې دلالت کـوی چـه وتـر واجب نـه دی بلکـه سنت دی.

ددویم فریق دلائل:-

① دَدې باب د حضرت ابوایوب رضی الله عنه حدیث نمبر ۱۲ د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دا دی: ((الوتر حق علی کل مسلم الخ)) (ابوداؤد)

② دَحضرت بریده رضی الله عنه حدیث ددوی مستدل دې چه ددې باب حدیث نمبر ۲۱ دې دکـوم الفاظ چه دادی. حضورپاك ﷺ درې ځل اوفرمائیل ((الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا الخ)) (رواه ابوداؤد) دلته حق په معنی واجب دې او فلیس منا وعید دَ سخت وجوب دلیل دې.

③ دَدې باب حدیث نمبر ۱۳ د دوی مـستدل دې پـه کـوم کـښې چـه ((فـاوتروا یااهـل القـرآن)) الفاظ دی په کوم کښې چه دَامر صیغه ده چه دَ وجوب دلیل دې.

④ دَ حضرت خارجه بن حذافه رضی الله عنه حدیث نمبر ۱۴ د دوی مـستدل دې دکـوم یـو څـو الفـاظ چه دادی: ((قال خرج علینا رسول الله صلی الله علیه وسلم وقال ان الله امدکم بصلاة هی خیرلکم من حمر النعم الوتر)) (ترمذی، ابوداؤد)

طریقه د استدلال: - دَ وترو دَ واجب کیدو دپاره دَدې حدیث نه دَ استدلال طرز داسې دې چه دلته "امدکم" الفاظو مطلب دادې چه الله تعالی تاسو ته یو زیاتی مونځ درکړې دې ستاسو نور امداد ئې کړې دې. دَ مزید او مزید علیه قاعده دا وی چه دَ مزید دپاره ضروری دی چه دَ مزید علیه انصرام اوانقطاع اواختتام اوشی ترکومې پورې چه مزید علیه محدود او متعین نه وی اوهغه انتهاء ته نه وی رسیدلې. په دې باندې دَ مزید زیاتی کیدو تصور نه شی کیدې. اوس دا کتل دی چه که چرې مزید علیه دلته سنن او نوافل واخستلې شی نودا به صحیح نه وی ځکه چه دَ نوافل دپاره څه حد نشته دې چه په دې باندې دَ نوافل انقطاع راشی او وتر په هغې باندې ورزیات کړې شی. معلومه شوه چه دَ امدکم لفظ پخپله ښائی چه مزید علیه سنن او نوافل نه دی بلکه فرائض دی او په فرائضو باندې الله تعالی یو مزید مونځ ورکړو کوم چه واجب دې او هم دغه وتر دی. بل په په دې روایت کښې ځنګه چه اهتمام او تاکید سره دَدې مونځ نسبت دَ الله تعالی طرف ته کړې شوې دې هغه هم دَ وجوب طرف ته اشاره ده.

⑤ دَدې باب حدیث نمبر ۱۵ د دوی مستدل دې په کوم کښې چه ((من نام عن وتره فلیصل اذا أصبح)) الفاظ دی دکوم نه چه معلومیږی که چرې وتر قضاء شی نودَ دې واپس راګرځول ضروری دی داهم دَ وجوب دلیل دې.

⑥ امام مالک رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله دَ وترو دَ پریخودونکی باره کښې فرمائی: "یعزر تارك الوتر ولا تقبل له شهادته ابدا" دا فتویٰ هم دَدې خبرې دلیل دې چه دَدې حضراتو په نیز هم وتر واجب دی. مګر صرف په نوم کیخودو کښې فرق دې داحضرات دَ واجب په ځائی سنت نوم ایږدی او امام ابوحنیفه رحمه الله واجب نوم ایږدی ګنی په عملی توګه دَ ټولو موقف یو دې.

قوله: صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً:

دوترو د رکعتونو تعداد: - دَ وترو په مسئله کښې دیو لوئی اختلاف دَ دې دَ رکعتونوتعداد دې چه آیا وتر یو رکعت دې یا درې دی یا پنځه دی یا څومره دی؟ په روایاتو کښې دَ څو قسمه اقوالو دَ وجې نه فقهاؤ کښې اختلاف شوې دې.

د وترو د رکعتونو په شمار کښې مذاهب: -

① دَ امام مالک رحمه الله په نیز دَوترو درې رکعته دی لیکن په دوو سلامونو سره دی اودا سلام دَ سجده سهو دَ سلام په شان قاطع صلوٰة نه دې.

② دَ امام احمد رحمه الله په نیز حقیقةً او اصلاً وتر یو رکعت دې لیکن دې نه مخکښې دَ دوو رکعتو شفعه لازم ده یعنی وتر به هله اداکیږی چه دې نه مخکښې دَ دوو رکعتو شفعه وی، دې دپاره چه یو رکعت دَ دې دپاره مُوتر جوړ شی.

③ دَ امام شافعی رحمه الله په نیز وتر یو رکعت هم جائز دی کوم چه ادنی درجه ده اودرې هم

جائز دی کوم چه دَافضل په درجه کښې دې او ۵، ۷، ۹، ۱۱، ۱۳ رکعته هم په یو سلام سره جائز دی.

④ دَ امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز صلوة وتر چه یو مخصوص مونځ دې هغه درې رکعته دی. دَ دریو رکعتو نه وتر کم نه دی او نه زیات دی.

خلاصه دا چه دَ امام مالك رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله مسلك دَ مال په اعتبار سره په عملی توګه دَ احنافو دَ مسلك په شان دې. دا اختلاف څه واضحه اختلاف نه دې. اصل اختلاف دَ امام شافعی رحمه الله سره پاتې شوې دې هم دَدې بیان به کولې شی.

نوټ:- دلته اصل اختلاف د امام شافعی او امام ابوحنیفه دې چې امام شافعی د یو رکعت وترو قائل دې او امام ابوحنیفه د درې رکعتونو قائل دې.د دې وجې امام شافعی ته اول فریق او امام ابوحنیفه ته دویم فریق عنوان ورکوو.

د اول فریق اول دلیل:-

① دَ حضرت نافع رضی الله عنه روایت نمبر۲۵ د دوی مستدل دې په کوم کښې چه "اوتربواحدة" الفاظ راغلی دی.

د اول فریق د اول دلیل جواب:- د حضرت نافع په روایت کښې او دغه شان چرته چه دَ اوتربواحدة لفظ راغلې دې نو اوتر دَ طاق جوړولو په معنی کښې دې چه شفعه سره یو رکعت ملاؤ کړو وتر ئې جوړ کړه دَ یو رکعت ذکر چرته هم نشته یعنی صلی بواحدة الفاظ نشته بلکه دَ اوتربواحدة الفاظ دی.

داول فریق دویم دلیل:-

② په دې باب کښې د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت نمبر ۲۰ هم د دوی مستدل دې. په هغې کښې دَ حضرت معاویه دَ یو رکعت وتر تذکره چه کله دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما په وړاندې اوکړې شوه نوهغوی اوفرمائیل چه هغه صحابی رسول صلی الله علیه وسلم هم دې او فقیه هم دې په دې وجه هغه دَ هغه په حال باندې پرېږده.

داول فریق د دویم دلیل جواب:- دَدې روایت څو جواب ورکول ضروری نه دی پخپله حضرت ابن عباس رضی الله عنهما دَ حضرت معاویه رضی الله عنه عمل ناقابل عمل ګرځولو سره دَ چیر چار نه خلق منع کړل او پخپله دَ دې معاشرې دَخلقو دَ حضرت معاویه رضی الله عنه عمل ته دَ حیراتیا په نظر سره کتل او سوال کول دَدې خبرې دلیل دې چه هغه وخت دَ یو رکعت وتر تصور نه وو. هم دغه وجه ده چه حضرت حسن بصری رحمه الله اوفرمائیل چه په دریو رکعتو وترو باندې دَ صحابه کرامو اجماع شوې ده.

د اول فریق دریم دلیل:-

③ په دې باب کښې د حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه حدیث نمبر ۱۲ د دوی مستدل دې د

کوم الفاظ چې دا دی. «اَلْوِتْرُ حَقٌّ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

داول فریق څلورم دلیل :-

③ په دې باب کښې دَ حضرت عبدالله بن ابی قیس رضی الله عنه روایت نمبر ۱۱ هم د دوی مستدل دې. دکوم الفاظ چې دا دی. عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: «سَأَلْتُ عَائِشَةَ: بِكَمْ كَانَ رَسُولُ اللهِ يُوتِرُ؟ قَالَتْ: كَانَ يُوتِرُ بِأَرْبَعٍ وَثَلَاثٍ، وَسِتٍّ وَثَلَاثٍ، وَثَمَانٍ وَثَلَاثٍ، وَعَشْرٍ وَثَلَاثٍ، وَلَمْ يَكُنْ يُوتِرُ بِأَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ، وَلَا بِأَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

داول فریق د دریم او څلورم دلیل جواب:- په کومو روایتونو کښې چه دَ ۵، ۷، ۹، ۱۱ او ۱۳ رکعتونوذکر دې نوهلته وتر درې دی باقی دَ تهجد مونځ مراد دې. دَ وتر اطلاق دَ تهجد په مونځ هم کیږی "توترماقدصلی" دَ پورتنی تحقیق دَپاره دلیل دې.

د درې رکعته وترو د قائلینو دلائل :-

① د مشکوة شریف ص: ۱۰۶ باندې دَ حضرت عائشه رضی الله عنها حدیث د دوی مستدل دې. دکوم الفاظ چه دادی: «وعنها قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلي من الليل ثلث عشر ركعة منها الوتر وركعتا الفجر» په دې کښې دوه رکعته دَ سحر دی اته رکعته دَ تهجد دی او درې رکعته وتر دی.

② په مشکوة ص ۱۱۳ باندې دَ حضرت علی رضی الله عنه حدیث نمبر ۲۴ هم د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی: «وعن علي قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يوتر بثلاث يقرأ فيهن بتسع سور من المفصل يقرأ في كل ركعة بثلاث سور آخرهن قل هو الله احد» په دې حدیث کښې بالکل تصریح موجود ده چه وتر درې رکعته دی او په هر رکعت کښې به حضورپاک صلی الله علیه وسلم درې درې سورتونه وئیل په کوم کښې چه به نهه سورتونه مکمل کیدل.

③ دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما روایت هم د دوی مستدل دې دکوم الفاظ چه دادی: «كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقرأ في الوتر بسبح اسم ربك الأعلى وقل يا أيها الكافرون وقل هو الله احد» (ترمذی، نسائی)

④ دَ ابواب الوتر فصل ثانی عبدالعزیز بن جریج رحمه الله حدیث نمبر ۱۶ هم د دوی مستدل دې په کوم کښې چه دَ حضرت عائشې رضی الله عنها نه تپوس اوکړې شو چه حضورپاک صلی الله علیه وسلم به کوم کوم سورتونه په وترو کښې وئیل. حضرت عائشې رضی الله عنها دَ دوام طرف ته اشاره کولو سره اوفرمائیل چه حضورپاک صلی الله علیه وسلم به په اول رکعت کښې سورت اعلی وئیلو دویم رکعت کښې سورت کافرون او په دریم رکعت کښې سورت اخلاص او معوذتین وئیل. دا واضحه دلیل دې چه وتر درې رکعته په یو سلام سره دی.

⑤ دَ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه دارقطنی کښې یو حدیث نقل دې هغوی فرمائی:

((وتراللیل ثلاث کوترالنهار صلوة المغرب)) دا روایت موقوف هم دي او مرفوع هم دي. که چېرې موقوف وی نو موقوف هم دَدې په شان په سمعی مسائلو کښې دَمرفوع په حکم کښې وی.

⑥ علامه ابن همام رحمه الله فتح القدير کښې دَ حاکم په حواله سره يو روايت نقل کړې دې دَهغې الفاظ دا دی: ((عن عائشة قالت کان رسول الله صلى الله عليه وسلم يوتر بثلاث لا يسلم الافى اخرهن))

⑦ امام محمد رحمه الله په موطاء کښې دَ حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا اثر نقل کړې دې "ماأجزأت رکعة قط" طحاوی کښې دَ ابوخالد رحمه الله دا قول نقل کړې شوې دې هغوی فرمائی چه ما دَ ابوالعاليه رحمه الله نه دَ وترو باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائيل چه مونږ ته صحابه خودلی دی او پوهه کړې يو چه وتر دَ ماښام دَ مونځ په شان دی يو دَ ورځې وتر دی او بل دَ شپې وتر دی.

⑧ حافظ ابن عبدالبر رحمه الله تمهيد کښې په صحيح سند سره دَحضرت ابو سعيد خدری رضي الله عنه مرفوع حديث داسې نقل کړې دې: ((ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن البتيراء ان يصلى الرجل واحدة)) (نصب الرايه)

⑨ دَ مشکوة هم په دې صفحه ۱۰۶ باندې دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما روايت هم د دوی مستدل دې. په کوم کښې چه په واضحه توګه دا الفاظ راغلی دی: "ثم اوتر بثلاث" اودا روايت دَمسلم شريف دې.

د احتياط تقاضا: - احتياط هم په دې کښې دې چه درې رکعته اوکړې شی ځکه چه يو رکعت په دريو کښې دې او درې په يو کښې دی. بل ټولو فقهاؤ درې رکعته وتر افضل ګرځولی دی. نو هم په دغه اتفاق او افضل صورت باندې اتفاق کول پکار دی ځکه چه دا خبره په خپل ځائی باندې ثابته ده چه حضورپاک ﷺ دَ يو رکعت مونځ کولو نه منع فرمائيلې ده. غيرمقلدينو له پکار دی چه هغوی دَ فقهاؤ دَ متفقه فيصلې احترام کولوسره دَ يو رکعت وتر ضد پريږدی. لږ شان همت دې اوکړی او وراندې دې شی او درې رکعته وتر دې کوی.

[۱۲۵۵] دشپې په آخر کښې د وتر کولو فضيلت

۳۵۵-(۲)[۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «اَلْوِتْرُ رَكْعَةٌ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ»[1]. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د شپې په آخر کې وتر کول افضل دي او يو رکعت دي، مسلم.

تسهيلات: - **قوله:** اَلْوِتْرُ رَكْعَةٌ:

د يو رکعت وترو کښې تاويل: - دَدې مطلب هم دغه دې چه دوه رکعته اول اداشوی دی کله چه يو رکعت بل ملاؤ کړو نو درې رکعته وترجوړشو. دَ ظاهری الفاظو نه يو خواته دَدې تاويل

[1] اخرجه مسلم كتاب صلاة/باب صلاة الليل مثنى مثنى، والوتر ركعة من آخر الليل (رقم) ۱۵٤ - (۷۵۲)

ضرورت ځکه پیښ شو چه په دې سره په ټولو روایاتو کښې تطبیق پیدا شي. ځکه چه په روایاتو کښې دَ دریو وترو په واضح توګه ذکر راغلې دې. بهرحال دَ وترو مستحب وخت دَ شپې آخری حصه ده.

[۱۲۵۶] دَ پنځه رکعته وترو ثبوت

۱۲۵۶-()[۳] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ② «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، ③ يُوتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ، ④ لَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ إِلَّا فِي آخِرِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د شپې (د تهجد په وخت) ديارلس رکعاته کول ③ چې په هغه کې به پنځو رکعاتو کې به يې وتر کول ④ او په هغه کې سوا داخري رکعت څخه په هيڅ يو کې هم (د تشهد د پاره) به نه کيناستل، بخاري مسلم.

تسهیلات:-

قوله: يُوتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ:

د شوافعو مستدل:- شوافع حضرات دَدې نيغ په نيغه مطلب دا اخلي چه حضورپاک ﷺ به په آخره کښې پنځه رکعته وتر کول. په هغې کښې به يو سلام او آخری قعده وه بس خبره ختمه، په دې روايت کښې نور ډير تاويلات دی. والله اعلم بحقيقة الحال.

دحديث الباب څخه د احنافو جواب:- دَدې جملې مطلب دانه دې چه حضورپاک ﷺ پنځه رکعته وتر اوکړل بلکه دَدې مطلب دادې چه حضورپاک ﷺ ديارلس رکعته په داسې انداز سره اوکړل چه په هره شفعه باندې به تشهد وو بيا به سلام وو او بيا به حضورپاک ﷺ لږ شان آرام او استراحت فرمائيلو. ليکن آخری پنځه رکعته په کوم کښې چه به وتر وو په هغې کښې دَ شفعه کولو نه پس به حضورپاک ﷺ استراحت نه فرمائيلو بلکه دَ سلام ګرځولو نه پس به ئې بغيرد توقف نه درې رکعته وتر کول او په دغه ټولو پنځو رکعتو کښې به حضورپاک ﷺ استراحت نه فرمائيلو.

د حديث محمل:- البته دَ وترو نه پس به ئې دوه رکعته په ناسته کول اوبيا به ئې استراحت فرمائيلو. خلاصه دا چه په دې حديث کښې آخری شفعه کښې دَ تهجد او وترو نقشه اوخودلې شوه اوبيا دې نه پس دوه نفل په ناسته کول او دَاستراحت کولو طرف ته اشاره کړې شوې ده. دا دَدې روايت يو داسې مطلب دې کوم چه دَ احنافو دَمسلك موافق دې ځکه چه دَ احنافو په نيز وتر پنځه رکعته نهٔ بلکه درې دی.

[۱] اخرجه البخاري باب: كيف كان صلاة النبي صلى الله عليه وسلم؟ وكم كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي من الليل؟(رقم-١١٤٠) و مسلم كتاب صلاة/باب صلاة الليل، وعدد ركعات النبي صلى الله عليه وسلم في الليل، وأن الوتر ركعة، وأن الركعة صلاة صحيحة(رقم) ١٢٣ - (٧٣٧) وابوداود كتاب الصلاة/باب في صلاة الليل (رقم-١٣٣٨) والترمذي كتاب الوتر/باب ما جاء في الوتر بخمس (رقم-٤٥٩)

[۱۲۵۷] د نبی علیه السلام تهجد او وتر

۱۲۵۷—(۳)[۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] انْطَلَقْتُ إِلَى عَائِشَةَ، فَقُلْتُ: [۳] يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [۴] قَالَتْ: أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قُلْتُ: بَلَى. [۵] قَالَتْ: فَإِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ. [۶] قُلْتُ: يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِي عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [۷] فَقَالَتْ: كُنَّا نُعِدُّ لَهُ سِوَاكَهُ وَطَهُورَهُ،

ترجمه: [۱] سعد بن هشام فرمایي [۲] چې زه د ام المؤمنین عائشه صدیقه رضي الله عنها په خدمت کې حاضر شوم عرض مي وکړو [۳] چې اي د مؤمنانو مور ماته د حضور ﷺ د اخلاقو په باره کښې وښايه [۴] بي بي عائشي رضي الله عنها وفرمایل آیا تا قرآن نه دي ويلي ما عرض وکړو هو ونیلي م دي [۵] وي فرمایل چې د حضور ﷺ خلق قرآن وو [يعنی په قرآن کريم کې چې څومره اخلاق کریمه او اوصاف حمیده مذکور دي په حضور ﷺ کښې هغه ټول موجود وو لکه چې د حضور ﷺ اخلاقي ژوند د قرآن کريم عملي نمونه وه] [۶] بیا ما عرض وکړو چې اي د مؤمنانو موري د حضور ﷺ د وتر په باره کې ماته وښايه (چې حضور ﷺ به وتر څه وخت او څومره رکعاته کول) [۷] بي بي عائشي رضي الله عنها وفرمایل ما به (د مخکې څخه) د حضور ﷺ مسواك او اوداسه د پاره د اوبو انتظام کولو.

حل اللغات:- ① انْطَلَقْتُ: أَيْ: ذَهَبْتُ: لاړم، ② أَنْبِئِينِي: أَيْ: أَخْبِرِينِي: خبر راکړه ماته، ③ خُلُق: أَيْ أَخْلَاقِهِ وَشَمَائِلِهِ: يعنی اخلاق او صفات (د رسول الله ﷺ) ④ نُعِدُّ: أَيْ نُهَيِّئُ: مونږ به تیارول، ⑤ طَهُورَهُ: أَيْ: مَاءَ وُضُوئِهِ: د اودس اوبه،

[۱] فَيَبْعَثُهُ اللّٰهُ مَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهُ مِنَ اللَّيْلِ، [۲] فَيَتَسَوَّكُ، وَيَتَوَضَّأُ، وَيُصَلِّي تِسْعَ رَكَعَاتٍ، [۳] لَا يَجْلِسُ فِيهَا إِلَّا فِي الثَّامِنَةِ، [۴] فَيَذْكُرُ اللّٰهَ، وَيَحْمَدُهُ، وَيَدْعُوهُ، [۵] ثُمَّ يَنْهَضُ، وَلَا يُسَلِّمُ، [۶] فَيُصَلِّي التَّاسِعَةَ، ثُمَّ يَقْعُدُ، [۷] فَيَذْكُرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ، [۸] ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا، [۹] ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَمَا يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِدٌ، [۱۰] فَتِلْكَ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ، [۱۱] فَلَمَّا أَسَنَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخَذَ اللَّحْمَ،

ترجمه: [۱] او کله چې به الله تعالی جل جلاله غوښتل حضور ﷺ به يي راپاڅولو [۲] د بیداریدو څخه وروسته به يي اول مسواک کولو بیا به يي اودس کولو او نهه رکعاته مونځ به يي کولو [۳] او سوا د اتم رکعت څخه په بل یو رکعت کې به نه کیناستل [۴] اتم رکعت چې به يي وکړو نو (په تشهد کې به) کیناستل او د الله جل جلاله ذکر به يي کولو او د هغه تعریف به يي بیانولو او دعا به يي غوښتله (يعني التحيات به يي ويله چې په هغې کې د الله جل جلاله ذکر، حمد او دعا هر څه شته) [۵] بیا سلام ګرځولو نه بغیر د نهم رکعت کولو د پاره به ودریدلو [۶] بیا نهم رکعت پوره کولو سره (په تشهد کې به) کیناستل [۷] او د الله جل جلاله ذکر به يي کولو د

[۱] اخرجه مسلم كتاب صلاة /باب جامع صلاة الليل، ومن نام عنه أو مرض (رقم) ۱۳۹ - (۷۴۶)

هغه تعریف به يي بيانولو او د هغه څخه به يي دعا غوښتله (يعني التحيات ويلو نه پس چې کومه دعا کيږي هغه به يي کوله)⑧ بيا مونږ ته اورؤلو سره (په اوچت آواز به يي) سلام گرځولو ⑨ بيا سلام ګرځولو څخه وروسته په ناسته دوه رکعاته به يي کول،⑩ اي زما زويه دا ټول يولس رکعاته شو⑪ او کله چې د حضور ﷺ عمر مبارك زيات شو او (د بوډاتوب په وجه) يي په بدن باندې غوښه راغله

حل اللغات:- ⑥ فَيَبْعَثُهُ اللّٰهُ: أَيْ: يُوقِظُهُ: رابيدار به کړوهغه لره الله تعالی. ⑦ يَنْهَضُ: أَيْ: يَقُومُ: اودريدلو به، ⑧ أَسَنَّ: أَيْ: كَبِرَ: عمرمبارك ئې زيات شو، بوډا شو. ⑨ أَخَذَ اللَّحْمَ: په بدن ئې غوښه راغله،

①أَوْتَرَ بِسَبْعٍ، وَصَنَعَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيعِهِ فِي الْأُولَى، ② فَتِلْكَ تِسْعٌ يَا بُنَيَّ. ③ وَكَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَحَبَّ أَنْ يُدَاوِمَ عَلَيْهَا، ④ وَكَانَ إِذَا غَلَبَهُ نَوْمٌ أَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ، ⑤ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً، ⑥ وَلَا أَعْلَمُ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ الْقُرْآنَ كُلَّهُ فِي لَيْلَةٍ، ⑦ وَلَا صَلَّى لَيْلَةً إِلَى الصُّبْحِ، ⑧ وَلَا صَامَ شَهْرًا كَامِلًا غَيْرَ رَمَضَانَ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① نو اوه رکعاته به يي دوترو سره کول او دوه رکعاته به يي د مخکې په شان يعنی په ناسته کول، ② اي زما زويه دا ټول نهه رکعاته شو③ او حضور ﷺ چې به کله يو مونځ کولو نو دا خبره به يي خوښوله چې هغه هميشه کوي ④ او کله چې به ورته خوب زيات راغې يا څه تکليف به پيښ شو چې د هغې په وجه به حضور ﷺ ته په شپه کې پاڅيدل ممکن نه شو⑤ نو د ورځې په اولنې حصه کې (يعني د زوال څخه مخکې) به يي دولس رکعاته کول ⑥ او ما ته نه ده معلومه چې حضور ﷺ کله هم په يوه شپه کې پوره قرآن ويلي وي ⑦ يا تر سحر پورې (شروع د شپې څخه د شپې تر آخر پورې) يي مونځ کړي وي ⑧ اونه حضور ﷺ سوا د رمضان (د روژې مياشت) څخه پوره مياشت روژې نيولې دي. (مسلم)

حل اللغات:- ⑩ يُدَاوِمَ: چه هميشه ئې اوکړی، ⑪ وَجَعٌ: أَيْ: مَرَضٌ أَوْ أَلَمٌ: يعنی بيماری او تکليف.

تسهیلات:-

قوله: لَا يَجْلِسُ فِيهَا إِلَّا فِي الثَّامِنَةِ:

د شوافعو مستدل:- دا روايت هم دَ سابقه روايت په شان دَ شوافع مستدل دي چه په يوسلام سره اته رکعته کول جائزدي.

قوله: ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِدٌ:

د وترو څخه روسته د دوو رکعتونو په حکم کښې مذاهب:-

① امام مالك رحمه الله دَ وترونه پس دوه نفل کولو حديث نه دي قبول کړي.

② حضرت امام احمدبن حنبل رحمه الله فرمائی نه ئې زه پخپله کوم اونه څوك منع کوم.

③ جمهور فقهاء وائی چه دَدې نه انکارنه شي کيدلې ځکه چه دا دوه نفل ثابت دي.

د وترو څخه روسته د نفلو په حکم کښې تعارض:- په دې کښې زبردست بحث شوې دې چه وترونه پس دوه نفل کول څنګه دی. په يوحديث کښې صفاحکم دې چه خپل دَ وترو مونځ دَ شپې آخرى مونځ جوړ کړئى دې نه معلوميږى چه وترونه پس هيڅ مونځ نشته دې. ليکن دلته په دې حديث کښې ذکر دی چه حضورپاک ﷺ په ناسته باندې دوه رکعته دَ وترو نه پس کړى دی؟

د تعارض جوابونه:-

① دواړه طريقې جائزدی کول ئى هم جائز دی اونه کول ئى هم جائزدی. په حديث کښې چه کومه دامر صيغه ده دَهغې حکم استحبابى دې وجوبى نه دې لهذا څه تعارض پاتې نه شو.

② هم دَ ماسخوتن په وخت وتر کولې شى نودا دوه رکعته دَ ولاړې په ځائى په ناسته کول پکاردى ګنى نه دې کول پکار. په دې سره به هم تعارض لرې شى.

خلاصه د بحث:- خلاصه دا چه داخبره ډيره ښکاره اوواضحه ده چه دَدې دوو نفلو دَ کولوخبره هغه وخت ده کله چه وتر دَ ماسخوتن په وخت کښې کولې شى چه دَ شپې په آخرى حصه کښې وتر وى نوبيا به هم وتر آخرى مونځ وى دا يوه ګراه مسئله ده حقيقت هم الله تعالى ته معلوم دې.

قوله: وَلَاصَامَ شَهْرًا كَامِلًا غَيْرَرَمَضَانَ:

اشکال:- يعنى دَ رمضان نه علاوه ئى دَ بلې يوې مياشتې پوره روژې نه دى ساتلى. دَدې حديث دَحضرت عائشه صديقه ﷞ دَهغه حديث سره تعارض دې په کوم کښې چه ذکر دى چه حضورپاک ﷺ دَ شعبان مکمل روژې ساتلې.

د اشکال جواب:- دَ دې جواب هم دَ حضرت عائشه صديقه ﷞ په يوروايت سره کيږى چه حضورپاک ﷺ به اکثر او غالب حصه دَ شعبان په روژو سره تيرولـه نو فللاکثرحکم الکل په رڼرا کښې تعارض نه پاتې کيږى.

[۱۲۵۸] په وترو کښې د تاخير حکم

١٢٥٨ —(١)[٥] ⓵ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ⓶ «اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⓵ ابن عمر ﷠ راوي دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل ⓶ د خپلي شپې د لمانځه آخري مونځ وتر وګرځوئ. (مسلم)

(١) اخرجه البخارى كتاب الجمعة/باب: ليجعل آخر صلاته وترا (رقم٩٩٨) ومسلم كتاب صلاة/باب صلاة الليل مثنى مثنى، والوتر ركعة من آخر الليل (رقم) ١٥١ - (٧٥١)

تسهيلات:-

قوله: اِجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا:

دفرضو په اعتبار سره دوترو حکم:- يعنې دفرض مونځ اعتبار سره وتر په آخر کښې کول پکار دی. آخرى مونځ د وترو پکار دې. ګنې بيا به دوترو څخه روسته د دوؤ رکعتو باره کښې اشکال وی چې آخرى مونځ خو دوه رکعته دې وتر نه دی. ددې حديث په وجه ځينې حضراتو د وتروڅخه روسته د دوؤ رکعتوڅخه انکار کړې دې.

[۱۲۵۹] د صبا څخه وړاندې دوترو کولو جواز

۱۲۵۹-()[۱] [۱] وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [۲] "«بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ابن عمر رضي الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د سحر (اثار ظاهريدو باندې) په وتر کولو کې تلواري کوئ. (مسلم)

حل اللغات:- ① بَادِرُوا الصُّبْحَ: أَيْ: أَسْرِعُوا: جلتی کوئ.

تسهيلات:-

قوله: بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ:

د نبی علیه السلام دوترو ادا کولو مختلف وختونه:- نبی کريم ﷺ به وتر په مختلفو وختونو کښې ادا کول. کله به ئې په اوله شپه کښې او کله په نيمه شپه کښې او کله په آخر الليل کښې تهجدو سره ادا کولو.

[۱۲۶۰] دوتر وختونه

۱۲۶۰-()[۲] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ خَافَ أَنْ لَا يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ أَوَّلَهُ، [۳] وَمَنْ طَمِعَ أَنْ يَقُومَ آخِرَهُ فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ، [۴] فَإِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُودَةٌ، وَذٰلِكَ أَفْضَلُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي ته چې د دې خبرې خوف وي چې د شپې په آخر کې به وتر کولو د پاره نشم پاڅيدلي نو هغه ته پکار دي چې هغه د شپې په شروع کې (يعني د ماسخوتن څخه وروسته) وتر وکړي [۳] او د کوم سړي چې په آخري شپه کې د ودريدو اميد وي نو هغه دي د شپې په آخر کې وتر وکړي [۴] ځکه چې د شپې آخر مونځ مشهوده دي (يعني دا وخت د رحمت د فرښتو او د انوارو او

---

[1] اخرجه مسلم كتاب صلاة/باب صلاة الليل مثنى مثنى، والوتر ركعة من آخر الليل (رقم) ۱۴۹ - (۷۵۰) والترمذى كتاب الوتر/باب ما جاء فى مبادرة الصبح بالوتر (رقم-۴۶۷)

[2] اخرجه مسلم فى كتاب صلاة/باب من خاف أن لا يقوم من آخر الليل فليوتر أوله (رقم-۱۶۲ - (۷۵۵) والترمذى كتاب الوتر/باب ما جاء فى كراهية النوم قبل الوتر (رقم-۴۵۵) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى الوتر آخر الليل (رقم-۱۱۸۷) ومالك فى كتاب صلاة الليل ، باب الأمر بالوتر(رقم-۱۸)

برکاتو نزول کیږي) او دا (یعني د شپې په آخر کې مونځ کول) افضل دي. (مسلم)

حل اللغات:- ① طَمِعَ: طمع او اطمینان ئې وی (چه په آخره شپه کښې به راپاسی). ② مَشْهُودَةٌ: أَيْ: مَحْضُورَةٌ تَحْضُرُهَا مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ: حاضریږی ورته فرشتې دشپې والاو د ورځې والا.

تسهیلات:-

قوله: فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ:

د شپې په آخری حصه کښې د وتر کولو فائدې:-

① دَ شپې په آخری حصه کښې پاسیدل پخپله یوریاضت اوعبادت دې

② بیاخیټه خالی وی نو په عبادت کښې مشکل نه وی بلکه زړه ورسره لګی

③ بیا یوشان والی یعنی یوازې والې وی اودَالله تعالی دَ انواراتو او برکاتو نزول کیږی.

د دین په کارونو کښې د مشغولو خلقو دپاره د دوؤ رکعتونو حکم:- په دې وجه ارشاد اوشو که دَ چا په اول شپه کښې یقین وی چه هغه په آخری حصه دَ شپې کښې پاسیدې شی نوهغه له پکاردی چه وتر روستواوکړی دې دَپاره چه دَهغه وخت فضائل حاصل شی. یا که څوك علمی کارکوی طالب علم وی مطالعه اوتکرار کوی او دَ ناوخته پورې په تحریر اوتقریرکښې مشغول وی نوهغه دې ماسخوتن وتراوکړی اوده دې شی. لکه څنګه چه دَ راتلونکی حضرت ابوهریره ﷺ دَ روایت مطلب هم دغه دې. شیخ عبدالحق ﷫ لیکی چه طالب علم دې دَ ماسخوتن په وخت دوه رکعته نفل اوکړی دا ثوابَ به ورته حاصل شی.[اشعة المعات: ۵۷۲]

[۱۲۶۱] د نبی علیه السلام وتر

۱۲۶۱-(۸)[۱] [۱]وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲]«مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ أَوْتَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، [۳] مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ وَأَوْسَطِهِ وَآخِرِهِ، [۴] وَانْتَهَى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ام المؤمنین بي بي عائشه صدیقه ﷺ فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ د شپې په هره حصه کې وتر مونځ کړي دي [۳] یعنی د شپې په ابتدا کې هم (یعني د ماسخوتن د لمانځه څخه سمدستي وروسته) د شپې په مینځني حصه کې هم او د شپې په آخر کې هم [۴] خو په آخر عمر کې حضور ﷺ د وتر د پاره سحر ته نزدې وخت یعنی د شپې شپږمه حصه مقرر کړي وه. (بخاري، مسلم)

[۱] اخرجه البخاری کتاب الجمعة/باب ساعات الوتر (رقم-۹۹۶) ومسلم کتاب صلاة/باب صلاة اللیل، وعدد رکعات النبی صلی الله علیه وسلم فی اللیل، وأن الوتر رکعة، وأن الرکعة صلاة صحیحة(رقم) ۱۳۷ - (۷۴۵) والترمذی کتاب الوتر/باب ما جاء فی الوتر من أول اللیل وآخره (رقم-۴۵۶) والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/باب وقت الوتر (رقم-۱۶۸۱)وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی الوتر آخر اللیل (رقم-۱۱۸۶)

تسهیلات:-

نوټ:- د حدیث مفهوم د ترجمې څخه واضح او ښکاره دې. تشریح ته ضرورت نشته.

[۱۲۶۲] ابوهریره ﷺ ته د درې خبرو وصیت

۱۲۶۲-(۱)[۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ: [۳] صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، [۴] وَرَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، [۵] وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] ابوهریره رضی الله عنه فرمایي [۲] چې زما دوست یعنی رسول الله ﷺ ماته د درېو خبرو وصیت کړې وو [۳] ① اول یو خو په هره میاشت کې د درېو روژو نیولو [۴] ② دویم دوه رکعاته د څاښت لمانځه کولو [۵] ③ درېیم دا چې د اوده کېدو څخه مخکې وتر وکړم. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① أَوْصَانِي: أَيْ: عَهِدَ إِلَيَّ وَأَمَرَنِي أَمْرًا مُؤَكَّدًا: زما نه ئې لوظ اخستې دې یا دا چه په تاکید سره ئې راته حکم کړې دې. ② خَلِيلِي: يَعْنِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: دوست زما یعنی رسول الله ﷺ.

تسهیلات:- قوله: أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ:

ابوهریره ته درې وصیتونه:-

① هره میاشت د درېو روژو نه مراد یا خود هرې عشرې په آخر کښې یوه روژه ده. یا د ایام بیض روژې ، دیارلسمه ، څوارلسمه او پنځلسمه روژې مراد دی. هم دا راجح دی. څکه نبی کریم ﷺ به هم په دې ورځو کښې روژې نیولې.

② د څاښت دوه رکعته مونځ.

③ د اودهٔ کېدو څخه وړاندې وتر کول.

ابوهریره رضی الله عنه ته د خوب څخه وړاندې د وتر کولو وجه:- حضرت ابوهریره رضی الله عنه به زیات تر وخت د احادیثو په حفظ کولو کښې تیرولو. او ناواخته به اودهٔ کېدل په دې وجه ئې هغوئ ته حکم ورکړو چې هسې نه د خوب د غلبې په وجه اوده پاتې شي او وتر درنه پاتې شي.

طالبانو دپاره د وتر ادا کولو حکم:- د دې نه معلومه شوه چې دینی طلباء دپاره دا بهتر ده چې د شپې ناوخته پورې په تعلیم کښې مشغول اوسی محنت کوی او د اوده کیدو څخه وړاندې وتر ادا کوی. د هغوئ سبق یادول د وترو څخه زیات افضل دی.

---

[۱] اخرجه البخاري كتاب الجمعة/باب صلاة الضحى في الحضر قاله عتبان بن مالك. عن النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۱۷۸) ومسلم كتاب صلاة/باب استحباب صلاة الضحى. وأن أقلها ركعتان. وأكملها ثمان ركعات. وأوسطها أربع ركعات. أو ست. والحث على المحافظة عليها (رقم-۸۵ - (۷۲۱) وابوداود كتاب الطهارة/باب في الجنب يؤخر الغسل (رقم-۲۲۶)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۲۶۲] د وترو ادا کولو په وخت کښې د نبی علیه السلام معمول

۱۲۶۳—(۱) [۱۰] [۱] عَنْ غُضَيْفِ بْنِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «قُلْتُ لِعَائِشَةَ: أَرَأَيْتِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ أَمْ فِي آخِرِهِ؟ [۳] قَالَتْ، رُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ [۴] وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي آخِرِهِ. [۵] قُلْتُ: اللّٰهُ أَكْبَرُ، الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً، [۶] قُلْتُ: كَانَ يُوتِرُ أَوَّلَ اللَّيْلِ أَمْ فِي آخِرِهِ؟ [۷] قَالَتْ: رُبَّمَا أَوْتَرَ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ، [۸] وَرُبَّمَا أَوْتَرَ فِي آخِرِهِ.

ترجمه: [۱] غضيف ابن حارث فرمايي [۲] چې ما د بي بي عائشي رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې حضور ﷺ به د جنابت (لويي بې اودسي) غسل د شپې په شروع کې کولو يا د شپې په آخر کې (يعني حضور ﷺ به د جماع څخه فارغيدو نه پس لامبل يا هغه وخت به اوده کيدو او کله چې به د تهجد د لمانځه د پاره پاځيدلو نو لامبل به ئې؟ [۳] بي بي عائشي رضي الله عنها وفرمايل کله خو به حضور ﷺ د جماع د فارغيدو سره د شپې په شروع کې لامبل [۴] او کله به يي په آخر کې غسل کولو [۵] ما اوويل الله جل جلاله ډير لوي دي ټول تعريفونه د الله جل جلاله د پاره لائق دي چې په ديني امورو کې يي آساني کړڅولي ده [۶] بيا مې ځيني پوښتنه وکړه چې حضور ﷺ به وتر مونځ د شپې په شروع کې (د ماسخوتن څخه سمدستي وروسته) کولو يا د شپې په آخر کې به يي کولو؟ [۷] بي بي عائشي رضي الله عنها وفرمايل چې کله به يي د شپې په شروع کې کول [۸] او کله به يي د شپې په آخر کې کول.

حل اللغات:- (۱) رُبَّمَا: کله کله

[۱] قُلْتُ: اللّٰهُ أَكْبَرُ، الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً، [۲] قُلْتُ: كَانَ يَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَخْفِتُ؟ [۳] قَالَتْ: رُبَّمَا جَهَرَ بِهِ، وَرُبَّمَا خَفَتَ. [۴] قُلْتُ: اللّٰهُ أَكْبَرُ، الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، [۵] وَرَوَى ابْنُ مَاجَهُ الْفَصْلَ الْأَخِيرَ.

ترجمه: [۱] ما اوويل الله جل جلاله ډير لوي دي ټول تعريفونه د الله جل جلاله د پاره لائق دي چا چې په ديني امورو کې آساني پيدا کړي ده [۲] بيا مي پوښتنه ځيني وکړه چې حضور ﷺ به د تهجد په لمانځه کې يا مطلقًا په لمانځه کې قراءت په اوچت آواز سره کولو يا په ښکته آواز سره؟ [۳] بي بي عائشي رضي الله عنها مبارکې وفرمايل چې کله خو به يې په اوچت آواز سره قراءت کولو او کله په ښکته آواز سره [۴] ما اوويل الله جل جلاله ډير لوي دي ټول تعريفونه د الله جل جلاله د پاره مناسب دي چې هغه په ديني امورو کې آساني وګرځوله، ابوداؤد، [۵] ابن ماجه ددې روايت حرف آخري فقره (چې په هغې کې د قراءت کولو ذکر دي) نقل کړي ده.

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الطهارة/باب فی الجنب یؤخر الغسل (رقم- ۲۲۶) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی القراءة فی صلاة اللیل (رقم-۱۳۵۴)

حل اللغات:- ② سَعَةً: أيْ وُسْعَةً: فراخي، آسانتیا. ③ أمْ يُخَافِتُ؟: أيْ: يُسِرُّبِهَا: یا پټ به ئې ونیلو (قراءت)؟.

تسهیلات:-

قوله: رُبَّمَا جَهَرَبِهِ، وَرُبَّمَا خَفَتَ:

په تهجدو کښې د قرآءت په سراً اوجهراً ئيلو کښې قاعده:- د رسول کریم ﷺ د شپې په اوله حصه کښې تهجد کول د امت د آسانتیادپاره وو.ددې وجه دا وه چې ګنې حضور ﷺ ته په رابیداریدو بهروسه نه وه.که یو ځائې کښې خلق رابیداړول وی نو هلته په اوچت آواز سره تلاوت کول پکار دی.او کوم ځائې کښې چې ملاستو خلقو ته تکلیف رسولوځخه پرهیزکول وی نو تلاوت دې په کم آواز سره اوکړې شي .

[۱۲٦٤] د تهجد مونځ او د وترو رکعتونو شمار

۱۲٦۴-()[۱۱] ①وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ②«سَأَلْتُ عَائِشَةَ: بِكَمْ كَانَ رَسُولُ اللهِ يُوتِرُ؟ ③قَالَتْ: كَانَ يُوتِرُ بِأَرْبَعٍ وَثَلَاثٍ، وَسِتٍّ وَثَلَاثٍ، ④وَثَمَانٍ وَثَلَاثٍ، وَعَشْرٍ وَثَلَاثٍ، ⑤وَلَمْ يَكُنْ يُوتِرُ بِأَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ، ⑥وَلَا بِأَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ

ترجمه:① عبدالله بن ابي قيس فرمايي② چې ما د بي بي عائشې رضي الله عنها ځخه پوښتنه وکړه چې حضور ﷺ به څور رکعاته سره وتر کول؟③ بي بي عائشې رضي الله عنها وفرمايل چې حضور ﷺ به کله د څلور او دريو (يعني اوه)، کله د شپږو او دريو (يعني نهه) رکعاتو سره ④ کله د اتو او دريو (يعني يولس) رکعاتو سره او کله د لسو او دريو (يعني ديارلس) رکعاتو سره وتر کول ⑤ او حضور ﷺ به د اوو ۷ ځخه کم هيڅ کله وتر نه کول ⑥ او د ديارلس ۱۳ ځخه زيات رکعاتونو سره به يې هم وتر نه کول. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أَنْقَصَ: کم،

تسهیلات:-

قوله: بِأَرْبَعٍ وَثَلَاثٍ:

د نبی کریم د قیام اللیل د رکعتونو په تعداد کښې مختلف کیفیتونه:-

① حضورپاک ﷺ به څلورر کعته تهجداو درې وتر کول. دَ کوم مجموعه چه اووه رکعته ده.

② کله به ئې شپږ تهجد او درې وتر کول دکوم مجموعه چه نهه رکعته جوړيږی.

③ کله به ئې اته تهجد او درې وتر کول چه يوولس رکعته جوړيږی.

④ کله به ئې لس رکعته تهجد او درې رکعته وتر کول دَ کوم مجموعه چه ديارلس جوړيږی.

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی صلاة اللیل (رقم-۱۳۶۲)

په وترو کښې د احنافو مؤید حدیث: - حضرت عائشه رضي الله عنها چه په کوم اهتمام سره درې وتر جدا ذکر کړی دی دا دَدې خبرې واضح دلیل دې چه وتر هم درې رکعته دی.

په تهجدو کښې د نبی کریم عام معمول: - په آخره کښې حضرت عائشه رضي الله عنها دَ حضورپاک ﷺ عام عادت بیان کړې چه په عمومی توګه په حضورپاک ﷺ دَ اووه نه کم او دَ دیارلسونه زیات وتر یعنی تهجداو وتر دواړه نه کول. دلته دَ وتر اطلاق په تهجدباندې هم شوې دې اوداحصر دَعمومی حالاتو په اعتبارسره دې ګنی پنځه رکعته او پنځلس هم ثابت دی مګر هغه معمول کم وو.

[۱۲٦۵] دوترو وجوب

۱۲٦۵ - (۱) [۱۲] [۱] وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«الْوِتْرُ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، [۳] فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ، [۴] وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ، [۵] وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] ابو ایوب رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] وتر مونځ په هر مسلمان باندې حق (لازم) دې [۳] کوم سړي چې وتر پنځه رکعاته کول غواړي هغه دې پنځه وکړي [۴] او کوم سړي چې درې رکعاته کول غواړي هغه دې درې وکړي [۵] او کوم سړي چې یو رکعت کول غواړي هغه دې یو وکړي. (ابوداؤد، نسایي، ابن ماجه)

تسهیلات: -

قوله: الْوِتْرُ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ:

دوترو دوجوب دلیل: - په دې حدیث سره دَ وترو واجب کیدل په واضحه توګه ښکاره شوی دی بیا دَ وترو دَ دریو پنځو او یو رکعت ذکر دې.

چنانچه سفیان ثوری رحمه الله پنځه رکعته اخستی دی دلته شوافع یو رکعت اخستي دې او احنافو درې رکعته اخستې دی دغه شان دَ حضورپاک ﷺ هیڅ یو قول په زمکه غورزیدو ته نه دې پریخودې.

[۱۲٦٦] دوترو فضیلت

۱۲٦٦ - (۲) [۱۳] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِنَّ اللّٰهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ، [۳] فَأَوْتِرُوا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

---

[۱] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی صلاة اللیل (رقم-۱۳٦۲) کتاب الصلاة،باب کم الوتر؟ (رقم-۱٤۲۲)

[۲] اخرجه البخاری کتاب الرقاق/باب: لله مائة اسم غیر واحد (رقم-٦٤۱۰) ومسلم کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب فی أسماء الله تعالی وفضل من أحصاها (رقم-۵ - (۲٦۷۷) وابوداود کتاب الصلاة،باب استحباب الوتر (رقم-۱٤۱٦) والترمذی کتاب الوتر/باب ما جاء أن الوتر لیس بحتم (رقم-٤۵۳) والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/باب الأمر بالوتر (رقم-۱٦۷۵) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی الوتر (رقم-۱۱٦۹)

ترجمه: [۱] اميـر الـمـؤمنين حـضرت علـي كـرم الله وجهـه راوي دي چـي رسـول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ وتر (يكي يو) دي وتر خوښوي [۳] نو اي د قرآن والو وتـر كـوي، (ترمذي، ابو داؤد، نسـايي)

حل اللغات:- ① إِنَّ اللهَ وِتْرٌ: أَيْ وَاحِدٌ فِي ذَاتِهِ: يعنى الله تعالى په خپل ذات كښې او خپلو صفاتو كښې خان له دې دَ هغه څوك مثل، شريك او نظير نشته.

تسهيلات:-

قوله: إِنَّ اللهَ وَتْرٌ يُحِبُّ الْوَتْرَ:

د الله تعالى په حق كښې د وتر مفهوم:- الله تعـالى پـه خپلـو افعـالو كـښې هـم يـوازې دي دَهغه څوك امدادي نشته. هغه طاق عدد خوښوى او وتر هم طاق دى. په دې وجه الله تعالى وتر خوښوى اودَ دې اداكونكى ته ډير زيات ثواب وركوى. دَ اهل قرآن نه مراد توحيد او اهل ايمان مسلمانان دى.

[۱۲۶۷] د سرو اوښانو څخه د وترو افضليت

۱۲۶۷-() [۱۳] [۱] وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ حُذَافَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: [۳] «إِنَّ اللهَ أَمَدَّكُمْ بِصَلَاةٍ هِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ: [۴] الْوِتْرُ جَعَلَهُ اللهُ لَكُمْ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى أَنْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] خارجه بـن حذافـه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمـايي [۲] چـې (يـو ځـل) حـضور ﷺ مـونږ لـره تـشريف راوړو او وي فرمايـل [۳] الله جـل شـانه پـه يـو (داسـي) لمانځـه سره ستاسـو امـداد كـړي دي (يعني د پنځه وخته لمونځونو څخه علاوه يو بل زياتي مـونځ يـي تاسـو تـه دركـړي دي) چـي ستاسو د پاره د سرو اوښانو څخه بهتر دي [۴] او هغـه وتـر مـونځ دي او ستاسـو د پـاره د دي مونځ وخت د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته تر فجر ختو پورې د مينځ وخت مقرر كړي دي (يعني د دې وخـت د دې وختونـو پـه مينـځ مينـځ كـې دي كلـه چـې غـواړي وي كـړي) (ترمذي، ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أَمَدَّكُمْ: أَيْ: جَعَلَهَا زِيَادَةً لَكُمْ: امداد كوى يعنى زياتوى ستاسو دپاره. ② حُمْرِ: د أَحْمَر جمع ده، سور رنگ ته وائى. ③ النَّعَمِ: أَيِ الْإِبِلُ: اوښانو ته وائى.

تسهيلات:-

قوله: هِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ:

د سرو اوښانو ذكر كولو وجه:- دَعربو په نيز سره اوښان ډير خوښولي او ښه گڼرلي شي. اودَ عربو په اموالو كښې دَ ټولو نه زيات قيمتى وى. په دې وجه حضورپاك ﷺ دَوترو ترغيب

[۱] اخرجه ابوداود فيكتاب الصلاة،باب استحباب الوتر (رقم-۱۴۱۸) والترمذى كتاب الوتر/باب ما جاء فى فضل الوتر (رقم-۴۵۲) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى الوتر (رقم-۱۱۶۸)

ورکولو کښې دَ دغه اوښانو ذکر اوفرمائیلو. په دې حدیث کښې دا هم اوخودلې شو چه وتر دَ ماسخوتن دَ مونځ تابع دی. لهذا دَ ماسخوتن دَ مونځ نه مخکښې نه شي ادا کیدلې.

[۱۲۶۸] دوتر د قضاء حکم

۱۲۶۸ —()[۱۵]① وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:② " «مَنْ نَامَ عَنْ وَتْرِهِ فَلْيُصَلِّ إِذَا أَصْبَحَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه:① زید بن اسلم رَحِمَهُ اللّٰهُ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل② کوم سړي چې د وتر څخه غافل کیدو سره (یعني د وتر کولو څخه بغیر) اوده شي نو هغه ته پکار دي چې کله سحر شي نو ودي کړي دا روایت ترمذي بطریق ارسال نقل کړي دي.

تسهیلات:-

قوله: فَلْيُصَلِّ إِذَا أَصْبَحَ:

دوترو د قضاء راوړلو په وخت کښې دوه اقوال:-

① ددې قضاء به د نمبر خاته څخه وړاندې وړاندې وی،

② د سحر د مونځ نه پس هم کیدې شی.

[۱۲۶۹] په وترو کښې مسنون قراءت

۱۲۶۹ —()[۱۶]① وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ:② «سَأَلْنَا عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يُوتِرُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟③ قَالَتْ: " كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى بِـ ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ [الأعلى: ۱] وَفِي الثَّانِيَةِ بِـ ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ [الكافرون: ۱] وَفِي الثَّالِثَةِ بِـ ﴿قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ۱] وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:① عبدالعزیز بن جریج رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي② چې مونږ د بي بي عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا څخه پوښتنه وکړه چې حضور ﷺ به په وترو کښې کوم کوم سورتونه ویل؟③ بي بي عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وفرمایل حضور ﷺ به په اولني رکعت کې سبح اسم ربك الاعلى په دویم رکعت کې قل یا ایها الکافرون او په دریم رکعت کې قل هو الله احد، قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس ویل، (ترمذي، ابوداؤد)

تسهیلات:- قوله: كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى:

دوترو دري رکعته کیدو دلیل:- دَ حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دَدې تصریح او وضاحت نه پس په دې خبره کښې یو ذره شك نه پاتې کیږي چه وتر درې رکعته دی. حضرت عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا دَهر

[1]) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة/باب في الدعاء بعد الوتر (رقم-۱۴۳۱) والترمذي كتاب الوتر/باب ما جاء في الرجل ينام عن الوتر. أو ينساه (رقم-۴۶۶)

[2]) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة،باب ما يقرأ في الوتر (رقم-۱۴۲۳) والترمذي كتاب الوتر/باب ما جاء ما يقرأ في الوتر (رقم-۴۶۳)وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فيما يقرأ في الوتر (رقم-۱۱۷۳)

دريو ركعتو نه جدا جدا دَ يو يو ركعت نوم واخستو او په هر ركعت كښې لوستونكې سورت نوم ئې واخستلو او دغه شان تسلسل سره دَ دريو ركعاتو بيان ئې اوكړو. په كوم سره چه هر اوريدونكې پوهيږي چه وتر دري ركعاته دي او په مينځ كښې هيڅ سلام نشته دي اوهم دغه دَ احنافو مسلك دي.

۱۲۷۰-( )[۰][۱] وَرَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزَى.

ترجمه: [۱] او امام نسائي دعبدالرحمن بن ابزى څخه دا روايت نقل كړي دي.

۱۲۷۱-( )[۰][۱] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ.

ترجمه: [۱] او دا روايت امام احمد رحمه الله د حضرت ابي بن كعب رضي الله عنه څخه نقل كړي دي.

۱۲۷۲-( )[۰][۱] وَالدَّارِمِيُّ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، [۲] وَلَمْ يَذْكُرَا: "وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ".

ترجمه: [۱] او امام دارمي رحمه الله د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل كړي دي [۲] خو امام دارمي رحمه الله په خپل روايت كې د لفظ معوذتين ذكر نه دي كړي يعني هغه محض دا نقل كړي دي چې حضور ﷺ به د وترو په دريم ركعت كې يوازي قل هو الله ويلو.

[۱۲۷۳] د وترو مسنون دعا

۱۲۷۳-( )[۱۷][۱] وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] عَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَاتٍ أَقُولُهُنَّ فِي قُنُوتِ الْوِتْرِ: [۳] «اللّٰهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، [۴] وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، [۵] وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، [۶] وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، [۷] وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ، [۸] فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، [۹] إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، [۱۰] تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَه، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت حسن بن علي رضي الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ ماته څو كلمات ښودلي دي چې زه هغه د وترو په دعاء قنوت كې اووايم [۳] او هغه كلمات د دعا دا دي: اللّٰهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ، (اي الله ماته هدايت وكړي د هغه خلقو سره (يعني د انبياء او اولياء سره) چې هغوئ ته تا هدايت وكړو [۴] ما د دنيا او د آخرت د مصيبتونو څخه بچ كړي د هغه خلقو سره چې تا هغه بچ كړل [۵] او زما سره محبت وكړي د هغه خلقو سره چې د هغه سره تا محبت وكړو [۶] او څه چې تا ماته راكړي دي (يعني

[۱] اخرجه النسائي كتاب قيام الليل وتطوع النهار/نوع آخر من القراءة في الوتر (۱۷۳۱) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة والسنة فيها/باب ما جاء فيما يقرأ في الوتر (رقم-۱۱۷۱)

[۲] كتاب الصلاة/باب كم الوتر(رقم-۱۶۲۷)

[۳] اخرجه الدارمي كتاب الصلاة/باب كم الوتر(۱۶۲۷)

[۴] اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة،باب القنوت في الوتر (رقم-۱۴۲۵) والترمذي كتاب الوتر/باب ما جاء في القنوت في الوتر (رقم-۴۶۴) والنسائي كتاب قيام الليل وتطوع النهار/باب الدعاء في الوتر (رقم-۱۷۴۵)

عمر، علم، مال او نيك اعمال، په هغه كې بركت عطا كړې⑦ او ما د هغه د بديو (خرابو) څخه بچ كړې چې په مقدر كې دي⑧ بيشكه ته چې څه غواړې هغه حكم كوې او تا ته هيڅوك هم حكم نشي كولې (يعني ته حاكم مطلق يې محكوم نه يې)⑨ او څوك چې ته دوست لرې هغه ذليل كيدې نشي⑩ اې زمونږ ربه ته با بركته يې (يعني په دارينو باندې ستا خير محيط دي) او ستا ذات بلند اوبرتر دي. (ترمذي،ابوداؤد ،نسايي،ابن ماجه،دارمي)

حل اللغات: - ① قُنُوتِ الْوِتْرِ: د وتر مونځ دعا ، دعاء قنوت. ② اهْدِنِي: أَيْ: ثَبِّتْنِي عَلَى الْهِدَايَةِ: مضبوط كړې ما په هدايت باندې، يا زيات كړې ما لره اسباب دهدايت، ③ عَافِنِي: أَيْ: مِنْ أَسْوَإِ الْأَدْوَاءِ: عافيت راكړې ماته، بچ كړې ما (د بدو او رذيل اخلاقونه). ④ تَوَلَّنِي: أَيْ تَوَلَّ أَمْرِي: واروې ما، اوګرځوې ما يا كار زما ، ⑤ قِنِي: أَيْ: احْفَظْنِي: حفاظت اوكړې زما ، ⑥ تَقْضِي: أَيْ: تُقَدِّرُ أَوْ تَحْكُمُ: ته فيصله كوې، حكم كوې، ⑦ لَا يَذِلُّ: أَيْ لَا يَصِيرُ ذَلِيلًا: نه ذليله كيږي، ⑧ تَعَالَيْتَ: أَيْ: ارْتَفَعَ عَظَمَتُكَ: ستا شان ډير لوئې دې. ته ډير لوئې ئې.

تسهيلات: -

قوله: أَقُولُهُنَّ فِي قُنُوتِ الْوِتْرِ:

د وخت په اعتبار سره د دعاء قنوت په زمان كښې مذاهب: -

① دَ شوافعو په نيز دَ نصف رمضان نه پس وي او ټول كال كښې دَ سحر په مونځ كښې وي.

② احناف په ټول كال كښې جدا جدا او په رمضان كښې په جمع سره په وترو كښې دعاء قنوت وائي.

د دعاء قنوت په كلماتو كښې مذاهب: -

① شوافع هم دغه دعا كوي كومه چه پورته په حديث كښې ذكر دې.

② احنافو په وترو كښې دا دعا لولي. "اللهم انا نستعينك ونستغفرك ونؤمن بك ونتوكل عليك ونثني عليك الخير ونشكرك ولا نكفرك ونخلع ونترك من يفجرك اللهم اياك نعبد ولك نصلي ونسجد واليك نسعى ونحفد ونرجو رحمتك ونخشى عذابك ان عذابك بالكفار ملحق" (رواه ابوداؤد في مراسيله بتغير يسير)

ابوداؤد دغه پورتنئ دعا قنوت په خپل مراسيل كښې نقل كړې دې دَ يو دوو الفاظو نه علاوه هم دغه دعا هلته موجود ده لهذا دا وينا كول غلط دي چه دا دعا ثابته نه ده. دَحرمين شريفين ائمه كله كله دا دعا هم وائي نو احناف خوشحاليږي.

ددعاء قنوت په محل كښې مذاهب: -

① د شوافعو په نيز د دعاء قنوت طريقه دا ده چې دَ آخرى ركعت دَ قرأت نه فارغيدو سره په قومه كښې دعا غواړي مګر په اوچت آواز سره ئې غواړي. نن صبا په پوره رمضان كښې دا دعا په اوچت آواز سره غوښتلې شي.

④ د احنافو په نیز د وترو آخری رکعت کښې د قرأت نه پس رکوع ته د تلو نه مخکښې دواړه لاسونو ترغوږونو پورې اوچتولو سره بیا په نوم باندې ترلو سره په مزه دا دعا غواړي.

[۱۲۷٤] د وترو د سلام څخه وروسته تسبیح ویلیل

۱۲۷۳-(۱)[۱۸] ۱ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ فِي الْوِتْرِ قَالَ: ۳ "سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ"». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ، ۴ وَزَادَ: ثَلَاثَ مَرَّاتٍ يُطِيلُ فِي آخِرِهِنَّ.

ترجمه: ۱ ابي بن کعب رضي الله عنه فرمايي ۲ چې رسول الله ﷺ به په وتر لمانځه کې سلام وګرځوي نو دا کلمات به يې ويل: ۳ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ (يعني پاك دى بادشاه نهايت پاك) ابوداؤد نسايي، ۴ نسايي رحمه الله دا الفاظ هم نقل کړي دي چې حضور ﷺ به دا تسبيح درې ځله ويله او په دريم ځل به يې په اوچت آواز سره ويله.

حل اللغات:- ① سُبْحَانَ: پاک دې (دهر ناقص صفت نه). ② الْمَلِكِ: بادشاه دې، ③ الْقُدُّوسِ: په وزن د فعول د مبالغې صيغه ده، ډير پاک ذات دې (د هرقسم نقص او عيب نه).

۱۲۷۵-(۲)[۰] ۱ وَفِي رِوَايَةٍ لِلنَّسَائِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: ۲ «كَانَ يَقُولُ إِذَا سَلَّمَ: "سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ" ثَلَاثًا، ۳ وَيَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالثَّالِثَةِ».

ترجمه: ۱ او نسايي رحمه الله يو روايت د عبدالرحمن ابن ابزي څخه نقل کړي دي چې په هغې کې هغه (عبدالرحمن) د خپل پلار بزرګوار څخه نقل کولو سره وايي ۲ چې حضور ﷺ چې به سلام وګرځولو نو درې ځله به يې سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ ويل ۳ او په دريم ځل به يې په اوچت آواز سره ويل.

تسهيلات:-

نوټ:- د وترو په سلام ګرځولو مذکوره تسبيح ويل سنت دى خو افسوس زمونږ په معاشره کښې دا سنت متروک دې. امامانو او مقتديانو پريخودې دي. که څوک ئې ژوندې کړي!

[۱۲۷٦] په وترو کښې مسنون دعا

۱۲۷٦-(۳)[۱۹] ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ۲ «إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي آخِرِ وِتْرِهِ: ۳ "اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، ۴ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، ۵ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ، ۶ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ، ۷ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ"». رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة/باب فی الدعاء بعد الوتر (رقم-۱٤۳۰) والنسائی کتاب قيام الليل وتطوع النهار/التسبيح بعد الفراغ من الوتر وذكر الاختلاف على سفيان فيه (رقم-۱۷۵۱)

[2] اخرجه النسائی کتاب قيام الليل وتطوع النهار/نذكر الاختلاف على شعبة فيه (رقم-۱۷۳۳)

[3] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب القنوت فی الوتر (رقم-۱٤۲۷) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی القنوت فی الوتر (رقم-۱۱۷۹)

ترجمه: ① حضرت علي كرم الله وجهه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به دوتر لمانځه په آخر كې دا دعا كوله: ③ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ، (اي الله زه پناه غوارم ستا د رضا په ذريعه ستا د غضب څخه ④ او ستا د عافيت په ذريعه ستا د عذاب څخه ⑤ او زه پناه غوارم ستا د ذات په ذريعه تا نه (يعني ستا د غضب او غصي څخه) ⑥ (په ما كې طاقت نشته چې ستا تعريف وكړي شم څكه چې) ستا د تعريف شمير نشته ⑦ ته هغسي يې څنګه چې تا خپل تعريف په خپله كړي دي، (ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① بِرِضَاكَ: ستا د رضا په ذريعه، ② سَخَطِكَ: ستا د غضب او د غصي نه، ③ بِمُعَافَاتِكَ: ستا د عافيت په ذريعه، ④ عُقُوبَتِكَ: ستا د عذاب نه، ⑤ لَا أُحْصِي: أَيْ: لَا أُطِيقُهُ وَلَا أَبْلُغُهُ حَصْرًا وَعَدَدًا: په ماكښې طاقت نشته د شميرلو او راګيرولو، ⑥ ثَنَاءً: د تعريف كولو.

تسهيلات: -

د دعاء قنوت په تخصيص كښې دوه مذاهب: -

① علامه ابن همام رحمه الله فرمائي چه دَ علماؤ يوه طبقه دې طرف ته تلې ده چه په دعاء قنوت كښې څه خاص دعا باندې انحصار نه دى كول پكار. بلكه مختلف دعاګانې وئيل پكار دى دې دَپاره چه په زړه اودماغو باندې دَدعاګانې نوې اثر پريوځى او صرف دَ ژبې خوزولو او دَ زړه غافل كيدو پورې دَ دعا عادت نه دى اچول پكار. لهذا معروف دعاء قنوت خاص معمول نه دى جوړول پكار.

② دَ علماؤ دويمه طبقه دا وائى چه معروف دعاء قنوت معمول جوړول منع نه دى. البته دَدې نه علاوه نورې دعاګانې په خاص توګه معمول جوړول منع دى څكه چه صحابه كرامو هم دغه معروف دعاء قنوت معمول جوړولو سره وئيله بل څه نور ئې خاص معمول نه وو جوړ كړې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۲۷۷] د حضرت معاويه رضي الله عنه يو ركعت وتر كول

۱۲۷۷ - (۱) [۲۰] ① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، قِيلَ لَهُ: ② هَلْ لَكَ فِي أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ مُعَاوِيَةَ مَا أَوْتَرَ إِلَّا بِوَاحِدَةٍ؟ ③ قَالَ: أَصَابَ، إِنَّهُ فَقِيهٌ. ④ وَفِي رِوَايَةٍ: قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ: ⑤ أَوْتَرَ مُعَاوِيَةُ بَعْدَ الْعِشَاءِ بِرَكْعَةٍ، ⑥ وَعِنْدَهُ مَوْلًى لِابْنِ عَبَّاسٍ، ⑦ فَأَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ فَأَخْبَرَهُ ⑧ فَقَالَ: دَعْهُ فَإِنَّهُ قَدْ صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

(۱) اخرجه البخاري كتاب المناقب /باب ذكر معاوية رضى الله عنه (رقم-۳۷۶۵)

ترجمه: [۱] د ابن عباس رضي الله عنه په باره کې منقول دي چې د هغه څخه پوښتنه وشوه [۲] چه د امير المؤمنين حضرت امير معاويه رضي الله عنه په باره کې څه وائې چې وتر يو رکعت کوي؟ [۳] ابن عباس رضي الله عنه وفرمايل هغه فقيه (ديني عالم) دي (څه چې کوي) ښه کوي [۴] په يو دويم روايت کښې ابن ابي مليکه فرمايي [۵] چې امير معاويه رضي الله عنه د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته يو رکعت وکړو [۶] د هغه سره د ابن عباس رضي الله عنه آزاد کړده غلام هم موجود وو [۷] (هغه چې دا وليدل نو) هغه د ابن عباس رضي الله عنه په خدمت کې حاضر شو هغه ته يې اووئيل (چې حضرت معاويه رضي الله عنه وتر يو رکعت کړي دي) [۸] ابن عباس رضي الله عنه ورته وفرمايل د هغه په باره کې هيڅ مه وايه هغه ته د رسول الله ﷺ د صحبت شرف حاصل دي (کيدي شي چې د حضور ﷺ څه داسې عمل يې ليدلي وي چې نورو نه وي ليدلي) (بخاري)

حل اللغات:- ① أَصَابَ: أَيْ أَدْرَكَ الثَّوَابَ فِي اجْتِهَادِهِ: اورسيده حق ته يعنى دخپل اجتهاد ثواب ورته حاصل شو. ② فَقِيهٌ: أَيْ مُجْتَهِدٌ: فقيه دي اجتهاد کولې شي. ③ مَوْلَى: آزاد کړي غلام، ④ دَعْهُ: أَيْ اتْرُكْهُ وَلَا تَعْتَرِضْ عَلَيْهِ: پريږده هغه، په هغه باندې اعتراض مه کوه. ⑤ صَحِبَ: ملګرتيا ئې کړې ده، صحابى دي، صحبت يعنى ناسته پاسته ئې کړې ده.

تسهيلات:- قوله: فَإِنَّهُ قَدْ صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

په صحابؤ د اعتراض څخه د بچ کيدو نصيحت:- يعنى په حضرت معاويه رضي الله عنه باندې اعتراض مه کوئى دَ حضوراکرم ﷺ صحابى دي. هغه سره به څه وجه وى، څه علمى ثبوت به وى، څه اجتهادى خبره به وى. دَ صحابى عمل غلطيدې نه شي. دَ هغوى نه دَ هغوى رب راضى شوې دي. په هغوى باندې اعتراض مه کوئى.

[۱۲۷۸] دوتر کولو تاکيد

۱۲۷۸-(۲۱)[۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، «قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲] "الْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، [۳] الْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، [۴] الْوِتْرُ حَقٌّ، فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا» ". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت بريده رضي الله عنه فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي [۲] چې وتر حق (يعني واجب دي) کوم سړي چې وتر نه کوي هغه زمونږ څخه (يعني زمونږ د تابعدارو څخه) نه دي [۳] وتر حق دي کوم سړي چې وتر نه کوي هغه زمونږ څخه نه دي [۴] وتر حق دي کوم سړي چې وتر نه کوي هغه زمونږ څخه نه دي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الْوِتْرُ حَقٌّ: أَيْ وَاجِبٌ: وتر کول واجب دى. ② فَلَيْسَ مِنَّا: أَيْ مِنْ أَهْلِ طَرِيقَتِنَا: زمونږ نه نه دي، يعنى زمونږ په طريقه نه دي.

[۱] اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة/باب فيمن لم يوتر (رقم-۱۴۱۹)

تسهیلات: -

قوله: فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا:

د فلیس منا مطلب: - د فلیس منا مطلب دانه دې چه دا سړي کافر شو بلکه مطلب دادې چه دا سړي په دې خاص مسئله د وترکښې زمونږ په طریقه نه دې باقی په اسلام باندې قائم دې لیکن په دې یوه طریقه کښې دَ مسلمانانو دَ لارې نه اخوا شوې دې.

[۱۲۷۹] د وترو قضاء راوړل

۱۲۷۹ - (۱) [۲۲] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «مَنْ نَامَ عَنِ الْوِتْرِ أَوْ نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ أَوْ إِذَا اسْتَيْقَظَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] ابو سعید رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړي چې د وتر کولو څخه بغیر اوده شی یا کول ځیني هیر شی نو هغه ته پکار دي چې کله ورته په یاد شی یا د خوب څخه بیداره شی نو (دَ هغې قضاء دې) وکړي. (ترمذي، ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① نَسِيَهُ: هیر نی شی (وترکول). ② اسْتَيْقَظَ: چه رابیدرا شی (دخوب نه).

تسهیلات: -

قوله: فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ أَوْ إِذَا اسْتَيْقَظَ:

د وترو قضاء راوړلو وخت: - د احنافو په نیزکه وتر پاتی شی نو د دې قضاء به د نمر راختلو څخه روسته او د زوال څخه وړاندې راوړی. اوکه صاحب ترتیب وی نو هغه به نې د صبا د مانخه څخه وړاندې قضاء راوړی.

[۱۲۸۰] عبدالله بن عمر او د وترو حکم

۱۲۸۰ - (۲) [۲۳] [۱] وَعَنْ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، بَلَغَهُ [۲] «أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ عَنِ الْوِتْرِ: أَوَاجِبٌ هُوَ؟ [۳] فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ: قَدْ أَوْتَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ، [۴] فَجَعَلَ الرَّجُلُ يُرَدِّدُ عَلَيْهِ، وَعَبْدُ اللّٰهِ يَقُولُ: [۵] أَوْتَرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ». رَوَاهُ فِي "الْمُوَطَّأِ".

ترجمه: [۱] د امام مالك رحمه الله په باره کې منقول دي چې هغه ته دا خبره ورسیده [۲] چې یو سړي د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې آیا وتر مونځ واجب دي که سنت؟ [۳] نو حضرت عبدالله ﷺ ورته (د څه واضحه جواب ورکولو په ځای دا) وفرمایل چې وتر مونځ حضور ﷺ هم کړي دي او نورو مسلمانانو (صحابه ؤ رضي الله عنهم) هم کړي دي [۴] هغه سړي به بار بار دا پوښتنه کوله او ابن عمر رضي الله عنه به ورته دا ویل [۵] چې وتر مونځ حضور

---

(۱) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب القنوت فی الوتر (رقم-۱٤۳۱) والترمذی کتاب الوتر/باب ماجاء فی الرجل ينام عن الوتر. أو ينساه (رقم-٤٦٥) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب من نام عن الوتر أو نسيه (رقم-۱۱۸۸)

(۲) اخرجه مالک فی الموطا کتاب صلاة الليل. باب الأمر بالوتر (رقم-۱۷)

ﷺ هم كړي دي او نورو مسلمانانو هم كړي دي، مؤطا.

حل اللغات:- ① يُرَدِّدُ: أَيْ يُكَرِّرُ عَلَيْهِ: بار بار به ئې پوښتنه كوله.

تسهيلات:-

توله: قَدْ أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

دوترو دوجوب دليل: -ددې حديث حاصل دادې چې يو كس ابن عمر ﷺ څخه د وترو باره كښې سوال اوكړو چې دا واجب دى كه نه؟ نوحضرت ابن عمر ﷺ ددې جواب په داسې طريقه وركړو چې ددې حكم سره ورته ددې دليل هم معلوم شى. هغه دا چې هركله نبى كريم ﷺ او مسلمانانو په دې باندې مداومت اختيار كړېدې نو دا ددې دليل دې چې دا واجب دى.

[۱۲۸۱] په وترو كښې مسنون قراءت

۱۲۸۱-(۱)[۲۴] ① وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، «قَالَ: ② كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ، ③ يَقْرَأُ فِيهِنَّ بِتِسْعِ سُوَرٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ، ④ يَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ ثَلَاثَ سُوَرٍ آخِرُهُنَّ ﴿قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ١]» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① امير المؤمنين حضرت علي كرم الله وجهه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به د وتر دري ركعاته كول ③ چې په هغه كې به حضور ﷺ د مفصل نهه سورتونه (داسې) ويل ④ چې په هر ركعت كې به يې دري دري سورتونه ويل او آخري سورت به يې قل هو الله وو، ترمذي.

حل اللغات:- ① اَلْمُفَصَّلِ: د مفصل نه لنډى سورتونه مراد دى.

تسهيلات:-

توله: يَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ:

په وترو كښې قراءت مسنونه:- يعنى نبى كريم ﷺ به دريو ركعتونه په يو سلام سره ادا كول. هر ركعت كښې به ئې دري سورتونه لوستل. او آخرى ركعت كښې به ئې قل هو الله احد لوستو.

[۱۲۸۲] د وترو باره كښې د حضرت ابن عمر ﷺ واقعه

۱۲۸۲-(۲)[۲۵] ① وَعَنْ نَافِعٍ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا بِمَكَّةَ، ② وَالسَّمَاءُ مُغَيِّمَةٌ، ③ فَخَشِيَ الصُّبْحَ، ④ فَأَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ، ⑤ ثُمَّ انْكَشَفَ، فَرَأَى أَنَّ عَلَيْهِ لَيْلًا، فَشَفَعَ بِوَاحِدَةٍ، ⑥ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، ⑦ فَلَمَّا خَشِيَ الصُّبْحَ أَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① نافع رحمه الله فرمايي چې زه د ابن عمر ﷺ سره په مكه معظمه كې وم ② او (هغه

[۱] اخرجه الترمذى فى كتاب الوتر/باب ما جاء فى الوتر بثلاث (رقم-۴۶۰)

[۲] اخرجه مالک فى الموطا كتاب صلاة الليل . باب الأمر بالوتر (رقم-۱۹)

ورځ په شپه کي) په آسمان باندې وريځ وه [۳] د ابن عمر رضي الله عنه سره د سحر کيدو ويره شوه [۴] نو هغه يو رکعت وتر وکړل [۵] بيا وريځ صفا شوه او هغه وليدل چې تر اوسه لا شپه باقي ده نو هغه يو رکعت بل کولو سره (اولني رکعت سره يو خاي کولو سره) هغه يي دوگانه کړل [۶] او د هغه څخه وروسته يي دوه دوه رکعاته (نفل) کول [۷] بيا چې د سحر کيدو ويره شوه نو وتر يي يو رکعت وکړو، مالك

حل اللغات:- ① مُغَيِّمَةٌ: أَيْ مُغَطَّاةٌ بِالْغَيْمِ: وريځ وه (آسمان وريځي پټ کړي وو). ② خَشِيَ: اوېريدو (چه چرته صبا نه وي راختلي). ③ انْكَشَفَ: أَيْ: ارْتَفَعَ الْغَيْمُ: لرې شوه وريځ، آسمان صفا شو. ④ شَفَعَ: نو جفت ئي کړو، دوگانه ئي کړو (مونځ).

تسهيلات:-

قوله: خَشِيَ الصُّبْحَ، فَأَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ:

اشكال:-كه يو كس وتر ادا كړل او بيا ئي د شپې د تهجدو ادا كولو اراده اوكړه، نو هغه دې وتر ختم كړي او ددې د ختمولو طريقه داده چې هغه دې يو ركعت خانله ادا كړي .او دا دې رومبي دريو رکعتوسره يوځائي كړي او شفعه (دوه ركعته) دې اوكړي نو هغه به نفل شي.

دلته روايت كښې تعارض دې.ترمذي شريف كښې حديث دې: لاوتران فى ليلة په يو شپه كښې دوه وتره نه وي .اوس كه يو كس وتر ادا كړي اواودۀ شي او بيا د تهجدو د مونځ دپاره رابيدار شي نو كه هغه دا دوباره ادا كول غواړي نوداً د ترمذي والا حديث خلاف دې.او كه نه ئي ادا كوي نو ((اجعل اخرصلوتك وترا))دا ددې خلاف دې؟

د دې اشكال جوابونه:-

① دامام اسحاق بن راهويه دا مذهب دې.چې دتهجدو شروع كولوڅخه وړاندې دې يو ركعت خانله اوكړي.اود اولني وترو سره دې ملاؤ كړي.اوبيا دې نفل كوي.او د دې څخه روسته دې وتر اوكړي.چې په ((اجعلوا آخرصلاتكم بالليل وتراً)) حديث باندې عمل اوشي.

② جمهورعالمان دنقض وتر قائل نه دی.دوی فرمائي چې د شپې په اول كښې ئي كوم وتر كړي دی هغه دې هم دغه شان پريږدي.اوبيا چې ئي څومره زړه غواړي نفل دې اوكړي. څكه چې د حضرت عائشې رضى الله عنها څخه روايت دې.چې نبى كريم ﷺ به د شپې په مينځ كښې وتر كولو.اوبيا به ئي نفل كولو.

[۱۲۸۳] په ناسته د مونځ کولو يوه بله طريقه

۱۲۸۳-(١)[٢٦] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي جَالِسًا، [٣] فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ، [٤] فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ مَا يَكُونُ ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً، [٥] قَامَ وَقَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ، [٦] ثُمَّ رَكَعَ،

[1]) اخرجه مسلم كتاب صلاة/باب جواز النافلة قائما وقاعدا، وفعل بعض الركعة قائما وبعضها قاعدا (رقم) ۱۱۲ - (۷۳۱)

ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ يَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] ام المؤمنين بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ (به په آخر عمر کې په ورخ يا شپه کې داسې هم) په ناسته مونځ کولو [۳] (چې د طويل قراءت په وجه) به يې په ناسته قراءت کولو [۴] او هر کله چې په قراءت کې به ديرش يا څلويښت آياتونه باقي پاتې شو [۵] نو وبه دريدلو او هغه به يې په ولاړه ولاړه ويل [۶] بيا به يې رکوع کوله او سجدې ته به تلو دغسې په دويم رکعت کې به يې هم کول. (مسلم)

تسهيلات:-

د حديث د باب سره تعلق:- اګرچې دلته دَ وتر ذکر نشته دې ليکن دَ دوو رکعتو ذکر دې چه دَ وتر دَ پاره مقدمه او تمهيد دې کيدې شي دَدې وجه نه دا حديث دلته راوړلې شوې دې.

[۱۲۸٤] دوتر څخه وروسته دوه رکعته نفل کول

۱۲۸۳ –()[۲۷] [۱] وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْوِتْرِ رَكْعَتَيْنِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، [۳] وَزَادَ ابْنُ مَاجَهْ: خَفِيفَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ.

ترجمه: [۱] ام المؤمنين بي بي ام سلمه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به د وترو څخه وروسته دوه رکعاته کول، ترمذي، [۳] ابن ماجه په دې روايت کې **خفيفتين وهو جالس** الفاظ هم نقل کړي دي يعنې حضور ﷺ به د وترو څخه وروسته مختصر دوه رکعاته په ناسته کول.

تسهيلات:-

نوټ:- د دې حديث شرح په بل ځائې کښې ذکرشوې ده.

[۱۲۸۵] د نبي عليه السلام د وترو ادا کولو طريقه

۱۲۸۵ –()[۲۸] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ، [۳] ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ يَقْرَأُ فِيهِمَا وَهُوَ جَالِسٌ، [۴] فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] د مؤمنانو مور بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به وتر يو رکعت کول [۳] بيا به يې دوه رکعاته نفل کول چې په هغې کې به رسول الله ﷺ په ناسته ناسته قراءت کولو [۴] او کله چې به يې رکوع کوله نو اودريدلو به او رکوع به يې کوله. (ابن ماجه)

تسهيلات:-

قوله: فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ:

---

[۱] اخرجه الترمذي في كتاب الوتر/باب ما جاء لا وتران في ليلة (رقم-٤٧١) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في الركعتين بعد الوتر جالسا (رقم-١١٩٦)

[۲] اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في الركعتين بعد الوتر جالسا (رقم-١١٩٦)

د یواشکال دفع کول: -ددې مطلب دادې چې شفع سره یو رکعت زیات کړی آخری وتر ادا کړی .ابن حجر رحمة الله علیه فرمائی په ظاهره دا روایت د ماقبل روایت منافی دې، کوم کښې چې به نبی کریم ﷺ اودریدل او قراءة به ئې کولواو بیا به ئې رکوع کوله.خوپه دوارو کښې څه تعارض نشته څکه چې کله کله به هغوئ قائما قراءة کولو.او کله کله به ئې جالسا تلاوت کولو او قائما به ئې رکوع کوله.

[۱۲۸٦] دوترو څخه وروسته د دوو رکعتو نو فضیلت

۱۲۸٦–(١)[۲۹]١وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، «عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:٢ "إِنَّ هَذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَثِقَلٌ،٣ فَإِذَا أَوْتَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ،٤ فَإِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ،٥ وَإِلَّا كَانَتَا لَهُ»". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت ثوبان رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ (د تهجد د لمانځه د پاره) د شپې بیداریدل مشکل او ګران وي ٣ په دې وجه په تاسو کې چې کوم سړي (د شپې په آخري حصه کې د بیداریدو یقین نه لري او د اوده کیدو څخه مخکې یعنی د ماسخوتن د لمانځه څخه وروسته) وتر وکړي نو هغه ته پکار دي چې دوه رکعاته وکړي ٤ که هغه د تهجد د پاره د شپې ولاړ شو نو بهتره ده ٥ او که ولاړ نه شو نو بیا دوه رکعاته به کافي وي (یعنې د دې دوه رکعاتو کولو په وجه به هغه ته د تهجد د لمانځه ثواب حاصلیږي) ترمذي دارمي

حل اللغات: - ① السَّهَرَ: د شپې بیداریدل، تهجدو دپاره پاڅیدل. ② جُهْدٌ: أي مَشَقَّةٌ: مشکل وی، ③ ثِقَلٌ: أيْ: شَاقٌّ: ډیر ګران دی.

تسهیلات: -

قوله: وَإِلَّا كَانَتَا لَهُ:

د خوب څخه وړاندې دوه رکعته کول: - کله چې د وترو اراده اوکړئی نو دوه رکعته مونځ ادا کړئی، ددې دواړو بیان دجواز په طور دې.که وتر اونه کړی نو دوه رکعته به ادا شي.

[۱۲۸۷] دوترو څخه وروسته په دوه رکعته نفلو کښې مسنون قراءت

۱۲۸۷–(٢)[۳۰]١وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ،٢ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ وَهُوَ جَالِسٌ،٣ يَقْرَأُ فِيهِمَا ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ﴾ [الزلزلة:١]،و ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ [الكافرون:١]». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ حضرت ابو امامه رضی الله عنه فرمایي ٢ چې رسول الله ﷺ به د وترو څخه وروسته دوه رکعاته په ناستي کول ٣ او په هغې کې به یې اذازلزلت الارض او قل یاایها الکافرون ویل (ترمذي،دارمي)

[1] مسند الدارمی باب فی الرکعتین بعد الوتر(۲/ ۹۹۳)-
[2] اخرجه احمد فی المسند ۵/ ۲٦٠

تسهيلات:-

قوله: كَانَ يُصَلِّيهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ:

د وترو څخه روسته په ناسته دوه رکعته نفل کول ۱- وترو نه پس د دوو رکعتو ثبوت ملاؤ شو چې نبی کریم ﷺ به په ناسته دوه رکعته کول.او په یو رکعت کښې به ئې اذا زلزلت اودویم کښې قل یایها الکافرون لوستل.

[۵۲/۳۶] بَابُ الْقُنُوتِ

د قنوت نازله بیان

خلاصة الباب:-

فيه ستة أحاديث مشتملة على أربع مسائل:

① القنوت بعد الركوع وتركه: ۱، ۲، ۳، ۴، ۶.

② القنوت قبل الركوع: ۲، ۴.

③ حكم القنوت في الصبح بلا نازلة : ۵

④ القنوت في النصف الباقي من شهر رمضان: ۶،

د قنوت معانی:-

① دَ سکوت په معنی کښې کښې استعمال شوې دې.

② دَ طاعت په معنی کښې کښې استعمال شوې دې.

③ دَ طویل قیام په معنی کښې کښې استعمال شوې دې.

④ دا دَ دعا په معنی کښې استعمال شوې دې.

دلته هم په څلورمه معنی کښې استعمال شوې دې. که ښه دعا وی اوکه بده دعا وی.

د قنوت دوه قسمونه:-

① قنوت نازله دی. دسحر په مانځه کښې.

② قنوت وتر بعدالعشاء دی.

د قنوت لوستلو په محل کښې مذاهب:-

① دَامام مالك رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله په نیزقنوت تول کال کښې همیشه دَ سحرپه مونځ کښې وئیل پکاردی او طریقه داده چه دَ آخری رکعت دَ رکوع نه پس په قومه کښې کیدل پکاردی داقنوت وتر دی البته په رمضان کښې دا قنوت دَ رمضان په نصف آخر کښې وی. دغه شان د شوافع په نیز قنوت نازله په تولو مونخونوکښې پس دَ رکوع نه کیدل پکاردی.

② امام احمد رحمه الله اوامام ابوحنیفه رحمه الله قنوت نازله اوقنوت وترکښې فرق کوی. دَهغوی په

نیز قنوت ټول کال همیشه دپاره په وترکښې دَ ماسخوتن دَ مونځ نه پس دَ وتر آخری رکعت کښې دَ رکوع نه وړاندې لوستل ضروری دی اوقنوت نازله دَ سحرپه مونځ کښې دَ رکوع نه پس دَ څه حادثه فاجعه دَ ضرورت مطابق دَ محدود وخت دَپاره جاری ساتل پکاردی.

په احاديثو کښې څوره تطبيق:- احنافو داسې طريقه اختيار کړې ده په کوم سره چه به په ټولو احاديثو کښې په آسانئ سره تطبيق راشي. په احاديث کښې چرته چه دَ قنوت قبل الركوع ذكر راغلې دې هلته قنوت وتربعدالعشاء مراد دی په کوم چه حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه اودَ ابن عمر رضی الله عنهما احاديث دلالت کوی. اوچرته چه دَ قنوت بعدالركوع ذكر راغلې دې هلته قنوت نازله مراد دی او تعيين دَ فجر په وجه دَ تعامل دې کنی دَ احنافو په نيز هم قنوت نازله دَ نورو مونځونوپورې عام کولې شی. کله چه دَ حادثه نوعيت سخت شی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۲۸۸] د الله تعالى خپل محبوب لره بعضې قبيلوته د خيرو کولو څخه منع کول

۱۲۸۸–()[۱] ①عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، ②«أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ عَلَى أَحَدٍ، ③أَوْيَدْعُوَ لِأَحَدٍ; ④قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ، ⑤فَرُبَّمَا قَالَ إِذَا قَالَ: "سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ: ⑥اللّٰهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ، وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ، ⑦اللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ، ⑧وَاجْعَلْهَا سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ"،

ترجمه: ① ابوهريره رضی الله عنه فرمايي② چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به چا ته بده دعا (بنيرې) کولې ③ يا د چا د پاره به يې د دعا کولو اراده کوله④ نو د رکوع څخه وروسته به يې قنوت ويله ⑤ بعضې وخت چې حضور صلی الله علیه وسلم به سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد ويل نو دا دعا به يې کوله: ⑥ اللّٰهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيدَ ابْنَ الْوَلِيدِ وَسَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَعَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ اللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ (اې الله وليد بن وليد سلمه بن هشام او عياش بن ابي ربيعه ته نجات ورکړې ⑦ او اې الله په قوم مضر باندې خپل سخت عذاب نازل کړې ⑧ او هغه عذاب په هغوئ د قحط په صورت کې نازل کړي داسې قحط چې د يوسف علیه السلام د قحط په شان وي، [يعنی په قوم مضر باندې خپل عذاب د هغه قحط په شکل کې مسلط کړې کوم چې د حضرت يوسف علیه السلام په زمانه کښې په قوم مصر باندې مسلط کړل شوې وو].

حل اللغات:- ① يَدْعُوَ عَلَى أَحَدٍ: چه دچا دپاره به ني دعاء خير کوله، ② يَدْعُوَ لِأَحَدٍ: چه چا دپاره به

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الدعوات/باب الدعاء علی المشركين (رقم-۶۳۹۳) ومسلم کتاب المساجد/باب استحباب القنوت فی جميع الصلاة إذا نزلت بالمسلمين نازلة (رقم-۲۹٤) - (۶۷۵) وابوداود فی کتاب الصلاة،باب القنوت فی الصلوات (رقم-۱٤٤۲) والنسائی کتاب التطبيق/باب القنوت فی صلاة الصبح (رقم-۱۰۷٤) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی القنوت فی صلاة الفجر (رقم-۱۲٤٤)

ئې خيرې يعنى بد دعا كوله. ③ قَنَتَ: دعاء قنوت به ئې وئيله، ④ أَنْجِ: أَيْ خَلِّصْ: نجات يعنى خلاصې وركړې، ⑤ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ: أَيْ: شِدَّتَكَ وَعُقُوبَتَكَ: سخت عذاب، ⑥ سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ: سنين جمع د سنة ده، وَهُوَ الْقَحْطُ: قحط ته وائي. يعنى په قوم مضر باندې د يوسف عليه السلام د زمانې په شان قحط نازل كړې كوم چه اووه كاله مسلسل وو.

[۱] يَجْهَرُ بِذَلِكَ. وَكَانَ يَقُولُ فِي بَعْضِ صَلَاتِهِ: [۲] "اللَّهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَفُلَانًا" [۳] لِأَحْيَاءٍ مِنَ الْعَرَبِ، [۴] حَتَّى أَنْزَلَ اللَّهُ: ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ﴾ [آل عمران: ۱۲۸] الْآيَةَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] دا دعا به حضور ﷺ په اوچت آواز سره كوله او په يو لمانځه كې حضور ﷺ داسې بده دعا كوله: [۲] اللَّهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَفُلَانًا (اې الله په فلاني فلاني باندې لعنت وكړې) [۳] د عربو د هغه قبائلو د پاره (چې كافران وو) [۴] بيا الله تعالى جَلَّ جَلَالُهُ دا آيت نازل كړو لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ الاية (په دې معامله كې ستا هيڅ دخل نشته). (بخاري، مسلم)

قوله: الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ:

د وليد بن وليد مختصر تعارف:-

دا صحابى دَ حضرت خالد رضي الله عنه رور وو دَ چا نوم چه وليد دې. دَ ده دَ پلار نوم هم وليد دې. جنګ بدر كښې دَ مسلمانانو په لاس كښې قيدى شو. فديه وركولو سره چه كله خلاص كړې شو نومكې ته اورسيدو او اسلام ئې قبول كړو. دَمكې كافرانو هغه ګير كړو او په جيل كښې واچولو او په هغه باندې ډير زيات ظلمونه اوكړل. حضورپاك ﷺ ته چه كله دَهغوى دَ مظلوميت پته اولګيده نو حضورپاك ﷺ دَ هغوى دَ راخلاصولودَپاره دعا اوكړه. وليد دَ كافرانو دَ پنجې نه راخلاص شو اودَمدينې منورې طرف ته اوتختيدو.

تسهيلات:-

قوله: سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ:

دسلمه بن هشام تعارف:- دا پخواني دَ اسلام صحابى وو دَ ابوجهل سكه رور وو. دَقريشو كافرانو دې په مكه مكرمه كښې قيد ساتلې وو او په هغه باندې ډير زيات ظلمونه كول دې هم دَ كافرانو نه خلاص شو او مدينې منورې ته اورسيدو.

قوله: عَيَّاشَ بْنَ أَبِي رَبِيعَةَ:

د عياش بن ابى ربيعه تعارف:- دا هم پخواني دَ اسلام صحابى وو دَ ابوجهل دَ مور دَ طرف نه اخيانى رور وو. په شروع كښې ئې اسلام قبول كړو او حبشې ته ئې هجرت اوكړو. بيائې دَ مدينې طرف ته دويم هجرت اوكړو. ابوجهل هغه سره دا دهوكه اوكړه چې په خپله مدينې ته راغلو او هغه ته ئې اووئيل چې ستا مور قسم خوړلې دې چې ترڅو تا اونه وينى نو په سورې كښې به نه كينم حضرت عياش د مور د محبت په وجه د ابوجهل سره مكې ته

راغلو دلته ابوجهل هغه گرفتار کړو او په جیل کښې بند کړو او خپل ځناورتوب، ظلم او دَ انتقام دَ جذبې لاندې ئې هغه راگیر کړو. لیکن دَ حضورپاك ﷺ په دعا سره دې هم دَ کافرانو دَ لاس نه راخلاص شو تختیدو کښې کامیاب شو او مدینې ته لاړو.

د درې صحابؤ دپاره د نبی کریم ﷺ دعا:- زیر بحث حدیث کښې حضورپاك ﷺ هم دَ دې درېو خوش نصیبو صحابؤ دَ راخلاصیدو دَپاره مسلسل دعا غوښتله. او کافرانو ظالمانو ته ئې دیرې زیاتې بدعاگانې کولې. الله تعالی حضورپاك ﷺ په نومونو اخستو سره خیرې کولو ځنې منع کړو ځکه چه بعضې داسې خلق هم وو دَ چا په قسمت کښې چه ایمان لیکلې شوې وو دَ چا دَپاره چه بد دعا مناسب نه وه.

[۱۲۸۹] دقنوت طریقه

۱۲۸۹-( )[۲] ١ «وَعَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ٢ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوتِ فِي الصَّلَاةِ، كَانَ قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَهُ؟ ٣ قَالَ: قَبْلَهُ، إِنَّمَا قَنَتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا، ٤ إِنَّهُ كَانَ بَعَثَ أُنَاسًا يُقَالُ لَهُمْ: الْقُرَّاءُ، سَبْعُونَ رَجُلًا، فَأُصِيبُوا، ٥ فَقَنَتَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا يَدْعُو عَلَيْهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ عاصم احول رحمه الله وایي ٢ چې ما د انس بن مالک رضی الله عنه ځنې د دعاء قنوت په باره کښې پوښتنه کړه چې (د سَحر په لمانځه یا په وترو کښې یا د څه حادثې یا د وباء خوریدو په وخت یا په هر فرض) لمانځه کښې هغه د رکوع ځنې مخکښې ویل کیده یا د رکوع ځنې وروسته؟ ٣ حضرت انس رضی الله عنه وفرمایل چې د رکوع ځنې مخکښې (او وې فرمایل چې) حضور ﷺ چې د رکوع ځنې وروسته دعاء قنوت ویلې وه ٤ هغه ځکه چې حضور ﷺ څو صحابه رضی الله عنهم چې هغوئ ته قراء (قاریان) ویل کیده او په تعداد کښې اویا وو (د تبلیغ د پاره) لیږلي وو (د هغه ځایي خلقو) هغه شهیدان کړل ٥ په دې وجه حضور ﷺ تر یوې میاشتې پورې د رکوع ځنې وروسته دعاء قنوت ویلو سره قاریانو (قراء) له د شهید کونکو د پاره بد دعاء وکړله. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① بَعَثَ: أَيْ: أَرْسَلَ: لیږلې ئې وو، ② أُنَاسًا: أَيْ: جَمَاعَةً: یو جماعت د صحابه کرامو، ③ فَأُصِيبُوا: أَيْ: قُتِلُوا: قتل کړې شو، شهیدان شو. ④ يَدْعُو عَلَيْهِمْ: خیرې او بد دعاء به ئې ورته کوله.

د راوي مختصر تعارف:- نوم: عاصم، دپلار نوم: سلیمان، کنیت: ابوعبدالرحمان، دوی د بصرې اوسیدونکی دی، ددوی شمیر ثقه کښې کیږي، او د درمیانه درجې تابعی دي.

[۱] اخرجه البخاری فی باب غزوة الرجیع، ورعل، وذکوان، وبئر معونة، وحدیث عضل، والقارة، وعاصم بن ثابت، وخبیب واصحابه(رقم-۴۰۹۶) ومسلم کتاب المساجد/باب استحباب القنوت فی جمیع الصلاة إذا نزلت بالمسلمین نازلة (رقم ۳۰۱ - (۶۷۷)وابوداود کتاب الصلاة،باب القنوت فی الصلوات (رقم-۱۴۴۴)

تسهیلات: -

قوله: يُقَالُ لَهُمْ: الْقُرَّاءُ، سَبْعُونَ رَجُلًا:

داویا قاریانو څخه مراد: - دا اویا کسان قاریان صحابه کرام په صفه کښې وو داغریبانان طالبعلمان یو طرف ته علم حدیث اوعلم التفسیر حاصلولو بل طرف ته په یو جهادی مدرسه کښې هروخت دَ جهاد دپاره دَا انتظار په خانې کښې ناست وو اوچرته چه به ضرورت پیښیدو دوی به هم هلته دَ جهاد دپاره تلل.

د اهل نجد غداری: - اهل نجد دوی په دهوکه دَ معلم په حیثیت سره دَ حضورپاک ﷺ نه اوغوښتل. حضورپاک ﷺ دَ تعلیم اوتبلیغ دپاره هغوی روان کړل خو چه کله دا قاریان دَمکې اوعسفان مینځ ته اورسیدل نو رعل او ذکوان قبیلو په دوی باندې ظالمانه حمله اوکړه اودَ یو نه بغیرنې نور ټول شهیدان کړل اوهغه یو هم په زخمی حالت کښې بچ شو. رسول الله ﷺ ته چه کله پته اولګیدله نو سخت خفه شو او دَ یوې میاشتې پورې ئې دَ دې قبیلو دَ تباهئې دپاره قنوت نازله کښې بد دعاګانې اوکړې. دا واقعه ۴ هجری کښې پیښه شوې وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۲۹۰] د دعاء قنوت دویلو محل

۱۲۹۰-() [۳] [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ [۲] «قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا مُتَتَابِعًا [۳] فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَصَلَاةِ الصُّبْحِ، [۴] إِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ الْأَخِيرَةِ، [۵] يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ، [۶] عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ، [۷] وَيُؤَمِّنُ مَنْ خَلْفَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ تر یوې میاشتې پورې مسلسل (یعني هره ورځ) قنوت ویلي دي [۳] د ماسپښین، مازیګر، ماښام، ماسخوتن او د سحر په لمونځونو کې [۴] د سمع الله لمن حمده ویلو څخه وروسته په آخري رکعت کې [۵] چې په هغې کې حضور ﷺ د بني سلیم څو قبیلو د پاره بد دعا کوله [۶] د رعل، ذکوان او د عصیه قبیلو د پاره [یې بد دعا کوله] [۷] او وروسته خلقو (یعني مقتدیانو) به آمین ویلې. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① مُتَتَابِعًا: أَيْ: مُوَالِيًا: پرله پسې، ② رِعْل: د بنوسلیم یوه قبیله ده، ③ يُؤَمِّنُ: أَيْ: يَقُولُ: آمِينَ: صحابه کرامو به آمین وئیلو.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة /باب القنوت قبل الرکوع وبعده (رقم) ۱۰۰۳ ومسلم کتاب المساجد/باب استحباب القنوت فی جمیع الصلاة إذا نزلت بالمسلمین نازلة (رقم) ۲۹۹ - (۶۷۷) والنسائی کتاب التطبیق /باب القنوت بعد الرکوع (رقم-۱۰۷۰)

تسهیلات:-

قوله: يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ، عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَعُصَيَّةَ:

په روایاتو کښې تطبیق:-دې حدیث په پنځو مونځونو کښې د قنوت نازله د وئیلو بیان دې،او ځینې احادیثو کښې د سحر ذکر راغلې دې.او ځینو کښې په جهری مونځونو کښې د قنوت نازله ذکر راغلې دې.نو په دې روایاتو کښې داشان تطبیق کیدې شی چې که مصیبت زیات وی نو په ټولو مونځونو کښې به قنوت نازله وئیلې کیږی.او که کم وی نو صرف په جهری مونځونو کښې به لوستلې کیږی.او که نور هم کم وی نو د سحر په مونځ کښې به لوستلې کیږی.

بهر حال باقی مونځونو کښې قنوت نازله منسوخ شوې ده.د سحر په مونځ کښې دضرورت په وخت کښې جائز دی.

[۱۲۹۱] یوه میاشتې پورې قنوت وئیل بیا پریښودل

۱۲۹۱-(۱)[۴] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا ثُمَّ تَرَكَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت انس رضی الله عنه فرمایې [۲] چې رسول الله ﷺ تر یوې میاشتې پورې (د رکوع څخه وروسته) دعاءِ قنوت ویله ده بیا حضور ﷺ (مطلقًا په فرض لمونځونو کې یا دا چې رکوع څخه وروسته) قنوت ویل ترک کړل. (ابوداؤد ،نسایي)

تسهیلات:- قوله: ثُمَّ تَرَكَهُ:

د قنوت نازله د عارضی دلیل:- داحدیث دَ احنافو مضبوط دلیل دې چه قنوت نازله یو وختی څیز دې کوم چه دَ ضرورت په وخت وی اوپس دَ رکوع نه وی او په عامو مونځونو کښې هم وی.

لیکن قنوت وتر مؤقت نه دی بلکه بعدالعشاء دوامًا جاری اوساری دی. شوافع اومالکیه فرمائی چه دَ فجر په مونځ کښې قنوت نازله دَهمیشه دَپاره دی او په نورو مونځونو کښې په وخت دَ حادثه نازله مشروع دی.

[۱۲۹۲] په نورو مونځونو کښې علی الدوام د دعاء قنوت وئیل بدعت کیدل

۱۲۹۲-(۲)[۵] [۱] وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] قُلْتُ لِأَبِي: يَا أَبَتِ! «إِنَّكَ قَدْ صَلَّيْتَ خَلْفَ

[1] اخرجه مسلم کتاب المساجد/باب استحباب القنوت فی جمیع الصلاة إذا نزلت بالمسلمین نازلة (رقم) ۲۹۹ - (۶۷۷) والنسائی کتاب التطبیق/باب القنوت بعد الرکوع (رقم-۱۰۷۰)

[2] اخرجه الترمذی فی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فی ترک القنوت (رقم-۴۰۲) والنسائی کتاب التطبیق/ترک القنوت (رقم-۱۰۸۰) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی القنوت فی صلاة الفجر (رقم-۱۲۴۱)

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، وَعَلِيٍّ، [۳] هَاهُنَا بِالْكُوفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِينَ، [۴] أَكَانُوا يَقْنُتُونَ؟ قَالَ: أَيْ بُنَيَّ! مُحْدَثٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] ابو مالک اشجعي فرمايي [۲] ما د خپل پلار بزرګوار څخه پوښتنه وکړه چې باباجانه تاسو په حضور ﷺ پسې اوپه حضرت ابوبکر رضي الله عنه حضرت عمر رضي الله عنه حضرت عثمان رضي الله عنه او په حضرت علي کرم الله وجهه پسې مونځ کړي دي [۳] په دي کوفه کې تقريبًا پنځه کاله [۴] آيا دي حضراتو به دعاء قنوت ويله؟ هغه وفرمايل زما زويه قنوت بدعت دي. (ترمذي، نسايي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① نَحْوًا: أَيْ: قَدْرًا: تقريبًا (د اندازي لګولو په معنى استعمال شوي دي). ② مُحْدَثٌ: أَيْ: الْقُنُوتُ بِدْعَةٌ: دا قنوت وئيل بدعت دى (دا روستو خلقو يعنى تابعينو شروع کړي دي).

تسهيلات:-

نوټ:- د ماسخوتن د وترو څخه علاوه په نورو مونځونو کښې د دعاء قنوت په وئيلو کښې چې کوم اختلاف دي. د هغې تفصيل په بل ځائې ذکرشوي دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۲۹۳] د حضرت عمر، ابی بن کعب په شل رکعته تراويح باندې راجمع کول

۱۲۹۳ — (¹)[۶] [۱] عَنِ الْحَسَنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، [۲] أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، جَمَعَ النَّاسَ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، [۳] فَكَانَ يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِينَ لَيْلَةً، [۴] وَلَا يَقْنُتُ بِهِمْ إِلَّا فِي النِّصْفِ الْبَاقِي، [۵] فَإِذَا كَانَتِ الْعَشْرُ الْأَوَاخِرُ تَخَلَّفَ فَصَلَّى فِي بَيْتِهِ، [۶] فَكَانُوا يَقُولُونَ: أَبَقَ أُبَيٌّ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حسن بصري فرمايي [۲] چې امير المؤمنين حضرت عمر بن خطاب رضي الله عنه خلق (د روژي په مياشت کې د تراويح د لمانځه د پاره) جمع کړل او ابي ابن کعب رضي الله عنه يي امام جوړ کړو [۳] ابي ابن کعب رضي الله عنه هغوئ ته تر شلو شپو پوري مونځ ورکړو [۴] او د هغوئ خلقو سره يي دعاء قنوت سوا د آخري نصف رمضان په نورو ورځو کې نه ويله [۵] هر کله چې آخر لس ورځي پاتې شوې نو ابي ابن کعب رضي الله عنه مسجد ته رانغلي بلکه (وتر) مونځ يي په خپل کور کې کول شروع کړل [۶] خلقو اوويل چې ابي رضي الله عنه وتښتيدو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① تَخَلَّفَ: پاتې شو(په کورکښې يعنى مونځ ته مسجد ته رانغې). ② أَبَقَ أُبَيٌّ: أَيْ: هَرَبَ عَنَّا: اوتختيدو.

¹) اخرجه ابوداود كتاب الصلاة،باب القنوت في الوتر (رقم-۱٤۲۹)

تسهیلات: -

قوله: فَكَانُوايَقُولُونَ: أَبَقَ أُبَيٌّ:

د ابی بن کعب د تراویح موقع پریښودو وجه: - یعنی حضرت ابی بن کعب ﷛ دَ بکوره غلام په شان منډه کړه خلقو دا خکه اوونیل چه هغوی دَ حضرت ابی بن کعب ﷛ غیرحاضری خوښه نه کړه. بل طرف ته کیدې شی چه حضرت ابی بن کعب ﷛ څه مجبوره شان وو چه په شرعی توګه باندې معذوره وو او حضرت کعب ﷛ سیدالقراء وو په دې وجه هغه حضرت عمر فاروق ﷛ په رمضان کښې دَ تراویح امام جوړ کړې وو.

د حدیث څخه د احنافو او شوافع جدا جدا استدلال: - داحدیث دَ شوافع مستدل دې چه دَ نصف رمضان نه پس قنوت لوستلې شوی دی اودَ یوجزء په اعتبارسره دا حدیث دَ احنافو دلیل دې خکه چه احناف په ټولو احادیثو کښې دَ تطبیق ورکولوقائل دی او دلته قبل الرکوع او بعدالرکوع دواړه شان عمل په وجود کښې راغلې دې. نو احناف قبل الرکوع قنوت دَماسخوتن په وترباندې حمل کوی او بعدالرکوع قنوت په قنوت نازله باندې حمل کوی.

١٢٩٤] قبل الرکوع د قنوت دلیل

١٢٩٣-()[٤] [١] وَسُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوتِ، فَقَالَ: [٢] «قَنَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ. [٣] وَفِي رِوَايَةٍ: قَبْلَ الرُّكُوعِ وَبَعْدَهُ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] او د انس بن مالك ﷛ څخه چا د دعاء قنوت په باره کې پوښتنه وکړه (چې د رکوع څخه مخکې اوویل شی یا وروسته؟) نو هغه ورته وفرمایل [٢] چې حضور ﷺ دعاء قنوت د رکوع څخه وروسته ویلې ده [٣] په یو بل روایت کې دا دي چې حضور ﷺ دعاء قنوت (کله) د رکوع څخه مخکې او (کله) د رکوع څخه وروسته ویلې ده..

[1]) اخرجه ابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في القنوت قبل الركوع وبعده (رقم-١١٨٣)

[۵۳/۳۷] بَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

د رمضان په مياشت کښې د تراويحو بيان

خلاصة الباب:-

فيه ثلاثة عشر حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① ثبوت صلوة التراويح من النبي ﷺ : ۱، ۴.

② الترغيب في صلاة التراويح في البيوت: ۱، ۳، ۶.

③ عدم المداومة على صلاة التراويح خشية الافتراض: ۱.

④ الترغيب في قيام رمضان: ۲.

⑤ لفضيلة ليلة النصف من شعبان : ۵، ۱۱، ۱۳، ۱۲.

⑥ جمع عمر رضي الله عنه الناس على التراويح عشرين ركعة: ۸، ۹.

⑦ تطويل القيام: ۴، ۸، ۱۰.

د قيام رمضان څخه مراد:- د قيام رمضان نه مراد د تراويح مونځ دې. علامه نووی رحمه الله فرمائی "المراد بقيام رمضان التراويح" علامه کرمانی رحمه الله په اتفاق کښې په دې باندې اجماع نقل کړې ده فرمائی:

"اتفقوا على ان المراد بقيام رمضان صلوة التراويح" [فتح الباری ج۴ ص۲۱۷]

د ترويحة تعريف:- تراويح د ترويحه جمع ده او ترويحه د راحت په معنی کښې ده چونکه د څلورو رکعتونه پس استراحت او آرام کوی په دې وجه دې ته د تراويح مونځ او وئيلې شو.

د قيام الليل او قيام شهر رمضان جدا جدا کيدو قرائن:- لکه چه پورته ليکلې شوی دی په دې باندې اتفاق او اجماع ده چه "قيام الليل" خان له مونځ دې او "قيام شهر رمضان" خان له مونځ دې دواړه جدا جدا مونځونه دی او د دواړو نومونه هم جدا جدا دی. قيام الليل د تهجد د پاره وئيلې شی او قيام شهر رمضان د تراويح د پاره خاص توګه باندې استعمالولې شی. لهذا دا مناسب نه دی چه څه خلق د تراويح پتولو او دباوولو په غرض دې ته هم تهجد وئيل شروع کړی او بيا وينا کول شروع کړی چه په رمضان او غير رمضان کښې حضور پاک ﷺ د يوولسو رکعتونه د شپې زيات مونځ نه دې کړې لهذا د اتو رکعتونه زياتی هيڅ هم ثابت نه دی که دې ته تراويح وائی او که تهجد ورنه وائی داسې ګډوډ کول او اړول راړول مناسب نه دی ډير زيات قرائن او دلائل موجود دی چه دا جدا مونځونه دی يو څو قرائن او ګورئی:

① تهجد او تراويح کښې د فرق دويمه قرينه داده چه د دواړو وخت جدا جدا دې تراويح د ماسخوتن نه پس دی او تهجد د شپې په آخره يا مينځ کښې وی.

③ په ډیرو زیاتو احادیثو کښې او دَ فقهاؤ په بې شمیره کلام کښې اودَ محدثینو په بې شمیره عنواناتو کښې دَدې مونځ اضافت په خاص توګه دَ رمضان طرف ته کړې شوې دې لکه قیام شهر رمضان "سننت لکم قیامه" "یرغب في قیام رمضان من قام ایمانا واحتسابا" وغیره وغیره دا اضافت دَ تخصیص فائده ورکوی لهذا دا عام تهجد نه دی بلکه دَ تراویح مونځ دې. په حرمین شریفین کښې نن صبا دَ تراویح دَپاره داسې اعلان کیږی "صلوة القیام اثابکم الله"

④ تهجد دَ قرآن نه ثابت دی او تراویح دَ سنت رسول الله ﷺ نه ثابت دی لکه چه "وسننت لکم قیامه".

⑤ دَ صلوة اللیل کله هم جمع نه وی نه دَدې څه ترغیب ورکړې شوې دې خو قیام رمضان په جمع سره وی اودَدې ترغیب ورکولې شی.

⑥ دَامت فقهاء محدثین او دَ دین ماهرین قیام اللیل ته تهجد او قیام رمضان ته تراویح وائی نو په دواړو کښې صفافرق ښکاره دې. دا شپږ وجوهات دی په کوم سره چه تراویح او تهجد کښې فرق راځی.

⑦ دَ تراویح کیدونه پس دَ تهجد مونځ صحابه کرامو په اهتمام سره کړې دې که چرې دا یو څیز وې نو دَ تهجد اهتمام به جدا ولې کیدو؟

د تراویحو د سنتیت دلائل:- دَ احنافو په نیزدَ تراویح مونځ سنت مؤکده دې اودَ حنابله هم دغه مسلك دې. (کذا فی المغنی لابن قدامه ج۲ ص۱۶۶) دَ تراویح په سنت مؤکده کیدو باندې ډیرزیات دلائل دی:

① حضورپاك ﷺ درې شپې دَ تروایح مونځ په جمع سره ورکړو چه خلق زیات شو نو حضورپاك ﷺ پریخودلو اودا وجه ئی بیان کړه چه ماته ویره پیداشوه چه دا مونځ په تاسو باندې فرض نه کړې شی کوم چه تاسوپوره نه کړې شئی. دې نه معلومه شوه چه تروایح سنت مؤکده دی.

② حضورپاك ﷺ اوفرمائیل "وسننت لکم قیامه" یعنی قیام رمضان فرض نه دې بلکه الله تعالی روژې فرض کړی دی او تراویح زما سنت دی.

③ حضورپاك ﷺ دَ تراویح بنیاد قائم کړو او دَعذردَ وجې نه ئی په دې باندې عملی مواظبت اونه کړو لیکن دَ حضورپاك ﷺ نه پس صحابه کرامو خلفاء راشدین ﷺ اودَ امت فقهاؤ په دې باندې مواظبت کړې دې کوم چه دَ سنت مؤکده واضح دلیل دې.

د تراویحو په جمع او ځانله کولو کښې اقوال:-

① دَ جمهورو فقهاؤ رائې ده چه تراویح په جمع سره یوځائی کول غوره اوبهتر دی.

② دَ بعض علماء اوفقهاء رائې ده چه تراویح ځان له په کور کښې کول بهتر دی. دَامام مالك

رحمه الله او امام ابویوسف رحمه الله یو یو روایت داسې هم دی.

په مذهبینو کښې محاکمه:- دې علماو بیا محاکمه کړې ده که په جمع کښې دَ نه شریکیدو دَ وجې دَ مونځ گذار دَپاره په تراویح کښې سستی کولو خطره وی او دَ هغه جمات ته په نه راتلو کښې جمع ته دَ نقصان رسیدو هم څه خطره نه وی نو دې سړی له جمات ته راتلل یا په کور کښې کول دواړه برابر دی. خو که یو سړی ته خطره ده که جمات ته رانغلو نو تراویح به ترې پاتې شی سستی به پیداشی یا دَ ده دَ وجې نه به جمع ته نقصان اورسی نو بیا دَ ده دَپاره جمع کښې حاضریدل افضل او اولی دی. بهر حال دَ اکثر احنافو په نیز دَ تراویح دَپاره په جمع کښې شاملیدل سنت دی.

تراویح سنت علی الکفایه دی:- بیا دَ احنافو جمهور علماء دَ تراویح جمع ته سنت علی الکفایه وائی مطلب دا که دَ پوره محلې والو نه دَ تراویح جمع پاتې شی نو ټول به گناهگاروی او که بعض جمع اوکړه نو دَ باقی دَ ذمه نه به ذمه واری ساقط شی. بهر حال حضور پاک درې شپې جمع قائم کړې بیائی پریخوده. دَ صدیق اکبر رضی الله عنه په دور کښې داخلی او خارجی فتنې راؤچتې شوې نو هغوی هم دَ جمع دَ ترتیب دَپاره فارغ نه شو. بیا حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په یو امام سره ټول مسلمانان په جمع سره یو ځائی کړل او دَ هغه وخت نه تر ننه پورې هغه سلسله قائم او دائم ده. حضرت عمر رضی الله عنه اول خلق په اتو رکعتو باندې راجمع کړل بیائی په دوولس رکعته باندې جمع کړل او بیائی په شلو باندې ټول یو ځائی کړل او تر ننه پورې هم دغه طریقه روانه ده.

د تراویح په شمار کښې مذاهب:-

① دَ امام مالك رحمه الله نه په دې باره کښې مختلف اقوال نقل دی. دَ یو قول مطابق دَ هغوی په نیز تراویح شل رکعته دی دویم قول کښې شپږ دیرش رکعته دی او یو قول دَ ۴۱ رکعتو هم دې. علامه عینی رحمه الله فرمائی دَ امام مالك رحمه الله نه دَ شپږ دیرشو رکعاتو والا قول مشهور او معتمد دې. داخیره دَ یاد ساتلو قابل ده چه دَ امام مالك رحمه الله په نیز اصل تراویح شل رکعته دی دَ شلو رکعتونه چه کوم دَ زیاتی ذکر راغلې دې دا ټول نوافل دی. هغه وخت په مکه مکرمه کښې دَ څلورو رکعتو ترویحه په دوران به خلقو دَ بیت الله طواف کولو. تراویح شل رکعته وې لیکن په مدینه کښې دَ ترویحه په وخت دَ طواف امکان نه وو نو خلق به اودریدل او څلور رکعته به ئی نور اوکړل. لهذا په څلورو ترویحاتو کښې به شپاړس رکعته نفل کیدل هم دغه په ترویحه کښې شامل کړې شو نو دَ شپږ دیرش رکعتو قول ئی اوکړو گنی اصل تراویح دَ شلو رکعتونه زیاتې نه دی.

② دَ امام ابوحنیفه رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله او نورو دیرو فقهاؤ مسلك دې چه تراویح شل رکعته دی او درې وتر دَ دې نه علاوه دی.

په شل رکعته تراویحو باندې داجماع انعقاد: — په شل رکعته تراویح باندې اجماع منعقد شوې ده. دَحضرت عمر فاروق رضی الله عنه باره کښې تصور هم نه شی کیدلې چه هغوی دَ شلو رکعتو تراویح حکم دَخپل طرف نه جاری کړې وی یا العیاذ بالله هغوی دَ څه بدعت ارتکاب یا ایجاد کړې دې. بیا چه کله هغوی دَ شلو رکعتو عام اعلان په جمات کښې اوکړو او په عملی توګه باندې په شل رکعته باندې عمل کول شروع شو نو یو صحابی دَدې نه انکار اونه کړو اونه ازواج مطهرات چه دَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم دَ هر راهر اوپټ عمل نه خبروې په هغوی کښې چاهم څه نکیراونه کړو. په دې سره دا خبره واضح کیږی چه صحابه کرام په دې خبره باندې پوهیدل چه دَ حضرت عمر رضی الله عنه دا اقدام دَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم دَ منشاء عین مطابق دې او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه ضرور څه اشاره دَ دربار نبوی نه دَ شل رکعته تراویح لیدلې وه. لیکن دَ دې باوجود غیرمقلدین شل رکعته تراویح بدعت ګرځوی. دا ډیره دَ افسوس خبره ده. اوس دَ طرفین دلائل اوګورئی.

د اول فریق اول دلیل: —

① دَهغوی دَ ټولو نه زیات مشهور دلیل دَحضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها حدیث دې دَ کوم تخریج چه بخاری وغیره کړې دې. حضرت عائشه رضی الله عنها دَ یوسائل په جواب کښې اوفرمائیل "ماکان رسول الله صلی الله علیه وسلم یزید فی رمضان ولا فی غیره علی احدی عشرة رکعة" معلومه شوه چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم په رمضان کښې دَ اتو رکعتو نه زیاتی تراویح نه دی کړی.

داول فریق د اول دلیل جواب: — دَدې حدیث تعلق دَتهجد سره دې تراویح سره بالکل نه دې. دَ حضرت عائشه رضی الله عنها په حدیث کښې "ولافی غیره" الفاظ په اوچت آواز سره وائی چه دا دَ تراویح خبره نه ده بلکه دَتهجد خبره ده ګنی دَ رمضان نه علاوه وختونو کښې دَ تراویح څه تصور کیدې شی. بل که چرې دَحضرت عائشه رضی الله عنها په نیز دَ تراویح مونځ صرف اته رکعته وو نو بیا هغې په شل رکعته باندې اعتراض ولې اونه کړو حالانکه په مدینه منوره کښې حضرت عائشه رضی الله عنها دَ عام صحابه دَپاره مرجع وه معلومه شوه دا دَ تهجد خبره وه دَ تراویح خبره نه وه.

داول فریق دویم دلیل: —

② دَحضرت جابر رضی الله عنه روایت د دوی مستدل دې الفاظ ئې دا دی: "عن جابر بن عبدالله انه علیه السلام قام بهم فی رمضان فصلی ثمان رکعات واوتر" [رواه ابن حبان فی صحیحه] دې نه معلومه شوه چه حضورپاك صلی الله علیه وسلم اته رکعته تراویح په جمع سره کړی دی.

د اول فریق د دویم دلیل جواب: — حضرت جابر رضی الله عنه دَ تراویح دَ رکعتونو دَ بیانولو اراده نه کړې بلکه دَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم دَ جمع والا دَ رکعتونو ذکر ئې کړې دې چه دَ حضورپاك صلی الله علیه وسلم جمع دَ اتو رکعتو وه دَدې نه علاوه رکعتونه دَ څه دَ وجې نه حضورپاك صلی الله علیه وسلم بغیر دَ جمع ادا

کړی. حضرت جابر رضی اللہ عنہ دَ اتورکعتونه علاوه رکعتونه دَ بحث موضوع نه دی جوړکړی او نه ئی څه حصر یانفی کړې ده. دا تاویل اودا جواب په ظاهری توګه سره ډیر کمزورې دې لیکن دا جواب په دې وجه باندې مضبوط جوړیږی که دَ تراویح رکعتونه اته وې نو ټول صحابه به په دې باندې متفق وې اوپه شل رکعته به کله هم اتفاق نه جوړیدو حالانکه صحابه بغیردَ څه کمی زیاتی شل رکعته قبول کړل اودائی معمول جوړکړو اودَ صحابه کرامو نه زیات دَ حضورپاک ﷺ دَ سنتو پیژندونکی منونکی نور څوك نه شی کیدې.

داول فریق دریم دلیل :-

③ په موطا مالك کښې سائب بن یزید رضی اللہ عنہ روایت داسې دې: "مالك عن محمد بن یوسف عن السائب بن یزید انه قال امر عمر بن خطاب ابی ابن کعب وتمیم الداری ان یقوما للناس باحدی عشرة رکعة"

د اول فریق د دریم دلیل جواب :- ډیره ممکن ده چه دادَهغه زمانې خبره وی چه کوم وخت دَ شلو رکعتو استقرار نه وو راغلې دَجمهورو په کلام کښې هم داخبره ملاویږی چه دَ حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه دَ اتورکعتو حکم هم ملاویږی دَ دوولسوهم ملاویږی. لیکن اقرار او استقرار په شلو رکعتوراغلې دې. صحابه کرامو شل رکعته خپل کړی دی اوامت شل رکعته قبول کړی دی ترننه پورې په حرمین شریفین کښې په شلو رکعتو باندې عمل جاری دې لهذا دا روایت به په هغه زمانه باندې حمل کوی وی کله چه په تراویح کښې انضباط نه وو راغلې. بل په دې روایت کښې ډیر زیات اضطراب دې دَ سائب بن یزید رضی اللہ عنہ نه صرف محمدبن یوسف رحمہ اللہ داسې نقل کوی دَ سائب نور ټول شاګردان دَ یوولسو په ځائی شل رکعته نقل کوی.

د دویم فریق دلائل :- جمهورو سره دَ شلو رکعتو په تراویح باندې ډیرزیات دلائل دی دَ دغه دلائلو وړاندې کولونه په دې خبره باندې ځان پوهه کول پکاردی چه په دومره خبره باندې خودَ ټول امت اتفاق دې چه حضورپاك ﷺ دَ تراویح مونځ کړې دې په دې باندې هم اتفاق دې چه په عهدنوی کښې صحابه کرامو هم تراویح کولې. داخبره هم ثابته ده چه حضورپاك ﷺ درې ورځې په جمع سره تراویح کړی دی اوداهم اتفاق دې چه دَ حضورپاك ﷺ عام معمول په کورکښې دَ تراویح کولو وو.

① دَ شلو رکعتو دَتراویح په ثبوت باندې دَ جمهورو دویم دلیل موطامالك کښې دَ یزیدبن رومان روایت دې. "مالك عن یزید بن رومان انه قال کان الناس یقومون فی زمن عمر بن الخطاب فی رمضان بثلاث وعشرین رکعة" (موطامالك) دا حدیث دَ بلاغات مالك نه دې کوم چه سره دَدې مرسل دې مګردَ موصولات په حکم کښې دې هسې مرسل هم دَ جمهورو په نیزحجت دې.

② عن ابن عباس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یصلی فی رمضان عشرین رکعة فی غیر جماعة والوتر" (رواه البیهقی فی سننه وابن ابی شیبه فی مصنفه والطبرانی والبغوی (زجاجة المصابیح ج ۱ ص ۳۴۶)) دَدې روایت

ټول راویان ثقه دی صرف په ابراهیم بن عثمان باندې کلام دې لیکن تضعیف سره سره ډیرو زیاتو محدثینو دَ دوی توثیق هم کړې ده یحیی بن معین دهغوی باره کښې فرمائی "شیخ ثقة کبیر"

④ دَجمهورو څلورم دلیل دَمصنف ابن ابی شیبه روایت دې. "عن یحیی بن سعید ان عمر بن الخطاب امر رجلا یصلی بهم عشرین رکعة" (ج۲ص۲۹۳)

④ دَجمهورو دریم دلیل دَحضرت سائب بن یزید رضي الله عنه روایت دې. "عن یزید بن خصیفة عن السائب بن یزید قال کانوا یقومون علی عهد عمر بن الخطاب رضی الله عنه فی شهر رمضان بعشرین رکعة وکانوا یقرؤن بالمئین وکانوا یتوکئون علی عصیهم فی عهد عثمان من شدة القیام" (سنن الکبری بیهقی ج۲ص۴۹۶) دا روایت بالکل صحیح الاسناد دې.

⑤ "وعن عمر انه جمع الناس علی ابی بن کعب وکان یصلی بهم عشرین رکعة" (بیهقی وابن ابی شیبه زجاجه ج۱ص۳۶۶)

⑥ "وعن شتیرة وکان من اصحاب علی انه کان یؤمهم فی رمضان فیصلی خمس ترویحات" (بیهقی زجاجه ج۱ص۳۶۶)

⑦ "وعن السائب بن یزید قال کنا نقوم فی عهد عمر بعشرین رکعة والوتر وفی روایة وعلی عهد عثمان وعلی مثله قال النووي اسناده صحیح" (زجاجة المصابیح ج۱ص۳۶۶)

⑧ "وعن ابن ابی عبد الرحمن السلمی ان علیا دعا القراء فی رمضان فامر رجلا ان یصلی بالناس عشرین رکعة وکان علی یوتر بهم" (رواه البیهقی وزجاجة المصابیح ج۱ص۳۶۶)

قال عطاء ادرکت الناس وهم یصلون ثلاثة وعشرین رکعة بالوتر. مشهور تابعی حضرت نافع رحمه الله فرمائی: "لم ادرك الناس الا وهم یصلون تسعا وثلاثین ویوترون منها بثلاث" (فتح الباری ج۴ص۲۵۴) امام مالك رحمه الله فرمائی "وعلی هذا العمل منذ بضع ومائة سنة" (حواله بالا). امام شافعی رحمه الله فرمائی: "رأیت الناس یقومون بالمدینة بتسع وثلاثین رکعة وبمکة بثلاث وعشرین"

د ناصحانه خبره:- په دومره لویه پیمانه باندې دَامت دَ فقهاؤ اقوال اودَ پوره امت اعمال اوافعال که دَچادَ پاره دلیل نه شی جوړیدې نودَې مطلب دادې چه هغه سرې هډو تراویح کول نه غواړی که دَهغوی اراده دَ کولو وه نوهغه به دَ امت دَ اجماع څه خیال ساتلې. په اتو رکعتوباندې دَ جمات نه تختیدونکی دَ ختم قرآن نه محروم پاتې کیږی دَ مسلمانانو دَدعاګانونه محروم پاتې کیږی دَ رمضان دَمبارکو وختونونه محروم پاتې کیږی دَ جمات دَ ماحول نه محروم پاتې کیږی دَ خان خوبنئی ښکار کیږی په مسلمانانو باندې دَ بدګمانئی مرتکب کیږی اودَ پوره امت طرف ته دَ غلطئی نسبت مرتکیب کیږی دَ شلو په ځائی دَ اتو رکعتو ثواب حاصلوی حالانکه که چرې هغه شل رکعته کولې نو اته به په کښې خامخا

حاصلیدلي. په آخره کښې دَ تراویح دَپاره دا خبره فیصله کونکې دلیل دې چه حضور پاک ﷺ فرمائیلي "علیکم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدین" دا مضبوط او محکم دلیل دې لیکن دَ بدقسمتئ نه غیرمقلدین دَ صحابه کرامو تقلید هم نه کوي نوچه کوم امور دَ صحابه کرامو نه ثابت دي داحضرات دَهغې نه انکار کوي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۲۹۵] په جمعې سره دَ تراویحو کولو مسنونیت

۱۲۹۵ - (1)[1] [۱] عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ، [۳] فَصَلَّى فِيهَا لَيَالِيَ، حَتَّى اجْتَمَعَ عَلَيْهِ نَاسٌ، [۴] ثُمَّ فَقَدُوا صَوْتَهُ لَيْلَةً، وَظَنُّوا أَنَّهُ قَدْ نَامَ، [۵] فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ لِيَخْرُجَ إِلَيْهِمْ، [۶] فَقَالَ: "مَا زَالَ بِكُمُ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ صَنِيعِكُمْ، [۷] حَتَّى خَشِيتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمْ، [۸] وَلَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهِ، [۹] فَصَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ، [۱۰] فَإِنَّ أَفْضَلَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] زید ابن ثابت رضی الله عنه فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ (په رمضان کې) په مسجد کې د بوریا (پاټ، چټایي) یوه حجره جوړه کړه [۳] او څو شپې یې په هغې کې (د تراویح) مونځ وکړو (کوم وخت چې خلق به جمع شو نو حضور ﷺ به د حجرې څخه بهر تشریف راوړو او فرائض او تراویح به یې د جماعت سره کول) تر دې چې (یو څل ډیر زیات) خلق جمع شو (حضور ﷺ فرض مونځ کولو سره حجرې ته تشریف وړي وو او څنګه چې یې معمول وو څه وخت وروسته یې بهر تشریف رانه وړو) [۴] خلقو د حضور ﷺ څه کشاري محسوس نه کړو نو هغوئ دا وګڼله چې حضور ﷺ اوده شوي دي [۵] خلقو دغاړي تازه کول شروع کړل چې حضور ﷺ (بیداره شي او د تراویح د لمانځه د پاره) بهر تشریف راوړي (څنګه چې حضور ﷺ تیرو شپو کې تشریف راوړو) [۶] حضور ﷺ (د حجرې څخه بهر راوتو سره یا د دننه څخه) وفرمایل داستاسو کار چې زه وینم برابر دې جاري وي (یعني د جماعت سره د تراویح کولو شوق او د عبادت په معامله کې ستاسو دا جذبه دې همیشه وي او بیا یي وفرمایل) [۷] لیکن زما سره دا ویره شوه چې دا مونځ په تاسو باندې فرض نشي (یعني که ما همیشه د تراویح مونځ د جماعت سره کولي نو دا مونځ به په تاسو فرض شوي وو) [۸] او که دا په تاسو مونځ فرض شوي وي نو تاسو به د دې د کولو څخه قاصر

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب صلاة الجماعة والإمامة/باب صلاة اللیل (رقم-۷۳۱) ومسلم کتاب صلاة/باب استحباب صلاة النافلة فی بیته، وجوازها فی المسجد (رقم) ۲۱۳ - (۷۸۱) وابوداود کتاب الصلاة/باب فی فضل التطوع فی البیت (رقم-۱۴۴۷) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فضل صلاة التطوع فی البیت (رقم-۴۵۰) والنسائی کتاب قیام اللیل وتطوع النهار/باب الحث علی الصلاة فی البیوت والفضل فی ذلک (رقم-۱۵۹۹) ومالک فی الموطا کتاب صلاة الجماعة . باب فضل صلاة الجماعة علی صلاة الفذ (رقم-۴)

شوي وي ⑨ نو اي خلقو تاسو په خپلو کورونو کي مونځ کوئ ⑩ ځکه چې د انسان بهترین مونځ هغه دي چې هغه په خپل کور کي کړي وي سوا د فرض لمانځه ځخه (چي هغه په مسجد کي د جماعت سره کول افضل دي) (بخاري، مسلم)

حل الالفاظ:- ① اتَّخَذَ: جوړه ئي کړه، ② حُجْرَةً: کوټه (د پوزکی نه). ③ حَصِيرٍ: پوزکي (کوم چه د میزرو نه جوړشوي وی). ④ فَقَدُوا صَوْتَهُ: أَيْ حِسَّهُ: يعنی آواز، کشارئي وانه ؤ ريدلو. ⑤ يَتَنَحْنَحُ: غاړي ئي تازه کولي.

تسهیلات:-

قوله: اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ:

داعتكاف دپاره د ځائي خاص کولو جواز:—نبی کریم ﷺ د رمضان په میاشت کښي داسي اوکړل چي د مسجد په يوګوټ کښي ئي ځان نه ګيرچاپيره يو پوزي راتاو کړو چي په خلوت کښي خاص عبادتونه اوکړي.ددې ځخه معلومه شوه چي معتکف ځان دپاره په جمات کښي ځائي مخصوص کولي شی .خودومره زيات ځايي به نه راګيروی چي مونځګذارو ته په دي تکليف اورسی .

قوله: حَتَّى خَشِيتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمْ:

اشکال:—د نبی کریم ﷺ په زمانه کښي دشپي د مونځ دفرضيت انديښنه ځنګه کيديشی حالانکه فرضيت خو په دليل قطعی سره کيږی؟

داشکال دوه جوابونه:— کيدې شی چي الله تعالی نبی کريم ﷺ ته وحی کړي وی که تاسو هغوئ سره قيام کوئی نو مونږ به په هغوئ باندي دا فرض کړو. د صحابه کرامو د تراويح سره د شوق او رغبت په وجه.

② کيدې شی چي په دي فعل باندې د مداومت خيال د نبی کريم ﷺ په زړه کښي پيدا شوي وی.

اشکال:— معراج کښي نبی کريم ﷺ ته پنځه مونځونه ورکړي شوي وو، او په دي کښي د تغيراوتبدل نه نفی اوکړي شوه ،چي اوس به په دي کمی بيشی نه کيږی.نو ځائي کښي د صلوة د فرضيت احتمال ځنګه کيدې شی؟

د اشکال جواب:— هلته د کمي ذکر دې د زياتی نه دې ،په دې وجه ورسره ويره پيدا شوه.

[۱۲۹۶] په رمضان کښي دشپي د عبادت ترغيب

۱۲۹۶—(۱)[۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ ③ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ فِيهِ بِعَزِيمَةٍ فَيَقُولُ: ④ "مَنْ قَامَ رَمَضَانَ، إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، ⑤ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ

[1] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة/باب الترغيب فی قيام رمضان، وهو التراويح (رقم-۱۷٤ - (۷٥۹)

ذَنْبِهِ "۔ ٦ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ، ٧ ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ، ٨ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ عَلَى ذٰلِكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي ٢ چې رسول الله ﷺ به د قیام رمضان (یعني د تراویح د لمانځه) ترغیب ورکولو ٣ لیکن په تاکید سره به یي صحابه و ﷺ ته هیڅ حکم نه ورکولو حضور ﷺ به فرمایل ۴ کوم سړي چې په صحیح اعتقاد سره او د ثواب حاصلولو د پاره (یعني د ریا او نمائش په جذبې سره نه بلکه محض د الله جل شانه د رضا د پاره) په رمضان کې قیام کوي ۵ د هغه مخکیني (صغیره) ګناهونه بخښل کیږی ٦ نوحضور ﷺ وفات شو او د قیام رمضان معامله دغسې پاتې شوه (یعني د تراویح د لمانځه د پاره جماعت مقرر نه وو بلکه چا چې به غوښتل د حصول ثواب د پاره به یي کول) ٧ بیا د حضرت ابوبکر ﷺ په خلافت کې هم دغسې صورت وو ٨ او بیا د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په ابتدایي زمانه کښې هم دغه معمول وو (او بیاحضرت عمر ﷺ د تراویح د لمانځه د پاره د جماعت حکم وکړو او ددې التزام یي وکړو). (مسلم)

حل اللغات:- ① يُرَغِّبُ: د ترغیب ورکولو په معنی کښې دې. ② بِعَزِيمَةٍ: أَيْ: بِعَزْمِيَّتٍ: یعنی په تاکید سره (به ئې حکم نه کولو). ③ إِيمَانًا: أَيْ: مُؤْمِنًا بِاللّٰهِ: چه په الله تعالی ئې ایمان وی. ④ وَاحْتِسَابًا: أَيْ: مُحْتَسِبًا بِمَا فَعَلَهُ عِنْدَ اللّٰهِ أَجْرًا: اود الله تعالی نه ئې د ثواب امید وی. ⑤ وَالْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ: هم هغه معمول جاری وو کوم چه د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې وو یعنی ځان ځانله به ئې د تراویح مونځ کولو، جماعت سره به ئې نه کول.

تسهیلات:- قوله: إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا:

دایمان او احتساب په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① د دې جملې مطلب دادې چې د رمضان په مقدسو او برکتنانو شپو کښې دالله تعالی عبادت کول او شپې شوګیره کول.

② ددې نه مراد داهم دی چې کوم کس صحیح عقیدې سره د تراویح مونځ ادا کړی یعنی دالله تعالی په ذات او صفاتو باندې عقیده لری ،او دا خبره ورته صحیح معلومیږی چې د رمضان په شپو کښې د الله تعالی عبادت کول ،دالله تعالی درضا او دقرب ذریعه ده.نو د هغه ځخه چې کوم صغیره ګناهونه شوی وی هغه ورته معاف کیږی.

قوله: غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ:

دګناهونو په معاف کیدو کښې اقوال:-

① د حدیث مبارك د ظاهر نه معلومیږی چې څوك د تراویح پابندی کوی نو ددې برکت سره به ئې صغائر او کبائر معاف کیږی.

②امام نووی رحمة الله علیه فرمائی چې نیکو عملونو سره صرف صغائر معاف

کیږي. ځکه چې کبائر توبې سره او حقوق العباد د صاحب حق په معاف کولو سره معاف کیږي او هم دا قول د اهل سنت دی.

③ صغائر په معاف کیږي. او په کبائرو کښې به تخفیف کولې شي.

[۱۲۹۷] د نوافلو په کورونو کښې د کولو فضیلت

۱۲۹۷—(۱)[۳] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِي مَسْجِدِهِ [۳] فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا ; [۴] فَإِنَّ اللّٰهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلَاتِهِ خَيْرًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت جابر رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل په تاسو کې چې کوم سړي خپل (فرض) مونځ په مسجد کې وکړي نو هغه ته پکار دي چې د خپل لمانځه څه حصه د خپل کور د پاره هم وساتي (یعني سنت او نوافل بلکه قضاء دي هم په کورکي کوي) ځکه چې الله تعالی جل جلاله د هغه د لمانځه په سبب د هغه په کورکي خیر پیدا کوي. (مسلم)

حل اللغات:- ①نَصِيبًا: أَيْ: حِصَّةً وَحَظًّا: حصه، برخه.

تسهیلات:- **قوله:** فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا:

په کورونو کښې د سنتو ادا کولو فضیلت:- دې حدیث مبارك کښې په کورونو کښې د سنتو ادا کولو فضیلت او ددې سنتو ادا کولو په وجه چې کوم اثرات پیدا کیږی هغه بیانیږی. فرمائی چې کوم کس فرض مونځ په جمات کښې او سنت او نوافل په کور کښې کوی نو ددې مونځ په برکت سره الله تعالی دهغه په کور کښې خیر راولی. یعنی کور والو ته د نیکۍ توفیق ملاویږی. او د استوګنو په رزق او عمر کښې برکت پیدا کیږی.

دتراویح د مونځ استثناء:- تراویح په دې حکم کښې نه دی شاملې. ځکه چې بالاتفاق دا ثابت دی چې حضور ﷺ به تراویح په جمات کښې کولې. او په دې د صحابه کرامو اجماع هم وه.

باب سره مناسبت:- په ظاهره ددې حدیث دې باب سره تعلق نشته، لیکن په دې باب کښې د نقل کول مقصد دادې چې رمضان کښې دې څه مونځونه په کور کښې هم ادا کړې شي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۱۲۹۸] په آخری عشره کښې د نبی علیه السلام درې شپې تراویح کول

۱۲۹۸—(۲)[۴] [۱] عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «صُمْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمْ يَقُمْ بِنَا

[1] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة/باب استحباب صلاة النافلة فی بیته، وجوازها فی المسجد (رقم) ۲۱۰ - (۷۷۸) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی التطوع فی البیت (رقم-۱۳۷۶)

[2] اخرجه الترمذی فی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی قیام شهر رمضان (رقم-۸۰۶) والنسائی کتاب السهو/باب ثواب من صلی مع الإمام حتی ینصرف (رقم-۱۳۶۴) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة. والسنة فیها/باب ما جاء فی قیام شهر رمضان (رقم-۱۳۲۷)

شَيْئًا مِنَ الشَّهْرِ حَتّٰى بَقِيَ سَبْعٌ،۳ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ،۴ فَلَمَّا كَانَتِ السَّادِسَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا،۵ فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قَامَ بِنَا، حَتّٰى ذَهَبَ شَطْرُ اللَّيْلِ،۶ فَقُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! لَوْ نَفَّلْتَنَا قِيَامَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ؟۷ فَقَالَ: "إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا صَلّٰى مَعَ الْإِمَامِ حَتّٰى يَنْصَرِفَ حُسِبَ لَهٗ قِيَامُ لَيْلَةٍ"،

ترجمه: ۱ حضرت ابوذر ﷛ فرمايي ۲ چې مونږ (په رمضان کې) د حضور ﷺ سره روژې ونيولې حضور ﷺ د مياشتې په اکثرو شپو کې زمونږ سره قيام ونه کړو (يعني حضور ﷺ د رمضان په شپو کې زمونږ سره د فرض څخه علاوه بل څه مونځ ونه کړو) تر دې چې اوه شپې باقي پاتې شوې ۳ نو حضور ﷺ زمونږ سره د شپې تر دريمې پورې قيام وکړو (يعني مونږ ته يې د تراويح مونځ راکړي)۴ هر کله چې شپږ شپې پاتې شوې (يعني څلرويشتمه شپه راغلله نو) حضور ﷺ قيام ونه کړې ۵ بيا چې پنځه شپې باقي پاتې شوې (يعني پنځويشتمه شپه راغلله) نو حضور ﷺ زمونږ سره تر نيمې شپې پورې قيام وکړو۶ ما عرض وکړو يا رسول الله ﷺ ارمان (کاش) چې نن شپه مو قيام نور زيات کړې وې (يعني که حضور ﷺ د نيمې شپې څخه هم تر زياته پورې مونږ ته مونځ راکړې وې نو بهتره به وه)۷ حضور ﷺ وفرمايل هر کله چې يو سړې (فرض) مونځ د امام سره وکړي او د هغې څخه فارغيدو نه واپس څي نو د هغه د پاره د پوره شپې د عبادت ثواب ليکل کيږي (يعني د ماسخوتن او د سحر مونځ په جماعت سره د کولو په وجه هغه ته د پوره شپې د عبادت ثواب حاصليږي بله دا چې نوافل هغه وخت پورې کول مناسب او بهتر دي څو پورې چې زړه لګيږي)

حل اللغات:- ① شَطْرُ اللَّيْلِ: أَيْ: نِصْفُهٗ: نيمه شپه ② حُسِبَ: أَيْ: اعْتُبِرَ: حسابولې به شي، ګڼرلې به شي.

۱ فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا حَتّٰى بَقِيَ ثُلُثُ اللَّيْلِ،۲ فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ، جَمَعَ أَهْلَهٗ وَنِسَاءَهٗ وَالنَّاسَ،۳ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى خَشِيْنَا أَنْ يَفُوْتَنَا الْفَلَاحُ،۴ قُلْتُ: وَمَا الْفَلَاحُ؟ قَالَ: السُّحُوْرُ. ۵ ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ». رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ،۶ وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهٗ؛ ۷ إِلَّا أَنَّ التِّرْمِذِيَّ لَمْ يَذْكُرْ: ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ.

ترجمه: ۱ هر کله چې څلور شپې باقي پاتې شوې (يعني شپږويشتمه شپه راغلله) نو زمونږ سره يې قيام ونه کړو تر دې چې دريمه د شپې باقي پاتې شوه (او مونږ په دې انتظار کې وو چې حضور ﷺ تشريف راوړي او مونږ ته مونځ راکړي)۲ هر کله چې درې شپې باقي پاتې شوې (يعني اوويشتمه شپه راغلله) نو حضور ﷺ خپل کوروالا، خپلې بيبياني او ټول خلق راجمع کړل۳ او زمونږ سره يې قيام وکړو (يعني ټوله شپه يې مونځ کولو) تر دې چې زمونږ سره دا ويره شوه چې چرته فلاح راڅخه فوت نشي ۴ راوي وايي چې ما پوښتنه وکړه چې فلاح څه شي دي؟ حضرت ابوذر ﷛ وفرمايل چې (د فلاح څخه مراد) پيشمني کول (دي)۵ بيا حضور ﷺ زمونږ سره د مياشتې په پاتې شپو کې (يعني په اته ويشتمه او يو کم ديرشمه شپه کې) قيام ونه کړو، ابوداؤد، ترمذي، نسايي، ۶ ابن ماجه هم دغسې

روايت نقل کړي دي۞ او ترمذي په خپل روايت کې ثم لم يقم بنا بقية الشهر (يعني بيا حضور ﷺ زمونږ سره د مياشتي په پاتې شپو کې قيام ونه کړو) الفاظ نه دي ذکر کړي.

حل اللغات:- ⑭الْفَلَاحُ: أي الْفَوْزُ: کاميابۍ ته وائي، پيشمنى ته فلاح ځکه اوونيلې شو چه دا د روژې د پوره والى سبب دي. ⑭السُّحُورُ: پيشمنې.

تسهيلات:-

قوله: فَلَمَّا كَانَتِ السَّادِسَةُ:

دمياشتې اخرى شپو باره کښې د عربو اصطلاح:-عربو کښې دا خبره ده چې د مياشتې آخره نيمه شي نو بيا د آخر نه شمير کوی.لکه (ديرشتمې ته سابعه ،شپږيشتمې ته سادسه ،پنځويشتمې ته خامسه ،اوويشتمې ته ثالثه وغيره).د حديث حاصل دادې چې نبى کريم ﷺ په ديرشتمه شپه مونځ ورکړو ،په څلريشتمه شپه ئې مونځ ورکړو، په شپږيشتمه شپه ئې مونځ ورنه کړو، بيا ئې په اوويشتمه شپه مونځ ورکړو، او بيا ئې دومره اوږد مونځ ورکړو چې صحابه کرام وائی چې مونږ ته ويريدوشوه چې هسې زمونږ ځخه د پشمنى وخت تير شى.

[۱۲۹۹] د شب برائت فضيلت

۱۲۹۹-()[۵]① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: ②«فَقَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً، ③فَإِذَا هُوَ بِالْبَقِيعِ، فَقَالَ: ④"أَكُنْتِ تَخَافِينَ أَنْ يَحِيفَ اللّٰهُ عَلَيْكِ وَرَسُولُهُ؟⑤"، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنِّي ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَائِكَ. ⑥فَقَالَ: "إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، ⑦فَيَغْفِرُ لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعْرِ غَنَمِ كَلْبٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:① زمونږ د مؤمنانو مور بي بي عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي② چې (يو ځل په خپل نمبر کې) ما رسول الله ﷺ په بستره باندې ونه موندلو③ (چې ما تلاش کړو نو) ناځاپه ګورم چې حضور ﷺ په بقيع کښې موجود دي (زما ليدو سره) حضور ﷺ وفرمايل④ چې آيا تا سره د دې خبري خوف وو چې الله جل جلاله او د هغه رسول (ﷺ) به په تا ظلم اوکړي؟ ⑤ما عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ما ته خيال شوې وو چې ګينې تا ﷺ خپلې يوې بلې بي بي ته تشريف وړي دي⑥ حضور ﷺ وفرمايل الله تعالى جل جلاله د نيم شعبان په شپه (يعنې د شعبان په پنځلسمه شپه) کښې د دنيا آسمان (يعني اولنې اسمان) ته نزول فرمايي⑦ او د قبيله بنو کلب (د بزو) د رمو د ويښتانو ځخه هم په زيات تعداد کې ګناه

---

[1] اخرجه الترمذی فی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی قيام شهر رمضان (رقم-۸۰۶) والنسائی كتاب السهو/باب ثواب من صلى مع الإمام حتى ينصرف (رقم-۱۳۶۴) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی قيام شهر رمضان (رقم-۱۳۲۷) اخرجه الترمذی فی كتاب الصوم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی ليلة النصف من شعبان (رقم-۷۳۹) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی ليلة النصف من شعبان (رقم-۱۳۸۹)

بخښي، (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① فَقَدْتُ: أَيْ: طَلَبْتُهُ فَمَا وَجَدْتُهُ: اومې نه موندلو. ② بِالْبَقِيعِ: دَ مدينې منورې دَ مشهور قبرستان نوم جنت البقيع هم دې او بقيع غرقد هم دې او دې ته البقيع هم وائي. ③ أَنْ يَحِيفَ: أَيْ: يَجُوْرَ وَيَظْلِمَ: چه ظلم او زياتي به اوکړي، ④ شَعْر: ويښته، ⑤ غَنَم: بيزې، چيلۍ، ⑥ كَلْب: أَيْ: قَبِيلَةِ بَنِي كَلْبٍ: د بنوکلب قبيله.

①وَزَادَ رَزِينٌ: "مِمَّنِ اسْتَحَقَّ النَّارَ"، ②وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: سَمِعْتُ مُحَمَّدًا -يَعْنِي الْبُخَارِيَّ- يُضَعِّفُ هَذَا الْحَدِيثَ.

ترجمه: ① او رزين دا الفاظ هم نقل کړي دي چې (د مؤمنانو څخه چې کوم خلق د دوزخ مستحق شوې وي هغه بخښي، ② امام ترمذي رحمه الله فرمايي چه ما د محمد يعنې امام بخاري څخه دا اوريدلي دي چې دا حديث ضعيف دي.

تسهيلات:-

قوله: فَإِذَا هُوَ بِالْبَقِيعِ:

دجنت البيع تعارف:- دَحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها خيال وو چه حضورپاک ﷺ دَ هغوی په نمبرکښې چرته دَ بلې ام المؤمنين کور ته تشريف اوړلې دې. خوچه کله ئې حضورپاک ﷺ په جنت البقيع کښې اوليدلو نو زر زر کور ته واپس راغله بيائې حضورپاک ﷺ سره خبرې اترې اوکړې.بنوکلب دَ عربو يوه مشهوره قبيله وه هغوی سره به ډيرې زياتې چيلئې وې.

د شعبان د پنځلسمې شپې فضيلت:-

دَ شعبان دَ مياشتې پنځلسمې شپې ته شب برأت هم وائي يعنې دَ ګناهونو ته دَ خلاصې شپه. دَ شب برأت متعلق په دې خان پوهه کړئې چه عامو انسانانو په دې شپه کښې دَ شرعي حدودو نه تجاوز کړې چه چراغونه او نور منکرات او بدعات، حلويات دَ خوراك ښښاك او مطعوماتو په صورت کښې ښکاره کيږي. دې ته په کتلوسره

د شب براءت په فضيلت کښې اختلاف:-

① بعضې علماء حق چې کله د خلقو په شب براءت کښې بدعات اوخرافات اوليدل نو هغوی د دې د فضيلت رد اوکړو.

② بعضې عالمانو دَ رد سره سره دَدې شپې دَهر فضيلت نه انکاراوکړو

انصافي خبره:- دَ شب برأت فضيلت دَ احاديثو نه ثابت دې. لسو صحابه کرامو دَدې دَ احاديثو تخريج کړې دې. سره دَدې چه په فني لحاظ سره په احاديثو کښې ضعف شته ليکن دَدې مطلب دانه دې چه دا احاديث ناقابلِ عمل دی. ځکه چه دا احاديث دَ يو بل دَمضمون تائيد کوی.

په فضائلو کښې په ضعيف روايت عمل:- بل فضائلِ اعمال کښې دَدې قسم احاديث

اخستل معروف او مشهور دی. دَ امام احمد بن حنبل رحمه الله قول دې چه کله مونږ دَ احکامو احاديث اخلو نو "تشددا" مونږ سختی کوو اوکله چه دَ فضائلو احاديث اخلو "تسهلنا" مونږ نرمی کوو. دَدې شپې متعلق سره دَ دې چه څه خاص عبادت مقرر نه دې اودَ خپل طرفه تحديد اوتعيين هم جائز نه دې

د پنځلسم شعبان د روژې حکم: –دَ شب برأت نه پس دَ ورځې دَ روژې ذکر په دې حديث کښې دې سره دَدې چه دا روايت ضعيف دې ليکن پخپله دَ شعبان دَ روژو ذکر احاديثو کښې شته. بيا دَ ايام بيض ډير ترغيب دې. نو دَ شب برأت دَ وجې نه دا روژه نه سهی په ايام بيض کښې پنځلسم شعبان پخپله مامور به دې او مرغوب فيه دې دَدې وجې نه دې دا روژه اوساتلې شی. دَ دواړو ثواب به ان شاء الله ملاويږی او دَ پنځلسم تاريخ دَ خصوصيت نه به بچ شی.

په شب براءت کښې قبرستان ته د تلو حکم: –دَدې خبرې نه انکارنه شی کيدې چه حضورپاك ﷺ په شب برأت کښې قبرستان ته تشريف اوړلې دې ليکن دَدې مطلب دا نه دې چه مونږ دې دا هميشه معمول جوړکړو او هرکال قبرستان ته دَ تلو شه په ډنګ ډونګ سره اهتمام کوو. حضورپاك ﷺ په ټول عمر کښې صرف يو ځل تشريف اوړلې دې بيا کله هم نه دې تلې. نوکه نن هم يو سړې داسې کوی نو څه قباحت نشته دې. ليکن هرکال شب برأت مناوول، قبرستان ته تلل، دَدې اهتمام کول، دَدې التزام کول او دَ شب برأت حصه ګڼړل دَ شرعی حد نه تجاوز دې کوم چه ناجائز دې.

نن صبا دَ عبادت هغه اړخ خو غيب دې اودَ عادت اړخ غالب دې. اوس خو حال دادې چه خلق دَ عبادت اهتمام دومره نه کوی څومره چه دَ خوراك پخولو اوبيا دَ خوړلو دې. دَ حلواګانو اهتمام او انتظام دې عبادت خو صرف هسې دَنوم دې.

[۱۳۰۰] د جمات په نسبت د نفلو په کورکښې د کولو افضليت

۱۳۰۰–()[٦]① وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:② "«صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي مَسْجِدِي هٰذَا،③ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:① زيد ابن ثابت رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② د سړي په خپل کور کې کړي مونځ د هغه لمانځه څخه بهتر دي چې زما په دي مسجد (يعني مسجد نبوي ﷺ) کې يې وکړي③ علاوه د فرض څخه (چې فرض په مسجد کښې کول بهتر دي).
(ابوداؤد ،ترمذي)

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب صلاة الرجل التطوع فی بيته (رقم-١٠٤٤) والترمذی کتاب الصلاة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی فضل صلاة التطوع فی البيت (رقم-٤٥٠)

تسهيلات:- په کورکښې د نفل مونځ کولو فضيلت د کور د وجې نه دې په مسجد کښې د ممانعت د وجې نه نه دې. لهذا که څوک سنت او نوافل په جمات کښې کول غواړی نوبغیر د څه کراهت جائز دی البته په کورکښې کول افضل دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۳۰۱] د حضرت عمر رضي الله عنه د تراويح د مانځه د پاره جماعت مقررول

۱۳۰۱-()[۷] ⓵عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: ⓶خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ لَيْلَةً إِلَى الْمَسْجِدِ، ⓷فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُونَ، ⓸يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ، ⓹وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ، ⓺فَقَالَ عُمَرُ: إِنِّي لَوْ جَمَعْتُ هٰؤُلَاءِ عَلَى قَارِئٍ وَاحِدٍ لَكَانَ أَمْثَلَ، ⓻ثُمَّ عَزَمَ، فَجَمَعَهُمْ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، ⓼قَالَ: ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَهُ لَيْلَةً أُخْرَى،

ترجمه: ⓵ عبدالرحمٰن ابن عبد القاري فرمايي ⓶ چې (يو ځل د رمضان) په شپه کې زه د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه سره مسجد ته لاړم ⓷ هلته مونږ وليدل چې خلق متفرق او تس نس شوي وو ⓸ يعنې چا د ماسخوتن د لمانځه ځخه وروسته ځان له نفل مونځ کولو ⓹ او چا داسې کول چې ځو سرې به نور هم د هغه سره وو (لکه چې ځه خلقو خو جدا جدا تراويح کولې او ځه خلقو د جماعت سره کولې دي صورت حال لره ليدو سره) ⓺ حضرت عمر فاروق وفرمايل که زه دا خلق په يو قاري پسې جمع کړم نو بهتره به وي ⓻ نو هغه دا اراده وکړه او ټول خلق يې په حضرت ابي بن کعب رضي الله عنه پسې جمع کړل (يعنې هغه يې د تراويح د لمانځه د پاره د خلقو امام مقرر کړو) عبدالرحمٰن فرمايي (بيا دې ځخه وروسته) زه يوه شپه د حضرت عمر رضي الله عنه سره مسجد ته لاړم

حل اللغات:- ⓵ أَوْزَاعٌ: أي فِرَقٌ مُتَفَرِّقُونَ: جدا جدا ډلې، يعنې خلق په ځان ځانله ټولو او ټکړو کښې تقسيم شوي وو چا به نفل کول چا به سنت کول او چا به تراويح کولې. بيا چا تراويح هم په جمع سره کولې ځه خلقو ځانله جمع سره کولې. ⓶ الرَّهْطُ: قَوْمُ الرَّجُلِ وَقَبِيلَتُهُ: د يو خو سړو جماعت ته رهط وائي. ⓷ أَمْثَلَ: أي: أَفْضَلَ: بهتره به وی، ډير ثواب به ملاويږی. ⓸ عَزَمَ: أي: صَمَّمَ عَلَيْهِ: پخه اراده ئې اوکړه.

⓵وَالنَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ. ⓶قَالَ عُمَرُ: نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ، ⓷وَالَّتِي تَنَامُونَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِي تَقُومُونَ- يُرِيدُ آخِرَ اللَّيْلِ- ⓸وَكَانَ النَّاسُ يَقُومُونَ أَوَّلَهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ⓵ هلته ټولو خلقو خپل امام ابي ابن کعب رضي الله عنه پسې مونځ کولو (دي ليدو سره) ⓶ حضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل چې دا ښه بدعت دي ⓷ او (د تراويح) د هغه وخت مونځ هرکله

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب صلاة التراويح/باب فضل من قام رمضان (رقم-۲۰۱۰)

چې تاسو اوده کيږئ ددې وخت د لمانځه څخه بهتر دي د دې څخه مراد د حضرت عمر رضي الله عنه آخري شپه وه ،يعني د حضرت عمر رضي الله عنه د دې ارشاد دا مطلب وو چې د تراويح مونځ د شپې په آخري حصه کې کول د شپې په اول وخت کې د کولو څخه بهتر دي ځکه چې هغه وخت به خلقو د تراويح مونځ په اول وخت کې کولو. (بخاري)

حل اللغات:- ⑤نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ: په لغت کښې بدعت نوی ايجاد شوې معنی کښې دې. دلته بدعت دَ خپل اصطلاحی مفهوم کښې نه دې بلکه دلته په لغوی معنی کښې مستعمل دې.

تسهيلات:-

قوله: نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهٖ

د بدعت څخه لغوی بدعت مراد کيدل:- دَ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه مقصد دادې چه په جمع سره ټول خلق په تراويح باندې يو ځائی کول اودَ شلو رکعتو پابندئی سره په يو ځائی کول بهتر نورې طرز او نوې انتظام دې.

حضرت عمر رضي الله عنه دې نوی انتظام او نوی مقرر کولوته جديد وائی دَ تراويح اصل جمع نه نوې ايجاد نه وائی ځکه چه اصل جمع خو نبی کريم ﷺ پخپله شروع کړې وه.

نوټ:-د بدعت پوره تفصيل به باب الاعتصام بالکتاب والسنة په شروع کښې بدعت سره متعلق تفصيل ليکلې شوې دې هلته اوګورئی.

قوله: وَالَّتِي تَنَامُونَ عَنْهَا أَفْضَلُ مِنَ الَّتِي تَقُومُونَ الخ:

د عبارت په موصوف محذوف کښې دوه احتمالات:- په دې عبارت کښې دوو ځايونو کښې "التی" لفظ راغلې دې اودوارو ځايونو کښې موصول دې چه خپلې صلې سره ملاويدو کښې صفت دې اودَدې موصوف محذوف دې. اوس دَدې محذوف موصوف څه څيز دې په دې کښې دوه احتماله دی.

① دلته موصوف "الساعة" دې يعنی هغه وخت کوم کښې چه تاسو پاسئی مونځ او تراويح کوئی دَ دغه وخت نه هغه وخت افضل دې په کوم کښې چه تاسو مونځ نه کوئی بلکه اوده کيږئی. حضرت عمر رضي الله عنه دَ شپې دَ روستونئی حصې فضيلت بنائی اودَ تهجد دَپاره دَ پاسيدو ترغيب ورکوی. حضرت ګنګوهی رحمه الله دَدې صورت مطلب داسې بيانوی. چونکه خلق تراويح کولو سره اوده کيدل اودَ تهجد دَپاره نه پاسيدل نو حضرت عمر رضي الله عنه هغوی ته ترغيب ورکړو چه افضل نه دی ترک کول پکار. لهذا په اول وخت کښې تراويح کوئی او په آخر وخت کښې تهجد کوئی.

② دَدې موصوف صلوة دې يعنی "الصلوة التی تنامون عنها" مطلب دادې چه کوم مونځ تاسو خلق دَ اوده کيدو دَ وجې نه پريږدئی هغه مونځ دَدې مونځ نه افضل دې کوم چه تاسو کوئی. په دې صورت کښې حضرت عمر رضي الله عنه داخودل غواړی دَ تهجد مونځ کوئی په هغې

کښې دَ خوب دَ وجې نه سستی مه کوئی. ستاسو دَ تراویح نه افضل دې. دَ حضرت عمر رضی الله عنه په دې فرمان سره دامسئله هم حل شوه چه تراویح او تهجد یو څیز نه دې بلکه دواړه جدا جدا مونځونه دی.

[۱۳۰۲] د تراویح د رکعتونو تعداد

۱۳۰۲ـ(۱)[۸] [۱] وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] أَمَرَ عُمَرُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ، وَتَمِيمًا الدَّارِيَّ [۳] أَنْ يَقُومَا لِلنَّاسِ فِي رَمَضَانَ بِإِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً، [۴] فَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِينَ، [۵] حَتَّى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعَصَا مِنْ طُولِ الْقِيَامِ، [۶] فَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ إِلَّا فِي فُرُوعِ الْفَجْرِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] سائب ابن یزید فرمایي [۲] چې حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضرت ابي ابن کعب رضی الله عنه او حضرت تمیم داري رضی الله عنه ته حکم وکړو [۳] چې د رمضان په شپوکي خلقو ته یوولس رکعاته تراویح مونځ ورکوي [۴] او هغه وخت به امام په تراویح کې هغه سورتونه ویل چې په هغې کې په هریو کې د سلو څخه زیات آیاتونه دي [۵] دقیام دطویل کیدو په وجه مونږ به د خپلي همسا (لکړي) په مدد ودریدلو [۶] او سحر ته نزدې به د لمانځه څخه فارغیدو. (مالك)

حل اللغات: ① يَقُومَا لِلنَّاسِ: دواړه به امامت کوی، تراویح به ورکوی خلقوته (یعنی کله به یوکس امامت کوی کله بل). ② الْمِئِينَ: دا د مائة جمع ده، هغه سورتونه په کومو کښې چه دسلو آیاتونو نه زیات وی. ③ نَعْتَمِدُ: مونږ به دډه لګوله، سهاره به مو اخستله (دا صرف په نوافلو کښې جائز دی). ④ فُرُوعِ الْفَجْرِ: أَيْ: أَوَائِلِهِ: سحر ته نزدې یا د سحر په شروع کښې.

تسهیلات:-

دحدیث څخه د غیر مقلدینو استدلال: – دَدې حدیث نه معلومیږی چه حضرت عمر رضی الله عنه دَ اتو رکعتودَ تراویح حکم ورکړې وو دَدې نه غیر مقلدین استدلال کوی.

داستدلال څخه جواب: – دادَ شروع دَ وخت یو نقشه او یوه مرحله ده. حضرت عمر رضی الله عنه تردغه وخته پورې دَ شلو رکعتو اعلان نه ووکړې روستو هرڅه مخې ته شو اودَصحابه کرامو او پوره امت په دې باندې اجماع اوشوه. اوس صرف هغه خلق دَ اتو رکعتو خبره کوی چه دَ ناراستئی دَ وجې نه شل رکعته نه شی کولې.

[۱۳۰۳] په رمضان کښې په کافرو لعنت لیږل

۱۳۰۳ـ(۲)[۹] [۱] وَعَنِ الْأَعْرَجِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] مَا أَدْرَكْنَا النَّاسَ إِلَّا وَهُمْ يَلْعَنُونَ الْكَفَرَةَ فِي رَمَضَانَ [۳] قَالَ: وَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ سُورَةَ الْبَقَرَةِ فِي ثَمَانِ رَكَعَاتٍ، [۴] وَإِذَا قَامَ بِهَا فِي ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً [۵] رَأَى النَّاسُ أَنَّهُ قَدْ خَفَّفَ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

(۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الصلاة فی رمضان باب ما جاء فی قیام رمضان (رقم-٤)
(۲) اخرجه مالک فی الموطا کتاب الصلاة فی رمضان باب ما جاء فی قیام رمضان (رقم-٦)

ترجمه:[۱] اعرج (تابعي رحمه الله) فرمايي[۲] چې مونږ هميشه خلق وليدل چې هغوئ به د رمضان په مياشت کې په کفارو لعنت ليږلو[۳] او (په هغه زمانه کې به) قاري (يعني د تراويح د لمانځه امام) سورة بقره په اتو رکعاتو کې ويله[۴] او کله چې به يې سورة بقره په دولس رکعاته کې اوويله[۵] نو خلقو به ګڼله چې مونځ يې مختصر اوکړو. (مالك)

حل اللغات:- ① مَا أَدْرَكْنَا النَّاسَ: أَيْ: الصَّحَابَةَ وَكُبَرَاءَ التَّابِعِينَ: ددې نه مراد صحابه کرام يا مشران تابعين دي. ② يَلْعَنُونَ الْكَفَرَةَ: يعنی په وترو کښې به ئې دعاء قنوت وئيلو. ③ خَفَّفَ: آسانتيا اوکړه.

تسهيلات:-

قوله: وَهُمْ يَلْعَنُونَ الْكَفَرَةَ فِي رَمَضَانَ:

په کافرو لعنت ليږلو وجه:- په کافرو به ئې لعنت ليږلو. دې کښې دا تصريح نشته دې چې ټول رمضان به ئې داسې کول يا څو ورځې. داشان به احاديثو کښې تعارض پاتې نه شی ،ځکه چې څينې رواياتو کښې دی چې کله نيم شعبان تير شی نو په کفارو باندې لعنت ليږل پکار دی. د لعنت ليږلو وجه داده چې کافرانو ددې مياشتې تعظيم اونه کړو. بلکه په دې کښې ئې په ښکاره خوراك څګاك کولو. او کوم کس چې د ضد په وجه روژه او نه ساتی نو هغه زيات مجرم دې. ځکه چې هغه الله تعالی سره کومه وعده کړې وه هغه ئې ماته کړه. والله اعلم.

[۱۲۰٤] د تراويحو آخری وخت

۱۳۰۳—()[۱۰][۱] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: [۲] سَمِعْتُ أَبِيَّا يَقُولُ: كُنَّا نَنْصَرِفُ فِي رَمَضَانَ مِنَ الْقِيَامِ، [۳] فَنَسْتَعْجِلُ الْخَدَمَ بِالطَّعَامِ مَخَافَةَ فَوْتِ السُّحُورِ. [٤] وَفِي أُخْرَى: مَخَافَةَ الْفَجْرِ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه:[۱] عبدالله ابن ابي بکر رضي الله عنه فرمايي[۲] چې ما د حضرت ابي رضي الله عنه څخه اوريدلي دي چې مونږ به په رمضان مبارك کې هر کله چې قيام (يعني د تراويح د لمانځه) څخه فارغ شو[۳] نو خادمانو ته به مو د دې خوف څخه چې چېرته د پيشمنې وخت ختم نشي زر د طعام د پاره ويل[٤] په يو بل روايت کې دا الفاظ دي چې د سحر کيدو د خوف څخه به مونږ خادمانو ته زر د طعام د پاره ويل. (مالك)

حل اللغات:- ① نَنْصَرِفُ: چه فارغ به شو، واپس کيدو به. ② فَوْتِ السُّحُورِ: د پيشمنې وخت ختميدل

تسهيلات:-

قوله: فَنَسْتَعْجِلُ الْخَدَمَ بِالطَّعَامِ مَخَافَةَ فَوْتِ السُّحُورِ:

دوه فوائد:- ① دا حديث هم د پيشمنې په مسنونيت باندې دلالت کوی

② دغه شان په دې حديث کښې پيشمنې ترسحر پورې روستو کول ثابت دي.

[۱] اخرجه مالک فی الموطا کتاب الصلاة فی رمضان باب ما جاء فی قیام رمضان (رقم۷-)

[۱۳۰۵] په شب برائت کښې د ټول کال ریکارډ فرشتو ته حواله کېدل

۱۳۰۵- (۱) [۱] ⓵ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: ⓶ «هَلْ تَدْرِينَ مَا فِي هَذِهِ اللَّيْلَةِ؟" يَعْنِي لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، ⓷ قَالَتْ: مَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللهِ؟ ⓸ فَقَالَ: "فِيهَا أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ مَوْلُودٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فِي هَذِهِ السَّنَةِ، ⓹ وَفِيهَا أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ هَالِكٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فِي هَذِهِ السَّنَةِ، ⓺ وَفِيهَا تُرْفَعُ أَعْمَالُهُمْ، ⓻ وَفِيهَا تَنْزِلُ أَرْزَاقُهُمْ"،

ترجمه: ⓵ ام المؤمنين بي بي عائشه صديقه ﷞ روايت كوي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل ⓶ آيا تاته معلومه ده چې په دې شپه (يعني د پنځلسم شعبان په شپه) كې څه كيږي؟ ⓷ ما عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ (ماته خو معلومه نه ده ته يې راته اووايه چې) څه كيږي؟ ⓸ حضور ﷺ وفرمايل چې په بني آدم كې هر هغه سړي چې په دې كال كې پيدا كيږي په دې شپه كې ليكل كيږي ⓹ او په بني آدم كې هر هغه سړي چې په دې كال كې مركيدونكي وي په دې شپه كې لكيل كيږي ⓺ په دې شپه كې د بنده ګانو اعمال پورته اوچتيږي او په دې شپه كې د بنده ګانو رزق رالښكته كيږي

حل اللغات:- ⓵ مَوْلُودٍ: چه پيدا كيږي به، ⓶ هَالِكٍ: أَيْ: مَيِّتٌ: چه مړ كيږي به،

⓵ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ! مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى؟ ⓶ فَقَالَ: "مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى ثَلَاثًا. ⓷ قُلْتُ: وَلَا أَنْتَ يَا رَسُولَ اللهِ؟! ⓸ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى هَامَتِهِ، ⓹ فَقَالَ: "وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ" ⓺ يَقُولُهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه: ⓵ بي بي عائشې ﷞ عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ هيڅ سړي به دالله تعالى ﷻ د رحمت څخه بغير په جنت كې نه داخليږي؟ ⓶ حضور ﷺ وفرمايل (هو) هيڅوك د الله تعالى ﷻ د رحمت څخه بغير په جنت كې نشي داخليدي، حضور ﷺ دا الفاظ درې خله وفرمايل ⓷ ما عرض وكړو او نه تاسو يا رسول الله ﷺ (يعني ته هم د الله تعالى ﷻ د رحمت څخه بغير په جنت كې نشي داخليدي؟) ⓸ حضور ﷺ خپل لاس مبارك په خپل سر مبارك باندې كيښودلو ⓹ او وې فرمايل چې هو، نه زه (يعني زه هم د الله تعالى ﷻ د رحمت څخه بغير په جنت كې نشم داخليدي) خو دا چې الله جل جلاله د خپل فضل او كرم له مخه ما د خپل رحمت په سايه (سورې) كې واخلي ⓺ داالفاظ هم رسول الله ﷺ درې خله وفرمايل، بيهقي دا روايت په دعوات كبير كې نقل كړي دي.

حل اللغات:- ⓸ هَامَتِهِ: أَيْ: رَأْسِهِ: په خپل سر مبارك، ⓹ أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ: أَيْ: إِلَّا وَقْتَ أَنْ يَسْتُرَنِي: خو دا چې الله جل جلاله د خپل فضل او كرم له مخه ما د خپل رحمت په سايه (سورې) كې واخلي.

(۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان

تسهیلات: -

قوله: أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ مَوْلُودٍ:

د شعبان په پنځلسه د پوره کال ریکارډ فرشتو ته حواله کیدل :- الله تعالی دَ کائنات دَ تخلیق نه وړاندې هرڅه په تقدیر کښې لیکلی دی اوهغه په لوح محفوظ کښې محفوظ دی لیکن په پنځلسم شعبان دَهغې تجدید کیږی اودَ پوره کال لوئی واقعات جدا کولوسره لیکلې کیږی. په دې کښې دَ انسانانو پیدائش او د مرګونومعاملات لیکلې کیږی. دَ چارزق زیاتولې او دَ چا کمولې شی. دَ حاجیانو صاحبانو نومونه دَ حج په فهرست کښې لیکلې کیږی. دَ انسان نیک اعمال اول لیکلې کیږی بیا دَ اعمالو کولونه پس دَ قبلیدودپاره آسمانونوته اوچتولې شی.

قوله: مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى:

جنت ته دهر کس داخلیدل د الله تعالی په رحمت :- حضرت عائشه رضی الله عنها چه کله دا واوریده چه اعمال اوچتولې شی نو دَهغوی دا خیال شو چه اعمال خودَ دخول جنت دَپاره علت اصلیه نه دی بل دَ یوانسان اعمال کولونه وړاندې دَهغه دَپاره دغه اعمال په تقدیر کښې لیکلې کیږی چه دغه خلق به دا اعمال کوی. نو حضرت عائشه رضی الله عنها په دې سره اوګڼړل چه دخول جنت صرف تقدیرالهی سره تړلې شوی دی دَاعمالودلته هیڅ دخل نشته دې. دَدې مسئلې دَ ثابتولودَپاره دَ حضورپاك ﷺ نه دَ استفهام په توګه پوښتنه اوکړه یارسول الله! آیا معامله داسې نه ده چه هرسړې به صرف دَالله تعالی په رحمت باندې جنت ته داخلیږی؟ په جواب کښې حضورپاك ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه معامله هم داشان ده چه هیڅ یوسړې دَ الله تعالی دَ رحمت نه بغیرجنت کښې په خپل عمل سره نه شی داخلیدې. درې ځل حضورپاك ﷺ اوفرمائیل مطلب دا چه دَ جنت دَ داخلیدودَپاره اعمال دَ سبب په درجه کښې ضرور دی لیکن دَ علت په درجه کښې نه دی.

قوله: وَلَا أَنَا، إِلَّا أَنْ يَتَغَمَّدَنِي اللهُ مِنْهُ بِرَحْمَتِهِ:

دالله تعالی په رحمت سره د نبی علیه السلام جنت ته داخلیدل :- په دې باندې حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها دَ نورو معلومات دَپاره پوښتنه اوکړه چه یارسول الله! دا معامله صرف امت سره ده یا تاسو سره هم ده. حضورپاك ﷺ دَ تواضع او عاجزئی په توګه په خپل ځان باندې دَ الله تعالی دَ عام رحمت احاطه کولوطرف ته اشاره کولو سره اوفرمائیل چه زما معامله هم دغه شان ده لیکن الله تعالی به ما دَ خپل رحمت په لمن کښې واخلی مطلب دا چه زما معامله یقینی ده او رحمت دَالله تعالی شامل حال دې لهذا په جنت کښې زما معامله یقینی ده درې ځل حضورپاك ﷺ دا کلام ارشاد اوفرمائیلو.

[١٣٠٦] د دوه قسمه خلقو په شب برائت کښې د مغفرت څخه محرومتیا

١٣٠٦—(¹)[١٢] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: [٢] "«إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَيَطَّلِعُ فِي لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، [٣] فَيَغْفِرُ لِجَمِيعِ خَلْقِهِ إِلَّا لِمُشْرِكٍ أَوْ مُشَاحِنٍ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢] الله تعالی جل جلاله د نصف شعبان په شپه کې (یعني په شب برات کې) د دنیا والاطرف ته متوجه کیږي [٣] او د مشرك او کینه لرونکي څخه علاوه د خپل ټول مخلوق بخشش فرمايي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① لَيَطَّلِعُ: أَيْ يَتَجَلَّى عَلَى خَلْقِهِ: یعنی په خپل مخلوق باندې د خپل عام رحمت جلوه کوی او متوجه کیږی. اطلاع نظاره کتلو ته وائی د دې نه مراد هم د دنیا په آسمان باندې نزول دې د کوم تذکره چه په نورو احادیثو کښې کړې شوې ده. ② مُشَاحِنٍ: أَيْ مُبَاغِضٍ: کینه ګر. د باب مفاعله نه مشاحن کینه کونکي بغض او حسد او عداوت کونکی ته وائی او د باب سمع نه هم د کینه کونکی په معنی کښې دې.

تسهیلات:- قوله: ان الله لَيَطَّلِعُ:

د الله تعالی په باره کښې د لیطلع مفهوم:- اطلاع الهی او نزول ربانی نه مراد "مایلیق بشانه" دې. بعض علماؤ د تجلی دا انوارات ربانی او رحمت خداوندی مراد اخستې دې کوم چه تاویل دې "لمشرك" د الله تعالی ذات او د هغه صفات کښې څوك شريك ګنړل شرك جلی دې او شرك خفی د رياكارئی نوم دې.

قوله: أَوْ مُشَاحِنٍ:

په ښځلسم شعبان د کینه ګر عدم مغفرت:- په ناجائزه توګه بغیر د شرعی جواز یو مسلمان سره کینه او عداوت لرلو هم دغه سزا ده. د مسلمان نه علاوه یو کافر سره کینه ساتل مراد نه دی ځکه چه هغه منع نه ده او نه په شرعی جوازسره د شریعت مطابق کینه ساتل مراد دی.
په زیربحث حدیث کښې صرف د دغه دوو قسم خلقو بیان دې لیکن بعض نورو روایاتو کښې تعلق نه ساتونکې هم په دې کښې شامل دې. د مسبل ازار ذکر هم راغلي دې د والدین نه دعاق سری ذکر هم دې او د مسلسل شراب څکونکې سرې هم په دې کښې داخل دې. [اشعة المعات: ١/٥٨٨]

په ښځلسم شعبان د ټولو خلقو مغفرت:- شیخ عبدالحق رحمه الله لمعات کښې لیکی چه د نوف بکالی نه روایت دې چه یوه ورځ حضرت علی رضي الله عنه د نصف شعبان په شپه د کورنه په داسې حالت کښې بهرشو چه هغوی یوشان آسمان ته کتل بیا هغوی رضي الله عنه اوفرمائیل یوځل حضرت داؤد علیه السلام بهر راغلو او آسمان طرف ته نی اوکتل وئی فرمائیل دا هغه ساعت دې چه په دې

¹) اخرجه ابن ماجه فی کتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی ليلة النصف من شعبان (رقم-١٣٩٠)

کبنې کوم يو سړي هم دَالله تعالى نه دعااوغواړي الله تعالى نې قبلوي. څوك چه استغفار کوي الله تعالى هغه معاف کوي

د مغفرت څخه بعضې محروم خلق: - په دې شرط چه هغه سړي جادوګرنه وي تيكس وصول کونکي عشار نه وي کاهن نه وي ياد قوم چوهدري اوليډر نه وي يا پوليس والانه وي يا هارميونيم او شپيلئي او ډهول سرنا غږونکي نه وي.[اشعة المعات:۱/۵۸۸]

۱۳۰۷-(۱)[۵۰] [۱] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، [۲] وَفِي رِوَايَةٍ: "إِلَّا اثْنَيْنِ: مُشَاحِنٌ وَقَاتِلُ نَفْسٍ.

ترجمه: [۱] امام احمد دا روايت د عبدالله ابن عمرو بن العاص ﷺ څخه نقل کړي دي [۲] او د هغه په يو روايت کې دا الفاظ دي چې د کينه لرونکي او (په ناحقه) چا لره قتلونکي څخه علاوه (الله تعالى ﷻ په دې شپه کې ټول مخلوک بخښي).

حل اللغات: - ① مُشَاحِنٌ: أَيْ: مُبَاغِضٌ: کينه ګر، دَ باب مفاعله نه مشاحن کينه کونکي بغض او حسداو عداوت کونکي ته وائي اودَ باب سمع نه هم دَ کينه کونکي په معنى کبنې دې.

[۱۲۰۸] د پنځلسم شعبان د روژې او د شب براءت د عبادت حکم

۱۳۰۸-(۲)[۵۱] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ، [۳] فَقُومُوا لَيْلَهَا، وَصُومُوا يَوْمَهَا، [۴] فَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يَنْزِلُ فِيهَا لِغُرُوبِ الشَّمْسِ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، [۵] فَيَقُولُ: أَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ فَأَغْفِرَ لَهُ؟ [۶] أَلَا مُسْتَرْزِقٌ فَأَرْزُقَهُ؟ [۷] أَلَا مُبْتَلًى فَأُعَافِيَهُ؟ [۸] أَلَا كَذَا أَلَا كَذَا، حَتَّى يَطْلُعَ الْفَجْرُ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] حضرت علي كرم الله وجهه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هر کله چې د نصف شعبان شپه وي (يعني شب برات) [۳] نو په دې شپه کې مونځ کوئ او د دې په ورځ کې (يعني په پنځلسم) روژه نيسئ [۴] ځکه چې الله جل شانه په دې شپه کې د نمر ډوبيدو په وخت د دنيا آسمان (يعني لاندې آسمان) ته نزول فرمايي (يعني په خپل رحمت عام سره متوجه کيږي) [۵] او (دنيا والو ته) فرمايي اګاه شی ايا نشته څوك بخښنه غوښتونکي چې زه يې وبخښم [۶] ايا شته څوك رزق غوښتونکي چې زه رزق ورکړم، [۷] ايا داسې څوک شته چې په مصيبت کبنې متبلا وی او زه ورته عافيت ورکړم. [۸] خبردار، آيا شته څوک داسې؟ آيا شته څوک داسې؟ [مثلا فرمايي شته څوك غوښتنکي چې زه ورته عطا کړم؟ شته څوك غمجن چې زه ورته د خوشحالي خزاني وبخښم وغيره وغيره] تر دې چې فجر طلوع شي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① مُسْتَغْفِرٍ: أَيْ يَسْتَغْفِرُ: چه بخښنه غواړي، ② مُسْتَرْزِقٌ: چه رزق غواړي، ③ مُبْتَلًى: چه په غم اوتکليف کبنې اخته وی اوعافيت غواړي، ④ فَأُعَافِيَهُ: چه عافيت ورکړم، د غم اوتکليف نه ئې خلاص کړم.

[۱] اخرجه احمد فى المسند ۲/۱۷۶

[۲] اخرجه ابن ماجه فى كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فى ليلة النصف من شعبان (رقم-۱۳۸۸)

تسهیلات:- قوله: إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ

اشکال:- دا حدیث هم د شعبان د پنځلسمې شپې د فضیلت باره کښې دې چې الله تعالی آسمانی دنیا ته تشریف راوړی.حالانکه یو روایت کښې دی چې الله تعالی هره شپه د تهجدو په وخت کښې آسمانی دنیا ته تشریف راوړی.او دا آواز کوی: هل من مستغفر غفرله هل من مسترزق استرزق له؟

دااشکال دوه جوابونه:-

① نزول په شب قدر کښې خصوصی توجو سره وی او عامو ورځو کښې عمومی توجو سره وی.

② نزول یا شب قدر کښې ټولو دپاره رحمت وی او عامو ورځو کښې هغه حضراتو دپاره رحمت وی کوم چې د صبح صادق په وخت کښې تهجد کوی.

[۵۴/۳۸]بَابُ صَلَاةِ الضُّحَى]

د څاښت د مونځ بیان

خلاصة الباب:-

فيه اثنا عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① عدد ركعات صلوة الضحى: ۱، ۲، ۳، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰

② وقت صلوة الضحى: ۳۱، ۴.

③ ثواب صلوة الضحى: ۳، ۵، ۷، ۸، ۹.

④ عدم مواظبة النبي صلى الله عليه وسلم على صلاة الضحى: ۱۱، ۱۲.

د صلاة الضحی وخت:- دَ ضحی وخت دَ نمر دَ راختلو نه شروع کیږی او دَ زوال پورې وی.

د څاښت او اشراق د مونځ په ترادف او افتراق کښې اختلاف:-

① اکثر محدثین او فقهاء فرمائی اشراق او څاښت دواړه یو مونځ دې فرق اعتباری دې چاچه بالکل په شروع کښې دَ څاښت یعنی ساختی مونځ اوکړو هغې ته به اشراق وئیلې شی او چاچه دَ دغې نه پس اوکړو هغه به دَ ساختی مونځ یادولې شی.

② بله ډله دا فرمائی لکه علامه سیوطی امام دارمی عام صوفیاء کرام فرمائی چه دا ځان ځانله دوه مونځونه دی. دیوځو احادیثو څخه دَدې تائید هم کیږی. دغه شان ابن جریر طبری رحمه الله او ائمه اربعه دَ څاښت په مونځ باندې متفق دی.

د څاښت د مونځ حکم:-

① دَ اکثر شوافع په نیز دَ څاښت مونځ سنت دې.

② دَ احنافو مالکیه او حنابله اکثر علماؤ په نیز دَ څاښت مونځ مندوب او مستحب دې.

د ابن عمر رضی الله عنهما د څاښت مونځ ته د بدعت وئیلو وجه: - کله چه حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د څاښت په مانځه کښې دَ خلقو غلو اوکتله چه دَ حد نه زیات دَ دې التزام اواهتمام کوی اودَ دې دَپاره ئی رایوځائی کیدل اوکتل اوپه مساجداو عام مقاماتوکښې دَ خودنې دَپاره جمع کیدل اوکتل نو دَ دې عوارض دَ وجې نه هغوی دې ته بدعت اووئیل.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۲۰۹] د څاښت د اته رکعتو نو ثبوت

۱۳۰۹ – (۱) [۱] عَنْ أُمِّ هَانِئٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ، [۳] فَاغْتَسَلَ، وَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، [۴] فَلَمْ أَرَ صَلَاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا، [۵] غَيْرَ أَنَّهُ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ. وَقَالَتْ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: وَذٰلِكَ ضُحًى». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] بي بي ام هاني رضي الله عنها فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ د مکې د فتح په ورځ زما کور ته راغی [۳] مخکې يې غسل وکړو او د هغې څخه وروسته يې اته رکعاته مونځ وکړو [۴] ما د دې څخه مخکې د حضور ﷺ دومره مختصر مونځ هيڅ کله نه وو ليدلی [۵] ليکن حضور ﷺ به رکوع او سجده پوره کوله په يو بل روايت کې هغې وفرمايل چې دا د څاښت مونځ وو. (بخاري، مسلم)

تسهیلات: -

قوله: أُمِّ هَانِئٍ:

دام هانئ اصل نوم: - دَ دې نوم آخری حرف همزه دې صرف یاء نه ده دادَ هغې کنیت دې دَهغې اصل نوم "فاخته" ده دادَ حضرت علی رضی الله عنه خور ده.

قوله: يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ:

د یوې علاقې فتح کولو باندې صلاة شکر ادا کول: - حضورپاک ﷺ دَ فتح مکه په ورځ دَ څاښت په وخت دَ حضرت ام هانی رضی الله عنها کورته ئی تشریف راوړو اوهلته ئی غسل اوکړو بیائی زر زر اته رکعته اوکړه. دا اته رکعته ئی په څلورو سلامونو سره اوکړه اوکیدې شی په دوو سلامو سره ئی کړی وی دې ته صلوة الفتح وائی اودا مستحب دی چه مجاهدین یوه علاقه فتح کړی نوهلته دَ شکرانې په توګه اته رکعته اوکړی. حضورپاک ﷺ دَ فتح مکه دَ معروضی احوالو په رڼا کښې دَحکمت لاندې اته رکعته لنډ اوکړل ځکه چه حضورپاک

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الصلاة/باب الصلاة فی الثوب الواحد ملتحفا به (رقم-۳۵۷) ومسلم کتاب صلاة/باب استحباب صلاة الضحی، وأن أقلها رکعتان، وأکملها ثمان رکعات، وأوسطها أربع رکعات، أو ست، والحث علی المحافظة علیها (رقم) (رقم-۳۵۷) والترمذی کتاب الوتر/باب ما جاء فی صلاة الضحی (رقم-۴۷۴) والنسائی کتاب الغسل والتیمم/باب الاغتسال فی قصعة فیها أثر العجین (رقم-۴۱۵)

ﷺ له دَ مکې انتظام سنبالول وو. بیا هم حضورپاك ﷺ دَ نورو ارکانو نه علاوه رکوع اوسجده په مکمل توګه په تسلئی سره اداکړه. په دې سره دَتعدیل ارکان دَ اهمیت طرف ته اشاره کیږي.

قوله: وَذٰلِكَ ضُحًى:

د ضحي په مصداق کښې دوه اقوال:- دې کښې دوه احتماله دي

① یعنی دا دَ څاښت مونځ وو

② یا دَ څاښت په وخت کښې بل څه مونځ وو.

[۱۳۱۰] د نبی علیه السلام د څاښت په مانځه کښې د رکعتونو تعداد

۱۳۱۰-()[۲] وَعَنْ مُعَاذَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا، قَالَتْ: [۲] «سَأَلْتُ عَائِشَةَ: كَمْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي صَلَاةَ الضُّحَى؟ [۳] قَالَتْ: أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَيَزِيدُ مَا شَاءَ اللّٰهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي معاذه فرمايي [۲] چې ما د ام المؤمنين بي بي عائشې صديقې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې حضور ﷺ به د ضحي (څاښت) مونځ څو رکعاته کولو؟ [۳] وي فرمایل څلور رکعاته به يې کول او د دې څخه زیات هم څومره چې به الله جل جلاله غوښتل کول به يې. (مسلم).

تسهیلات:-

قوله: وَيَزِيدُ مَا شَاءَ اللّٰهُ:

د څاښت د مونځ په رکعتونو کښې عدم حصر:- ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی چه دَ څاښت مونځ دَ دوولسو رکعتونه زیات نقل دي. دَ حدیث دَ ظاهری الفاظو نه هم دغه معلومیږی چه په دې کښې څه حصرنشته دې. سعیدبن منصور یوروایت نقل کړې دې چه چادَ شیخ اسودنه پوښتنه اوکړه چه زه دَ څاښت څورکعته اوکړم؟ هغوی جواب ورکړو چه څومره غواړې، ته څومره غواړې. دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل دی چه هغه به سل رکعته دَ څاښت کول.

[۱۳۱۱] د څاښت د مونځ فضیلت

۱۳۱۱-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ، [۳] فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ، [۴] وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ، [۵] وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ، [۶] وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ [۷] وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، [۸] وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، [۹] وَيُجْزِءُ مِنْ ذٰلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة/باب استحباب صلاة الضحی، وان أقلها رکعتان، واکملها ثمان رکعات، وأوسطها اربع رکعات، أو ست، والحث علی المحافظة علیها (رقم) ۷۹ - (۷۱۹)

[2] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة/باب استحباب صلاة الضحی، وان أقلها رکعتان، واکملها ثمان رکعات، وأوسطها اربع رکعات، أو ست، والحث علی المحافظة علیها (رقم) ۸٤ - (۷۲۰)

ترجمه:[۱] ابوذر رضی الله عنه راوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] د سحر کيدو سره ستاسو په هر هډوکي او هر جوړ باندي صدقه لازميږي[۳] نو هر تسبيح يعنی سبحان الله ويل صدقه ده [۴] هر تحميد يعنی الحمد لله ويل صدقه ده[۵] هر تهليل يعنی لااله الاالله ويل صدقه ده[۶] هر تکبير يعنی الله اکبر ويل صدقه ده[۷] دنيکئ حکم کول صدقه ده [۸] د بدي څخه منع کول صدقه ده[۹] او د دي ټولو په بدله کي د ضحي دوه رکعاته کول کافي کيږي. (مسلم)

حل اللغات: - ① سُلَامَی: اَلْمُرَادُبِهَا الْعِظَامُ كُلُّهَا: د بدن جوړونه مراد دی. ② تَهْلِيلَةٍ: لااله الاالله ونيل. ③الضُّحَی: د څاخت وخت يعنی دڅاخت مونځ.

تسهيلات: -

قوله: يُصْبِحُ عَلَی كُلِّ سُلَامَی:

د سلامی لغوی تحقيق: – سلامی په سين باندي پيش دي اوميم باندي فتحه ده دي نه پس الف مقصوره دي سلامی پخپله مفرددي ددي جمع سلاميات ده د ګوتو هډوکو او جوړونوته وائی. مګرپه دي حديث کښي مطلقًا په هډو باندي د دي اطلاق شوي دي. علامه نووی رحمه الله فرمائی چه سلامی اندامونوته وئيلي شی بل په ګوتو باندي هم ددي اطلاق کيږي اوهر هغه هډوکی ته هم وائی په کوم کښي چه جوړموجود وی اوهرهغه هډوکی ته هم وائی په کوم چه سړي د ضرورت په وخت ډډه لګوی. بهرحال د انسانی بدن په هډوکو او جوړونو دپاره دا لفظ دلته استعمال شوي دي.

قوله: يُصْبِحُ عَلَی كُلِّ سُلَامَی مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ:

د مذکوره جملي ترکيب: – ددي جملي ترکيب باندي پوهيدل هم ضروری دی علامه طيبی رحمه الله فرمائی په دي جمله کښي "صدقة" لفظ د يصبح اسم دي اوعلی کل سلامی ددي خبردي اصل عبارت داسي دي. "يصبح اي يصير صدقة علی کل سلامی من احدکم" يعنی تاسونه دهريوسړي د بدن په جوړ جوړ باندي هره ورځ صدقه لازم ده. اوس هره ورځ صدقه ورکول خوګران کاروو په دي وجه په اسلام کښي د دي ړومبئی نرمی دا راغله چه دانسان هره نيکی که هغه معمولی ولي نه وی د دغه صدقه بدل جوړيږي. دي نه پس دالله تعالی د طرف نه د نوري نرمئی معامله اوشوه چه که د دغه ټولو نيکو په ځائی که يوسړي د څاښت دوه رکعته مونځ اوکړی نود ټولو هډوکو او جوړونو د طرف نه دا دوه رکعته به د صدقي بدل جوړشی.

[۱۳۱۲] د څاښت د مونځ دپاره غوره وخت

۱۳۱۲—(۱)[۴][۱]«(وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ[۲] أَنَّهُ رَأَی قَوْمًا يُصَلُّونَ مِنَ الضُّحَی) : فَقَالَ:[۳] لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّ الصَّلَاةَ فِي غَيْرِ هٰذِهِ السَّاعَةِ أَفْضَلُ:[۴] إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:[۵] " صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ حِينَ تَرْمَضُ الْفِصَالُ» " رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب صلاة/باب صلاة الأوابين حين ترمض الفصال (رقم) ۱۴۳ - (۷۴۸)

ترجمه:[١] د زيد بن ارقم رضي الله عنه په باره کې منقول دي[٢] چې هغه يو جماعت د ضحٰي په وخت (د چاښت) په لمانځه کولو باندې وليدلو نو وي فرمايل[٣] چې دا خلق (د احاديثو په ذريعه) پوهيږي چې د دې وخت څخه علاوه په بل وخت کې مونځ کول بهتر دي (يعني په هغه وخت کښې زيات ثواب حاصليږي)[۴] رسول الله ﷺ فرمايلي دي[٥] چې د الله جل شانه طرف ته د کامل توجه لرونکو د لمانځه وخت هغه دي هر کله چې د اوښانو بچې (يعني د هغوئ پښې) گرميدل شروع شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① الْأَوَّابِينَ: دا دَ اوب نه دي دَ دې معنی رجوع کول او دَ توبه کولو ده يعنی دَ الله تعالى طرف ته رجوع کول او توبه کونکو دَ مونځ وخت. ② تَرْمَضُ: أَيْ: تَحْتَرِقُ: دَ سوزيدلو په معنی کښې دي. ③ الْفِصَالُ: أَيْ وَلَدُ النَّاقَةِ: فصال د فصيل جمع ده، دَ اوښانو بچوته وائی.

تسهيلات:- قوله: رای قَوْمًا:

د څاښت او اشراق په مينځ کښې ترتيب:- حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه چه کوم خلق دَ څاښت په مونځ کولو اوليدل چه هغه خلقو دَ څاښت مونځ په بهتروخت کښې نه کولو بلکه دَ هغې نه وړاندې ئې کولو. هغوی تنبيه اوفرمائيله چه دې خلقو ته معلومه ده چه دا وخت بهترنه دې بلکه دَ څاښت دَ دې نه بهتر وخت لږساعت پس هغه وخت دې کله چه نمر گرم شی او دَ هغې دَ وجې نه شگې گرمې شی او په دغه شگوباندې دَ اوښانو دَ بچو خپې اوسوزيږی اوهغوی دَ دغه سوزيدو دَ وجې نه سورو ته په منډو وهلوباندې مجبورشی. بهرحال په څاښت اواشراق کښې دا ترتيب دې چه دَ اشراق مونځ دَ نمر دَ راختلو نه لږ ساعت پس وخت کښې دَ جواز وی او دَ څاښت مونځ هغه وخت وی کله چه نمر گرم شی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٣١٣] د څاښت په مانځه د ورځې د کارونو کفايت

١٣١٣—(١)[٥][١] عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَأَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَا: [٢] «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " عَنِ اللّٰهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: [٣] يَا ابْنَ آدَمَ ارْكَعْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ، أَكْفِكَ آخِرَهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[١] ابودرداء او ابوذر رضي الله عنهما دواړه روايت کوي[٢] چې حضور ﷺ وفرمايل چه الله جل شانه فرمايي چې [٣] اې بني آدمه ته د ورځې په شروع کې څلور رکعاته مونځ په خالص طور سره زما د پاره (يعني د نمائش او د ريا د جذبې څخه پاك) وکړه زه به په هغه ورځ تر مابنامه پورې ستا کفايت کوم. (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَكْفِكَ: زه به کافی شم، پوره به شم (ستا د حاجتونو او ضرورياتو د پاره). ② آخِرَهُ: أَيْ: إِلَى آخِرِ النَّهَارِ: يعنی د ورځې تر آخره پورې (به ستا ټول ضرورتونه پوره کړم.

(١) اخرجه الترمذی فی کتاب الوتر/باب ما جاء فی صلاة الضحی (رقم-٤٧٥)

تسهيلات:-

قوله: اِرْكَعْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ:

د څاښت په څلورو ركعتونو د ټولې ورځې حاجتونه پوره كيدل: - يعنى اې زمابنده ته دَ ورځې دَ شروع حصه كښې څاښت يا اشراق څلور ركعته زما دَ رضا دَپاره اوكړه زه به پوره ورځ تر آخره پورې ستا ضرورتونه او ستا حاجتونه پوره كوم. ستا پريشانى او سختى به لرې كوم بس شرط دادې چه ته زما په عبادت كښې لګيا شه بيا به زه ستا كار جوړوم.

۱۳۱۴-()[۰]۞وَرَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ، عَنْ نُعَيْمِ بْنِ هَمَّازٍ الْغَطَفَانِيِّ، وَأَحْمَدُ عَنْهُمْ.

ترجمه:۞ او ابوداؤد دارمي، د نعيم ابن هماز غطفاني څخه او امام احمد د دې ټولو څخه دا روايت نقل كړي دي.

[۱۳۱۵] داشراق د مانځه فضيلت

۱۳۱۵-()[۲]۞ وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:۞ "«فِي الْإِنْسَانِ ثَلَاثُمِائَةٍ وَسِتُّونَ مَفْصِلًا،۞ فَعَلَيْهِ أَنْ يَتَصَدَّقَ عَنْ كُلِّ مَفْصِلٍ مِنْهُ بِصَدَقَةٍ"،۞ قَالُوا: وَمَنْ يُطِيقُ ذٰلِكَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ؟۞ قَالَ: "النُّخَاعَةُ فِي الْمَسْجِدِ تَدْفِنُهَا،۞ وَالشَّيْءُ تُنَحِّيهِ عَنِ الطَّرِيقِ،۞ فَإِنْ لَمْ تَجِدْ، فَرَكْعَتَا الضُّحٰى تُجْزِئُكَ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه:۞ حضرت بريده ﷺ فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي۞ چې د انسان په بدن كې درې سوه شپېته جوړونه دي۞ نو هر انسان باندې لازم دي چې هغه د خپل جسم د هر جوړ په بدله كې صدقه وركړي۞ صحابه ؤ ﷺ عرض وكړو چې يا رسول الله ﷺ څوك دا طاقت لري (چې د خپل بدن د هر جوړ په بدله كې صدقه وركړي؟)۞ حضور ﷺ وفرمايل په مسجد كې پرتې لاړې پټول (صدقه وركول دي)۞ د لارې څخه څه تكليف رسونكي شي (مثلًا نجاست، ازغي، كاڼي) لرې كول (هم يوه صدقه ده)۞ كه تا (د درې سوه شپېته جوړونو له طرف څخه صدقه وركونكي څه شي)نه شو موندلې نو د ضحي (يعني د اشراق) دوه ركعاته مونځ كول ستا د پاره كافي دي (د دې څخه وروسته د بلې صدقې وركولو ضرورت نشته). (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① مَفْصِلًا: جوړونه ② يُطِيقُ: طاقت ا و قدرت ته وائى. ③ النُّخَاعَةُ: توكانړې ګرينګ او بلغم ته نخاعه وائى په كتاب الوضوء كښې دَ دې تفصيل تيرشوى دې. ④ تَدْفِنُهَا: ازاله كول مقصود دى كه هغه په دفن كولو سره وى يا په وينځلوسره وى يا په ګرولووغيره سره وى. ⑤ تُنَحِّيهِ: أي: تُبْعِدُهُ: چه ته ئې لرې كړې، اوئې غورځوې.

---

[1] اخرجه ابوداود فى كتاب الصلاة،باب صلاة الضحى (رقم-۱۲۸۹) والدارمى كتاب الصلاة/باب فى أربع ركعات فى أول النهار (رقم-۱۴۹۲)

[2] اخرجه ابوداود فى كتاب الأدب/باب فى إماطة الأذى عن الطريق (رقم-۵۲۴۲)

تسهيلات:- قوله: مُفْصِلًا:

دهر جوړ په بدله کښې صدقه ادا کول:- يعنی دَ انسان په بدن کښې درې سوه شپيته جوړونه دی او په هرجوړ باندې دَ سحر په وخت صدقه لازم ده ځکه چه الله تعالی په انسان باندې ډيره احسان کړې دې چه ټول جوړونه ئی ورله په کارلګولې دی او صحت سره ټول جوړونه کارکوی. نو شرعًا اوعرفًا په دغه انسان باندې لازم دی چه هغه دې دَهرجوړ دَ طرف نه صدقه اداکړی اوکه چرې دا مشکل کيږی نودَ څاښت يا اشراق دوه رکعته دې اداکړی دَ دغه صدقې حق به اداشی.

[۱۲۱٦] دڅاښت دولس رکعتونه

۱۳۱٦-(')[۷] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "مَنْ صَلَّى الضُّحَى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً; [۳] بَنَى اللّٰهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، [۴] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ.

ترجمه: [۱] انس رضی الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د ضحٰي دولس رکعاته کوي [۳] الله تعالٰی جل جلاله د هغه د پاره په جنت کې د سروزرو (سوني) محل جوړوي، ترمذي، ابن ماجه [۴] او امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دي ځکه چې مونږ بغير د دې سند څخه (يعني چې ترمذي په خپل کتاب کې نقل کړي دي) په بل څه سند سره دا نه پيژنو.

حل اللغات:- ① قَصْرًا: محل. مانړۍ (بنګله).

تسهيلات:- قوله: بَنَى اللّٰهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ

په دولس رکعتونو په جنت کښې د سروزرو کور جوړيدل: په دې حديث کښې د څاښت دولس رکعته مونځ باندې په جنت کښې د سرو زرو د محل جوړيدوزيرې دې. زمونږ په دنيا کښې مشاهده ده چې په يو معمولی کور جوړولو باندې ډيره دولت اووخت لږی اوډيره محتاجی اوسترې والې وی. خوبل طرف ته هغه جنت چې د هغې د يوې کړورې (چابک) په مقدارځائې د دنيآ ومـا فيهـا څخـه غـوره دې. صرف دڅاښت د دولسو رکعتونو په ادا کولوسره په هغې کښې د سرو زرو محل جوړيږی. دا ډيره دګټې سودا ده. الله دې مونږ ته توفيق راکړی.

[۱۲۱۷] دصبا د مانځه روسته په عبادت کښې مصروف کيدو سره مغفرت

۱۳۱۷-(')[۸] [۱] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "مَنْ قَعَدَ فِي مُصَلَّاهُ حِينَ يَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ، [۳] حَتَّى يُسَبِّحَ رَكْعَتَيِ الضُّحَى، لَا يَقُولُ إِلَّا خَيْرًا، [۴] غُفِرَ لَهُ

(') اخرجه الترمذی فی کتاب الوتر /باب ما جاء فی صلاة الضحی (رقم-۴۷۳)
(') اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب صلاة الضحی (رقم-۱۲۸۷)

خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه:[۱] معاذ بن انس جهني رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] کوم سړي چې د سحر د لمانځه کولو نه پس هم په هغه ځاي (برابر) ناست وي[۳] تر دې چې (د نمر د اوچتيدو څخه وروسته) د ضحې دوه رکعاته وکړي او د هغه دواړو (يعني د سحر مونځ او د ضحې مونځ په مينځ کې) د نيك کلام څخه علاوه بله څه خبره ونه کړي[۴] نو د هغه ټول گناهونه بخښل کيږي اگر که هغه د درياب د ځګ برابروي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① مُصَلَّاهُ: د مونځ ځاي (که په جماعت کښې وی اوکه په کور کښې وی). ② يَنْصَرِفُ: أَيْ: يُسَلِّمُ: راوگرځي د مونځ نه يعني دمونځ سلام واړوی. ③ زَبَدِ الْبَحْرِ: د سمندر زګ ته وائي (کوم چه د سمندر د چپو په وخت د ابو دپاسه جمع کيږي).

تسهيلات:- قوله: مَنْ قَعَدَ فِي مُصَلَّاهُ:

د في المصلى په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① شيخ عبدالحق رحمه الله محدث دهلوی ددې ثواب د کتلو اوحاصلولو دپاره داشرط لګولي دي چه سړي د سحرد مونځ نه پس په خپل ځائي په جمات کښې کيني اوبيا د اشراق په وخت دوه رکعته اوکړي. په دې حديث کښې عام علماء فرمائي چه دې دوو رکعتونه دا شراق دوه رکعته مراددي دچاشت دوه رکعته مراد نه دي. [اشعة المعات: ۱/۵۹۲]

② په دې کښې چې د کيناستو کوم ذکردې دا د تمثيل په توګه دې. اصل مقصوددادې چه د فجرد مونځ نه پس سړې په دنياوی کارکښې مشغول نه وی بلکه په دينی کارکښې دې مشغول وی اوبيا دوه رکعته اوکړی څه فضول کلام اونه کړی. دالله تعالی په ذکرکښې لګياوی که په کورکښې وی اوکه په بازارکښې وی ياهم په دغه جمات کښې وی چرته چه ئې مونځ کړې دې. خلاصه دا چه ملاعلی قاری رحمه الله د ثواب د حاصلولو دپاره يومجلس کښې کيناستل ضروری نه ګڼړی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۱۳۱۸] د څاښت د مونځ دوه رکعته

۱۳۱۸—(١)[٩] [۱]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]"مَنْ حَافَظَ عَلَى شُفْعَةِ الضُّحَى، غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبُهُ [۳]وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه:[۱] ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چه رسول الله ﷺ وفرمايل: [۲] چې کوم سړي چې د ضحې دوه رکعاته هميشه کوي د هغه ټول (صغيره) گناهونه بخښل کيږي[۳] اګر که هغه د درياب د ځګ برابر وي. (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

[1] اخرجه الترمذی کتاب الوتر/باب ما جاء فی صلاة الضحی (رقم-۴۷۶)

حل اللغات:- ① حَافَظَ: أَيْ: وَاظَبَ وَدَاوَمَ: حفاظت نه مراد همیشوالي دي. ② شُفْعَةِ الضُّحَى: أَيْ: رَكْعَتَي الضُّحَى: شفع په معنی د زوج سره دي، ددې نه مراد دوه رکعته مونځ دي.

تسهیلات:- قوله: ذُنُوبُهُ

په څاښت باندې د ګناهونو په معاف کیدو کښې دوه اقوال:-

① ضابطه او قاعده داده چه دې ګناهونو نه مراد صغائر دی د کبائر دپاره ضروری ده چه سرې توبه اوکړی.

② بعضې علماء فرمائی چه دافضیلت د صغائر سره سره کبائر ته هم شامل دې. او په حدیث کښې هم څه قید نشته دې لیکن که د څاښت هم څوك دوه رکعته اوکړی اودې سره د کبائر نه هم توبه اوکړی نو بیا خو هډو شك نشته چه کبائر به هم معاف شی.

[۱۳۱۹] بي بي عائشه رضي الله عنها او د څاښت مونځ

۱۳۱۹-(۱)[۱۰] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، ② أَنَّهَا كَانَتْ تُصَلِّي الضُّحَى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، ③ ثُمَّ تَقُولُ: لَوْ نُشِرَ لِي أَبَوَايَ مَا تَرَكْتُهَا. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① زمونږ د مؤمنانو مور بي بي عائشه صدیقه رضي الله عنها په باره کې روایت دي ② چې هغې به د ضحې مونځ اته رکعاته کولو ③ او فرمایل به یې که زما د پاره زما مور پلار هم ژوندي کړل شی نو هم زه دا مونځ نه پریږدم. (امام مالك)

حل اللغات:- ① نُشِرَ: أَيْ: أُحْيِيَ: راژوندی کړې شی.

تسهیلات:- قوله: نُشِرَ لِي أَبَوَايَ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:-

① یعنی فرض کړه که زما والدین راژوندی شی او ماته په دې باندې ډیره سخته خوشحالی حاصله شی نوزه به د دغه خوشحالئی په وخت هم د څاښت د مونځ دوه رکعته نه پریږدم.

② که چرته ماته خبر راکړې شی چه ستا والدین راژوندې کړې شو تادی اوکړه هغوی سره ملاقات اوکړه اود څاښت دوه رکعته نن پریږده نوزه به په دغه موقع هم دڅاشت مونځ نه پریږدم.

[۱۳۲۰] د څاښت په مالګه کښې د نبی علیه السلام معمول

۱۳۲۰-(۲)[۱۱] ① وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى حَتَّى نَقُولَ: ③ لَا يَدَعُهَا، وَيَدَعُهَا حَتَّى نَقُولَ: لَا يُصَلِّيهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[1] اخرجه مالك فى الموطا كتاب قصر الصلاة فى السفر، باب صلاة الضحى (رقم-۳۰)
[2] اخرجه الترمذی کتاب الوتر/باب ما جاء فى صلاة الضحى (رقم-۴۷۶)

ترجمه:[۱] ابو سعید رضی الله عنه فرمایي [۲] چې رسول الله ﷺ چې به کله د ضحٰي مونځ کولو نو مونږ به ویل [۳] چې اوس به دا مونځ هیڅ کله نه پریږدي او کله چې به یې پریښودو نو مونږ به ویل چې اوس به دا مونځ هیڅ کله نه کوي. (ترمذي)

تسهیلات:- قوله: حَتّٰی نَقُوْلَ: لَایَدَعُهَا:

د څاښت مونځ او نبی کریم صلی الله علیه وسلم:- یعنی چه کله به حضورپاك ﷺ دَ څاښت دَمونځ کولودَپاره متوجه کیدو نو بیا به داسې ښکاریده لکه چه دا مونځ به هډو پرینږدی او چه کله به په ترك کولوراتلو نوداسې به معلومیده لکه چه چرته ئی هډو کړې نه دي.

د څاښت د مونځ حکم:- دَ څاښت دَمونځ شرعی حیثیت مستحب دې لهذا کله حضورپاك ﷺ کړې دي اوکله ئی پریخې دي. دې دَ پاره چه دَ التزام دَ وجې په امت باندې فرض نه شی. لیکن اوس خو مسلمانانو لـه پکار دی چه دَ څاښت دَ مونځ اهتمام اوکړی دې دَپاره چه دَ الله تعالی خوشحالی حاصله شی. او نن صبا خودَ فرض کیدو خطره هم باقی پاتې نه ده ځکه چه دَ حضورپاك ﷺ په ژوند کښې دَنوې وحی راتلو او دَ یوحکم دَ بدلیدو امکان وو اوس خونشته دې. اوس دا مستحب دې اوهم دَ قیامته پورې به مستحب وی لیکن دَ مستحب خو دا مطلب نه دې چه دا بالکل هیر کړی.

[۱۳۲۱] د څاښت د مانځه په باره کښې د عبدالله بن عمر رائې

۱۳۲۱-(۱)[۱۲][۱] وَعَنْ مُوَرِّقٍ الْعِجْلِيِّ، قَالَ: [۲] قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ: تُصَلِّي الضُّحَى؟ قَالَ: لَا، [۳] قُلْتُ: فَعُمَرُ؟ قَالَ: لَا، [۴] قُلْتُ: فَأَبُوبَكْرٍ؟ قَالَ: لَا، [۵] قُلْتُ: فَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: لَا إِخَالُهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه:[۱] حضرت مورِّق عجلي فرمایي [۲] چې ما د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړه چې آیا تاسو د ضحٰي مونځ کوي ؟ وي فرمایل چې نه،[۳] ما خپني پوښتنه وکړه چې حضرت عمر رضی الله عنه ؟ وي فرمایل چې نه،[۴] ماعرض وکړو چې ابوبکر رضی الله عنه ؟ وي فرمایل چه هغه به هم نه کول [۵] بیا ما خپني پوښتنه وکړه چې حضور ﷺ ؟ وي فرمایل زما خیال دي چې حضور ﷺ به هم نه کول. (بخاري)

حل اللغات:- ① لَا إِخَالُهُ: أَيْ: لَا أَظُنُّهُ: زه دا ګمان نه کوم.(یعنی زما خیال دې چه هغوی به هم نه کول).

تسهیلات:- قوله: قَالَ لَا:

د څاښت د مونځ څخه د ابن عمر انکار:- یعنی تپوس کونکی چـه کلـه دَ حضرت ابـن عمر رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه تاسو دَ څاښت مونځ کوئی؟ نوهغوی جواب ورکړو چه زه ئی نه کوم اوحضرت ابوبکر رضی الله عنه اوحضرت عمر رضی الله عنه به هم نه کولو بلکه زما خیـال دې چـه حضورپاك ﷺ به هم نه کولو.

---

(۱) اخرجه البخاري في باب صلاة الضحى في السفر (رقم-۱۱۷۵)

اشکال: -حضورپاك ﷺ دَ څاښت مونځ پخپله هم کړې دې او صحابه کرامو ته ئې پنه ترغیب ورکولو سره دَنیکو اعمالو کوشش هم کړې دې نوحضرت ابن عمر ﷺ ولې فرمائي چه دَ څاښت مونځ چا نه دې کړې؟

د اشکال جواب: -حضرت ابن عمر ﷺ دَ اصل څاښت نفي نه کوي بلکه هغوی دَدې غلو او حد اعتدال نه دَ بهر وتلو نفي کوي چه دا خلق دَ څاښت مونځ په جمات کښې ډیر تاخیر سره کوي لیکن حضورپاك ﷺ به داسې تاخیر نه فرمائیلو. تاسو خلق دا په جمات کښې کوئی او تاسو دواز او التزام کوئی یا حضورپاك ﷺ تداعی سره نه دې کړې تاسو ئې تداعی سره کوئی.

دابن عمر د قول جواب: -بهرحال دَحضرت ابن عمر ﷺ اودَ هغوی په قول کښې دا ټول احتمالات موجود دی. دَدې نه دَ بعضې صوفیاکرام مریدانو باندې تنبیه هم کیدې شي څوك چه دَ څاښت مونځ ته دَ فرض درجه ورکولوسره التزام کوی.

[۵۵/۳۹]بَابُ صلوة التَّطَوُّعِ

دَنفل مونځ بیان

خلاصة الباب: -

فیه تسعة أحادیث مشتملة علی سبع مسائل:

① صلوة تحیة الوضوء: ۱، ۵.

②صلوة الاستخارة: ۲.

③ صلوة الاستغفار: ۳.

④ الصلوة لرفع المصائب: ۴.

⑤ صلوة الحاجة: ۶.

⑥ صلوة التسبیح: ۷.

⑦ فضل صلوة النافلة: ۸، ۹.

دتطوع لغوی معنی: -تطوع، د طوع نه اخستلې شوې دې په معنی د انقیاد او فرمانبرداری.

دتطوع دوه قسمونه: -بیا دې واضحه وی چه تطوع په مجموعی حیثیت سره په دوه قسمه دې.

① هغه چه د هغې دپاره جماعت مسنون دې لکه صلاة العیدین، صلاة الجنازة، صلاة الکسوف، صلاة الاستسقاء او تراویح.

② دویم کوم چه انفرادی طور ادا کولې شي.

د دویم قسم دوه قسمونه: - بیا هغه نوافل کوم چه انفرادی ادا کولې شی هغه په دوه قسمه دي.

① **سنة معینه:** - هغه چې د شریعت د طرفه د هغې دپاره وخت مقررشوی وی.لکه د پنځو وارو مونځونو سره سنت مؤکده، د اشراق مونځ د اوابین مونځ، تحیة الوضوء ،تحیة المسجد، صلاة الحاجة وغیره.

② **نافله مطلقه:** - د حکم دا دې چې توله شپه د دې وخت دې او د ورځې هم سوا د اوقات منهیه نه د دې وخت دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۳۲۲]دتحیة الوضوء فضیلت

۱۳۲۲-()[۱][۱]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲]«قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبِلَالٍ عِنْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ: [۳]"يَا بِلَالُ! حَدِّثْنِي بِأَرْجَى عَمَلٍ عَمِلْتَهُ فِي الْإِسْلَامِ؟ [۴]فَإِنِّي سَمِعْتُ دَفَّ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الْجَنَّةِ"، [۵]قَالَ: مَا عَمِلْتُ عَمَلًا أَرْجَى عِنْدِي [٦]أَنِّي لَمْ أَتَطَهَّرْ طُهُورًا فِي سَاعَةٍ مِنْ لَيْلٍ وَلَا نَهَارٍ [۷]إِلَّا صَلَّيْتُ بِذٰلِكَ الطُّهُورِ مَا كُتِبَ لِي أَنْ أُصَلِّيَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي [۲]چې (یو ځل) رسول الله ﷺ د سحر د لمانځه په وخت بلال رضی الله عنه ته وفرمایل [۳]چې بلاله رضی الله عنه لږ ماته دا اووایه چې تا د اسلام په حالت کې کوم عمل کړي دي چې د هغې څخه تا ته د ثواب ډیر زیات امید دي؟[۴]ځکه چې ما په جنت کې خپلې مخې ته ستا د چپلو آواز اوریدلي دي[۵]بلال رضی الله عنه عرض وکړو چې یا رسول الله ﷺ ما د داسې زیات امید څه عمل نه دي کړي[٦]سوا د دې څخه چې په شپه او ورځ کې چې کله هم زه پاکي حاصله کړم[۷]نو په هغه پاکئ سره څومره چې زما په مقدر کې وي زه مونځ ضرور کوم. (بخاري،مسلم)

حل اللغات: - ①أَرْجَى: د اسم تفضیل صیغه ده، ډیر د امید والا، ②دَفَّ: أَيْ: صَوْتُهُمَا عِنْدَ مَشْيِكَ فِيهِمَا: د ګرځیدو په وخت د چپلو آواز. ③نَعْلَ: چپلې، پیزار.

تسهیلات: -

قوله: فَإِنِّي سَمِعْتُ دَفَّ نَعْلَيْكَ بَيْنَ يَدَيَّ فِي الْجَنَّةِ:

په جنت کښې د بلال د څپو کشار اوریدل: - په دې حدیث پاك کښې د حضرت بلال رضی الله عنه د یوعمل اجر طرفته اشاره ده.هغه دا چې نبی کریم ﷺ په جنت کښې دبلال رضی الله عنه د قدمونو آواز واؤریدو نو نبی کریم ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه نه ددې عمل باره کښې تپوس اوکړو، حضرت بلال رضی الله عنه جواب کښې اوفرمائیل چې کله هم څه اودس کوم نو دوه رکعته تحیة

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجمعة/باب فضل الطهور باللیل والنهار، وفضل الصلاة بعد الوضوء باللیل والنهار (رقم-۱۱٤۹) ومسلم کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب من فضائل بلال رضی الله عنه (رقم-۱۰۸ - (۲٤۵۸)

الوضوء كوم. دا تحية الوضوء كول د اوقات مكروهه نه علاوه باندې محمول دی. حضرت بلال ﷺ ته دا فضيلت په دې وجه حاصل شو چې اسلام قبلولو كښې ئې سبقت اوكړو او دويم دا چې د اسلام په خاطر او دالله ﷻ درضا په خاطر ئې ډير زيات تكاليف برداشت كړی وو.

د واقعه په پس منظر كښې اقوال:- دا واقعه د نبی كريم ﷺ سره په كوم ځائې كښې اوشوه ، دې باره كښې مختلف اقوال دی.

① ليلة المعراج كښې داواقعه پيښه شوې وه ،

② په حالت د خوب كښې ورته پيښه شوې وه.

③ د نوم او ديقظت د حالت په مينځ كښې پيښه شوې وه.

د نبی عليه السلام ځخه د بلال د وړاندې تلو حيثيت:- په جنت كښې د حضرت بلال ﷺ د نبی كريم ﷺ نه وړاندې تلل د خادم په حيثيت سره وو. اودا پخپله يو عظيمه درجه ده او ډير لوې فضيلت دې. په دې وجه نبی كريم ﷺ د هغه نه تپوس اوكړو چې ته داسې كوم يوعمل كوې چې دهغې په وجه تاته د خدمت خاص دا عظيمه مرتبه حاصله شوه ؟ د حديث حقيقی معنی هم د اده . ددې ظاهری معنی او مفهوم مراد اخستل او په غلط فهمی كښې اخته كيدل نه دی پكار چې ددې حديث مبارك نه دا ثابتيږی چې نعوذ بالله حضرت بلال ﷺ ته په حضرت رسول كريم ﷺ باندې فضيلت حاصل وو چې هغه د رسول كريم ﷺ نه اول جنت ته داخل شو. ځكه چې دا مرتبه خوبه يو نبی او پيغمبرته هم نه حاصله نشی چې هغه د رسول كريم ﷺ نه وړاندې جنت ته داخل شی . نو دا لا څنګه كيديشی چې درسول كريم ﷺ د امت يو كس ته دا امتياز حاصل شی چې ددې دوؤ خيزونو يعنی هميشه په اودس كښې اوسيدلو او دتحية الوضوء مونځ كولو په وجه د رسول كريم ﷺ نه وړاندې جنت داخل شی . چه نسبت خاك را با عالم پاك.

د الله تعالی د محبوب جوړيدو نسخه:- ځوك چې په طهارت باندې دوام ساتی نو هغه الله ﷻ ته محبوب دې. لقوله تعالی: «اِنَّ اللهَ يُحِبُّ التَّوَّابِيْنَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِيْنَ»، كوم كس چې دا غواړی چې د الله ﷻ محبوب جوړ شی نو هغه دې په طهارت باندې دوام

[۱۳۲۳] ذ استخارې مونځ او دعا

۱۳۲۳–(۱)[۲] ① وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: ② «كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا الْإِسْتِخَارَةَ فِي الْأُمُوْرِ، ③ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّوْرَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، ④ يَقُوْلُ: "إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالْأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيْضَةِ، ⑤ ثُمَّ لِيَقُلْ: اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيْرُكَ بِعِلْمِكَ، ⑥ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، ⑦ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيْمِ، ⑧ فَإِنَّكَ

[1] اخرجه البخاری فی كتاب الدعوات/باب الدعاء عند الاستخارة (رقم-۶۳۸۲) والترمذی كتاب الوتر/باب ما جاء فی صلاة الاستخارة (رقم-۴۸۰) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء فی صلاة الاستخارة (رقم-۱۳۸۳)

تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ ⑨ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ ⑩ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ،

ترجمه: ① حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي ② چې رسول الله ﷺ به مونږ ته د ټولو کارونو د پاره د استخاري دعا داسې ښودله ③ څنګه چې د قرآن کريم يو سورت به يې ښودلو (يعني حضور ﷺ به د دې دعا د تعليم ډير اهتمام کولو) ④ حضور ﷺ به فرمايل هر کله چې په تاسو کې يو سړي د څه کار اراده وکړي نو هغه ته پکار دي چې د فرض لمانځه څخه علاوه دوه رکعاته نفل مونځ وکړي ⑤ بيا دا دعا وکړي (چې پورته په متن حديث کښې ده، ترجمه يې دا ده) اې الله زه ستا د علم په ذريعه ستا څخه خير غواړم ⑥ او ستا د قدرت په واسطه (د نيک عمل کولو) ستا څخه قدرت غواړم ⑦ او زه ستا څخه ستا فضل غواړم ⑧ ځکه چې ته (په هر شي) قادر يې زه (ستا د مرضي څخه بغير په هيڅ شي) قادر نه يم ⑨ او ته په (ټولو څيزونو ښه) پوهيږې زه په هيڅ نه پوهيږم ⑩ او ته په پټو خبرو هم ښه پوهيږې.

حل اللغات: – ① الإِسْتِخَارَةَ: طلب الخير من الله في شئ: د الله تعالى نه په څه کار کښې خير طلب کول. ② هَمَّ: اراده، قصد،

① اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي ② فِي دِينِي، وَمَعَاشِي، وَعَاقِبَةِ أَمْرِي ③ أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - ④ فَاقْدُرْهُ لِي، وَيَسِّرْهُ لِي، ⑤ ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، ⑥ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي ⑦ فِي دِينِي، وَمَعَاشِي، وَعَاقِبَةِ أَمْرِي ⑧ أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ ⑨ فَاصْرِفْهُ عَنِّي، وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، ⑩ وَاقْدُرْ لِيَ الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ⑪ ثُمَّ أَرْضِنِي بِهِ" ، ⑫ قَالَ: "وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① اې الله که ته پوهيږې چې دا کار (يعني مقصد) زما د پاره بهتر وي ② زما په دين او په ژوند او د نتيجې په اعتبار سره (بهتر وي) ③ او يا نبي کريم ﷺ داسې اوفرمائل چې په دې جهان (يعني په دنيا) کې او هغه جهان (يعني په آخرت) کې بهتر دي ④ نو دا زما د پاره مقدر کړې او دا زما د پاره اسان کړې ⑤ بيا په دې کې زما د پاره برکت واچوې ⑥ او که ته دا امر (يعني زما مقصد او زما مراد) زما د پاره بد ګڼې ⑦ زما په دين زما په ژوند او زما په آخرت کې ⑧ يا وي فرمايل دې جهان کې او په هغه جهان کښې يې بد ګڼې ⑨ نو دا زما څخه او ما د دې څخه وګرځوې ⑩ او زما د پاره چې چرته خير وي هغه مهيا کړې ⑪ بيا په هغې ما راضي کړې، بخاري، ⑫ راوي وايي چې د لفظ هٰذا الامر په ځاى دي د خپل حاجت نوم واخلي. (بخاري)

حل اللغات: – ③ عَاجِلِ: جلتي، سره يعنى دنيا کښې ④ آجِلِهِ: روستنى وخت کښې يعنى آخرت کښې،

قوله: – يُعَلِّمُنَا الإِسْتِخَارَةَ:

په غشو باندې قسمت معلومول: – په زمانه د جاهليت کښې دخلقو عادت وو چه کله به دوى ته دسفر وغيره څه حاجت يا دنکاح اوبيع څه معامله کول وو يا د خپل قسمت يا راتلونکى فائده اونقصان معلومول به وو نو داسې ټولو صورتونو کښې به ئې داستقسام

بالازلام نه کار اخستو او ددوی په خیال کښې به په دې کښې دوی ته دکوم کار خیر معلوم شو نوهغه به ئې کولو او چه کوم به ورته مضر ښکاره شو نو هغه به ئې ترک کولو.

په غشو د قسمت معلومولو طریقه:- ازلام د زلم جمعه ده هغه غشې چه په زمانه د جاهلیت کښې به ددې قسمت معلومیدو.اودا به اووه غشی وو چه په هغې کښې په بو باندې نعم او په بل لا لیکلې شوی وو.اودا غشی به دبیت الله شریف دخادم سره وو.اوچه کله به یو کس ته دخپل څه کار مفید یا مضر کیدل معلومول وو نو دکعبې مبارکې خادم ته به راغلو اوده ته به ئې څه نذرانه ورکړه.اوده به غشی یو یو دترکش نه راویستو که دنعم والا غشی به راووتلو نو دا به ئې خیال وو چه دا کار مفید دې او که د لا والا غشی به راووتلو نو دا به ئې خیال وو چه دا نه دی کول پکار.د استقسام بالازلام نور صورتونه هم شته.نو قران پاك دا په خپلو متبعینو باندې دا کار کول بند کړل.(١)

د استخارې تعلیم ورکول:- داستقسام بالازلام دممانعت نه پس شریعت دابند هم کړلو او ددې په بدل کښې ئې داستخاره تعلیم ورکړو.(٢) او وې خودل چه څه خاص اواهم کار درته پیښ شی نو دوه رکعته مونځ اوکړئی په نیت د نفلو او دالله ﷻ نه رهنمائی طلب کړئی او دخیر طلب دې اوکړئی اودعاء د استخارې اوکړئی.

په استخاره کښې فائده:- ظاهر دی چه بنده کله دخپلې عاجزئی او د بې علمئ اعتراف اوکړی او د تعلیم او د قادر مطلق رهنمائی اومدد طلب کړی چه کوم دده په نزد بهتر وی هغه دې اوکړی نودادیره بعیده اور لرئې ده چه الله ﷻ به دخپل بنده رهنمائی اومدد نه کوی.حدیث کښې دې ته څه اشاره نشته دې

داستخارې طریقې:- چه دا رهنمائی اومدد به څنګه وی

① نودالله ﷻ دبندګانو تجربه ده چه دا رهنمائی ډیر ځل دخوب وغیره کښې داشارې په ذریعه حاصلیږی.

② او کله داسې هم کیږی چه په خپله ددې کار کولو جذبه دده په زړه کښې مضبوطه شی یا ددې په عکس زړه ددې نه واوړی.داسې صورت کښې دواړه کیفتیونه دالله ﷻ د طرفه اوددعاء نتجیه ګنړل پکار دی.اوکه د استخارې نه پس دتذبذب کیفت وی نو بیا بیا دې استخاره اوکړی اوچه ترکومې یو طرته دده توجه نه وی برابره شوې نو اقدام دې نه کوی.(٣)

دکومو کارونو دپاره استخاره کولې شی:- واضح دې وی چه داوجب اومندوب دکولو اود حرام او مکروه دپریښودو دپاره استخاره نشته دې ځکه چه اول کول او اخری متعین

(١) معارف القران (ج/ ٣، ص/ ٣١) سوره مائده، مرتب عفی عنه-
(٢) كما قال الشيخ ولى الله الدهلوى فى حجة الله البالغة (ج/ ٢، ص/ ١٩) النوافل وحكمة تشريعها)-
(٣) معارف الحديث (ج/ ٣، ص/٣٦٥ تا ٣٦٨) —

کول او استخاره کول صرف د امر مباح کولو یا نه کولو کښې دیو دترجیح دپاره وی یا یو واجب غیر موقت کښې دوخت متعین دپاره (۱) وی.والله اعلم.

قوله:- فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ:

داستخارې په موقع کښې مسنون قراءت:- دَ استخارې طریقه په دغه حدیث کښې پخپله ذکر ده چه سړې دې اودس اوکړی او دوه رکعته نفل کولوسره دې دَ سلام ګرځولونه پس دغه ذکرشوې دعا اووائی. په دوو نفلوکښې په اول رکعت کښې قل یاایها الکافرون او دویم کښې قل هوالله احد اووائی نو زیاته بهتره ده ګنی هریو سورت وئیلې شی. دې نه پس که ذکرشوې دعا یاده وی نو په یادودې اووائی ګنی په کتاب کښې کتلوسره دې اووائی.

قوله: أَوْقَالَ: فِي عَاجِلِ:

راوی ته شك اوشو چه حضورپاك ﷺ کوم الفاظ استعمال کړې وو. علماؤ لیکلی دی چه که دواړه الفاظ اووئیلې شی نو بیاهم بهتره ده.

قوله: أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ:

دهذا الامر مفهوم:- یعنی په دې حدیث کښې په ذکرشوې دعاکښې "هذاالامر" کښې دَ عام الفاظو نه دَمقصودطرف ته اشاره کړې شوې ده. حضوراکرم ﷺ فرمائیلی دی چه په دې موقع دې دَ استخارې کونکې دَخپل مقصود اومطلوب په صریح الفاظوکښې نوم اخستو سره بیان اوکړی مثلاً دَ "هذاالامر"په ځائی "هذاالسفرالزواج وهذه الوظیفة" اووائی. اوداهم صحیح دی چه دَ "هذاالامر" وئیلونه پس دَخپل مطلوب نوم اخستو سره ذکر اوکړی. حضرت انس رضی الله عنه فرمائی ماته حضوراکرم ﷺ اوفرمائیل چه دَ استخارې کولونه پس ستا په زړه کښې چه کومه خبره شرح صدر او په تسلئی سره راغله کیناسته هم په هغې باندې عمل کوه هم هغه ستا دَپاره بهتره ده.

مختصره استخاره:- په احادیثوکښې دَ یوې بلې استخارې هم ذکر راغلې دې کومه چه زیاته مختصره ده او په هرحالت کښې دَ هغې کول ممکن دی. مثلاً په چا تادی ده او زر خپله بنیګړه معلومول غواړی نوکه هغه په کوم یو حالت کښې هم وی دَ استخارې دَپاره دې دا الفاظ بار بار وائی "اَللّٰهُمَّ خِرْلِيْ وَاخْتَرْلِيْ وَلَاتَكِلْنِيْ إِلَى اخْتِيَارِيْ"اې الله زما دَپاره چه کوم بهتر دی هغه راکړې اوما زما اختیار ته مه حواله کوه. علماؤ لیکلی دی چه که په استخاره کښې په یوخل باندې اشاره ملاؤ نه شی نو په دویم ځل دې اوکړی په دریم ځل دې اوکړی تردې چه اووه ورځې دې اوکړی اوبیا دې دَخپل زړه په میلان باندې عمل اوکړی. استخاره پخپله هم سړې کولې شی او په بل چاباندې هم کولې شی.

---

(۱) معارف السنن (ج/ ٤ . ص/ ۲۷۸)مرتب عفی عنه

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[١٣٢٤] د توبې د مونځ بيان

١٣٢٤ – () [٣] [١] عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُوْبَكْرٍ - وَصَدَقَ أَبُوْبَكْرٍ - قَالَ: [٢] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [٣] "مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، [٤] ثُمَّ يَقُومُ فَيَتَطَهَّرُ، ثُمَّ يُصَلِّي، [٥] ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ، إِلَّا غَفَرَ اللّٰهُ لَهُ، [٦] ثُمَّ قَرَأَ: ﴿وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً [٧] أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ [٨] ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ﴾ [آل عمران: ١٣٥]. [٩] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَةَ; إِلَّا أَنَّ ابْنَ مَاجَةَ لَمْ يَذْكُرِ الْآيَةَ.

ترجمه: [١] امير المؤمنين حضرت علي كرم الله وجهه فرمايي چې حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ماته وفرمايل او بالكل رښتيا يي وفرمايل [٢] چې ما د رسول الله ﷺ څخه ارشاد گرامي اوريدلي دي [٣] چې كوم سړي گناه وكړي [٤] او په گناه باندې د ندامت كولو په وجه پاځي او اودس وكړي او مونځ وكړي [٥] او د پروردگار څخه د خپلې گناه مغفرت غواړي نو الله تعالى جل جلاله د هغه گناه معاف كوي [٦] بيا رسول الله ﷺ دا آيت اووئيلو (ترجمه: او داسې خلق چې هر كله څه داسې كار وكړي چې په هغې كې زياتي وي [٧] يا په خپل ذات باندې ظلم وكړي [٨] نو الله تعالى جل جلاله (يعني د هغه عذاب) يادوي بيا د خپلو گناهونو معافي غواړي، [٩] دا روايت ترمذي او ابن ماجه راويت كړي دي خو ابن ماجه آيت نه دی ذكر كړي.

حل اللغات:- ① فَاحِشَةٌ: بدعملي، بدكاري،

تسهيلات:-

قوله: وَصَدَقَ أَبُوْبَكْرٍ

د حديث په قبلولو كښې د حضرت علي احتياط:- دا جمله معترضه ده. حضرت علي رضي الله عنه د حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه عظمت او بزرگي ښكاره كولو سره اوفرمائيل چه صديق رښتيا اوفرمائيل. د حضرت علي رضي الله عنه باره كښې نقل دي چه د هغوی عادت وو چه د حديث بيانونكي راوی نه به ئی قسم اخستلو چه ته رښتيا وايې كه نه. كله چه به هغه قسم اوخوړلو نو بيا به هغوی رضي الله عنه د هغه حديث قبلولو. دلته پخپله فرمائی چه ابوبكر رضي الله عنه رښتيا اوفرمائيل هغه رښتوني وو. واقعي صديق رښتوني وو هغه صديق وو، صديق صديق وی.

د حديث مفهوم:- د پورتنی حديث مطلب دادې چه كه چرې يو سړي د گناه عمل كوی اوبيا غواړی چه د دغه گناه د ختمولو د پاره توبه اوكړی نو اول دې اودس اوكړی بيا دې دوه ركعته نفل اوكړی اوبيا دې د الله تعالى نه استغفار اوكړی الله تعالى به ئی معاف كړی دا

^(١) اخرجه الترمذی فی كتاب الصلوٰة/ باب ما جا فی الصلوٰة عند التوبة... رقم الحديث ٤٠٨

دَ توبې مونځ دې او دَ توبې دَ پاره يو شرط دا دې چه خپيمانتيا سره په تيره شوې گناه باندې خپيمانتيا سره په رښتونى زړه سره توبه اوکړی. دويم شرط دادې چه دَبيا دَپاره به پخه اراده وی چه بيا به گناه ته نه نيزدې کيږی. دريم شرط دا چه که دَ يوانسان حق وی نواول دې دَهغه نه معافی اوغواړی بيا دې دَ الله تعالى نه استغفار اوکړی. څکه چه په حقوق العباد کښې دَ توبې هم دغه صورت دې. حضورپاك ﷺ په آخره کښې په توګه دَ دليل دَ قرآن پاك دوه آياتونه تلاوت کړل چه کوم څه ما ونيلی دی دَ الله تعالى په نيزهم دَ توبې کولو او استغفار هم دغه طريقه ده.

[۱۲۲۵] دَمصيبت په وخت د نفل مونځ کول

۱۲۲۵—( ) [۳] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت حذيفه رضی الله عنه فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ ته چې به څه مصيبت پيښ شو نو نفل مونځ به يې کولو. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① حَزَبَهُ أَمْرٌ: أي اشتدّ عليه: څه سخت کار به ورته پيښ شو.

تسهيلات:- **قوله:** إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ:

د پريشانۍ په وخت مونځ ته متوجه کيدل او د هغې وجه:- يعنى کله چه به په نبى کريم ﷺ باندې غم مصيبت راغلو نو حضورپاك ﷺ به دَنفل مونځ طرف ته متوجه کيدو څکه چه دَالله تعالى ارشاددې ﴿ وَاسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلٰوةِ ﴾
په مانځه کښې دَسړی توجهات او افکار په مکمل توګه باندې دَعالم بالااوعالم ربوبيت طرف ته متوجه کيږی اودَعالم دنيانه سړې اوځی نودَعالم مصائب مصيبتونه اودردونه دَ ذهن نه لرې کيږی اوسړی ته تسلی حاصليږی. په دې وجه دَمصيبت په وخت په مانځه کښې دَمشغول ليدلو حکم ورکړې شوې دې.

[۱۲۲٦] دتحية الوضوء فضيلت

۱۲۲٦—( ) [۵] [۱] وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] «أَصْبَحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَدَعَا بِلَالًا فَقَالَ: [۳] "بِمَ سَبَقْتَنِي إِلَى الْجَنَّةِ؟ [۴] مَا دَخَلْتُ الْجَنَّةَ قَطُّ إِلَّا سَمِعْتُ خَشْخَشَتَكَ أَمَامِي". [۵] قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! مَا أَذَّنْتُ قَطُّ إِلَّا صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ، [٦] وَمَا أَصَابَنِي حَدَثٌ قَطُّ إِلَّا تَوَضَّأْتُ عِنْدَهُ [۷] وَرَأَيْتُ أَنَّ لِلّٰهِ عَلَيَّ رَكْعَتَيْنِ، [۸] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بِهِمَا"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت بريده رضی الله عنه فرمايي [۲] چې (يو ځل) رسول الله ﷺ د سحر وخت (د سحر

---

[1] اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة،باب وقت قيام النبی صلی الله عليه وسلم من الليل (رقم-۱۳۱۹)
[2] اخرجه الترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۳۶۸۹)

د لمانځه څخه وروسته) بلال ﷺ طلب کړو کوم وخت چې هغه په خدمت اقدس کې حاضر شو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل [۳] د کوم عمل په وجه دې زما څخه په جنت کې پيش روي اختيار کړې ده؟ [۴] (ځکه چې) زه کله هم په جنت کې داخل شوم نو خپل مخکې مخکې ستا د چپلو آواز اورم؟ [۵] هغه عرض وکړو چې يا رسول الله ﷺ ما چې کله هم اذان کړې دې نو د هغې څخه وروسته مې دوه رکعاته مونځ ضرور کړي دي [۶] او کله چې هم زما اودس مات شي نو ما هغه وخت اودس کړي دي [۷] او ما د الله ﷻ د پاره دوه رکعاته مونځ کول ضروري ګڼلي دي (يعني د هر اودس څخه وروسته په پابندۍ سره دوه رکعاته مونځ کول ما په خپل ځان لازم ګرځولي دي) [۸] حضور ﷺ (د دې په اوريدو سره) وفرمايل بس هم د دې په وجه دې (عظيمې) درجې ته رسيدلې يې. (ترمذي)

حل اللغات:- ① قَطُّ: داسم ظرف صيغه ده، راځي دپاره د تاکيد دنفي په زمانه ماضي کښې، معنی ئې ده هيڅ کله هم، ② خَشْخَشَةً: مصدر دې د رباعي مجرد نه، د توري د خوزولو په وخت د هغې آواز ته وائي خو دلته تردې دګرځيدلو په وخت د چپلو آواز مراد دې، ③ حَدَثٌ: بې اودسي.

تسهيلات:-

تحية الوضوء جنت ته د تللو سبب:- تحية الوضوء د دې حديث څخه معلومه شوه چې حضرت بلال په جنت کښې ځکه نبي کريم صلى الله عليه اوليدل چې هغوی به دوه اعمال کولو يو په هغې کښې تحية الوضوء وو.

[۱۳۲۷] د صلوة الحاجة مسنونيت

۱۳۲۷-(۱) [۲] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «مَنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى اللهِ أَوْ إِلَى أَحَدٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فَلْيَتَوَضَّأْ [۳] فَلْيُحْسِنِ الْوُضُوءَ ثُمَّ لِيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ، [۴] ثُمَّ لِيُثْنِ عَلَى اللهِ تَعَالَى، وَلْيُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

ترجمه: [۱] عبدالله ابن ابي اوفي ﷺ راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د کوم سړي چې الله تعالی ﷻ ته يا يو چا ته څه حاجت وي (يعني که ديني وي او که دنيوي حاجت وي) نو هغه ته پکار دي چې (مخکې) دې [۳] په ښه شان (يعني پوره د آدابو د رعايت سره) اودس وکړي او دوه رکعاته مونځ وکړي [۴] بيا دې د الله تعالی ﷻ لويي بيان کړي او په حضور ﷺ دې دورد اووائی او دا دعا دې وکړي

حل اللغات:- ① يُثْنِ: ثنا اوصفت دې بيان کړی.

[۱] ثُمَّ لِيَقُلْ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيمُ الْكَرِيمُ، [۲] سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ، [۳] وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، [۴] أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، [۵] وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، [۶] وَالْغَنِيمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ، [۷] وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ، [۸] لَا تَدَعْ لِي

[۱]) اخرجه الترمذي في كتاب الوتر/باب ما جاء في صلاة الحاجة (رقم-۴۷۹) وابن ماجة كتاب إقامة الصلاة، والسنة فيها/باب ما جاء في صلاة الحاجة (رقم-۱۳۸۴)

ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ، ⑨ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ، ⑩ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًى إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، ⑪ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① - لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ أَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ إِثْمٍ لَا تَدَعْ لِيْ ذَنْبًا إِلَّا غَفَرْتَهُ وَلَا هَمًّا إِلَّا فَرَّجْتَهُ وَلَا حَاجَةً هِيَ لَكَ رِضًا إِلَّا قَضَيْتَهَا يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ (ترجمه: نشته بل معبود سوا د الله څخه چې چشم پوشي او بخشش کونکي دي ② پاك دي الله چې د عرش عظيم مالك دي ③ او ټول تعريفونه الله لره دي چې د ټول جهان پروردګار دي ④ اي الله زه ستا څخه هغه څيزونه غواړم چې د رحمت سبب وي ⑤ او چې ستا د بخشش سبب وي ⑥ او د هري نيکي څخه خپله حصه غواړم ⑦ او د هري ګناه څخه بچ کيدل غواړم ⑧ اي الله زما هيڅ ګناه بغير د بخښي او ⑨ هيڅ غم بي لري کولو ⑩ او هيڅ حاجت چې ستا په نيز خوښ وي بي پوره کولو پري نهږدي اي درحم کونکو څخه ډير رحم کونکيه) ⑪ امام ترمذي رحمه الله فرمايي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: -⑨ هَمًّا: غم، تکليف

د راوي مختصر تعارف: - د حديث د راوی نوم علقمه اوعبدالله رضي الله عنه کنيت ئي ابومعاويه او د ابن ابی اوفی په نوم سره مشهور وو.

اسلام: - د صلح حديبيه نه وړاندې مسلمان شوی وو په حديبيه کښې د نبی کريم ﷺ سره په سورلئ کښې شريک وو. په غزوه خيبر کښې هم شريک شوی وو (۲) په اسلامی غزاګانو کښې ورته په اووه کښې د شرکت سعادت حاصل شوی دې

استوګنه: - په مدنيه کښې اوسيدو خو چه کله کوفه آباده شوه نو هلته منتقل شو د حضرت علی رضي الله عنه په زمانه کښې چه کله خارجيانو سر پورته کړو نو د هغوی د مقابلې دپاره تلې وو (۳) د دوی پلار ته نبی کريم ﷺ دعا کړې وه چه الله تعالی دې په ابواوفی باندې رحمت نازل کړی (۴)

وفات: - د بنو اميه دور پورې ژوندې وو دوی آخری صحابی دې چه په کوفه کښې وفات شوې وو (۵)

روايات: - د دوی د رواياتو تعداد په کتابونو دحديثو کښې ۹۵ دې په دې کښې ۱۰ متفق عليه دی اوپه ۵ کښې بخاری اوپه يو کښې مسلم منفرد دی.

تسهيلات: -

قوله: مَنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ:

صلاة الحاجة د هر قسم حاجت دپاره: - کله چه يوسړی ته څه حاجت پيښ شی که هغه حاجت بلاواسطه دَ الله تعالی سره متعلق وی يا بالواسطه يو بنده سره متعلق وی مثلاً

يوخانى كښې دَ نوكرئى مسئله وى، دَ داخلې مسئله وى، دَ مقدمې څه صورت وى نودغه سړى له پكاردى چه په ښه شان سره اودس اوكړى بيا دوه ركعته دَ حاجت مونځ اوكړى يعنى دَحاجت پوره كيدو په نيت سره ئى اوكړى اوبيا دَ سلام نه پس مذكوره دعا اووائى او بيا دې دَخپل حاجت پوره كولودعا اوغواړى نو الله تعالى به دَ ده ضرورت پوره كړى.

د خالى په ورځ د صلاة الحاجت استحباب: –دَ دې امت په خواصو اوعوامو كښې مشهوره ده اودا ډير مجرب ده. ملاعلى قارى رحمه الله ليكلى دى چه علامه ابن حجر رحمه الله فرمائى چه صلوة الحاجة په يوم السبت يعنى دَ هفتې په ورځ كول پكاردى ځكه چه په يوحديث كښې راغلى دى چه څوك دَ هفتې په ورځ سحر دَ الله تعالى نه خپل حلال او جائز حاجت غواړى نو حضورپاك ﷺ فرمائى چه زه دَهغه دَ حاجت پوره كيدو ذمه دار يم.

بهرحال يومسلمان لـه دَدې فتنو نه ډك وخت كښې دا دعاګانې اودا مونځونه يولوئى نعمت اوعظيم دولت دې. مسلمانانو لـه پكاردى چه ماديـاتو پسې منډې وهلوسره دَ خواريدو په ځائى دَدې روحانيات نه فائده واخلى.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

نوټ: –ددريم فصل عدم وجود ته شارحينوڅه تعارض نه دې كړې داسې معلوميږى چې د صاحب مشكاة د اصولومطابق به دوى ته د فصل ثالث احاديث نه وى ملاؤ شوي ځكه چې فصل ثالث نه دې منعقد كړې.

[۵۶/۴۰] بَابُ صَلَاةِ التَّسْبِيحِ

دَ تسبيح دَمونځ بيان

خلاصة الباب: –

فيه ثلاثة أحاديث مشتملة على خمسة مسائل

① فضل صلاة التسبيح :۱
② كون الصلاة أول ما يحاسب لها يوم القيامة:۲،
③ كون النوافل مكملات للفرائض :۲
④ عظمة الصلاة في العبادات :۳
⑤ تقرب العبد إلى الله تعالى بالقرآن الكريم:۳

د صلاة تسبيح حكم: – صلوة تسبيح مستحب دې خودَدې ثواب بې حده او ډير زيات دې دَدې څلور ركعته دى او په شپه ورځ كښې هرجائز وخت كښې كولې شى.

د صلاة تسبيح وجه تسميه: –دې ته صلوة تسبيح ځكه وائى چه دَدې په هرركعت كښې ۷۵ ځل سبحان الله والحمدلله ولااله الا الله والله اكبر لوستلې كيږى.

د صلاة تسبیح په روایت د ضعف اعتراض:- په بذل المجهود ج۲ ص۲۷۷ کښې درجات مرقاة الصعود په حوالې سره نقل کړې شوې دی چه ابن الجوزی رحمه الله حدیث د صلاة التسبیح په موضوعات کښې ذکر کړې دې. او د موسی بن عبدالعزیز د وجې نه ئې دې حدیث ته معلول وئیلې دې ځکه چه موسی مجهول دې.

د ضعف د اعتراض جواب:- خو حافظ ابن حجر رحمه الله په کتاب الخصال المکفرة کښې وئیلی دی چه د ابن الجوزی رحمه الله د دې حدیث په موضوعات کښې شمار کول صحیح نه دی. او د ابن الجوزی رحمه الله دا قول چه موسی بن عبدالعزیز مجهول دې دا هم صحیح نه دې، ځکه چه یحیی بن معین رحمه الله او امام نسائی رحمه الله موسی ته ثقة وئیلې دې.

هم دغه شان د ډیرو ائمه کرامو د اقوالو نه ثابت دی چه د صلاة التسبیح حدیث صحیح او قابل عمل دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۱۳۲۸] د صلوة تسبیح فضیلت او طریقه

۱۳۲۸ -(١)[1] ١ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - أَنَّ «النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ: ٢ "يَا عَبَّاسُ! يَا عَمَّاهُ! أَلَا أُعْطِيكَ؟ ٣ أَلَا أَمْنَحُكَ؟ ٤ أَلَا أُخْبِرُكَ؟ ٥ أَلَا أَفْعَلُ بِكَ؟ عَشْرَ خِصَالٍ ٦ إِذَا أَنْتَ فَعَلْتَ ذٰلِكَ، ٧ غَفَرَ اللّٰهُ لَكَ ذَنْبَكَ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، ٨ قَدِيمَهُ وَحَدِيثَهُ، ٩ خَطَأَهُ وَعَمْدَهُ، ١٠ صَغِيرَهُ وَكَبِيرَهُ، ١١ سِرَّهُ وَعَلَانِيَتَهُ:

ترجمه: ١ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما راوي دي چې رسول الله ﷺ حضرت عباس رضی الله عنه ابن عبدالمطلب ته وفرمایل ٢ چې اې عباس اې زما تره (اکا) آیا زه تاته در نه کړم ٣ آیا زه تاته هدیه نه کړم ٤ آیا زه تاته ونه ښایم ٥ آیا تا د لسو خصلتونو مالك جوړ نه کړم ٦ که ته هغه اختیار کړې ٧ نو الله تعالی جل جلاله به ستا مخکني وروستني ټول ګناهونه وبخښي ٨ زاړه او نوي ٩ قصداً او سهواً ١٠ واړه او لوي ١١ پټ او ښکاره ټول ګناهونه به وبخښي (نو واوره چې)

حل اللغات:- ① أَمْنَحُكَ: د مضارع متکلم صیغه ده، عطیه، هدیه ورکولو ته وائی، ② خِصَالٍ: خصلتونه، خوبیانې.

١ أَنْ تُصَلِّيَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، ٢ تَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً، ٣ فَإِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي أَوَّلِ رَكْعَةٍ وَأَنْتَ قَائِمٌ، ٤ قُلْتَ: سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ أَكْبَرُ، ٥ خَمْسَ عَشْرَةَ مَرَّةً، ٦ ثُمَّ تَرْكَعُ، فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا، ٧ ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ الرُّكُوعِ، فَتَقُولُهَا عَشْرًا، ٨ ثُمَّ تَهْوِي سَاجِدًا، فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا، ٩ ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ السُّجُودِ فَتَقُولُهَا عَشْرًا، ١٠ ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُولُهَا عَشْرًا، ١١ ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ فَتَقُولُهَا عَشْرًا،

ترجمه: ١ ته څلور رکعاته داسې کوه ٢ چې په هر رکعت کې سورة فاتحه او څه دویم سورت اووایې ٣ کوم وخت چې په اولنې رکعت کې د قراءت څخه فارغ شې نو په ولاړه ولاړه ٤ دا تسبیح وایه سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَكْبَرُ ٥ پنځلس ځله ٦ بیا چه

[1]) اخرجه ابوداود فی کتاب الصلاة، باب صلاة التسبیح (رقم-۱۲۹۷) وابن ماجة کتاب إقامة الصلاة، والسنة فیها/باب ما جاء فی صلاة التسبیح (رقم-۱۳۸۶)

ركوع ته لاړ شې او د ركوع د تسبيح (سبحان ربي العظيم) ويلو څخه وروسته په ركوع كې دا تسبيح لس ځله وايه [۷] بيا د ركوع څخه سر پورته كړه او د سمع الله لمن حمده ويلو څخه وروسته دا تسبيح لس ځله اووئيلو [۸] بيا سجدې ته لاړ شه او د سبحان ربي الاعلي څخه وروسته دا تسبيح لس ځله اووايه [۹] بيا د سجدې څخه سر پورته كړه او دا تسبيح لس ځله اووايه [۱۰] بيا دويمې سجدې ته لاړ شه او د سجدې تسبيح ويلو څخه وروسته دا تسبيح لس ځله اووايه [۱۱] بيا خپل سر د سجدې څخه پورته كړه او دا تسبيح لس ځله اووايه

[۱] فَذٰلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُونَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، [۲] تَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي أَرْبَعِ رَكْعَاتٍ، [۳] إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تُصَلِّيَهَا فِي كُلِّ يَوْمٍ مَرَّةً فَافْعَلْ، [۴] فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ، [۵] فَفِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّةً، [۶] فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ شَهْرٍ مَرَّةً، [۷] فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً، [۸] فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي عُمُرِكَ مَرَّةً». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ".

ترجمه: [۱] دا ټول پنځه اويا تسبحات شو په هر ركعت كې [۲] د دغسې په څلورو ركعاتونو كې وكړه (يعني په مذكوره طريقې سره دا تسبيح پنځه اويا ځله په هر ركعت كې وايه) [۳] كه ته روزانه په دې لمانځه كولو باندې قدرت لرې نو روزانه يې كوه [۴] كه روزانه يې نه شې كولې [۵] نو په هفته كې يې يو ځل كوه [۶] كه په هفته كې يې نه شې كولې نو په مياشت كې يې يو ځل كوه [۷] كه په مياشت كې يې نه شې كولې نو په كال كې يې يو ځل كوه [۸] او كه په كال كښې يې هم نه شې كولې نو (د كم څخه كم) په ټول عمر كې يې يو ځل ضرور وكړه.
ابوداؤد ابن ماجه بيهقي في دعوات الكبير

۱۳۲۹ —()[۰] [۱] وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ أَبِي رَافِعٍ نَحْوَهُ.

ترجمه: [۱] امام ترمذي دغسې روايت د حضرت ابورافع څخه نقل كړي دي.

تسهيلات:-

قوله: قُلْتُ: سُبْحَانَ اللّٰهِ:

دصلوة تسبيح دوه طريقې:-

① صلوة التسبيح څلور ركعته دی. هر ركعت كښې پنځه اويا (۷۵) ځل دريمه كلمه وئيل دی خومره چې په حديث مبارك كښې مذكور ده هغه وئيلې كيږی ، په هر ركعت كښې د دې د شمير پورا كولو دوه طريقې دی. يودا چې كومه د حديث پاك دترجمې نه واضحه ده.

② دويمه طريقه داده چې امام ترمذی رحمه الله باب ماجاء فی صلوة التسبيح كښې حديث راوړی دې چې ددې آسانه طريقه داده چې د ثناء نه پس دې پنځلس ځل تسبيح اووائی ، بيا قرأت نه پس لس ځل ، بيا په ركوع كښې لس ځل ، ركوع نه د پورته كيدو نه پس لس ځل ، بيا لس ځل په سجده كښې ، بيا د سجدې نه پورته كيدو نه پس لس ځل بيا په دويمه سجده كښې لس ځل ، دا ټول پنځه اويا ځل شو . امام ترمذی رحمه الله يو حديث پاك كښې دا طريقه ذكر كړې ده. احنافو هم دا خوښه كړې ده. او بل روايت كښې لږ شان بدلون سره دا طريقه راغلې ده. چې د ثناء نه پس تسبيح نشته دې ، بلكه د دويمې سجدې نه پس تسبيح ده. دا

[۱]) اخرجه الترمذی فی كتاب الوتر/باب ما جاء فی صلاة التسبيح (رقم-۴۸۲)

طريقه د عبدالله بن مبارك رحمه الله ده. ځيني احنافو دې ته ترجيح ورکړې ده. حضرت انور شاه کشميري رحمه الله اولې طريقې ته ترجيح ورکړې ده. ځکه چې ددې مونځ ددې طريقې شان د دې بلې طريقې نه مختلف دې. لهذا هغوی اولې طريقې ته ترجيح ورکړې ده. باقي د دويمې سجدې نه پس دتسبيح په جلسه استراحت په نفلو کښې د جواز ګنجائش ثابتيږي.

قوله :عَشْرَ خِصَالٍ:

د لسو خصلتونو په مصداق کښې اقوال :-

① دلسو خصلتونو نه مراد هر رکن کښې لس ځل تسبيح وئيل دي.

② دخصال نه مراد دادې چې څوك دا اختيار کړي هر تسبيح سره به ددې لس ګناهونه معاف کيږي.

③ امام طيبي رحمه الله فرمائي چې دسياق حديث نه لس خصال دا لاندې ذکر شوی معلوميږي:

① څلور رکعاته کول.

② هر رکعت کښې سورة فاتحه وئيل.

③ سجده ثاني کښې لس ځل وئيل.

④ قيام کښې لس ځل تسبيح وئيل

⑤ رکوع کښې لس ځل

⑥ قومه کښې لس ځل وئيل

⑦ اوله سجده کښې لس ځل وئيل.

⑧ سورة فاتحې سره بل سورة يو ځائې کول

⑨ په جلسه د استراحت کښې وئيل.

⑩ ددوارو سجدو په مينځ کښې وئيل.

قوله: خَطَأَهُ وَعَمْدَهُ:

اشکال:- په خطاء کښې خو ګناه نشته لقوله عليه السلام رفع عن أمتي الخطأ والنسيان ، نودا په ګناه کښې څنګه شمار کړې شو؟

داشکال دوه جوابونه :-

① دلته د ذنب نه مراد نقص دې.

② يا ددې نه مراد هغه خطاء ده چې په هغې باندې مغفرت مرتب کيږي. (مرقاة ج/۳ص/۲۱۴).

[۱۳۳۰] ذقيامت په ورځ اوله پښتنه د مونځ

۱۳۳۰-(۱)[۴]① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ②: "«إِنَّ

[1]) اخرجه ابوداود في كتاب الصلاة باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «كل صلاة لا يتمها صاحبها تتم من تطوعه» (رقم-۸۶۴) والترمذي كتاب الصلاة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن أول ما يحاسب به العبد يوم القيامة الصلاة (رقم-۴۱۳) والنسائي كتاب الصلاة/باب المحاسبة على الصلاة (رقم-۴۶۵) وابن ماجة باب ما جاء في أول ما يحاسب به العبد الصلاة (رقم-۱۴۲۵)

أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ ۳ فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ ۴ وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ

ترجمه: ۱ حضرت ابوهريره رضی الله عنه راوي دي چې ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي ۲ چې د قيامت په ورځ به د بنده په اعمالو کې د ټولو څخه مخکې چې د کوم عمل په باره کې محاسبه کيږي هغه به د هغه مونځ وي ۳ که مونځ يي درست شو (يعني که هغه مونځ صحيح اداء کړي وي يا د هغه مونځ قبول شوې وي) نو هغه به کاميابي ترلاسه کړي ۴ او که مونځ يي فاسد وي (يعني مونځ يي اداء کړي نه وي يا غير صحيح او غير مقبول يي ادا کړي وي) نو هغه به د ثواب څخه نا اميده وي او (په عذاب کې د مبتلا کيدو په وجه) به په خساره کې وي

حل اللغات: - ① أَفْلَحَ: کامياب شو، ② أَنْجَحَ: خلاصي ني بيامونده، ③ خَابَ: لم ينل ما طلب: نامراده کيدل، نااُميده کيدل، ④ خَسِرَ: نقصان اوچتول، تاواني کيدل.

۱ فَإِنِ انْتَقَصَ مِنْ فَرِيضَتِهِ شَيْءٌ، ۲ قَالَ الرَّبُّ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: انْظُرُوا هَلْ لِعَبْدِي مِنْ تَطَوُّعٍ؟ ۳ فَيُكَمَّلُ بِهَا مَا انْتَقَصَ مِنَ الْفَرِيضَةِ، ۴ ثُمَّ يَكُونُ سَائِرُ عَمَلِهِ عَلَى ذَلِكَ». ۵ وَفِي رِوَايَةٍ: "ثُمَّ الزَّكَاةُ مِثْلُ ذَلِكَ ۶ ثُمَّ تُؤْخَذُ الْأَعْمَالُ عَلَى حَسَبِ ذَلِكَ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ که د چا په فرض لمونځونو کې څه کمي راغلي وي (يعني د لمانځه د فرض، واجب او سنت مؤکده په ارکانو کې څه رکن پاتې شوې وي نو د لمانځه د مکمل کيدو د پاره) ۲ الله بزرګ وبرتر به فرشتو ته فرمايي وګورئ زما بنده سره (د هغه په نامه اعمال کې) که سنت او نفل مونځ وي ۳ نو د هغې په ذريعه به د هغه د فرض لمانځه کمي پوره کړې شي ۴ بيا دغسې به د بنده د نورو اعمالو حساب وي، ۵ په يو بل روايت کې آخري الفاظ داسې دي بيا دغسې به د زکوة حساب وي ۶ او بيا به د بقيه اعمالو محاسبه کول کيږي دا روايت ابوداؤد نقل کړي دي

۱۳۳۱ – (¹) [٥] ۱ وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ رَجُلٍ.

ترجمه: ۱ او امام احمد دا روايت د يو بل سړي څخه نقل کړي دي.

تسهيلات: - **قوله:** أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ:

د قيامت په ورځ اولني تپوس: - دقيامت په ورځ به د ټولونه اول سوال اوحساب د مانځه کيږي او په عوامو کښي هم دغه مشهوره ده

اشکال: - دلته دا اشکال پيدا کيږي چه دې حديث کښي مذکور دی چه دقيامت په ورځ به د ټولونه اول حساب د مانځه کيږي خو په يوبل روايت کښي مذکور دی چه په قيامت کښي به د ټولونه وړاندې حساب د وينې کيږي دا تعارض دې؟

جواب: - ددې اشکال جواب علماؤ داورکړې دې حقوق الله کښي به رومبې حساب د مانځه کيږي او حقوق العباد کښي به رومبې حساب د ناحق تونی شوې وينې کيږي. ددې نور تفصيل د تسهيلات په څلورم جلد کښي ليکلې شوې دې

(¹) اخرجه احمد في المسند ۵/۷۲

قوله: فَيُكَمَّلُ:

د فرض تکمیل په نوافلو سره: - یعني که دَ مونځ روژې حج زکوة په فریضو کښې چرته څه نقص پاتې وِی نو دَقیامت په ورځ به دَدې تکمیل په نوافل سره کولې شي. داحدیث زمونږ دَ عربورونړودپاره یودعبرت خبره ده چه سنت او نوافل هیره وي. صرف په مکروه وخت کښې دَنفل کولوپابندی کوی. سنن مؤکده پریخودل څومره دَمحرومتیاخبره ده. علماؤ لیکلی دی چه پوره فریضه که چرته چا پریخوده نو په نوافل سره دَدې تکمیل نه شی کیدې دا قاعده صرف دَ اداشوی ناقص فریضه دَتکمیل دپاره ده. (التعلیق الفصیح)

[۱۳۲۲] د مانځه او مونځ کونکي عظمت او فضیلت

۱۳۲۲ -() [۳] ۱ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَا أَذِنَ اللهُ لِعَبْدٍ فِي شَيْءٍ أَفْضَلَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ يُصَلِّيهِمَا، ۳ وَإِنَّ الْبِرَّ لَيُذَرُّ عَلَى رَأْسِ الْعَبْدِ مَا دَامَ فِي صَلَاتِهِ، ۴ وَمَا تَقَرَّبَ الْعِبَادُ إِلَى اللهِ بِمِثْلِ مَا خَرَجَ مِنْهُ" يَعْنِي الْقُرْآنَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ ابو امامه رضي الله عنه راوي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ الله جل شانه د بنده په هیڅ عمل په خپل رحمت سره دومره زیات نه متوجه کیږي څومره چې د هغه دوه رکعاته لمانځه باندې متوجه کیږي چونکه (په ټولو اعمالو کې مونځ د ټولو څخه زیات افضل دي څکه په بنده باندې د هغه د نورو اعمالو په نسبت د لمانځه کولو په وجه د الله تعالی عنایت (پیرزوینه) ډیره زیاته وي) ۳ او بنده چې تر څو پورې په لمانځه کې مشغول وي نو د هغه په سر نیکي او خیر راوریږي (یعني د هغه د پاسه د رحمت او ثواب چې د نیکي نتیجه ده نزول کیږي) ۴ او بنده د الله جل جلاله په تقرب حاصلولو کې څومره چې د هغه نه د راوتلې سرچشمې د هدایت یعني د قرآن کریم څخه فائده پورته کوي هغومره د بل هیڅ شي څخه نه پورته کوي (یعني د الله جل جلاله قرب چې څومره زیات په قرآن کریم ویلو سره حاصلیږي دومره بل هیڅ شي سره نه حاصلیږي) (احمد، ترمذي)

حل اللغات: - ۱ يُذَرُّ: دَ نصر ينصر نه دَ مجهول صیغه ده دَ چرکاؤ کولو او راخورولو په معنی کښې دي. ۲ أَذِنَ: دلته دَ اذان اوریدو په معنی کښې دی یعنی الله تعالی دا قبلوی دَ هغه نه راضی کیږی دَ هغه طرف ته متوجه کیږی.

تسهیلات: - قوله: "مَا خَرَجَ مِنْهُ:

دخروج منه وضاحت: - دَ مجرور دا ضمیر دَالله تعالی طرف ته هم راګرځی نومطلب به داشی چه دَ الله تعالی دَعلم نه کوم څه وتلي دي یا دَ الله تعالی دَ لوح محفوظ نه کوم څه وتلی دي دَ هغې نه مراد قرآن عظیم دې، دَ مجرور دا ضمیر دَ عبد طرف ته هم راګرځیدې شی. مطلب به داشي چه کوم څیز دَبنده دَ خلې او ژبې نه راوځی دي نه هم قرآن عظیم مراد دې. خلاصه دا چه دَ قرآن عظیم تلاوت او په دې باندې عمل سره چه انسان کوم دَ الله تعالی قرب حاصلولې شی دغه شان په بل یوعبادت سره نه شی حاصلولې.

[الحمد لله ا دریم جلد ختم شو]

---

[1]) اخرجه الترمذي في كتاب فضائل القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب (رقم-۲۹۱۱)